


# د قرآن کريم پښتو ترجمه

## ترجمه

مفتي عبد الولی خان

## وړاندې کوونکی

إحياء السنة فاونډېشن، صوابی

## ډيزائن او جوړونکي

ایس ایس اې ټيکنالوجيز، صوابی

وټس اپ (03409148304)

د سورت لوستلو لپاره په نوم لړ(فهرست) کې د سورت پر نوم کلک وکړئ

| | | |
|---|---|---|
| الفاتحة 1 | يوسف 12 | المؤمنون 23 |
| البقرة 2 | الرعد 13 | النور 24 |
| آل عمران 3 | إبراهيم 14 | الفرقان 25 |
| النساء 4 | الحجر 15 | الشعراء 26 |
| المائدة 5 | النحل 16 | النمل 27 |
| الأنعام 6 | الإسراء 17 | القصص 28 |
| الأعراف 7 | الكهف 18 | العنكبوت 29 |
| الأنفال 8 | مريم 19 | الروم 30 |
| التوبة 9 | طه 20 | لقمان 31 |
| يونس 10 | الأنبياء 21 | السجدة 32 |
| هود 11 | الحج 22 | الأحزاب 33 |

| | | |
|---|---|---|
| سبأ 34 | الجاثية 45 | الواقعة 56 |
| فاطر 35 | الأحقاف 46 | الحديد 57 |
| يس 36 | محمد 47 | المجادلة 58 |
| الصافات 37 | الفتح 48 | الحشر 59 |
| ص 38 | الحجرات 49 | الممتحنة 60 |
| الزمر 39 | ق 50 | الصف 61 |
| غافر 40 | الذاريات 51 | الجمعة 62 |
| فصلت 41 | الطور 52 | المنافقون 63 |
| الشورى 42 | النجم 53 | التغابن 64 |
| الزخرف 43 | القمر 54 | الطلاق 65 |
| الدخان 44 | الرحمن 55 | التحريم 66 |

| | | |
|---|---|---|
| الملك 67 | النبأ 78 | الفجر 89 |
| القلم 68 | النازعات 79 | البلد 90 |
| الحاقة 69 | عبس 80 | الشمس 91 |
| المعارج 70 | التكوير 81 | الليل 92 |
| نوح 71 | الإنفطار 82 | الضحى 93 |
| الجن 72 | المطففين 83 | الشرح 94 |
| المزمل 73 | الإنشقاق 84 | التين 95 |
| المدثر 74 | البروج 85 | العلق 96 |
| القيامة 75 | الطارق 86 | القدر 97 |
| الإنسان 76 | الأعلى 87 | البينة 98 |
| المرسلات 77 | الغاشية 88 | الزلزلة 99 |

| | | |
|---|---|---|
| العاديات 100 | الفيل 105 | النصر 110 |
| القارعة 101 | قريش 106 | المسد 111 |
| التكاثر 102 | الماعون 107 | الإخلاص 112 |
| العصر 103 | الكوثر 108 | الفلق 113 |
| الهمزة 104 | الكافرون 109 | الناس 114 |

الحمدلله رب العالمين، د الله تعالی په فضل او توفیق سره قرآن کریم د پښتو ترجمې سره تیار شو، دا په ځانګړي ډول د موبایلونو لپاره ترتیب شوی دی، ددی په ترجمې او ترتیب کې لږ ستونزه شته کومه به چې په را روانه نسخه کې حل شي، ان شاء الله تعالی.

د رمضان را رسېدو سره مو سم دا په ېړه برابر کړ، له الله تعالی څخه دا دعا کوو چې مونږ او تاسو ټولو ته پرې نیکې بدلې را نصیب کړي او دا کار را څخه قبول او منظور کړي، آمین.

د قرآن کریم دا PDF (کتابي بڼه) له نورو ملګرو سره هم شریکه کړئ، او مونږ له خپلو نېکو دعاګانو څخه مه
هېروئ.

احیاء السنة فاونډېشن

| | | |
|---|---|---|
| (الٓمّٓ) 1 | (يَعْتَذِرُونَ) 11 | (اتْلُ مَا أُوحِيَ) 21 |
| (سَيَقُولُ) 2 | (وَمَا مِنْ دَابَّةٍ) 12 | (وَمَنْ يَقْنُتْ) 22 |
| (تِلْكَ الرُّسُلُ) 3 | (وَمَا أُبَرِّئُ) 13 | (وَمَالِيَ) 23 |
| (لَنْ تَنَالُوا) 4 | (رُبَمَا) 14 | (فَمَنْ أَظْلَمُ) 24 |
| (وَالْمُحْصَنَاتُ) 5 | (سُبْحَانَ الَّذِي) 15 | (إِلَيْهِ يُرَدُّ) 25 |
| (لَا يُحِبُّ اللهُ) 6 | (قَالَ أَلَمْ) 16 | (حم) 26 |
| (وَإِذَا سَمِعُوا) 7 | (اقْتَرَبَ) 17 | (قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ) 27 |
| (وَلَوْ أَنَّنَا) 8 | (قَدْ أَفْلَحَ) 18 | (قَدْ سَمِعَ اللهُ) 28 |
| (قَالَ الْمَلَأُ) 9 | (وَقَالَ الَّذِينَ) 19 | (تَبَارَكَ الَّذِي) 29 |
| (وَاعْلَمُوا) 10 | (أَمَّنْ خَلَقَ) 20 | (عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ) 30 |

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى(1)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَۙ ۝١ الرَّحۡمٰنِ

ټول (د كمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د
ټولو عالَمونو ښه پالونكى دى(2)ډېر زيات

الرَّحِيۡمِۙ ۝٢ مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِؕ ۝٣

مهربان، بې حده رحم كوونكى دى(3)
د بَدلې د ورځې مالك دى(4)

اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُؕ ۝٤

مونږ خاص ستا عبادت كوو او خاص له تا نه مدد
غواړو(5)

اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَۙ ۝٥

ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَيَه(6)

ع
0

صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ۬ غَيْرِ

د هغو خلقو لاره چې تا پر هغوی باندې انعام کړی دی؛

الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۧ

چې نه پر هغوی باندې غضب شوی
او نه گمراهان دي(7)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

الٓمّٓ ۚ ﴿۱﴾ ذٰلِكَ الۡكِتٰبُ لَا رَيۡبَ ۛۚ فِيۡهِ ۛۚ

الف، لام، ميم(1) دا (عظيم) کتاب دی، په ده کې هيڅ شك نشته،

هُدًى لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ۙ ﴿۲﴾ الَّذِيۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ

د پرهېزګارانو لپاره هدايت دی(2) هغه خلق

بِالۡغَيۡبِ وَيُقِيۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا

چې په غيبو ايمان راوړي او لمونځ قايموي او له هغه (مال) نه څه (حصه) خرچ کوي؛ چې

رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ۙ ﴿۳﴾ وَالَّذِيۡنَ

مونږ دوی ته ورکړی دی(3) او هغه خلق

يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ

چې ایمان راوړي په هغه (کتاب) چې تا ته نازل کړی شوی دی او په هغو (کتابونو) چې

مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ

له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي، او په اخرت همدوی

يُوْقِنُوْنَ ۝٤ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ

یقین لري(4) دغه خلق د خپل رب له طرفه په راغلي هدایت

رَّبِّهِمْ ۗ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝٥

باندې دي او همدغه خلق پوره کامیاب دي(5)

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ

بېشکه هغه (خاص) کسان چې کافر شوي دي؛ دوی ته یو شان ده که ته

ءَاَنۡذَرۡتَهُمۡ اَمۡ لَمۡ تُنۡذِرۡهُمۡ

دوی وویروې یا ته دوی ونه ویروې، دوی ایمان

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝٦ خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ

نه راوړي(6) الله د هغوی په زړونو او د هغوی

وَعَلٰى سَمۡعِهِمۡ ؕ وَعَلٰٓى اَبۡصَارِهِمۡ

په غوږونو مهر لګولی دی، او د هغوی په
سترګو (یوه خاصه

ع
1

غِشَاوَةٌ ۫ وَّلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ۝٧

پرده ده، او د هغوی لپاره ډېر لوی عذاب دی(7)

وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يَّقُوۡلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ

او په خلقو کې ځینې هغه څوك دي چې وایي:
مونږ پر الله او

وقف لازم

بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ۝٨

د اخرت پر ورځ ایمان راوړی دی، حال دا چې
دوی له سَره مومنان نه دي(8)

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا

دوی له الله سره دوکه کوي، او له هغو خلقو سره
چې

يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا

ایمان يې راوړی دی، حال دا چې دوی يواځې له
هم خپلو ځانونو سره دوکه کوي، او

يَشْعُرُوْنَ ۝٩ؕ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ

شعور نه لري(9) د دوی په زړونو کې بیماري

فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

ده، نو الله دوی ته بیماري ورزیاته کړه، او د دوی
لپاره ډېر دردوونکی عذاب

اَلِيۡمٌ ۢ ۙ بِمَا كَانُوۡا يَكۡذِبُوۡنَ ۝١٠ وَاِذَا

دی؛ په دې سبب چې دوی به همېشه دروغ ويل( 10) او کله چې

قِيۡلَ لَهُمۡ لَا تُفۡسِدُوۡا فِى الۡاَرۡضِۙ

دوی ته وويل شي چې په ځمکه کې فساد مه کوئ،

قَالُوۡٓا اِنَّمَا نَحۡنُ مُصۡلِحُوۡنَ ۝١١

دوی وايي: يقيناً همدا خبره ده چې مونږ بس اصلاح کوونکي يو(11)

اَلَآ اِنَّهُمۡ هُمُ الۡمُفۡسِدُوۡنَ وَلٰـكِنۡ لَّا

خبردار! بېشکه همدوی فساد کوونکي دي، او ليکن دوی

يَشۡعُرُوۡنَ ۝١٢ وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ اٰمِنُوۡا

شعور نه لري(12) او کله چې دوی ته وويل شي: تاسو ايمان راوړئ،

كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ كَمَآ

لکه څنګه چې خلقو (صحابه وو) ایمان راوړی
دی، نو دوی وايي: ایا مونږ ایمان راوړو، لکه

اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ

څنګه چې بې وقوفو (کم عقلو) ایمان راوړی دی؟
خبردار!

السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾

یقینًا همدوی بې وقوفه دي، او لیکن دوی نه
پوهیږي(13)

وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَ

او کله چې دوی له مومنانو سره ملاقات وکړي،
نو وايي چې مونږ ایمان راوړی دی،

اِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا

او کله چې له خپلو شیطانانو (مشرانو) سره
یواځې شي، نو (بیا) وايي: په رښتیاخو مونږ له

مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۴﴾

تاسو سره يو، خبره همدا ده چې مونږ خو بس
استهزا (خندا) کوونکي يو(14)

اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِيْ

الله په دوی پورې استهزا کوي او دوی ته په
خپلې سرکشۍ کې ترقي ورکوي، په داسې حال

طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

کې چې حيران سرگردان گرځي(15)
دا هغه خلق دي

اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى ۖ فَمَا رَبِحَتْ

چا چې د نيغې لارې په بدل کې گمراهي اخيستې
ده،

تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿۱۶﴾

نو د دوی سوداگرۍ هېڅ گټه ونه کړه او دوی
،نيغه لار موندونکي نه وو،(16)

مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ الَّذِی اسۡتَوۡقَدَ نَارًا ۚ

د دوی مثال د هغه کس په شان دی چې
اور یې بل کړ،

فَلَمَّآ اَضَآءَتۡ مَا حَوۡلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ

نو کله چې دغه (اور) د هغه ګېرچاپېر ځایونه)
روښانه کړل،نو الله د هغوی

بِنُوۡرِهِمۡ وَتَرَكَهُمۡ فِیۡ ظُلُمٰتٍ لَّا

رڼا ختمه کړه، او هغوی یې په تیارو کې پرېښودل،
داسې

یُبۡصِرُوۡنَ ﴿۱۷﴾ صُمٌّۢ بُكۡمٌ عُمۡیٌ فَهُمۡ لَا

چې نهویني(17) (دوی) کاڼه دي، ګونګیان دي،
ړانده دي،

یَرۡجِعُوۡنَ ﴿۱۸﴾ اَوۡ كَصَیِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ

نو دوی نه راګرځي(18) یا (مثال د دوی) په شان
له اسمان نه د ورېدونکي

فِيْهِ ظُلُمٰتٌ وَّ رَعْدٌ وَّ بَرْقٌ ۚ يَجْعَلُوْنَ

تېز باران دی، چې په هغه کې تياري او ګړزاری او

اَصَابِعَهُمْ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ

برېښنا وي، دوی د تندرونو په وجه د مرګ له وېرې نه

حَذَرَ الْمَوْتِ ۗ وَ اللّٰهُ مُحِيْطٌ

خپلې ګوتې په خپلو غوږونو کې ننباسي، او الله کافرانو لره

بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ

راګېروونکی دی(19) نژدې ده چې برېښنا د دوی

اَبْصَارَهُمْ ۗ كُلَّمَآ اَضَآءَ لَهُمْ مَّشَوْا

نظَرونه وتښتوي، کله هم چې هغه د دوی لپاره رڼا کوي،

فِيْهِ ۚ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا ۭ وَلَوْ

نو دوی په هغې کې مزل کوي او کله چې پر دوی تیاره شي،

شَآءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَ

نو ودرېږي، او که الله غوښتلی، نو خامخا به يې د دوی اَورېدل او

اَبْصَارِهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ

د دوی نظرونه ختم کړي وی، بېشکه الله پر هر شي باندې

ع 2

قَدِيْرٌ ﴿٢٠﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ

ښه قادر دی(20) ای خلقو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه (رب) چې

الَّذِىْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ

تاسو یې پیدا کړي یئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو،

قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ﴿۲۱﴾ الَّذِیۡ

د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ(21) هغه (رب) چې

جَعَلَ لَكُمُ الۡاَرۡضَ فِرَاشًا

ستاسو لپاره یې ځمکه فرش او اسمان چت جوړکړی دی

وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً ۖ وَّاَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ

او له بره نه یې اوبه نازلې کړي دي، بیا یې په

مَآءً فَاَخۡرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ

دغو سره له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راوېستلی دی، نو له الله سره

رِزۡقًا لَّكُمۡ ۚ فَلَا تَجۡعَلُوۡا لِلّٰهِ اَنۡدَادًا وَّ

هېڅ قسمه شریکان مه جوړوئ، حال دا چې

اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَاِنْ كُنْتُمْ فِىْ رَيْبٍ

تاسو پوهېږئ(22) او که تاسو د هغه (قرآن) په
هکله په کوم شك کې يئ

مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ

چې مونږ پر خپل بنده نازل کړی دی، نو د ده
غوندې يو

مِّنْ مِّثْلِهٖ ۠ وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ

وړوکی سورت راوړئ، او له الله نه سِوا خپل
مددګاران راوغواړئ،

اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٣﴾ فَاِنْ لَّمْ

که تاسو رښتوني يئ(23) نو که تاسو (دا کار)

تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ

ونه کړ او کله به يې هم ونه کړی شئ، نو له هغه
اور نه ځان بچ کړئ

الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۚ

چې خشاك يې انسانان او كاڼي دي، د كافرانو
لپاره تيار

أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ۝٢٤ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ

کړی شوی دی(24) او زېری ورکړه هغو کسانو ته

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ

چې ايمان يې راوړی دی او نېك عمل يې کړی
دی، چې يقينًا د دوی لپاره

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ كُلَّمَا

(داسې) جنتونه دي چې د هغو له لاندې وَلې
بهېږي،

رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوْا

هر ځلې چې دوی ته له هغو (جنتونو) نه څه مېوه
د خوراك لپاره ورکړی شي، نو دوی به وايي: دا

هٰذَا الَّذِیۡ رُزِقۡنَا مِنۡ قَبۡلُ ۙ وَ اُتُوۡا بِهٖ

خو همāغه ده چې مونږ ته مخکې راکړی شوې وه، او دوی ته به هغه یو له

مُتَشَابِهًا ؕ وَ لَهُمۡ فِیۡهَاۤ اَزۡوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ٭ۙ وَّ

بله مُشابه (یو شانته) ورکول کېږي، او د دوی لپاره په دغو (جنتونو) کې ډېرې پاکې بیبیانې

هُمۡ فِیۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا

(ښځې) دي، او دوی به په دغو کې همېشه وي( 25) بېشکه الله د هېڅ

یَسۡتَحۡیٖۤ اَنۡ یَّضۡرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوۡضَةً

مثال په بیانولو نه شرمېږي، د ماشي وي، یا که له ده نه د زیات (شي) وي،

فَمَا فَوۡقَهَا ؕ فَاَمَّا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

نو هر چې هغه خلق دي چې ایمان یې راوړی دی، نو هغوی

فَيَعۡلَمُوۡنَ اَنَّهُ الۡحَقُّ مِنۡ

پوهېږي چې يقينًا دا د هغوی د رب له طرف نه
حق (مثال) دی،

رَّبِّهِمۡ ۚ وَاَمَّا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

او پاتې شو هغه خلق چې کفر يې کړی دی، نو
هغوی وايي:

فَيَقُوۡلُوۡنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا

الله په دې مثال ورکولو سره څه اراده کړې ده؟
(نو) هغه (الله) په

مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهٖ كَثِيۡرًا ۙ وَّيَهۡدِىۡ بِهٖ

وقف لازم

دې سره ډېرخلق گمراه کوي او ډېرو ته په دې

كَثِيۡرًا ؕ وَمَا يُضِلُّ بِهٖۤ اِلَّا الۡفٰسِقِيۡنَ ۙ ﴿۲۶﴾

سره هدايت ورکوي او نه گمراه کوي په دې سره
مگر فاسقان(26)

الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ

هغه خلق چې د الله (سره کړی) لوظ ماتوي وروسته

مِيْثَاقِهٖ ۠ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ

د هغه (لوظ) له مضبوطولو (او پخلي) نه او پرېکوي هغه څه چې الله يې د

يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ اُولٰٓئِكَ

پیوست ساتلو حکم کړی دی، او په ځمکه کې ورانی کوي، همدغه خلق

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٢٧ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ

تاوانیان دي(27) څنګه تاسو له الله نه منکرېږئ،

وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ

حال دا چې تاسو نشت وئ، نو هغه تاسو راژوندي کړئ، بیا به هغه تاسو مړه کوي،

ثُمَّ يُحۡيِيۡكُمۡ ثُمَّ اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۲۸﴾

بیا به تاسو راژوندي کوي، بیا به خاص د هغه په طرف ستنولی شئ(28)

هُوَ الَّذِىۡ خَلَقَ لَـكُمۡ مَّا فِى الۡاَرۡضِ

همدېغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې هغه ټول څه پيدا کړل چې په ځمکه

جَمِيۡعًا ثُمَّ اسۡتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ

کې دي، بیا يې پورته قصد وکړ، نو هغه يې بنه

فَسَوّٰٮهُنَّ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ ‌ؕ وَهُوَ بِكُلِّ

برابر اوه اسمانونه جوړ کړل، او هغه په

ع 3

شَىۡءٍ عَلِيۡمٌ ﴿۲۹﴾ وَاِذۡ قَالَ رَبُّكَ

هر شي ښه عالم دی(29) او کله چې ستا رب

لِلۡمَلٰٓـئِكَةِ اِنِّىۡ جَاعِلٌ فِى الۡاَرۡضِ

ملايکو ته وويل: بې شکه زه په ځمکه کې يو

خَلِيۡفَةً ‌ؕ قَالُوۡۤا اَتَجۡعَلُ فِيۡهَا مَنۡ

خليفه پيدا کوونکی يم، هغوی وويل: ايا ته په هغې کې داسې

يُّفۡسِدُ فِيۡهَا وَيَسۡفِكُ الدِّمَآءَ‌ۚ وَنَحۡنُ

څوك پيدا کوې چې په هغې کې به ورانی کوي او وينې به تُويَوي؟ حال دا چې مونږ

نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ‌ؕ قَالَ اِنِّىۡۤ

ستا له ستايلو سره تسبيح وايو او ستا پاکوالی بيانوو، (الله) وويل: يقينًا زه

اَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۰﴾ وَعَلَّمَ اٰدَمَ

پوهېږم په هغه څه چې تاسو پرې نه پوهېږئ(30) او ادم ته يې ټول

الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى

نومونه وښودل، بیا یې هغه ملایکو ته وړاندې
کړل،

الْمَلٰٓئِكَةِ ۙ فَقَالَ اَنْۢبِـُٔوْنِيْ بِاَسْمَآءِ

نو ویې ویل: ما د دوی په نومونو خبر کړئ که

هٰٓؤُلَآءِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٣١ قَالُوْا

تاسو (په خپله خبره کې) رښتوني يئ(31) هغوی
وویل:

سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ۭ

ته پاك یې، مونږ ته هیڅ علم نشته سِوا له هغه نه
چې تا مونږ ته راښودلی دی،

اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝٣٢ قَالَ

بېشکه، خاص ته، ښه عالم، ښه حکمت والا یې(
32) (الله) وویل:

يٰٓاٰدَمُ اَنۡۢبِئۡهُمۡ بِاَسۡمَآئِهِمۡ‌ۚ فَلَمَّآ اَنۡۢبَاَهُمۡ

اى ادمه! دوى د هغو (څيزونو) په نومونو خبر

بِاَسۡمَآئِهِمۡۙ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ اِنِّىۡۤ اَعۡلَمُ

كړه، نو كله چې يې دوى د هغو په نومونو خبر
كړل، (الله) ووېل: ايا ما تاسو ته نه و ويلي چې

غَيۡبَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِۙ وَاَعۡلَمُ مَا

بېشكه زه د اسمانونو او ځمكې په غيبو (پټو
څيزونو) پوهېږم، او پوهېږم

تُبۡدُوۡنَ وَمَا كُنۡتُمۡ تَكۡتُمُوۡنَ ﴿۳۳﴾ وَاِذۡ قُلۡنَا

په هغه څه چې تاسو يې څرګندوئ او په هغه څه
چې تاسو پټول(33) او كله چه مونږ

لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اسۡجُدُوۡا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوۡۤا اِلَّاۤ

ملايكو ته ووېل: ادم ته سجده وكړئ، نو هغوى
سجده وكړه خو

اِبۡلِيۡسَ ؕ اَبٰى وَاسۡتَكۡبَرَ ۖ وَكَانَ مِنَ

ابليس نه، هغه انكار وكړ او تكبر يې وكړ، او هغه و

الۡكٰفِرِيۡنَ ۝٣٤ وَقُلۡنَا يٰۤـاٰدَمُ اسۡكُنۡ اَنۡتَ

له كافرانو نه(34) او مونږ وويل: اى ادمه! اوسيږه ته او

وَزَوۡجُكَ الۡجَـنَّةَ وَكُلَا مِنۡهَا رَغَدًا حَيۡثُ

ستا ښځه په جنت كې، او دواړه له هغه (د جنت له مېوو) نه پرېمانه (په مزې سره)

شِئۡتُمَا ۖ وَلَا تَقۡرَبَا هٰذِهِ

خوراك كوئ كوم ځاى چې مو خوښه وي، او تاسو دواړه دې

الشَّجَرَةَ فَتَكُوۡنَا مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ۝٣٥

ونې ته مه نږدې كېږئ، ګنې تاسو به له ظالمانو نه شئ(35)

فَاَزَلَّهُمَا الشَّيۡطٰنُ عَنۡهَا فَاَخۡرَجَهُمَا

پس شيطان دوی دواړه د دغې (ونې) په سبب، وښُويَوَل، نو له هغه (ځای) نه يې راووېستل چې

مِمَّا كَانَا فِيۡهِ‌ۖ وَقُلۡنَا اهۡبِطُوۡا بَعۡضُكُمۡ

دوی په کې وو، او مونږ وويل: تاسو ټول کوز شئ، ستاسو ځيني به د ځينو

لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ‌ۚ وَلَـكُمۡ فِى الۡاَرۡضِ

نورو لپاره دښمنان وي، او ستاسو لپاره په ځمکه کې تر يو وخته پورې استوګنه

مُسۡتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيۡنٍ ﴿۳۶﴾ فَتَلَقّٰٓى اٰدَمُ

او فايده اخيستل دي(36) نو ادم له خپل رب نه

مِنۡ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيۡهِ‌ؕ اِنَّهٗ هُوَ

څو کلمې زده کړې، نو د هغه توبه يې قبوله کړه، بېشکه هم هغه ښه توبه قبلوونکی،

التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿٣٧﴾ قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا

بې حده رحم کوونکی دی(37) مونږ وويل: تاسو ټول له دې

جَمِيْعًا ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّىْ هُدًى

(جنت) نه کوز شئ، نو که زما له طرف نه تاسو ته کوم هدايت راغی، نو چا

فَمَنْ تَبِعَ هُدَاىَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ

چې زما د هدايت پيروي وکړه، نو پر هغوی باندې نه هيڅ ويره شته او نه

لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ

به هغوی غمژن کېږي(38) او هغه خلق چې کفر يې کړی دی

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

او زمونږ ايتونه يې دروغ ګڼلي دي، همدغه کسان د (دوزخ د) اور والا دي، دوی به

ع
4

هُمْ فِيهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٩﴾ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

په هغه کې همېشه وي(39) اى بني اسرائيلو!

اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ

زما هغه نعمتونه ياد کړئ چې ما پر تاسو باندې

وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِيَّايَ

پېرزو کړي دي او زما لوظ پوره کړئ، زه به
ستاسو لوظ پوره کړم،

فَارْهَبُوْنِ ﴿٤٠﴾ وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ

او خاص له ما نه وېرېږئ(40) او تاسو ايمان
راوړئ په

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ

هغه (کتاب) چې ما نازل کړى دى، چې د هغه
(کتاب) تصديق کوونکى دى چې له تاسو سره

كَافِرٍۭ بِهٖ ۖ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِىْ ثَمَنًا

دی، او په ده سره اول کفر کوونکي مه جوړیږئ،
او زما په ایتونو سره لږ

قَلِيْلًا ۫ وَّاِيَّاىَ فَاتَّقُوْنِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُوا

قیمت مه اخلئ او خاص له ما نه ویریږئ(41) او
تاسو

الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَاَنْتُمْ

حق له باطل سره مه ګډوئ، او حق مه پټوئ،
حال دا چې

تَعْلَمُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

تاسو پوهیږئ(42) او تاسو لمونځ قایموئ او زکات

الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿٤٣﴾

ورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ(43)

اَتَاۡمُرُوۡنَ النَّاسَ بِالۡبِرِّ وَتَنۡسَوۡنَ

ايا تاسو (نورو) خلقو ته د نېکۍ حکم کوئ او
خپل

اَنۡفُسَكُمۡ وَاَنۡتُمۡ تَتۡلُوۡنَ الۡكِتٰبَ ؕ اَفَلَا

ځانونه هېروئ، سره له دې چې تاسو کتاب لولئ،
ايا نو تاسو عقل

تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۴۴﴾ وَاسۡتَعِيۡنُوۡا بِالصَّبۡرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ وَ

نه لرئ؟(44) او په صبر او لمانځه سره مدد
غواړئ او بېشکه چې

اِنَّهَا لَكَبِيۡرَةٌ اِلَّا عَلَى الۡخٰشِعِيۡنَ ﴿۴۵﴾ الَّذِيۡنَ

يقيناً دا (کار) ډېر گران دی مگر پر عاجزي
کوونکو باندې (نه دی)(45) هغه کسان

يَظُنُّوۡنَ اَنَّهُمۡ مُّلٰقُوۡا رَبِّهِمۡ وَاَنَّهُمۡ اِلَيۡهِ

چې يقين کوي چې بېشکه دوی د خپل رب سره
ملاقات کوونکي دي او دا چې بېشکه دوی خاص

ع 5
الربع

رٰجِعُوْنَ ﴿٤٦﴾ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا

د هغه په طرف واپس ورتلونکي دي(46) اى بني
اسرائيلو! زما هغه نعمتونه ياد کړئ

نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ

چې ما پر تاسو باندې انعام کړي دي او دا چې
يقينًا هم مَا تاسو پر عالَمونو

فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاتَّقُوْا

باندې غوره کړي وئ(47) او له هغې ورځې نه

يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ

ووېرېږئ چې هېڅ يو نفس به د بل نفس

شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا

هېڅ په کار نه راځي او نه به له هغه نه څه
سفارش قبلېږي او نه

يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا هُمْ

به له هغه نه څه (مالي) بدله اخيستل کېږي او نه
به له هغوی سره

يُنْصَرُوْنَ ۝٤٨ وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ

مدد کېږي(48) او کله چې مونږ له فرعونيانو نه

فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ

تاسو خلاص کړئ چې تاسو ته به يې سخت
عذاب درکاوه،

يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ

ستاسو زامن به يې حلالول او ستاسو ښځې به يې
ژوندۍ پرېښودلې،

نِسَآءَكُمْ ؕ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

او په دې کې ستاسو د رب له طرف نه ډېر لوی

عَظِيۡمٌ ۝٤٩ وَاِذۡ فَرَقۡنَا بِكُمُ الۡبَحۡرَ

ازمېښت و(49) اوكله چې مونږ ستاسو لپاره
سمندر څيرې كړ

فَاَنۡجَيۡنٰكُمۡ وَاَغۡرَقۡنَآ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ وَ

او تاسو ته مو خلاصى دركړ او فرعونيان مو ډوب
كړل

اَنۡتُمۡ تَنۡظُرُوۡنَ ۝٥٠ وَاِذۡ وٰعَدۡنَا مُوۡسٰٓى

او تاسو كتل(50) او كله چې مونږ له موسٰى سره

اَرۡبَعِيۡنَ لَيۡلَةً ثُمَّ اتَّخَذۡتُمُ الۡعِجۡلَ

د څلوېښتو شپو وعده وكړه، بيا تاسو له هغه نه
پس سخى (معبود)

مِنۡۢ بَعۡدِهٖ وَاَنۡتُمۡ ظٰلِمُوۡنَ ۝٥١ ثُمَّ عَفَوۡنَا

جوړكړ او تاسوظالمان وَئ(51) بيا مونږ له دې نه

عَنۡكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمۡ

پس تاسو معاف کړئ، د دې لپاره چې تاسو شکر

تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۵۲﴾ وَاِذۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ

وباسئ(52) او کله چې مونږ موسٰی ته کتاب

وَالۡفُرۡقَانَ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُوۡنَ ﴿۵۳﴾

او فرقان (حق او باطل سره بېلونکی) ورکړ، د
دې لپاره چې تاسو نېغه لار ومومئ(53)

وَاِذۡ قَالَ مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖ يٰقَوۡمِ اِنَّكُمۡ

او (یاد کړه) هغه وخت چې موسٰی خپل قوم ته
وویل: ای زما قومه! یقینًا تاسو

ظَلَمۡتُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ بِاتِّخَاذِكُمُ الۡعِجۡلَ

د سخي په (معبود) نیولوسره په خپلو ځانونو

فَتُوبُوٓا اِلٰى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

باندې ظلم کړی دی، لهٰذا خپل خالق ته توبه
وباسئ، نو خپل ځانونه قتل کړئ،

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ ؕ

دا (وژل) تاسو لپاره ستاسو د خالق په نیز بهتر
دي،

فَتَابَ عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ

بیا هغه ستاسو توبه قبوله کړه، یقینًا هم هغه ښه
توبه قبلوونکی، بې حده رحم

الرَّحِيْمُ ۝٥٤ وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ

کوونکی دی(54) او کله چې تاسو وویل: ای
موسٰی! مونږ

نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً

به هېڅ کله هم پر تا ایمان را نه وړو تر هغه پورې

فَاَخَذَتۡكُمُ الصّٰعِقَةُ وَاَنۡتُمۡ

چې مونږ الله ښه ښکاره ووينو، نوتاسو تندر ونيولئ او

تَنۡظُرُوۡنَ ﴿۵۵﴾ ثُمَّ بَعَثۡنٰكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ

تاسوکتل(55) بيا مونږ تاسو ستاسو له

مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۵۶﴾ وَظَلَّلۡنَا

مرگ نه پس راژوندي کړئ، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ(56) او مونږ په تاسو

عَلَيۡكُمُ الۡغَمَامَ وَاَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكُمُ الۡمَنَّ

وربېځ سيورى کړه او مَن او سلوٰى (ترنجبين او مړز ډوله مرغان)

وَالسَّلۡوٰى ؕ كُلُوۡا مِنۡ طَيِّبٰتِ

مو په تاسو نازل کړل، هغه پاکيزه خيزونه خورئ،

مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَ مَا ظَلَمُوْنَا وَ لٰكِنْ

چې مونږ تاسو ته درکړي دي، او هغوی پر مونږ ظلم نه و کړی،

كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَ اِذْ قُلْنَا

او لېکن هم پر خپلو ځانونو يې ظلم کاوه(57) او کله چې مونږ وويل:

ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا

دې کلي ته ورننوځئ، نو چرته چې مو خوښه شي،

حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّ ادْخُلُوا الْبَابَ

ترې پرېمانه يې خورئ او په دروازه کې داخل شئ،

سُجَّدًا وَّ قُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ

چې سجده کوونکي يئ او وايئ ”مونږ وبخښه“ مونږ به تاسو ته ستاسو

خَطٰيٰكُمْ ۚ وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٨﴾

گناهونه وبخښو، او ژر ده چې مونږ به نېکانو ته (ثواب) نور زيات ورکړو(58)

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِىْ

نو هغو کسانو چې ظلم يې کړی و، هغه خبره چې

قِيْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

ورته ويلی شوې وه، په بل شان بدله کړه، نو په هغو ظالمانو باندې

رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا

مونږه د اسمان نه عذاب نازل کړ، ځکه چې نافرماني

ع 6

يَفْسُقُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَاِذِ اسْتَسْقٰى مُوْسٰى

يې کوله(59) او کله چې موسٰی د خپل قوم لپاره اوبه وغوښتې،

لِقَوۡمِهٖ فَقُلۡنَا اضۡرِبۡ بِّعَصَاكَ الۡحَجَرَ ؕ

نو مونږ وويل: په خپلې امسا سره تيږه (ګټه) ووهه،

فَانۡفَجَرَتۡ مِنۡهُ اثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنًا ؕ

نو له هغې نه دُولس چينې جارې شوې، يقيناً ټولو

قَدۡ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشۡرَبَهُمۡ ؕ كُلُوۡا وَ

خلقو خپل خپل ګودر (د څښاك ځاى) وپېژنده، د الله له رزق

اشۡرَبُوۡا مِنۡ رِّزۡقِ اللّٰهِ وَلَا تَعۡثَوۡا فِى

نه خورئ او څښئ، او په ځمكه كې له حده مه تېرېږئ،

الۡاَرۡضِ مُفۡسِدِيۡنَ ۞ وَاِذۡ قُلۡتُمۡ

چې ورانى كوونكي اوسئ(60) او كله چې تاسو وويل:

يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ

اى موسٰى! مونږ به په يو خوراك باندې كله هم صبر ونه كړى شو،

فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا

لهذا زمونږ لپاره له خپل رب نه دُعا وغواړه چې زمونږ لپاره هغه څيزونه

تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ مِنْۢ بَقْلِهَا وَ قِثَّآىِٕهَا وَ

راوباسي چې ځمكه يې زرغونوي (لكه) د هغې سبزي (ساګ) بادرنګ، هوږه،

فُوْمِهَا وَ عَدَسِهَا وَ بَصَلِهَا ؕ قَالَ

مسور او پياز، هغه وويل: ايا تاسو په بدل كې هغه

اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِىْ هُوَ اَدْنٰى بِالَّذِىْ

څيز اخيستل غواړئ چې هغه ادنٰى دى د هغه څيز په ځاى چې هغه بهتر دى،

هُوَ خَيۡرٌ ؕ اِهۡبِطُوۡا مِصۡرًا فَاِنَّ لَكُمۡ مَّا

نو تاسوکوم ښار ته کوز شئ، پس بېشکه ستاسو

سَاَلۡتُمۡ ؕ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ وَ

لپاره هغه څه دي چې تاسو غوښتي دي، او پر

الۡمَسۡكَنَةُ ۗ وَبَآءُوۡ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

هغوی ذلت او محتاجي مسلط کړی شوه، او
راستانه (اخته) شول په غضب سره د الله

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ كَانُوۡا يَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ

له طرف نه،دا په دې سبب چې یقینًا دوی د الله
له

اللّٰهِ وَيَقۡتُلُوۡنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ ؕ

ایتونو نه انکار کاوه، او نبیان یې ناحقه وژل، دا

ع
7

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٦١﴾

په دې چې دوی نافرماني کوله، او زیاتی یې کاوه( 61)

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَ

یقینًا هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، او هغه کسان

النَّصٰرٰى وَالصّٰبِـِٕيْنَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ

چې یهودیان شوي دي، او نصرانیان او صابیان (بې دینه) دي، هر هغه چا چې په الله

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ

او په ورځ د اخرت ایمان راوړ او نېك عمل یې وکړ، نو د

اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ

خپل رب په نیز د دوی لپاره اجر دی او نه په دوی

عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿٦٢﴾ وَاِذۡ

باندې څه وېره شته او نه به دوی غمژن کېږي( 62) او کله چې

اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ

مونږ (له تاسو نه) ستاسو پخه وعده واخيسته او راپورته موکړ ستاسو له پاسه

الطُّوۡرَ ؕ خُذُوۡا مَاۤ اٰتَيۡنٰكُمۡ بِقُوَّةٍ وَّ

(غرد) طُور (او درته ومو ويل:) کلك ونيسئ هغه څه چې مونږ تاسو ته درکړي دي؛ او څه چې په

اذۡكُرُوۡا مَا فِيۡهِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ

ده کې دي، (هغه) ياد کړئ، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ(63) بيا له دې

تَوَلَّيۡتُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوۡلَا فَضۡلُ

نه بعد تاسو (له وعدې نه) وګرځېدئ، نو که پر تاسو باندې د

اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهٗ لَكُنۡتُمۡ

الله فضل او د هغه رحمت نه وی، نو تاسو به

مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ

خامخا تاوانیان شوي وی(64) او یقینًا یقینًا هغه

الَّذِيۡنَ اعۡتَدَوۡا مِنۡكُمۡ فِى السَّبۡتِ

خلق تاسو ته معلوم دي، چې له تاسو څنې يې د
خالي د ورځې

فَقُلۡنَا لَهُمۡ كُوۡنُوۡا قِرَدَةً خٰسِـِٕيۡنَ ﴿٦٥﴾ۚ

په هکله زیاتی کړی و، نو مونږ هغوی ته وویل:
تاسو ذلیله بیزوګان (شادوګان) شئ(65)

فَجَعَلۡنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهَا وَمَا

نو مونږه دا (واقعه) هغې ته د حاضرو (خلقو) او
له هغې نه وروسته راتلونکو لپاره عبرت او د

خَلۡفَهَا وَ مَوۡعِظَةً لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿٦٦﴾ وَ اِذۡ

پرهېزګارولپاره نصيحت وګرځوله(66) او کله چې

قَالَ مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖۤ اِنَّ اللّٰهَ يَاۡمُرُكُمۡ

موسٰى خپل قوم ته وويل: بېشکه الله تاسو ته
حکم

اَنۡ تَذۡبَحُوۡا بَقَرَةً ؕ قَالُوۡۤا اَتَتَّخِذُنَا

کوي چې يوه غوا حلاله کړئ، هغوى وويل: ايا ته

هُزُوًا ؕ قَالَ اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ اَنۡ اَكُوۡنَ مِنَ

مونږ مسخرهګرځوې (په مونږ پورې ټوقې کوې)؟
هغه وويل: زه د الله پناه غواړم له دې نه چې زه

الۡجٰهِلِيۡنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا ادۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنۡ

شم له جاهلانو نه(67) هغوى وويل: زمونږ لپاره
له خپل رب نه دُعا وغواړه چې مونږ لپاره واضحه

لَّنَا مَا هِيَ ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ

کړي چې هغه (غوا) څنګه ده؟ هغه وويل: يقيناً
هغه وايي چې بېشکه هغه يوه داسې غوا ده چې نه

اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ؕ عَوَانٌۢ

زَړه ده او نه نوې ځوانه، (بلکې) د دې دواړو په

بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾

مينځ کې مِيانَه حاله ده۔، نو هغه کار وکړئ چې
تاسو ته يې حکم کېږي(68)

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا

هغوی وويل: زمونږ لپاره له خپل رب نه دُعا
وغواړه چې مونږ ته بيان کړي

لَوْنُهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ

چې د هغې رنګ څنګه دی؟ هغه وويل: يقيناً هغه
وايي چې بېشکه هغه يوه

صَفۡرَآءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ

زېړه غوا ده، رنګ يې تك زېړ دی، کتونکي

النّٰظِرِيۡنَ ﴿۶۹﴾ قَالُوا ادۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنۡ

خوشحالوي(69) هغوی وويل: زمونږ لپاره له خپل
رب نه دُعا وغواړه

لَّنَا مَا هِيَ ۙ اِنَّ الۡبَقَرَ تَشٰبَهَ عَلَيۡنَا ؕ

چې زمونږ لپاره بيان کړي چې هغه څه قسم ده؟
بېشکه چې غواګانې پ مونږه ګډې وډې (مشتَبِه)

وَاِنَّآ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ لَمُهۡتَدُوۡنَ ﴿۷۰﴾ قَالَ

شولې، او که الله وغواړي، بېشکه مونږ خامخا
لارموندونکي يو(70) (موسٰی) وويل:

اِنَّهٗ يَقُوۡلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُوۡلٌ تُثِيۡرُ

يقينًا هغه وايي چې بېشکه هغه يوه داسې غُوا ده
چې نه کار کوونکې ده،

الْاَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ ۚ مُسَلَّمَةٌ لَّا

چې ځمکه قُلبه کوي او نه فصل اوبه کوي، روغه رَمَټه ده، هېڅ داغ

شِيَةَ فِيْهَا ؕ قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ؕ

تکی په کې نشته، هغوی وویل: اوس دې واضحه خبره راوړه۔، نو هغه يې حلاله کړه،

ع 8

فَذَبَحُوْهَا وَ مَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧١﴾

او دوی نژدې نه وو چې دا کار يې کړی وی( 71)

وَ اِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادّٰرَءْتُمْ فِيْهَا ؕ وَ

او کله چې تاسو يو کس ووژلو، نو د هغه په باره کې تاسو په خپل مینځ کې په جګړه شوئ، او

اللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ﴿٧٢﴾ ۚ

الله د هغه څه ښکاره کوونکی و چې تاسو پټول( 72)

فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا ؕ كَذٰلِكَ يُحْيِ

نو مونږ ووېل: دا د ده په څه حصې سره ووهئ،

اللّٰهُ الْمَوْتٰى ۙ وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ

الله همداسې مړي ژوندي کوي او تاسو ته خپلې
نښې درښيي، د دې لپاره چې تاسو له عقل نه

تَعْقِلُوْنَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

کار واخلئ(73) بيا له دې نه بعد ستاسو زړونه

ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ

سخت شول، نو هغه د تيږو په شان دي، يا په
سخت والي کې

وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ

نور هم زيات دي او بېشکه يقينًا ځينې تيږې هغه
دي چې له هغو نه

الْاَنْهٰرُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ

وَلِې بهېږي او بې شکه يقيناً ځينې هغه دي چې چوي، نو له

مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ

هغو نه اوبه راوځي، او خامخا يقيناً ځينې هغه دي چې د الله له

خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا

وېرې نه رارغړي،او الله ستاسو له عملونو نه کله هم غافل

تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾ اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا

نه دی(74) ايا نو تاسو تمه کوئ چې دوی به

لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ

ستاسو (د وينا) له وجې ايمان راوړي، او يقيناً په دوی کې يوه

يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ

ډله وه چې د الله کلام به يې اورېده، بيا به يې په
هغه کې له پوهېدو نه وروسته

بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَ هُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَ اِذَا

تحريف کاوه، حال دا چې دوی به پوهېدل(75) او
کله چې

لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚۖ

دوی له مومنانو سره ملاقات وکړي، نو وايي: مونږ
ايمان راوړی

وَ اِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ قَالُوْٓا

دی او کله چې د دوی ځيني له ځينو نورو سره
يواځې شي (بيا) وايي:

اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

ايا تاسو دوی (مومنانو) ته هغه خبرې بيانوئ چې
الله تاسو ته ښودلي دي؟

لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ اَفَلَا

د دې لپاره چې پر تاسو باندې په دغو (خبرو) سره د خپل رب په وړاندې غالبه شي، ايا نو تاسو

تَعْقِلُوْنَ ۝٧٦ اَوَلَا يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ

عقل نه لرئ!(76) ايا دغه (خلق) په دې نه پوهېږي چې يقينًا الله

يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۝٧٧

په هغو خبرو پوهېږي چې دوی يې پټوي او په هغو چې دوی يې ظاهروي(77)

وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ

او په دوی کې ځينې اَميان دي، په کتاب نه پوهېږي، مګر په تشو بې دليله

اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ۝٧٨

ارزوګانو، او دوی يواځې تش ګمانونه کوي(78)

النصف

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ

نو د هغوکسانو لپاره هلاکت دی چې په خپلو

بِاَيْدِيْهِمْ ۗ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ

لاسونو (له ځانه) کتاب ليکي، بيا وايي: دا د

عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ

الله له جانبه دی، د دې لپاره چې د هغه په بدل
کې لږ قيمت واخلي،

فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ وَ

نو د دوی لپاره هلاکت دی په سبب د هغه څه
چې د دوی لاسونو ليکلي دي،

وَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ۝٧٩ وَ قَالُوْا

او د دوی لپاره هلاکت دی په سبب د هغه چې
دوی څه عمل کوي(79) او دوی وايي:

لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا

له څو په شمار ورځو نه سوا به مونږ ته کله هم اور را و نه رسيږي،

مَّعْدُوْدَةً ؕ قُلْ اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ

ته (ورته) ووايه: ايا تاسو له الله نه څه وعده اخيستې ده؟

عَهْدًا فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ عَهْدَهٗٓ اَمْ

(که داسې وي)، نو الله به کله هم د خپلې وعدې خلاف و نه کړي، بلکې تاسو په الله باندې هغه

تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٨٠ بَلٰى

دروغ تپئ (اړوئ) چې تاسو پرې نه پوهيږئ(80) ولې نه!

مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّ اَحَاطَتْ بِهٖ

چا چې بدي وکړه او په ده خپله ګناه راچاپيره شوه،

خَطِيْٓـَٔتُهٗ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

نو همدغه کسان د اور والا دي، دوی به په هغه (اور) کې

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

تل ترتله وي(81) او هغه کسان چې ایمان

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي، همدغه کسان

الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨٢﴾

ع 9

د جنت والا دي، دوی به په هغه (جنت) کې تل ترتله وي(82)

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لَا

او کله چې مونږ د بني اسرائيلو (نه) پخه وعده

تَعۡبُدُوۡنَ اِلَّا اللّٰهَ قف وَبِالۡوَالِدَيۡنِ

واخيسته چې عبادت به يواځې او يواځې د الله كوئ، او له مور او پلار سره

اِحۡسَانًا وَّذِى الۡقُرۡبٰى وَالۡيَتٰمٰى وَ

به ښېګړه كوئ او له خپلوانو او يتيمانو او

الۡمَسٰكِيۡنِ وَقُوۡلُوۡا لِلنَّاسِ حُسۡنًا وَّ

مسكينانوسره (به هم ښېګړه كوئ) او خلقو ته ښايسته خبرې كوئ،

اَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ط ثُمَّ

او لمونځ قايموئ او زكات وركوئ، بيا تاسو (له خپلې وعدې نه)

تَوَلَّيۡتُمۡ اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡكُمۡ وَاَنۡتُمۡ

وګرځېدئ مګر ډېر لږكسان (ونه ګرځېدل) او تاسو مخ

مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۸۳﴾ وَ اِذۡ اَخَذۡنَا مِیۡثَاقَکُمۡ

گرځونکي يئ(83) اوکله چې مونږ ستاسو (نه)

لَا تَسۡفِکُوۡنَ دِمَآءَکُمۡ وَ لَا تُخۡرِجُوۡنَ

پخه وعده واخیسته چې خپلې وینې به نه تُویَوَئ

اَنۡفُسَکُمۡ مِّنۡ دِیَارِکُمۡ ثُمَّ اَقۡرَرۡتُمۡ وَ

او له خپلو کورونو نه به خپل ځانونه (یو بل) نه

وباسئ،بیا تاسو اقرار وکړ، په دې حال کې چې

اَنۡتُمۡ تَشۡهَدُوۡنَ ﴿۸۴﴾ ثُمَّ اَنۡتُمۡ هٰۤؤُلَآءِ

تاسو گواه يئ(84) بیا هم تاسو هغه کسان يئ چې

تَقۡتُلُوۡنَ اَنۡفُسَکُمۡ وَ تُخۡرِجُوۡنَ

خپل ځانونه وژنئ، او خپله یوه ډله د هغوی له

کورونو نه وباسئ،

فَرِيۡقًا مِّنۡكُمۡ مِّنۡ دِيَارِهِمۡ ۡ

په ګناه او ظلم سره د هغوی په خلاف د يو بل
مدد کوئ،

تَظٰهَرُوۡنَ عَلَيۡهِمۡ بِالۡاِثۡمِ وَ

او که چېرې هغوی تاسو ته بنديان راشي، نو د
هغوی

الۡعُدۡوَانِ ؕ وَاِنۡ يَّاۡتُوۡكُمۡ اُسٰرٰى

(دخلاصون لپاره) فديه ورکوئ، حال دا چې شان
دا دی چې پر

تُفٰدُوۡهُمۡ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيۡكُمۡ

تاسو باندې دهغوی وېستل حرام دي۔، ايا نو د

اِخۡرَاجُهُمۡ ؕ اَفَتُؤۡمِنُوۡنَ بِبَعۡضِ

کتاب په ځينې (حکمونو) ايمان راوړئ او په ځينو

الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا

یې کافر کېږئ؟ نو د دغه کس څه سزا ده چې په تاسو کې

جَزَآءُ مَنْ یَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا

دا کار کوي مګر په دنیایي ژوند کې ښه رسوایي

خِزْیٌ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۚ وَیَوْمَ

او د قیامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب ته

الْقِیٰمَةِ یُرَدُّوْنَ اِلٰۤی اَشَدِّ الْعَذَابِ ؕ وَ

ورګرځولی شي، او الله له هغه څه نه چې تاسو یې

مَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۸۵﴾ اُولٰٓئِكَ

کوئ کله هم غافل نه دی(85) دا هغه کسان دي

الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا

چې دنیایي ژوند يې د اخرت په بدل کې اخیستی
دی،

بِالْاٰخِرَةِ ۫ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ

نو نه به له دوی نه عذاب سپك (کم) کړی شي

ع
10

الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ

او نه به له دوی سره مرسته کېږي(86) یقینًا یقینًا

اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْۢ

مونږ موسٰی ته کتاب ورکړی و، او له هغه نه بعد
مو

بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ ۫ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ

پرله پسې رسولان لېږلي وو، او مونږه د مریمې
زوی عیسٰی

مَرۡيَمَ الۡبَيِّنٰتِ وَاَيَّدۡنٰهُ بِرُوۡحِ

ته ښرګندې نښې ورکړې وې۔ او مونږه هغه په پاك روح

الۡقُدُسِ ؕ اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌۢ بِمَا

سره قوي کړی و، ایا نو کله چې به هم کوم رسول تاسو ته هغه

لَا تَهۡوٰٓى اَنۡفُسُكُمُ اسۡتَكۡبَرۡتُمۡ ۚ

(احکام) راوړل چې ستاسو نفسونو به نه خوښول،

فَفَرِيۡقًا كَذَّبۡتُمۡ وَفَرِيۡقًا

تاسو به ډېره لويي وکړه؛ نو (د پېغمبرانو) یوه ډله مو دروغژنه وګڼله او بله ډله به

تَقۡتُلُوۡنَ ﴿٨٧﴾ وَقَالُوۡا قُلُوۡبُنَا

تاسو وژله(87) دوی ویل: زمونږ زړونه

غُلْفٌ ؕ بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ

پرده بَند دي، (داسې نه ده) بلکې د دوی د کفر په سبب الله پر دوی لعنت کړی دی، نو هغه (خلق)

فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٨٨﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ

چې ایمان راوړی ډېر لږ دي(88) او کله چې دوی ته د

كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا

الله له جانبه کتاب (قرآن) راغی چې د هغه څه تصدیق کوونکی دی

مَعَهُمْ ۙ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ

چې له دوی سره دي، او له دې نه مخکې به دوی پر هغو خلقو باندې

عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا

چې کافر شوي دي، فتح غوښتله، نو کله چې دوی ته هغه (رسول، کتاب)

عَرَفُوۡا كَفَرُوۡا بِهٖ ۡ فَلَعۡنَةُ اللّٰهِ عَلَى

راغی چې دوی پيژنده، نو په هغه باندې کافر شول، نو په کافرانو باندې د

الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۸۹﴾ بِئۡسَمَا اشۡتَرَوۡا بِهٖۤ

الله لعنت دی(89) بد دی هغه شی چې دوی

اَنۡفُسَهُمۡ اَنۡ يَّكۡفُرُوۡا بِمَآ

د هغه په بدل کې خپل ځانونه خرڅ کړل، چې په هغه څه باندې کافر شول

اَنۡزَلَ اللّٰهُ بَغۡيًا اَنۡ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنۡ

چې الله نازل کړی دی، د دې کینې (او حسد) له وجې چې (ولې)

فَضۡلِهٖ عَلٰى مَنۡ يَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ ۚ

الله خپل فضل په خپلو بنده ګانو کې پر هغه چا نازلوي چې يې غواړي،

فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ؕ وَ

نو راوګرځېدل (اخته شول) په يو غضب له پاسه د بل غضب، او د

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝٩٠ وَاِذَا

کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب دی(90) او کله

قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا

چې دوی ته وويل شي: ايمان راوړئ په هغه (کتاب) چې الله نازل کړی دی،

نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ

نو دوی وايي: مونږ په هغه (کتاب) ايمان راوړو چې پر مونږ باندې نازل کړی شوی دی، او چې

بِمَا وَرَآءَهٗ ۗ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا

له هغه (کتاب) نه علاوه دي؛ په هغو (کتابونو) باندې کافر کېږي، حال دا چې هم دغه (قرآن)

مَعَهُمْ ؕ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَآءَ

حق دی، د هغه (کتاب) تصدیق کوونکی دی چې
له دوی سره دی، ته (ورته) ووایه چې تاسو پخوا

اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۹۱﴾

(له دې نه) د الله نبیان ولې وژل؟ که تاسو مومنان
وئ(91)

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ

اویقینًا یقینًا تاسو ته موسٰی څرګند دلیلونه راوړي
وو،

اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ

بیا له هغه نه بعد تاسو سخی (معبود) وګرځاوه او
تاسو

ظٰلِمُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَ

ظالمان یئ(92) او کله چې مونږه ستاسو (نه) پخه
وعده واخیسته او

رَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ الطُّوۡرَ ؕ خُذُوۡا مَآ

مونږه طُور (غر) ستاسو له پاسه راپورته كړ (مونږ وويل:) څه چې مونږ تاسو ته دركړي

اٰتَيۡنٰكُمۡ بِقُوَّةٍ وَّاسۡمَعُوۡا ؕ قَالُوۡا

دي هغه په قوت سره ونيسئ او واورئ، دوى وويل:

سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا ۗ وَاُشۡرِبُوۡا فِىۡ

مونږ آورېدلي دي او مونږ نافرماني كړې ده او د دوى د كفر په سبب د

قُلُوۡبِهِمُ الۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡ ؕ قُلۡ

دوى په زړونو كې د سخي (مينه) ورځنبول شوې وه ـ، ته (ورته) ووايه:

بِئۡسَمَا يَاۡمُرُكُمۡ بِهٖۤ اِيۡمَانُكُمۡ اِنۡ

هغه شى بد دى چې ستاسو ايمان تاسو ته د هغه حكم دركوي،

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٩٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ

كه تاسو مومنان يئ(93) ته (ورته) ووايه: كه د
الله

الدَّارُ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً

په نيز د اخرت كور له نورو خلقو نه په غير،

مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ

يواځې هم ستاسو لپاره وي،نو (بيا خو) د مرگ
ارزو وكړئ كه

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًاۢ

تاسو رښتوني يئ(94) او دوى به كله هم د هغه
ارزو و نه

بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

كړي هيڅ كله، په سبب د هغو (عملونو) چې د
دوى لاسونو وړاندې لېږلي دي۔ او الله په ظالمانو

بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ

باندې ښه پوه دی(95) او خامخا ته به له ټولو

النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۚ وَمِنَ الَّذِيْنَ

خلقو نه زيات د ژوند پسې حرصناك هم دوی مومې، او تر دې چې له

اَشْرَكُوْا ۚ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ

مشركانو نه هم (زيات حرصناك)، د دوی (د يهوديانو) هر يو كس دا

سَنَةٍ ۚ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ

ارزو كوي چې ارمان! كه زركاله عمر وركړی شي، او نه دی هغه خَلاصَوُنكی ده لره

الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ

له عذاب نه، دا چې (دومره) عمر وركړی شي، او الله هغه څه لره ښه ليدونكی دی

ع
11

بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ ۝٩٦ قُلۡ مَنۡ كَانَ عَدُوًّا

چې دوی يې کوي(96) ووايه: هر څوك چې د

لِّجِبۡرِيۡلَ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰى قَلۡبِكَ بِاِذۡنِ

جبريل دښمن دی، نو يقينًا هغه دا (قرآن) د الله
په حکم سرهستا په زړه نازل کړی دی،

اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَهُدًى

چې د هغو (کتابونو) تصديق کوونکی دی، چې له
ده نه مخکې دي، او د مومنانو لپاره

وَّبُشۡرٰى لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝٩٧ مَنۡ كَانَ

هدايت او زيرى دی(97) هر څوك چې د الله

عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَ

دښمن دی او د هغه د ملايکو او د هغه د رسولانو
او

جِبْرِيْلَ وَ مِيْكٰلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ

د جبريل او د ميکائيل، نو يقينًا الله د کافرانو

لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ

دښمن دی(98) او يقينًا په تحقيق سره مونږ ستا
په طرف

اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۚ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ اِلَّا

روښانه ايتونه نازل کړي دي اوپه هغو
باندې يواځې او يواځې فاسقان (بدکاران)

الْفٰسِقُوْنَ ﴿٩٩﴾ اَوَكُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا

کافر کېږي(99) ايا هرکله چې دوی به وعده
وکړه، کومه وعده،

نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا

نو په دوی کې يوې ډلې به هغه وغورځوله، بلکې
د دوی اکثره خلق

يُؤْمِنُوْنَ ۝١٠٠ وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ

ايمان نه راوړي(100) او کله چې دوی ته د الله له
جانب نه رسول راغی،

عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ

چې تصدیق کوونکی دی د هغه څه چې له دوی
سره دي، نو له

فَرِيْقٌ مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

هغو کسانو نه چې کتاب (تورات) ورته ورکړی
شوی و (اهل کتاب وو) یوې

الْكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ

ډلې د الله کتاب د خپلو شاګانو وروسته (داسې)
وغورځاوه،

كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝١٠١ وَاتَّبَعُوْا مَا

ګویاکې دوی نه پوهېږي(101) او دوی د هغه څه

تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ وَ

تابع شول چې د سلیمان په بادشاهت کې شیطانانو لوستل، او سلیمان

مَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ

کفر نه و کړی او لېکن شیطانان کافر شوي وو،

كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ ۗ وَمَآ

خلقو ته به یې جادو (سحر) ښوده. او (دوی تابع شول) د هغه څه چې په بابل ښار کې په دوه

اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَ

ملايکو هاروت او ماروت نازل کړی شوی و او دغو دواړو

مَارُوْتَ ؕ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى

به هیچا ته نه ښودنه کوله، مګر چې ویل به یې:

يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ؕ

اصل خبره دا ده چې مونږ یَوْ ازمېښت یو، نو ته مه کافر کېږه،

فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ

نو هغوی به له دغو دواړو نه هغه څه زده کول چې په هغه سره به يې

بَيْنَ الْمَرْءِ وَ زَوْجِهٖ ؕ وَ مَا هُمْ

د سړي او د هغه د ښځې په مينځ کې جدايي راوستله، او په دې (جادو)

بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

سره دوی هيڅا ته هم ضرر نه شو رسولی مگر د الله په حکم سره،

وَ يَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَ لَا

او دوی به هغه څه زده کول چې دوی ته به يې ضرر رساوه او

يَنۡفَعُهُمۡ ؕ وَلَقَدۡ عَلِمُوۡا لَمَنِ اشۡتَرٰىهُ

فايده به يې ورته نه رسوله۔ او يقينًا يقينًا دوى په دې پوه وو چې

مَا لَهٗ فِى الۡاٰخِرَةِ مِنۡ خَلَاقٍ ۛؕ وَ

چا دا (سحر) واخيسته، نو د هغه لپاره په اخرت (جنت) کې هېڅ برخه نشته،

لَبِئۡسَ مَا شَرَوۡا بِهٖۤ اَنۡفُسَهُمۡ ؕ لَوۡ

او يقينًا بد دى هغه ځيز چې د هغه په بدل کې دوى خپل ځانونه خرڅ کړل، که

كَانُوۡا يَعۡلَمُوۡنَ ۝١٠٢ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اٰمَنُوۡا وَ

چېرې دوى پوهېدلى(102) او که يقينًا دوى ايمان

اتَّقَوۡا لَمَثُوۡبَةٌ مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ خَيۡرٌ ؕ لَوۡ

راوړى وى او پرهېزگاره شوي وى، نو خامخا د الله له جانبه بدله ډېره ښه ده،

ع
12

كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠٣﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

که دوی پوهېدلی(103) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَ قُوْلُوا انْظُرْنَا وَ

تاسو 'رَاعِنَا' (لفظ) مه وایئ او 'اُنْظُرْنَا' (مونږ ته وګوره) وایئ او (خبره) اورئ۔

اسْمَعُوْا ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٠٤﴾

او د کافرانو لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی(104)

مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ

دا خبره نه هغه کسان خوښوي چې په اهل کتابو کې کافر شوي دي

الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ

او نه یې مشرکان، چې ستاسو د رب له جانبه په

يُّنَزَّلَ عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ خَيۡرٍ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ ؕ

تاسو ته خير نازل کړی شي، او الله په خپل

وَ اللّٰهُ يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ

رحمت سره خاص کوي هغه څوك چې يې وغواړي،

اللّٰهُ ذُو الۡفَضۡلِ الۡعَظِيۡمِ ﴿۱۰۵﴾ مَا نَنۡسَخۡ

او الله د عظيم فضل خاوند دی(105) مونږ چې کوم

مِنۡ اٰيَةٍ اَوۡ نُنۡسِهَا نَاۡتِ بِخَيۡرٍ مِّنۡهَآ اَوۡ

ايت منسوخ کوو، يا يې (د مومنانو له زړونو نه) هيرَوُو،

مِثۡلِهَا ؕ اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

نو له هغه نه غوره، يا د هغه په شان راوړو، ايا ته پوه نه يې چې يقينًا الله پر هر شي باندې

شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۱۰۶﴾ اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰہَ لَہٗ

ښه قادر دی(106) ایا ته پوه نه يې چې يقيناً الله

مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَمَا لَكُمۡ

چې دی، د اسمانونو او ځمکې بادشاهي خاص د
هغه لپاره ده، او تاسو لپاره له

مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰہِ مِنۡ وَّلِیٍّ وَّلَا نَصِیۡرٍ ﴿۱۰۷﴾

الله نه غير (بل) هيڅ کارساز نشته او نه مددګار(
107)

اَمۡ تُرِیۡدُوۡنَ اَنۡ تَسۡـَٔلُوۡا رَسُوۡلَكُمۡ

ايا تاسو اراده لرئ چې له خپل رسول نه (داسې)

كَمَا سُئِلَ مُوۡسٰی مِنۡ قَبۡلُ ؕ وَمَنۡ

سوال وکړئ لکه څنګه چې له دې نه مخکې له
موسٰی نه سوال شوی و؟

يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ

او هغه څوك چې د ايمان په بدل كې كفر واخلي، نو يقينًا هغه له سمې لارې

سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿١٠٨﴾ وَدَّ كَثِيْرٌ مِّنْ اَهْلِ

نه بې لارې شو(108) په اهل كتابو كې ډېر خلق

الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

د خپلو نفسونو د حسد په وجه، د حق له واضحه

اِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا ۚۖ حَسَدًا مِّنْ عِنْدِ

كېدو نه بعد (هم)، دا ارزو لري چې له ايمان

اَنْفُسِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ

راوړو نه پس تاسو بيا كافران كړي،

الْحَقُّ ۚ فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ

نو (لا دوی ته) معافي کوئ او مخ ترې واړوئ، تر هغې چې

اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

الله خپل حکم راوړي، بېشکه الله پر هر شي باندې ښه

قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

قادر دی(109) او تاسو لمونځ قايموئ او زکات ورکوئ،

الزَّكٰوةَ ۭ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ

او هر هغه خير (نېکي) چې تاسو يې د خپلو ځانونو

مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

لپاره مخکې لېږئ، هغه به له الله سره وموم‌ئ، بېشکه الله هغه عمل لره ښه ليدونکی

الثلثة

بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۱۱۰﴾ وَقَالُوۡا لَنۡ

دی چې تاسو يې کوئ(110) او دوی (اهل کتاب) وايي:

يَّدۡخُلَ الۡجَنَّةَ اِلَّا مَنۡ كَانَ هُوۡدًا

جنت ته به هيڅکله هم (څوك) داخل نشي، مگر هغه څوك چې يهودي وي،

اَوۡ نَصٰرٰى ؕ تِلۡكَ اَمَانِيُّهُمۡ ؕ قُلۡ

يا نصراني ـ، دا د دوی (باطلې) ارزوگانې دي، ته (ورته) ووايه:

هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ

(په دې دعوا) خپل دليل راوړئ، که

صٰدِقِيۡنَ ﴿۱۱۱﴾ بَلٰى ۚ مَنۡ اَسۡلَمَ وَجۡهَهٗ

تاسو رښتوني يئ(111) ولې نه! چا چې خپل مخ

لِلّٰهِ وَهُوَ مُحۡسِنٌ فَلَهٗۤ اَجۡرُهٗ عِنۡدَ

د الله تابع کړو او نېکي کوونکی و، نو د هغه لپاره
د خپل

رَبِّهٖ ۖ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ

رب په نيز اجر دی، او په دوی باندې نه هېڅ
وېره شته او نه به دوی

ع
13

يَحۡزَنُوۡنَ ۝١١٢ وَقَالَتِ الۡيَهُوۡدُ لَيۡسَتِ

غمژن کېږي(112) او يهوديانو ويل: نصرانيان (د
دين)

النَّصٰرٰى عَلٰى شَىۡءٍ ۖ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى

په هېڅ خيز باندې (قايم) نه دي او نصرانيانو
ويل:

لَيۡسَتِ الۡيَهُوۡدُ عَلٰى شَىۡءٍ ۙ وَّهُمۡ

يهوديان (د دين) په هېڅ خيز باندې (ولاړ) نه
دي، حال دا چې

يَتۡلُوۡنَ الۡكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيۡنَ

دوی کتاب لولي، همدارنګه، د دوی د خبرې په شان خبره هغو کسانو

لَا يَعۡلَمُوۡنَ مِثۡلَ قَوۡلِهِمۡ ۚ فَاللّٰهُ

هم کړې وه چې بې علمه وو، نو الله به د قيامت په ورځ د دوی

يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا

په مينځ کې د هغو خبرو په هکله فيصله کوي چې

كَانُوۡا فِيۡهِ يَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَنۡ اَظۡلَمُ

دوی به په کې اختلاف کاوه(113) او له هغه کس نه بل زيات ظالم

مِمَّنۡ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنۡ يُّذۡكَرَ

څوک دی چې د الله جوماتونه بندوي (له دې خبرې نه) چې په دغو (جوماتونو) کې د هغه

فِيۡهَا اسۡمُهٗ وَسَعٰى فِىۡ خَرَابِهَا ؕ

(الله) نوم ياد کړی شي او د دغو (جوماتونو) په ورانولو کې کوشش کوي،

اُولٰٓـئِكَ مَا كَانَ لَهُمۡ اَنۡ يَّدۡخُلُوۡهَآ اِلَّا

دغه کسان چې دي، دوی ته دا حق نشته چې دې (جوماتونو) ته ننوځي

خَآئِفِيۡنَ ؕ لَهُمۡ فِى الدُّنۡيَا خِزۡىٌ وَّ

مگر دا چې وېرېدونکي وي۔، د دوی لپاره په دنيا کې رسوايي ده او

لَهُمۡ فِى الۡاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۱۴﴾

د دوی لپاره په اخرت کې ډېر لوی عذاب دی( 114)

وَلِلّٰهِ الۡمَشۡرِقُ وَالۡمَغۡرِبُ ۚ فَاَيۡنَمَا

او خاص د الله لپاره مشرق او مغرب دی، نو کوم طرف ته

تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ

چې تاسو مخ کوئ، نو هلته د الله مخ دی، بېشکه
الله ډېر فراخۍ والا،

عَلِيْمٌ ﴿١١٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ

ښه پوه دی(115) او هغوی وویل: الله (د ځان
لپاره) اولاد

سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ لَّهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ

نیولی دی، (داسې نه ده) هغه (له دې خبرو نه)
پاك دی، بلکې څه چې په اسمانونو

الْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿١١٦﴾ بَدِيْعُ

او ځمکه کې دي، هغه (ټول) خاص د هغه لپاره
دي، ټول د هغه حکم منونکي دي(116) بې له

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا

نمونې پیدا کونکی د اسمانونو او ځمکې دی، او
کله چې د کوم کار فیصله وکړي،

فَاِنَّمَا يَقُوۡلُ لَهٗ كُنۡ فَيَكُوۡنُ ﴿۱۱۷﴾

نو همدا خبره ده چې هغه ته ووايي: ''وشه'' نو هغه وشي(117)

وَ قَالَ الَّذِيۡنَ لَا يَعۡلَمُوۡنَ لَوۡ لَا

او وويل هغو کسانو چې (په هيڅ) نه پوهېږي: زمونږ سره

يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوۡ تَاۡتِيۡنَاۤ اٰيَةٌ ؕ كَذٰلِكَ

الله ولې خبرې نه کوي، يا مونږ ته ولې کومه نښه نه راځي؟

قَالَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ مِّثۡلَ

همدارنګه د دوی د خبرې په شان خبره هغو کسانو (هم) کړې وه؛ چې له دوی نه

قَوۡلِهِمۡ ؕ تَشَابَهَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ ؕ قَدۡ بَيَّنَّا

مخکې وو، د دوی زړونه له يو بل سره مشابه (يوشان) شوي دي، يقيناً مونږ د هغو خلقو لپاره

الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿١١٨﴾ اِنَّآ

ايتونه بيان کړي دي چې يقين کوي(118) يقيناً

اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۙ وَّلَا

(ای نبي!) ته مونږه په حقه سره زېرى ورکوونکی او وېروونکی لېږلی يې، او د

تُسْـَٔلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ ﴿١١٩﴾ وَلَنْ

دوزخيانو په باره کې به له تا نه تپوس نه کېږي( 119) او له تا نه

تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى

خو به هيڅکله نه يهوديان راضي شی، او نه نصرانيان،

حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۭ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ

تر دې چې ته د دوی د دين پيروي وکړې۔، ته ووايه: بېشکه د الله هدايت،

هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ

هُم هغه (اصل) هدايت دى، او يقينًا كه تا، له دې
نه پس چې تا ته علم راغى، د هغوى د خواهشاتو

الَّذِىْ جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ

پيروي وكړه، (نو) تا لره د الله (له عذاب) نه
(خلاصونكى) نه څوك دوست

مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١٢٠﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ

شته او نه كوم مددگار(120) هغه كسان چې مونږ

الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ

هغوى ته كتاب وركړى دى، هغوى د دې (كتاب)
تلاوت كوي (څنگه) چې يې د تلاوت حق دى،

يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ

هم دغه كسان په ده ايمان راوړي، او څوك چې په
دې (كتاب) باندې كافر شه، نو هم دغه

ع
14

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝١٢١ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

کسان تاوانیان دي(121) ای بني اسرائیلو!

اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ

زما هغه نعمتونه یاد کړئ چې ما پر تاسو باندې لورولي دي او دا چې بېشکه ما تاسو پر عالَمونو

فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۝١٢٢ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا

باندې غوره کړي وئ(122) او له هغې ورځې نه

تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ

ووېرېږئ چې هېڅ یو نفس به د بل نفس هېڅ په کار رانشي، او نه به له

مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا

هغه نه فدیه (بدل) قبلېږي او نه به هغه ته څه سفارش فایده ورکوي او نه به له هغوی

هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ

سره مرسته کېږي(123) او (ياد کړه) هغه وخت چې خپل رب يې ابراهيم

رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ؕ قَالَ اِنِّيْ جَاعِلُكَ

په څو خبرو سره وازمايه، نو (ابراهيم) هغه پوره کړې۔ (الله) ووېل: يقينًا زه تا د

لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ؕ قَالَ

خلقو لپاره امام جوړوم، هغه ووېل: او زما په اولاد کښې (هم امامان جوړکړه) (الله) ووېل: زما عهد

لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٢٤﴾ وَاِذْ جَعَلْنَا

(د امامت وعده) ظالمانو (کافرانو) ته نه رسېږي( 124) او کله چې مونږه

الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ وَاتَّخِذُوْا مِنْ

بيت الله د خلقو لپاره د جمع کېدو او د امن ځای وګرځاوه، او (مونږ ووېل:)

مَّقَامِ اِبۡرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ وَعَهِدۡنَاۤ اِلٰۤى اِبۡرٰهٖمَ وَ

له مقامِ ابراهيم نه"لمونځ ځاى" جوړ کړئ، او مونږ ابراهيم او

اِسۡمٰعِيۡلَ اَنۡ طَهِّرَا بَيۡتِىَ لِلطَّآئِفِيۡنَ

اسمٰعيل ته کلك حکم وکړ دا چې تاسو (دواړه) زما کور د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او

وَالۡعٰكِفِيۡنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوۡدِ ۝١٢٥ وَاِذۡ قَالَ

رکوع کوونکو، سجده کوونکو لپاره ښه پاك کړئ(125) او کله چې ابراهيم وويل:

اِبۡرٰهٖمُ رَبِّ اجۡعَلۡ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّ

اى زما ربه! دا (ځاى) امن ناکه ښار جوړ کړه، او

ارۡزُقۡ اَهۡلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنۡ اٰمَنَ

د ده اوسېدونکوته له مېوو نه روزي ورکړه، (خو) په دوى کې يوائې هغه چا ته چې په الله او په

مِنۡهُمۡ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ؕ قَالَ وَمَنۡ

ورځ د اخرت يې ايمان راوړی وي۔ (الله) ووېل:

كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيۡلًا ثُمَّ اَضۡطَرُّهٗۤ اِلٰى عَذَابِ

او څوك چې كافر شو، نو هغه ته به لږه فايده
وركړم، بيا به هغه په زوره د اور عذاب ته بوځم او

النَّارِ ؕ وَبِئۡسَ الۡمَصِيۡرُ ۝١٢٦ وَاِذۡ يَرۡفَعُ

هغه د ورتلو بد ځای دی(126) او كله چې

اِبۡرٰهٖمُ الۡقَوَاعِدَ مِنَ الۡبَيۡتِ وَ

ابراهيم د بيت الله بنيادونه اوچتول او (ورسره)

اِسۡمٰعِيۡلُ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّا ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ

اسمٰعيل (هم) (دواړو دا دعا كوله) ای زمونږه
رَبه! زمونږ نه (دا عمل) قبول كړه، ته چې يې،

السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَاجۡعَلۡنَا

خاص ته، ښه اورېدونکی، ښه عالم يې(127) ای
زمونږه ربه!

مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ وَمِنۡ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسۡلِمَةً

مونږ ستا (حکم) منونکي جوړکړه او زمونږه په
اولاد کې (هم) يوه ډله ستا حکم منونکې (جوړه

لَّكَ ۠ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ عَلَيۡنَا ۚ

کړه) او مونږ ته زمونږ د عبادت طريقې وښَيَه او
زمونږه توبه قبوله کړه، يقيناً همدا ته ډېر ښه توبه

اِنَّكَ اَنۡتَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَ

قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی يې(128) ای
زمونږه ربه!

ابۡعَثۡ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُوۡا

دې (خلقو) ته له هم دوی نه يو رسول ولېږه، چې

عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الۡكِتٰبَ وَ

دوی ته ستا ایتونه تلاوت کوي او دوی ته کتاب (قرآن) او

الۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيۡهِمۡ ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ

حکمت (سنت) ښیي او دوی پاکوي، یقینًا، هم دا ته، ډېر غالب،

ع 15

الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۱۲۹﴾ وَمَنۡ يَّرۡغَبُ عَنۡ

ښه حکمت والا یې(129) اوڅوك دی چې د

مِّلَّةِ اِبۡرٰهٖمَ اِلَّا مَنۡ سَفِهَ نَفۡسَهٗ ؕ وَ

ابراهیم له ملت نه مخ اړوي، سوا له هغه کس نه چې خپل ځان یې جاهل کړی وي

لَقَدِ اصۡطَفَيۡنٰهُ فِى الدُّنۡيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِى

او یقینًا یقینًا مونږه هغه (ابراهیم) په دنیا کې غوره کړی دی او بېشکه هغه په اخرت کې

الۡاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿١٣٠﴾ اِذۡ قَالَ لَهٗ

خامخا له صالحانو څخه دی(130) کله چې هغه

رَبُّهٗۤ اَسۡلِمۡ ۙ قَالَ اَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ

ته خپل رب وویل: حکم منونکی شه، هغه وویل:
زه د رب العلمين لپاره حکم

الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿١٣١﴾ وَوَصّٰى بِهَاۤ اِبۡرٰهٖمُ بَنِيۡهِ

منونکی شوم(131) او ابراهيم خپلو زامنو ته د دې

وَيَعۡقُوۡبُ ؕ يٰبَنِىَّ اِنَّ اللّٰهَ اصۡطَفٰى

وصيت وکړ او يعقوب (هم، ويې ويل:) اى زما
زامنو! بېشکه الله

لَكُمُ الدِّيۡنَ فَلَا تَمُوۡتُنَّ اِلَّا وَ

تاسو لپاره دا دين غوره کړی دی، نو بېخي مه
مرئ مګر په داسې حال کې

اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ اَمْ كُنْتُمْ

چې مسلمانان يئ(132) ايا تاسو هغه وخت

شُهَدَآءَ اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ اِذْ

موجود وئ چې يعقوب ته مرگ حاضر شو؟ کله چې هغه خپلو زامنو ته وويل:

قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ

له ما نه بعد به د څه شي عبادت کوئ؟ هغوی وويل:

بَعْدِيْ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ

مونږ به ستا د اِلٰه (معبود) او ستا د پلرونو

اٰبَآئِكَ اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ

ابراهيم، او اسمٰعيل او اسحٰق د اِلٰه عبادت کوو، د يو حق معبود،

اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚۖ وَّ نَحۡنُ لَهٗ مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۱۳۳﴾

او مونږه (ټول) د هغه حکم منونکي يو(133)

تِلۡكَ اُمَّةٌ قَدۡ خَلَتۡ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَ

دغه يوه ډله وه چې يقينًا تېره شوې ده، څه (عمل) چې هغوی کړې دی؛ هغه د هغوی لپاره دی او

لَكُمۡ مَّا كَسَبۡتُمۡ ۚ وَلَا تُسۡـَٔلُوۡنَ

څه چې تاسو کړې دی؛ هغه تاسو لپاره دی، او له تاسو نه به د هغوی د عملونو په باره کې

عَمَّا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۳۴﴾ وَ قَالُوۡا كُوۡنُوۡا

تپوس نه کېږي(134) او دوی ويل چې تاسو يهوديان شئ،

هُوۡدًا اَوۡ نَصٰرٰى تَهۡتَدُوۡا ؕ قُلۡ بَلۡ

يا نصرانيان، نو نېغه لار به ومومئ۔ ته (دوی ته) ووايه: (داسې نه ده) بلکې (مونږ)

مِلَّةَ اِبۡرٰهٖمَ حَنِيۡفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ

د ابراهيم د ملت (تابع كېږو) چې حنيف (توحيد والا) و او دى له مشركانو

الۡمُشۡرِكِيۡنَ ۝١٣٥ قُوۡلُوۡٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ

څخه نه و(135) تاسو ووايئ: مونږ په الله ايمان راوړى دى

اُنۡزِلَ اِلَيۡنَا وَمَآ اُنۡزِلَ اِلٰٓى اِبۡرٰهٖمَ

او په هغه څه چې مونږ ته نازل كړى شوي دي، او په هغه څه چې ابراهيم او

وَاِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ وَيَعۡقُوۡبَ

اسمٰعيل او اسحٰق او يعقوب او (د هغوى)

وَالۡاَسۡبَاطِ وَمَآ اُوۡتِىَ مُوۡسٰى وَعِيۡسٰى

اولادې ته نازل كړى شوي دي، او (مونږ ايمان راوړى دى) په هغه څه چې موسٰى او عيسٰى ته

وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ لَا

ورکړی شوي دي، او په هغه څه چې د خپل رب
له جانبه (نورو) نبیانو ته ورکړی شوي دي۔

نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهٗ

مونږ په دوی کې د هېڅ یو په مینځ کې فرق نه
کوو، او مونږ خاص د هغه (الله) حکم

مُسْلِمُوْنَ ﴿١٣٦﴾ فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ

منونکي یو(136) نو که دوی هغه شان ایمان

اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا

راوړي څنګه چې تاسو په دي (کتاب) ایمان
راوړی دی، نو یقیناً دوی سمه لاره وموندله او که

فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ ۚ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ

مخ یې وګرځاوه، نو همدا خبره ده چې دوی په
سخت مخالفت کې دي، نو ژر ده چې د دوی

وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳۷﴾ صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَ

مقابلې ته به تا لپاره الله کافي شي او هم هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی(137) (مونږ) د الله رنگ

مَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۫ وَّنَحْنُ لَهٗ

(قبول کړی دی) او له الله نه په رنگ کې ښوك ډېر ښه دی! او مونږ خاص د هغه عبادت

عٰبِدُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِى اللّٰهِ

کوونکي یو(138) ته (دوی ته) ووایه: ایا تاسو زمونږ سره د الله په

وَهُوَ رَبُّنَا وَ رَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ اَعْمَالُنَا

باره کې جگړه کوئ؟ حال دا چې هغه زمونږ رب دی او ستاسو (هم) رب دی۔، زمونږ لپاره زمونږ

وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ

عملونه دي او تاسو لپاره ستاسو عملونه دي اومونږ خاص د هغه لپاره اخلاص

مُخۡلِصُوۡنَ ﴿۱۳۹﴾ اَمۡ تَقُوۡلُوۡنَ اِنَّ اِبۡرٰهٖمَ

کوونکي يو(139) ايا تاسو (دا) وايئ چې بېشکه ابراهيم

وَاِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ وَيَعۡقُوۡبَ

او اسمٰعيل او اسحٰق او يعقوب او (د هغه)

وَالۡاَسۡبَاطَ كَانُوۡا هُوۡدًا اَوۡ نَصٰرٰی ؕ قُلۡ

اولاده يهوديان، يا نصرانيان وو؟ ته (دوی ته) ووايه:

ءَاَنۡتُمۡ اَعۡلَمُ اَمِ اللّٰهُ ؕ وَمَنۡ اَظۡلَمُ

ايا تاسو ډېر پوه يئ، يا كه الله؟ او له هغه كس نه زيات

مِمَّنۡ كَتَمَ شَهَادَةً عِنۡدَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ وَ

ظالم څوك دی چې هغه ګواهي پټوي چې له ده سره د

مَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ

الله له جانبه ده؟ او الله ستاسو له عملونو نه کله
هم غافل نه دی(140) دغه یوه

اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَ لَكُمْ

ډله ده چې یقینًا تېره شوې ده، څه (عمل) چې
هغوی کړی دی؛ هغه د هغوی لپاره دی او څه

مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا

(عمل) چې تاسو کړی دی؛ هغه تاسو لپاره دی او
له تاسو نه به د هغوی د عملونو په باره

ع
16

يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤١﴾

کې تپوس نه کېږي(141)

سَيَقُولُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا

له خلقو څخه بې وقوفان به ژر ووايي چې دوی له

وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا ؕ

خپلې هغه قبلې نه څه شي واړول چې دوی په هغې باندې وو؟ ته (ورته)

قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ؕ يَهْدِيْ مَنْ

ووايه: خاص د الله لپاره مشرق او مغرب دی، سمې (نېغې) لارې ته

يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۴۲﴾ وَكَذٰلِكَ

هدايت کوي چا ته چې يې وغواړي(142) او همدارنګه

جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى

مونږه تاسو غوره امت جوړ کړي يئ، د دې لپاره چې تاسو په خلقو باندې شاهِدان (ګواهان) شئ،

النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ؕ وَ

او رسول پر تاسو باندې ګواه شي۔ اوهغه قبله چې ته په هغې باندې وې؛ مونږه نه

مَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ اِلَّا لِنَعْلَمَ

وه مقرره کړې مګر د دې لپاره چې مونږ هغه څوک معلوم (څرګند) کړو

مَنْ يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى

چې د رسول پیروي کوي له هغه چا نه چې په خپلو پوندو باندې

عَقِبَيْهِ ؕ وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى

بېرته ګرځي، او یقینًا دا (خبره) ډېره درنه ده، مګر په هغو

الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ

کسانو چې الله ورته هدایت کړی دی (درنه نه ده) او الله کله هم داسې نه دی چې ستاسو ایمان

لِيُضِيعَ اِيمَانَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ

(لمونځونه) ضايع کړي، يقيناً الله په خلقو باندې
خامخا ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم

رَّحِيمٌ ﴿۱۴۳﴾ قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي

کوونکی دی(143) يقيناً اسمان ته ستا د مخ
ګرځېدل (اوړېدل)

السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰهَا ۠ فَوَلِّ

مونږ وينو، نو مونږ به تا خامخا د هغې قبلې په
طرف وګرځوو چه ته يې خوښوې،

وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَحَيْثُ مَا

نو خپل مخ د مسجد حرام (کعبې) په طرف
وګرځوه۔

كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ

او تاسو چې په هر ځای کې يئ، نو خپل مخونه د
هغه په طرف وګرځوئ، او بېشکه هغه کسان چه

أُوتُوا الْكِتٰبَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ

هغو ته كتاب وركړى شوى دى؛ هغوى خامخا
پوهېږي چې يقينًا دا (د قبلې بدلول) د دوى د رب

رَّبِّهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۴﴾

له جانبه حق دي، او الله له هغه څه نه چه دوى
يې كوي كله هم غافل نه دى(144)

وَلَىِٕنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ

او يقينًا كه ته هغو كسانو ته چې ورته كتاب
وركړى شوى دى،

اٰيَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَا اَنْتَ بِتَابِعٍ

هره نښه (هر قسمه دليل) راوړې (بيا به هم)
هغوى ستا د قبلې تابع نشي او ته (هم) د هغوى د

قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ

قبلې تابع كېدونكى نه يې، او د دوى بعضې د
بعضو نورو د قبلې تابع كېدونكي نه دي، او يقينًا

وَلَىِٕنِ اتَّبَعۡتَ اَهۡوَآءَهُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ مَا

له دې نه پس چې تا ته علم راغی، که چېرې ته د هغوی د خواهشاتو

جَآءَكَ مِنَ الۡعِلۡمِ ۙ اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ

تابع شوې (نو) یقینًا یقینًا ته به په دغه وخت کې له

الظّٰلِمِيۡنَ ۘ‏ ﴿۱۴۵﴾ اَلَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ

ظالمانو نه یې(145) هغه کسان چه مونږ هغوی ته کتاب ورکړی دی،

يَعۡرِفُوۡنَهٗ كَمَا يَعۡرِفُوۡنَ اَبۡنَآءَهُمۡ ؕ وَاِنَّ

هغوی دا (محمدﷺ، قرآن، اسلام) پېژني لکه چې دوی خپل زامن پېژني، او یقینًا

فَرِيۡقًا مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُوۡنَ الۡحَقَّ وَهُمۡ

له دوی نه یوه ډله لازمًا حق پټوي، حال دا چې

وقف لازم

د سورتونو فهرست

د سپارو فهرست

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿١٤٦﴾ اَلۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكَ فَلَا

دوی پوهېږي(146) حق ستا د رب له جانبه دی،

ع
1

تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُمۡتَرِيۡنَ ﴿١٤٧﴾ وَلِكُلٍّ

نو كله هم له شك كوونكو نه مه كېږه(147) او د هر چا

وِّجۡهَةٌ هُوَ مُوَلِّيۡهَا فَاسۡتَبِقُوا

لپاره يو جانب دی چې دا هغه ته مخ گرځوونكی دی،

الۡخَيۡرٰتِ ؕ اَيۡنَ مَا تَكُوۡنُوۡا يَاۡتِ بِكُمُ

نو نېكيو ته له يو بل نه مخكې كېږئ، په هر ځای كې چې تاسو يئ

اللّٰهُ جَمِيۡعًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

الله به تاسو (ټول) په جمع راولي، يقينًا الله په هر شي باندې بنه

قَدِيْرٌ ۝١٤٨ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ

قادر دی(148) او له کوم ځای نه چه ته وځې، نو

وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَ

خپل مخ د مسجد حرام په طرف وگرځوه، او

اِنَّهٗ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَمَا اللّٰهُ

یقینًا همدا ستا د رب له جانبه خامخا حق دي، او
الله له هغه څه نه چه تاسو يې

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝١٤٩ وَمِنْ حَيْثُ

کوئ کله هم غافلنه دی(149) او له کوم ځای نه

خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ

چې ته وځې، نو خپل مخ د مسجد حرام (قبلې) په
طرف وگرځوه، او

الْحَرَامِ ؕ وَ حَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا

تاسو چې په هر ځاى كې يئ، نو خپل مخونه د

وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ۙ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ

هغه په طرف وګرځوئ، د دې لپاره چې د خلقو

عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

لپاره په تاسوباندې څه حجت (او اعتراض) نه
وي، مګر له دوى څخه هغه كسان چې ظلم يې

مِنْهُمْ ۗ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَ اخْشَوْنِىْ ۗ

كړى دى، نو له هغو نه مه ويرېږئ، او له ما نه
ويرېږئ،

وَ لِاُتِمَّ نِعْمَتِىْ عَلَيْكُمْ وَ لَعَلَّكُمْ

او د دې لپاره چې زه خپل نعمتونه پر تاسو باندې
پوره كړم او د دې لپاره چې تاسو

تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥٠﴾ كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ

هدايت ومومئ(150) لکه چې مونږ په تاسو کې

رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَ

له هم تاسو نه رسول درلېږلی دی چې پر تاسو
باندې زمونږه ايتونه تلاوت کوي،

يُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَ

او تاسو پاکوي او تاسو ته کتاب او حکمت
(سنت) ښيي، ا

الْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا

و تاسو ته د هغه څه تعليم درکوي چې تاسو پرې

تَعْلَمُوْنَ ﴿١٥١﴾ فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ وَ

نه پوهېدلئ(151) نو تاسو ما يادوی زه به تاسو
يادکړم او

ع
2

اشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿۱۵۲﴾ يٰۤاَيُّهَا

زما شکر وباسئ او په ما باندې مه کافر کېږئ( 152) ای هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَ

کسانو چه ایمان يې راوړی دی! په صبر او لمانځه

الصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾

سره مدد غواړئ، يقيناً الله د صبر کوونکو ملګری دی(153)

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او تاسو هغه چا ته مړه مه وایئ چې د الله په لاره

اَمْوَاتٌ ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ وَّ لٰكِنْ لَّا

کې ووژل شي بلکې (هغوی) ژوندي دي او لېکن تاسو (د هغوی په ژوند)

تَشْعُرُوْنَ ﴿١٥٤﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ

نه پوهېږئ(154) او خامخا مونږ به تاسو ضرور په يو شي

الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ

سره له وېرې او له لوږې او د مالونو او د ځانونو

الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ وَ

او دمېوو په نقصان (كمي) سره ازمايو، اوصبر كوونكو

بَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٥٥﴾ الَّذِيْنَ اِذَآ

ته زېرى وركړه(155) هغه كسان چې

اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ

كله دوى ته څه مصيبت ورسي (نو) وايي: يقينًا مونږ د الله (مملوك) يو او بېشكه مونږه خاص هغه

اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ ﴿١٥٦﴾ اُولٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ

ته ورگرځېدونکي يو(156) دغه خلق، پر هم دوی

باندې د

صَلَوٰتٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٌ ۟ وَاُولٰٓئِكَ

خپل رب له جانبه عنايتونه دي او رحمت دی، او

همدغه خلق هدايت

هُمُ الۡمُهۡتَدُوۡنَ ﴿١٥٧﴾ اِنَّ الصَّفَا وَ

موندونکي دي(157) يقينًا صفا او

الۡمَرۡوَةَ مِنۡ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنۡ حَجَّ

مروه د الله له نښو څخه دي، نو هر څوك چې د

بيت الله حج كوي،

الۡبَيۡتَ اَوِ اعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِ اَنۡ

يا عمره كوي، نو په هغه باندې هېڅ گناه نشته

چې د

يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ؕ وَ مَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا ۙ

دي دواړو طواف وكړي، او هر څوك چې په خپله خوښه څه نېكي وكړي، نو الله شكر

فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ﴿١٥٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

قبلوونكى، ښه عالم دى(158) يقينًا كوم خلق

يَكْتُمُوْنَ مَاۤ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَ

چې هغه څه پټوي چې مونږ نازل كړي دي، چې

الْهُدٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِي

هدايت او ښكاره دليلونه دي، له دې نه پس چې مونږ هغه په

الْكِتٰبِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَ

كتاب كې خلقو ته بيان كړي دي، دغه خلق (چې دي)، الله په

يَلۡعَنُهُمُ اللّٰعِنُوۡنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا الَّذِيۡنَ

دوی لعنت کوي اولعنت ويونکي په دوی لعنت وايي(159) مګر هغه کسان چې

تَابُوۡا وَاَصۡلَحُوۡا وَبَيَّنُوۡا فَاُولٰٓٮِٕكَ

توبه وباسي او (د ځان) اصلاح وکړي او (د حق) بيان وکړي، پس دغه کسان،

اَتُوۡبُ عَلَيۡهِمۡ ۚ وَاَنَا التَّوَّابُ

زه د هغوی توبه قبلوم او زه ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم

الرَّحِيۡمُ ﴿۱۶۰﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَ

کوونکی يم(160) بېشکه هغه کسان چې کفر يې کړی دی او

مَاتُوۡا وَهُمۡ كُفَّارٌ اُولٰٓٮِٕكَ عَلَيۡهِمۡ

په داسې حال کې مړه شول چې کافران وو، (نو) دغه کسان، په دوی باندې

لَعۡنَةُ اللّٰهِ وَالۡمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ

د الله لعنت دی او د ملایکو او د خلقو ټولو

اَجۡمَعِيۡنَ ۙ﴿۱۶۱﴾ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ

(لعنت دی)(161) په دې حال کې چې همېشه به
وي په دې (لعنت) کې، له دوی نه به

عَنۡهُمُ الۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنۡظَرُوۡنَ ﴿۱۶۲﴾

نه عذاب سپك کړی شي او نه به دوی ته مهلت
ورکړی شي(162)

وَاِلٰهُكُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

او ستاسو حق معبود یو معبود دی، هېڅ لایق د
عبادت نشته مګر یوائې هغه دی چې ډېر زیات

ع 3

هُوَ الرَّحۡمٰنُ الرَّحِيۡمُ ﴿۱۶۳﴾ اِنَّ فِىۡ خَلۡقِ

مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(163) یقیناً د

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ

اسمانونو او د ځمکې په پيدا کولو کې، او د شپې

وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِىْ تَجْرِىْ فِى

او ورځې په بدلېدو کې، او په هغو بېړيو کې چې

الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَآ اَنْزَلَ

په سمندر کې يې هغه څه روان کړي وي چې
خلقو ته نفع رسوي، او په هغه څه کې چې

اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَاَحْيَا بِهِ

الله له اسمان (بره) نه راورَولي دي، چې اوبه دي،
نو په دې سره يې

الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ

ځمکه د هغې د مَړه کېدو (وچېدو) نه پس ژوندۍ
کړه، او په دې کې يې

كُلِّ دَآبَّةٍ ۖ وَّتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ وَ

هر قسمه خوځنده (شیان) خواره کړل، او د
بادونو په ګرځولو (راګرځولو) کې او

السَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَ

په هغې وريځ کې چې د اسمان او ځمکې په مينځ
کې مُسَخَّره کړی شوې ده، خامخا د

الْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿١٦٤﴾

(هغه) قوم لپاره نښې دي چې عقلمند وي(164)

وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ

او په خلقو کې ځينې هغه څوک دي چه له الله نه

اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ وَ

غير شريکان نيسي، له هغوی سره مينه کوي له
الله سره د مينې په شان، او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ وَلَوْ

هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ له الله سره په مينه کې ډېر سخت (او کلك) دي، او که چېرې

يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ

هغه کسان چې ظلم يې کړی دی؛ دا ووينې، کله چې

الْعَذَابَ ۙ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ

دوی عذاب وينې، چې يقينًا قوت ټول خاص د الله لپاره دی او دا چې يقينًا الله ډېر

اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ اِذْ تَبَرَّاَ

سخت عذاب ورکوونکی دی(165) کله چې هغه

الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا

کسان چې اتباع يې کړی شوې وه، له هغو کسانو نه بېزاره شي چې اتباع يې کړې وه،

وَرَاَوُا الۡعَذَابَ وَتَقَطَّعَتۡ بِهِمُ

او عذاب ووېني او په دوی (تړلې) وسېلې

الۡاَسۡبَابُ ﴿۱۶۶﴾ وَقَالَ الَّذِيۡنَ اتَّبَعُوۡا

غوڅې شي(166) او چا چې پیروي کړې ده، هغوی به وايي:

لَوۡ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ مِنۡهُمۡ كَمَا

ارمان! که مونږ لپاره (دنيا ته) بيا تلل وي، نو له دوی نه به

تَبَرَّءُوۡا مِنَّا ؕ كَذٰلِكَ يُرِيۡهِمُ اللّٰهُ

مونږ بېزاره شو لکه چې دوی له مونږ نه بېزاره شول، همدارنګه به الله دوی

اَعۡمَالَهُمۡ حَسَرٰتٍ عَلَيۡهِمۡ ؕ وَمَا هُمۡ

ته خپل عملونه په دوی باندې د حسرتونو لپاره ښکاره کوي او

ع
4

بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

دوى له اور نه كله هم وتونكي نه دي(167) اى خلقو!

كُلُوْا مِمَّا فِي الْاَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّلَا

له هغو ثيزونو نه چي په ځمكه كي دي، حلال پاك خورئ

تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ

او د شيطان د قدمونو پيروي مه كوئ، يقينًا هغه ستاسو ښكاره

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٦٨﴾ اِنَّمَا يَاْمُرُكُمْ بِالسُّوْٓءِ

دښمن دى(168) يقينًا همدا خبره ده چي هغه تاسو ته د بدى

وَالْفَحْشَآءِ وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا

او بي حيايى حكم كوي او دا چي تاسو په الله باندي هغه خبري وتړئ (وتپئ) چي تاسو پري نه

لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۶۹﴾ وَ اِذَا قِيۡلَ لَهُمُ

پوهېږئ(169) او كله چې دوى ته وويل شي:

اتَّبِعُوۡا مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ قَالُوۡا بَلۡ نَتَّبِعُ

د هغه څه پيروي وكړئ چې الله نازل كړې دى، (نو) وايي:

مَاۤ اَلۡفَيۡنَا عَلَيۡهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوۡ كَانَ

(نه) بلكې مونږه د هغه څه پيروي كوو چې په هغه باندې مونږ خپل پلرونه (مشران) موندلي دي، ايا

اٰبَآؤُهُمۡ لَا يَعۡقِلُوۡنَ شَيۡـًٔا وَّ لَا

اگر كه د دوى پلرونه (داسې) وو چې په هېڅ شي نه پوهېدل، اونه يې سمه

يَهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۷۰﴾ وَ مَثَلُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

لار موندلې وه(170) د هغو كسانو مثال چې كفر يې كړى دى؛

كَمَثَلِ الَّذِىۡ يَنۡعِقُ بِمَا لَا يَسۡمَعُ اِلَّا

د هغه کس په شان دی چې هغه (ثارویو) ته ناري وهي چې نه اوري مګر

دُعَآءً وَّنِدَآءً ؕ صُمٌّۢ بُكۡمٌ عُمۡىٌ فَهُمۡ

یواځې تشه بلنه او غږ، (دوی) کاڼه دي، ګونګیان دي، ړانده دي، نو دوی هیڅ

لَا يَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۷۱﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

نه پوهیږي(171) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

كُلُوۡا مِنۡ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقۡنٰكُمۡ وَ

له هغو پاکو حلالو ځیزونو څخه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي، او

اشۡكُرُوۡا لِلّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ اِيَّاهُ

د الله شکر وباسئ، که تاسو داسې یئ چې خاص

تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۱۷۲﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ

د هغه عبادت كوئ(172) بېشكه خبره دا ده چې

الۡمَيۡتَةَ وَالدَّمَ وَلَحۡمَ الۡخِنۡزِيۡرِ وَمَآ

هغه په تاسو باندې همدا مرداره او وينه او د
خنزير غوښه حرامه كړې ده او هغه څه (يې حرام

اُهِلَّ بِهٖ لِغَيۡرِ اللّٰهِ‌ۚ فَمَنِ اضۡطُرَّ غَيۡرَ

كړي دي) چې په هغه باندې د غيرالله لپاره اواز
كړى شوى وي، نو هغه څوك چې مجبوركړى شي،

بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَاۤ اِثۡمَ عَلَيۡهِ‌ؕ

په دې حال كې چې نه سركشي كوونكى وي او نه
(له حد نه) تېرېدونكى وي، نو په هغه باندې هېڅ

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۷۳﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ

گناه نشته، يقينًا الله ډېر بخښونكى، بې حده رحم
كوونكى دى(173) يقينًا هغه كسان

يَكۡتُمُوۡنَ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ مِنَ الۡكِتٰبِ وَ

چې هغه څه پټوي چې الله له (خپل) کتاب نه نازل کړي دي، او

يَشۡتَرُوۡنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ۙ اُولٰٓئِكَ مَا

د دې په بدل کې لږ قيمت اخلي، (نو) دغه کسان، نه

يَاۡكُلُوۡنَ فِىۡ بُطُوۡنِهِمۡ اِلَّا النَّارَ وَلَا

خوري (نه اچوي) په خپلو خېټو کې مګر اور، او د

يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ وَلَا

قيامت په ورځ به الله نه له دوی سره خبرې وکړي او نه به دوی پاك کړي

يُزَكِّيۡهِمۡ ۖۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۱۷۴﴾

او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی(174)

أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَٰلَةَ

دا هغه کسان دي چې د هدايت په بدله کې يې

بِالْهُدَىٰ وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ

گمراهي اخيستې ده او دمغفرت په بدله کې عذاب، نو (تعجب دی) دوی په اور باندې څومره

أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿١٧٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ

صبر کوونکي دي!(175) دا ځکه چې بېشکه الله

نَزَّلَ الْكِتَٰبَ بِالْحَقِّ ۗ وَإِنَّ الَّذِينَ

کتاب په حقه نازل کړی دی او يقينًا هغه کسان چې

اخْتَلَفُوا فِي الْكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقٍ

په کتاب کې يې اختلاف کړی دی؛ خامخا په ډېر لرې مخالفت

ع
5

الربع

بَعِيْدٍ ﴿١٧٦﴾ لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا

كې دي(176) نېكي دا نه ده چې خپل

وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ

مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ،

وَ لٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ

او لېكن نېكي (د هغه چا) ده چې په الله او په ورځ

الْاٰخِرِ وَ الْمَلٰٓئِكَةِ وَ الْكِتٰبِ

د اخرت او په ملايكو او په كتابونو

وَ النَّبِيّٖنَ ۚ وَ اٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ

او په نبيانو يې ايمان راوړى دى
او د هغه

ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ

په مينه (کې) خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو

وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ

او مسافرو او سوالگرو ته مال ورکوي او په

وَفِى الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى

(ازادولو د) غلامانو کې (يې لگوي) او لمونځ قايموي او

الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا

زکات ورکوياو د خپلو وعدو پوره کوونکي

عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَاْسَآءِ وَ

وي کله چې وعده وکړي، (خصوصًا) چې په

الضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَأْسِ ؕ اُولٰٓئِكَ

سختۍ او تکلیف کې او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي دي، دا هغه خلق دي

الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

چې رښتیني دي او همدغه خلق

الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ

متقیان دي(177) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی!

عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى ؕ اَلْحُرُّ

پر تاسو باندې د وژل شویو په باره کې (د) قصاص (قانون) فرض کړی شوی دی، ازاد

بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى

د ازاد په بدل کې، او غلام د غلام په بدل کې، او ښځه

بِالْاُنْثٰى ؕ فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ

د ښځې په بدل کې (قصاصيږي)، پس هغه څوك چې هغه ته د خپل ورور

شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ

له جانبه د څه شي معافي وکړی شي، نو په ښې طريقې سره مطالبه (لازم) ده،

بِاِحْسَانٍ ؕ ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

او هغه (د مقتول ولي) ته په نېکې طريقې سره اداکول (لازم) دي، دا ستاسو د رب له جانبه

وَرَحْمَةٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ

اساني او مهرباني ده، نو له دې نه پس چې چا زياتی وکړ، نو د هغه لپاره

فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمْ فِي

ډېر دردوونکی عذاب دی(178) او تاسو لپاره په

الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰاُولِي الْاَلْبَابِ

قصاص کې لوی ژوند دی، ای د خالص عقل
خاوندانو! د دې لپاره چې

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٧٩﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا

تاسو (ځان) وساتئ(179) پر تاسو باندې فرض

حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ

کړی شوي دي د مور او پلار او خپلوانو لپاره په

خَيْرَا ۚۖ اِلْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَ

ښې طريقې سره وصيت کول، کله چې په تاسو کې

الْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى

يو کس ته مرگ راشي، په دې شرط چې مال يې
پريښی وي.، دا په متقيانو ډېر لازم

الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٨٠﴾ فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا

(حکم) دی(180) نو چا چې دا (وصيت) له

سَمِعَهٗ فَاِنَّمَآ اِثْمُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ

اوريدلو نه پس بدل كړ، نو يقينًا همدا خبره ده چې
د دې (بدلولو) ګناه په هغو كسانو ده چې دا

يُبَدِّلُوْنَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٨١﴾

(وصيت) بدلوي، يقينًا الله ښه اوريدونكى، ښه
عالم دی(181)

فَمَنْ خَافَ مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا

بيا چې څوك له وصيت كوونكي نه (په خطا سره)
د ظلم، يا (په قصد سره) د ګناه ويره لري،

فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ

نو د هغوى په مينځ كې يې جوړه وكړه، نو په هغه
باندې هيڅ ګناه نشته،

ع
6

اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۸۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

يقينًا الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی
دی(182) ای هغو کسانو

اٰمَنُوۡا كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الصِّيَامُ كَمَا

چې ایمان يې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه
فرض کړی

كُتِبَ عَلَى الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ

شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو
کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې

لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ﴿۱۸۳﴾ اَيَّامًا مَّعۡدُوۡدٰتٍ ؕ

تاسو متقيان شئ(183) یو څو ورځې شمېرل
شوې،

فَمَنۡ كَانَ مِنۡكُمۡ مَّرِيۡضًا اَوۡ عَلٰى سَفَرٍ

نو څوک چې په تاسو کې مريض وي، يا په سفر
وي، نو

فَعِدَّةٌ مِّنۡ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ وَ عَلَى

(په هغه باندې) د نورو ورځو شمېرل دي، اوپه هغو

الَّذِيۡنَ يُطِيۡقُوۡنَهٗ فِدۡيَةٌ طَعَامُ

كسانو باندې چې د دې (روژې) طاقت لري، د يو

مِسۡكِيۡنٍ ؕ فَمَنۡ تَطَوَّعَ خَيۡرًا

مسكين خوراك فديه لازم ده، پس څوك چې په خوښۍ سره نېكي وكړي،

فَهُوَ خَيۡرٌ لَّهٗ ؕ وَاَنۡ تَصُوۡمُوۡا خَيۡرٌ

نو د ده لپاره هغه بهتره ده، او دا چه روژه ونيسئ (دا) تاسو لپاره ډېر غوره دي،

لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۸۴﴾

كه چېرې يئ تاسو چې پوهېږئ(184)

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ

د رمضان میاشت هغه ده چې په هغې کې

ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ

قرآن نازل کړی شوی دی، چې د خلقو لپاره
هدایت دی،

ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ

او د هدایت او د فرقان (حق او د باطل بېلوونکي)
ښکاره دلیلونه دي،

مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ وَمَن كَانَ

نو په تاسو کې چې څوك دې میاشتې کې حاضر
و، نو هغه دې د دې روژې ونیسي،

مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ

او څوك چې مریض وي، یا په سفر وي، نو (په
هغه) د نورو ورځو شمېرل دي،

أُخَرَ ۭ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا

الله په تاسو د اسانتيا اراده لري او پر تاسو باندې

يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ۡ وَلِتُكْمِلُوا

د سختۍ اراده نه لري او د دې لپاره چې تاسو
شمېره پوره کړئ او

الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا

د دې لپاره چې تاسو د الله لويي بيان کړئ، په دې
چې هغه تاسو ته

هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝١٨٥ وَاِذَا

هدايت کړی دی، او د دې لپاره چې تاسو شکر
وباسئ(185) او کله چې

سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ ۭ

زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان تپوس وکړي،
نو يقينًا زه قريب يم،

أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ

د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي،

فَلْيَسْتَجِيبُوْا لِىْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِىْ

پس دوی دې زما حکم ومني، او په ما دې ایمان راوړي، د دې لپاره چې دوی

لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ ﴿١٨٦﴾ اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ

سمه لار ومومي(186) تاسو لپاره د روژې په شپه

الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى نِسَآئِكُمْ ؕ هُنَّ

کې له خپلو ښځو سره یو ځای کېدل حلال کړی شوي دي، هغوی

لِبَاسٌ لَّكُمْ وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ؕ

تاسو لپاره لباس (جامې) دي او تاسو د هغوی لپاره لباس (جامې) یئ،

عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمۡ كُنۡتُمۡ تَخۡتَانُوۡنَ

الله ته معلوم دي چې يقينًا تاسو له خپلو ځانونو سره خيانت کاوه،

اَنۡفُسَكُمۡ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ وَعَفَا

نو په تاسو يې (د مهربانۍ) رجوع وکړه، او تاسو ته يې معافي وکړه،

عَنۡكُمۡ ۚ فَالۡـٰٔنَ بَاشِرُوۡهُنَّ وَابۡتَغُوۡا

نو اوس له هغوی سره مباشرت (کوروالی) کوئ او څه

مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمۡ ۗ وَكُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا

چې الله تاسو لپاره ليکلي دي هغه لټوئ، او خورئ، اوڅښئ تر

حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الۡخَيۡطُ الۡاَبۡيَضُ

هغه چې تاسو ته سپين تار د سبا له

مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۠

تور تار نه ښه ښکاره (او بېل) شي.،

ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ۚ وَلَا

بيا روژه تر شپې پورې پوره کړئ، او له هغوی

تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ ۙ فِي

سره مباشرت (کوروالی) مه کوئ، په داسی حال
کې چې تاسو په

الْمَسٰجِدِ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا

جوماتونو کې اعتکاف کوونکي يئ، دا د الله پُولې

تَقْرَبُوْهَا ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ

(حدونه) دي، نو دې ته مه نژدې کېږئ، هم په
دې شان الله خپل ايتونه خلقو ته واضحه بيانوي،

لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٨٧﴾ وَلَا تَأْكُلُوْٓا

د دې لپاره چې دوی متقیان شي(187) او خپل

اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا

مالونه په خپل مینځ کې په ناحقه سره مه

بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ

خورئ او حاکمانو ته یې د دې لپاره مه ورکوئ چې د خلقو

اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَاَنْتُمْ

له مالونو نه څه حصه په ظلم سره وخورئ، حال دا چې تاسو

ع 7 تَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٨﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ

پوهیږئ(188) دوی له تا نه د نویو میاشتو په باره کې تپوس کوي،

قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۭ وَ

ته (ورته) ووايه: دا (مياشتې) د خلقو او د حج
لپاره ټاکلي وختونه دي، او

لَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ

(دا) نېکي نه ده چې کورونو ته د هغو له شاګانو

ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ

نه راشئ، او لېکن نېکي د هغه چا ده چې متقي
شي،

وَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا ۠ وَاتَّقُوا

او تاسو کورونو ته د هغو له دروازو نه راځئ، او
له الله نه وېرېږئ،

اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝١٨٩ وَقَاتِلُوْا فِيْ

د دې لپاره چې کامياب شئ(189) او د الله په

سَبِيۡلِ اللّٰهِ الَّذِيۡنَ يُقَاتِلُوۡنَكُمۡ

لاره کې له هغو کسانو سره جنگ کوئ چې له تاسو سره جنگیږي،

وَلَا تَعۡتَدُوۡا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

او له حد نه مه تېرېږئ، يقيناً الله له حد نه تېرېدونکي نه

الۡمُعۡتَدِيۡنَ ﴿۱۹۰﴾ وَاقۡتُلُوۡهُمۡ حَيۡثُ

خوښوي(190) او دوی وژنئ کوم ځای چې

ثَقِفۡتُمُوۡهُمۡ وَاَخۡرِجُوۡهُمۡ مِّنۡ حَيۡثُ

دوی ومومئ، او دوی له هغه ځای نه وباسئ چې تاسو يې

اَخۡرَجُوۡكُمۡ وَالۡفِتۡنَةُ اَشَدُّ مِنَ

وېستلي وئ، او فتنه (شرك، له دين نه اړول) له

الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ

قتل نه ډېره سخته (ګناه) ده او له دوی سره د

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ

مسجد حرام په خوا کې جنګ مه کوئ، تر دې
چې دوی له تاسو سره په ده کې جنګ شروع

فِيْهِ ۚ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ۗ

کړي، نو که دوی له تاسو سره جنګ شروع کړي،
نو بیا دوی قتل کړئ،

كَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩١﴾ فَاِنِ

د کافرانو سزا همداسې ده(191) پس که چېرې

انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٢﴾

دوی منع شول، نو یقینًا الله ښه بخښونکی، بې
حده رحم کوونکی دی(192)

وَ قٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّ

او له دوی سره جنګیږئ تر هغه چې فتنه (د کافرانو زور)

يَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ؕ فَاِنِ انْتَهَوْا فَلَا

پاتې نشي، او دين (ټول) د الله لپاره شي، نوکه دوی منع شول، نو هېڅ زياتی

عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩٣﴾ اَلشَّهْرُ

نشته مګر په ظالمانو باندې(193) حرامه مياشت

الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَ

په بدل د مياشتې حرامې کې ده، او

الْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى

حرمتونه (عزتونه) په بدله دي، پس چا چې پر تاسو باندې تېری وکړ،

عَلَيۡكُمۡ فَاعۡتَدُوۡا عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا

نو تاسو په هغه باندې (په جواب کې) تېری وکړئ په مثل د هغه

اعۡتَدٰی عَلَيۡكُمۡ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

چې هغه پر تاسو باندې تېری کړی دی، او له الله نه وېرېږئ او پوه شئ

وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۹۴﴾

چې يقيناً الله د متقيانو ملګری دی(194)

وَاَنۡفِقُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَلَا تُلۡقُوۡا

او د الله په لاره کې خرڅ کوئ اوپه خپلو

بِاَيۡدِيۡكُمۡ اِلَى التَّهۡلُكَةِ ۛۚ وَاَحۡسِنُوۡا ۛۚ

لاسونو هلاکت ته غورځول مه کوئ، او نېکي کوئ،

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٩٥﴾ وَ اَتِمُّوا

يقينًا الله له نېكي كوونكو سره مينه كوي(195) او

الْحَجَّ وَ الْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ

حج او عمره خاص د الله لپاره پوره كړئ، بيا كه
چېرې (له حج، يا عمرې نه)

فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ وَ لَا

ايسار كړى شوئ، نو (بيا لازم ده) هغه هَدي (د
حرم قرباني) چې په

تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ

اسانۍ سره ترلاسه شي او خپل سرونه مه خرَوئ
تر هغه چې

الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ ؕ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ

قرباني خپل (د حلالې) ځاى ته ورسي، پس څوك
چې په تاسو كې

مَّرِيۡضًا اَوۡ بِهٖۤ اَذًى مِّنۡ رَّاۡسِهٖ فَفِدۡيَةٌ

ناجوړه وي، يا ده ته په خپل سر کې څه تکليف وي، نو (په ده) فديه لازمه ده

مِّنۡ صِيَامٍ اَوۡ صَدَقَةٍ اَوۡ نُسُكٍ‌ۚ فَاِذَآ

په روژې سره، يا په صدقې سره، يا په قربانۍ سره، نو کله چې تاسو په

اَمِنۡتُمۡ‌ وقفة فَمَنۡ تَمَتَّعَ بِالۡعُمۡرَةِ اِلَى

امن شئ، پس که چا فايده واخيسته په عمرې سره

الۡحَجِّ فَمَا اسۡتَيۡسَرَ مِنَ الۡهَدۡيِ‌ۚ

حج ته، نو (په هغه لازمه ده) هغه قرباني چې په اسانۍ سره ترلاسه شي،

فَمَنۡ لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِى

پس که چا (قرباني) ونه موندله، نو درې ورځې روژې په حج کې (واجبې) دي

الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ط

او اوه روژې هغه وخت دي چې تاسو راوګرځئ،
دا

تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ط ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ

پوره لس (ورځې) دي، دا (حکم د تمتع) د هغه چا

يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِی الْمَسْجِدِ

لپاره دی چې د هغه ټبر د مسجد حرام
اوسېدونکي نه وي،

الْحَرَامِ ط وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ

او له الله نه وېرېږئ او پوه شئ چې يقيناً الله
سخت

اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ ع اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ

عذاب ورکونکی دی(196) (وخت د احرام د)
حج

ع
8

مَّعۡلُوۡمٰتٌ ۚ فَمَنۡ فَرَضَ فِيۡهِنَّ الۡحَجَّ

څو معلومې مياشتې دي، نو چا چې په دې (مياشتو) کې (په ځان باندې) حج فرض کړ،

فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوۡقَ ۙ وَلَا جِدَالَ فِي

نو په حج کې نه د ښځو د شهوت خبرې کول شته او نه (د الله) نافرماني او نه جګړه ـ

الۡحَجِّ ؕ وَمَا تَفۡعَلُوۡا مِنۡ خَيۡرٍ يَّعۡلَمۡهُ

او تاسو چې څه نېکي کوئ، الله په هغې پوهېږي، اوتوښه واخلئ،

اللّٰهُ ؕ وَتَزَوَّدُوۡا فَاِنَّ خَيۡرَ الزَّادِ

پس يقينًا بهترينه توښه تقوىٰ ده،

التَّقۡوٰى ۚ وَاتَّقُوۡنِ يٰٓاُولِى الۡاَلۡبَابِ ﴿۱۹۷﴾

اى د صفا عقل خاوندانو! له ما نه وېرېږئ(197)

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا

پر تاسو باندې په دې کې هېڅ ګناه نشته

فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ فَاِذَآ اَفَضْتُمْ مِّنْ

چې د خپل رب څه فضل ولټوئ، نو کله چې له

عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ

عرفات نه راکوز شئ، نو په مشعرحرام کې د الله ذکر کوئ،

الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۪ وَاذْكُرُوْهُ كَمَا

او د هغه ذکر کوئ لکه څنګه چې يې تاسو ته ښودنه کړې،

هَدٰىكُمْ ۚ وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ

او يقينًا تاسو له دې نه مخکې خامخا له ګمراهانو

الضَّآلِّيْنَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ

څخه وئ(198) بيا راکوزيږئ له هغه ځای

اَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ

نه چې خلق ترې راکوزيږي او له الله نه مغفرت
غواړئ، يقينًا الله ښه مغفرت کوونکی،

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٩﴾ فَاِذَا قَضَيْتُمْ

بې حده رحم کوونکی دی(199) نو کله چې تاسو

مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ

خپل د حج عبادتونه (اعمال) ادا کړئ، نو الله
يادوئ په شان د يادولو

اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ؕ فَمِنَ النَّاسِ

ستاسو خپلو پلرونو لره، بلکې زيات يادول، نو په
خلقو کې

مَنۡ يَّقُوۡلُ رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِى الدُّنۡيَا وَمَا لَهٗ

ځينې هغه څوك دي چې وايي: اى زمونږه ربه! ته مونږ ته (هر څه) په دنيا كې راكړه، او د دغه كس

فِى الۡاٰخِرَةِ مِنۡ خَلَاقٍ ۞٢٠٠ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ

لپاره په اخرت كې هېڅ برخه نشته(200) او په دوى كې

يَّقُوۡلُ رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِى الدُّنۡيَا حَسَنَةً وَّ

بعضې هغه څوك دي چې وايي: اى زمونږه ربه! مونږ ته په دنيا كې نعمت راكړه

فِى الۡاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ

او په اخرت كې (هم) نعمت راكړه او مونږ د اور له عذابه

النَّارِ ۞٢٠١ اُولٰٓـئِكَ لَهُمۡ نَصِيۡبٌ مِّمَّا

وساته(201) دغه كسان دي چې د دوى لپاره د دوى د كړو

كَسَبُوْا ؕ وَ اللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۲۰۲

(نېکو) عملونو په سبب لويه برخه ده، او الله ډېر
ژر حساب کوونکی دی(202)

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِیْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ

په شمېرل شويو ورځو کې الله يادوئ،

فَمَنْ تَعَجَّلَ فِیْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ

پس څوك چې په دوه ورځو کې ژر لاړ،
نو په هغه

عَلَيْهِ ۚ وَ مَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ

هيڅ گناه نشته، او چا چې تاخير وکړ، نو په ده
(هم) هيڅ گناه نشته،

لِمَنِ اتَّقٰى ؕ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ وَ اعْلَمُوْٓا

د هغه چا لپاره چې تقویٰ يې غوره کړې وي او له
الله نه وېرېږئ،او په دې پوه شئ چې يقيناً تاسو

اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝٢٠٣ وَمِنَ

به خاص هغه ته ورجمع كولی شئ(203) او بعضي

النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ

له خلقو نه هغه څوك دي چې د دنيايي ژوند په

الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ ۙ

باره كې د هغه خبرې تا په تعجب كې اچوي او دی په هغه څه باندې الله ګواه كوي چې د ده په

وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ۝٢٠٤ وَاِذَا تَوَلّٰى سَعٰى

زړه كې دي، حال دا چې دی ډېر زيات جګړه مار دی(204) او كله چې بېرته وګرځي،

فِي الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ

نو په ځمكه كې ګرځندی ګرځي، د دې لپاره چې په دې كې فساد وكړي

الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ

او فصل او نسل تباه کړي، حال دا چې الله فساد نه

الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ وَإِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ

خوښوي(205) او کله چې هغه ته وويل شي: له الله نه وويريږه،

اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ

نو ده لره تکبر ونيسي په گناه کولو سره، نو د ده لپاره

جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ وَمِنَ

جهنم بس دی او يقينًا هغه بده استوگنه ده(206) او بعضې

النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ

له خلقو نه هغه څوك دي چې د الله د رضا لټولو

مَرْضَاتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ

لپاره ځان خرڅوي، او الله په بنده ګانو باندې ډېر نرمي

بِالْعِبَادِ ۝٢٠٧ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

کوونکی دی(207) ای هغو کسانو چې ایمان یې

ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ۪ وَّلَا تَتَّبِعُوْا

راوړی دی! په اسلام کې پوره پوره داخل شئ او

خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ

د شیطان د قدمونو پسې مه ځئ، یقیناً هغه ستاسو ښکاره

مُّبِيْنٌ ۝٢٠٨ فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْۢ

دښمن دی(208) بیا که چېرې تاسو له دې

بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْٓا

نه پس وښوئيدلئ؛ چې تاسو ته ښكاره دليلونه (هم) راغلل، نو پوه شئ چې

اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٠٩﴾ هَلْ

يقينًا الله ډېر غالب، ښه حكمت والا دى(209) دوى

يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ

انتظار نه كوي مگر د دې چې الله دوى ته د

ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ

وريځو په سيورو كې راشي او ملايك (هم) او معامله فيصله كړى شي،

الْاَمْرُ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿٢١٠﴾

ع 9

او ټول كارونه خاص الله ته ورگرځول كيږي( 210)

سَلْ بَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ

له بني اسرائيلو نه تپوس وکړه چې مونږ څومره

مِّنْ اٰيَةٍۭ بَيِّنَةٍؕ وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ

ډېرې واضحې نښې دوی ته ورکړې وې، او څوك چې د

اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ

الله نعمت بدل کړي، له دې نه پس چې ده ته راغلی، نو یقینًا الله سخت

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ

عذاب ورکوونکی دی(211) او هغو کسانو ته چې

كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ

کافران شوي دي دنيايي ژوند ښايسته کړی شوی دی،

وقف لازم

مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا

او دوی په هغو کسانو پورې مسخرې کوي چې ايمان يې راوړی دی، او هغه کسان چې متقيان دي

فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ

د قيامت په ورځ به د دوی له پاسه وي او الله چې

مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾ كَانَ

چا لره وغواړي بې حسابه رزق ورکوي(212) ټول

النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۫ فَبَعَثَ اللّٰهُ

خلق (په شروع کې) يو امت و (بيا په کې ځينې کافر شول)

النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۪ وَ

نو الله نبيان راولېږل چې زېرې ورکوونکي او وېروونکي وو او

اَنۡزَلَ مَعَهُمُ الۡكِتٰبَ بِالۡحَقِّ لِيَحۡكُمَ

له هغوى سره يې په حقه سره كتاب نازل كړ، د
دې لپاره چې هغه د

بَيۡنَ النَّاسِ فِيۡمَا اخۡتَلَفُوۡا فِيۡهِ ؕ

خلقو په منځ كې د هغه شي فيصله وكړي چې
دوى په كې اختلاف كړى دى،

وَ مَا اخۡتَلَفَ فِيۡهِ اِلَّا الَّذِيۡنَ اُوۡتُوۡهُ

او په هغه كې اختلاف نه دى كړى مگر هغو
كسانو چې هغوى ته

مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ الۡبَيِّنٰتُ بَغۡيًۢا

هغه (كتاب) وركړى شوى و، په خپل منځ كې د
لويې او ظلم په وجه (يې اختلاف كړى و)، له دې

بَيۡنَهُمۡ ۚ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

نه پس چې هغوى ته ښې څرگندې نښې راغلې،
نو الله هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړى و، په

لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ ؕ وَ

خپل حکم سره هغه حق ته هدايت وکړ چې هغوی (کافرانو) په کې اختلاف کړی و او

اللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ

الله د سمې لارې هدايت کوي هغه چا ته چې وېې

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢١٣﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ

غوارې(213) ايا تاسو دا گمان کوئ چې

تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ

جنت ته به داخل شئ؟ حال دا چې پر تاسوباندې لا تر اوسه د

الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ

هغو خلقو حالت نه دی راغلی چې له

الْبَأْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى

تاسو نه مخکې تېر شوي دي، هغوی ته سختي او بیماري رسېدلې وې، او جړقول شوي وو تر دې

يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

چې رسول او له هغه سره ایمان راوړونکو به وویل:

مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ

د الله مدد به کله راځي؟ خبردار شئ! یقینًا د الله مدد ډېر

قَرِيْبٌ ﴿٢١٤﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ؕ

نژدې دی(214) دوی له تا نه پوښتنه کوي چې څه شی

قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ

خرچ (انفاق) کړي؟ ته (ورته) ووايه: څه چې

فَلِلْوَالِدَيْنِ وَ الْاَقْرَبِيْنَ وَ الْيَتٰمٰى وَ

خرخ کوئ له مال نه، نو (هغه) د مور او پلار لپاره او نژدې خپلوانو او

الْمَسٰكِيْنِ وَ ابْنِ السَّبِيْلِ ؕ وَ مَا

او مسکینانو او مسافر لپاره دي، او تاسو چې څه

تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ

نېکي هم کوئ، نو یقینًا الله په هغې بنه

عَلِيْمٌ ﴿۲۱۵﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَ هُوَ

عالم دی (215)،پر تاسو باندې جنګ کول فرض کړی شوي دي،

كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ وَ عَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا

حال دا چې دا ستاسو بدې شي، او کېدی شي

شَيْـًٔا وَّ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَ عَسٰٓى اَنْ

چې تاسو به يو شى بد ګڼئ، حال دا چې هغه به تاسو لپاره ډېر غوره وي۔

تُحِبُّوْا شَيْـًٔا وَّ هُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ

او كېدى شي چې تاسو به يو شى خوښوئ، حال دا چې هغه به تاسو لپاره ډېر بد وي۔

ع 10

وَ اللّٰهُ يَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٢١٦

او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ(216)

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ

دوى له تا نه د حرامو مياشتو په باره كې تپوس كوي، په هغې كې د جنګ كولو

فِيْهِ ؕ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ؕ وَ صَدٌّ

(په باره كې)، ته (ورته) ووايه: په هغې كې جنګ كول لويه ګناه ده۔

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ كُفْرٌۢ بِهٖ وَ الْمَسْجِدِ

او د الله له لارې نه منع كول او په هغه (الله) سره كافر كېدل او له مسجد حرام

الْحَرَامِ ۗ وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ

نه منع كول او له هغه (مسجد) نه د هغه اهل (حقدار) وېستل د

عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ

الله په نېز ببخي ډېره لويه گناه ده، او فتنه (شرك) له

الْقَتْلِ ؕ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ

قتل نه ډېره لويه گناه ده، او دوی به همېشه له تاسو سره جنگ كوي

حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ

تر هغه پورې چې تاسو له خپل دين نه واړوي، كه

اسْتَطَاعُوْا ۭ وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ

وس يې وشي، او په تاسو کې چې څوك له خپل

دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰۤىِٕكَ

دين نه وګرځېده، بيا په داسې حال کې مړ شو چې
کافر و، نو دغه کسان

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَ

(چې دي) د دوی عملونه په دنيا او اخرت

الْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰۤىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

(دواړو) کې ضايع شوي دي او دغه کسان د اور
ملګري دي، دوی به په هغه کې تل

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝٢١٧ اِنَّ الَّذِيْنَ

ترتله (همېشه) وي(217) يقيناً هغه کسان

اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ

چې ايمان يې راوړی دی او هغه کسان چې هجرت يې کړی دی او جهاد يې کړی دی

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ

د الله په لاره کې، دغه کسان د الله د رحمت اميد لري،

رَحْمَتَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۲۱۸

او الله ډېر بخښونکی، ډېر مهربانه دی(218) ...

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۭ

دوی له تا نه د شرابو او جوارۍ په باره کې تپوس کوي،

قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ

ووايه: په دې دواړو کې ببخي لويه گناه ده، او د خلقو لپاره په کې فايدې دي،

لِلنَّاسِ ۫ وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ

او د دې دواړو گناه ډېره لويه ده، د دې دواړو له فايدو نه.

نَّفْعِهِمَا ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ؕ۬

او دوی له تا نه پوښتنه کوي چې څه خرچ (انفاق) کړي؟

قُلِ الْعَفْوَ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ

ته (ورته) ووايه: له نفقې (اخراجاتو) نه زياتي (څيز خرچ کړئ) الله همداسې تاسو لپاره ايتونه

الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۙ۲۱۹ فِي

بيانوي، د دې لپاره چې تاسو ښه فکر وکړئ( 219) د

الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ

دنيا او اخرت په باره کې، او دوی له تا نه د

الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ وَ

يتيمانو په باره كې پوښتنه كوي، ووايه: د دوى
اصلاح كول ډېر ښه دي، او

اِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ

كه تاسو هغوى (له ځان سره) شريك كړئ، نو
ستاسو ورونړه دي، او الله

يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَلَوْ

پېژني ورانكارى له اصلاح كوونكي نه، او كه

شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

الله غوښتلى، نو تاسو به يې خامخا په مشقت كې
اچولي وى، يقينًا الله ډېر غالب، ښه حكمت

حَكِيْمٌ ﴿۲۲۰﴾ وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ

والا دى(220) او له مشركو ښځو سره نكاح مه
كوئ

حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ وَ لَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ

تر هغه پورې چې دوی ایمان راوړي، او خامخا مومنه وینځه بېخي غوره ده له

مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا

ازادې مشرکې نه اگر که هغه تاسو حیران کړي (د خوښېدو په وجه) او

تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ وَ

مشرکانو ته (مسلمانې ښځې) په نکاح مه ورکوئ تر هغه پورې چې دوی ایمان راوړي، او

لَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ

خامخا مومن مَرَیی بېخي غوره دی له ازاد مشرك نه، اگر که هغه تاسو

اَعْجَبَكُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ اِلَى

(د خوښېدو په وجه) حیران کړي، دغه کسان اور ته بلنه کوي،

النَّارِ ۖۚ وَاللّٰهُ يَدۡعُوۡۤا اِلَى الۡجَنَّةِ وَ

او الله په خپل اذن سره جنت او مغفرت طرف ته بلنه کوي،

الۡمَغۡفِرَةِ بِاِذۡنِهٖ ۚ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ

او خلقو ته خپل ايتونه بيانوي، د دې لپاره چې

ع 11

لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُوۡنَ ۟ ﴿۲۲۱﴾ وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ

دوی نصيحت قبول کړي(221) او دوی له

عَنِ الۡمَحِيۡضِ ؕ قُلۡ هُوَ

تا نه د حيض په باره کې پوښتنه کوي، ته ووايه:

اَذًى ۙ فَاعۡتَزِلُوا النِّسَآءَ فِى الۡمَحِيۡضِ

دا يوه پليتي ده، نو په حيض کې د ښځو له جماع نه په ډډه شئ،

وَلَا تَقۡرَبُوهُنَّ حَتّٰى يَطۡهُرۡنَ ۚ فَاِذَا

او دوى ته مه نژدې کېږئ له (د جماع لپاره) تر

تَطَهَّرۡنَ فَاۡتُوۡهُنَّ مِنۡ حَيۡثُ

هغه پورې چې پاکې شي، نو کله چې ښې پاکې
شي، بيا له دوى سره جماع کوئ، په هغه ځاى کې

اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

چې الله تاسو ته حکم کړى دى، يقينًا الله ډېرې
توبې وېستونکي خوښوي

التَّوَّابِيۡنَ وَيُحِبُّ الۡمُتَطَهِّرِيۡنَ ﴿۲۲۲﴾

او ښه پاك اوسېدونکي خوښوي(222)

نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٌ لَّكُمۡ ۪ فَاۡتُوۡا حَرۡثَكُمۡ

ستاسو ښځې تاسو لپاره فصل دي، نو خپل فصل
ته راځئ څنګه

اَنّٰى شِئۡتُمۡ ۡ وَ قَدِّمُوۡا لِاَنۡفُسِكُمۡ ؕ وَ

چې ستاسو خوښه وي، او د خپلو ځانونو لپاره (نېك عمل) وړاندې ولېږئ، او

اتَّقُوا اللّٰهَ وَ اعۡلَمُوۡۤا اَنَّكُمۡ مُّلٰقُوۡهُ ؕ وَ

له الله نه وېرېږئ او په دې پوه شئ چې يقينًا تاسو له هغه سره ملاقات كوونكي يئ،

بَشِّرِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۲۲۳﴾ وَ لَا تَجۡعَلُوا اللّٰهَ

او مومنانو ته زېرى وركړه(223) او تاسو الله د خپلو قسمونو

عُرۡضَةً لِّاَيۡمَانِكُمۡ اَنۡ تَبَرُّوۡا وَ تَتَّقُوۡا

لپاره هدف مه گرځوئ (د الله نوم مه استعمالوئ) چې نه به كوئ نېكي او پرهېزگاري

وَ تُصۡلِحُوۡا بَيۡنَ النَّاسِ ؕ وَ اللّٰهُ سَمِيۡعٌ

او د خلقو په منځ كې صلح، او الله ښه اورېدونكى، ښه

عَلِيۡمٌ ﴿٢٢٤﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغۡوِ فِيۡۤ

پوه دی(224) الله تاسو نه نيسي په خپلو قسمونو

اَيۡمَانِكُمۡ وَلٰكِنۡ يُّؤَاخِذُكُمۡ بِمَا

کې په لغو سره، او لېکن نيسي تاسو په هغه (قسم) چې

كَسَبَتۡ قُلُوۡبُكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ

ستاسو زړونو يې قصد (نيت) کړی وي، او الله ډېر بخښونکی، ښه تحمل

غَفُوۡرٌ حَلِيۡمٌ ﴿٢٢٥﴾ لِلَّذِيۡنَ يُؤۡلُوۡنَ

کوونکی دی(225) د هغو کسانو لپاره چې

مِنۡ نِّسَآئِهِمۡ تَرَبُّصُ اَرۡبَعَةِ اَشۡهُرٍ ۚ

خپلو ښځو (ته له ورتلو) نه قسم خوري، د څلورو مياشتو مهلت دی،

فَاِنۡ فَآءُوۡ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۲۲۶

بيا كه دوى رجوع وكړه، نو يقينًا الله ډېر بخښونكى، ډېر مهربان دى(226)

وَاِنۡ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ

او كه دوى د طلاقو عزم كړى وي، نو يقينًا الله ښه اورېدونكى،

عَلِيۡمٌ ۲۲۷ وَالۡمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ

ښه پوه دى(227) او طلاقې كړى شوې ښځې دې

بِاَنۡفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوۡٓءٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ

په خپلو ځانونو درې حيضه انتظار كوي، او د دوى لپاره حلال

لَهُنَّ اَنۡ يَّكۡتُمۡنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِىۡٓ

نه دي چې پټ كړي هغه څه چې الله د دوى په رَحِمونو كې پيدا كړي دي،

اَرۡحَامِهِنَّ اِنۡ كُنَّ يُؤۡمِنَّ بِاللّٰهِ وَ

كه دوى په الله او په ورځ د اخرت ايمان لري۔ او

الۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ؕ وَبُعُوۡلَتُهُنَّ اَحَقُّ

په دې موده كې د دوى خاوندان د دوى د بيا راوستلو اصل حقدار دي

بِرَدِّهِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ اِنۡ اَرَادُوۡۤا اِصۡلَاحًا ؕ

كه هغوى د اصلاح (جوړښت) اراده لري، او د دستور

وَلَهُنَّ مِثۡلُ الَّذِىۡ عَلَيۡهِنَّ

مطابق د هغو (ښځو) لپاره (په خاوندانو باندې حقونه) دي په شان د

بِالۡمَعۡرُوۡفِ ۖ وَلِلرِّجَالِ عَلَيۡهِنَّ

هغو (حقونو) چې په دوى باندې لازم دي (د خپلو خاوندانو لپاره) او په دوى باندې د سړيو

ع
12

دَرَجَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝۲۲۸

لپاره درجه شته، او الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی(228)

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ

طلاق دوه ځله دي، بيا په ښې طريقې سره (ښځې لره) ساتل دي،

اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ

يا په ډېرې ښې طريقې سره رخصتول دي او (ای سړو!) تاسو لپاره دا حلال نه دي

لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ

چې له هغه (مال) نه چې تاسو دوی ته ورکړی دی؛

شَيْــًٔا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ

څه لږ شی هم واخلئ، مګر دا چې دواړه له دې نه ووېرېږي چې دوی به

اللّٰهِ ؕ فَاِنۡ خِفۡتُمۡ اَلَّا يُقِيۡمَا حُدُوۡدَ

د الله حدونه (حکمونه) قايم نه کړي، نو که تاسو ويرېږئ چې دوی

اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَا فِيۡمَا افۡتَدَتۡ

دواړه به د الله حکمونه پوره نه کړي، بيا نو په دې دواړو باندې هېڅ ګناه نشته په هغه (مال) کې چې

بِهٖ ؕ تِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ فَلَا تَعۡتَدُوۡهَا ۚ

هغه ښځه يې د جداوالي لپاره ورکوي. دا د الله حدونه دي، نو له دغو نه مه تېرېږئ،

وَمَنۡ يَّتَعَدَّ حُدُوۡدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓٮِٕكَ هُمُ

او څوک چې د الله له حدونو نه تېر شي، نو همدغه کسان

الظّٰلِمُوۡنَ ۝٢٢٩ فَاِنۡ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ

ظالمان دي(229) که بيا يې هغه (په دريم ځلې) طلاقه کړه،

مِنۢ بَعۡدُ حَتّٰى تَنۡكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهٗ ؕ

نو له دې نه پس هغه د ده لپاره حلاله نه ده تر هغه پورې چې هغه (ښځه له عدت نه پس) له ده نه

فَاِنۡ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَاۤ اَنۡ

غېر بل خاوند سره نكاح وكړي، بيا كه هغه (دويم خاوند) دا طلاقه كړه، نو په دې دواړو (ښځه او

يَّتَرَاجَعَاۤ اِنۡ ظَنَّاۤ اَنۡ يُّقِيۡمَا حُدُوۡدَ

پخواني خاوند) باندې هېڅ گناه نشته چې دواړه (له عدت نه پس په نوي نكاح سره) يو بل ته

اللّٰهِ ؕ وَتِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوۡمٍ

رجوع وكړي، كه دواړه دا خيال كوي چې دوى به د الله حكمونه پوره كړي، او دا د الله حكمونه

يَّعۡلَمُوۡنَ ﴿٢٣٠﴾ وَاِذَا طَلَّقۡتُمُ النِّسَآءَ

دي، دا د هغه قوم لپاره بيانوي چې پوهېږي (230) او كله چې تاسو ښځې طلاقې كړئ،

فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ

بيا هغوی خپلې (د عدت اخري) مودې ته نژدې شي،

بِمَعْرُوْفٍ اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۪ وَّ

نو دوی په ښې طريقې سره ايسارې کړئ (په رجوع کولو سره)، يا هغوی په ښې طريقې سره

لَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَ

رخصت کړئ، او د ضرر رسولو لپاره هغوی مه ايساروئ چې زياتی وکړئ،

مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ

او چا چې دغه (کارونه) وکړل، نو يقينًا هغه په ځان ظلم وکړ۔

نَفْسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوْۤا اٰيٰتِ اللّٰهِ

او د الله ايتونه مسخره مه جوړوئ او پر تاسو باندې (شوي)

هُزُوًا ۫ وَّاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

د الله نعمتونه ياد کړئ او هغه چې الله پر تاسو باندې نازل کړى دى چې

وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَ

کتاب (قرآن) او حکمت (سنت) دى، هغه تاسو

الْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

ته په دې سره وعظ کوي، او له الله نه ووېرېږئ او

اعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ۲۳۱ ؑ

پوه شئ چې يقينًا الله په هر شي باندې ښه پوه دى۔(231)

ع 13 الثلثة

وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ

او کله چې تاسو ښځو ته (رجعي) طلاق ورکړئ،

اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعۡضُلُوۡهُنَّ اَنۡ يَّنۡكِحۡنَ

بيا هغوى خپلې نېټې ته ورسېږي (او عدت يې پوره شي) نو تاسو دوى مه منع كوئ (له دې نه)

اَزۡوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوۡا بَيۡنَهُمۡ

چې دوى له خپلو پخوانيو خاوندانو سره نكاح وكړي،

بِالۡمَعۡرُوۡفِ ؕ ذٰلِكَ يُوۡعَظُ بِهٖ

كله چې دوى په خپل منځ كې د دستور مطابق راضي شي،

مَنۡ كَانَ مِنۡكُمۡ يُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ

دا (حكم چې دى)، په ده سره هغه چا ته وعظ كولى شي چې په تاسو كې په الله او په ورځ د

الۡاٰخِرِ ؕ ذٰلِكُمۡ اَزۡكٰى لَكُمۡ وَاَطۡهَرُ ؕ وَ

اخرت ايمان لري، دا تاسو لپاره ډېر غوره او ډېر پاكيزه دى، او

اللّٰهُ يَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۲﴾

الله پوهېږي او تاسونه پوهېږئ – (232)

وَ الْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ

او ميندې دې خپل اولاد ته پوره دوه کاله تی ورکوي،

حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ

(دا حکم) د هغه چا لپاره دی چې د تي ورکولو

يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ وَ عَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ

موده پوره کول غواړي او د چا لپاره چې بچی دی

رِزْقُهُنَّ وَ كِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ

په هغه باندې د دغو (ښځو) نفقه ده او د دوی جامه ده په ښې طريقې سره،

لَا تُكَلَّفُ نَفۡسٌ اِلَّا وُسۡعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ

هیڅوك هم مكلف كولی نشي مگر د هغه د وَس سره سم۔، ضرر دې

وَالِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوۡلُوۡدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ

ونه رسول شي مور ته د هغې د بچي په وجه، او نه د بچي پلار ته د هغه د بچي په وجه ۔

وَعَلَى الۡوَارِثِ مِثۡلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنۡ اَرَادَا

او په وارث باندې د دې په مثل لازم دي۔، پس كه دواړه د

فِصَالًا عَنۡ تَرَاضٍ مِّنۡهُمَا وَتَشَاوُرٍ

خپل منځي رضامندۍ او مشورې سره له تي نه د پرېكولو اراده وكړي،

فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَا ؕ وَاِنۡ اَرَدۡتُّمۡ اَنۡ

نو په دې دواړه باندې هېڅ گناه نشته۔ او كه تاسو خپل اولاد ته

تَسۡتَرۡضِعُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ فَلَا جُنَاحَ

مُرضِعه (دائیه) نیول غواړئ بیا (هم) پر تاسو باندې هیڅ ګناه نشته،

عَلَيۡكُمۡ إِذَا سَلَّمۡتُم مَّآ ءَاتَيۡتُم

کله چې هغه (مال) سپارئ چې تاسو یې ورکول غواړئ، په ښې طریقې سره، او له

بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ

الله نه وویریږئ او پوه شئ چې یقینًا الله هغه څه لره

أَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٢٣٣

ښه لیدونکی دی چې تاسو یې کوئ (233)

وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنكُمۡ وَيَذَرُونَ

او هغه کسان چې په تاسو کې مړه شي او ښځې پریږدي،

اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ

هغه ښځې دې ځلور میاشتې او لس ورځې خپل

اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا ۚ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ

ځانونه په انتظار کې ساتي، بیا چې کله هغوی

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِيْٓ

خپلې نېټې ته ورسېږي (عدت پوره شي) نو پر
تاسو باندې هېڅ ګناه نشته په هغه کار کې چې

اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا

دوی یې له خپلو ځانونو په حق کې
په ښې طریقې سره کوي، او الله په هغو عملونو

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝٢٣٤ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

چې تاسو یې کوئ ښه خبردار دی(234) او پر
تاسو باندې هېڅ ګناه

فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ

نشته په هغه (خبره) کې چې په هغې سره تاسو د ښځو د غوښتنې اشاره کوئ،

أَوْ أَكْنَنتُمْ فِيٓ أَنفُسِكُمْ ۚ عَلِمَ اللَّهُ

یا په خپلو نفسونو کې (له هغو سره نکاح کول) پټ ساتئ،

أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا

الله پوه دی چې یقینًا ژر دی چې تاسو به دوی یادَوئ، او لېکن له

تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَن تَقُولُوا قَوْلًا

دوی سره په پټه وعده مه کوئ، مګر دا چې مناسبه (تعریضي) خبره وکړئ،

مَّعْرُوفًا ۚ وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ

او د نکاح تړلو عزم مه کوئ تر هغه پورې

حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ ؕ وَ اعْلَمُوْٓا

چې فرض شوی (عدت) خپلې نېټې ته ورسېږي، او پوه شئ چې ی

اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ

قينًا الله په هغه څه پوهېږي چې ستاسو په نفسونو کې دي،

فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَ اعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

نو له هغه (الله) نه وېرېږئ، او پوه شئ چې يقينًا الله ډېر بخښونکی، ډېر تحمل

ع 14

حَلِيْمٌ ۝۲۳۵ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ

کوونکی دی(235) پر تاسو باندې هېڅ

طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ

بوج (مهر) نشته که تاسو ښځو ته طلاق ورکړئ

اَوْتَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۚۖ وَّ

څو پورې چې تاسو له هغوی سره کوروالی (جماع) کړی نه وي، یا مو د هغوی لپاره څه مهر مقرر

مَتِّعُوْهُنَّ ۚ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى

کړی نه وي۔ او دوی ته څه خرڅ، سامان ورکړئ، په مالدار باندې د هغه د اندازې مطابق ورکول

الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ۚ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ ۚ

لازم دي او په غریب باندې د هغه د اندازې سره سم لازم دي، د دستور سره سم ضروري سامان

حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ۝٢٣٦ وَاِنْ

ورکول، (دا) په نېکي کوونکو باندې لازم دي( 236) اوکه تاسو

طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَ

دوی ته طلاق ورکړئ مخکې له دې نه چې تاسو له هغوی سره کوروالی وکړئ،

قَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا

په دې حال کې چې تاسو د هغوی لپاره مهر مقرر کړی وي،

فَرَضْتُمْ اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ اَوْ يَعْفُوَا

نو د هغه (مهر) نیم ورکول لازم دي چې تاسو مقرر کړی دی مگر دا چې هغوی (ښځې) يې

الَّذِیْ بِیَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ؕ وَاَنْ

معاف کړي، یا هغه کس یې معاف کړي د چا په لاس کې چې د نکاح غوټه ده (خاوند ورکړی مهر

تَعْفُوْٓا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰی ؕ وَلَا

ښځې ته پرېږدي)، او ستاسو معافي کول تقویٰ ته ډېر نژدې دي، او په خپل منځ کې

تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَیْنَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا

احسان کول مه هېروئ، يقيناً الله هغو عملونو لره چې تاسو يې کوئ،

تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۲۳۷﴾ حٰفِظُوۡا عَلَى

ښه لیدونکی دی(237) د لمونځونو ساتنه کوئ

الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الۡوُسۡطٰى وَقُوۡمُوۡا

او (خصوصًا) د ښځې منځنې لمونځ، او الله ته ودرېږئ اطاعت

لِلّٰهِ قٰنِتِيۡنَ ﴿۲۳۸﴾ فَاِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا اَوۡ

کوونکي(238) بیا که وېرېدلئ، نو (لمونځ کوئ) پیاده،

رُكۡبَانًا ۚ فَاِذَآ اَمِنۡتُمۡ فَاذۡكُرُوا اللّٰهَ

یا سواره، بیا چې کله په امن شئ، نو الله یادوئ خنګه

كَمَا عَلَّمَكُمۡ مَّا لَمۡ تَكُوۡنُوۡا

چې یې تاسو ته هغه څه ښودلي دي چې تاسو (پرې)

تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٩﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ

نه پوهېدئ(239) او هغه کسان چې په تاسو کې

وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ۚۖ وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ

مري او ښځې پرېږدي (نو په دوی باندې لازم دي) وصيت کول

مَّتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ۚ فَاِنْ

د خپلو ښځو لپاره تر يو کاله پورې د خرچ ورکولو، بې له وېستلو نه،

خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْ

نو که دوی (پخپله) ووتلې، نو پر تاسو باندې هېڅ گناه نشته په هغه

مَا فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ ؕ

څه کې چې دوی (ښځې) يې د خپلو ځانونو په باره کې کوي څه نېك کار،

وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۴۰﴾ وَلِلْمُطَلَّقٰتِ

او الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی(240) او د طلاقي کړې شويو ښځو

مَتَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ حَقًّا عَلَى

لپاره، له عرف سره سم، سامان ورکول دي، په متقيانو باندې (دا)

الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۴۱﴾ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ

لازم دي(241) همدارنګه الله تاسو لپاره خپل ايتونه بيانوي،

ع 15

اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۴۲﴾ ۧ اَلَمْ تَرَ اِلَى

د دې لپاره چې تاسو پوه شئ(242) ايا تا هغه

الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ

کسان نه دي ليدلي چې د مرګ له وېرې له خپلو کورونو نه وتلي وو،

أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ ۖ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ

په دې حال کې چې هغوی زرګونه وو، پس الله دوی ته وویل:

مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَذُو

مړه شئ، بیا یې هغوی راژوندي کړل، یقینًا الله خامخا په

فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ

خلقو باندې فضل کولو والا دی او لیکن اکثره

النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾ وَقَاتِلُوا فِي

خلق شکر نه وباسي(243) او د الله په لاره کې

سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ

جنګیږئ، او پوه شئ چې یقینًا الله ښه اوریدونکی، ښه

عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ

عالم دی(244) څوك دی هغه كس چې الله ته
قرض وركوي،

قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا

قرضِ حسنه، نو هغه (الله) به د هغه لپاره دا
(قرض) زيات كړي په

كَثِيْرَةً ۭ وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۠ وَ

ډېرو زياتولو سره، او الله تنگي راولي او (هغه)
فراخي راولي، او تاسو به خاص هغه ته بېرته

اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٢٤٥﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ

ورگرځول كېږئ(245) ايا تا د بني اسرائيلو

مِنْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنْ بَعْدِ

سردارانو ته نه دي كتلي، له موسٰی نه بعد،

وقف لازم

مُوْسٰى ۘ اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا

کله چې هغوی خپل نبي ته وویل:
زمونږ لپاره یو بادشاه مقرر کړه چې مونږ د الله په

مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ قَالَ هَلْ

لاره کې جنګ وکړو۔، هغه نبي وویل: ایا تاسو
نژدې یې که پر تاسو باندې جنګ کول فرض کړی

عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ

شي دا چې جنګ به ونه کړئ؟ هغوی وویل: او

اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا وَمَا لَنَآ اَلَّا نُقَاتِلَ

مونږ لره څه (موانع) دي چې د الله په لاره کې به
جنګ نه کوو،

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ

حال دا چې مونږ له خپلو کورونو او خپلو زامنو
نه ویستل شوي یو،

دِيَارِنَا وَ اَبۡنَآىِٕنَا ؕ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ

بیا چې کله پر هغوی باندې جنګ کول فرض کړی شول، نو هغوی (له خپلې خبرې نه)

الۡقِتَالُ تَوَلَّوۡا اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡهُمۡ ؕ وَ

وګرځېدل، مګر له هغوی څخه ډېر لږ (خلق ونه ګرځېدل) او

اللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ بِالظّٰلِمِيۡنَ ﴿۲۴۶﴾ وَ قَالَ لَهُمۡ

الله په ظالمانو باندې ښه پوه دی(246) او دوی ته خپل

نَبِيُّهُمۡ اِنَّ اللّٰهَ قَدۡ بَعَثَ لَكُمۡ طَالُوۡتَ

نبي وویل: بېشکه الله تاسو لپاره یقینًا طالوت

مَلِكًا ؕ قَالُوۡۤا اَنّٰى يَكُوۡنُ لَهُ الۡمُلۡكُ

بادشاه مقرر کړی دی، هغوی وویل: د هغه لپاره په مونږ باندې بادشاهي

عَلَيۡنَا وَ نَحۡنُ اَحَقُّ بِالۡمُلۡكِ مِنۡهُ وَ

خنگه کېدی شي، حال دا چې مونږ له هغه نه د بادشاهۍ زيات حقدار يو، او

لَمۡ يُؤۡتَ سَعَةً مِّنَ الۡمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ

هغه ته د مال فراخي (هم) نه ده ورکړی شوې، ـ هغه (نبي) ووېل: يقينًا

اللّٰهَ اصۡطَفٰىهُ عَلَيۡكُمۡ وَ زَادَهٗ بَسۡطَةً

الله هغه پر تاسو باندې غوره کړی دی، او هغه

فِى الۡعِلۡمِ وَ الۡجِسۡمِ ؕ وَ اللّٰهُ يُؤۡتِىۡ

ته يې په جسم او علم کې زياته فراخي ورکړې ده، او الله خپله

مُلۡكَهٗ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ وَاسِعٌ

بادشاهي ورکوي چا ته چې يې وغواړي، او الله فراخه فضل والا،

عَلِيْمٌ ﴿٢٤٧﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ

ښه عالم دی(247) او دوی ته خپل نبي وویل:
بېشکه د ده د

مُلْكِهٖٓ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ

باشاهۍ نښه دا ده چې تاسو ته به صندوق راشي
چې په هغه کې

سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ

ستاسو د رب له جانبه سکینت (د زړه ارام) دی او
باقي پاتې شونې له هغو (څیزونو) نه

اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ

چې الِ موسیٰ او الِ هارون پرېښې وو، چې

الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ

ملایکو به راپورته کړې وي، یقینًا په دې کې تاسو
لپاره خامخا

ع 16

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٤٨﴾ فَلَمَّا فَصَلَ

لويه نښه ده که تاسو ایمان لرونکي يئ(248) نو کله چې

طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ

طالوت سره د لښکرو راووت، ويې ويل: يقينًا الله په يوې ولې

مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ

سره ستاسو ازمايش کوونکى دى، نو څوک چې له هغې نه اوبه وڅښي،

فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ

نو هغه زما له ملګرو نه نه دى، او څوک چې هغه ونه څکي، نو بېشکه

مِنِّيْٓ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهٖ ۚ

هغه زما له ملګرو څخه دى مګر هغه څوک چې په خپل لاس

فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ فَلَمَّا

سره يو چونگ (اوبه) راواخلي، نو هغوی له هغې (ولې) نه اوبه وڅښلې مگر

جَاوَزَهٗ هُوَ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۙ قَالُوْا

له دوی نه ډېرو لږو (خلقو ونه وڅښلې) نو کله چې دی (طالوت) او هغه کسان چې له ده سره يې

لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَ

ايمان راوړی و له هغې نه پورې وتل، (مخالفت کوونکو وويل:) نن ورځ زمونږ لپاره د جالوت او

جُنُوْدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ

د هغه د لښکرو په مقابله کې هېڅ طاقت نشته، او وويل هغو کسانو چې يقين يې لاره چې بېشکه

مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ

دوی له الله سره ملاقات کوونکي دي: څومره ډېر څلي ډېره لږه ډله په ډېرې

غَلَبَتۡ فِئَةً كَثِيۡرَةًۢ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ

لويې ډلې باندې د الله په حکم سره غالبه شوې ده، اوالله د صبر کوونکو

مَعَ الصّٰبِرِيۡنَ ﴿۲۴۹﴾ وَلَمَّا بَرَزُوۡا لِجَالُوۡتَ

ملګرى دى(249) او کله چې هغوى د جالوت

وَجُنُوۡدِهٖ قَالُوۡا رَبَّنَاۤ اَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا

او د هغه د لښکرو (د مقابلې) لپاره (ميدان ته) راووتل، ويې ويل: اى زمونږه ربه! راخوشې کړه

صَبۡرًا وَّثَبِّتۡ اَقۡدَامَنَا وَانۡصُرۡنَا عَلَى

پر مونږ باندې صبر، او زمونږ قدمونه ټينګ (کلک) کړه، او د کافر قوم په مقابله کې

الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۲۵۰﴾ؕ فَهَزَمُوۡهُمۡ بِاِذۡنِ

زمونږ مدد وکړه(250) نو دوى هغو ته د الله په حکم سره

اللّٰهِ ۣقف وَ قَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَ اٰتٰىهُ

ماتي ورکړه، او داود جالوت لره قتل کړو، او

اللّٰهُ الْمُلْكَ وَ الْحِكْمَةَ وَ عَلَّمَهٗ مِمَّا

الله هغه (داود) ته بادشاهي او حکمت ورکړ، او
هغه ته يې له هغو (خيزونو) نه ښودنه وکړه چې

يَشَآءُ ؕ وَ لَوْ لَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ

(الله) غوښتل او كه د الله لرې كول نه وی خلقو
لره، د

بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَ

دوی ځينو لره په ځينو نورو سره (نو) ځمکه به
خامخا ورانه شوې وی۔ او ليکن

لٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۵۱﴾

الله په عالَمونو باندې دلوی فضل كولو والا دی(
251)

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ

دا د الله ایتونه دي، مونږ دا په تا باندې

بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۵۲﴾

په حقه سره لولو او يقينًا ته خامخا له رسولانو
څخه يې(252)

تِلۡكَ الرُّسُلُ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلٰى

دا رسولان (دي)، مونږه د دوی ځيني په ځينو
نورو باندې

بَعۡضٍ ۘ مِنۡهُمۡ مَّنۡ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ

غوره کړي دي، له دوی نه ځينې هغه دي چې الله
ورسره خبرې کړې دي،

بَعۡضَهُمۡ دَرَجٰتٍ ؕ وَاٰتَيۡنَا عِيۡسَى ابۡنَ

او د دوی د بعضو يې درجې اوچتې کړي دي، او
مونږه د مريمې زوی عيسٰی

مَرۡيَمَ الۡبَيِّنٰتِ وَاَيَّدۡنٰهُ بِرُوۡحِ

ته ښکاره معجزې ورکړې دي، اومونږ هغه په روح

الۡقُدُسِ ؕ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقۡتَتَلَ

القدس (پاك روح) سره قوي کړی دی، اوکه الله
غوښتلی، (نو)

وقف لازم

الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا

هغه كسان به په خپلو كې نه وو جنګېدلي، چې له دغو (رسولانو) نه پس وو،

جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا

له دې نه وروسته چې دوى ته ښکاره نښې راغلې، او لېکن دوى اختلاف وکړ،

فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ

نو په دوى كې ځينې هغه دي؛ چې ايمان يې راوړ، او ځينې په دوى كې هغه دي؛ چې كافر شول،

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۥ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

او كه الله غوښتلى، (نو) دوى به په خپلو كې نه ووجنګيدلي، او لېكن الله

ع 1

يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۲۵۳﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

كوي هغه څه چې اراده يې وكړي(253) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى!

اَنۡفِقُوۡا مِمَّا رَزَقۡنٰكُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ

له هغه (مال) نه څه حصه خرچ کوئ چې مونږ تاسو ته درکړی دی،

يَّاۡتِىَ يَوۡمٌ لَّا بَيۡعٌ فِيۡهِ وَلَا خُلَّةٌ

مخکې له دې چې هغه ورځ راشي چې نه په هغې کې اخيستل خرڅول شته،

وَّلَا شَفَاعَةٌ ‌ؕ وَالۡكٰفِرُوۡنَ هُمُ

او نه څه دوستانه، او نه څه سفارش، او همدا کافران

الظّٰلِمُوۡنَ ﴿۲۵۴﴾ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلۡحَىُّ

ظالمان دي(254) الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مگر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د

الۡقَيُّوۡمُ ۚ لَا تَاۡخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوۡمٌ ‌ؕ

ټول عالم انتظام کوونکی دی، په ده نه پرکالي راځي، او نه خوب،

لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الْاَرْضِ ؕ

خاص هم ده لره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي، او هغه څه چې په ځمکه کې دي،

مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا

څوک دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي مګر د ده په

بِاِذْنِهٖ ؕ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَ مَا

اجازت سره؟ هغه پوهېږي په هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او په هر هغه څه چې د دوی

خَلْفَهُمْ ۚ وَ لَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ

وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هېڅ شی هم نشي راګېرولی،

عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِیُّهُ

مګر هغه څه چې هغه (الله) یې وغواړي.، د هغه کرسی

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ ۚ وَلَا يَـُٔوۡدُهٗ

اسمانونه او ځمکه راځای کړي (راګېر) کړي دي او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي،

حِفۡظُهُمَا ۚ وَهُوَ الۡعَلِىُّ الۡعَظِيۡمُ ﴿۲۵۵﴾

او هم هغه ډېر اوچت دی، ډېر لوی دی(255)

لَاۤ اِكۡرَاهَ فِى الدِّيۡنِ ۙۚ قَدْ تَّبَيَّنَ

په دين (منلو) کې هېڅ جبر نشته، يقيناً حقه لار

الرُّشۡدُ مِنَ الۡغَىِّ ۚ فَمَنۡ يَّكۡفُرۡ

له ګمراهۍ نه ښه څرګنده (بېله) شوې ده، نو چا

بِالطَّاغُوۡتِ وَيُؤۡمِنۡۢ بِاللّٰهِ فَقَدِ

چې له طاغوت (شيطان، بت) نه انکار وکړ او په الله يې

اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى لَا

ايمان راوړ، نو يقينًا ده ډېره مضبوطه کړۍ ټينګه ونيوله،

انْفِصَامَ لَهَا ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ

چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته، او الله ښه اورېدونکی،

عَلِيْمٌ ﴿۲۵۶﴾ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۙ

ښه پوه دی(256) او الله د هغو کسانو دوست دی چې ايمان يې راوړی دی،

يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَ

هغه دوی لره له تيارو نه رڼا ته راوباسي، او

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ

هغه کسان چې کفر يې کړی دی؛ د هغوی

يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ط

دوستان شیطانان دي، دغه (شیطانان) دوی لره د رڼا نه تیارو ته وباسي،

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ج هُمْ فِيْهَا

دغه کسان د اور ملګري دي، دوی به په هغه کې

ع 2

خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥٧﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ

همېشه وي(257) ایا تا هغه کس نه دی لیدلی (د هغه په قصه نه یې خبر شوی)

وقف لازم

اِبْرٰهٖمَ فِيْ رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ م

چې له ابراهیم سره یې د ده د رب په باره کې جګړه وکړه، ځکه چې الله هغه ته بادشاهي ورکړې

اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَ

وه؟ کله چې ابراهیم وویل: زما رب هغه دی چې ژوندي کول او

يُمِيۡتُ ۙ قَالَ اَنَا اُحۡیٖ وَ اُمِيۡتُ ؕ قَالَ

مړه کول کوي، هغه وويل: زه ژوندي کول او مړه کول کوم،

اِبۡرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاۡتِىۡ بِالشَّمۡسِ مِنَ

ابراهيم وويل: پس يقينًا الله لمر له مشرق نه راخېژوي،

الۡمَشۡرِقِ فَاۡتِ بِهَا مِنَ الۡمَغۡرِبِ

نو ته هغه له مغرب نه راوخېژوه، نو هغه کس چې کفر يې کړی و؛

فَبُهِتَ الَّذِىۡ كَفَرَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى

حيرانه، ملامته شو، او الله داسې ظالم قوم ته سمه

الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ۚ‏ ﴿۲۵۸﴾ اَوۡ كَالَّذِىۡ مَرَّ عَلٰى

لار نه ښيي(258) يا د هغه کس په شان،

قَرْيَةٍ وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا ۚ

چې په يو کلي باندې تېر شو، او هغه (کلی) په خپلو چتونو باندې راپرېوتی و،

قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ

هغه ووېل: الله به دا (د کلي خلق د دوی) له مرګ نه پس څنګه ژوندي کوي؟

فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ

نو الله هغه تر سلو کالو پورې مړ وساته، بیا یې هغه راژوندی کړ

قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ؕ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ

، (الله) ووېل: څومره موده (داسې) پاتې شوی يې؟ هغه ووېل: زه يوه ورځ، یا د ورځې څه حصه

بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ

(داسې) پاتې شوی یم. هغه (الله) ووېل: بلکې ته سل کاله (داسې مړ) پاتې شوی يې،

فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ وَ شَرَابِكَ

نو ته خپل خوراك او څښاك ته وګوره،

لَمْ يَتَسَنَّهْ ج وَ انْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ وَ

چې خراب شوى نه دى۔ او خپل خر ته وګوره، او

لِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَ انْظُرْ اِلَى

د دې لپاره چې مونږ تا د خلقو لپاره نښه وګرځوو،

الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا

او هډوكو ته وګوره، مونږ هغو ته څنګه حركت ورکوو، په پورته كولوسره،

لَحْمًا ط فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ لا قَالَ اَعْلَمُ اَنَّ

بيا هغو ته غوښه وراغوندو۔، نوكله چې ده ته (دا حال) ښه څرګند شو، ويې ويل: زه پوهېږم چې

اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٥٩﴾ وَاِذْ قَالَ

يقينًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی(259) او کله چې

اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ

ابراهيم وويل: ای زما ربه! په ما باندې ووينه چې ته مړي څنګه ژوندي کوې؟

قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ؕ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ

ویې ويل: ايا ته يقين نه لرې؟ هغه وويل: ولې نه! او لېکن د دې لپاره چې

لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ ؕ قَالَ فَخُذْ اَرْبَعَةً مِّنَ

زما زړه مطمئن شيـ، (الله) وويل: نو له مرغانو نه

الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى

څلور راونيسه، نو هغه خپلې خوا ته (له بلَدولو نه پس) ټکړې کړه،

د سورتونو فهرست د سپارو فهرست

كُلِّ جَبَلٍ مِّنۡهُنَّ جُزۡءًا ثُمَّ ادۡعُهُنَّ

بيا له هغو څخه يوه يوه حصه په هر غره باندې كېږده، بيا هغوى راوبله، (نو) دغه

يَأۡتِيۡنَكَ سَعۡيًا ؕ وَاعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ

به تا ته په منډو راځي، او پوه شه چې يقينًا الله

ډېر غالب، ښه

ع 3

عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ﴿٢٦٠﴾ مَثَلُ الَّذِيۡنَ

حكمت والا دى(260) د هغو كسانو مثال

يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ

چې د الله په لار كې خپل مالونه لګوي

كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنۡۢبَتَتۡ سَبۡعَ سَنَابِلَ فِىۡ

د هغه دانې په شان دى چې اوه وږي زرغون

كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَ اللّٰهُ

كړي، په هر وږي کې سل دانې دي،

يُضٰعِفُ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ وَاسِعٌ

او الله (اجر) زياتوي چا لپاره چې وغواړي، او الله ډېر فراخۍ والا،

عَلِيۡمٌ ۝٢٦١ اَلَّذِيۡنَ يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ

ښه پوه دی(261) هغه کسان چې خپل مالونه د الله په لاره کې لګوي،

فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتۡبِعُوۡنَ مَآ

بیا دوی په خپل انفاق (خیرات) پسې احسان بارول نه کوي

اَنۡفَقُوۡا مَنًّا وَّلَاۤ اَذًى ۙ لَّهُمۡ اَجۡرُهُمۡ

او نه ازار رسوي، خاص د دوی لپاره د خپل رب په نیز د دوی اجر دی،

عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ۚ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا

او نه به په دوی باندې څه وېره وي اونه به دوی

هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ۝٢٦٢ قَوۡلٌ مَّعۡرُوۡفٌ وَّ

غمژن کېږي(262) ښه خبره کول، او بخښنه کول،

مَغۡفِرَةٌ خَيۡرٌ مِّنۡ صَدَقَةٍ يَّتۡبَعُهَآ

ډېر غوره دي له هغه خيرات نه چې په هغه پسې تکليف (تنګول) راځي،

اَذًى ؕ وَاللّٰهُ غَنِىٌّ حَلِيۡمٌ ۝٢٦٣

او الله ډېر بې پروا، ډېر تحمل والا دی(263)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تُبۡطِلُوۡا

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! خپل خيراتونه

صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِیْ

په احسان بارولو (زباتولو) او ضرر رسولو سره مه
بربادوئ،

یُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا یُؤْمِنُ

د هغه کس په شان چې خلقو ته د ځان ښودنې
لپاره خپل مال خرچ کوي،

بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ

او په الله او د اخرت په ورځ ایمان نه لري، نو د ده
مثال د هغه ښویې

صَفْوَانٍ عَلَیْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ

ګټې په شان دی؛ چې په هغې باندې څه لږه
خاوره وي،

فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ؕ لَا یَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَیْءٍ

بیا په هغې (ګټې) زوروَر باران ووربږي، نو هغه
(ګټه) صفا پربږدي۔، دوی به له هغو عملونو نه

مِمَّا كَسَبُوْا ؕ وَ اللّٰهُ لَا يَهْدِی الْقَوْمَ

چې کړي يې دي، په هېڅ شي (ثواب) باندې قادره نشي، او الله داسې کافر قوم ته نېغه

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶۴﴾ وَ مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ

لار نه ښيي(264) او د هغو کسانو مثال چې خپل

اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ

مالونه د الله د رضا غوښتلو لپاره

وَ تَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ

او د خپلو نفسونو د کلکوالي لپاره لګوي، د هغه باغ په شان دی؛

بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا

چې په نرمه خَرِبَه ځمکه باندې وي؛ چې په هغه زورور باران ووريږي،

ضِعۡفَيۡنِ ۚ فَاِنۡ لَّمۡ يُصِبۡهَا وَابِلٌ

نو دغه (باغ) خپلې مېوې دوه چنده وکړي، نو كه
په هغه زورور باران ونه ورېږي، نو (هغه ته) نرى

فَطَلٌّ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۲۶۵﴾

باران (هم كافي دى) او الله هغو (كارونو) لره ښه
ليدونكى دى، چې تاسو يې كوئ(265)

اَيَوَدُّ اَحَدُكُمۡ اَنۡ تَكُوۡنَ لَهٗ جَنَّةٌ

ايا په تاسو كې يو كس دا خوښوي چې د ده دي

مِّنۡ نَّخِيۡلٍ وَّ اَعۡنَابٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ

د كجورو، او انگورو داسې باغ وي چې د هغه له

تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ ۙ لَهٗ فِيۡهَا مِنۡ كُلِّ

لاندې وَلې بهېږي او د ده لپاره په هغه (باغ) كې

الثَّمَرٰتِ ۙ وَ اَصَابَهُ الْكِبَرُ وَ لَهٗ ذُرِّيَّةٌ

هر قسمه مېوې وي، په دې حال کې چې ده ته
بُوډاوالی (زوړوالی) راشي او د

ضُعَفَآءُ ۚۖ فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ

ده کمزوري (واړه) بچي وي، پس په دغه (باغ)
داسې سخت باد راوالوزي چې په هغه کې اور

فَاحْتَرَقَتْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ

وي، نو دا (باغ) بېخي وسوځي، همدارنګه الله
تاسو لپاره

ع
4

لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۧ ﴿۲۶۶﴾

ایتونه (نښې) بیانوي؛ د دې لپاره چې تاسو ښه
فکر وکړئ(266)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! له هغو
پاکو (مالونو) نه انفاق کوئ

طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَ مِمَّآ اَخْرَجْنَا

چې تاسو گټلي دي او له هغو (مالونو) نه چې مونږه تاسو لپاره له ځمکې نه را اېستلي دي،

لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۪ وَلَا تَيَمَّمُوا

او له هغه (مال) څخه چې تاسو يې خيرات کوئ،

الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ

د بې کاره څيز اراده مه کوئ، حال دا چې تاسو (پخپله) د هغه اخيستونکي نه يئ

بِاٰخِذِيْهِ اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ؕ وَ

مگر دا چې د ده په باره کې تاسو سترگې پټې کړئ، او پوه شئ چې يقينًا

اعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿٢٦٧﴾

الله ډېر بې پروا، ډېر ستايل شوى دى(267)

اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ

شيطان تاسو له غريبۍ څخه وېروي او تاسو ته د

بِالْفَحْشَآءِ ۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً

بې حيايۍ حکم کوي او الله تاسو سره له خپل جانب نه د مغفرت او

مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝٢٦٨

فضل وعده کوي او الله فراخه فضل والا، ښه پوه دی(268)

يُّؤْتِى الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّؤْتَ

چا ته چې وغواړي حکمت (د دين پوهه)ورکوي، او چا ته چې

الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِىَ خَيْرًا كَثِيْرًا ۗ وَمَا

حکمت ورکړی شو، نو يقينًا هغه ته ډېر لوی خير ورکړی شو، او

يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾

نصيحت نه اخلي مگر د خالص عقل خاوندان(
269)

وَ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ

او تاسو چې څه خرچ هم ولګوئ، یا څه نذر هم
(په ځان) لازم کړئ؛

مِّنْ نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ ؕ وَ مَا

نو يقينًا الله په هغو پوهېږي او د ظالمانو لپاره هیڅ

لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ اِنْ تُبْدُوا

مدد کوونکي نشته(270) که تاسو خیراتونه

الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۚ وَاِنْ تُخْفُوْهَا

په ښکاره وکړئ، نو دا يو ښه کار دی او که تاسو
دا په پټه وکړئ

وَ تُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَ

او فقيرانو ته يې ورکړئ، نو دا ستاسو لپاره ډېر
غوره دي او

يُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ

هغه (الله) به له تاسو نه ستاسو ځینې ګناهونه
لرې کړي، او الله په هغو (کارونو) چې تاسو يې

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۲۷۱﴾ لَيْسَ عَلَيْكَ

کوئ؛ ښه خبردار دی(271) سمې لارې ته د

هُدٰىهُمْ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِىْ مَنْ

دوی راړول ستا په ذمه نه دي او لېکن الله سمې
لارې ته راړوي

يَّشَآءُ ؕ وَ مَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ

چا ته چې وغواړي، او هغه څه چې تاسو يې له
مال څخه خرچ کوئ؛

فَلِاَنۡفُسِكُمۡ‌ؕ وَمَا تُنۡفِقُوۡنَ اِلَّا

نو ستاسو ځانونو لپاره (يې فايدې) دي او تاسو يواځې

ابۡتِغَآءَ وَجۡهِ اللّٰهِ‌ؕ وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ

د الله د مخ لَټوَنې (رضا) د پاره انفاق کوئ، او هغه څه چې تاسو يې له مال

خَيۡرٍ يُّوَفَّ اِلَيۡكُمۡ وَاَنۡتُمۡ لَا

څخه لګوئ (انفاق کوئ، نو) هغه به تاسو ته پوره پوره درکړی شي، په داسې حال کې چې په تاسو

تُظۡلَمُوۡنَ ۝۲۷۲ لِلۡفُقَرَآءِ الَّذِيۡنَ

به ظلم نه کېږي(272) (خيراتونه) د هغو فقيرو کسانولپاره دي

اُحۡصِرُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ لَا

چې د الله په لاره کې ايسار کړی شوي دي، په

يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ ضَرۡبًا فِى الۡاَرۡضِ

ځمکه کې د سفر کولو وَس نه لري، د ښه عفت (له سوال نه د ځان ساتلو)

يَحۡسَبُهُمُ الۡجَاهِلُ اَغۡنِيَآءَ مِنَ

په وجه ناخبره کس په دوی د غنيانو ګمان کوي،

التَّعَفُّفِ‌ۚ تَعۡرِفُهُمۡ بِسِيۡمٰهُمۡ‌ۚ لَا

ته به دوی په خپلو علامو (سره) پېژنې، دوی له

يَسۡـئَلُوۡنَ النَّاسَ اِلۡحَافًا‌ؕ وَمَا

خلقو څخه په سختۍ سره (بې ضرورته) سوال نه کوي او هغه

تُنۡفِقُوۡا مِنۡ خَيۡرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ

چې تاسو يې له مال څخه لګوئ، نو يقينًا الله په هغه باندې ښه

ع 5

الربع

عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ

عالم دی(273) هغه کسان چې خپل مالونه (د الله لپاره) لګوي

بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً فَلَهُمْ

په شپه کې او په ورځ کې، په پټه او په ښکاره، نو د

اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ

دوی لپاره د خپل رب په نیز د دوی اجر دی، او نه به په دوی باندې څه

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٧٤﴾ اَلَّذِيْنَ

وېره وي او نه به دوی غمژن کېږي(274) هغه کسان چې

يَأْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا

سود خوري؛ دوی به (له قبرونو نه) نه پاڅېږي مګر په شان د پاڅېدلو

يَقُوْمُ الَّذِىْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ

د هغه کس چې شیطان هغه په لېونتوب سره بدحواسه کړی وي،

الْمَسِّ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْٓا اِنَّمَا الْبَيْعُ

دا ځکه چې یقینًا دوی ویلي دي چې بېشکه بیع خو

مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَ اَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَ

د سود په شان ده، حال دا چې الله اخیستل خرخول (بیع) حلال کړي دي او

وقف لازم

حَرَّمَ الرِّبٰوا ؕ فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ

سود یې حرام کړی دی.، پس چا ته چې د خپل رب له جانبه نصیحت راغی، نو دی (فوراً)

مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَ ؕ وَ

منع شو، نو د ده لپاره هغه څه (معاف) دي چې مخکې تېر شوي دي او د ده معامله الله ته حواله

اَمۡرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ وَمَنۡ عَادَ فَاُولٰٓٮِٕكَ

ده، او کوم کس چې (سود ته) بېرته راوګرځي، نو دغه

اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۷۵﴾

کسان د اور والا دي، دوی به په هغه کې همېشه وي(275)

يَمۡحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرۡبِى الصَّدَقٰتِ ؕ

الله سود محوه کوي او خېراتونه (صدقې) زیاتوي،

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيۡمٍ ﴿۲۷۶﴾ اِنَّ

او الله هېڅ یو سخت ناشکره، سخت ګناهګار نه خوښوي(276) بېشکه

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ

هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي،

د سورتونو فهرست د سپارو فهرست

اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ

او لمونځ يې قايم کړی دی او زکات يې ورکړی دی،

اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ

د دوی لپاره د خپل رب په نيز د دوی اجر دی، او نه به په دوی باندې

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٧٧﴾ يٰٓاَيُّهَا

څه ويره وي او نه به دوی غمژن کيږي(277) ای هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا

کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له الله نه ووېرېږئ

بَقِيَ مِنَ الرِّبٰٓوا اِنْ كُنْتُمْ

او هغه باقي پاتې سود پرېږدئ؛ که تاسو

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٧٨﴾ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَأْذَنُوْا

مومنان يئ(278) نو كه تاسو (داسې) ونه كړل،

بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ج وَاِنْ

نو تاسو د الله او د هغه د رسول له جانبه په
جنګ کولو خبر شئ،

تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ ج لَا

او كه چېرې تاسو توبه وباسئ، نو ستاسو رأس
المال (اصل مال) ستاسو لپاره دی، مه تاسو ظلم

تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٢٧٩﴾ وَاِنْ كَانَ ذُوْ

کوئ او نه به په تاسو ظلم کېږي(279) او كه هغه
(قرض داری) تنګ لاسی وي،

عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ ط وَاَنْ

نو تر اسانۍ پورې مهلت ورکول دي، او خيراتي

تَصَدَّقُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

پرېښودل یې تاسو لپاره ډېر غوره دي؛ که تاسو

تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸۰﴾ وَ اتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ

پوهېږئ(280) او تاسو له هغې ورځې نه ووېرېږئ

فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ ۫ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا

چې په هغې کې به تاسو الله ته بېرته ورګرځول
کېږئ، بیا به هر نفس ته پوره پوره ورکړې شي

ع 6

كَسَبَتْ وَ هُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۸۱﴾

بدل د هغه عمل چې ده کړی دی، او په دوی به
ظلم ونه کړې شي(281)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې
تاسو یوله بله سره

بِدَيۡنٍ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكۡتُبُوۡهُ ؕ وَ

تر ټاکلې نېټې پورې په قرضو معامله کوئ، نو

لۡيَكۡتُبْ بَّيۡنَكُمۡ كَاتِبٌۢ بِالۡعَدۡلِ ۖ وَلَا

هغه وليکئ۔ او ستاسو په مينځ کې دې ليکونکی په انصاف سره ليکل وکړي،

يَاۡبَ كَاتِبٌ اَنۡ يَّكۡتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ

او ليکونکی دې له ليکلو نه انکار نه کوي؛ لکه څنګه چې الله ده ته ښودنه کړې ده،

فَلۡيَكۡتُبۡ ۚ وَلۡيُمۡلِلِ الَّذِىۡ عَلَيۡهِ

نو هغه دې ليکل وکړي، او هغه کس دې اِملاء (اقراري عبارت) ووايي؛

الۡحَـقُّ وَلۡيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبۡخَسۡ

په چا باندې چې حق دی، او له خپل پالونکي الله نه دې وويرېږي،

مِنۡهُ شَيۡـًٔاؕ فَاِنۡ كَانَ الَّذِىۡ عَلَيۡهِ

او له هغه (حق) نه دې هېڅ شی نه کمَوي، بیا که چېرې هغه کس، په چا

الۡحَقُّ سَفِيۡهًا اَوۡ ضَعِيۡفًا اَوۡ لَا

باندې چې حق دی؛ ناپوه وي، یا (بدني) کمزوری وي، یا پخپله

يَسۡتَطِيۡعُ اَنۡ يُّمِلَّ هُوَ فَلۡيُمۡلِلۡ وَلِيُّهٗ

د اِملاء (عبارت) ویلو طاقت نه لري، نو د هغه وَلي (واکدار) دې په

بِالۡعَدۡلِؕ وَاسۡتَشۡهِدُوۡا شَهِيۡدَيۡنِ

انصاف سره املاء ووايي۔ او تاسو له خپلو (مسلمانانو) سړیو نه دوه ګواهان ګواه ونیسئ۔،

مِنۡ رِّجَالِكُمۡ‌ۚ فَاِنۡ لَّمۡ يَكُوۡنَا

نو که دوه سړي ګواهان نه وي، نو یو سړی او

رَجُلَيۡنِ فَرَجُلٌ وَّ امۡرَاَتٰنِ مِمَّنۡ

دوه ښځې (دې ګواه شي) له هغو ګواهانو څخه

تَرۡضَوۡنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ اَنۡ تَضِلَّ

چې تاسو يې خوښوئ، د دې لپاره چې که په دواړو کې له

اِحۡدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحۡدٰىهُمَا

يوې نه هېر شي؛ نو په دوی کې يوه به يې

الۡاُخۡرٰى ؕ وَلَا يَاۡبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا

بلې ته وریاد کړي او ګواهان دې انکار نه کوي؛

دُعُوۡا ؕ وَلَا تَسۡـَٔمُوۡۤا اَنۡ تَكۡتُبُوۡهُ

چې کله هم راوبلل شي او د خپلې نېټې پورې (د هغه قرض) په ليکلو باندې

صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰٓى اَجَلِهٖ ؕ ذٰلِكُمْ

مه تنګيږئ؛ لږ وي، يا که ډېر وي، دا

اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَ اَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَ

د الله په نيز ښه انصاف (والاکار) دی او ګواهۍ لره ښه درست

اَدْنٰٓى اَلَّا تَرْتَابُوْٓا اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً

ساتونکی دی او ډېر قريب دی دې ته چې تاسو به شکمن نشئ۔ مګر دا چې دا

حَاضِرَةً تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ

(معامله) لاس په لاس سودا وي چې تاسو هغه په خپل مينځ کې نغده اخلئ راخلئ، نو پر تاسو

عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَلَّا تَكْتُبُوْهَا ؕ وَ

باندې څه ګناه نشته چې دا (شان معامله) و

اَشۡهِدُوۡۤا اِذَا تَبَايَعۡتُمۡ ۖ وَلَا يُضَآرَّ

نه ليکئ. او کله چې په خپل مينځ کې اخيستل

كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيۡدٌ ۚ وَاِنۡ تَفۡعَلُوۡا فَاِنَّهٗ

خرخول کوئ (نو) گواهان ونيسئ. او ضرر دې
ونه رسول شي ليکونکي ته او

فُسُوۡقٌ بِكُمۡ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَ

نه گواه ته او که تاسو (داسې) وکړئ، نو يقيناً دا
نافرماني (گناه) ده چې په تاسو پورې (نښتې) ده.

يُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَىۡءٍ

او له الله نه وويرېږئ، او الله تاسو ته ښودنه
کوي، او الله په هر شي باندې ښه

عَلِيۡمٌ ۝٢٨٢ وَاِنۡ كُنۡتُمۡ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمۡ

پوه دی(282) او که چېرې تاسو په سفر باندې
يئ او کوم

تَجِدُوۡا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقۡبُوۡضَةٌ ؕ

ليکونکی مو ونه مونده، نو (جايز ده چې) قبض کړی شوې ګروي

فَاِنۡ اَمِنَ بَعۡضُكُمۡ بَعۡضًا فَلۡيُؤَدِّ

(رهن) واخلئ، نو که ستاسو بعضو په بعضو نورو باندې اعتبار وکړ (اوګروي يې وانه خستله) بيا نو

الَّذِى اؤۡتُمِنَ اَمَانَتَهٗ وَلۡيَتَّقِ اللّٰهَ

لازم ده چې امين ګڼلی شوی کس دی د هغه (بائع) امانت (حق) ادا کړي، او له خپل پالونکي

رَبَّهٗ ؕ وَلَا تَكۡتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ وَمَنۡ

الله نه دې ووېرېږي، او ګواهي مه پټوئ، او چا چې دا

يَّكۡتُمۡهَا فَاِنَّهٗۤ اٰثِمٌ قَلۡبُهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

پټه کړه، نو يقينًا د هغه زړه ګناهګار دی، او الله په هغو (کارونو)

ع
7

تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿٢٨٣﴾ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

چې تاسو يې کوئ؛ ښه پوه دی(283) خاص د الله لپاره دي؛ څه چې په اسمانونو

وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ

کې دي او څه چې په ځمکه کې دي او که تاسو هغه څه چې ستاسو

اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ

په زړونو کې دي، څرګندوئ، يا هغه پټوئ (نو) الله به له تاسو سره د هغه حساب کوي،

اللّٰهُ ۗ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ

بيا به چا ته چې وغواړي بخښنه وکړي او چا ته چې وغواړي عذاب به ورکړي

يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٨٤﴾

او الله په هر شي باندې ښه قادر دی(284)

امَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ

رسول په هغه څه ایمان راوړی دی؛ چې په ده
باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او

رَّبِّهٖ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ

مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او
د

مَلٰٓئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ ۫ لَا نُفَرِّقُ

هغه په ملایکو او د هغه په کتابونو او د هغه په
رسولانو باندې (او وایي) مونږه د هغه (الله) په

بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۫ وَ قَالُوْا سَمِعْنَا

رسولانو کې د هیچا په مینځ کې تفریق نه کوو او
وایي: مونږ واوریدل او

وَ اَطَعْنَا ٘ۗ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَ اِلَيْكَ

مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو)
ای زمونږه ربه! او خاص

الْمَصِيْرُ ﴿۲۸۵﴾ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا

تا ته بيا درتگ دی(285) او الله هېڅ يو نفس نه مکلف کوي مگر

وُسْعَهَا ؕ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَ عَلَيْهَا مَا

د هغه له وَس سره سم، همده لپاره دي څه نېکی چې ده کړي دي او په

اكْتَسَبَتْ ؕ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ

همدغه (نفس) باندې دي څه (گناهونه) چې ده کړي دي۔

نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَ لَا تَحْمِلْ

ای زمونږه ربه! مونږ مه نيسه که مونږ (څه حکم) هېر کړو، يا مونږ غلطي وکړو، ای زمونږه ربه! او

عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ

په مونږ باندې بوج مه ږده؛ لکه څنگه چې تا هغه (بوج) اېښی و په هغو خلقو باندې

مِنۡ قَبۡلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا

چې له مونږ نه مخکې وو، ای زمونږه ربه! او پر مونږ باندې داسې څه مه راباروه چې پر مونږ کې

طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعۡفُ عَنَّا ۗ وَاغۡفِرۡ

د هغو (د اوچتولو) هېڅ طاقت نه وي ـ او مونږ ته معافي وکړه او مونږه وبخښه

لَنَا ۗ وَارۡحَمۡنَا ۗ اَنۡتَ مَوۡلٰنَا

او پر مونږ رحم وکړه، هم ته زمونږ کارساز يې، نو

ع 8

فَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿٢٨٦﴾

د کافر قوم په خلاف ته زمونږ مدد وکړه(286)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

الٓمّٓ ﴿١﴾ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ

الف، لام، ميم(1) الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د
عبادت مگر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د

الْقَيُّوْمُ ﴿٢﴾ نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

ټول عالَم انتظام کوونکی دی(2) هغه په تا باندې
په حقه سره کتاب

بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

نازل کړی دی چې د هغو (کتابونو) تصديق
کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو،

وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿٣﴾

او تورات او انجيل يې نازل کړی دی(3)

مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ اَنْزَلَ

له دې نه مخکې، دخلقو د هدايت لپاره او

الْفُرْقَانَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

فرقان يې نازل کړی دی، بېشکه هغه کسان چې د الله په ايتونو سره کافر شوي دي،

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَ اللّٰهُ

د دوی لپاره ډېر سخت عذاب دی او الله ډېر

عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۝٤ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى

غالب (او) انتقام والا دی(4) يقينًا الله (چې دی) له هغه نه

عَلَيْهِ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَ لَا فِی

هېڅ شی نه دی پټ په ځمکه کې او نه په

السَّمَآءِ ۞ هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي

اسمان کې(5) دی همغه ذات دی چې په
رَحِمونو کې ستاسو شکلونه (صورتونه) جوړوي

الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

څنګه چې وغواړي، نشته هيڅ لايق د عبادت مګر
هم دی دی، چې ډېر غالبه،

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ

ښه حکمت والا دی(6) دی هغه ذات دی چې په
تا باندې

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ

يې کتاب نازل کړی دی، په ده کې ځينې محکم
(ښکاره مراد والا)

هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ

ايتونه دي؛ چې هغه د کتاب اصل دي، نور يې
متشابهات (پټ مراد والا) دي،

فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ

نو هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې کوږ والی دی؛ نو

فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ

هغوی په هغو (ایتونو) پسې کېږي چې په دې (قرآن) کې متشابه (پټ مراد والا) دي،

الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ ۚ وَمَا يَعْلَمُ

د فتنې لټولو لپاره او د هغو د مراد معلومولو لپاره، حال دا چې د هغوی په

تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ ۘ وَالرّٰسِخُوْنَ

وقف لازم

تاویل (مراد) باندې نه پوهېږي مگر اللهـ، او هغه کسان چې

فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ

په علم کې پاخه دي؛ هغوی وايي: مونږ په ده ایمان راوړی دی،

عِنۡدِ رَبِّنَا ۚ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا

ټول (محكم او متشابه ايتونه) زمونږ د رب له
جانبه دي، او نصيحت نه اخلي مګر د صفا عقل

الۡاَلۡبَابِ ۝٧ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوۡبَنَا بَعۡدَ

خاوندان(7) (او وايي) اى زمونږه ربه! زمونږ
زړونه مه كږوه وروسته له دې

اِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ

چې تا مونږ ته سمه لار وښودله او مونږ ته له
خپلې خوا نه رحمت راكړه، يقينًا هم ته، (د نعمت

رَحۡمَةً ۚ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡوَهَّابُ ۝٨ رَبَّنَاۤ

او رحمت) بې حده عطا كوونكى يې(8) اى
زمونږه ربه!

اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوۡمٍ لَّا رَيۡبَ

بېشكه ته خلقو لره جمع كوونكى يې په داسې
ورځ كې چې

ع
9

فِيۡهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخۡلِفُ الۡمِيۡعَادَ ۝۹

په هغې كې هېڅ شك نشته، يقيناً الله د وعدې مخالفت نه كوي(9)

اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَنۡ تُغۡنِىَ عَنۡهُمۡ

بېشكه هغه كسان چې كفر يې كړى دى، هېڅ كله به هم د هغوى

اَمۡوَالُهُمۡ وَلَاۤ اَوۡلَادُهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ

مالونه او اولادونه له دوى څخه د الله (له عذاب) نه هېڅ شى لرې نه

شَيۡـًٔا ؕ وَاُولٰٓـئِكَ هُمۡ وَقُوۡدُ النَّارِ ۝۱۰

كړى شي او همدغه كسان د اور خشاك دي(10)

كَدَاۡبِ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ ۙ وَالَّذِيۡنَ مِنۡ

(حال د دوى داسى دى) لكه حال (او عادت) د فرعونيانو او د هغو كسانو

قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاَخَذَهُمُ

چې له دوی نه مخکې وو، چې زمونږ ایتونه به یې دروغ ګڼل، نو الله هغوی د خپلو

اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۗ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ

ګناهونو په سبب ونیول او الله ډیر سخت عذاب

الْعِقَابِ ⑪ قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

ورکوونکی دی(11) ته ووایه هغو کسانو ته چې کفر یې کړی دی:

سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ۗ

ژر دی چې تاسو به مغلوب کړی شئ او جهنم ته به را یوځای (راجمع) کړی شئ

وَبِئْسَ الْمِهَادُ ⑫ قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ

او هغه بده استوګنه ده(12) یقینًا شته تاسو لپاره لویه

فِيۡ فِئَتَيۡنِ الۡتَقَتَا ؕ فِئَةٌ تُقَاتِلُ

نښه په هغو دوه ډلو کې چې يو بل ته مخامخ شوې وې، يوه ډله د

فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَ اُخۡرٰى كَافِرَةٌ

الله په لار کې جنګېدله او بله کافره وه، دوی به

يَّرَوۡنَهُمۡ مِّثۡلَيۡهِمۡ رَاۡىَ الۡعَيۡنِ ؕ

هغوی لره له خپل ځان نه دوه چنده (زيات) ليدل، دسترګو په ليدلو سره،

وَ اللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصۡرِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ فِيۡ

او الله په خپل مدد سره قوت ورکوي (مضبوطوي) چا ته چې وغواړي، يقينًا په دې کې

ذٰلِكَ لَعِبۡرَةً لِّاُولِى الۡاَبۡصَارِ ﴿۱۳﴾ زُيِّنَ

د سترګو خاوندانو لپاره خامخا عبرت (او نصيحت) دی(13) ښايسته کړی

لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَ

شوې ده خلقو ته مينه د مرغوبو خوندَوَرو شيانو چې ښځې دي او

الۡبَنِيۡنَ وَالۡقَنَاطِيۡرِ الۡمُقَنۡطَرَةِ مِنَ

زامن دي او راجمع کړی شوې ډېر مالونه دي له

الذَّهَبِ وَالۡفِضَّةِ وَالۡخَيۡلِ الۡمُسَوَّمَةِ

سرو زرو نه او سپينو زرو نه او اسونو نه، چې نښه دار کړی شوي دي

وَالۡاَنۡعَامِ وَالۡحَرۡثِ ؕ ذٰلِكَ مَتَاعُ

او له څارويو نه او فصل نه، دا د دنيايي ژوند

الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنۡدَهٗ

سامان دی او له الله سره د ورگرځېدلو

حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿۱۴﴾ قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ

ښه ځای دی(14) ته (ورته) ووایه: ایا تاسو ته د

مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ

داسې شیانو خبر درکړم چې له دغو (دنیوي خوندونو) نه ډېر ښه دي؟ د هغو کسانو لپاره چې

رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

پرهېزګاره دي، (هغه) د خپل رب په نیز باغونه دي چې د هغو له

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَ اَزْوَاجٌ

لاندې ولې بهېږي، چې په هغو کې به دوی تل ترتله وي او (د دوی لپاره) ښې

مُّطَهَّرَةٌ وَّ رِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ

پاکې ښځې دي او د الله له جانبه رضامندي (ده) او الله

بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۝١٥ اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ

بنده گانو لره ښه ليدونکی دی(15) هغه کسان چې وايي:

رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ

ای زمونږه ربه! يقينًا مونږ ايمان راوړی دی، نو مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښه او مونږ د اور له

قِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝١٦ اَلصّٰبِرِيْنَ وَ

عذابه وساته(16) چې صبرکوونکي دي او

الصّٰدِقِيْنَ وَ الْقٰنِتِيْنَ وَ الْمُنْفِقِيْنَ

رښتياويونکي دي اوحکم منونکي دي او انفاق کوونکي دي او د شپو په

وَ الْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ۝١٧ شَهِدَ

اخر کې مغفرت غوښتونکي دي(17) الله ګواهي

اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَ

ورکړې ده د دې خبرې چې یقینًا نشته دی هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی او ملایکو او

اُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ؕ

د علم خاوندانو، (هم) په داسې حال کې چې دی په انصاف سره قایم دی، ـ نشته دی هېڅ لایق د

النصف

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ؕ ۝١٨ اِنَّ

عبادت مګر هم دی دی چې ډېرغالب، ښه حکمت والا دی(18) بېشکه

الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۗ وَمَا

(معتبر) دین د الله په نیز اسلام دی، او هغو

اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ

کسانو، چې کتاب ورته ورکړی شوی دی، اختلاف نه دی کړی مګر وروسته

بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا

له دې چې دوی ته علم راغی، په خپل مینځ کې

بَيْنَهُمْ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ

د ضد او سرکشۍ په سبب اوهغه کس چې د الله
په ایتونو باندې کافر شي، نو یقیناً

اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿١٩﴾ فَاِنْ

الله بېخي ژر حساب کوونکی دی(19) بیا که
چېرې

حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَ

دوی له تاسره جګړه کوي، نو ته ووایه: ما خپل
مخ خاص الله ته

مَنِ اتَّبَعَنِ ؕ وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا

تابع کړی دی او هغه چا هم (تابع کړی دی) چې
زما پیروي کوي۔ او ته هغو کسانو ته ووایه چې

الۡكِتٰبَ وَ الۡاُمِّيّٖنَ ءَاَسۡلَمۡتُمۡ ؕ فَاِنۡ

هغوی ته کتاب ورکړی شوی دی او اَمیانو (نالوستو) ته: ایا تاسو اسلام راوړئ؟ پس که دوی

اَسۡلَمُوۡا فَقَدِ اهۡتَدَوۡا ۚ وَاِنۡ تَوَلَّوۡا

اسلام راوړ، نو یقینًا دوی سمه لار وموندله او که وګرځېدل،

فَاِنَّمَا عَلَيۡكَ الۡبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيۡرٌۢ

پس بېشکه په تا باندې یواځې تبلیغ کول (دحق رسَول) دي او الله بنده ګانو لره بنه

بِالۡعِبَادِ ۞ ٢٠ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَكۡفُرُوۡنَ

لیدونکی دی(20) بېشکه هغه کسان چې د الله په

ع 10

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقۡتُلُوۡنَ النَّبِيّٖنَ

ایتونو کافران کېږي او نبیان ناحقه وژني

بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ

او په خلقو کې هغه کسان وژني

يَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ ۙ

چې د انصاف کولو حکم کوي، نو هغوی ته د

فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢١﴾ اُولٰٓئِكَ

بېخي دردونکي عذاب زېری ورکړه(21) دا هغه

الَّذِيْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَ

کسان دي چې د دوی عملونه په دنيا او اخرت (دواړو)

الْاٰخِرَةِ ۫ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٢﴾

کې ضائع شوي دي او نشته د دوی لپاره هيڅوک مددکوونکي(22)

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ

ايا تا نه دي کتلي هغو کسانو ته چې هغوی ته له

الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتٰبِ

کتاب نه څه حصه (د علم) ورکړی شوې ده، دوی کتاب ته رابللی شي،

اللّٰهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ

د دې لپاره چې (دا کتاب) د دوی په مینځ کې فیصله وکړي، بیا په دوی کې یوه ډله مخ اړوي او

مِّنْهُمْ وَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٣﴾

دوی (همېشه له حق نه) مخ ګرځوونکي دي(23)

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ

دا په دې سبب چې بېشکه دوی ویلي دي: مونږ ته به اور

اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۠ وَّ غَرَّهُمْ فِيْ

هيڅ كله هم راونه رسېږي مگر څو په شمار ورځې۔ او دوی په خپل دين كې هغو خبرو

دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ فَكَيْفَ

غولولي (دوكه كړي) دي چې دوی به له ځانه جوړولې(24) نوڅه حال

اِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۫ وَ

به وي كله چې مونږ دوی د هغې ورځې (د فيصلې) لپاره راجمع كړو چې په هغې كې هيڅ

وُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَ هُمْ

شك نشته او هر نفس ته به (جزا د) هغه څه پوره پوره وركړی شي چې ده كړي دي او په دوی به

لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۵﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ

ظلم ونه كړی شي(25) ته ووايه: ای الله!

اَلْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ

د بادشاهۍ مالکه! ته بادشاهي ورکوي هغه چا ته

الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ ز وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ

چې وغواړي او بادشاهي ببرته اخلي له هغه چا نه
چې وغواړي،

وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ط بِيَدِكَ الْخَيْرُ ط

چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او چا ته چې
وغواړې ذلت ورکوې، هم ستا په لاس کې خیر

اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٦﴾ تُوْلِجُ

دی، بېشکه ته په هر شي باندې ښه قادر يې(26)
ته شپه په

الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي

ورځ کې ننباسې او ورځ په

الَّيۡلِ ۫ وَتُخۡرِجُ الۡحَیَّ مِنَ الۡمَیِّتِ وَ

شپه کې ننباسې او ته ژوندی له مړي راوباسې او

تُخۡرِجُ الۡمَیِّتَ مِنَ الۡحَیِّ ۫ وَتَرۡزُقُ

مړی له ژوندي راوباسې اوچا ته چې وغواړې

مَنۡ تَشَآءُ بِغَیۡرِ حِسَابٍ ﴿۲۷﴾ لَا یَتَّخِذِ

بې حسابه روزي ورکوې(27) او مومنان دې له (خپلو)

الۡمُؤۡمِنُوۡنَ الۡکٰفِرِیۡنَ اَوۡلِیَآءَ مِنۡ

مومنانو نه غیر کافرانو لره دوستان نه جوړوي، او

دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ۚ وَمَنۡ یَّفۡعَلۡ ذٰلِکَ

څوك چې دا کار وکړي، نو نه دی (دغه کس) د

فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ

الله (له ډلې) نه په هېڅ شي کې، مګر دا چې تاسو
له دغو (کافرو) نه ځان

تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ

ساتل غواړئ، ځان ساتنه، او الله تاسو له خپل
ځان

نَفْسَهٗ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝٢٨ قُلْ

نه وېروي او خاص الله ته ورتلل دي(28) ته
ووايه:

اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ

که تاسو پټ ساتئ هغه څه چې ستاسو په سينو
کې دي، يا هغه ښکاره کړئ،

يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ؕ وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ

الله ته هغه معلوم دي۔، دی پوهېږي په هر هغه
څه چې په اسمانونو کې دي او

مَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

په هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله په هر شي باندې

قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا

ښه قادر دی(29) په هغه ورځ کې چې هر نفس به هره

عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚۛ وَّمَا

هغه نېکي چې ده کړې وي، (خپلې مخې ته) حاضره ومومي او هره هغه بدي چې ده کړې ده

عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚۛ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَ

(هغه هم)، دا (نفس) به ارزو کوي چې کاشکې د ده په مینځ کې او

بَيْنَهٗٓ اَمَدًۢا بَعِيْدًا ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ

د هغې (بدۍ) په مینځ کې ډېر لرې مسافت وی او الله تاسو له خپل ځان نه وېروي

ع
11

نَفۡسَهٗ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوۡفٌۢ بِالۡعِبَادِ ؏ ۳۰ قُلۡ

او الله په بنده گانو باندې ډېر نرمي کوونکی دی( 30) (ای نبي!) ته ووایه:

اِنۡ كُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِىۡ

که چېرې یئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ،

يُحۡبِبۡكُمُ اللّٰهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ

الله به له تاسو سره مینه وکړي او تاسو ته به ستاسو گناهونه وبخښي

ذُنُوۡبَكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۳۱

او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی( 31)

قُلۡ اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوۡلَ ۚ فَاِنۡ

(ای نبي!) ته ووایه: د الله اطاعت کوئ او د (هغه د) رسول،

تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ۝٣٢

بيا كه دوى وګرځېدل، نو بېشکه الله له کافرانو سره مينه نه کوي(32)

اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰۤى اٰدَمَ وَ نُوْحًا وَّ اٰلَ

بېشکه الله په عالَمونو باندې ادم او نوح او الِ

اِبْرٰهِيْمَ وَ اٰلَ عِمْرٰنَ عَلَى

ابراهيم او الِ عمران غوره کړي

الْعٰلَمِيْنَ ۝٣٣ ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ

دي(33) په دې حال کې چې (داسې) نسل دى، چې ځيني د دوى له

وَ اللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝٣٤ اِذْ قَالَتِ

ځينو نورو دي او الله ښه اورېدونکى، ښه پوه دى(34) کله چې د

اِمْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّیْ نَذَرْتُ لَكَ مَا

عمران ښځې وويل: ای زما ربه! بېشکه ما تا لپاره نذر منلی دی د هغه چې زما

فِیْ بَطْنِیْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّیْ ۚ اِنَّكَ

په ګېډه کې دی، په دې حال کې چې ازاد به وي، نو ته يې له ما نه قبول کړه، بېشکه

اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ۝۳۵ فَلَمَّا

هم ته ښه اورېدونکی، ښه پوه يې(35) نو کله چې

وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ اِنِّیْ وَضَعْتُهَاۤ

دې هغه وزېږوله، هغې وويل! ای زما ربه! بېشکه زه چې يم، ما هغه وزېږوله،

اُنْثٰی ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ ؕ

چې ښځه (جينۍ) ده۔ او الله ښه پوه دی په هغه څه چې دې وزېږوه ۔

وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثٰى ۚ وَاِنِّيْ

او نر (هلك) د ښځې (جينۍ) په شان نه دی او بېشكه ما دې

سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَاِنِّيْٓ اُعِيْذُهَا

ته مريم نوم كېښود، او بېشكه زه دا او د دې اولاد

بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ

له شيطان رټل شوي نه ستا په حفاظت كې

الرَّجِيْمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ

دركوم(36) نو هغه د هغې رب په ډېرو ښو قبلولو سره قبوله كړه

حَسَنٍ وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ وَّ

او هغه يې په ډېرو ښُكلو زرغونولو (لويَولو) سره زرغونه (لويه) كړه او

كَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا

هغه يې د زكريا په كفالت كې وركړه كله چې به

زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ وَجَدَ عِنْدَهَا

هم زكريا دې ته عبادت خانې ته ننوت (نو) له
هغې سره به يې

رِزْقًا ۖ قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا ۖ

څه رزق (خوراك) وموندە، هغه وويل: اى
مريمې! تا ته دا له كومه كېږي؟

قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ إِنَّ اللَّهَ

هغې وويل: داد الله له خوا راځي، يقيناً الله چې

يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

چا ته وغواړي بې حسابه روزي وركوي(37)

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ رَبِّ

په دغه ځای کې زکریا له خپل رب نه دعا وغوښته، ويې ويل: ای زماربه!

هَبۡ لِیۡ مِنۡ لَّدُنۡكَ ذُرِّیَّةً طَیِّبَةً ۚ اِنَّكَ

ما ته له خپلې خوانه ښه پاکیزه اولاد راکړه، يقينًا ته د دعا ښه

سَمِیۡعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۸﴾ فَنَادَتۡهُ الۡمَلٰٓئِكَةُ وَ

اوريدونکی يې(38) نو ملايکو ده ته اواز وکړ،

هُوَ قَآئِمٌ یُّصَلِّیۡ فِی الۡمِحۡرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ

په داسې حال کې چې دی په عبادت خانه کې ولاړ و، لمونځ يې کاوه،

یُبَشِّرُكَ بِیَحۡیٰی مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ

دا چې بیشکه الله تا ته د يحيٰی زيری درکوي، چې تصديق کوونکی به وي

اللّٰهِ وَ سَيِّدًا وَّ حَصُوْرًا وَّ نَبِيًّا مِّنَ

د هغه کلمې چې د الله له طرفه ده، او سردار به وي او ځان به ډېرمنع کوونکى وي (له خواهشاتو

الصّٰلِحِيْنَ ﴿٣٩﴾ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ

نه) او نبي به وي له صالحانو نه(39) ويې ويل: اى زما ربه! ما لره به

غُلٰمٌ وَّ قَدْ بَلَغَنِىَ الْكِبَرُ وَ امْرَاَتِيْ

هلك څنګه کېږي، حال دا چې په ما باندې بوډاوالى (زوړوالى) راغلى دى او زما ښځه

عَاقِرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا

شنډه ده؟! هغه وويل: همداسې الله کوي څه چې

يَشَآءُ ﴿٤٠﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ؕ قَالَ

وغواړي(40) ويې ويل: اى زما ربه! زما لپاره څه نښه مقرره کړه، هغه وويل:

اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ

ستا نښه دا ده چې ته به له خلقو سره خبرې نشې کولی خو په

اِلَّا رَمْزًا ؕ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّ

اشارې سره، او ته خپل رب ډېر يادوه او د ورځې په اخر او

ع 12

سَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ۟ ﴿٤١﴾ وَاِذْ قَالَتِ

اول کې تسبيح (پاکي) بيانوه(41) او کله چې

الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ وَ

ملايکو وويل: اى مريمې! يقينًا الله ته غوره کړې يې او

طَهَّرَكِ وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ

ته يې پاکه کړې يې او د ټول عالَم په ښځو يې تا

الۡعٰلَمِيۡنَ ۝٤٢ يٰمَرۡيَمُ اقۡنُتِىۡ لِرَبِّكِ

ته غوره والی درکړی دی(42) ای مریمې! د خپل رب فرمانبرداره شه

وَاسۡجُدِىۡ وَارۡكَعِىۡ مَعَ الرّٰكِعِيۡنَ ۝٤٣

او سجده کوه او له رکوع کوونکو سره رکوع کوه( 43)

ذٰلِكَ مِنۡ اَنۡۢبَآءِ الۡغَيۡبِ نُوۡحِيۡهِ

دا د غیب له خبرونو څخه دي چې مونږ يې تا ته وحي کوو او ته له

اِلَيۡكَ‌ؕ وَمَا كُنۡتَ لَدَيۡهِمۡ اِذۡ يُلۡقُوۡنَ

هغوی سره موجود نه وې کله چې هغوی خپل

اَقۡلَامَهُمۡ اَيُّهُمۡ يَكۡفُلُ مَرۡيَمَ ۖ وَمَا

قلمونه غورځول، چې په دوی کې څوك د مريمې کفالت وکړي او

كُنۡتَ لَدَيۡهِمۡ اِذۡ يَخۡتَصِمُوۡنَ ﴿۴۴﴾ اِذۡ

ته له هغوی سره حاضر نه وې کله چې يې په
خپلو کې جګړه کوله(44) کله چې

قَالَتِ الۡمَلٰٓـئِكَةُ يٰمَرۡيَمُ اِنَّ اللّٰهَ

ملايکو وويل: ای مريمې! بېشکه الله تا ته له
خپل طرف نه

يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنۡهُ ۖ اسۡمُهُ الۡمَسِيۡحُ

د يوې کلمې زېری درکوي، چې د هغه نوم مسيح

عِيۡسَى ابۡنُ مَرۡيَمَ وَجِيۡهًا فِى الدُّنۡيَا

عيسٰی زوی د مريم دی، چې په دنيا او اخرت کې
به

وَالۡاٰخِرَةِ وَمِنَ الۡمُقَرَّبِيۡنَ ۙ﴿۴۵﴾

ډېر مخور وي او له مُقرَبينو څخه به وي(45)

وَ يُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الۡمَهۡدِ وَ كَهۡلًا وَّ

او له خلقو سره به خبرې کوي په زانګو (غېږ) کې
او په پاخه عمر کې او وي

مِنَ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿۴۶﴾ قَالَتۡ رَبِّ اَنّٰى

به له صالحانو څنې(46) هغې وويل: ای زما ربه!

يَكُوۡنُ لِىۡ وَلَدٌ وَّلَمۡ يَمۡسَسۡنِىۡ بَشَرٌ ؕ

زما لپاره بچی څنګه کېدی شي، حال دا چې ما ته
هېڅ یو بشر لاس (هم) نه دی راوړی؟!

قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ اِذَا

هغه (جبریل) وویل: همداسې الله پیداکوي څه
چې وغواړي،

قَضٰۤى اَمۡرًا فَاِنَّمَا يَقُوۡلُ لَهٗ كُنۡ

کله چې د یو کار اراده وکړي، نو بېشکه چې هغه
(کار) ته همدا وايي: ”وشه،، نو

فَيَكُوْنُ ﴿٤٧﴾ وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

هغه وشي(47) او هغه ته به كتاب او حكمت

وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿٤٨﴾ وَرَسُوْلًا اِلٰى

او تورات او انجيل ورزده كوي(48) او بني

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ اَنِّيْ قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ

اسرائيلو ته به رسول وي (چې ورته به وايي:)
بېشكه زه چې يم، يقينًا ما تاسو ته

مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ اَنِّيْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ مِّنَ

ستاسو د رب له طرفه نه لويه نښه راوړې ده، چې
يقينًا زه

الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ فِيْهِ

تاسو ته له خَټې نه د مرغۍ د شكل په شان (يو
شی) جوړوم، بيا په دې (شكل) كې

فَيَكُوۡنُ طَيۡرًۢا بِاِذۡنِ اللّٰهِ‌ۚ وَاُبۡرِئُ

پوکی کوم، نو هغه به د الله په حکم سره الوتونکې مرغۍ شي،

الۡاَكۡمَهَ وَالۡاَبۡرَصَ وَاُحۡىِ الۡمَوۡتٰى

او زه مورزادي ړوند او د برگي مرض والا روغوم او مړي ژوندي کوم د

بِاِذۡنِ اللّٰهِ‌ۚ وَاُنَبِّئُكُمۡ بِمَا تَاۡكُلُوۡنَ وَ

الله په حکم سره، او تاسو خبروم په هغه څه چې تاسو يې خورئ او

مَا تَدَّخِرُوۡنَ ۙ فِىۡ بُيُوۡتِكُمۡ‌ؕ اِنَّ فِىۡ

په هغه څه چې تاسو يې په خپلو کورونو کې ذخيره کوئ، بېشکه تاسو

ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ

لپاره په دې کې خامخا لويه نښه ده که چېرې تاسو ايمان

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ

راوړونكي يئ(49) په دې حال كې چې تصديق كوونكى يم د هغه (كتاب) چې له ما نه

مِنَ التَّوْرٰىةِ وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ

مخكې و، چې تورات دى او د دې لپاره (راغلى يم) چې تاسو

الَّذِيْ حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَ جِئْتُكُمْ

لپاره بعضې له هغو شيانو حلال كړم چې پر تاسو باندې حرام كړى شوي وو

بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۛ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

او ستاسو د رب له طرفه نه ما تاسو ته واضحه نښه راوړې ده، نو له الله نه وويرېږئ او زما

اَطِيْعُوْنِ ﴿٥٠﴾ اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَ رَبُّكُمْ

اطاعت وكړئ(50) بېشكه الله زما رب دى او ستاسو رب دى،

فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٥١﴾

نو د هغه عبادت کوئ، دا ډېره نېغه لار ده(51)

فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ

نو عيسٰى چې کله له دوی څخه کفر وليده، نو ويې ويل:

مَنْ اَنْصَارِیْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ

د الله په طرف (تللو کې) څوك زما مددکوونکي دي؟

الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا

حواريانو وويل: مونږ د الله مددګار يو، مونږ په الله ايمان راوړی دی او ته ګواه شه په

بِاللّٰهِ ۚ وَاشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿٥٢﴾ رَبَّنَآ

دې چې بېشکه مونږ مسلمانان (فرمانبردار) يو( 52) ای زمونږه ربه!

اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَ اتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ

مونږ ايمان راوړی دی په هغه څه چې تا نازل کړي
دي او مونږ د رسول تابعداري کړې ده،

فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَ مَكَرُوْا

نو ته مونږ له گواهي كوونكو (د حق) سره وليكه
(53) او هغوی چلونه جوړ کړل

وَ مَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَ اللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿۵۴﴾

ع 13 الثلثة

او الله پټ تدبير وكړ او الله له ټولو تدبيركوونكو
نه غوره دی(54)

اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَ

كله چې الله وويل: ای عيسٰی! بېشكه زه تا لره
پوره پوره

رَافِعُكَ اِلَيَّ وَ مُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ

اخيستونكی يم او د خپل ځان طرف ته ستا
راپورته كوونكی يم او تا لره له هغو كسانو نه

كَفَرُوۡا وَ جَاعِلُ الَّذِيۡنَ اتَّبَعُوۡكَ فَوۡقَ

پاکوونکی يم چې کفر يې کړی دی اوچا چې ستا
پيروي کړې ده هغوی لره د قيامت د ورځې پورې

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ‌ۚ ثُمَّ

د هغو کسانو له پاسه کوونکی يم؛ چې کفر يې
کړی دی، بيا

اِلَىَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَاَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ فِيۡمَا

خاص زما طرف ته ستاسو واپسي ده، نو ستاسو
په مينځ کې به د هغو خبرو په باره کې فيصله کوم

كُنۡتُمۡ فِيۡهِ تَخۡتَلِفُوۡنَ ۝٥٥ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ

چې تاسو په کې اختلاف کاوه(55) پس هر چې
هغه کسان دي

كَفَرُوۡا فَاُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا شَدِيۡدًا فِى

چا چې کفر کړی دی، نو هغوی ته به زه په دنيا

الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ۡ وَ مَا لَهُمْ مِّنْ

او اخرت كې ډېر سخت عذاب وركوم او د دوى لپاره به هيڅوك مددكوونكي

نّٰصِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ وَ اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

نه وي(56) پاتې شو هغه كسان چا چې ايمان راوړى دى او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ

نېك عملونه يې كړي دي، نو هغوى ته به (الله) د هغوى

اُجُوْرَهُمْ ؕ وَ اللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۷﴾

اجر پوره وركړي او الله له ظالمانو سره مينه نه كوي(57)

ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ مِنَ الْاٰيٰتِ وَ

دا دي چې مونږ يې له ايتونو او له حكمته ډك

الذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ﴿٥٨﴾ اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى

نصيحت څخه پر تا لولو(58) بېشکه د عيسٰی مثال

عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ؕ خَلَقَهٗ مِنْ

د الله په نيز د ادم د مثال په شان دی، الله هغه له

تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٥٩﴾

خاورې پيدا کړ، بيا يې هغه ته وويل: (پيدا) شه، پس (پيدا) شو(59)

اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ

حق ستا د رب له جانبه دی، نو له شك كوونكو نه

الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَآجَّكَ فِيْهِ مِنْۢ

مه کېږه(60) نو څوك چې د ده (عيسٰی) په باره كې له تا

بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ

سره جګړه کوي، وروسته له دې چې تا ته علم حاصل شو، نو ته ووایه:

تَعَالَوْا نَدْعُ اَبْنَآءَنَا وَ اَبْنَآءَكُمْ

راځئ! چې مونږ راوبلو خپل زامن او ستاسو زامن او خپلې

وَ نِسَآءَنَا وَ نِسَآءَكُمْ وَ اَنْفُسَنَا وَ

ښځې او ستاسو ښځې او خپل ځانونه او ستاسو

اَنْفُسَكُمْ ۫ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ

ځانونه، بیا به په زارۍ سره دعا وکړو، نو په

لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦١﴾ اِنَّ هٰذَا

دروغژنو به د الله لعنت ووایو(61) بېشکه همدا

لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا

حق بيان دى او نشته هېڅ برحق معبود مگر
يواځې الله دى او بېشكه

اللّٰهُ ۗ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

يواځې الله ډېر غالب، ښه حكمت

الْحَكِيْمُ ﴿٦٢﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ

والادى(62) نو كه دوى وگرځېدل، نو يقينًا الله په

ع
14

عَلِيْمٌۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٣﴾ ۧ قُلْ يٰٓاَهْلَ

فسادكوونكو ښه پوه دى(63) (اى نبي!) ته (دوى
ته) ووايه:

الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۢ بَيْنَنَا

اى اهل كتابو! داسې كلمې ته راشئ چې زمونږ
په مينځ كې

وَ بَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَ لَا

او ستاسو په مينځ کې برابره ده، دا چې عبادت به
نه کوو مګر يوائې د الله او له

نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا وَّ لَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا

هغه سره به هيڅ شی نه شريکوو او زمونږ بعضې
به بعضو نورو لره له

بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ

الله نه غېر پالونکي (خدايان) نه نيسي، نو که
دوی وګرځېدل،

تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا

نو تاسو (ورته) ووايئ چې تاسو په دې ګواه شئ
چې يقيناً مونږ

مُسْلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ

مسلمانان يو(64) ای اهل کتابو! ولې تاسو

تُحَآجُّوۡنَ فِىۡۤ اِبۡرٰهِيۡمَ وَمَاۤ اُنۡزِلَتِ

د ابراهيم په باره کې جګړه کوئ، حال دا چې

التَّوۡرٰىةُ وَالۡاِنۡجِيۡلُ اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ‌ؕ

تورات او انجيل نه و نازل کړی شوي مګر له هغه نه وروسته، ايا نو ولې له

اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۶۵﴾ هٰۤاَنۡتُمۡ هٰٓؤُلَاۤءِ

عقل نه کار نه اخلئ!(65) ګورئ! تاسو خصوصًا

حَاجَجۡتُمۡ فِيۡمَا لَـكُمۡ بِهٖ عِلۡمٌ فَلِمَ

دغو په هغه خبره کې جګړه وکړه چې تاسو ته د هغې څه علم و، نو په

تُحَآجُّوۡنَ فِيۡمَا لَيۡسَ لَـكُمۡ بِهٖ عِلۡمٌ‌ؕ

هغه خبره کې ولې جګړه کوئ چې تاسو ته د هغې هيڅ علم نشته؟

وَ اللّٰهُ يَعۡلَمُ وَ اَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٦٦﴾

او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ(66)

مَا كَانَ اِبۡرٰهِيۡمُ يَهُوۡدِيًّا وَّ لَا نَصۡرَانِيًّا

ابراهيم نه يهودي و او نه نصراني۔

وَّ لٰكِنۡ كَانَ حَنِيۡفًا مُّسۡلِمًا ؕ وَ مَا كَانَ

او لېکن حنيف (پوخ توحيد والا) مسلمان و او نه

مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿٦٧﴾ اِنَّ اَوۡلَى النَّاسِ

مشرکانو څخه نه و(67) بېشکه په خلقو کې

بِاِبۡرٰهِيۡمَ لَلَّذِيۡنَ اتَّبَعُوۡهُ وَ هٰذَا

ابراهيم ته حقيقتًا نژدې خامخا هغه کسان دي چا

چې د هغه

النَّبِيُّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ وَلِيُّ

تابعداري کړې ده او دا نبي دی او هغه کسان دي
چې ایمان یې راوړی دی او الله د مومنانو

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ

دوست دی(68) په اهل کتابو کې یوه ډله ستاسو

الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ

د گمراه کولو ارزو لري او هغوی یوائې خپل

اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٩﴾ يٰٓاَهْلَ

ځانونه گمراه کوي او شعور نه لري(69) ای اهلِ

الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ

کتابو! ولې د الله په ایتونو کافر کېږئ، حال دا
چې تاسو

اَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٧٠﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ

(د هغو د حقانيت) گواهي ورکوئ؟(70) اى اهلِ
کتابو! ولې

تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ

تاسو حق له باطل سره گډوَډ کوئ؟ او تاسو حق

ع 15

الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٧١﴾ وَقَالَتْ

پټوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ(71) اوله اهلِ

طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا

کتابو څخه يوې ډلې (بلې ډلې ته) وويل: تاسو په
هغه (کتاب) باندې چې په مومنانو

بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ

باندې نازل کړى شوى دى، د ورځې په اول کې
(په ظاهره) ايمان راوړئ

النَّهَارِ وَا كْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ

او د هغې (ورځې) په اخر کې (بیا) کافر شئ، د دې لپاره چې دوی

يَرْجِعُوْنَ ۚ﴿۷۲﴾ وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ

راوګرځي(72) او (د دې) یقین مه کوئ مګر د هغه چا لپاره چې ستاسو د دین متابعت یې کړی

دِيْنَكُمْ ۭ قُلْ اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ ۙ

وي۔ (ای نبي!) ته ووایه: یقینًا اصل هدایت (او حق دین) خو د الله هدایت دی۔ (او د دې یقین

اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ اَوْ

هم مه کوئ) دا چې یو چا ته به د هغو (فضایلو) په مثل ورکړی شي چې تاسو ته درکړی شوي

يُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ۭ قُلْ اِنَّ

دي، یا به دوی پر تاسو باندې د خپل رب په وړاندې غالبه شي، (ای نبي!) ته ووایه: بېشکه

الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ ۚ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَآءُ ۗ

فضل د الله په لاس كې دى، چا ته چې وغواړي
هغه ورکوي او الله فراخى

وَ اللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ يَّخْتَصُّ

والا دى، ښه پوه دى(73) په خپلې مهربانۍ سره

بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَ اللّٰهُ ذُو

خاص کوي چا ته چې وغواړي او الله د ډېر لوى

الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ وَ مِنْ اَهْلِ

فضل والا دى(74) او ځينې له اهلِ

الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ

کتابو څخه هغه څوك دي چې که ته هغه ته ډېر
مال امانت ورکړې،

اِلَيۡكَ ۚ وَ مِنۡهُمۡ مَّنۡ اِنۡ تَاۡمَنۡهُ

نو تا ته به هغه (مال) بېرته ادا کوي او ځينې له دوی نه هغه څوك دي چې كه ته هغه ته

بِدِيۡنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖۤ اِلَيۡكَ اِلَّا مَا دُمۡتَ

يو دينار (هم) امانت ورکړې (نو) تا ته به هغه (دينار) بېرته نه ادا کوي

عَلَيۡهِ قَآئِمًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ قَالُوۡا

مگر دا چې ته په (سر د) هغه مدام ولاړ اوسې، دا په دې چې يقينًا دوی ويلي دي

لَيۡسَ عَلَيۡنَا فِى الۡاُمِّيّٖنَ سَبِيۡلٌ ۚ وَ

چې پر مونږ باندې د اَميانو (د حق) په باره کې هېڅ گناه نشته

يَقُوۡلُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ وَ هُمۡ

او په الله باندې دروغ ورتېي، حال دا چې دوی

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۷۵﴾ بَلٰى مَنۡ اَوۡفٰى بِعَهۡدِهٖ وَ

پوهېږي(75) ولې نه! چا چې خپله وعده پوره کړه

اتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۷۶﴾ اِنَّ

او پرهېزگاره شه، نو یقینًا الله پرهېزگاران خوښوي (76) بېشکه

الَّذِيۡنَ يَشۡتَرُوۡنَ بِعَهۡدِ اللّٰهِ وَ

هغه کسان چې د الله (سره د کړې) وعدې او د

اَيۡمَانِهِمۡ ثَمَنًا قَلِيۡلًا اُولٰٓـئِكَ لَا خَلَاقَ

خپلو قسمونو په بدل کې لږې پيسې اخلي، دغه کسان، د دوی

لَهُمۡ فِى الۡاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَ

لپاره په اخرت کې هېڅ برخه نشته او د قیامت په ورځ به الله له

لَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا

دوى سره نه خبري كوي او نه به دوى ته گوري
اونه به دوى پاك كړي او

يُزَكِّيْهِمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٧﴾

د دوى لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى(77)

وَاِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ

او يقينًا يقينًا په دوى كې يوه ډله ده چې په

بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا

(لوستو د) كتاب سره خپلې ژبې تاووي، د دې
لپاره چې تاسو په هغه د (الله د) كتاب

هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ مِنْ

گمان وكړئ، حال دا چې هغه له (حق) كتاب څخه
نه دي، او دوى وايي چې دا

عِنْدِ اللّٰهِ وَ مَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَ

(مُحرَّف عبارتونه) د الله له جانبه دي، حال دا چې
هغه د الله له جانبه نه دي،

يَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَ هُمْ

او دوی په الله باندې دروغ تپي، حال دا چې
دوی

يَعْلَمُوْنَ ۝۷۸ مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ

پوهېږي(78) هېڅ يو انسان ته دا حق نه دی
حاصل چې

اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَ الْحُكْمَ وَ النُّبُوَّةَ ثُمَّ

الله هغه ته كتاب او حكم او نبوت (پېغمبري)
وركړي،

يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ

بيا دې هغه، خلقو ته وايي چې له الله نه غير زما
بنده گان (عبادت كوونكي) شئ،

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ

او لېکن (هغه خو به وايي چې) تاسو الهي خلق شئ (په علم باندې عمل کوونکي شئ)

بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَبِمَا

ځکه چې تاسو د کتاب ښودنه کوئ او په دې چې تاسو

كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ

زده کړه کوئ(79) او نه (ورته) دا (حق حاصل دی)

تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ؕ

چې تاسو ته حکم درکړي چې تاسو ملایکو او نبیانو لره پروردګاران (خدایان)

اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ

ونیسئ، ایا هغه به تاسو ته د کفر کولو حکم کوي وروسته له دې چې تاسو

ع
16

مُّسۡلِمُوۡنَ ﴿۸۰﴾ وَ اِذۡ اَخَذَ اللّٰهُ مِیۡثَاقَ

مسلمانان يئ؟(80) او كله چې الله د نبيانو (نه) پخه وعده

النَّبِیّٖنَ لَمَاۤ اٰتَیۡتُكُمۡ مِّنۡ كِتٰبٍ وَّ

واخيسته چې هر هغه څه چې زه يې تاسو ته له كتاب او

حِكۡمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مُّصَدِّقٌ

حكمته دركړم، بيا تاسو ته يو رسول راشي چې د هغه څه تصديق

لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهٖ وَ لَتَنۡصُرُنَّهٗ ؕ

كوونكى وي چې له تاسو سره دي (نو) تاسو به خامخا په هغه ايمان راوړئ او خامخا به د هغه

قَالَ ءَاَقۡرَرۡتُمۡ وَ اَخَذۡتُمۡ عَلٰی ذٰلِكُمۡ

مدد كوئ، (الله) وويل: ايا تاسو اقرار وكړ او په

اِصۡرِیۡ ؕ قَالُوۡۤا اَقۡرَرۡنَا ؕ قَالَ

دې باندې تاسو زما درنه وعده قبوله كړه، هغوى ووېل: مونږ اقرار وكړ، (الله) ووېل:

فَاشۡهَدُوۡا وَ اَنَا مَعَكُمۡ مِّنَ

نو تاسو گواه شئ او زه (هم) تاسو سره له گواهانو

الشّٰهِدِیۡنَ ﴿۸۱﴾ فَمَنۡ تَوَلّٰی بَعۡدَ ذٰلِكَ

څخه يم(81) نو څوك چې له دې نه بعد وگرځېده،

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡفٰسِقُوۡنَ ﴿۸۲﴾ اَفَغَیۡرَ

نو همدغه خلق فاسقان دي(82) ايا نو دوى

دِیۡنِ اللّٰهِ یَبۡغُوۡنَ وَ لَهٗۤ اَسۡلَمَ مَنۡ

د الله له دين نه غير (بل دين) غواړي، حال دا چې خاص هغه

فِي السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ طَوۡعًا وَّ كَرۡهًا

(الله) ته غاړه ایښې ده، هر هغه څه چې په
اسمانونو او ځمکه کې دي، په خوښه، یا په

وَّ اِلَيۡهِ يُرۡجَعُوۡنَ ﴿۸۳﴾ قُلۡ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ

ناخوښه، او خاص هغه ته به دوی ورګرځولی شي
(83) ته ووایه: مونږ ایمان راوړی دی

مَاۤ اُنۡزِلَ عَلَيۡنَا وَ مَاۤ اُنۡزِلَ عَلٰۤى

په الله او په هغه (کتاب) چې په مونږه نازل کړی
شوی دی او په هغه څه چې په

اِبۡرٰهِيۡمَ وَ اِسۡمٰعِيۡلَ وَ اِسۡحٰقَ وَ

ابراهیم او سمٰعیل او اسحٰق او

يَعۡقُوۡبَ وَ الۡاَسۡبَاطِ وَ مَاۤ اُوۡتِىَ مُوۡسٰى

یعقوب او (د هغه) په اولادې باندې نازل کړی
شوي دي او په هغه څه چې موسٰی

وَ عِيْسٰى وَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ لَا

او عيسٰى او) نورو) نبيانو ته د خپل رب له جانبه ورکړی شوي دي، مونږ

نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۖ وَ نَحْنُ لَهٗ

په دوی کې د هېڅ يو په مينځ کې فرق نه کوو او مونږ خاص د

مُسْلِمُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَ مَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ

هغه (الله) حکم منونکي يو(84) اوڅوك چې له

الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَ هُوَ

اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به له ده نه قبول نه کړی شي او دغه

فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ كَيْفَ

کس په اخرت کې له تاوانيانو څخه دی(85) الله به

يَهْدِى اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ

داسې قوم څنګه په سمه لار روان کړي چې له خپل ایمان راوړو نه بعد (بیا) کافر شول،

اِيْمَانِهِمْ وَ شَهِدُوْٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ

حال دا چې دوی ګواهي ورکړې وه چې بېشکه دا رسول

حَقٌّ وَّ جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ وَاللّٰهُ لَا

حق دی او دوی ته ښکاره معجزې (هم) راغلې وې او الله (داسې)

يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٦﴾ اُولٰٓئِكَ

ظالمو خلقو ته سمه لار نه ښيي(86) دغه خلق، د

جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَ

دوی جزا دا ده چې یقیناً په دوی باندې د الله لعنت دی او

الْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٧﴾

د ملايکو او د خلقو، د ټولو (لعنت دی)(87)

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ

چې همېشه به وي په دې (لعنت) کې، له دوی نه
به نه عذاب سپکولی شي او

الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا

نه به دوی ته مهلت ورکول کېږي(88) مګر هغه

الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

کسان چې له دې نه بعد توبه وباسي او دځان
اصلاح وکړي، نو

وَاَصْلَحُوْا ۪ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٨٩﴾

يقينًا الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی(
(89

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ

بېشکه هغه کسان چې له خپل ایمان راوړو نه بعد

ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ۚ وَ

کافر شول، بیا په کفر کې (ترځنکدنه) مخ په وړاندې لاړل، (نو) د هغوی توبه به له سره نه

اُولٰٓئِكَ هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿۹۰﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

قبلېږي او همدغه کسان گمراهان دي(90) بېشکه هغه کسان

كَفَرُوْا وَ مَاتُوْا وَ هُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ

چې کافر شوي دي او په داسې حال کې مړه شول چې کافران وو، نو کله

يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ

به هم قبول نه کړی شي د هغوی له هېڅ یو تن نه ډکه ځمکه سره

ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدٰى بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ

زر اگر که هغه يې د ځان خلاصي په بدل کې ورکړي، دغه کسان، د دوی لپاره ډېر

عَذَابٌ اَلِيْمٌ وَّ مَا لَهُمْ مِّنْ

دردوونکی عذاب دی او د دوی لپاره به هيڅوک مدد

ع 17

نّٰصِرِيْنَ ﴿٩١﴾

کوونکي نه وي(91)

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا

تاسو به (پوره) نېکي ته له سره ونه رسېږئ تر هغه پورې چې له هغه ( څيز) نه څه حصه خرچ کړئ

تُحِبُّوْنَ ۬ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ

چې تاسو يې خوښوئ، او تاسو چې څه څيز هم خرچ کوئ، نو بېشکه

اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۹۲﴾ كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا

الله په هغه ښه عالم دی -92- د خوراك ټول شيان د

لِّبَنِیْۤ اِسْرَآءِيْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ

بني اسرائيلو لپاره حلال وو، مګر هغه (شيان) چې

اِسْرَآءِيْلُ عَلٰى نَفْسِهٖ مِنْ قَبْلِ

اسرائيل (يعقوب) په ځان باندې بند کړي وو، مخکې له

اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا

دي چې تورات نازل کړی شي، ته ووايه: نو

بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَاۤ اِنْ كُنْتُمْ

تورات راوړئ، بیا هغه ولولئ، که تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

رښتوني يئ -93- نو هغه چا چې له دې نه بعد په الله باندې

الْكَذِبَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

دروغ ووېل، نو همدغه کسان

الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ ۫ فَاتَّبِعُوْا

ظالمان دي -94- ته ووايه: الله رښتيا وَيلي دي،

مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَ مَا كَانَ مِنَ

پس د ابراهيم د ملت تابع شئ، چې حنيف (پوخ توحيد والا) و او له مشركانو

الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۵﴾ اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ

څخه نه و -95- بېشكه اول كور چې د خلقو لپاره جوړ كړى شوى دى،

لِلنَّاسِ لَلَّذِىْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّ هُدًى

خامخا هغه دى چې په مكه كې دى، چې ډېر بركتي دى او د عالَمونو لپاره

لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۶﴾ فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ

هدايت دى -96- په هغه كې ښې واضحې نښې دي،

اِبْرٰهِيْمَ ۚ۬ وَ مَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ وَ

چې (يوه په كې) مقامِ ابراهيم دى او څوك چې په هغه (كورَ) كې داخل شي،

لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الۡبَيۡتِ مَنِ

(نو) هغه په امن شي، او خاص د الله لپاره په خلقو باندې د (هغه د) كور حج كول فرض دي،

اسۡتَطَاعَ اِلَيۡهِ سَبِيۡلًا ؕ وَمَنۡ كَفَرَ

په هغه چا باندې چې هغه ته د لارې وسَ ولري او څوك چې كافر شه، نو بېشكه

فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِىٌّ عَنِ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۹۷﴾ قُلۡ

الله له مخلوقاتو نه بېخي پروا دى -97- (اى نبي!) ته ووايه:

يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لِمَ تَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ

اى اهلِ كتابو! تاسو د الله په ايتونو ولې كافر كېږئ، حال دا

اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ شَهِيۡدٌ عَلٰى مَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۸﴾

چې الله ستاسو په عملونو باندې گواه دى -98-

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ

(اى نبي!) ته ووايه: اى اهلِ كتابو! تاسو د الله له

سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا

لارې نه هغه څوك ولې منع كوئ چې ايمان راوړي؟ تاسو په هغې (لاره) كې كوږوالى لټوئ،

وَّ اَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ وَ مَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ

حال دا چې تاسو ګواهان يئ او تاسو چې څه عمل كوئ، الله له هغه (عمل) نه كله هم

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

غافل نه دى -99- اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى!

اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

كه چېرې تاسو په اهلِ كتابو كې د يوې ډلې خبره

الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ

ومنئ (، نو) هغه به تاسو لره ستاسو له ايمان راوړو نه پس بيا

كٰفِرِيْنَ ﴿١٠٠﴾ وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَاَنْتُمْ

کافران کړي -100- او تاسو څنګه کافر کېږئ، او تاسو

تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ

چې يئ، تاسو ته د الله ايتونه تلاوت کېږي او په تاسو کې د

رَسُوْلُهٗ ؕ وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ

هغه رسول (هم موجود) دی او چا چې په (دين د الله منګولې ښخې کړې،

ع 1

هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٠١﴾ ؑ يٰۤاَيُّهَا

نو په رښتيا سره هغه په نېغه لار روان کړی شو - 101- ای هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَ

کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له الله نه
ووېرېږئ، څنګه چې له هغه نه د وېرېدلو حق دی

لَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

او تاسو مه مرئ مګر په دې حال کې چې تاسو
مسلمانان يئ -102-

وَ اعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّ لَا

او تاسو د الله په رسۍ (تړول) په جمع سره منګولې
ښخې کړئ او سره بېلېږئ مه

تَفَرَّقُوْا ۪ وَ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ

او د الله (هغه) نعمتونه را ياد کړئ چې پر تاسو
باندې شوي دي،

عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ

کله چې تاسو دښمنان وَئ، بيا الله ستاسو د زړونو

قُلُوۡبِكُمۡ فَاَصۡبَحۡتُمۡ بِنِعۡمَتِهٖۤ

تر مينځ جوړښت راوسته، نو د هغه په (دې) نعمت سره

اِخۡوَانًا‌ۚ وَكُنۡتُمۡ عَلٰى شَفَا حُفۡرَةٍ مِّنَ

تاسو ورونه شوئ او تاسو له اور نه د ډکې کندې په غاړه وَئ،

النَّارِ فَاَنۡقَذَكُمۡ مِّنۡهَا‌ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ

نو تاسو یې له هغه نه وژغورلئ، همدارنګه الله تاسو ته خپل ایتونه بیانوي،

اللّٰهُ لَكُمۡ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۰۳﴾

د دې لپاره چې تاسو نېغه لار وموموئ -103-

وَلۡتَكُنۡ مِّنۡكُمۡ اُمَّةٌ يَّدۡعُوۡنَ اِلَى

او لازم ده چې په تاسو کې دې يوه داسې ډله وي

الۡخَيۡرِ وَيَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ

چې د خير طرف ته بلنه کوي او د نېکۍ حکم کوي او له

وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ ؕ وَاُولٰٓـئِكَ هُمُ

بدۍ نه منع کوي، او همدغه خلق پوره

الۡمُفۡلِحُوۡنَ ۝١٠٤ وَلَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِيۡنَ

کامياب دي -104- او تاسو د هغو خلقو په شان

تَفَرَّقُوۡا وَاخۡتَلَفُوۡا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا

مه کېږئ چې بېل بېل شول او هغو ته د واضحو دلايلو له

جَآءَهُمُ الۡبَيِّنٰتُ ؕ وَاُولٰٓـئِكَ لَهُمۡ

راتلو نه پس (هم) په خپلو کې مختلف شول، او دغه خلق (چې دي)، د هغوی

عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۰۵﴾ يَّوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوۡهٌ

لپاره ببڅي لوى عذاب دى -105- په هغې ورځ
كې چې څه

وَّ تَسۡوَدُّ وُجُوۡهٌ ۚ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ اسۡوَدَّتۡ

مخونه به تك سپين وي او څه مخونه به تك تور
وي، نو هر چې هغه كسان دي چې د

وُجُوۡهُهُمۡ ۚ اَكَفَرۡتُمۡ بَعۡدَ اِيۡمَانِكُمۡ

چا مخونه به تك تور وي، (هغوى ته به ويلى شي)
ايا تاسو د خپل ايمان نه

فَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ بِمَا كُنۡتُمۡ

پس كافر شوي وَئ، نو عذاب وڅكئ د هغه كفر
په بدل كې چې تاسو

تَكۡفُرُوۡنَ ﴿۱۰۶﴾ وَاَمَّا الَّذِيۡنَ ابۡيَضَّتۡ

به كاوه -106- او پاتې شو هغه كسان چې د
هغوى مخونه به تك سپين وي،

وُجُوۡهُهُمۡ فَفِيۡ رَحۡمَةِ اللّٰهِ ؕ هُمۡ فِيۡهَا

نو (هغوی) به د الله په مهربانۍ کې وي، دوی به په هغې کې

خٰلِدُوۡنَ ﴿۱۰۷﴾ تِلۡكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتۡلُوۡهَا

همېشه وي -107- دا د الله ایتونه دي، چې مونږه يې تا ته

عَلَيۡكَ بِالۡحَقِّ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيۡدُ ظُلۡمًا

په حقه سره لولو او الله په عالَمونو باندې د ظلم کولو اراده

لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۰۸﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

نه لري -108- او خاص د الله لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي

فِي الۡاَرۡضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرۡجَعُ

او هغه څه چې په ځمکه کې دي او خاص د الله په طرف (ټول) کارونه

ع
2

اۡلاُمُوۡرُ ﴿۱۰۹﴾ كُنۡتُمۡ خَيۡرَ اُمَّةٍ اُخۡرِجَتۡ

ورگرځولی شي -109- تاسو غوره امت یئ چې د

لِلنَّاسِ تَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ

خلقو لپاره پیدا کړی شوي یئ، تاسو د نېکۍ حکم کوئ او

تَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ وَتُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ ؕ

له بدۍ نه منع کوئ او په الله باندې ایمان راوړئ،

وَلَوۡ اٰمَنَ اَهۡلُ الۡكِتٰبِ لَكَانَ خَيۡرًا

او که چېرې اهلِ کتابو ایمان راوړی وَی، نو دا به د هغوی

لَّهُمۡ ؕ مِنۡهُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ وَاَكۡثَرُهُمُ

لپاره ډېر ښه و، له دوی نه ځینې اِیمان راوړونکي دي او د دوی اکثره فاسقان

الۡفٰسِقُوۡنَ ﴿۱۱۰﴾ لَنۡ يَّضُرُّوۡكُمۡ اِلَّآ اَذًى ؕ

(بدکاران) دي -110- دوی هیڅکله هم تاسو ته ضرر نشي

وَاِنۡ يُّقَاتِلُوۡكُمۡ يُوَلُّوۡكُمُ الۡاَدۡبَارَ ۚ

دررسولی مګر لږ (د ژبې) تکلیف، او که دوی له تاسو سره جنګ شروع کړي (نو) تاسو ته به

ثُمَّ لَا يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۱۱۱﴾ ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ

شاګانې درواړوي، بیا به له دوی سره مرسته نه کېږي -111- په دوی باندې

الذِّلَّةُ اَيۡنَ مَا ثُقِفُوۡۤا اِلَّا بِحَبۡلٍ مِّنَ

ذلت مسلط کړی شوی دی، هر ځای چې دوی وموندلی شي، مګر (دا چې دوی منګولې ولګوي)

اللّٰهِ وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوۡ

د الله په رسۍ او د خلقو په رسۍ او دوی راستانه

بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ

شول په هغه غضب سره چې د الله له طرف نه و،

الۡمَسۡكَنَةُ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ كَانُوۡا

او په دوی باندې محتاجي مسلط کړی شوه، دا په

يَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ يَقۡتُلُوۡنَ

دې چې يقينًا دوی د الله له ايتونو نه انکار کاوه

الۡاَنۡۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقٍّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا

او نبيان يې ناحقه وژل، دا په دې وجه

عَصَوۡا وَّ كَانُوۡا يَعۡتَدُوۡنَ ۝١١٢

چې دوی نافرماني کوله او دوی زياتی کاوه -

-112

لَيْسُوْا سَوَآءً ؕ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ

دوی يو شان نه دي، په اهلِ كتابو كې يوه ډله ده

قَآئِمَةٌ يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّيْلِ وَ

قايمه، چې د شپې په ساعتونو كې د الله ايتونه تلاوت كوي او

هُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

هغوی سجدې كوي -113- په الله او د اخرت په

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَاْمُرُوْنَ

ورځ ايمان راوړي او د نېكۍ حكم

بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

كوي او له بدۍ نه منع كوي،

وَيُسَارِعُوۡنَ فِي الۡخَيۡرٰتِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ

او په نېکيو کې له يو بل نه تلوار کوي
او دغه کسان له

مِنَ الصّٰلِحِيۡنَ ۝١١٤ وَمَا يَفۡعَلُوۡا مِنۡ

صالحانو څخه دي -114- او هغوی چې څه نېکي

خَيۡرٍ فَلَنۡ يُّكۡفَرُوۡهُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ

هم وکړي، نو هيڅکله به هم د هغوی د دې (عمل)
ناقدري ونه کړی شي او الله په

بِالۡمُتَّقِيۡنَ ۝١١٥ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَنۡ

پرهېزګارانو ښه پوه دی -115- بېشکه هغه کسان
چې کفر يې کړی دی،

تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ اَمۡوَالُهُمۡ وَلَاۤ اَوۡلَادُهُمۡ

هېڅ کله به هم د هغوی مالونه او اولادونه له دوی

مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

ځخه د الله (له عذاب) نه هېڅ شی لرې نه کړی
شي، او دغه کسان د اور والا دي، دوی به

النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ مَثَلُ مَا

په هغه (اور) کې همېشه وي -116- مثال د هغه

يُنْفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

شي چې دوی يې په دې دنيايي ژوند کې خرچ
کوي

كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ اَصَابَتْ حَرْثَ

د هغه باد په شان دی چې په هغه کې سخته يخني
وي، د داسې خلقو فصل ته

قَوْمٍ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ؕ وَ مَا

ورسي چې په خپلو ځانونو يې ظلم کړی وي، نو
دا (باد) هغه (فصل) تباه کړي،

ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ

او الله پر هغوی ظلم نه دی کړی او لیکن هغوی (پخپله) په خپلو ځانونو

يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا

ظلم کاوه -117- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا

له خپلو (مسلمانانو) نه غیر (بل څوك) رازدار دوست مه جوړوئ،

يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ط وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ج

دوی تاسو ته په نقصان رسولو کې هېڅ کمی نه کوي، دوی هر هغه څه خوښوي چې تاسو په

قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ صلے وَ

تکلیف کې اچوي، یقینًا د دوی له خولو څخه (کینه او) بغض ښکاره شوی دی او هغه (بغض)

مَا تُخۡفِيۡ صُدُوۡرُهُمۡ اَكۡبَرُ ؕ قَدۡ بَيَّنَّا

چې د دوی سينې يې پټوي (هغه) ډېر لوی دی، يقيناً مونږه تاسو لپاره ايتونه ښه واضحه بيان کړي

لَكُمُ الۡاٰيٰتِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۱۸﴾

دي، که چېرې يئ تاسو چې له عقل نه کار اخلئ -118-

هٰۤاَنۡتُمۡ اُولَآءِ تُحِبُّوۡنَهُمۡ وَلَا

ګورئ! تاسو هغه خلق يئ چې له هغو (اهل کتابو) سره مينه کوئ

يُحِبُّوۡنَكُمۡ وَتُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ

او هغوی له تاسو سره مينه نه کوي او تاسو په ټولو کتابونو ايمان راوړئ

وَاِذَا لَقُوۡكُمۡ قَالُوۡۤا اٰمَنَّا ۖۚ وَاِذَا خَلَوۡا

او کله چې دوی له تاسو سره ملاقات وکړي، (نو) وايي: مونږ ايمان راوړی دی، او کله چې يواځې

عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ؕ

شي، نو تاسو ته د غصې له وجې نه د ګوتو سرونه
چيچي،

قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ

(ورته) ووايه: په خپلې غصې سره مړه شئ، بېشکه
الله ښه پوه دی په هغو (خبرو) چې په

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۱۹﴾ اِنْ تَمْسَسْكُمْ

سينو (زړونو) کې دي -119- که چېرې تاسو ته
څه ښېګڼه درورسېږي،

حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۫ وَاِنْ تُصِبْكُمْ

نو هغه دوی لره خفه کوي او که چېرې تاسو ته
څه بدي (تکليف) درورسيږي، نو دوی په هغې

سَيِّئَةٌ يَّفْرَحُوْا بِهَا ؕ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَ

باندې خوشحالېږي او که تاسو صبر وکړئ او (د
دوی له دوستۍ نه) ځان وساتئ (نو) د هغوی چل

تَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ۭ

(او فريب) به تاسو ته هېڅ ضرر هم در ونه رسولی شي، بېشکه چې الله د

ع 3

اِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿١٢٠﴾ وَاِذْ

هغو کارونو چې دوی يې کوي، بنه احاطه کوونکی دی -120- او (ياد کړه هغه وخت)

غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ

کله چې د ورځې په اوله حصه کې له خپل تبره راووتلې،

مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ

چې د جنګ لپاره دې مومنان په (خپلو) ځايونو باندې کېنول، او الله بنه اورېدونکی،

عَلِيْمٌ ﴿١٢١﴾ اِذْ هَمَّتْ طَّاۗىِٕفَتٰنِ مِنْكُمْ اَنْ

بنه پوه دی -121- کله چې له تاسو څخه دوه ډلو

تَفۡشَلَا ۙ وَ اللّٰهُ وَلِيُّهُمَا ؕ وَ عَلَى

د دي اراده وکړه چې بې زړه (بُزدله) شي او الله د
هغو دواړو دوست و، او لازم ده چې مومنان

اللّٰهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ۝۱۲۲ وَ لَقَدۡ

خاص په الله باندې توکل وکړي -122- او خامخا

نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدۡرٍ وَّ اَنۡتُمۡ اَذِلَّةٌ ۚ

په رښتیا سره الله په بدر کې ستاسو مدد کړی دی،
حال دا چې تاسو ډېر کمزوري (او لږ) وئ، نو له

فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۝۱۲۳ اِذۡ

الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو شکر
وباسئ -123- کله چې

تَقُوۡلُ لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ اَلَنۡ يَّكۡفِيَكُمۡ اَنۡ

تا مومنانو ته ویل: ایا تاسو ته به دا کافي نه شي
چې ستاسو

يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ

رب په درې زره نازل کړی شویو ملایکو سره

الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿١٢٤﴾ بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا

ستاسو مدد وکړي! -124- ولې نه! که تاسو صبر

وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ

وکړئ او پرهېزګاره شئ او هغوی پر تاسو باندې

هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ

په خپل جوش سره په تېزۍ حمله وکړي، (نو) دا
دی چې ستاسو رب به په پنځه زره علامې لرونکو

الربع

مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا

ملایکو سره ستاسو مدد وکړي -125- او الله دا

جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَ

(مدد) نه دى گرځولى مگر ستاسو لپاره زېرى او

لِتَطْمَىٕنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ؕ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا

لپاره د دې چې ستاسو زړونه په دې مطمئن شي
او نه دى مدد مگر

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۙ۝۱۲۶

د الله له جانبه، چې ډېر غالب، ډېر حكمت والا
دى -126-

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْ

لپاره د دې چې هغه هلاك كړي يو ټولى د هغو
كسانو چې كفر يې كړى دى، يا يې ذليله

يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَآىٕبِيْنَ ۝۱۲۷ لَيْسَ

(خواروزار) كړي، پس چې بېرته محرومه، نامراده
لاړ شي -127- تا لپاره

لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ

په دي کار کې هېڅ شی (اختيار) نشته، يا به هغه (الله) په دوی باندې په مهربانۍ سره راوګرځي،

اَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿١٢٨﴾ وَلِلّٰهِ

يا به دوی ته عذاب ورکړي، ځکه چې يقينًا دوی ظالمان دي -128- او خاص د الله

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ط

لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي،

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ط

هغه بخښنه کوي چا لپاره چې وغواړي او چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي او الله ډېر

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢٩﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

ع 4

بخښونکی، بې حده مهربان دی -129- ای هغو کسانو

اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰۤوا اَضْعَافًا

چې ایمان يې راوړی دی! تاسو سود مه خورئ چې څو

مُّضٰعَفَةً ۪ وَّ اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ

چنده دوه گونه کړی شوی وي او له الله نه ویرېږئ، د دې لپاره چې

تُفْلِحُوْنَ ۝١٣٠ وَ اتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْۤ

تاسو کامیاب شئ -130- او له هغه اور نه ځان

اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِیْنَ ۝١٣١ وَ اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَ

وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی دی -131- او د الله او د رسول اطاعت کوئ،

الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝١٣٢

لپاره د دې چې په تاسو رحم وکړی شي، -132-

وَسَارِعُوۡۤا اِلٰى مَغۡفِرَةٍ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَ

او تاسو له يو بل نه تلوار كوئ هغه (مغفرت) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او

جَنَّةٍ عَرۡضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُۙ

داسې جنت ته چې د هغه پلن والى د اسمانونو او د ځمكې (په اندازه) دى، د پرهېزگارانو

اُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِيۡنَۙ ۝١٣٣ الَّذِيۡنَ يُنۡفِقُوۡنَ

لپاره تيار كړى شوى دى -133- هغه كسان چې انفاق كوي

فِى السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالۡكٰظِمِيۡنَ

په اسانۍ او تنگۍ كې او خصوصًا چې غصې

الۡغَيۡظَ وَالۡعَافِيۡنَ عَنِ النَّاسِؕ وَ

لره زغمونكي وي او خلقو ته معافي كوونكي وي

ٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾ وَٱلَّذِينَ

او الله نېكي كوونكي خوښوي -134- او هغه كسان

إِذَا فَعَلُوا۟ فَٰحِشَةً أَوْ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ

چې كله څه فاحش كار وكړي، يا په خپلو ځانونو (بل) ظلم وكړي

ذَكَرُوا۟ ٱللَّهَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ لِذُنُوبِهِمْ

(نو) الله ياد كړي، (او) ورپسې د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي،

وَمَن يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمْ

او بل څوك دی چې ګناهونه وبخښي غير له الله نه؟

يُصِرُّوا۟ عَلَىٰ مَا فَعَلُوا۟ وَهُمْ

او څه چې دوی كړي وي په هغې اصرار (ټينګار) و نه كړي، په دې حال كې چې دوی

يَعْلَمُوْنَ ۝١٣٥ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ

پوهېږي -135- دغه کسان (چې دي) د دوی بدله

مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ جَنّٰتٌ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا

د خپل رب له جانبه بخښنه ده او داسې جنتونه دي،

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَنِعْمَ اَجْرُ

چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې په هغو کې به دوی همېشه وي، او د (ښه) عمل کوونکو

الْعٰمِلِيْنَ ۝١٣٦ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ

(لپاره) ښه اجر دی -136- بېشکه له تاسو مخکې

سُنَنٌ ۙ فَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا

ډېرې طريقې (او پېښې) تېرې شوي دي، نو تاسو په ځمکه کې وګرځئ، بيا وګورئ

كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۱۳۷﴾

چې د دروغ ګڼونکو انجام څنګه و؟ -137-

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَ هُدًى وَّ مَوۡعِظَةٌ

دا د خلقو لپاره بيان دی او د پرهېزګارانو لپاره لارښوونه او

لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۳۸﴾ وَلَا تَهِنُوۡا وَلَا تَحۡزَنُوۡا وَ

نصيحت دی -138- او تاسو مه کمزوري کېږئ او مه غمژن کېږئ،

اَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ اِنۡ كُنۡتُمۡ

په دې حال کې چې هم تاسو به غالبه يئ، (خو) که تاسو

مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۳۹﴾ اِنۡ يَّمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٌ

مومنان يئ -139- که چېرې تاسو ته څه زخم رسېږي،

فَقَدۡ مَسَّ الۡقَوۡمَ قَرۡحٌ مِّثۡلُهٗ ؕ وَتِلۡكَ

نو يقينًا (كافر) قوم ته (هم) د دې په شان زخم رسېدلی دی

الۡاَیَّامُ نُدَاوِلُهَا بَیۡنَ النَّاسِ ۚ وَ

او دا ورځې (حادثې) دي چې مونږه يې د خلقو په مينځ کې

لِیَعۡلَمَ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَیَتَّخِذَ

په وار سره اړوو راړوو او لپاره د دې چې الله

مِنۡكُمۡ شُهَدَآءَ ؕ وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ

مومنان معلوم کړي او له تاسو څخه شهيدان واخلي او الله له ظالمانو سره

الظّٰلِمِیۡنَ ۙ﴿۱۴۰﴾ وَلِیُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ

مينه نه کوي -140- او لپاره د دې چې الله

آمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٤١﴾ اَمْ

مومنان ښه پاك كړي او كافران ختم (او) نابوده
كړي -141- ايا تاسو

حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا

دا گمان كوئ چې تاسو به جنت ته داخل شئ،
حال دا چې لا تر اوسه

يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَ

الله په تاسو كې هغه كسان نه دي معلوم (څرگند)
كړي چې جهاد يې كړى دى، او د دې لپاره چې

يَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٤٢﴾ وَلَقَدْ كُنْتُمْ

هغه صبر كوونكي معلوم كړي -142- او خامخا په

تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَلْقَوْهُ ۖ

ربښتيا سره تاسو د مرگ ارزو كوله، له دې (مرگ)
سره له مخامخ كېدو نه مخكې،

ع
5

فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿١٤٣﴾

نو يقينًا تاسو هغه وليده، په داسې حال کې چې تاسو کتل -143-

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ

او محمد نه دی مګر يو رسول، بېشکه له ده نه

قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ اَفَاۡئِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ

مخکې رسولان تېر شوي دي، ايا نو که چېرې دی مړ شي، يا ووژل شي

انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ؕ وَمَنْ

(، نو) تاسو به بېرته په شا لاړ شئ او څوک چې بېرته په شا لاړ شي،

يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ

نو هغه به الله ته هيڅکله هم څه زيان ونه رسولی شي

شَيْـًٔا ؕ وَ سَيَجْزِی اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾

او الله به خامخا شکر گذارو ته بدله (ثواب) ورکړي -144-

وَ مَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ

او هيڅ يو نفس لره دا اختيار نشته چې (پخپله) مړ شي مګر

اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ وَ مَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ

د الله په ارادې سره، ليکلی مقرر وخت دی، او څوک چې

الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَ مَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ

د دنيا بدله غواړي، (نو) مونږ به له دې (دنيا) نه هغه ته (بدله) ورکړو او څوک چې د اخرت ثواب

الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ وَ سَنَجْزِی

غواړي، (نو) هغه ته به يې له دې (اخرت) نه ورکړو، نژدې ده چې مونږ به شکر

الشّٰكِرِيۡنَ ﴿١٤٥﴾ وَكَاَيِّنۡ مِّنۡ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ

گذارو ته ښه بدله ورکړو -145- او ډېر پیغمبران
(تېر شوي) دي

مَعَهٗ رِبِّيُّوۡنَ كَثِيۡرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوۡا لِمَاۤ

چې د هغوی په ملګرتيا کې ډېرو رباني (خدايي)
خلقو جنګ کړی دی،

اَصَابَهُمۡ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوۡا وَ

نو نه هغوی د هغه مصيبت په سبب سستي وکړه
چې پر هغوی باندې د الله په لار کې راغلی و او

مَا اسۡتَكَانُوۡا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

نه يې کمزورتيا ښکاره کړه او نه ټيټ شول، او الله
له صبرکوونکو سره

الصّٰبِرِيۡنَ ﴿١٤٦﴾ وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ اِلَّاۤ

مينه کوي -146- او د هغوی وينا له دې نه غير

اَنۡ قَالُوۡا رَبَّنَا اغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَا وَ

بلہ نہ وہ چې ویل بہ یې: ای زمونږه ربه! مونږ ته زمونږ ګناهونه او په خپل کار کې

اِسۡرَافَنَا فِیۡۤ اَمۡرِنَا وَ ثَبِّتۡ اَقۡدَامَنَا وَ

زمونږه اسراف کول (له حد نه تېرېدل) وبخښه او زمونږه (پښې) قدمونه

انۡصُرۡنَا عَلَی الۡقَوۡمِ الۡکٰفِرِیۡنَ ﴿۱۴۷﴾

ټینګ کړه او د کافر قوم په مقابله کې زمونږ مدد وکړه -147-

فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنۡیَا وَ حُسۡنَ

نو الله هغوی ته ددنیا بدله او د اخرت ښکلی

ثَوَابِ الۡاٰخِرَةِ ؕ وَ اللّٰهُ یُحِبُّ

ثواب ورعطا کړاو الله له نېکي کوونکو سره

ع
6

الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۱۴۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا

مينه كوي -148- اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى!

اِنۡ تُطِيۡعُوا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا يَرُدُّوۡكُمۡ

كه چېرې تاسو د كافر شويو كسانو خبره ومنئ (، نو) هغوى به تاسو (له دين نه)

عَلٰٓى اَعۡقَابِكُمۡ فَتَنۡقَلِبُوۡا خٰسِرِيۡنَ ﴿۱۴۹﴾

په شا وګرځوي، بيا به تاسو داسې شئ چې تاوانيان به يئ -149-

بَلِ اللّٰهُ مَوۡلٰٮكُمۡ‌ ۚ وَهُوَ خَيۡرُ

بلكې الله ستاسو مددګار دى او هغه تر ټولو ښه مدد

النّٰصِرِيۡنَ ﴿۱۵۰﴾ سَنُلۡقِىۡ فِىۡ قُلُوۡبِ الَّذِيۡنَ

كوونكى دى -150- ژر ده چې مونږ به د هغو كسانو په زړونو كې

كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا

رعب واچوو چې کافران شوي دي، په سبب د دې چې دوی له

بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ وَ

الله سره هغه شی شریك کړی دی چې هغه (الله) په دې هېڅ دلیل نه

مَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۗ وَبِئْسَ مَثْوَى

دی نازل کړی، او د دوی استوګنځای اور دی او هغه د ظالمانو بد

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ

اوسېدنځای دی -151- او خامخا یقینًا الله تاسو ته خپله

وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا

وعده رښتیا کړله، کله چې تاسو هغوی وژل د هغه (الله) په حکم سره، تر دې

فَشِلۡتُمۡ وَ تَنَازَعۡتُمۡ فِی الۡاَمۡرِ وَ

چې تاسو بې زړه شوئ او د کار په باره کې مو په

عَصَیۡتُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ مَاۤ اَرٰىکُمۡ مَّا

خپلو کې اختلاف وکړ او نافرماني مو وکړه، وروسته له دې چې هغه (الله) تاسو ته هغه څه

تُحِبُّوۡنَ ؕ مِنۡکُمۡ مَّنۡ یُّرِیۡدُ الدُّنۡیَا وَ

دروښودل چې تاسو خوښول، په تاسو کې ځینې هغه څوك دي چې دنیا غواړي او

مِنۡکُمۡ مَّنۡ یُّرِیۡدُ الۡاٰخِرَۃَ ۚ

ځینې په تاسو کې هغه څوك دي چې اخرت غواړي،

ثُمَّ صَرَفَکُمۡ عَنۡهُمۡ لِیَبۡتَلِیَکُمۡ ۚ وَ

بیا هغه (الله) تاسو له هغوی نه واړولئ، د دې لپاره چې

لَقَدۡ عَفَا عَنۡكُمۡ ؕ وَ اللّٰهُ ذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى

تاسو و ازمايي، او خامخا په رښتيا سره يې تاسو معاف کړئ، او الله په مومنانو باندې د لوی فضل

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۵۲﴾ اِذۡ تُصۡعِدُوۡنَ وَ لَا تَلۡوٗنَ

کولو والا دی -152- کله چې تاسو په بره په منډه روان وئ

عَلٰۤى اَحَدٍ وَّ الرَّسُوۡلُ يَدۡعُوۡكُمۡ فِىۡۤ

او تاسو هيچا ته مخ هم نه را اړولو او رسول ستاسو شا ته تاسو

اُخۡرٰىكُمۡ فَاَثَابَكُمۡ غَمًّاۢ بِغَمٍّ لِّكَيۡلَا

ته اوازونه کول، نو (د دې) په بدل کې يې تاسو ته غم له پاسه غم درکړ،

تَحۡزَنُوۡا عَلٰى مَا فَاتَكُمۡ وَ لَا مَاۤ

د دې لپاره چې تاسو غمژن نشئ په هغه شي چې

اَصَابَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا

له تاسو نه پاتې شو او نه په هغه شي چې تاسو ته
دروړسېده، او الله ستاسو په عملونو ښه

تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْۢ

خبردار دی -153- بیا یې له دغه غم نه پس پر

بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى طَآئِفَةً

تاسو باندې امن (اطمینان) نازل کړ، چې پرکالي
وه، چې ستاسو

مِّنْكُمْ ۙ وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ

یوه ډله یې لاندې کړې وه او بله ډله وه چې یقینًا

اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ

هغوی (فکرونو د) خپلو ځانونو غمژن کړي وو، په

الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ؕ يَقُوْلُوْنَ هَلْ

داسې حال کې چې هغوی په الله باندې ناحقه
ګمان کاوه، د جاهلیت ګمان، هغوی ویل:

لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَیْءٍ ؕ

ایا په دې کار کې مونږ له هم څه برخه شته؟

قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ يُخْفُوْنَ فِیْۤ

ته ووایه: بېشکه (د) کار ټول (اختیار) خاص الله
لره دی،

اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا يُبْدُوْنَ لَكَ ؕ

دوی په خپلو نفسونو کې هغه خبرې پټوي،

يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ

چې تا ته يې نه ښکاره کوي، دوی وايي: که مونږ

مَّا قُتِلۡنَا هٰهُنَا ؕ قُلۡ لَّوۡ كُنۡتُمۡ

لره له دې کاره څه حصه وَی (، نو) مونږ به دلته نه وژل کېدلو، ـته (ورته)ووایه: که چېرې تاسو

فِیۡ بُیُوۡتِكُمۡ لَبَرَزَ الَّذِیۡنَ كُتِبَ

په خپلو کورونو کې وَی (، نو) هغه کسان به

عَلَیۡهِمُ الۡقَتۡلُ اِلٰی مَضَاجِعِهِمۡ ۚ

خامخا خپلو د غورځېدو ځایونو ته راوتلي وو، د چا چې وژل کېدل لیکل شوي وو

وَلِیَبۡتَلِیَ اللّٰهُ مَا فِیۡ صُدُوۡرِكُمۡ وَ

(او دا کار الله تعالٰی وکړ) د دې لپاره چې الله هغه څه و ازمایي چې ستاسو په سینو کې دي او

لِیُمَحِّصَ مَا فِیۡ قُلُوۡبِكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ

ښه پاك کړي هغه څه چې ستاسو په زړونو کې دي او الله

عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۱۵۴﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ

ښه عالم دى په هغو خبرو چې په سينو كې پرتې دي -154- بېشكه هغه كسان

تَوَلَّوۡا مِنۡكُمۡ يَوۡمَ الۡتَقَى الۡجَمۡعٰنِ ۙ

چې له تاسو نه په هغې ورځې كې (له جنگ نه) وگرځېدل (كله)

اِنَّمَا اسۡتَزَلَّهُمُ الشَّيۡطٰنُ بِبَعۡضِ مَا

چې دوه ډلې يو بل ته مخامخ شولې، بېشكه همدا خبره ده چې شيطان دوى د خپلو ځينو (د گناه د)

كَسَبُوۡا ۚ وَلَقَدۡ عَفَا اللّٰهُ عَنۡهُمۡ ؕ اِنَّ

عملونو په وجه ښويولي وو، او خامخا يقينًا الله دوى ته معافي كړې ده، بېشكه الله ډېر

ع
7

اللّٰهَ غَفُوۡرٌ حَلِيۡمٌ ﴿۱۵۵﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

بخښونكى، ډېر تحمل والا دى -155- اى هغو كسانو چې

اٰمَنُوۡا لَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَ

ايمان يې راوړى دى! تاسو د هغو كسانو په شان مه كېږئ، چې كافران شوي دي او

قَالُوۡا لِاِخۡوَانِهِمۡ اِذَا ضَرَبُوۡا فِى

د خپلو ورونو په باره كې به يې ويل، كله چې به هغوى

الۡاَرۡضِ اَوۡ كَانُوۡا غُزًّى لَّوۡ كَانُوۡا

په ځمكه كې په سفر تلل، يا به هغوى غزا كوونكي وو: كه چېرې دوى له مونږ سره وَى (،

عِنۡدَنَا مَا مَاتُوۡا وَ مَا قُتِلُوۡا ۚ

نو) نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو، لپاره د دې

لِيَجۡعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسۡرَةً فِىۡ

چې الله (د دوى) دا (ګمان) د دوى په زړونو كې (د) حسرت

قُلُوْبِهِمْ ؕ وَ اللّٰهُ يُحْيٖ وَ يُمِيْتُ ؕ وَ اللّٰهُ

(او افسوس باعث) وګرځوي او الله ژوندي کول
او مړه کول کوي، او الله هغو عملونو لره، چې

بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۵۶﴾ وَ لَئِنْ قُتِلْتُمْ

تاسو يې کوئ، ښه ليدونکی دی -156- او قسم
دی، خامخا

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ

که تاسو د الله په لار کې ووژل شئ، يا مړه شئ
(نو) خامخا د الله له طرفه نه بخښنه او رحمت

اللّٰهِ وَ رَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۱۵۷﴾

ډېر غوره دی له هغو (مالونو) نه چې دوی يې
جمع کوي -157-

وَ لَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِالَى اللّٰهِ

او خامخا که چېرې تاسو مړه شئ، يا ووژل شئ،
(نو) خامخا خاص د الله په طرف

تُحْشَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

به تاسو راجمع کړی شئ -158- نو (یواځې) د الله د رحمت په

لِنْتَ لَهُمْ ۚ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ

سبب ته د دوی لپاره نرم یې او که چېرې ته بدخویَه،

الْقَلْبِ لَا نْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ

سخت زړی وَی (، نو) خامخا دوی به ستا له چاپېره نه خواره شوي وو،

عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي

نو دوی ته معافي کوه، او د دوی لپاره بخښنه غواړه،

الْاَمْرِ ۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى

او له دوی سره په کار کې مشوره کوه، بیا چې کله ته پخه اراده وکړې،

اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿١٥٩﴾

نو په الله باندې توکل کوه، يقيناً الله له توکل کوونکو سره مينه کوي -159-

اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۚ وَ

که چېرې الله ستاسو مدد وکړي، نو بيا پر تاسو باندې هيڅوك غالب راتلونکی نشته او

اِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِىْ

که چېرې تاسو (بې مدده) پرېږدي، نو څوك دی هغه کس

يَنْصُرُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَ عَلَى اللّٰهِ

چې له هغه (الله) نه بعد به ستاسو مدد وکړي؟ او پس لازم ده چې مومنان خاص په

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٦٠﴾ وَ مَا كَانَ

الله باندې توکل وکړي -160- او له نبي نه دا

لِنَبِيٍّ اَنۡ يَّغُلَّ ؕ وَمَنۡ يَّغۡلُلۡ يَاۡتِ بِمَا

نشي كېدلى چې هغه دې خيانت وكړي او چا چې خيانت وكړ، نو

غَلَّ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفۡسٍ

د قيامت په ورځ به له خيانت سره راځي، بيا به هر نفس ته د هغه د عمل پوره

مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُوۡنَ ﴿۱۶۱﴾ اَفَمَنِ

پوره بدله وركړى شي او پر هغوى به ظلم ونه كړى شي -161- ايا نو هغه

اتَّبَعَ رِضۡوَانَ اللّٰهِ كَمَنۡۢ بَآءَ بِسَخَطٍ

څوك چې د الله د رضامندۍ پيروي كوي، د هغه كس په شان دى چې

مِّنَ اللّٰهِ وَمَاۡوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئۡسَ

د الله له جانبه په (راغلي) غضب سره واپس شي؟ او د هغه استوګنه جهنم دى او هغه د ورتلو

الۡمَصِيۡرُ ﴿۱۶۲﴾ هُمۡ دَرَجٰتٌ عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ وَ

بد ځای دی -162- د الله په نيز دوی د بېلو بېلو درجو (والا) دي او

اللّٰهُ بَصِيۡرٌۢ بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۶۳﴾ لَقَدۡ مَنَّ

الله ښه ليدونکی دی هغو عملونو لره چې دوی يې کوي -163- خامخا په رښتيا

اللّٰهُ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اِذۡ بَعَثَ فِيۡهِمۡ

سره الله په مومنانو باندې احسان کړی دی کله

رَسُوۡلًا مِّنۡ اَنۡفُسِهِمۡ يَتۡلُوۡا عَلَيۡهِمۡ

چې يې دوی ته د همدوی له نفسونو (جنس) څخه يو رسول راولېږه، چې دوی ته د

اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيۡهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ الۡكِتٰبَ وَ

هغه ايتونه تلاوت کوي او دوی پاکوي او دوی ته د کتاب او

الْحِكْمَةَ ۚ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي

حکمت (سنت) تعلیم ورکوي او یقینًا دوی له دې نه مخکې په ښکاره

ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾ أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتْكُم

گمراهۍ کې وو -164- ایا کله چې تاسو ته (په احد کې)

مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ

یو مصیبت درورسېده، چې یقینًا تاسو د هغه دوه چنده (مصیبت کفارو ته)

أَنَّىٰ هَٰذَا ۖ قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ

رسولی و، تاسو وویل: دا له کومه (راغی؟) ته ووایه: دا

أَنفُسِكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

ستاسو د نفسونو له طرفه دی، بېشکه الله په هر شي باندې ښه

قَدِيْرٌ ﴿١٦٥﴾ وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى

قادر دی -165- او تاسو ته چې څه مصيبت دررسېده، په هغې ورځې کې چې دوه ډلې يو بل

الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيَعْلَمَ

ته مخامخ شولې، نو (دا) د الله په حکم سره و او د دې لپاره چې هغه (الله)

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

مومنان معلوم کړي -166- او د دې لپاره چې هغه (الله) هغه کسان

نَافَقُوْا ۚۖ وَقِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوْا فِيْ

معلوم کړي چې نفاق يې کړی دی او دوی ته وويل شو چې راځئ

سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوِ ادْفَعُوْا ۭ قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ

د الله په لار کې جنګ وکړئ، يا دفاع وکړئ، دوی ويل: که چېرې

قِتَالًا لَّا اتَّبَعْنٰكُمْ ؕ هُمْ لِلْكُفْرِ

مونږه په جنګ پوهېدلی، (نو) مونږ به خامخا ستاسو پیروي کړې وه،

يَوْمَئِذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْاِيْمَانِ ۚ

دوی په دغې ورځ کې ایمان ته د نژدې کېدو په نسبت کفر ته زیات نژدې وو،

يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ

دوی په خپلو خولو سره هغه خبرې کوي چې په زړونو کې یې نشته،

قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُوْنَ ۚ ﴿١٦٧﴾

او الله په هغه څه ښه عالم دی، چې دوی یې پټوي -167-

اَلَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوْا لَوْ

هغه کسان چې د خپلو ورونو په باره کې یې وویل او

اَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا ؕ قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ

خپله (له جنګ نه) ناست وو: که چېرې هغوی
زمونږ خبره منلې وی، (نو) نه به

اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ

وژل کېدل، ته (ورته) ووایه: نو تاسو له خپلو
ځانونو نه مرګ لرې کړئ که چېرې

صٰدِقِيْنَ ﴿١٦٨﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ

تاسو رښتیني یئ -168- او د الله په لاره کې پر
وژل شویو کسانو

قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ؕ بَلْ

باندې هېڅکله د مړیو ګمان مه کوه، بلکې (هغوی)
ژوندي دي، د

اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴿١٦٩﴾

خپل رب په نیز هغوی ته رزق ورکول کېږي -
-169

فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۙ وَ

په دې حال کې چې ډېر خوشحاله دي په هغه شي باندې چې الله

يَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا

دوی ته له خپله فضله ورکړی دی او د هغو کسانو په باره کې ډېر

بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ ۙ اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

خوشحالېږي چې له دوی نه وروسته دوی پسې لا نه دي وررسېدلي، دا چې په دوی باندې هېڅ

وقف لازم

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝١٧٠ يَسْتَبْشِرُوْنَ

وېره نشته او نه دوی غمژن کېږي -170- ډېر خوشحالېږي د

بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ فَضْلٍ ۙ وَّ اَنَّ اللّٰهَ لَا

الله له جانبه په نعمت او فضل سره او په دې چې بېشکه الله د

ع
8

يُضِيعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٧١﴾ اَلَّذِيْنَ

مومنانو اجر نه ضائع کوي -171- هغه کسان، چې

اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَآ

د الله او د رسول حکم يې ومانه، وروسته له دې

اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۛ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا

چې دوی ته زخم (هم) رسېدلی و، په دوی کې د
هغو کسانو لپاره چې نېکي يې کړې ده او

مِنْهُمْ وَ اتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿١٧٢﴾ اَلَّذِيْنَ

پرهېزګاره شوي دي بېخي لوی اجر دی -172-
(دوی) هغه کسان دي

قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ

چې دوی ته (ځينو) خلقو وويل: بېشکه (د مکې)
خلق په رښتيا سره

جَمَعُوۡا لَكُمۡ فَاخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ

ستاسو (سره د جنګ) لپاره راټول شوي دي، نو
تاسو له هغوی نه ووېرېږئ، نو (دې خبرې) د

اِيۡمَانًا ۖۗ وَّ قَالُوۡا حَسۡبُنَا اللّٰهُ وَنِعۡمَ

هغوی ایمان (نور هم) زیات کړ او ویې ویل: زمونږ
لپاره الله کافي دی او هغه ښه کار

الۡوَكِيۡلُ ﴿۱۷۳﴾ فَانۡقَلَبُوۡا بِنِعۡمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

جوړوونکی دی -173- نو دوی د الله له جانبه په
نعمت

وَفَضۡلٍ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوۡٓءٌ ۙ وَّاتَّبَعُوۡا

او فضل سره بېرته راوګرځېدل، په دې حال کې
چې ونه رسېد دوی ته

رِضۡوَانَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ ذُوۡ فَضۡلٍ

هېڅ تکلیف او دوی د الله د رضامندۍ تابع شول
او الله د بېخي لوی

عَظِيْمٍ ﴿١٧٤﴾ اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ

فضل والا دی -174- بېشکه همدا خبره ده چې دغه شيطان دی،

يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ ۖ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَ

چې خپل دوستان وېروي، نو تاسو له هغوی نه مه وېرېږئ او

خَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٧٥﴾ وَلَا

له ما نه وېرېږئ که چېرې تاسو مومنان يئ -175- او تا له

يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي

دې هغه کسان غمژن نه کړي چې په کفر کې يو تر

الْكُفْرِ ۚ اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ

بله تلوار کوي، بېشکه دوی کله هم الله ته څه ضرر نشي رسولی، الله اراده لري

يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ حَظًّا فِي

چې د دوی لپاره په اخرت کې هېڅ برخه جوړه نه

الۡاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿١٧٦﴾

کړي او د دوی لپاره ېبخې لوی عذاب دی -176-

اِنَّ الَّذِيۡنَ اشۡتَرَوُا الۡكُفۡرَ بِالۡاِيۡمَانِ

بېشکه هغه کسان چې د ایمان په بدله کې يې کفر

لَنۡ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيۡـًٔا ۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ

اخیستی دی، دوی به کله هم الله ته څه ضرر ونه

رسولی شي او د دوی لپاره ډېر دردوونکی

اَلِيۡمٌ ﴿١٧٧﴾ وَلَا يَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا

عذاب دی -177- اوکافران شوي خلق دې له

سره دا ګمان ونه کړي چې بېشکه مونږ چې دوی

اَنَّمَا نُمۡلِيۡ لَهُمۡ خَيۡرٌ لِّاَنۡفُسِهِمۡ ؕ اِنَّمَا

ته مهلت ورکوو، دا دوی د ځانونو لپاره ډېر ښه
دی، يقيناً خبره دا ده چې مونږ دوی ته مهلت د

نُمۡلِيۡ لَهُمۡ لِيَزۡدَادُوۡۤا اِثۡمًا ۚ وَلَهُمۡ

دې لپاره ورکوو چې دوی په ګناه کې مخ په
وړاندې لاړ شي او د دوی لپاره سپکوونکی

عَذَابٌ مُّهِيۡنٌ ﴿۱۷۸﴾ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ

عذاب دی -178- الله له سره داسې نه دی چې

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ عَلٰى مَاۤ اَنۡتُمۡ عَلَيۡهِ حَتّٰى

مومنان په هغه حال باندې پرېږدي په کوم باندې
چې

يَمِيۡزَ الۡخَبِيۡثَ مِنَ الطَّيِّبِ ؕ وَمَا كَانَ

تاسو (اوس) يئ، تر دې چې ناپاك له پاکه بېل
کړي، او الله کله

اللّٰهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى الۡغَيۡبِ وَلٰكِنَّ

هم داسې نه دی چې تاسو په غیبو باندې خبر کړي او لېکن

اللّٰهَ يَجۡتَبِىۡ مِنۡ رُّسُلِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ‌ ۖ

الله د خپلو رسولانو (له ډلې) نه غوره کوي چا لره چې وغواړي، نو په الله او د هغه په رسولانو

فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ‌ ۚ وَاِنۡ تُؤۡمِنُوۡا وَ

باندې ایمان راوړئ او که چېرې تاسو ایمان راوړ او پرهېزګاره شوئ،

تَتَّقُوۡا فَلَكُمۡ اَجۡرٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۷۹﴾ وَلَا

نو تاسو لپاره ببخې لوی اجر دی -179- اوهغه

يَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ يَبۡخَلُوۡنَ بِمَاۤ اٰتٰهُمُ

کسان، چې په هغه څه سره شومتیا (بخل) کوي

اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ بَلْ

چې الله دوی ته له خپله فضله ورکړی دی (دوی
دې) له سره دا ګمان ونه کړي چې دا (شومتیا

هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ؕ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ

کول) د دوی لپاره ډېر ښه دي، بلکې دا د دوی
لپاره ډېر بد دي، ژر ده چې

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ

د قیامت په ورځ به دوی ته هغه شی امېل کړی
شي، چې په هغه سره دوی شومتیا کوله، او خاص

وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

الله لپاره د اسمانونو او ځمکې میراث دی او الله
په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ؛ ښه

ع 9

خَبِيْرٌ ﴿١٨٠﴾ لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ

خبردار دی -180- خامخا يقينًا الله د هغو خلقو

وقف لازم

قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّ نَحْنُ اَغْنِيَآءُ ۘ

خبره واوربدله چې ويې ويل: بېشکه الله فقير دی او مونږ غنيان يو،

سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَ قَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ

خامخا به مونږ ليکو د دوی دا خبره او نبيانو لره د دوی ناحقه وژل،

بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّ نَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ

او مونږ به (دوی ته) ووايو: تاسو سخت سوزوونکی عذاب

الْحَرِيْقِ ۝١٨١ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ

وڅکئ -181- دا (عذاب) په سبب د هغه (بدعمل) دی چې ستاسو لاسونو مخکې لېږلی

اَيْدِيْكُمْ وَ اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ

دی، او څکه چې يقينًا الله په بنده ګانو هېڅ ظلم

لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ

كوونكى نه دى -182- (دوى) هغه كسان دي چې وايي: بېشكه الله

عَهِدَ اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى

مونږ ته حكم كړى دى چې مونږ به په هېڅ يو پېغمبر باندې ايمان نه راوړو تر هغه

يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ النَّارُ ؕ قُلْ قَدْ

پورې چې هغه مونږ ته يوه داسې قرباني راوړي چې اور يې خوري.، ته (ورته) ووايه:

جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ وَ

يقينًا تاسو ته له ما نه مخكې رسولانو ښكاره معجزې راوړې وې او

بِالَّذِيْ قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ اِنْ

هغه شى هم چې تاسو يې وايئ، بيا ولې تاسو هغوى قتل كړل؟

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٨٣﴾ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقَدْ

که چېرې تاسو رښتيني يئ -183- نو که دوی تا دروغژن وګڼي،

كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ جَآءُوْ

نو يقينًا له تا نه مخکې (هم) رسولان دروغژن ګڼلی شوي دي، هغوی ښکاره دليلونه راوړي وو

بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿١٨٤﴾

او واړه کتابونه او رڼا کوونکی کتاب (يې راوړی و) -184-

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَاِنَّمَا

هر ساه لرونکی د مرګ (مزه) څکونکی دی او

تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ فَمَنْ

يقينًا همدا خبره ده چې تاسو ته به د قيامت په ورځ ستاسو

زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ

ثوابونه (پوره) پوره در کړی شي، نو څوك چې له
اور (د جهنم) نه لرې کړی شو او جنت ته

فَقَدْ فَازَ ؕ وَ مَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا

داخل کړی شو، نو یقینًا هغه کامیاب شو او
دنیایي ژوند یوائې د غولېدلو

مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ۝١٨٥ لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ اَمْوَالِكُمْ

سامان دی -185- خامخا به تاسو په خپلو مالونو

وَ اَنْفُسِكُمْ ۗ وَ لَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ

او خپلو ځانونو کې وازمایل شئ او خامخا به
تاسو له هغو کسانو

اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ مِنَ

نه چې له تاسو نه مخکې ورته کتاب ورکړی شوی
دی

الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ؕ وَاِنْ

او له هغو كسانو نه چې مشركان دي، د خفګان ډېرې زياتې خبرې واورئ،

تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ

اوكه چېرې تاسو صبر وكړئ او پرهېزګاره شئ، نو يقينًا دا د همت له كارونو

الْاُمُوْرِ ۝١٨٦ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ

څخه دي -186- او كله چې الله له اهلِ كتابو نه پخه وعده واخيستله

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ

چې تاسو به هرومرو خلقو ته دا (كتاب) بيانوئ او تاسو به دا نه پټوئ،

لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ ۫ فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ

نو هغوى دا (كتاب) د خپلو شاګانو شا ته

ظُهُوۡرِهِمۡ وَ اشۡتَرَوۡا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ

وغورځاوه او د ده په بدل كې يې لږ قيمت
واخيست، نو بد دى هغه شى

فَبِئۡسَ مَا يَشۡتَرُوۡنَ ﴿۱۸۷﴾ لَا تَحۡسَبَنَّ

چې دوى يې اخلي -187- ته له سره گمان مه كوه

الَّذِيۡنَ يَفۡرَحُوۡنَ بِمَاۤ اَتَوۡا وَّ يُحِبُّوۡنَ

په هغو خلقو باندې چې په خپلو كړو (ناروا
كارونو) باندې خوشحالېږي او خوښوي چې په

اَنۡ يُّحۡمَدُوۡا بِمَا لَمۡ يَفۡعَلُوۡا فَلَا

هغو (نېكو) كارونو وستايل شي چې دوى نه دي
كړي،

تَحۡسَبَنَّهُمۡ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الۡعَذَابِ ۚ وَ

نو ته د دوى په هكله له عذاب نه د خلاصي گمان
له سره مه كوه او د دوى لپاره ډېر

لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۱۸۸﴾ وَلِلّٰهِ مُلۡكُ

دردوونکی عذاب دی -188- او خاص د الله لپاره د

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او الله په هر شي باندې بنه

ع 10

شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۱۸۹﴾ اِنَّ فِىۡ خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ

قادر دی -189- بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدا کولو

وَالۡاَرۡضِ وَاخۡتِلَافِ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ

کې او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې خامخا د خالص عقل

لَاٰيٰتٍ لِّاُولِى الۡاَلۡبَابِ ﴿۱۹۰﴾ الَّذِيۡنَ

خاوندانو لپاره ډېرې نښې دي -190- هغه کسان

يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّ قُعُوْدًا وَّ عَلٰى

چې الله يادوي په ولاړه او ناسته او

جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ

(چې پراته وي) په خپلو اړخونو باندې او د

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ

اسمانونو او ځمکې په پيدا كونه كې ښه فكر كوي

(او وايي:) اى زمونږه ربه!

هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ

تا دا عبث نه دي پيدا كړي، تا لره پاكي ده، نو ته

مونږه (د جهنم) له اور نه

النَّارِ ﴿١٩١﴾ رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ

بچ كړه -191- اى زمونږه ربه! بېشكه ته چې

څوك اور ته داخل كړې،

فَقَدۡ اَخۡزَيۡتَهٗ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيۡنَ مِنۡ

نو يقينًا تا هغه رسوا کړ او د ظالمانو لپاره هيڅوك مدد كوونكي

اَنۡصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ رَبَّنَاۤ اِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيًا

نشته -192- ای زمونږه ربه! بېشکه مونږه يو اواز

يُّنَادِىۡ لِلۡاِيۡمَانِ اَنۡ اٰمِنُوۡا بِرَبِّكُمۡ

کوونکی واورېده، چې ايمان ته يې بلنه کوله، (او دا يې ويل) چې په خپل رب باندې ايمان راوړئ،

فَاٰمَنَّا ۖ رَبَّنَا فَاغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَا وَكَفِّرۡ

نو مونږ ايمان راوړ، ای زمونږه ربه! نو ته مونږ ته زمونږ گناهونه وبخښه او له مونږ نه زمونږ بدی

عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الۡاَبۡرَارِ ﴿۱۹۳﴾ۚ

لرې کړه او مونږ ته وفات راکړه، په دې حال کې چې د نېکانو له ډلې سره يو -193-

رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدۡتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَ

اى زمونږه ربه! او مونږ ته هغه (ثوابونه) راکړه
چې تا له مونږ سره د خپلو رسولانو په ژبه (د هغو)

لَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ اِنَّكَ لَا

وعده کړې ده، او د قيامت په ورځ مونږه مه رسوا
کوه، بېشکه ته د وعدې

تُخۡلِفُ الۡمِيۡعَادَ ﴿۱۹۴﴾ فَاسۡتَجَابَ لَهُمۡ

مخالفت نه کوې -194- نو خپل رب يې دعا قبوله
کړه

رَبُّهُمۡ اَنِّىۡ لَاۤ اُضِيۡعُ عَمَلَ عَامِلٍ

چې بېشکه زه په تاسو کې د هېڅ يو عمل کوونکي
عمل نه ضائع کوم،

مِّنۡكُمۡ مِّنۡ ذَكَرٍ اَوۡ اُنۡثٰى ۚ بَعۡضُكُمۡ

نر وي او که ښځه، ستاسو ځينې له ځينو نورو
څخه دي، نو هغه

مِّنۢ بَعۡضٍۚ فَالَّذِيۡنَ هَاجَرُوۡا وَ

كسان چې هجرت يې كړى دى او له خپلو

اُخۡرِجُوۡا مِنۡ دِيَارِهِمۡ وَ اُوۡذُوۡا فِىۡ

كورونو نه وېستل شوي دي او زما په لاره كې
ورته تكليفونه رسول شوي دي

سَبِيۡلِىۡ وَ قٰتَلُوۡا وَ قُتِلُوۡا لَاُكَفِّرَنَّ

او جنګونه يې كړي دي او وژل شوي دي (نو) زه
به خامخا ضرور لرې (معاف) كړم له دوى نه د

عَنۡهُمۡ سَيِّاٰتِهِمۡ وَلَاُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنّٰتٍ

دوى ګناهونه او خامخا ضرور به يې داسې جنتونو
ته داخل كړم

تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُۚ ثَوَابًا مِّنۡ

چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې د الله له
طرفه

عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ

نه بدله ده او هم دا الله دى چې له هغه سره ښه

الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ

بدله ده -195- (اى اوربدونكيه!) په ښارونو كې د
كافرانو تلل راتلل دې تا تېر نه

كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ قف ثُمَّ

باسي (دوكه نه كړي) -196- (دا) ډېره لږه فايده
ده، بيا د

مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَ بِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾

هغو اوسېدنځاى جهنم دى او هغه بده استوگنه ده
-197-

لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ

خو هغه كسان چې له خپل رب نه ووېرېدل د
هغوى لپاره داسې جنتونه دي

تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ

چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوی به په هغو کې همېشه وي، چې د الله له طرف نه

فِیۡهَا نُزُلًا مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ ؕ وَ مَا عِنۡدَ

مېلمستیا ده، او هغه څه چې له الله سره دي (هغه) د نېکانو خلقو

اللّٰهِ خَیۡرٌ لِّلۡاَبۡرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَاِنَّ مِنۡ اَهۡلِ

لپاره ډېر غوره دي -198- او بېشکه ځینې له اهلِ

الۡکِتٰبِ لَمَنۡ یُّؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَ مَاۤ اُنۡزِلَ

کتابو څخه خامخا هغه څوك دي چې په الله ایمان

اِلَیۡکُمۡ وَ مَاۤ اُنۡزِلَ اِلَیۡهِمۡ خٰشِعِیۡنَ

راوړي او په هغه (کتاب) چې تاسو ته نازل کړی شوی دی

الثالثة

لِلّٰهِ ۙ لَا يَشۡتَرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا

او په هغو (کتابونو) چې دوی ته نازل کړی شوي دي، چې الله ته عاجزي کوونکي دي، د الله د

قَلِيۡلًا ؕ اُولٰٓـئِكَ لَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ عِنۡدَ

ایتونو په بدل کې لږ قیمت نه اخلي، دغه کسان (چې دي) د دوی لپاره د خپل رب په نیز د دوی

رَبِّهِمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيۡعُ الۡحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾

اجر دی، بېشکه الله ډېر ژر حساب کوونکی دی - 199-

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اصۡبِرُوۡا وَ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو صبر کوئ او په

صَابِرُوۡا وَرَابِطُوۡا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

صبر ټینګ اوسئ او په (سرحدي) مورچو کې محکم اوسئ او له الله نه وېرېږئ،

ع
11

لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿٢٠٠﴾

لپاره د دې چې تاسو کامیاب شئ -200-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمُ الَّذِىۡ

ای خلقو! له خپل رب نه ووېرېږئ هغه چې تاسو

خَلَقَكُمۡ مِّنۡ نَّفۡسٍ وَّاحِدَةٍ وَّ خَلَقَ

يې د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه نه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده،

مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالًا

او له دغو دواړو نه يې (په ځمکه کې) ډېر سړي او ښځې خواره کړل،

كَثِيۡرًا وَّنِسَآءً ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِىۡ

او له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه په (نامه د)

تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَ الْاَرْحَامَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

هغه سره سوال کوئ او د خپلولۍ له پرېکولو نه (ووېرېږئ)، بېشکه الله پر تاسو باندې بنه

كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ۝١ وَ اٰتُوا الْيَتٰمٰٓى

ساتونکی (نگهبان) دی -1- او یتیمانو ته د هغوی

اَمْوَالَهُمْ وَ لَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ

مالونه ورکړئ او ناپاکه څیز د پاك په بدل کې مه

بِالطَّيِّبِ ۪ وَ لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى

اخلئ او د هغوی مالونه له خپلو مالونو سره (په یوځای کولو)

اَمْوَالِكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ۝٢

مه خورئ، یقینًا دا له همېشه بېخي لویه گناه ده -2-

وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتٰمٰى

او که چېرې تاسو وېرېدلئ له دې چې د یتیمانو په

فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ

حق کې به انصاف ونه کړئ شئ، بیا نو له (نورو) هغو ښځو سره نکاح وکړئ

مَثْنٰى وَ ثُلٰثَ وَ رُبٰعَ ۚ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا

چې ستاسو خوښې وي، دوه دوه، یا درې درې، یا څلور څلور، نو که تاسو وېرېدلئ

تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ

چې انصاف به ونه کړئ شئ، بیا نو له یوې (اصیلې ښځې) سره (نکاح وکړئ)، یا وینځه

اَيْمَانُكُمْ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَلَّا تَعُوْلُوْا ۝٣ وَ

(واخلئ)، دا (طریقه) ډېره نژدې ده دې ته چې تاسو به ظلم ونه کړئ -3- او

اٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحۡلَةً ؕ فَاِنۡ

ښځو ته د هغوی مهرونه په خوشحالۍ سره ورکړئ، بیا که دوی تاسو ته له هغه

طِبۡنَ لَكُمۡ عَنۡ شَیۡءٍ مِّنۡهُ نَفۡسًا

(مهر) نه څه شی د زړه په خوشحالۍ سره درکړي، نو هغه خورئ، چې ښه

فَكُلُوۡهُ هَنِیۡٓـًٔا مَّرِیۡٓـًٔا ﴿۴﴾ وَلَا تُؤۡتُوا

خوندوَر حلال (او) بې ضرره دی -4- او ناپوهو

السُّفَهَآءَ اَمۡوَالَكُمُ الَّتِیۡ جَعَلَ اللّٰهُ

کسانو ته د هغوی مالونه مه ورسپارئ، هغه چې الله تاسو

لَكُمۡ قِیٰمًا وَّ ارۡزُقُوۡهُمۡ فِیۡهَا وَ

لپاره د ګذران سبب ګرځولي دي، او له د غو (مالونو)

اكۡسُوۡهُمۡ وَ قُوۡلُوۡا لَهُمۡ قَوۡلًا

نه تاسو هغوی ته خوراك وركوئ او جامه وركوئ او هغوی ته ښه

مَّعۡرُوۡفًا ۝٥ وَ ابۡتَلُوا الۡيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا

خبره كوئ -5- او تاسو يتيمان ازمايئ تر هغه پورې

بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنۡ اٰنَسۡتُمۡ مِّنۡهُمۡ

چې دوی (حد د) نكاح ته ورسيږي، نو كه تاسو له هغوی نه څه هوښيارتيا

رُشۡدًا فَادۡفَعُوۡۤا اِلَيۡهِمۡ اَمۡوَالَهُمۡ ۚ وَلَا

معلومه (محسوسه) كړه، بيا نو هغوی ته خپل مالونه ورسپارئ، او تاسو

تَاۡكُلُوۡهَاۤ اِسۡرَافًا وَّ بِدَارًا اَنۡ يَّكۡبَرُوۡا ؕ

دا (د يتيمانو مالونه) په اسراف سره او جلتۍ سره مه خورئ، چې دوی به لوی شي (نو وابه يې

وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ

خلي) او څوك (د يتيم ولي) چې مالداره وي، نو هغه دې

كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ فَاِذَا

(له دې ماله) ځان ښه بچ ساتي او څوك چې فقير وي، نو هغه دې له دستور سره سم خوري، بيا چې

دَفَعْتُمْ اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ فَاَشْهِدُوْا

كله هغوى ته خپل مالونه وركوئ، نو په دې (وركړه) باندې گواهان ونيسئ

عَلَيْهِمْ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝

او الله كافي دى، چې ښه حساب اخيستونكى دى -6-

لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَ

د نارينه و لپاره حصه شته له هغه (مال) نه چې مور او پلار او

الۡاَقۡرَبُوۡنَ ۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيۡبٌ مِّمَّا

نژدې خپلوان یې پرېږدي، او د ښځو لپاره (هم) حصه شته له هغه

تَرَكَ الۡوَالِدٰنِ وَ الۡاَقۡرَبُوۡنَ مِمَّا قَلَّ

(مال) نه چې مور او پلار او نژدې خپلوان یې پرېږدي، له هغه (مال) نه

مِنۡهُ اَوۡ كَثُرَ ؕ نَصِيۡبًا مَّفۡرُوۡضًا ۝ وَ

چې لږ وي، یا ډېر وي، مقرر کړی شوې برخه ده -7- او

اِذَا حَضَرَ الۡقِسۡمَةَ اُولُوا الۡقُرۡبٰى وَ

کله چې (د میراث) تقسیم ته خپلوان او یتیمان او

الۡيَتٰمٰى وَالۡمَسٰكِيۡنُ فَارۡزُقُوۡهُمۡ مِّنۡهُ

مسکینان حاضر شي، نو له هغه (مال) نه دوی ته

وَ قُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿٨﴾

(هم څه) ورکړئ او دوی ته ښه خبره وکړئ -8-

وَ لْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ

او هغه کسان دې ووېرېږي چې که چېرې دوی له

خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا عَلَيْهِمْ ص

خپل ځان (له مرګ) نه وروسته کمزوري بچي

پرېږدي، (نو) دوی به په هغو باندې وېرېږي،

فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ وَ لْيَقُوْلُوْا قَوْلًا

نو لازم ده چې له الله نه دې ووېرېږي او سمه

نېغه خبره دې

سَدِيْدًا ﴿٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ

وکړي -9- بېشکه هغه کسان چې د یتیمانو

ع
12

الۡيَتٰمٰى ظُلۡمًا اِنَّمَا يَاۡكُلُوۡنَ فِىۡ بُطُوۡنِهِمۡ

مالونه په ظلم سره خوري، يقينًا همدا خبره ده
چې هغوی په خپلو خېټو کې اور خوري او ژر ده

نَارًا ؕ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيۡرًا ﴿۱۰﴾

چې لمبې وهونکي اور کې به داخل شي -10-

يُوۡصِيۡكُمُ اللّٰهُ فِىۡۤ اَوۡلَادِكُمۡ ۖ لِلذَّكَرِ

الله تاسو ته ستاسو د اولاد په باره کې وصيت
کوي (چې) د يو نر

مِثۡلُ حَظِّ الۡاُنۡثَيَيۡنِ ۚ فَاِنۡ كُنَّ نِسَآءً

اولاد لپاره د دوه جينکو د حصې په مثل (حصه)
ده، نو که دوی

فَوۡقَ اثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۚ وَ

(دوه يا) ددوو نه زياتې جينکۍ وي، نو د دوی
لپاره دوه په درې برخې دي

إِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۚ وَ

د هغه (مال) چې ده پرېښى وي او كه چېرې يوائې يوه جينۍ وي، نو د هغې لپاره نيم (مال)

لِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ

دى او د هغه (مړي) مور او پلار لپاره په دواړو كې د هر يو لپاره شپږمه حصه

مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ لَّمْ

ده له هغه (مال) نه چې هغه (مړي) پرېښى وي، كه چېرې د هغه

يَكُنْ لَّهُ وَلَدٌ وَّ وَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ

(مړي) لپاره اولاد وي او كه د هغه اولاد نه وي او د هغه وارثان د هغه مور او پلار وي،

الثُّلُثُ ۚ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ

نو د هغه د مور لپاره درېمه حصه ده، نو كه چېرې د هغه (مړي) لپاره ورونه وي،

السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْ بِهَآ

نو د هغه د مور لپاره شپږمه حصه ده (دا) پس له (اداكولو د) وصيت نه،

اَوْ دَيْنٍ ط اٰبَآؤُكُمْ وَ اَبْنَآؤُكُمْ لَا

چې هغه (مړي) يې وصيت كړى وي يا له قرض نه، ستاسو پلرونه او ستاسو زامن (چې دي)،

تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ط

تاسو نه پوهېږئ چې په دوى كې تاسو ته د فايدې په لحاظ سره څوك ډېر نژدې دي،

فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ط اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا

دا مقرره برخه ده د الله له جانبه، بېشكه الله ښه پوه، ښه حكمت

حَكِيْمًا ﴿١١﴾ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ

والا دى -11- او تاسو لپاره (اى سړيو!) نيمه

اَزۡوَاجُكُمۡ اِنۡ لَّمۡ يَكُنۡ لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ

حصه ده له هغه (مال) نه چې ستاسو ښځې يې
پرېږدي که

فَاِنۡ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا

چېرې د هغوی اولاد نه وي، نو که چېرې د هغوی
اولاد وي، نو تاسو لپاره څلورمه حصه ده

تَرَكۡنَ مِنۡۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٍ يُّوۡصِيۡنَ بِهَاۤ

له هغه (مال) نه چې هغوی يې پرېږدي، پس له
(ادا کولو د) وصيت نه چې

اَوۡ دَيۡنٍ ؕ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡتُمۡ

هغوی په دې سره وصيت کوي، يا له قرض نه، او
د هغو (ښځو) لپاره څلورمه حصه ده

اِنۡ لَّمۡ يَكُنۡ لَّكُمۡ وَلَدٌ ۚ فَاِنۡ كَانَ

له هغه (مال) نه چې تاسو (سړي) يې پرېږدئ که

لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ

چېرې ستاسو اولاد نه وي، نو که چېرې ستاسو
لپاره وي، نو د هغو (ښځو) لپاره اتمه حصه ده له

مِّنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوْصُوْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ؕ

هغه (مال) نه چې تاسو يې پرېږدئ، پس له
(اداکولو د) وصيت نه چې تاسو د هغه وصيت

وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً اَوِ امْرَاَةٌ

کوئ، يا له قرض نه او که يو سړی، يا ښځه چې
ميراث ترې وړل کېږي،

وَّلَهٗٓ اَخٌ اَوْ اُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا

کلاله (بې پلاره او بې اولاده) وي او د هغه (يا د
هغې) (مورنی) ورور، يا خور وي، نو په دې دواړو

السُّدُسُ ۚ فَاِنْ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ

کې هر يو ته شپږمه حصه ده، بيا که هغوی (د
کلاله خويندې، ورونه)

فَهُمۡ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ مِنۡ بَعۡدِ

له دي (شمېر) نه زيات وو، نو هغوی په درېمه حصه کې (ټول) شريك دي،

وَصِيَّةٍ يُّوۡصٰى بِهَآ اَوۡ دَيۡنٍ ۙ غَيۡرَ

پس له وصيته، چې د هغه وصيت کولی شي، يا له قرض نه، چې ضرر رسوونکی نه وي

مُضَآرٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ

(بل ته په دې وصيت سره) دا د الله له جانبه وصيت دی، او الله ښه پوه، ښه تحمل

حَلِيۡمٌ ؕ﴿۱۲﴾ تِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنۡ

ولا دی -12- دا د الله حدونه دي او چا چې د

يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ يُدۡخِلۡهُ جَنّٰتٍ

الله او د هغه د رسول اطاعت وکړ، (نو) هغه (الله) به يې داسې جنتونو

تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ

ته ننباسي چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې
دوی به په هغو کې همېشه وي

فِیۡهَا ؕ وَ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِیۡمُ ﴿۱۳﴾ وَ مَنۡ

او دا ښېخې لويه کاميابي ده -13- او چا چې د

یَّعۡصِ اللّٰهَ وَ رَسُوۡلَهٗ وَ یَتَعَدَّ حُدُوۡدَهٗ

الله او د هغه د رسول نافرماني وکړه او د هغه
(الله) له حدونو نه مخکې تېر شو، نو هغه (الله)

یُدۡخِلۡهُ نَارًا خَالِدًا فِیۡهَا ۪ وَ لَهٗ

به يې اور ته داخل کړي، چې په هغه کې به
همېشه وي او د هغه لپاره سپکوونکی

ع 13

عَذَابٌ مُّهِیۡنٌ ﴿۱۴﴾ؑ وَ الّٰتِیۡ یَاۡتِیۡنَ

عذاب دی -14- او ستاسو له ښځو څنې

الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ

چې کومې بدکاري (زنا) وکړي، نو تاسو پر هغوی

فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ج

باندې له خپلو (مسلمانانو) نه څلور (سړي)
ګواهان ونيسئ،

فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ

نو که چېرې هغوی ګواهي ووايي، بيا دا ښځې په
کورونو کې پابندې وساتئ تر هغه

حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ

وخته پورې چې مرګ يې فنا کړي، يا الله د دوی

لپاره بله

اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿١٥﴾ وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا

لار راوباسي -15- او په تاسو کې چې

مِنۡكُمۡ فَاٰذُوۡهُمَا‌ۚ فَاِنۡ تَابَا وَاَصۡلَحَا

کوم دوه کسان دا (بدکاري) کوي، نو هغوی
دواړو ته تکلیف ورسوئ، بیا که دوی توبه وویسته

فَاَعۡرِضُوۡا عَنۡهُمَا ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا

او د ځان اصلاح يې وکړه، نو تاسو له دوی نه مخ
واړوئ، بېشکه الله ډېر توبه قبلوونکی، بې حده

رَّحِيۡمًا ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا التَّوۡبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيۡنَ

مهربان دی -16- اصل خبره دا ده چې په الله

يَعۡمَلُوۡنَ السُّوۡٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوۡبُوۡنَ

باندې د توبې د قبلولو حق د هغه چا لپاره دی،
چې په ناپوهۍ سره گناه کوي،

مِنۡ قَرِيۡبٍ فَاُولٰٓـئِكَ يَتُوۡبُ اللّٰهُ

بیا ډېر ژر توبه وباسي، نو دغه خلق دي چې الله

عَلَيْهِمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧﴾

د هغوی توبه قبلوي او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی -17-

وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ

او د هغه چا لپاره توبه نشته چې لګیا وي ګناهونه کوي،

السَّيِّاٰتِ ۚ حَتّٰۤى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ

تر دې چې کله په دوی کې یو کس ته مرګ

الْمَوْتُ قَالَ اِنِّىْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا

راشي، (بیا د ځنکدن په وخت کې) وایي: بېشکه زما اوس توبه ده او نه د

الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ۭ اُولٰٓىِٕكَ

هغو کسانو لپاره (توبه شته) چې د کافرتوب په حالت کې مري، دغه کسان

اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝١٨ يٰۤاَيُّهَا

چې دي؛ مونږ د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب تیار کړی دی -18- ای هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا

کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو لپاره حلال نه دي چې

النِّسَآءَ كَرْهًا ؕ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ

ښځې په زورسره په میراث کې واخلئ او په دې غرض دوی مه منع کوئ (مه تنگوئ) چې تاسو

لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَاۤ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّاۤ

(له دوی نه) له هغه (مال) نه څه برخه (بېرته) واخلئ چې تاسو دوی ته ورکړی و مگر دا چې

اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَ

دوی ښکاره بدکار وکړي (نو بیا یې تنگولی شئ) او

عَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ فَاِنْ

له دوی سره په ښه طریقه ګذران کوئ، نو که
دوی ستاسو

كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا

خوښې نه وي، نو کېدی شي چې تاسو به یو شی
بد ګڼئ او الله به

وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ۝١٩ وَ

په هغه کې ډېر زیات خیر ایښی وي -19- او

اِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ

که چېرې تاسو غواړئ چې د یوې ښځې په ځای
بله

زَوْجٍ ۙ وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا

ښځه بَدَله راولئ او تاسو په دوی کې یوې ته
ډېره مالونه ورکړي وي،

فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَيْـًٔا ؕ اَتَاْخُذُوْنَهٗ

نو له هغه (مال) نه هېڅ شی هم مه اخلئ، ایا
تاسو به هغه (مال) اخلئ په

بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ۝٢٠ وَكَيْفَ

بهتان لګولوسره او په ښکاره ګناه سره؟ -20- او
تاسو به

تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى

هغه (مال) څنګه واپس اخلئ، حال دا چې په

بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا

تحقيق سره تاسو له یو بل سره یو ځای شوي يئ
او هغو (ښځو) له تاسو نه ډېره پخه وعده

غَلِيْظًا ۝٢١ وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ

اخیستې ده! -21- او له کومو ښځو سره چې

اٰبَآؤُكُمۡ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدۡ

ستاسو پلرونو نکا ح کړی دی، تاسو له هغوی سره
نکاح مه کوئ، لېکن هغه

سَلَفَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّ مَقۡتًا ؕ وَ

چې مخکې تېر شوي دي، بېشکه دا له همېشه د
ډېرې بې حیایۍ او د (الله د) غضب کار دی

ع 14

سَآءَ سَبِيۡلًا ۚ﴿۲۲﴾ حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ

او بده لار ده -22- حرامې کړی شوي دي پر

اُمَّهٰتُكُمۡ وَبَنٰتُكُمۡ وَاَخَوٰتُكُمۡ وَ

تاسو باندې ستاسو میندې، او ستاسو لوڼه، او
ستاسو خویندې

عَمّٰتُكُمۡ وَخٰلٰتُكُمۡ وَبَنٰتُ الۡاَخِ

او ستاسو ترورياني (د پلار خويندې) او ستاسو
خاله گانې (د مور خويندې) او وريرې

وَبَنٰتُ الۡاُخۡتِ وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِیۡۤ

او خورځې او ستاسو هغه میندې چې تاسو ته

اَرۡضَعۡنَكُمۡ وَاَخَوٰتُكُمۡ مِّنَ الرَّضَاعَةِ

یې تی درکړی دی او ستاسو رضاعي خویندې او ستاسو د

وَاُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمۡ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِیۡ فِیۡ

ښځو میندې (سکه خواښې) او ستاسو پرکټیانې، چې (عمومًا) ستاسو

حُجُوۡرِكُمۡ مِّنۡ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِیۡ

په پرورش کې وي، چې ستاسو له هغو ښځو

دَخَلۡتُمۡ بِهِنَّ ۫ فَاِنۡ لَّمۡ تَكُوۡنُوۡا

نه (پیدا وي) چې تاسو ورسره کوروالی کړی وي

دَخَلۡتُمۡ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ ۡ وَ

او که تاسو ورسره کوروالی نه وي کړی، نو (بيا) پر تاسو باندې څه ګناه نشته،

حَلَآئِلُ اَبۡنَآئِكُمُ الَّذِيۡنَ مِنۡ

او ستاسو د خپلو حقيقي زامنو ښځې (اينګورياني) او دا چې تاسو د دوه خويندو تر

اَصۡلَابِكُمۡ ۙ وَاَنۡ تَجۡمَعُوۡا بَيۡنَ

مينځه جمع وکړئ (په يو وخت کې دواړه په نکاح کې وساتئ)

الۡاُخۡتَيۡنِ اِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

ليکن هغه چې مخکې تېر شوي دي، بيشکه الله له همېشه ډېر

كَانَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ۟ۙ ﴿٢٣﴾

بخښونکی، بې حده مهربان دی -23-

وَّ الۡمُحۡصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا

او (پر تاسو باندې حرامې کړې شوې دي) مړوښې ښځې مګر (حرامې نه دي)

مَلَكَتۡ اَيۡمَانُكُمۡ‌ ۚ كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ‌ ۚ

هغه چې تاسو يې مالکان شئ (ستاسو وينځې شي) دا پر تاسو باندې (د) الله لازم کړی (قانون)

وَاُحِلَّ لَـكُمۡ مَّا وَرَآءَ ذٰ لِكُمۡ اَنۡ

دی او چې له دغو (ښځو) نه ماسوا دي هغه تاسو لپاره حلالې دي،

تَبۡتَغُوۡا بِاَمۡوَالِكُمۡ مُّحۡصِنِيۡنَ غَيۡرَ

(په دې شرط) چې د خپلو مالونو په ذريعه يې غواړئ، چې عفت غوښتونکي يئ،

مُسٰفِحِيۡنَ‌ ؕ فَمَا اسۡتَمۡتَعۡتُمۡ بِهٖ

بدکاري کوونکي نه يئ، بيا چې تاسو له هغوی نه

مِنۡهُنَّ فَاٰتُوۡهُنَّ اُجُوۡرَهُنَّ فَرِيۡضَةً ؕ وَ

د ښځه والي فايده واخيستله، نو هغوی ته خپل مهرونه ورکړئ، چې مقرر شوي دي او (ای

لَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيۡمَا تَرٰضَيۡتُمۡ بِهٖ

خاوندانو او ښځو!) پر تاسو باندې هېڅ حرج نشته په هغه څه کې چې له مقررولو (د مهر) نه

مِنۡۢ بَعۡدِ الۡفَرِيۡضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

پس تاسو په خپلو کې په هغه (کې په کمي، یا زیاتي) باندې راضي شئ، بېشکه الله له ازله په هر

عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ﴿۲۴﴾ وَمَنۡ لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ

څه پوه، ښه حکمت والا دی -24- او په تاسو کې چې څوك له

مِنۡكُمۡ طَوۡلًا اَنۡ يَّنۡكِحَ الۡمُحۡصَنٰتِ

اصیلو مومنو ښځو سره د نکاح کولو مالي وَس نه لري،

الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

نو (نكاح دې وكړي) له هغو مومنو وينځو سره

مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

چې تاسو يې مالكان شوي يئ او الله ستاسو په ايمان ښه عالم دى،

بِاِيْمَانِكُمْ ؕ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ

ستاسو ځينې له ځينو نورو دي، نو د هغو(وينځو)

فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ

د مالكانو په اجازت سره له هغوى سره نكاح وكړئ

اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ

او هغوى ته خپل مهرونه د دستور سره سم وركړئ،

مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ

(په دې شرط) چې پاك لمنې وي، بدكارې نه وي او نه پټ ياران نيونكې وي، بيا چې كله دوى

فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ

مړوښې شوي، نو كه بدكاري (زنا) يې وكړه، نو په دوى باندې د

فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ

اصيلو ښځو د سزا نيمايي (سزا) ده، دا (له وينځې سره د نكاح كولو اسانې)

مِنَ الْعَذَابِ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ

په تاسو كې د هغه چا لپاره ده چې د زنا انديښنه لري

الْعَنَتَ مِنْكُمْ ؕ وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ

او كه تاسو (له وينځې سره له نكاح نه) صبر وكړئ (نو دا)

ع
1

لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۟﴿۲۵﴾ يُرِيْدُ

تاسو لپاره غوره دي او الله ډېر بخښونکی، بې
حده مهربان دی -25- الله غواړي

اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ

چې تاسو ته (حکمونه) ښه واضحه کړي او تاسو
ته د هغو خلقو لارې وښيي چې له تاسو نه مخکې

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ ؕ

وو، او ستاسو توبه قبوله کړي (تاسو ته په خپل
رحمت سره توجه وکړي) او الله ښه

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶﴾ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ

عالم، ښه حکمت والا دی -26- الله غواړي تاسو

اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ ۫ وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ

ته توجه وکړي (په خپل رحمت سره) او هغه
کسان، چې

يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوٰتِ اَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا

د خواهشاتو تابع کېږي، (هغوی) غواړي چې تاسو (له حقې لارې نه)

عَظِيْمًا ﴿٢٧﴾ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ

ډېر زيات کاږه شئ، -27- او الله غواړي چې په تاسو تخفيف (اساني) راولي

عَنْكُمْ ۚ وَ خُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا ﴿٢٨﴾

او انسان ډېر کمزوری پيدا کړی شوی دی -28-

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په خپل مينځ کې

اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ

د يو بل مالونه په باطله (ناحقه طريقه) مه خورئ مگر

اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ

داچې تجارت وي، چې ستاسو په خپل مینځي رضامندۍ

مِّنْكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

سره وي او تاسو خپل ځانونه مه وژنئ، بېشکه

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴿۲۹﴾ وَمَنْ

الله پر تاسو باندې بې حده مهربان دی -29- او چا چې

يَّفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ

دا (کارونه) وکړل، په دې حال کې چې زیاتي

نُصْلِيْهِ نَارًا ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

کوونکی او ظلم کوونکی و، نو ژر به مونږ دغه (کس) اور ته داخل کړو او دا (کار) الله ته ډېر

يَسِيۡرًا ۝٣٠ اِنۡ تَجۡتَنِبُوۡا كَبَآٮِٕرَ مَا

اسان دی -30- كه چېرې تاسو له هغو غټو
ګناهونو

تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنۡكُمۡ سَيِّاٰتِكُمۡ

نه ځان وساتئ، چې تاسو ترې منع کولی شئ (،
نو) مونږ به له تاسو نه ستاسو (واړه) ګناهونه لرې

وَنُدۡخِلۡكُمۡ مُّدۡخَلًا كَرِيۡمًا ۝٣١ وَلَا

كړو او ډېر د عزت ځای ته به مو داخل كړو -31-
او د هغه

تَتَمَنَّوۡا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعۡضَكُمۡ عَلٰى

شي ارزو مه كوئ چې په هغه سره الله ستاسو

بَعۡضٍ ‌ؕ لِلرِّجَالِ نَصِيۡبٌ مِّمَّا

ځينې په ځينو نورو غوره ګرځولي دي، د سړيو

اكْتَسَبُوْا ۭ وَلِلنِّسَاۗءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا

لپاره د خپل عمل حصه ده او د ښځو لپاره

اكْتَسَبْنَ ۭ وَسْـَٔلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ ۭ

د خپل عمل برخه ده او له الله نه د هغه د فضل

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝۳۲ وَ

سوال کوئ، بېشکه الله په هر شي ښه پوه دی -
32- او

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ

د هر يو (سړي او ښځې) لپاره مونږ وارثان
مقررکړي دي

وَالْاَقْرَبُوْنَ ۭ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ

له هغه (مال) نه چې مور او پلار او نژدې
خپلوانو پرېښی وي او هغه کسان چې له هغوی

اَيۡمَانُكُمۡ فَاٰتُوۡهُمۡ نَصِيۡبَهُمۡ ؕ اِنَّ

سره ستاسو معاهده شوې ده، نو تاسو هغوی ته د هغوی حصه ورکړئ،

ع 2

اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدًا ۝٣٣

بېشکه الله په هر شي باندې گواه دی -33-

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوۡنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا

سړي په ښځو باندې نگرانان دي په سبب د دې

فَضَّلَ اللّٰهُ بَعۡضَهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ وَّبِمَاۤ

چې الله د دوی ځينې په ځينو نورو باندې غوره کړي دي او په

اَنۡفَقُوۡا مِنۡ اَمۡوَالِهِمۡ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ

سبب د دې چې دوی (سړي) له خپلو مالونو نه انفاق کوي،

قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ

نو نېکې ښځې اطاعت کوونکې دي او د الله په ساتنې سره پسې ښا (د ځان او مال) حفاظت

اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِىۡ تَخَافُوۡنَ نُشُوۡزَهُنَّ

کوونکې دي، او هغه ښځې چې تاسو د هغوی له نافرمانۍ نه

فَعِظُوۡهُنَّ وَاهۡجُرُوۡهُنَّ فِى الۡمَضَاجِعِ

وېرېږئ، نو دوی ته نصيحت وکړئ او د ملاستې په

وَاضۡرِبُوۡهُنَّ ۚ فَاِنۡ اَطَعۡنَكُمۡ فَلَا

ځایونو کې ترې نه جدا شئ او وېې وهئ، نو که ستاسو خبره يې ومنله،

تَبۡغُوۡا عَلَيۡهِنَّ سَبِيۡلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

نو (بیا) د دوی په خلاف بله لار مه لټوئ، بېشکه الله ډېر اوچت،

عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴿٣٤﴾ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ

ډېر لوی دی -34- او که تاسو د دغو دواړو په

بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ

مینځ کې د مخالفت وېره لرئ، نو یو حکَم (مینځګړی) د هغه (سړي) له خاندان نه مقرر

وَ حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ يُّرِيْدَآ

کړئ او یو مینځګړی د هغې (ښځې) له کورنۍ نه، که دوی دواړه (ښځه، خاوند، یا ثالثان) د ځه

اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اصلاح اراده ولري، (نو) الله به د دې دواړو په مینځ کې موافقت (جوړښت) راولي، بېشکه الله له

كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا ﴿٣٥﴾ وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَ

همېشه ښه پوه، ښه خبردار دی -35- او تاسو د الله عبادت کوئ او

لَا تُشۡرِكُوۡا بِهٖ شَيۡـًٔا وَّبِالۡوَالِدَيۡنِ

له هغه سره هېڅ شی مه شریکوئ او له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ

اِحۡسَانًا وَّبِذِی الۡقُرۡبٰى وَالۡيَتٰمٰى

او له خپلوانو سره او یتیمانو او مسکینانو سره او له

وَالۡمَسٰكِيۡنِ وَالۡجَارِ ذِى الۡقُرۡبٰى وَ

خپلوان ګاونډي سره او د څنګ له ګاونډي سره او

الۡجَارِ الۡجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالۡجَنۡۢبِ

د څنګ له ملګري سره او له مسافر سره او له

وَابۡنِ السَّبِيۡلِ ۙ وَمَا مَلَكَتۡ

خپلو وینځو، مریانو سره (ښېګڼه کوئ)

اَیۡمَانُکُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰہَ لَا یُحِبُّ مَنۡ کَانَ

بېشکه الله نه خوښوي هغه چا لره چې کبرجن، ډېر

مُخۡتَالًا فَخُوۡرَا ۣ﴿ۙ۳۶﴾ الَّذِیۡنَ یَبۡخَلُوۡنَ وَ

فخر کوونکی وي -36- هغه کسان چې شومتیا کوي او

یَاۡمُرُوۡنَ النَّاسَ بِالۡبُخۡلِ وَ یَکۡتُمُوۡنَ

(نورو) خلقو ته د شومتیا کولو حکم کوي او هغه څه پټوي

مَاۤ اٰتٰہُمُ اللّٰہُ مِنۡ فَضۡلِہٖ ؕ وَ اَعۡتَدۡنَا

چې الله دوی ته له خپله فضله ورکړي دي او مونږه د

لِلۡکٰفِرِیۡنَ عَذَابًا مُّہِیۡنًا ﴿ۚ۳۷﴾ وَ الَّذِیۡنَ

کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی دی -37- او (نه) هغه کسان

يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا

(خوښوي) چې خلقو ته د ځان ښودلو لپاره خپل مالونه خرچ كوي

يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ؕ

او په الله او د اخرت په ورځ ايمان نه راوړي او هغه څوك چې

وَمَنۡ يَّكُنِ الشَّيۡطٰنُ لَهٗ قَرِيۡنًا فَسَآءَ

د هغه ملگرى شيطان وي، نو هغه بد ملگرى

قَرِيۡنًا ۝٣٨ وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ لَوۡ اٰمَنُوۡا

دى -38- او دوى ته به څه نقصان و كه چېرې دوى په

بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَاَنۡفَقُوۡا مِمَّا

الله او په ورځ د اخرت ايمان راوړى وَى او له هغه (مال) نه يې انفاق كړى

رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ

وَی چې الله دوی ته ورکړی دی او الله په دوی
ښه

عَلِيْمًا ﴿٣٩﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ

پوه دی -39- بېشکه الله د يوې ذرې په اندازه
(هم) ظلم نه کوي

ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَ

او که دا (ذره) يوه نېکي وي، نو هغه به يې دوه
چنده کړي او

يُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٤٠﴾

هغه ته به له خپل جانب نه ښخي لوی اجر ورکړي
-40-

فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ

نو څه حال به وي په هغه وخت کې کله چې مونږ
له هر امت نه يو ګواه راولو

وَّ جِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا ﴿٤١﴾

او تا په دوی باندې (د) ګواه (په حيث) راولو - 41-

يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ عَصَوُا

په دغه ورځ کې به هغه کسان ارزو کوي چې کافر شوي دي او

الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ؕ وَ

د رسول نافرماني يې کړې ده، چې کاشکې په دوی باندې ځمکه (له پاسه نه) همواره کړی شي،

ع 3

لَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ﴿٤٢﴾ يٰٓاَيُّهَا

او دوی به له الله نه هيڅ خبره (هم) نشي پټولی - 42- ای هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَ

کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د نشې په حالت کې لمانځه ته مه

اَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا

نژدې کېږئ، تر هغه پورې چې تاسو پوه شئ په هغه څه چې

تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِىْ

تاسو يې وايئ او نه د جنابت په حالت کې، مگر دا چې لاړوي يئ،

سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ

تر دې چې تاسو غسل وکړئ او که تاسو بيماران يئ،

مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ

يا په سفر يئ، يا په تاسو کې يو کس له اودس

مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ

ماتي راشي، يا تاسو له ښځو سره کوروالی وکړئ،

النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا

بيا تاسو اوبه ونه مومئ، نو د ځمکې پاک مخ (خاورې وغيره) ته

صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ

اراده وکړئ، پس د خپلو مخونو او (تر مړوندونو پورې د)

وَ اَيْدِيْكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا

لاسونو مسح وکړئ، بېشکه الله ډېر معافي کوونکی، ښه مغفرت

غَفُوْرًا ۝٤٣ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا

کوونکی دی -43- ايا تاسو هغه کسان نه دي کتلي

نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ

(د هغوی په حال نه يئ خبر شوي) چې هغوی ته څه حصه له کتابه ورکړی شوې ده، چې هغوی

وَيُرِيدُونَ أَنْ تَضِلُّوا السَّبِيلَ ﴿٤٤﴾

گمراهي اخلي او غواړي چې تاسو (هم حقه) لاره ورکه کړئ -44-

وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَائِكُمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ

او الله ستاسو په دښمنانو ښه پوه دی او الله کافي دی

وَلِيًّا وَكَفَىٰ بِاللَّهِ نَصِيرًا ﴿٤٥﴾ مِنَ

کارساز او الله کافي دی مدد کوونکی -45- او ځيني له

الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ

هغو کسانو نه چې يهوديان دي، هغوی له خپلو ځايونو نه

مَوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا

کلمې بدلوي او هغوی وايي: سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا مونږ واوريدل او مونږ نافرماني وکړه۔

وَ اسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّ رَاعِنَا لَيًّا

" وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ "او ته واوره، چې ته اورول شوی نه يې" اورَاعِنَا زمونږ رعايت وکړه

بِاَلْسِنَتِهِمْ وَ طَعْنًا فِي الدِّيْنِ ؕ وَلَوْ

د خپلو ژبو په تاوولو سره او په دين کې د طعن (او عيب) راوښکلو لپاره، او يقيناً که دوی ويلي

اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا وَ اَطَعْنَا وَ اسْمَعْ وَ

وی (چې) سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا "مونږ واورېدل او اطاعت مو وکړ"، او اِسْمَعْ "واوره"،

انْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَ اَقْوَمَ ۙ وَ

وَانْظُرْنَا "او مونږ ته وګوره"، نو دا (کلام) به د هغوی لپاره ډېر غوره او ډېر درست ساتونکی و او

لٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا

لېکن الله د دوی د کفر په سبب په دوی لعنت کړی دی، نو دوی ايمان نه

يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٤٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

راوړي مګر ډېر لږ (خلق) -46- او ای هغو کسانو چې

اُوْتُوا الْكِتٰبَ اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا

هغوی ته کتاب ورکړی شوی دی! تاسو په هغه (کتاب) ایمان راوړئ چې مونږ نازل کړی دی، چې

لِّمَا مَعَكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ

تصدیق کوونکی دی د هغو (کتابونو) چې له تاسو سره دي، مخکې له دې چې مونږه څه مخونه

وُجُوْهًا فَنَرُدَّهَا عَلٰۤى اَدْبَارِهَاۤ اَوْ

محوه کړو، بیا دغه (مخونه) خپلو شاګانو ته ورواړوو، یا پرې

نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّاۤ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ؕ

مونږ لعنت وکړو، لکه څنګه چې مونږ لعنت کړی و د خالي د ورځې

وَ كَانَ اَمۡرُ اللّٰهِ مَفۡعُوۡلًا ﴿٤٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا

په ملګرو، او د الله کار (خامخا) پوره کړی شوی وي -47- بېشکه الله نه

يَغۡفِرُ اَنۡ يُّشۡرَكَ بِهٖ وَ يَغۡفِرُ مَا دُوۡنَ

بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې

ذٰلِكَ لِمَنۡ يَّشَآءُ ۚ وَ مَنۡ يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ

(شرك، يا کفر) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي او څوك چې له الله سره شريك ونيسي، نو يقينًا

فَقَدِ افۡتَرٰۤى اِثۡمًا عَظِيۡمًا ﴿٤٨﴾ اَلَمۡ تَرَ

هغه ډېره لويه ګناه راجوړه کړله -48- ايا تاسو هغه

اِلَى الَّذِيۡنَ يُزَكُّوۡنَ اَنۡفُسَهُمۡ ؕ بَلِ

کسان نه دي کتلي چې د خپلو ځانونو تزکيه (ستاينه) کوي (داسې نه ده) بلکې الله پاکوي چا

اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ

لره چې وغواړي، اوپه دوی به د کجورې د نرې
تار په برابر هم ظلم ونه

فَتِيْلًا ﴿٤٩﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى

کړی شي -49- ته وگوره دوی څنگه په الله باندې
دروغ ورتپي

ع 4

اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ وَكَفٰى بِهٖٓ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿٥٠﴾

او دا (دروغ) د ښکاره گناه کېدلو لپاره کافي دي -
-50

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ

ایا تا هغو کسانو ته نه دي کتلي چې هغوی ته یوه
برخه له

الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ وَ

کتابه ورکړی شوې وه، چې هغوی (اوس) په بت

الطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او په شيطان (هم) ايمان راوړي او د کافر شوو

هٰٓؤُلَآءِ اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

کسانو (مشرکانو) په باره کې وايي: دا (کفار) له مومنانو نه زيات، سمه لارموندونکي

سَبِيْلًا ﴿٥١﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ

دي -51- دا هغه کسان دي چې الله په دوى لعنت کړى دى

اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ

او په چا باندې چې الله لعنت وکړي، نو ته به کله هم د هغه لپاره مدد کوونکى ونه

نَصِيْرًا ﴿٥٢﴾ؕ اَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ

ومومې -52- ايا د دوى لپاره په بادشاهۍ کې څه برخه شته؟ (نشته او که وَى) نو په دغه وخت کې

فَاِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ نَقِيْرًا ﴿٥٣﴾ اَمْ

به دوی خلقو ته نقیر (د کجورې د زړي داغ) هم نه ورکوي -53- یا دوی

يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ عَلٰى مَاۤ اٰتٰىهُمُ

له خلقو سره حسد کوي په هغه څه چې الله

اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ اٰتَيْنَاۤ اٰلَ

هغوی ته له خپل فضل نه ورکړی دی، پس یقیناً مونږه الِ

اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاٰتَيْنٰهُمْ

ابراهیم ته کتاب او حکمت ورکړی و او مونږه هغوی ته ډېره لویه بادشاهي

مُّلْكًا عَظِيْمًا ﴿٥٤﴾ فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَ

ورکړې وه -54- نو له دوی نه ځینې هغه دي چې په ده یې ایمان راوړی دی او ځینې له دوی نه هغه

مِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ۚ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ

دي چې له ده نه يې مخ اړولى دى، او د (كافرانو لپاره) جهنم كافي دى، چې لمبې

سَعِيْرًا ﴿٥٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا

وهونكى دى -55- بېشكه هغه كسان چې زمونږ په ايتونو كافر

سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ۚ كُلَّمَا نَضِجَتْ

شوي دي ژر ده چې مونږ به هغوى اور ته ننباسو، هر كله چې

جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا

د هغوى څرمنې (په اور) پخې شي، مونږ به هغوى ته له هغو نه غير نورې

لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ۚ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

څرمنې وربدلې كړو، د دې لپاره چې دوى عذاب وڅكي، بېشكه الله ډېر غالب،

الربع

عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿٥٦﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

ښه حکمت والا دی -56- او هغه کسان چې ایمان
یې راوړی دی او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ

نېك عملونه یې کړي دي، یقینًا مونږ به دوی
داسې جنتونو

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

ته داخل کړو چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي،
چې دوی به په هغو کې تل ترتله،

فِيْهَآ اَبَدًا ؕ لَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ

همېشه وي، د دوی لپاره په هغو کې ښې پاکې
بیبیانې دي

مُّطَهَّرَةٌ ۫ وَّ نُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ﴿٥٧﴾

او مونږ به دوی ښه ګور سیوري ته داخل کړو -
-57

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ

بېشکه الله تاسو ته د دې حکم کوي چې امانتونه

اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ وَاِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ

خپلو حقدارو ته وسپارئ او دا چې کله تاسو د خلقو په مينځ

اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا

کې فيصله کوئ، (نو) په انصاف سره فيصله کوئ، بېشکه الله

يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًا

تاسو ته ډېر ښه نصيحت کوي، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه

بَصِيْرًا ﴿۵۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا

ليدونکی دی -58- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی!

اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ

د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر

مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ

د خاوندانو، نو كه چيرې تاسو په خپلو كې د څه شي

فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ

په باره كې جګړه وكړئ، نو هغه (شى) الله او د هغه رسول ته وګرځوئ۔

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ

كه چيرې تاسو په الله او په ورځ د اخرت ايمان لرئ، دا (كار) ډير غوره دى

ع 5

خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ۟ اَلَمْ تَرَ اِلَى

او د انجام په لحاظ ډير ښه دى -59- ايا تا هغه كسان نه

الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَآ

دي کتلي چې دا دعویٰ کوي چې دوی په هغه څه ایمان راوړی دی چې

اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَ مَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ

تا ته نازل کړی شوي دي او په هغه څه چې له تا نه مخکې

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَا كَمُوْٓا اِلَى

نازل کړی شوي دي، دوی غواړي دا چې خپل منځي فیصلې

الطَّاغُوْتِ وَ قَدْ اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا

طاغوت ته یوسي، حال دا چې دوی ته له هغه نه د انکار کولو حکم شوی دی

بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ

او شیطان غواړي چې دوی بې لارې کړي، په ډېرې لرې

ضَلٰلًا بَعِيْدًا ۝٦٠ وَ اِذَا قِيْلَ لَهُمْ

گمراهۍ سره -60- او كله چې دوى ته وويل شي

تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَ اِلَى

هغه (قرآن) ته راشئ چې الله نازل كړى دى او

الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ

رسول ته (راشئ، نو) ته به منافقان وينې چې له تا
نه مخ اړوي،

عَنْكَ صُدُوْدًا ۝٦١ فَكَيْفَ اِذَآ

سخت مخ اړول -61- نو څه حال به وي (د دوى)

اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ

چې كله دوى ته څه مصيبت ورسېږي په سبب د

اَيۡدِيۡهِمۡ ثُمَّ جَآءُوۡكَ يَحۡلِفُوۡنَ ۖ بِاللّٰهِ

هغو (کارونو) چې د دوی لاسونو مخکې لېږلي دي، بیا تا ته راشي، چې په الله قسمونه خوري

اِنۡ اَرَدۡنَاۤ اِلَّاۤ اِحۡسَانًا وَّتَوۡفِيۡقًا ۝٦٢

چې زمونږ اراده یواځې ښېګڼه کول او موافقت راوستل وو -62-

اُولٰٓـئِكَ الَّذِيۡنَ يَعۡلَمُ اللّٰهُ مَا فِىۡ

دا هغه کسان دي چې الله پوهېږي په هغه څه چې د دوی

قُلُوۡبِهِمۡ ۗ فَاَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَعِظۡهُمۡ

په زړونو کې دي، نو ته له دوی نه مخ واړوه او دوی ته نصیحت وکړه او دوی ته

وَقُلۡ لَّهُمۡ فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ قَوۡلًاۢ بَلِيۡغًا ۝٦٣

د دوی د نفسونو په باره کې ښه اثر کوونکې خبره وکړه -63-

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ

او نه دی لېږلی مونږ هېڅ رسول مگر د دې لپاره
چې د الله په حکم سره د هغه اطاعت وکړی شي

بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا

او که په رښتیا دوی په هغه وخت کې تا ته راغلي
وَی چې دوی په

اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَ

خپلو ځانونو ظلم وکړ، بیا یې له الله نه بخښنه
غوښتې وَی او

اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ

د دوی لپاره رسول (هم) بخښنه غوښتې وَی (،
نو) خامخا دوی به الله ښه توبه قبلوونکی، بې

تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿٦٤﴾ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

حده رحم کوونکی موندلی و -64- پس داسې نه
ده، ستاپه رب مې دې قسم وي! دوی مومنان

حَتّٰى يُحَكِّمُوۡكَ فِيۡمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ

کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل مینځ کې

ثُمَّ لَا يَجِدُوۡا فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ حَرَجًا مِّمَّا

په پېښنو جګړو کې تا فیصله کوونکی ومني، بیا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فیصلې په باره کې

قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُوۡا تَسۡلِيۡمًا ۝٦٥ وَلَوۡ اَنَّا

هېڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره يې ومني - 65- او که په رښتیا

كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ اَنِ اقۡتُلُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ

مونږ په دوی باندې دا فرض کړي وَی چې خپل ځانونه قتل کړئ،

اَوِ اخۡرُجُوۡا مِنۡ دِيَارِكُمۡ مَّا فَعَلُوۡهُ

یا له خپلو کورونو نه ووځئ (، نو) دا کار به نه و کړی مګر په دوی

اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا

كې ډېرو لږو (خلقو) او كه په رښتيا دوی هغه
كار كړی وَی د

يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ

څه چې ورته نصيحت كېږي (، نو) دا به د دوی
لپاره يقينًا ډېر غوره و، او د كلكوالي په لحاظ به

تَثْبِيْتًا ۙ﴿۶۶﴾ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ

ډېر سخت و -66- او په دغه وخت كې به يقينًا
مونږه دوی ته له خپل جانبه ډېر لوی

اَجْرًا عَظِيْمًا ۙ﴿۶۷﴾ وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا

اجر وركړی و -67- او مونږ به يقينًا دوی په نېغه
لار

مُّسْتَقِيْمًا ﴿۶۸﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ

روان كړي وو -68- او څوك چې د الله او

الرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ

د (هغه د) رسول اطاعت وكړي، نو دغه كسان به له هغو خلقو سره وي په چا باندې

اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَ

چې الله انعام كړى دى، چې نبيان، او

الصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَ

صديقين او شهيدان او

الصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿٦٩﴾

صالحان دي او دغه خلق ښه ملګري دي -69-

ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

دا د الله له جانبه (پېرزوېنه او) فضل دى او الله كافي دى،

ع 6

عَلِيْمًا ۝٧٠ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا

ښه پوه -70- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا

خپلې وسلې واخلئ، پس (د جنگ لپاره) بېلې بېلې ډلې ووځئ، یا ټول په جمع

جَمِيْعًا ۝٧١ وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ

ووځئ -71- او بېشکه په تاسو کې ځینې خامخا

فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ قَدْ

هغه دي چې ارومرو به (غزا ته په تلو کې) تاخیر کوي، او که چېرې تاسو ته څه مصیبت ورسېږي

اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ

(، نو) هغه وايي: یقیناً الله په ما باندې پېرزوینه وکړه، چې په دغه وخت کې زه له دوی سره حاضر

شَهِيْدًا ﴿٧٢﴾ وَلَىِٕنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ

نه وم -72- او كه چېرې پر تاسو باندې د

اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ لَّمْ تَكُنْۢ بَيْنَكُمْ وَ

الله له جانبه څه فضل وشي (، نو) دوى به
خامخا (په داسې انداز كې) وايي ګوياكې ستاسو

بَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ

په مينځ كې او د هغه په مينځ كې هېڅ دوستي (او
مينه) نه وه: كاشكې زه (هم) له دوى سره وَى، نو

فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧٣﴾ فَلْيُقَاتِلْ فِيْ

ډېره لويه كاميابي به مې حاصله كړې وَى -73- نو
(لازم ده چې) هغه

سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ

كسان دې د الله په لار كې وجنګېږي چې دنيايي
ژوند د

الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ؕ وَ مَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ

اخرت په بدل کې خرڅوي (قربانوي) او څوك چې

سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ

د الله په لار کې جنگ کوي، بيا هغه ووژل شي، يا (په دښمن) غالبه شي، نو مونږ به

نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٧٤﴾ وَ مَا لَكُمْ لَا

هغه ته ژر ډېر لوی اجر ورکړو -74- او په تاسو څه

تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ

شوي دي چې تاسو د الله په لاره کې نه جنگېږئ او

الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَ

د کمزورو سړيو او ښځو او ماشومانو

النِّسَآءِ وَ الْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ

(د خلاصولو) په لاره کې، هغه کسان چې وايي:

رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ

ای زمونږه ربه! ته مونږه له دې کلي نه وباسه،

الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ

چې اوسېدونکي يې ظالمان دي او ته زمونږ لپاره له

لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚۙ وَّ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ

خپل اړخه کوم دوست (حمايت کوونکی)مقرر کړه
او ته زمونږ لپاره له خپل جانبه کوم مدد کوونکی

نَصِيْرًا ۗ﴿۷۵﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ

مقرر کړه -75- هغه کسان چې ايمان يې راوړی
دی،

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هغوی د الله په لار کې جنګ کوي او هغه کسان چې کفر يې

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ

کړی دی، هغوی د طاغوت (شيطان) په لار کې جنګ کوي،

فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ

نو تاسو د شيطان له دوستانو سره جنګ کوئ، بېشکه د

ع 7

الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ۝٧٦ اَلَمْ تَرَ اِلَى

شيطان چل (او مکر) له همېشه ضعيف دی -76- ايا تا هغه

الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَ

کسان نه دي کتلي، چې هغوی ته وويل شو: خپل لاسونه (له جنګ نه) بند وساتئ او

اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا

لمونځ قايموئ او زكات وركوئ، نو كله چې پر
هغوى

كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ

باندې جنگ كول فرض كړى شول (، نو) ناڅاپه
په دغه وخت كې

مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ

په هغو كې يوه ډله له خلقو نه وېرېدله، له الله نه د

اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ

وېرېدلو په شان، يا (له دې نه هم) زيات وېرېدل،
او ويې ويل: اى زمونږ ربه!

كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ

تا پر مونږ باندې جنگ كول ولې فرض كړل؟ ولې
ته مونږ ته

إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا

تر نژدې مودې پورې مهلت نه راکوې؟ ته (ورته) ووایه: د دنیا فایده ډېره لږه ده او اخرت ډېر غوره

قَلِيلٌ ۚ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقَىٰ وَ

دی د هغه چا لپاره چې پرهېزګاره شو او په تاسو به د کجورې د هډوکي د نری تار (قدرې)

لَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ أَيْنَ مَا تَكُونُوا

ظلم (هم) ونه کړی شي -77- تاسو چې په هر

يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي

ځای کې یئ، مرګ به تاسو رالاندې کړي، اګر که تاسو په سختو

بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِنْ تُصِبْهُمْ

مضبوط کړی شویو قلاګانو کې یئ، او که چېرې په دوی

حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَ

ځه خوشحالي راشي (، نو) وايي: دا د الله له جانبه ده او كه په دوى

اِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ

ځه سختي راشي (، نو) وايي: (اى نبي!) دا ستا له طرفه ده.، ته (ورته) ووايه:

عِنْدِكَ ؕ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ

دا هر ځه (خوشحالي او تكليف) د الله له خوا دي،

فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ

نو په دې قوم ځه شوي دي چې نژدي نه دي چې

يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ۝٧٨ مَآ اَصَابَكَ مِنْ

په ځه خبره پوه شي -78- تا ته چې ځه خوشحالي

حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۫ وَ مَاۤ اَصَابَكَ مِنۡ

هم درړسېدلې ده، نو د الله له جانبه ده او تا ته
چې څه تکليف هم

سَيِّئَةٍ فَمِنۡ نَّفۡسِكَ ؕ وَ اَرۡسَلۡنٰكَ

درړسېدلی دی، نو (هغه) ستا د نفس له جانبه
دی او (ای نبي!)

لِلنَّاسِ رَسُوۡلًا ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ

ته مونږه د خلقو لپاره رسول لېږلی يې او کافي دی
الله (د)

شَهِيۡدًا ۝٧٩ مَنۡ يُّطِعِ الرَّسُوۡلَ

گواه (په حيث) -79- چا چې د رسول اطاعت
وکړ،

فَقَدۡ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنۡ تَوَلّٰى فَمَاۤ

نو يقيناً هغه د الله اطاعت وکړ او څوك چې (له
اطاعت نه) وگرځېده،

اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿٨٠﴾

نو ته مونږه پر هغوی باندې څارونکی (نګهبان) نه يې لېږلی -80-

وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۡ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ

او دوی وايي: (زمونږ کار ستا) خبره منل دي، نو کله چې ستا له خوا نه ووځي (، بيا)

عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ

په دوی کې يوه ډله د شپې مشورې کوي، له هغې خبرې نه غير چې

الَّذِيْ تَقُوْلُ ؕ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا

دوی کوله، او الله ليکي هغه خبرې چې دوی يې د

يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ

شپې تدبير کوي، نو ته له دوی نه مخ واړوه او په الله باندې

عَلَى اللّٰهِ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٨١﴾ اَفَلَا

توکل وکړه او الله کافي دی کارساز -81- ايا نو

يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ؕ وَلَوْ كَانَ مِنْ

دوی په قرآن کې غور نه کوي او که چېرې دا د

عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا

غیرالله له خوا وَی، دوی به په ده کې خامخا ډېر زيات اختلاف

كَثِيْرًا ﴿٨٢﴾ وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ

موندلی و -82- او کله چې دوی ته د

الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ ؕ وَلَوْ

امن، يا وېرې څه خبره راشي، دوی هغه خوره (نشر) کړي۔

رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ

او كه چېرې دوى هغه رسول ته او خپلو د كار خاوندانو (حاكمانو)

مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ

ته رسولې وَى، (نو) خامخا په دوى كې به هغو كسانو دا (خبره) معلومه كړې وَى،

مِنْهُمْ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ

څوك چې د دې استنباط او راوېستنه كوي۔ او كه پر تاسو باندې د الله فضل او

رَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا

د هغه رحمت نه وَى، خامخا تاسو به د شيطان تابعداري كړې وه۔ مگر لږو خلقو

قَلِيْلًا ﴿٨٣﴾ فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا

(به نه وه كړې) -83- نو ته د الله په لاره كې جنگ كوه،

تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ وَ حَرِّضِ

ته يواځې د خپل نفس په هكله ذمه وار ګرځولی شې

الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ

او مومنانو ته ترغيب وركړه، كېدی شي چې الله د هغو كسانو جنګ بند كړي چا

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَ اللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّ

چې كفر كړی دی، او الله ډېر سخت دی د جنګ په لحاظ او ډېر سخت دی د سزا وركولو

اَشَدُّ تَنْكِيْلًا ۞ مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً

په لحاظ -84- چا چې سفارش وكړ، ښه سفارش،

حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَ مَنْ

هغه ته به په دې (سفارش) سره (د ثواب) برخه وي او

يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ

چا چې سفارش وکړ، بد سفارش (، نو) هغه ته به
په دې سره (د گناه)

مِّنْهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

پيټی وي او الله له همېشه په هر شي باندې قدرت

مُّقِيْتًا ﴿٨٥﴾ وَإِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ

لرونکی دی -85- او کله چې تاسو ته په سلام

فَحَيُّوْا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوْهَا ؕ إِنَّ

ويلو سره دعا وکړی شي، نو تاسو له هغې نه غوره
جواب ورکړئ، يا هم هغه ور وگرځوئ ـ، بېشکه

اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا ﴿٨٦﴾ اَللّٰهُ

الله د هرشي ښه حساب کوونکی دی -86- الله

النصف

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى

(چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر يواځې هم دی دی، هغه به تاسو خامخا

يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ وَمَنْ

د قيامت ورځې ته راجمع کړي، چې په هغې کې هېڅ شك نشته او له الله نه

اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿٨٧﴾ فَمَا لَكُمْ

ع 8

په خبره کې ډېر رښتينی څوك دی؟ -87- نو د

فِى الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ

منافقانو په باره کې په تاسو څه شوي دي، چې دوه ډلې شوئ، حال دا چې الله

اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ؕ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ

هغوی د خپلو عملونو په سبب نسکور کړي دي، ايا تاسو غواړئ چې هغه

تَهۡدُوۡا مَنۡ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ

کس په نېغه لار روان کړئ چې الله گمراه کړی
دی، او چې الله څوك گمراه کړي، نو ته به هېڅ

اللّٰهُ فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ سَبِيۡلًا ﴿۸۸﴾ وَدُّوۡا لَوۡ

کله هم د هغه لپاره (نېغه) لار ونه مومې -88-
دوی خوښوي

تَكۡفُرُوۡنَ كَمَا كَفَرُوۡا فَتَكُوۡنُوۡنَ

چې تاسو (هم) کافران شئ، لکه څنگه چې دوی
کافران شوي دي،

سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوۡا مِنۡهُمۡ اَوۡلِيَآءَ

بيا به تاسو (ټول) يو شان شئ، نو تاسو له دوی نه
هېڅ دوستان مه نيسئ

حَتّٰى يُهَاجِرُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ؕ فَاِنۡ

تر هغه پورې چې دوی د الله په لار کې هجرت
وکړي، نو که دوی (د الله له لارې نه) وگرځېدل،

تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ

نو تاسو دوی نیسئ او دوی وژنئ کوم ځای چې

وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ

تاسو دوی وموموئ او تاسو له دوی نه مه هیڅ دوست نیسئ

وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٨٩﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ

او نه مدد کوونکی -89- مګر هغه کسان

يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

چې د داسې قوم سره پیوند لري چې ستاسو په مینځ کې

مِّيْثَاقٌ اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ

او د هغوی په مینځ کې معاهده (تړون) وي، یا هغوی تاسو ته

صُدُوْرُهُمْ اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا

راشي چې سينې يې له تاسو سره له جنګ کولو نه، يا له خپل

قَوْمَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ

قوم سره له جنګ کولو نه تنګې وي او که الله غوښتلى

عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ج فَاِنِ

(، نو) دوى به يې خامخا پر تاسو باندې زورور کړي وَى،

اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَاَلْقَوْا

بيا به دوى له تاسو سره خامخا جنګ کړى و، پس که دوى له تاسو نه ډډه وکړي، نوله تاسو سره

اِلَيْكُمُ السَّلَمَ لا فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ

جنګ ونه کړي او تاسو ته د سولې درخواست وکړي، بيا نو الله تاسو لپاره په دوى باندې هيڅ

عَلَيۡهِمۡ سَبِيۡلًا ﴿٩٠﴾ سَتَجِدُوۡنَ اٰخَرِيۡنَ

لاره نه ده ګرځولې -90- ژر دى چې تاسو به نور

يُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ يَّاۡمَنُوۡكُمۡ وَيَاۡمَنُوۡا

خلق ومومئ چې هغوى غواړي چې له تاسو نه په امن (او بېغمه) شي او له

قَوۡمَهُمۡ ؕ كُلَّمَا رُدُّوۡۤا اِلَى الۡفِتۡنَةِ

خپل قوم نه (هم) په امن شي، هر وخت چې فتنې (كفر او وراني)

اُرۡكِسُوۡا فِيۡهَا ۚ فَاِنۡ لَّمۡ يَعۡتَزِلُوۡكُمۡ وَ

ته وبللى شي، (نو) په هغې كې نسكور پرېوځي، نو كه دوى له تاسو

يُلۡقُوۡۤا اِلَيۡكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوۡۤا

نه په ډډه نه شول، او تاسو ته يې سوله پېش نه كړله

اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَ اقْتُلُوْهُمْ

او خپل لاسونه يې (له جنګ) نه بند نه کړل، بيا نو تاسو دوی نيسئ او

حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ؕ وَ اُولٰٓئِكُمْ

دوی وژنئ کوم ځای چې تاسو دوی ومومئ او دغه خلق دي

ع 9

جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿٩١﴾

چې مونږ تاسو ته د دوی په خلاف (د جنګ کولو) ښکاره دليل ګرځولی دی -91-

وَ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا

او د هيڅ مومن لپاره دا حق نشته چې بل مومن قتل کړي مګر

خَطَـًٔا ۚ وَ مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا

دا چې په خطا سره وي، او چا چې مومن په خطا سره قتل کړ،

فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ وَّ دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ

نو د يو مومن څښ (مريي، وينځۍ) ازادول لازم دي او ديت دی چې د

اِلٰۤى اَهۡلِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ يَّصَّدَّقُوۡا ؕ فَاِنۡ كَانَ

هغه (مقتول) وارثانو ته به سپارلی شي، مگر دا چې هغوی (وارثان) يې معاف کړي، نو که چېرې

مِنۡ قَوۡمٍ عَدُوٍّ لَّكُمۡ وَ هُوَ مُؤۡمِنٌ

هغه ستاسو د دښمن له قوم څخه وي او دا (مقتول) مومن وي،

فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ ؕ وَاِنۡ

بيا نو د يو مومن څښ ازادول دي، او که چېرې له داسې قوم څخه وي چې ستاسو په مينځ

كَانَ مِنۡ قَوۡمٍۢ بَيۡنَكُمۡ وَ بَيۡنَهُمۡ

کې او د هغوی په مينځ کې معاهده وي، نو بيا ديت دی چې

مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰۤى اَهْلِه

د هغه وارثانو ته به سپارلی شي او مومن خټ

وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍۚ فَمَنْ لَّمْ

(غلام، وينځه) ازادول دي، نو چا چې (خټ) ونه مونده،

يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ

نو پرله پسې دوه مياشتې روژې نيول دي، د الله له جانبه د توبې لپاره۔

تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

او الله له همېشه ښه پوه، ښه حکمت والا

حَكِيْمًا ﴿٩٢﴾ وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا

دی -92- او هغه څوك چې مومن په قصد (او ارادې)

مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا

سره قتل کړي، نو د هغه سزا جهنم دی، چې
همېشه به په هغه کې وي

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ

او الله په ده باندې غضب کړی دی او په ده یې
لعنت کړی دی او د ده لپاره یې بېخي لوی

عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿٩٣﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا

عذاب تیار کړی دی -93- ای هغو کسانو چې
ایمان یې راوړی دی!

اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَ

کله چې تاسو د الله په لار کې سفر کوئ، نو ښه
تحقیق کوئ

لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰۤى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ

او څوك چې په تاسو سلام واچوي،

لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ

هغه ته دا مه وایئ چې ته مومن نه يې، ـتاسو د

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۡ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ

دنیايي ژوند سامان غواړئ، نو له الله سره ډېر زيات غنيمتونه دي،

كَثِيْرَةٌ ؕ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ

له دې نه مخکې تاسو هم همداسې وئ، بيا پر تاسو باندې

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

الله فضل وکړ، نو ښه تحقيق کوئ، بېشکه الله په هغو کارونو چې

كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۝٩٤ لَا يَسْتَوِى

تاسو يې کوئ، ښه خبردار دی -94-

په مومنانو کې

الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِى

ناست خلق، چې تکلیف والا نه دي، (دوی) او د

الضَّرَرِ وَ الْمُجٰهِدُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

الله په لار کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ

کوونکي سره برابرېدلی۔ نه شي، الله په خپلو

الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَ اَنْفُسِهِمْ

مالونو او ځانونو سره جهاد کوونکو ته په

عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ

ناستو باندې په لویې مرتبې سره فضیلت ورکړی

دی،

الْحُسْنٰى ؕ وَ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ

او له هر يو سره الله د ښې بدلې وعده کړې ده، او الله جهاد کوونکو ته په

عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۙ﴿۹۵﴾

ناستو باندې په ډېر لوی اجر سره غوره والی ورکړی دی -95-

دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَ مَغْفِرَةً وَّ رَحْمَةً ؕ وَ

چې د هغه (الله) له طرف نه مرتبې دي او بخښنه او مهرباني ده، او الله له همېشه بخښونکی،

ع 10

كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۹۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

بې حده رحم کوونکی دی -96- بېشکه هغه کسان

تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ

چې ملايکو د هغوی روحونه قبض کړل، په داسې حال کې

قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ؕ قَالُوْا كُنَّا

چې په خپلو ځانونو ظلم کوونکي وو، ورته وايي به: تاسو په څه حال کې وئ؟

مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ قَالُوْٓا اَلَمْ

دوی به وايي: مونږه په (هغې) ځمکه کې کمزوري کړی شوي وو،

تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا

ورته وبه وايي: ايا د الله ځمکه فراخه نه وه چې تاسو په هغې کې هجرت کړی وَی،

فِيْهَا ؕ فَاُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَ

نو دغه خلق (چې دي) د دوی اوسېدنځای جهنم دی او هغه د ورتلو

سَآءَتْ مَصِيْرًا ۟ۙ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ

بد ځای دی -97- مگر هغه (په رښتيا) کمزوري

مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ لَا

کړی شوي سړي او ښځې او ماشومان،

يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَّلَا يَهْتَدُوْنَ

چې نه د هېڅ حيلې وَس لري او نه څه لاره

سَبِيْلًا ﴿٩٨﴾ فَاُولٰٓئِكَ عَسَى اللّٰهُ اَنْ

مومي -98- نو دغه خلق (چې دي) امېد دی چې
الله

يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا

به هغوی ته معافي وکړي او الله له ازله ښه معافي
کوونکی، ښه

غَفُوْرًا ﴿٩٩﴾ وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

بخښونکی دی -99- او چا چې د الله په لار کې

يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا

هجرت وکړ (، نو) هغه به په ځمکه کې د اوسېدو ډېر ځایونه

وَّسَعَةً ؕ وَ مَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ

او فراخي ومومي او څوك چې له خپله کوره وځي،

مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ

چې الله ته او د هغه رسول ته هجرت کوونکی وي،

الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَ

بیا مرگ دی رالاندې کړي، نو یقینًا د ده اجر په الله باندې ثابت شو، او

ع 11

كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٠٠﴾ وَاِذَا

الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی - 100- او کله چې

ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ

تاسو په ځمکه کې سفر کوئ، نو پر تاسو باندې

جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ اِنْ

هيڅ ګناه نشته چې له لمانځه نه څه حصه کمه کړئ که

خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ

تاسو ويرېدلئ له دې نه چې کافران شوي خلق به تاسو په فتنه کې واچوي،

اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا

بېشکه کافران له همېشه ستاسو ښکاره دښمنان

مُّبِيْنًا ﴿١٠١﴾ وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ

دي -101- او کله چې ته په دوی کې موجود یې،

لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ

بيا ته دوى ته لمونځ ودروې، نوله دوى نه دې يوه ډله له

مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا أَسْلِحَتَهُمْ ۚ

تا سره ودرېږي او خپلې وسلې دې (هم له ځانه سره) ونيسي، نو

فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن

كله چې دوى سجده وكړي، نو دوى دې ستاسو

وَّرَآئِكُمْ ۖ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرٰى لَمْ

شا ته شي او هغه بله ډله دې راشي چې لمونځ يې نه دى كړى،

يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا

نو هغوى دې له تا سره لمونځ وكړي او خپل د ساتنې سامان او

حِذْرَهُمْ وَ اَسْلِحَتَهُمْ ۚ وَدَّ الَّذِيْنَ

خپلې وسلې دې (له ځانه سره) ونيسي، كافران
شوي خلق

كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ وَ

دا ارزو لري چې كاشكې تاسو له خپلو وسلو او

اَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً

خپلو سامانونو نه غافله شئ، بيا هغوى پر تاسو
باندې په يو

وَّاحِدَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ

ځلي زوروره حمله وكړي۔ او پر تاسو باندې هېڅ
گناه نشته كه تاسو ته

بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ اَوْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى

د باران په وجه څه تكليف وي، يا تاسو بيماران يئ

اَنۡ تَضَعُوۡۤا اَسۡلِحَتَكُمۡ‌ ۚ وَخُذُوۡا

دا چې تاسو خپلې وسلې کېږدئ، او خپله بیداري

حِذۡرَكُمۡ‌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلۡكٰفِرِيۡنَ

(د ساتنې سامان) راکلکه کړئ، بېشکه الله د کافرانو لپاره سپکوونکی

عَذَابًا مُّهِيۡنًا ۝١٠٢ فَاِذَا قَضَيۡتُمُ

عذاب تیار کړی دی -102- بیا چې کله تاسو

الصَّلٰوةَ فَاذۡكُرُوا اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوۡدًا

لمونځ ادا کړئ، نو الله یادوئ، په ولاړه او ناسته

وَّعَلٰى جُنُوۡبِكُمۡ‌ ۚ فَاِذَا اطۡمَاۡنَنۡتُمۡ

او په خپلو اړخونو باندې (چې پراته یئ)، بیا چې کله تاسو مطمئن (ډاډمن) شئ،

فَاَقِیۡمُوا الصَّلٰوۃَ ۚ اِنَّ الصَّلٰوۃَ کَانَتۡ

نو لمونځ قايموئ (د اطمينان د حالت لمونځ) بېشكه لمونځ له شروع نه په مومنانو باندې په (معلومو)

عَلَی الۡمُؤۡمِنِیۡنَ کِتٰبًا مَّوۡقُوۡتًا ﴿۱۰۳﴾ وَ لَا

وختونو كې فرض كړى شوى دى -103- او تاسو

تَہِنُوۡا فِی ابۡتِغَآءِ الۡقَوۡمِ ؕ اِنۡ تَکُوۡنُوۡا

د (كافرو) خلقو په لټون كې سستي (كمزوري) مه كوئ، كه تاسو

تَاۡلَمُوۡنَ فَاِنَّہُمۡ یَاۡلَمُوۡنَ کَمَا تَاۡلَمُوۡنَ ۚ

يئ چې په تكليف كېږئ، نو بېشكه هغوى (هم) په تكليف كېږي، لكه څنګه چې تاسو په تكليف

وَ تَرۡجُوۡنَ مِنَ اللّٰہِ مَا لَا یَرۡجُوۡنَ ؕ وَ

كېږئ او تاسو له الله نه د هغه څه امېد لرئ چې هغوى يې امېد نه لري او الله له

ع
12

كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝١٠٤ اِنَّآ اَنْزَلْنَآ

همېشه ښه پوه، ښه حکمت والا دی -104- بېشکه
مونږ تا ته

اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ

کتاب په حقه سره نازل کړی دی، د دې لپاره چې
ته د

النَّاسِ بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ ؕ وَلَا تَكُنْ

خلقو په مېنځ کې فیصله وکړې په هغه څه سره
چې الله تا ته ښودلي دي او ته د خیانت کوونکو

لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ۝١٠٥ وَّاسْتَغْفِرِ

لپاره جګړه کوونکی مه جوړېږه -105- او له الله
نه بخښنه غواړه،

اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝١٠٦

بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی -
-106

وَلَا تُجَادِلُ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ

او ته د هغو کسانو له طرفه جګړه مه کوه چې له
خپلو ځانونو

اَنْفُسَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ

سره خيانت کوي، بېشکه الله له هغه چا سره مينه
نه کوي چې ډېر خاين، سخت

خَوَّانًا اَثِيْمًا ۟ۙ يَّسْتَخْفُوْنَ مِنَ

ګناهګار وي -107- دوی پټول کوي له

النَّاسِ وَ لَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَ هُوَ

خلقو نه او له الله نه پټول نه کوي، حال دا چې
هغه (الله) له دوی سره وي

مَعَهُمْ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ

کله چې دوی د شپې د هغې خبرې په باره کې
مشورې کوي چې

الْقَوْلِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ

هغه (الله) يې نه خوښوي، او الله هغو عملونو لره چې دوی يې کوي،

مُحِيْطًا ﴿١٠٨﴾ هٰاَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ

راګېروونکی دی -108- واورئ! دا تاسو خلق يئ چې د

عَنْهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا قف فَمَنْ

دوی له طرفه مو په دنيايي ژوند کې جګړه وکړه،

يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ

نو د قيامت په ورځ به له الله سره د دوی له طرفه څوك جګړه کوي؟

مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿١٠٩﴾ وَمَنْ

يا څوك به د دوی لپاره کارساز جوړيږي؟ -109- او هر

يَّعۡمَلۡ سُوۡٓءًا اَوۡ يَظۡلِمۡ نَفۡسَهٗ ثُمَّ

ځوك چې څه بد عمل وكړي يا په خپل ځان ظلم وكړي،

يَسۡتَغۡفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوۡرًا

بيا له الله نه بخښنه وغواړي (، نو) الله به ډېر بخښونكى، بيحده رحم كوونكى

رَّحِيۡمًا ﴿۱۱۰﴾ وَمَنۡ يَّكۡسِبۡ اِثۡمًا فَاِنَّمَا

ومومي -110- او هر ځوك چې څه گناه وكړي،

يَكۡسِبُهٗ عَلٰى نَفۡسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيۡمًا

نو بېشكه هم دا خبره ده چې د خپل ځان په ضرر يې كوي، او الله له همېشه نښه پوه، ښه حكمت

حَكِيۡمًا ﴿۱۱۱﴾ وَمَنۡ يَّكۡسِبۡ خَطِيۡٓـئَةً اَوۡ

والا دى -111- او هر ځوك چې څه خطا وكړي،

اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓـًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ

يا څه ګناه، بيا د هغې تور په (بل) بې ګناه پورې کوي، نو يقينًا هغه د غټ

ع 13

بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ١١٢ وَلَوْلَا فَضْلُ

تهمت او ښکاره ګناه بار پورته کړ -112- او که په تا باندې د

اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ

الله فضل او د هغه رحمت نه وَی (، نو) خامخا په

مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ

دوی کې يوې ډلې اراده کړې وه چې تا ګمراه کړي او دوی نه ګمراه کوي مګر

اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَ

خپل ځانونه، او تا ته هېڅ قسمه ضرر نشي دررسولی۔ او

اَنۡزَلَ اللّٰهُ عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ وَالۡحِكۡمَةَ

الله په تا باندې کتاب (قرآن) او حکمت (سنت) نازل کړی

وَعَلَّمَكَ مَا لَمۡ تَكُنۡ تَعۡلَمُ ؕ وَكَانَ

دی او تا ته يې هغه څه درزده کړي دي چې ته پرې نه پوهېدلې، او په تا

فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَيۡكَ عَظِيۡمًا ﴿۱۱۳﴾ لَا خَيۡرَ

باندې د الله فضل ډېر لوی دی -113- هېڅ خير نشته

فِىۡ كَثِيۡرٍ مِّنۡ نَّجۡوٰٮهُمۡ اِلَّا مَنۡ اَمَرَ

د هغوی په ډېرو پټو مشورو کې مګر هغه څوک چې حکم وکړي

بِصَدَقَةٍ اَوۡ مَعۡرُوۡفٍ اَوۡ اِصۡلَاحٍۢ بَيۡنَ

د صدقې کولو، يا د نېکۍ کولو، يا د خلقو په مينځ کې د اصلاح (روغې) کولو،

الثلثة

النَّاسِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ

او هر څوك چې دغه كارونه د الله د رضا لټولو

مَرْضَاتِ اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا

لپاره وكړي، نو ژر ده چې هغه ته به مونږ ډېر لوی

عَظِيْمًا ﴿۱۱۴﴾ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ

اجر وركړو -114- او هغه څوك چې له رسول سره مخالفت وكړي،

مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ

وروسته له دې نه چې هغه ته ښغه لار ښه څرګنده شوه، او د مومنانو له لارې نه غير د بلې (لارې)

غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى

تابع شي (، نو) مونږ به دغه (كس) هغه څه ته وروګرځوو چې دى ورته ورګرځېدلى دى او جهنم

ع
14

وَ نُصۡلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَ سَآءَتۡ مَصِيۡرًا ﴿۱۱۵﴾

ته به يې داخل کړو او هغه د ورتلو بد ځای دی -
-115

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغۡفِرُ اَنۡ يُّشۡرَكَ بِهٖ وَ

بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره شريك
ونيول شي او

يَغۡفِرُ مَا دُوۡنَ ذٰلِكَ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ

بخښي هغه (ګناهونه) چې له دې (شرك، کفر) نه
کم دي،

مَنۡ يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ

د چا لپاره چې يې وغواړي، او څوك چې له الله
سره شريك ونيسي، نو يقيناً هغه ګمراه شو په ډېرې

بَعِيۡدًا ﴿۱۱۶﴾ اِنۡ يَّدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اِلَّاۤ

لرې ګمراهۍ سره -116- دوی له هغه (الله) نه
غير نه بلي

د سورتونو فهرست د سپارو فهرست

وقف لازم

إِنٰثًا ۚ وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا

مگر ښځې (ښځ نومي بتان) او دوی نه بلې مگر سرکښه شيطان

مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾ لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ

لره -117- الله په هغه لعنت کړی دی او هغه (شيطان) وويل: زه به خامخا لازمًا

مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾ وَّ

ستاپه بنده گانو کې يوه مقرره برخه راگېروم - 118- او

لَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ

زه به خامخا لازمًا هغوی گمراه کوم او زه به خامخا لازمًا هغوی په

فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ

ارزوگانو کې اچوم او زه به خامخا لازمًا هغوی ته حکم کوم، بيا به هغوی خامخا د څارويو غوږونه

فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ۚ وَ مَنْ يَّتَّخِذِ

خيروي او زه به خامخا هغوی ته حکم کوم، نو هغوی به ارومرو د الله په تخليق کې تغيير

الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ

(بدلون) راولي او چا چې له الله نه غير شيطان دوست ونيوه، نو يقينًا

خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿١١٩﴾ يَعِدُهُمْ وَ

هغه تاواني شو، ښکاره تاواني کېدل -119- هغه (شيطان) دوی

يُمَنِّيْهِمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا

ته وعدې ورکوي او په ارزوګانو کې يې اچوي او شيطان دوی ته وعدې نه ورکوي مګر د دوکې

غُرُوْرًا ﴿١٢٠﴾ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۫ وَ

(چل ول) -120- دغه خلق دي چې د دوی استوګنه جهنم دی او

لَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿۱۲۱﴾ وَ الَّذِيْنَ

دوی به له هغه نه هېڅ خلاصی ونه مومي -121- او هغه کسان

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

چا چې ایمان راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي

سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ

ژر ده چې مونږ به دوی داسې جنتونو ته داخل کړو چې د هغو

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ

له لاندې ولې بهيږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، (دا)

وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَ مَنْ اَصْدَقُ مِنَ

د الله حقه وعده ده او له الله نه په خبره کې څوك زيات

اللّٰهِ قِيْلًا ﴿١٢٢﴾ لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ

رښتيني دی؟ -122- نه ستاسو په ارزوګانو څه
کيږي

اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا

او نه د اهلِ کتابو په ارزوګانو، (بلکې) چا چې هم
بد عمل وکړ هغه ته به د دغه (بد عمل) بدله

يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

ورکولی شي او هغه به ونه مومي د ځان لپاره له
الله نه غير هيڅ کار سازی او نه

وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ

څوك مدد کوونکی -123- او چې چا هم د نيکيو

الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ

عمل وکړ، نر وي او که ښځه، خو چې مومن وي،

مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا

نو دغه خلق به جنت ته داخلېږي او په دوی به د
كجورې د زړي د داغ هومره

يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿١٢٤﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا

ظلم (هم) نه کېږي -124- او د دين په لحاظ له
هغه کس

مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ

نه ښوك زيات ښه دى، چې خپل مخ يې الله ته
تابع كړ او هغه نېكي كوونكى و-

وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَ

او هغه د ابراهيم د ملت تابع شي، چې يواځې
حق پسې تلونكى و، او

اتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿١٢٥﴾ وَلِلّٰهِ

الله ابراهيم لره خليل نيولى دى -125- او خاص
د الله لپاره

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ

دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او

ع 15

كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾

الله هر شي لره بنه راګېرروونکی دی -126-

وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ قُلِ اللّٰهُ

او (ای نبي!) دوی له تا نه د ښځو په باره کې تپوس کوي، ته ووايه: الله تاسو

يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي

ته د هغوی په باره کې فتویٰ درکوي او هغه (حکم هم شته) چې تاسو ته

الْكِتٰبِ فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا

په کتاب کې تلاوت کولی شي د هغو يتيمو ښځو په باره کې چې

تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ

تاسو هغوی ته د هغوی لپاره مقرر شوی (مهر) نه ورکوئ او له هغوی

اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ

سره د نکاح کولو رغبت لرئ او د کمزورو

الْوِلْدَانِ ۙ وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى

ماشومانو په باره کې او د دې په باره کې چې تاسو د یتیمانو لپاره

بِالْقِسْطِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ

په انصاف سره قایم اوسئ۔ او تاسو چې څه نېکي کوئ، بېشکه الله په هغې

اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ﴿۱۲۷﴾ وَاِنِ امْرَاَةٌ

باندې ښه عالم دی -127- او که چېرې یوه ښځه

خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا

له خپل خاوند نه د زياتي، يا مخ اړوني اندېښنه ولري، نو په دې دواړو باندې

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا

هېڅ ګناه نشته چې په خپل مينځ کې په څه شان هم روغه وکړي،

صُلْحًا ؕ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ؕ وَاُحْضِرَتِ

او روغه کول ډېر غوره دي او نفسونه شومتيا ته

الْاَنْفُسُ الشُّحَّ ؕ وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَ

حاضر کړی شوي دي او که تاسو نېکي وکړئ او پ

تَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

رهېزګاره شئ، نو يقينًا الله په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ؛

خَبِيۡرًا ﴿۱۲۸﴾ وَلَنۡ تَسۡتَطِيۡعُوۡۤا اَنۡ

ښه خبردار دی -128- او تاسو به كله هم (دا)

تَعۡدِلُوۡا بَيۡنَ النِّسَآءِ وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡ

وَس ونه لرئ چې د ښځو په مينځ كې انصاف
وكړئ اګر كه تاسو (د دې)

فَلَا تَمِيۡلُوۡا كُلَّ الۡمَيۡلِ فَتَذَرُوۡهَا

حرص (هم) وكړئ، نومه كږېږئ (يوې خوا ته)
پوره كږېدل، چې تاسو هغه (بله) پرېږدئ په شان د

كَالۡمُعَلَّقَةِ ؕ وَاِنۡ تُصۡلِحُوۡا وَتَتَّقُوۡا

زوړندې كړى شوې او كه تاسو صلح وكړئ او
پرهېزګاره شئ، نو بېشكه الله له

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿۱۲۹﴾ وَاِنۡ

همېشه ډېر بخښونكى، بې حده مهربان دى -
-129- او كه

يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ وَ

دواړه له يو بل نه بېل شي (، نو) الله به هر يو په خپلې فراخۍ سره غني کاندي او الله له همېشه

كَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا ﴿١٣٠﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي

فراخۍ والا، ښه حكمت والا دی -130- او خاص د الله

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ

لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او يقينًا

وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ

يقينًا مونږه هغو کسانو ته کلك حکم کړی دی چې له تاسو مخکې

قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَ

ورته كتاب وركړی شوی و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ

اِنۡ تَكۡفُرُوۡا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَ

او كه تاسو كفر وكړئ، نو يقينًا خاص د الله لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هغه څه

مَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا

چې په ځمكه كې دي او الله له همېشه غني (او) ښه ستايل

حَمِيۡدًا ﴿۱۳۱﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى

شوى دى -131- او خاص د الله لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هغه څه چې په

الۡاَرۡضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيۡلًا ﴿۱۳۲﴾ اِنۡ

ځمكه كې دي او الله ښه كافي دى كارساز -132- كه هغه

يَّشَاۡ يُذۡهِبۡكُمۡ اَيُّهَا النَّاسُ وَيَاۡتِ

وغواړي تاسو به فناكړي اى خلقو!

بِاٰخَرِيْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ

اونور خلق به راولي. او الله په دې باندې ښه

قَدِيْرًا ﴿۱۳۳﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ

قادر دی -133- څوک چې داسې دی چې

الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَ

د دنيا بدله غواړي، نو له الله سره د دنيا او اخرت

ع 16

الْاٰخِرَةِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۱۳۴﴾

دواړو بدله ده او الله ښه اورېدونکی، ښه
ليدونکی دی -134-

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! ښئ
تاسو قايم

بِالۡقِسۡطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوۡ عَلٰٓى

اوسېدونکي په انصاف باندې، ګواهي کوونکي د
الله لپاره، اګر که (دا ګواهي)

اَنۡفُسِكُمۡ اَوِ الۡوَالِدَيۡنِ وَالۡاَقۡرَبِيۡنَ‌ ۚ

ستاسو د خپلو ځانونو، یا مور او پلار او نژدې
خپلوانو په خلاف وي،

اِنۡ يَّكُنۡ غَنِيًّا اَوۡ فَقِيۡرًا فَاللّٰهُ اَوۡلٰى

که هغه (کس) مالداره وي، یا غریب وي، نو الله
د دې

بِهِمَا‌ قف فَلَا تَتَّبِعُوا الۡهَوٰٓى اَنۡ تَعۡدِلُوۡا‌ ۚ

دواړو ډېر خیرغوښتونکی دی، نو تاسو (له حق
نه) د اوړېدلو لپاره

وَاِنۡ تَلۡوٗۤا اَوۡ تُعۡرِضُوۡا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ

د خواهشاتو پیروي مه کوئ او که تاسو ژبې کږې
کړئ، یا مخ واړوئ، نو یقینًا الله

بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرًا ﴿۱۳۵﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ښه خبردار دی
-135- ای هغو کسانو

اٰمَنُوۡۤا اٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَالۡكِتٰبِ

چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په الله ایمان
راوړئ او د هغه په رسول او په هغه کتاب چې

الَّذِىۡ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوۡلِهٖ وَالۡكِتٰبِ

هغه په خپل رسول باندې نازل کړی دی او په هغو
کتابونو چې

الَّذِىۡۤ اَنۡزَلَ مِنۡ قَبۡلُ ‌ؕ وَمَنۡ يَّكۡفُرۡ

له ده نه یې مخکې نازل کړي دي، او څوك چې
په الله سره کافر شي

بِاللّٰهِ وَمَلٰٓٮِٕكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَ

او د هغه په ملایکو او د هغه په کتابونو او د هغه
په رسولانو او

الْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ

د اخرت په ورځ، نو یقیناً هغه ګمراه شو په ډېرې
لرې ګمراهۍ

بَعِيْدًا ﴿١٣٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا

سره -136- بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړ،
بیا دوی کافر شول،

ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا

بیا یې ایمان راوړ، بیا کافر شول، بیا دوی په کفر
کې ښه مخ په وړاندې لاړل (، نو)

كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا

الله کله هم داسې نه دی چې دوی ته بخښنه
وکړي او نه داسې دی چې دوی به

لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا ﴿١٣٧﴾ بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ

په (نېغه) لاره روان کړي -137- منافقانو ته زېری

بِاَنَّ لَهُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمَا ۙ ﴿۱۳۸﴾ اِلَّذِيۡنَ

ورکړه چې بېشکه د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی -138- هغه کسان

يَتَّخِذُوۡنَ الۡكٰفِرِيۡنَ اَوۡلِيَآءَ مِنۡ

چې له مومنانو نه غير کافران دوستان نيسي،

دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ اَيَبۡتَغُوۡنَ عِنۡدَهُمُ

ايا دوی د هغوی په خوا کې عزت لټوي؟

الۡعِزَّةَ فَاِنَّ الۡعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيۡعًا ؕ ﴿۱۳۹﴾ وَقَدۡ

نو بېشکه عزت ټول د الله لپاره دی -139- او يقينًا هغه

نَزَّلَ عَلَيۡكُمۡ فِى الۡكِتٰبِ اَنۡ اِذَا

(الله) پر تاسو باندې په کتاب کې دا (حکم) نازل کړی دی

سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَ

چې كله تاسو د الله ايتونه واورئ، چې په هغو
سره كفر كېږي او

يُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى

په هغو پورې مسخرې كېږي، نو تاسو له هغوى
(كفر او استهزا كوونكو) سره مه كېنئ تر دې چې

يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖٓ ۖ اِنَّكُمْ اِذًا

هغوى له دې نه علاوه (په نورو) خبرو كې مشغوله
شي، بېشكه تاسو په

مِّثْلُهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَ

دغه وخت كې د هغوى په شان يئ، بېشكه الله
منافقانو او

الْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ۙ﴿۱۴۰﴾

كافرانو ټولو لره په جهنم كې راجمع كوونكى دى
-140-

اِلَّذِيۡنَ يَتَرَبَّصُوۡنَ بِكُمۡ ۚ فَاِنۡ كَانَ

هغه (منافقان) چې ستاسو په باره کې انتظار کوي، نو که د الله له جانبه تاسو

لَكُمۡ فَتۡحٌ مِّنَ اللّٰهِ قَالُوۡۤا اَلَمۡ نَكُنۡ

ته فتح حاصله شي، دوی وايي: ايا مونږ له

مَّعَكُمۡ ۖ وَاِنۡ كَانَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ نَصِيۡبٌ ۙ

تاسوسره ملګري نه وو؟ او که چېرې د کافرانو لپاره څه برخه وي، (بيا کافرو ته)

قَالُوۡۤا اَلَمۡ نَسۡتَحۡوِذۡ عَلَيۡكُمۡ وَ

دوی وايي: ايا مونږ په تاسو غالب شوي نه وو او

نَمۡنَعۡكُمۡ مِّنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ فَاللّٰهُ

(ايا) مونږ تاسو له مومنانو نه بچ نه کړئ، نو الله

يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلَنْ

به ستاسو په مينځ کې د قيامت په ورځ فيصله کوي۔ او

يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

الله به کله هم د کافرانو لپاره په مومنانو باندې (د غلبې) څه لار جوړه

ع 17

سَبِيْلًا ۟ ١٤١ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ

نه کړي -141- بېشکه منافقان له الله سره دوکه

اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى

کوي او الله له دوی سره دوکه کوونکی دی او کله چې دوی

الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ

لمانځه ته پاځېږي (، نو) سست (کاهلان) پاځېږي، خلقو ته

اَلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا

ځانونه ښيي او الله نه يادوى مګر

قَلِيْلًا ﴿١٤٢﴾ مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ لَآ اِلٰى

ډېر لږ. -142- دوى د دې (كفر او اسلام) په مينځ
كې زړه نازړه دي، نه (سم) د دوى

هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ۗ وَمَنْ يُّضْلِلِ

په طرف دي او نه (سم) د هغوى په طرف دي او
هغه څوك چې الله يې ګمراه كړي،

اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿١٤٣﴾ يٰٓاَيُّهَا

نو ته به كله هم د هغه لپاره څه لار ونه مومې -
-143- اى هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ

كسانو چې ايمان يې راوړى دى! له مومنانو نه
غير كافرانو

اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ

لره دوستان مه نيسئ، ايا تاسو غواړئ چې

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ

د الله لپاره د خپل ځان په خلاف ښکاره دليل

سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۱۴۴﴾ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى

ثابت کړئ -144- بېشکه منافقان د اور تر ټولو

الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ

لاندينۍ طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوك مدد کوونکی

تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا ﴿۱۴۵﴾ ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا

ونه مومې -145- مګر هغه کسان چې

وَ اَصۡلَحُوۡا وَ اعۡتَصَمُوۡا بِاللّٰهِ وَ

توبه یې وېستله او د ځان اصلاح یې وکړه او په (دین د) الله یې

اَخۡلَصُوۡا دِیۡنَهُمۡ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ

منګولې کلکې ولګولې او خپل دین یې د الله لپاره خالص کړ، نو دغه کسان به

الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ؕ وَ سَوۡفَ یُؤۡتِ اللّٰهُ

له مومنانو سره وي او ژر ده چې الله به

الۡمُؤۡمِنِیۡنَ اَجۡرًا عَظِیۡمًا ﴿۱۴۶﴾ مَا یَفۡعَلُ

مومنانو ته ښېخې لوی اجر ورکړي -146- الله تاسو

اللّٰهُ بِعَذَابِكُمۡ اِنۡ شَكَرۡتُمۡ وَ

ته په عذاب درکولو څه کوي که تاسو شکر وباسئ؟! او

اٰمَنْتُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿١٤٧﴾

ایمان راوړئ او الله له همېشه شکر قبلوونکی، ښه پوه دی -147-

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ

الله د بدي خبرې ښکاره ویل نه خوښوي خو هغه

الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

کس چې ظلم پرې شوی وي (هغه معاف دی) او الله له همېشه ښه اورېدونکی،

سَمِيْعًا عَلِيْمًا ۝١٤٨ اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ

ښه پوه دی -148- که تاسو څه نېکي ښکاره کړئ،

تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ

یا هغه پټه کوئ، یا د بدۍ په هکله معافي کوي، بېشکه الله له ازله

كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ۝١٤٩ اِنَّ الَّذِيْنَ

ښه معافي کوونکی، ښه قادر دی -149- بېشکه هغه کسان

يَكۡفُرُوۡنَ بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖ وَ يُرِيۡدُوۡنَ

چې په الله او د هغه په رسولانو كافران كيږي او دوى غواړي

اَنۡ يُّفَرِّقُوۡا بَيۡنَ اللّٰهِ وَ رُسُلِهٖ وَ

چې د الله او د هغه د رسولانو په مينځ كې بېلتون وكړي او

يَقُوۡلُوۡنَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٍ وَّ نَكۡفُرُ

دوى وايي چې مونږ په ځينو ايمان راوړو او په ځينو كافر كيږو

بِبَعۡضٍ ۙ وَّ يُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ يَّتَّخِذُوۡا بَيۡنَ

او دوى غواړي چې د دې (اسلام او كفر) په مينځ كې (بله)

ذٰلِكَ سَبِيۡلًا ۙ﴿۱۵۰﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡكٰفِرُوۡنَ

لار ونيسي -150- دغه كسان په رښتيا كافران دي

حَقًّا ۚ وَ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا

او مونږه د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار

مُّهِيْنًا ﴿۱۵۱﴾ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ

کړی دی -151- او هغه کسان چې په الله او

رُسُلِهٖ وَ لَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ

د هغه په رسولانو یې ایمان راوړی دی او په دوی

کې یې د هیڅ یو تر مینځه تفریق نه دی کړی،

اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ؕ وَ

دغه کسان دي چې هغه (الله) به دوی ته د دوی

ثوابونه ژر (او) یقینًا ورکړي او الله له ازله ډېر

ع 1

كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۵۲﴾ ع يَسْـَٔلُكَ

بخښونکی، بې حده مهربان دی -152- اهلِ کتاب

اَهۡلُ الۡكِتٰبِ اَنۡ تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ كِتٰبًا

له تا نه د دې مطالبه کوي چې ته په دوی باندې له

مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدۡ سَاَلُوۡا مُوۡسٰٓى اَكۡبَرَ

اسمانه يو کتاب نازل کړې، پس يقينًا دوی له موسٰی څخه له دې

مِنۡ ذٰلِكَ فَقَالُوۡۤا اَرِنَا اللّٰهَ جَهۡرَةً

نه غټه مطالبه کړې وه، پس دوی (هغه ته) ويلي وو: ته مونږ ته الله ښکاره

فَاَخَذَتۡهُمُ الصّٰعِقَةُ بِظُلۡمِهِمۡ ۚ ثُمَّ

مخامخ وښيه، نو دوی د خپل ظلم په سبب تندر ونيول، بيا دوی

اتَّخَذُوا الۡعِجۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِ

سخی (معبود) ونيوه، وروسته له دې چې دوی

مَا جَآءَتۡهُمُ الۡبَيِّنٰتُ فَعَفَوۡنَا عَنۡ

ته ښې واضحې نښې راغلې، بيا مونږ دوی ته د دې معافي وکړه

ذٰلِكَ ۚ وَ اٰتَيۡنَا مُوۡسٰى سُلۡطٰنًا مُّبِيۡنًا ﴿۱۵۳﴾

او مونږ موسٰی ته ښکاره غلبه (دليل) ورکړه -153-

وَ رَفَعۡنَا فَوۡقَهُمُ الطُّوۡرَ بِمِيۡثَاقِهِمۡ وَ

او مونږ له دوی څخه د پخې وعدې اخيستلو لپاره د

قُلۡنَا لَهُمُ ادۡخُلُوا الۡبَابَ سُجَّدًا

دوی له پاسه (د) طور (غر) راپورته کړ او مونږه دوی ته ووېل: تاسو په دروازه کې داخل شئ، چې

وَّ قُلۡنَا لَهُمۡ لَا تَعۡدُوۡا فِى السَّبۡتِ وَ

سجده کوونکي يئ او مونږه دوی ته ووېل: تاسو د خالي په ورځ

اَخَذۡنَا مِنۡهُمۡ مِّيۡثَاقًا غَلِيۡظًا ﴿١٥٤﴾

کې زياتی مه کوئ او مونږه له دوی نه ډېره مضبوطه وعده واخيستله -154-

فَبِمَا نَقۡضِهِمۡ مِّيۡثَاقَهُمۡ وَكُفۡرِهِمۡ

نو (دوی ته سزا ورکړی شوه) په سبب د دوی د ماتولو خپل لوظ لره او

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتۡلِهِمُ الۡاَنۡبِيَآءَ بِغَيۡرِ

د الله په ايتونو د کفر کولو او د نبيانو د ناحقه وژلو (په سبب) او

حَقٍّ وَّقَوۡلِهِمۡ قُلُوۡبُنَا غُلۡفٌ ؕ بَلۡ طَبَعَ

د دوی د دې خبرې په سبب چې زمونږ زړونه ”پرده بند“ دي (داسې نه ده) بلکې

اللّٰهُ عَلَيۡهَا بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُوۡنَ اِلَّا

الله د دوی د کفر په وجه په هغو (زړونو) مهر لګولی دی، نو دوی ايمان نه راوړي مګر

قَلِيْلًا ﴿۱۵۵﴾ وَّ بِكُفْرِهِمْ وَ قَوْلِهِمْ عَلٰى

ډېر لږ (خلق) -155- او په سبب د دوی د کفر کولو

مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيْمًا ﴿۱۵۶﴾ وَّ قَوْلِهِمْ اِنَّا

او په مريم باندې د بېخي لوی تهمت ويلو -156- او د دوی د دې

قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ

وينا په سبب چې بېشکه مونږه د مريمې زوی مسيح عيسٰی وژلی دی،

رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَ مَا قَتَلُوْهُ وَ مَا صَلَبُوْهُ وَ

چې د الله رسول دی، حال دا چې دوی نه هغه وژلی دی او نه يې په دار کړی دی او

لٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ

لېکن دوی ته هغه (له عيسٰی سره) يو شان کړی شوی و او بېشکه هغه کسان چې

اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ؕ مَا لَهُمْ

د ده (عيسٰی) په باره کې يې اختلاف کړی دی، خامخا د ده په هکله په شك کې دي،

بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَ مَا

دوی ته د هغه په باره کې هېڅ علم نشته سوا د (خپل) ګمان له پيروۍ نه۔ او دوی هغه يقِيناً نه

قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ۙ﴿۱۵۷﴾ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ؕ وَ

دی وژلی -157- بلکې الله هغه خپل طرف ته راپورته کړی دی۔ او

كَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾ وَاِنْ مِّنْ

الله له ازله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی -158- او نشته هيڅوك له

اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ

اهلِ کتابو نه مګر چې هغه به خامخا لازمًا د ده

مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ

له مرګ نه مخکې په ده ایمان راوړي او د قیامت په ورځ به هغه (عیسٰی) په دوی باندې

شَهِيْدًا ۚ۱۵۹ فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا

ګواه وي -159- نو د یهودیان شویو خلقو د ظلم کولو

حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ لَهُمْ وَ

په سبب مونږ پر هغوی باندې هغه پاکیزه څیزونه حرام کړل، چې د دوی لپاره (مخکې) حلال

بِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَثِيْرًا ۙ۱۶۰

ګرځول شوي وو او په سبب د منع کولو د دوی ډېرو (خلقو) لره د الله له لارې نه -160-

وَّاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ وَ

او (په سبب) د دوی د سود اخیستلو، حال دا چې دوی

اَكۡلِهِمۡ اَمۡوَالَ النَّاسِ بِالۡبَاطِلِ ؕ وَ

له دي نه منع كړى شوي وو، او (په سبب) د دوى په

اَعۡتَدۡنَا لِلۡكٰفِرِيۡنَ مِنۡهُمۡ عَذَابًا

ناحقه خوړلو د خلقو مالونو لره، او مونږه په دوى كې د كافرانو لپاره ډېر دردوونكى عذاب تيار

اَلِيۡمًا ﴿۱۶۱﴾ لٰكِنِ الرّٰسِخُوۡنَ فِى الۡعِلۡمِ

كړى دى -161- خو په دوى كې په علم كې پاخه

مِنۡهُمۡ وَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِمَاۤ

خلق او مومنان، هغوى ايمان رواړي په هغه (كتاب) باندې

اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ وَمَاۤ اُنۡزِلَ مِنۡ قَبۡلِكَ وَ

چې تا ته نازل كړى شوى دى او په هغو (كتابونو) باندې

الْمُقِيمِيْنَ الصَّلٰوةَ وَالْمُؤْتُوْنَ

چې له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي او
خصوصًا چې لمونځ قايموونکي دي

الزَّكٰوةَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

او زكات وركوونكي دي او په الله او په ورځ د

الْاٰخِرِ ؕ اُولٰٓئِكَ سَنُؤْتِيْهِمْ اَجْرًا

اخرت ايمان لرونكي دي، دغه خلق، خامخا به
مونږ دوی ته ډېر لوی اجر

ع 2

عَظِيْمًا ۧ۱۶۲ اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ

وركړو -162- بېشكه مونږ تا ته وحي كړې ده،
لكه څنگه چې

اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ

مونږه وحي كړې وه نوح ته او له هغه نه پس
(نورو) نبيانو ته

بَعْدِهٖ ۚ وَ اَوْحَيْنَاۤ اِلٰۤى اِبْرٰهِيْمَ وَ

او مونږ وحي كړې وه ابراهيم او

اِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَ

اسمعيل او اسحاق او يعقوب او د (هغوى)

الْاَسْبَاطِ وَ عِيْسٰى وَ اَيُّوْبَ وَ يُوْنُسَ وَ

اولادې ته او عيسٰى او ايوب او يونس او

هٰرُوْنَ وَ سُلَيْمٰنَ ۚ وَ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ

هارون او سليمان تهـ او مونږه داود ته زبور

زَبُوْرًا ۚ ﴿١٦٣﴾ وَ رُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ

وركړې و -163- او (مونږ لېږلي وو) ډېر رسولان، چې يقيناً د هغوى احوال

عَلَيۡكَ مِنۡ قَبۡلُ وَ رُسُلًا لَّمۡ

مونږ تا ته له دې نه مخکې بيان کړي دي او (نور) رسولان چې د هغوی

نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَ ؕ وَ كَلَّمَ اللّٰهُ مُوۡسٰى

احوال مونږ تا ته نه دي بيان کړي او الله له موسٰی سره خبرې کړي دي، واضحې

تَكۡلِيۡمًا ۚ﴿۱۶۴﴾ رُسُلًا مُّبَشِّرِيۡنَ وَ

خبرې -164- او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زېری ورکوونکي او

مُنۡذِرِيۡنَ لِئَلَّا يَكُوۡنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ

وېروونکي وو، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په الله باندې

حُجَّةٌ ۢ بَعۡدَ الرُّسُلِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ

څه حجت پاتې نشي او الله له ازله ډېر غالب، ښه

عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿١٦٥﴾ لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ

حکمت والا دی -165- لېکن الله گواهي کوي په هغه شي

اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

چې تا ته يې نازل کړی دی، چې دا يې په خپل علم سره نازل کړی دی، او ملايك (هم)

يَشْهَدُوْنَ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿١٦٦﴾ اِنَّ

گواهي کوي او الله ښه کافي دی (په حيث د) گواه -166- بېشکه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ

هغه کسان چې کافر شوي دي او د الله له لارې نه يې بندول کړي دي، يقيناً هغوی

اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿١٦٧﴾ اِنَّ

گمراه شوي دي په ډېرې لرې گمراهۍ سره -167- بېشکه

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ ظَلَمُوْا لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ

هغه كسان چې كفر يې كړى دى او ظلم يې كړى دى، الله داسې نه دى چې دوى

لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ﴿١٦٨﴾

به وبخښي او نه دا چې دوى به په نېغه لار روان كړي -168-

اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

مگر په لار د جهنم، چې دوى به په هغه كې تل

اَبَدًا ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٦٩﴾

ترتله وي او دا (كار) الله ته ډېر اسان دى -169-

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ

اى خلقو! يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه په حقه سره رسول راغلى دى،

بِالۡحَقِّ مِنۡ رَّبِّكُمۡ فَاٰمِنُوۡا خَيۡرًا

نو تاسو ايمان راوړئ، (دا به) تاسو لپاره ډېر غوره وي

لَّكُمۡ ؕ وَاِنۡ تَكۡفُرُوۡا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي

او كه تاسو كفر كوئ، نو يقينًا خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

اسمانونو او ځمكه كې دي او الله له ازله ښه پوه، ښه

عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ۝١٧٠ يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لَا

حكمت والا دی -170- ای اهلِ كتابو! تاسو په

تَغۡلُوۡا فِيۡ دِيۡنِكُمۡ وَلَا تَقُوۡلُوۡا عَلَى اللّٰهِ

خپل دين كې غُلو (زياتی) مه كوئ او الله ته يواځې

اِلَّا الۡحَقَّ ؕ اِنَّمَا الۡمَسِيۡحُ عِيۡسَى ابۡنُ

د حقي خبرې نسبت کوئ، يقيناً همدا خبره ده چې د مريمې زوی مسيح عيسیٰ (يواځې)

مَرۡيَمَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ اَلۡقٰهَاۤ

د الله رسول دی او د هغه کلمه ده، چې هغه يې

اِلٰى مَرۡيَمَ وَرُوۡحٌ مِّنۡهُ ۖ فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ

مريم ته غورځولې وه او د هغه (الله) له جانبه روح دی،

وَرُسُلِهٖ ۚ وَلَا تَقُوۡلُوۡا ثَلٰثَةٌ ؕ اِنۡتَهُوۡا

نو تاسو په الله او د هغه په رسولانو ايمان راوړئ او تاسو مه وايئ چې (معبودان) درې دي، تاسو

خَيۡرًا لَّكُمۡ ؕ اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ

(له دې نه) منع شئ، تاسو لپاره به (دا) ډېره ښه وي، يقيناً همدا خبره ده چې الله يو معبوددی (زه)

وقف لازم

سُبْحٰنَهٗۤ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ۘ لَهٗ مَا فِي

هغه لره پاکي بيانوم له دې نه چې د هغه لپاره دې اولاد وي، خاص د هغه لپاره دي هر هغه څه چې

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى

په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله بنه کافي دی

ع 3

بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۟ ﴿١٧١﴾ لَنْ يَّسْتَنْكِفَ

(په حيث د) کار ساز -171- هيڅکله به هم

الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا

مسيح (دا د ځان لپاره) عار ونه ګڼي چې هغه دې د الله بنده وي او نه

الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ وَمَنْ

ملايك چې مقرب دي۔ او څوک چې د هغه

يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَ يَسْتَكْبِرْ

عبادت كول (د ځان لپاره) عار ګڼي او لويي
كوي، نو ژر به هغه (الله) دوى

فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿۱۷۲﴾ فَاَمَّا

خپل طرف ته ټول راجمع كړي -172- نو هر چې

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

هغه كسان دي چا چې ايمان راوړى دى او نيك
عملونه يې كړي دي'

فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ وَ يَزِيْدُهُمْ مِّنْ

نو هغه به دوى ته د دوى اجرونه پوره وركړي او
له

فَضْلِهٖ ۚ وَ اَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَ

خپل فضل نه به دوى ته (نور) زيات وركړي او

اسۡتَكۡبَرُوۡا فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۙ وَّ

پاتې شول هغه کسان چې عار يې وکړو او لويي
يې وکړه، نو هغه به دوی ته ډېر دردوونکی عذاب

لَا يَجِدُوۡنَ لَهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّ

ورکړي او دوی به د خپلو ځانونو لپاره له الله نه
سوا (بل) نه څوك دوست ومومي او نه

لَا نَصِيۡرًا ۝١٧٣ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدۡ

مدد کوونکی -173- ای خلقو! يقينًا تاسو ته

جَآءَكُمۡ بُرۡهَانٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَاَنۡزَلۡنَاۤ

د خپل رب له جانبه لوی دليل راغلی دی او
مونږه تاسو ته واضحه

اِلَيۡكُمۡ نُوۡرًا مُّبِيۡنًا ۝١٧٤ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ

رڼا نازله کړې ده -174- نو هر چې هغه کسان

اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ اعْتَصَمُوْا بِهٖ

دي چې په الله يې ايمان راوړو او په (دين د) هغه
يې منګولې ښخې کړې،

فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَ فَضْلٍ ۙ

نو خامخا به هغه دوی په خپل رحمت او فضل

وَّ يَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۭ ١٧٥

کې داخلوي او د خپل ځان په طرف به يې په نېغه
لار روانوي -175-

يَسْتَفْتُوْنَكَ ۭ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي

دوی له تا نه فتوٰی غواړي، ته (ورته) ووايه: الله
تاسو ته د

الْكَلٰلَةِ ۭ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ

”کلاله“ په باره کې فتویٰ درکوي، که يو سړی
وفات شي او د

وَلَدٌ وَّلَهٗٓ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ

هغه هېڅ اولاد نه وي او د هغه يوه خور وي، نو د هغې لپاره د هغه مال نيمه (حصه)

وَهُوَ يَرِثُهَآ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ ۚ

ده چې هغه (مړي) پرېښى دى او دا (سړى) د هغې (خور) (د ټول مال) وارث ګرځي که د هغې

فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا

هېڅ اولاد نه وي، بيا که هغه دوه (خوېندې) وي، نو د هغوى لپاره (د ټول مال) دوه په درې برخې

تَرَكَ ۚ وَاِنْ كَانُوْٓا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً

ده، د هغه (مال) نه چې هغه پرېښى وي او که چېرې هغوى څو ورونړه (خوېندې) وي، سړي او

فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ۚ يُبَيِّنُ

ښځې، نو د نر لپاره د دوه ښځو د حصې په مثل (حصه) ده،

اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ

الله تاسو ته ښه وضاحت كوي، چې تاسو گمراه نشئ او الله په هر شي

ع 4

شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿١٧٦﴾

ښه عالم دی -176-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَوۡفُوۡا بِالۡعُقُوۡدِ ؕ

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! (خپل) لوظونه پوره کړئ،

اُحِلَّتۡ لَـكُمۡ بَهِيۡمَةُ الۡاَنۡعَامِ اِلَّا مَا

تاسو لپاره اَنعام څاروي حلال کړی شوي دي، سوا

يُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ غَيۡرَ مُحِلِّى الصَّيۡدِ وَ

له هغو نه چې تاسو ته به ولوستی شي، په دې حال کې چې

اَنۡتُمۡ حُرُمٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحۡكُمُ مَا

تاسو د احرام په حالت کې ښکار لره حلال ګڼونکي نه يئ، بېشکه الله فيصله کوي د څه چې

يُرِيْدُ ۝١ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا

اراده وکړي -1- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو

شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا

د الله د شعائرو (د دین د نښو) بې حرمتي مه کوئ او نه د عزتمنې میاشتې، او نه

الْهَدْیَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ اٰمِّیْنَ

د حرم د قربانۍ، او نه د حرم د غاړکۍ والا څارویو

الْبَیْتَ الْحَرَامَ یَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ

او نه عزتمن کورته د اراده لرونکو خلقو، چې د خپل رب فضل

رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ؕ وَاِذَا حَلَلْتُمْ

او رضامندي لټوي او کله چې تاسو حلال (بې احرامه) شئ،

فَاصْطَادُوْا ؕ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ

نو بیا تاسو ښکار کوئ او له یو قوم (سره) بغض
دې تاسو زیاتي کولو ته راپورته نه کړي،

قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ

له دې وجې چې تاسو یې له مسجد حرام نه منع

الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى

کړي وئ۔ او تاسو له یو بل سره په نېکۍ او

الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۠ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى

پرهېزګارۍ کې مدد کوئ او د ګناه او ظلم په کار

الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۠ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ

کې د یو بل مدد مه کوئ او له الله نه وېرېږئ،
بېشکه الله ډېر

وقف لازم

الربع

اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝٢ حُرِّمَتْ

سخت عذاب ورکوونکی دی -2- پر تاسو باندې

عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ

حرامه کړی شوې ده مرداره، او وینه او د خنزیر غوښه

الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَ

او هغه چې په هغه د غیر الله لپاره اواز شوی وي او

الْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَ

مرۍ خپه کړی شوی (زندۍ شوی) ثاروی، او

النَّطِيْحَةُ وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا

په کوتك وهل شوی او له بره راغورځېدلی او په ښکر وهل شوی،

ذَكَّيْتُمْ ۣ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ

او هغه چې ليوان يې مات کړي، سوا له هغه (ښاروي) نه چې تاسو يې حلال کړئ،

تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ؕ ذٰلِكُمْ

او (حرام دی) هغه (ښاروی) چې په استانو (درګاګانو) باندې ذبح کړی شي

فِسْقٌ ؕ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او دا چې تاسو په غشو سره قسمت معلوموئ، دغه (ټول) کارونه فسق او نافرماني ده، نن ورځ

مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَ

کافر شوي خلق ستاسو د دين (له ختمولو) نه نااميده شول،

اخْشَوْنِ ؕ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ

نو تاسو له دوی نه مه وېرېږئ او له ما نه وېرېږئ، نن ورځ ما تاسو

دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ

لپاره ستاسو دين مكمل كړو او پر تاسو باندې
مې خپل نعمتونه تمام كړل او

رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ؕ فَمَنِ

ما تاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ كړو، نو
څوك چې

اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ

په سخته لوږه كې مجبور شو، په دې حال كې
چې ګناه ته مايل كېدونكى نه وي، بيا نو

لِّاِثْمٍ ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٣

يقينًا الله ډېر بخښونكى، بې حده مهربان دى -3-

يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَآ اُحِلَّ لَهُمْ ؕ قُلْ

دوى له تا نه تپوس كوي چې د دوى لپاره څه
حلال كړى شوي دي، ته (ورته) ووايه:

اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ۙ وَ مَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ

تاسو لپاره پاکیزه څیزونه حلال کړی شوي دي او

الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا

هغه (ښکار د) ښکاري حیواناتو چې تاسو تربیه کړې وي، چې ښکاري جوړونکي یئ، چې تاسو

عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ ۫ فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ

دوی ته له هغه علمه نه ښوونه کوئ چې الله تاسو ته ښوولی دی، نو تاسو خورئ له هغه (ښکار) نه

عَلَيْكُمْ وَ اذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ ۠ وَ

چې دغو (ښکاري حیواناتو) تاسو لپاره نیولی وي او تاسو په هغه د الله نوم یادوئ، او

اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

له الله نه ویریږئ، بیشکه الله ډېر ژر حساب

الْحِسَابِ ۝ اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ

کووونکی دی -4- نن ورځ تاسو لپاره

الطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

پاکيزه څيزونه حلال کړی شول او د هغو کسانو

الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ۪ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ

ذبيحه چې کتاب ورته ورکړی شوی دی؛ تاسو
لپاره حلاله ده۔ او ستاسو طعام د

لَّهُمْ ۫ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَ

هغوی لپاره حلال دی، او (تاسو لپاره حلالې دي)
پاك لمنې مومنې ښځې او

الْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

پاك لمنې ښځې د هغو خلقو څنې چې هغوی ته له
تاسو نه مخکې کتاب ورکړی شوی دی۔

مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ

كله چې تاسو دغو (ښځو) ته د هغوی مهرونه ورکړئ، چې

مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا

عفت غوښتونکي يئ، بدکاري کوونکي نه يئ او نه په پټه

مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ

سره ياران نيونکي يئ او څوك چې له ايمان نه انكار وكړي،

بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ ؗ وَهُوَ فِي

نو يقينًا د هغه عمل برباد شو او هغه به په اخرت

الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۟۠ يٰٓاَيُّهَا

ع 5

كې له تاوانيانو څخه وي -5- اى هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ

کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو لمانځه ته پاځېږئ،

فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى

نو تاسو خپل مخونه او خپل لاسونه تر څنګلو پورې

الْمَرَافِقِ وَ امْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ

ووینځئ او د خپلو سرونو مسح وکړئ او تر ګیټو (ښنګرو) پورې

وَ اَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ؕ وَ اِنْ

خپلې پښې (ووینځئ) او که چېرې تاسو

كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ؕ وَ اِنْ كُنْتُمْ

د جنابت په حالت کې یئ، نو ځان ښه پاك کړئ (غسل وکړئ) او که چېرې

مَّرۡضٰۤى اَوۡ عَلٰى سَفَرٍ اَوۡ جَآءَ اَحَدٌ

تاسو بيماران يئ، يا په سفر کې يئ، يا په تاسو کې
کوم يو له

مِّنۡكُمۡ مِّنَ الۡغَآٮِٕطِ اَوۡ لٰمَسۡتُمُ

اودس ماتي نه راغی، يا تاسو له ښځو سره
کوروالی وکړئ،

النِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُوۡا مَآءً فَتَيَمَّمُوۡا

بيا تاسو اوبه ونه موندلې، نو د پاکې ځمکې مخ
ته قصد وکړئ (تيمم وکړئ)،

صَعِيۡدًا طَيِّبًا فَامۡسَحُوۡا بِوُجُوۡهِكُمۡ

نو خپل مخونه او خپل لاسونه (تر مړوندونو
پورې)

وَاَيۡدِيۡكُمۡ مِّنۡهُ‌ ؕ مَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ

په دې (خاورې، شګې) سره مسح کړئ، الله

لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ حَرَجٍ وَّ لٰكِنۡ

اراده نه لري چې پر تاسو باندې څه حرج (سختی) راولي، او لېکن

يُّرِيۡدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهٗ

غواړي چې تاسو ښه پاك كړي او پر تاسو باندې خپل نعمتونه پوره كړي،

عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۝٦ وَ

د دې لپاره چې تاسو شكر وباسئ -6- او

اذۡكُرُوۡا نِعۡمَةَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيۡثَاقَهُ

تاسو د الله نعمتونه ياد كړئ، چې پر تاسو باندې شوي دي

الَّذِيۡ وَاثَقَكُمۡ بِهٖۤ ۙ اِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا

او د هغه هغه پخه وعده ياده كړئ چې له تاسو سره يې مضبوطه كړې وه، كله چې تاسو وويل:

وَاَطَعۡنَا ۡ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ

مونږ واورېدل او مونږ اطاعت وکړو، او تاسو له
الله نه وېرېږئ، بېشکه الله د سينو په

بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

خبرو باندې (هم) ښه عالم دی -7- ای هغو کسانو
چې ايمان يې راوړی دی!

كُوۡنُوۡا قَوّٰمِيۡنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالۡقِسۡطِ ۡ

تاسو د الله لپاره (په حق باندې) مضبوط ولاړ
اوسئ،

وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَاٰنُ قَوۡمٍ عَلٰٓى

چې په انصاف سره گواهي کوونکي يئ او د يو
قوم بغض دې

اَلَّا تَعۡدِلُوۡا ؕ اِعۡدِلُوۡا ۚ هُوَ اَقۡرَبُ

تاسو دې ته راپورته نه کړي چې تاسو عدل ونه
کړئ، عدل کوئ، دا تقویٰ ته

لِلتَّقْوٰى ز وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ط اِنَّ اللّٰهَ

ډېر نژدې دی او له الله نه ووېرېږئ، بیشکه الله
ښه خبر دی په هغو کارونو

خَبِیْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝٨ وَعَدَ اللّٰهُ

چې تاسو يې کوئ -8- الله له هغو کسانو سره

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لا

وعده کړې ده چې ایمان يې راوړی دی او نېك
عملونه يې کړې دي،

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ اَجْرٌ عَظِیْمٌ ۝٩

چې د هغوی لپاره بخښنه او ډېر لوی اجر دی -
-9

وَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَآ

او هغه کسان چې کفر يې کړی دی او زمونږ
ایتونه يې دروغ ګڼلي دي،

أُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١٠﴾ يٰٓاَيُّهَا

دغه خلق د اور والا دي -10- اى هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ

كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو د الله هغه نعمتونه رایاد كړئ

عَلَيْكُمْ اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ يَّبْسُطُوْٓا

چې پر تاسو باندې شوي دي، كله چې څه خلقو اراده وكړه

اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ اَيْدِيَهُمْ

چې تاسو ته خپل لاسونه در اوږده كړي، نو هغه (الله) د

عَنْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ

هغوى لاسونه له تاسو بند كړل او له الله نه ووېرېږئ او لازم ده

ع 6

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَلَقَدْ اَخَذَ

چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي - 11- او يقينًا يقينًا،

اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَبَعَثْنَا

الله له بني اسرائيلو نه پخه وعده اخيستې وه۔ او مونږ

مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ۭ وَقَالَ اللّٰهُ

په دوی کې دولس تنه مشران مقرر کړل او الله وفرمايل:

اِنِّيْ مَعَكُمْ ۭ لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَ

بېشکه زه له تاسو سره يم، يقينًا که چېرې تاسو لمونځ قايم وساتئ او

اٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَ

زکات ادا کړئ او زما په رسولانو ايمان راوړئ او

عَزَّرْتُمُوْهُمْ وَ اَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا

تاسو د هغوی مدد وکړئ او تاسو الله ته ډېر
ښکلی قرض ورکړئ،

حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَ

نو خامخا لازمًا به زه له تاسو څخه ستاسو
ګناهونه ختم کړم او

لَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا

خامخا لازمًا به تاسو داسې جنتونو ته ننباسم چې
د هغو له لاندې

الْاَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ

ولې بهېږي، نو چا چې په تاسو کې له دې نه
وروسته کفر وکړ،

فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿١٢﴾ فَبِمَا

نو یقینًا هغه له نېغې لارې نه بې لارې شو -12- نو
د

نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ لَعَنّٰهُمْ وَ جَعَلْنَا

خپلې کلکې وعدې د ماتولو په سبب مونږ په دوی لعنت وکړ او مونږ د

قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً ۚ يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ

دوی زړونه سخت کړل، دوی (د تورات) کلمې له

عَنْ مَّوَاضِعِهٖ ۙ وَ نَسُوْا حَظًّا مِّمَّا

خپلو ځايونو نه اړوي او دوی ته چې څه نصيحت شوی و د هغه (لويه)

ذُكِّرُوْا بِهٖ ۚ وَ لَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى

حصه يې هېره کړله او ته به همېشه د دوی په څه

خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ

خيانت باندې اګاه ګېږې، مګر په دوی کې ډېر لږ خلق

فَاعۡفُ عَنۡهُمۡ وَ اصۡفَحۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

(داسې نه دي)، نو ته دوی ته معافي کوه او تېرېږه، بېشکه الله

يُحِبُّ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۱۳﴾ وَ مِنَ الَّذِيۡنَ

نېکي کوونکي خوښوي -13- او له هغو کسانو

قَالُوۡۤا اِنَّا نَصٰرٰۤى اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَهُمۡ

څخه چې وايي: بېشکه مونږ نصرانيان يو، مونږ له دوی نه پخه وعده

فَنَسُوۡا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوۡا بِهٖ ۖ

اخيستې وه، نو دوی ته چې د څه نصيحت ورکړی شوی و د هغه (لويه) برخه يې هېره کړله،

فَاَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ الۡعَدَاوَةَ وَ

نو مونږ د دوی په مینځ کې د قيامت د ورځې پورې

اَلْبَغْضَآءَ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ ؕ وَسَوْفَ

دښمني او کینه واچوله او الله به ژر دوی

یُنَبِّئُهُمُ اللهُ بِمَا کَانُوْا یَصْنَعُوْنَ ﴿۱۴﴾

په هغو عملونو خبر کړي چې دوی به کول -14-

یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا

ای اهل کتابو! یقینًا تاسو ته زمونږ رسول راغلی دی

یُبَیِّنُ لَكُمْ كَثِیْرًا مِّمَّا كُنْتُمْ

چې تاسو ته ډېر هغه څیزونه بیانوي چې تاسو به له

تُخْفُوْنَ مِنَ الْكِتٰبِ وَیَعْفُوْا عَنْ

کتابه پټول او له ډېرو څخه تېرېږي، یقینًا تاسو ته د

كَثِيْرٍ ۬ۘ قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ

الله له جانبه رڼا او روښانه كتاب

كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ

راغلی دی -15- چې په ده سره الله د سلامتی

اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَ

د لارو هدايت كوي هغه چا ته چې د هغه (الله) د رضا تابع وي او

يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ

هغه (الله) په خپل حكم سره دوی لره له تيارو نه رڼا

بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ

ته راوباسي او دوی ته د نېغې لارې هدايت

مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿١٦﴾ لَقَدۡ كَفَرَ الَّذِيۡنَ قَالُوۡۤا

كوي -16- يقينًا يقينًا هغه كسان كافر شول چې هغوى ويل:

اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡمَسِيۡحُ ابۡنُ مَرۡيَمَ ؕ

بېشكه الله هم دا د مريمې زوى مسيح دى، ته (ورته)

قُلۡ فَمَنۡ يَّمۡلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيۡـًٔا اِنۡ

ووايه: د الله په وړاندې به څوك د څه شي اختيار ولري

اَرَادَ اَنۡ يُّهۡلِكَ الۡمَسِيۡحَ ابۡنَ مَرۡيَمَ

كه هغه اراده وكړي چې د مريمې زوى مسيح

وَاُمَّهٗ وَمَنۡ فِى الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا ؕ

او د هغه مور او څوك چې په ځمكه كې دي؛ هغه ټول هلاك كړي،

وَلِلّٰهِ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا

او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې
بادشاهي ده او د هغه

بَيۡنَهُمَا ؕ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى

څه چې د دې دواړو په مينځ کې دي، هغه (الله)
چې څه وغواړي پيدا کوي او الله په هر شي

كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ۝١٧ وَقَالَتِ الۡيَهُوۡدُ وَ

باندې ښه قادر دی -17- او يهوديانو او

النَّصٰرٰى نَحۡنُ اَبۡنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ

نصرانيانو وويل: مونږ د الله زامن او د هغه
دوستان يو،

قُلۡ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمۡ بِذُنُوۡبِكُمۡ ؕ بَلۡ

ته (ورته) ووايه: نو بيا ولې هغه تاسو ته ستاسو د

اَنۡتُمۡ بَشَرٌ مِّمَّنۡ خَلَقَ ؕ يَغۡفِرُ لِمَنۡ

گناهونو په وجه عذاب درکوي؟ بلکې تاسو د هغه په مخلوقاتو کې انسانان يئ،

يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَلِلّٰهِ

هغه (الله) چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او چا چې ته وغواړي عذاب ورکوي او خاص د الله

مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا

لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او د هغه څه چې د دې دواړو په مينځ کې دي او

بَيۡنَهُمَا ۫ وَاِلَيۡهِ الۡمَصِيۡرُ ﴿۱۸﴾ يٰۤاَهۡلَ

خاص د هغه په طرف ورتلل دي -18- ای اهل

الۡكِتٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلُنَا يُبَيِّنُ

کتابو! يقينًا تاسو ته زمونږ رسول، د رسولانو له وقفې نه پس راغلی دی،

لَكُمۡ عَلٰى فَتۡرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ اَنۡ

چې تاسو ته احکام بیانوي چې تاسو (بیا) دا ونه وایئ

تَقُوۡلُوۡا مَا جَآءَنَا مِنۡۢ بَشِيۡرٍ وَّلَا

چې مونږ ته نه څوك زېرى ورکوونکى راغلى و او نه وېرووونکى، نو (دا دى)

نَذِيۡرٍ‌ فَقَدۡ جَآءَكُمۡ بَشِيۡرٌ وَّنَذِيۡرٌ‌ ؕ

یقینًا تاسو ته زېرى ورکوونکى او وېرووونکى راغى

ع 7

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ۞ ١٩ وَاِذۡ قَالَ

او الله په هر شي باندې ښه قادر دى -19- او کله چې

مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖ يٰقَوۡمِ اذۡكُرُوۡا نِعۡمَةَ

موسٰی خپل قوم ته وویل: اى قومه! تاسو د الله نعمتونه یاد کړئ

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْبِيَآءَ

چې پر تاسو باندې (شوې) دي کله چې يې په تاسو کې پيغمبران پيدا کړل

وَ جَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ

او تاسو يې ازاد (او خودمختاره) کړئ او تاسو ته يې هغه څه در کړل چې په

يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ

عالمونو کې يې هيچا ته هم نه و ورکړي -20- اى زما قومه!

ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ

تاسو هغه پاکې ځمکې ته داخل شئ چې الله

اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ

تاسو لپاره ليکلې ده او په خپلو شاګانو بېرته مه ګرځئ (ګنې) نو

فَتَنۡقَلِبُوۡا خٰسِرِيۡنَ ۝٢١ قَالُوۡا يٰمُوۡسٰٓى

تاوانيان به شئ -21- دوى وويل: اى موسٰى!

اِنَّ فِيۡهَا قَوۡمًا جَبَّارِيۡنَ ۖ وَاِنَّا لَنۡ

بېشكه په دغې (پاكې ځمكه) كې ډېر زورور خلق دي او

نَّدۡخُلَهَا حَتّٰى يَخۡرُجُوۡا مِنۡهَا ۚ فَاِنۡ

بېشكه مونږ به كله هم دغې ته داخل نشو ترهغه پورې چې دوى د هغې نه ووځي، نو كه دوى د

يَّخۡرُجُوۡا مِنۡهَا فَاِنَّا دٰخِلُوۡنَ ۝٢٢ قَالَ

هغې نه ووتل، نو بېشكه مونږ (هغې ته) ننوتونكي يو -22- وويل

رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيۡنَ يَخَافُوۡنَ اَنۡعَمَ

دوه سړيو له هغو كسانو نه چې (د الله نه) وېرېدل،

اللّٰهُ عَلَيۡهِمَا ادۡخُلُوۡا عَلَيۡهِمُ الۡبَابَ ۚ

(او) الله په هغو دواړو انعام کړی و: تاسو په
دوی باندې په دروازه کې (حمله کوونکي) داخل

فَاِذَا دَخَلۡتُمُوۡهُ فَاِنَّكُمۡ غٰلِبُوۡنَ ۚ۬ وَعَلَى

شئ، نو کله چې تاسو هغې ته ننوتئ، نو بېشکه
تاسو غالبه یئ او تاسو خاص

اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوۡۤا اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۲۳﴾

په الله باندې توکل وکړئ که چېرې تاسو مومنان
یئ -23-

قَالُوۡا يٰمُوۡسٰۤى اِنَّا لَنۡ نَّدۡخُلَهَاۤ اَبَدًا مَّا

هغوی وویل: ای موسٰی! بېشکه مونږه دې
(ښارېې) ته له سره نه ننوځو هیڅکله هم، څو

دَامُوۡا فِيۡهَا فَاذۡهَبۡ اَنۡتَ وَرَبُّكَ

پورې چې دوی په هغې کې وي، نو ته او ستا رب
دې لاړ شي، نو تاسو دواړه وجنګېږئ،

فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ

مونږ خو بس همدلته ناست يو -24- وويل (موسٰی) ای زما ربه!

اِنِّیۡ لَاۤ اَمۡلِكُ اِلَّا نَفۡسِیۡ وَ اَخِیۡ فَافۡرُقۡ

بېشکه زه اختيار نه لرم مگر د خپل ځان او د خپل ورور، نو ته زمونږ په مينځ کې او د فاسق

بَيۡنَنَا وَ بَيۡنَ الۡقَوۡمِ الۡفٰسِقِيۡنَ ﴿۲۵﴾

(نافرمان) قوم په مينځ کې جدايي راوله -25-

قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيۡهِمۡ اَرۡبَعِيۡنَ

وويل (الله) پس بېشکه هغه (مقدسه ځمکه) په دوی باندې ځلوېښت کاله بنده (ممنوعه) ده،

سَنَةً ۚ يَتِيۡهُوۡنَ فِی الۡاَرۡضِ ؕ فَلَا تَاۡسَ

چې دوی به په ځمکه کې حيران سرگردان گرځي، نو ته په فاسق

ع
8

عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ وَاتْلُ

(نافرمانه) قوم باندې مه خفه کېږه -26- او دوی ته

وقف لازم

عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ اِذْ

د ادم د دوه زامنو خبر په حقه سره ولوله، کله چې هغو

قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا وَ

دواړو قربانۍ وړاندې کړه، نو په دوی کې له يو څخه قبوله شوه او له بل

لَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ؕ قَالَ

څخه قبوله نشوه، هغه وويل: زه به خامخا لازمًا

لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ

تا ووژنم، هغه (ورته) وويل: بېشکه همدا خبره ده چې الله له پرهېزګارانو

الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٧﴾ لَئِنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ يَدَكَ

څخه (قرباني) قبلوي -27- که چېرې ته زما د وژلو لپاره خپل لاس

لِتَقْتُلَنِيْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ اِلَيْكَ

را اوږد کړې (، نو) زه خپل لاس ستا د وژلو لپاره

لِاَقْتُلَكَ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ

تا ته نه در اوږدوم، بېشکه زه له الله رب العلمين

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْٓءَاْ بِاِثْمِيْ

څخه وېرېږم -28- بېشکه زه غوارم چې ته زما (د وژلو)

وَاِثْمِكَ فَتَكُوْنَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۚ وَ

په ګناه باندې او په خپلې (مخکېنۍ) ګناه باندې اخته شې، بيا چې د دوزخ په ملګرو کې شې او

ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيۡنَ ۚ﴿۲۹﴾ فَطَوَّعَتۡ لَهٗ

دا د ظالمانو جزا ده -29- نو هغه ته خپل نفس د

نَفۡسُهٗ قَتۡلَ اَخِيۡهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصۡبَحَ

خپل ورور وژل ښکلي (او) اسان کړل، نو هغه يې قتل کړ، نو شو له

مِنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۳۰﴾ فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا

تاوانيانو نه -30- نو الله يو کارغه راولېږه،

يَّبۡحَثُ فِى الۡاَرۡضِ لِيُرِيَهٗ كَيۡفَ

چې ځمکه يې کنستله، د دې لپاره چې هغه (قاتل) ته وښيي چې څنګه

يُوَارِىۡ سَوۡءَةَ اَخِيۡهِ ؕ قَالَ يٰوَيۡلَتٰٓى

هغه د خپل ورور جثه (کالبوت) پټه کړي، هغه وويل: هئ افسوس!

اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا

ايا زه د دې كارغه په شان له كېدو نه هم عاجزه شوم،

الْغُرَابِ فَاُوَارِيَ سَوْءَةَ اَخِيْ ۚ فَاَصْبَحَ

چې د خپل ورور جثه مې پټه كړې وى، نو له پښېمانه

مِنَ النّٰدِمِيْنَ ۛ﴿٣١﴾ مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۛ

كېدونكو څخه شو -31- له همدې وجې نه

كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ

مونږ په بني اسرائيلو باندې لازم كړي وو چې بېشكه خبره دا ده

قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي

چې چا هم يو نفس له بدلې نه بغير، يا په ځمكه كې له

الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ

ورانكارۍ نه بغير وواږه، نو ګويا کې هغه ټول خلق ووژل او چا چې

وَ مَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ

د دغه نفس ژوند بچ کړ، نو ګويا کې هغه د ټولو خلقو ژوند بچ کړ او يقيناً

جَمِيْعًا ؕ وَ لَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا

يقيناً دوی ته زمونږه رسولانو څرګندې نښې راوړې وې،

بِالْبَيِّنٰتِ ۫ ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بَعْدَ

يقيناً بيا له دې نه پس (هم) په دوی کې ډېر خلق

ذٰلِكَ فِى الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ۝٣٢ اِنَّمَا

په ځمکه کې خامخا زياتي کوونکي دي -32- بيشکه

جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

اصل خبره همدا ده چې څوك چې د الله او د هغه له رسول

وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا اَنْ

سره جنګ کوي او په ځمکه کې د وراني کولو کوشش کوي،

يُّقَتَّلُوْٓا اَوْ يُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ

د هغوی سزا دا ده چې دوی دې قتل کړی شي، یادې په دار کړی شي، یا دې د دوی لاسونه او

وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ يُنْفَوْا مِنَ

پښې ادلې بدلې پرې کړی شي، یا دې دوی له (دغې)

الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا

ځمکې نه وشړل شي، دا د دوی لپاره په دنیا کې رسوایي ده

وَ لَهُمۡ فِی الۡاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِیۡمٌ ﴿۳۳﴾

او د دوی لپاره په اخرت کې ډېر لوی عذاب دی -33-

اِلَّا الَّذِیۡنَ تَابُوۡا مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ

مګر هغه کسان چې توبه وباسي مخکې له دې نه

تَقۡدِرُوۡا عَلَیۡهِمۡ ۚ فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ

چې تاسو په دوی باندې قابو ومومئ، نو پوه شئ چې یقینًا الله ډېر بخښونکی، بې حده

ع 9

غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۳۴﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا

مهربان دی -34- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابۡتَغُوۡۤا اِلَیۡهِ الۡوَسِیۡلَةَ وَ

تاسو له الله نه ووېرېږئ او هغه ته قرب (نژدې والی) ولټوئ او

جَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ لَعَلَّكُمْ

تاسو د هغه په لار کې جهاد کوئ، د دې لپاره چې تاسو

تُفْلِحُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ اَنَّ

کامیاب شئ -35- بېشکه هغه کسان چې کفر یې کړی دی

لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّ مِثْلَهٗ

که د ځمکې ټول دولت د دوی شي او له دغې (دولت) سره د

مَعَهٗ لِيَفْتَدُوْا بِهٖ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ

دې هومره (نور هم)، د دې لپاره چې دا د قیامت د ورځې د عذاب په بدله کې ورکړي (، نو) دا

الْقِيٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَلَهُمْ

(فدیه) به له دوی نه قبوله نه کړی شي او د دوی لپاره ډېر دردوونکی

عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿٣٦﴾ يُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ

عذاب دی -36- دوی به غواړي چې له

يَّخۡرُجُوۡا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمۡ

اور نه ووځي، حال دا چې دوی له هغه نه

بِخٰرِجِيۡنَ مِنۡهَا‌ۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ

وتونکي نه دي او د دوی لپاره دايمي (همېشنی)

مُّقِيۡمٌ ﴿٣٧﴾ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ

عذاب دی -37- او غل او غله، نو تاسو

فَاقۡطَعُوۡۤا اَيۡدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا

د دوی لاسونه د دوی د کړي عمل په بدله کې
پرې کړئ،

نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ عَزِيْزٌ

چې د الله له جانبه عبرتناکه سزا ده او الله ډېر غالب، ښه

حَكِيْمٌ ﴿۳۸﴾ فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ وَ

حکمت والا دی -38- نو چا چې له خپل ظلم نه پس توبه وکړه او

اَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

(د ځان) اصلاح يې وکړه، نو بېشکه الله د ده توبه قبلوي، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۹﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ

مهربان دی -39- ايا ته پوه نه يې چې بېشکه خاص د الله لپاره

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ يُعَذِّبُ

د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، چا ته چې وغواړي

مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ

عذاب ورکوي او چا ته چې وغواړي بخښنه کوي
او الله

عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۴۰﴾ یٰۤاَیُّهَا الرَّسُوْلُ

په هر شي باندې ښه قادر دی -40- ای رسوله! تا
دې هغه

لَا یَحْزُنْكَ الَّذِیْنَ یُسَارِعُوْنَ فِی

کسان غمجن نه کړي چې په کفر کې له یو بل نه
تلوار کوي،

الْکُفْرِ مِنَ الَّذِیْنَ قَالُوْۤا اٰمَنَّا

له هغو خلقو څخه چې په خپلو خولو وايي چې
مونږ ایمان

بِاَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ ۛۚ وَ

راوړی دی، حال دا چې د دوی زړونو ایمان نه
دی راوړی او

مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۛۚ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ

له هغو خلقو څخه چې يهوديان دي، دوی د دروغو ډېر

سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ لَمْ يَاْتُوْكَ ؕ

اورېدونكي (قبلوونكي) دي، د هغو نورو خلقو لپاره ډېر

يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ

اورېدونكي دي چې تا ته نه دي راغلي، دوی خبرې بدلوي وروسته له دې

يَقُوْلُوْنَ اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا فَخُذُوْهُ وَ

نه چې هغه په خپلو ځايونو كې (ثابتې) شي، دوی وايي كه

اِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا ؕ وَمَنْ يُّرِدِ

چېرې تاسو ته دا دركړې شي، نو هغه واخلئ، او كه چېرې تاسو ته

اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ

هغه در نه کړی شي، نو بیا ځان وساتئ او هغه
ثوك چې الله د

شَيْـًٔا ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ

هغه گمراه کول وغواړي، (بیا) نو ته د هغه لپاره د
الله په وړاندې د هېڅ شي اختیار نه لرې، دا هغه

اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ؕ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا

کسان دي چې الله د دوی د زړونو دپاکولو اراده
نه ده کړې، د همدوی لپاره په دنیا

خِزْيٌ ۚۖ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ

کې رسوایي ده او د همدوی لپاره په اخرت کې
بېخي لوی

عَظِيْمٌ ﴿٤١﴾ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ

عذاب دی -41- دوی د دروغو ډېر اورېدونکي
دي

لِلسُّحۡتِ ؕ فَاِنۡ جَآءُوۡكَ فَاحۡكُمۡ

او د حرامو ډېر خوړونکي دي، نو كه چېرې دوى تا ته راشي، نو ته د

بَيۡنَهُمۡ اَوۡ اَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ ۚ وَاِنۡ

دوى په مينځ كې فيصله وكړه، يا له دوى نه مخ

تُعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ فَلَنۡ يَّضُرُّوۡكَ

واړوه او كه چېرې ته له دوى نه مخ واړوې، نو دوى به تا ته هيڅكله هم هېڅ شى ضرر در ونه

شَيۡـًٔا ؕ وَاِنۡ حَكَمۡتَ فَاحۡكُمۡ بَيۡنَهُمۡ

رسولى شي، او كه چېرې ته فيصله كوې، نو د دوى په مينځ كې

بِالۡقِسۡطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

په انصاف سره فيصله وكړه، بېشكه الله له انصاف كوونكو

الْمُقْسِطِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَ كَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ وَ

سره مينه كوي -42- او دوى (د زنا په باره كې)

عِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللهِ ثُمَّ

فيصله تا ته څنګه راوړي؟! حال دا چې له دوى
سره تورات دى، چې په هغه كې (د دې په باره

يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَ مَآ اُولٰٓئِكَ

كې) د الله حكم دى، بيا دوى له دې (ستا له
فيصلې) نه بعد بېرته ګرځي او دغه خلق له سره

ع 10

بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٣﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ

مومنان نه دي -43- بېشكه مونږ تورات نازل كړى
دى،

فِيْهَا هُدًى وَّ نُوْرٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا

چې په هغه كې هدايت او رڼا ده، په ده سره به

النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ

نبيانو، چې حکم منونکي وو، د يهوديانو لپاره

هَادُوْا وَ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَ الْاَحْبَارُ بِمَا

فيصلې کولې او الهي خلقو او عالمانو (به هم فيصلې کولې)،

اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَ كَانُوْا

ځکه چې دوی د الله د کتاب ساتونکي گرځول شوي وو او دوی

عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَ

په ده باندې گواهان وو، نو تاسو له خلقو نه مه ويرېږئ او

اخْشَوْنِ وَ لَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا

له ما نه ويرېږئ او زما د ايتونو په بدل کې لږ قيمت مه اخلئ

قَلِيْلًا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ

او چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون)

اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۴﴾

باندې فيصله ونه کړه، نو همدغه خلق کافران دي
-44-

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ

او مونږ په دوی باندې په دې (تورات) کې فرض
کړي وو

بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ

چې بېشکه ځان د ځان په بدله کې دی او سترګه
د سترګې په بدله کې او پوزه

بِالْاَنْفِ وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ

د پوزې په بدله کې او غوږ د غوږ په بدله کې او
غاښ

بِالسِّنِّ ۙ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ؕ فَمَنْ

د غاښ په بدله کې دی او زخمونه (هم) قصاص (برابر) دي،

تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ وَمَنْ

نو چا چې د دې (قصاص) معافي وکړه، نو دا د ده لپاره کفاره ده (په دې سره له

لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ

دې ګناه څخه پاکیږي) او چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون) باندې فیصله ونه کړه، نو

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٤٥ وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى

همدغه خلق ظالمان دي -45- او مونږه په هغوی پسې

اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا

د دوی په نښو باندې د مریمې زوی عیسٰی ولېږه چې له

لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۠ وَاٰتَيْنٰهُ

ده نه د وړاندې (کتاب) تورات تصدیق کوونکی و او مونږ هغه ته

الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّ

انجیل ورکړ، چې په هغه کې هدایت او رڼا وه او چې له

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَ

ده نه د مخکې (کتاب) تورات تصدیق کوونکی و او د

هُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ؕ۝۴۶

پرهېزګارانو لپاره هدایت او نصیحت و -46-

وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ

او لازم ده چې انجیل والا دې فیصله وکړي په هغه څه چې الله په دې (انجیل) کې نازل کړي

اللّٰهُ فِيْهِ ؕ وَ مَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَاۤ اَنْزَلَ

دي (چې د قرآن او محمدﷺ تصديق دی) او چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون) باندې

اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَ

فيصله ونه کړه، نو همدغه خلق فاسقان دي -47- او

اَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا

(ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی،

لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَ مُهَيْمِنًا

چې د هغو کتابونو تصديق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی،

عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ

نو ته د دوی په مينځ کې فيصله وکړه په هغه څه سره چې الله نازل کړی دی

وَلَا تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ

او ته د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه، چې هغه

الۡحَقِّ ؕ لِكُلٍّ جَعَلۡنَا مِنۡكُمۡ شِرۡعَةً

حق پرېږدې چې تا ته راغلی دی، مونږ په تاسو
کې

وَّمِنۡهَاجًا ؕ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمۡ

د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرر کړې ده، او
که الله غوښتلی، نو تاسو به یې یو

اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنۡ لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِىۡ مَآ

امت گرځولي وئ، او لېکن (بېل بېل یې کړئ) د
دې لپاره چې تاسو وازمایي په

اٰتٰٮكُمۡ فَاسۡتَبِقُوا الۡخَيۡرٰتِ ؕ اِلَى اللّٰهِ

هغه څه کې چې تاسو ته یې درکړي دي، نو تاسو
نېکیو ته له یو بل نه مخکې کېږئ، خاص الله ته

مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيۡعًا فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا

ستاسو د ټولو واپسي ده، نو هغه به تاسو ته د هغو کارونو خبر درکړي چې تاسو په

كُنۡتُمۡ فِيۡهِ تَخۡتَلِفُوۡنَ ۝٤٨ وَاَنِ احۡكُمۡ

هغو کې اختلاف کاوه -48- او دا چې ته د دوی

بَيۡنَهُمۡ بِمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعۡ

په مینځ کې فیصله کوه په هغه څه سره چې الله نازل کړی دی او

اَهۡوَآءَهُمۡ وَاحۡذَرۡهُمۡ اَنۡ يَّفۡتِنُوۡكَ

ته د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه او ته له دوی نه محتاط اوسه (هسې نه) چې دوی تا له

عَنۡۢ بَعۡضِ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ اِلَيۡكَ ؕ فَاِنۡ

ځینو (حکمونو) نه واړوي، چې تا ته الله نازل کړي دي، نو که چیرې

تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ

دوی وګرځېدل، نو پوه شه چې بېشکه همدا خبره
ده چې الله غواړي

يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاِنَّ

چې دوی ته د دوی د ځینو ګناهونو په وجه سزا
ورسوي او بېشکه

كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ ﴿۴۹﴾

ډېر په خلقو کې خامخا فاسقان دي -49-

اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ؕ وَمَنْ

ایا نو دوی د جاهلیت فیصله غواړي؟ او په فیصله

اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ

کولو کې له الله نه (بل) څوك ډېر ښه دی، د هغه
قوم لپاره

ع
11

يُّوۡقِنُوۡنَ ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا

چې يقين کوي! -50- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی!

وقف لازم

تَتَّخِذُوا الۡيَهُوۡدَ وَالنَّصٰرٰۤى اَوۡلِيَآءَ ؕ

تاسو يهوديان او نصرانيان دوستان مه جوړوئ،

بَعۡضُهُمۡ اَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍ ؕ وَمَنۡ

د دوی ځينې د ځينو نورو دوستان دي او په تاسو کې

يَّتَوَلَّهُمۡ مِّنۡكُمۡ فَاِنَّهٗ مِنۡهُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چې چا له دوی سره دوستي وکړه، نو يقينًا هغه له همدوی څخه دی، بېشکه الله

لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ۞ فَتَرَى

ظالم قوم ته نېغه لار نه ښيي -51- نو ته به هغه

الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُوْنَ

کسان وينې چې د هغوی په زړونو کې بيماري ده

فِيْهِمْ يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰٓى اَنْ تُصِيْبَنَا

چې په (مينه د) دوی کې منډې وهي او دوی وايي: مونږ ويريږو (له دې نه) چې مونږ ته څه

دَآئِرَةٌ ؕ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ بِالْفَتْحِ

مصيبت راورسي، نو قريب ده چې الله فتح راولي، يا له

اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ

خپلې خوا نه کوم بل حکم (راولي) نو دوی به پښېمانه شي په هغو خبرو چې دوی

اَسَرُّوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِيْنَ ﴿٥٢﴾ وَ

په خپلو نفسونو کې پټې ساتلې وې -52- او

يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ

مومنان به (د حيرانتيا په سبب) وايي: ايا دا هغه خلق دي چې

اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ اِنَّهُمْ

په الله يې ډېر پاخه قسمونه خوړلي وو چې بېشكه دوی

لَمَعَكُمْ ؕ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا

خامخا له تاسو سره دي، د دوی عملونه ضائع شوي دي، نو دوی

خٰسِرِيْنَ ۝٥٣ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ

تاوانيان شول -53- ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی!

يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ يَاْتِي

په تاسو كې چې څوك له خپل دين نه مرتد شو، نو ژر

الثلثة

اللّٰهُ بِقَوۡمٍ يُّحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّوۡنَهٗۤ ۙ اَذِلَّةٍ

ده چې الله به داسې خلق راولي چې هغه (الله) به له دوی سره مینه کوي او دوی

عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ ۡ

به له هغه (الله) سره مینه کوي، په مومنانو به ډېر نرمي کوونکي وي او په کافرانو باندې به ډېر

يُجَاهِدُوۡنَ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَلَا

سخت وي، د الله په لار کې به جهاد کوي او د

يَخَافُوۡنَ لَوۡمَةَ لَاۤئِمٍ ؕ ذٰلِكَ فَضۡلُ

هېڅ ملامت کوونکي له ملامتیا نه به نه وېرېږي، دا د الله فضل دی،

اللّٰهِ يُؤۡتِيۡهِ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ

چا ته چې وغواړي هغه ته یې ورکوي او الله ډېر د فراخۍ والا،

عَلِيْمٌ ﴿۵۴﴾ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَ

ښه پوه دی -54- ستاسو دوست يوائې (او يوائې) الله او د هغه رسول دی او هغه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ

کسان دي چې ايمان يې راوړی دی، (يعني) هغه کسان چې لمونځ قايموي

وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَ

او زکات ورکوي او دوی رکوع کوونکي دي -55- او

مَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ

څوك چې د الله او د هغه له رسول او مومنانو

اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ

سره دوستي وکړي، نو يقينًا هم د الله ډله غالبه

ع
12

الْغٰلِبُوْنَ ۝٥٦ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا

کېدونکي ده -56- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ

تاسو هغه کسان دوستان مه جوړوئ چې ستاسو دین یې

هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

ټوقې او لوبې ګرځولی دی، له هغو کسانو نه چې له

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ

تاسو نه مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و او مه کفار

اَوْلِيَآءَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ

(دوستان جوړوئ) او له الله نه وويرېږئ که چېرې تاسو

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَ اِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ

مومنان يئ -57- او كله چې تاسو لمانځه ته اواز کوئ (، نو)

اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّ لَعِبًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

دوی هغه ټوقې او لوبې وګرځوي، دا ځکه چې بېشکه دوی داسې خلق دي

قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

چې هېڅ عقل نه لري -58- (ای نبي!) ته ورته ووایه: ای اهل کتابو!

هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ

تاسو مونږه (په هېڅ وجه) د بدۍ (او) عيب والا نه ګڼئ، مګر په دې چې مونږ په الله ايمان راوړی

مَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَ مَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ ۙ وَ

دی او په هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي او په هغه څه چې له ده نه مخکې نازل کړی

اَنَّ اَكۡثَرَكُمۡ فٰسِقُوۡنَ ﴿۵۹﴾ قُلۡ هَلۡ

شوي دي او دا ځکه چې يقينًا ستاسو اکثره (خلق) فاسقان (له حد نه وتونکي) دي -59- ته

اُنَبِّئُكُمۡ بِشَرٍّ مِّنۡ ذٰلِكَ مَثُوۡبَةً عِنۡدَ

ووايه! ايا زه تاسو ته د الله په نيز د جزا په لحاظ سره له دوی نه د بدترو خلقو خبر در نه کړم؟ (دا)

اللّٰهِ ؕ مَنۡ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَ غَضِبَ عَلَيۡهِ

هغه څوك دي چې الله په دوی لعنت کړی دی او په دوی يې غضب کړی دی

وَ جَعَلَ مِنۡهُمُ الۡقِرَدَةَ وَ الۡخَنَازِيۡرَ وَ

او له دوی نه يې بيزوګان او خنزيران جوړ کړي دي او

عَبَدَ الطَّاغُوۡتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّ

دوی (هغه څوك دي چې يې) د طاغوت عبادت کړی دی، دغه کسان د ځای په لحاظ سره ډېر

اَضَلُّ عَنۡ سَوَآءِ السَّبِيۡلِ ۝٦٠ وَاِذَا

بدتره دي او له حقې لارې نه ډېر گمراه دي -60-
او كله

جَآءُوۡكُمۡ قَالُوۡۤا اٰمَنَّا وَقَدۡ دَّخَلُوۡا

چې دوى تاسو ته راشي (، نو) دوى وايي: مونږ
ايمان راوړى دى، حال دا چې يقينًا دوى

بِالۡكُفۡرِ وَهُمۡ قَدۡ خَرَجُوۡا بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ

له كفر سره داخل شوي وو او يقينًا له هغه (كفر)
سره ووتل او الله

اَعۡلَمُ بِمَا كَانُوۡا يَكۡتُمُوۡنَ ۝٦١ وَتَرٰى

ډېر ښه پوه دى په هغو خبرو چې دوى پټولې -
-61 او ته به

كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ يُسَارِعُوۡنَ فِى الۡاِثۡمِ وَ

په دوى كې ډېر خلقويني چې په گناه او ظلم
كې او

الۡعُدۡوَانِ وَاَكۡلِهِمُ السُّحۡتَ ؕ لَبِئۡسَ

په خپلې حرام خورۍ کې منډې وهي، خامخا بد دی هغه

مَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۶۲﴾ لَوۡلَا يَنۡهٰهُمُ

کار چې دوی کاوه -62- الهي خلق او عالمان

الرَّبّٰنِيُّوۡنَ وَالۡاَحۡبَارُ عَنۡ قَوۡلِهِمُ

دوی (یهودیانو) لره له خپلو د ګناه له ویناوو نه او له

الۡاِثۡمَ وَاَكۡلِهِمُ السُّحۡتَ ؕ لَبِئۡسَ مَا

خپلې حرام خورۍ نه ولې نه منع کوي؟ خامخا بد دی هغه کار (د خاموشۍ)

كَانُوۡا يَصۡنَعُوۡنَ ﴿۶۳﴾ وَقَالَتِ الۡيَهُوۡدُ يَدُ

چې دوی کاوه -63- وويل یهودیانو: د

اللّٰهِ مَغۡلُوۡلَةٌ ؕ غُلَّتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ وَلُعِنُوۡا

الله لاس تړل شوی دی، د دوی لاسونه دې وتړل شي او د دې

وقف لازم

بِمَا قَالُوۡا ۘ بَلۡ يَدٰهُ مَبۡسُوۡطَتٰنِ ۙ

وينا په سبب دې په دوی لعنت وشيـ، بلکې د هغه دواړه لاسونه خلاص دي،

يُنۡفِقُ كَيۡفَ يَشَآءُ ؕ وَلَيَزِيۡدَنَّ

څنګه چې وغواړي انفاق کوي او خامخا هغه (کتاب) به،

كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ مَّاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ

چې تا ته ستا د رب له جانبه نازل کړی شوی دی؛ په دوی کې

رَّبِّكَ طُغۡيَانًا وَّكُفۡرًا ؕ وَاَلۡقَيۡنَا

د ډېرو خلقو سرکشي او کفر لازمًا ورزيات کړي

بَيۡنَهُمُ الۡعَدَاوَةَ وَالۡبَغۡضَآءَ اِلٰى يَوۡمِ

او مونږه د دوى په مينځ كې د قيامت د ورځې پورې دښمني

الۡقِيٰمَةِ ؕ كُلَّمَاۤ اَوۡقَدُوۡا نَارًا لِّلۡحَرۡبِ

او بغض واچاوه، هر كله چې دوى د جنگ لپاره اور

اَطۡفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَيَسۡعَوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ

بلوي (، نو) الله هغه مړ كړي او دوى په ځمكه كې د

فَسَادًا ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ

وراني لپاره منډې وهي او الله وراني كوونكي

الۡمُفۡسِدِيۡنَ ۝٦٤ وَلَوۡ اَنَّ اَهۡلَ الۡكِتٰبِ

نه خوښوي -64- او كه يقينًا اهل كتابو ايمان

اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ

راوړي وی او پرهېزګاره شوي وی (، نو) لازمًا به مونږه له دوی

سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ

نه د دوی ګناهونه لرې کړي وی او خامخا به مونږه دوی د نعمتونو جنتونو ته

النَّعِيْمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ

داخل کړي وو۔ -65- او که یقینًا دوی (احکام د) تورات

وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ

او انجیل قایم کړي وی او هغه چې دوی ته د دوی د

رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ

رب له جانبه نازل کړی شوي دي (، نو) خامخا دوی به خوراك کړی و د خپل له پاسه نه او د

اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَ

خپلو پښو له لاندې نه، په دوی کې یوه مینځ لارې ډله ده او ډېر زیات په دوی کې

ع 13

كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ۟ يٰاَيُّهَا

(داسې) دي چې بد دي هغه چې دوی يې کوي - 66-

الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

ای رسوله! ته ورسوه هغه څه چې تا ته د خپل رب له

مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ

جانبه نازل کړی شوي دیاو که ته (دا کار)

رِسَالَتَهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ

ونه کړې، نو تا د هغه (الله) پيغام نه دی رسولی او الله تا له خلقو

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۶۷﴾

نه بچ ساتي، بېشکه الله کافر قوم ته نېغه لار نه ښيي -67-

قُلۡ يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لَسۡتُمۡ عَلٰى شَىۡءٍ

ته (ورته) ووايه: اى اهل کتابو! تاسو (د حق) په هېڅ شي

حَتّٰى تُقِيۡمُوا التَّوۡرٰىةَ وَالۡاِنۡجِيۡلَ وَمَاۤ

باندې نه يئ تر دې چې تاسو تورات او انجيل

اُنۡزِلَ اِلَيۡكُمۡ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ‌ؕ وَلَيَزِيۡدَنَّ

قايم کړئ او هغه چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل کړى شوي دي، خامخا هغه (کتاب) به،

كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ مَّاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ

چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړى شوى دى؛ په دوى کې د ډېرو

رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّ كُفْرًا ۚ فَلَا تَأْسَ عَلَى

خلقو سرکشۍ او کفر لازمًا ورزیات کړي، نو ته په کافر قوم

الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

باندې مه خفه کېږه -68- بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی

وَ الَّذِيْنَ هَادُوْا وَ الصّٰبِـُٔوْنَ وَ

او هغه کسان چې یهودیان او صابیان، او

النَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ

نصرانیان دي، هر چا چې په الله او د اخرت په

الْاٰخِرِ وَ عَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ

ورځ ایمان راوړ او نېك عمل یې وکړ، نو په دوی باندې نه څه وېره شته

عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿٦٩﴾ لَقَدۡ

او نه به دوی غمژن کېږي -69- خامخا

اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَ بَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ وَ

يقينًا مونږ له بني اسرائيلو نه پخه وعده اخيستې
وه او

اَرۡسَلۡنَاۤ اِلَيۡهِمۡ رُسُلًا ؕ كُلَّمَا جَآءَهُمۡ

دوی ته مونږ ډېر رسولان لېږلي وو، هر کله چې به
هم دوی ته

رَسُوۡلٌۢ بِمَا لَا تَهۡوٰۤى اَنۡفُسُهُمۡ ۙ فَرِيۡقًا

کوم رسول هغه (حکمونه) راوړل چې د دوی
نفسونو به نه خوښول (، نو) يوه ډله دوی دروغژنه

كَذَّبُوۡا وَفَرِيۡقًا يَّقۡتُلُوۡنَ ﴿٧٠﴾ ۗ وَحَسِبُوۡۤا

وګڼله او بله ډله دوی وژله -70- او دوی دا ګڼله

اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا وَ صَمُّوْا ثُمَّ

چې هېڅ ازمېښت به نه کېږي، نو ړانده شول او کاڼه شول، بیا

تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا وَ صَمُّوْا

الله دوی ته (په رحمت سره) توجه وکړه، بیا په دوی کې

كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ؕ وَ اللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا

ډېر خلق ړانده شول او کاڼه شول او الله ښه لیدونکی دی هغه څه لره چې

يَعْمَلُوْنَ ۝٧١ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا

دوی یې کوي -71- خامخا یقینًا کافر شول هغه خلق چې ویې ویل:

اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ

بېشکه الله همدا د مریمې زوی مسیح دی، حال

وَقَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

دا چې مسيح، بني اسرائيلو ته وويل: تاسو

اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ مَنْ

د الله عبادت كوئ، چې زما رب دی او ستاسو
رب دی، بېشكه خبره

يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ

دا ده چې څوك له الله سره شريك نيسي، نو يقينًا
په هغه باندې الله

الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ

جنت حرام كړی دی او د هغه استوگنه اور دی
او د ظالمانو لپاره هيڅوك مدد

مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۷۲﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا

كوونكي نشته -72- خامخا يقينًا كافر شول هغه
خلق چې ويې ويل:

وقف لازم

اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَ مَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّاۤ

بېشکه الله د درېوو دريم دی، حال دا چې هېڅ لايق د عبادت نشته مګر

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا

يو معبود، او که چېرې دوی له هغو خبرو نه منع نشي

يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چې دوی يې کوي، نو خامخا لازمًا به په دوی کې کافر شويو خلقو ته ډېر

مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ

دردوونکی عذاب ورسېږي -73- ايا دوی ولې

اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

الله ته توبه نه وباسي او له هغه نه بخښنه نه غواړي؟! حال دا چې الله ډېر بخښونکی، بې حده

رَّحِيۡمٌ ۝٧٤ مَا الۡمَسِيۡحُ ابۡنُ مَرۡيَمَ اِلَّا

مهربان دی -74- نه دی د مریمې زوی مسیح مګر

رَسُوۡلٌ ۚ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِ

يو رسول دی، يقيناً له ده نه مخکې رسولان تېر
شوي دي

الرُّسُلُ ؕ وَ اُمُّهٗ صِدِّيۡقَةٌ ؕ كَانَا يَاۡكُلٰنِ

او د ده مور صِديقه (ډېره زياته رښتينې) وه، دې
دواړو به

الطَّعَامَ ؕ اُنۡظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ

طعام خوړلو.، ته وګوره مونږه څنګه دوی ته ايتونه
بيانوو،

الۡاٰيٰتِ ثُمَّ انۡظُرۡ اَنّٰى يُؤۡفَكُوۡنَ ۝٧٥

بيا ته وګوره دوی کوم طرف اړولی شي -75-

قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا

ته ووايه: ايا تاسو له الله نه غير د هغه شي عبادت کوئ چې تاسو

لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ؕ وَاللّٰهُ

لپاره نه د نقصان اختيار لري او نه د نفع او همدا الله ښه

هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۷۶﴾ قُلْ يٰاَهْلَ

اورېدونکی، ښه پوه دی -76- ته (ورته) ووايه: ای اهلِ

الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ

کتابو! تاسو په خپل دين کې ناحقه زياتی مه کوئ او د

الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ

هغه قوم د خواهشاتو پيروي مه کوئ چې له دې نه مخکې گمراه شوي دي

ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَ اَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّ

او هغوی ډېر خلق گمراه کړي دي او له نېغې

ع 14

ضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٧٧﴾ لُعِنَ

لارې نه بې لارې شوي دي -77- په هغو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

کسانو باندې، چې په بني اسرائیلو کې کافر شوي دي،

عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَ عِيْسَى ابْنِ

لعنت شوی دی د داود او د مریمې زوی عیسٰی په ژبه،

مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا

دا ځکه چې دوی نافرماني وکړه او دوی له

يَعۡتَدُوۡنَ ﴿۷۸﴾ كَانُوۡا لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَنۡ

حد نه تېرېدل -78- دوی به له هغه ناروا کار

مُّنۡكَرٍ فَعَلُوۡهُ ؕ لَبِئۡسَ مَا كَانُوۡا

نه یو بل نه منع کول چې دوی به هغه کاوه، خامخا بد دی هغه (کار) چې

يَفۡعَلُوۡنَ ﴿۷۹﴾ تَرٰى كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ

دوی به کاوه -79- ته به په دوی کې ډېر (داسې) وینې

يَتَوَلَّوۡنَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ؕ لَبِئۡسَ مَا

چې له هغو کسانو سره دوستي کوي چې کافر شوي دي، خامخا بد دی

قَدَّمَتۡ لَهُمۡ اَنۡفُسُهُمۡ اَنۡ سَخِطَ اللّٰهُ

هغه شی چې د دوی لپاره د دوی نفسونو مخکې لېږلی دی، دا چې الله دوی

عَلَيۡهِمۡ وَفِي الۡعَذَابِ هُمۡ خٰلِدُوۡنَ ﴿٨٠﴾

ته په غصه شو او دوی به په عذاب کې همېشه وي -80-

وَلَوۡ كَانُوۡا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ

او که چېرې دوی په الله او په نبي او په هغه څه چې ده ته

اُنۡزِلَ اِلَيۡهِ مَا اتَّخَذُوۡهُمۡ اَوۡلِيَآءَ وَ

نازل کړی شوي دي ایمان لرلی (، نو) دوی به هغه (کافران) دوستان نه وو

لٰكِنَّ كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ فٰسِقُوۡنَ ﴿٨١﴾

جوړ کړي او لېکن په دوی کې ډېر خلق فاسقان دي -81-

لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِيۡنَ

خامخا لازمًا به ته له مومنانو سره په دښمنۍ کې تر ټولو خلقو

اٰمَنُوا الْيَهُوْدَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ وَ

زيات سخت، يهوديان مومنٍ او هغه كسان چې
مشركان دي او

لَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

خامخا لازمًا به ته له مومنانو سره په دوستۍ كې
تر ټولو

الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّ

خلقو زيات نژدې هغه كسان مومې چې ويلي دي:
بېشكه مونږ نصرانيان يو، دا ځكه

مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ وَرُهْبَانًا وَّاَنَّهُمْ

چې په دوى كې په رښتيا عبادت گذاره عالمان او
راهبان (زاهدان) دي او دا ځكه چې واقعاً

لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٨٢﴾

دوى تكبر نه كوي -82-

وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ

اوكله چې دوى هغه (قرآن) واوري چې رسول ته

تَرٰۤى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ

نازل كړى شوى دى (، نو) ته به د دوى سترګې وينې چې له اوښكو به بهيږي،

مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ

په سبب د هغه حق چې دوى وپيژنده، دوى وايي: اى زمونږه ربه! مونږ ايمان راوړى دى،

اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَمَا

نو ته مونږ له ګواهي كوونكو سره وليكه -83- او مونږ

لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ

لره څه دي چې په الله به ايمان نه راوړو او په هغه حق چې مونږ ته راغلى دى،

الۡحَقِّ ۙ وَ نَطۡمَعُ اَنۡ يُّدۡخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ

حال دا چې مونږ د دې طمع لرو چې زمونږ رب
به مونږ د نېکانو خلقو په

الۡقَوۡمِ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿۸۴﴾ فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ

ډله کې داخل کړي -84- نو الله دوی ته د دوی د

بِمَا قَالُوۡا جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا

وينا په بدل کې داسې جنتونه ورکړل چې د هغو

الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ؕ وَ ذٰلِكَ جَزَآءُ

له لاندې وَلې بهېږي، چې دوی به په هغو کې
همېشه وي او دا د نېکي

الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۸۵﴾ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَ

کوونکو بدله ده -85- او هغه کسان چې کافر
شوي دي او

ع
1

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

زمونږ ایتونه يې دروغ ګڼلي دي، دغه کسان د
دوزخ ملګري

الْجَحِيْمِ ﴿٨٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا

(دوزخيان) دي -86- ای هغو کسانو چې ایمان يې
راوړی دی!

تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَ

تاسو هغه پاکيزه شيزونه مه حراموئ چې ستاسو
لپاره الله حلال کړي دي او

لَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

له حد نه مه تېرېږئ، بېشکه الله له حد نه
تېرېدونکي نه

الْمُعْتَدِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

خوښوي -87- او تاسو له هغه (رزق) نه، چې الله
تاسو ته درکړی دی

حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ

حلال پاکيزه خورئ او له هغه الله نه ووېرېږئ
چې تاسو په هغه ايمان

بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿٨٨﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ

لرونکي يئ -88- الله تاسو په خپلو قسمونو کې
په

بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ

لغو (قسم) سره نه نيسي، او لېکن تاسو په هغو

يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ

قسمونو نيسي چې تاسو پاخه خوړلي وي،

فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ

نو د ده کفاره لسو مسکينانو ته خوراك ورکول دي

مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ

له هغه درمیانه (خوراك) نه چې تاسو يې په خپلو كورنيو خوروئ، يا د

كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ؕ فَمَنْ لَّمْ

هغو (لسو مسكينانو) جامه ده، يا د يو ښځ (د غلام، يا وينځې) ازادول دي، نو چا چې (دا) ونه

يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ

موندل، نو (د هغه په ذمه) درې ورځې روژې دي، دا ستاسو

كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ؕ وَ

د قسمونو كفاره ده، كله چې تاسو قسم وخورئ او

احْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ

تاسو د خپلو قسمونو حفاظت كوئ، همدارنگه الله تاسو ته

لَكُمۡ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿٨٩﴾ يٰۤاَيُّهَا

خپل ایتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ -89- ای هغو

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِنَّمَا الۡخَمۡرُ وَالۡمَيۡسِرُ

کسانو چې ایمان یې راوړی دی! بېشکه همدا خبره ده چې شراب، او جواري

وَالۡاَنۡصَابُ وَالۡاَزۡلَامُ رِجۡسٌ مِّنۡ

او بتان او د فال غشي پلیت دي، د

عَمَلِ الشَّيۡطٰنِ فَاجۡتَنِبُوۡهُ لَعَلَّكُمۡ

شیطان له عمله دي، نو تاسو له دې نه ځان وساتئ، د دې لپاره چې تاسو

تُفۡلِحُوۡنَ ﴿٩٠﴾ اِنَّمَا يُرِيۡدُ الشَّيۡطٰنُ اَنۡ

کامیاب شئ -90- یقینًا همدا خبره ده چې شیطان غواړي

يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي

چې ستاسو په مينځ کې د شرابو او جوارۍ

الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ

په ذريعې سره دښمني او بغض واچوي او تاسو د

ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ

الله له ذکر نه او له لمانځه نه بند کړي، نو ايا تاسو
(له شرابو او جوارۍ نه) منع

مُّنْتَهُوْنَ ۝٩١ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا

کېدونکي يئ؟ -91- او تاسو د الله اطاعت کوئ
او د (هغه د)

الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ

رسول اطاعت کوئ او ځان بچ کړئ، نو که چېرې

فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ

تاسو وګرځېدلئ، نو پوه شئ چې یقینًا زمونږ د رسُول په ذمه خو بس ښکاره رسَول

الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

(تبلیغ کول) دي -92- هېڅ ګناه نشته په هغو کسانو باندې چې ایمان یې راوړی دی او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا

نېك عملونه یې کړي دي، په هغه څه کې چې هغوی خوړلي دي،

اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا

کله چې هغوی پرهېزګاره شوي وو او ایمان یې راوړی و او

الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ

نېك عملونه یې کړي وو، بیا پرهېزګاره شوي وو او ایمان یې

اتَّقَوا وَّ اَحۡسَنُوۡا ؕ وَ اللّٰهُ يُحِبُّ

راوړی و، بیا پرهېزګاره شوي وو او نېکي يې کړې وه او الله نېکي

ع 2

الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۝٩٣ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

کوونکي خوښوي -93- ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی!

لَيَبۡلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَىۡءٍ مِّنَ الصَّيۡدِ

الله به خامخا لازمًا تاسو په یو شي سره ازمايي چې له ښکاره به وي،

تَنَالُهٗۤ اَيۡدِيۡكُمۡ وَ رِمَاحُكُمۡ لِيَعۡلَمَ

چې ستاسو لاسونه او ستاسو نېزې به هغه ته رسېږي،

اللّٰهُ مَنۡ يَّخَافُهٗ بِالۡغَيۡبِ ۚ فَمَنِ

د دې لپاره چې الله معلوم کړي هغه چا لره چې له هغه نه

اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ

په نا لېدلو وېرېږي، نو چا چې له دې نه بعد زياتى وكړ، نو د هغه لپاره ډېر دردوونكى

اَلِيْمٌ ﴿٩٤﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا

عذاب دى -94- اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو ښكار

الصَّيْدَ وَ اَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ وَ مَنْ قَتَلَهٗ

مه وژنئ (ښكار مه كوئ)، په دې حال كې چې تاسو په احرام كې يئ،

مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا

او په تاسو كې چې چا هغه قصدًا قتل كړ، نو (په هغه) جزا (لازمه) ده د هغه ځاروي په مثل

قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ

(ځاروى) چې ده وژلى دى، په تاسو كې دوه عدل والا

مِّنكُمْ هَدْيًا بَٰلِغَ ٱلْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّٰرَةٌ

كسان به د دې فيصله كوي، چې كعبې ته
رسېدونكې قرباني به وي، يا (د ده په ذمه) كفاره

طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ

ده چې مسكينانو ته خوراك وركول دي، يا د دې
په برابر روژې نيول دي،

صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِۦ ۗ عَفَا ٱللَّهُ

د دې لپاره چې د خپل كار سزا وڅكي، الله د هغه
څه معافي كړې

عَمَّا سَلَفَ ۚ وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ

ده چې مخكې تېر شوي دي او څوك چې بيا
راوګرځي، نو الله به له هغه نه انتقام واخلي او

مِنْهُ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾ أُحِلَّ

الله ډېر غالب دی، انتقام والا دی -95- ستاسو
لپاره

لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا

د سمندر ښکار او د هغه طعام حلال کړی شوی دی،

لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ

ستاسو او د (نورو) مسافرو د فايدې لپاره، او پر تاسو باندې د وچې ښکار حرام کړی شوی دی،

صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ۗ وَاتَّقُوا

څو پورې چې تاسو په احرام کې يئ- او تاسو له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو به

اللّٰهَ الَّذِىٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٩٦﴾ جَعَلَ

خاص هغه ته ورجمع کولی شئ -96- کعبه، چې د

اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا

عزت کور دی، الله د خلقو د قيام سبب ګرځولې ده

لِّلنَّاسِ وَ الشَّهۡرَ الۡحَرَامَ وَ الۡهَدۡیَ وَ

او د عزت میاشت او د حرم قرباني او امیل والا خاروي،

الۡقَلَآئِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ

دا د دې لپاره چې تاسو پوه شئ چې یقینًا الله

یَعۡلَمُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الۡاَرۡضِ

پوهېږي په هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او په (هر) هغه څه چې په ځمکه کې دي

وَ اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ﴿۹۷﴾ اِعۡلَمُوۡۤا

او دا چې یقینًا الله په هر شي ښه پوه دی -97- تاسو پوه شئ

اَنَّ اللّٰهَ شَدِیۡدُ الۡعِقَابِ وَ اَنَّ اللّٰهَ

چې بېشکه الله سخت عذاب والا دی او دا چې بېشکه الله ډېر

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٨﴾ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا

بخښونکی، بې حده مهربان دی -98- د رسُول په ذمه نشته مګر

الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ

يواځې (د حق) رسَول، او الله پوهېږي په هغه څه چې تاسو يې ښکاره کوئ او

وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٩٩﴾ قُلْ لَّا يَسْتَوِى

په هغه څه چې تاسو يې پټوئ -99- ته ووايه: ناپاك او پاك

الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ

سره برابر نه دي اګر که تا د ناپاکو ډېروالی په تعجب کې واچوي،

كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰاُولِى

نو ای د خالص عقل خاوندانو! تاسو له الله نه ووېرېږئ،

ع 3

الۡاَلۡبَابِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ۝١٠٠ يٰۤاَيُّهَا

د دي لپاره چې تاسو کامياب شئ -100- اى هغو

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَسۡـَٔلُوۡا عَنۡ اَشۡيَآءَ

کسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو د داسې
شيزونو په

اِنۡ تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ ۚ وَاِنۡ تَسۡـَٔلُوۡا

باره کې تپوس مه کوئ چې که تاسو ته ظاهر
کړى شي(، نو) تاسو به خفه کړي، او که چېرې

عَنۡهَا حِيۡنَ يُنَزَّلُ الۡقُرۡاٰنُ تُبۡدَ لَكُمۡ ؕ

تاسو په هغه وخت کې تپوس وکړئ کله چې قرآن
نازلولى شي (، نو) تاسو ته به ظاهر کړى شي، الله

عَفَا اللّٰهُ عَنۡهَا ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ حَلِيۡمٌ ۝١٠١

تاسو ته (د تېرو سوالونو) معافي کړې ده او الله
ډېر بخښونکى، ډېر تحمل والا دى -101-

قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ

يقينًا له تاسو نه مخکې يو قوم د دغه خبرو پوښتنه کړې وه، بيا دوی په هغو

اَصْبَحُوْا بِهَا كٰفِرِيْنَ ۝١٠٢ مَا جَعَلَ اللّٰهُ

(يا په سبب د هغو سره) کافر شول -102- الله نه ده مقرره کړې

مِنْۢ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّ

هېڅ بحيره او نه سايبه او نه وصيله او

لَا حَامٍ ۙ وَّلٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

نه حام، او لېکن هغه کسان چې کافر شوي دي

يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ

دوی په الله باندې دروغ تړي

وَاَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۰۳﴾ وَاِذَا قِيۡلَ

او د دوی اکثره نه پوهېږي -103- او کله چې

لَهُمۡ تَعَالَوۡا اِلٰى مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى

دوی ته وویل شي چې راشئ هغه شي ته چې الله نازل کړی دی

الرَّسُوۡلِ قَالُوۡا حَسۡبُنَا مَا وَجَدۡنَا

او رسول ته (راشئ)، دوی وايي: مونږ ته هغه (لار) کافي ده چې

عَلَيۡهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوۡ كَانَ اٰبَآؤُهُمۡ لَا

په هغې باندې مونږ خپل پلرونه موندلي دي، ايا اګر که د دوی پلرونه نه په هېڅ شي

يَعۡلَمُوۡنَ شَيۡـًٔـا وَّلَا يَهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۰۴﴾ يٰۤاَيُّهَا

پوهېږي او نه هدايت موندونکي وي -104- ای هغو

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا عَلَيۡكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ ۚ لَا

كسانو چې ايمان يې راوړى دى! په تاسو د خپل
ځان بچ كول لازم دي، تاسو

يَضُرُّكُمۡ مَّنۡ ضَلَّ اِذَا اهۡتَدَيۡتُمۡ ؕ اِلَى

ته هغه څوك ضرر نشي دررسولى چې گمراه
شوي دي، كله چې تاسو (پخپله)

اللّٰهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيۡعًا فَيُنَبِّئُكُمۡ

په نېغه لار يئ، خاص د الله په طرف ستاسو د
ټولو واپس تلل دي، نو هغه به تاسو په هغو

بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۝١٠٥ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

عملونو خبر كړي چې تاسو به كول -105- اى
هغو كسانو

اٰمَنُوۡا شَهَادَةُ بَيۡنِكُمۡ اِذَا حَضَرَ

چې ايمان يې راوړى دى! كله چې په تاسو كې يو
تن ته

اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ

مرگ راشي، (نو) د وصيت په وخت کې ستاسو
په مينځ

ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ

کې له خپلو (مومنانو) څخه د دوه عادلو
کسانوګواه کول (لازم) دي،

غَيْرِكُمْ اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي

يا ستاسو له غيرو نه دوه نور کسان (ګواهان پکار
دي) که چېرې تاسو په

الْاَرْضِ فَاَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ

ځمکه کې سفر کوئ، بيا تاسو ته د مرګ مصيبت
ورسېږي۔،

الْمَوْتِ ط تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْۢ بَعْدِ

تاسو به دغه دواړه له لمانځه نه پس ايساروئ،

الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ اِنِ ارْتَبْتُمْ

نو هغه دواړه به په الله قسم وخوري، كه تاسو شك وكړئ، (او هغه دواړه به وايي:)

لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى

مونږ په دې (قسم) سره څه قيمت نه اخلو، اګر كه هغه خپلوان وي او مونږ د الله ګواهي نه پټوو،

وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ

(كه مونږ قيمت واخيسته، يا مو ګواهي پټه كړه) بېشكه مونږ به په دغه وخت كې خامخا له ګناه

الْاٰثِمِيْنَ ﴿١٠٦﴾ فَاِنْ عُثِرَ عَلٰٓى اَنَّهُمَا

كوونكو څخه يو -106- نو كه اطلاع حاصله شوه

اسْتَحَقَّآ اِثْمًا فَاٰخَرٰنِ يَقُوْمٰنِ

چې بېشكه هغه دواړه د ګناه مستحق شوي دي، نو دوه نور

مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ

کسان به د دوی په ځای ودرېږي هغه چې پر
هغوی د حق دعویٰ وشوه چې (مړي ته) ډېر

عَلَيْهِمُ الْاَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ

قريب وي، نو دوی دواړه به په الله سره قسم
خوري، چې يقيناً د دوی گواهي د هغو دواړو له

لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا وَ مَا

گواهۍ نه ښه حقه ده او مونږ زياتی نه دی کړی،
(که مونږ وکړو) بېشکه مونږه به په

اعْتَدَيْنَآ ۖ اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٧﴾

دغه وخت کې خامخا له ظالمانو څخه يو -107-

ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى

دا (خبره) ډېره نژدې ده دې ته چې دوی به
گواهي په

وَجۡهِهَآ اَوۡ يَخَافُوۡۤا اَنۡ تُرَدَّ اَيۡمَانٌۢ

صحیح طريقې سره وکړي، يا به دوی ووېرېږي
چې (د دوی) قسمونه به د هغوی له قسمونو نه

بَعۡدَ اَيۡمَانِهِمۡ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

پس رد کړی شي۔ او تاسو له الله نه وېرېږئ او

اسۡمَعُوۡا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ

اَورئ، او الله فاسقو خلقو ته نېغه لار

ع 4

الۡفٰسِقِيۡنَ ۞١٠٨ يَوۡمَ يَجۡمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ

نه ښيي -108- هغه ورځ (ياده کړه) چې الله به
رسولان راجمع کړي،

فَيَقُوۡلُ مَاذَاۤ اُجِبۡتُمۡ ؕ قَالُوۡا لَا عِلۡمَ

نو (ورته) وايي به: تاسو ته څه جواب درکړی
شوی و؟ هغوی به وايي: مونږ ته هيڅ علم نشته،

لَنَا ۭ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝١٠٩ اِذْ

بېشكه هم ته په غيبو ښه عالم يې -109- كله چې

قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ

الله به ووايي: اى عيسٰى د مريمې زويه! زما هغه

نِعْمَتِيْ عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ ۘ اِذْ

نعمتونه يادكړه چې په تا او ستا په مور باندې شوي دي، كله چې

اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۣ تُكَلِّمُ

ته ما په پاك روح (جبريل) سره قوي كړې، تا به د

النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا ۚ وَاِذْ

خلقو سره په غېږ كې او په پاخه عمر كې خبرې كولې او كله چې

وقف لازم

عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ

ما تا ته کتاب، او حکمت او تورات

وَالْإِنْجِيلَ ۚ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ

او انجیل وښوده، او کله چې تا به زما په حکم سره له خټې نه

كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنْفُخُ فِيهَا

د مرغۍ د شکل په شان (شکل) جوړاوه، بیا به تا په هغه کې

فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ

پوکی وواهه، نو هغه به زما په حکم سره مرغۍ شوه او تابه

وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي ۚ وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى

زما په حکم سره مورزادي ړوند او برگي مرض والا روغاوه

بِاِذْنِيْ ج وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

او کله چې تا زما په حکم سره مړي (له قبرونو نه ژوندي) راوښکل او

عَنْكَ اِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ

کله چې ما له تا نه بني اسرائیل بند (ایسار) کړل، کله چې

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

تا هغوی ته ښکاره دلیلونه راوړل، نو په هغوی کې کافر شویو خلقو وویل: نه دی دا

سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١١٠﴾ وَاِذْ اَوْحَيْتُ اِلَى

مگر ښکاره جادو -110- او کله چې مونږه

الْحَوَارِيّٖنَ اَنْ اٰمِنُوْا بِيْ وَبِرَسُوْلِيْ ج

حواریانو ته الهام وکړ چې په ما او زما په رسول ایمان راوړئ،

قَالُوٓا اٰمَنَّا وَاشْهَدْ بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ ﴿١١١﴾

هغوی وويل: مونږ ايمان راوړی دی او ته په دې
ګواه شه چې يقيناً مونږ مسلمانان يو -111-

اِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ يٰعِيْسَى ابْنَ

کله چې حواريانو وويل: ای عيسٰی د مريمې
زويه!

مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيْعُ رَبُّكَ اَنْ يُّنَزِّلَ

ايا ستا رب د دې طاقت لري چې پر مونږ باندې
له

عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ؕ قَالَ

اسمانه دسترخوان نازل کړي؟ هغه (عيسٰی) وويل:
تاسو

اتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١١٢﴾

له الله نه ووېرېږئ که چېرې تاسو مومنان يئ -
-112

قَالُوْا نُرِيْدُ اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا وَ تَطْمَىِٕنَّ

هغوی وویل: مونږ غواړو چې له هغه نه خوراك وکړو او زمونږ زړونه مطمئن شي

قُلُوْبُنَا وَ نَعْلَمَ اَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَ

او پوه شو چې تا مونږ ته رښتیا ویلي دي او مونږ

نَكُوْنَ عَلَيْهَا مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۱۱۳﴾

به په هغه باندې له ګواهانو څخه شو -113-

الربع

قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ

د مریمې زوی عیسٰی وویل: ای الله زمونږه ربه!

اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآىِٕدَةً مِّنَ السَّمَآءِ

ته په مونږه له اسمانه دسترخوان نازل کړه چې

تَكُوۡنُ لَنَا عِيۡدًا لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً

زمونږ د ړومبنو او زمونږ د وروستنو لپاره اختر شي او ستا له جانبه

مِّنۡكَ ۚ وَارۡزُقۡنَا وَاَنۡتَ خَيۡرُ

يوه نخښه او ته مونږ ته روزي راكړه او ته تر ټولو غوره

الرّٰزِقِيۡنَ ۝١١٤ قَالَ اللّٰهُ اِنِّىۡ مُنَزِّلُهَا

رزق وركوونكى يې -114- الله وفرمايل: بېشكه زه پر تاسو

عَلَيۡكُمۡ ۚ فَمَنۡ يَّكۡفُرۡ بَعۡدُ مِنۡكُمۡ

باندې هغه لره نازلوونكى يم، نو په تاسو كې چې چا له دې نه بعد كفر وكړ،

فَاِنِّىۡۤ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّاۤ اُعَذِّبُهٗۤ اَحَدًا

نو بېشكه زه هغه لره عذاب وركوونكى يم، داسې عذاب، چې

ع
5

مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝١١٥ وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى

په مخلوقاتو كې هېڅ يو كس ته هم هغه (شان) عذاب نه وركوم -115- او كله چې الله وفرمايل:

ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ

اى عيسٰى د مريمې زويه! ايا تا خلقو ته ويلي وو چې له

اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ

الله نه غير ما او زما مور دوه معبودان ونيسئ،

اللّٰهِ ؕ قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ

وويل (عيسٰى) زه ستا پاكي بيانوم، زما لپاره جايز نه

اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ ۗ بِحَقٍّ ؕ اِنْ كُنْتُ

دي چې زه هغه خبره وكړم چې د هغې حق ما ته نشته،

قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ؕ تَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِیْ

كه چېرې ما دا خبره كړې وى، نو يقينًا تا ته به معلومه وَى، ته عالم يې په هر هغه

وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِكَ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ

څه چې زما په نفس كې دي او زه نه پوهېږم په هغه څه چې ستا په نفس كې دي، بېشكه هم ته په

عَلَّامُ الْغُیُوْبِ ﴿۱۱۶﴾ مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآ

غيبو ښه عالم يې -116- ما دوى ته يواځې هغه

اَمَرْتَنِیْ بِهٖٓ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّیْ وَ

خبره كړې ده چې تا ما ته د هغې حكم راكړى و، دا چې تاسو د الله عبادت كوئ،

رَبَّكُمْ ۚ وَكُنْتُ عَلَیْهِمْ شَهِیْدًا مَّا

چې زما رب دى او ستاسو رب دى، او زه په دوى باندې گواه وم

دُمۡتُ فِيۡهِمۡ ۚ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِيۡ كُنۡتَ

ترڅو پورې چې زه په دوی کې موجود وم، نو کله
چې تا زه واخیستلم

اَنۡتَ الرَّقِيۡبَ عَلَيۡهِمۡ ؕ وَاَنۡتَ عَلٰى

(، نو) هم ته له همېشه په دوی نګهبان وې او ته
په

كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ﴿۱۱۷﴾ اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ

هر شي باندې ګواه یې -117- که چېرې ته دوی
ته

فَاِنَّهُمۡ عِبَادُكَ ۚ وَاِنۡ تَغۡفِرۡ لَهُمۡ

عذاب ورکوې، نو یقینًا دوی ستا بنده ګان دي او
که چېرې ته دوی ته بخښنه کوې،

فَاِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۱۱۸﴾ قَالَ

نو بېشکه هم ته ډېر غالب، ښه حکمت والا یې -
118- الله وفرمایل:

اللّٰهُ هٰذَا يَوۡمُ يَنۡفَعُ الصّٰدِقِيۡنَ

دا ورځ ده چې رښتينو ته به د هغوی رښتيا ويل فايده ورکوي،

صِدۡقُهُمۡ ؕ لَهُمۡ جَنّٰتٌ تَجۡرِیۡ مِنۡ

د دوی لپاره داسې جنتونه دي چې د هغو له

تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَاۤ اَبَدًا ؕ

لاندې ولې بهيږي، دوی به په هغو کې تل ترتله وي،

رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُوۡا عَنۡهُ ؕ ذٰلِكَ

الله له دوی نه راضي دی او دوی له هغه نه راضي دي، همدا ډېره

الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ۝١١٩ لِلّٰهِ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ

لويه کاميابي ده -119- خاص د الله لپاره ده

وَالۡاَرۡضِ وَمَا فِيۡهِنَّ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

بادشاهي د اسمانونو او د ځمکې او د هغه څه چې
په دغو کې دي او هغه په هر شي

ع
6

شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۱۲۰﴾

باندې ښه قادر دی -120-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِىۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

ټول د کمال صفتونه خاص هغه الله لره دي، چې
اسمانونه او

الۡاَرۡضَ وَ جَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَ النُّوۡرَ ؕ

ځمکه يې پيدا کړي دي، او پيدا کړې يې دي
تيارې او رڼا،

ثُمَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِرَبِّهِمۡ

بيا (هم) هغه خلق چې کافر دي، له خپل رب سره
(نور څيزونه)

يَعۡدِلُوۡنَ ۝١ هُوَ الَّذِىۡ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ

برابروي -1- دی هم هغه ذات دی چې تاسو يې

طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰٓى اَجَلًا ؕ وَ اَجَلٌ مُّسَمًّى

له خټې نه پيدا کړئ، بيا يې يو وخت مقرر کړ او
مقرر وخت له هغه سره (ليك)

عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ۝٢ وَ هُوَ اللّٰهُ

دی، بيا (هم) تاسو شك كوئ -2- او په اسمانونو
كې

فِي السَّمٰوٰتِ وَ فِي الْاَرْضِ ؕ يَعْلَمُ

او په ځمكه كې هم هغه الله دی، هغه ستاسو په

سِرَّكُمْ وَ جَهْرَكُمْ وَ يَعْلَمُ مَا

پټو (حالاتو) او ستاسو په ښكاره (حالاتو)
پوهيږي او پوهيږي په هغه څه چې

تَكْسِبُوْنَ ۝٣ وَ مَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ

تاسو يې كوئ -3- او دوی ته د خپل رب له
ايتونو

مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا

څخه هېڅ يو ايت نه راځي مګر دا چې دوی له هغه نه

مُعْرِضِيْنَ ﴿٤﴾ فَقَدْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا

مخ اړونکي دي -4- پس يقينًا دوی د حق تکذيب وکړ،

جَآءَهُمْ ؕ فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا

کله چې دوی ته راغی، نو ژر به دوی ته د هغه شيز خبرونه راشي چې

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٥﴾ اَلَمْ يَرَوْا

دوی به په هغه پورې استهزا کوله -5- ايا دوی نه

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ

دي کتلي (نه دي خبر شوي) چې له دوی نه مخکې څومره

مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّنْ

(ډېر) امتونه مونږ هلاك كړي دي، چې مونږه هغوى ته په ځمكه كې ښه قوت وركړى و،

لَّكُمْ وَ اَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ

دومره (قوت) چې تاسو ته مونږ (هومره) نه دى دركړى او مونږ پر

مِّدْرَارًا ۖ وَّ جَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ تَجْرِيْ

هغوى باندې پرله پسې ورېدونكى باران ورولى و او داسې وَلې مونږه جاري كړې

مِنْ تَحْتِهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَ

وې چې له هغوى نه ښكته بهېدلې، نو مونږ هغوى د خپلو گناهونو په سبب هلاك كړل او

اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝٦

له هغوى نه بعد مونږه نور خلق پيدا كړل -6-

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ

او كه چېرې مونږه په تا باندې په كاغذ كې (ليكلى) كتاب نازل كړ،

فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ

بيا دوى په هغه خپل لاسونه (هم) لګولي وى، (نو) خامخا كافر شويو كسانو

كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَ

به ويل: نه دى دا مګر ښكاره جادو -7- او

قَالُوْا لَوْ لَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۭ وَلَوْ

دوى وويل: په ده باندې مَلَك ولې نه دى نازل كړى شوى؟ او كه

اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا

مونږه مَلَك نازل كړى وى (نو) لازمًا به معامله فيصله كړى شوې وه، بيا به دوى ته مهلت نه

يُنْظَرُوْنَ ﴿٨﴾ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا

وركول كېدى -8- او كه چېرې مونږ دا (رسول)
مَلَك گرځولى وَى (، نو) خامخا مونږ به هغه سړى

لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا

جوړ کړی و او خامخا مونږه به دوی په هغه شبه
کې اچولی، په کومه شبه کې چې

يَلْبِسُوْنَ ﴿٩﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ

(اوس) پراته دي -9- او يقينًا يقينًا له تا نه په
مخکې رسولانو

مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا

پورې استهزا گانې شوي دي، نو هغو کسانو لره
چې په دوی پورې يې مسخرې کړې وې؛

ع 7

مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٠﴾ قُلْ

هغه شي راگېر کړل چې دوی به په هغه پورې
استهزا کوله -10- ته ووايه:

سِيۡرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ ثُمَّ انۡظُرُوۡا كَيۡفَ

تاسو په ځمکه کې وګرځئ، بیا تاسو وګورئ چې
د دروغ

كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ۝١١ قُلۡ لِّمَنۡ مَّا

ګڼونکو انجام څنګه و؟ -11- ته ووایه: هغه څه د
چا دي

فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ قُلۡ لِّلّٰهِ ؕ

چې په اسمانونو او ځمکه کې دي؟ ته ووایه: د الله
دي،

كَتَبَ عَلٰى نَفۡسِهِ الرَّحۡمَةَ ؕ

هغه په خپل ځان باندې رحمت لازم کړی دی،

لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ لَا رَيۡبَ

خامخا لازمًا به هغه تاسو د قیامت په ورځ راجمع
کوي، چې په هغې

فِيْهِ ؕ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ

كې هېڅ شك نشته، هغه كسان چې خپلو ځانونو ته يې تاوان رسولى دى، نو هغوى

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢﴾ وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ

ايمان نه راوړي -12- او خاص د هغه لپاره دي هغه څه چې ارام كوي په شپه كې

وَالنَّهَارِ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣﴾

او په ورځ كې او هم هغه ښه اورېدونكى، ښه عالم دى -13-

قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ

ته ووايه: ايا زه (بل) ولي (مددگار) ونيسم، له هغه الله نه غير چې د

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا

اسمانونو او ځمكې پيداكوونكى دى او هغه خوراك وركوي او هغه

يُطۡعَمُ ؕ قُلۡ اِنِّيۡۤ اُمِرۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ

ته خوراك نشي وركولى؟ ته ووايه: بېشكه زه چې يم، ما ته حكم شوى دى

اَوَّلَ مَنۡ اَسۡلَمَ وَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ

چې زه په اسلام راوړونكو كې اول شم او (ما ته ويل شوي دي چې) ته هيڅكله هم له

الۡمُشۡرِكِيۡنَ ۝١٤ قُلۡ اِنِّيۡۤ اَخَافُ اِنۡ

مشركانو څخه مه كېږه -14- ته ووايه: بېشكه زه د لويې ورځې

عَصَيۡتُ رَبِّيۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ۝١٥

له عذاب نه وېرېږم، كه د خپل رب نافرماني وكړم -15-

مَنۡ يُّصۡرَفۡ عَنۡهُ يَوۡمَئِذٍ فَقَدۡ

هغه څوك چې له هغه نه په دغې ورځ كې

رَحِمَهُ ؕ وَ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿١٦﴾ وَاِنْ

دغه (عذاب) واړول شو، نو یقیناً په هغه یې رحم وکړ او دا څرګنده کامیابي ده -16- او که

يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا

الله تا ته تکلیف درورسوي، نو د هغه (تکلیف) لرې کوونکی

هُوَ ؕ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى

له هغه نه سِوا بل هیڅوك نشته او كه هغه تا ته خیر دروروسوي، نو هغه په هر شي

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٧﴾ وَ هُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ

باندې ښه قادر دی -17- او هم دی غالب دی، د خپلو بنده ګانو له پاسه

عِبَادِهٖ ؕ وَ هُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿١٨﴾

دی او هم دی ښه حکمت والا، ښه خبردار دی -18-

قُلْ اَیُّ شَیْءٍ اَکْبَرُ شَهَادَةً ؕ قُلِ

ته ووایه: د گواهۍ په لحاظ کوم شی تر ټولو لوی دی؟ ته ووایه:

اللّٰهُ قف ۙ شَهِیْدٌۢ بَیْنِیْ وَ بَیْنَکُمْ قف وَ اُوْحِیَ

الله دی، (هغه) زما په مینځ کې او ستاسو په مینځ کې گواه دی۔

اِلَیَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَکُمْ بِهٖ وَ مَنْۢ

او ما ته دا قرآن وحي کړی شوی دی، د دې لپاره چې په دې (قرآن) سره زه تاسو وویروم او هغه

بَلَغَ ؕ اَئِنَّکُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ

څوك چې دا ورته رسېدلی، ایا بېشکه تاسو خامخا (د دې خبرې) گواهي کوئ چې یقیناً له الله سره

اٰلِهَةً اُخْرٰی ؕ قُلْ لَّاۤ اَشْهَدُ ج قُلْ اِنَّمَا

نور معبودان (هم) شته؟ ته ووایه: زه (د دې) شاهدي نه کوم، ته ووایه:

هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا

بېشکه همدا خبره ده چې هغه يو معبود دی او
بېشکه زه له هغه څه نه بېزاره يم چې تاسو يې

وقف لازم

تُشْرِكُوْنَ ﴿١٩﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

شريکان کوئ -19- هغه کسان چې هغوی ته مونږ
کتاب ورکړی دی،

وقف لازم

يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ۘ

هغوی، دی (داسې) پېژني لکه څنګه چې خپل
زامن پېژني، هغه

اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا

کسان چې خپلو ځانونو ته يې تاوان رسولی دی،
نو هغوی

ع 8

يُؤْمِنُوْنَ ﴿٢٠﴾ ۧ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

ايمان نه راوړي -20- او له هغه کس نه (بل)
زيات ظالم څوك دی

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا

چې په الله باندې دروغ تپي (اړوي)، يا د هغه ايتونه دروغ ګڼي، بېشكه حقيقت دا دى چې

يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢١﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ

ظالمان نشي كاميابېدلى -21- او په هغې ورځ كې چې مونږ

جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا

به دوى ټول راجمع كوو، بيا به مونږه هغو كسانو ته چې شرك يې كړى دى؛

اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ

وايو: ستاسو هغه شريكان چېرته دي چې تاسو به (له الله سره شريكان)

تَزْعُمُوْنَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ

ګڼل؟ -22- بيا به نه وي د دوى (بله) بهانه مګر

اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا

دا چې دوی به ووايي: قسم په الله چې زموږ رب دی! موږ

مُشْرِكِيْنَ ﴿٢٣﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى

مشركان نه وو -23- ته وګوره څنګه دوی په خپلو

اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

ځانونو باندې دروغ وويل او له دوی نه هغه څه ورك شول چې دوی به په دروغه

يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ

جوړول -24- او په دوی کې ځينې هغه څوك

اِلَيْكَ ۚ وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً

دي چې تا ته غوږ نيسي او موږ د هغوی په زړونو باندې پردې اچولې

اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَ فِيْۤ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَ اِنْ

دي چې په دې (قرآن) پوه (نه) شي او د دوی په غوږونو کې مو کوڼ والی (اچولی دی) او که

يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ؕ حَتّٰۤى اِذَا

دوی هره نښه ووینې، (بیا هم) دوی په هغې ایمان نه راوړي، تر دې چې

جَآءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ

کله دوی تا ته راشي، چې له تا سره جګړه کوي (، نو) هغه کسان

كَفَرُوْۤا اِنْ هٰذَاۤ اِلَّاۤ اَسَاطِيْرُ

چې کافر شوي دي وايي: نه دی دا (قرآن) مګر د مخکېنو خلقو

الْاَوَّلِيْنَ ۝٢٥ وَ هُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَ

باطلې قصې -25- او دوی له ده نه منع کول کوي او

يَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ اِلَّآ

له ده نه لرې کېږي او دوی يواځې خپل ځانونه

اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ تَرٰٓى

هلاکوي او دوی شعور نه لري -26- او که ته ووينې

اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا

کله چې دوی پر غاړه د اور ودرولی شي، نو دوی به وايي: ای کاشکې!

نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا وَنَكُوْنَ

مونږ بیا (دنیا ته) واپس کړی شو، له دې سره چې د خپل رب د ایتونو (بیا) تکذیب ونه کړو او مونږ

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢٧﴾ بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا

شو له مومنانو څنې -27- بلکې دوی ته هغه څه

كَانُوا يُخْفُونَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَوْ رُدُّوا

ظاهر شول چې دوی مخکې پټول او که چېرې
دوی (دنیا ته) واپس کړی شي (، نو) لازمًا به

لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ

دوی هغه شي ته راوګرځي، له څه نه چې دوی
منع کړی شوي وو، او بېشکه دوی یقینًا

لَكٰذِبُوْنَ ۝٢٨ وَقَالُوْٓا إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا

دروغجن دي -28- او دوی وایي: نه دی دا
(ژوند) مګر همدا زمونږ دنیایي ژوند دی او مونږ

الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ۝٢٩ وَلَوْ

به کله هم بیا راژوندي نه کړی شو -29- او که

تَرٰٓى إِذْ وُقِفُوا عَلٰى رَبِّهِمْ ؕ قَالَ أَلَيْسَ

چېرې ته ووینې کله چې دوی د خپل رب په
وړاندې ودرولی شي

هٰذَا بِالۡحَقِّ ؕ قَالُوۡا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ

(، نو) هغه به وفرمايي: ايا دا (ژوند) رښتيا نه دى؟ دوى به ووايي:

فَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ بِمَا كُنۡتُمۡ

ولې نه! قسم دى زمونږ په رب، هغه به وفرمايي: نو تاسو عذاب وڅکئ د هغه کفر

ع 9

تَكۡفُرُوۡنَ ۝٣٠ قَدۡ خَسِرَ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا

په سبب چې تاسو کاوه -30- يقينًا هغه کسان تاوانيان شوي

بِلِقَآءِ اللّٰهِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتۡهُمُ

دي چا چې د الله ملاقات دروغ ګڼلی دی، تر دې چې کله دوى

السَّاعَةُ بَغۡتَةً قَالُوۡا يٰحَسۡرَتَنَا عَلٰى

ته قيامت ناڅاپه راشي، دوى به وايي: هى افسوس! په هغې

مَا فَرَّطْنَا فِيهَا ۙ وَهُمْ يَحْمِلُونَ

كوتاهي باندې چې مونږ د دې (قيامت) په باره كې كړې ده، او دوی به

أَوْزَارَهُمْ عَلَىٰ ظُهُورِهِمْ ۚ أَلَا سَاءَ مَا

خپل پېټي په خپلو شاګانو پورته كوي، اګاه شئ! بد دی هغه شی چې دوی يې (بوج)

يَزِرُونَ ۝٣١ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا

پورته كوي -31- او دنيايي ژوند نه دی مګر

لَعِبٌ وَلَهْوٌ ۖ وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ

لوبه او تماشه، او يقينًا د اخرت كور د هغو كسانو لپاره ډېر غوره دی چې

لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝٣٢ قَدْ

پرهېزګاره دي، ايا نو تاسو عقل نه لرئ -32- يقينًا

نَعۡلَمُ اِنَّهٗ لَيَحۡزُنُكَ الَّذِىۡ يَقُوۡلُوۡنَ

مونږ پوهېږو چې بېشکه حقيقت دا دى چې تا هغه خبره خامخا غمجن کوي، چې دوی يې وايي، نو

فَاِنَّهُمۡ لَا يُكَذِّبُوۡنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ

يقينًا دوی تا دورغژن نه ګڼي او لېکن ظالمان د

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجۡحَدُوۡنَ ۝٣٣ وَلَقَدۡ

الله له ايتونو نه انکار کوي -33- او يقينًا يقينًا

كُذِّبَتۡ رُسُلٌ مِّنۡ قَبۡلِكَ فَصَبَرُوۡا

له تا نه مخکې رسولان دروغژن بلل شوي وو، نو

عَلٰى مَا كُذِّبُوۡا وَاُوۡذُوۡا حَتّٰٓى اَتٰٮهُمۡ

هغوی په دروغژن بلل کېدلو او ضرر رسېدلو صبر وکړ تر دې

نَصۡرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ وَ

چې هغوی ته زمونږ مدد راغی، او د الله کلماتو لره هیڅوك اړوونكی نشته، او

لَقَدۡ جَآءَكَ مِنۡ نَّبَاِی الۡمُرۡسَلِیۡنَ ﴿۳۴﴾

یقینًا یقینًا تا ته د رسولانو څه خبرونه راغلي دي - -34

وَاِنۡ كَانَ كَبُرَ عَلَیۡكَ اِعۡرَاضُهُمۡ

او كه چېرې په تا باندې د دوی مخ اړول ګران وي،

فَاِنِ اسۡتَطَعۡتَ اَنۡ تَبۡتَغِیَ نَفَقًا فِی

نو كه ته طاقت لرې د دې چې په ځمكه كې سُرنګ ولټوې،

الۡاَرۡضِ اَوۡ سُلَّمًا فِی السَّمَآءِ فَتَاۡتِیَهُمۡ

یا اسمان ته كومه زینه، بیا ته دوی ته څه نښه

بِاٰيَةٍ ؕ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمۡ عَلَى

(معجزه) راوړې، (نو داسې وکړه) او كه الله غوښتلى لازمًا به يې دوى په نېغه لار

الۡهُدٰى فَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡجٰهِلِيۡنَ ۝٣٥

باندې جمع كړي وو، نو ته له ناپوهانو څخه مه كېږه -35-

اِنَّمَا يَسۡتَجِيۡبُ الَّذِيۡنَ يَسۡمَعُوۡنَ ؔؕ وَ

يقينًا همدا خبره ده چې هغه كسان (حق) قبلوي چې اوري، او

الۡمَوۡتٰى يَبۡعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيۡهِ

(كافران مړي دي) مړي به الله راژوندې كوي، بيا به خاص د هغه په طرف

يُرۡجَعُوۡنَ ۝٣٦ وَقَالُوۡا لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ

ورگرځولى شي -36- او دوى وايي: ولې په ده باندې كومه

اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى

معجزه د خپل رب له جانبه نه نازلولی شي؟ ته (دوی ته) ووايه: بېشكه الله په دې قادر دی

اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا

چې معجزه نازله كړي او لېكن د دوی اكثره خلق

يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ

نه پوهېږي -37- او نشته دی هېڅ يو په ځمكه كې خوځنده

وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ اُمَمٌ

او نه هېڅ مارغه چې په خپلو دواړو وزرونو الوزي

اَمْثَالُكُمْ ؕ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ

مگر (دوی) ستاسو په شان امتونه دي، مونږ په كتاب كې

شَيۡءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُوۡنَ ﴿٣٨﴾

هېڅ شی نه دی پرېښی، بيا به دوی د خپل رب په
طرف ورجمع کولی شي -38-

وَالَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكۡمٌ فِى

او هغه کسان چې زمونږ د ايتونو تکذيب يې کړی
دی (دوی) کاڼه او ګونګيان دي،

الظُّلُمٰتِ ؕ مَنۡ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضۡلِلۡهُ ؕ وَمَنۡ

په تيارو کې دي، چا ته چې الله وغواړي هغه
ګمراه کوي او چا

يَّشَاۡ يَجۡعَلۡهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿٣٩﴾

ته چې وغواړي هغه په نېغه لار روانوي -39-

قُلۡ اَرَءَيۡتَكُمۡ اِنۡ اَتٰىكُمۡ عَذَابُ اللّٰهِ

ته (دوی ته) ووايه: ما خبر کړئ که چېرې په
تاسو د الله عذاب راشي،

أَوۡ أَتَتۡكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ

يا په تاسو قيامت راشي، ايا تاسو به له الله نه غير

تَدۡعُونَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٤٠ بَلۡ

(بل خوك) بلئ، كه چېرې تاسو رښتيني يئ -40- بلکې

إِيَّاهُ تَدۡعُونَ فَيَكۡشِفُ مَا تَدۡعُونَ

تاسو به خاص هغه بلئ، نو هغه به كه وغواړي هغه (تكليف) لرې كړي د څه لپاره چې تاسو هغه

إِلَيۡهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوۡنَ مَا

بلئ او تاسو هغه هېروئ چې تاسو يې (له الله) سره

ع 10

تُشۡرِكُونَ ۝٤١ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ

شريكان جوړوئ -41- او يقينًا يقينًا مونږ پېغام لېږلی

مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ

و له تا نه مخکې امتونو ته، بيا مونږ هغوی په سختيو اوتکليفونو سره ونيول،

وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٤٢﴾ فَلَوْ

د دې لپاره چې هغوی عاجزي وکړي -42- نو کله چې

لَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ

دوی ته زمونږ عذاب راغی، دوی ولې عاجزي ونه کړه او ليکن

قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ

د دوی زړونه سخت شوي وو او شيطان دوی ته د دوی هغه عملونه ښايسته

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا

کړي وو چې دوی کول -43- نو کله چې دوی هغه شی هېر کړ

ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ

په څه سره چې دوی ته نصیحت شوی و، بیا نو مونږ په دوی باندې د هر شي دروازې پرانستلې

شَيْءٍ ؕ حَتّٰۤى اِذَا فَرِحُوْا بِمَاۤ اُوْتُوْۤا

تر دې چې دوی لویې وکړه، په سبب د هغه څه چې دوی ته ورکړی شوي وو

اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾

(، نو) مونږه دوی ناڅاپه ونیول، نو ناګهانه دوی ناامېده شول -44-

فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ؕ وَ

نو د هغه قوم بېخ پرې کړی شو چې ظلم یې کړی و او ټولې ستاینې خاص د

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۵﴾ قُلْ

الله لپاره دي، چې د عالَمونو ښه پالونکی دی -45- ته (دوی ته) ووایه:

أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَ

تاسو ما خبر کړئ که چېرې الله ستاسو غوږونه او

أَبْصَارَكُمْ وَ خَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ مَّنْ

ستاسو سترګې واخلي او ستاسو په زړونو باندې مهر ولګوي

إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِهِ ۗ انْظُرْ كَيْفَ

(، نو) له الله نه غیر (بل څوك حق) معبود دی، چې دا تاسو ته (واپس) راوړي؟ ته وګوره، مونږه

نُصَرِّفُ الْآيَاتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴿٤٦﴾

ایتونه څنګه قسما قسم بیانوو، بیا (هم) دوی مخ اړوي -46-

قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ

ته ووایه: تاسو ما خبر کړئ که چېرې پر تاسو باندې د الله عذاب

بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ

ناڅاپه راشي، يا ښېه ښکاره، (، نو) نه به شي هلاکولی مګر

الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ

ظالمان خلق -47- او مونږ رسولان نه لیږو

اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ فَمَنْ اٰمَنَ

مګر زیری ورکوونکي او وېروونکي، نو چا چې ایمان راوړ

وَ اَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

او د ځان اصلاح یې وکړه، نو په دوی باندې به نه څه وېره وي او نه به دوی

يَحْزَنُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

غمجن کېږي -48- او هغه کسان چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې وکړ،

يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوا

دوی ته به د هغې نافرمانۍ په سبب عذاب رسيږي چې

يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾ قُلْ لَّآ أَقُولُ لَكُمْ

دوی کوله -49- ته ووايه: زه تاسو ته نه وايم

عِندِى خَزَآئِنُ اللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ

چې ما سره د الله خزانې دي او نه زه عالم

الْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّى مَلَكٌ ۚ إِنْ

الغيب يم او نه زه تاسو ته دا وايم چې ېېشکه زه مَلَك يم، زه پيروي

أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۚ قُلْ هَلْ

نه کوم مگر د هغه شي چې ما ته وحي کولی شي، ته ووايه: ايا ړوند

يَسْتَوِي الْأَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ؕ اَفَلَا

او بینا سره برابر دي؟ ایا نو ولې تاسو سوچ او

ع
11

تَتَفَكَّرُوْنَ ۟ؑ وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ

فکر نه کوئ -50- او ته په دې (وحي) سره هغه کسان ووېروه

يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ

چې د خپل رب په وړاندې له وړتولول کېدو نه وېرېږي، چې

لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ

د دوی لپاره له هغه نه غیر نه څوك دوست شته او نه څوك سفارشي، لپاره د دې چې دوی

لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ۝ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ

پرهېزګاره شي -51- او ته هغه کسان مه شړه

يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدٰوةِ وَالۡعَشِيِّ

چې خپل رب سبا او بېګاه بلي، چې د هغه (الله)

يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ ؕ مَا عَلَيۡكَ مِنۡ

مخ غواړي، په تا باندې د هغوی د

حِسَابِهِمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ وَّ مَا مِنۡ

حساب نه هېڅ شی نشته او نه پر هغوی

حِسَابِكَ عَلَيۡهِمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ

باندې ستا له حسابه څه شی شته، نو که ته

فَتَطۡرُدَهُمۡ فَتَكُوۡنَ مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۵۲﴾

دوی وشړې، نو شې به ته له ظالمانو څخه -52-

وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ

او همدارنگه مونږ د دوی ځینې په ځینو (نورو) سره ازمایلي دي،

لِّيَقُولُوٓا أَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِم مِّنۢ

د دې لپاره چې دوی ووايي: ايا داخلق دي چې الله په دوی باندې زمونږ

بَيْنِنَا ۗ أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَعْلَمَ

له مينځه احسان کړی دی، ايا الله په شکر گذارو باندې

بِالشّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾ وَإِذَا جَآءَكَ الَّذِينَ

ښه پوه نه دی! -53- او کله چې تا ته هغه کسان

يُؤْمِنُونَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ

راشي چې زمونږ په ايتونو ايمان لري، نو ته ووايه: په تاسو دې سلام وي،

كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ

ستاسو رب په خپل ځان باندې مهرباني كول
ليكلي (لازم كړي) دي،

مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ

چې يقينًا شان دا دى چې په تاسو كې په
ناپوهۍ سره بدي وكړي،

تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَ اَصْلَحَ فَاَنَّهٗ

بيا له هغې نه پس توبه وباسي او اصلاح وكړي،
نو بېشكه هغه ډېر بخښونكى،

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٥٤﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ

بې حده مهربان دى -54- او همدارنګه مونږ

الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ

ايتونه په تفصيل سره بيانوو، او د دې لپاره چې د
مجرمانو لاره

ع
12

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ

ښه واضحه شي -55- ته (دوی ته) ووایه: بېشکه زه منع کړی

اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

شوی یم له دې نه چې زه د هغو (څیزونو) عبادت وکړم چې تاسو یې له

اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ ۙ قَدْ

الله نه غیر بلئ، ته ووایه: زه ستاسو د خواهشاتو پیروي نه کوم، (که ومې کړه، نو) یقینًا زه به په د

ضَلَلْتُ اِذًا وَّ مَآ اَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾

غه وخت کې گمراه شوی یم اونه به یم زه له نېغه لار موندونکو نه -56-

قُلْ اِنِّيْ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَ كَذَّبْتُمْ

ته ووایه: بېشکه زه په هغه ښکاره دلیل باندې یم چې زما د رب له جانبه دی او تاسو د هغه تکذیب

بِهٖ ؕ مَا عِنۡدِیۡ مَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ بِهٖ ؕ

کړی دی، ما سره هغه شی نشته چې تاسو هغه په تلوار سره غواړئ،

اِنِ الۡحُکۡمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ یَقُصُّ الۡحَقَّ

نشته دی حکم مگر خاص د الله لپاره، هغه حق بیانوي او هغه ډېر

وَ هُوَ خَیۡرُ الۡفٰصِلِیۡنَ ﴿۵۷﴾ قُلۡ لَّوۡ اَنَّ

غوره فیصله کوونکی دی -57- ته ووایه: یقینًا که

عِنۡدِیۡ مَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ بِهٖ لَقُضِیَ

ما سره هغه شی وَی چې تاسو هغه په تلوار سره غواړئ (، نو) لازمًا به

الۡاَمۡرُ بَیۡنِیۡ وَ بَیۡنَکُمۡ ؕ وَ اللّٰهُ اَعۡلَمُ

زما او ستاسو په مینځ کې خبره فیصله کړی شوې وه او الله په ظالمانو باندې

بِالظّٰلِمِيْنَ ۝٥٨ وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ

ښه عالم دی -58- او خاص له هغه (الله) سره د غيبو

لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ؕ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ

چابیاني دي، يواځې هغه په دغو عالم دی او هغه عالم دی په هغه څه

وَالْبَحْرِ ؕ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا

چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ يوه پاڼه نه غورځېږي مگر

يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِيْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ وَ

هغه پرې عالم دی او د ځمکې په تیارو کې نه يوه دانه (پرېوځي) او

لَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ

نه لوند شيز او نه وچ مگر (دا ټول) په ښکاره کتاب (لوح محفوظ)

مُّبِيۡنٍ ﴿٥٩﴾ وَهُوَ الَّذِىۡ يَتَوَفّٰكُمۡ

کې دي -59- او هم هغه ذات دی چې

بِالَّيۡلِ وَيَعۡلَمُ مَا جَرَحۡتُمۡ بِالنَّهَارِ

تاسو په شپه کې وفات کوي او هغه پوهېږي په
هغه څه چې تاسو يې د ورځې کوئ،

ثُمَّ يَبۡعَثُكُمۡ فِيۡهِ لِيُقۡضٰٓى اَجَلٌ

بيا به هغه تاسو په هغې (ورځې) کې راژوندي
کوي، د دې لپاره

مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ ثُمَّ

چې ټاکلې وخت پوره کړی شي، بيا به خاص د
هغه په طرف ستاسو واپسي وي، بيا به

ع 13

يُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٦٠﴾

هغه تاسو په هغو عملونو خبر کړي چې تاسو کول
-60-

وَ هُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ وَ يُرْسِلُ

او هم هغه غالب دی، د خپلو بنده گانو له پاسه دی، او پر

عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ

تاسو باندې ساتونكي (ملايك) رالېږي، تر هغه پورې چې كله په

اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَ هُمْ

تاسو كې يو كس ته مرگ راشي (، نو) زمونږ استازي يې وفات كړي او هغوی هېڅ تقصير

لَا يُفَرِّطُوْنَ ۝٦١ ثُمَّ رُدُّوْۤا اِلَى اللّٰهِ

(كمی) نه كوي -61- بيا به دوی ورگرځولی شي الله ته

مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ؕ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۫ وَ

چې د دوی حق مالك دی، اگاه شئ، خاص د هغه لپاره حكم كول دي، او

هُوَ اَسۡرَعُ الۡحٰسِبِيۡنَ ﴿٦٢﴾ قُلۡ مَنۡ

هغه تر ټولو حساب کوونکو ډېر تېز دی -62- ته (دوی ته) ووايه:

يُّنَجِّيۡكُمۡ مِّنۡ ظُلُمٰتِ الۡبَرِّ وَ الۡبَحۡرِ

تاسو ته د وچې او سمندر له تيارو نه څوك

تَدۡعُوۡنَهٗ تَضَرُّعًا وَّ خُفۡيَةً ۚ لَئِنۡ

خلاصی درکوي، چې تاسو هغه بلئ په زارۍ سره او په پټه سره، (او وايئ) که چېرې هغه (الله)

اَنۡجٰنَا مِنۡ هٰذِهٖ لَنَكُوۡنَنَّ مِنَ

مونږ ته د دې (مصيبت) نه خلاصی راکړ (، نو) مونږ به خامخا ارومرو له شکر

الشّٰكِرِيۡنَ ﴿٦٣﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيۡكُمۡ

کوونکو څخه شو -63- ته (ورته) ووايه: الله تاسو ته له دې

مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنْتُمْ

نه نجات درکوي او له هر غم نه (هم)، بیا (هم) تاسو

تُشْرِكُونَ ﴿٦٤﴾ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَنْ

شرك کوئ -64- ته (دوی ته) ووایه: هم هغه قادر دی

يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ أَوْ

په دې خبره باندې چې تاسو باندې ستاسو له پاسه نه عذاب راولېږي،

مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ

یا ستاسو د پښو له لاندې طرف نه، یا تاسو د بېلو، بېلو ډلو په

شِيَعًا وَّيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ ط

جوړولو سره ګډوډ کړي او په ځینو باندې د ځینو

اُنۡظُرۡ كَيۡفَ نُصَرِّفُ الۡاٰيٰتِ لَعَلَّهُمۡ

نورو (د) جنگ (مزه) وځکي، ته وګوره مونږه
ايتونه څنگه قسما قسم بيانوو، د دې لپاره چې

يَفۡقَهُوۡنَ ﴿٦٥﴾ وَكَذَّبَ بِهٖ قَوۡمُكَ وَهُوَ

دوی پوه شي -65- او ستا قوم د دې (قرآن)
تکذيب وکړ، حال دا چې همدا

الۡحَقُّ ؕ قُلۡ لَّسۡتُ عَلَيۡكُمۡ بِوَكِيۡلٍ ؕ ﴿٦٦﴾

حق دی، ته (ورته) ووايه: زه پر تاسو باندې
نگهبان نه يم -66-

لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسۡتَقَرٌّ ۫ وَّسَوۡفَ

د هر يو خبر لپاره مقرر وخت دی او ژر به تاسو

تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٦٧﴾ وَاِذَا رَاَيۡتَ الَّذِيۡنَ

پوه شئ -67- او کله چې ته هغه کسان ووينې

يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ

چې زمونږ په ایتونوکې عبث بحثونه کوي، نو ته له

حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦۚ وَ

هغوی نه مخ واړوه، تر دې چې دوی له دې نه په
علاوه

إِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَلَا تَقۡعُدۡ

خبرو کې مشغول شي، او كه چېرې شیطان له تا

بَعۡدَ ٱلذِّكۡرَىٰ مَعَ ٱلۡقَوۡمِ

نه (دا حكم) هېر كړي، نو له یادېدلو نه پس له
ظالمو خلقو

ٱلظَّٰلِمِينَ ٦٨ وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ

سره مه کېنه -68- او په پرهېزگاره کسانو باندې د
دوی

مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّلٰكِنْ

(عبث بحث كوونكو) له حسابه څخه هيڅ شی نشته او لیکن (د هغوی په ذمه) نصیحت کول دي،

ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَذَرِ

د دې لپاره چې دوی (هم) پرهېزګار شي -69- او ته هغه

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا وَّ

کسان پرېږده چې خپل دین يې لوبه او تماشه ګرځولی و او

غَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ

دوی دنيايي ژوند دوکه کړي (غولولي) وو او ته په دې (قرآن) سره نصیحت کوه،

تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ۖ لَيْسَ لَهَا

چې کوم نفس د خپلو کړو عملونو په سبب هلاك (نه) کړی شي، چې د هغه (نفس)

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلِیٌّ وَّ لَا شَفِیۡعٌ ۚ

لپاره له الله نه پرته نه څوك دوست شته او نه
سفارشي او كه دا (نفس) فديه وركړي،

وَ اِنۡ تَعۡدِلۡ كُلَّ عَدۡلٍ لَّا یُؤۡخَذۡ

هر قسمه فديه (، نو) دا به له هغه نه قبوله نه
كړى شي،

مِنۡهَا ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِیۡنَ اُبۡسِلُوۡا بِمَا

دا هغه كسان دي چې د خپلو كړو عملونو په سبب

كَسَبُوۡا ۚ لَهُمۡ شَرَابٌ مِّنۡ حَمِیۡمٍ وَّ

هلاك كړى شوي دي، د دوى لپاره ډېرې ګرمې
اوبه څښاك دى او ډېر دردوونكى

ع
14

عَذَابٌ اَلِیۡمٌۢ بِمَا كَانُوۡا یَكۡفُرُوۡنَ ﴿۷۰﴾

عذاب دى، په سبب د هغه كفر چې دوى به كاوه
-70-

قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا

ته (ورته) ووايه: ايا مونږه له الله نه سوا د هغه
شي عبادت وکړو

يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى

چې مونږ ته هغه نه فايده رارسولی شي او نه مونږ
ته ضرر رارسولی شي؟

اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِى

او (ايا) مونږه بېرته په خپلو شاګانو وګرځولی
شو، وروسته له دې نه چې الله مونږ

اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ فِى الْاَرْضِ

ته نېغه لار ونښوده، د هغه کس په شان چې هغه
شيطانانو په ځمکه کې

حَيْرَانَ ۖ لَهٗٓ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗٓ اِلَى

ژورې کندې ته ببولی وي، چې حيران وي، د هغه
ملګري وي چې دا

الْهُدَى ائْتِنَا ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ

نېغې لارې ته رابلې، (چې) مونږ ته راشه، ته
ووايه: بېشکه د الله هدايت،

هُوَ الْهُدٰى ۗ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ

هم هغه اصل هدايت دى او مونږ ته حکم کړى
شوى دى چې د رب العلمين اطاعت

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾ وَأَنْ أَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

کوونکي شو -71- او دا چې تاسو لمونځ قايموئ

وَاتَّقُوْهُ ۗ وَهُوَ الَّذِىٓ إِلَيْهِ

او له هغه (الله) نه وېرېږئ او دى همغه ذات دى
چې خاص هغه ته به تاسو

تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ

ورټولولى شئ -72- او دى همغه ذات دى چې

الثلثة

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ وَيَوْمَ

اسمانونه او ځمکه يې په حقه سره پيدا کړي دي
او (ياده کړئ) هغه ورځ چې

يَقُوْلُ كُنْ فَيَكُوْنُ ؕ قَوْلُهُ الْحَقُّ ؕ وَ

هغه (الله) به ووايي: موجود شه! نو هغه به
موجود شي، هم د هغه وينا حقه ده، او

لَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ ؕ عٰلِمُ

خاص د هغه لپاره حکومت دی په هغې ورځ کې
چې په شپيلۍ کې به پوکی وکړی شي،

الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

(هغه) د پټو او ښکاره (شيزونو) عالم دی او هم
هغه ښه حکمت والا، ښه

الْخَبِيْرُ ﴿٧٣﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ

خبردار دی -73- او کله چې ابراهيم خپل پلار

اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّیْۤ اَرٰىكَ

ازر ته وويل: ايا ته بتان معبودان نيسي، بېشكه زه تا

وَ قَوْمَكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۷۴﴾ وَ كَذٰلِكَ

او ستا قوم په ښکاره ګمراهۍ کې وينم -74- او همدارنګه

نُرِیْۤ اِبْرٰهِیْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَ

مونږ ابراهيم ته د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ښودله او

الْاَرْضِ وَ لِیَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِیْنَ ﴿۷۵﴾

د دې لپاره چې هغه له يقين کوونکو څخه شي -75-

فَلَمَّا جَنَّ عَلَیْهِ الَّیْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ

بيا کله چې په هغه باندې شپه تياره شوه (، نو) يو ستورى يې وليده، ويې ويل:

هٰذَا رَبِّىۡ‌ۚ فَلَمَّاۤ اَفَلَ قَالَ لَاۤ اُحِبُّ

دا زما رب دی؟ نو کله چې هغه پټ شو، ویې
ویل: زه پټېدونکي (غایبېدونکي)

الۡاٰفِلِيۡنَ ۝٧٦ فَلَمَّا رَاَ الۡقَمَرَ بَازِغًا قَالَ

نه خوښوم -76- بیا کله چې یې سپوږمۍ ولیده،
ځلېدونکې، ویې ویل:

هٰذَا رَبِّىۡ‌ۚ فَلَمَّاۤ اَفَلَ قَالَ لَٮِٕنۡ لَّمۡ

دا زما رب دی؟ نو کله چې هغه پرېوتله (، نو)
ویې ویل:

يَهۡدِنِىۡ رَبِّىۡ لَاَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡقَوۡمِ

یقینًا که چېرې ما ته زما رب نېغه لار ونه ښیي (،
نو) زه به خامخا له ګمراه خلقو

الضَّآلِّيۡنَ ۝٧٧ فَلَمَّا رَاَ الشَّمۡسَ بَازِغَةً

څخه شم -77- نو کله چې هغه لمرسترګه ولیدله،
ځلېدونکې،

قَالَ هٰذَا رَبِّیْ هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ

ويې ويل: دا زما رب دی؟ دا تر ټولو لوی دی، نو
کله چې هغه پرېوتله،

قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا

ويې ويل: ای زما قومه! بېشکه زه بېزاره یم له هغه
څه نه چې تاسو يې

تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٨﴾ اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ

شريکان جوړوئ -78- بېشکه ما خپل مخ هغه
ذات ته

لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ

اړولی دی چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي
دي،

حَنِيْفًا وَّ مَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٧٩﴾ۚ وَ

يواځې په حق پسې تلونکی یم او نه یم له مشرکانو
څخه -79- او

حَآجَّهٗ قَوۡمُهٗ ؕ قَالَ اَتُحَآجُّوۡٓنِّیۡ فِی اللّٰهِ

له هغه سره خپل قوم جګړه وکړه، ويې ويل: ايا تاسو زما سره د الله

وَ قَدۡ هَدٰىنِ ؕ وَ لَاۤ اَخَافُ مَا

په باره کې جګړه کوئ، حال دا چې هغه ما ته نېغه لار راښودلې ده،

تُشۡرِكُوۡنَ بِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ یَّشَآءَ رَبِّیۡ شَیۡـًٔا ؕ

او زه له هغو شيانو نه نه وېرېږم چې تاسو يې له هغه (الله) سره شريکان جوړوئ، مګر دا چې زما

وَسِعَ رَبِّیۡ كُلَّ شَیۡءٍ عِلۡمًا ؕ اَفَلَا

رب څه شی وغواړي، زما رب د علم په لحاظ سره هر شی راګېر کړی دی، ايا نو ولې

تَتَذَكَّرُوۡنَ ﴿۸۰﴾ وَ كَیۡفَ اَخَافُ مَاۤ

تاسو نصيحت نه منئ -80- او زه له هغو څيزونو نه څنګه ووېرېږم

اَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُوۡنَ اَنَّكُمۡ

چې تاسو (له الله سره) شريكان كړي دي، حال
دا چې تاسو له دې څخه نه ويرېږئ

اَشۡرَكۡتُمۡ بِاللّٰهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهٖ

چې بېشكه تاسو له الله سره هغه شى شريك كړى
دى چې د هغه په باره كې يې

عَلَيۡكُمۡ سُلۡطٰنًا ؕ فَاَىُّ الۡفَرِيۡقَيۡنِ

پر تاسو باندې هېڅ دليل نه دى نازل كړى، نو په
دواړو ډلو كې كومه يوه د امن (له عذاب نه د بچ

وقف لازم

اَحَقُّ بِالۡاَمۡنِ ۚ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۱﴾

كېدو) زياته حقداره ده؟ كه چېرې تاسو پوهېږئ -
-81

اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَلَمۡ يَلۡبِسُوۡۤا اِيۡمَانَهُمۡ

هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او له خپل
ايمان سره يې ظلم نه دى گډ كړى

بِظُلۡمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الۡاَمۡنُ وَهُمۡ

(، نو) دغه کسان دي چې د همدوی لپاره (له عذاب نه) امن (بچاو) دی او دغه کسان هدایت

ع 15

مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿۸۲﴾ وَتِلۡكَ حُجَّتُنَاۤ اٰتَيۡنٰهَاۤ

موندونکي دي -82- او دا زمونږ دلیل دی چې هغه مونږه

اِبۡرٰهِيۡمَ عَلٰى قَوۡمِهٖ ؕ نَرۡفَعُ دَرَجٰتٍ

ابراهیم ته ورکړی و د هغه د قوم په مقابله کې، مونږ درجې اوچتوو

مَّنۡ نَّشَآءُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيۡمٌ عَلِيۡمٌ ﴿۸۳﴾

چا لره چې مونږ وغواړو، بېشکه ستا رب، ښه حکمت والا، ښه پوه دی -83-

وَوَهَبۡنَا لَهٗۤ اِسۡحٰقَ وَيَعۡقُوۡبَ ؕ كُلًّا

او مونږ هغه ته اسحٰق او یعقوب عطا کړ، مونږ

هَدَيْنَا ۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَ

هر يو ته هدايت کړی و، او له ده نه مخکې نوح
ته مونږ هدايت کړی و او

مِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَ

د هغه په اولاد کې داود او سليمان، او ايوب او

يُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ وَكَذٰلِكَ

يوسف او موسٰی او هارون ته (هم) اوهمدارنګه

نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۟ ۸۴ وَزَكَرِيَّا

مونږ نېکي کوونکو ته بدله ورکوو -84- (او
هدايت کړی و مونږ) زکريا،

وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ؕ كُلٌّ مِّنَ

او يحيٰی او عيسٰی او الياس ته، (دوی) هر

الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ الْيَسَعَ وَ

يو له صالحانو څخه دي -85- او اسمٰعيل، او
اَليسَع او

يُوْنُسَ وَ لُوْطًا ؕ وَ كُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى

يونس او لوط ته، او (دوی) هر يو مونږه په ټولو
عالَمونو باندې

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَ مِنْ اٰبَآىِٕهِمْ وَ ذُرِّيّٰتِهِمْ

غوره کړي دي -86- او (فضيلت مو ورکړی و) د
دوی په پلرونو کې ځينو ته

وَ اِخْوَانِهِمْ ۚ وَ اجْتَبَيْنٰهُمْ وَ

او د دوی په اولاد کې او د دوی په ورونړو کې
(ځينو ته) او

هَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٨٧﴾

مونږ هغوی غوره کړي وو او مونږ هغوی ته د
نېغې لارې هدايت کړی و -87-

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهۡدِىۡ بِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ

دغه د الله هدايت دی، په دې سره هدايت کوي په

مِنۡ عِبَادِهٖ ؕ وَلَوۡ اَشۡرَكُوۡا لَحَبِطَ

خپلو بنده گانو کې چا ته چې وغواړي او که چيرې دوی شرك کړی وَی (، نو) خامخا به له

عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ۝٨٨ اُولٰٓئِكَ

دوی نه ضايع شوي وو هغه عملونه چې دوی کول -88- دا هغه

الَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ وَالۡحُكۡمَ وَ

کسان دي چې دوی ته مونږ کتاب او حکم او

النُّبُوَّةَ ۚ فَاِنۡ يَّكۡفُرۡ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدۡ وَ

نبوت ورکړی و، نو که دا خلق په دې سره کفر وکړي، نو يقينًا مونږ

كَلَّنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾

د دې لپاره داسې خلق مقرر كړي دي چې په دې سره كفر كوونكي نه دي -89-

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ

دا هغه كسان دي چې الله ورته هدايت كړى دى، نو ته د دوى د

اقْتَدِهْ ؕ قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ

طريقې اتباع كوه، ته ووايه: زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې مزدوري نه غواړم، نه دى

ع 16

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَمَا

دا مګر د ټولو عالَمونو لپاره نصيحت -90- او دوى

قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ

د الله قدر ونه كړ، څنګه چې د هغه د قدر كولو حق دى! كله چې دوى وويل:

د سورتونو فهرست د سپارو فهرست

أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَيْءٍ ؕ قُلْ

الله په انسان باندې هېڅ شی نه دی نازل کړی، ته (ورته) ووايه:

مَنْ أَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ

هغه کتاب چا نازل کړی دی چې موسٰی راوړی و،

مُوْسٰى نُوْرًا وَّ هُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ

چې رڼا او هدايت دی د خلقو لپاره؟ چې تاسو يې پاڼه پاڼه کوئ

قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ

، چې هغه (ځينې) ښکاره کوئ او ډېرې پټوئ،

كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا أَنْتُمْ

او تاسو ته هغه علم درکړی شو چې نه پرې تاسو پوهېدلئ او نه ستاسو

وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ

پلاران، ته ووايه: الله (نازل كړى دى) بيا ته دوى په خپلو باطلو بحثونو كې

فِيْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٩١﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ

پرېږده چې لوبې كوي -91- او دا كتاب دى، چې

اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِىْ بَيْنَ

مونږ نازل كړى دى، بركتي دى او د هغو (كتابونو) تصديق كوونكى

يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ

دى چې له ده نه مخكې دي او د دې لپاره چې ته د مكې خلق

حَوْلَهَا ؕ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

او د هغې گېرچاپېره خلق ووېروې او هغه كسان چې په اخرت ايمان لري،

يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ

دوى په ده ايمان راوړي، په داسې حال کې چې
هم دوى د خپلو لمونځونو

يُحَافِظُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

ساتنه کوي -92- او له هغه کس نه لوى ظالم څوك

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِيَ

دى چې په الله باندې دروغ تپي، يا وايي چې ما
ته وحي کړى

اِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ

شوې ده! حال دا چې هغه ته هېڅ شى نه وي
وحي کړى شوى او له هغه چا نه

سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ

(بل لوى ظالم څوك دى) چې وايي: ژر دى زه به
(هم) نازل کړم د هغه په مثل چې الله نازل کړى

تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَ

دی! او كه چېرې ته ووينې كله چې ظالمان د
مرگ په سختيو كې (گېر) وي او

الْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا

ملايكو خپل لاسونه وراوږده كړي وي (او ورته
وايي)

اَنْفُسَكُمْ ؕ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ

تاسو خپلې ساه گانې راوباسئ، نن ورځ به تاسو
ته د سپكوونكي عذاب سزا

الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

دركولی شي، په سبب د هغې ناحقه وينا چې تاسو
به په الله باندې تپله،

غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ

او وئ تاسو چې د ده له ايتونو څخه مو

تَسۡتَكۡبِرُوۡنَ ﴿٩٣﴾ وَلَقَدۡ جِئۡتُمُوۡنَا

تكبر كاوه -93- او يقينًا يقينًا تاسو مونږ

فُرَادٰى كَمَا خَلَقۡنٰكُمۡ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّ

ته يواځې يواځې (ځانله، ځانله) راغلئ، لکه
څنګه چې مونږ تاسو اول ځلې پيدا کړي وئ، او

تَرَكۡتُمۡ مَّا خَوَّلۡنٰكُمۡ وَرَآءَ

تاسو هغه څه د خپلو شاګانو شا ته پرېښودل

ظُهُوۡرِكُمۡ ۚ وَمَا نَرٰى مَعَكُمۡ

چې مونږ تاسو ته درکړي وو۔ او مونږ له تاسو
سره ستاسو

شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيۡنَ زَعَمۡتُمۡ اَنَّهُمۡ

هغه سفارشيان نه وينو چې تاسو به دعوٰى کوله
چې بېشکه دوى په

فِيكُمْ شُرَكَٰٓؤُا ۚ لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَ

تاسو کې شريکان دي، يقينًا يقينًا ستاسو خپل
مينځي تعلق پرې شو او له تاسو

ع
17

ضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾

څخه هغه څه ورك شول چې تاسو به (سفارشيان)
ګڼل -94-

إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ۖ

بېشکه الله د دانې او زړي چوونکی دی،

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ

ژوندی له مړي څخه راوباسي او له

الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ فَأَنَّىٰ

ژوندي څخه د مړي راوېستونکی دی، هم دغه
الله دی، نو کوم طرف ته تاسو

تُؤْفَكُوْنَ ﴿٩٥﴾ فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ۚ وَ جَعَلَ

گرځولی شئ -95- د سبا (د رڼا) چوونکی دی او

الَّيْلَ سَكَنًا وَّ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ

شپه يې د ارام ذريعه گرځولې ده او لمرسترگه او سپوږمۍ يې

حُسْبَانًا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ

د حساب ذريعې گرځولې دي، دا د ښه غالب، ښه پوه ذات اندازه

الْعَلِيْمِ ﴿٩٦﴾ وَ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ

کول دي -96- او دی همغه ذات دی چې ستاسو

النُّجُوْمَ لِتَهْتَدُوْا بِهَا فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ

لپاره يې ستوري پيدا کړي دي، د دې لپاره چې تاسو د هغو په ذريعې سره د وچې

وَالْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

او سمندر په تیارو کې لار ومومئ، یقینًا مونږ ایتونه ښه واضحه بیان کړي دي د هغه قوم لپاره

يَّعْلَمُوْنَ ﴿٩٧﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ

چې پوهېږي -97- او دی همغه ذات دی چې

نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ ۗ

تاسو یې له یو نفس څخه پیدا کړئ، نو (تاسو لپاره) یو قرارځای او یو امانت ځای دی، یقینًا

قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿٩٨﴾

مونږ ایتونه ښه واضحه بیان کړي دي د هغه قوم لپاره چې ښه پوهېږي -98-

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ

او دی همغه ذات دی چې له اسمان نه یې اوبه نازلې کړې دي،

فَأَخْرَجْنَا بِهٖ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ

بيا مونږ په هغو سره د هر شي زرغونه راوښکلې ده،

فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ

بيا مونږ له هغې (زرغونې) څخه شينکی راوښکلی دی،

حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ

چې له دې (شينکي) نه مونږ پر يو بل سَورې دانې راوباسو او له کجورې څخه

طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَّجَنّٰتٍ مِّنْ

د هغې له کځوړو نه نژدې وږي، او د

أَعْنَابٍ وَّالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ

انګورو باغونه او زيتون او انار چې

مُشْتَبِهًا وَّ غَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ اُنْظُرُوْٓا اِلٰى

له يو بل سره (څه) مشابه وي او (څه) مشابه نه وي، تاسو د هغې

ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكُمْ

مېوې ته وګورئ کله چې مېوه ونيسي او د هغې پخوالي ته، بېشکه په دې کې خامخا د هغه قوم

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٩٩﴾ وَ جَعَلُوْا لِلّٰهِ

لپاره نښې دي چې ايمان لري -99- او دوی له الله سره

شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَ خَلَقَهُمْ وَ خَرَقُوْا لَهٗ

پېريان شريکان جوړ کړي دي، حال دا چې هغه (الله) دوی پيدا کړي دي، او دوی بې له پوهې، د

بَنِيْنَ وَ بَنٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَ

هغه (الله) لپاره زامن او لوڼه له ځانه راپيداکړې، هغه لره پاکي ده

ع
18

تَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿١٠٠﴾ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ

او هغه (الله) له هغو خبرو نه ډېر اوچت دی چې دوی يې بيانوي -100- د اسمانونو

وَ الْاَرْضِ ؕ اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ وَّ لَمْ

او ځمکې بې له نمونې پيدا کوونکی دی، د هغه لپاره به اولاد څرنګه وي،

تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ؕ وَ خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ

حال دا چې د هغه لپاره هېڅ ښځه نشته، او هغه، هر شی پيدا کړی دی او هغه په

وَ هُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٠١﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

هر شي باندې ښه عالم دی -101- همدا الله ستاسو

رَبُّكُمْ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ خَالِقُ كُلِّ

رب دی، نشته دی هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی، د هر شي پيدا کوونکی دی،

شَيۡءٍ فَاعۡبُدُوۡهُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ

نو تاسو د هغه عبادت کوئ او هغه په هر شي
باندې

وَّكِيۡلٌ ﴿۱۰۲﴾ لَا تُدۡرِكُهُ الۡاَبۡصَارُ ۫ وَهُوَ

نگران دی -102- سترگي د هغه ادراك نشي کولی
او هغه

يُدۡرِكُ الۡاَبۡصَارَ ۚ وَهُوَ اللَّطِيۡفُ

د سترگو ادراك کولی شي او هغه ډېر باریکبین،
بنه

الۡخَبِيۡرُ ﴿۱۰۳﴾ قَدۡ جَآءَكُمۡ بَصَآئِرُ مِنۡ

خبردار دی -103- يقينًا تاسو ته د خپل رب له
جانبه څرگند دليلونه راغلي دي،

رَّبِّكُمۡ ۚ فَمَنۡ اَبۡصَرَ فَلِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ

نو چا چې بصيرت حاصل کړ، نو د خپل ځان لپاره
يې حاصل کړ او څوك

عَمِيَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَآ أَنَا عَلَيْكُم

چې ړوند شو، نو ضرر يې په همدې نفس باندې دي او زه پر تاسو باندې

بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾ وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ وَ

نگهبان نه يم -104- او همدارنگه مونږ ايتونه بيانوو او د دې لپاره چې دوی

لِيَقُولُوا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُ لِقَوْمٍ

ووايي: تا لوستل زده کړي دي او د دې لپاره چې مونږه دا ښه بيان کړو د هغه قوم لپاره

يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾ اتَّبِعْ مَآ أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن

چې پوهيږي -105- ته پيروي کوه د هغه شي چې تا ته

رَّبِّكَ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَأَعْرِضْ عَنِ

د خپل رب له جانبه وحي کولی شي، نشته حق معبود مگر هم هغه دی او

الْمُشْرِكِيْنَ ۝١٠٦ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ

ته له مشركانو څخه مخ واړوه -106- او كه
چېرې الله غوښتلى

اَشْرَكُوْا ؕ وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ

(، نو) دوى به شرك نه و كړى او ته مونږ په دوى

حَفِيْظًا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ۝١٠٧

باندې ساتونكى نه يې ګرځولى او نه يې ته په
دوى باندې نګران -107-

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

او تاسو هغو ته كنځلې مه كوئ چې دوى يې له

اللّٰهِ فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًاۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ

الله نه غير بلي، نو دوى به په ناحقه سره، بې له
پوهې، الله ته كنځل وكړي،

كَذٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ۖ ثُمَّ

همدارنگه مونږ د هر امت لپاره د هغوی عمل ښایسته کړی دی، بیا خاص د

اِلٰى رَبِّهِمْ مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا

خپل رب په طرف د دوی واپسي ده، نو هغه به دوی ته د هغو عملونو خبر ورکړي

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٠٨﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ

چې دوی به کول -108- او دوی قسمونه وخوړل په الله

جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ

باندې خپل پاخه قسمونه چې که چېرې دوی ته معجزه راشي،

لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ

نو خامخا لازمًا به په هغې ایمان راوړي، ته (ورته) ووایه: بېشکه همدا خبره ده چې معجزې له الله

اللّٰهِ وَ مَا يُشۡعِرُكُمۡ ۙ اَنَّهَاۤ اِذَا جَآءَتۡ

سره دي او تاسو په دې څه شي پوه کړئ چې
بېشکه دا (معجزه) چې کله راشي (بيا به هم) دوی

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۰۹﴾ وَ نُقَلِّبُ اَفۡـِٕدَتَهُمۡ وَ

ايمان نه راوړي -109- او مونږ د دوی زړونه او

اَبۡصَارَهُمۡ كَمَا لَمۡ يُؤۡمِنُوۡا بِهٖۤ اَوَّلَ

د دوی سترګې اړوو، لکه څنګه چې دوی په اول

مَرَّةٍ وَّ نَذَرُهُمۡ فِىۡ طُغۡيَانِهِمۡ

وارې په دې (نورو معجزاتو) باندې ايمان رانه وړ
او مونږ دوی په خپله سرکشۍ کې پرېږدو،

ع 19

يَعۡمَهُوۡنَ ﴿۱۱۰﴾

چې سرګردانه دي -110-

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَ

او كه يقينًا مونږ دوى ته ملايك نازل كړي وى او

كَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى وَ حَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ

له دوى سره مړيو خبرې كړې وى او مونږ هر

شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْٓا اِلَّآ اَنْ

شى دوى ته مخامخ راجمع كړى وى، (بيا هم)
دوى (داسې) نه وو چې ايمان يې راوړى وى مگر

يَّشَآءَ اللّٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

دا چې كه الله وغواړي، او لېكن د دوى زياتره
خلق

يَجْهَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ

جهالت كوي -111- او همدارنگه مونږ د هر نبي

عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَ الْجِنِّ يُوْحِيْ

لپاره انساني او جني شيطانان دښمنان ګرځولي وو، چې د دوی

بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ

ځينو به ځينو نورو ته ښايسته کړی شوې خبرې د دوکه کولو (غولولو) لپاره ور اچولې او که چېرې

غُرُوْرًا ۭ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ

ستا رب، غوښتلی (، نو) دوی به دا (کار) نه و کړی، نو ته دوی پرېږده او هغه هم چې دوی له

فَذَرْهُمْ وَ مَا يَفْتَرُوْنَ ﴿١١٢﴾ وَلِتَصْغٰٓى

خپله ځانه څه دروغ جوړوي -112- او د دې لپاره

اِلَيْهِ اَفْـِٕدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

چې دې (دروغو) ته د هغو خلقو زړونه مایل شي چې په اخرت ایمان نه راوړي

بِالْاٰخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوْا مَا

او د دې لپاره چې دوی دا خوښ کړي او د دې لپاره چې دوی هغه (گناهونه) وکړي چې دوی

هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ ۝١١٣ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْتَغِيْ

يې کوونکي دي -113- ايا نو زه له الله نه سِوا

حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ اِلَيْكُمُ

حَکم (عادل قاضي) ولټوم، حال دا چې هم هغه دی چې تاسو ته يې

الْكِتٰبَ مُفَصَّلًا ؕ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ

کتاب نازل کړی دی، چې ښه تفصيل يې شوی دی او هغه کسان چې مونږ هغوی ته (مخکې)

الْكِتٰبَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ

کتاب ورکړی دی؛ هغوی پوهېږي چې بېشکه دا ستا د رب له

بِالْحَقِّ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿١١٤﴾

جانبه په حقه سره نازل کړى شوى دى، نو ته هيڅ کله هم له شك کوونکوڅخه مه کېږه -114-

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّ عَدْلًا ؕ لَا

او د رښتينولۍ او عدل له لحاظه ستا د رب خبره کمال ته رسېدلې ده، د

مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ

هغهٔ کلماتو لره هيڅوك بدلوونكى نشته، او هم هغه ښه اورېدونكى،

الْعَلِيْمُ ﴿١١٥﴾ وَاِنْ تُطِعْ اَكْثَرَ مَنْ فِي

ښه عالم دى -115- او كه چېرې ته اطاعت وكړې د هغو كسانو د اكثريت

الْاَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

چې په ځمكه كې دي (، نو) دوى به تا د الله له لارې نه واړوي،

اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا

دوی یواځې د ګمان پیروي کوي او دوی یواځې

يَخْرُصُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ مَنْ

اټکل چلوي -116- بېشکه ستا رب په هغه چا ښه

يَّضِلُّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ

پوه دی چې د هغه د لارې نه ګمراه کېږي او هغه
په هدایت موندونکو (هم)

بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۱۷﴾ فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ

ښه پوه دی -117- نو تاسو له هغې (مذبوحې)
څخه خورئ چې په

اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ

هغې د الله نوم یاد کړی شوی وي، که چېرې
تاسو یئ چې د هغه په ایتونو

مُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا

ايمان لرونكي يئ -118- او په تاسو څه دي چې
له هغې (مذبوحې)

ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ

څخه به خوراك نه كوئ چې په هغې د الله نوم
ياد كړى شوى وي او يقينًا هغه (الله) تاسو ته هغه

لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا مَا

څه واضح كړي دي چې پر تاسو يې حرام كړي
دي، سِوا له هغه نه

اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا

چې تاسو هغه ته مجبور كړى شئ، او بېشكه ډېر
خلق، خامخا د

لَّيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ

خپلو خواهشاتو په ذريعې سره، بې له پوهې نه
(خلقو لره) ګمراه كوي،

رَبَّكَ هُوَ اَعۡلَمُ بِالۡمُعۡتَدِيۡنَ ﴿۱۱۹﴾ وَ ذَرُوۡا

بېشکه ستا رب، هغه په زياتي کوونکو ښه پوه دی
-119- او تاسو

ظَاهِرَ الۡاِثۡمِ وَ بَاطِنَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ

ښکاره ګناه او پټه ګناه پرېږدئ، بېشکه هغه کسان

يَكۡسِبُوۡنَ الۡاِثۡمَ سَيُجۡزَوۡنَ بِمَا كَانُوۡا

چې ګناه کوي، ژر ده چې دوی ته به سزا ورکړی
شي د هغو (ګناهونو) په سبب

يَقۡتَرِفُوۡنَ ﴿۱۲۰﴾ وَ لَا تَاۡكُلُوۡا مِمَّا لَمۡ

چې دوی کولې -120- او تاسو له هغې (مذبوحې)
څخه خوراك مه کوئ

يُذۡكَرِ اسۡمُ اللّٰهِ عَلَيۡهِ وَ اِنَّهٗ لَفِسۡقٌ ؕ

چې په هغې باندې د الله نوم نه وي ياد کړی
شوی او بېشکه دا (خوراك کول) خامخا فسق

وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ اِلٰٓى

(نافرماني) دی او بېشکه شیطانان یقینًا خپلو

اَوْلِيٰٓـِٕهِمْ لِيُجَادِلُوْكُمْ ۚ وَاِنْ

دوستانو ته وسوسې اچوي، د دې لپاره چې له
تاسو سره جګړه وکړي او که چېرې تاسو د هغوی

ع
1

اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ ۟﴿۱۲۱﴾ اَوَ

اطاعت وکړئ، (بیا نو) بېشکه تاسو (هم) خامخا
مشرکان یئ -121- ایا

مَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ

هغه څوك چې مړ و، بیا مونږ هغه راژوندی کړ او
مونږ د هغه لپاره

نُوْرًا يَّمْشِيْ بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ

رڼا پیدا کړه چې په هغې سره هغه په خلقو کې
ګرځي راګرځي؛ د هغه کس په شان دی چې د

فِى الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ

هغه حال (داسې وي چې هغه) په تیارو کې دی، له هغو نه کله هم وتونکی نه دی،

كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا

همدارنګه د کافرانو لپاره هغه عملونه ښایسته کړی شوي دي چې

يَعْمَلُوْنَ ۝١٢٢ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِىْ كُلِّ

دوی کول -122- او همدارنګه مونږ په هر کلي کې

قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا لِيَمْكُرُوْا

د هغه (کلي) مجرمان مشران ګرځولي دي، د دې لپاره چې دوی

فِيْهَا ؕ وَمَا يَمْكُرُوْنَ اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ وَ

په هغه (کلي) کې مکر (فریب) وکړي او دوی یوائې له خپلو ځانونو سره مکر کوي، په دې حال

مَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَ اِذَا جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ

کې چې دوی شعور نه لري -123- او کله چې
دوی ته کومه نښه راشي،

قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ

دوی وايي: هيڅکله به مونږ ايمان رانه وړو تر هغه
پورې چې مونږ ته راکړی شي په شان د هغو

اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ ؔ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ

(نښو) چې د الله رسولانو ته ورکړی شوي دي۔،
الله ښه عالم دی په هغه ځای

يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ

چې (هلته) خپل رسالت ږدي، ژر به هغو کسانو
ته

اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَ عَذَابٌ

چې جرم يې کړی دی د الله په نيز ذلت ورسوايي
او ډېر سخت عذاب،

وقف لازم

شَدِيْدٌۢ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٤﴾ فَمَنْ

په سبب د هغه مكر چې دوى كاوه -124- نو هغه

يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ

څوك چې الله هغه ته د هدايت كولو اراده وكړي،
د هغه سينه

لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ

د اسلام لپاره فراخه كړي او هغه څوك چې هغه يې
د گمراه كولو اراده وكړي (، نو)

يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا

د هغه سينه تنگه كړي، ډېرخي تنگه، گويا كې هغه

يَصَّعَّدُ فِى السَّمَآءِ ؕ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ

پورته اسمان ته په سختۍ سره خېژي، همدارنگه

اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا

الله پليتي (عذاب) اچوي په هغو کسانو باندې
چې ايمان نه

يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢٥﴾ وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ

راوړي -125- او دا ستا د رب لار ده،

مُسْتَقِيْمًا ؕ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

چې نېغه ده، يقينًا مونږ ايتونه واضحه بيان کړي
دي، د هغه قوم لپاره چې

يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ

نصيحت اخلي -126- د دوی لپاره د خپل رب په
نيز د سلامتۍ کور دی

رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا

او هغه د دوی مددگار دی، په سبب د هغو
عملونو

يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٧﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ

چې دوی کول -127- او په هغې ورځ کې

جَمِيْعًا ۚ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ

چې هغه به دوی ټول راجمع کړي (او ورته وبه وايي:) ای د پېريانو ډلې!

اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْاِنْسِ ۚ وَقَالَ

يقينًا تاسو له انسانانو څخه ډېر راخپل (او بې لارې) کړل او د

اَوْلِيٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ

دوی هغه دوستان به، چې له انسانانو څخه دي؛ ووايي: ای زمونږه ربه!

بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّ بَلَغْنَآ اَجَلَنَا الَّذِيْٓ

زمونږه ځينو له ځينو نورو نه فايده واخيسته او مونږ هغې نېټې ته ورسېدو کومه

اَجَّلْتَ لَنَا ؕ قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ

چې تا زمونږ لپاره مقرر کړې وه، وبه وايي (دوى ته الله) ستاسو ځاى اور دى،

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ

چې په هغه کې به همېشه يئ مګر هغه چې الله وغواړي، بېشکه ستا رب ښه

رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ وَكَذٰلِكَ

حکمت والا، ښه پوه دى -128- او همدارنګه

نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًاۢ بِمَا كَانُوْا

مونږ ځينې ظالمان په ځينو نورو مسلط کوو، په سبب د هغو عملونو چې

يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ

ع 2

دوى به کول -129- اى د پيريانو او انسانانو ډلې!

اَلَمۡ يَاۡتِكُمۡ رُسُلٌ مِّنۡكُمۡ يَقُصُّوۡنَ

ايا تاسو ته له هم تاسو نه رسولان نه وو راغلي

عَلَيۡكُمۡ اٰيٰتِىۡ وَيُنۡذِرُوۡنَكُمۡ لِقَآءَ

چې تاسو ته به يې زما ايتونه بيانول او تاسو به يې
د خپلې

يَوۡمِكُمۡ هٰذَا ؕ قَالُوۡا شَهِدۡنَا عَلٰٓى

دې ورځې له ملاقات نه وېرولئ؟ دوى به ووايي:
مونږ د

اَنۡفُسِنَا وَغَرَّتۡهُمُ الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا وَ

خپلو ځانونو په خلاف ګواهي کوو او دوى دنيايي
ژوند دوکه

شَهِدُوۡا عَلٰٓى اَنۡفُسِهِمۡ اَنَّهُمۡ كَانُوۡا

کړي وو او دوى به د خپلو ځانونو په خلاف
ګواهي ورکړي دا چې

كٰفِرِيْنَ ۝١٣٠ ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ

بېشکه دوی کافران وو -130- دا (د رسولانو لېږل) د دې لپاره

مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّ اَهْلُهَا

(دي) چې ستا رب د ظلم په وجه د کليو هلاکوونکی نه دی، په دې حال کې چې د هغو

غٰفِلُوْنَ ۝١٣١ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ؕ

اوسېدونکي ناخبره وي -131- او د هر چا لپاره درجې دي له هغو اعمالو نه

وَ مَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ۝١٣٢ وَ

چې دوی کړي دي، او ستا رب له هغو عملونو نه چې دوی يې کوي؛ کله هم غافل نه دی -132- او

رَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ؕ اِنْ يَّشَاْ

هم ستا رب ښه بې پروا، (او) رحمت والا دی، که چېرې هغه وغواړي

يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنْۢ بَعْدِكُمْ

(، نو) تاسو به بوځي او له تاسو وروسته به هغه
(خلق)

مَّا يَشَآءُ كَمَآ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ

ځای نیوونکي کړي چې يې وغواړي، لکه څنګه
چې يې تاسو د بل قوم له

اٰخَرِيْنَ ﴿١٣٣﴾ اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ ۙ وَّمَآ

اولادې نه پيدا کړئ -133- بېشکه هغه چې له
تاسو سره يې وعده کولی شي،

اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يٰقَوْمِ

خامخا راتلونکی دی او تاسو کله هم (الله لره)
عاجزه کوونکي نه يئ -134- ته ووايه:

اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ

ای زما قومه! تاسو په خپل حالت باندې عمل
کوئ، بېشکه زه (هم) عمل کوونکی يم،

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ

پس تاسو به ژر پوه شئ چې څوك دى چې د هغه لپاره به

عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ

د اخرت (ښه) انجام وي، بېشكه حقيقت دا دى چې ظالمان

الظّٰلِمُوْنَ ۝١٣٥ وَ جَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ

برى نه مومي -135- او دوى د الله لپاره په هغو څيزونو كې برخه

الْحَرْثِ وَ الْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا

مقرر كړه چې هغه پيدا كړي دي، چې فصل او څاروي دي، نو وايي:

هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَ هٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ

دا د الله لپاره دي، د دوى په عقيده، او دا زمونږ د شريكانو لپاره دي،

فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى

نو هغه چې د دوی د شریکانو لپاره وي، نو هغه

اللّٰهِ ج وَ مَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى

الله ته نه رسېږي او هغه چې د الله لپاره وي، نو
هغه د دوی

شُرَكَآئِهِمْ ط سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿١٣٦﴾ وَ

شریکانو ته رسېږي، بده ده هغه فیصله چې دوی
یې کوي -136- او

كَذٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيْرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ

همدارنګه د ډېرو مشرکانو لپاره د هغوی شریکانو
د

قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوْهُمْ

خپل اولاد وژل ښایسته کړي دي، د دې لپاره چې
هغوی دوی هلاك کړي

وَلِيَلْبِسُوْا عَلَيْهِمْ دِيْنَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ

او د دې لپاره چې په دوی باندې خپل دين گډوډ کړي او که چېرې

اللّٰهُ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا

الله غوښتلی (، نو) دوی به دا (کار) نه و کړی، نو ته پرېږده دوی او هغه چې دوی

يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَقَالُوْا هٰذِهٖۤ اَنْعَامٌ وَّ

دروغ جوړوي -137- او دوی وايي چې دا څينې څاروي او

حَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَاۤ اِلَّا مَنْ

فصلونه دي چې ممنوع دي، دا به نه خوري مگر هغه

نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ

څوك چې مونږ يې وغواړو، د دوی په عقيده، او څه څاروي دي چې

ظُهُوْرُهَا وَ اَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ

د هغو شاګاني منع کړی شوي دي (سوربدل او بار وړل پرې بند دی)، او څه څاروي دي چې

اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ؕ

دوی په هغو باندې د الله نوم نه يادوي، په هغه (الله) باندې د دروغو تپلو لپاره، ضرور به هغه

سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝١٣٨ وَ

(الله) دوی ته سزا ورکړي، په سبب د هغو دروغو چې دوی به جوړول -138- او

قَالُوْا مَا فِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ

دوی وايي: هغه چې د دې څارويو په ګېډو کې دي

خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَ مُحَرَّمٌ عَلٰٓى

(هغه) زمونږ د نرانو لپاره خالص دي او زمونږ په ښځو باندې حرام کړی شوي دي

اَزْوَاجِنَا ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ

او که چيرې هغه مردار وي، نو دوی (نر او ښځه) په هغه کې

شُرَكَآءُ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ وَصْفَهُمْ ؕ اِنَّهٗ

شريکان دي، ژر به هغه (الله) دوی ته د خپل (دې) بيان سزا ورکړي، بېشکه هغه ښه حکمت

حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۳۹﴾ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ

والا، ښه عالم دی -139- يقيناً هغه کسان تاوانيان شول

قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ سَفَهًاۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّ

چې خپل اولادونه يې قتل کړل، چې (دوی) بېوقوفان وو (او)

حَرَّمُوْا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَآءً عَلَى

بې پوهې وو او حرام يې کړل هغه څه چې الله دوی ته ورکړي وو،

ع
3

الربع

اللّٰهِ ؕ قَدْ ضَلُّوْا وَ مَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ۝١٤٠ ؏

په الله باندې د دروغو تپلو لپاره، يقيناً دوى ګمراه شول او دوى هدايت موندونكي نه وو -140-

وَ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّ

او دا (الله) هغه ذات دى چې باغونه يې پيدا كړي دي، چې په څپرونو خېژول شوي دي او

غَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ وَّ النَّخْلَ وَ الزَّرْعَ

چې په څپرونو نه دي خېژول شوي او د كجورو ونې او فصل (يې پيدا كړي دي) چې د هغو مېوې

مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ وَ الزَّيْتُوْنَ وَ الرُّمَّانَ

مختلفې وي او زيتون او انار (يې پيدا كړي دي)

مُتَشَابِهًا وَّ غَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ كُلُوْا مِنْ

چې په خپلو كې يو شان وي او غير متشابه (هم) وي.، تاسو د هغو له مېوو څخه خورئ!

ثَمَرِهٖۤ اِذَاۤ اَثْمَرَ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ

كله چې مېوه وكړي او د هغه حق (عشر، زكات) د رېبلو په ورځ وركړئ،

حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

او تاسو اسراف مه كوئ، بېشكه هغه (الله) اسراف كوونكي

الْمُسْرِفِيْنَ ۟ۙ﴿۱۴۱﴾ وَمِنَ الْاَنْعَامِ حَمُوْلَةً

نه خوښوي -141- او (پيدا كړي يې دي) په ځارويو كې بار وړونكي

وَّفَرْشًا ؕ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ وَلَا

او وړوكي (، نو) تاسو له هغو ځنې خورئ چې الله تاسو ته

تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ

دركړي دي او تاسو د شيطان د قدمونو پيروي مه كوئ، بېشكه هغه

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٤٢﴾ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۚ مِنَ

تاسو لپاره ښكاره دښمن دى -142- (الله پيدا كړي دي حلال) اته جوړې

الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَ مِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ؕ

(قسمونه)، له ګډو نه دوه (نر او ښځه) او له چېلو (بزو) نه دوه (نر او ښځه)، ته (دوى ته)

قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ

ووايه: ايا هغه (الله) دواړه نران حرام كړي دي، يا دواړه ښځې،

اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ

يا هغه (بچي) چې د دواړو ښځو (ګډې او چېلۍ) رحمونه په

الْاُنْثَيَيْنِ ؕ نَبِّـُٔوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ

هغو مشتمل وي، تاسو ما ته په علم سره خبر راكړئ، كه چيرې تاسو

صٰدِقِيۡنَ ۝١٤٣ۙ وَمِنَ الۡاِبِلِ اثۡنَيۡنِ وَ

رښتيني يئ -143- او (پيدا کړي يې دي) له اوښانو نه دوه (نر او ښځه)

مِنَ الۡبَقَرِ اثۡنَيۡنِ ؕ قُلۡ ءٰٓالذَّكَرَيۡنِ

او له غوايانو نه دوه (نر او ښځه) ته ووايه: ايا هغه (الله) دواړه نران

حَرَّمَ اَمِ الۡاُنۡثَيَيۡنِ اَمَّا اشۡتَمَلَتۡ

حرام کړي دي، يا دواړه ښځې، يا هغه (بچي) چې د دواړو ښځو (اوښې او غوا)

عَلَيۡهِ اَرۡحَامُ الۡاُنۡثَيَيۡنِ ؕ اَمۡ كُنۡتُمۡ

رحمونه په هغو مشتمل وي، ايا تاسو حاضر وَئ

شُهَدَآءَ اِذۡ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ۚ فَمَنۡ

کله چې الله تاسو ته د دې وصيت کاوه، نو له هغه چا نه لوی ظالم (بل)

اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

څوك دى چې په الله باندې دروغ تپي، د دې

لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا

لپاره چې بې له علمه خلق گمراه کړي، بېشکه الله

ع 4

يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۟ قُلْ لَّآ

ظالم قوم ته نېغه لار نه ښيي -144- (اى نبي!) ته ووايه:

اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى

زه نه مومم (هېڅ څيز) په هغه (شريعت) کې چې ما ته وحي کړى شوى دى په کوم خوړونکي

طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ

باندې حرام کړى شوى، چې هغه يې خوري سِوا له هغه نه چې مرداره وي، يا بهَول شوې وينه، يا د

دَمًا مَّسۡفُوۡحًا اَوۡ لَحۡمَ خِنۡزِيۡرٍ فَاِنَّهٗ

خنزير غوښه، پس بېشکه هغه پليتي ده، يا
نافرماني وي چې په هغې

رِجۡسٌ اَوۡ فِسۡقًا اُهِلَّ لِغَيۡرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ

د غير الله لپاره اواز اوچت کړی شوی وي، نو
هغه څوك چې ناچاره شي، چې نه زياتي کوونکی

فَمَنِ اضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ

وي او نه له حده تېرېدونکی وي، (د هغه لپاره يې
خوړل حلال دي) نو بېشکه ستا رب ډېر

رَبَّكَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۴۵﴾ وَعَلَى الَّذِيۡنَ

بخښونکی، بې حده مهربان دی -145- او پر هغو
کسانو باندې

هَادُوۡا حَرَّمۡنَا كُلَّ ذِىۡ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ

چې يهوديان دي، مونږ هر نوکداره ښاروي حرام
کړي وو او له

الْبَقَرِ وَ الْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ

غوایانو او ګډو نه مونږه پر هغوی باندې د هغو

شُحُوْمَهُمَآ اِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ

دواړو وازدې حرامې کړې وې، سِوا له هغو نه
چې د هغو شاګانو پورته کړې وي،

الْحَوَايَآ اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ؕ ذٰلِكَ

یا کُلمو، یا هغه چې له هډوکو سره لګېدلې وي،
دا مونږ هغوی ته

جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۖ٘ وَاِنَّا

د خپلې سرکشۍ سزا ورکړه او بېشکه مونږ خامخا
رښتیا

لَصٰدِقُوْنَ ﴿۱۴۶﴾ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ

ویونکي یو -146- نو که چېرې دوی ستا تکذیب
وکړي،

رَّبُّكُمْ ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ ج وَلَا يُرَدُّ

نو ته ووايه: ستاسو رب د فراخه رحمت والا دى
او د هغه عذاب له

بَأْسُهٗ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٤٧﴾

مجرم قوم نه بېرته نه گرځول کېږي -147-

سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ

ژر به هغه کسان ووايي چې شرك يې کړى دى،
که چېرې الله غوښتلى (نو)

مَآ اَشْرَكْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا

نه به مونږ شرك کړى و او نه زمونږ پلرونو او نه
به مونږ څه شى حرام گرځولى و،

مِنْ شَيْءٍ ط كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ

همدارنگه هغو کسانو (هم) تکذيب کړى و چې له

قَبْلِهِمْ حَتّٰى ذَاقُوْا بَاْسَنَا ؕ قُلْ هَلْ

دوی نه مخکې وو، تر دې چې هغوی زمونږ عذاب وڅاکه، ته ووایه:

عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ؕ

ایا تاسو سره څه علم شته چې پس مونږ ته یې راوباسئ،

اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ اَنْتُمْ اِلَّا

تاسو یواځې د ګمان پیروي کوئ او تاسو یواځې اټکل

تَخْرُصُوْنَ ۝١٤٨ قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ

چلونکي یئ -148- ته ووایه: نو خاص الله لره کامل

الْبَالِغَةُ ۚ فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ

دلیل دی، نو که هغه غوښتلی تاسو ټول به یې لازمًا په نېغه لار

اَجۡمَعِیۡنَ ﴿۱۴۹﴾ قُلۡ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ

روان کړي وی -149- تهووایه: تاسو خپل هغه
ګواهان راولئ

الَّذِیۡنَ یَشۡهَدُوۡنَ اَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ

چې د دې خبرې ګواهي کوي چې بېشکه الله دا
(خیزونه) حرام کړي دي،

هٰذَا ۚ فَاِنۡ شَهِدُوۡا فَلَا تَشۡهَدۡ

نو که هغوی ګواهي ورکړي، نو ته له دوی سره
ګواهي مه ورکوه

مَعَهُمۡ ۚ وَلَا تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَ الَّذِیۡنَ

او ته د هغو خلقو په خواهشاتو پسې مه ځه چې

كَذَّبُوۡا بِاٰیٰتِنَا وَالَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ

زمونږ ایتونه یې دروغ ګڼلي دي او هغه کسان چې
په

ع
5

بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۰﴾

اخرت ايمان نه راوړي او هغوى له خپل رب سره (نور خيزونه) برابروي -150-

قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ

ته ووايه: تاسو راشئ چې زه ولولم هغه څه چې ستاسو رب پر

عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَّ

تاسو باندې حرام كړي دي، دا چې تاسو له هغه سره هيڅ شى مه شريكوئ او

بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا

له مور او پلار سره ښېګڼه كوئ، او تاسو خپل

اَوْلَادَكُمْ مِّنْ اِمْلَاقٍ ؕ نَحْنُ

اولاد د غريبۍ له وجې مه وژنئ، مونږ تاسو ته

رِزْقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ۚ وَلَا تَقْرَبُوا

روزي درکوو او هغوی ته (هم) او تاسو د بې
حیایی

الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۚ

کارونو ته مه نژدې کېږئ هغه چې په دغو کې
ظاهر دي او هغه چې پټ دي

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ

او تاسو هغه نفس مه وژنئ چې الله حرام کړی
دی

اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ

مګر په حقه سره دا، (حکم) چې دی، هغه (الله)
تاسو ته د دې کلك حکم درکړی دی، د دې لپاره

لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ

چې تاسو عقل وچلوئ -151- او تاسو د یتیم مال

الْيَتِيمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى

ته نژدې (هم) مه ورځئ مګر په هغې طريقې سره چې تر ټولو ښه وي تر دې چې

يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَ

هغه (يتيم) خپل پوخ والي ته ورسېږي او تاسو پيمانه او

الْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا

تول په انصاف سره پوره ورکوئ، مونږ هېڅ يو نفس د هغه

اِلَّا وُسْعَهَا ۚ وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ

له طاقت نه زيات نه مکلف کوو او کله چې تاسو خبره کوئ، نو عدل کوئ، اګر

كَانَ ذَا قُرْبٰى ۚ وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا ؕ

چې هغه د خپلولۍ والا وي او د الله عهد پوره کوئ،

ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ

دا (حکم) دی چې هغه (الله) تاسو ته د دې کلك
حکم کړی دی، د دې لپاره چې

تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٥٢﴾ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ

تاسو نصیحت ومنئ -152- او دا چې بېشکه دا
زما لار ده،

مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا

چې نېغه ده، نو تاسو د دې پیروي وکړئ او د
(نورو) لارو پیروي مه کوئ،

السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ

نو تاسو به (د نورو لارو پیروي) د هغه له لارې
نه تار په تار کړي، دا (حکم) دی چې

ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٥٣﴾

هغه (الله) تاسو ته د دې کلك حکم کړی دی، د
دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ -153-

ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا عَلَى

بیا مونږ موسٰی ته کتاب ورکړ، د نعمت د پوره کولو
لپاره په هغه

الَّذِيْٓ اَحْسَنَ وَتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّ

کس باندې چې نېکي يې وکړه او لپاره د هر شي د
تفصيل او

هُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ

هدايت او رحمت، د دې لپاره چې دوی د خپل
رب په

ع 6

يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ

ملاقات ايمان راوړي -154- او دا کتاب دی چې
مونږ نازل کړی دی،

مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ

نو تاسو د ده پيروي وکړئ او پرهېزګاره شئ، د
دې لپاره چې په تاسو

تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۵۵﴾ اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ

رحم وکړی شي -155- دا چې تاسو ونه وایئ چې یقینًا همدا

الْكِتٰبُ عَلٰى طَآىِٕفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا ۖ وَ

خبره ده چې زمونږ نه په مخکېنو دوه ډلو باندې کتاب نازل کړی شوی و، او

اِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿۱۵۶﴾

بېشکه مونږ د هغوی له لوستلو نه یقینًا ناخبره وو -156-

اَوْ تَقُوْلُوْا لَوْ اَنَّآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ

یا چې تاسو ونه وایئ: یقینًا که چېرې په مونږه کتاب نازل کړی

لَكُنَّآ اَهْدٰى مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُمْ

شوی وَی لازمًا به مونږ له دوی نه ښه لارموندونکي وو،

بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ هُدًى وَّ رَحْمَةٌ ۚ

نو يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه ښكاره دليل راغلی دی او هدايت او رحمت، نو له

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ

هغه چا نه لوی ظالم څوك دی چې د الله ايتونه دروغ ګڼي او

صَدَفَ عَنْهَا ؕ سَنَجْزِی الَّذِيْنَ

له هغو نه مخ اړوي؟ عنقريب به مونږ هغو كسانو ته

يَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰيٰتِنَا سُوْٓءَ الْعَذَابِ

د سخت عذاب سزا وركړو چې زمونږ له ايتونو نه مخ اړوي، په سبب د هغه

بِمَا كَانُوْا يَصْدِفُوْنَ ﴿١٥٧﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ

چې دوی اعراض كاوه -157- دوی انتظار نه كوي

اِلَّاۤ اَنۡ تَاۡتِيَهُمُ الۡمَلٰٓـئِكَةُ اَوۡ يَاۡتِىَ رَبُّكَ

مگر د دې چې دوی ته ملايك راشي، يا ستا رب راشي،

اَوۡ يَاۡتِىَ بَعۡضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ يَوۡمَ يَاۡتِىۡ

يا ستا د رب ځينې نښې راشي، په کومه ورځ کې چې

بَعۡضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنۡفَعُ نَفۡسًا

ستا د رب ځينې نښې راشي (نو) هېڅ نفس ته به د هغه

اِيۡمَانُهَا لَمۡ تَكُنۡ اٰمَنَتۡ مِنۡ قَبۡلُ اَوۡ

ايمان راوړل فايده ورنه کړي چې له مخکې نه يې ايمان نه

كَسَبَتۡ فِىۡۤ اِيۡمَانِهَا خَيۡرًا ؕ قُلِ

وي راوړی، يا يې په خپل ايمان کې څه خير نه وي ګټلی، ته (دوی ته) ووايه:

اُنْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿١٥٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

تاسو انتظار کوئ، بېشکه مونږ (هم) انتظار کوونکي يو -158- بېشکه هغه کسان

فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَ كَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ

چې خپل دين يې تار په تار کړی دی، او دوی فرقې فرقې شول،

مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ ؕ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ اِلَى اللّٰهِ

ته له دوی نه په هېڅ شي کې نه يې، يقينًا خبره همدا ده چې د دوی معامله الله ته (سپارل شوې)

ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿١٥٩﴾ مَنْ

ده، بيا به هغه دوی ته د هغو کارونو خبر ورکوي چې دوی کول -159- څوك چې

جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَ

يوه نېکي راوړي، نو د هغه لپاره د هغې لس چنده دی او

د سورتونو فهرست د سپارو فهرست

مَنْ جَآءَ بِالسَّیِّئَةِ فَلَا یُجْزٰۤی اِلَّا

خوك چې یوه بدي راوړي، نو هغه ته به یوائې د هغې په مثل سزا ورکولی شي

مِثْلَهَا وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ۝١٦٠ قُلْ اِنَّنِیْ

او په دوی به ظلم نه کېږي -160- ته ووایه:

هَدٰىنِیْ رَبِّیْۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ۚ۬

بېشکه زه (چې یم) ما ته زما رب د نېغې لارې هدایت کړی دی،

دِیْنًا قِیَمًا مِّلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا ۚ

چې بېخي سم دین دی، د ابراهیم ملت دی، چې یوائې په حق پسې

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ۝١٦١ قُلْ اِنَّ

تلونکی و او له مشرکانو څخه نه و -161- ته ووایه:

صَلَاتِيْ وَ نُسُكِيْ وَ مَحْيَايَ وَ مَمَاتِيْ لِلّٰهِ

بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرگ خاص د الله

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ۚ وَ

رب العلمين لپاره دي -162- د هغه هېڅ شريك نشته او

بِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَ اَنَا اَوَّلُ

ما ته د همدې (توحيد) حکم شوی دی او زه ترټولو

الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا

مسلمانانو اول يم -163- ته ووايه: ايا زه له الله نه غير (بل) رب ولټوم،

وَّ هُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ؕ وَ لَا تَكْسِبُ كُلُّ

حال دا چې هغه د هر شي رب دی، او هېڅ يو نفس (دگناه) کسب نه کوي

نَفۡسٍ اِلَّا عَلَيۡهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزۡرَ

مگر د خپل (ځان) په ضرر يې کوي او هېڅ بار وړونکی

اُخۡرٰى ۚ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمۡ مَّرۡجِعُكُمۡ

د بل بار نه وړي، بيا خاص خپل رب ته ستاسو واپس تلل دي،

فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ فِيۡهِ

نو هغه به تاسو خبر کړي په هغو کارونو چې تاسو به په هغو کې

تَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۱۶۴﴾ وَهُوَ الَّذِىۡ جَعَلَكُمۡ

اختلاف کاوه -164- او دا (الله) هغه ذات دی چې تاسو يې

خَلٰٓئِفَ الۡاَرۡضِ وَرَفَعَ بَعۡضَكُمۡ فَوۡقَ

په ځمکه کې خليفگان جوړ کړئ او ستاسو ځينې يې د ځينو (نورو) له پاسه

بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ

په درجو کې پورته کړل، د دې لپاره چې تاسو وازمايي په هغه څه کې

اٰتٰىكُمْ ؕ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖ وَ

چې تاسو ته يې درکړي دي، بېشکه ستا رب ډېر ژر سزا ورکوونکی دی او

اِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۵﴾

بېشکه هغه خامخا ښه بخښونکی، بې حده مهربان دی -165-

ع 7

النصف

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى(1)

الٓمّٓصٓ ﴿۱﴾ كِتٰبٌ اُنۡزِلَ اِلَیۡكَ فَلَا یَكُنۡ

الف، لام، ميم، صاد -1- (دا) كتاب دى چې تا ته نازل كړى شوى دى، نو د ده په وجه دې

فِیۡ صَدۡرِكَ حَرَجٌ مِّنۡهُ لِتُنۡذِرَ بِهٖ وَ

ستا په سينه كې څه تنگي نه وي، د دې لپاره (نازل كړى شوى دى) چې ته د ده په ذرېعې سره

ذِكۡرٰی لِلۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۲﴾ اِتَّبِعُوۡا مَاۤ اُنۡزِلَ

(خلق) ووېروې او د مومنانو لپاره نصيحت دى -2- تاسو پيروي كوئ د هغه

اِلَیۡكُمۡ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَ لَا تَتَّبِعُوۡا مِنۡ

(دين) چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل كړى شوى دى او تاسو له ده نه سِوا (د نورو)

دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ③

دوستانو پيروي مه کوئ، تاسو ډېر کم نصيحت
اخلئ -3-

وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَهَا

او څومره ډېر کلي دي چې مونږ هغه هلاك کړي
دي، نو زمونږ عذاب هغو ته راغی، په دې حال

بَاْسُنَا بَيَاتًا اَوْ هُمْ قَآئِلُوْنَ ④ فَمَا

کې چې دوی د شپې ويده وو، يا په غرمه کې ارام
کوونکي وو -4- نو نه

كَانَ دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَآ اِلَّآ

وه د دوی دعوٰی (بلنه) کله چې په دوی زمونږ
عذاب راغی، مګر دا چې

اَنْ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ⑤

دوی وويل: بېشکه مونږ ظالمان وو -5-

فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ

نو خامخا لازمًا به مونږ له هغو خلقو نه تپوس وكړو چې رسولان ورته استول شوي وو

وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ۙ﴿۶﴾ فَلَنَقُصَّنَّ

او خامخا لازمًا به مونږ له رسولانو نه (هم) تپوس وكړو -6- نو خامخا

عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّ مَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿۷﴾ وَ

لازمًا به مونږ دوى ته په علم سره بيان وكړو او مونږ (څه) غايب خو نه وو -7- او

الْوَزْنُ يَوْمَئِذِ اِلْحَقُّ ۚ فَمَنْ ثَقُلَتْ

په دغه ورځ (د عملونو) تول ښېخي حق دى، نو هغه څوك چې تولونه (يا ميزانونه)

مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۸﴾

يې درانه وختل، نو همدغه خلق كامياب دي -8-

وَ مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ

او هغه څوك چې تولونه (يا ميزانونه) يې سپك وختل، نو دغه

الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوْا

خلق هغه دي چې دوی خپلو ځانونو ته تاوان رسولی دی، په سبب د دې چې دوی زمونږ له

بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ﴿٩﴾ وَ لَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِي

ايتونو سره ظلم کاوه -9- او يقينًا يقينًا مونږ تاسو ته په

الْاَرْضِ وَ جَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ ؕ

ځمکه کې قدرت درکړی دی او تاسو لپاره مو په هغې کې د ژوند اسباب پيدا کړي دي،

ع 8

قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿١٠﴾ۧ وَ لَقَدْ

تاسو بېخي ډېر لږ شکر وباسئ -10- او يقينًا يقينًا

خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا

مونږ تاسو پيدا کړئ، بيا مو ستاسو صورتونه جوړ کړل، بيا مونږ

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖ فَسَجَدُوْٓا

ملايکو ته وويل: د ادم لپاره سجده وکړئ، نو هغوی سجده وکړه

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ لَمْ يَكُنْ مِّنَ

سِوا له ابليس نه، هغه له سجده کوونکو

السّٰجِدِيْنَ ⑪ قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا

څخه نه و -11- وويل (الله): ته څه شي منع کړې،

تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ ؕ قَالَ اَنَا خَيْرٌ

چې سجده دې ونه کړه کله چې ما تا ته حکم وکړ؟ وويل (شيطان): زه له هغه

مِّنۡهُ ۚ خَلَقۡتَنِىۡ مِنۡ نَّارٍ وَّ خَلَقۡتَهٗ مِنۡ

نه غوره يم، تا زه له اوره پيدا كړى يم او هغه دې له خټې پيدا

طِيۡنٍ ﴿۱۲﴾ قَالَ فَاهۡبِطۡ مِنۡهَا فَمَا يَكُوۡنُ

كړى دى -12- (الله) وويل: نو ته له دې (جنت) نه كوز شه،

لَكَ اَنۡ تَتَكَبَّرَ فِيۡهَا فَاخۡرُجۡ اِنَّكَ مِنَ

پس تا ته دا حق نشته چې ته په دې (جنت) كې تكبر وكړې، نو ته وځه، بېشكه ته له

الصّٰغِرِيۡنَ ﴿۱۳﴾ قَالَ اَنۡظِرۡنِىۡۤ اِلٰى يَوۡمِ

ذليلو څخه يې -13- وويل (ابليس چې اى الله!) ته ما ته مهلت راكړه، تر هغې ورځې پورې چې

يُبۡعَثُوۡنَ ﴿۱۴﴾ قَالَ اِنَّكَ مِنَ

خلق به راژوندي كولى شي -14- وويل (الله): بېشكه ته

الْمُنْظَرِيْنَ ﴿۱۵﴾ قَالَ فَبِمَاۤ اَغْوَيْتَنِيْ

له مهلت ورکړی شویو څخه یې -15- (ابلیس) وویل: نو په سبب د هغه چې

لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ

تا زه گمراه کړم، زه به خامخا ضرور دوی ته ستا په نېغه لار

الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ

کې کېنم -16- بیا به خامخا لازمًا زه دوی ته راځم

اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ

د دوی له مخې نه او د دوی له شا نه او د دوی له ښیو اړخونو

اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ؕ وَلَا تَجِدُ

نه او چپو اړخونو نه او ته به د دوی اکثره شکر

اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ﴿١٧﴾ قَالَ اخْرُجْ

گذاره ونه مومې -17- وويل (الله): وُځه ته له دې

مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ؕ لَمَنْ تَبِعَكَ

ځاى نه، چې بدحاله غمجن كړى شوى، رټلى
شوى يې،

مِنْهُمْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ

يقينًا په دوى كې چې چا ستا پيروي وكړه (، نو)
خامخا لازمًا به زه له تاسو ټولو نه

اَجْمَعِيْنَ ﴿١٨﴾ وَيٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَ

جهنم ډكوم -18- او اى ادمه! ته او

زَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ

ستا ښځه په جنت كې اوسئ، نو تاسو خوراك
كوئ له

شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ

کوم ځای نه چې مو خوښه شي، او دې ونې ته مه نژدې کېږئ

فَتَكُونَا مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿١٩﴾ فَوَسۡوَسَ

(، ګنې) نو له ظالمانو نه به شئ -19- نو دوی دواړو ته

لَهُمَا الشَّيۡطٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ

شیطان وسوسه واچوله، د دې لپاره چې هغه (شیطان) دوی

عَنۡهُمَا مِنۡ سَوۡاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰكُمَا

دواړو ته هغه څه ورښکاره کړي چې له دوی نه پټ وو، چې د دوی د شرم ځایونه دي۔ او (ورته)

رَبُّكُمَا عَنۡ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّاۤ اَنۡ

ویې ویل: تاسو دواړه ستاسو رب له دې ونې نه نه یئ منع کړي مګر له دې

تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ

وجي چي تاسو دواړه به ملايك شئ، يا چې شئ به له تل پاتې

الْخٰلِدِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَ قَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ لَكُمَا

کېدونکو نه -20- او هغه دوی ته پوخ قسم وخوړ چې بېشکه زه تاسو لپاره يقينًا له خير

لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۱﴾ فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ

خواهي کوونکو شخه يم -21- نو هغه دوی دواړو

فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا

ته په دوکې سره تمه ورکړه، نو کله چې دوی هغه ونه وڅکله، دوی ته خپل

سَوْاٰتُهُمَا وَ طَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا

شرم ځايونه ښکاره شول او دواړه لگيا شول چې په خپلو

مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ؕ وَ نَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ

ځانونو يې د جنت پاڼې نښلولې او دوی ته خپل
رب اواز وکړ

اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَ

چې ايا ما تاسو دواړه له دې ونې نه نه وئ منع
کړي او

اَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ

تاسو ته مې نه وويلي چې بېشکه شيطان تاسو
دواړو لپاره ښکاره

مُّبِيْنٌ ﴿۲۲﴾ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا سکتة

دښمن دی؟ -22- دوی وویل: ای زمونږه ربه!
مونږ په خپلو ځانونو ظلم کړی دی

وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ

او که چېرې ته مونږ ونه بخښې او پر مونږ رحم
ونه کړې (، نو) مونږ به خامخا

مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ اهْبِطُوْا

لازمًا له تاوانیانو څخه شو -23- وویل (الله): تاسو کوز

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ج وَلَكُمْ فِي

شئ، ستاسو ځینې به د ځینو نورو لپاره دښمنان وي او تاسو لپاره په

الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّ مَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٢٤﴾

ځمکه کې استوګنه ده او تر یو وخته پورې فایده اخیستل دي -24-

قَالَ فِيْهَا تَحْيَوْنَ وَ فِيْهَا تَمُوْتُوْنَ وَ

(الله) ووېل: په همدې (ځمکه) کې به تاسو ژوندون کوئ او په همدې کې به تاسو مرئ

ع 9

مِنْهَا تُخْرَجُوْنَ ﴿٢٥﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ

او له همدې نه به تاسو راوښکلی کېږئ -25- ای د ادم اولاده! یقینًا

اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِىْ

مونږ پر تاسو باندې لباس نازل کړی دی چې
ستاسو

سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ

د شرم ځایونه پټوي او د زینت جامې (مو نازلې
کړې دي) او د پرهیزګارۍ لباس؛

ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ

دغه ډېر غوره دي، دا د الله له ایتونو څخه دي، د
دې لپاره چې

لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٢٦﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ لَا

دوی نصیحت حاصل کړي -26- ای د ادم اولاده!

يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ

تاسو لره دې شیطان هیڅکله هم په فتنه کې وانه
چوي، لکه څنګه چې

اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا

يې ستاسو مور او پلار له جنت نه وښکل، چې له هغوی نه يې د

لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ

هغوی لباس وښکلو، د دې لپاره چې هغوی ته خپل د شرم ځايونه وښيي، بېشکه

يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا

هغه او د هغه قبيله تاسو له هغه ځايه ويني

تَرَوْنَهُمْ ؕ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ

چې تاسو يې نه وينئ، بېشکه مونږ شيطانان د هغو خلقو لپاره

اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَاِذَا

دوستان جوړ کړي دي چې ايمان نه راوړي -27- او کله چې

فَعَلُوۡا فَاحِشَةً قَالُوۡا وَجَدۡنَا عَلَيۡهَاۤ

دوی څه بې حيايي وکړي (، نو) وايي: مونږ په
دې باندې

اٰبَآءَنَا وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ؕ قُلۡ اِنَّ

خپل پلرونه موندلي دي او الله مونږ ته د دې
حکم کړی دی، ته (ورته) ووايه: بېشکه

اللّٰهَ لَا يَاۡمُرُ بِالۡفَحۡشَآءِ ؕ اَتَقُوۡلُوۡنَ

الله د بې حيايۍ حکم نه کوي، ايا تاسو په الله
باندې هغه دروغ تپئ

عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۸﴾ قُلۡ اَمَرَ رَبِّىۡ

چې تاسو پرې نه پوهېږئ -28- ته ووايه: زما رب

بِالۡقِسۡطِ ۚ وَاَقِيۡمُوۡا وُجُوۡهَكُمۡ عِنۡدَ

د انصاف حکم کړی دی او (دا چې) تاسو خپل
مخونه د هر لمانځه په

كُلِّ مَسۡجِدٍ وَّادۡعُوۡهُ مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ

وخت كې نبغ (سيده) كړئ او تاسو هغه بلئ، چې د هغه لپاره د دين (عبادت) خالص كوونكي يئ،

الدِّيۡنَ ۬ؕ كَمَا بَدَاَكُمۡ تَعُوۡدُوۡنَ ؕ۝۲۹

لكه څنگه چې يې تاسو اول ځل پيدا كړي يئ (هماغه شان به) تاسو راگرځئ -29-

فَرِيۡقًا هَدٰى وَفَرِيۡقًا حَقَّ عَلَيۡهِمُ

يوې ډلې ته يې هدايت كړى دى او بله ډله (يې گمراه كړې ده) چې په هغو باندې

الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيۡنَ

گمراهي ثابته شوې ده، بېشكه دوى له الله نه سِوا شيطانان (د ځان)

اَوۡلِيَآءَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَيَحۡسَبُوۡنَ

دوستان نيولي وو او دوى دا گمان كاوه چې بېشكه همدوى نېغه لار

اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۰﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ خُذُوْا

موندونكي دي -30- اى د ادم اولاده! تاسو

زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّ كُلُوْا وَ

خپل زينت (لباس) واخلئ د هر لمانځه په وخت كې او

اشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

خوراك كوئ او څښاك كوئ او تاسو اسراف مه كوئ، بېشكه هغه (الله)

ع 10

الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ

اسراف كوونكي نه خوښوي -31- ته ووايه: هغه زينت چا حرام كړى دى

اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَ الطَّيِّبٰتِ

چې الله د خپلو بنده ګانو لپاره راوېستلى دى او له رزقه څخه پاكيزه شيان

مِنَ الرِّزْقِ ۭ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي

(چا حرام کړي دي؟) ته ووايه: دا (نعمتونه) په

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ

دنيايي ژوند کې د هغو کسانو لپاره دي چې ايمان
يې راوړی دی، چې (د دوی لپاره به) د قيامت په

كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

ورځ بېخي خالص وي، همدارنگه مونږ ايتونه په
تفصيل سره بيانوو د هغه قوم

يَّعْلَمُوْنَ ۝ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ

لپاره چې پوهېږي -32- ته ووايه: يقينًا همدا خبره
ده چې زما رب

الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ

د بې حيايۍ کارونه حرام کړي دي، هغه چې له
هغو څخه ظاهِر وي

وَالۡاِثۡمَ وَالۡبَغۡیَ بِغَیۡرِ الۡحَقِّ وَاَنۡ

او هغه چې باطن وي او (حرامه کړې يې ده) گناه او ناحقه ظلم کول او دا چې تاسو له الله سره

تُشۡرِكُوۡا بِاللّٰهِ مَا لَمۡ یُنَزِّلۡ بِهٖ سُلۡطٰنًا

هغه شی شريك کړئ چې د هغه په هکله هغه (الله) هېڅ دليل نه وي نازل کړی،

وَّاَنۡ تَقُوۡلُوۡا عَلَی اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۳﴾

او دا چې تاسو په الله باندې هغه دروغ وتپئ چې تاسو پرې نه پوهېږئ -33-

وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمۡ

او د هر امت لپاره يوه نېټه ده، نو کله چې د دوی نېټه راشي،

لَا یَسۡتَاۡخِرُوۡنَ سَاعَةً وَّلَا

دوی به نه يوه گړۍ تاخير کوي او نه به دوی

يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٣٤﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اِمَّا

ړومبى كېږي -34- اى د ادم اولاده! كه لازمًا

يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ

تاسو ته له هم ستاسو نه رسولان راشي، چې تاسو

عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ ۙ فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا

ته زما ايتونه بيانوي، نو هغه څوك چې پرهېزگاره
شو او د ځان اصلاح يې وكړه،

خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٥﴾

نو په دوى باندې به نه څه وېره وي او نه به دوى
غمجن كېږي -35-

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا

او هغه كسان چې زمونږ د ايتونو تكذيب يې كړى
دى او له هغو نه يې سركشي (لويي)

عَنۡهَآ اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ

کړې ده، دغه کسان د اور ملګري دي، دوی به په
هغه کې

فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿٣٦﴾ فَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنِ

همېشه وي -36- نو د هغه کس نه لوی ظالم څوك
دی چې

افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوۡ كَذَّبَ

په الله باندې دروغ تپي، یا د هغه د ایتونو تکذیب

بِاٰيٰتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يَنَالُهُمۡ نَصِيۡبُهُمۡ مِّنَ

کوي؟ دغه کسان دي چې دوی ته به له لیکل
شوي (عمر، رزق وغیره) نه

الۡكِتٰبِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا

خپله برخه ورسېږي، تر دې چې کله دوی ته
زمونږ استازي راشي،

يَتَوَفَّوْنَهُمْ ۙ قَالُوْۤا اَيْنَ مَا كُنْتُمْ

چې دوی مړه کوي (، نو ورته) وايي به: چېرته دي

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا ضَلُّوْا

هغه معبودان چې تاسو به له الله نه غير بلل؟
هغوی به ووايي:

عَنَّا وَ شَهِدُوْا عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ

هغه له مونږ نه ورك شول، او دوی به د خپلو
ځانونو په خلاف گواهي وکړي دا چې

كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ۝٣٧ قَالَ ادْخُلُوْا فِيْۤ اُمَمٍ

بېشکه دوی کافران وو -37- (ورته) وبه وايي:
تاسو له هغو امتونو

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ مِّنَ الْجِنِّ وَ

سره یو ځای اور ته داخل شئ چې له تاسو نه
مخکې په پېريانو او

الْاِنْسِ فِي النَّارِ ؕ كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ

انسانانو کې تېر شوي دي، هر کله چې يوه ډله ننوځي (، نو) د خپل ځان په

لَّعَنَتْ اُخْتَهَا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ادَّارَكُوْا فِيْهَا

مثل ډلې باندې به لعنت وايي، تر دې چې کله دوی ټول په دې (اور) کې

جَمِيْعًا ۙ قَالَتْ اُخْرٰىهُمْ لِاُوْلٰىهُمْ

راجمع شي، د دوی وروستنۍ به د خپلو ړومبنو په هکله وايي: ای زمونږه ربه! دا کسان چې دي

رَبَّنَا هٰۤؤُلَآءِ اَضَلُّوْنَا فَاٰتِهِمْ عَذَابًا

مونږ يې گمراه کړي وو، نو دوی ته د اور دوه چنده عذاب ورکړه،

ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ؕ۬ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّ

وبه وايي (الله) د هر يو لپاره دوه چنده (عذاب) دی او

لٰكِنۡ لَّا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۸﴾ وَ قَالَتۡ اُوۡلٰىهُمۡ

لېکن تاسو نه پوهېږئ -38- د دوی ړومبني به

لِاُخۡرٰىهُمۡ فَمَا كَانَ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِنۡ

خپلو وروستنو ته ووايي: نو تاسو لپاره پر مونږ باندې هيڅ

فَضۡلٍ فَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ بِمَا كُنۡتُمۡ

فضيلت نشته، پس تاسو عذاب وڅکئ د هغو عملونو په سبب چې

ع 11

تَكۡسِبُوۡنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا

تاسو به کول -39- بېشکه هغه کسان چې زمونږ

بِاٰيٰتِنَا وَ اسۡتَكۡبَرُوۡا عَنۡهَا لَا تُفَتَّحُ

ايتونه يې دروغ ګڼلې دي او له هغو نه يې تکبر کړی دی،

لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ وَلَا يَدْخُلُوْنَ

د دوی لپاره به د اسمان دروازې نه پرانستل کېږي او نه به دوی

الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِىْ سَمِّ

جنت ته داخلېږي تر هغه پورې چې اوښ د ستني په

الْخِيَاطِ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى

سوري کې ننوځي او همدارنګه مونږ مجرمانو ته

الْمُجْرِمِيْنَ ۝٤٠ لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ

سزا ورکوو -40- د دوی لپاره له جهنم

مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ؕ وَ

څخه فرش دی او د دوی له پاسه به (د اور) اغوستنی وي او

كَذٰلِكَ نَجْزِى الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤١﴾ وَالَّذِيْنَ

همدارنگه مونږ ظالمانو ته سزا ورکوو -41- او هغه کسان چې

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَا نُكَلِّفُ

ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، مونږ هېڅ یو نفس نه مکلف کوو

نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَاۤ ۡ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

مگر د هغه د وَس مطابق، دغه کسان د جنت ملگري دي،

الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَ

دوی به په هغه کې همېشه وي -42- او

نَزَعْنَا مَا فِىْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ

مونږ به راوباسو هغه کینه چې د دوی په سینو کې وي، د هغو له

تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِہِمُ الۡاَنۡہٰرُ ۚ وَ قَالُوا

لاندې به ولې بهېږي، او دوی به وايي: ټولې

الۡحَمۡدُ لِلّٰہِ الَّذِیۡ ہَدٰىنَا لِہٰذَا ۟ قف وَ مَا

ستاینې د هغه الله لپاره دي چې مونږ ته يې د دې
هدايت وکړ او مونږ

کُنَّا لِنَہۡتَدِیَ لَوۡ لَاۤ اَنۡ ہَدٰىنَا اللّٰہُ ۚ

پخپله (داسې) نه وو چې دا لار مو موندلې وَی،
که چېرې الله

لَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِالۡحَقِّ ؕ

مونږ ته دا لار نه وه راښودلې، يقيناً يقيناً زمونږ د
رب رسولان په حقه سره راغلي وو

وَ نُوۡدُوۡۤا اَنۡ تِلۡکُمُ الۡجَنَّۃُ اُوۡرِثۡتُمُوۡہَا

او دوی ته به اواز وکړی شي چې دا جنت دی
چې تاسو د ده وارثان

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَنَادٰی

گرځولی شوي يئ، په سبب د هغو عملونو چې
تاسو به کول -43- او جنتيان به

اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ اَصْحٰبَ النَّارِ اَنْ قَدْ

دوزخيانو ته اواز وکړي دا چې يقينًا مونږ

وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ

هغه وعده چې زمونږ رب له مونږ سره کړې وه
حقه ومونده،

وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ؕ قَالُوْا

نو ايا تاسو (هم) هغه وعده حقه ومونده چې
ستاسو رب (له تاسو سره) کړې وه؟ هغوی به

نَعَمْ ۚ فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ اَنْ لَّعْنَةُ

وايي: هو! نو د دوی په مينځ کې به يو اعلان
کوونکی دا اعلان وکړي چې د

اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٤﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ

الله لعنت په ظالمانو باندې دی -44- هغه کسان چې د

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ وَ

الله له لارې نه منع کول کوي او په دې کې کوږوالی لټوي او

هُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَبَيْنَهُمَا

هم دوی د اخرت منکر دي -45- او د دواړو په مینځ کې

حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْاَعْرَافِ رِجَالٌ

پرده ده او د آعراف له پاسه به کسان وي چې دوی به هر یو (له جنتیانو او دوزخیانو نه) په

يَّعْرِفُوْنَ كُلًّا بِسِيْمٰىهُمْ ۚ وَنَادَوْا

خپلو علامو سره پېژني او دوی به جنتیانو ته اواز وکړي دا

وقف لازم

اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۣ قف

چې په تاسو دې سلام وي، دوی هغه (جنت) ته داخل

لَمْ يَدْخُلُوْهَا وَ هُمْ يَطْمَعُوْنَ ۝۴۶ وَ اِذَا

شوي نه دي او دوی (د جنت) طمع لري -46- او کله چې

صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ

د دوی سترګې د دوزخیانو په طرف واړولی شي،

النَّارِ ۙ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ

دوی به وايي: ای زمونږه ربه! مونږ له ظالم قوم

الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝۴۷ ۧ وَ نَادٰۤى اَصْحٰبُ

سره مه یو ځای کوه -47- او د اَعراف ملګري به داسي

ع 12

الْاَعْرَافِ رِجَالًا يَّعْرِفُوْنَهُمْ

سرېيو ته اواز وکړي چې دوی به يې په خپلو نښو سره پېژني،

بِسِيْمٰىهُمْ قَالُوْا مَآ اَغْنٰى عَنْكُمْ

دوی به (ورته) وايي: تاسو ته نه خو ستاسو ډلې فايده

جَمْعُكُمْ وَ مَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٨﴾

دروروسوله او (نه) هغه چې تاسو به تکبر کاوه - 48-

اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ

ايا دا هغه کسان دي چې تاسو به قسمونه خوړل چې

اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ؕ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ

الله به دوی ته رحمت ونه رسوي (دوی ته ويل شوي دي چې) تاسو جنت ته داخل شئ، پر تاسو

عَلَيْكُمْ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿٤٩﴾

باندې هېڅ وېره نشته او نه به تاسو غمجن کېږئ -49-

وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ النَّارِ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ

او دوزخيان به جنتيانو ته اواز وکړي دا چې تاسو پر مونږ

اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا

باندې څه اوبه راتوئ کړئ، يا له هغه څه نه چې

رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ؕ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا

الله تاسو ته درکړي دي (څه راکړئ)، وبه وايي (جنتيان) بېشکه الله دا دواړه په کافرانو باندې

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾ۙ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا

حرام کړي دي -50- هغه کسان چې خپل

دِيْنَهُمْ لَهْوًا وَّلَعِبًا وَّ غَرَّتْهُمُ

دين يې تماشه او لوبه ګرځولې دی او دوی

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ نَنْسٰهُمْ

دنيايي ژوند دوکه کړي (غولولي) دي، نو نن ورځ به يې

كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا ۙ وَمَا

مونږ هېر کړو، لکه څنګه چې هغوی د خپلې دې ورځې ملاقات هېر کړی و او هغه چې

كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿٥١﴾ وَلَقَدْ

دوی به زمونږ له ایتونو نه انکار کاوه -51- او یقینًا یقینًا

جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ

مونږ دوی ته کتاب راوړی دی چې مونږ د علم له مخې په تفصیل

هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ هَلْ

سره بیان کړې دی، چې هدایت او رحمت دی د
هغه قوم لپاره چې ایمان راوړي -52- دوی

يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ ۭ يَوْمَ يَاْتِيْ

انتظار نه کوي مګر د هغه (قیامت) د انجام، په
هغې ورځ چې د

تَاْوِيْلُهٗ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ نَسُوْهُ مِنْ قَبْلُ

هغه انجام راشي؛ (نو) هغه کسان به وايي چې دا
يې مخکې هېر کړی و:

قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ

یقینًا زمونږ د رب رسولان په حقه سره راغلي وو،
نو ایا

لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ اَوْ نُرَدُّ

زمونږ لپاره څه سفارشیان شته چې زمونږ لپاره
سفارش وکړي؟ یا مونږ واپس کړی شو،

فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ؕ قَدْ

نو (بيا) له هغه عمل نه سِوا عمل وكړو چې مونږه كاوه، يقيناً

خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَ ضَلَّ عَنْهُمْ

دوی خپلو ځانونو ته نقصان رسولی دی او له دوی څخه هغه دروغ ورك

ع 13

مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝٥٣ ۧ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ

شول چې دوی به جوړول -53- بېشكه ستاسو رب هغه الله

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ فِيْ

دی چې اسمانونه او ځمكه يې په شپږو ورځو كې پيدا كړي دي،

سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ قف

بيا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي،

يُغْشِى الَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا ۙ وَّ

په دې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او

الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ وَ النُّجُوْمَ

(پيدا کړې يې ده) لمرسترګه، او سپوږمۍ او ستوري،

مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ؕ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَ

چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي، اګاه شئ! خاص هغه لره دي پيدا کول او

الْاَمْرُ ؕ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۵۴﴾

حکم کول، ډېر برکت والا دی الله چې رب العلمين دی -54-

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّ خُفْيَةً ؕ اِنَّهٗ لَا

تاسو خپل رب وبلئ په عاجزۍ سره او په پټه سره، بېشکه هغه

يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿٥٥﴾ وَلَا تُفْسِدُوْا فِي

له حد نه تېرېدونکي نه خوښوي -55- او تاسو په

الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ

ځمکه کې ورانی مه کوئ، د هغې له اصلاح نه
پس، او تاسو هغه (الله)

خَوْفًا وَّطَمَعًا ۭ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ

رابلئ په وېرې سره او په طمع سره، بېشکه د الله
رحمت نېکي کوونکو ته

مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَهُوَ الَّذِیْ

ډېر نژدې دی -56- او دی همغه ذات دی

يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَیْ

چې هواګانې لېږي، چې د هغه له

رَحْمَتِهٖ ؕ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَقَلَّتْ سَحَابًا

رحمت نه وړاندې زېرى وركوونكې وي، تر دې چې كله دا (هواګانې)

ثِقَالًا سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَاَنْزَلْنَا بِهِ

درنې ورېځې راپورته كړي (، نو) مونږ هغه مړ ښار ته روانوو، نو مونږ په دې سره

الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ

اوبه نازلوو، نو په هغو سره هر قسمه مېوې راوباسو،

كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى لَعَلَّكُمْ

همدارنګه به مونږ مړي راوباسو، د دې لپاره چې تاسو

تَذَكَّرُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ

نصيحت ومنئ -57- او پاكيزه ښار، د هغې زرغونه

نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ ۚ وَالَّذِي خَبُثَ لَا

د خپل رب په حکم سره راوځي او هغه (ځمکه) چې خرابه

يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ

(ښوره) وي (د هغې زرغونه) نه راوځي مگر ناقصه، همدارنگه مونږ ایتونه بیا، بیا بیانوو

ع 14

الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴿٥٨﴾ لَقَدْ

د هغه قوم لپاره چې شکر وباسي -58- یقینًا یقینًا

أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ

مونږ نوح خپل قوم ته لیږلی و، نو هغه وویل: ای زما قومه!

اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ

تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هیڅ برحق معبود نشته،

اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ

ببشکه زه په تاسو د لويې ورځې له عذاب نه

عَظِيْمٍ ۝٥٩ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖٓ اِنَّا

وېرېږم -59- د هغه د قوم سردارانو وويل: بېشکه

مونږ تا لازمًا

لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝٦٠ قَالَ يٰقَوْمِ

په ښکاره گمراهۍ کې وينو -60- هغه وويل: ای

زما قومه!

لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ

په ما کې هيڅ گمراهي نشته او لېکن زه د رب

رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٦١ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ

العلمين رسول يم -61- زه تاسو ته د خپل رب

پيغامونه دررسوم

وَ اَنۡصَحُ لَكُمۡ وَ اَعۡلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا

او ستاسو خيرخواهي كوم او زه د الله له جانبه په
هغه څه پوهېږم چې تاسو

تَعۡلَمُوۡنَ ۝٦٢ اَوَ عَجِبۡتُمۡ اَنۡ جَآءَكُمۡ

پرې نه پوهېږئ -62- ايا تاسو په دې تعجب كوئ

ذِكۡرٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ عَلٰى رَجُلٍ مِّنۡكُمۡ

چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نصيحت راغلی په
داسې سړي چې له هم ستاسو

لِيُنۡذِرَكُمۡ وَلِتَتَّقُوۡا وَلَعَلَّكُمۡ

څخه دی، د دې لپاره چې تاسو ووېروي او د دې
لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ او د دې لپاره چې په

تُرۡحَمُوۡنَ ۝٦٣ فَكَذَّبُوۡهُ فَاَنۡجَيۡنٰهُ وَ

تاسو رحم وكړی شي -63- نو هغوی دا دروغژن
وګاڼه،

الَّذِيْنَ مَعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَ اَغْرَقْنَا

نو مونږ هغه ته او هغو کسانو ته چې له ده سره په کشتۍ کې وو، نجات ورکړ او هغه

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا

کسان مو غرق کړل چې زمونږ ایتونه یې دروغ ګڼلي وو، بېشکه هغوی

ع 15

قَوْمًا عَمِيْنَ ۟۶۴ وَ اِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ

ړانده خلق وو -64- او (مونږ لیږلی و) عاد (قوم) ته د هغوی ورور

هُوْدًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا

هود، هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل)

لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ۟۶۵

هیڅ برحق معبود نشته، ایا نو تاسو نه ویرېږئ! - -65

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖٓ

د هغه د قوم کافرو سردارانو وويل: بېشکه مونږ

اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ سَفَاهَةٍ وَّ اِنَّا لَنَظُنُّكَ

خامخا تا په بېوقوفۍ کې وينو او بېشکه مونږ خامخا په تا ګمان کوو له

مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٦٦ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ

دروغجنو څخه -66- هغه وويل: ای زما قومه! په ما کې

سَفَاهَةٌ وَّ لٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ

هېڅ بېوقوفي نشته او لېکن زه د رب العلمين

الْعٰلَمِيْنَ ۝٦٧ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَ اَنَا

رسول يم -67- زه تاسو ته د خپل رب پېغامونه دررسوم او زه

لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ﴿٦٨﴾ اَوَ عَجِبْتُمْ اَنْ

ستاسو لپاره خيرخواه، امانت دار يم -68- ايا تاسو په دې تعجب كوئ

جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ

چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نصيحت راغى په داسې سړي

مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ؕ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ

باندې چې له هم ستاسو څخه دى، د دې لپاره چې تاسو ووېروي، او تاسو هغه وخت راياد كړئ

جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ

كله چې يې تاسو له نوح نه پس خليفګان (ځاى ناستي) جوړ كړئ

وَّزَادَكُمْ فِى الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ فَاذْكُرُوْٓا

او تاسو ته يې په تخليق كې زيات فراخ والى دركړ، نو تاسو د الله نعمتونه يادوئ،

اَلَآءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾ قَالُوْٓا

د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ -69- هغوی ووېل:

اَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ مَا

ایا ته د دې لپاره مونږ ته راغلی یې چې مونږ د یو الله عبادت وکړو او هغه

كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ

معبودان پرېږدو چې زمونږ پلرونو یې عبادت کاوه، نو هغه (عذاب) راوله چې تهٔ مونږ په هغه سره

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ قَدْ وَ

وېروې، که چېرې ته له رښتینو څخه یې -70- هغه ووېل: یقینًا پر تاسو

قَعَ عَلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّ

باندې د خپل رب له جانبه عذاب او

غَضَبٌ ؕ اَتُجَادِلُوْنَنِيْ فِيْٓ اَسْمَآءٍ

غضب ثابت شو، ايا تاسو زما سره په هغو نومونو

سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّا نَزَّلَ

کې جګړه کوئ چې هغه تاسو پخپله او ستاسو
پلرونو نومولي دي،

اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّيْ

الله د هغو په باره کې هېڅ دليل نه دی نازل
کړی، نو تاسو انتظار کوئ، بېشکه زه

مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۷۱﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ

تاسو سره له انتظار کوونکو څخه يم -71- نو مونږ
هغه (هود) ته

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا

او هغو کسانو ته چې له ده سره يې ايمان راوړی
و، په خپل رحمت سره

دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَمَا كَانُوْا

نجات ورکړ او د هغو کسانو جرړه (بېخ) مو غوخه کړه چا چې زمونږ ایتونه دروغ ګڼلي وو او

ع
16

مُؤْمِنِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ

هغوی له سره مومنان نه وو -72- او ثمودیانو ته مو د هغوی ورور

وقف لازم

صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا

صالح (لیږلی و)، هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو

لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ جَآءَتْكُمْ

لپاره له هغه نه سوا (بل) هېڅ حق معبود نشته، یقینًا تاسو ته د

بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ

خپل رب له جانبه ښکاره معجزه راغلې ده، دا د الله اوښه ده ستاسو

اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا

لپاره، چې نښه ده، نو تاسو دا پرېږدئ چې د الله
په ځمكه كې خوراك كوي او دې

تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ

ته تكليف مه رسوئ (ګڼي) نو تاسو لره به ډېر
دردوونكى

اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ

عذاب ونيسي -73- او تاسو هغه وخت ياد كړئ
چې

خُلَفَآءَ مِنْ بَعْدِ عَادٍ وَّبَوَّاَكُمْ فِي

هغه (الله) تاسو له عاديانو نه پس خليفګان (ځاى
ناستي، نايبان) جوړ كړئ او تاسو

الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا

ته يې په ځمكه كې ځاى دركړ، چې تاسو د دې
(ځمكې) په نرمو هوارو

قُصُوْرًا وَّ تَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ بُيُوْتًا ۚ

ځایونو کې هسکې ماڼۍ جوړوئ او تاسو غرونه
د کورونو لپاره توږئ (کنئ)،

فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي

نو تاسو د الله نعمتونه یاد کړئ او په ځمکه کې
وراني کوونکي مه ګرځئ، چې

الْاَرْضِ ۝٧٤ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ

فسادیان شئ -74- د هغه په قوم کې
تکبر کوونکو

اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لِلَّذِيْنَ

مشرانو هغو کسانو ته وویل چې
کمزوري کړی شوي وو،

اسْتُضْعِفُوْا لِمَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ

هغه چا ته چې له دوی څخه یې ایمان راوړی و:

اَتَعۡلَمُوۡنَ اَنَّ صٰلِحًا مُّرۡسَلٌ مِّنۡ

ايا تاسو پوهېږئ چي بېشكه صالح د خپل رب له جانبه رالېږل شوى (رسول) دى؟

رَّبِّهٖ ؕ قَالُوۡۤا اِنَّا بِمَاۤ اُرۡسِلَ بِهٖ

هغو (كمزورو) وويل: بېشكه مونږ په هغه څه ايمان لرونكي يو چي په هغه سره هغه (صالح)

مُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۷۵﴾ قَالَ الَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡۤا

رالېږل شوى دى -75- تكبر كوونكو كسانو وويل: بېشكه مونږ په هغه څه

اِنَّا بِالَّذِيۡۤ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ﴿۷۶﴾

چي تاسو پرې ايمان راوړى دى، كفركوونكي يو -76-

فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوۡا عَنۡ اَمۡرِ

نو هغوى د اوښې پښې پرې كړې او د خپل رب له حكم

رَبِّهِمْ وَ قَالُوْا يٰصٰلِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ

نه يې سرکشي وکړه او ويې ويل: اى صالحه! پر مونږ راوله هغه (عذاب) چې ته مونږ په هغه سره

اِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۷۷﴾

وېروې، که چېرې ته له رسولانو څخه يې -77-

فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ

نو دوى سختې زلزلې ونيول، نو شول دوى په خپلو کورونوکې

دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۷۸﴾ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَ

پړمخې مړه پراته -78- نو هغه له دوى نه وګرځېده، او

قَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّيْ

ويې ويل: اى زما قومه! يقينًا يقينًا ما تاسو ته د خپل رب

وَ نَصَحۡتُ لَكُمۡ وَ لٰكِنۡ لَّا تُحِبُّوۡنَ

پېغام درورساوه او ستاسو خيرخواهي مې وکړه او لېکن تاسو نصيحت (خيرخواهي)

النّٰصِحِيۡنَ ۝٧٩ وَ لُوۡطًا اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖۤ

کوونکي نه خوښوئ -79- او (لېږلی و مونږ) لوط کله چې هغه خپل قوم ته وويل:

اَتَاۡتُوۡنَ الۡفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمۡ بِهَا

ايا تاسو داسې بدکار کوئ چې په مخلوقاتو کې هېڅ يو کس له تاسو نه

مِنۡ اَحَدٍ مِّنَ الۡعٰلَمِيۡنَ ۝٨٠ اِنَّكُمۡ

هغه (بدکار) ته ړومبی شوی نه دی -80- بېشکه تاسو

لَتَاۡتُوۡنَ الرِّجَالَ شَهۡوَةً مِّنۡ دُوۡنِ

د شهوت (پوره کولو) لپاره سړيو ته ورځئ، په دې حال کې چې له

النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ

ښځو بېلېږئ، بلكې تاسو له حد نه

مُّسْرِفُوْنَ ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖۤ

تېرېدونكې قوم يئ -81- او د هغه د قوم (بل)
جواب نه

اِلَّاۤ اَنْ قَالُوْۤا اَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ

و سِوا له دې نه چې دا خلق له خپل

قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿٨٢﴾

كلي نه وباسئ، بېشكه دوى داسې خلق دى چې
ځان ډېر پاك ساتي -82-

فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۖؗ كَانَتْ

نو مونږ هغه ته او د هغه خاندان ته نجات وركړ؛ د
هغه له ښځې نه سِوا، هغه په

مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ

پاتې کېدونکو کې وه -83- او مونږ پر هغوی باندې ناشنا باران

مَّطَرًا ۗ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

ووراوه، نو ته وګوره چې د مجرمانو انجام

ع
17

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ

څنګه و؟ -84- او (لېږلی و مونږ) مدین ته د هغوی ورور

شُعَيْبًا ۗ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

شعیب، هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ،

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۗ قَدْ جَآءَتْكُمْ

تاسو لپاره له هغه نه سوا (بل) هېڅ حق معبود نشته، یقینًا تاسو ته

بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَ

د خپل رب له جانبه ښکاره دليل راغلى دى، نو تاسو پېمانه او

الْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ

تول پوره كوئ او خلقو ته د هغوى شيان

اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ

كم مه وركوئ او په ځمكه كې ورانى مه كوئ، د هغې

بَعْدَ اِصْلَاحِهَا ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ

له اصلاح نه پس، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي، كه چېرې تاسو

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ﴿۸۵﴾ وَلَا تَقْعُدُوْا

ايمان راوړونكي يئ -85- او تاسو په هره

بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ وَ تَصُدُّوْنَ

لار كې مه كېنئ، چې تاسو (خلق) وېروئ او تاسو د

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ وَ

الله له لارې نه هغه څوك منع كوئ چې په هغه (الله) ايمان راوړي او

تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ وَ اذْكُرُوْٓا اِذْ كُنْتُمْ

تاسو په هغې كې كوږوالى لټوئ او تاسو هغه وخت ياد كړئ كله چې تاسو

قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ ۠ وَ انْظُرُوْا كَيْفَ

ډېر لږ وئ، نو هغهٔ تاسو ډېر كړئ او تاسو وګورئ چې د

كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَ اِنْ كَانَ

ورانكارو انجام څنګه و؟ -86- او كه په تاسو

طَآئِفَةٌ مِّنْكُمْ اٰمَنُوْا بِالَّذِیْٓ اُرْسِلْتُ

کې یوه ډله داسې ده چې په هغه شي یې ایمان راوړی دی چې زه ورسره رالیږل شوی

بِهٖ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ یُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا

یم او بلې ډلې ایمان نه دی راوړی، نو تاسو صبر کوئ تر دې

حَتّٰی یَحْكُمَ اللّٰهُ بَیْنَنَا ۚ وَهُوَ خَیْرُ

چې الله زمونږ په مینځ کې فیصله وکړي او هغه تر ټولو بهتر فیصله

الْحٰكِمِیْنَ ﴿۸۷﴾

کوونکی دی -87-

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ

د هغه له قوم څخه کبرجنو مشرانو وویل:

قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ یٰشُعَیْبُ وَ الَّذِیْنَ

ای شعیبه! خامخا لازمًا به مونږ تا او هغه کسان چې له تا سره یې

اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْیَتِنَاۤ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ

ایمان راوړی دی؛ له خپل کلي نه وباسو، یا به تاسو خامخا لازمًا زمونږ دین ته

فِیْ مِلَّتِنَاؕ قَالَ اَوَ لَوْ كُنَّا كٰرِهِیْنَ ﴿۸۸﴾ۚ

راګرځئ، هغه وویل: ایا اګر که مونږ (دا) بدګڼونکي یو -88-

قَدِ افْتَرَیْنَا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا

یقینًا مونږ به په الله باندې سخت دروغ تپلي وي که مونږ

فِىۡ مِلَّتِكُمۡ بَعۡدَ اِذۡ نَجّٰنَا اللّٰهُ مِنۡهَا ؕ

ستاسو دين ته در وگرځو وروسته له دې چې مونږ ته الله له هغه

وَمَا يَكُوۡنُ لَنَاۤ اَنۡ نَّعُوۡدَ فِيۡهَاۤ اِلَّاۤ اَنۡ

نه خلاصى راكړ، او مونږ ته دا حق نشته چې هغه ته وگرځو مگر دا چې

يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ؕ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَىۡءٍ

زمونږ رب الله (څه) وغواړي، زمونږ رب هر شى په

عِلۡمًا ؕ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلۡنَا ؕ رَبَّنَا افۡتَحۡ

(خپل) علم كې راگېر كړى دى، خاص په الله باندې مونږ توكل كړى دى، اى زمونږه ربه! ته

بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ قَوۡمِنَا بِالۡحَقِّ وَاَنۡتَ

زمونږ په مينځ كې او زمونږ د قوم په مينځ كې په حقه سره فيصله وكړه او ته

خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ﴿٨٩﴾ وَ قَالَ الْمَلَاُ

تر ټولو غوره فيصله کوونکی يې -89- او د هغه له قومه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَىِٕنِ

کافرو مشرانو وويل: يقينًا که چېرې تاسو

اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا اِنَّكُمْ اِذًا

د شعيب تابعداري وکړه، بېشکه تاسو به په دغه وخت کې خامخا له

لَّخٰسِرُوْنَ ﴿٩٠﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ

تاوانيانو څخه يئ -90- نو دوی زلزلې ونيول،

فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٩١﴾

نو دوی شول په خپلو کورونو کې پړمخې (مړه) پراته -91-

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا

هغه كسان چې شعيب يې دروغجن گڼلی و، (داسې هلاك شول) لكه چې دوی

فِيْهَا ۛۚ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا

په دغو (كورونو) كې ببخي اباد نه وو، هغه كسان چې شعيب يې دورغجن گڼلی و،

هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٩٢﴾ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَ

هم هغوی تاوانيان وو -92- نو دی له هغوی نه وگرځېده او

قَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ

ويې ويل: ای زما قومه! يقينًا يقينًا ما تاسو ته د خپل رب

وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ اٰسٰى عَلٰى

پېغامونه دروسول او ستاسو خيرخواهي مې وكړه، نو زه څنگه په كافر قوم باندې

ع
1

قَوۡمٍ كٰفِرِيۡنَ ﴿۹۳﴾ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا فِىۡ قَرۡيَةٍ

افسوس وكړم -93- او مونږ په هېڅ يو كلي كې
هېڅ

مِّنۡ نَّبِىٍّ اِلَّاۤ اَخَذۡنَاۤ اَهۡلَهَا بِالۡبَاۡسَآءِ وَ

يو نبي نه و لېږلی مگر دا چې مونږ به د هغه
(كلي) اوسېدونكي په سختۍ او

الضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَضَّرَّعُوۡنَ ﴿۹۴﴾ ثُمَّ

تكليف كې ونيول، د دې لپاره چې دوی (الله ته)
زاري وكړي -94- بيا

بَدَّلۡنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الۡحَسَنَةَ حَتّٰى

مونږ د بدۍ په ځای خوشحالي په بدل كې
وركړه، تر دې چې

عَفَوۡا وَّقَالُوۡا قَدۡ مَسَّ اٰبَآءَنَا

دوی ډېر شول او ويې ويل: يقينًا زمونږ پلرونو ته
(هم) زمونږ په

الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً

شان تکلیف او خوشحالي رسېدلې وه، نو مونږه دوی ناڅاپه راونیول

وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٩٥﴾ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ

او دوی شعور نه لاره -95- او که چېرې د کلیو

الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا

اوسېدونکو ایمان راوړی وَی او پرهېزګاره شوي وَی

عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَ

(، نو) مونږ به خامخا په دوي باندې د اسمان او

الْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا

ځمکې نه برکتونه پرانستلي وی او لېکن دوی تکذیب وکړ، نو مونږ دوی د هغو عملونو په سبب

كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۶﴾ اَفَاَمِنَ اَهْلُ

ونیول چې دوی کول -96- ایا د کلیو
اوسېدونکي له دې

الْقُرٰٓی اَنْ یَّاْتِیَهُمْ بَاْسُنَا بَیَاتًا وَّ

نه بې غمه شوي دي چې په دوی باندې زمونږ
عذاب د شپې راشي، په داسې حال کې

هُمْ نَآىِٕمُوْنَ ﴿۹۷﴾ اَوَ اَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓی

چې دوی ویده وي -97- ایا د کلیو اوسېدونکي
له دې

اَنْ یَّاْتِیَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًی وَّ هُمْ

نه بې غمه شوي دي چې په دوی باندې زمونږ
عذاب په څاښت کې راشي، په داسې حال کې

یَلْعَبُوْنَ ﴿۹۸﴾ اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا

چې دوی لوبې کوي -98- ایا نو دوی د الله له
مکر (پټ تدبیر) نه

يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ

بې وېرې دي، پس د الله له مکر نه يوائې تاواني
خلق

ع
2

الْخٰسِرُوْنَ ﴿٩٩﴾ اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ

بې وېرې کېږي -99- او ايا ښرګنده شوې نه ده
هغو کسانو ته

يَرِثُوْنَ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ اَهْلِهَآ اَنْ

چې د ځمکې له (مخکينو) اوسېدونکو نه وروسته
دوی د هغې وارثان ګرځي دا

لَّوْ نَشَآءُ اَصَبْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ ۚ وَ

چې که مونږ غوښتلی (، نو) مونږ به دوی ته د
دوی د ګناهونو په وجه سزا ورکړې وَی او

نَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا

مونږ به د دوی په زړونو باندې مهر ولګوو، بيا به

يَسْمَعُوْنَ ۝١٠٠ تِلْكَ الْقُرٰى نَقُصُّ

دوی (هېڅ) نهويني -100- دغه کلي دي چې مونږ يې

عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ

تا ته څه خبرونه بيانوو، او يقينًا يقينًا دوی ته خپلو

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا

رسولانو ښکاره معجزې راوړې وې، نو دوی کله هم داسې نه وو چې په هغه څه ايمان راوړي

بِمَا كَذَّبُوْا مِنْ قَبْلُ ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ

د څه چې يې مخکې تکذيب کړی و، همدارنګه

اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الْكٰفِرِيْنَ ۝١٠١ وَمَا

الله د کافرانو په زړونو باندې مهر لګوي -101- او مونږ

وَجَدْنَا لِاَكْثَرِهِمْ مِّنْ عَهْدٍ ۚ وَاِنْ

په دوی کې د زياترو هېڅ وعده نه ده موندلې
(چې دوی پرې وفا کړې وي) او بېشکه مونږ د

وَّجَدْنَآ اَكْثَرَهُمْ لَفٰسِقِيْنَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ

دوی زياتره لازمًا نافرمان (وعده ماتوونکي)
موندلي دي -102- بيا

بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى

وروسته له دوی نه مونږ فرعون او د هغه سردارانو
ته موسٰی ولېږه له

فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَظَلَمُوْا بِهَا ۚ فَانْظُرْ

خپلو ايتونو (معجزو) سره، نو هغوی په دې
(ايتونو) سره ظلم وکړ،

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٠٣﴾ وَ

نو ته وګوره د ورانکارو انجام څنګه شو؟ -103-
او

قَالَ مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ اِنِّىْ رَسُوْلٌ مِّنْ

موسٰی وویل: ای فرعونه! بېشکه زه د رب العلمین له

رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٠٤ حَقِيْقٌ عَلٰٓى اَنْ لَّآ

جانبه رسول یم -104- ټینګ ولاړ (یم) په دې خبره چې

اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ؕ قَدْ

نه وایم پر الله مګر حقه خبره، یقینًا ما تاسو

جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ

ته د خپل رب له جانبه ښکاره معجزه راوړې ده، نو ته زما سره

مَعِىَ بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝١٠٥ قَالَ اِنْ

بني اسرائیل خوشې کړه (ولېږه) -105- وویل (فرعون)

كُنتَ جِئْتَ بِاٰيَةٍ فَاْتِ بِهَآ اِنْ كُنْتَ

که چېرې تا کومه نښه راوړې وي، نو هغه راوړاندې کړه، که چېرې ته له

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٠٦﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا

رښتينو څخه يې -106- نو هغه خپله اَمسا وغورځوله، نو ناڅاپه

هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٠٧﴾ وَّ نَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا

هغه ښکاره اژدها وه -107- او خپل لاس يې راوښکه، نو ناڅاپه هغه

ع 3

هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٠٨﴾ قَالَ الْمَلَاُ

د کتونکو لپاره تك سپين و -108- د فرعون د قوم

مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ

مشرانو وويل: بېشکه دا خامخا ډېر پوه

عَلِيْمٌ ﴿۱۰۹﴾ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ

جادوګر دی -109- دا غواړي چې تاسو له خپلې

اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ قَالُوْٓا

ځمکې نه وباسي، نو تاسو څه حکم کوئ -110- (خلقو) وويل:

اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ

ته ده ته او د ده ورور ته مهلت ورکړه او په ښارونو کې

حٰشِرِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ

راټولوونکي ولېږه -111- چې تا ته هر ښه پوه

عَلِيْمٍ ﴿۱۱۲﴾ وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ

جادوګر راولي -112- او جادوګر فرعون ته راغلل، ويې ويل:

قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ

بېشکه زمونږ لپاره به لازمًا اجرت وي که چېرې همدا مونږ غلبه

الْغٰلِبِيْنَ ﴿١١٣﴾ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ

موندونکي شو -113- (فرعون) وويل: هو! يقينًا لازمًا تاسو به له

الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿١١٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ

مقربينو څخه يئ -114- (جادوگرو) وويل: اى موسٰى! يا ته (امسا)

تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ

وغورځوه او يا به همدا مونږ (خپلو رسيو او امساگانو لره)

الْمُلْقِيْنَ ﴿١١٥﴾ قَالَ اَلْقُوْا ۚ فَلَمَّآ اَلْقَوْا

غورځوونکي يو -115- ويې ويل: تاسو يې وغورځوئ، نو کله

سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِ وَ

چې هغوی وغورځولې (، نو) د خلقو پر سترګو يې جادو وکړ او

اسْتَرْهَبُوْهُمْ وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ

هغوی يې ښه ووېرول او ډېر لوی جادو

عَظِيْمٍ ﴿١١٦﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ

يې وکړ -116- او مونږ موسٰی ته وحي وکړه چې

اَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا

خپله امسا وغورځوه، نو ناڅاپه هغې هغه څه ښوی تېرول چې هغوی

يَاْفِكُوْنَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا

به جوړول -117- نو حق ثابت شو او هغه څه باطل شول چې

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَ

هغوى به كول -118- نو دوى (ساحران) په دغه ځاى كې مغلوب شول او دوى

انْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ وَ اُلْقِيَ السَّحَرَةُ

ذليله سپك وګرځېدل -119- او (جادوګر) وغورځول شول، په دې حال كې چې

سٰجِدِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ

سجده كوونكي وو -120- ويې ويل: مونږ په رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَ هٰرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾

العلمين ايمان راوړ -121- د موسٰى او د هارون په رب -122-

قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ قَبْلَ اَنْ

فرعون وويل: تاسو په ده ايمان راوړ مخكې له دې نه

اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ

چې زه تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دا لازمًا يو مکر (سازش) دی چې

فِى الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ اَهْلَهَا ۚ

تاسو په دې ښار کې (دا) مکر کړی دی، د دې لپاره چې تاسو له دې (ښار) نه د هغه اوسېدونکي

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٢٣﴾ لَاُقَطِّعَنَّ

وباسئ، نو ژر به تاسو پوه شئ -123- خامخا لازمًا به زه

اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ

ستاسو لاسونه او ستاسو پښې ادلې بدلې غوڅې کړم، بيا به خامخا لازمًا

لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اِلٰى

تاسو ټول په دار کړم -124- وويل (جادوګرو): بېشکه مونږ د خپل رب په طرف

رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ اِلَّآ

بېرته ورتلونکي يو -125- او ته بدي نه ګڼې
زمونږ نه (هيڅ عمل)

اَنْ اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ؕ رَبَّنَآ

سوا له دې نه چې مونږ د خپل رب په ايتونو ايمان
راوړی دی، کله چې دا (ايتونه) مونږ ته راغلل،

اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا

ای زمونږه ربه! ته پر مونږ باندې صبر راتوی کړه
او مونږ ته وفات راکړه، په داسې حال کې چې

ع 4

مُسْلِمِيْنَ ﴿١٢٦﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ

مسلمانان يو -126- او د فرعون د قوم مشرانو

فِرْعَوْنَ اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ

(فرعون ته) ووېل: ايا ته موسٰی او د هغه قوم د

لِيُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَيَذَرَكَ وَ

دي لپاره (ازاد) پرېږدي چې په ځمکه کې وراني وکړي او

اٰلِهَتَكَ ؕ قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَ

تا او ستا معبودان پرېږدي، وويل (فرعون): ژر به مونږ د دوی زامن ووژنو او

نَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّا فَوْقَهُمْ

د دوی ښځې (جينکۍ) به ژوندۍ پرېږدو او بېشکه مونږ د دوی له پاسه

قٰهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ

زورَور يو -127- موسٰی خپل قوم ته وويل:

اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ۚ اِنَّ

تاسو له الله نه مدد وغواړئ او صبر کوئ، بېشکه

الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ۫ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ

ځمكه د الله لپاره ده، هغه په خپلو بنده ګانو كې
هغه څوك د دې وارث ګرځوي چې يې وغواړي او

عِبَادِهٖ ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ قَالُوْۤا

ښه انجام د پرهېزګارانو لپاره دی -128- (بني
اسرائيلو) وويل:

اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا وَمِنْۢ

مونږ ته تكليف رسول شوى دى، مخكې له دې
چې ته مونږ ته راشې او وروسته له دې چې ته

بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ

مونږ ته راغلې. (موسٰى) وويل: امېد دى چې
ستاسو رب به

يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى

ستاسو دښمن هلاك كړي او تاسو به په ځمكه
كې خليفګان

ع
5

الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ وَ

(ځای ناستي) جوړ کړي، بيا به هغه ګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ؟ -129- او

لَقَدْ اَخَذْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ وَ

يقينًا يقينًا مونږه فرعونيان په وچکالۍ سره او

نَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ

د ميوو په کم والي سره نيولي وو، د دې لپاره چې دوی

يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ

نصيحت ومني -130- نو کله چې به په دوی خوشحالي راغله،

قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ

ويل به يې: هم زمونږ لپاره دا ده او که چېرې په دوی به څه تکليف راغی،

يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى وَ مَنْ مَّعَهٗ ؕ اَلَآ اِنَّمَا

نو بدفالي به يې په موسٰی او په هغه چا چې له هغه سره وو؛ نيوله، خبردار!

طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

بېشکه خبره همدا ده چې د دوی بدفالي له الله سره ده او لېکن د دوی

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَ قَالُوْا مَهْمَا تَاْتِنَا بِهٖ

زياتره نه پوهېږي -131- او دوی به (موسٰی ته) ويل: ته چې مونږ ته هر

مِنْ اٰيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا ۙ فَمَا نَحْنُ لَكَ

قسمه نښه راوړې؛ د دې لپاره چې په هغې سره ته په مونږه جادو وکړې، نو مونږه په تا باندې کله هم

بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۲﴾ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ

ايمان راوړونکي نه يو -132- نو مونږه په دوی باندې (وار په وار)

الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَ

طوفان، او ملخان او سپږې او

الضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ قف

چيندخې او وينه راولېږله، چې بېلې بېلې نښې وې،

فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا

بيا هم هغوى تکبر وکړ او هغوى مجرم

مُّجْرِمِيْنَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ

قوم وو -133- او کله چې په دوى باندې

الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا

عذاب راپرېوت (، نو) ويې ويل: اى موسٰى: ته زمونږ لپاره له خپل رب نه دعا وغواړه په

عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا

هغه څه سره چې له تا سره يې وعده کړې ده، يقيناً
که ته زمونږ

الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ

نه عذاب لرې کړې، مونږ به خامخا لازمًا په تا
ايمان راوړو او خامخا لازمًا به له تا

مَعَكَ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ۚ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا

سره بني اسرائيل ولېږو (خوشې کړو) -134- نو
کله چې به مونږ

عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُمْ بَٰلِغُوهُ

له دوی نه عذاب لرې کړ تر هغې مودې پورې
چې دوی هغې ته رسېدونکي وو،

إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ ﴿١٣٥﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ

ناڅاپه به دوی وعده ماته کړه -135- نو مونږ له
دوی نه انتقام

فَاَغْرَقْنٰهُمْ فِی الْیَمِّ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا

واخیست، پس په سمندر کې مو غرق کړل، ځکه
چې یقینًا هغوی زمونږ

بِاٰیٰتِنَا وَ كَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِیْنَ ﴿۱۳۶﴾

د ایتونو تکذیب کړی و او له هغو نه غافله وو -
-136

وَ اَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِیْنَ كَانُوْا

او مونږه هغه خلق چې ضعیفه کولی شول

یُسْتَضْعَفُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَ

د ځمکې د مشرقي اړخونو او د هغې

مَغَارِبَهَا الَّتِیْ بٰرَكْنَا فِیْهَا ؕ وَ تَمَّتْ

د مغربي اړخونو وارثان وګرځول، هغه (اړخونه)

كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيْٓ

چې مونږ په هغو کې برکت اچولی دی، او ستا
د رب ډېره ښه کلمه په

اِسْرَآءِيْلَ ۙ بِمَا صَبَرُوْا ؕ وَ دَمَّرْنَا

بني اسرائيلو باندې تمامه شوه، د دوی د صبر
کولو په

مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَ قَوْمُهٗ وَ مَا

سبب او مونږه تباه کړې هغه (ودانۍ) چې فرعون
او د هغه قوم به جوړولې او هغه

الربع

كَانُوْا يَعْرِشُوْنَ ﴿١٣٧﴾ وَ جٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ

چې دوی به لوړولې -137- او مونږه بني اسرائيل

اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ

په سمندر پورې اېستل، نو دوی په داسې قوم
راغلل چې

يَّعْكُفُوْنَ عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا

د خپلو بتانو په عبادت قايم وو، وويل (بني اسرائيلو:)

يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ

اى موسٰى! مونږ لپاره (هم) داسې معبود جوړ کړه، لکه څنګه چې د دوى لپاره

اٰلِهَةٌ ۗ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿١٣٨﴾

معبودان دي، (موسٰى) وويل: بېشکه تاسو داسې قوم يئ چې جهالت کوئ -138-

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ

بېشکه دا خلق (چې دي) تباه دى هغه (دين) چې دوى په هغه کې دي او باطل دي

مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٩﴾ قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ

هغه عملونه چې دوى يې کوي -139- (موسٰى) وويل: ايا زه تاسو ته

اَبۡغِیۡکُمۡ اِلٰـهًا وَّ هُوَ فَضَّلَکُمۡ عَلَی

له الله نه سِوا معبود ولټوم، حال دا چې هغه (الله) تاسو په عالمونو باندې

الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۱۴۰﴾ وَ اِذۡ اَنۡجَیۡنٰکُمۡ مِّنۡ اٰلِ

غوره کړي يئ -140- او کله چې مونږ تاسو ته له

فِرۡعَوۡنَ یَسُوۡمُوۡنَکُمۡ سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ ۚ

فرعونيانو نه نجات درکړ، چې تاسو ته به يې سخت عذاب دررساوه،

یُقَتِّلُوۡنَ اَبۡنَآءَکُمۡ وَ یَسۡتَحۡیُوۡنَ

چې ستاسو زامن به يې وژل او ستاسو

نِسَآءَکُمۡ ؕ وَ فِیۡ ذٰلِکُمۡ بَلَآءٌ مِّنۡ

ښځې (لوڼه) به يې ژوندۍ پرېښودلې او په دې کې ستاسو د رب له جانبه

ع
6

رَبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿۱۴۱﴾ وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى

ډېر لوی ازمېښت و -141- او مونږ له موسٰی سره

ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ

د دېرشو شپو وعده وکړه او مونږ هغه په لسو (نورو) سره پوره کړې،

مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ

نو ستا د رب ټاکلې موده څلوېښت ورځې پوره شوه، او

مُوْسٰى لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ اخْلُفْنِىْ فِىْ

موسٰی خپل ورور هارون ته وويل: ته زما په قوم کې زما

قَوْمِىْ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ

نايب جوړ شه او اصلاح کوه او د ورانکارو د لارې

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ وَلَمَّا جَآءَ مُوْسٰى

پیروي مه کوه -142- او کله چې موسٰی زمونږ

لِمِيْقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ

ټاکلي وخت ته راغی او خپل رب يې ورسره خبرې وکړې، ويې ويل: ای زما ربه! ته ما ته

اَنْظُرْ اِلَيْكَ ؕ قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ وَلٰكِنِ

(خپل ځان) وښيه چې زه تا ووينم، وويل: (رب:) ته به ما (په دنيا کې) له سره ونه ويني او لېکن

انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ

ته غر ته وګوره، نو که چېرې هغه په خپل ځای ثابت پاتې شو،

فَسَوْفَ تَرٰىنِيْ ۚ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ

نو ژر ده چې ته به ما ووينې، نو کله چې خپل رب يې غر ته تجلي وکړه (، نو)

لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّ خَرَّ مُوْسٰى

هغه يې ذرې ذرې وګرځاوه او موسٰی بېخوده پرېوتلو،

صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ

نو کله چې په خود شو، ويې ويل: زه ستا پاکي بيانوم،

تُبْتُ اِلَيْكَ وَ اَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٤٣﴾

ما تا ته توبه وښکله او زه تر ټولو اول ايمان راوړونکی يم -143-

قَالَ يٰمُوْسٰۤى اِنِّى اصْطَفَيْتُكَ عَلَى

وويل: (الله:) ای موسٰی! بېشکه ما تا ته په ټولو

النَّاسِ بِرِسٰلٰتِىْ وَ بِكَلَامِىْ ۖ فَخُذْ مَآ

خلقو باندې په خپلو پيغامونو سره او په خپل کلام سره غوره

اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾

والى درکړی دی، نو ته هغه څه ونيسه چې ما تا ته درکړي دي، او له شکر کوونکو څخه شه -144-

وَكَتَبْنَا لَهٗ فِي الْاَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ

او مونږ د هغه لپاره په تختيو کې له هر شي نه

مَّوْعِظَةً وَّتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ج

نصيحت او د هر شي تفصيل وليکه، نو ته دا په

فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ قَوْمَكَ يَاْخُذُوْا

قوت سره ونيسه او خپل قوم ته حکم وکړه چې د دې په غوره (احکامو) عمل وکړي،

بِاَحْسَنِهَا ط سَاُورِيْكُمْ دَارَ

ژر به زه تاسو ته د فاسقانو استوګنه

الْفٰسِقِيْنَ ﴿١٤٥﴾ سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ

وښيم -145- عنقريب به زه له خپلو ايتونو

الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ

نه هغه كسان واړوم چې په ځمكه كې ناحقه تكبر ك

الْحَقِّ ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا

وي او كه دوى هره نښه ووينې (، بيا هم) په هغې ايمان نه راوړي

بِهَا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الرُّشْدِ لَا

او كه چېرې دوى د هدايت لار ووينې

يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ

(، نو) هغه خپله لار نه غوره كوي، او كه چېرې د گمراهۍ لار ووينې

الْغَيِّ يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

(، نو) هغه خپله لار گرځوي، دا ځکه چې يقينًا دوى زمونږ

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿١٤٦﴾

د ايتونو تكذيب كړى دى، او دوى له هغو نه غافله وو -146-

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ

او هغه كسان چې زمونږ د ايتونو او د اخرت د

الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ؕ هَلْ

ملاقات تكذيب يې كړى دى، د هغوى عملونه برباد شول، دوى ته به بدله

يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٧﴾ؑ وَ

ع 7

نه وركول كيږي مگر د هغو كارونو چې دوى به كول -147- او

د سورتونو فهرست
د سپارو فهرست

اتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ

د موسٰی قوم د هغه (له تلو) نه پس د خپلو کالیو (زیوراتو) نه مجسم

حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ۭ اَلَمْ

سخی جوړکړ چې د هغه لپاره د سخي اواز و، ایا دوی نه دي

يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ

کتلي چې بېشکه دا (مجسم سخی) نه له دوی سره خبرې کولی شي او نه دوی ته څه

سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿١٤٨﴾

وقف لازم

لار ښودلی شي، دوی دا (معبود) جوړ کړی دی او دوی ظالمان وو -148-

وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا اَنَّهُمْ

او کله چې دوی پښېمانه شول او پوه شول چې یقینًا دوی

د سورتونو فهرست

د سپارو فهرست

قَدۡ ضَلُّوۡا ۙ قَالُوۡا لَئِنۡ لَّمۡ يَرۡحَمۡنَا

گمراه شوي دي، ويې ويل: که چېرې زمونږ

رَبُّنَا وَيَغۡفِرۡ لَنَا لَنَكُوۡنَنَّ مِنَ

رب پر مونږ رحم ونه کړي او مونږ ته بخښنه ونه

کړي (، نو) مونږ به خامخا ضرور له

الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۱۴۹﴾ وَلَمَّا رَجَعَ مُوۡسٰٓى اِلٰى

تاوانيانو څخه شو -149- او کله چې موسٰی خپل

قوم ته بېرته راغی،

قَوۡمِهٖ غَضۡبَانَ اَسِفًا ۙ قَالَ بِئۡسَمَا

چې ډېر غصّه، افسوس کوونکی و، ويې ويل: بد

دی هغه

خَلَفۡتُمُوۡنِىۡ مِنۡۢ بَعۡدِىۡ ۚ اَعَجِلۡتُمۡ

چې له ما نه وروسته تاسو زما ځای ناستی کړی

دی،

اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ

ايا تاسو د خپل رب له حكم نه تلوار وكړ؟ او تختئ يې وغورځولې او

بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗۤ اِلَيْهِ ؕ قَالَ ابْنَ

د خپل ورور سر يې راونيوه، چې هغه يې خپل ځان ته راښكه، هغه وويل: اى زما د

اُمَّ اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِيْ وَكَادُوْا

مور زويه! بېشكه قوم زه كمزورى كړى وم او نژدې وو

يَقْتُلُوْنَنِيْ ۖ فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْاَعْدَآءَ

چې ما ووژني، نو ته په ما باندې دښمنان مه خوشحالوه

وَلَا تَجْعَلْنِيْ مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۰﴾

او ما له ظالم قوم سره مه ملګرى كوه -150-

ع
8

قَالَ رَبِّ اغۡفِرۡ لِیۡ وَلِاَخِیۡ وَاَدۡخِلۡنَا فِیۡ

(موسٰی) وویل: ای زما ربه! ته ما ته بخښنه وکړه
او زما ورور ته او مونږ په

رَحۡمَتِكَ ۖۚ وَاَنۡتَ اَرۡحَمُ الرّٰحِمِیۡنَ ﴿۱۵۱﴾

خپل رحمت کې داخل کړه او ته تر ټولو لوی
مهربان یې -151-

اِنَّ الَّذِیۡنَ اتَّخَذُوا الۡعِجۡلَ

بېشکه هغه کسان چې سخی یې (معبود) نیولی
دی،

سَیَنَالُهُمۡ غَضَبٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ وَذِلَّةٌ

ژر به دوی ته د خپل رب له جانبه غضب
ورسېږي او

فِی الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا ؕ وَکَذٰلِكَ نَجۡزِی

په دنیایي ژوند کې ذلت او همدارنګه مونږ بهتان
تړونکو ته

الْمُفْتَرِيْنَ ﴿۱۵۲﴾ وَ الَّذِيْنَ عَمِلُوا

سزا ورکوو -152- او هغه کسان چې بد کارونه

السَّيِّاٰتِ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِهَا وَ

یې کړي دي، بیا یې له هغو نه وروسته توبه وېستلې ده او

اٰمَنُوْٓا اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ

ایمان یې راوړی دی، بېشکه ستا رب له دې (توبې) نه پس خامخا ډېر بخښونکی، بې حده

رَّحِيْمٌ ﴿۱۵۳﴾ وَ لَمَّا سَكَتَ عَنْ مُّوْسَى

مهربان دی -153- او کله چې د موسٰی غصه سړه شوه،

الْغَضَبُ اَخَذَ الْاَلْوَاحَ ۚۖ وَ فِيْ نُسْخَتِهَا

تختۍ یې راواخیستلې او د هغو په لیك کې هدایت او رحمت و د

هُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ

هغو كسانو لپاره چې هغوی يواځې له خپل رب نه

يَرْهَبُوْنَ ﴿١٥٤﴾ وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ

وېرېږي -154- او موسٰی له خپل قوم نه

سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا ۚ فَلَمَّآ

اويا كسان زمونږ د مقرر كړي وخت لپاره غوره كړل،

اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ

نو كله چې هغوی زلزلې ونيول، وويل (موسٰی:) ای زما ربه! كه چېرې تا غوښتلی،

اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ؕ اَتُهْلِكُنَا

تا به دوی مخكې هلاك كړي و او زه (هم)، ايا ته مونږه د هغه كار په وجه هلاكوې

بِمَا فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّاۚ اِنْ هِيَ اِلَّا

چې پر مونږ کې بېوقوفو کړې دی؟ نه دي دا مګر

فِتْنَتُكَؕ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَآءُ وَ

ستا ازمايل، ته په دې سره ګمراه کوې چا لره چې
ته وغواړې او

تَهْدِيْ مَنْ تَشَآءُؕ اَنْتَ وَلِيُّنَا

په نېغه لار روانوې چا لره چې وغواړې، ته زمونږ
کارساز يې،

فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ

نو ته مونږ ته بخښنه وکړه او پر مونږ رحم وکړه او
ته تر ټولو غوره

الْغٰفِرِيْنَ ﴿۱۵۵﴾ وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ

بخښونکی يې -155- او ته زمونږ لپاره په

الدُّنۡيَا حَسَنَةً وَّفِى الۡاٰخِرَةِ اِنَّا

دې دنيا کې ښېګڼه وليکه او په اخرت کې هم، بېشکه

هُدۡنَاۤ اِلَيۡكَ‌ؕ قَالَ عَذَابِىۡۤ اُصِيۡبُ بِهٖ

مونږه تا ته رجوع کړې ده، وويل (الله:) زه خپل عذاب رسوم چا

مَنۡ اَشَآءُ‌ ۚ وَرَحۡمَتِىۡ وَسِعَتۡ كُلَّ

ته چې وغواړم او زما رحمت هر شي لره راګېر کړی دی،

شَىۡءٍ‌ؕ فَسَاَكۡتُبُهَا لِلَّذِيۡنَ يَتَّقُوۡنَ وَ

نو ژر به زه وليکم دا (رحمت) د هغو کسانو لپاره چې پرهېزګاره دي او

يُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيۡنَ هُمۡ بِاٰيٰتِنَا

زکات ادا کوي او هغه کسان چې هغوی زمونږ په ايتونو

يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۵۶﴾ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ

ايمان لري -156- هغه کسان چې د اُمي

الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ

رسول (او) نبي پيروي کوي هغه

يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي

چې دوی يې له خپل ځان سره په

التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ يَاْمُرُهُمْ

تورات او انجيل کې ليکلی مومي، دوی

بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ

ته د نېکۍ حکم کوي او دوی له بدۍ نه منع
کوي او

يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَ يُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ

دوی ته پاکيزه ښيزونه حلالوي او په دوی باندې

الْخَبٰٓئِثَ وَ يَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَ

خبيث ښيزونه حراموي او له دوی نه د دوی درانه بارونه لرې کوي او

الْاَغْلٰلَ الَّتِیْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ ؕ فَالَّذِيْنَ

هغه قيدونه چې په دوی وو، نو هغه کسان چې په ده

اٰمَنُوْا بِهٖ وَ عَزَّرُوْهُ وَ نَصَرُوْهُ وَ اتَّبَعُوا

يې ايمان راوړ او د ده ادب يې وکړ او د ده مدد يې وکړ او د هغې

النُّوْرَ الَّذِیْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ

رڼا پيروي يې وکړه چې له ده سره نازله کړی شوې ده، همدغه کسان

ع
9

الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ

كامياب دي -157- ته ووايه: اى خلقو! بېشكه زه ستاسو

رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعَا ﹰالَّذِيْ لَهٗ

د ټولو په طرف د الله (رالېږل شوى) رسول يم، هغه (الله) چې خاص د

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا

هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، نشته دى هيڅ حق معبود مگر هغه دى،

هُوَ يُحْيٖ وَ يُمِيْتُ ۠ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ

ژوندي كول كوي او مرگ وركوي، نو تاسو په الله او د

رَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ

هغه په رسول ايمان راوړئ چې نبي دى، امي دى، هغه چې په

بِاللّٰهِ وَ كَلِمٰتِهٖ وَ اتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ

الله او د هغه په کلماتو ایمان لري او تاسو د هغه پیروي وکړئ، د دې لپاره چې تاسو

تَهْتَدُوْنَ ۝١٥٨ وَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰۤى اُمَّةٌ

هدایت ومومئ -158- او د موسٰی په قوم کې یو ډله ده چې

يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَ بِهٖ يَعْدِلُوْنَ ۝١٥٩

په حقه سره لار ښیي او په دې (حق) سره انصاف کوي -159-

وَ قَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا

او مونږ دغه بني اسرائیل بېل بېل کړل دولس قبیلې،

اُمَمًا ؕ وَ اَوْحَيْنَاۤ اِلٰى مُوْسٰۤى اِذِ

ډلې ډلې او مونږ موسٰی ته وحي وکړه، کله چې له

اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗٓ اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ

هغه نه خپل قوم اوبه وغوښتې، چې ته په خپلې امسا سره

الْحَجَرَ ۚ فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا

کانړی ووهه، نو له هغه نه دولس چينې

عَشْرَةَ عَيْنًا ۭ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ

جاري شوې، تحقيق ټولو خلقو خپل خپل

مَّشْرَبَهُمْ ۭ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ

گودر وپېژنده او مونږ پر هغوی باندې وريځ سيوری کړه

وَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۭ

او پر هغوی باندې مو "مَنْ" او "سَلْوٰی" نازل کړل،

كُلُوا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا

تاسو د هغو پاکيزه ښيزونو نه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي او دوی

ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

پر مونږ ظلم نه و کړی او لېکن دوی خاص په خپلو ځانونو

يَظْلِمُوْنَ ﴿١٦٠﴾ وَاِذْ قِيْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا

ظلم کاوه -160- او کله چې دوی ته وويل شول

هٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ

چې تاسو په دې کلي کې اوسئ او له دې (کلي) نه خوراك کوئ

شِئْتُمْ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ

کوم ځای چې مو خوښه شي، او تاسو وايئ: وبخښه (زمونږ گناهونه) او په دروازه کې

سُجَّدًا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡ ؕ

سجده کوونکي داخل شئ، مونږ به ستاسو
ګناهونه وبخښو، ژر به

سَنَزِيۡدُ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۝١٦١ فَبَدَّلَ

مونږ نېکي کوونکو ته نور زيات (ثواب) ورکړو -
161- نو هغو

الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ الَّذِىۡ

کسانو چې ظلم يې کړی و، هغه خبره چې دوی
ته ويل شوې وه په بل شان بدله کړه،

قِيۡلَ لَهُمۡ فَاَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزًا

نو مونږه پر هغوی باندې له اسمان نه
عذاب

ع
10

مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوۡا يَظۡلِمُوۡنَ ۝١٦٢ ع

راولېږه، په سبب د هغه ظلم چې دوی به کاوه -
-162

وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ الۡقَرۡيَةِ الَّتِيۡ كَانَتۡ

او ته له دوی نه د هغه کلي په باره کې تپوس وکړه

حَاضِرَةَ الۡبَحۡرِ ۘ اِذۡ يَعۡدُوۡنَ فِي

چې د سمندر په غاړه و، کله چې به دوی د

السَّبۡتِ اِذۡ تَاۡتِيۡهِمۡ حِيۡتَانُهُمۡ يَوۡمَ

خالي په ورځ له حد نه تېربدل، کله چې به دوی ته د دوی

سَبۡتِهِمۡ شُرَّعًا وَّيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُوۡنَ ۙ

د خالي په ورځ خپل کبان ښکاره راتلل، او په هغې ورځ کې چې دوی به په خالي کې نه وو

لَا تَاۡتِيۡهِمۡ ۛۚ كَذٰلِكَ ۛۚ نَبۡلُوۡهُمۡ بِمَا

داخل (، نو) دوی ته به نه راتلل، همدارنګه مونږه دوی ازمايو، په سبب د هغې نافرمانۍ

وقف لازم

النصف

كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ

چې دوی به کوله -163- او کله چې په دوی کې يوې ډلې وويل:

مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللَّهُ

ولې تاسو داسې قوم ته نصيحت کوئ چې الله د هغه

مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا

هلاکوونکی دی، يا هغه ته ډېر سخت عذاب

شَدِيدًا ۖ قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَ

ورکوونکی دی؟ هغوی وويل: خپل رب ته د عذر وړاندې کولو لپاره او د دې لپاره

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُوا مَا

چې دوی پرهېزګاره شي -164- نو کله چې دوی هغه (دين)

ذُكِّرُوْا بِهٖٓ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ

پرېښوده چې په هغه سره ورته نصيحت شوى و،
مونږ هغو كسانو ته نجات وركړ

عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

چې له بدۍ نه يې منع كوله او په ډېر سخت
عذاب سره مو هغه كسان راونيول چې ظلم يې

بِعَذَابٍۭ بَـِٔيْسٍۭ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٥﴾

كړى و، په سبب د هغې نافرمانۍ چې دوى به
كوله -165-

فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا

نو كله چې دوى سركشي وكړه له هغه څه نه چې
ترې منع شوي وو،

لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿١٦٦﴾ وَاِذْ

مونږ دوى ته وويل: تاسو ذليله شادوګان شئ -
-166- او كله چې

تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ

ستا رب اعلان وکړ چې خامخا ضرور به په دوی باندې د

الْقِيٰمَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْٓءَ

قيامت د ورځې پورې داسې څوك مسلط كوي چې دوی ته به سخت

الْعَذَابِ ؕ اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖۚ

عذاب رسوي، بېشکه ستا رب خامخا ډېر تېز عذاب والا دی او بېشکه هغه خامخا ډېر

وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنٰهُمْ فِى

بخښونکی، بې حده مهربان دی -167- او مونږه دوی په

الْاَرْضِ اُمَمًا ۚ مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ وَ

ځمکه کې بېل بېل کړل، څو ډلې، ځينې له دوی نه نېکان دي او

مِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ ۖ وَ بَلَوْنٰهُمْ

خينې له دوی نه راکم دي، او مونږ دوی په

بِالْحَسَنٰتِ وَ السَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ

نعمتونو او تکليفونوسره وازمايل، د دې لپاره چې دوی

يَرْجِعُوْنَ ﴿١٦٨﴾ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

راوګرځي (الله ته) -168- نو له دوی نه وروسته داسې

خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَأْخُذُوْنَ عَرَضَ

نالايقه خلق د دوی ځای ناستي شول، چې د کتاب وارثان شول، چې

هٰذَا الْاَدْنٰى وَ يَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ وَ

د دې ډېر خسيسې (دنيا) سامان اخلي او (بيا هم) وايي: ژر به مونږ ته بخښنه وشي او

اِنۡ يَّاۡتِهِمۡ عَرَضٌ مِّثۡلُهٗ يَاۡخُذُوۡهُ ؕ

که چېرې دوی ته د دې په مثل سامان راشي (،
نو) هغه (هم) اخلي،

اَلَمۡ يُؤۡخَذۡ عَلَيۡهِمۡ مِّيۡثَاقُ الۡكِتٰبِ

ایا له دوی نه په کتاب کې پخه وعده نه وه
اخیستل شوې

اَنۡ لَّا يَقُوۡلُوۡا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الۡحَقَّ وَ

چې دوی به په الله باندې نه وايي مګر حقه خبره
او دوی هغه (احکام) لوستي وو

دَرَسُوۡا مَا فِيۡهِ ؕ وَالدَّارُ الۡاٰخِرَةُ

چې په هغه (کتاب) کې وو، او د اخرت کور د
هغو

خَيۡرٌ لِّلَّذِيۡنَ يَتَّقُوۡنَ ؕ اَفَلَا

کسانو لپاره ډېر غوره دی چې پرهېزګاره دي، ایا
نو تاسو ولې له عقل نه

تَعۡقِلُوۡنَ ﴿١٦٩﴾ وَالَّذِيۡنَ يُمَسِّكُوۡنَ

کار نه اخلئ -169- او هغه کسان چې

بِالۡكِتٰبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّا لَا

کتاب سره ټينګ نيسي او لمونځ قايموي، بېشکه مونږ د نېکي

نُضِيۡعُ اَجۡرَ الۡمُصۡلِحِيۡنَ ﴿١٧٠﴾ وَاِذۡ نَتَقۡنَا

کوونکو اجر نه ضايع کوو -170- او کله چې مونږ د

الۡجَبَلَ فَوۡقَهُمۡ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّظَنُّوۡۤا اَنَّهٗ

دوی له پاسه غر راپورته کړ، ګويا کې هغه سايبان دی، او دويقين وکړ چې بېشکه دا په دوی

وَاقِعٌۢ بِهِمۡ ۚ خُذُوۡا مَاۤ اٰتَيۡنٰكُمۡ بِقُوَّةٍ وَّ

راپرېوتونکی دی، تاسو په قوت سره ونيسئ هغه (تورات) چې مونږ تاسو ته درکړی دی او ياد

ع
11

اذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٧١﴾ وَ

کړئ هغه څه چې په دې کې دي، د دې لپاره چې
تاسوپرهېزګاره شئ -171- او

اِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ

کله چې ستا رب د ادم له اولادې نه د هغوی

ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَ اَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى

له شاګانو نه د هغوی اولاد راواخيست او دوی
يې په

اَنْفُسِهِمْ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى ۛۚ

خپلو ځانونو باندې ګواه جوړ کړل، (او ورته ويې
ويل:) ايا زه ستاسو رب نه يم؟ دوی وويل: ولې

شَهِدْنَا ۛۚ اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا

نه! مونږ ګواهي وکړه، (دا د دې لپاره) چې تاسو د
قيامت په ورځ و (نه) وايئ چې

كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ اَوْ تَقُوْلُوْٓا

بېشکه مونږه له دې نه غافله وو -172- یا دا و (نه) وایئ چې

اِنَّمَآ اَشْرَكَ اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا

بېشکه خبره دا ده چې شرك زمونږ پلرونو کړی و مخکې، او

ذُرِّيَّةً مِّنْۢ بَعْدِهِمْ ۚ اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا

مونږ له هغوی نه وروسته (د هغوی) اولاد وو، ایا ته به مونږ په هغه څه سره هلاکوې چې

فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ

باطل پرستو کړي دي؟ -173- او همدارنګه مونږ

الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۱۷۴﴾ وَاتْلُ

په تفصیل سره ایتونه بیانوو او د دې لپاره چې دوی راوګرځي (له تقلیده) -174- او ته دوی

عَلَيۡهِمۡ نَبَاَ الَّذِىۡۤ اٰتَيۡنٰهُ اٰيٰتِنَا

ته د هغه كس خبر ولوله چې مونږ هغه ته خپل ايتونه وركړي وو،

فَانۡسَلَخَ مِنۡهَا فَاَتۡبَعَهُ الشَّيۡطٰنُ

نو دى له هغو نه ووتلو، نو شيطان د هغه پسې شو، نو له

فَكَانَ مِنَ الۡغٰوِيۡنَ ۝١٧٥ وَلَوۡ شِئۡنَا

گمراهانو څخه شو -175- او كه چېرې مونږ

لَرَفَعۡنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗۤ اَخۡلَدَ اِلَى

غوښتلى (، نو) خامخا به مو هغه په دغو (ايتونو) سره پورته كړى و او لېكن

الۡاَرۡضِ وَاتَّبَعَ هَوٰٮهُ‌ ۚ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ

هغه ځمكې ته پوخ مايله شو (هغه ځمكې ته مينه وكړه) او د خپل

الْكَلْبِ ۚ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ

خواهش پیروي يې شروع کړه، نو د هغه مثال د
سپي په شان دی، که ته په هغه حمله وکړې، (نو

تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ

هغه) ژبه راوباسي او تيګاه وهي او که ته يې
پرېږدې (بيا هم) ژبه راوباسي او تيګاه وهي، دا د

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاقْصُصِ

هغو خلقو مثال دی چې زمونږ د ايتونو تکذيب يې
کړی دی، نو ته (دا) قصې بيان کړه،

الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٧٦﴾ سَآءَ

د دې لپاره چې دوی ښه فکر وکړي -176- د

مَثَلَا اِۨلْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَ

مثال له مخې هغه قوم بد دی چې زمونږ د
ايتونوتکذيب يې کړی دی او

اَنۡفُسَهُمۡ كَانُوۡا يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۱۷۷﴾ مَنۡ يَّهۡدِ

دوی به خاص په خپلو ځانونو ظلم کاوه -177-
چا ته چې

اللّٰهُ فَهُوَ الۡمُهۡتَدِىۡ‌ۚ وَمَنۡ يُّضۡلِلۡ

الله هدایت په نصیب کړي، نو هم هغه هدایت
موندونکی دی او څوك چې هغه (الله) یې گمراه

فَاُولٰٓـئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۱۷۸﴾ وَلَقَدۡ

کړي، نو همدغه خلق تاوانیان دي -178- او یقینًا
یقینًا

ذَرَاۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيۡرًا مِّنَ الۡجِنِّ وَ

مونږ د جهنم لپاره ډېر زیات داسې پېریان او

الۡاِنۡسِ‌ ۖ لَهُمۡ قُلُوۡبٌ لَّا يَفۡقَهُوۡنَ بِهَا ۖ

انسانان پیدا کړي دي چې د هغوی زړونه شته
(خو) په هغو

وَ لَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۡ وَ لَهُمْ

سره هغوی نه پوهېږي او د هغوی سترګې شته
(خو) ليدل پرې نه کوي او د

اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ

هغوی غوږونه شته (خو) اورېدل پرې نه کوي،
دغه خلق د

كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

څارويو په شان دي، بلکې دوی زيات ګمراه دي،
همدغه خلق

الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٧٩﴾ وَ لِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى

غافله دي -179- او خاص د الله لپاره ترټولو
ښکلي نومونه دي،

فَادْعُوْهُ بِهَا ۪ وَ ذَرُوا الَّذِيْنَ

نو تاسو دی په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه
کسان پرېږدئ

يُلۡحِدُوۡنَ فِيۡٓ اَسۡمَآئِهٖ ؕ سَيُجۡزَوۡنَ مَا

چې د هغه (الله) په نومونو کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به دوی ته د هغو عملونو سزا

كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۸۰﴾ وَمِمَّنۡ خَلَقۡنَآ اُمَّةٌ

ورکړی شي چې دوی به کول -180- او له هغو کسانو څخه چې مونږ پیدا کړي دي؟

يَّهۡدُوۡنَ بِالۡحَقِّ وَبِهٖ يَعۡدِلُوۡنَ ﴿۱۸۱﴾ ع

ع 12

يوه ډله ده چې په حقه سره نېغه لار ښيي او په دې (حق) سره انصاف کوي -181-

وَالَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا

او هغه کسان چې زمونږ د ايتونو يې تکذيب کړی دی؛

سَنَسۡتَدۡرِجُهُمۡ مِّنۡ حَيۡثُ لَا

ژر به مونږ دوی له داسې لوري په تدريج سره راونيسو چې دوی

يَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٢﴾ وَ اُمْلِيْ لَهُمْ ۚ اِنَّ كَيْدِيْ

به نه پوهېږي -182- او زه دوی ته مهلت ورکوم، بېشکه زما تدبير (چل)

مَتِيْنٌ ﴿١٨٣﴾ اَوَ لَمْ يَتَفَكَّرُوْا ۜ مَا

ډېر مضبوط دی -183- ايا دوی فکر نه دی کړی، چې

بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا

د دوی په ملگري پورې هېڅ ليونتوب نشته، نه دی هغه مگر يو

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٨٤﴾ اَوَ لَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ

ښکاره وېرونکی -184- ايا دوی د اسمانونو او

مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ مَا

ځمکې په سلطنت کې غور نه دی کړی او په هغه کې چې

خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۙ وَّاَنْ عَسٰۤى اَنْ

الله څه شی هم پیدا کړی دی او په دې کې چې
کېدی شي چې

يَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ فَبِاَيِّ

د دوی اجل ډېر نژدې شوی وي، نو له دې
(قرآن) نه وروسته به دوی په

حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٨٥﴾ مَنْ يُّضْلِلِ

کومه خبره ایمان راوړي؟ -185- هغه څوك چې

اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ؕ وَيَذَرُهُمْ فِيْ

الله يې گمراه کړي، نو د هغه لپاره هېڅ هدايت
ورکوونکی نشته او هغه (الله) دوی په خپلې

طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٨٦﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ

سرکشۍ کې پرېږدي، په دې حال کې چې
سرگردان وي -186- دوی له تا

عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰهَا ؕ قُلْ

نه د قيامت په باره کې سوال کوي چې د دې (قيامت) پېښېدل کله دي؟ ته ووايه:

اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ ۚ لَا يُجَلِّيْهَا

بېشکه خبره همدا ده چې د هغه علم زما له رب سره دی، په خپل وخت يې

لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ ؔۘ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ

نه ظاهروي مگر هغه، دا (پېښه) په اسمانونو او

وقف لازم

الْاَرْضِ ؕ لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ؕ

ځمکه کې درنه ده، په تاسو به نه راځي مگر ناڅاپه، دوی له تا نه

يَسْــَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا

(په داسې انداز کې) تپوس کوي گويا کې ته د ده په باره کې پوره تحقيق ته رسېدلی يې، ته ووايه:

عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

بېشکه خبره همدا ده چې د ده علم له الله سره دى او لېکن زياتره خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ

نه پوهېږي -187- ته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د

نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ

نفعې مالك يم او نه د نقصان مگر هغه چې الله يې وغواړي او كه

كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ

چېرې زه په غيبو عالم وَى (، نو) ما به خامخا ډېر

الْخَيْرِ ۚۛ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ ۚۛ اِنْ اَنَا

خير حاصل كړى و او ما ته به هېڅ تكليف نه و رارسېدلى، زه نه يم

ع
13

اِلَّا نَذِيۡرٌ وَّ بَشِيۡرٌ لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۸۸﴾

مگر وېرووونکی او زېری ورکوونکی د هغه قوم لپاره چې ایمان راوړي -188-

هُوَ الَّذِىۡ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ نَّفۡسٍ وَّاحِدَةٍ

همدغه (الله) هغه ذات دی چې تاسو يې له يو ځان نه پيدا کړي يئ

وَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا لِيَسۡكُنَ اِلَيۡهَا‌ ۚ

او له هغه نه يې د هغه جوړه پيدا کړه، د دې لپاره چې د هغې ترڅنګ ارام او سکون حاصل کړي،

فَلَمَّا تَغَشّٰٮهَا حَمَلَتۡ حَمۡلًا خَفِيۡفًا

بيا کله چې هغه (خپله جوړه) پټه کړه (جماع يې ورسره وکړه، نو) هغه حامله شوه په سپك حمل

فَمَرَّتۡ بِهٖ‌ ۚ فَلَمَّاۤ اَثۡقَلَتۡ دَّعَوَا اللّٰهَ

سره، نو هغه به يې ګرځاوه، نو کله چې درنه شوه، دواړو د له خپل پالونکي الله

رَبَّهُمَا لَىِٕنْ اٰتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ

نه دعا وغوښتله، (چې) كه چېرې تا مونږ ته روغ بچـی راكړ (، نو) مونږ به خامخا ضرور له شكر

مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۸۹﴾ فَلَمَّآ اٰتٰىهُمَا

كوونكو څخه شو -189- نو كله چې هغه (الله) (نو) دوى ته

صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَآ اٰتٰىهُمَا ج

روغ بچى وركړ، دوى د هغه (الله) لپاره په هغه څه كې شريكان جوړ كړل چې دوى ته يې وركړى

فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾

و، نو الله ډېر اوچت دى له هغو نه چې دوى يې (ورسره) شريكوي -190-

اَيُشْرِكُوْنَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَّهُمْ

ايا دوى (له الله سره) هغه شيان شريكوي چې هېڅ شى نشي پيدا كولى، حال دا چې دوى پخپله

يُخْلَقُوْنَ ۝١٩١ۙ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ لَهُمْ

پيدا كاوه شي -191- او نه له دوی سره د څه مدد كولو

نَصْرًا وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ۝١٩٢ وَاِنْ

طاقت لري او نه هم له خپلو ځانونو سره مدد كولی شي -192- او كه

تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ ؕ

چېرې ته دوی هدايت ته راوبلې، دوی به ستاسو پيروي ونه كړي،

سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ اَمْ اَنْتُمْ

ستاسو لپاره برابره ده كه تاسو دوی راوبلئ، يا تاسو

صَامِتُوْنَ ۝١٩٣ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ

خاموشه يئ -193- بېشكه هغه خلق چې تاسو يې

دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ

له الله نه غير بلئ، (هغوى) ستاسو په شان بنده گان دي،

فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

نو هغوى راوبلئ، پس هغوى دې ستاسو بلنه قبوله كړي، كه چېرې تاسو

صٰدِقِيْنَ ۝١٩٤ اَلَهُمْ اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ

رښتيني يئ -194- ايا د هغوى لپاره پښې دي چې په

بِهَآ ۡ اَمْ لَهُمْ اَيْدٍ يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ ۡ اَمْ

هغو سره هغوى تلل كوي، يا د هغوى لپاره لاسونه دي چې په هغو سره

لَهُمْ اَعْيُنٌ يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ ۡ اَمْ لَهُمْ

نيول كوي، يا د هغوى لپاره سترگې دي چې په هغو سره ليدل كوي،

اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ قُلِ ادْعُوْا

يا د هغوی لپاره غوږونه دي چې په هغو سره اوريدل کوي؟ ته ووايه:

شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيْدُوْنِ فَلَا

تاسو خپل شريکان راوبلئ، بيا ما سره چل وکړئ، پس ما ته (هيڅ) مهلت

تُنْظِرُوْنِ ﴿١٩٥﴾ اِنَّ وَلِیِّۦَ اللّٰهُ الَّذِیْ نَزَّلَ

مه راکوئ -195- بيشکه زما مدد کوونکی هغه الله دی چې

الْكِتٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٩٦﴾

کتاب يې نازل کړی دی او هغه د نيکانو مدد او ملګرتيا کوي -196-

وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا

او هغه خلق چې تاسو يې له هغه (الله) نه غير بلئ،

يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ نَصۡرَكُمۡ وَلَاۤ اَنۡفُسَهُمۡ

دوی ستاسو د مدد کولو هېڅ وَس نه لري او نه د
خپلو ځانونو سره

يَنۡصُرُوۡنَ ﴿۱۹۷﴾ وَاِنۡ تَدۡعُوۡهُمۡ اِلَى

مدد کولی شي -197- او که چېرې ته دوی

الۡهُدٰى لَا يَسۡمَعُوۡا ؕ وَتَرٰٮهُمۡ

هدايت ته راوبلې (، نو) دوی نه اوري او ته به
دوی وينې چې

يَنۡظُرُوۡنَ اِلَيۡكَ وَهُمۡ لَا يُبۡصِرُوۡنَ ﴿۱۹۸﴾

تا ته ګوري، په داسې حال کې چې ليدل نه کوي
-198-

خُذِ الۡعَفۡوَ وَاۡمُرۡ بِالۡعُرۡفِ وَاَعۡرِضۡ

ته معاف کول راونيسه (د عفوه کولو عادت راخپل
کړه) او د نېکۍ حکم کوه او له

عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿١٩٩﴾ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ

جاهلانو نه مخ وگرځوه -199- او كه چېرې د

الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ

شيطان له طرفه كومه وسوسه تا (په ګناه كولو)
ورتېز كړي، نو په الله پورې پناه وغواړه، بېشكه

سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٠٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا

هغه ښه اورېدونكى، ښه پوه دى -200- بېشكه
هغه كسان چې پرهېزګاره شوي دي؛

مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا

كله چې هغوى ته د شيطان له طرف نه څه
وسوسه ورسېږي (، نو) دوى (د الله حكم) راياد

فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿٢٠١﴾ وَاِخْوَانُهُمْ

كړي، نو ناڅاپه دوى لېدونكي وي -201- او د
دوى ورونه

يَمُدُّوْنَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُوْنَ ﴿۲۰۲﴾

دوی لره په گمراهۍ کې راکاږي، بیا دوی هېڅ
کمی نه کوي -202-

وَاِذَا لَمْ تَاْتِهِمْ بِاٰيَةٍ قَالُوْا لَوْ لَا

او کله چې ته دوی ته څه نښه رانه وړې، دوی
وايي: ولې دې له

اجْتَبَيْتَهَا ؕ قُلْ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ مَا يُوْحٰٓى

خپله ځانه غوره نه کړه، ته ووايه: بېشکه خبره
همدا ده چې زه د هغه څه پیروي کوم چې

اِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ ۚ هٰذَا بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ

ما ته د خپل رب له جانبه وحي کېږي، دا ستاسو
د رب له جانبه د پوهنې دلایل دي

وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰۳﴾ وَ

او هدایت او رحمت دی د هغه قوم لپاره چې ایمان
لري -203- او

اِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَ

كله چې قرآن لوستل كيږي، نو تاسو هغه ښه اورئ او خاموشه اوسئ،

اَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۲۰۴﴾ وَاذْكُرْ

د دې لپاره چې په تاسو رحم وكړى شي -204- او ته

رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّ خِيْفَةً وَّ

خپل رب سبا او بېگاه په خپل زړه كې يادوه په عاجزۍ او

دُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ

وېرې سره او له اوچت اواز نه ټيټ د خبرو (په انداز) كې

وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿۲۰۵﴾

او له غافلانو شخه مه كيږه -205-

إِنَّ الَّذِينَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ

بېشکه هغه کسان چې له خپل رب سره دي، هغوی د هغه

عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ

له عبادت نه تکبر نه کوي او د هغه پاکي بیانوي او خاص

يَسْجُدُونَ ۩ ٢٠٦

هغه ته سجده کوي -206-

الثلثة

ع 14

السجدة 1

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡاَنۡفَالِ ؕ قُلِ

دوی له تا نه د غنیمتونو په باره کې تپوس کوي، ته ووایه:

الۡاَنۡفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

غنیمتونه خاص د الله او د رسول لپاره دي، نو تاسو له الله نه ووېرېږئ

وَاَصۡلِحُوۡا ذَاتَ بَيۡنِكُمۡ ۖ وَاَطِيۡعُوا

او تاسو د خپل مینځي حال اصلاح وکړئ او د

اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗۤ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ①

الله او د هغه د رسول حکم ومنئ که چېرې تاسو مومنان یئ -1-

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

بېشکه خبره همدا ده چې مومنان هغه خلق دي، چې کله الله ياد کړی شي،

وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ

نو د دوی زړونه ووېرېږي او کله چې دوی ته د هغه

اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ

(الله) ايتونه تلاوت کړی شي (، نو) دغه (ايتونه) دوی ته ايمان ورزيات کړي او خاص په خپل رب

يَتَوَكَّلُوْنَ ۚ۝۲ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ

باندې دوی توکل کوي -2- هغه کسان چې لمونځ قايموي او له هغه (مال) نه چې مونږ دوی ته

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝۳ؕ اُولٰٓئِكَ

ورکړی دی، څه حصه خرچ کوي -3- همدغه

هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ دَرَجٰتٌ

خلق په حقه مومنان دي، د دوی لپاره د خپل

عِنْدَ رَبِّهِمْ وَ مَغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ

رب په نېز درجې دي او بخښنه او عزتمن

كَرِيْمٌ ۚ ﴿٤﴾ كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْۢ

رزق دی -4- لکه څنګه چې ته خپل رب له

بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ۠ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ

خپله کوره په حقه سره راوېستلی وې، او بېشکه

یوه ډله له مومنانو څخه خامخا بدګڼونکې

الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ﴿٥﴾ ۙ يُجَادِلُوْنَكَ

وه (په دې کار ناخوښه وو) -5- دوی له تا سره په

فِى الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَاَنَّمَا

حقه خبره کې جګړه کوله وروسته له هغه چې

يُسَاقُوْنَ اِلَى الْمَوْتِ وَ هُمْ

ښه ښکاره شوه، ګوياکې دوی مرګ ته بېول
کېږي، په داسې حال کې

يَنْظُرُوْنَ ۝٦ وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى

چې دوی ويني -6- او کله چې الله له تاسو سره

الطَّآئِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ وَ تَوَدُّوْنَ اَنَّ

په دوه ډلو کې د يوې وعده کوله چې بېشکه دا
تاسو لپاره ده او تاسو (دا) خوښوله چې بېشکه

غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ لَكُمْ وَ

بې وسلې ډله دې تاسو لپاره شي او

يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَ

الله اراده کوي چې په خپلو کلماتو سره حق ثابت کړي او

يَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ۙ۝۷ لِيُحِقَّ

د کافرانو بېخ غوڅ کړي -7- د دې لپاره چې حق

الْحَقَّ وَ يُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ

څرګند ثابت کړي اوباطل ښکاره باطل کړي (د باطل باطلوالی ښکاره کړي) اګر چې

الْمُجْرِمُوْنَ ۚ۝۸ اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ

مجرمان (دا) بدې وګڼي -8- کله چې تاسو له خپل رب نه مدد غوښتلو،

فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ

نو هغه ستاسو دعا قبوله کړه چې بېشکه زه مدد کوونکی يم له تاسو سره په زرو

مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ۝٩ وَمَا جَعَلَهُ

ملايكو سره، چې په يو بل پسې به راتلونکي وي -
9- او الله دا (مرسته) نه وه

اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ

گرځولې مگر زېرى او د دې لپاره چې په دې سره

قُلُوْبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ

ستاسو زړونه مطمئن شي او مدد يوازې د

ع
15

اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝١٠ اِذْ

الله له جانبه دى، بېشکه الله ډېر غالب، ښه
حکمت والا دى -10- کله چې

يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ

هغه (الله) پر تاسو باندې له خپل طرف نه پرکالي
اچوله د امن لپاره،

وَ يُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً

او پر تاسو باندې يې له اسمانه اوبه نازلولې، د دې لپاره چې

لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ

تاسو په دې سره ښه پاك كړي او له تاسو نه د

الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَ

شيطان پليتي لرې كړي او د دې لپاره چې ستاسو زړونه مضبوط كړي او

يُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ۝١١ اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ

په دې سره (ستاسو) قدمونه كلك كړي -11- كله چې ستا رب

اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا

ملايكو ته وحي كوله چې بېشكه زه له تاسو سره يم، نو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ سَاُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ

هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى ثابت كړئ، ژر به زه د

الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوْا

هغو كسانو په زړونو كې رعب واچوم چې كافران شوي دي،

فَوْقَ الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ كُلَّ

نو تاسو د څټونو له پاسه وهل وكړئ، او تاسو له دوى نه (هر بند او) ټولې

بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَ

ګوتې ووهئ -12- دا ځكه چې بېشكه دوى د الله او

رَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

د هغه د رسول مخالفت كړى دى او څوك چې د الله او د هغه د رسول

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ ﴿۱۳﴾ ذٰلِكُمۡ

مخالفت کوي، نو يقيناً الله ډېر سخت عذاب وا
لا دی -13- دا (دنيايي سزا ده)

فَذُوۡقُوۡهُ وَاَنَّ لِلۡكٰفِرِيۡنَ عَذَابَ

نو تاسو دا وڅکئ او دا چې بېشکه د کافرانو
لپاره د اور

النَّارِ ﴿۱۴﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا

عذاب دی -14- ای هغو کسانو چې ایمان يې
راوړی دی!

لَقِيۡتُمُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا زَحۡفًا فَلَا

کله چې تاسو له کافرانو سره مخامخ شئ، چې يو
لښکر وئ، نو تاسو هغوی ته

تُوَلُّوۡهُمُ الۡاَدۡبَارَ ﴿۱۵﴾ وَمَنۡ يُّوَلِّهِمۡ

(خپلې) شاګانې مه وراړوئ -15- او هغه څوك
چې دوی

يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ

ته په دغه ورځ كې خپله شا ورواړوي، سوا له هغه نه چې د جنګ لپاره بېرته ورګرځېدونكى وي، يا

مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ

له (خپلې) ډلې سره يو ځاى كېدونكى وي، نو يقينًا هغه د الله له جانبه په غضب سره راوګرځېده

مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ

او د هغه استوګنه جهنم دى او هغه د ورتلو

الْمَصِيْرُ ﴿١٦﴾ فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ وَلٰكِنَّ

بد ځاى دى -16- نو تاسو هغوى نه دي وژلي او لېكن

اللّٰهَ قَتَلَهُمْ ۪ وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ

الله هغوى وژلي دي او تا ويشتل نه دي كړي كله چې تا ويشتل وكړل

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ

او لېکن الله (دغه) ويشتل کړي دي او د دې لپاره چې هغه د خپل جانب نه په مومنانو

مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ

باندې احسان وکړي، بېشکه الله ښه اورېدونکی،

عَلِيْمٌ ۝١٧ ذٰلِكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ مُوْهِنُ

ښه پوه دی -17- دا (احسان لازم و) او دا چې بېشکه الله د کافرانو چلونو (سازشونو)

كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ ۝١٨ اِنْ تَسْتَفْتِحُوْا

لره ضعيفه کوونکی دی -18- که چېرې تاسو فتح غواړئ،

فَقَدْ جَآءَكُمُ الْفَتْحُ ۚ وَاِنْ تَنْتَهُوْا

نو يقيناً تاسو ته فتح راغله، او که چېرې تاسو (له کفر نه) منع شئ،

فَهُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ ۚ وَاِنۡ تَعُوۡدُوۡا نَعُدۡ ۚ وَ

نو دا تاسو لپاره ډېر غوره دي او كه چېرې تاسو راوګرځېدئ (جنګ/كفرته) مونږ به (هم د مومنانو

لَنۡ تُغۡنِىَ عَنۡكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـًٔا وَّلَوۡ

مدد ته) راوګرځو او تاسو ته به ستاسو ډله د هېڅ شي فايده درونه رسولی شي اګر كه

ع 16

كَثُرَتۡ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝١٩

ډېره لويه هم وي او دا چې بېشكه الله د مومنانو ملګری دی -19-

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَ

ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی! تاسو د الله او

رَسُوۡلَهٗ وَلَا تَوَلَّوۡا عَنۡهُ وَاَنۡتُمۡ

د هغه د رسول حكم منئ او له دې (اطاعت) نه مه ګرځئ، په دې حال كې

تَسْمَعُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ

چې تاسو اورئ -20- او تاسو د هغو خلقو په شان مه کېږئ

قَالُوْا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٢١﴾ اِنَّ

چې ويل يې: مونږ واورېدل، حال دا چې دوی به نه اورېدل (فايده من اورېدل) -21- بېشکه

شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ

د الله په نيز په حيواناتو کې تر ټولو بدتر کاڼه خلق دي، گونگيان دي، هغه چې له

الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ

عقل نه کار نه اخلي -22- او که چېرې الله ته په دوی کې څه خير (انابت) معلوم وَى (، نو)

فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ؕ وَلَوْ

خامخا به يې دوی ته اورولي وَى او که چېرې دوی ته يې (له انابته بغير) اورولي وَى، نو دوی

اَسۡمَعَهُمۡ لَتَوَلَّوۡا وَّ هُمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۲۳﴾

به خامخا گرځېدلي وو، په دې حال کې چې دوي
به اعراض کوونکي وو -23-

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اسۡتَجِیۡبُوۡا لِلّٰهِ وَ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د
الله او

لِلرَّسُوۡلِ اِذَا دَعَاكُمۡ لِمَا یُحۡیِیۡكُمۡ ۚ

د رسول خبره منئ کله چې دی تاسو د هغه کار
لپاره راوبلي چې تاسو ته ژوند درکوي،

وَ اعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ یَحُوۡلُ بَیۡنَ الۡمَرۡءِ وَ

او پوه شئ چې بېشکه الله د انسان او د هغه د زړه
په مینځ کې حایل (رکاوټ) کېږي او دا چې

قَلۡبِهٖ وَ اَنَّهٗۤ اِلَیۡهِ تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۲۴﴾ وَ

بېشکه خاص د هغه په طرف به تاسو ورجمع کولی
شئ -24- او

اتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

تاسو له هغې فتنې نه ځان وساتئ چې په تاسو کې
به يوائې خاص ظالمانو ته

مِنْكُمْ خَآصَّةً ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

نه رسېږي او پوه شئ چې بېشکه الله ډېر سخت

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ

عذاب وا لا دی -25- او تاسو ياد کړئ (هغه
وخت) کله چې

قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِي الْاَرْضِ

تاسو ډېر لږ وئ، په ځمکه کې ضعيفه کړی شوي
وئ،

تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ

چې تاسو به وېرېدلئ له دې نه چې خلق به مو په
جلتۍ سره وتښتوي،

فَاٰوٰىكُمْ وَاَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ

نو هغه تاسو ته ځای درکړ او په خپل مدد سره
يې تاسو مضبوط کړئ او تاسو ته يې له پاکېزه

الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ٢٦ يٰۤاَيُّهَا

څيزونو نه رزق درکړ، د دې لپاره چې تاسو شکر
وباسئ -26- ای هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَ

کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو له الله سره
او

الرَّسُوْلَ وَتَخُوْنُوْۤا اَمٰنٰتِكُمْ وَاَنْتُمْ

له رسول سره خيانت مه کوئ او په خپلو امانتونو
کې (هم) خيانت مه کوئ، په دې حال کې چې

تَعْلَمُوْنَ ٢٧ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّمَاۤ اَمْوَالُكُمْ وَ

تاسو پوهېږئ -27- او تاسو پوه شئ چې بېشکه
خبره همدا ده چې ستاسو مالونه او

ع
17

اَوۡلَادُكُمۡ فِتۡنَةٌ ۙ وَّ اَنَّ اللّٰهَ عِنۡدَهٗۤ

ستاسو اولادونه ازمایش دی او بېشکه الله (چې
دی) له هغه سره ډېر

اَجۡرٌ عَظِيۡمٌ ۝۲۸ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا

لوی اجر دی -28- ای هغو کسانو چې ایمان یې
راوړی دی!

اِنۡ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجۡعَلۡ لَّكُمۡ فُرۡقَانًا وَّ

که چېرې تاسو له الله نه ووېرېږئ، هغه به تاسو
لپاره فرقان (د حق او باطل په مینځ کې فرق

يُكَفِّرۡ عَنۡكُمۡ سَيِّاٰتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ

کوونکی) مقرر کړي او له تاسو نه به ستاسو
گناهونه ختم کړي او تاسو ته به بخښنه وکړي

لَكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الۡفَضۡلِ الۡعَظِيۡمِ ۝۲۹ وَ

او الله د ډېر لوی فضل والا دی -29- او

اِذْ یَمْكُرُ بِكَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لِیُثْبِتُوْكَ

كله چې له تا سره كافرانو مكر (فريب) كاوه، د دې لپاره چې تا بندي كړي،

اَوْ یَقْتُلُوْكَ اَوْ یُخْرِجُوْكَ ؕ وَ یَمْكُرُوْنَ

يا تا قتل كړي، يا تا وباسي، او هغوی چلونه كول

وَ یَمْكُرُ اللّٰهُ ؕ وَ اللّٰهُ خَیْرُ الْمٰكِرِیْنَ ۝۳۰

او الله (هم) پټ تدبير كاوه او الله تر ټولو بهتر تدبير كوونكی دی -30-

وَ اِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمْ اٰیٰتُنَا قَالُوْا قَدْ

او كله چې دوی ته زمونږ ايتونه تلاوت كولی شي، دوی وايي:

سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَاۤ ۙ اِنْ

تحقيق مونږ واورېده، كه چېرې مونږ وغواړو خامخا مونږ به هم د دې (قرآن) په مثل ووايو، نه

هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذْ

دي دا مگر د ړومبنو خلقو باطل داستانونه دي -
31- او کله چې

قَالُوا اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ

دوی وويل: ای الله! که چېرې همدا ستا له
جانبه حق دی،

مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً

نو ته پر مونږ باندې له اسمان نه کاڼي راووروه،

مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ

يا مونږ ته ډېر دردوونکی عذاب

اَلِيْمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ

راولېږه -32- او الله داسې نه دی چې دوی ته
عذاب ورکړي،

اَنۡتَ فِيۡهِمۡ‌ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمۡ

په دې حال کې چې ته په دوی کې یې او الله دوی ته عذاب ورکوونکی نه دی، په داسې حال

وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُوۡنَ ۝٣٣ وَمَا لَهُمۡ اَلَّا

کې چې دوی بخښنه (استغفار) غواړي -33- او دوی ته څه (امتیاز حاصل) دی

يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمۡ يَصُدُّوۡنَ عَنِ

چې الله به دوی ته عذاب نه ورکوي، حال دا چې دوی له

الۡمَسۡجِدِ الۡحَـرَامِ وَمَا كَانُوۡۤا

مسجد حرام نه (خلق) منع کوي، حال دا

اَوۡلِيَآءَهٗ‌ؕ اِنۡ اَوۡلِيَآؤُهٗۤ اِلَّا الۡمُتَّقُوۡنَ

چې دوی د دې (مسجد) جایز واکداران نه دي، نه دي واکداران د دې (مسجد) مګر پرهېزګاره

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٣٤ وَمَا

خلق او لېکن د دوی زياتره نه پوهېږي -34- او د

كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَآءً

بيت الله په خوا کې د دوی لمونځ نه و مګر شپېلي وهل

وَّتَصْدِيَةً ؕ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا

او لاسونه ټکول (پړقول)، نو تاسو عذاب وڅکئ په سبب د هغه کفر چې

كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝٣٥ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

تاسو به کاوه -35- بېشکه هغه کسان چې کفر يې کړی دی،

يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوْا عَنْ

دوی خپل مالونه د دې لپاره خرچ کوي چې د

سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ فَسَيُنْفِقُوْنَهَا ثُمَّ تَكُوْنُ

الله له لارې نه (خلق) منع کړي، نو ژر به دوی دا (مالونه) ولګوي، بیا به په دوی

عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُوْنَ ؕ۬ وَ

باندې (د) حسرت (او پښېمانتیا باعث) وي، بیا به دوی مغلوب کړی شي او

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ

هغه کسان چې کفر یې کړی دی، دوی به جهنم ته

يُحْشَرُوْنَ ۝٣٦ۙ لِيَمِيْزَ اللّٰهُ الْخَبِيْثَ

ورجمع کولی شي -36- د دې لپاره چې الله خبيث

مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ

له پاك نه جدا کړي او (بیا) خبيث کېږدي ځینې یې د ځینو

عَلٰى بَعۡضٍ فَيَرۡكُمَهٗ جَمِيۡعًا فَيَجۡعَلَهٗ

له پاسه، بيا يې يو د بل له پاسه ټول راجمع کړي، بيا به

ع 18

فِىۡ جَهَنَّمَ ؕ اُولٰٓـئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ۝٣٧

يې جهنم ته وغورځوي، همدغه خلق تاوانيان دی -37-

قُلۡ لِّلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اِنۡ يَّنۡتَهُوۡا يُغۡفَرۡ

ته هغو کسانو ته ووايه چې کفر يې کړی دی: که چېرې دوی منع شي (، نو) دوی ته به د هغو

لَهُمۡ مَّا قَدۡ سَلَفَ ۚ وَاِنۡ يَّعُوۡدُوۡا فَقَدۡ

(گناهونو) بخښنه وشي چې مخکې شوي دي او که چېرې دوی راوګرځي، نو تحقيق د ړومبنو

مَضَتۡ سُنَّتُ الۡاَوَّلِيۡنَ ۝٣٨ وَقَاتِلُوۡهُمۡ

خلق طريقه (سنت) تېره شوې ده -38- او تاسو له

حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ

دوى سره وجنګېږئ تر هغه پورې چې فتنه پاتې نشي او دين ټول خاص

كُلُّهٗ لِلّٰهِ ۚ فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ بِمَا

د الله لپاره شي، نو كه چېرې دوى منع شي، نو بېشكه الله په هغو عملونو چې دوى يې

يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٣٩﴾ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوْٓا

كوي ښه ليدونكى دى -39- او كه چېرې دوى وګرځي،

اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ ۭ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ

نو تاسو پوه شئ چې بېشكه الله ستاسو مولٰى (ساتونكى) دى، ښه مولٰى دى او ښه

النَّصِيْرُ ﴿٤٠﴾

مدد كوونكى دى -40-

وَ اعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا غَنِمۡتُمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ فَاَنَّ

او تاسو پوه شئ چې بېشکه هر هغه شی چې تاسو يې په غنيمت کې واخلئ، نو بېشکه د

لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَ لِلرَّسُوۡلِ وَ لِذِی الۡقُرۡبٰی

الله لپاره د هغه (غنيمت) پنځمه برخه ده او د رسول لپاره او د خپلوانو،

وَ الۡیَتٰمٰی وَ الۡمَسٰکِیۡنِ وَ ابۡنِ

او يتيمانو او مسکينانو او مسافرو لپاره،

السَّبِیۡلِ ۙ اِنۡ کُنۡتُمۡ اٰمَنۡتُمۡ بِاللّٰهِ وَ

که چېرې يئ تاسو چې په الله ايمان لرئ او په هغه شي چې

مَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلٰی عَبۡدِنَا یَوۡمَ الۡفُرۡقَانِ

مونږ پر خپل بنده باندې د فيصلې په ورځ نازل کړ، هغه ورځ

يَوۡمَ الۡتَقَى الۡجَمۡعٰنِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

چې دوه ډلې يو تربله مخامخ شوې. او الله په هر شي باندې

شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ۝٤١ اِذۡ اَنۡتُمۡ بِالۡعُدۡوَةِ

ښه قادر دی -41- کله چې تاسو په ډېرې

الدُّنۡيَا وَهُمۡ بِالۡعُدۡوَةِ الۡقُصۡوٰى وَ

نژدې غاړه کې وئ او هغوی په ډېرې لرې غاړه کې وو او

الرَّكۡبُ اَسۡفَلَ مِنۡكُمۡ ؕ وَلَوۡ

قافله له تاسو نه لاندې وه. او که چېرې

تَوَاعَدۡتُّمۡ لَاخۡتَلَفۡتُمۡ فِى الۡمِيۡعٰدِ ۙ وَ

تاسو يو له بل سره وعده کړې وَی، خامخا به تاسو په وعده کې مختلف شوي وَی او

لٰكِنْ لِّيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ۙ

لېکن د دې لپاره چې الله هغه کار پوره کړي چې مقرر شوی و، د دې لپاره

لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْۢ بَيِّنَةٍ وَّيَحْيٰى

چې هلاکېدونکی د روښانه دلیل (له قایمېدو) نه (پس) هلاك شي، او ژوندی پاتې کېدونکی

مَنْ حَيَّ عَنْۢ بَيِّنَةٍ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ

د روښانه دلیل (له قایمېدو) نه (پس) ژوندی واوسي او بېشکه الله یقینًا ښه اورېدونکی،

عَلِيْمٌ ۙ﴿۴۲﴾ اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ مَنَامِكَ

ښه پوه دی -42- کله چې الله تا ته ستا په خوب کې هغوی

قَلِيْلًا ؕ وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا

ښه لږ ښودل او که چېرې تا ته یې هغوی ډېر زیات ښودلي وَی،

لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَ

(نو) تاسو به خامخا بې زړه شوي وی او تاسو به
په خپل مینځ کې په دې کار کې خامخا جګړه

لٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ ۗ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ

کړې وَی او لیکن الله (ستاسو) ساتنه وکړه،
بیشکه هغه د سینو په خبرو

الصُّدُوْرِ ﴿۴۳﴾ وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ اِذِ

ښه عالم دی -43- او کله چې یې تاسو ته هغوی،

الْتَقَيْتُمْ فِيْٓ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا

ستاسو له یو بل سره د مخامخ کېدلو په وخت کې،
ستاسو په سترګو کې ډیر لږ ښودل

وَّيُقَلِّلُكُمْ فِيْٓ اَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللّٰهُ

او تاسو یې د هغوی په سترګو کې لږ ښودلئ، د
دې لپاره چې الله

اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ

هغه کار پوره کړي چې مقرر شوی و او خاص د الله په طرف ټول کارونه بېرته

ع 1

الْاُمُوْرُ ۝۴۴ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا

ګرځولی شي -44- ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! کله

لَقِيْتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوْا وَاذْكُرُوا اللّٰهَ

چې تاسو د کومې (کافرې) ډلې سره مخامخ شئ، نو ثابت قدم اوسئ او الله

كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝۴۵ وَاَطِيْعُوا

ډېر زيات يادوئ، د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ -45- او تاسو د

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا

الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ او په خپل مينځ کې جګړه مه کوئ (ګنې) نو بې

وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوْا ۗ اِنَّ اللّٰهَ

زړه به شئ او ستاسو زور به لاړ شي او صبر کوئ، بېشکه الله د صبر

مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۚ ﴿٤٦﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ

کوونکو ملګرى دى -46- او تاسو د هغه خلقو په شان

خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ

مه کېږئ چې له خپلو کورونو نه ووتل، په دې حال کې چې تکبر کوونکي او

النَّاسِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۗ وَ

خلقو ته ځان ښودونکي وو او دوى د الله له لارې نه (خلق) منع کوي او الله د هغو کارونو

اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿٤٧﴾ وَاِذْ زَيَّنَ

احاطه کوونکى دى چې دوى يې کوي -47- او (ياد کړئ)

لَهُمُ الشَّيۡطٰنُ اَعۡمَالَهُمۡ وَ قَالَ لَا

هغه وخت چې شيطان دوى ته د دوى عملونه ښايسته كړل او ويې ويل:

غَالِبَ لَكُمُ الۡيَوۡمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّیۡ

نن ورځ پر تاسو باندې له خلقو څخه هيڅوك غالب راتلونكى نشته او بېشكه

جَارٌ لَّكُمۡ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الۡفِئَتٰنِ

زه ستاسو ساتونكى يم، نو كله چې دواړه ډلې يو تربله

نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيۡهِ وَ قَالَ اِنِّیۡ بَرِیۡٓءٌ

مخامخ شوې، بېرته په منډه په شا لاړ او ويې ويل: بېشكه زه له تاسو بېزاره يم،

مِّنۡكُمۡ اِنِّیۡۤ اَرٰى مَا لَا تَرَوۡنَ اِنِّیۡۤ

بېشكه زه هغه څه وينم چې تاسو يې نه وينئ، بېشكه زه

ع
2

اَخَافُ اللّٰهَ ۭ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۴۸ۧ

له الله څخه وېرېږم او الله ډېر سخت عذاب والا دی -48-

اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ

كله چې منافقانو ويل او هغو كسانو چې د هغوی په

قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَاۗءِ دِيْنُهُمْ ۭ

زړونو کې مرض و: دا خلق خپل دين دوكه كړي دي

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

او څوك چې په الله باندې توكل وكړي، نو يقيناً الله ښه غالب، ښه

حَكِيْمٌ ۴۹ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ

حکمت والا دی -49- او كه چېرې ته ووينې هغه وخت چې

كَفَرُوا ۙ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ

ملايك د كافر شويو كسانو ساگانې قبض كوي، چې د هغوی مخونه

وَ اَدْبَارَهُمْ ۚ وَ ذُوْقُوْا عَذَابَ

او د هغوی شاگانې وهي او (ورته وايي:) سخت سوزونكی

الْحَرِيْقِ ﴿٥٠﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ

عذاب وڅكئ -50- دا په سبب د هغه

اَيْدِيْكُمْ وَ اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ

(بدو عملونو) چې ستاسو لاسونو مخكې لېږلي دي او په دې چې يقينًا الله په بنده گانو هېڅ ظلم

لِّلْعَبِيْدِ ﴿٥١﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَ

كوونكی نه دی -51- لكه حال د فرعونيانو او

الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ

د هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، د الله په ایتونو کافر شول،

اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوۡبِهِمۡ ؕ اِنَّ

نو الله هغوی د خپلو گناهونو په سبب ونیول، بېشکه

اللّٰهَ قَوِىٌّ شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ ﴿۵۲﴾ ذٰلِكَ

الله قوي، (او) ډېر سخت عذاب والا دی -52- دا په دې

بِاَنَّ اللّٰهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعۡمَةً اَنۡعَمَهَا

چې یقینًا الله د هغه نعمت بدلوونکی نه دی چې په

عَلٰى قَوۡمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوۡا مَا بِاَنۡفُسِهِمۡ ۙ

کوم قوم یې پېرزوکړی وي تر هغه پورې چې هغوی هغه بدل کړي چې د هغوی په نفسونو کې

وَ اَنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ۙ﴿۵۳﴾ كَدَاۡبِ اٰلِ

دى او دا په دې چې يقينًا الله ښه اوريدونكى، ښه پوه دى -53- لكه حال د

فِرۡعَوۡنَ ۙ وَالَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ

فرعونيانو او د هغو كسانو چې له دوى نه مخكې وو،

كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمۡ فَاَهۡلَكۡنٰهُمۡ

د خپل رب د ايتونو تكذيب يې وكړ، نو مونږ هغوى د خپلو گناهونو

بِذُنُوۡبِهِمۡ وَاَغۡرَقۡنَاۤ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ ۚ وَ

په وجه هلاك كړل او فرعونيان مو غرق كړل او (دوى)

كُلٌّ كَانُوۡا ظٰلِمِيۡنَ ﴿۵۴﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ

ټول ظالمان وو -54- بېشكه د الله په نيز

عِنۡدَ اللّٰهِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فَهُمۡ لَا

په ځمکه باندې په ګرځېدونکو کې تر ټولو بدتر
هغه کسان دي چې کفر يې کړی دی، نو هغوی

يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿٥٥﴾ اَلَّذِيۡنَ عٰهَدۡتَّ مِنۡهُمۡ

ايمان نه راوړي -55- هغه کسان چې تا له دوی

ثُمَّ يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَهُمۡ فِيۡ كُلِّ مَرَّةٍ

سره معاهده کړې وه، بيا هر ځله دوی خپله عهد
(تړون) ماتوي

وَّهُمۡ لَا يَتَّقُوۡنَ ﴿٥٦﴾ فَاِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي

او دوی نه وېرېږي -56- نو که کله هم ته دوی
په جنګ کې ومومې، نو دوی ته په سزا ورکولو

الۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِمۡ مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ

سره هغه کسان تيت او پرک کړه چې د دوی
وروسته دي، لپاره د دې چې دوی (وروستني

لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ۝٥٧ وَاِمَّا تَخَافَنَّ

خلق) نصيحت ومومي -57- او كه چېرې كله هم ته له

مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى

كوم قوم نه د خيانت (وعده خلافۍ) اندېښنه ولرې، نوته دوى ته په برابرۍ سره (دغه عهد)

سَوَآءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

وغورځوه، بېشكه الله خيانت كوونكي (وعده ماتوونكي)

ع 3

الْخَآئِنِيْنَ ۝٥٨ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ

نه خوښوي -58- او كافر شوي كسان دې كله هم (دا) ګمان

كَفَرُوْا سَبَقُوْا ؕ اِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ ۝٥٩

ونه كړي چې دوى بچ شول، بېشكه دوى (الله ته) نشي عاجزه كولى -59-

وَ اَعِدُّوۡا لَهُمۡ مَّا اسۡتَطَعۡتُمۡ مِّنۡ قُوَّةٍ

او تاسو قوت او ترړلي اسونه تیار کړئ څومره چې استطاعت لرئ،

وَّ مِنۡ رِّبَاطِ الۡخَیۡلِ تُرۡهِبُوۡنَ بِهٖ عَدُوَّ

چې په دې سره به تاسو د الله دښمنان او

اللّٰهِ وَ عَدُوَّكُمۡ وَ اٰخَرِیۡنَ مِنۡ

خپل دښمنان وېروئ او له دوی نه سوا نور خلق

دُوۡنِهِمۡ ۚ لَا تَعۡلَمُوۡنَهُمۡ ۚ اَللّٰهُ

(هم) چې تاسو هغوی نه پېژني، الله

یَعۡلَمُهُمۡ ؕ وَ مَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ شَیۡءٍ فِیۡ

هغوی پېژني او تاسو چې د الله په لاره کې څه شی

سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَ اَنْتُمْ لَا

هم خرچ کوئ، تاسو ته به پوره (بدله) درکړی شي او په تاسو به

تُظْلَمُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ

ظلم نه کېږي -60- او که دوی (کفار) سولې ته مایل شي،

فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

نو ته هم دې ته مایل شه او په الله باندې توکل وکړه، بېشکه هم هغه ښه

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦١﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا اَنْ

اورېدونکی، ښه پوه دی -61- او که دوی له تا سره د دوکې

يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ

کولو اراده وکړي، نو بېشکه تا لپاره الله کافي دی، دی همغه

الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾

ذات دی چې ته يې په خپل مدد سره او په مومنانو سره مضبوط کړی يې -62-

وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ لَوْ اَنْفَقْتَ

او د دوی د زړونو په مينځ کې يې محبت واچاوه، که چېرې تا هغه ټول څه لګولي وی

مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ

چې په ځمکه کې دي (، نو) تا به د دوی د

قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ ؕ

زړونو په مينځ کې محبت نه و اچولی او لېکن الله د دوی په مينځ کې محبت واچاوه، بېشکه

اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

هغه ډېر غالب، ښه حکمت والا دی -63- ای نبي!

حَسۡبُكَ اللّٰهُ وَ مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ

تا لپاره او ستا پيروي كوونكو مومنانو لپاره الله

ع
4

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۶۴﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ

كافي دى -64- اى نبي! ته مومنان (له كفارو سره) په

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ عَلَى الۡقِتَالِ ؕ اِنۡ يَّكُنۡ

جنګ كولو باندې تېز كړه، كه چېرې

مِّنۡكُمۡ عِشۡرُوۡنَ صٰبِرُوۡنَ يَغۡلِبُوۡا

په تاسو كې شل تنه صبر كوونكي وي، نو په

مِائَتَيۡنِ ۚ وَاِنۡ يَّكُنۡ مِّنۡكُمۡ مِّائَةٌ

دوه سوه كسانو به غالبه شي او كه چېرې په تاسو كې سل تنه صبر كوونكي وي

يَّغۡلِبُوۡۤا اَلۡفًا مِّنَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

(، نو) په هغو زرو كسانو به غالبه شي چې كافر
شوي دي، ځكه چې يقينًا هغوی

بِاَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا يَفۡقَهُوۡنَ ﴿٦٥﴾ اَلۡـٰٔنَ

داسې قوم دی چې نه پوهېږي -65- اوس

خَفَّفَ اللّٰهُ عَنۡكُمۡ وَعَلِمَ اَنَّ فِيۡكُمۡ

الله په تاسو اساني راوستله او معلومه (څرګنده)
يې کړه چې بېشکه په تاسو

ضَعۡفًا ؕ فَاِنۡ يَّكُنۡ مِّنۡكُمۡ مِّائَةٌ

کې کمزوري ده، نو که چېرې په تاسو کې سل

صَابِرَةٌ يَّغۡلِبُوۡا مِائَتَيۡنِ ۚ وَاِنۡ يَّكُنۡ

تنه صبر کوونکي وي، (، نو) په دوه سوه به غالبه
شي۔ او که په

مِّنۡكُمۡ اَلۡفٌ يَّغۡلِبُوۡۤا اَلۡفَيۡنِ بِاِذۡنِ

تاسو کې زر تنه (صبر کوونکي) وي (، نو) په دوه زره به غالبه شي، د الله په حکم سره،

اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيۡنَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ

او الله د صبر کوونکو ملګری دی -66- د نبي

لِنَبِىٍّ اَنۡ يَّكُوۡنَ لَهٗۤ اَسۡرٰى حَتّٰى

لپاره لایق نه دي چې د هغه لپاره دې بندیان وي، تر هغه

يُثۡخِنَ فِى الۡاَرۡضِ ؕ تُرِيۡدُوۡنَ عَرَضَ

چې وینې توئ کړي، تاسو د دنیا اسباب غواړئ

الدُّنۡيَا ۖۗ وَاللّٰهُ يُرِيۡدُ الۡاٰخِرَةَ ؕ وَاللّٰهُ

او الله (تاسو لپاره) د اخرت (د ثواب) اراده لري او الله

عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾ لَوْلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ

بنه غالب، بنه حكمت والا دى -67- كه د الله له جانبه مخکینی لیك نه وی

سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ

(، نو) تاسو ته به د هغې (فدیې) په بدل کې چې تاسو واخیستله، خامخا ډېر لوی عذاب

عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾ فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَٰلًا

دررسېدلی و -68- نو تاسو خورئ له هغه (ماله) چې تاسو په غنیمت اخیستی دی، چې حلال

طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُوا ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ

پاکیزه دی، او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ډېر بخښونکی،

ع 5

رَّحِيمٌ ﴿٦٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِىٓ

بې حده مهربان دی -69- ای نبي! ته هغو بندیانو ته ووایه چې

أَيْدِيكُمْ مِّنَ الْأَسْرَىٰ إِن يَعْلَمِ

ستاسو په لاس کې دي: که چېرې الله ستاسو په

اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا

زړونو کې خیر (ایمان) معلوم کړي (، نو) تاسو ته
به له هغه (مال) نه غوره درکړي

مِّمَّا أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ

چې له تاسو اخیستل شوی دی او تاسو ته به
بخښنه وکړي او الله ډېر بخښونکی،

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٠﴾ وَإِن يُرِيدُوا

بې حده مهربان دی -70- او که دوی له تا سره د

خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ

خیانت کولو اراده لري، نو یقینًا دوی له دې نه
مخکې له

فَاَمۡكَنَ مِنۡهُمۡ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ

الله سره خيانت کړی دی، نو هغه پر دوی باندې
(د مومنانو) قابو راوستله، او الله ښه پوه، ښه

حَكِيۡمٌ ﴿۷۱﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ

حکمت والا دی -71- بېشکه هغه کسان چې ایمان
یې راوړی دی او

هَاجَرُوۡا وَجٰهَدُوۡا بِاَمۡوَالِهِمۡ وَ

هجرت یې کړی دی او د الله په لاره کې یې په

اَنۡفُسِهِمۡ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَالَّذِيۡنَ

خپلو ځانونو سره جهاد کړی دی اوهغه کسان چې

اٰوَوْا وَّنَصَرُوۡۤا اُولٰٓـئِكَ بَعۡضُهُمۡ

ځای یې ورکړی دی او مرسته یې کړې ده، دغه
کسان یو

أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ

تر بله دوستان دي او هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی

يُهَاجِرُوْا مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَايَتِهِمْ مِّنْ

او هجرت يې نه دی کړی (، نو) تاسو لپاره د هغوی له دوستۍ نه

شَيْءٍ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا ۚ وَاِنِ

هېڅ شی نشته تر هغه پورې چې دوی هجرت وکړي او که چېرې دوی

اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ فَعَلَيْكُمُ

له تاسو نه په دين کې مرسته وغواړي، نو پر تاسو باندې مدد کول لازم دي،

النَّصْرُ اِلَّا عَلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

مگر د هغه (کافر) قوم په خلاف نه چې ستاسو او د هغوی په مینځ کې معاهده وي

مِّيثَاقٌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٧٢﴾

او الله هغو کارونو لره چې تاسو يې کوئ؛ ښه ليدونکی دی -72-

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ

او هغه کسان چې کفر يې کړی دی؛ دوی يو تر بله دوستان دي،

بَعْضٍ ؕ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي

که تاسو دا (کارونه) ونه کړئ (، نو) په ځمکه کې به لويه فتنه

الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿٧٣﴾ؕ وَالَّذِينَ

او ډېر لوی ورانی جوړ شي -73- او هغه کسان چې

آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ

ايمان يې راوړی دی او هجرت يې کړی دی او د الله په لاره کې يې

اللّٰهِ وَ الَّذِيۡنَ اٰوَوْا وَّ نَصَرُوۡۤا اُولٰٓٮِٕكَ

جهاد کړی دی او هغه کسان چې ځای یې
ورکړی دی او مدد یې کړی دی،

هُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ حَقًّا‌ ؕ لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ وَّ

همدغه کسان په حقه مومنان دي، د دوی لپاره
بخښنه او ډېر د

رِزۡقٌ كَرِيۡمٌ ﴿۷۴﴾ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡۢ

عزت رزق دی -74- او هغه کسان چې له دې نه
پس یې ایمان راوړ

بَعۡدُ وَهَاجَرُوۡا وَجٰهَدُوۡا مَعَكُمۡ

او هجرت یې وکړ او ستاسو په ملګرتیا کې یې
جهاد وکړ، نو دغه

فَاُولٰٓٮِٕكَ مِنۡكُمۡ‌ ؕ وَاُولُوا الۡاَرۡحَامِ

کسان له هم ستاسو څخه دي او د خپلولۍ والا د

بَعۡضُهُمۡ اَوۡلٰى بِبَعۡضٍ فِىۡ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ

الله په کتاب کې د يو بل زيات حقدار دي،

ع 6 الربع

اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيۡمٌ ۝٧٥

بېشکه الله په هر شي بنه پوه دی -75-

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖۤ اِلَى الَّذِيۡنَ

(دا) د الله او د هغه د رسول له جانبه بيزاري او صاف ځواب دى، په مشركانو كې هغو كسانو ته

عٰهَدۡتُّمۡ مِّنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ؕ﴿۱﴾

چې تاسو ورسره عهد كړى و -1-

فَسِيۡحُوۡا فِى الۡاَرۡضِ اَرۡبَعَةَ اَشۡهُرٍ وَّ

نو (اى مشركانو!) تاسو په دغه ځمكه كې څلور مياشتې (په امن سره) گرځئ او

اعۡلَمُوۡۤا اَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِى اللّٰهِ ۙ وَ

پوه شئ چې يقينًا تاسو الله لره عاجزه كوونكي نه يئ او

اَنَّ اللّٰهَ مُخۡزِى الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۲﴾ وَاَذَانٌ

دا چې يقينًا الله كافرانو لره رسواكوونكى دى -2-

مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖۤ اِلَى النَّاسِ يَوۡمَ

او د حج اکبر په ورځ د الله او د هغه د رسول له جانبه ټولو خلقو ته

الۡحَجِّ الۡاَكۡبَرِ اَنَّ اللّٰهَ بَرِىۡٓءٌ مِّنَ

(دا) اعلان (او خبرتيا) دی چې بېشکه الله او د هغه رسول

الۡمُشۡرِكِيۡنَ ۙ وَرَسُوۡلُهٗ ؕ فَاِنۡ تُبۡتُمۡ

له مشرکانو نه بيزاره دی، نو که تاسو توبه وباسئ، نو

فَهُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ ۚ وَاِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ

دا تاسو لپاره ډېر غوره دي او که تاسو مخ وګرځوئ،

فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِى اللّٰهِ ؕ وَ

نو پوه شئ چې يقينًا تاسو الله لره عاجزه کوونکي نه يئ او هغو کسانو ته چې

بَشِّرِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍۙ ﴿۳﴾

کافران شوي دي د ډېر دردوونکي عذاب زېرى ورکړه -3-

اِلَّا الَّذِيۡنَ عٰهَدْتُّمۡ مِّنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ

مګر په مشرکانو کې هغه کسان چې تاسو ورسره عهد کړی دی،

ثُمَّ لَمۡ يَنۡقُصُوۡكُمۡ شَيۡـًٔا وَّلَمۡ

بیا هغوی تاسو ته هېڅ شی نقصان نه دی دررسولی او نه يې

يُظَاهِرُوۡا عَلَيۡكُمۡ اَحَدًا فَاَتِمُّوۡۤا

ستاسو په مقابل کې د هیچا مدد کړی دی، نو هغوی

اِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ اِلٰى مُدَّتِهِمۡ‌ ؕ اِنَّ

ته خپل عهد د هغوی د مودې پورې پوره کړئ، بیشکه

اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُتَّقِيۡنَ ۝٤ فَاِذَا انۡسَلَخَ

الله (له بدعهدى نه) ځان ساتونکي خوښوي -4-
نو کله چې

الۡاَشۡهُرُ الۡحُرُمُ فَاقۡتُلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ

حرامې مياشتې تېرې شي، بيا نو تاسو مشرکان
وژنئ

حَيۡثُ وَجَدۡتُّمُوۡهُمۡ وَ خُذُوۡهُمۡ وَ

چېرته چې تاسو هغوى ومومئ او دوى نيسئ او

احۡصُرُوۡهُمۡ وَاقۡعُدُوۡا لَهُمۡ كُلَّ

د دوى محاصره کوئ او د دوى لپاره په هر کمين

مَرۡصَدٍ ۚ فَاِنۡ تَابُوۡا وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ

ځاى کې کېنئ، نو که دوى توبه وباسي او لمونځ
قايم کړي

وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او زکات ادا کړي، بیا نو تاسو د دوی لاره خوشې کړئ۔، بېشکه الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٥ وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ

ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی -5- او که په

الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى

مشرکانو کې يو تن له تا نه امان (پناه) وغواړي، نو هغه ته امان ورکړه تر هغه پورې چې

يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ ؕ

هغه د الله کلام واوري، بیا هغه خپل د امن ځای (وطن) ته ورسوه، دا په

ع 7

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُوْنَ ۝٦

سبب د دی چې یقینًا دوی داسې قوم دی چې نه پوهېږي -6-

كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ عِنْدَ

د الله په نيز او د هغه د رسول په نيز به د مشرکانو لپاره څنګه عهد وي،

اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ اِلَّا الَّذِيْنَ

غير له هغو کسانو نه چې

عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ

تاسو ورسره د مسجد حرام په خوا کې عهد کړی دی،

فَمَا اسْتَقَامُوْا لَكُمْ فَاسْتَقِيْمُوْا

نو ترڅو پورې چې هغوی تاسو لپاره (په عهد) پوره قايم وي، نو تاسو هم د

لَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝

هغوی لپاره (په عهد) کلك قايم اوسئ، بېشکه الله (له بد عهدۍ نه) ځان ساتونکي خوښوي -7-

كَيْفَ وَاِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ لَا

ځنګه (کېدی شي د دوی لپاره عهد!) حال دا
چې که دوی پر

يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ

تاسو باندې لاس بري شي (، نو بيا) دوی ستاسو
په حق کې نه

يُرْضُوْنَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ وَتَاْبٰى

خپلولۍ ته ګوري او نه عهد ته، دوی تاسو په
خپلو خولو سره راضي کوي او

قُلُوْبُهُمْ ۚ وَاَكْثَرُهُمْ فٰسِقُوْنَ ۚ﴿۸﴾

د دوی زړونه انکار کوي او د دوی اکثره فاسقان
دي -8-

اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا

دوی د الله د ایتونو (د پرېښودلو) په بدل کې لږ
قیمت اخیستی دی،

فَصَدُّوا عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا

نو منع شوي دي د هغه له لارې نه، بېشکه دوی (چې دي)

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٩ لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ

بد دی هغه عمل چې دوی به کاوه -9- دوی د مومن په باره کې

مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

نه د خپلولۍ لحاظ کوي او نه د عهد، او همدغه کسان (له حد نه)

الْمُعْتَدُوْنَ ۝١٠ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا

تېرېدونکي دي -10- نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قايم کړي

الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ

او زکات ادا کړي، نو بيا ستاسو ورونه دي په دين کې او مونږ په

فِى الدِّيۡنِ‌ؕ وَنُفَصِّلُ الۡاٰيٰتِ لِقَوۡمٍ

تفصيل سره بيانوو ايتونه د هغه قوم لپاره

يَّعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۱﴾ وَاِنۡ نَّكَثُوۡۤا اَيۡمَانَهُمۡ مِّنۡۢ

چې پوهېږي -11- او كه دوى خپل قسمونه له
خپل عهد نه پس

بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُوۡا فِىۡ دِيۡنِكُمۡ

مات كړل او ستاسو په دين كښې يې عيبونه
راوېستل شروع كړل،

فَقَاتِلُوۡۤا اَٮِٕمَّةَ الۡـكُفۡرِ‌ۙ اِنَّهُمۡ لَاۤ اَيۡمَانَ

بيا نو د كفر له امامانو (مشرانو) سره جنګ كوئ،
بېشكه دوى (چې دي) د دوى لپاره هېڅ قسمونه

لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنۡتَهُوۡنَ ﴿۱۲﴾ اَلَا تُقَاتِلُوۡنَ

نشته، د دي لپاره چې دوى منع شي -12- ولې
تاسو له داسې قوم سره نه

قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ وَ هَمُّوْا بِاِخْرَاجِ

جنگیږئ چې هغوی خپل قسمونه مات کړي دي
او د

الرَّسُوْلِ وَ هُمْ بَدَءُوْكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ

رسول د وېستلو اراده يې کړې ده، حال دا چې هم
دوی په تاسو شروع کړې ده اول ځلې!

اَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَوْهُ

ایا تاسو له دوی نه وېرېږئ، نو الله تر ټولو زيات
حق دار دی د دې چې له هغه نه ووېرېږئ،

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝١٣ قَاتِلُوْهُمْ

که تاسو مومنان يئ -13- له دوی سره وجنگیږئ،

يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِاَيْدِيْكُمْ وَ يُخْزِهِمْ وَ

الله به دوی لره ستاسو په لاسونو عذاب ورکړي
او دوی به رسوا کړي او

يَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُوْرَ

د دوی په مقابل کې به ستاسو مدد وکړي او د
مومنو خلقو

قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٤﴾ وَيُذْهِبْ غَيْظَ

سینو ته به شفا ورکړي -14- او د هغوی د

قُلُوْبِهِمْ ؕ وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ

زړونو غصه به لرې کړي او الله چې په چا
وغواړي په رحمت سره

يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٥﴾ اَمْ

رجوع کوي او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی -
15- ایا تاسو

حَسِبْتُمْ اَنْ تُتْرَكُوْا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ

دا ګمان کړی دی چې تاسو به (همداسې)
پرېښودی شئ، حال دا چې لاتر اوسه الله

الَّذِيۡنَ جٰهَدُوۡا مِنۡكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُوۡا

هغه کسان نه دي معلوم (ظاهر) کړي چې جهاد يې کړی دی له تاسو نه،

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوۡلِهٖ وَلَا

او له الله او د هغه له رسول او مومنانو نه غير

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَلِيۡجَةً ؕ وَاللّٰهُ خَبِيۡرٌۢ بِمَا

يې بل هيڅ رازدار نه دی نيولی او الله ښه خبردار دی په هغو عملونو

ع 8

تَعۡمَلُوۡنَ ۝١٦ مَا كَانَ لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ اَنۡ

چې تاسو يې کوئ -16- د مشرکانو لپاره دا حق نشته

يَّعۡمُرُوۡا مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيۡنَ عَلٰٓى

چې د الله جوماتونه اباد کړي، په داسي حال کي چې په خپلو

اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ

ځانونو باندې د کفر ګواهي کوونکي دي، دغه
خلق (چې دي) د دوی

اَعْمَالُهُمْ ۚۖ وَفِي النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿١٧﴾

عملونه ضایع شوي دي او دوی به په اور کې تل
ترتله وي -17-

اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ

د الله جوماتونه خو یواځې هغه څوك ابادوي چې

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ

په الله او د اخرت په ورځ يې ايمان راوړى وي او
لمونځ قايموي

وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ

او زکات ورکوي او نه ویریږي غیر له الله نه،

فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ

نو امید دی چې دغه کسان به له

الْمُهْتَدِيْنَ ﴿١٨﴾ اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ

هدایت موندونکو څخه وي -18- ایا تاسو حاجیانو ته اوبه ورکول

الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

او د مسجد حرام ابادول د هغه چا (د ایمان) په شان ګرځولي

كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ

دي چې په الله او په ورځ د اخرت یې ایمان راوړی دی او

جٰهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَا يَسْتَوٗنَ

د الله په لاره کې یې جهاد کړی دی، دوی د الله په نیز برابر نه دي

وقف لازم

عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ

او الله ظالم قوم ته هدايت

الظّٰلِمِيۡنَ ۞١٩ اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ هَاجَرُوۡا

نه كوي -19- هغه كسان چې ايمان يې راوړی دی
او هجرت يې کړی دی

وَ جٰهَدُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ بِاَمۡوَالِهِمۡ

او د الله په لاره کې يې په خپلو مالونو

وَ اَنۡفُسِهِمۡ ۙ اَعۡظَمُ دَرَجَةً عِنۡدَ

او ځانونو سره جهاد کړی دی، د الله په نيز په
درجه

اللّٰهِ ؕ وَ اُولٰٓـئِكَ هُمُ الۡفَآئِزُوۡنَ ۞٢٠

کې تر ټولو لوی دي، اوهمدغه كسان كامياب دي
-20-

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَ

دوی ته خپل رب له خپل جانب نه د رحمت او

رِضْوَانٍ وَّ جَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ

رضامندۍ او د داسې جنتونو زيرى وركوي چې د
دوى لپاره به په هغو كې هميشنى

مُّقِيْمٌ ﴿٢١﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ

نعمت وي -21- په دې حال كې چې په هغو كې
به تل ترتله هميشه وي،

اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٢﴾ يٰٓاَيُّهَا

بېشكه الله (چې دى) له هغه سره ډېر لوى اجر
دى -22- اى هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْٓا اٰبَآءَكُمْ وَ

كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو خپل پلرونه
او

اِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَآءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا

خپل ورونه دوستان مه نيسئ که دوی کفر محبوب

الْكُفْرَ عَلَى الْاِيْمَانِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ

(او غوره) وګڼي په ايمان باندې، او په تاسو کې
چې چا له دغو (کفارو)

مِّنْكُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ

سره دوستي وکړه، نو همدغه کسان ظالمان دي -
23- (اى پيغمبره!)

اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَ

(ته دوى ته) ووايه:
که چېرې وي ستاسو پلرونه او ستاسو زامن او

اِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ

ستاسو ورونه او ستاسو ښځې او ستاسو قبيله

وَ اَمۡوَالُ اِقۡتَرَفۡتُمُوۡهَا وَتِجَارَةٌ

او هغه مالونه چې تاسو هغه ګټلي دي او هغه تجارت

تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ

چې تاسو د هغه د بندېدو وېره کوئ او هغه استوګنې

تَرۡضَوۡنَهَاۤ اَحَبَّ اِلَيۡكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ وَ

چې تاسو هغه خوښوئ، تاسو ته ډېر محبوب دي له الله او

رَسُوۡلِهٖ وَجِهَادٍ فِىۡ سَبِيۡلِهٖ فَتَرَبَّصُوۡا

د هغه له رسول او د هغه په لاره کې له جهاد کولو نه،

حَتّٰى يَاۡتِىَ اللّٰهُ بِاَمۡرِهٖ ‌ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى

نو بیا انتظار کوئ، تر هغه پورې چې الله خپل حکم راولي او الله فاسقو

ع
9

الۡقَوۡمَ الۡفٰسِقِيۡنَ ۝٢٤ لَقَدۡ نَصَرَكُمُ

خلقو ته هدايت نه كوي -24- يقينًا يقينًا الله په ډېرو

اللّٰهُ فِيۡ مَوَاطِنَ كَثِيۡرَةٍ ۙ وَّيَوۡمَ

ځايونو كې ستاسو مدد كړى دى او د

حُنَيۡنٍ ۙ اِذۡ اَعۡجَبَتۡكُمۡ كَثۡرَتُكُمۡ فَلَمۡ

حنين په ورځ هم، كله چې خپل ډېر والي تاسو په تعجب كې اچولي وئ،

تُغۡنِ عَنۡكُمۡ شَيۡـًٔـا وَّضَاقَتۡ عَلَيۡكُمُ

بيا دا (ډېر والى) ستاسو هېڅ په كار رانغى او پر تاسو باندې

الۡاَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ ثُمَّ وَلَّيۡتُمۡ

ځمكه د هغې د ارتوالي باوجود تنګه شوه، بيا تاسو وګرځېدئ، په داسى حال كې

مُّدۡبِرِيۡنَ ۞ ثُمَّ اَنۡزَلَ اللّٰهُ سَكِيۡنَتَهٗ

چې شا کوونکي وئ -25- بیا الله خپل تسکین په

عَلٰى رَسُوۡلِهٖ وَعَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَاَنۡزَلَ

خپل رسول او په مومنانو باندې نازل کړ او داسې

جُنُوۡدًا لَّمۡ تَرَوۡهَا وَعَذَّبَ الَّذِيۡنَ

لښکرې یې نازلې کړې چې تاسو هغه نه وې لیدلې او کافر

كَفَرُوۡا ‌ؕ وَذٰ لِكَ جَزَآءُ الۡكٰفِرِيۡنَ ۞

شویو خلقو ته یې عذاب ورکړ او دا د کافرانو جزا ده -26-

ثُمَّ يَتُوۡبُ اللّٰهُ مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰ لِكَ عَلٰى مَنۡ

بیا به الله له دې نه بعد (په رحمت سره) رجوع وکړي په هغه چا چې یې وغواړي او

يَّشَاۤءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۲۷﴾ يٰۤاَيُّهَا

الله ډېر بخښونکی، ښه حکمت والا دی -27- ای
هغو

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِنَّمَا الۡمُشۡرِكُوۡنَ

کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په رښتیا هم دا
خبره ده چې مشرکان

نَجَسٌ فَلَا يَقۡرَبُوا الۡمَسۡجِدَ الۡحَرَامَ

نجس دي، نو مسجد حرام ته دې له خپل دې

بَعۡدَ عَامِهِمۡ هٰذَا ۚ وَاِنۡ خِفۡتُمۡ

کال نه وروسته نه نژدې کېږي او که تاسو له
کومې غریبۍ نه وېرېږئ،

عَيۡلَةً فَسَوۡفَ يُغۡنِيۡكُمُ اللّٰهُ مِنۡ

نو ژر به الله تاسو له خپله فضله غنیان کړي،

فَضۡلِهٖۤ اِنۡ شَآءَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌ

كه هغه وغواړي، بېشكه الله ښه پوه،

حَكِيۡمٌ ۞٢٨ قَاتِلُوا الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ

ښه حكمت والا دى -28- تاسو له هغو كسانو سره وجنګېږئ چې نه په الله ايمان

بِاللّٰهِ وَلَا بِالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَلَا

راوړي او نه د اخرت په ورځ،

يُحَرِّمُوۡنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ وَلَا

او هغه څه ته حرام نه وايي چې الله او د هغه رسول حرام كړي دي او نه

يَدِيۡنُوۡنَ دِيۡنَ الۡحَقِّ مِنَ الَّذِيۡنَ

دينِ حق قبلوي، له هغو كسانو ځنې چې كتاب

أُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ

ورته ورکړې شوې دي، تر دې چې دوی له خپله لاسه په داسې حال کې

ع
4

عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿٢٩﴾ وَقَالَتِ

جزيه ورکړي، چې دوی ذليل وي -29- او يهوديانو وويل:

الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ

عزير د الله زوی دی او نصرانيانو وويل: مسيح د الله زوی دی،

النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ

دا د دوی په خپلو خولو سره وينا ده، دوی د هغو کسانو له

قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ ۚ يُضَاهِـُٔوْنَ قَوْلَ

خبرې سره مشابهت کوي چې له دوی نه مخکې کافران وو،

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ؕ قٰتَلَهُمُ

الله دې دوى هلاك كړي، څنگه (له سمې لارې نه)

اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٠﴾ اِتَّخَذُوْٓا

گرځولى شي! -30- دوى خپل عالمان

اَحْبَارَهُمْ وَ رُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ

او خپل عابدان له الله نه غير خدايان نيولي دي

دُوْنِ اللّٰهِ وَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ وَ

او د مريمې زوى مسيح (يې هم)، حال داچې دوى ته

مَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ

حکم نه و شوى مگر د دې چې دوى دې د يو حق معبود عبادت کوي

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا

چې نشته هيڅ حق معبود مگر همدی دی، هغه
پاك دی له هغه څه نه چې دوی يې

يُشْرِكُوْنَ ۝ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـُٔوْا

(ورسره) شريکوي -31- دوی غواړي چې

نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ

د الله رڼا په (پوکو د) خپلو خولو سره مړه کړي او
الله انکار کوي مگر دا چې

يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝ هُوَ

خپله رڼا پوره کړي اگر که کافران (دا کار) بد گڼي
-32- دی هم

الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ

هغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او
حق دين سره رالېږلی دی،

الۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهٗ عَلَى الدِّيۡنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوۡ

د دي لپاره چې هغه (الله) دا (دين) په نورو ټولو دينونو باندې غالب کړي اګر که

كَرِهَ الۡمُشۡرِكُوۡنَ ﴿۳۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

مشرکان (دا کار) بد ګڼي -33- ای هغو کسانو چې

اٰمَنُوۡۤا اِنَّ كَثِيۡرًا مِّنَ الۡاَحۡبَارِ وَ

ایمان يې راوړی دی! بېشکه ډېر عالمان (د يهوديانو) او

الرُّهۡبَانِ لَيَاۡكُلُوۡنَ اَمۡوَالَ النَّاسِ

عابدان (د نصرانيانو) د خلقو مالونه په باطلې

بِالۡبَاطِلِ وَيَصُدُّوۡنَ عَنۡ سَبِيۡلِ

طريقې سره يقينًا خوري او د الله له لارې نه (خلق) منع کوي،

اللّٰهِ ؕ وَ الَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَ

او هغه كسان چې سره زر او

الْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ

سپين زر خزانه كوي او

هغه د الله په لاره كې نه لګوي، نو دوى ته د ډېر

فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳۴﴾ يَّوْمَ

دردوونكي عذاب زېرى وركړه -34- په هغې ورځ

يُّحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى

چې د جهنم په اور كې به دغه (خزانې) ښې

ګرمې كړى شي،

بِهَا جِبَاهُهُمْ وَ جُنُوْبُهُمْ وَ

بيا به په هغې سره د دوى تندي او د دوى اړخونه

او د

ظُهُوْرُهُمْ ؕ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ

دوی شاګانې داغلی شي (او دوی ته به ویلی
شي:) دا هغه څه دي

لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ

چې تاسو د خپلو ځانونو لپاره خزانه کړي وو، نو
تاسو وڅکئ هغه څه چې

تَكْنِزُوْنَ ۝٣٥ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ

تاسو خزانه کول -35- بېشکه د الله په نیز د
میاشتو

اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ

(معتبر) شمېر دولس میاشتې دی، د الله په کتاب
کې،

يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

په هغه ورځ چې هغه پیدا کړل اسمانونه او ځمکه،
له هغو

مِنۡهَاۤ اَرۡبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِكَ الدِّيۡنُ

نه څلور (مياشتى) د حرمت والا دي، همدغه سم (نيغ) دين دى،

الۡقَيِّمُ ۙ فَلَا تَظۡلِمُوۡا فِيۡهِنَّ اَنۡفُسَكُمۡ

نو تاسو په دغو کې په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ

وَقَاتِلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ كَآفَّةً كَمَا

او تاسو ټول له مشرکانو سره جنګ کوئ، لکه څنګه

يُقَاتِلُوۡنَكُمۡ كَآفَّةً ؕ وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ

چې دوى له تاسو سره جنګ کوي ټول او پوه شئ چې يقينًا الله د

مَعَ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۳۶﴾ اِنَّمَا النَّسِىۡٓءُ زِيَادَةٌ

پرهېزګارانو مل دى -36- اصل خبره دا ده چې تاخير

فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

(د حرمت د يوې مياشتې بلې مياشتې ته) يواځې په كفر

يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا وَّ يُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا

كې ډېر والى دى، په دې سره هغه كسان گمراه كولى شي چې كافران شوي دي،

لِّيُوَاطِـُٔوْا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فَيُحِلُّوْا

دوى دغه (حرامه مياشت) يو كال حلاله گڼي او يو كال هغه حرامه، د دې

مَا حَرَّمَ اللّٰهُ ؕ زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ

لپاره چې دوى د هغو (مياشتو) شمېر پوره كړي چې الله حرامې كړې دي، بيا حلالې كړي هغه

اَعْمَالِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ

(مياشتې) چې الله حرامې كړې دي، دوى ته خپل نا كاره عملونه ښايسته كړى شوي دي او الله

ع
10

الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۳۷﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

كافر قوم ته هدايت نه كوي -37- اى هغو كسانو
چې ايمان يې راوړى دى!

مَا لَكُمۡ اِذَا قِيۡلَ لَكُمُ انۡفِرُوۡا فِىۡ

په تاسو څه شوي دي چې كله تاسو ته وويل شي:
د

سَبِيۡلِ اللّٰهِ اثَّاقَلۡتُمۡ اِلَى

الله په لاره كې د غزا لپاره ووځئ (، نو) تاسو

الۡاَرۡضِ‌ ؕ اَرَضِيۡتُمۡ بِالۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا

ځمكې ته درانه (او مايل) شئ؟ ايا تاسو د اخرت
په مقابله كې

مِنَ الۡاٰخِرَةِ‌ ۚ فَمَا مَتَاعُ الۡحَيٰوةِ

په دې دنيايي ژوند راضي شوي يئ؟ نو د اخرت په
مقابله كې

الدُّنۡيَا فِى الۡاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيۡلٌ ﴿۳۸﴾ اِلَّا

د دنياوي ژوند فايده نه ده مگر ډېره لږه -38- که
تاسو

تَنۡفِرُوۡا يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۙ وَّ

ونه وځئ (نو) هغه (الله) به تاسو ته ډېر
دردوونکی عذاب درکړي او

يَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوۡهُ

له تاسو نه غير به بل قوم په بدل کې راولي او
تاسو به هغه ته هيڅ شی ضرر ونه رسولی

شَيۡـًٔـا ‌ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۳۹﴾

شئ او الله په هر شي باندې ښه قادر دی -39-

اِلَّا تَنۡصُرُوۡهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذۡ

که تاسو د دغه (رسول) مرسته ونه وکړئ، نو يقيناً
الله د هغه مدد کړی

اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثَانِيَ اثْنَيْنِ

دی کله چې دې کافران شويو خلقو په داسې حال کې وويست چې دويم د دوو و،

اِذْ هُمَا فِي الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا

کله چې هغوی دواړه په غار کې وو، کله چې هغه خپل ملګري ته ويل:

تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ

غم مه کوه، بېشکه الله زمونږ سره دی، نو الله په هغه باندې

سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ

خپل تسکين نازل کړ او هغه يې په داسې لښکرو سره

تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

مضبوط کړ چې تاسو هغه نه دي ليدلي، او د کافران شويو خلقو کلمه

السُّفْلٰى ؕ وَ كَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا ؕ وَ

يې ترټولو ښکته کړه او د الله کلمه، همغه تر ټولو لوړه ده، او الله ښه غالب،

اللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٤٠﴾ اِنْفِرُوْا خِفَافًا

ښه حکمت والا دی -40- تاسو غزا ته وځئ،

وَّ ثِقَالًا وَّ جَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَ

په داسی حال کې چې سپك يئ او درانه او په خپلو مالونو او

اَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ

ځانونو سره د الله په لار کې جهاد کوئ، دا تاسو

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ لَوْ

لپاره ډېر غوره دي، که تاسو پوهېږئ -41- که هغه،

كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَّ سَفَرًا قَاصِدًا

نژدې سامان او منځنی سفر وی (، نو) دوی به لازمًا

لَّاتَّبَعُوكَ وَ لٰكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ

ستا متابعت کړی و او لیکن په دوی باندې فاصله

الشُّقَّةُ ؕ وَ سَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ لَوِ

لرې پرېوته (نو ځکه یې نافرمانی وکړه) او ژر به دوی په الله قسمونه

اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُونَ

خوري که زمونږ طاقت وی (، نو) ضرور به له تاسو سره وتلي وو، دوی

اَنْفُسَهُمْ ۚ وَ اللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ

خپل ځانونه هلاکوي او الله پوهېږي چې بېشکه

ع
11

لَكٰذِبُوۡنَ ۝٤٢ عَفَا اللّٰهُ عَنۡكَ ۚ لِمَ

دوی یقینًا دروغجن دي -42- الله ته معاف کړي، د څه لپاره

اَذِنۡتَ لَهُمۡ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيۡنَ

(او ولې) دې دوی ته (دپاتې کېدلو) اجازت ورکړ؟ تر هغه پورې چې تا ته هغه کسان ښه

صَدَقُوۡا وَتَعۡلَمَ الۡكٰذِبِيۡنَ ۝٤٣ لَا

ښکاره شوي وی چې رښتيا يې ويلي او تا دروغجن (هم) معلوم کړي وی -43- له تا

يَسۡتَاۡذِنُكَ الَّذِيۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَ

نه هغه کسان اجازت نه غواړي چې په الله او

الۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ اَنۡ يُّجَاهِدُوۡا

د اخرت په ورځ ايمان لري له دې نه چې په

بِاَمۡوَالِهِمۡ وَاَنۡفُسِهِمۡ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ

خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړي او الله په پرهېزګارانو

بِالۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۴۴﴾ اِنَّمَا يَسۡتَاۡذِنُكَ الَّذِيۡنَ

ښه عالم دی -44- له تا نه اجازت يواځې هغه کسان غواړي چې

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَ

په الله او د اخرت په ورځ ايمان نه لري او

ارۡتَابَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ فَهُمۡ فِىۡ رَيۡبِهِمۡ

د هغوی زړونه شکمن شوي دي، نو دوی په خپل شك کې حيرانه

يَتَرَدَّدُوۡنَ ﴿۴۵﴾ وَلَوۡ اَرَادُوا الۡخُرُوۡجَ

سرګردانه دي -45- او که دوی (غزا ته) د وتلو اراده لرلی،

لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ

نو ارومرو به دوی د دې (وتلو) لپاره د تیاري څه
اسباب تیار کړي وو او لېکن الله

انْۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيْلَ اقْعُدُوْا

د دوی پورته کېدل (د جهاد لپاره) نه و خوښ
کړي، نو دوی یې په سست کولو سره بند کړل او

مَعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا

وویل شو: تاسو کېنئ له کېناستونکو سره -46- که
دوی په (لښکر د) تاسو کې وتلي وی

زَادُوْكُمْ اِلَّا خَبَالًا وَّلَاَاوْضَعُوْا

(، نو) دوی به تاسو ته نه و زیات کړی (هیڅ
شی) مگر شر او ضرور به دوی ستاسو په مینځ

خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيْكُمْ

کې (د خرابۍ او چغلۍ لپاره) چابکي کړې وه، په
داسې حال کې چې دوی به تاسو لپاره فتنه لټوله

سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

او په تاسو کې د هغوی لپاره څه جاسوسان هم شته او الله په ظالمانو

بِالظّٰلِمِيْنَ ۝٤٧ لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ

ښه پوه دی -47- يقينًا يقينًا دوی له دې نه مخکې فتنه

قَبْلُ وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ حَتّٰى جَآءَ

(خرابي) لټولې وه او تا ته يې ټول کارونه (په حيلو او دسيسو سره) اړولي وو،

الْحَقُّ وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ

تر دې چې حق راغی او د الله حکم څرګند (او غالب) شو، په داسې حال کې چې دوی

كٰرِهُوْنَ ۝٤٨ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ

بدګڼونکي وو -48- په دوی کې ځينې هغه څوک دي چې وايي:

لِّیۡ وَ لَا تَفۡتِنِّیۡ ؕ اَلَا فِی الۡفِتۡنَۃِ سَقَطُوۡا ؕ

ما ته اجازت راکړه او ما په فتنه (ګمراهۍ) کې مه اچوه، خبردار شئ! هم دوی په فتنه کې

وَ اِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِیۡطَۃٌۢ بِالۡکٰفِرِیۡنَ ﴿۴۹﴾

غورځېدلي دي او بېشکه جهنم يقينًا کافرانو لره راګېرووونکی دی -49-

اِنۡ تُصِبۡكَ حَسَنَۃٌ تَسُؤۡهُمۡ ۚ وَ اِنۡ

که تا ته څه ښېګڼه درورسېږي (، نو) ...دوی خفه کوي، او که

تُصِبۡكَ مُصِیۡبَۃٌ یَّقُوۡلُوۡا قَدۡ اَخَذۡنَاۤ

چېرې تا ته څه مصيبت د رورسېږي (نو) دوی وايي: يقينًا مونږ خپل کار

اَمۡرَنَا مِنۡ قَبۡلُ وَ یَتَوَلَّوۡا وَّ هُمۡ

(د احتياط) له مخکې نه نيولی و او واپس کېږي، په داسې حال کې چې دوی (ستا په مصيبت) ډېر

فَرِحُوۡنَ ﴿۵۰﴾ قُلۡ لَّنۡ یُّصِیۡبَنَاۤ اِلَّا مَا

خوشحاله وي -50- ته (دوی ته) ووایه: مونږ ته به له سره

کَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ هُوَ مَوۡلٰىنَا ۚ وَ عَلَى اللّٰهِ

مصیبت راونه راسېږي مګر هغه چې الله زمونږ لپاره لیکلی دی، هم هغه زمونږ کارساز دی او پس

فَلۡیَتَوَکَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۱﴾ قُلۡ هَلۡ

لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي -51- ته (دوی ته) ووایه: تاسو

تَرَبَّصُوۡنَ بِنَاۤ اِلَّاۤ اِحۡدَى

زمونږ په باره کې انتظار نه کوئ مګر په دوو

الۡحُسۡنَیَیۡنِ ؕ وَ نَحۡنُ نَتَرَبَّصُ بِکُمۡ

تر ټولو غوره ځیزونو کې د یو ځیز، او مونږ ستاسو په باره کې

اَنۡ يُّصِيۡبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنۡ عِنۡدِهٖۤ

انتظار کوو د دې چې الله تاسو ته عذاب
دروررسوي له خپل جانب نه،

اَوۡ بِاَيۡدِيۡنَا ۖ فَتَرَبَّصُوۡۤا اِنَّا مَعَكُمۡ

یا زمونږ په لاسونو سره، پس تاسو انتظار کوئ،
بېشکه مونږ هم له تاسو سره

مُّتَرَبِّصُوۡنَ ۝٥٢ قُلۡ اَنۡفِقُوۡا طَوۡعًا اَوۡ

انتظار کوونکي یو -52- ته (دې منافقانو ته)
ووایه: تاسو مالونه

كَرۡهًا لَّنۡ يُّتَقَبَّلَ مِنۡكُمۡ ؕ اِنَّكُمۡ

لګوئ په رضا سره، یا (د اسلام) په زور سره، له
سره به له تاسو نه قبول نه کړی شي، بېشکه تاسو

كُنۡتُمۡ قَوۡمًا فٰسِقِيۡنَ ۝٥٣ وَمَا مَنَعَهُمۡ

له شروع نه فاسقان (کافران) یئ -53- او دوی لره
نه دي منع کړي

اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ اَنَّهُمْ

چې له دوی نه دې د دوی لګولي مالونه قبول کړی شي مګر دې (خبرې)

كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ

چې يقينًا دوی په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي او

الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى وَلَا

لمانځه ته نه راځي مګر په داسې حال کې چې سست وي او

يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿٥٤﴾ فَلَا

انفاق نه کوي مګر په داسې حال کې چې ناخوښه وي -54- نو تا دې

تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ؕ

په تعجب کې وانه چوي د دوی مالونه او نه د دوی اولادونه،

اِنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ بِهَا فِى

همدا خبره ده چې الله غواړي چې دوی ته په دغو (څيزونو)

الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ اَنۡفُسُهُمۡ وَ

سره په دنیایي ژوند کې عذاب ورکړي او د دوی روحونه په داسې حال کې ووځي چې

هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴿۵۵﴾ وَيَحۡلِفُوۡنَ بِاللّٰهِ

دوی کافران وي -55- او دوی په الله قسمونه خوري

اِنَّهُمۡ لَمِنۡكُمۡ ؕ وَمَا هُمۡ مِّنۡكُمۡ وَ

چې بېشکه دوی یقینًا له تاسو څخه دي، حال دا چې دوی له تاسو څخه نه دي او

لٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٌ يَّفۡرَقُوۡنَ ﴿۵۶﴾ لَوۡ يَجِدُوۡنَ

لېکن دوی داسې قوم دی چې وېرېږي -56- که دوی څه د

مَلۡجَاً اَوۡ مَغٰرٰتٍ اَوۡ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوۡا اِلَيۡهِ

پناه ځای ومومي، يا غارونه، يا بل د ننوتلو ځای
(، نو) خامخا به دوی هغه ته وګرځي،

وَهُمۡ يَجۡمَحُوۡنَ ۝٥٧ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ

په داسې حال کې چې دوی به منډې وهي -57-
او په دوی کې ځيني هغه

يَّلۡمِزُكَ فِى الصَّدَقٰتِ ۚ فَاِنۡ اُعۡطُوۡا

څوک دي چې د صدقاتو (د تقسيم) په باره کې په
تا عيب لګوي، نو که دوی ته له دې (صدقاتو) نه

مِنۡهَا رَضُوۡا وَاِنۡ لَّمۡ يُعۡطَوۡا مِنۡهَاۤ اِذَا

(څه) ورکړی شي (نو) راضي کېږي او که له دې
نه ورته څه ورنه کړی شي (نو) سمدستي هماغه

هُمۡ يَسۡخَطُوۡنَ ۝٥٨ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ رَضُوۡا مَاۤ

وخت غصه کېږي -58- او که حقيقتًا دوی په
هغه څه راضي شوي

اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ وَ رَسُوۡلُهٗ ۙ وَ قَالُوۡا حَسۡبُنَا

وى چې الله او د هغه رسول دوى ته ورکړي دي او ويلي يې وى:

اللّٰهُ سَيُؤۡتِيۡنَا اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ وَ

زمونږ لپاره الله کافي دى، ژر به الله مونږ ته له خپله فضله راکړي او

ع 12

رَسُوۡلُهٗۤ ۙ اِنَّاۤ اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوۡنَ ﴿۵۹﴾ اِنَّمَا

د هغه رسول (هم له بل غنيمت نه) بېشکه مونږ خاص الله ته رغبت کوونکي يو -59- بېشکه

الصَّدَقٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَ الۡمَسٰكِيۡنِ وَ

همدا خبره ده چې صدقې (زکاتونه) يواځې د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي او

الۡعٰمِلِيۡنَ عَلَيۡهَا وَ الۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوۡبُهُمۡ

د هغو کسانو لپاره چې په دې باندې عامل (راټولوونکي) وي او د هغو لپاره د چا په زړونو

وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ

کې چې الفت اچولی شي او په (ازادولو د) ځټونو (د مریانو مکاتبانو) کې (به صرف کولی شي) او

اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۭ فَرِيْضَةً مِّنَ

تاوان موندونکو لپاره او د الله په لار کې او د مسافرو لپاره (به صرف کولی شي، دغه مقرره

اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝٦٠ وَمِنْهُمُ

(کړی شوې) فریضه ده د الله له جانبه او الله ښه عالِم، ښه حکمت والا دی -60- او په دوی کې

الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ

ځینې هغه کسان دي چې نبي ته تکلیف رسوي او وايي: هغه

اُذُنٌ ۭ قُلْ اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

(اوریدونکی) غوږ دی (هرڅه اوري او مني يې) ته ووايه: تاسو لپاره د خير غوږ دی، په الله ايمان

وَ يُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَ رَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ

لري او په مومنانو باور كوي او په تاسو كې د هغو كسانو لپاره رحمت دى

اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ؕ وَ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ

چې ايمان يې راوړى دى، او هغه كسان چې د

رَسُوْلَ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝٦١

الله رسول ته تكليف رسوي؛ د هغوى لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى -61-

يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوْكُمْ ۚ وَ

تاسو لپاره دوى په الله قسمونه خوري، د دې لپاره چې تاسو راضي كړي او

اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗۤ اَحَقُّ اَنْ يُّرْضُوْهُ اِنْ

الله او د هغه رسول زيات حقدار دي د دې چې دوى هغه راضي كړي، كه

كَانُوۡا مُؤۡمِنِيۡنَ ﴿٦٢﴾ اَلَمۡ يَعۡلَمُوۡۤا اَنَّهٗ

دوی ایمان راوړونکي وي -62- ایا دوی په دې نه
دي پوه شوي چې بېشکه

مَنۡ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ فَاَنَّ لَهٗ نَارَ

شان دا دی چې څوك د الله او د هغه د رسول
مخالفت کوي، نو (جزا د هغه دا ده چې) یقینًا هم

جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيۡهَا ؕ ذٰلِكَ الۡخِزۡىُ

د هغه لپاره د جهنم اور دی، چې په هغه کې به
همېشه وي او همدغه ډېره

الۡعَظِيۡمُ ﴿٦٣﴾ يَحۡذَرُ الۡمُنٰفِقُوۡنَ اَنۡ

لویه رسوایي ده -63- منافقان وېرېږي له دې نه

تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُوۡرَةٌ تُنَبِّئُهُمۡ بِمَا فِىۡ

چې په دوی باندې داسې سورت نازل کړی شي
چې دې (مومنانو) ته د هغه څه

قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلِ اسْتَهْزِءُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ

خبر ورکوي چې د دوي (منافقانو) په زړونو کې
دي ته (ورته) ووايه: تاسو (دغه) استهزا مسخرې

مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَئِنْ

کوئ، بېشکه الله د هغه څه ښکاره کوونکی دی
چې تاسو (ترې) وېرېږئ -64- او قسم دی

سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَ

که ته له دوی نه پوښتنه وکړې (، نو) خامخا به
وايي: مونږ خو يواځې مشغولتيا او

نَلْعَبُ ؕ قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ

لوبې کولې، ته (ورته) ووايه: ايا تاسو په الله او د
هغه په ايتونو او د هغه په رسول پورې

كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوْا

استهزا او مسخرې کولې؟ -65- عذرونه (بهانې)
مه جوړوئ،

قَدۡ كَفَرۡتُمۡ بَعۡدَ اِيۡمَانِكُمۡ ؕ اِنۡ نَّعۡفُ

يقينًا تاسو له خپل ايمان راوړو نه وروسته کافران شوي يئ، که مونږ په تاسو کې يوې ډلې

عَنۡ طَآئِفَةٍ مِّنۡكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةً

ته معافي وکړو (، نو) بلې ډلې ته به عذاب ورکړو، په سبب د دې چې

ع 13

بِاَنَّهُمۡ كَانُوۡا مُجۡرِمِيۡنَ ۝٦٦ اَلۡمُنٰفِقُوۡنَ

هغوی په رښتيا مجرمان وو -66- منافق سړي او

وقف لازم

وَالۡمُنٰفِقٰتُ بَعۡضُهُمۡ مِّنۡۢ بَعۡضٍ ۘ

منافقې ښځې د دوی ځينې د ځينو (نورو) څخه دي،

يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمُنۡكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ

دوی د ناروا حکم کوي او له نيکۍ نه منع کوي او

الْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ۚ

خپل لاسونه (له انفاق كولو نه) كلك بند ساتي،

نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۗ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ

دوى الله پرېښوده، نو هغه (الله) دوى پرېښودل، بېشكه همدا منافقان فاسقان

هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ اللَّهُ

(د ايمان له دايرې نه وتونكي) دي -67- الله له منافقو

الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ

سړيو او منافقو ښځو او (ټولو) كفارو سره د جهنم د اور

جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ

وعده كړې ده، په داسې حال كې چې دوى به په هغه كې تل ترتله وي،

وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

همدغه د دوی لپاره بس دی او الله په دوی
لعنت کړی دی او د دوی لپاره

مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾ كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا

تل (دايمي) عذاب دی -68- (ای منافقانو! تاسو
يئ) په شان د هغو کسانو چې

اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّ

له تاسو نه مخکې وو، هغوی له تاسو نه د قوت په
لحاظ ډېر سخت وو او د مالونو او

اَوْلَادًا ۭ فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ

اولادونو په لحاظ سره ډېر زيات وو، نو هغوی

فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا

له خپلې برخې نه فايده واخيستله، بيا تاسو له
خپلې برخې نه فايده واخيستله، لکه څنګه

اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

چې هغو کسانو د خپلې برخې نه فایده اخیستې وه چې له تاسو نه مخکې وو

بِخَلَاقِهِمْ وَ خُضْتُمْ كَالَّذِيْ

او تاسو هم په باطلو خبرو کې ننه داخل شوئ په شان

خَاضُوْا ۭ اُولٰۗىِٕكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي

د هغه (داخلېدلو) چې هغوی داخل شوي وو، دغه کسان (چې دي) د دوی عملونه په

الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ۚ وَ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ

دنیا او اخرت کې برباد شول او همدغه کسان

الْخٰسِرُوْنَ ۝ ٦٩ اَلَمْ يَاْتِهِمْ نَبَاُ الَّذِيْنَ

تاوانیان دي -69- ایا دوی ته د هغو کسانو (د عذاب)

مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّ عَادٍ وَّ ثَمُوْدَ ۙ

خبر نه دی راغلی چې له دوی نه مخکې وو (يعنې) د نوح قوم او عاد او ثمود

وَ قَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ وَ اَصْحٰبِ مَدْيَنَ وَ

او د ابراهيم قوم او د مدين والا او د چپه شويو کليو (د قومِ لوط)،

الْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

دوی ته خپلو رسولانو ښکاره معجزې راوړې وې،

بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَ

نو الله له سره داسې نه و چې پر دوی يې ظلم کړی وی او

لٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝٧٠ وَ

لېکن هغوی پخپله پر خپلو ځانونو ظلم کاوه -70- او

الْمُؤْمِنُوْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ

مومن سړي او مومنې ښځې د دوی ځينې

وقف لازم

اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

د ځينو نورو دوستان دي، دوی د نېکۍ حکم کوي او له

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ

بدۍ نه منع کوي او لمونځ قايموي

الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ

او زکات ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي،

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ

دغه کسان (چې دي) ضرور به الله په دوی رحم وکړي،

اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝٧١ وَعَدَ

بیشکه الله ډیر غالب، ښه حکمت والا دی -71-
الله د مومنو

اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ

سړیو او مومنو ښځو سره د داسې جنتونو وعده
کړې ده چې

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو
کې همیشه وي

فِيْهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ

او د داسې پاکیزه اوسیدنځایونو چې د عدن (تل
اوسیدني)

عَدْنٍ ؕ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ

په جنتونو کې به وي۔ او د الله له جانبه
رضامندي تر ټولو لویه ده،

ع
14

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٧٢﴾ يٰاَيُّهَا

همدغه ډېره لويه كاميابي ده -72- اى

النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَ

نبي! ته له كفارو او منافقانو سره جهاد كوه او

اغْلُظْ عَلَيْهِمْ ؕ وَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَ

په دوى سختي كوه او د دوى د ورتلو ځاى جهنم
دى او

بِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٧٣﴾ يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ مَا

(هغه) د ورتلو بد ځاى دى -73- دوى په الله
قسمونه خوري چې دوى

قَالُوْا ؕ وَ لَقَدْ قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَ

(څه) نه دي ويلي او يقينًا يقينًا دوى د كفر الفاظ
ويلي دي او

كَفَرُوْا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ وَ هَمُّوْا بِمَا لَمْ

له خپل اسلام راوړو نه بعد کافر شوي دي او دوی د هغه څه اراده کړې ده چې

يَنَالُوْا ۚ وَ مَا نَقَمُوْٓا اِلَّآ اَنْ اَغْنٰهُمُ

دوی (هغه ته) ونه رسېدل او دوی (په الله او د هغه په رسول، عيب ونه لګاوه مګر ځکه چې الله

اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَاِنْ يَّتُوْبُوْا

له خپل فضله دوی غنيان کړل او د هغه رسول (د غنيمتونه په تقسيم سره) نو که دوی (له نفاقه)

يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا

توبه وباسي دا به د دوی لپاره ډېر غوره وي او که دوی وګرځي

يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ فِى الدُّنْيَا

(نو) الله به دوی ته په دنيا او اخرت (دواړو) کې ډېر دردوونکی عذاب ورکړي،

وَ الْاٰخِرَةِ ۚ وَ مَا لَهُمْ فِي الْاَرْضِ مِنْ

په دې حال کې چې د دوی لپاره به په ځمکه کې هيڅ

وَّلِيٍّ وَّ لَا نَصِيْرٍ ﴿۷۴﴾ وَ مِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ

کارساز او مددګار نه وي -74- او په دوی کې ځيني هغه څوك دي چې له

اللّٰهَ لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ

الله سره يې عهد کړى دى چې قسم دى که هغه مونږ ته له خپله فضله څه راکړل (، نو) خامخا

وَ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَلَمَّآ

ضرور به خيراتونه کوو او هرومرو لازمًا به له نېکانو څخه کېږو -75- نو کله چې هغه (الله)

اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَ تَوَلَّوْا وَّ

دوی ته له خپله فضله (مال) ورکړ (، نو) په هغه (مال) يې بخل وکړ او وګرځېدل، په داسې حال

هُمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿٧٦﴾ فَاَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقًا فِىۡ

چې اعراض كوونكي وو -76- نو هغه (الله) دوی ته د

دې په نتيجه کې د دوی په زړونو کې داسې نفاق

قُلُوۡبِهِمۡ اِلٰى يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهٗ بِمَاۤ اَخۡلَفُوا

کېښود چې تر هغې ورځې پورې به وي چې له هغه

(الله) سره ملاوېږي، په سبب د هغه چې دوی له الله

اللّٰهَ مَا وَعَدُوۡهُ وَبِمَا كَانُوۡا يَكۡذِبُوۡنَ ﴿٧٧﴾

سره د هغې خبرې مخالفت وکړ چې دوی له هغه سره

وعده کړې وه او په سبب د دې چې دوی به دروغ ويل

اَلَمۡ يَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ سِرَّهُمۡ وَ

-77- ايا دوی په دې نه دي پوه شوي چې بېشکه

الله د دوی په پټو (نيتونو) او د

نَجۡوٰىهُمۡ وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الۡغُيُوۡبِ ﴿٧٨﴾ۚ

دوی په پټو مشورو عالم دی او (دوی په دې نه دي پوه

شوي) چې بېشکه الله په ټولو پټو خبرو ښه عالم دی -

اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ

78- هغه کسان چې په نفلي خيرات کوونکو

الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ لَا

مومنانو باندې د صدقاتو په باره کې عيب لګوي او په هغو کسانو باندې

يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ

(عيب لګوي) چې هغوی نه مومي مګر خپل وس او محنت، نو دوی (منافقان) په دوی

مِنْهُمْ ؕ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ۫ وَلَهُمْ

پورې مسخرې کوي، الله به په دوی پورې مسخرې وکړي او د دوی لپاره ډېر

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝٧٩ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا

دردوونکی عذاب دی -79- ته د دوی لپاره استغفار وغواړه،

تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ ؕ اِنۡ تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ

یا د دوی لپاره استغفار مه غواړه که ته د دوی لپاره

سَبۡعِیۡنَ مَرَّةً فَلَنۡ یَّغۡفِرَ اللّٰهُ لَهُمۡ ؕ

اویا ځله هم استغفار وغواړې، نو الله به له سره دوی ته بخښنه ونه کړي،

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ كَفَرُوۡا بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ ؕ وَ

دا ځکه چې یقینًا دوی په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي او

ع 15

اللّٰهُ لَا یَهۡدِی الۡقَوۡمَ الۡفٰسِقِیۡنَ ﴿۸۰﴾

الله فاسق (له حد نه وتونکي) قوم ته هدایت نه کوي -80-

فَرِحَ الۡمُخَلَّفُوۡنَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلٰفَ

وروسته پاتې کړی شوي خلق، له رسول الله نه شا ته،

رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا

په خپلو کېناستو باندې خوشحاله شول او دوی بد وګڼل دا چې په

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

خپلو مالونو او ځانونو سره د الله په لاره کې جهاد وکړي

وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ؕ قُلْ نَارُ

او وېې ويل: تاسو په ګرمۍ کې (دې غزا ته) مه وځئ، ته ووايه: بېشکه د

جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ؕ لَوْ كَانُوْا

جهنم اور د ګرمۍ په لحاظ ډېر سخت دی، که چېرې

يَفْقَهُوْنَ ۝٨١ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّ

دوی پوهېدلی -81- نو دوی دې وخاندې (په دنيا کې) لږ او

لِيَبۡكُوۡا كَثِيۡرًا ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوۡا

ودې ژاړي ډېر (په اخرت کې) (دا) جزا ده په سبب د هغو عملونو

يَكۡسِبُوۡنَ ۝٨٢ فَاِنۡ رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰى

چې دوی به کول -82- نو که الله ته بېرته راوستې په دوی کې

طَآئِفَةٍ مِّنۡهُمۡ فَاسۡتَاۡذَنُوۡكَ لِلۡخُرُوۡجِ

يوې ډلې ته، بيا دوی له تا نه (بلې غزا ته) د وتلو اجازت وغواړي، نو ته (ورته)

فَقُلۡ لَّنۡ تَخۡرُجُوۡا مَعِىَ اَبَدًا وَّلَنۡ

ووايه: تاسو به له سره ونه وځئ (جهاد ته) زما سره، هيڅکله، او له سره

تُقَاتِلُوۡا مَعِىَ عَدُوًّا ؕ اِنَّكُمۡ رَضِيۡتُمۡ

به زما په ملګرتيا کې د کوم دښمن سره جنګ ونه کړئ، هيڅکله، بېشکه تاسو مخکې ځلې په ناسته

بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا مَعَ

راضي شوي وئ، نو (اوس) ناست اوسئ

الْخٰلِفِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ

د وروسته پاتې کېدونکو (ښځو، ماشومانو او
عاجزو سړيو) سره -83- او په دوی کې چې کوم

مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى

يومړ شي، نو ته د هغه هيڅکله هم جنازه مه کوه
او مه يې (د دعا او تدفين لپاره) په

قَبْرِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَ

قبر ودرېږه، بېشکه دوی په الله او د هغه په رسول
کافران شوي دي او مړه شوي دي،

مَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَلَا تُعْجِبْكَ

په داسې حال کې چې فاسقان وو -84- او تا دې
په تعجب کې

اَمۡوَالُهُمۡ وَ اَوۡلَادُهُمۡ ؕ اِنَّمَا يُرِيۡدُ

وانه اچوي د دوی مالونه او نه د دوی اولادونه، يقينًا

اللّٰهُ اَنۡ يُّعَذِّبَهُمۡ بِهَا فِى الدُّنۡيَا وَ

الله همدا اراده لري چې دوی ته په دغو (مالونو او اولادونو) سره عذاب ورکړي او

تَزۡهَقَ اَنۡفُسُهُمۡ وَهُمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴿۸۵﴾

روحونه يې ووځي، په داسی حال کې چې کافران وي -85-

وَاِذَاۤ اُنۡزِلَتۡ سُوۡرَةٌ اَنۡ اٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَ

او کله چې کوم سورت نازل کړی شي (او دا حکم په کې وي) چې په الله ايمان راوړئ او

جَاهِدُوۡا مَعَ رَسُوۡلِهِ اسۡتَاۡذَنَكَ اُولُوا

د هغه د رسول په ملگرتيا کې جهاد وکړئ، (نو) له تا نه په دوی کښې د (مالي) طاقت والا د پاتې

الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَ قَالُوْا ذَرْنَا نَكُنْ مَّعَ

کېدو) اجازت غواړي او وايي: ته مونږ پرېږده چې اوسو (په کورونو کې) له کېناستونکو

الْقٰعِدِيْنَ ﴿٨٦﴾ رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ

(ښځو، ماشومانو) سره -86- دوی په دې راضي شول چې د پاتې شويو

الْخَوَالِفِ وَ طُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ

(ښځو، ماشومانو) سره وي او د دوی په زړونو مهر لګول شوی دی، ځکه نو

لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٨٧﴾ لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَ

دوی نه پوهېږي -87- لېکن رسول او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ

هغو کسانو چې له ده سره يې ايمان راوړی دی، هغوی په خپلو مالونو

وَاَنْفُسِهِمْ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ لَهُمُ

او خپلو ځانونو سره جهاد وکړ او خاص د همدغو کسانو

الْخَيْرٰتُ ۡ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ

لپاره ښېګڼې دي او همدغه

الْمُفْلِحُوْنَ ۝٨٨ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ

کسان کامیاب دي -88- الله د دوی لپاره داسې جنتونه تیار کړي

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، په دې حال کې چې همېشه اوسېدونکي به وي په

ع 16

فِيْهَا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝٨٩ۧ وَجَاۗءَ

هغو کې، همدغه ډېر لوی بری دی -89- او د اعرابو

الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ

(بانډېسيانو) څخه عذر جوړونكي راغلل، د دې
لپاره چې دوى ته (د پاتې كېدو)

لَهُمْ وَ قَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا اللّٰهَ وَ

اجازت وركړى شي او هغه كسان كېناستل چې
الله او

رَسُوْلَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د هغه رسول ته يې دروغ ويلي وو، ژر به هغو
كسانو ته، چې په دوى كې كافران شوي دي؛

مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٠﴾ لَيْسَ عَلَى

ډېر دردوونكى عذاب ورسېږي -90- هېڅ گناه او

الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا

جرم نشته په كمزورو او نه په مريضانو او نه

عَلَى الَّذِيۡنَ لَا يَجِدُوۡنَ مَا يُنۡفِقُوۡنَ

په هغو کسانو چې نه مومي هغه (مال) چې يې ولګوي،

حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوۡا لِلّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ ؕ مَا

کله چې دوی د الله او د هغه د رسول لپاره اخلاص کوي،

عَلَى الۡمُحۡسِنِيۡنَ مِنۡ سَبِيۡلٍ ؕ وَاللّٰهُ

په نېکي کوونکو باندې هېڅ (د الزام) لار نشته او الله ډېر بخښونکی، بې حده

غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۙ﴿۹۱﴾ وَّلَا عَلَى الَّذِيۡنَ اِذَا

رحم کوونکی دی -91- او نه په هغو کسانو (څه حرج شته)

مَا اَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَاۤ اَجِدُ مَاۤ

چې هرکله تا ته راغلي دي، د دې لپاره چې ته هغوی ته سورلۍ ورکړې، تا ووېل:

أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ ۖ تَوَلَّوۡا وَّ أَعۡيُنُهُمۡ

زه نه مومم هغه (سورلي) چې تاسو پر هغې سواره کړم، نو هغوی وګرځي، په داسې حال کې چې د

تَفِيۡضُ مِنَ الدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوۡا

هغوی سترګې په اوښکو سره بهېږي، د دې غم په سبب چې دوی هغه (مال) نه مومي

مَا يُنۡفِقُوۡنَ ؕ ﴿٩٢﴾ إِنَّمَا السَّبِيۡلُ عَلَى

چې دوی یې ولګوي -92- یقینا همداخبره ده چې لار (د ملامتیٰ) خو په

الَّذِيۡنَ يَسۡتَأۡذِنُوۡنَكَ وَ هُمۡ أَغۡنِيَآءُ ۚ

هغو کسانو ده چې هغوی له تا نه (د پاتې کېدلو) اجازت غواړي، حال دا چې دوی غنیان دي،

رَضُوۡا بِأَنۡ يَّكُوۡنُوۡا مَعَ الۡخَوَالِفِ ۙ وَ

دوی راضي شوي دي په دې چې دوی پاتې شي له وروسته پاتې کېدونکو (ښځو، جینکو) سره او

طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ

الله د دوی په زړونو مهر لګولی دی، نو دوی

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٩٣﴾

نه پوهېږي -93-

يَعۡتَذِرُونَ إِلَيۡكُمۡ إِذَا رَجَعۡتُمۡ

دوی به تاسو ته عذرونه وړاندې کوي کله چې
تاسو دوی ته بېرته راوګرځئ،

إِلَيۡهِمۡۚ قُل لَّا تَعۡتَذِرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ

ته (ورته) ووایه: تاسو عذرونه مه وړاندې کوئ۔،

لَكُمۡ قَدۡ نَبَّأَنَا ٱللَّهُ مِنۡ أَخۡبَارِكُمۡۚ وَ

مونږ به له سره په تاسو باور ونه کړو، یقیناً مونږ،
الله ستاسو له ځینو احوالو نه خبر کړي یو۔ او

سَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ ثُمَّ

ژر ده چې الله او د هغه رسول به ستاسو عملونه
ویني،

تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ

بیا به تاسو د پټو او ښکاره وو عالِم (الله) ته
ورګرځولی شئ،

فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ

نو هغه به تاسو په هغو عملونو خبر کړي چې تاسو

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۴﴾ سَيَحۡلِفُوۡنَ بِاللّٰهِ لَكُمۡ اِذَا

به کول -94- يقيناً دوی به تاسو ته په الله سره
قسمونه خوري،

انۡقَلَبۡتُمۡ اِلَيۡهِمۡ لِتُعۡرِضُوۡا عَنۡهُمۡ ؕ

کله چې تاسو دوی ته واپس راشئ، د دې لپاره
چې تاسو له دوی نه اعراض وکړئ، نو

فَاَعۡرِضُوۡا عَنۡهُمۡ ؕ اِنَّهُمۡ رِجۡسٌ ۫ وَّ

تاسو له دوی نه اعراض وکړئ، بېشکه دوی پليت
دي، او

مَاۡوٰىهُمۡ جَهَنَّمُ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوۡا

د دوی د ورتلو ځای جهنم دی، لپاره د بدلې د
هغو عملونو چې

يَكۡسِبُوۡنَ ﴿٩٥﴾ يَحۡلِفُوۡنَ لَكُمۡ لِتَرۡضَوۡا

دوی به کول -95- دوی تاسو ته قسمونه خوري، د

عَنۡهُمۡ ۚ فَاِنۡ تَرۡضَوۡا عَنۡهُمۡ فَاِنَّ اللّٰهَ

دې لپاره چې تاسو له دوی نه راضي شئ، نو که
تاسو له دوی نه راضي شئ،

لَا يَرۡضٰى عَنِ الۡقَوۡمِ الۡفٰسِقِيۡنَ ﴿٩٦﴾

پس يقينًا الله له فاسق قوم نه نه راضي كېږي -
-96

اَلۡاَعۡرَابُ اَشَدُّ كُفۡرًا وَّنِفَاقًا وَّاَجۡدَرُ

آعرابيان په کفر او نفاق کې ډېر سخت دي او ډېر
لايق دي له دې سره

اَلَّا يَعۡلَمُوۡا حُدُوۡدَ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ عَلٰى

چې د هغو (احکامو) په حدودو پوه نشي چې الله
په خپل رسول نازل کړي دي

رَسُوۡلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿۹۷﴾ وَمِنَ

او الله ډېر پوه، ښه حکمت والا دی -97- او په

الۡاَعۡرَابِ مَنۡ يَّتَّخِذُ مَا يُنۡفِقُ

اعرابیانو کې ځینې هغه دي چې (د الله په لار کې)

مَغۡرَمًا وَّيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ

څه چې خرج کوي (هغه) تاوان ګڼي او ستاسو په باره کې د زماني د ګردشونو

عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ السَّوۡءِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ

انتظار کوي، په همدوی باندې دې د بدۍ ګردش وي او الله ښه اورېدونکی،

عَلِيۡمٌ ﴿۹۸﴾ وَمِنَ الۡاَعۡرَابِ مَنۡ يُّؤۡمِنُ

ښه عالم دی -98- او په اعرابیانو کې ځینې هغه دي چې

بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ يَتَّخِذُ مَا

په الله او په ورځ د اخرت ايمان لري او هغه څه
چې

يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ وَ صَلَوٰتِ

(د الله په لار کې يې) لګوي، الله ته د نږدې والي
او د

الرَّسُوْلِ ؕ اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ؕ

رسول د دعاګانو اسباب ګڼي، خبردار شئ!
بېشکه دا د دوی لپاره

سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

د نږدې والي سبب دی، الله به ژر دوی په خپل
رحمت کې داخل کړي، بېشکه الله ډېر

ع 1

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۹﴾ وَ السّٰبِقُوْنَ

بخښونکی، بې حده مهربان دی -99- او له

الۡاَوَّلُوۡنَ مِنَ الۡمُهٰجِرِيۡنَ وَ الۡاَنۡصَارِ

مهاجرينو او انصارو نه هغه وړاندیني اولني (ايمان لرونکي)

وَ الَّذِيۡنَ اتَّبَعُوۡهُمۡ بِاِحۡسَانٍ ۙ رَّضِيَ

او هغه کسان چې په نېکۍ سره يې د دوی پيروي کړې ده،

اللّٰهُ عَنۡهُمۡ وَ رَضُوۡا عَنۡهُ وَ اَعَدَّ لَهُمۡ

الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي او هغه، د دوی لپاره

جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ تَحۡتَهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ

داسې جنتونه تيار کړي دي چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوی به په هغو کې

فِيۡهَاۤ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ۝١٠٠ وَ

تل ترتله وي، همدا ډېره لويه کاميابي ده -100-

او

مِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ

ستاسو په شاو خوا كې چې اعرابيان دي،

مُنٰفِقُوْنَ ؕ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛؔ

په هغو كې ځيني منافقان دي او ځينې د مدينې له اوسېدونكو نه هم،

مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ ۛ لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ

چې په نفاق باندې ټينګ شوي دي، ته (اې نبي!) هغوى نه پېژنې، مونږ يې پېژنو،

نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ؕ سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ

ژر به مونږ دوى ته دوه ځله عذاب وركړو، بيا به

ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ۚ﴿۱۰۱﴾ وَ

دوى ډېر لوى عذاب ته ورګرځولى شي -101- او

اٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا

(ځينې) نور (خلق) دي چې په خپلو ګناهونو قايله شوي دي،

عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ؕ عَسَى اللّٰهُ

دوی نېك عمل او بل بد عمل سره ګډ (او ميلاو) کړي دي، امېد دی چې الله

اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

به په دوی رجوع وکړي، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده

رَّحِيْمٌ ﴿۱۰۲﴾ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً

مهربان دی -102- (ای نبي!) ته د دوی له مالونو نه صدقه واخله،

تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا وَصَلِّ

چې ته دوی پاك کړې او په دې سره يې تزکيه وکړې او دوی

عَلَيۡهِمۡ ؕ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمۡ ؕ وَ

ته دعا وکړه، بېشکه ستا دعا د دوی لپاره تسکین دی او الله ښه اورېدونکی،

اللّٰهُ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۱۰۳﴾ اَلَمۡ يَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ

ښه عالم دی -103- ایا دوی نه پوهېدل چې یقینًا

اللّٰهَ هُوَ يَقۡبَلُ التَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهٖ وَ

الله دی چې هغه له خپلو بنده ګانو توبه قبلوي او

يَاۡخُذُ الصَّدَقٰتِ وَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ

صدقې اخلي او دا چې بېشکه الله، هم دی ښه توبه قبلوونکی، بې حده

الرَّحِيۡمُ ﴿۱۰۴﴾ وَ قُلِ اعۡمَلُوۡا فَسَيَرَى

مهربان دی -104- او (ای نبي!) ته ووایه: تاسو عمل کوئ،

اللّٰهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُوۡلُهٗ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ ؕ

پس ضرور به الله ستاسو عمل ويني او د ده
رسول او مومنان (هم)

وَسَتُرَدُّوۡنَ اِلٰى عٰلِمِ الۡغَيۡبِ

او ژر به تاسو بيا بوتلى شئ د پټو او ښكاره وو
عالِم (الله) ته،

وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ

نو هغه به تاسو په هغو كارونو خبر كړي چې
تاسو

تَعۡمَلُوۡنَ ۚ ۝١٠٥ وَاٰخَرُوۡنَ مُرۡجَوۡنَ لِاَمۡرِ

به كول -105- او نور كسان دي چې د

اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ وَاِمَّا يَتُوۡبُ

الله د حكم لپاره وروسته كړى شوي دي، يا به
دوى ته عذاب وركړي او يا به په دوى باندې

عَلَيۡهِمۡ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ

مهرباني وکړي او الله ښه عالم، ښه

حَكِيۡمٌ ﴿۱۰۶﴾ وَالَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا مَسۡجِدًا

حکمت والا دی -106- اوهغه خلق چې يو

جومات يې

ضِرَارًا وَّكُفۡرًا وَّتَفۡرِيۡقًاۢ بَيۡنَ

جوړ کړی دی د ضرر رسولو لپاره او د کفر کولو

لپاره او

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَاِرۡصَادًا لِّمَنۡ حَارَبَ اللّٰهَ

د مومنانو په مينځ کې د بېلتون راوستلو لپاره او د

هغو کسانو د انتظار (او کمين) لپاره چا چې له

وَرَسُوۡلَهٗ مِنۡ قَبۡلُ ؕ وَلَيَحۡلِفُنَّ اِنۡ

دې نه مخکې (هم) له الله او له هغه د رسول سره

جنګ کړی دی۔ او دوی به يقينًا هرومرو قسمونه

اَرَدۡنَاۤ اِلَّا الۡحُسۡنٰی ؕ وَ اللّٰهُ یَشۡهَدُ

خوري چې مونږ اراده نه ده کړې مګر د نېکۍ او الله شاهدي وايي چې بېشکه دوی

اِنَّهُمۡ لَكٰذِبُوۡنَ ﴿۱۰۷﴾ لَا تَقُمۡ فِیۡهِ اَبَدًا ؕ

یقینًا دروغجن دي -107- ته په دغه (جومات) کې

لَمَسۡجِدٌ اُسِّسَ عَلَی التَّقۡوٰی مِنۡ اَوَّلِ

هیڅکله هم مه ودرېږه، یقینًا هغه جومات چې بنیاد یې له اولې

یَوۡمٍ اَحَقُّ اَنۡ تَقُوۡمَ فِیۡهِ ؕ فِیۡهِ رِجَالٌ

ورځې نه په تقویٰ ایښودل شوی دی؛ ډېر لایق دی د دې چې ته په کې ودرېږې، په دې

یُّحِبُّوۡنَ اَنۡ یَّتَطَهَّرُوۡا ؕ وَ اللّٰهُ یُحِبُّ

(جومات) کې داسې سړي دي چې ښه پاک اوسېدل خوښوي او الله ښه پاک

الۡمُطَّهِّرِيۡنَ ۝١٠٨ اَفَمَنۡ اَسَّسَ بُنۡيَانَهٗ

اوسپېدونكي خوښوي -108- ايا نو هغه څوك چې
د خپلې اباديۍ بنياد يې

عَلٰى تَقۡوٰى مِنَ اللّٰهِ وَ رِضۡوَانٍ خَيۡرٌ

د الله په تقوىٰ او رضامندۍ باندې ايښى دى،
غوره دى، يا هغه څوك چې د خپلې

اَمۡ مَّنۡ اَسَّسَ بُنۡيَانَهٗ عَلٰى شَفَا جُرُفٍ

اباديۍ بنياد يې د نړېدونكې كندې (پانډ) په غاړه
ايښى دى،

هَارٍ فَانۡهَارَ بِهٖ فِىۡ نَارِ جَهَنَّمَ ؕ وَاللّٰهُ

نو هغه د جهنم په اور كې له هغه سره ونړېږي او
الله

لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ۝١٠٩ لَا يَزَالُ

ظالم قوم ته هدايت نه كوي -109- د دوى هغه
ابادي

بُنۡيَانُهُمُ الَّذِیۡ بَنَوۡا رِيۡبَةً فِیۡ

چې دوی جوړه کړې ده؛ همېشه به د دوی په

قُلُوۡبِهِمۡ اِلَّاۤ اَنۡ تَقَطَّعَ قُلُوۡبُهُمۡ ؕ وَ

زړونو کې د شك سبب وي مګر دا چې د دوی
زړونه ټوټې ټوټې شي او

ع 2

اللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ۝۱۱۰ اِنَّ اللّٰهَ اشۡتَرٰی

الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی -110- بېشکه
الله له

مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اَنۡفُسَهُمۡ وَ اَمۡوَالَهُمۡ

مومنانو نه د هغوی ځانونه او د هغوی مالونه
اخیستي دي په بدل د دې کې چې

بِاَنَّ لَهُمُ الۡجَنَّةَ ؕ يُقَاتِلُوۡنَ فِیۡ سَبِيۡلِ

یقینًا د دوی لپاره جنت دی، دوی د الله په لاره

اللّٰهِ فَيَقۡتُلُوۡنَ وَيُقۡتَلُوۡنَ ۟ وَعۡدًا

کې جنګ کوي، نو وژل کوي او وژلی شي، دا په

عَلَيۡهِ حَقًّا فِي التَّوۡرٰىةِ وَالۡاِنۡجِيۡلِ وَ

تورات او انجیل او قرآن کې د هغه په ذمه حقه وعده ده

الۡقُرۡاٰنِ ؕ وَمَنۡ اَوۡفٰى بِعَهۡدِهٖ مِنَ اللّٰهِ

او له الله نه په خپلې وعدې باندې زیات ښه وفا کوونکی (بل) څوك دی؟

فَاسۡتَبۡشِرُوۡا بِبَيۡعِكُمُ الَّذِىۡ

نو تاسو په خپلې هغې سودا باندې ښه خوشاله شئ

بَايَعۡتُمۡ بِهٖ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الۡفَوۡزُ

چې تاسو له هغه (الله) سره کړې ده او همدغه

الۡعَظِيۡمُ ﴿١١١﴾ اَلتَّآئِبُوۡنَ الۡعٰبِدُوۡنَ

ډېر لوی بری دی -111- (دوی) توبه کوونکي
دي، عبادت کوونکي،

الۡحٰمِدُوۡنَ السَّآئِحُوۡنَ الرّٰكِعُوۡنَ

ثنا ویونکي، روژه نیونکي، رکوع کوونکي،

السّٰجِدُوۡنَ الۡاٰمِرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ

سجده کوونکي، د نېکۍ حکم کوونکي او

النَّاهُوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ وَالۡحٰفِظُوۡنَ

له بدو کارونو څخه منع کوونکي دي او د الله د

لِحُدُوۡدِ اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿١١٢﴾

حدودو حفاظت کوونکي دي۔ او ته مومنانو ته
زیری ورکړه -112-

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَنۡ

د نبي او هغو کسانو لپاره چې ایمان يې راوړی دی؛

يَّسۡتَغۡفِرُوۡا لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ وَلَوۡ كَانُوۡۤا

روا نه دي چې د مشرکانو لپاره مغفرت وغواړي

اُولِىۡ قُرۡبٰى مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ

اگر که دغه (مشرکان) د خپلولۍ والا وي، وروسته له دې نه چې دوی ته دا ښه ښکاره شوه

اَنَّهُمۡ اَصۡحٰبُ الۡجَحِيۡمِ ۝١١٣ وَمَا كَانَ

چې یقینًا دوی د دوزخ والا دي -113- او د خپل

اسۡتِغۡفَارُ اِبۡرٰهِيۡمَ لِاَبِيۡهِ اِلَّا عَنۡ

پلار لپاره د ابراهیم مغفرت غوښتل نه و مگر د یوې وعدې له وجې نه چې

مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ

د هغې وعده يې له هغه (خپل پلار) سره کړې وه، نو کله چې هغه ته ښه ښکاره شوه چې يقيناً هغه

اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ؕ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ

د الله دښمن دی (، نو) له هغه نه بېزاره شو، بېشکه ابراهيم خامخا ډېر آه کوونکی (په زړه نرم)

لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴿١١٤﴾ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ

ډېر تحمل والا و -114- او الله هيڅکله هم داسې نه دی چې

قَوْمًاۢ بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ

يو قوم بې لارې کړي وروسته له دې چې دوی ته يې لاره ښودلې وي تر

لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ

هغه پورې چې دوی ته هغه څه بيان کړي چې دوی ترې ځان وساتي، بېشکه الله په هر شي

عَلِيۡمٌ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَ

باندې ښه پوه دی -115- بېشکه الله چې دی، د اسمانونو او

الۡاَرۡضِ ؕ يُحۡیٖ وَ يُمِيۡتُ ؕ وَ مَا لَـكُمۡ

ځمکې سلطنت خاص د هغه لپاره دی، هغه ژوندي کول کوي او هغه مړه کول کوي او تاسو

مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا

لپاره له الله نه غیر نه هیڅ کار ساز شته او نه هیڅ

نَصِيۡرٍ ﴿۱۱۶﴾ لَقَدۡ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِىِّ وَ

مددگار -116- یقینًا یقینًا الله په مهربانۍ سره رجوع وکړه په خپل نبي او

الۡمُهٰجِرِيۡنَ وَالۡاَنۡصَارِ الَّذِيۡنَ

مهاجرو او انصارو باندې، په هغو کسانو

اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْۢ بَعْدِ

باندې چې د تنګۍ په وخت کې يې د هغه متابعت وکړ، وروسته له دې چې

مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ

قريب وه چې په دوی کې د يوې ډلې زړونه کاږه شي، بيا هغه

تَابَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّهٗ بِهِمْ رَءُوْفٌ

(الله) په دوی باندې مهرباني وکړه، يقينًا هغه په دوی ډېرنرمي کوونکی، بې حده

رَّحِيْمٌ ﴿١١٧﴾ وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ

مهربان دی -117- او په هغو درې کسانو باندې

خُلِّفُوْا ۭ حَتّٰٓى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ

چې وروسته کړی شوي وو، تر دې چې په دوی باندې

الۡاَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَ ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ

ځمکه، سره د هغې له ارت والي تنګه شوه او په دوی باندې

اَنۡفُسُهُمۡ وَ ظَنُّوۡۤا اَنۡ لَّا مَلۡجَاَ مِنَ اللّٰهِ

خپل ځانونه (هم) تنګ شول او دوی يقين وکړ چې د الله (له عذاب) نه د پناه هېڅ ځای نشته

اِلَّاۤ اِلَيۡهِ ؕ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوۡبُوۡا ؕ

مګر هم ده ته دی، بيا هغه (الله) په دوی مهرباني وکړه، د دې لپاره چې دوی توبه وباسي۔ بېشکه

ع 3

اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿۱۱۸﴾ يٰۤاَيُّهَا

چې الله، هم دی ښه توبه قبلوونکی، بې حده مهربان دی -118- ای هغو

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ كُوۡنُوۡا مَعَ

کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او له رښتينو

الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۱۱۹﴾ مَا كَانَ لِاَهۡلِ الۡمَدِيۡنَةِ

سره ملګري شئ -119- د مدينې د خلقو لپاره

وَ مَنۡ حَوۡلَهُمۡ مِّنَ الۡاَعۡرَابِ اَنۡ

او د دوی چاپېره د هغه چا لپاره چې اعرابيان دي،

يَّتَخَلَّفُوۡا عَنۡ رَّسُوۡلِ اللّٰهِ وَ لَا

روا نه دي چې له رسول الله (ﷺ) نه شا ته پاتې شي او نه

يَرۡغَبُوۡا بِاَنۡفُسِهِمۡ عَنۡ نَّفۡسِهٖ ؕ ذٰلِكَ

دا چې خپل ځانونه د هغه له ځان نه ښه او غوره وګڼي،

بِاَنَّهُمۡ لَا يُصِيۡبُهُمۡ ظَمَاٌ وَّ لَا نَصَبٌ وَّ

دا ځکه چې يقينًا دوی چې دي، دوی ته نه څه تنده رسي او نه ستړي والی او

لَا مَخۡمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَ لَا

نه لوږه د الله په لاره کې او نه دوی په

يَطَـُٔونَ مَوۡطِئًا يَّغِيۡظُ الۡكُفَّارَ وَ لَا

کوم داسې ځای قدمونه ږدي چې کفار په غصه کوي اونه رسي

يَنَالُونَ مِنۡ عَدُوٍّ نَّيۡلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمۡ

دوی دښمن ته په (هېڅ) رسېدلو سره (چې د هغوی وژل، بنديان کول او لوټ کول دي) مګر

بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيۡعُ

دوی ته په دې سره نېک عمل ليکلی شي، بېشکه الله د نېکي کوونکو

اَجۡرَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۟ۙ﴿۱۲۰﴾ وَ لَا يُنۡفِقُوۡنَ

اجر نه ضايع کوي -120- او نه دوی څه نفقه لګوي،

نَفَقَةً صَغِيۡرَةً وَّلَا كَبِيۡرَةً وَّلَا

نه وړه او نه لويه او نه څه

يَقۡطَعُوۡنَ وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمۡ

ميدان قطع کوي مګر د دوی لپاره (يې ثواب) ليکلی شي،

لِيَجۡزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحۡسَنَ مَا كَانُوۡا

د دې لپاره چې الله دوی ته د هغو بهترينو عملونو جزا ورکړي چې

يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۲۱﴾ وَمَا كَانَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ

دوی به کول -121- او مومنان داسې نه دي

لِيَنۡفِرُوۡا كَآفَّةً ؕ فَلَوۡلَا نَفَرَ مِنۡ كُلِّ

چې ټول له څېرمې ووځي، نو ولې نه وځي د دوی له هرې

فِرۡقَةٍ مِّنۡهُمۡ طَآىِٕفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوۡا فِى

ډلې نه يو ټولګى؟ د دې لپاره چې دوى په

الدِّيۡنِ وَلِيُنۡذِرُوۡا قَوۡمَهُمۡ اِذَا

دين کې ژوره پوهه پيدا کړي او خپل قوم ته انذار ورکړي کله چې

رَجَعُوۡۤا اِلَيۡهِمۡ لَعَلَّهُمۡ

دوى ته راواپس شي، د دې لپاره چې

ع 4

يَحۡذَرُوۡنَ ۝١٢٢ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

دوى ووېرېږي -122- اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى!

قَاتِلُوا الَّذِيۡنَ يَلُوۡنَكُمۡ مِّنَ الۡكُفَّارِ وَ

تاسو له هغو کفارو سره وجنګېږئ چې تاسو ته نژدې دي او

لِيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً ؕ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ

لازم ده چې دوى په تاسو کې سختي ومومي او تاسو پوه شئ چې يقينًا

اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ

الله د پرهېزګارو ملګرى دى -123- او کله چې هم کوم سورت

سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ

نازل کړى شي، نو په دوى کې ځيني هغه څوك دي چې وايي: په تاسو کې کوم يو دى چې دې

هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

(سورت) د هغه ايمان زيات کړ؟ نو هر چې مومنان دي، نو دې (سورت) د

فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ

دوى ايمان ورزيات کړ، په داسې حال کې چې دوى

الربع

يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿١٢٤﴾ وَ اَمَّا الَّذِيۡنَ فِيۡ

بنه خوشالېږي -124- او پاتې شو هغه کسان چې
د

قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا اِلٰى

هغوی په زړونو کې مرض دی، نو دې (سورت)
هغوی ته د هغوی له ګندګۍ سره ګندګي ور زیاته

رِجۡسِهِمۡ وَ مَاتُوۡا وَ هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴿١٢٥﴾ اَوَ

کړه او دوی مړه شول، په دې حال کې چې دوی
کافران وو -125- او

لَا يَرَوۡنَ اَنَّهُمۡ يُفۡتَنُوۡنَ فِيۡ كُلِّ عَامٍ

ایا دوی نه ګوري چې یقینًا دوی هر کال یو ځله،
یا

مَّرَّةً اَوۡ مَرَّتَيۡنِ ثُمَّ لَا يَتُوۡبُوۡنَ وَ لَا

دوه ځله ازمایلی شي، بیا نه دوی توبه وباسي او
نه دوی

هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿١٢٦﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ

نصيحت اخلي -126- او كله چې هم كوم سورت نازل كړى

سُوْرَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ ؕ هَلْ

شي د دوى ځيني ځينو (نورو) ته وګوري

يَرٰىكُمْ مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ؕ

چې ايا تاسو څوكويني؟ بيا واپس شي،

صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا

الله د دوى زړونه ګرځولي دي، په سبب د دې چې يقينًا دوى داسې قوم دى چې

يَفْقَهُوْنَ ﴿١٢٧﴾ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ

نه پوهېږي -127- يقينًا يقينًا تاسو ته له هم ستاسو له جنسه نه رسول

اَنۡفُسِكُمۡ عَزِيۡزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ

راغلی دی، هغه څه چې تاسو په تکلیف کې
اچوي؛ په ده ډېر سخت (او درانه) دي،

حَرِيۡصٌ عَلَيۡكُمۡ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ رَءُوۡفٌ

ستاسو (د هدایت) لپاره پر تاسو باندې ډېر
حرصناك دی، په مومنانو باندې ډېر نرمي

رَّحِيۡمٌ ﴿۱۲۸﴾ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَقُلۡ حَسۡبِىَ

کوونکی، ډېر مهربان دی -128- نو که چېرې
دوی (د حق له قبلولو نه) وګرځي، نو ته ووایه: ما

اللّٰهُ ۖۗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَ

ته الله کافي دی، نشته دی هیڅ لایق د عبادت
مګر هغه دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی

ع 5

هُوَ رَبُّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ ﴿۱۲۹﴾

دی۔ او هم هغه د عظیم عرش مالك دی -129-

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى(1)

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ

الف، لام، را، دا له حكمت نه د ډك كتاب

الْحَكِيْمِ ۝١ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ

ايتونه دي -1- ايا د خلقو لپاره دا تعجب دى چې

اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ

مونږ په دوى كې يو سړي ته دا وحي وكړه چې ته

النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ

خلق ووېروه او هغو كسانو ته زېرى وركړه چې
ايمان يې راوړى دى

قَدَمَ صِدۡقٍ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ قَالَ

چې يقينًا د دوی لپاره د خپل رب په نيز لويه رښتيني مرتبه ده.

الۡكٰفِرُوۡنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ

(نو) کافرانو وويل: بېشکه دا يقينًا ښکاره جادوگر

مُّبِيۡنٌ ﴿٢﴾ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىۡ خَلَقَ

دی -2- بېشکه چې ستاسو رب هم هغه الله دی چې پيدا کړي يې دي

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ فِىۡ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ

اسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې، بيا دی په

اسۡتَوٰى عَلَى الۡعَرۡشِ يُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ ؕ

عرش باندې برقرار شو، دی د ټولو کارونو تدبير کوي،

مَا مِنۡ شَفِيۡعٍ اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ اِذۡنِهٖ ؕ

هيڅ سفارشي نشته مګر د هغه له اجازت نه وروسته،

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمۡ فَاعۡبُدُوۡهُ ؕ اَفَلَا

دغه الله ستاسو رب دی، نو تاسو د ده عبادت کوئ، ايا نو تاسو

تَذَكَّرُوۡنَ ۝۳ اِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيۡعًا ؕ

نصيحت نه اخلئ -3- خاص هم ده ته ستاسو د ټولو واپسي ده،

وَعۡدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ اِنَّهٗ يَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ

الله حقه وعده کړې ده، بېشکه دی مخلوق لره اول ځل پيدا کوي،

ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ لِيَجۡزِىَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ

بيا يې دوباره ژوندي کوي، د دې لپاره چې هغو خلقو ته چې ايمان يې راوړی دی

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ؕ وَ الَّذِيْنَ

په انصاف سره بدله ورکړي او نېك عملونه يې
کړي دي، او هغه کسان

كَفَرُوْا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّ

چې کفر يې کړی دی، د دوی لپاره ايشېدلې گرمې
اوبه دي او ببخي

عَذَابٌ اَلِيْمٌۢ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ۝٤ هُوَ

دردناك عذاب دی، په دې سبب چې دوی به کفر
کاوه -4- هم هغه

الَّذِىْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّ الْقَمَرَ

(الله) دی چې (تيکلی د) لمر يې تېز ځلېدونکی
گرځولی دی او (تيکلی د) سپوږمی

نُوْرًا وَّ قَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ

يې روښانه او هغه يې منزلونه منزلونه مقرر کړه
(او منزلونه يې مقرر کړل)،

السِّنِيۡنَ وَ الۡحِسَابَ ؕ مَا خَلَقَ اللّٰهُ

د دې لپاره چې تاسو د کلونو شمېره او حساب معلوم کړئ۔ الله دا (څيزونه) نه دي پيدا کړي

ذٰلِكَ اِلَّا بِالۡحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الۡاٰيٰتِ

مګر په حقه سره، هغه ايتونه (دليلونه) په تفصيل سره بيانوي، د هغو خلقو

لِقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ ۝۵ اِنَّ فِى اخۡتِلَافِ

لپاره چې پوهېږي -5- بېشکه د شپې او ورځې په اختلاف کې

الَّيۡلِ وَ النَّهَارِ وَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِى

او په هغو (شيانو) کې چې الله په اسمانونو او

السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ

ځمکه کې پيدا کړي دي، خامخا نښې دي د هغو خلقو لپاره

يَتَّقُوۡنَ ۝٦ اِنَّ الَّذِيۡنَ لَا يَرۡجُوۡنَ

چې وېرېږي -6- بېشکه هغه کسان چې زمونږ

لِقَآءَنَا وَرَضُوۡا بِالۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَ

د ملاقات امېد نه لري او په دنيايي ژوند راضي
شوي دي او په دې (ژوند)

اطۡمَاَنُّوۡا بِهَا وَالَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ اٰيٰتِنَا

مطمئن دي او هغه کسان چې دوی زمونږ له
ايتونو نه

غٰفِلُوۡنَ ۝٧ اُولٰٓئِكَ مَاۡوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا

غافلان دي -7- دغه کسان، د دوی استوګنه اور
دی، په سبب د هغه

كَانُوۡا يَكۡسِبُوۡنَ ۝٨ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ

چې دوی به کول -8- بېشکه هغه کسان چې ايمان
يې راوړی دی او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهۡدِيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ

نېك عملونه يې كړي دي، د دوی رب به دوی

بِاِيۡمَانِهِمۡ ۚ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهِمُ

ته د خپل ايمان په سبب لارښوونه كوي، د نعمتونو په باغونو كې به

الۡاَنۡهٰرُ فِیۡ جَنّٰتِ النَّعِيۡمِ ۝٩ دَعۡوٰىهُمۡ

د دوی له لاندې نهرونه بهېږي -9- د دوی وينا به په

فِيۡهَا سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمۡ

دغو (جنتونو) كې سُبْحَانَكَ اللهم (ای الله! ستا پاكي بيانوو) وي او په دغو (باغونو) كې به د

فِيۡهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ دَعۡوٰىهُمۡ اَنِ

دوی ډالۍ سلام وي او د دوی د وينا اخر به دا وي چې ټول صفتونه خاص

ع
6

الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۝١٠ وَلَوۡ

د الله لپاره دي چې د ټولو عالمونو ښه پالونکی دی -10- او كه چېرې

يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ

الله خلقو ته بدي جلت ورسوي، په شان

اسۡتِعۡجَالَهُمۡ بِالۡخَيۡرِ لَقُضِيَ اِلَيۡهِمۡ

د جلت غوښتلو د دوی خير لره (، نو) خامخا دوی ته به د دوی

اَجَلُهُمۡ ؕ فَنَذَرُ الَّذِيۡنَ لَا يَرۡجُوۡنَ

موده پوره كړی شوې وی، نوموږ هغه كسان چې زموږ د ملاقات امېد نه لري په

لِقَآءَنَا فِیۡ طُغۡيَانِهِمۡ يَعۡمَهُوۡنَ ۝١١ وَاِذَا

خپلې سركشۍ كې پرېږدو، چې سرگردانه وي -11- او كله چې

مَسَّ الۡاِنۡسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۡۢبِهٖۤ

انسان ته تکلیف ورسېږي (نو) په خپل اړخ باندې (پروت)،

اَوۡ قَاعِدًا اَوۡ قَآئِمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُ

یا ناست، یا په ولاړه مونږ بلي، نو کله چې مونږ له هغه نه د

ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنۡ لَّمۡ يَدۡعُنَاۤ اِلٰى ضُرٍّ

هغه تکلیف لرې کړو (نو داسې) تېرېږي لکه چې ده مونږ نه وو بللي (د) هغه تکلیف (لرې کولو) ته

مَّسَّهٗ ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡمُسۡرِفِيۡنَ مَا

چې ده ته ور رسېدلی و، همدارنګه له حد نه تېرېدونکو ته هغه عملونه ښایسته کړی

كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۲﴾ وَلَقَدۡ اَهۡلَكۡنَا

شول چې دوی به کول -12- او یقینًا یقینًا ستاسو نه

الْقُرُوْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا ۙ وَ

مخکې قرنونه (مخکيني خلق) مونږ هلاك كړل
كله چې هغوى ظلم وكړ او

جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَمَا

هغوى ته خپلو رسولانو ښكاره معجزې راوړې وې
او هغوى له سره

كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا ۗ كَذٰلِكَ نَجْزِى الْقَوْمَ

داسې نه وو چې ايمان يې راوړى وى، همدارنگه
مونږ مجرمو خلقو ته

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٣﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ خَلٰٓئِفَ

سزا وركوو -13- بيا مونږه له هغوى نه وروسته
تاسو

فِى الْاَرْضِ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ

په ځمكه كې ځاى ناستي جوړ كړئ، د دې لپاره
چې مونږ وگورو تاسو څنگه

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۴﴾ وَ اِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ اٰيَاتُنَا

عمل كوئ -14- او كله چې په دوی باندې زمونږ ايتونه،

بَيِّنٰتٍ ۙ قَالَ الَّذِيۡنَ لَا يَرۡجُوۡنَ

چې واضح دي ولوستل شي، هغه كسان ووايي چې زمونږ د ملاقات

لِقَآءَنَا ائۡتِ بِقُرۡاٰنٍ غَيۡرِ هٰذَآ اَوۡ

امېد نه لري: ته له ده نه غير قرآن راوړه، يا په ده كې

بَدِّلۡهُ ؕ قُلۡ مَا يَكُوۡنُ لِىۡۤ اَنۡ اُبَدِّلَهٗ

تبديلي وكړه، ته (ورته) ووايه: ما ته دا حق نشته چې زه په ده

مِنۡ تِلۡقَآئِ نَفۡسِىۡ ۚ اِنۡ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا

كې د خپل ځانه تبديلي وكړم.، زه پيروي نه كوم مگر د هغه

يُوۡحٰۤى اِلَىَّ ۚ اِنِّیۡۤ اَخَافُ اِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّیۡ

چې ما ته وحي كولى شي، بېشكه زه د ډېرې
سترې ورځې له عذاب نه وېرېږم كه

عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿۱۵﴾ قُلۡ لَّوۡ شَآءَ

د خپل رب نافرماني وكړم -15- ته ووايه: كه
چېرې

اللّٰهُ مَا تَلَوۡتُهٗ عَلَيۡكُمۡ وَلَاۤ اَدۡرٰىكُمۡ

الله غوښتلى (، نو) ما به دا (قرآن) پر تاسو باندې
نه و لوستى او نه به هغه تاسو په ده عالمان كړي

بِهٖ ۖ فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيۡكُمۡ عُمُرًا مِّنۡ

وى، پس يقينًا ما له ده نه مخكې په تاسو كې ډېر
عمر تېر كړى دى، ايا نو

قَبۡلِهٖ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۶﴾ فَمَنۡ اَظۡلَمُ

تاسو له عقل نه كار نه اخلئ؟ -16- نو له هغه چا
نه لوى ظالم

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ

خوك دى چې په الله باندې دروغ تپي، يا د هغه د ايتونو تكذيب كوي،

بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿١٧﴾

بېشكه شان دا دى چې مجرمان به خلاصى ونه مومي -17-

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا

او دوى له الله نه غير د هغو شيزونو عبادت كوي چې نه دوى ته

يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ

ضرر رسولى شي او نه دوى ته نفع رسولى شي او دوى وايي:

هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ ؕ قُلْ

دا د الله په وړاندې زمونږ سفارشيان دي، ته ووايه:

اَتُنَبِّـُٔوْنَ اللّٰهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي

ايا تاسو الله په هغه څه خبروئ چې هغه يې نه په

السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَ

اسمانونو کې پېژني او نه يې په ځمکه کې، هغه ډېر
پاك دی او ډېر اوچت دی له

تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝١٨ وَمَا كَانَ

هغو شيزونو نه چې دوی يې ورسره شريکوي -
18- او خلق نه وو

النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا ؕ وَ

مگر يو امت، بيا دوی مختلفه شول او که چېرې
نه وی

لَوْ لَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ

هغه خبره چې ستا د رب له خوا مخکې ثابته
شوې ده خامخا د دوی په مينځ کې به د هغو

بَيۡنَهُمۡ فِيۡمَا فِيۡهِ يَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿١٩﴾ وَ

خبرو فيصله شوې وى چې دوى په کې اختلاف
کوي -19- او

يَقُوۡلُوۡنَ لَوۡ لَاۤ اُنۡزِلَ عَلَيۡهِ اٰيَةٌ مِّنۡ

دوى وايي: ولې په ده باندې د خپل رب له جانبه
معجزه نه ده نازله کړى شوې؟

رَّبِّهٖ ۚ فَقُلۡ اِنَّمَا الۡغَيۡبُ لِلّٰهِ

نو ته (ورته) ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې (علم
د) غيب د الله لپاره خاص دى،

فَانۡتَظِرُوۡا ۚ اِنِّيۡ مَعَكُمۡ مِّنَ

نوتاسو انتظار کوئ، بېشکه زه له تاسو سره له
انتظار

ع
7

الۡمُنۡتَظِرِيۡنَ ﴿٢٠﴾ وَاِذَاۤ اَذَقۡنَا النَّاسَ

کوونکو څخه يم -20- او کله چې مونږ په خلقو

رَحْمَةً مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ اِذَا

باندې څه رحمت وڅکو، وروسته له هغه تکليف

نه چې دوی ته رسېدلی وي

لَهُمْ مَّكْرٌ فِيْٓ اٰيَاتِنَاؕ قُلِ اللّٰهُ اَسْرَعُ

(، نو) ناڅاپه دوی زمونږ په ايتونو کې مکر کوي،

ته ووايه: الله د

مَكْرًاؕ اِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُوْنَ مَا

مکر په لحاظ سره تر ټولو جلت دی، بېشکه زمونږ

رسولان (ملايك) ليکي هغه څه

تَمْكُرُوْنَ ﴿٢١﴾ هُوَ الَّذِيْ يُسَيِّرُكُمْ فِي

چې تاسو مکر کوئ -21- هم هغه دی چې تاسو

په

الْبَرِّ وَالْبَحْرِؕ حَتّٰٓى اِذَا كُنْتُمْ فِي

وچه او بحر کې گرځوي، تر دې چې کله تاسو په

الْفُلْكِ ۚ وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَّ

کښتيو کې (سواره) شئ، او دا (کښتۍ) له دوی
سره په ښې (موافقې) هوا سره رواني شي او په

فَرِحُوْا بِهَا جَآءَتْهَا رِيْحٌ عَاصِفٌ وَّ

دې سره دوی خوشحاله شي (، نو) په دې
(کښتيو) باندې سخت تېز باد

جَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّ

راشي او په دې (خلقو) باندې له هر ځايه چپې
راشي او دوی يقين وکړي

ظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اُحِيْطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللّٰهَ

چې بېشکه دوی ګېر کړی شول (بيا) دوی الله
بلي،

مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا

په داسې حال کې چې خاص هغه لره دين
(عبادت) خالص کوونکي وي (او وايي) يقينًا که

مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ

چېرې تا مونږ ته له دې (مصيبت) نه خلاصی راکړ
(، نو) مونږ به هرومرو لازمًا له

الشّٰكِرِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ اَنْجٰىهُمْ اِذَا هُمْ

شکر کوونکو څخه شو -22- نو کله چې هغه،
دوی ته نجات ورکړي

يَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ

ناڅاپه دوی په ځمکه کې ناحقه ظلم فساد کوي،

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰٓى

ای خلقو! بېشکه همدا خبره ده چې ستاسو ظلم
او سرکشي د

اَنْفُسِكُمْ ۙ مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ ثُمَّ

خپلو ځانونو په ضرر ده. د دنيايي ژوند فايده
(واخلئ) بيا

اِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُمۡ بِمَا

خاص مونږ ته ستاسو واپس راتله دي، نو مونږ به تاسو په هغو عملونو خبر کړو

كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٢٣﴾ اِنَّمَا مَثَلُ الۡحَيٰوةِ

چې تاسو به کول -23- بېشکه همدا خبره ده چې د

الدُّنۡيَا كَمَآءٍ اَنۡزَلۡنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ

دنیایي ژوند مثال د هغو اوبو په شان دی چې مونږ له اسمانه نازلې کړې،

فَاخۡتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الۡاَرۡضِ مِمَّا يَاۡكُلُ

بیا په (سبب د) هغو سره د ځمکې زرغونه ښه ګډه وډه شي له هغو شیزونو ځنې چې

النَّاسُ وَ الۡاَنۡعَامُ ؕ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَخَذَتِ

خلق او څاروي يې خوري، تر دې چې کله ځمکه

الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ

خپل زينت واخلي او ښه ښکلې شي او د هغې

اَهْلُهَآ اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ ۙ اَتٰىهَآ

خاوندان يقين وكړي چې يقينًا دوى په دې قادر دي (، نو) هغې ته

اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا

زمونږ حكم د شپې راشي، يا د ورځې، نو مونږ هغه ريبل شوې كړو،

حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ ؕ

گويا كې دغه (اباده زرغونه ځمكه) پرون له سره موجوده نه وه،

كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

همدارنگه مونږه ايتونه په تفصيل سره بيانوو د هغو خلقو لپاره چې

يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿۲۴﴾ وَ اللّٰهُ يَدۡعُوۡۤا اِلٰى دَارِ

ښه فکر کوي -24- او الله د سلامتۍ کور

السَّلٰمِ ؕ وَيَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ اِلٰى

ته بلنه کوي او چا ته چې وغواړي هغه ته د نېغې

صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۲۵﴾ لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوا

لارې هدايت کوي -25- د هغو کسانو لپاره چې
نېکي

الۡحُسۡنٰى وَ زِيَادَةٌ ؕ وَلَا يَرۡهَقُ

يې کړي ده ډېره نېکه بدله ده او زيادت (د اجر
هم شته)

وُجُوۡهَهُمۡ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ اُولٰٓئِكَ

او د دوی مخونه به نه هېڅ تورګرد او غبار پټوي
او نه څه ذلت، دغه کسان

اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا

د جنت والا دي دوی به په هغه کې

خٰلِدُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ

همېشه وي -26- او هغه کسان چې بد کارونه يې کړي دي

جَزَآءُ سَيِّئَةٍۭ بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ

(د دوی) د بدۍ جزا د هغې په مثل ده او

ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ

ذلت به دوی لره پټوي، د د دوی لپاره به د الله (له عذاب) نه هېڅ ساتونکی نه وي،

كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ

ګوياکې د دوی مخونه د تکې تيارې شپې په ټکړو

الَّيۡلِ مُظۡلِمًا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ

پټ كړى شوي دي، دغه كسان د اور والا دي،
دوى به

هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۷﴾ وَيَوۡمَ

په هغه كې همېشه وي -27- او هغه ورځ

نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيۡعًا ثُمَّ نَقُوۡلُ لِلَّذِيۡنَ

چې مونږ به دوى ټول راجمع كړو، بيا به مونږ هغو
كسانو ته

اَشۡرَكُوۡا مَكَانَكُمۡ اَنۡتُمۡ وَ

چې شرك يې كړى دى، ووايو: تاسو او

شُرَكَآؤُكُمۡ ۚ فَزَيَّلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَقَالَ

ستاسو شريكان په خپل ځاى ټينګ ودرېږئ، نو
مونږ به د دوى

شُرَكَآؤُهُمۡ مَّا كُنتُمۡ إِيَّانَا

په مینځ کې بېلتون راولو او د دوی شریکان به ووايي: تاسو خو زمونږ

تَعۡبُدُونَ ۝٢٨ فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنَنَا

عبادت نه کاوه -28- نو الله ښه کافي ګواه دی زمونږ په مینځ کې

وَبَيۡنَكُمۡ إِن كُنَّا عَنۡ عِبَادَتِكُمۡ

او ستاسو په مینځ کې، بېشکه شان دا دی چې مونږ ستاسو له عبادته يقينًا

لَغَٰفِلِينَ ۝٢٩ هُنَالِكَ تَبۡلُواْ كُلُّ نَفۡسٍ مَّآ

ناخبره وو -29- په دغه ځای کې به هر نفس وازمايي

أَسۡلَفَتۡۚ وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ

هغه څه چې ده مخکې لېږلي دي او دوی به خپل حق مولٰی (مالك) ته

الۡحَقِّ وَ ضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا

واپس بوتلی شي او له دوی نه به هغه څه ورك
شي چې دوی به له ځانه

يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ قُلۡ مَنۡ يَّرۡزُقُكُمۡ مِّنَ

دروغ جوړول -30- ته ووايه: تاسو ته له

ع
8
النصف

السَّمَآءِ وَ الۡاَرۡضِ اَمَّنۡ يَّمۡلِكُ

اسمان او ځمکې نه روزي څوك دركوي؟ يا د

السَّمۡعَ وَ الۡاَبۡصَارَ وَ مَنۡ يُّخۡرِجُ الۡحَىَّ

غوږونو او سترگو مالك څوك دی اوڅوك ژوندی

مِنَ الۡمَيِّتِ وَ يُخۡرِجُ الۡمَيِّتَ مِنَ الۡحَيِّ

له مړي راوباسي او مړی له ژوندي راوباسي

وَ مَنۡ يُّدَبِّرُ الۡاَمۡرَ‌ؕ فَسَيَقُوۡلُوۡنَ

او څوك د كارونو تدبير كوي؟ نو يقينًا دوى به وايي چې

اللّٰهُ‌ ۚ فَقُلۡ اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿۳۱﴾ فَذٰلِكُمُ

الله دى، (نو ته ووايه:) ايا نو تاسو نه وېرېږئ! -31- نو دغه

اللّٰهُ رَبُّكُمُ الۡحَـقُّ‌ ۚ فَمَاذَا بَعۡدَ الۡحَـقِّ

الله ستاسو په حقه رب دى، نو له حق نه بعد نشته

اِلَّا الضَّلٰلُ‌ ‌ۖۚ فَاَنّٰى تُصۡرَفُوۡنَ ﴿۳۲﴾ كَذٰلِكَ

مګر ګمراهي، نو تاسو كوم طرف ته ګرځولى شئ؟ -32- همدارنګه

حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيۡنَ فَسَقُوۡۤا

ستا د رب كلمه په هغو كسانو باندې چې فسق يې كړى دى،

اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾ قُلْ هَلْ مِنْ

ثابته شوه چې يقيناً دوی ايمان نه راوړي -33- ته (دوی ته) ووايه: ايا ستاسو

شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ

په شريكانو كې داسې څوك شته چې مخلوق لره اول ځل پيدا كوي،

يُعِيْدُهٗ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ

بيا يې دوباره ژوندي كوي؟ ته ووايه: الله مخلوق لره اول ځل پيدا كوي، بيا به يې دوباره ژوندي

يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ قُلْ هَلْ مِنْ

كوي، نو تاسو كوم اړخ ته اړول كيږئ؟ -34- ته (دوی ته) ووايه: ايا

شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ؕ

ستاسو په شريكانو كې داسې څوك شته چې د حق طرف ته هدايت كوي؟

قُلِ اللّٰهُ يَهۡدِىۡ لِلۡحَقِّ ؕ اَفَمَنۡ يَّهۡدِىۡۤ

ته ووايه: الله حق ته لار ښوونه كوي، ايا نو هغه

اِلَى الۡحَقِّ اَحَقُّ اَنۡ يُّتَّبَعَ اَمَّنۡ لَّا

څوك چې حق ته لار ښوونه كوي زيات حقدار
دى چې متابعت يې وكړى شي،

يَهِدِّىۡۤ اِلَّاۤ اَنۡ يُّهۡدٰى ۚ فَمَا لَـكُمۡ ۟ قف

يا كه هغه څوك چې (پخپله هم) لاره نشي موندلى
مګر دا چې لار ورته وښودلى شي؟ نو په تاسو څه

كَيۡفَ تَحۡكُمُوۡنَ ۝۳۵ وَمَا يَتَّبِعُ

شوي دي، تاسو څنګه فيصله كوئ؟ -35- او د
دوى زياتره پيروي

اَكۡثَرُهُمۡ اِلَّا ظَنًّا ؕ اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغۡنِىۡ

نه كوي مګر د ګمان، بېشكه ګمان د حق په مقابله
كې هېڅ

مِنَ الۡحَقِّ شَيۡـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ بِمَا

فايده نه ورکوي، بېشکه الله ښه پوه دی په هغو کارونو چې

يَفۡعَلُوۡنَ ﴿۳۶﴾ وَمَا كَانَ هٰذَا الۡقُرۡاٰنُ اَنۡ

دوی يې کوي -36- او دا قرآن هيڅکله هم داسې نه دی چې

يُّفۡتَرٰى مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلٰكِنۡ

له الله نه پرته په دروغو جوړ کړی شي او لېکن

تَصۡدِيۡقَ الَّذِىۡ بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيۡلَ

دا تصديق دی د هغو (کتابونو) چې له ده نه مخکې دي او د

الۡكِتٰبِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ مِنۡ رَّبِّ

رب العلمين له جانبه د کتاب تفصيل دی چې هيڅ شك

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٧﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ

په کې نشته -37- ايا دوی وايي چې ده دا له ځانه جوړ کړی دی، ته (دوی ته) ووايه:

فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ

نو تاسو يو سورت د ده په مثل راوړئ او له الله نه پرته

اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ

چې څوك کولی شئ راوبلئ، که چېرې تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿٣٨﴾ بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ

رښتيني يئ -38- بلکې دوی د هغه (قرآن) تکذيب وکړ چې دوی د هغه

يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ تَاْوِيْلُهٗ ؕ

د علم احاطه نه وه کړې، او دوی ته لا د ده حقيقت نه و راغلی-،

كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ

همدارنګه تکذيب کړی و هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو،

فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۳۹﴾ وَ

نو ته وګوره د ظالمانو انجام څنګه و؟ -39- او

مِنۡهُمۡ مَّنۡ يُّؤۡمِنُ بِهٖ وَ مِنۡهُمۡ مَّنۡ لَّا

ځينې په دوی کې هغه څوك دي چې په ده ايمان راوړي او ځينې په دوی کې هغه څوك دي چې په

يُؤۡمِنُ بِهٖ ؕ وَ رَبُّكَ اَعۡلَمُ

ده ايمان نه راوړي، او ستا رب پر فساد کوونکو تر

بِالۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿۴۰﴾ وَ اِنۡ كَذَّبُوۡكَ فَقُلۡ

ټولو ښه پوه دی -40- او که چېرې دوی ستا تکذيب وکړي،

ع 9

لِّيۡ عَمَلِيۡ وَلَكُمۡ عَمَلُكُمۡ ۚ اَنۡتُمۡ

نو ته (دوی ته) ووايه: زما لپاره زما عمل دی او ستاسو لپاره ستاسو عمل دی، او تاسو له هغه

بَرِيۡٓـُٔوۡنَ مِمَّاۤ اَعۡمَلُ وَاَنَا بَرِیۡٓءٌ مِّمَّا

عمل نه بېزاره يئ چې زه يې کوم او زه له هغه عمل نه بېزاره يم چې

تَعۡمَلُوۡنَ ۝٤١ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّسۡتَمِعُوۡنَ

تاسو يې کوئ -41- او ځينې په دوی کې هغه کسان دي چې

اِلَيۡكَ ؕ اَفَاَنۡتَ تُسۡمِعُ الصُّمَّ وَلَوۡ

تا ته په غور سره غوږ نيسي، ايا نو ته کڼو ته اورول کولی شي اگر که دوی

كَانُوۡا لَا يَعۡقِلُوۡنَ ۝٤٢ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ

عقل هم ونه لري؟ -42- او ځينې په دوی کې

يَّنۡظُرُ اِلَيۡكَ ؕ اَفَاَنۡتَ تَهۡدِى الۡعُمۡىَ وَ

هغه كسان دي چې تا ته گوري، ايا نو ته ړندو ته لار ښودلى شي اگر كه

لَوۡ كَانُوۡا لَا يُبۡصِرُوۡنَ ﴿۴۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا

هغوى ليدل هم نه كوي -43- بېشكه الله په

يَظۡلِمُ النَّاسَ شَيۡـًٔـا وَّلٰـكِنَّ النَّاسَ

خلقو باندې هېڅ شى ظلم نه كوي او ليكن همدا خلق پر

اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۴۴﴾ وَيَوۡمَ

خپلو ځانونو ظلم كوي -44- او هغه ورځ

يَحۡشُرُهُمۡ كَاَنۡ لَّمۡ يَلۡبَثُوۡۤا اِلَّا سَاعَةً

چې هغه (الله) به دوى راجمع كړي، په دې حال كې چې لكه دوى (په دنيا كې) نه وو

مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ ؕ قَدْ

اوسېدلي مگر د ورځې يوه گړۍ، دوى به په خپل
مينځ كې يو بل پېژني، يقينًا

خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ وَ مَا

هغه كسان تاوانيان شول چې د الله د ملاقات
تكذيب يې كړى و او دوى هدايت

كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَ اِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ

موندونكي نه وو -45- او كه كله هم مونږ تا ته
ځيني هغه

الَّذِىْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا

څه وښيو چې مونږه يې له دوى سره وعده كوو،
يا تا وفات كړو، نو خاص زمونږ طرف

مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا

ته د دوى واپس راتلل دي، بيا الله ښه گواه دى
په هغو كارونو چې

يَفْعَلُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ ۚ فَاِذَا

دوی يې کوي -46- او دهر امت لپاره يو رسول و، نو کله چې

جَآءَ رَسُوْلُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ

به د هغوی رسول راغی د هغوی په مينځ کې به په انصاف سره فيصله وکړی شوه، په داسې حال کې

وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى

چې په دوی به ظلم نه کېده -47- او دوی وايي:

هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ

دا وعده کله ده که چېرې تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ ضَرًّا

رښتيني يئ؟ -48- ته (دوی ته) ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د هېڅ ضرر

وَّلَا نَفۡعًا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ لِكُلِّ اُمَّةٍ

او نه د هېڅ فايدې مالك يم مګر هغه چې الله يې وغواړي، د هر امت لپاره

اَجَلٌ ؕ اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمۡ فَلَا

يو نېټه ده (، نو) كله چې د دوی نېټه راشي، نو

يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ سَاعَةً وَّلَا

دوی نه يوه ګړۍ وروسته كېږي اونه

يَسۡتَقۡدِمُوۡنَ ﴿۴۹﴾ قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ

مخكې كېږي -49- ته (دوی ته) ووايه: تاسو خبر راكړئ!

اَتٰىكُمۡ عَذَابُهٗ بَيَاتًا اَوۡ نَهَارًا مَّاذَا

كه چېرې په تاسو د هغه عذاب د شپې راشي، يا د ورځې، (نو) څه دی هغه

يَسۡتَعۡجِلُ مِنۡهُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۝٥٠ اَثُمَّ

(عذاب) چې مجرمان يې په تلوار غواړي؟ -50-
ايا بيا به

اِذَا مَا وَقَعَ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ ؕ آٰلۡـٰٔنَ وَقَدۡ

تاسو په دې (عذاب) ايمان راوړئ کله چې واقع
شي؟ ايا اوس (ايمان راوړئ چې عذاب نازل

كُنۡتُمۡ بِهٖ تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ ۝٥١ ثُمَّ قِيۡلَ

شو؟)!، حال دا چې يقينًا تاسو وئ چې د دغه
(عذاب) به مو جلتي کوله -51- بيابه

لِلَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا ذُوۡقُوۡا عَذَابَ الۡخُلۡدِ ۚ

ظالمانو ته وويل شي: تاسو د همېشه والي عذاب
وڅکئ،

هَلۡ تُجۡزَوۡنَ اِلَّا بِمَا كُنۡتُمۡ

تاسو ته سزا نه درکولی شي مگر په سبب د هغه
(عمل) چې

تَكۡسِبُوۡنَ ﴿٥٢﴾ وَيَسۡتَنۡبِـُٔوۡنَكَ اَحَقٌّ

تاسو به کاوه -52- او دوی له تا نه پوښتنه کوي
چې ايا دا حق دی؟

هُوَ ؕ قُلۡ اِىۡ وَرَبِّىۡۤ اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؔؕ وَمَاۤ

ته (ورته) ووايه: هو! پخپل رب مې دې قسم وي
چې بېشکه دغه خامخا حق دی او تاسو (له الله

ع
10

اَنۡتُمۡ بِمُعۡجِزِيۡنَ ﴿٥٣﴾ وَلَوۡ اَنَّ لِكُلِّ

لره) عاجزه کوونکي نه يئ -53- او که چېرې يقيناً
د هر هغه

نَفۡسٍ ظَلَمَتۡ مَا فِى الۡاَرۡضِ لَافۡتَدَتۡ

نفس لپاره چې ظلم يې کړی دی، هغه څه وي
چې په ځمکه کې دي، نو خامخا به يې فديه کړي

بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا

او دوی به پښيماني پټه کړي کله چې دوی

الۡعَذَابَ ۚ وَ قُضِیَ بَیۡنَهُمۡ بِالۡقِسۡطِ وَ

عذاب ووينې او د دوی په مينځ کې به فيصله په
انصاف سره وکړی شي، په دې حال کې

هُمۡ لَا یُظۡلَمُوۡنَ ﴿۵۴﴾ اَلَاۤ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِی

چې په دوی به ظلم نه کېږي -54- اګاه شئ!
بېشکه خاص د الله لپاره دي هغه څه

السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ

چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، اګاه شئ!
بېشکه د الله وعده

حَقٌّ وَّ لٰکِنَّ اَکۡثَرَهُمۡ لَا

حقه ده او لېکن د دوی اکثره نه

یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۵۵﴾ هُوَ یُحۡیٖ وَ یُمِیۡتُ وَ اِلَیۡهِ

پوهېږي -55- هغه ژوندي کول کوي او مړه کول
کوي او خاص د هغه په طرف به

تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۵۶﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدۡ

تاسو ورگرځولی شئ -56- ای خلقو! يقينًا

جَآءَتۡكُمۡ مَّوۡعِظَةٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَ

تاسو ته د خپل رب له جانبه نصيحت راغلی دی
او

شِفَآءٌ لِّمَا فِى الصُّدُوۡرِ ۙ وَهُدًى وَّ

په سينو کې چې څه (مرضونه) دي د هغو لپاره
ستره شفا ده او د مومنانو لپاره

رَحۡمَةٌ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۵۷﴾ قُلۡ بِفَضۡلِ اللّٰهِ وَ

هدايت او رحمت دی -57- ته ووايه: د الله په
فضل سره او

بِرَحۡمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُوۡا ؕ هُوَ

د هغه په رحمت سره، لهذا په دې سره دې دوی
خوشحاله شي، دا ډېر غوره دی

خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ۝٥٨ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ

له هغه نه چې دوی يې جمع کوي -58- ته (دوی ته) ووايه: تاسو ما ته خبرراکړئ!

اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ

هغه رزق چې الله تاسو لپاره نازل کړی دی، نو تاسو له

مِّنْهُ حَرَامًا وَّ حَلٰلًا ؕ قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ

هغه نه څه حرام او څه حلال ګرځولی دی، ته (ورته) ووايه: ايا الله تاسو ته د دې اجازت (خبر)

لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ۝٥٩ وَ مَا ظَنُّ

درکړی دی، يا تاسو په الله پورې دروغ تړئ؟ -59- او د هغو

الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

کسانو، چې په الله باندې له ځانه دروغ تپي،

يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى

څه گمان دی، د قيامت په ورځ کې (به ورسره څه کيږي) بيشکه الله په

النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكۡثَرَهُمۡ لَا

خلقو باندې خامخا د فضل کولو والا دی او لېکن د دوی زياتره

ع 11

يَشۡكُرُوۡنَ ۟ ﴿٦٠﴾ وَمَا تَكُوۡنُ فِىۡ شَاۡنٍ وَّمَا

شکر نه وباسي -60- او ته نه يې په کوم کار کې (مشغوله) او نه

تَتۡلُوۡا مِنۡهُ مِنۡ قُرۡاٰنٍ وَّلَا تَعۡمَلُوۡنَ

ته لولې له دې نه، يعنې له قرآنه او نه تاسو څه

مِنۡ عَمَلٍ اِلَّا كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُوۡدًا اِذۡ

عمل کوئ مګر مونږ پر تاسو باندې شاهدان يو کله چې

تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ وَ مَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ

تاسو په هغه کې بوختېږئ او ستا له رب نه

مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي

په ځمکه کې اونه په اسمان کې د ذرې په اندازه (شی) هم نه پټېږي

السَّمَآءِ وَلَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ

او نه له دې نه زيات وړوکی شی او نه له دې نه

اَكْبَرَ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٦١﴾ اَلَآ اِنَّ

زيات غټ مگر په واضحه کتاب کې دي -61- اگاه شئ! بېشکه

اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

د الله دوستان چې دي؛ پر هغوی باندې نه څه وېره شته او نه دوی

يَحۡزَنُوۡنَ ۚ﴿٦٢﴾ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَكَانُوۡا

غمژن کېږي -62- هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او ځان

يَتَّقُوۡنَ ؕ﴿٦٣﴾ لَهُمُ الۡبُشۡرٰى فِى الۡحَيٰوةِ

(له نافرمانيو) ساتي -63- د همدوی لپاره په دنيايي ژوند

الدُّنۡيَا وَفِى الۡاٰخِرَةِ ؕ لَا تَبۡدِيۡلَ

کې زېرې دی او په اخرت کې (هم).

لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الۡفَوۡزُ

د الله کلماتو لره هېڅ بدلول نشته، همدغه ډېر

الۡعَظِيۡمُ ؕ﴿٦٤﴾ وَلَا يَحۡزُنۡكَ قَوۡلُهُمۡ ۘ اِنَّ

ستر بری دی -64- او د دوی وينا دې تا غمژن نه کړي، بېشکه

وقف لازم

الۡعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيۡعًا ؕ هُوَ السَّمِيۡعُ

عزت ټول خاص د الله لپاره دی، هم هغه ښه اورېدونکی،

الۡعَلِيۡمُ ۞ اَلَاۤ اِنَّ لِلّٰهِ مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ

ښه پوه دی -65- خبردار شئ! بېشکه خاص د الله لپاره دي هغه څوك چې په اسمانونو

وَمَنۡ فِى الۡاَرۡضِ ؕ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِيۡنَ

کې دي او هغه څوك چې په ځمکه کې دي او پیروي نه کوي هغه کسان چې

يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ اِنۡ

له الله نه پرته شریکان بلي، دوی پیروي نه کوي

يَّتَّبِعُوۡنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنۡ هُمۡ اِلَّا

مگر د گمان او نه دي دوی مگر دا چې

يَخۡرُصُوۡنَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمُ

اټکل چلوي -66- دی همغه ذات دی چې تاسو لپاره يې

الَّيۡلَ لِتَسۡکُنُوۡا فِيۡهِ وَ النَّهَارَ

شپه جوړه کړې ده، د دې لپاره چې تاسو په دې کې په ارام شئ او ورځ

مُبۡصِرًا ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ

يې روښانه (ګرځولې ده)، بېشکه په دې کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره

يَّسۡمَعُوۡنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا

چې اوري -67- دوی وايي: الله (د ځان لپاره) اولاد نيولی دی،

سُبۡحٰنَهٗ ؕ هُوَ الۡغَنِیُّ ؕ لَهٗ مَا فِی

هغه پاك دی، هم دی غني (بې پروا) دی، خاص ده لره دي

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ ؕ اِنۡ

هغه څه چې اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي تاسو

عِنۡدَكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍۢ بِهٰذَا ؕ

سره په دې خبره هېڅ دليل نشته،

اَتَقُوۡلُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا

ايا تاسو په الله باندې هغه خبره ورتپئ چې

تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٦٨﴾ قُلۡ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَفۡتَرُوۡنَ

پرې نه پوهېږئ؟ -68- ته ووايه: بېشکه هغه کسان چې په الله باندې له

عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُوۡنَ ﴿٦٩﴾ؕ مَتَاعٌ

ځانه دروغ تړي؛ دوى به خلاصى ونه مومي -69- په دنيا کې

فِى الدُّنْيَا ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ

لږه فايده اخيستل دي، بيا خاص مونږ ته د دوی
واپس راتلل دي، بيا به

نُذِيْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيْدَ بِمَا كَانُوْا

مونږ دوی ته ډېر سخت عذاب ورڅکوو، په سبب
د دې چې دوی

يَكْفُرُوْنَ ۞٧٠ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ ۘ

كفر كاوه -70- او ته دوی ته د نوح خبر ولوله،

ع 12 الثلثة

وقف لازم

اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنْ كَانَ كَبُرَ

كله چې هغه خپل قوم ته وويل: ای زما قومه! كه

عَلَيْكُمْ مَّقَامِىْ وَتَذْكِيْرِىْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

چېرې پر تاسو باندې زما اوسېدل او د الله په
ايتونو سره

فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلۡتُ فَاَجۡمِعُوۡۤا اَمۡرَكُمۡ وَ

(تاسو ته) زما نصيحت كول سخت (او گران) وي، نو ما خاص په الله باندې توكل كړى دى، نو تاسو

شُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ اَمۡرُكُمۡ

له خپلو شريكانو سره د خپل كار پخه اراده وكړئ، بيا دې پر

عَلَيۡكُمۡ غُمَّةً ثُمَّ اقۡضُوۡۤا اِلَىَّ وَلَا

تاسو باندې خپله معامله پټه نه وي، بيا ما ته ضرر راورسوئ او ما ته مهلت

تُنۡظِرُوۡنِ ۝ فَاِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا

(هم) مه راكوئ -71- نو كه تاسو وگرځېدئ، پس ما له

سَاَلۡتُكُمۡ مِّنۡ اَجۡرٍ ؕ اِنۡ اَجۡرِىَ اِلَّا

تاسو نه هېڅ مزدوري نه ده غوښتې، زما اجر يوائې

عَلَى اللّٰهِ ۚ وَ اُمِرۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ مِنَ

په الله دى او ما ته حكم شوى دى چې زه شم له

الۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴿۷۲﴾ فَكَذَّبُوۡهُ فَنَجَّيۡنٰهُ وَ

مسلمانانو څخه -72- پس هغوى د ده تكذيب وكړ، نو مونږ ده ته او

مَنۡ مَّعَهٗ فِى الۡفُلۡكِ وَ جَعَلۡنٰهُمۡ

هغه چا ته چې له ده سره په بېړۍ كې (سواره) وو، نجات وركړ او مونږ

خَلٰٓئِفَ وَ اَغۡرَقۡنَا الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا

دوى خليفگان (ځاى ناستي) جوړ كړل او هغه كسان مو غرق كړل چا چې

بِاٰيٰتِنَا ۚ فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ

زمونږ د ايتونو تكذيب كړى و، نو ته وگوره د وېرول شويو

الۡمُنۡذَرِيۡنَ ﴿۷۳﴾ ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ

انجام څنګه و؟ -73- بيا مونږ له ده نه بعد خپلو
قومونو ته

رُسُلًا اِلٰى قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوۡهُمۡ

نور رسولان ولېږل، نو هغوی ته يې
څرګند دليلونه راوړل، پس دوی داسې نه وو چې

بِالۡبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوۡا لِيُؤۡمِنُوۡا بِمَا

په هغه څه يې ايمان راوړی وی چې له دې نه

كَذَّبُوۡا بِهٖ مِنۡ قَبۡلُ ؕ كَذٰلِكَ نَطۡبَعُ

مخکې يې د هغه تکذيب کړی و، همدارنګه (په
دې وجه) مونږ د زياتي کوونکو

عَلٰى قُلُوۡبِ الۡمُعۡتَدِيۡنَ ﴿۷۴﴾ ثُمَّ بَعَثۡنَا

په زړونو مهر لګوو -74- بيا مونږ له دوی

مِنۢ بَعۡدِهِمۡ مُّوۡسٰى وَ هٰرُوۡنَ اِلٰى

نه بعد موسٰی او هارون ولېږل په ښکاره معجزو سره

فِرۡعَوۡنَ وَ مَلَا۟ئِهٖ بِاٰيٰتِنَا فَاسۡتَكۡبَرُوۡا

فرعون او د هغه سردارانو ته، نو هغوی تکبر وکړ

وَ كَانُوۡا قَوۡمًا مُّجۡرِمِيۡنَ ﴿۷۵﴾ فَلَمَّا

او دوی مجرمان خلق وو -75- پس کله

جَآءَهُمُ الۡحَـقُّ مِنۡ عِنۡدِنَا قَالُوۡۤا اِنَّ

چې زمونږ له خوا نه دوی ته حق راغی، دوی وویل: بېشکه

هٰذَا لَسِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۷۶﴾ قَالَ مُوۡسٰٓى

دا یقینًا ښکاره جادو دی -76- موسٰی وویل:

اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ؕ اَسِحْرٌ

ايا تاسو حق ته (جادو) وايئ کله چې تاسو ته راغی، ايا جادو دا دی؟،

هٰذَا ؕ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوْٓا

حال دا چې جادوگر خو بری نه مومي -77- دوی وویل:

اَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ

ايا ته مونږ ته د دې لپاره راغلی یې چې مونږه د هغې (لارې) نه واړوې چې په هغې مونږ

اٰبَآءَنَا وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ فِي

خپل پلرونه موندلي دي او په ځمکه کې تاسو دواړو ته لويي (غلبه) حاصله شي؟

الْاَرْضِ ؕ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا

او مونږه په تاسو دواړو ایمان راوړونکي

بِمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿٧٨﴾ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ائۡتُوۡنِىۡ

نه يو -78- او فرعون وويل: تاسو ما ته

بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيۡمٍ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا جَآءَ

هر ښه پوه (ماهر) جادوګر راولئ -79- نو کله چې

السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمۡ مُّوۡسٰٓى اَلۡقُوۡا مَآ

جادوګر راغلل، موسٰى دوى ته وويل: وغورځوئ

هغه څه چې

اَنۡتُمۡ مُّلۡقُوۡنَ ﴿٨٠﴾ فَلَمَّآ اَلۡقَوۡا قَالَ

تاسو يې غورځوونکي يئ -80- پس کله چې دوى

(امساګانې او پړې) وغورځول،

مُوۡسٰى مَا جِئۡتُمۡ بِهِ ۙ السِّحۡرُ ؕ اِنَّ

موسٰى وويل: هغه څه چې تاسو راوړي دي،

واقعي جادو دى، بېشکه

اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ

الله به يې ژر تباه (بې اثره) كړي، بېشكه الله د فساد كوونكو كار

الْمُفْسِدِيْنَ ۝٨١ وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ

نه جوړوي -81- او الله په خپلو كَلِمو سره حق

ع 13

بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۝٨٢ؑ فَمَآ

ثابتوي اگر كه مجرمان يې بد گڼي -82- نو په

اٰمَنَ لِمُوْسٰۤى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى

موسٰى ايمان رانه وړ مگر د هغه له قومه څو ځلميانو،

خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۠ئِهِمْ اَنْ

د فرعون او د هغوی د سردارانو څخه په دې وېره كې چې دوی

يَّفۡتِنَهُمۡ ؕ وَاِنَّ فِرۡعَوۡنَ لَعَالٍ فِی

به يې په فتنه کې واچوي او بېشکه فرعون په ځمکه کې سرکشي کوونکی و

الۡاَرۡضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الۡمُسۡرِفِيۡنَ ﴿۸۳﴾ وَ

او بېشکه هغه له حده تېرېدونکو څخه و -83- او

قَالَ مُوۡسٰی يٰقَوۡمِ اِنۡ كُنۡتُمۡ اٰمَنۡتُمۡ

موسٰی وویل: ای زما قومه! که چېرې تاسو (داسې) يئ چې

بِاللّٰهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوۡۤا اِنۡ كُنۡتُمۡ

په الله مو ایمان راوړی دی، نو خاص په هغه باندې توکل وکړئ که چېرې تاسو

مُّسۡلِمِيۡنَ ﴿۸۴﴾ فَقَالُوۡا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلۡنَا ۚ

مسلمانان يئ -84- پس دوی وویل: خاص په الله باندې مونږ توکل کړی دی،

رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةً لِّلۡقَوۡمِ

اى زمونږه ربه! مونږ د ظالمو خلقو لپاره فتنه

الظّٰلِمِيۡنَ ۝٨٥ وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ

مه جوړوه -85- او په خپل رحمت سره مونږ ته له
کافرو

الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ۝٨٦ وَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى

خلقو نه نجات راکړه -86- او مونږ موسٰی

مُوۡسٰى وَاَخِيۡهِ اَنۡ تَبَوَّاٰ لِقَوۡمِكُمَا

او د هغه ورور ته وحي وکړه دا چې تاسو د خپل
قوم لپاره

بِمِصۡرَ بُيُوۡتًا وَّاجۡعَلُوۡا بُيُوۡتَكُمۡ قِبۡلَةً

په مصر كې څه کوټې مقررې کړئ او خپلې کوټې
قبله وګرځوئ

وَّ اَقِیۡمُوا الصَّلٰوۃَ ؕ وَ بَشِّرِ

او تاسو لمونځ قایموئ او ته مومنانو ته

الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۸۷﴾ وَ قَالَ مُوۡسٰی رَبَّنَاۤ اِنَّکَ

زیری ورکړه -87- او موسٰی وویل: ای زمونږ ربه! بیشکه

اٰتَیۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَ مَلَاَہٗ زِیۡنَۃً وَّ اَمۡوَالًا

هم تا فرعون او د هغه سردارانو ته په دنیایي ژوند کې زینت او مالونه ورکړي دي،

فِی الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا ۙ رَبَّنَا لِیُضِلُّوۡا عَنۡ

ای زمونږ ربه! د دې لپاره چې دوی ستا له لارې

سَبِیۡلِکَ ۚ رَبَّنَا اطۡمِسۡ عَلٰۤی اَمۡوَالِہِمۡ

نه (خلق) بې لارې کړي، ای زمونږ ربه! ته د دوی مالونه محوه کړه

وَ اشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا

او د دوی په زړونو سختي راوله، پس چې دوی ایمان رانه وړي

حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٨٨﴾ قَالَ

تر هغه چې ډېر دردناك عذاب ووینې -88- ویې ویل:

قَدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيْمَا وَ لَا

یقینًا ستاسو د دواړو دعا قبوله کړی شوه، لهذا سم ولاړ اوسئ او هیڅکله هم د

تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا

هغو خلقو د لارې پیروي مه کوئ

يَعْلَمُوْنَ ﴿٨٩﴾ وَ جٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

چې نه پوهېږي -89- اومونږه بني اسرائیل له

الۡبَحۡرَ فَاَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَ جُنُوۡدُهٗ

بحر نه پورې وېستل، نو فرعون او د هغه لښکر د ظلم

بَغۡيًا وَّ عَدۡوًا ؕ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَدۡرَكَهُ

او زياتي کولو لپاره د دوی پسې شول، تر دې چې

الۡغَرَقُ ۙ قَالَ اٰمَنۡتُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا

کله دی غرقېدو (ډوبېدو) راونيوه، ده وويل: ما ايمان راوړ په دې (خبره) چې يقيناً شان دا دی

الَّذِىۡۤ اٰمَنَتۡ بِهٖ بَنُوۡۤا اِسۡرَآءِيۡلَ وَ اَنَا

چې نشته هېڅ لايق د عبادت مگر هغه ذات چې بني اسرائيلو پر هغه ايمان راوړی دی او

مِنَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ ۝۹۰ آٰلۡـٰٔنَ وَ قَدۡ

زه له مسلمانانو څخه يم -90- ايا اوس (ته ايمان راوړې)؟!

عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ

حال دا چې يقينًا له دې نه مخكې تا نافرماني كوله او ته له فساد

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٩١﴾ فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ

كوونكو څخه وې -91- پس نن ورځ به مونږ ستا بدن

بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ؕ وَ

په لوړ ځاى واچوو، د دې لپاره چې ته د هغه چا لپاره چې له تا نه وروسته دي،

اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا

نښه جوړ شې او بېشكه په خلقو كې ډېر زمونږ له ايتونو څخه يقينًا

ع 14

لَغٰفِلُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَلَقَدْ بَوَّاْنَا بَنِيْٓ

غافلان دي -92- او يقينًا يقينًا مونږه بني

اِسۡرَآءِيۡلَ مُبَوَّاَ صِدۡقٍ وَّرَزَقۡنٰهُمۡ

اسرائيلو ته د عزت استوگنه ورکړه او مونږه دوی ته له

مِّنَ الطَّيِّبٰتِۚ فَمَا اخۡتَلَفُوۡا حَتّٰى

پاکيزه ځيزونو څخه روزي ورکړه، نو دوی اختلاف ونه کړ تر

جَآءَهُمُ الۡعِلۡمُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِىۡ

هغه پورې چې دوی ته علم راغی، بېشکه ستا رب به د دوی په

بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا كَانُوۡا فِيۡهِ

مينځ کې د قيامت په ورځ فيصله کوي په هغه ځيز کې چې دوی په هغه کې

يَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۹۳﴾ فَاِنۡ كُنۡتَ فِىۡ شَكٍّ مِّمَّاۤ

اختلاف کاوه -93- نو که چېرې ته د هغه (قرآن) په باره کې په شك کې

اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ الَّذِيۡنَ

يې چې مونږ تا ته نازل كړې دى، نو ته له هغو كسانو څخه پوښتنه وكړه

يَقۡرَءُوۡنَ الۡكِتٰبَ مِنۡ قَبۡلِكَ‌ۚ لَقَدۡ

چې له تا نه مخكې كتاب لولي، يقينًا يقينًا

جَآءَكَ الۡحَـقُّ مِنۡ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوۡنَنَّ

ستا د رب له جانبه تا ته حق راغلى دى، نو ته هيڅكله هم له شك كوونكو

مِنَ الۡمُمۡتَرِيۡنَ ۙ‏ ﴿۹۴﴾ وَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ

څخه مه كېږه -94- او هيڅكله هم مه كېږه له

الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوۡنَ مِنَ

هغو كسانو څخه چې د الله د ايتونو تكذيب يې كړى دى، نو ګنې شې به ته

الۡخٰسِرِیۡنَ ﴿۹۵﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ حَقَّتۡ

له تاوانیانو څخه -95- بېشکه هغه کسان چې

عَلَیۡهِمۡ کَلِمَتُ رَبِّكَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۹۶﴾ وَلَوۡ

ستا د رب خبره پرې ثابته شوې ده، دوی ایمان نه راوړي -96- اګر که دوی

جَآءَتۡهُمۡ کُلُّ اٰیَةٍ حَتّٰی یَرَوُا الۡعَذَابَ

ته هره نښه راشي تر هغه پورې چې دوی ډېر دردناك

الۡاَلِیۡمَ ﴿۹۷﴾ فَلَوۡ لَا کَانَتۡ قَرۡیَةٌ اٰمَنَتۡ

عذاب ووینې -97- نو ولې یو داسې کلی نه و چې ایمان یې راوړی وی،

فَنَفَعَهَاۤ اِیۡمَانُهَاۤ اِلَّا قَوۡمَ یُوۡنُسَ ؕ لَمَّاۤ

بیا هغه ته د هغه ایمان فایده رسولې وی۔ غیر د یونس له قوم نه کله چې

اٰمَنُوْا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ

دوی ایمان راوړ (، نو) مونږ له دوی نه په دنیایي
ژوند کې د رسوایۍ عذاب لرې کړو

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى

او دوی ته مونږ تر یو وخته پورې فایده

حِيْنٍ ۝٩٨ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي

ورکړه -98- او که چېرې ستا رب غوښتلی (، نو)
خامخا ایمان به راوړی و هغه چا

الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ

چې په ځمکه کې دي ټول په ټولو، ایا نو ته

النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝٩٩ وَمَا

خلق مجبوروې تر هغه چې دوی مومنان شي؟ -
-99 او د هیڅ

كَانَ لِنَفۡسٍ اَنۡ تُؤۡمِنَ اِلَّا بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ

نفس لپاره ممكن نه دي چې ايمان راوړي مگر په اذن (ارادې) له الله سره

وَ يَجۡعَلُ الرِّجۡسَ عَلَى الَّذِيۡنَ لَا

او هغه (الله) عذاب په هغو كسانو اچوي چې له عقل نه كار

يَعۡقِلُوۡنَ ۝١٠٠ قُلِ انۡظُرُوۡا مَا ذَا فِى

نه اخلي -100- ته (ورته) ووايه: تاسو وگورئ په

السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ ؕ وَ مَا تُغۡنِى

اسمانونو او ځمكه كې څه (څه دليلونه) دي او

الۡاٰيٰتُ وَ النُّذُرُ عَنۡ قَوۡمٍ لَّا

هغه قوم ته

له ايتونو او وېروونكيو څخه فايده نه رسي چې

يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠١﴾ فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ

ايمان نه راوړي -101- پس دوی انتظار نه کوي
مګر په شان د هغو

اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ

خلقو د بدو ورځو چې له دوی نه مخکې تېر
شوي دي، ته (ورته) ووايه:

فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ

پس تاسو انتظار کوئ، بېشکه زه (هم) له تاسو
سره له انتظار کوونکو

الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَ

څخه یم -102- بیا مونږ خپلو رسولانو ته نجات
ورکوو او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا

همدارنګه هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی
دی، پر مونږ ثابته ده دا چې مونږ به

ع
15

نُنۡجِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿١٠٣﴾ قُلۡ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

مومنانو ته نجات ورکوو -103- ته ووايه: اى خلقو!

اِنۡ كُنۡتُمۡ فِىۡ شَكٍّ مِّنۡ دِيۡنِىۡ فَلَاۤ

که چېرې تاسوزما د دين په باره کې په شك کې يئ، نو زه خو د

اَعۡبُدُ الَّذِيۡنَ تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

هغو خيزونو عبادت نه کوم چې تاسو يې له الله نه پرته (غير) عبادت کوئ

وَلٰـكِنۡ اَعۡبُدُ اللّٰهَ الَّذِىۡ يَتَوَفّٰٮكُمۡ ۖۚ

او ليکن زه د هغه الله عبادت کوم چې تاسو وفات کوي

وَاُمِرۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ مِنَ

او ما ته حکم کړى شوى دى دا چې زه شم له

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۰۴﴾ وَاَنۡ اَقِمۡ وَجۡهَكَ

مومنانو څخه -104- او دا چې ته خپل مخ

لِلدِّيۡنِ حَنِيۡفًا ۚ وَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ

دين ته سم ودروه، په دې حال کې چې له باطله
حق ته مايله يې او ته هيڅکله هم له

الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿۱۰۵﴾ وَلَا تَدۡعُ مِنۡ دُوۡنِ

مشرکانو څخه مه کېږه -105- او له الله نه غير
هغه شی مه رابله

اللّٰهِ مَا لَا يَنۡفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ فَاِنۡ

چې تا ته نه فايده دررسولی شي او نه تا ته ضرر
دررسولی شي، نو که چېرې ته (دا) وکړې، نو

فَعَلۡتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۱۰۶﴾ وَ

بېشکه ته به په دغه وخت کې له ظالمانو څخه يې -
-106- او

اِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ

که چېرې الله تا ته څه تکليف دروررسوي، نو له
هغه نه غير هيڅوك هغه (تکليف) لره لرې کوونکی

اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ

نشته او که چېرې هغه له تا سره د خير اراده
وکړي، نو د

لِفَضْلِهٖ ۭ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ

هغه فضل لره هېڅ منع کوونکی نشته، په خپلو بنده
گانو کې چا ته چې وغواړي وررسوي يې

عِبَادِهٖ ۭ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝١٠٧ قُلْ

او هماغه ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی
دی -107- ته ووايه:

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ مِنْ

ای خلقو! يقيناً تاسو ته د خپل رب له جانبه حق
راغی،

رَّبِّكُمۡ ۚ فَمَنِ اهۡتَدٰى فَاِنَّمَا يَهۡتَدِىۡ

نو هغه چا چې هدايت اختيار كړ، نو بېشكه همدا خبره ده چې هغه

لِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ

د خپل ځان لپاره هدايت حاصلوي اوڅوك چې بې لارې شي، نو بېشكه همدا خبره ده چې

عَلَيۡهَا ۚ وَمَاۤ اَنَا عَلَيۡكُمۡ بِوَكِيۡلٍ ؕ۝۱۰۸ وَ

هغه دخپل ځان په ضرر گمراه كېږي او زه پر تاسو باندې نگران نه يم -108- او

اتَّبِعۡ مَا يُوۡحٰۤى اِلَيۡكَ وَاصۡبِرۡ حَتّٰى

ته متابعت كوه د هغه څه چې تا ته وحي كولی شي او صبر كوه تر هغه

ع 16

يَحۡكُمَ اللّٰهُ ۖۚ وَهُوَ خَيۡرُ الۡحٰكِمِيۡنَ ۝۱۰۹ ع

پورې چې الله فيصله وكړي او هغه تر ټولو غوره فيصله كوونكی دی -109-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اُحۡكِمَتۡ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتۡ

الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې ايتونه يې محکم
کړی شوي دي، بيا د ښه حکمت والا،

مِنۡ لَّدُنۡ حَكِيۡمٍ خَبِيۡرٍ ۙ﴿1﴾ اَلَّا

پوره خبردار ذات له خوا نه په تفصيل سره بيان
شوي دي -1- دا چې

تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنَّنِىۡ لَـكُمۡ مِّنۡهُ

تاسو عبادت مه کوئ مگر يوازې د الله، بېشکه
زه تاسو لپاره د هغه له جانبه (رالېږل شوی)

نَذِيۡرٌ وَّبَشِيۡرٌ ۙ﴿2﴾ وَّاَنِ اسۡتَغۡفِرُوۡا

وېرووونکی او زېری ورکوونکی يم -2- او دا چې
تاسو له خپل رب نه مغفرت وغواړئ،

رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُمَتِّعۡكُم مَّتَٰعًا

بيا هغه ته توبه وباسئ (، نو) هغه به تاسو ته د
يوې مقررې نېټې پورې ډېره

حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَيُؤۡتِ كُلَّ

ښکلې فايده درکړي او هر فضل والا ته به د

ذِي فَضۡلٖ فَضۡلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ

هغه فضل ورکړي او كه چېرې تاسو وګرځېدئ،

أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ

نو بېشكه زه پر تاسو باندې د ډېرې سترې ورځې
د

كَبِيرٍ ۝٣ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ وَهُوَ عَلَىٰ

عذاب وېره لرم -3- خاص الله ته ستاسو واپس
ورتله دي او هغه په هر شي

كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيرٌ ۝٤ أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ

باندې ښه قادر دی -4- خبردار شئ! بېشکه دوی خپلې

صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ أَلَا

سينې دوه قته کوي، د دې لپاره چې له هغه نه پټ شي، خبردار شي!

حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ يَعۡلَمُ مَا

کله چې دوی خپلې جامې اغوندي، هغه (الله) پوهېږي

يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ

په هغه څه چې دوی (يې) پټوي اوپه هغه څه چې دوی (يې) څرګندوي، بېشکه هغه د

بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ۝٥

سينو په پټوخبرو (هم) ښه پوه دی -5-

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِى الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ

او په ځمکه کې هېڅ خوځنده (ذي روح) نشته مګر د

رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَ

هغه رزق خاص په الله باندې دی، او هغه د هغه د اوسېدلو ځای او

مُسْتَوْدَعَهَا ؕ كُلٌّ فِىْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝٦

د هغه د سپارېدلو ځای پېژني (دا) هر څه په واضح کتاب کې (لیك) دي -6-

وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

او دی هماغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې

فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ

په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، په دې حال کې چې د هغه عرش په اوبو باندې و،

لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ وَ

د دې لپاره چې هغه تاسو وازمايي چې په تاسو
كې د عمل په لحاظ ښوك ډېر ښه دى۔ او

لَئِنْ قُلْتَ اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْۢ بَعْدِ

يقينًا كه ته (دې خلقو) ووايې چې بېشكه تاسو

الْمَوْتِ لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ

به له مرگ نه پس ژوندي كولى شئ (نو) هرومرو
لازمًا به هغه كسان ووايي چې كافران شوي دي:

هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَلَئِنْ اَخَّرْنَا

۔ نه دى دا مگر ښكاره جادو (باطل) -7- او يقينًا
كه چېرې مونږ له

عَنْهُمُ الْعَذَابَ اِلٰٓى اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ

دوى نه عذاب تر يو شمېرل شوې مودې پورې
وروسته كړو (، نو) دوى

لَيَقُوْلُنَّ مَا يَحْبِسُهٗ ؕ اَلَا يَوْمَ

به ارومرو لازمًا وايي: دغه (عذاب) لره څه شی ایساروي؟ خبردار شئ! په هغې ورځ کې چې

يَاْتِيْهِمْ لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ وَ

دوی ته هغه (عذاب) راشي (، نو) هغه به له دوی څخه ګرځولی نشي او

حَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

له دوی نه به هغه څه چاپېره شي چې دوی به په

ع 1

يَسْتَهْزِءُوْنَ ۟ؑ وَلَئِنْ اَذَقْنَا

هغه پورې استهزا کولې -8- او یقینًا که چېرې مونږ

الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنٰهَا

انسان ته له خپل جانبه رحمت وروڅکوو، بیا مونږ هغه له ده نه راکش کړو (، نو)

مِنْهُ ۚ اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ ۝٩ وَلَئِنْ

بېشکه هغه (بیا) یقینًا ډېر نا امېده، ډېر ناشکره وي
-9- او یقینًا

اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ

که چېرې مونږ په ده باندې نعمت وروڅکوو له
هغه تکلیف نه وروسته چې ده ته رسېدلی و (، نو)

لَيَقُوْلَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ ؕ اِنَّهٗ

ارومرو لازما به هغه وايي: زما څخه ټولې سختۍ
لاړې، بېشکه هغه یقینًا ډېر خوشالېدونکی دی،

لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ ۝١٠ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَ

ډېر فخر کوونکی دی -10- مګر هغه کسان چې
صبر یې وکړ او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ

نېك عملونه یې وکړل، دغه کسان (چې دي) د

مَّغْفِرَةٌ وَّ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿١١﴾ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ

همدوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر دی -11- نو ښايي چې ته پرېښودونکی يې

بَعْضَ مَا يُوْحٰۤى اِلَيْكَ وَ ضَآئِقٌۢ بِهٖ

ځينې برخې د هغه (قرآن) لره چې تا ته وحي کولی شي او په ده سره دې

صَدْرُكَ اَنْ يَّقُوْلُوْا لَوْ لَاۤ اُنْزِلَ عَلَيْهِ

خپله سينه تنګېدونکې ده (له دې وېرې) چې دوی به وايي: په ده باندې خزانه ولې نه ده نازله کړی

كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ؕ اِنَّمَاۤ اَنْتَ

شوې، يا له ده سره مَلَك (ولې نه دی) راغلی؟ بېشکه همدا خبره ده

نَذِيْرٌ ؕ وَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ

چې ته (يواځې) وېروونکی يې او الله په هر شي

وَّكِيۡلٌ ؕ﴿۱۲﴾ اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰٮهُ ‌ؕ قُلۡ

باندې نګران دی -12- ايا دوی وايي چې دا يې له خپله ځانه جوړ کړی دی؟ ته (ورته) ووايه: نو

فَاۡتُوۡا بِعَشۡرِ سُوَرٍ مِّثۡلِهٖ مُفۡتَرَيٰتٍ وَّ

تاسو د ده په مثل لس سورتونه راوړئ، چې له خپله ځانه جوړ کړی شوي وي او

ادۡعُوۡا مَنِ اسۡتَطَعۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

له الله نه غير چې څوك كولی شئ راوغواړئ، كه

اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۱۳﴾ فَاِلَّمۡ

چېرې تاسو رښتيني يئ -13- نو كه چېرې

يَسۡتَجِيۡبُوۡا لَكُمۡ فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَاۤ اُنۡزِلَ

دوی تاسو ته جواب درنه کړي (ستاسو دعا قبوله نه کړي)، نو تاسو پوه شئ چې يقينًا

بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَهَلْ

هغه د الله په علم سره نازل کړی شوی دی او دا
چې نشته هيڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، نو

اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٤﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ

ايا تاسو اسلام راوړونکي يئ؟ -14- هر څوك چې
(داسې) وي چې

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ

دنيايي ژوند او د ده ښايست غواړي (، نو) مونږ
به په همدې (دنيا) کې هغو ته

اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَ هُمْ فِيْهَا لَا

خپل عملونه پوره ورکړو، په داسې حال کې چې
له دوی نه به په دې (دنيا) کې

يُبْخَسُوْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ

څه کمولی نشي -15- دا هغه کسان دي چې د
دوی لپاره په

لَهُمۡ فِي الۡاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَ حَبِطَ مَا

اخرت کې نشته مگر اور او هغه څه برباد شول

چې دوی

صَنَعُوۡا فِيۡهَا وَ بٰطِلٌ مَّا كَانُوۡا

په دې (دنيا) کې کړي وو او باطل دي هغه

عملونه

يَعۡمَلُوۡنَ ۝۱۶ اَفَمَنۡ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنۡ

چې دوی به کول -16- ايا نو هغه څوك چې د

خپل رب له

رَّبِّهٖ وَ يَتۡلُوۡهُ شَاهِدٌ مِّنۡهُ وَ مِنۡ قَبۡلِهٖ

جانبه په څرگند دليل باندې وي او د هغه له جانبه

د ده پسې يو شاهد وي، او له ده نه مخکې د

كِتٰبُ مُوۡسٰۤى اِمَامًا وَّ رَحۡمَةً ؕ اُولٰٓئِكَ

موسىٰ کتاب و، چې پيشوا او رحمت و، دغه

کسان په ده

يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَ مَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ

ايمان لري او له ډلو څخه چې څوك په ده سره كافر شو، نو

الْاَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِيْ

اور د هغه د وعدې ځاى دى، نو ته د ده په باره كې په هيڅ

مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۗ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ وَ

شك كې مه كيږه، بيشكه هم دا ستا د رب له جانبه حق دى او

لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَ

ليكن اكثره خلق ايمان نه راوړي -17- او

مَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

له هغه كس نه لوى ظالم څوك دى چې په الله باندې

كَذِبًا ۗ أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَ

دروغ تپي، دغه کسان به د خپل رب په وړاندې پيش کړی شي، او

يَقُولُ الْأَشْهَادُ هَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا

گمراهان به ووايي: دا هغه کسان دي چې په خپل رب يې

عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى

دروغ تړلي وو.، خبردار شئ! د الله لعنت په ظالمانو

الظَّالِمِينَ ﴿١٨﴾ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن

باندې دی -18- هغه کسان چې د

سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۖ وَهُمْ

الله له لارې نه منع کول کوي او په هغې (لاره) کې کوږوالی لټوي او

بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿١٩﴾ اُولٰٓئِكَ لَمْ

له اخرت نه انكار كوونكي (هم) همدوى دي -
19- دغه كسان كله

يَكُوْنُوْا مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَ مَا

هم په ځمكه كې (الله لره) عاجزه كوونكي نه
دي، او د دوى

كَانَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ مۘ

لپاره له الله نه سوا هيڅوك مدد كوونكي نشته،

وقف لازم

يُضٰعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ط مَا كَانُوْا

دوى ته به دوه چنده عذاب وركولى شي،

يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَ مَا كَانُوْا

دوى اوريدل نشول كولى او نه دوى

يُبْصِرُوْنَ ۝٢٠ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا

ليدل كول -20- دا هغه كسان دي چې خپلو

اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

ځانونو ته يې تاوان رسولى دى او له دوى نه هغه
څه ورك شول چې دوى

يَفْتَرُوْنَ ۝٢١ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

به دروغ تړل -21- حقه خبره دا ده چې يقينًا هم
دوى په اخرت كې تر ټولو

هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝٢٢ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

زيات زيان كاران دي -22- بېشكه هغه كسان
چې ايمان يې راوړى دى

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى

او نېك عملونه يې كړي دي او خپل رب ته يې
عاجزي كړې ده،

رَبِّهِمْ ۙ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ

دغه کسان د جنت صاحبان دي، دوی به په هغه

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝٢٣ مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ

کې همېشه وي -23- د دواړو ډلو مثال د

كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيْرِ وَ

ړانده او کاڼه او لیدونکي او

السَّمِيْعِ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَفَلَا

اورېدونکي دی، ایا دغه دواړه په مثال کې
برابرېدی شي؟ ایا نو

ع 2

تَذَكَّرُوْنَ ۝٢٤ۧ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى

تاسو پند نه اخلئ؟ -24- او یقینًا یقینًا مونږ نوح
خپل قوم ته لېږلی و،

قَوۡمِهٖۤ ۙ اِنِّیۡ لَکُمۡ نَذِیۡرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۲۵﴾ۙ اَنۡ لَّا

(ورته ويې ويل) بېشکه زه تاسو لپاره ښکاره وېروونکی يم -25- چې تاسو

تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰہَ ؕ اِنِّیۡۤ اَخَافُ عَلَیۡکُمۡ

له الله نه غير (د هيچا) عبادت مه کوئ، بېشکه زه پر تاسو باندې د ډېرې دردوونکې

عَذَابَ یَوۡمٍ اَلِیۡمٍ ﴿۲۶﴾ فَقَالَ الۡمَلَاُ

ورځې له عذاب نه وېرېږم -26- نو د هغه له قومه

الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنۡ قَوۡمِہٖ مَا نَرٰىكَ

کافر شويو مشرانو وويل: مونږ تا نه وينو مګر زمونږ په شان

اِلَّا بَشَرًا مِّثۡلَنَا وَ مَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ

يو بشر او مونږ نه وينو تا چې ستا پيروي کړې ده

اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ

مگر هغو کسانو چې دوی زموږ تر ټولو لاندې خلق دي،

الرَّاْيِ ۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ

په سرسري فکر سره، تاسو لپاره موږ په خپل ځان باندې هېڅ بهتري (غوره والی) نه وينو،

فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ

بلکې موږ پر تاسو باندې ددروغجنو ګمان کوو - 27- هغه وويل:

يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ

ای زما قومه! تاسو ما ته خبر راکړئ که زه يم په هغه څرګند دليل باندې

مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ

چې زما د رب له جانبه دی او هغه ما ته له خپل جانبه رحمت راکړی وي،

فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ؕ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَ

بیا پر تاسو باندې هغه پټ کړی شوی وي، ایا مونږه په هغه باندې تاسو مجبوره کولی شو، په

اَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ﴿٢٨﴾ وَيٰقَوْمِ لَآ

دې حال کې چې تاسو هغه لره بد ګڼونکي یئ - 28- او ای زما قومه! زه له

اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا

تاسو نه په دغه (تبلیغ) باندې مال نه غواړم، زما اجر یوائې

عَلَى اللّٰهِ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ

په الله باندې دی او زه د هغو کسانو شړونکی نه یم

اٰمَنُوْا ؕ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْٓ

چې ایمان یې راوړی دی، بېشکه دوی له خپل رب سره ملاقات کوونکي دي او لېکن

اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿٢٩﴾ وَيٰقَوْمِ مَنْ

زه تاسو وينم داسې قوم چې جهالت کوئ -29- او
اى زما قومه!

يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ؕ اَفَلَا

له الله نه به ما څوك بچ کړي که زه دوی وشړم؟
ايا نو تاسو نصيحت

تَذَكَّرُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَلَاۤ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ

نه قبلوئ! -30- او زه تاسو ته (دا) نه وايم چې
زما سره د

خَزَآىِٕنُ اللّٰهِ وَلَاۤ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَاۤ

الله خزانې دي او نه دا (وايم) چې زه په غيبو
پوهېږم او نه

اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَاۤ اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ

(دا) وايم چې ببشکه زه مَلك يم او نه زه د هغو
کسانو په

تَزْدَرِيْٓ اَعْيُنُكُمْ لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ

حق کې چې ستاسو سترګې يې سپک ګڼي دا وايم چې الله به دوی ته له سره څه خير ورنه کړي،

خَيْرًا ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۚۖ

الله ښه عالم دی په هغو (خبرو) چې د دوی په نفسونو کې دي۔، بېشکه زه به په دغه

اِنِّيْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝٣١ قَالُوْا يٰنُوْحُ

وخت کې خامخا له ظالمانو څخه يم -31- دوی وويل: ای نوحه!

قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا

يقينًا تا زمونږ سره جګړه وکړه، نو زمونږ (سره) جګړه دې ډېره

بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ

زياته کړه، لهذا ته مونږ ته هغه (عذاب) راوړه چې ته يې زمونږه سره وعده کوې،

الصّٰدِقِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ

كه ته له صادقانو څخه يې -32- هغه وويل: يواځې الله هغه (عذاب) راولي

اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ

كه ويې غواړي او تاسو عاجزه كوونكي

بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ

نه يئ (الله لره) -33- او زما نصيحت تاسو ته نفع نه دررسوي كه

اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ

زه تاسو ته د نصيحت كولو اراده وكړم، كه چېرې الله ستاسو

يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ هُوَ رَبُّكُمْ ۫ وَ

د گمراه كولو اراده لري، هم هغه ستاسو رب دی او خاص هغه ته

اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ۝۳۴ اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ

به ورگرځولی شئ -34- بلکې دوی وايي:

افۡتَرٰىهُ ؕ قُلۡ اِنِ افۡتَرَيۡتُهٗ فَعَلَيَّ

ده له ځانه دا (قرآن) جوړ کړی دی، ته ووایه: که ما دا له ځانه جوړ کړی وي، نو خاص په ما

اِجۡرَامِىۡ وَاَنَا بَرِىۡٓءٌ مِّمَّا

باندې دی (انجام) زما (د) جرم او زه بري يم له هغو جرمونو نه

تُجۡرِمُوۡنَ ۝۳۵ وَاُوۡحِىَ اِلٰى نُوۡحٍ اَنَّهٗ لَنۡ

چې تاسو يې کوئ -35- او نوح ته وحي وکړی شوه چې بېشکه شان دا دی

ع 3

يُّؤۡمِنَ مِنۡ قَوۡمِكَ اِلَّا مَنۡ قَدۡ اٰمَنَ

چې ستا له قومه به (څوك هم) ايمان رانه وړي غير له هغو

فَلَا تَبۡتَئِسۡ بِمَا كَانُوۡا يَفۡعَلُوۡنَ ۝٣٦ وَ

کسانو چې ایمان یې راوړی دی، نو مه غمجن
کېږه په هغو کارونو چې دوی یې کوي -36- او

اصۡنَعِ الۡفُلۡكَ بِاَعۡيُنِنَا وَ وَحۡيِنَا وَ لَا

زمونږ د سترګو په وړاندې او زمونږ د وحې مطابق
بېړۍ جوړه کړه او د هغو کسانو په باره

تُخَاطِبۡنِىۡ فِى الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا ۚ اِنَّهُمۡ

کې له ما سره خبرې مه کوه چې ظلم (شرك) یې
کړی دی، بېشکه دوی

مُّغۡرَقُوۡنَ ۝٣٧ وَيَصۡنَعُ الۡفُلۡكَ ۗ وَكُلَّمَا

غرقېدونکي دي -37- او هغه (نوح) بېړۍ
جوړوله، په داسې حال کې

مَرَّ عَلَيۡهِ مَلَاٌ مِّنۡ قَوۡمِهٖ سَخِرُوۡا

چې کله به هم په ده باندې د ده له قومه څه
مشران تېرېدل (نو)

مِنۡهُ ؕ قَالَ اِنۡ تَسۡخَرُوۡا مِنَّا فَاِنَّا

په ده پورې به یې مسخرې کولې، هغه وویل: که تاسو په مونږ پورې مسخرې کوئ، نو بېشکه مونږ

نَسۡخَرُ مِنۡكُمۡ كَمَا

به هم په تاسو پورې مسخرې وکړو، لکه څنګه

تَسۡخَرُوۡنَ ؕ‏ ﴿۳۸﴾ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ۙ مَنۡ

چې تاسو مسخرې کوئ -38- نو ژر به تاسو هغه څوك وپېژنئ چې ورته

يَّاۡتِيۡهِ عَذَابٌ يُّخۡزِيۡهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ

به داسې عذاب راشي چې هغه به رسوا کړي او په ده باندې به دایمي

عَذَابٌ مُّقِيۡمٌ‏ ﴿۳۹﴾ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَمۡرُنَا

عذاب راکوز شي -39- تر هغه پورې چې کله زمونږ حکم راغی

وَفَارَ التَّنُّوْرُۙ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا مِنْ

او تنور راوخوټېده، مونږ وويل: په دې (بېړۍ) کې له هر قسمه نه

كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ

جوړه دوه دوه سواره کړه او خپل اهل هم، (خو) له هغه چا نه پرته چې په هغه باندې

سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ؕ وَمَآ

خبرې سبقت کړې دی۔ او هغه څوك هم (سواره کړه) چې ايمان يې راوړی دی او له ده سره ايمان

اٰمَنَ مَعَهٗۤ اِلَّا قَلِيْلٌ ۝٤٠ وَقَالَ ارْكَبُوْا

نه و راوړی مگر ډېرو لږو (خلقو) -40- او هغه وويل: په دې کې سواره شئ

فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا ؕ

(او وايئ:) د الله په نامه سره د دې روانېدل او د دې ودرېدل دي،

اِنَّ رَبِّىْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿41﴾ وَهِىَ تَجْرِىْ

بېشکه زما رب يقينًا ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی -41- دې به دوی په داسې چپو کې

بِهِمْ فِىْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ قف وَنَادٰى نُوْحُ

وړل لکه غرونه، او نوح خپل زوی ته اواز وکړ-،

اِبْنَهٗ وَكَانَ فِىْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَىَّ ارْكَبْ

په داسې حال کې چې هغه په يوې غاړه کې و: ای زما بچوړيه!

مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿42﴾ قَالَ

زمونږ سره راسور شه او له کافرانو سره مه کېږه -42- هغه وويل:

سَاٰوِىْٓ اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِىْ مِنَ الْمَآءِ ط

ژر به زه د داسې غره په سر کې ځای ونيسم چې ما به له اوبو نه بچ کړي،

قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ

هغه (نوح) وويل: نن ورځ د الله له حکم نه هیڅوك ساتونكى (بچ كوونكى) نشته مگر هغه

اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ

چې دغه (الله) پرې رحم وکړي، او د دوارو په مينځ كې چپه حايله شوه،

فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ﴿٤٣﴾ وَقِيْلَ

نو دى شه د غرق كړى شويو نه -43- او وويل شول:

يٰاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ

اى ځمكې! خپلې اوبه ونغړه (جذب كړه) او اى اسمانه! اوبه ورول بند كړه

وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَ

او اوبه كمې كړى شوې او كار پوره كړى شو او

اسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا

هغه (بېړۍ) په جودي غر ودرېده او وويل شول: لرې والی دې وي (له رحمت نه)

لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ

د ظلم کوونکو خلقو لپاره -44- او نوح خپل رب ته اواز (سوال) وکړ،

فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ مِنْ اَهْلِيْ وَاِنَّ

نو ويې ويل: ای زما ربه! بېشکه زما زوی زما له اهله دی او بېشکه

وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ

هم ستا وعده حقه ده او ته ترټولو ښه فیصله

الْحٰكِمِيْنَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَيْسَ

کوونکی يې -45- ويې ويل: ای نوحه! بېشکه هغه (ستا زوی) ستا له (مومن)

مِنۡ اَهۡلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيۡرُ صَالِحٍ ۖ

اهله څني نه دی، بېشکه هغه (خاوند د) ناکاره عمل دی،

فَلَا تَسۡـَٔلۡنِ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهٖ عِلۡمٌ ؕ

نو له ما نه د هغه څيز سوال مه کوه چې تا ته د هغه په باره کې څه علم نه وي،

اِنِّىۡۤ اَعِظُكَ اَنۡ تَكُوۡنَ مِنَ

بېشکه زه تا ته له دې نه نصيحت کوم چې ته شې

الۡجٰهِلِيۡنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّىۡۤ اَعُوۡذُ بِكَ

له جاهلانو نه -46- هغه وويل: ای زما ربه! بېشکه زه په تا پورې پناه نيسم له دې

اَنۡ اَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِىۡ بِهٖ عِلۡمٌ ؕ وَ

نه چې له تا نه د هغه څه سوال وکړم چې ما ته د هغه په باره کې څه علم نه وي او

اِلَّا تَغۡفِرۡ لِیۡ وَ تَرۡحَمۡنِیۡۤ اَکُنۡ مِّنَ

که ته ما ته بخښنه ونه کړې او په ما رحم ونه کړې (، نو) شم به زه

الۡخٰسِرِیۡنَ ﴿۴۷﴾ قِیۡلَ یٰنُوۡحُ اهۡبِطۡ

له تاوانیانو نه -47- وویل شو: ای نوحه! کوز شه په

بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَ بَرَکٰتٍ عَلَیۡکَ وَ عَلٰۤی

سلامتۍ سره زمونږ له جانبه او سره د هغو برکتونو چې په تا باندې دي او په څو

اُمَمٍ مِّمَّنۡ مَّعَکَ ؕ وَ اُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمۡ

ډلو باندې له هغو څنې چې له تا سره دي۔ او نورې ډلې دي چې ژر به مونږ هغوی ته نفع

ثُمَّ یَمَسُّهُمۡ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۴۸﴾ تِلۡكَ

ورکړو، بیا به هغوی ته زمونږ له جانبه ډېر دردوونکی عذاب ورسیږي -48- دغه د

مِنۡ اَنۡۢبَآءِ الۡغَيۡبِ نُوۡحِيۡهَاۤ اِلَيۡكَ‌ۚ مَا

غیبو له خبرونو څخه دي چې مونږ يې تا ته وحي کوو، له دې

كُنۡتَ تَعۡلَمُهَاۤ اَنۡتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِنۡ

نه مخکې نه ته په دې عالِم وې او نه ستا قوم،

قَبۡلِ هٰذَا‌ ۛؕ فَاصۡبِرۡ‌ ۛؕ اِنَّ الۡعَاقِبَةَ

نو صبر کوه، بېشکه ښه انجام د پرهېزگارانو

ع 4

لِلۡمُتَّقِيۡنَ ۝٤٩ وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمۡ هُوۡدًا‌ ؕ

لپاره دی -49- او (مونږ لیږلی و) قومِ عاد ته د هغوی ورور هود،

قَالَ يٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَـكُمۡ مِّنۡ

هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه

اِلٰهٍ غَيۡرُهٗ ؕ اِنۡ اَنۡتُمۡ اِلَّا

نه غير هېڅ حق معبود نشته، نه یئ تاسو مګر

مُفۡتَرُوۡنَ ۝۵۰ يٰقَوۡمِ لَاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ

دروغ تړونکي -50- ای زما قومه! زه له تاسو نه په
دې (تبلیغ) باندې

اَجۡرًا ؕ اِنۡ اَجۡرِىَ اِلَّا عَلَى الَّذِىۡ

څه مزدوري نه غواړم، زما اجر نه دی مګر په هغه
ذات چې زه یې پیداکړی یم، ایا

فَطَرَنِىۡ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ۝۵۱ وَيٰقَوۡمِ

نو تاسو له عقل نه کار نه اخلئ -51- او ای زما
قومه!

اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوۡبُوۡۤا اِلَيۡهِ

له خپل رب نه مغفرت وغواړئ، بیا هغه ته رجوع
وکړئ،

يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّ

هغه به پر تاسو باندې باران راخوشي كړي، چې
په شپبو شپبو به وريدونكى وي۔ او

يَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا

ستاسو قوت ته به (نور) قوت ورزيات كړي او
تاسو (له ايمان او توبې نه) مخ مه گرځوئ، په دې

مُجْرِمِيْنَ ﴿٥٢﴾ قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا

حال كې چې مجرمان يئ -52- هغوى وويل: اى
هوده! تا مونږ ته څه

بِبَيِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ

واضح دليل نه دى راوړى او ستا د وينا له وجې
مونږ هيڅ كله هم خپل خدايان پرېښودونكي نه يو

قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٣﴾ اِنْ

او هيڅ كله هم مونږ په تا ايمان راوړونكي نه يو -
-53- (ستا په باره كې)

نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا

مونږ يواځې همدا وايو چې تا ته زمونږ ځينې خدايانو

بِسُوْٓءٍ ؕ قَالَ اِنِّیْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ وَ اشْهَدُوْٓا

څه ضرر دررسولی دی، هغه وويل: بېشکه زه الله گواه کوم او تاسو (هم) گواه شئ چې يقيناً زه له

اَنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ مِنْ دُوْنِهٖ

هغو (خدايانو) نه بېزاره يم چې تاسو يې شريکان کوئ -54- غير له هغه (الله) نه،

فَكِيْدُوْنِیْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا

نو تاسو ټول ما ته تدبيرونه جوړ کړئ، بيا ما ته

تُنْظِرُوْنِ ﴿۵۵﴾ اِنِّیْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّیْ وَ

مهلت مه راکوئ -55- بېشکه ما په الله باندې توکل کړی دی چې زما رب دی او

رَبِّكُمْ ؕ مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌۢ

ستاسو رب دی، نشته هېڅ یو خوځنده مګر هم دغه (الله) د هغه وچولي

بِنَاصِيَتِهَا ؕ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى صِرَاطٍ

(د تندي وېښتانو) لره نیوونکی دی، بېشکه زما رب په

مُّسْتَقِيْمٍ ۝٥٦ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ

نېغه لار دی -56- نو که تاسو مخ واړوئ، نو یقینًا

اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ؕ وَ

ما تاسو ته هغه (پیغام) درورساوه چې زه په هغه سره تاسو ته رالېږلی شوی وم۔ او

يَسْتَخْلِفُ رَبِّيْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا

زما رب به له تاسو نه غیر بل قوم ستاسو په ځای راولي او تاسو به

تَضُرُّوْنَهٗ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

هغه (الله) ته هېڅ ضرر ونه رسولی شئ، بېشکه زما رب په هر شي باندې ښه نګران او

حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا

ساتونکی دی -57- او کله چې زمونږ حکم (عذاب) راغی

هُوْدًا وَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ

(، نو) مونږ هود ته او هغو کسانو ته چې له هغه سره يې ايمان راوړی و له خپل جانب نه په رحمت

مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ

سره نجات ورکړ او مونږه دوی له ډېر سخت عذاب نه

غَلِيْظٍ ﴿۵۸﴾ وَتِلْكَ عَادٌ ۟ۙ جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ

خلاص کړل -58- او دغه عاديان دي چې د خپل رب له ايتونو نه يې انکار کړی و

رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهُ وَاتَّبَعُوْآ اَمْرَ

او د هغه (الله) د رسولانو نافرماني يې کړې وه او د هر سرکشه عنادي

كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ۝٥٩ وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ

د حکم تابع شوي وو -59- او په دوی پسې په دې

الدُّنْيَا لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ

دنيا کې لعنت ولګولی شو او د قيامت په ورځ هم، خبردار شئ! بېشکه عاديان په خپل رب سره

عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ

کافران شوي دي، خبردار شئ چې (د الله له رحمت نه) لرې والی دی، عاديانو

ع 5

قَوْمِ هُوْدٍ ۝٦٠ؑ وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ

ته چې د هود قوم دی -60- او (مونږ لېږلی و) ثموديانو ته د هغوی ورور

صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا

صالح، هغه (دوی ته) وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو

لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ هُوَ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ

لپاره له هغه نه غیر (بل) هېڅ حق معبود نشته۔، هم هغه تاسو له

الْاَرْضِ وَ اسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا

ځمکې نه پیدا کړئ يئ او په دې کې يې تاسو اوسولي يئ،

فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ رَبِّيْ

نو تاسو له ده نه مغفرت وغواړئ، بیا تاسو ده ته رجوع وکړئ، بېشکه زما رب ډېر نژدې دی،

قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ ﴿٦١﴾ قَالُوْا يٰصٰلِحُ قَدْ

د دعا قبلوونکی دی -61- دوی وویل: ای صالحه، ته په مونږ کې مخکې

كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَآ اَتَنْهٰنَآ

له دې (دعوې د نبوت) نه امېد کړى شوى وې، ايا ته مونږ د هغو (بتانو) له عبادت نه منع کوې

اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا وَاِنَّنَا لَفِيْ

چې زمونږ پلرونو به يې عبادت کاوه او بېشکه مونږ د هغه (توحيد) په باره کې چې ته مونږ هغه

شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ﴿٦٢﴾ قَالَ

ته بلې يقينًا په اضطراب اچوونکي (پريشانه کوونکي) شك کې يو -62- هغه وويل:

يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ

اى زما قومه! تاسو ما ته خبر راکړئ! که زه د

مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً فَمَنْ

خپل رب له جانبه په ښکاره دليل باندې يم او هغه له خپله جانبه ما ته رحمت (نبوت) راکړى وي، نو

يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ ۫ فَمَا

له الله نه به ما څوك خلاص كړي كه زه د هغه نافرماني وكړم، نو تاسو به ما ته له نقصان

تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ﴿٦٣﴾ وَيٰقَوْمِ

نه غير (بل څه) زيات نه كړئ -63- اى زما قومه!

هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا

دا د الله اوښه ده چې ستاسو لپاره لويه نښه ده، نو

تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا

تاسو دا پرېږدئ چې د الله په ځمكه كې خوراك (څر) كوي او دې ته

بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ

هېڅ تكليف مه رسوئ (ګنې) نو ډېر نژدې عذاب

قَرِيْبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوْهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوْا فِيْ

به مو ونيسي -64- نو دوى د هغې پړكي پرې كړل
(او مړه يې كړه) نو هغه (ورته) ووېل: تاسو په

دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ

خپلو كورونو كې درې ورځې فايده واخلئ، دا
داسې وعده ده چې هېڅ

مَكْذُوْبٍ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا

دروغ په كې نشته -65- نو كله چې زمونږ (د
عذاب) حكم راغی،

صٰلِحًا وَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ

مونږ صالح ته او هغو كسانو ته چې له هغه سره
يې ايمان راوړی و په خپل رحمت سره خلاصی

مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ

وركړه او د هغې ورځې له رسوايۍ نه، بېشكه ستا
رب، هم هغه

الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿٦٦﴾ وَاَخَذَ الَّذِيْنَ

قوي، ډېر غالب دی -66- او هغه کسان

ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ

چې ظلم يې کړی و؛ چغې ونيول، نو سهار مهال
په خپلو کورونو کې

دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا

پړ مخې پراته شول -67- ګوياکې دوی په دې
(کورونو) کې له سره اوسېدلي نه وو،

فِيْهَا ؕ اَلَاۤ اِنَّ ثَمُوْدَاۡ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ

خبردار شئ! بېشکه ثموديان په خپل رب سره
کافران شوي وو، اګاه شئ! د ثموديانو لپاره

ع 6

اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿٦٨﴾ وَلَقَدْ جَآءَتْ

(د رحمت نه) لرې والی دی -68- او يقينًا يقينًا
زمونږ

رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى قَالُوْا

استازو ابراهيم ته زيرى راوړ، ويې ويل: (په تا) سلام (اچوو) ابراهيم وويل:

سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ

(په تاسو) سلام، نو درنګ (وخت) يې تېر نه کړ چې راېې وړ وريت

بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ ﴿۶۹﴾ فَلَمَّا رَآ اَيْدِيَهُمْ لَا

کړى شوى سخى -69- نو کله چې يې د هغوى لاسونه وليدل چې دې

تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَ اَوْجَسَ مِنْهُمْ

(وريتې غوښې) ته نه رسېږي، نو دوى يې نا اشنا وګڼل او له دوى نه يې

خِيْفَةً ؕ قَالُوْا لَا تَخَفْ اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى

په زړه کې وېره وکړه، دوى وويل: ته مه وېرېږه، بېشکه مونږ د لوط قوم ته رالېږل

قَوۡمِ لُوۡطٍ ؕ﴿۷۰﴾ وَ امۡرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ

شوي يو (چې هلاك يې كړو) -70- او د ده ښځه ولاړه وه،

فَضَحِكَتۡ فَبَشَّرۡنٰهَا بِاِسۡحٰقَ ۙ وَ مِنۡ

نو ويې خندل، نو مونږ دې ته اسحق زېرى وركړ

وَّرَآءِ اِسۡحٰقَ يَعۡقُوۡبَ ﴿۷۱﴾ قَالَتۡ

او د اسحق نه پس د (لمسي) يعقوب (زېرى وركړ) -71- هغې وويل:

يٰوَيۡلَتٰۤى ءَاَلِدُ وَ اَنَا عَجُوۡزٌ وَّ هٰذَا بَعۡلِىۡ

اى زما تعجبه! ايا زه به بچى راوړم، حال دا چې زه زړه (بوډۍ) يم او دا زما

شَيۡخًا ؕ اِنَّ هٰذَا لَشَىۡءٌ

خاوند دى زوړ، بېشكه دا يقينًا ډېر عجيبه شى

عَجِيْبٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ اَمْرِ

(کار) دی -72- هغوی وویل: ایا ته د الله په امر
تعجب کوې؟

اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَ بَرَكٰتُهٗ عَلَيْكُمْ

د الله رحمت او د هغه برکتونه دې په تاسو وي

اَهْلَ الْبَيْتِ ؕ اِنَّهٗ حَمِيْدٌ

ای اهلِ بیتو، بېشکه هغه (الله) ډېر ستایل شوی،
د ډېرې

مَّجِيْدٌ ﴿٧٣﴾ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ

لويي والا دی -73- نو کله چې له ابراهيم نه وېره
لاړه او ده ته زېری راغی،

الرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا

(نو بيا يې) د لوط د قوم په حق کې زمونږ
(رسولانو)

فِيْ قَوْمِ لُوْطٍ ﴿٧٤﴾ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ

سره بحث كاوه -74- بېشكه ابراهيم يقينًا ډېر تحمل والا، آه كوونكى (په زړه ډېر نرم او الله ته)

اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴿٧٥﴾ يٰاِبْرٰهِيْمُ اَعْرِضْ عَنْ

رجوع كوونكى دى -75- اى ابراهيمه! له دې نه تېر شه،

هٰذَا ۚ اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ۚ وَاِنَّهُمْ

بېشكه شان دا دى چې يقينًا ستا د رب حكم راغلى دى او بېشكه دوى چې دي، دوى ته داسې

اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ﴿٧٦﴾ وَلَمَّا

عذاب راتلونكى دى چې بېرته ګرځولى به نشي - 76- او كله چې

جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَ

زمونږ استازي (ملايك) لوط ته راغلل، نو دى په دوى غمجن شو او

ضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَّ قَالَ هٰذَا يَوْمٌ

د دوی په وجه يې سينه تنګه شوه او ويې ويل: دا
ډېره

عَصِيْبٌ ﴿۷۷﴾ وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ

سخته ورځ ده -77- او ده ته د ده قوم راغی، چې
د ده په طرف يې بې

اِلَيْهِ ؕ وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ

اختياره منډې وهلې او دوی مخکې له دې نه
(هم) د

السَّيِّاٰتِ ؕ قَالَ يٰقَوْمِ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيْ

بدو کارونو کوونکي وو، ده وويل: ای زما قومه!
دا زما لوڼه دي (په نکاح يې واخلئ)

هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا

دا تاسو لپاره ښېخي پاکې (او حلالې) دي، نو تاسو
له الله نه ووېرېږئ او زما

تُخْزُوْنِ فِيْ ضَيْفِيْ ؕ اَلَيْسَ مِنْكُمْ

د مېلمنو په حق کې ما مه شرموئ، ايا په تاسو کې کوم يو

رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ۝٧٨ قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا

پوه سړی نشته؟ -78- دوی وويل: يقينًا يقينًا تا ته معلومه ده

لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ ۚ وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ

چې مونږ ته ستا په لوڼو کې هيڅ حق (رغبت) نشته او بېشکه ته خامخا په هغه کار پوهېږې چې

مَا نُرِيْدُ ۝٧٩ قَالَ لَوْ اَنَّ لِيْ بِكُمْ قُوَّةً اَوْ

مونږ يې غواړو -79- ويې ويل: کاشکې واقعي ما ته ستاسو په مقابله کې قوت حاصل وی يا مې ډېر

اٰوِيْٓ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ ۝٨٠ قَالُوْا يٰلُوْطُ

مستحکم پناه ځای (خپل قوي قوم) ته پناه وړی شوی -80- (ملايکو) وويل: ای لوطه!

اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَّصِلُوْٓا اِلَيْكَ فَاَسْرِ

مونږ ستا د رب استازي يو، دوی به تا ته له سره
در ونه رسي،

بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ

نو ته خپل اهل د شپې په يوه حصه کې بوځه او په
تاسو کې دې هيڅوک

مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ ؕ اِنَّهٗ

بېرته (شا ته) نه ګوري، ستا له ښځې نه پرته،
بېشکه

مُصِيْبُهَا مَآ اَصَابَهُمْ ؕ اِنَّ مَوْعِدَهُمُ

شان دا دی چې هغې ته هغه عذاب رسېدونکی
دی چې هغوی ته رسېږي، بېشکه د دوی د وعدې

الصُّبْحُ ؕ اَلَيْسَ الصُّبْحُ

وخت سهار دی، ايا سهار ډېر

بِقَرِيْبٍ ﴿٨١﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا جَعَلْنَا

نژدې نه دی؟ -81- نو کله چې زمونږ حکم راغی (نو) مونږ

عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَ اَمْطَرْنَا عَلَيْهَا

د هغه (کلي) برنی اړخ د هغه لاندې اړخ وگرځاوه او پر هغه مو د داسې کاڼو باران ووراوه

حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ۙ

چې له خټو جوړ په اور پخ شوي وو، لاندې

مَّنْضُوْدٍ ﴿٨٢﴾ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ ؕ وَ مَا

باندې (پرله پسې) وو -82- ستا د رب په نيز په نښه کړی شوي وو، او د ظالمانو (د مکې له

هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ ﴿٨٣﴾ وَ اِلٰى

مشرکانو) نه هغه (کاڼي يا ښارونه) ډېر لرې نه دي -83- او (لېږلی و مونږ)

ع 7

النصف

مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ

مدين ته د هغوی ورور شعيب، هغه وويل: ای زما قومه!

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ وَ

تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه غير (بل) هيڅ

لَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَ الْمِيْزَانَ اِنِّيْٓ

حق معبود نشته او تاسو پیمانه او تله مه کموئ، بيشکه

اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ وَّ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

زه تاسو په خير (ښه حال) وينم او بيشکه زه پر تاسو باندې د چا پېرېدونکې

عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيْطٍ ﴿٨٤﴾ وَ يٰقَوْمِ اَوْفُوا

ورځې له عذاب نه وېرېږم -84- او ای زما قومه! تاسو

الْمِكْيَالَ وَ الْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا

پېمانه او تله په انصاف سره پوره ورکوئ او

تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا

خلقو ته د هغوی څیزونه مه کموئ او په ځمکه کې ورانی

تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ

کوونکي مه ګرځئ، فساد کوونکي -85- د الله باقي پاتې کړی

اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ

(رزق) تاسو لپاره ډېر غوره دی که تاسو مومنان یئ

وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿٨٦﴾ قَالُوْا

او زه پر تاسو باندې څه نګران خو نه یم -86- هغوی وویل:

يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ

اى شعيبه! ايا ستا لمونځ تا ته د دې حکم کوي
چې مونږ هغه (څيزونه) پرېږدو

مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِيْٓ

چې زمونږ پلرونو به يې عبادت کاوه يا دا چې په

اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ؕ اِنَّكَ لَاَنْتَ

خپلو مالونو کې چې مونږ څه کول غواړو (هغه
پرېږدو)، بېشکه هم ته يقيناً

الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ ﴿٨٧﴾ قَالَ يٰقَوْمِ

ډېر تحمل والا، ډېر پوه يې -87- هغه وويل: اى
زما قومه!

اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ

تاسو ما ته خبر راکړئ! که زه يم په ښکاره دليل
باندې د خپل رب له جانبه

وَ رَزَقَنِیۡ مِنۡهُ رِزۡقًا حَسَنًا ؕ وَ مَاۤ اُرِیۡدُ

او ما ته يې له خپله جانبه ډېر ښکلی رزق راکړی
وي (نو زه يې ولې نافرماني وکړم) او زه نه غواړم

اَنۡ اُخَالِفَکُمۡ اِلٰی مَاۤ اَنۡهٰکُمۡ عَنۡهُ ؕ

چې ستاسو مخالفت وکړم (او راشم) هغه کار ته
چې تاسو له هغه نه منع کوم،

اِنۡ اُرِیۡدُ اِلَّا الۡاِصۡلَاحَ مَا اسۡتَطَعۡتُ ؕ

زه يواځې اصلاح کول غواړم، څومره چې زما وس
وي

وَ مَا تَوۡفِیۡقِیۡۤ اِلَّا بِاللّٰهِ ؕ عَلَیۡهِ تَوَکَّلۡتُ وَ

او زما توفيق يواځې دالله په مدد سره دی، خاص
په هغه باندې ما توکل کړی دی او

اِلَیۡهِ اُنِیۡبُ ﴿۸۸﴾ وَ یٰقَوۡمِ لَا یَجۡرِمَنَّکُمۡ

خاص هغه ته رجوع کوم -88- او ای زما قومه!
زما سره

شِقَاقِيْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ اَصَابَ

دښمني دې تاسو د دې حقدار ونه ګرځوي چې
تاسو ته په مثل د هغه (عذاب) ورسيږي چې د

قَوْمَ نُوْحٍ اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ اَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ؕ

نوح قوم يا د هود قوم يا د صالح قوم ته رسيدلی و

وَ مَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ ﴿٨٩﴾ وَ

او له تاسو نه د لوط قوم ډېر لرې نه دی -89- او

اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ

تاسو له خپل رب نه مغفرت وغواړئ، بيا هغه ته
رجوع وکړئ، بېشکه زما رب ډېر مهربان،

رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ ﴿٩٠﴾ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا

بې حده مينه کوونکی دی -90- دوی وويل: ای
شعيبه!

نَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ

مونږ په ډېرو هغو خبرو نه پوهېږو چې ته يې وايې او بېشکه مونږ خو تا

فِيْنَا ضَعِيْفًا ۚ وَلَوْلَا رَهْطُكَ

په مونږ کې کمزوری وينو او که چېرې ستا دا خپلوان نه وی (چې مونږ سره په کفر

لَرَجَمْنٰكَ ۖ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا

کې شريکان دي) نو مونږ به ته خامخا سنگسار کړی وی او ته پر مونږ باندې

بِعَزِيْزٍ ﴿٩١﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ

هېڅ عزتناك نه يې -91- هغه ووېل: ای زما قومه! ايا زما خپلوان پر

عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاتَّخَذْتُمُوْهُ

تاسو باندې له الله نه ډېر عزتناك (او مخور) دي

وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا

او تاسو دا (الله) گرځولی دی خپل وروسته، شا ته غورځول شوی، بېشکه زما رب په هغو کارونو

تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۹۲﴾ وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا

چې تاسو یې کوئ ښه احاطه کوونکی دی -92- او ای زما قومه! تاسو په خپل ځای (او طریقې)

عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ؕ سَوْفَ

عمل کوئ، یقینًا زه هم عمل کوونکی یم، ژر به تاسو وپېژنئ

تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَ

هغه څوك چې ده ته به داسې عذاب راځي چې هغه به رسواکوي او

مَنْ هُوَ كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ

هغه څوك چې دروغجن دی، او تاسو انتظار کوئ بېشکه زه (هم) له تاسو سره

رَقِيْبٌ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا

انتظار کوونکی یم -93- او کله چې زمونږ حکم (د عذاب) راغی (، نو)

شُعَيْبًا وَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ

مونږ شعیب ته او هغو کسانو ته چې له هغه سره يې ایمان راوړی و خلاصی ورکړه په رحمت سره له

مِّنَّا وَ اَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ

خپل جانب نه او هغه کسان چې ظلم يې کړی و چغې ونیول، نو شول

فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٩٤﴾ كَاَنْ

په خپلو کورونو کې پرمخې مړه پراته -94- گویاکې دوی په دې (کورونو) کې

لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا

نه وو اوسېدلي، اگاه شئ (د الله له رحمت نه) لرې والی دی مدین ته لکه څنگه چې

ع
8

بَعِدَتْ ثَمُوْدُ ﴿٩٥﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى

ثموديان لرې (او هلاك) شول -95- او يقينًا يقينًا مونږ موسٰى په خپلو (نهو) معجزو

بِاٰيٰتِنَا وَ سُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٩٦﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ

او ښكاره دليل سره لیږلی و -96- فرعون او د هغه

وَ مَلَاۡئِهٖ فَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ فِرْعَوْنَ ۚ وَمَآ

سردارانو ته، نو دغه (سرداران) د فرعون د حكم تابع شول، حال دا چې د

اَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيْدٍ ﴿٩٧﴾ يَقْدُمُ قَوْمَهٗ

فرعون حكم له سره درست نه و -97- د قيامت په ورځ به د خپل قوم

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَاَوْرَدَهُمُ النَّارَ ؕ وَ

په مخكې شي، نو اور ته به يې داخل كړي او بد ځاى د ورتلو دى چې

بِئۡسَ الۡوِرۡدُ الۡمَوۡرُوۡدُ ﴿٩٨﴾ وَ اُتۡبِعُوۡا فِیۡ

(دوی هغه ته) وروستلی شي -98- اوپه دوی پسې په دې

هٰذِهٖ لَعۡنَةً وَّ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ ؕ بِئۡسَ

دنیا کې لعنت ولګول شو او د قیامت په ورځ (هم) ، بد دی هغه انعام چې (دوی ته)

الرِّفۡدُ الۡمَرۡفُوۡدُ ﴿٩٩﴾ ذٰلِكَ مِنۡ اَنۡۢبَآءِ

ورکولی شي -99- دا د کلیو له خبرونو ځنې

الۡقُرٰی نَقُصُّهٗ عَلَیۡكَ مِنۡهَا قَآئِمٌ وَّ

دي چې دا مونږ تا ته بیانوو، ځینې په دوی کې ولاړ دي او (ځینې یې)

حَصِیۡدٌ ﴿١٠٠﴾ وَ مَا ظَلَمۡنٰهُمۡ وَ لٰکِنۡ ظَلَمُوۡۤا

ریبل شوي دي -100- او مونږ په دوی ظلم نه و کړی او لیکن دوی (پخپله) په خپلو

اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ

ځانونو ظلم وکړ، نو د دوی هغه خدايان چې دوی

الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ

به له الله نه غير بلل هېڅ شی په کار رانغلل، کله

لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ وَمَا زَادُوْهُمْ

چې ستا د رب حکم راغی او دغو (خدايانو) دوی

ته له هلاکت نه غير (نور څه)

غَيْرَ تَتْبِيْبٍ ﴿۱۰۱﴾ وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ

ورزيات نه کړل -101- او په شان د دغو (نيولو)

نيول د رب

اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ؕ اِنَّ

ستا دي کله چې هغه کلي نيسي، په داسې حال

کې چې هغه (کلي) ظالم وي، بېشکه

اَخْذَهٗۤ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴿١٠٢﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

د هغه نیول ډېر دردوونکي، ډېر سخت دي -102-
بېشکه په دغو

لَاٰيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ؕ

(ذکر شوو قصو) کې خامخا (د عبرت) لویه نښه
ده د هغه چا لپاره چې د اخرت له عذاب نه

ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ وَ ذٰلِكَ

وېرېږي، دا داسې ورځ ده چې په دې کې به خلق
جمع کولی شي او دا داسې ورځ ده چې

يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ﴿١٠٣﴾ وَ مَا نُؤَخِّرُهٗۤ اِلَّا لِاَجَلٍ

حاضري به ورته وشي -103- او مونږ دا (ورځ) نه
وروسته کوو مګر د معلومې نېټې

مَّعْدُوْدٍ ﴿١٠٤﴾ ؕ يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ

(د پوره کېدلو) لپاره -104- په کومه ورځ چې (د
هغه قیامت هیبت) راشي (نو) هېڅ نفس

اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّ

به د هغه (الله) له اجازت نه پرته خبرې نه کوي،
نو ځینې به په دوی کې بدبخته وي او (ځینې به)

سَعِيْدٌ ۝١٠٥ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي

نېك بخته وي -105- نو هر چې هغه کسان دي
چې بدبخته شوي دي،

النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّ

نو (د جهنم) په اور کې به د دوی لپاره په هغه کې
(د خره په شان) سختې اوچتې رمباړې او

شَهِيْقٌ ۝١٠٦ لا خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ

ټیټې نرمې رمباړې وي -106- په داسې حال کې
چې دوی به په هغه کې تل ترتله وي، څو چې

السَّمٰوٰتُ وَ الْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ

اسمانونه او ځمکه وي مګر هغه چې ستا رب (څه)
وغواړي (او زمهریر ته یې بوځي)،

اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿١٠٧﴾ وَاَمَّا

بېشکه ستا رب د هغه کار کوونکی دی چې اراده يې وکړي -107-

الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِى الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ

او پاتې شو هغه کسان چې نېکبخته شوي دي، نو په جنت کې

فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ

به وي، چې تل ترتله به وي، څو چې اسمانونه او

اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيْرَ

ځمکه وي مگر هغه چې ستا رب اراده وکړي (چې رضوان ته او د ځان ملاقات ته يې بوځي)

مَجْذُوْذٍ ﴿١٠٨﴾ فَلَا تَكُ فِىْ مِرْيَةٍ مِّمَّا

(دغه) نه ختمېدونکې عطا (ورکړه) ده -108- نو ته په هېڅ شك کې مه کېږه

يَعْبُدُ هٰۤؤُلَآءِ ؕ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا

د هغو په باره کې چې دا خلق يې عبادت کوي،

يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ وَاِنَّا

دوی عبادت نه کوي مګر لکه څنګه چې پخوا د
دوی پلرونو عبادت کاوه او بېشکه

لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ

مونږ هرومرو دوی ته د دوی برخه کامله، بې له
نقصانه پوره ورکوونکي

ع 9

مَنْقُوْصٍ ۝١٠٩ۧ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى

يو -109- او يقينًا يقينًا مونږ موسٰی ته کتاب
ورکړی و، نو (د خلقو له خوا نه) په ده کې

الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ

اختلاف وکړی شو، او که هغه کلمه (حکم) نه وی
چې ستا د رب له جانبه ړومبی (ليکل) شوې ده

سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَ

(نو) خامخا به د دوی په مينځ کې فيصله شوې
وی او يقينًا دوی د دې (قرآن) په باره کې خامخا

اِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿١١٠﴾ وَاِنَّ

په اضطراب اچوونکي شك کې دي -110- او
بېشکه هره ډله (د مومنانو او کافرانو) کله چې

كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ؕ

وخت راشي (په قيامت کې، نو) خامخا لازماً به
دوی ته د دوی رب د خپلو عملونو پوره پوره جزا

اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١١١﴾ فَاسْتَقِمْ

(بدله) ورکړي، بېشکه هغه (الله) په هغو کارونو
چې دوی يې کوي ښه خبردار دی -111- نو ته په

كَمَآ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا

استقامت (او ثابت) اوسه لکه څنګه چې تا ته
حکم کړی شوی دی او هغه څوك هم چې له تا

تَطْغَوْا ۭ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿١١٢﴾ وَلَا

سره يې توبه وېستلې ده او (اى خلقو) تاسو
سرکشي مه کوئ، بېشکه هغه (الله) د هغو کارونو

تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ

چې تاسو يې کوئ؛ ښه ليدونکی دی -112- او
تاسو د هغو کسانو په طرف مه مايلېږئ چې ظلم

النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ

يې کړی دی، (ګنې) نو (د دوزخ) اور به تاسو ته
دررسېږي، په داسې حال کې چې تاسو لپاره به

اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَاَقِمِ

له الله نه غير هېڅ کارسازي (دوستان) نه وي، بيا
به له تاسو سره مدد نه کولی شي -113- او ته

الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ

لمونځ قايموه د ورځې په دوه طرفونو کې او د

الَّيۡلِ ؕ اِنَّ الۡحَسَنٰتِ يُذۡهِبۡنَ

شپې په څه ګړيو کې، بېشکه نېکۍ

السَّيِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكۡرٰى

بدۍ لرې کوي، دا د ذکر کوونکو (نصيحت قبلوونکو) لپاره

لِلذّٰكِرِيۡنَ ۚ﴿۱۱۴﴾ وَاصۡبِرۡ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا

نصيحت دی -114- او ته صبر کوه، پس بېشکه الله د نېکي

يُضِيۡعُ اَجۡرَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۱۱۵﴾ فَلَوۡ لَا كَانَ

کوونکو اجر نه ضائع کوي -115- نو له تاسو نه

مِنَ الۡقُرُوۡنِ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ اُولُوۡا بَقِيَّةٍ

مخکې په تېر شويو امتونو کې ولې داسې د عقل او فکر خاوندان نه وو چې منع کولی

يَّنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْاَرْضِ اِلَّا

يې (خلق) په ځمکه کې له فساد کولو نه(چې
عذاب پرې نه وی راغلی) خو (منع كوله) لږو

قَلِيْلًا مِّمَّنْ اَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ۚ وَاتَّبَعَ

خلقو له هغه چا نه چې په دغو (خلقو) کې مونږ
(هغوی ته) نجات ورکړ، او پیروي وکړه هغو

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا

کسانو چې ظلم يې کړی و د هغې (لارې) چې په
هغې کې اسوده کړی شوي وو

مُجْرِمِيْنَ ﴿١١٦﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ

او هغوی مجرمان وو -116- او ستا رب له سره
داسې نه دی چې کلي په ظلم سره (ناحقه) هلاك

الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿١١٧﴾ وَ

کړي، په دې حال کې چې د هغو اوسېدونکي
اصلاح کوونکي (مومنان) وي -117- او

لَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ اُمَّةً

که ستا رب غوښتلی خامخا به يې خلق ټول يو امت ګرځولي وو

وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِلَّا

او دوی به همېشه اختلاف کوونکي وي -118- مګر

مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ ؕ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ؕ وَ

هغه څوک چې ستا رب پرې رحم وکړي۔او د دغه (اختلاف او رحمت) لپاره يې دوی پيدا کړي دي

تَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ

او ستا د رب خبره پوره شوې ده چې خامخا هرومرو به زه جهنم له

الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ وَكُلًّا

پېريانو او انسانانو ټولو نه ضرور ډکوم -119- او مونږ تا ته

نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا

د رسولانو له خبرونو څخه ټول هغه څه بیانوو چې په هغو

نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ ۚ وَ جَآءَكَ فِیْ هٰذِهِ

سره مونږ ستا زړه کلکوو او تا ته په دې (خبرونو) کې راغلی دی

الْحَقُّ وَ مَوْعِظَةٌ وَّ ذِكْرٰى

حق او نصیحت او یادونه لپاره د

لِلْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۲۰﴾ وَ قُلْ لِّلَّذِیْنَ لَا

مومنانو -120- او ته هغو کسانو ته چې

یُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ؕ اِنَّا

ایمان نه راوړي، ووایه: تاسو په خپل ځای (او حال) عمل کوئ، بېشکه

عۡمِلُوۡنَ ﴿١٢١﴾ وَ انۡتَظِرُوۡا ۚ اِنَّا

مونږ هم عمل كوونكي يو -121- او تاسو انتظار كوئ، بېشكه مونږ هم

مُنۡتَظِرُوۡنَ ﴿١٢٢﴾ وَلِلّٰهِ غَيۡبُ السَّمٰوٰتِ وَ

انتظار كوونكي يو -122- او خاص الله لره دى د اسمانونو او

الۡاَرۡضِ وَاِلَيۡهِ يُرۡجَعُ الۡاَمۡرُ كُلُّهٗ

ځمكې (علمِ) غيب او خاص هم ده ته بېرته گرځولی شي (د بنده گانو) كار ټول،

فَاعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِ ؕ وَمَا رَبُّكَ

نو ته د ده عبادت كوه او په ده توكل كوه او ستا رب له سره غافله نه دى له

ع 10

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿١٢٣﴾

هغو كارونو نه چې تاسو يې كوئ -123-

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى(1)

الٓرٰ ۫ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿١﴾ اِنَّآ

الف، لام، را، دا د واضح كتاب ايتونه دي -1- بېشكه

اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ

مونږ دا نازل كړى دى، په داسې حال كې چې عربي قرآن دى، د دې لپاره

تَعْقِلُوْنَ ﴿٢﴾ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ

چې تاسو پوه شئ -2- مونږ تا ته تر ټولو ښه بيان (قصه) بيانوو

اَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

په دې سبب چې مونږ تا ته دا قرآن وحي كړى دى،

هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ وَاِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ

او بېشكه شان دا دى چې ته د دې (قرآن له نازلېدلو) نه مخكې خامخا له

لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝٣ اِذْ قَالَ يُوْسُفُ

ناخبرو څنې وې -3- (ياد كړه هغه وخت) كله چې يوسف

لِاَبِيْهِ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ

خپل پلار ته وويل: اى زما پلار جانه! بېشكه ما (په خوب كې) يوولس

كَوْكَبًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَاَيْتُهُمْ

ستوري او لمر او سپوږمۍ وليدل، ما دوى ولېدل چې

لِيْ سٰجِدِيْنَ ۝٤ قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ

ما ته سجده كوونكي وو -4- (يعقوب) وويل: اى زما بچوړيه! خپل (دا) خوب

رُءْيَاكَ عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ

خپلو ورونړو ته مه بيانوه، (ګنې) بيا به دوى تا ته
څه چل جوړ کړي،

كَيْدًا ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوٌّ

څه چل جوړول، بېشکه شيطان د انسان لپاره
ښکاره

مُّبِيْنٌ ۞ وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَ

دښمن دى -5- او همدارنګه ستا رب به تا غوره
کړي او

يُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ وَيُتِمُّ

تا ته به د خبرو (خوبونو) څه اصل حقيقت (تعبير
کول) وښيي

نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ

او په تا باندې او د يعقوب په کورنۍ به خپل
نعمت پوره کړي لکه چې

اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ

هغه پوره کړې و دا (نعمت) له تا نه مخکې ستا په دوو پلرونو (نيکه او ورنيکه) ابراهيم

وَ اِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ

او اسحق باندې، بېشکه ستا رب ښه پوه، ښه

ع 11

حَكِيْمٌ ۟ لَقَدْ كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَ

حکمت والا دی -6- يقينًا يقينًا په يوسف او د هغه په

اِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝ اِذْ قَالُوْا

ورونو کې د تپوس کوونکو لپاره ډېرې نښې دي -7- کله چې هغوی (په خپل مينځ کې) وويل:

لَيُوْسُفُ وَ اَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰٓى اَبِيْنَا مِنَّا وَ

خامخا يوسف او د هغه سکنی ورور زمونږ پلار ته زمونږ نه زيات محبوب دي،

نَحۡنُ عُصۡبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا لَفِىۡ ضَلٰلٍ

حال دا چې مونږ يوه قوتناكه ډله يو، بېشكه زمونږ پلار خامخا په ښكاره خطا كې

مُّبِيۡنِ ۚ ۖ ۸ اۨقۡتُلُوۡا يُوۡسُفَ اَوِ اطۡرَحُوۡهُ

(پروت) دى -8- تاسو يوسف قتل كړئ يا هغه په كومې

اَرۡضًا يَّخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ اَبِيۡكُمۡ وَ

(لرې نامعلومه) ځمكه كې وغورځوئ چې ستاسو لپاره د خپل پلار

تَكُوۡنُوۡا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ قَوۡمًا

مخ خالص (او وزگار) شي او له دې (كاره) وروسته به تاسو

صٰلِحِيۡنَ ۹ قَالَ قَآٮِٕلٌ مِّنۡهُمۡ لَا

نېك خلق شئ -9- په دوى كې يو ويونكي وويل:

تَقْتُلُوا يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيٰبَتِ

تاسو يوسف مه وژنئ او (بلكې) هغه د ګمنامي
كوهي په تياره بېخ كې وغورځوئ چې په

الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِنْ

تېرېدونكو (لارويانو) كې به يې ځينې (څوك)
واخلي كه تاسو كوونكي يئ (د هغه كار چې

كُنْتُمْ فٰعِلِينَ ﴿١٠﴾ قَالُوا يٰأَبَانَا مَا لَكَ

ستاسو مقصد پرې پوره كېږي) -10- دوى وويل:
اى زمونږ پلاره! څه باعث دى

لَا تَأْمَنَّا عَلٰى يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُ

تا لره چې ته مونږ په يوسف باندې امينان نه
ګرځوې، حال (دا چې مونږ د ده يقيناً

لَنٰصِحُونَ ﴿١١﴾ أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ

خير غوښتونكي يو -11- ته مونږ سره سبا دا ولېږه
چې ډېرې مېوې وخوري (مزې وكړي) او لوبې

وَيَلۡعَبۡ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوۡنَ ﴿۱۲﴾ قَالَ اِنِّیۡ

وكړي او بېشكه مونږ د ده خامخا ساتونكي يو -
12- هغه وويل: بېشكه

لَیَحۡزُنُنِیۡۤ اَنۡ تَذۡهَبُوۡا بِهٖ وَاَخَافُ اَنۡ

زه چې يم، يقينًا ما دا (اراده) غمجنوي چې تاسو
دا بوځئ او زه له دې نه وېرېږم چې دا (يوسف) به

یَّاۡكُلَهُ الذِّئۡبُ وَاَنۡتُمۡ عَنۡهُ

ليوه (شرمښ) وخوري، په داسې حال كې چې
تاسو به له ده نه

غٰفِلُوۡنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوۡا لَئِنۡ اَكَلَهُ الذِّئۡبُ وَ

غافلان يئ -13- هغوی وويل: قسم دی كه ده لره
ليوه وخوري، حال دا چې

نَحۡنُ عُصۡبَةٌ اِنَّاۤ اِذًا

مونږه يوه قوتناكه ډله يو (، نو) بېشكه مونږ
به په دغه وخت كې خامخا تاوانيان (او

لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ وَ اَجْمَعُوْٓا

هلاکېدونکي) یو -14- نو کله چې دوی هغه بوته
او په دې یې اتفاق وکړ

اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ ۚ وَ

چې دی د (گمنامي) کوهي په تیاره ببخ کې
وغورځوي او

اَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ

مونږ ده (یوسف) ته وحي وکړه چې قسم دی چې
ته به خامخا ضرور دوی ته د دوی د دې کار خبر

هٰذَا وَ هُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَ جَآءُوْٓ

ورکړې، په دې حال کې چې دوی به نه پوهېږي
(چې ته یوسف یې) -15- او دوی خپل پلار ته په

اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ﴿۱۶﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ

بېگاه (تیاره) کې راغلل چې ژړل یې (په دروغو
سره) -16- ویې ویل: ای زمونږ پلاره!

إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ

بېشکه مونږ لاړو مسابقه مو سره کوله او مونږ يوسف

عِندَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ ۖ وَمَآ

له خپلو اسبابو سره پرېښوده، نو هغه شرمخ وخوړ او ته پر

أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا

مونږ باندې باور کوونکی نه يې اګر که مونږ

صَٰدِقِينَ ﴿١٧﴾ وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٍ

رښتيني يو -17- او دوی د هغه د کميس له پاسه

كَذِبٍ ۚ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ

دروغجنه وينه راوړه، يعقوب ووېل: (دا دروغ دي) بلکې تاسو ته ستاسو

الثلثة

اَنۡفُسُكُمۡ اَمۡرًا ؕ فَصَبۡرٌ جَمِيۡلٌ ؕ وَ

نفسونو (دا بد) كار ښايسته كړى دى، نو (زما كار) صبر جميل دى او

اللّٰهُ الۡمُسۡتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوۡنَ ﴿۱۸﴾ وَ

د هغو خبرو په هكله خاص له الله نه مدد غوښتلى شي چې تاسو يې بيانوئ -18- او

جَآءَتۡ سَيَّارَةٌ فَاَرۡسَلُوۡا وَارِدَهُمۡ

قافله راغله، نو دوى خپل اوبه راوړونكى ولېږه، نو هغه خپله بوكه (په كوهي كې) ورخوشې كړه

فَاَدۡلٰى دَلۡوَهٗ ؕ قَالَ يٰبُشۡرٰى هٰذَا

(نو يوسف دغې بوكې پورې و نښت، چې يې وليده، نو) ويې ويل: اى زما خوشحالۍ! دا يو

غُلٰمٌ ؕ وَاَسَرُّوۡهُ بِضَاعَةً ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ

هلك دى او دوى هغه د تجارت د مال په توګه پټ كړ او الله په هغو كارونو ښه عالم دى

بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَ شَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ

چې دوی کول -19- او دوی هغه په ډېر کم قیمت خرخ کړ،

دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ ۚ وَ كَانُوْا فِيْهِ مِنَ

چې څو شمېرل شوې روپۍ وې او دوی د هغه په حق کې له بې رغبتو

الزَّاهِدِيْنَ ﴿٢٠﴾ ۧ وَ قَالَ الَّذِى اشْتَرٰىهُ

ع 12

څخه وو -20- او هغه سړي چې دی یې له

مِنْ مِّصْرَ لِامْرَاَتِهٖٓ اَكْرِمِىْ مَثْوٰىهُ

مصره اخیستی و، خپلې ښځې ته وویل: د ده استوګنه عزتمنه ساته۔،

عَسٰٓى اَنْ يَّنْفَعَنَآ اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا ؕ وَ

امید دی چې دا به مونږ ته فایده راورسوي یا به دا مونږ زوی ونیسو او

كَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِي الْاَرْضِ ۚ وَ

همدارنگه مونږ یوسف ته په ځمکه کې ځای (او قدرت) ورکړ او

لِنُعَلِّمَهٗ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ؕ وَ

د دې لپاره چې مونږ هغه ته د خبرو څه تاويل (او تعبير) وښيو او

اللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰٓى اَمْرِهٖ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ

الله په خپل کار غالب دی او لیکن اکثره

النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٢١ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗٓ

خلق نه پوهېږي -21- او کله چې هغه خپل قوت ته ورسيده (، نو)

اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ

مونږ هغه ته حکم او علم ورکړ او همداسې مونږ

نَجۡزِی الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۲۲﴾ وَ رَاوَدَتۡهُ الَّتِیۡ

نېکي کوونکو ته بدله ورکوو -22- او هغې ښځې، چې دا

هُوَ فِیۡ بَیۡتِهَا عَنۡ نَّفۡسِهٖ وَ غَلَّقَتِ

د هغې په کور کې و، هغې له ده نه له هغې سره د بدکارۍ مطالبه وکړه او (ټولې)

الۡاَبۡوَابَ وَ قَالَتۡ هَیۡتَ لَکَ ؕ قَالَ

دروازې یې کلکې پورې کړې او ویې ویل: هله، ته زر راشه! هغه وویل:

مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّیۡۤ اَحۡسَنَ مَثۡوَایَ ؕ

زه په الله پورې پناه نیسم، بېشکه دا (عزیز) زما مالك دی، هغه زما استوګنه ښه کړې ده، بېشکه

اِنَّهٗ لَا یُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿۲۳﴾ وَ لَقَدۡ هَمَّتۡ

شان دا دی چې ظالمان فلاح (او خلاصی) نه مومي -23- او یقینًا یقینًا هغې

بِهٖ ۚ وَ هَمَّ بِهَا لَوْ لَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ

ده ته قصد کړی و، او ده به هغې ته قصد کړی و
که چېرې ده د

رَبِّهٖ ؕ كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَ

خپل رب دلیل نه وی لیدلی، همداسې (مونږ
یوسف وساته) د دې لپاره چې مونږ له هغه نه بد

الْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

او ناکاره (بې حیا) فعل وګرځوو (واړوو)، بېشکه
دغه (یوسف) زمونږ د غوره کړی شو

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۲۴﴾ وَ اسْتَبَقَا الْبَابَ وَ

بنده ګانو څخه دی -24- او دواړو دروازې ته سره
منډې شروع کړې او

قَدَّتْ قَمِيْصَهٗ مِنْ دُبُرٍ وَّ اَلْفَيَا

هغې د ده کمیس له شا طرف نه څیرې کړ او
دواړه د هغې

سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ مَا جَزَآءُ

له خاوند سره دروازي ته نژدې مخامخ شول، هغې وويل: نه ده سزا د

مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ

هغه چا چې ستا د اهل سره يې د بدۍ اراده وکړه مگر دا چې هغه بندي کړی شي يا

يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ

(د هغه لپاره) ډېر دردوونکی عذاب دی -25- هغه وويل: هم دې

رَاوَدَتْنِيْ عَنْ نَّفْسِيْ وَ شَهِدَ شَاهِدٌ

له ما نه د بدکارۍ غوښتنه کړې ده، او د هغې د کورنۍ يو شاهد شاهدي ورکړه (داسې چې) که د

مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ

ده کميس له مخامخ اړخ نه څيرې کړی شو ی وي،

قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ

نو هغې رښتيا ويلي دي او دا له دروغجنانو

الْكٰذِبِيْنَ ۝٢٦ وَاِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ

څخه دی -26- او که د ده کميس له شا اړخ نه

مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ

خيرې کړی شوی وي، نو دې دروغ ويلي دي او هغه (يوسف) له

الصّٰدِقِيْنَ ۝٢٧ فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ قُدَّ مِنْ

رښتينو څخه دی -27- نو کله چې هغه (عزيز) د ده کميس وليد چې

دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ مِنْ كَيْدِكُنَّ ؕ اِنَّ

د شا اړخ نه خيرې کړی شوی دی، ويې ويل: بېشکه (ای ښځو) دا ستاسو له فريبونو څخه دی،

كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾ يُوْسُفُ اَعْرِضْ

بېشکه ستاسو فريب (او چل) ډېر لوی دی -28- ای يوسفه! د دې خبرې

عَنْ هٰذَا ۜ وَاسْتَغْفِرِيْ لِذَنْۢبِكِ ۚ

نه مخ واړوه او (ای ښځې) ته د خپلې ګناه لپاره مغفرت وغواړه،

ع 13

اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ ﴿٢٩﴾ وَقَالَ

بېشکه هم ته له خطا کارانو ځنې وې -29- او په ښار کې ښځو وويل:

نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ

د عزيز ښځه له خپل غلام نه د بدکارۍ مطالبه کوي،

تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ شَغَفَهَا

يقيناً د مينې په لحاظ سره هغه د دې د زړه پرده څيرې کړې ده،

حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِیْ ضَلٰلٍ

بېشکه مونږ خامخا هغه په ښکاره ګمراهۍ

مُّبِیْنٍ ﴿۳۰﴾ فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ

کې وینو -30- نو کله چې هغې د دوی مکر
واورېده (، نو) دوی

اَرْسَلَتْ اِلَیْهِنَّ وَ اَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً

ته یې پېغام ولېږه او د دوی لپاره یې مجلس تیار
کړ

وَّ اٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّیْنًا وَّ

او په دوی کې یې هرې یوې ته چاړه ورکړه او
هغې

قَالَتِ اخْرُجْ عَلَیْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَاَیْنَهٗۤ

(ده ته) وویل: دوی ته راووځه، نو کله چې دوی
هغه ولیده (، نو) ډېر

اَكْبَرْنَهٗ وَ قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ وَ قُلْنَ

لوى ښايسته يې ومونده او خپل لاسونه يې پرې
کړل او ويې ويل

حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

الله ته پاکي ده، دا خو بشر نه دی، دا نه دی مګر

مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿۳۱﴾ قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِیْ

ډېر عزتمن مَلك -31- هغې وويل: دا هماغه (زلمی)
دی چې تاسو زه

لُمْتُنَّنِیْ فِيْهِ ؕ وَ لَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ

د ده (له ده سره د مينې) په باره کې ملامته کړې
ومه او يقينًا يقينًا ما له ده نه د

نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَ لَئِنْ لَّمْ يَفْعَلْ

ده د ځان غوښتنه کړې وه، نو ده ځان وساته او
قسم دی که ده هغه کار ونه کړ چې زه

مَآ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُوْنًا مِّنَ

يې ده ته حكم كوم (، نو) خامخا هرومرو به دى بندي كړى شي او خامخا هرومرو به دى

الصّٰغِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ

شي له ذليلانو نه -32- هغه وويل: اى زما ربه! بندي خانه ما ته ډېره

اِلَيَّ مِمَّا يَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ ۚ وَاِلَّا تَصْرِفْ

خوښه ده له هغه كار نه چې دوى ما هغه ته بلي او كه ته

عَنِّيْ كَيْدَهُنَّ اَصْبُ اِلَيْهِنَّ وَاَكُنْ

زما څخه د دوى مكر فريب وانه ړوې (، نو) زه به دوى ته مايله شم او شم

مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٣٣﴾ فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ

به له جاهلانو نه -33- نو خپل رب يې د ده دعا قبوله كړه،

فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ط اِنَّهٗ هُوَ

نو له ده نه يې د دوى مكر فريب وگرځاوه، بېشكه هغه، هم هغه ښه

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْ

اورېدونكى، ښه پوه دى -34- بيا دوى (عزيز او د هغه كسانو) ته ښكاره شوه (صلاح يې وكړه)،

بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى

وروسته له دې چې دوى (د يوسف د پاكۍ) نښې ولېدې، چې دوى به دا خامخا هرومرو تر يو وخته

ع 14

حِيْنٍ ﴿٣٥﴾ وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ

پورې بندي كړي -35- او له ده سره زندان ته دوه زلمي ننوتل،

فَتَيٰنِ ط قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ

په دې دواړو كې يو وويل: بېشكه زه چې يم، زه ځان (په خوب كې) وينم،

اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ

چې د شرابو لپاره انګور نچوړوم او بل وويل: بېشکه

اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ

زه چې يم، ځان وينم، په دې حال کې چې د خپل سر له پاسه مې ډوډۍ بار کړې ده، چې له هغې نه

الطَّيْرُ مِنْهُ ۭ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ اِنَّا

مرغان خوراك کوي، موږ د دې (خوبونو) په تعبير خبر کړه، بېشکه

نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝٣٦ قَالَ لَا

موږ تا له نيکوکارانو څخه وينو -36- (يوسف) وويل:

يَاْتِيْكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقٰنِهٖٓ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا

چې تاسو ته به هغه طعام لا نه وي راغلی چې تاسو ته هغه درکاوه شي مګر چې تاسو

بِتَاْوِيْلِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّاْتِيَكُمَا ؕ ذٰلِكُمَا

به د دې (خوبونو) په تعبير خبر کړم، مخکې له
دې نه چې تاسو ته هغه راشي، دا (تعبير) له هغه

مِمَّا عَلَّمَنِیْ رَبِّیْ ؕ اِنِّیْ تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ

علم څخه دی چې زما رب ما ته ښودلی دی،
بېشکه ما د هغه قوم دين

لَّا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ

پرېښی دی چې په الله ايمان نه لري او په اخرت
هم

كٰفِرُوْنَ ۝٣٧ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَآءِیْٓ

کافران دي -37- او ما د خپلو پلرونو د ملت
پيروي کړې ده

اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ

چې ابراهيم او اسحق او يعقوب دی، زمونږ لپاره
له

لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ

سره جايز نه دي چې له الله سره څه شی شريک کړو، دا د

مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَ عَلَى النَّاسِ وَ

الله له فضله څخه دي پر مونږ باندې او په (نورو) خلقو باندې او

لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

لېکن زياتره خلق شکر

يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۸﴾ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ

نه وباسي -38- ای د زندان دواړو ملګرو!

ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ

ايا ګڼ او متفرق خدايان غوره دي يا که هغه الله چې يو دی،

الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ

ډېر قوي او غالب دی -39- تاسو له الله نه غير عبادت نه کوئ

دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَ

مگر د داسې نومونو چې تاسو او ستاسو پلرونو

اٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ

ایښي (او نومولي) دي (او) الله د دوی (د الوهيت) په

سُلْطٰنٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا

باره کې هېڅ دليل نه دی نازل کړی، حکم يوائې

تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ

الله ته خاص دی، هغه حکم کړی دی چې تاسو يوائې د

الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

هغه عبادت كوئ، همدا سم دين دى او لېكن
زياتره خلق نه

يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٠﴾ يٰصَاحِبَىِ السِّجْنِ اَمَّآ

پوهېږي -40- اى د زندان دواړو ملګرو! هر چي
په

اَحَدُكُمَا فَيَسْقِىْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ وَاَمَّا

تاسو كې يو دى، نو هغه به په خپل مالك شراب
ورڅښوي

الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ

او پاتې شو بل، نو هغه به په دار كولى شي، نو
مرغان به

رَّاْسِهٖ ؕ قُضِىَ الْاَمْرُ الَّذِىْ فِيْهِ

د ده له سر نه (غوښې) خوري، هغه كار فيصله
شوى دى چي تاسو د هغه په باره كې (له ما نه)

تَسۡتَفۡتِيٰنِ ﴿٤١﴾ وَقَالَ لِلَّذِیۡ ظَنَّ اَنَّهٗ

تعبير پوښتئ -41- او هغه کس ته يې ووېل چې په هغه يې دا يقين و چې يقينًا

نَاجٍ مِّنۡهُمَا اذۡكُرۡنِیۡ عِنۡدَ رَبِّكَ

دا په دې دواړو کې خلاصى موندونكى دى: ته ما د خپل مالك

فَاَنۡسٰىهُ الشَّيۡطٰنُ ذِكۡرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ فِی

په نيز ياد كړه، نو شيطان له هغه نه خپل مالك ته (د يوسف) يادول هېر كړل، نو هغه

ع 15

السِّجۡنِ بِضۡعَ سِنِيۡنَ ﴿٤٢﴾ وَقَالَ الۡمَلِكُ

په زندان کې څوکاله پاتې شو -42- او بادشاه ووېل:

اِنِّیۡۤ اَرٰی سَبۡعَ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاۡكُلُهُنَّ

بېشكه زه چې يم، زه اوه چاقې غوښنې غواګانې وينم، چې

سَبْعٌ عِجَافٌ وَّ سَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ

اوه خواري غواګاني يې خوري او اوه شنه وږي
او

وَّ اُخَرَ يٰبِسٰتٍ ؕ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَاُ اَفْتُوْنِيْ فِيْ

نور وچ (اوه وږي وينم) اې سردارانو! تاسو ما ته
زما

رُءْيَايَ اِنْ كُنْتُمْ لِلرُّءْيَا

د خوب تعبير ووايئ، كه چېرې تاسو د خوب تعبير

تَعْبُرُوْنَ ﴿۴۳﴾ قَالُوْۤا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ۚ وَ

كولى شئ -43- هغوى وويل: (دا) ګډوډ (تخيلي)
خوبونه دي او

مَا نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ الْاَحْلَامِ

مونږ د خيالي ګډو وډو خوبونو په تعبير باندې

بِعٰلِمِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَ قَالَ الَّذِيْ نَجَا مِنْهُمَا وَ

عالمان نه يو -44- او هغه كس وويل چې په هغو دواړو كې ده نجات موندلى و او

ادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِيْلِهٖ

له ډېرې مودې نه پس يې ياد شو: زه تاسو د دې (خوب) په تعبيرخبروم، نو تاسو

فَاَرْسِلُوْنِ ﴿٤٥﴾ يُوْسُفُ اَيُّهَا الصِّدِّيْقُ

ما (يوسف ته) ولېږئ -45- اى يوسفه! اى ډېره رښتينه!

اَفْتِنَا فِيْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ

ته مونږ ته تعبير بيان كړه د اوو څربو غواګانو په باره كې چې

سَبْعٌ عِجَافٌ وَّ سَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ

اوه خوارې يې خوري او د اوو شنو وږو

وَّ اُخَرَ يٰبِسٰتٍ ۙ لَّعَلِّيْۤ اَرْجِعُ اِلَى

او نورو (اوو) وچو (وږو) په باره کې، د دې لپاره چې زه

النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ

خلقو ته واپس لاړشم د دې لپاره چې هغوی پوه شي -46- هغه وويل:

تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا

تاسو به اوه کاله پرله پسې په ډېر کوشش سره کر کوئ، نو څه

حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِيْ سُنْۢبُلِهٖۤ اِلَّا

چې تاسو وريبئ هغه (غله) په خپل وږي کې پرېږدئ، خو لږ له هغو نه

قَلِيْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ

چې تاسو يې خورئ -47- بيا به د دې (کلونو)

بَعْدِ ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَّاْكُلْنَ مَا

نه پس ډېر سخت اوه (كاله) راځي چې هغه (غلې) به وخوري چې تاسو

قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا

مخكې د دغو (كلونو) لپاره ذخيره كړې دي۔ مګر لږ شان له هغه نه چې

تُحْصِنُوْنَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

تاسو يې ساتئ -48- بيا به له دې (كلونو) نه پس يو

عَامٌ فِيْهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيْهِ

كال راځي چې په هغه كې به (په باران سره) د خلقو فرياد رسي وشي او په ده كې به دوى

ع 16

يَعْصِرُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖ ۚ

(مېوې) نچوړي -49- او بادشاه وويل: تاسو هغه (يوسف) ما ته راولئ،

فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ اِلٰى

نو كله چې ده ته استازى راغى، (نو) ده (ورته) وويل: خپل مالك ته بېرته لاړ شه،

رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِىْ

نو له هغه نه تپوس وكړه چې د هغو ښځو څه حال و چې

قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ ؕ اِنَّ رَبِّىْ بِكَيْدِهِنَّ

خپل لاسونه يې پرې كړي وو، بېشكه زما رب د هغوى په مكر او چل ښه

عَلِيْمٌ ۝٥٠ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ

پوه دى -50- هغه وويل: ستاسو څه حال (معامله) وه كله چې تاسو له

يُوْسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ

يوسف نه د هغه د نفس غوښتنه كوله؟ هغوى وويل: الله ته پاكي ده،

مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ قَالَتِ

مونږ په هغه کې هېڅ بدي نه وه معلومه کړې،

امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ

د عزيز ښځې وويل: اوس حقه (رښتيا) خبره

الْحَقُّ ؗ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ وَاِنَّهٗ

ظاهره شوه، ما له هغه نه مطالبه کړې وه او بېشکه هغه يقينًا له

لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝۵۱ ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ اَنِّيْ

رښتينو څخه دی -51- دا د دې لپاره چې هغه (عزيز)

لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ

پوه شي چې ما پسې شا له هغه سره خيانت نه دی کړی، او دا چې يقينًا الله د خيانتګرو

كَيۡدَ الۡخَآئِنِيۡنَ ﴿۵۲﴾

مکر نه برابروي (سر ته يې نه رسوي) -52-

وَ مَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِیۡ ۚ اِنَّ النَّفۡسَ

او زه خپل نفس نه بري کوم، يقيناً نفس

لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّیۡ ؕ اِنَّ

خو په بدۍ سره ډېر حکم کوونکی دی، مګر هغه چې زما رب پرې رحم وکړي، يقيناً زما رب ښه

رَبِّیۡ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۵۳﴾ وَ قَالَ الۡمَلِکُ

مغفرت کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی -53- او باچا وويل:

ائۡتُوۡنِیۡ بِہٖۤ اَسۡتَخۡلِصۡہُ لِنَفۡسِیۡ ۚ فَلَمَّا

هغه ما ته راولئ چې زه يې د خپل ځان لپاره خالص کړم، نو کله چې يې له هغه سره خبرې

کَلَّمَہٗ قَالَ اِنَّکَ الۡیَوۡمَ لَدَیۡنَا مَکِیۡنٌ

وکړې، ويې ويل: بېشکه ته نن ورځ زمونږ په نيز د مرتبې خاوند، (او)

اَمِيۡنٌ ﴿۵۴﴾ قَالَ اجۡعَلۡنِىۡ عَلٰى خَزَآٮِٕنِ

امانتگر يې -54- هغه وويل: ته ما د ځمکې په خزانو

الۡاَرۡضِ‌ۚ اِنِّىۡ حَفِيۡظٌ عَلِيۡمٌ ﴿۵۵﴾ وَ

باندې مقرر کړه، بېشکه زه ښه ساتونکی، ښه پوه يم -55- او

كَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوۡسُفَ فِى الۡاَرۡضِ‌ۚ

همدارنګه مونږ يوسف ته په ځمکه کې اقتدار ورکړ،

يَتَبَوَّاُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُ‌ ؕ نُصِيۡبُ

چې په دې (ځمکه) کې به يې چېرې چې غوښتل؛ ځای نيوه، مونږ

بِرَحۡمَتِنَا مَنۡ نَّشَآءُ‌ وَلَا نُضِيۡعُ اَجۡرَ

خپل رحمت رسوو چا ته چې مونږ وغواړو او مونږ د نېکي کوونکو اجر

ع
1

الْمُحْسِنِيْنَ ۝٥٦ وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ

نه ضايع کوو -56- او يقينًا د اخرت اجر د هغو

لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝٥٧ وَ

کسانو لپاره ډېر غوره دی چې ايمان يې راوړ او
پرهېزګاري يې کوله -57- او

جَآءَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ

د يوسف ورونه راغلل، نو په ده باندې ورننوتل، نو
ده هغوی

فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ۝٥٨ وَلَمَّا

وپېژندل او هغوی ده لره ناپېژندونکي وو -58- او
کله چې

جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُوْنِيْ بِاَخٍ

هغه دوی ته د دوی د سفر اسباب تيار کړل، ويې
ويل: تاسو ما ته خپل هغه ورور

لَّكُمْ مِّنْ اَبِيْكُمْ ۚ اَلَا تَرَوْنَ اَنِّيْٓ اُوْفِي

راولئ چې ستاسو له پلاره دی، ايا تاسو نه وينئ
چې بېشکه زه پېمانه (داني) پوره

الْكَيْلَ وَاَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿٥٩﴾ فَاِنْ

ورکوم او زه تر ټولو غوره مېلمه پال يم -59- نو که
چېرې

لَّمْ تَاْتُوْنِيْ بِهٖ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِيْ

تاسو هغه ما ته رانه وسته، بيا نو ستاسو لپاره زما
سره هيڅ پېمانه نشته او (بيا) تاسو ما ته مه رانږدې

وَلَا تَقْرَبُوْنِ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ

کېږئ -60- هغوی وويل: مونږ به د هغه په هکله د
هغه له پلاره په کوښښ سره غوښتنه کوو او بېشکه

اَبَاهُ وَاِنَّا لَفٰعِلُوْنَ ﴿٦١﴾ وَقَالَ لِفِتْيٰنِهِ

مونږ خامخا (دا کار) کوونکي يو -61- او هغه
خپلو ځلميو ته وويل:

اجۡعَلُوۡا بِضَاعَتَهُمۡ فِىۡ رِحَالِهِمۡ

د هغوی پنگه (سرمایه) د هغوی په بارونو کې کېږدئ۔،

لَعَلَّهُمۡ يَعۡرِفُوۡنَهَاۤ اِذَا انۡقَلَبُوۡۤا اِلٰٓى

د دې لپاره چې دوی هغه وپېژني، کله چې دوی خپل

اَهۡلِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۶۲﴾ فَلَمَّا

اهل ته واپس لاړ شي، د دې لپاره چې دوی واپس راشي -62- نو کله چې

رَجَعُوۡۤا اِلٰٓى اَبِيۡهِمۡ قَالُوۡا يٰۤاَبَانَا مُنِعَ

دوی خپل پلار ته بېرته وگرځېدل، ویې ویل: ای زمونږ پلاره! زمونږ

مِنَّا الۡكَيۡلُ فَاَرۡسِلۡ مَعَنَاۤ اَخَانَا

نه يوه پېمانه منع کړی شوې ده، نو ته زمونږ سره زمونږ ورور

نَكْتَلْ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿٦٣﴾ قَالَ هَلْ

ولېږه چې پېمانه راواخلو او بېشکه مونږ خامخا د
ده حفاظت کوونکي يو -63- هغه ووېل: ايا زه

اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ عَلٰٓى

تاسو په ده باندې امينان کړم مگر په شان د هغه
چې ما تاسو له دې نه مخکې د ده

اَخِيْهِ مِنْ قَبْلُ ؕ فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّ

په ورور باندې امينان گرځولي وئ، نو الله ډېر
غوره ساتونکی دی او

هُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَمَّا فَتَحُوْا

هغه تر ټولو زيات رحم کوونکی دی -64- او کله
چې دوی خپل

مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ

سامان پرانسته، دوی خپله پنگه ومونده چې
دوی ته بېرته واپس کړی شوې

اِلَيۡهِمۡ ؕ قَالُوۡا يٰۤاَبَانَا مَا نَبۡغِىۡ ؕ هٰذِهٖ

ده، دوی وویل: ای زمونږ پلاره! مونږ (نور) څه غواړو، دا

بِضَاعَتُنَا رُدَّتۡ اِلَيۡنَا ۚ وَنَمِيۡرُ اَهۡلَنَا وَ

زمونږ پنګه ده چې مونږ ته بېرته واپس کړی شوې ده، او

نَحۡفَظُ اَخَانَا وَنَزۡدَادُ كَيۡلَ بَعِيۡرٍ ؕ

مونږ به د خپل اهل لپاره غله راوړو او خپل ورور به ساتو او د یو اوښ بار به زیات راوړو،

ذٰلِكَ كَيۡلٌ يَّسِيۡرٌ ﴿۶۵﴾ قَالَ لَنۡ اُرۡسِلَهٗ

دغه ډېره اسانه پیمانه ده -65- هغه وویل: هیڅکله به هم زه له تاسو سره هغه ونه لېږم تر

مَعَكُمۡ حَتّٰى تُؤۡتُوۡنِ مَوۡثِقًا مِّنَ اللّٰهِ

هغه پورې چې تاسو ما ته د الله پخه وعده راکړئ

لَتَاۡتُنَّنِیۡ بِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ یُّحَاطَ بِکُمۡ ۚ فَلَمَّاۤ

چې تاسو به هغه خامخا لازمًا ما ته بېرته راولئ، مګر دا چې تاسو ګېر کړی شئ، نو کله چې هغوی

اٰتَوۡهُ مَوۡثِقَهُمۡ قَالَ اللّٰهُ عَلٰی مَا نَقُوۡلُ

ده ته خپله پخه وعده ورکړه، هغه وویل: الله وکیل (او شاهد) دی په هغه څه

وَکِیۡلٌ ﴿۶۶﴾ وَ قَالَ یٰبَنِیَّ لَا تَدۡخُلُوۡا مِنۡۢ

چې مونږ یې وایو -66- او هغه وویل: ای زما زامنو! تاسو (ټول) له

بَابٍ وَّاحِدٍ وَّ ادۡخُلُوۡا مِنۡ اَبۡوَابٍ

یوې دروازې نه مه ننوځئ او له بیلو بیلو دروازو نه

مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ وَ مَاۤ اُغۡنِیۡ عَنۡکُمۡ مِّنَ اللّٰهِ

ورننوځئ او زه له تاسو نه د الله (له فیصلې) نه هېڅ شی نشم لرې کولی،

مِنۡ شَيۡءٍ ؕ اِنِ الۡحُكۡمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَيۡهِ

حکم نشته مګر خاص د الله لپاره دی، خاص په هغه باندې

تَوَكَّلۡتُ ۚ وَ عَلَيۡهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ

ما توکل کړی دی اولازم دي چې توکل کوونکي یوائې په هغه باندې

الۡمُتَوَكِّلُوۡنَ ﴿۶۷﴾ وَلَمَّا دَخَلُوۡا مِنۡ حَيۡثُ

توکل وکړي -67- او کله چې دوی ننوتل له هغه ځایه چې

اَمَرَهُمۡ اَبُوۡهُمۡ ؕ مَا كَانَ يُغۡنِىۡ عَنۡهُمۡ

دوی ته یې خپل پلار حکم کړی و، هغه له دوی نه

مِّنَ اللّٰهِ مِنۡ شَيۡءٍ اِلَّا حَاجَةً فِىۡ

د الله (له فیصلې) نه هیڅ شی نشو لرې کولی، مګر

نَفۡسِ يَعۡقُوۡبَ قَضٰهَا ؕ وَ اِنَّهٗ لَذُوۡ

دا د یعقوب په زړه کې یو حاجت و چې هغه یې
ادا کړ، او بېشکه

عِلۡمٍ لِّمَا عَلَّمۡنٰهُ وَلٰكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ

هغه یقینًا د علم خاوند و، په سبب د دې چې مونږ
هغه ته تعلیم ورکړی و او لېکن د خلقو اکثریت

ع 2

لَا يَعۡلَمُوۡنَ ۝٦٨ وَلَمَّا دَخَلُوۡا عَلٰى يُوۡسُفَ

نه پوهېږي -68- او کله چې دوی په یوسف
باندې ورننوتل،

اٰوٰٓى اِلَيۡهِ اَخَاهُ قَالَ اِنِّىۡۤ اَنَا اَخُوۡكَ فَلَا

(نو) هغه خپل ورور خپل ځان ته رانژدې کړ،
ویې ویل: بېشکه زه چې یم، هم دا زه ستا ورور

تَبۡتَـئِسۡ بِمَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ۝٦٩ فَلَمَّا

یم، نو ته په هغو کارونو مه خفه کېږه چې دوی
کول -69- نو کله چې

جَهَّزَهُمۡ بِجَهَازِهِمۡ جَعَلَ السِّقَايَةَ

هغه، دوی ته د دوی سامانونه تیار کړل (، نو) د ښنبلو جام یې

فِیۡ رَحۡلِ اَخِیۡهِ ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَیَّتُهَا

د خپل ورور په بار کې کېښود، بیا غږ کوونکي غږ وکړ! ای قافلې!

الۡعِیۡرُ اِنَّکُمۡ لَسٰرِقُوۡنَ ﴿۷۰﴾ قَالُوۡا وَ

بېشکه تاسو خامخا غله یئ -70- هغوی وویل او

اَقۡبَلُوۡا عَلَیۡهِمۡ مَّاذَا

دوی ته یې مخ راواړوه: تاسو څه شی

تَفۡقِدُوۡنَ ﴿۷۱﴾ قَالُوۡا نَفۡقِدُ صُوَاعَ

ورك کړی دی؟ -71- هغوی وویل: مونږ د بادشاه

الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّ

پېمانه ورکه کړې ده، او د هغه چا لپاره چې دغه راوړي، د يو اوښ بار دی، او

اَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ﴿۷۲﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ

زه د دې ضامن يم -72- هغوی وويل: قسم په الله، يقينًا يقينًا

عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْاَرْضِ

تاسو پوه شوي يئ چې مونږ د دې لپاره نه يو راغلي چې په دې ځمکه کې فساد وکړو،

وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾ قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗۤ

او مونږ خو غله نه يو -73- هغوی وويل: نو د هغه جزا به

اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۷۴﴾ قَالُوْا جَزَآؤُهٗ

څه وي که تاسو غله وئ؟ -74- دوی وويل: د هغه جزا هغه

مَنْ وُّجِدَ فِيْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ

كس دى د چا په بار كې چې دغه وموندل شي، نو هم دغه كس د هغه جزا دى،

كَذٰلِكَ نَجْزِى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَبَدَاَ

همدارنگه مونږ ظالمانو ته جزا وركوو -75- نو د خپل

بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ ثُمَّ

ورور له بار نه مخكې يې د هغوى په بارونو شروع وكړه،

اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ كَذٰلِكَ

بيا يې دغه پيمانه د خپل ورور له بار نه راوښكله، همدارنگه

كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ

مونږ د يوسف لپاره تدبير وكړ، هغه (يوسف د دې حقدار) نه و چې د بادشاه په قانون كې خپل ورور

فِيۡ دِيۡنِ الۡمَلِكِ اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ

راونيسي، مګر دا چې الله وغواړي، چا ته چې مونږ وغواړو

نَرۡفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنۡ نَّشَآءُ ؕ وَفَوۡقَ كُلِّ

په درجو کې يې اوچتوو او د هر علم والا له پاسه

ذِيۡ عِلۡمٍ عَلِيۡمٌ ۝٧٦ قَالُوۡۤا اِنۡ يَّسۡرِقۡ

لوی عالم دی -76- هغوی وويل: که دا غلا کوي،

فَقَدۡ سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنۡ قَبۡلُ ۚ فَاَسَرَّهَا

نو يقينًا له ده نه مخکې د ده ورور (هم) غلا کړې ده۔،

يُوۡسُفُ فِيۡ نَفۡسِهٖ وَلَمۡ يُبۡدِهَا لَهُمۡ ۚ

نو يوسف دا په خپل نفس کې پټه وساتله او دايې دوی ته ښکاره نه کړه،

قَالَ اَنۡتُمۡ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا

ويې ويل: تاسو د مرتبې په لحاظ ډېر بد یئ او
الله ښه عالم دی په هغې خبره چې تاسو

تَصِفُوۡنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوۡا يٰۤاَيُّهَا الۡعَزِيۡزُ اِنَّ لَهٗۤ

يې بیانوئ -77- دوی وویل: ای عزیزه! بېشکه د
ده ډېر زوړ

اَبًا شَيۡخًا كَبِيۡرًا فَخُذۡ اَحَدَنَا مَكَانَهٗ ۚ

عمرخوړلی پلار دی، نو ته د ده په ځای پر مونږ
کې یو تن ونیسه،

اِنَّا نَرٰٮكَ مِنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۷۸﴾ قَالَ

بېشکه مونږ تا له احسان کوونکو څخنې وینو -78-
هغه وویل:

مَعَاذَ اللّٰهِ اَنۡ نَّاۡخُذَ اِلَّا مَنۡ وَّجَدۡنَا

د الله پناه غواړو (له دې خبرې نه) چې مونږ (بل
څوك) ونیسو،

مَتَاعَنَا عِنۡدَهٗۤ ۙ اِنَّاۤ اِذًا

غير له هغه کس نه چې مونږ له هغه سره خپل
سامان موندلی دی، بېشکه مونږ به په دغه وخت

ع
3

لَّظٰلِمُوۡنَ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا اسۡتَيۡـَٔسُوۡا مِنۡهُ

کې خامخا ظالمان یو -79- نو کله چې دوی له هغه
نه نا امیده شول

خَلَصُوۡا نَجِيًّا ؕ قَالَ كَبِيۡرُهُمۡ اَلَمۡ

(، نو یوې خوا ته) بېل شول، په دې حال کې چې
مشوره کوونکي وو، د دوی مشر وویل: ایا تاسو په

تَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اَبَاكُمۡ قَدۡ اَخَذَ عَلَيۡكُمۡ

دې پوه نه یئ چې یقینًا ستاسو پلار له تاسو

مَّوۡثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَمِنۡ قَبۡلُ مَا

نه د الله پخه وعده اخیستې ده او له دې نه
مخکې چې تاسو

فَرَّطْتُّمْ فِيْ يُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ

د يوسف په باره کې څه تقصير کړی دی، نو زه خو به هيڅکله هم له دې

الْاَرْضَ حَتّٰى يَاْذَنَ لِيْٓ اَبِيْٓ اَوْ يَحْكُمَ

ځمکې ونه خوځم تر هغه پورې چې ما ته زما پلار اجازت راکړي، يا

اللّٰهُ لِيْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ

الله زما لپاره فيصله وکړي او هغه تر ټولو غوره

الْحٰكِمِيْنَ ۝٨٠ اِرْجِعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ

فيصله کوونکی دی -80- تاسو خپل پلار ته بېرته لاړ شئ،

فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ ۚ وَمَا

نو (ورته) ووايئ، ای زمونږ پلاره! بېشکه ستا زوی غلا کړې ده او مونږ

شَهِدۡنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمۡنَا وَ مَا كُنَّا لِلۡغَيۡبِ

گواهي نه ده کړې مګر په هغه څه چې مونږ پرې پوه شوي يو- او مونږ د پټ کار

حٰفِظِيۡنَ ﴿٨١﴾ وَ سۡـَٔلِ الۡقَرۡيَةَ الَّتِىۡ كُنَّا

ساتونکي نه وو -81- او ته له هغه کلي نه تپوس وکړه، چې مونږ په کې وو-

فِيۡهَا وَ الۡعِيۡرَ الَّتِىۡۤ اَقۡبَلۡنَا فِيۡهَا‌ ؕ وَ اِنَّا

او له هغې قافلې نه (هم) چې مونږ په هغې کې راغلو- او بېشکه مونږ

لَصٰدِقُوۡنَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَـكُمۡ

لازمًا رښتيا ويونکي يو -82- هغه وويل: بلکې تاسو لپاره ستاسو

اَنۡفُسُكُمۡ اَمۡرًا‌ ؕ فَصَبۡرٌ جَمِيۡلٌ‌ ؕ

نفسونو يو کار ښايسته کړى دى، نو (زما کار) صبر جميل دى،

عَسَى اللّٰهُ اَنۡ يَّاۡتِيَنِىۡ بِهِمۡ جَمِيۡعًا ؕ

امېد دى چې الله به ما ته هغوى ټول راولي،

اِنَّهٗ هُوَ الۡعَلِيۡمُ الۡحَكِيۡمُ ۝٨٣ وَتَوَلّٰى

بېشكه هغه، هم هغه ښه پوه، ښه حكمت والا دى -83- او له هغوى

عَنۡهُمۡ وَ قَالَ يٰۤاَسَفٰى عَلٰى يُوۡسُفَ وَ

نه يې مخ وګرځاوه او ويې ويل: اى زما غمه په يوسف باندې! او

ابۡيَضَّتۡ عَيۡنٰهُ مِنَ الۡحُزۡنِ فَهُوَ

د هغه دواړه سترګې له غمه تكې سپينې شوې، نو هغه

كَظِيۡمٌ ۝٨٤ قَالُوۡا تَاللّٰهِ تَفۡتَؤُا تَذۡكُرُ

(له قهره) ډك و -84- هغوى وويل: په الله قسم دى چې

يُوسُفَ حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ

ته به همېشه يوسف يادوې، تر هغه پورې چې ته
په وېلې كېدو سره مرګ ته قريب شې يا ته د

مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿٨٥﴾ قَالَ اِنَّمَاۤ اَشْكُوْا بَثِّيْ

هلاكېدونكو نه شې -85- هغه وويل: بېشكه همدا
خبره ده چې زه د خپل واړه او لوى غم شكايت

وَ حُزْنِيْۤ اِلَى اللّٰهِ وَ اَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا

الله ته كوم، او زه د الله له جانبه په هغه څه
پوهېږم چې تاسو

تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٦﴾ يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا

پرې نه پوهېږئ -86- اى زما زامنو! تاسو لاړ
شئ، نو

مِنْ يُّوْسُفَ وَ اَخِيْهِ وَ لَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ

د يوسف او د هغه د ورور لټون وكړئ او د الله له

رَّوۡحِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا یَایۡـَٔسُ مِنۡ رَّوۡحِ

رحمت نه مه نا امېده کېږئ، بېشکه شان دا دی چې د الله له رحمت نه نه

اللّٰهِ اِلَّا الۡقَوۡمُ الۡكٰفِرُوۡنَ ﴿۸۷﴾ فَلَمَّا

نا امېده کېږي مګر کافر قوم -87- نو کله چې دوی

دَخَلُوۡا عَلَيۡهِ قَالُوۡا یٰۤاَیُّهَا الۡعَزِیۡزُ

په هغه ورننوتل، دوی وویل: ای عزیزه!

مَسَّنَا وَ اَهۡلَنَا الضُّرُّ وَ جِئۡنَا بِبِضَاعَةٍ

مونږ ته او زمونږ کورنۍ ته سختي رسېدلې ده او مونږ ناقصه (کمه) پنګه

مُّزۡجٰىةٍ فَاَوۡفِ لَنَا الۡكَيۡلَ وَ تَصَدَّقۡ

راوړې ده، نو ته مونږ ته پوره پېمانه راکړه او پر مونږ صدقه وکړه،

عَلَيۡنَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَجۡزِى

بېشكه الله خيرات كوونكو

الۡمُتَصَدِّقِيۡنَ ﴿۸۸﴾ قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُمۡ مَّا

ته بدله وركوي -88- ويې ويل: ايا تاسو په هغه فعل عالمان يئ

فَعَلۡتُمۡ بِيُوۡسُفَ وَاَخِيۡهِ اِذۡ اَنۡتُمۡ

چې تاسو له يوسف او د هغه له وروړ سره كړى و، كله چې تاسو

جٰهِلُوۡنَ ﴿۸۹﴾ قَالُوۡۤا ءَاِنَّكَ لَاَنۡتَ

ناپوهان وئ؟ -89- هغوى وويل: ايا يقينًا ته چې يې،

يُوۡسُفُ ؕ قَالَ اَنَا يُوۡسُفُ وَهٰذَاۤ اَخِىۡ

په رښتيا هم ته يوسف يې؟ هغه وويل: هم زه يوسف يم او دغه مې سكه وروړ دى،

قَدۡ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيۡنَا ؕ اِنَّهٗ مَنۡ يَّتَّقِ وَ

يقينًا الله پر مونږ احسان وكړ، بېشكه شان دا دى چې څوك تقوىٰ اختيار كړي او

يَصۡبِرۡ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيۡعُ اَجۡرَ

صبر وكړي، نو بېشكه الله د نېكي كوونكو اجر نه

الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۹۰﴾ قَالُوۡا تَاللّٰهِ لَقَدۡ اٰثَرَكَ

ضائع كوي -90- هغوى وويل: قسم په الله چې يقينًا په رښتيا سره الله ته پر مونږ باندې غوره

اللّٰهُ عَلَيۡنَا وَاِنۡ كُنَّا لَخٰطِئِيۡنَ ﴿۹۱﴾ قَالَ

كړى يې او بېشكه مونږ خامخا خطا كار وو -91- هغه وويل:

لَا تَثۡرِيۡبَ عَلَيۡكُمُ الۡيَوۡمَ ؕ يَغۡفِرُ اللّٰهُ

نن ورځ پر تاسو باندې هېڅ ملامتي نشته، الله دې تاسو وبخښي

لَكُمْ ۡ وَهُوَ اَرۡحَمُ

او هغه تر ټولو زيات رحم

الرّٰحِمِيۡنَ ﴿۹۲﴾ اِذۡهَبُوۡا بِقَمِيۡصِيۡ هٰذَا

كوونكى دى -92- تاسو زما دا كميس يوسئ،

فَاَلۡقُوۡهُ عَلٰى وَجۡهِ اَبِيۡ يَاۡتِ بَصِيۡرًا ۚ وَ

نو دا زما د پلار په مخ واچوئ، هغه به بېرته بينا شي

ع 4

اۡتُوۡنِيۡ بِاَهۡلِكُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۹۳﴾ وَلَمَّا

او تاسو، سره له خپل اهله ټول ما ته راشئ -93- او كله چې

فَصَلَتِ الۡعِيۡرُ قَالَ اَبُوۡهُمۡ اِنِّيۡ لَاَجِدُ

قافله (د مصر له حدودو) ووتله، د هغوى پلار وويل: بېشكه زه چې يم خامخا د

رِيۡحَ يُوۡسُفَ لَوۡ لَاۤ اَنۡ

يوسف خوشبويي محسوسوم كه چېرې تاسو ما ته
د بوډاوالي د كم عقلۍ نسبت ونه كړئ

تُفَنِّدُوۡنِ ﴿٩٤﴾ قَالُوۡا تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِىۡ

(نو زما تصديق به وكړئ) -94- (ده ته حاضرينو)
وويل: بېشكه ته چې يې، خامخا په خپلې

ضَلٰلِكَ الۡقَدِيۡمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّاۤ اَنۡ جَآءَ

پخوانۍ خطا كې پروت يې -95- نو هغه وخت
چې

الۡبَشِيۡرُ اَلۡقٰهُ عَلٰى وَجۡهِهٖ فَارۡتَدَّ

زېرى كوونكى ښنگه راغى، نو د ده په مخ يې
هغه (كميس) واچوه،

بَصِيۡرًا ۚ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ ۚۙ اِنِّىۡۤ

نو دى بينا وگرځېده. هغه (يعقوب) وويل: ايا
ماتاسو ته نه و ويلي؟ بېشكه

الربع

اَعۡلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوۡا

زه (د الله په ښودنې سره) په هغه څه پوهېږم چې
تاسو پرې نه پوهېږئ -96- هغوی وويل:

يٰۤاَبَانَا اسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَاۤ اِنَّا كُنَّا

ای زمونږ پلاره! زمونږ لپاره (له الله نه) زمونږ د
ګناهونو بخښنه وغواړه، بېشکه مونږ

خٰطِـئِيۡنَ ﴿۹۷﴾ قَالَ سَوۡفَ اَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ

خطا کار وو -97- هغه وويل: عنقريب به زه تاسو
لپاره له خپل رب نه بخښنه وغواړم،

رَبِّیۡ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ﴿۹۸﴾ فَلَمَّا

بېشکه هغه، هم هغه، ښه بخښونکی، بې حده رحم
کوونکی دی -98- نو کله چې دوی

دَخَلُوۡا عَلٰى يُوۡسُفَ اٰوٰۤى اِلَيۡهِ اَبَوَيۡهِ وَ

په يوسف ورننوتل، نو خپل مور او پلار يې خپل
ځان ته رانژدې کړل او

قَالَ ادۡخُلُوۡا مِصۡرَ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ

ويې ويل: تاسو مصر ته داخل شئ، په داسې حال کې چې په امن کې به يئ-

اٰمِنِيۡنَ ﴿۹۹﴾ وَ رَفَعَ اَبَوَيۡهِ عَلَى الۡعَرۡشِ وَ

که الله وغواړي -99- او خپل مور او پلار يې (له ځان سره) په تخت باندې پورته کړل، او

خَرُّوۡا لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَ قَالَ يٰۤاَبَتِ هٰذَا

دوی (ټول) ده ته پرېوتل سجده کوونکي- او ده وويل: ای زما پلار جانه! دا زما

تَاۡوِيۡلُ رُءۡيَاىَ مِنۡ قَبۡلُ ۫ قَدۡ جَعَلَهَا

د هغه خوب تعبير دی چې مخکې (مالېدلی) و، يقينًا

رَبِّىۡ حَقًّا ؕ وَ قَدۡ اَحۡسَنَ بِىۡۤ اِذۡ

هغه زما رب رښتيا وګرځاوه، او يقينًا هغه په ما احسان وکړ کله چې يې

اَخۡرَجَنِیۡ مِنَ السِّجۡنِ وَ جَآءَ بِكُمۡ

زه له جېل نه راووېستم او تاسو يې له ميرې (صحرا) نه

مِّنَ الۡبَدۡوِ مِنۡۢ بَعۡدِ اَنۡ نَّزَغَ

راوستئ، وروسته له دې چې شيطان زما او

الشَّيۡطٰنُ بَيۡنِیۡ وَ بَيۡنَ اِخۡوَتِیۡ ؕ اِنَّ رَبِّیۡ

زما د ورونو په مينځ کې جګړه غورځولې وه، بېشکه زما رب

لَطِيۡفٌ لِّمَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡعَلِيۡمُ

باريك تدبير والا دی، د هغه (شي) لپاره چې اراده يې وکړي، بېشکه هغه، هم هغه، ښه عالم، ښه

الۡحَكِيۡمُ ﴿۱۰۰﴾ رَبِّ قَدۡ اٰتَيۡتَنِیۡ مِنَ

حکمت والا دی -100- ای زما ربه! يقيناً تا ما ته (د)

الۡمُلۡكِ وَ عَلَّمۡتَنِىۡ مِنۡ تَاۡوِيۡلِ

څه (علاقې) بادشاهي راکړې ده، او تا ما ته د خوبونو

الۡاَحَادِيۡثِ‌ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَ

د تعبير علم راکړی دی، ای د اسمانونو او

الۡاَرۡضِ‌ قف اَنۡتَ وَلِىّٖ فِى الدُّنۡيَا وَ

ځمکې پیدا کوونکیه! په دنیا او اخرت کې هم ته زما کارساز یې،

الۡاٰخِرَةِ‌ ۚ تَوَفَّنِىۡ مُسۡلِمًا وَّ اَلۡحِقۡنِىۡ

ته ما ته وفات راکړه، په داسې حال کې چې مسلمان يم او ته ما له نېکانو صالحانو

بِالصّٰلِحِيۡنَ ۝١٠١ ذٰلِكَ مِنۡ اَنۡۢبَآءِ

سره يو ځای کړه -101- دا د غيب له خبرونو څنې دي

الْغَيْبِ نُوحِيهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ

چې هغه مونږ تا ته وحي کوو او ته له هغوی سره
نه وې کله

لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوٓا اَمْرَهُمْ وَهُمْ

چې هغوی د خپل کار پخه اراده وکړه، په داسې
حال کې چې دوی

يَمْكُرُونَ ۝١٠٢ وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ

مکر (او فریب) کاوه-102- او زیاتره خلق، اګر
که ته (د دوی په ایمان راوړلو) حرص وکړې (بیا

حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ۝١٠٣ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ

هم) هېڅکله ایمان راوړونکي نه دي -103- او ته
له دوی نه په

عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ

دې (تبلیغ د قرآن) باندې هېڅ اجر نه غواړې، نه
دی دا مګر د ټولو خلقو لپاره

ع 5

لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿١٠٤﴾ وَكَاَيِّنۡ مِّنۡ اٰيَةٍ فِي

(د الله له جانبه) نصيحت -104- او څومره ډېر دليلونه دي په

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ يَمُرُّوۡنَ عَلَيۡهَا وَ

اسمانونو او ځمکه کې، چې دوی پرې تېرېږي، په داسې حال کې چې دوی له

هُمۡ عَنۡهَا مُعۡرِضُوۡنَ ﴿١٠٥﴾ وَمَا يُؤۡمِنُ

هغو نه مخ اړوونکي وي -105- او د دوی زیاتره په الله ایمان

اَكۡثَرُهُمۡ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمۡ

نه لري، مگر په داسې حال کې چې دوی

مُّشۡرِكُوۡنَ ﴿١٠٦﴾ اَفَاَمِنُوۡۤا اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ

شرك كوونكي وي -106- ايا نو دوی په امن کې شوي دي له دې نه

غَاشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ اَوْ تَاْتِيَهُمُ

چې په دوی باندې د الله له عذاب نه پټوونکې (راګېرونکې) برخه راشي،

السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا

یا په دوی باندې ناڅاپه قیامت راشي، په داسې حال کې چې دوی

يَشْعُرُوْنَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا

به نه پوهېږي -107- ته ووایه: دا زما لاره ده، د

اِلَى اللّٰهِ ۣ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ

الله په طرف بلنه کوم، په ښه بیان او بصیرت سره، زه او هغه

اتَّبَعَنِيْ ۭ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ

څوك چې زما پیروي کوي، او الله پاك دی، او زه له شرك کوونکو

الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٨﴾ وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ

ځنې نه يم -108- او مونږ له تا نه مخکې نه دي
لېږلي

قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْۤ اِلَيْهِمْ مِّنْ

مګر سړي چې مونږ به هغوی ته وحي کوله، چې
د

اَهْلِ الْقُرٰى ؕ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي

کليو (ښارونو) اوسېدونکي وو، ايا نو دوی په

الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

ځمکه کې نه دي ګرځېدلي، پس چې ليدلي يې
وی چې د هغو (مجرمو)

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ

کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو،
او يقينًا د اخرت کور

خَيۡرٌ لِّلَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا ؕ اَفَلَا

د هغو کسانو لپاره ډېر غوره دی چې (له شرك او کفر نه) ځان ساتي، ايا نو تاسو له

تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۰۹﴾ حَتّٰۤى اِذَا اسۡتَيۡـَٔسَ

عقل نه کار نه اخلئ؟ -109- تر هغه پورې چې

الرُّسُلُ وَظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُوۡا

رسولان به نا امېده شول او هغو (خلقو) به دا يقين وکړ چې بېشکه دوی (رسولان) چې دي، يقينًا

جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا فَنُجِّىَ مَنۡ نَّشَآءُ ؕ وَ

دوی ته دروغ ويل شوي دي (، نو) دوی (رسولانو) ته به زمونږ مدد راغی، بيا به هغه چا ته

لَا يُرَدُّ بَاۡسُنَا عَنِ الۡقَوۡمِ

نجات ورکړی شو چې مونږ به غوښتل او زمونږ عذاب له مجرمو (کافرو)

الۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۱۱۰﴾ لَقَدۡ کَانَ فِیۡ قَصَصِهِمۡ

خلقو نه نشي دفع کېدلی -110- یقینًا یقینًا د دوی (د قصې) په بیان کې

عِبۡرَۃٌ لِّاُولِی الۡاَلۡبَابِ ؕ مَا کَانَ حَدِیۡثًا

د خالصو عقلونو والاو لپاره ښه عبرت دی.، دغه (قرآن) داسې خبره بېخي نه ده چې له ځانه په

یُّفۡتَرٰی وَ لٰکِنۡ تَصۡدِیۡقَ الَّذِیۡ بَیۡنَ

دروغو جوړه کړی شوې وي او لېکن (دغه قرآن) د هغو (کتابونو) تصدیق دی چې له ده نه مخکې

یَدَیۡهِ وَ تَفۡصِیۡلَ کُلِّ شَیۡءٍ وَّ هُدًی وَّ

وو او د هر شي تفصیل (بیان) دی او هدایت او رحمت دی د هغه قوم لپاره چې

ع 6

رَحۡمَۃً لِّقَوۡمٍ یُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۱۱﴾ ع

(په الله او د هغه په رسول) ایمان لري -111-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

الٓمّٓرٰ ۚ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ ؕ وَالَّذِىۡۤ

الف، لام، ميم، را، دا د کتاب ايتونه دي او هغه (کتاب)

اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ رَّبِّكَ الۡحَـقُّ وَلٰـكِنَّ

چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی، حق دی او لېکن

اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝١ اَللّٰهُ

زياتره خلق ايمان نه راوړي -1- الله

الَّذِىۡ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٍ

هغه ذات دی چې اسمانونه يې پورته کړي دي، بې له ستنو،

تَرَوۡنَهَا ثُمَّ اسۡتَوٰی عَلَى الۡعَرۡشِ وَ

چې تاسو هغه وينئ، بيا يې په عرش باندې برقرار شو، او

سَخَّرَ الشَّمۡسَ وَ الۡقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجۡرِیۡ

ده لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر يو يې تر

لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ يُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ يُفَصِّلُ

مقررې نېټې پورې روان دی، هغه، د هر کار تدبير کوي،

الۡاٰيٰتِ لَعَلَّكُمۡ بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ

دليلونه په تفصيل سره بيانوي، د دې لپاره چې تاسو د خپل رب په

تُوۡقِنُوۡنَ ﴿۲﴾ وَ هُوَ الَّذِىۡ مَدَّ الۡاَرۡضَ وَ

ملاقات يقين وکړئ -2- او دی همغه ذات دی چې ځمکه يې غوړولې ده او

جَعَلَ فِيۡهَا رَوَاسِىَ وَاَنۡهٰرًا‌ ؕ وَمِنۡ كُلِّ

په هغې کې يې پاخه غرونه او نهرونه جوړ کړي دي او له هر

الثَّمَرٰتِ جَعَلَ فِيۡهَا زَوۡجَيۡنِ اثۡنَيۡنِ

قسمه مېوو نه يې په دغې کې دوه دوه جوړې پېدا کړي دي،

يُغۡشِى الَّيۡلَ النَّهَارَ‌ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰ لِكَ

هغه په شپې سره ورځ پټوي، بېشکه په دې کې د هغو خلقو لپاره

لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ ۝٣ وَفِى

لازمًا نښې دي چې فکر (او غور) کوي -3- او په

الۡاَرۡضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنۡ

ځمکه کې ځنګ په ځنګ پیوستې ټوټې دي او د

اَعۡنَابٍ وَّ زَرۡعٌ وَّ نَخِيۡلٌ صِنۡوَانٌ وَّ

انګورو باغونه دي او فصلونه دي او د کجورو
ونې دي چې

غَيۡرُ صِنۡوَانٍ يُّسۡقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ ۟ وَ

له يوه بېخه پورته شوي دي او ځينې ځان ته
(جدا) بېخ لري، چې په يوه قسم اوبو سره اوبه

نُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلٰى بَعۡضٍ فِى الۡاُكُلِ ؕ

کولی شي۔ او مونږ په هغو کې ځينو ته په نورو
باندې په مېوه (او خوند) کې فضيلت ورکوو،

اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ۝۴ وَ

بېشکه په دې کې د هغو خلقو لپاره يقيناً نښې دي
چې د عقل نه کار اخلي -4- او

اِنۡ تَعۡجَبۡ فَعَجَبٌ قَوۡلُهُمۡ ءَاِذَا كُنَّا

که ته تعجب کوې، نو د دوی (دا) خبره ډېره
عجيبه ده چې (وايي:) ايا چې کله

تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۬ؕ اُولٰٓئِكَ

مونږ خاورې شو، ايا نو مونږ به په رښتيا نوي تخليق کې يو (بيا به له نوي سره پيدا کولی شو)؟

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

دوی همغه کسان دي چې په خپل رب سره کافران شوي دي او دغه کسان دي

الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

چې طوقونه به يې په غاړو کې وي او دغه کسان

اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝٥

د اور ملګري دي، دوی به په هغه کې تل ترتله وي -5-

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ

او دوی له تا نه د نېکۍ (رحمت) نه مخکې بدي

الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ

ژر غواړي او يقينًا له دوى نه مخکې (له عبرته ډک)

الْمَثُلٰتُ ؕ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ

عذابونه تېر شوي دي او بېشکه ستا رب د خلقو لپاره د هغوى د ظلم باوجود يقينًا د

لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ

لوى مغفرت والا دى او بېشکه ستا رب يقينًا ډېر سخت

لَشَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ

عذاب والا دى -6- او هغه کسان چې

كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ

کفر يې کړى دى، وايي: ولې په ده باندې د خپل

ع
7

رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوْمٍ

رب له جانبه کومه نښه نه ده نازله کړی شوې؟
یقینًا همدا خبره ده چې ته وېروونکی یې او د هر

هَادٍ ۝٧ اَللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَ

قوم لپاره یو لار ښودونکی دی -7- الله پوهېږي په
هغه څه چې هره ښځه یې (په خپله خېټه کې)

مَا تَغِیْضُ الْاَرْحَامُ وَ مَا تَزْدَادُ ؕ وَ

اوچتوي او په هغه څه چې رحمونه یې کموي او
په هغه څه چې زیاتوي یې او هر شی له

كُلُّ شَیْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ۝٨ عٰلِمُ

هغه سره په اندازې سره دی -8- د غیبو او

الْغَیْبِ وَ الشَّهَادَةِ الْكَبِیْرُ

د ښکاره و عالِم دی، ډېر لوی، لوړ

اَلۡمُتَعَالِ ۝٩ سَوَآءٌ مِّنۡكُمۡ مَّنۡ اَسَرَّ

برتر دى -9- يو شان دي، په تاسو کې چې څوك

الۡقَوۡلَ وَمَنۡ جَهَرَ بِهٖ وَمَنۡ هُوَ

خبره پټوي او څوك چې يې ښکاره کوي او هغه
څوك چې

مُسۡتَخۡفٍۭ بِالَّيۡلِ وَسَارِبٌۢ

هغه په شپه کې پټېدونکى دى او په ورځ کې

بِالنَّهَارِ ۝١٠ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ

ظاهرېدونکى دى -10- د ده لپاره له مخې نه او د

وَمِنۡ خَلۡفِهٖ يَحۡفَظُوۡنَهٗ مِنۡ اَمۡرِ اللّٰهِ ؕ

ده له شا نه نوبت په نوبت يو د بل پسې راتلونکي
(ملايك) دي چې د الله په امر سره

إِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى

د ده ساتنه کوي.، بېشکه الله د هېڅ قوم حالت
نه بدلوي تر هغه

يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ

پورې چې هغوی (پخپله) د خپلو نفسونو حالت
بدل کړي او کله چې الله

بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ

په يو قوم د بدۍ اراده وکړي، نو د هغې لپاره هېڅ
بېرته ګرځېدل نشته او د دوی لپاره له

مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ۝١١ هُوَ الَّذِىْ

هغه نه غير هيڅوك مددګار نشته -11- دی همغه
ذات دی

يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنْشِئُ

چې تاسو ته برېښنا د وېرولو او طمع درکولو لپاره
درښيي او درنې

السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿١٢﴾ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ

وربځې پيدا کوي -12- او رعد د هغه له حمد سره

بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَ

تسبيح وايي او ملايك (هم) د هغه له وېرې نه او

يُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ

هغه تندرونه لېږي، نو چا ته چې وغواړي دا ورته رسوي،

يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ

په داسې حال کې چې دوی د الله په باره کې جګړه کوي او هغه ډېر

شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿١٣﴾ لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَ

سخت سزا والا دی -13- خاص د هغه لپاره حق بلل دي او

الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا

هغه (معبودان) چې دوی يې له هغه نه پرته بلي؛

يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ

هغه د دوی هېڅ دعا نشي قبلولی مګر په شان د

كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ

هغه کس چې اوبو ته خپل دواړه ورغوي غځونکی وي، د دې لپاره چې هغه د ده خولې ته راورسي،

بِبَالِغِهٖ ؕ وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ

حال دا چې دغه (اوبه خولې د) ده ته رسېدونکې نه دي او د کافرانو دعا نه ده مګر بېخي

ضَلٰلٍ ۝١٤ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

په تاوان کې ده -14- او خاص الله ته سجده کوي

السجدة 2

وَ الۡاَرۡضِ طَوۡعًا وَّ كَرۡهًا وَّ ظِلٰلُهُمۡ

هغه څوك چې په اسمانونو او ځمكه كې دي په خوښه او په زور او د هغوی سيوري (هم سجده

بِالۡغُدُوِّ وَ الۡاٰصَالِ۩ ۱۵ قُلۡ مَنۡ رَّبُّ

كوي) سبا او بېگاه -15- ته (دوی ته) ووايه: د

السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ؕ قُلۡ

اسمانونو او ځمكې رب څوك دی؟ ته ووايه: الله دی،

اَفَاتَّخَذۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءَ لَا

(نو ورته) ووايه: ايا نو تاسو له هغه نه غير نور كار سازان (دوستان) جوړ كړي دي

يَمۡلِكُوۡنَ لِاَنۡفُسِهِمۡ نَفۡعًا وَّ لَا ضَرًّا ؕ

چې د خپلو ځانونو لپاره نه د نفعې اختيار لري او نه د ضرر (لري كولو)

قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِى الۡاَعۡمٰى وَالۡبَصِيۡرُ ۙ

ته ووايه: ايا ړوند او بينا سره برابر دي؟ بلکې (دا ورته ووايه:)

اَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِى الظُّلُمٰتُ وَالنُّوۡرُ ۚ اَمۡ

ايا سره برابرې دي تيارې او رڼا، يا دوی د

جَعَلُوۡا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوۡا كَخَلۡقِهٖ

الله لپاره داسې شريکان مقرر کړي دي چې د هغه د پيدا کولو

فَتَشَابَهَ الۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡ ؕ قُلِ اللّٰهُ

په شان پيدا کول يې کړي دي، بيا په دوی باندې پيدا کول مشتبه شوي دي؟ ته ووايه: الله

خَالِقُ كُلِّ شَىۡءٍ وَّهُوَ الۡوَاحِدُ

د هر شي پيدا کوونکی دی او هم هغه يو دی، ډېر

الْقَهَّارُ ﴿١٦﴾ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

غالب دی -16- هغه له بره نه اوبه نازلې کړې،

فَسَالَتْ اَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ

نو خوړونه په خپلې اندازې سره وبهېدل، نو سیلاب

السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ؕ وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ

اوچت شوی ځګ راپورته کړ او له هغو څیزونو نه هم چې

عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ اَوْ مَتَاعٍ

دوی پرې په اور کې د ګاڼې، یا سامان جوړولو لپاره بلول کوي،

زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ

د دې په مثل ځګ وي.، همدارنګه الله (مثال د)

الْحَقَّ وَ الْبَاطِلَ ۬ؕ فَاَمَّا الزَّبَدُ

حق او باطل بیانوي، نو هر چې ځګ دی،

فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۚ وَ اَمَّا مَا يَنْفَعُ

نو هغه بې کاره لاړ شي او هر چې هغه څيز دی

النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ؕ كَذٰلِكَ

چې خلقو ته فايده رسوي، نو هغه په ځمکه کې
پاتې کيږي، همدارنګه

يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ؕ﴿۱۷﴾ لِلَّذِيْنَ

الله مثالونه بيانوي -17- هم د هغو کسانو

اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى ؔؕ وَ

لپاره نېکه بدله ده چې د خپل رب حکم يې قبول
کړی دی او

الَّذِيۡنَ لَمۡ يَسۡتَجِيۡبُوۡا لَهٗ لَوۡ اَنَّ لَهُمۡ

هغه کسان چې د هغه حکم يې نه دی قبول کړی که له دوی سره په رښتيا هر هغه

مَّا فِى الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا وَّ مِثۡلَهٗ مَعَهٗ

څه وي چې په ځمکه کې دي ټول او د ده په مثل نور هم له ده سره وي (، نو) خامخا به

لَافۡتَدَوۡا بِهٖ‌ؕ اُولٰۤٮِٕكَ لَهُمۡ سُوۡٓءُ

دوی هغه په فديه کې ورکړي، دغه کسان دي چې د دوی لپاره بد

الۡحِسَابِ ۙ وَمَاۡوٰٮهُمۡ جَهَـنَّمُ‌ؕ وَ

حساب دی او د دوی استوګنځای جهنم دی او هغه

بِئۡسَ الۡمِهَادُ ۝۱۸ اَفَمَنۡ يَّعۡلَمُ اَنَّمَاۤ

بد ارام ځای دی -18- ايا نو هغه څوك چې په دې پوهېږي چې بېشکه

ع 8

النصف

اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ رَّبِّكَ الۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ

هغه (قرآن) چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی، حق دی، د هغه چا په شان دی

اَعۡمٰى ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا

چې هغه ړوند دی؟ یقینًا همدا خبره ده چې نصیحت د خالصو

الۡاَلۡبَابِ ۙ﴿۱۹﴾ الَّذِيۡنَ يُوۡفُوۡنَ بِعَهۡدِ اللّٰهِ

عقلونو والا اخلي -19- هغه کسان چې د الله وعده پوره کوي

وَلَا يَنۡقُضُوۡنَ الۡمِيۡثَاقَ ۙ﴿۲۰﴾ وَالَّذِيۡنَ

او پخه وعده نه ماتوي -20- او هغه کسان چې

يَصِلُوۡنَ مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنۡ يُّوۡصَلَ وَ

هغه څه وصل کوي چې الله د هغه د میلاوولو حکم کړی دی او

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ

له خپل رب څخه ویرېږي او له بد حساب نه

الْحِسَابِ ﴿٢١﴾ وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَآءَ

وېره کوي -21- او هغه کسان چې د خپل رب د

وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ

مخ لټونې لپاره يې صبر کړی دی او لمونځ يې قايم کړی دی

اَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً وَّ

او له هغه څه نه يې چې مونږ ورته ورکړي دي؛ په پټه او ښکاره انفاق کړی دی او

يَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ

هغوی په نېکۍ سره بدي دفع کوي دغه کسان

لَهُمۡ عُقۡبَى الدَّارِ ﴿۲۲﴾ جَنّٰتُ عَدۡنٍ

چې دي د دوی لپاره د اخرت ښه انجام دی -22-
چې د تل اوسېدلو جنتونه دي،

يَّدۡخُلُوۡنَهَا وَمَنۡ صَلَحَ مِنۡ اٰبَآٮِٕهِمۡ وَ

دوی به هغو ته داخلېږي، او هغوی هم چې صالح
وي د دوی له پلرونو څخه او

اَزۡوَاجِهِمۡ وَذُرِّيّٰتِهِمۡ وَالۡمَلٰٓٮِٕكَةُ

د دوی له جوړو (ښځو) څخه او د دوی له
اولادونو څخه۔ او ملايك

يَدۡخُلُوۡنَ عَلَيۡهِمۡ مِّنۡ كُلِّ

به په دوی باندې له هرې دروازې نه

بَابٍ ﴿۲۳﴾ سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ بِمَا صَبَرۡتُمۡ

ورننوځي -23- (او وايي به) ستاسو د صبر کولو
په سبب دي

فَنِعۡمَ عُقۡبَى الدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَالَّذِيۡنَ

پر تاسو باندې سلام وي، نو (دا) د اخرت ښه
انجام دی -24- او هغه کسان

يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَ اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ

چې د الله عهد ماتوي د هغه (عهد) له پخولو نه
وروسته۔

مِيۡثَاقِهٖ وَيَقۡطَعُوۡنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنۡ

او هغه څه پرېکوي چې الله د هغه د میلاوولو

يُّوۡصَلَ وَيُفۡسِدُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ ۙ

حکم کړی دی او په ځمکه کې فساد کوي، هم

اُولٰٓـئِكَ لَهُمُ اللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوۡٓءُ

دغه کسان چې دي د دوی لپاره لعنت دی او هم د
دوی لپاره د

الدَّارِ ﴿٢٥﴾ اَللّٰهُ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ

اخرت بدي ده -25- الله روزي فراخوي چا ته
چې

يَّشَآءُ وَيَقۡدِرُ ؕ وَفَرِحُوۡا بِالۡحَيٰوةِ

وغواړي او تنگوي يې (چا ته چې يې وغواړي)
او دوى

الدُّنۡيَا ؕ وَمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا فِى

په دنيايي ژوند خوشحاله شوي دي او دنيايي
ژوند د اخرت په مقابله كې نه دى

ع 9

الۡاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ﴿٢٦﴾ وَيَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ

مگر لږه متاع (سامان) -26- او وايي هغه كسان
چې

كَفَرُوۡا لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ عَلَيۡهِ اٰيَةٌ مِّنۡ

كفر يې كړى دى: په ده باندې د خپل رب له
جانبه

رَّبِّهٖ ؕ قُلۡ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنۡ يَّشَآءُ وَ

كومه نښه (معجزه) ولې نه ده نازله كړى شوې؟ ته (ورته) ووايه: بېشكه الله چې چا ته وغواړي

يَهۡدِىۡۤ اِلَيۡهِ مَنۡ اَنَابَ ۖۚ ﴿۲۷﴾ اَلَّذِيۡنَ

گمراه كوي يې او خپل طرف ته هغه چا ته هدايت كوي چې رجوع وكړي -27- هغه كسان

اٰمَنُوۡا وَتَطۡمَٮِٕنُّ قُلُوۡبُهُمۡ بِذِكۡرِ اللّٰهِ ؕ

چې ايمان يې راوړى دى او د هغوى زړونه د الله

اَلَا بِذِكۡرِ اللّٰهِ تَطۡمَٮِٕنُّ

په ذكر سره مطمئن كېږي، خبردار شئ! د الله په ذكر سره

الۡقُلُوۡبُ ؕ ﴿۲۸﴾ اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

زړونه مطمئن كېږي -28- هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه

الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَ حُسْنُ

يې کړي دي، د دوى لپاره ښه حال دى او ښه

مَاٰبٍ ﴿۲۹﴾ كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِىْٓ اُمَّةٍ قَدْ

استوګنځاى دى -29- همدارنګه ته مونږ په داسې امت کې لیږلى يې چې يقينًا

خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَاْ عَلَيْهِمُ

له هغه نه مخکې ډېر امتونه تېر شوي دي، د دې لپاره چې ته دوى ته

الَّذِىْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَ هُمْ يَكْفُرُوْنَ

هغه (قرآن) ولولې چې مونږ تا ته وحي کړى دى، په داسې حال کې چې دوى

بِالرَّحْمٰنِ ؕ قُلْ هُوَ رَبِّىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ

په رحمٰن سره کفر کوي، ته ووايه: هغه زما رب دى، له هغه نه غير د عبادت هيڅ لايق نشته،

عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَاِلَيۡهِ مَتَابِ ۝٣٠ وَلَوۡ اَنَّ

خاص په هم ده باندې ما توکل کړی دی او خاص
هم ده ته زما بېرته ورتله دي -30- او که بېشکه

قُرۡاٰنًا سُيِّرَتۡ بِهِ الۡجِبَالُ اَوۡ قُطِّعَتۡ

قرآن چې دی (داسې شي چې) په ده سره غرونه
روان کړی شي، يا

بِهِ الۡاَرۡضُ اَوۡ كُلِّمَ بِهِ الۡمَوۡتٰى ؕ بَلۡ لِّلّٰهِ

په ده سره ځمکه ټوټې کړی شي، يا په ده سره
مړي په خبرو راوستلی شي۔ (بیا به هم دوی ایمان

الۡاَمۡرُ جَمِيۡعًا ؕ اَفَلَمۡ يَا۟يۡـَٔسِ الَّذِيۡنَ

رانه وړي) بلکې امر (اختيار) ټول خاص الله
لپاره دی، ايا نو هغه کسان

اٰمَنُوۡۤا اَنۡ لَّوۡ يَشَآءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ

چې ایمان یې راوړ و (د دغو خلقو له ایمان نه) نا
امېده شوي نه دي، (حال دا چې دغه مومنان

جَمِيْعًا ؕ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

پوهېږي چې) كه الله غوښتلى، نو يقينًا ټولو خلقو ته به يې هدايت كړى و. او هغه كسان چې كفر

تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ اَوْ تَحُلُّ

يې كړى دى، همېشه به دوى ته د خپلو كړو عملونو په سبب زړه ټكوونكى (عذاب) رسېږي، يا

قَرِيْبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَاْتِيَ وَعْدُ

به د دوى كورونو ته نژدې راكوزېږي، تر هغه پورې چې

ع 10

اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿٣١﴾ وَ

د الله وعده راشي، بېشكه الله د وعدې خلاف نه كوي -31- او

لَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

يقينًا يقينًا له تا نه مخكې رسولانو پورې استهزا (او مسخرې) شوې وې،

فَاَمۡلَيۡتُ لِلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ثُمَّ

نو ما كافران شويو خلقو ته مهلت وركړ،

اَخَذۡتُهُمۡ‌ ۖ فَكَيۡفَ كَانَ

بيا مې هغوى ونيول، نو (بيا) زما عذاب

عِقَابِ ۝٣٢ اَفَمَنۡ هُوَ قَآٮِٕمٌ عَلٰى كُلِّ

څنګه و؟ -32- ايا نو هغه ذات چې ولاړ (او
نګران) دى پر

نَفۡسٍۭ بِمَا كَسَبَتۡ‌ ۚ وَجَعَلُوۡا لِلّٰهِ

هر نفس باندې سره د هغه عمل چې هغه كړى
دى (نو بل څوك د ده برابر كېدى شي؟) او دوى د

شُرَكَآءَ ؕ قُلۡ سَمُّوۡهُمۡ‌ ؕ اَمۡ تُنَبِّـُٔوۡنَهٗ

الله لپاره شريكان مقرر كړل، ته (ورته) ووايه:
تاسو د دوى نومونه (او صفتونه) ذكر كړئ، يا

بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي الۡاَرۡضِ اَمۡ بِظَاهِرٍ

تاسو هغه (الله) ته د هغه څه خبر ورکوئ چې
هغه يې په ځمکه کې نه پېژني، بلکې تاسو په

مِّنَ الۡقَوۡلِ ؕ بَلۡ زُيِّنَ لِلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

ظاهره وينا سره (تش په خولې، بې دليله دوی
شريكان كوئ) بلكې كافران شويو كسانو ته خپل

مَكۡرُهُمۡ وَصُدُّوۡا عَنِ السَّبِيۡلِ ؕ وَ

مكرونه (او دروغ) ښايسته كړی شوي دي او له
سمې لارې نه بند كړی شوي دي او

مَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ

هغه څوك چې الله يې گمراه كړي، نو د هغه لپاره
هېڅ هدايت

هَادٍ ۝۳۳ لَهُمۡ عَذَابٌ فِي الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا

وركوونكی نشته -33- شته دی د دوی لپاره عذاب
په دنيايي ژوند كې

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَقُّ ۚ وَمَا لَهُمْ

او خامخا د اخرت عذاب ډېر سخت دی، او د
دوی لپاره به د الله (له عذاب) نه

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ۝٣٤ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِیْ

هېڅ ساتونکی نه وي -34- د هغه جنت حال چې
له

وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا

متقیانو سره یې وعده شوې ده (دا دی چې) د
هغه له لاندې

الْاَنْهٰرُ ؕ اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا ؕ تِلْكَ

ولې بهېږي، د هغه مېوې همېشنۍ دي او د هغه
سیوری هم، دغه

عُقْبَى الَّذِیْنَ اتَّقَوْا ۖ وَّعُقْبَى

(جنت) د هغو کسانو انجام (او د رجوع ځای)
دی چې پرهېزګاري کوي او

الْكٰفِرِيْنَ النَّارُ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ

د کافرانو انجام اور دی -35- او هغه کسان چې
مونږ هغوی ته (له تا نه مخکې)

الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَ

کتاب ورکړی دی، هغوی په هغه (کتاب، قرآن)
باندې خوشحالېږي چې تا ته نازل کړی شوی

مِنَ الْاَحْزَابِ مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ؕ قُلْ

دی، او (د اهل کتابو) په ډلو کې ځینې هغه دي
چې د ده ځینې برخه نه مني، ته (دوی ته) ووایه:

اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ

ما ته په دې سره حکم شوی دی چې زه د الله
عبادت کوم او له هغه سره شریك ونه نیسم، خاص

بِهٖ ؕ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ﴿٣٦﴾ وَ

د هغه طرف ته بلنه کوم او خاص هم ده ته زما
ورتله دي -36- او

كَذٰلِكَ اَنۡزَلۡنٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيًّا ؕ وَلَئِنِ

همداسې مونږ دا (قرآن) نازل کړی دی، په عربۍ
ژبه حکم کوونکی او قسم دی

اتَّبَعۡتَ اَهۡوَآءَهُمۡ بَعۡدَ مَا جَآءَكَ

که ته د دوی د خواهشاتو پیروي وکړې وروسته له
دې چې تا ته علم راغی

مِنَ الۡعِلۡمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِيٍّ وَّ

(، نو) تا لپاره به د الله په مقابله کې نه هیڅ
کارساز وي او نه

ع 11

لَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾ؑ وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا رُسُلًا مِّنۡ

بچ کوونکی -37- او یقینًا یقینًا مونږ له تا نه
مخکې رسولان لیږلي وو

قَبۡلِكَ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ اَزۡوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ؕ

او مونږ دوی ته ښځې او اولادونه ورکړي وو، او
د

وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّأْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا

هېڅ رسول لپاره دا اختيار نه و چې کومه معجزه راوړي مگر

بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ ﴿۳۸﴾ يَمْحُوا

د الله په اذن (او حکم) سره۔، د هرې يوې مودې لپاره يو ليك دى -38- الله محوه

اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۚۖ وَعِنْدَهٗٓ اُمُّ

کوي هغه چې اراده يې وکړي او ثابتوي يې او له هغه سره اصل د

الْكِتٰبِ ﴿۳۹﴾ وَاِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ

کتاب دى -39- او که لازمًا مونږ تا ته ځينې له

الَّذِىْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِنَّمَا

هغه (عذاب) نه وښيو چې دوى ته يې مونږ وعده وركوو، يا خامخا مونږ تا وفات کړو، نو په تا خو

عَلَيۡكَ الۡبَلٰغُ وَ عَلَيۡنَا الۡحِسَابُ ﴿۴۰﴾ اَوَ

يواځې تبليغ كول دي او پر مونږ باندې حساب كول دي -40- ايا

لَمۡ يَرَوۡا اَنَّا نَاۡتِى الۡاَرۡضَ نَنۡقُصُهَا

دوى نه ګوري چې يقينًا مونږ ځمكې ته راځو چې د هغې

مِنۡ اَطۡرَافِهَا‌ ؕ وَاللّٰهُ يَحۡكُمُ لَا

له اطرافو نه يې كموو او الله حكم كوي، هيڅوك

مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهٖ‌ ؕ وَهُوَ سَرِيۡعُ

د هغه د حكم رد كوونكى نشته او هغه ډېر ژر

الۡحِسَابِ ﴿۴۱﴾ وَقَدۡ مَكَرَ الَّذِيۡنَ مِنۡ

حساب كوونكى دى -41- او تحقيق هغو (كافرانو) مكر كړى و چې له دې (كافرانو) نه

قَبۡلِهِمۡ فَلِلّٰهِ الۡمَكۡرُ جَمِيۡعًا ؕ يَعۡلَمُ

مخکې وو، نو خاص الله لره دي پټ تدبیرونه ټول، هغه

مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٍ ؕ وَ سَيَعۡلَمُ

پوهېږي په هغه څه چې هر نفس يې کوي، او کافران به ژر پوه

الۡكُفّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى الدَّارِ ﴿۴۲﴾ وَيَقُوۡلُ

شي چې د چا لپاره د اخرت ښه انجام دی -42- او کافران

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَسۡتَ مُرۡسَلًا ؕ قُلۡ

شوي خلق وايي: ته رسول نه يې، ته (ورته) ووايه:

كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيۡدًۢا بَيۡنِىۡ وَبَيۡنَكُمۡ ۙ وَ

زما په مينځ کې او ستاسو په مينځ کې د ګواه په ډول الله ښه کافي دی او هغه

ع
12

مَنۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡكِتٰبِ ۝٤٣

خوك (هم) چې له هغه سره د كتاب علم دى -43-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ اِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ

الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې مونږ تا ته نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته

النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ ۙ بِاِذۡنِ

خلق له تیارو نه رڼا ته وباسې د دوی د رب په اذن سره،

رَبِّهِمۡ اِلٰى صِرَاطِ الۡعَزِيۡزِ

د ډېر غالب، ښه ستایل شوي ذات

الۡحَمِيۡدِ ۙ﴿۱﴾ اللّٰهِ الَّذِىۡ لَهٗ مَا فِى

لاري ته -1- چې الله دی، هغه چې خاص د هغه لپاره دي

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ وَوَيْلٌ

څه چې په اسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي او

لِّلْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ

کافرانو ته له ډېر سخت عذاب نه

شَدِيْدِنِ ۝٢ الَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيٰوةَ

هلاکت دی -2- هغه کسان چې

الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ

دنیایي ژوند په اخرت باندې غوره ګڼي او د

سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ؕ اُولٰٓئِكَ

الله له لارې نه بندول کوي او په دې کې

کوږوالی لټوي، دغه کسان

فِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ۝٣ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ

په ډېرې لرې ګمراهۍ کې دي -3- او مونږ هېڅ يو

رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ لِيُبَيِّنَ

رسول نه دی لېږلی مګر د خپل قوم په ژبه، د دې لپاره چې

لَهُمْ ؕ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ

دوی ته بيان (او وضاحت) وکړي، بيا نو الله ګمراه کوي هغه څوك چې يې وغواړي او هدايت

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

ورکوي هغه چا ته چې يې وغواړي، او هم دی ښه غالب،

الْحَكِيْمُ ۝٤ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى

ښه حکمت والا دی -4- او يقينًا يقينًا مونږ موسٰی

بِاٰيٰتِنَآ اَنْ اَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ

په خپلو معجزو سره لیږلی و چې خپل قوم له

الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ

تیارو نه رڼا ته راوباسه او دوی ته د الله د ورځو
یادونه وکړه،

اللّٰهِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ

بېشکه په دې کې خامخا د هر ښه صبر کوونکي،
ډېر شکر کوونکي

شَكُوْرٍ ۝٥ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ

لپاره نښې دي -5- او کله چې موسیٰ خپل قوم ته
وویل:

اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ

تاسو د الله هغه نعمت رایاد کړئ چې پر تاسو
باندې شوی دی، کله

اَنۡجٰىكُمۡ مِّنۡ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ

چې يې تاسو له اٰلِ فرعون نه خلاص کړئ چې

يَسُوۡمُوۡنَكُمۡ سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ وَ

هغوی به تاسو ته ډېر سخت عذاب دررساوه او

يُذَبِّحُوۡنَ اَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُوۡنَ

ستاسو زامن به يې حلالول او ستاسو ښځې (لوڼه)

نِسَآءَكُمۡ‌ؕ وَفِىۡ ذٰلِكُمۡ بَلَاۤءٌ مِّنۡ

به يې ژوندۍ پرېښودلې او په دې کې ستاسو د رب له جانبه ډېر

ع 13

رَّبِّكُمۡ عَظِيۡمٌ ؕ ۶ وَاِذۡ تَاَذَّنَ رَبُّكُمۡ

لوی ازمېښت و -6- او کله چې ستاسو رب اعلان وکړ

لَىِٕنۡ شَكَرۡتُمۡ لَاَزِيۡدَنَّكُمۡ وَلَىِٕنۡ

چې قسم دی که تاسو شکر وباسئ (، نو) زه به
خامخا هرومرو تاسو ته اضافه وکړم او قسم دی

كَفَرۡتُمۡ اِنَّ عَذَابِىۡ لَشَدِيۡدٌ ۝٧ وَقَالَ

که تاسو ناشکري وکړئ، نو بېشکه زما عذاب
خامخا ډېر سخت دی -7- او موسٰی وويل:

مُوۡسٰۤى اِنۡ تَكۡفُرُوۡۤا اَنۡتُمۡ وَمَنۡ فِى

که کافران شئ تاسو او هغه څوك چې په

الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِىٌّ

ځمکه کې دي، ټول، نو بېشکه الله خامخا ډېر بې
پروا، ډېر

حَمِيۡدٌ ۝٨ اَلَمۡ يَاۡتِكُمۡ نَبَؤُا الَّذِيۡنَ

ستايل شوی دی -8- ايا تاسو ته د هغو خلقو خبر
نه دی راغلی چې

مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّ عَادٍ وَّ ثَمُوْدَ ۬ۛ

له تاسو نه مخکې وو، چې د نوح قوم او عاديان او ثموديان وو

وَ الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۛؕ لَا يَعْلَمُهُمْ

او هغه کسان چې له دوی نه پس وو، چې يواځې

اِلَّا اللّٰهُ ؕ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

الله پر هغوی عالم دی، دوی ته خپلو رسولانو ښکاره دليلونه راوړي وو، نو

فَرَدُّوْۤا اَيْدِيَهُمْ فِيْۤ اَفْوَاهِهِمْ وَ قَالُوْۤا

دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول او ويې ويل:

اِنَّا كَفَرْنَا بِمَاۤ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ وَ اِنَّا لَفِيْ

بېشکه مونږ کافران شوي يو په هغه څه چې تاسو په هغه سره رالېږل شوي يئ او بېشکه

شَكٍّ مِّمَّا تَدۡعُوۡنَنَاۤ اِلَيۡهِ

مونږ يقينًا د هغه څه په هكله چې تاسو مونږ هغه ته بلئ په اضطراب اچوونكي

مُرِيۡبٍ ۝٩ قَالَتۡ رُسُلُهُمۡ اَفِى اللّٰهِ شَكٌّ

شك كې يو -9- د دوى رسولانو وويل: ايا د الله په باره كې شك دى،

فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ يَدۡعُوۡكُمۡ

چې د اسمانونو او ځمكې پيدا كوونكى دى؟ هغه تاسو رابلي،

لِيَغۡفِرَ لَكُمۡ مِّنۡ ذُنُوۡبِكُمۡ وَ

د دې لپاره چې هغه تاسو لپاره ستاسو څه گناهونه وبخښي او

يُؤَخِّرَكُمۡ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ قَالُوۡۤا اِنۡ

تاسو مقررې نېټې ته وروسته كړي-، دوى وويل: نه يئ

اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ؕ تُرِيْدُوْنَ اَنْ

تاسو مګر زمونږ په شان بشر، تاسو غواړئ چې
مونږ له هغه

تَصُدُّوْنَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا

څه نه منع کړئ چې زمونږ پلرونو يې عبادت
کاوه، نو تاسو مونږ ته

فَاْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ⑩ قَالَتْ لَهُمْ

ښکاره دليل (معجزه) راوړئ -10- دوی ته خپلو

رُسُلُهُمْ اِنْ نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَ

رسولانو وويل: مونږ نه يو مګر ستاسو په شان
بشر، او

لٰكِنَّ اللّٰهَ يَمُنُّ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ

لېکن الله په خپلو بنده ګانو کې چې په چا
وغواړي

عِبَادِهٖ ؕ وَمَا كَانَ لَنَآ اَنۡ نَّاۡتِيَكُمۡ

احسان کوي او مونږ ته له سره اختيار نشته چې تاسو ته کوم دليل

بِسُلۡطٰنٍ اِلَّا بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ

(معجزه) راوړو مګر د الله په حکم سره۔ او لازم ده چې خاص په الله

فَلۡيَتَوَكَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ۝١١ وَمَا لَنَآ اَلَّا

باندې مومنان توکل وکړي -11- او مونږ ته څه عذر دی چې

نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ وَقَدۡ هَدٰٮنَا سُبُلَنَا ؕ

مونږ به په الله توکل نه کوو، حال دا چې هغه مونږ ته د خپلو لارو هدايت کړی دی

وَلَنَصۡبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيۡتُمُوۡنَا ؕ وَعَلَى

او خامخا هرومرو به مونږ په هغو تکليفونو صبر کوو چې تاسو يې مونږ ته راکوئ، او لازم ده چې

ع
14

اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَقَالَ

خاص په الله باندې توکل کوونکي توکل وکړي - 12- او

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ

کافران شويو خلقو خپلو رسولانو ته وويل:

لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ

خامخا هرومرو به مونږ تاسو له خپلې ځمکې نه وباسو، يا به خامخا هرومرو تاسو

فِيْ مِلَّتِنَا ؕ فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ

زمونږ دين ته راګرځئ، نو دغو (رسولانو) ته خپل رب وحي وکړه چې خامخا ضرور

لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ

به مونږ ظالمان هلاکوو -13- او خامخا ضرور به مونږ له دوی نه پس تاسو په دغه ځمکه کې

الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ

واوسوو، دغه (د ظالمانو هلاکول او د نېکانو اوسول حق دي) د هغه چا لپاره چې زما په

خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ ﴿١٤﴾ وَ

وړاندې له ودرېدلو نه وېرېږي اوزما له وعيد نه وېرېږي -14- او

اسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ

هغوی (رسولانو) فتح وغوښته او هر متکبر سرکښه

عَنِيْدٍ ﴿١٥﴾ مِّنْ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى

نامراده شو -15- چې د هغه په وړاندې جهنم دی او په هغه به د وینو

مِنْ مَّآءٍ صَدِيْدٍ ﴿١٦﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا

زويو اوبه ښبولی شي -16- چې هغه به په تکليف سره

يَكَادُ يُسِيۡغُهٗ وَيَاۡتِيۡهِ الۡمَوۡتُ مِنۡ كُلِّ

گوټ گوټ څښبي او نژدې به نه وي چې هغه تېرې کړي او ده ته به له هره ځایه مرگ راشي،

مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنۡ وَّرَآئِهٖ

حال دا چې هغه به مړ کېدونکی نه وي او د ده شا او مخې ته به ډېر

عَذَابٌ غَلِيۡظٌ ﴿۱۷﴾ مَثَلُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

سخت عذاب وي -17- حال د هغو کسانو چې په

بِرَبِّهِمۡ اَعۡمَالُهُمۡ كَرَمَادِ ۨاشۡتَدَّتۡ بِهِ

خپل رب سره کافران شوي دي، د دوی عملونه د هغه ایرو په شان دي چې

الرِّيۡحُ فِىۡ يَوۡمٍ عَاصِفٍ ؕ لَا يَقۡدِرُوۡنَ

په سخته بادي ورځ کې پرې تیز باد راوالوځي، دوی به له خپلو کړو

مِمَّا كَسَبُوْا عَلٰى شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

عملونو نه په هيڅ شي قادره نشيـ، همدغه ډېره

الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۸﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ

لرې ګمراهي ده -18- ايا ته نه وينې چې بېشکه
الله

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ

اسمانونه او ځمکه په حقه سره پيدا کړي دي،

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَ يَاْتِ بِخَلْقٍ

که هغه وغواړي (، نو) تاسو به ختم کړي او نوي

جَدِيْدٍ ﴿۱۹﴾ وَّ مَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

خلق به راولي -19- او دغه (کار) په الله باندې

بِعَزِيۡزٍ ۝٢٠ وَبَرَزُوۡا لِلّٰهِ جَمِيۡعًا فَقَالَ

هيڅ ګران نه دی -20- او دوی به ټول الله ته ظاهر شي،

الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡۤا اِنَّا كُنَّا

نو کمزوران به هغو کسانو ته ووايي چې کبر او لويي به يې کوله: بېشکه مونږ

لَكُمۡ تَبَعًا فَهَلۡ اَنۡتُمۡ مُّغۡنُوۡنَ عَنَّا

ستاسو پيروي کوونکي وو، نو ايا تاسو زمونږ څخه

مِنۡ عَذَابِ اللّٰهِ مِنۡ شَىۡءٍ ؕ قَالُوۡا لَوۡ

د الله له عذاب نه څه شی لرې کوونکي يئ؟ هغوی به ووايي: که

هَدٰٮنَا اللّٰهُ لَهَدَيۡنٰكُمۡ ؕ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ

الله مونږ ته هدايت کړی وی (نو) مونږ به خامخا تاسو

اَجَزِعۡنَاۤ اَمۡ صَبَرۡنَا مَا لَنَا مِنۡ

ته لاړ ښوونه کړې وی، پر موږ برابر دي که موږ شور او فریاد وکړو، یا موږ صبر وکړو، زموږ لپاره

ع 15

مَّحِیۡصٍ ﴿۲۱﴾ وَ قَالَ الشَّیۡطٰنُ لَمَّا قُضِیَ

هېڅ د خلاصي ځای نشته -21- او کله چې د خبرې فیصله وشي، شیطان به ووايي:

الۡاَمۡرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَکُمۡ وَعۡدَ الۡحَقِّ وَ

بېشکه الله له تاسو سره وعده کړې وه حقه وعده

وَعَدۡتُّکُمۡ فَاَخۡلَفۡتُکُمۡ ؕ وَ مَا کَانَ لِیَ

او ما له تاسو سره وعده کړې وه، نو ما له تاسو سره خلاف وکړو، او زما لپاره پر

عَلَیۡکُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍ اِلَّاۤ اَنۡ دَعَوۡتُکُمۡ

تاسو باندې هېڅ غلبه نه وه غیر له دې نه چې ما تاسو راوبللئ،

فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْٓا

نو تاسو زما بلنه قبوله كړه (اوس) نو تاسو ما مه ملامتوئ او (بلكې)

اَنْفُسَكُمْ ؕ مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ

خپل ځانونه ملامته كړئ، نه زه ستاسو فريادرس يم او نه

اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ؕ اِنِّيْ كَفَرْتُ بِمَآ

تاسو زما فرياد رسان يئ، بېشكه زه كافر (او بېزاره) شوى يم په هغه څه چې تاسو زه

اَشْرَكْتُمُوْنِ مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ

(له الله سره) شريك كړى وم له دې نه مخكې۔، بېشكه دا ظالمان چې دي د هغوى لپاره ډېر

لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٢﴾ وَاُدْخِلَ الَّذِيْنَ

دردوونكى عذاب دى -22- او هغه كسان به چې

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ

ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې كړي دي داسې جنتونو ته داخل كړی شي

تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، په دې حال كې چې دوی به په هغو كې تل ترتله وي،

فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ؕ تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا

د خپل رب په حكم سره- او د دوی پيشكشي به په دغو (جنتونو)

سَلٰمٌ ﴿٢٣﴾ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ

كې سلام وي -23- ايا ته نه وينې چې الله څنگه

مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ

يو مثال بيانوي: پاكيزه كلمه (چې لا اله الا الله ده) د هغې پاكيزه ونې په شان ده

أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَّفَرْعُهَا فِي

چې د هغې بېخ کلك وي (په ځمکه کې) او د هغې څانګې په

السَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍۭ بِإِذْنِ

اسمان کې وي -24- خپله مېوه د خپل رب په حکم سره هر

رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ

وخت ورکوي۔ او الله د خلقو لپاره مثالونه بيانوي، د دې لپاره چې

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ

دوی نصیحت واخلي -25- او د خبيثې کلمې (چې د کفر کلمه ده)

خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ

مثال د خبيثې (بدبويې) ونې دی چې د ځمکې له

مِنۡ فَوۡقِ الۡاَرۡضِ مَا لَهَا مِنۡ

پاسه نه وېستل شوې وي، چې د هغې لپاره هېڅ قدر

قَرَارٍ ﴿۲۶﴾ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

قرار نه وي -26- الله هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی

بِالۡقَوۡلِ الثَّابِتِ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَ

په ثابته خبره باندې مضبوطوي، په دنیایي ژوند کې او

فِى الۡاٰخِرَةِ‌ ۚ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيۡنَ ‌ۙ وَ

په اخرت کې او الله ظالمان گمراه کوي او

ع 16

يَفۡعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ﴿۲۷﴾ اَلَمۡ تَرَ اِلَى

الله چې څه وغواړي هغه کوي -27- ايا تا نه دي کتلي

ٱلَّذِينَ بَدَّلُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ كُفْرًا وَّ

هغو کسانو ته چې په ناشکرۍ سره يې د الله نعمت بدل کړ او

أَحَلُّوا۟ قَوْمَهُمْ دَارَ ٱلْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ

خپل قوم يې د هلاکت کور ته راکوز کړو -28- چې جهنم دی،

يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ ٱلْقَرَارُ ﴿٢٩﴾ وَجَعَلُوا۟

دوی به په هغه کې داخلېږي او هغه داستوګنې بد ځای دی -29- او دوی د

لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّوا۟ عَن سَبِيلِهِۦ ۗ قُلْ

الله لپاره شریکان مقرر کړل، د دې لپاره چې د هغه له لارې نه (خلق) ګمراه کړي، ته (ورته)

تَمَتَّعُوا۟ فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى

ووایه: تاسو نفع واخلئ، پس بېشکه ستاسو بېرته ورتله (د دوزخ)

النَّارِ ۝٣٠ قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

اور ته دي -30- ته زما هغو بنده گانو ته ووايه چې
ايمان يې راوړی دی

يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوْا مِمَّا

چې لمونځ دې قايموي او له هغه مال نه دې چې
مونږ دوی ته

رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ اَنْ

ورکړی دی په پټه او ښکاره انفاق کوي، مخکې له
دې نه

يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ۝٣١ اَللّٰهُ

چې هغه ورځ راشي چې په هغې کې نه اخيستل
خرڅول شته او نه دوستي -31- الله

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَ

هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي
دي او

اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخۡرَجَ بِهٖ

له بره نه يې اوبه نازلې کړې دي، پس په هغو سره يې

مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزۡقًا لَّكُمۡ ۚ وَسَخَّرَ

له مېوو نه تاسو لپاره رزق راويستلی دی او تاسو

لَكُمُ الۡفُلۡكَ لِتَجۡرِيَ فِي الۡبَحۡرِ

لپاره يې بېړۍ مسخرې کړې دي، د دې لپاره چې هغه (بېړۍ) د هغه په حکم سره په سمندر کې

بِاَمۡرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الۡاَنۡهٰرَ ۚ ﴿٣٢﴾ وَ

روانې وي، او تاسو لپاره يې نهرونه مسخر کړې دي -32- او

سَخَّرَ لَكُمُ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ

تاسو لپاره يې لمر او سپوږمۍ په کار لګولي دي،

دَآىِٕبَيۡنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيۡلَ وَ

په داسې حال کې چې د قانون مطابق ګرځي او تاسو لپاره يې شپه او

النَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَاٰتٰىكُمۡ مِّنۡ كُلِّ مَا

ورځ په کار لګولي دي -33- او تاسو ته يې له هغو څيزونو نه

سَاَلۡتُمُوۡهُ ؕ وَاِنۡ تَعُدُّوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ لَا

چې تاسو هغه غوښتي، ځينې درکړي دي او که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ (نو)

تُحۡصُوۡهَا ؕ اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَظَلُوۡمٌ

تاسو به هغه ونشمېرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر

ع 17

كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾ وَاِذۡ قَالَ اِبۡرٰهِيۡمُ رَبِّ اجۡعَلۡ

ناشکره دی -34- او (ياد کړه) هغه وخت چې ابراهيم وويل: ای زما ربه! ته دا ښار

هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا وَّ اجْنُبْنِيْ وَ بَنِيَّ اَنْ

د امن والا وگرځوه او ما او زما زامن د بتانو له

نَّعْبُدَ الْاَصْنَامَ ﴿٣٥﴾ رَبِّ اِنَّهُنَّ اَضْلَلْنَ

عبادت نه لرې وساته -35- بېشکه دوی (بتانو) له
خلقو څخه

كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ ۚ فَمَنْ تَبِعَنِيْ فَاِنَّهٗ

ډېر زيات (خلق) گمراه کړي دي، نو چا چې زما
پيروي وکړه، نو بېشکه

مِنِّيْ ۚ وَمَنْ عَصَانِيْ فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ

هغه زما څخه دی او چا چې زما نافرماني وکړه،
نو بېشکه ته ډېر بخښونکی، بې حده

رَّحِيْمٌ ﴿٣٦﴾ رَبَّنَآ اِنِّيْٓ اَسْكَنْتُ مِنْ

رحم کوونکی يې -36- ای زمونږه ربه! بېشکه ما
واوسول خپل ځيني

ذُرِّيَّتِىْ بِوَادٍ غَيْرِ ذِىْ زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ

بچي په داسې ناو (دره) کې چې د فصل والا نه دی،

الْمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

ستا د عزتمن کور په خوا کې، ای زمونږ ربه! د دې لپاره چې دوی لمونځ قايم کړي،

فَاجْعَلْ اَفْـِٕدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِىْٓ

نو ته د ځينو خلقو زړونه راوګرځوه، چې په مينې سره

اِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ

د دوی خوا ته راځغلي او ته دوی ته له مېوو ځني روزي ورکړه، د دې لپاره

لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ ﴿٣٧﴾ رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعْلَمُ

چې دوی شکر وباسي -37- ای زمونږ ربه! بېشکه ته عالم يې

مَا نُخۡفِيۡ وَ مَا نُعۡلِنُ ؕ وَ مَا يَخۡفٰى عَلَى

په هغه څه چې مونږ يې پټوو او په هغه څه چې مونږ يې ښکاره کوو او په

اللّٰهِ مِنۡ شَيۡءٍ فِي الۡاَرۡضِ وَلَا فِي

الله باندې هيڅ شی نه پټېږي، په ځمکه کې او نه په

السَّمَآءِ ﴿۳۸﴾ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِيۡ وَهَبَ لِيۡ

اسمان کې -38- ټوله ثنا خاص د هغه الله لپاره ده چې ما ته يې

عَلَى الۡكِبَرِ اِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ ؕ اِنَّ

سره له زوړوالي نه اسمعيل او اسحق رابخښلي دي، بېشکه زما رب خامخا د

رَبِّيۡ لَسَمِيۡعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۹﴾ رَبِّ اجۡعَلۡنِيۡ

دعا ښه اورېدونکی دی -39- ای زما ربه! ته ما د

مُقِيۡمَ الصَّلٰوةِ وَمِنۡ ذُرِّيَّتِىۡ ‌ۖ رَبَّنَا وَ

لمونځ همېشه قايموونکی وګرځوې او زما په اولاد کې هم، ای زما ربه! او

تَقَبَّلۡ دُعَآءِ ۝٤٠ رَبَّنَا اغۡفِرۡ لِىۡ وَ

ته زما دعا قبوله کړې -40- ای زمونږ ربه! ته ما وبخښې او

لِوَالِدَىَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ يَوۡمَ يَقُوۡمُ

زما مور او پلار او مومنان په هغې ورځ چې

ع
18

الۡحِسَابُ ۝٤١ وَلَا تَحۡسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا

حساب قايمېږي -41- او ته په الله باندې له سره (دا) ګمان مه کوه چې هغه غافله دی

عَمَّا يَعۡمَلُ الظّٰلِمُوۡنَ ‌ؕ اِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمۡ

له هغو کارونو نه چې ظالمان يې کوي، بېشکه همدا خبره ده چې هغه،

لِيَوۡمٍ تَشۡخَصُ فِيۡهِ

دوى هغې ورځې ته وروسته كوي چې په هغې
كې به سترګې

الۡاَبۡصَارُ ۝٤٢ مُهۡطِعِيۡنَ مُقۡنِعِيۡ

خلاصې پاتې شي -42- چې منډې وهونكي به
وي، د

رُءُوۡسِهِمۡ لَا يَرۡتَدُّ اِلَيۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡ ۚ وَ

خپلو سرونو اوچت نيوونكي به وي، دوى ته به د
خپلو سترګو رپول بېرته نه راګرځي، او د دوى

اَفۡـِٕدَتُهُمۡ هَوَآءٌ ۝٤٣ وَاَنۡذِرِ النَّاسَ

زړونه به (له عقل او فهم نه) تش وي -43- او ته
خلق له هغې

يَوۡمَ يَاۡتِيۡهِمُ الۡعَذَابُ فَيَقُوۡلُ

ورځې نه ووېروه چې دوى ته به (په هغې كې)
عذاب راشي، نو وايي به

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رَبَّنَآ اَخِّرْنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ

هغه کسان چې ظلم يې کړی دی۔: ای زمونږ ربه! ته مونږ تر

قَرِيْبٍۙ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَ نَتَّبِعِ

نږدې نېټې پورې وروسته کړه (مهلت راکړه) ستا بلنه به قبوله کړو

الرُّسُلَ ؕ اَوَلَمْ تَكُوْنُوْٓا اَقْسَمْتُمْ مِّنْ

او د رسولانو پيروي به وکړو، (الله به ووايي:) ايا تاسو نه وئ چې مخکې له دې نه به مو قسم کاوه

قَبْلُ مَا لَكُمْ مِّنْ زَوَالٍۙ ﴿٤٤﴾ وَّ سَكَنْتُمْ

چې تاسو لپاره هېڅ زوال نشته -44- او تاسو د

فِيْ مَسٰكِنِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَ

هغو کسانو په کورونو کې اوسېدلي وئ چې په خپلو ځانونو به يې ظلم کاوه او

تَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَ

تاسو ته (دا خبره) ښه ښکاره شوې وه چې مونږ
له هغوی سره څنګه کار کړی و، او تاسو ته

ضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدْ مَكَرُوا

مونږ مثالونه بيان کړي وو -45- او يقيناً هغوی
خپل مکر

مَكْرَهُمْ وَعِنْدَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ ؕ وَإِنْ

(او فريب) ښه په کوشش سره وکړ، حال دا چې
د دوی

كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ

مکر الله سره دی، او د دوی مکر داسې نه و چې
د هغه په وجه به

الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ

غرونه زايل شي -46- نو ته هيڅکله هم په الله
باندې له

وَعۡدِهٖ رُسُلَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيۡزٌ ذُو

خپلو رسولانو سره د وعدې خلاف کوونکي ګمان
مه کوه، بېشکه الله ډېر غالب، (او)

انۡتِقَامٍ ﴿۴۷﴾ يَوۡمَ تُبَدَّلُ الۡاَرۡضُ غَيۡرَ

انتقام والا دی -47- (یاده کړه) هغه ورځ چې
دغه ځمکه به په بلې

الۡاَرۡضِ وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوۡا لِلّٰهِ

ځمکې سره بدله کړی شي او اسمانونه (هم) او
دوی (ټول) به خاص الله ته چې یو دی،

الۡوَاحِدِ الۡقَهَّارِ ﴿۴۸﴾ وَتَرَى الۡمُجۡرِمِيۡنَ

ډېر غالب دی، مخامخ ودرېږي -48- او ته به په
دغې ورځ کې مجرمان وینې چې

يَوۡمَئِذٍ مُّقَرَّنِيۡنَ فِى

یو له بل سره به زولنو کې

اَلۡاَصۡفَادِ ﴿۴۹﴾ سَرَابِيۡلُهُمۡ مِّنۡ قَطِرَانٍ

تړلی شوي وي -49- د دوی قميصونه به د نانزړو

وَّتَغۡشٰى وُجُوۡهَهُمُ النَّارُ ﴿۵۰﴾ لِيَجۡزِىَ

وي او د دوی مخونه به اور رالاندې (او پټ) کړي -50- د دې لپاره

اللّٰهُ كُلَّ نَفۡسٍ مَّا كَسَبَتۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چې الله بدله ورکړي هر نفس ته د هغه څه چې ده کړي دي، بېشکه الله

سَرِيۡعُ الۡحِسَابِ ﴿۵۱﴾ هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ

ډېر ژر حساب والا دی -51- دا (قرآن) د خلقو لپاره پيغام دی او د دې لپاره چې په ده سره خلق

وَلِيُنۡذَرُوۡا بِهٖ وَلِيَعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ

ووېرول شي او د دې لپاره چې دوی په دې پوه شي چې يقيناً همدا خبره ده چې هغه (الله) واحد

ع
19

وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴿٥٢﴾

(بي شريكه) حق معبود دی او د دي لپاره چي د
خالصو عقلونو خاوندان نصيحت واخلي -52-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

الٓرٰ ۚ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ وَقُرۡاٰنٍ

الف، لام، را، دغه د کتاب او د واضح قرآن

مُّبِيۡنٍ ۝١

ايتونه دي -1-

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَوۡ كَانُوۡا

ډېر ځلې به ارزو کوي هغه کسان چې کافران شوي دي چې کاش چې دوی

مُسۡلِمِيۡنَ ۝٢ ذَرۡهُمۡ يَاۡكُلُوۡا وَيَتَمَتَّعُوۡا

مسلمانان وی -2- ته دوی پرېږده چې خوري او

وَيُلۡهِهِمُ الۡاَمَلُ فَسَوۡفَ

فایده اخلي او امېدونه يې غافله کړي، نو ژر ده

يَعۡلَمُوۡنَ ۝٣ وَمَاۤ اَهۡلَكۡنَا مِنۡ قَرۡيَةٍ اِلَّا

چې دوی به پوه شي -3- او مونږه هېڅ يو کلی نه دی هلاك کړی مګر

وَلَهَا كِتَابٌ مَّعۡلُوۡمٌ ۝٤ مَا تَسۡبِقُ مِنۡ

په دې حال کې چې د هغه به لیك (مقرر وخت) معلوم و -4- هېڅ امت له خپل وخت نه

أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَ مَا يَسْتَأْخِرُوْنَ ۝٥ وَ

نه مخكې كېږي او نه وروسته كېږي -5- او

قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الَّذِىْ نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

دوى وويل: اى هغه كسه چې په هغه باندې ذكر
نازل كړى شوى دى!

اِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ ۝٦ لَوْ مَا تَأْتِيْنَا

يقينًا ته خو ليونى يې -6- ولې ته مونږ

بِالْمَلٰٓئِكَةِ اِنْ كُنْتَ مِنَ

ته ملايك نه راولې! كه چېرې ته له

الصّٰدِقِيْنَ ۝٧ مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ اِلَّا

رښتينو څخه يې -7- (اى خلقو واورئ!) مونږ
ملايك نه نازلوو مگر

بِالۡحَقِّ وَ مَا كَانُوۡۤا اِذًا مُّنۡظَرِيۡنَ ۝٨ اِنَّا

په حقه سره او دوی به په دغه وخت كې مهلت وركړی شوي نه وي -8- بېشكه

نَحۡنُ نَزَّلۡنَا الذِّكۡرَ وَ اِنَّا لَهٗ

هُم مونږ پخپله ذكر نازل كړی دی او بېشكه مونږ د ده خامخا

لَحٰفِظُوۡنَ ۝٩ وَ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ

ساتونكي يو -9- او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخكې د ړومبنيو خلقو په ډلو كې (رسولان)

فِىۡ شِيَعِ الۡاَوَّلِيۡنَ ۝١٠ وَ مَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ

لېږلي وو -10- او دوی ته به هېڅ يو

رَّسُوۡلٍ اِلَّا كَانُوۡا بِهٖ

رسول نه راته مگر دوی به په هغه

يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۱۱﴾ كَذٰلِكَ نَسۡلُكُهٗ فِىۡ

پوري مسخرې کولې -11- همدارنګه مونږ دا خبره د مجرمانو په

قُلُوۡبِ الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۱۲﴾ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ وَ

زړونو کې ننباسو -12- دوی په ده ایمان نه راوړي او

قَدۡ خَلَتۡ سُنَّةُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۱۳﴾ وَلَوۡ

یقینًا د پخوانیو (کافرو) طریقه تېره شوې ده -13- او که

فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ

مونږ په دوی باندې له اسمان نه کومه دروازه پرانستلې وی،

فَظَلُّوۡا فِيۡهِ يَعۡرُجُوۡنَ ﴿۱۴﴾ لَقَالُوۡۤا اِنَّمَا

بیا دوی په هغې کې تل ختلی -14- دوی به خامخا ویل چې

سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ

همدا خبره ده چې زمونږ سترګې تړل شوې دي، بلکې مونږ

ع
1

مَّسْحُوْرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي

جادو کړی شوي خلق يو -15- او يقينًا يقينًا مونږ په

السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّ زَيَّنّٰهَا

اسمان کې برجونه پيدا کړي دي او مونږ هغه د کتونکو لپاره

لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ

ښايسته کړی دی -16- او مونږ هغه ساتلی دی له هر

شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿۱۷﴾ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ

شيطان ويشتل شوي نه -17- مګر هغه (شيطان) چې اوريدل

السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۸﴾ وَ

شوي خبره غلا کړي، نو په هغه پسې شي يوه ښکاره شعله -18- او

الْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَ اَلْقَيْنَا فِيْهَا

ځمکه، مونږ هغه غځولې ده او مونږ په هغې کې

رَوَاسِيَ وَ اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ

غرونه غورځولي دي او مونږ په هغې کې هر اندازه کړی شوی شی

مَّوْزُوْنٍ ﴿۱۹﴾ وَ جَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا

زرغون کړی دی -19- او مونږ تاسو لپاره په هغې کې

مَعَايِشَ وَ مَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ

معيشتونه پيدا کړي دي او هغه هم چې تاسو هغه ته

بِرٰزِقِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا

روزي ورکوونکي نه يئ -20- او نشته هېڅ څيز مګر زمونږ سره

خَزَآئِنُهٗ ۫ وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ اِلَّا بِقَدَرٍ

د هغه خزانې دي او مونږ هغه نه نازلوو مګر په

مَّعْلُوْمٍ ﴿٢١﴾ وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ

معلومې اندازې سره -21- او مونږ هواګانې لېږلي دي،

فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

چې بلاربوونکې دي، پس مونږ له بره اوبه نازلې کړې،

فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ ۚ وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ

نو مونږ هغه په تاسو وڅښولې او تاسو دغو (اوبو) لره

بِخٰزِنِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ

خزانه کوونکي نه يئ -22- او بېشکه مونږ، يقيناً همدا مونږ ژوندي کول کوو او مرگ ورکوو

وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا

او همدا مونږ وارثان يو -23- او يقيناً يقيناً مونږ په تاسو کې

الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا

مخکې کېدونکي پېژندلي دي او يقيناً يقيناً مونږ وروسته

الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ﴿۲۴﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ هُوَ

کېدونکي (هم) پېژندلي دي -24- او بېشکه ستا رب، هغه به دوی

ع 2

يَحْشُرُهُمْ ؕ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۵﴾ؑ وَ

راټولوي، بېشکه هغه ښه حکمت والا، ښه عالِم دی -25- او

لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ

يقينًا يقينًا مونږه انسان پيدا کړی دی له کړنګېدونکي وچې ختې نه، چې له توري سخا

مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٦﴾ وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ

کړی شوې ختې څنې وه -26- او جانّ (پلار د پېريانو) مونږ هغه له ده نه

مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ وَاِذْ

مخکې د بې لوګي اور څخه پيدا کړی دی -27- او کله چې

قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا

ستا رب وويل: بېشکه زه د يو بشر پېدا کوونکی يم د

مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ

کړنګېدونکي وچې ختې نه چې له توري سخا کړی

مَّسۡنُوۡنٍ ﴿۲۸﴾ فَاِذَا سَوَّیۡتُهٗ وَ نَفَخۡتُ

شوې ختې ځنې ده -28- نو کله چې زه هغه برابر کړم او په هغه کې

فِیۡهِ مِنۡ رُّوۡحِیۡ فَقَعُوۡا لَهٗ

له خپله روح پُو کړم، نو تاسو هغه ته پرېوځئ،

سٰجِدِیۡنَ ﴿۲۹﴾ فَسَجَدَ الۡمَلٰٓئِکَةُ کُلُّهُمۡ

سجده کوونکي -29- نو ملايکو ټولو عامو

اَجۡمَعُوۡنَ ﴿۳۰﴾ اِلَّاۤ اِبۡلِیۡسَ ؕ اَبٰۤی اَنۡ

سجده وکړه -30- له ابليس نه غير، هغه له دې نه انکار وکړ

یَّکُوۡنَ مَعَ السّٰجِدِیۡنَ ﴿۳۱﴾ قَالَ

چې له سجده کوونکو سره ملګری شي -31- ويې ويل:

يٰٓاِبۡلِيۡسُ مَا لَكَ اَلَّا تَكُوۡنَ مَعَ

اى ابليسه! تا ته څه عذر دى چې ته له سجده کوونکو سره نه

السّٰجِدِيۡنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ لَمۡ اَكُنۡ لِّاَسۡجُدَ

ملګرى کېږې؟ -32- هغه وويل: زه داسې نه يم چې

لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهٗ مِنۡ صَلۡصَالٍ مِّنۡ حَمَاٍ

بشر ته سجده وکړم چې تا هغه پيدا کړى دى له کړنګېدونکو وچو کودرو نه، چې له تورې سخا

مَّسۡنُوۡنٍ ﴿۳۳﴾ قَالَ فَاخۡرُجۡ مِنۡهَا فَاِنَّكَ

شوې ختې څنې و -33- وفرمايل: (الله) نو ته ووځه له دې ځاى نه، پس يقينًا ته

رَجِيۡمٌ ۙ﴿۳۴﴾ وَّاِنَّ عَلَيۡكَ اللَّعۡنَةَ اِلٰى يَوۡمِ

رټل شوى يې -34- او بېشکه په تا باندې د قيامت د ورځې پورې

الدِّيۡنِ ﴿٣٥﴾ قَالَ رَبِّ فَاَنۡظِرۡنِیۡۤ اِلٰی یَوۡمِ

لعنت دی -35- هغه وویل: ای زما ربه! نو ته ما ته د هغې ورځې پورې مهلت راکړه چې خلق به

یُبۡعَثُوۡنَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ

بیا ژوندي کولی شي -36- ویې ویل: پس یقینًا ته له مهلت ورکړی

الۡمُنۡظَرِیۡنَ ﴿٣٧﴾ اِلٰی یَوۡمِ الۡوَقۡتِ

شویو څخه یې -37- د معلوم وخت تر

الۡمَعۡلُوۡمِ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ بِمَاۤ اَغۡوَیۡتَنِیۡ

ورځې پورې -38- ویې ویل: ای زما ربه! په سبب د دې

لَاُزَیِّنَنَّ لَهُمۡ فِی الۡاَرۡضِ وَ

چې تا زه گمراه کړم خامخا هرومرو به زه په ځمکه کې د دوی لپاره ښکلي کول کوم او خامخا

لَاُغۡوِيَنَّهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿٣٩﴾ اِلَّا عِبَادَكَ

هرومرو به زه دوی ټول گمراه کوم -39- مگر په دوی کې ستا

مِنۡهُمُ الۡمُخۡلَصِيۡنَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هٰذَا

خالص کړی شوي بنده گان -40- ويې فرمايل: دا

صِرَاطٌ عَلَىَّ مُسۡتَقِيۡمٌ ﴿٤١﴾ اِنَّ عِبَادِىۡ

لار ده چې تر ما پورې نېغه ده -41- بېشکه زما بنده گان چې

لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطٰنٌ اِلَّا مَنِ

دي نشته تا لپاره په دوی باندې هېڅ غلبه مگر هغه چې ستا پيروي

اتَّبَعَكَ مِنَ الۡغٰوِيۡنَ ﴿٤٢﴾ وَاِنَّ جَهَنَّمَ

کوي له گمراهانو څخه -42- او بېشکه جهنم،

لَمَوْعِدُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۟ۙ لَهَا سَبْعَةُ

خامخا د دوى د ټولو د وعدې ځاى دى -43- د
هغه اوه

اَبْوَابٍ ؕ لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ

دروازې دي، د هرې دروازې لپاره به تقسيم
(بېله) کړى شوې برخه

ع
3

مَّقْسُوْمٌ ۟۠ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّ

وي له دوى نه -44- بېشکه متقيان به په باغونو او
چينو کې

عُيُوْنٍ ۟ؕ اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ۟ وَ

وي -45- تاسو دغو ته په سلامتۍ سره ننوځئ، په
داسې حال کې چې په امن کې به يئ -46- او

نَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ

مونږ به وباسو هغه کينه چې د دوى په سينو کې
وي،

اِخۡوَانًا عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيۡنَ ﴿٤٧﴾ لَا

په داسې حال کې چې ورونړه به وي، په تختونو به یو بل ته مخامخ ناست وي -47- دوی ته

يَمَسُّهُمۡ فِيۡهَا نَصَبٌ وَّمَا هُمۡ مِّنۡهَا

به په دغو (جنتونو) کې هېڅ تکليف (ستړې والی) نه رسېږي او نه به دوی له دغو نه له سره

بِمُخۡرَجِيۡنَ ﴿٤٨﴾ نَبِّئۡ عِبَادِىۡۤ اَنِّىۡۤ اَنَا

وېستل شوي وي -48- ته زما بنده ګانو ته خبر ورکړه چې بېشکه زه، همدا زه ډېر بخښونکی،

الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ﴿٤٩﴾ وَاَنَّ عَذَابِىۡ هُوَ

بې حده رحم کوونکی یم -49- او دا چې بېشکه زما عذاب، هم هغه

الۡعَذَابُ الۡاَلِيۡمُ ﴿٥٠﴾ وَنَبِّئۡهُمۡ عَنۡ

ډېر دردوونکی عذاب دی -50- او ته دوی ته د

وقف لازم

ضَيۡفِ اِبۡرٰهِيۡمَ ﴿٥١﴾ اِذۡ دَخَلُوۡا عَلَيۡهِ

ابراهيم د مېلمنو په باره کې خبر ورکړه -51- کله چې هغوی په ده ورننوتل،

فَقَالُوۡا سَلٰمًا ؕ قَالَ اِنَّا مِنۡكُمۡ وَ

نو دوی وویل: (مونږ سلام وایو) سلام ویل: هغه وویل: بېشکه مونږ له تاسو څخه

جِلُوۡنَ ﴿٥٢﴾ قَالُوۡا لَا تَوۡجَلۡ اِنَّا نُبَشِّرُكَ

وېرېدونکي یو -52- هغوی وویل: ته مه وېرېږه، بېشکه مونږ تا ته د ډېر پوه

بِغُلٰمٍ عَلِيۡمٍ ﴿٥٣﴾ قَالَ اَبَشَّرۡتُمُوۡنِىۡ عَلٰٓى

هلك زېری درکوو -53- هغه وویل: ایا تاسو ما ته زېری راکړ،

اَنۡ مَّسَّنِىَ الۡكِبَرُ فَبِمَ

سره له دې چې ما ته زوړوالی (بوډاوالی) را رسېدلی دی،

تُبَشِّرُوْنَ ﴿٥٤﴾ قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ

نو تاسو په كومه وجه زېرى راكوئ؟ -54- هغوى وويل: مونږ تا ته په حقه سره زېرى دركړى دى،

فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ ﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَنْ

نو ته له نااميدانو نه مه كېږه -55- هغه وويل: له

يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ اِلَّا

گمراهانو نه غير (بل) څوك دى چې د خپل رب له رحمت نه به

الضَّآلُّوْنَ ﴿٥٦﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا

نا امېده كېږي! -56- هغه وويل: نو ستاسو (نور) څه مقصد دى،

الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٥٧﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى

اى رالېږل شويو؟ -57- هغوى وويل: يقينًا مونږ د مجرم قوم په

قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ اِنَّا

طرف رالیږل شوي یو -58- غیر له آل لوط نه،
بېشکه مونږ خامخا هغوی

لَمُنَجُّوْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۹﴾ اِلَّا امْرَاَتَهٗ

ټولو ته نجات ورکوونکي یو -59- (خو) د هغه له
ښځې نه غیر، مونږ دا فیصله کړې ده چې یقینًا

ع 4

قَدَّرْنَآ ۙ اِنَّهَا لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۶۰﴾ فَلَمَّا

هغه به لازمًا له وروسته پاتې کېدونکو څخه وي -
-60- نو کله چې

جَآءَ اٰلَ لُوْطِ ِۨالْمُرْسَلُوْنَ ﴿۶۱﴾ قَالَ

د لوط آل ته رالیږل شوي (ملایك) راغلل -61-
هغه وویل:

اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالُوْا بَلْ

بېشکه تاسو یو ناپېژندګلو خلق یئ -62- هغوی
وویل: بلکې

جِئۡنٰكَ بِمَا كَانُوۡا فِيۡهِ يَمۡتَرُوۡنَ ﴿٦٣﴾ وَ

مونږ تا ته هغه (عذاب) راوړی دی چې دوی به په هغه کې شك كاوه -63- او

اَتَيۡنٰكَ بِالۡحَقِّ وَاِنَّا

مونږ تا ته حق راوړی دی او بېشکه مونږ يقينًا

لَصٰدِقُوۡنَ ﴿٦٤﴾ فَاَسۡرِ بِاَهۡلِكَ بِقِطۡعٍ مِّنَ

رښتيني يو -64- نو ته خپل اهل د شپې په يوه حصه کې

الَّيۡلِ وَاتَّبِعۡ اَدۡبَارَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ

بوځه او ته د دوی شا ته ورپسې ځه او په تاسو کې دې

مِنۡكُمۡ اَحَدٌ وَّامۡضُوۡا حَيۡثُ

هيڅوك بېرته نه ګوري او ځئ هغه ځای ته چې تاسو ته

تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَقَضَيْنَآ اِلَيْهِ ذٰلِكَ

يې حكم كيږي -65- او مونږ هغه ته د دې كار فيصله وحي كړه

الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ

چې يقينًا د دې خلقو بېخ پرې كېدونكى دى، په دې حال كې چې دوى به په سبا كې

مُّصْبِحِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ

داخلېدونكي وي -66- او د ښار اوسېدونكي راغلل چې ډېره

يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالَ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ

خوشحالي يې كوله -67- وويل (لوط): بېشكه دا زما

ضَيْفِيْ فَلَا تَفْضَحُوْنِ ﴿٦٨﴾ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

مېلمانه دي، نو تاسو ما مه شرموئ -68- او له الله نه ووېرېږئ او

لَا تُخۡزُوۡنِ ﴿۶۹﴾ قَالُوۡۤا اَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ

ما مه سپکوئ -69- هغوی وویل: ایا ته مونږ د
خلقو (د پناه ورکولو) نه

الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۷۰﴾ قَالَ هٰٓؤُلَاۤءِ بَنٰتِىۡۤ اِنۡ

نه وې منع کړی؟ -70- هغه وویل: دا زما لوڼه
دي که تاسو (له دوی سره نکاح)

كُنۡتُمۡ فٰعِلِيۡنَ ﴿۷۱﴾ لَعَمۡرُكَ اِنَّهُمۡ لَفِىۡ

کوونکي يئ -71- ستا په عمر مې دې قسم وي!
بېشکه دوی خامخا به خپلې

سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُوۡنَ ﴿۷۲﴾ فَاَخَذَتۡهُمُ

مستۍ (نشه) کې سرگردان دي -72- نو دوی يو
هيبت ناك غږ ونيول، په داسې حال کې چې د

الصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِيۡنَ ﴿۷۳﴾ فَجَعَلۡنَا

لمرختو په وخت کې داخلېدونکي وو -73- نو مونږ
د هغه

عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَ اَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ

(ښار) پورته طرف ښکته طرف وګرځاوه او په دوی باندې مونږ د

حِجَارَةً مِّنۡ سِجِّيۡلٍ ؕ۝۷۴ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ

کوتکانو کاڼي وورول -74- بېشکه په دې کې خامخا د پوهو، عبرت

لَاٰيٰتٍ لِّلۡمُتَوَسِّمِيۡنَ ۝۷۵ وَ اِنَّهَا لَبِسَبِيۡلٍ

اخيستونکو لپاره نښې دي -75- او بېشکه دغه (ښاريه) خامخا په سمه (چلنده)

مُّقِيۡمٍ ۝۷۶ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

لار کې پرته ده -76- بېشکه په دې کې د مومنانو لپاره

لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ۝۷۷ وَ اِنۡ كَانَ اَصۡحٰبُ

خامخا غټه نښه ده -77- او بېشکه شان دا دی

وقف لازم

الْاَيْكَةِ لَظٰلِمِيْنَ ﴿٧٨﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ

چې د ځنګل والا یقینًا ظالمان وو -78- نو مونږ له هغوی نه انتقام واخیست او بېشکه دغه دواړه

ع 5

وَاِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿٧٩﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ

(ښارونه) په لویه ښکاره لار کې پراته دي -79- او یقینًا یقینًا

اَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٨٠﴾ وَ

حجر والاو د رسولانو تکذیب کړی و -80- او

اٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا

مونږ هغوی ته خپلې نښې ور (ښکاره) کړې وې، نو دوی له هغو نه

مُعْرِضِيْنَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ مِنَ

مخ ګرځوونکي وو -81- او دوی به له غرونو څخه

الْجِبَالِ بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ﴿۸۲﴾ فَاَخَذَتْهُمُ

کوټې توږلې، په دې حال کې چې په امن به وو -82- نو دوی یو هیبتناك غږ ونیول،

الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿۸۳﴾ فَمَآ اَغْنٰى

په داسې حال کې چې په سبا کې داخلېدونکي وو -83- نو د دوی په کار

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَمَا

رانغلل هغه (شیان) چې دوی به حاصلول -84- او مونږ

خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا

اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دې دواړو

بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّ السَّاعَةَ

په مینځ کې دي؛ نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره او بېشکه قیامت

لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾ اِنَّ

خامخا راتلونکی دی، نو ته (له دوی څخه) ښنگ
وکړه په ښکلو ښنگ کولو سره -85- بېشکه

رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ

ستا رب، هم دی ښه پيداکوونکی، بې حده علم
والا دی -86- او يقينًا يقينًا

اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ

مونږ تا ته بيا بيا لوستل کېدونکي اوه ايتونه
درکړي دي او

الْعَظِيْمَ ﴿٨٧﴾ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا

عظيم قرآن (هم) -87- او ته خپلې سترګې هغو
شيانو ته مه ور

مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ

اوږدې کوه (مه پورته کوه) چې مونږ په هغو سره
فايده ورکړې ده دغو خلقو ته، چې قسم قسم

عَلَيۡهِمۡ وَاخۡفِضۡ جَنَاحَكَ

شيان دي او په دوی باندې مه غمگين کېږه او
خپل وزر د

لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿٨٨﴾ وَقُلۡ اِنِّيۡۤ اَنَا النَّذِيۡرُ

مومنانو لپاره ښکته کړه -88- او ته ووايه: بېشکه
زه چې يم، هم دا زه ښکاره

الۡمُبِيۡنُ ﴿٨٩﴾ كَمَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَى

وېرووونکی يم -89- (له داسې عذابه) لکه څنګه
چې مونږ نازل کړی و په

الۡمُقۡتَسِمِيۡنَ ﴿٩٠﴾ الَّذِيۡنَ جَعَلُوا

تقسيمووونکو باندې -90- هغه کسان چې قرآن يې

الۡقُرۡاٰنَ عِضِيۡنَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ

ټوټې ټوټې کړی و -91- نو قسم دی په رب

لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوْا

ستا چې خامخا هرومرو به مونږ له دوی ټولو

څخه تپوس کوو -92- د هغو کارونو

يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَ

په باره کې چې دوی به کول -93- نو ته ښه

ښکاره بیان کړه هغه څه چې تا ته

اَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٩٤﴾ اِنَّا

یې حکم کولی شي او له مشرکانو نه مخ واړوه -

-94- بېشکه

كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ﴿٩٥﴾ الَّذِيْنَ

مونږ ستا لپاره استهزا کوونکو ته کافي شوي يو -

-95- هغه کسان

يَجْعَلُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَسَوْفَ

چې له الله سره نور معبودان مقرروي (شریکوي)

نو ژر به

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٩٦﴾ وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ اَنَّكَ يَضِيۡقُ

دوى پوه شي -96- او يقيناً يقيناً مونږ ته معلوم
دي چې بېشکه ستا سينه تنګيږي

صَدۡرُكَ بِمَا يَقُوۡلُوۡنَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ

په هغو خبرو چې دوى يې وايي -97- نو ته د
خپل رب له حمد (ستاينې)

رَبِّكَ وَكُنۡ مِّنَ السّٰجِدِيۡنَ ﴿٩٨﴾ وَ

سره تسبيح وايه او ته شه له سجده کوونکو څخه -
98- او

اعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتّٰى يَاۡتِيَكَ الۡيَقِيۡنُ ﴿٩٩﴾

ع
6

د خپل رب عبادت کوه تر هغه پورې چې تا ته
يقين (مرګ) راشي -99-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى(1)

اَتٰۤى اَمۡرُ اللّٰهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡهُ ؕ

د الله حكم راغى، نو تاسو هغه په تلوار مه
غواړئ،

سُبۡحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ①

هغه لره پاكي ده او هغه ډېر اوچت دى له هغه څه
نه چې دوى يې ورسره شريكوي -1-

يُنَزِّلُ الۡمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوۡحِ مِنۡ اَمۡرِهٖ

هغه په خپل حكم ملايك له وحي سره نازلوي
په هغه چا باندې چې يې وغواړي په خپلو بنده

عَلٰى مَنۡ يَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖۤ اَنۡ اَنۡذِرُوۡۤا

گانو كې، چې تاسو (خلق) خبردار كړئ،
په دې خبره چې بېشكه شان دا دى چې نشته هېڅ

اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوْنِ ﴿٢﴾ خَلَقَ

لایق د عبادت مگر زه یم، نو تاسو له ما نه
وویرېږئ -2- هغه

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ تَعٰلٰی

اسمانونه او ځمکه په حقه سره پیدا کړي دي، هغه
اوچت دی له هغه چې دوی یې

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٣﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ

ورسره شریکوي -3- هغه،انسان له نطفې نه پیدا
کړی دی،

نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤﴾ وَ

نو ناڅاپه دغه (انسان) ښه ښکاره سخت جګړه
کوونکی دی -4- او

الْاَنْعَامَ خَلَقَهَا ۚ لَكُمْ فِيْهَا دِفْءٌ وَّ

څاروي، هغه یې پیدا کړي دي، تاسو لپاره
په دوی کې د ګرمۍ اسباب او (نورې) ګټې دي

مَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُوْنَ ﴿٥﴾ وَلَكُمْ فِيْهَا

او ځينې په دوی کېتاسو خورئ -5- او تاسو لپاره
په دوی

جَمَالٌ حِيْنَ تُرِيْحُوْنَ وَحِيْنَ

کې جمال (او ښايست) دی کله
چې يې بېرته مابنام (کور ته) راولئ او کله چې يې

تَسْرَحُوْنَ ﴿٦﴾ وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ اِلٰى

د ځر لپاره بوځئ -6- او دوی ستاسو درانه بارونه
پورته کوي

بَلَدٍ لَّمْ تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ اِلَّا بِشِقِّ

هغه ښار ته چې تاسوهغه ته رسېدونکي نه وئ

الْاَنْفُسِ ؕ اِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ

مګر د ځانونو په مشقت سره، بېشکه ستاسو رب
يقينًا ډېر نرمي کوونکی،

رَّحِيمٌ ۟ ۙ وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَ

بې حده مهربان دی -7- او اسونه او قچر
او

الْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ وَيَخْلُقُ

خره (يې پيدا کړي دي،) د دې لپاره چې تاسو په
دغو باندې سواره شئ او د زينت لپاره او

مَا لَا تَعْلَمُونَ ۝٨ وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ

پيدا کوي هغه څه چې تاسو يې نه پېژنئ -8- او
خاص په الله باندې

السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ ۚ وَلَوْ شَآءَ

د سمې لارې بيان دی او ځينې په دغو کې کږې
دي او که هغه غوښتلی (، نو)

ع 7

لَهَدٰىكُمْ أَجْمَعِينَ ۝٩ هُوَ الَّذِيٓ أَنْزَلَ

لازمًا به يې تاسو ټولو ته هدايت کړی و -9- دی
همغه ذات دی

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ وَّ

چې تاسو لپاره يې له بره نه اوبه نازلې کړې دي، له هغو څخهمشروب دی او له هغو څخه ونې

مِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ⑩ يُنْبِتُ

(وابنه) هم دي چې په هغو کې تاسو (څاروي) څروئ -10- هغه په دې

لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ

سره تاسو لپاره فصل او زيتون او کجورې

وَالْأَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ اِنَّ فِيْ

او انګور او هر قسمه مېوې زرغونوي، بېشکه په دوی کې خامخا لويه نښه ده

ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ⑪ وَ

د هغو خلقو لپاره چې ښه غور فکر کوي -11- او

سَخَّرَ لَكُمُ الَّيۡلَ وَ النَّهَارَ ۙ وَ

هغه مُسخَّره كړې ده تاسو لپاره شپه او ورځ او

الشَّمۡسَ وَ الۡقَمَرَ ؕ وَ النُّجُوۡمُ

لمر او سپوږمۍ، او ستوري

مُسَخَّرٰتٌۢ بِاَمۡرِهٖ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

د هغه په حكم سره مسخر دي، بېشكه په دغو كې
خامخا ډېرې نښې دي د هغو خلقو لپاره چې له

لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ۙ﴿۱۲﴾ وَ مَا ذَرَاَ لَكُمۡ فِى

عقل نه كار اخلي -12- او (مسخر كړي يې دي)
هغه څه چې تاسو لپاره يې په

الۡاَرۡضِ مُخۡتَلِفًا اَلۡوَانُهٗ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ

ځمكه كې پيدا كړي دي، په داسې حال كې چې
رنګونه يې مختلف دي، بېشكه په دوى كې يقيناً

لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّذَّكَّرُوۡنَ ۝١٣ وَهُوَ الَّذِىۡ

لويه نښه ده د هغو خلقو لپاره چې نصيحت قبلوي
-13- دی همغه ذات دی

سَخَّرَ الۡبَحۡرَ لِتَاۡكُلُوۡا مِنۡهُ لَحۡمًا طَرِيًّا

چې سمندر يې مسخر کړی دی، د دې لپاره چې
تاسو له هغه نه تازه غوښه وخورئ او له هغه نه

وَّتَسۡتَخۡرِجُوۡا مِنۡهُ حِلۡيَةً تَلۡبَسُوۡنَهَا ۚ

گاڼه (زېورات) راوباسئ چې تاسو يې اغوندئ او
ته په ده کې بېړۍ وينې،

وَتَرَى الۡفُلۡكَ مَوَاخِرَ فِيۡهِ وَلِتَبۡتَغُوۡا

چې اوبه څيرونکې وي او د دې لپاره چې تاسو د

مِنۡ فَضۡلِهٖ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۝١٤ وَ

هغه فضل طلب کړئ او د دې لپاره چې تاسو
شکر وباسئ -14- او

اَلْقٰى فِى الْاَرْضِ رَوَاسِىَ اَنْ تَمِيْدَ

هغه په ځمكه كې پاخه غرونه غورځولي دي چې
پر تاسو باندې ونه

بِكُمْ وَ اَنْهٰرًا وَّ سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ

ښوربړي او (پيدا كړي يې دي) ولې (نهرونه) او
لارې، د دې لپاره چې

تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَ عَلٰمٰتٍ ؕ وَ بِالنَّجْمِ هُمْ

تاسو لار وموموئ -15- او علامې (يې مقرر كړې
دي) او په ستورو سره

يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۶﴾ اَفَمَنْ يَّخْلُقُ كَمَنْ لَّا

دوى لار مومي -16- ايا نو هغه ذات چې پيدا
كوي په شان د هغه چا دى

يَخْلُقُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَ اِنْ تَعُدُّوْا

چې (څه) نشي پيدا كولى؟ ايا نو تاسو پند نه
اخلئ؟ -17- او كه چېرې تاسو

نِعۡمَةَ اللّٰهِ لَا تُحۡصُوۡهَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوۡرٌ

د الله نعمتونه شمېرل شروع کړئ، (، نو) هغه به ونشمېرلی شئ، بېشکه الله يقيناً ډېر بخښونکی،

رَّحِيۡمٌ ﴿۱۸﴾ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّوۡنَ وَ

بې حده رحم کوونکی دی -18- او الله ته معلوم دي هغه څه چې تاسو يې پټوئ او هغه څه چې

مَا تُعۡلِنُوۡنَ ﴿۱۹﴾ وَالَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ مِنۡ

تاسو يې ښکاره کوئ -19- او هغه کسان چې دوی يې له

دُوۡنِ اللّٰهِ لَا يَخۡلُقُوۡنَ شَيۡـًٔا وَّهُمۡ

الله نه غير بلي، هغوی هېڅ شی نشي پيدا کولی، حال دا چې دوی

يُخۡلَقُوۡنَ ﴿۲۰﴾ اَمۡوَاتٌ غَيۡرُ اَحۡيَآءٍ ۚ وَمَا

پخپله پيداکاوه شي -20- مړه دي، ژوندي نه دي او دوی نه پوهېږي

ع
8

يَشْعُرُوْنَ ۙ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٢١﴾ اِلٰهُكُمْ

چې کله به دوی بیا راژوندي کولی شي -21-
ستاسو حق معبود

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

يو معبود دی، نو هغه کسان چې په اخرت ایمان نه

بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ

راوړي د هغوی زړونه منکر دي او دوی

مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ

تکبر کوونکي دي -22- حقیقت دا دی چې بېشکه
الله

يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۭ اِنَّهٗ

پوهېږي په هغه څه چې دوی یې پټوي او په هغه
څه چې دوی یې څرګندوي، بېشکه

لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ وَاِذَا قِيْلَ

هغه (الله) تکبر کوونکي نه خوښوي -23- او کله چې دوی ته وويل شي:

لَهُمْ مَّا ذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ۙ قَالُوْٓا

ستاسو رب څه نازل کړي دي؟ دوی وايي: د

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوْٓا

پخوانيو (خلقو) باطلې افسانې -24- د دې لپاره چې دوی

اَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۙ وَمِنْ

خپل پېټي پوره پورته کړي د قيامت په ورځ او د هغو

اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ

خلقو له پېټو نه (هم) چې دوی يې په جهالت سره گمراه کوي، خبردار شئ! بد دی

ع
9

أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ

هغه څيز چې دوی يې باروي -25- يقيناً له دوی

الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ

نه مخکې خلقو مکر کړی و، نو الله د دوی

بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ

عمارتونوته له بنيادونو نه راغی، نو په

السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ

دوی باندې د دوی له پاسه چتونه راپرېوتل او
دوی ته

الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا

عذاب له هغه ځايه راغی چې دوی

يَشۡعُرُوۡنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ

نه پوهېدل -26- بيا به هغه د قيامت په ورځ

يُخۡزِيۡهِمۡ وَيَقُوۡلُ اَيۡنَ شُرَكَآءِىَ

دوی رسوا کوي او وايي به: زما هغه شريکان چېرته دي

الَّذِيۡنَ كُنۡتُمۡ تُشَآقُّوۡنَ فِيۡهِمۡ ؕ قَالَ

چې تاسو به د هغوی په باره کې مخالفتونه کول؟ وبه وايي

الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ اِنَّ الۡخِزۡىَ

هغه کسان چې علم ورته ورکړ شوی دی: بېشکه

الۡيَوۡمَ وَالسُّوۡٓءَ عَلَى

په نن ورځ کې رسوايي او بدي په

الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٧﴾ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ

كافرانو باندې ده -27- هغه كسان چې

الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۖ فَاَلْقَوُا

ملايك يې (روح) قبضوي، په داسې حال كې چې
دوى په خپلو ځانونو ظلم كوونكي وي،

السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ۭ بَلٰٓى

نو دوى به روغه (تسليمي) وړاندې كړي چې
مونږ هېڅ بد عمل نه كاوه، ولې نه!

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا كُنْتُمْ

بېشكه الله ښه پوه دى په هغو

تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٨﴾ فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ

عملونو چې تاسو به كول -28- نو تاسو د جهنم په
دروازه كې ننوځئ،

خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا‌ ؕ فَلَبِئۡسَ مَثۡوَى

په داسې حال کې، چې په ده کې به همېشه وئ، نو یقینًا د تکبر کوونکو

الۡمُتَكَبِّرِيۡنَ ۝٢٩ وَقِيۡلَ لِلَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا

استوګنه بده ده -29- او هغو کسانو ته به وویل شي چې تقوىٰ

مَاذَاۤ اَنۡزَلَ رَبُّكُمۡ‌ ؕ قَالُوۡا خَيۡرًا‌ ؕ

يې غوره کړې ده: ستاسو رب څه نازل کړي دي؟ هغوی به ووايي: خير (يې نازل کړی دی).

لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوۡا فِىۡ هٰذِهِ الدُّنۡيَا

د هغو کسانو لپاره چې په دې دنيا کې يې نېکي کړې ده؛

حَسَنَةٌ‌ ؕ وَلَدَارُ الۡاٰخِرَةِ خَيۡرٌ‌ ؕ وَ

نېکه بدله ده او يقينًا د اخرت کور ډېر غوره دی او

لَنِعۡمَ دَارُ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۳۰﴾ جَنّٰتُ عَدۡنٍ

يقينًا ښه كور د متقيانو دى -30- چې د همېشه اوسېدلو جنتونه دي

يَّدۡخُلُوۡنَهَا تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ

چې دوى به هغو ته داخلېږي، د هغو له لاندې ولې بهېږي،

لَهُمۡ فِيۡهَا مَا يَشَآءُوۡنَ ؕ كَذٰلِكَ

د دوى لپاره په دغو (جنتونو) كې هغه څه دي چې دوى يې غواړي.، همدارنگه

يَجۡزِى اللّٰهُ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۳۱﴾ الَّذِيۡنَ

الله متقيانو ته بدله وركوي -31- هغه كسان چې

تَتَوَفّٰٮهُمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِيۡنَ ۙ يَقُوۡلُوۡنَ

ملايك يې (روح) قبض كوي، په دې حال كې چې هغوى پاك وي، دوى به (ورته) وايي:

سَلٰمٌ عَلَيۡكُمُ ۙ ادۡخُلُوا الۡجَنَّةَ بِمَا

په تاسو دې سلام وي، تاسو جنت ته داخل شئ، په سبب د هغو

كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۝٣٢ هَلۡ يَنۡظُرُوۡنَ اِلَّاۤ

عملونو چې تاسو به كول -32- دوى انتظار نه كوي مگر

اَنۡ تَاۡتِيَهُمُ الۡمَلٰٓـئِكَةُ اَوۡ يَاۡتِىَ اَمۡرُ

د دې چې دوى ته ملايك راشي، يا ستا د رب حكم راشي،

رَبِّكَ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيۡنَ مِنۡ

همدارنگه كار كړى و هغو كسانو چې له دوى نه مخكې وو

قَبۡلِهِمۡ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنۡ

او الله پر هغوى ظلم نه و كړى او لېكن هغوى په

كَانُوٓا اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۳۳﴾ فَاَصَابَهُمۡ

خپلو ځانونو ظلم کاوه -33- نو هغوی ته د خپلو

سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوۡا وَ حَاقَ بِهِمۡ مَّا كَانُوۡا

عملونو بدي ورسېدله او هغوی ګېرکړل هغه څه چې دوی به ورپورې

ع 10

بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۳۴﴾ وَ قَالَ الَّذِيۡنَ

استهزا کوله -34- او وويل هغو کسانو چې

اَشۡرَكُوۡا لَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدۡنَا مِنۡ

شرك يې کړی دی: که چېرې الله غوښتلې (، نو) مونږ به له هغه نه غير د هېڅ شي عبادت نه و

دُوۡنِهٖ مِنۡ شَىۡءٍ نَّحۡنُ وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا وَ لَا

کړی او نه به زمونږ پلرونو او نه به مونږ د هغه (له حکم)

حَرَّمْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ؕ كَذٰلِكَ

نه غير څه شی حرام کړی و، همدارنګې کار کړی
و

فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى

هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، نو د

الرُّسُلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝٣٥ وَلَقَدْ

رسولانو په ذمه نشته مګر ښکاره رسَوَل -35- او
يقينًا يقينًا

بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا

مونږ په هر يو امت کې يو رسول لیږلی و (په دې
سره) چې تاسو د

اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ فَمِنْهُمْ

الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ، نو
په دوی کې

مَّنْ هَدَى اللّٰهُ وَ مِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ

ځينو ته الله هدايت وکړ او ځينې په دوی کې هغه دي

عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ۭ فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

چې ګمراهي پرې ثابته شوه، نو تاسو په ځمکه کې وګرځئ،

فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

بيا وګورئ چې د تکذيب کوونکو انجام

الْمُكَذِّبِيْنَ ۝۳۶ اِنْ تَحْرِصْ عَلٰى

څنګه و؟ -36- که ته د دوی په

هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ

هدايت راوړلو باندې حرص وکړې، نو بېشکه الله هدايت نه کوي هغه چا ته

يُّضِلُّ وَ مَا لَهُمۡ مِّنۡ نّٰصِرِيۡنَ ﴿۳۷﴾ وَ

چې هغه يې گمراه کړي او د دوی لپاره هيڅوك مددکوونکي نشته -37- او

اَقۡسَمُوۡا بِاللّٰهِ جَهۡدَ اَيۡمَانِهِمۡ ۙ لَا

دوی په (نوم د) الله باندې قسمونه کوي، خپل پاخه قسمونه،

يَبۡعَثُ اللّٰهُ مَنۡ يَّمُوۡتُ ؕ بَلٰى وَعۡدًا

چې الله به هغه څوك بيا راژوندي نه کړي چې مري، ولې نه! (ژوندي کوي به يې، ځکه چې

عَلَيۡهِ حَقًّا وَّلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا

وعده يې کړې ده) وعده حقه په هغه لازمه او ليکن اکثره خلق

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۸﴾ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِىۡ

نه پوهېږي -38- لپاره د دې چې د دوی

يَخۡتَلِفُوۡنَ فِيۡهِ وَلِيَعۡلَمَ الَّذِيۡنَ

لپاره هغه شی ښه ښکاره کړي چې دوی په هغه کې اختلاف کوي او لپاره د دې چې هغه کسان

كَفَرُوۡۤا اَنَّهُمۡ كَانُوۡا كٰذِبِيۡنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّمَا

چې کفر يې کړی دی، پوه شي چې يقيناً دوی دروغژن وو -39- همدا

قَوۡلُنَا لِشَىۡءٍ اِذَاۤ اَرَدۡنٰهُ اَنۡ نَّقُوۡلَ لَهٗ

خبره ده چې زمونږ وينا يو شي ته چې کله يې مونږ اراده وکړو؛ دا ده چې مونږ هغه ته وايو:

ع 11

كُنۡ فَيَكُوۡنُ ﴿۴۰﴾ وَالَّذِيۡنَ هَاجَرُوۡا فِى

وشه نو هغه وشي -40- او هغه کسان چې د الله لپاره يې

اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُوۡا لَـنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِى

هجرت کړی دی وروسته له دې چې ظلم پرې وکړی شو خامخا هرومرو به مونږ دوی

الدُّنْيَا حَسَنَةً ؕ وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ

ته په دنيا كې ښه ځاى وركړو او يقينًا د اخرت اجر تر ټولو

اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝٤١ۙ الَّذِيْنَ

لوى دى، كه چېرې وى دوى چې پوهېدى -41- هغه كسان چې

وقف لازم

صَبَرُوْا وَ عَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝٤٢ وَ مَآ

صبر يې كړى دى او خاص په خپل رب باندې دوى توكل كوي -42- او مونږ له

اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ

تا نه مخكې نه دي لېږلي مگر سړي چې مونږ هغوى ته وحي كوله،

اِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ

نو تاسو له اهلِ علمو نه تپوس وكړئ كه چېرې

كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنٰتِ وَ

تاسو يئ چې نه پوهېږئ -43- په ښكاره معجزو

الزُّبُرِ ؕ وَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ

اوكتابونو سره او مونږ تا ته ذكر (وحي) نازل كړى دى، د دې لپاره چې

لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَ لَعَلَّهُمْ

ته خلقو ته هغه څه ښه واضحه كړې چې دوى ته نازل كړى شوي دي او د دې لپاره چې

يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٤﴾ اَفَاَمِنَ الَّذِيْنَ مَكَرُوا

دوى ښه فكر وكړي -44- ايا نو هغه كسان چې ناكاره مكرونه يې كړي دي؛

السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّخْسِفَ اللّٰهُ بِهِمُ

له دې نه په امن كې شوي دي چې الله دوى په

النصف

الْاَرْضَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ

ځمکه کې ډوب کړي يا دوی ته عذاب له داسې ځايه راشي چې دوی

حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٤٥﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ فِيْ

(پرې) نه پوهېږي -45- يا دوی ونيسي د خپلو گرځېدو په وخت کې،

تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٤٦﴾ اَوْ

نو دوی هيڅکله هم (الله لره) عاجزه کوونکي نه دي -46- يا دوی

يَاْخُذَهُمْ عَلٰى تَخَوُّفٍ ؕ فَاِنَّ رَبَّكُمْ

په وېره ونيسي، پس يقيناً ستاسو رب خامخا ډېر نرمي کوونکی،

لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٤٧﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا

بې حده مهربان دی -47- ايا دوی هغه ته نه دي کتلي چې

خَلَقَ اللّٰهُ مِنۡ شَیۡءٍ یَّتَفَیَّؤُا ظِلٰلُهٗ

الله کوم شی پیدا کړی دی چې د هغه سیوري له

عَنِ الۡیَمِیۡنِ وَ الشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلّٰهِ وَ

ښي اړخ او چپو اړخونو نه ګرځي، چې الله ته سجده کوونکي دي، په داسې حال کې چې

هُمۡ دٰخِرُوۡنَ ﴿۴۸﴾ وَ لِلّٰهِ یَسۡجُدُ مَا فِی

دوی عاجزي کوونکي دي -48- او خاص د الله لپاره سجده کوي هغه

السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الۡاَرۡضِ مِنۡ دَآبَّةٍ وَّ

څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي له خوځنده ځیزونو څخه او

الۡمَلٰٓئِکَةُ وَ هُمۡ لَا

ملايك هم په داسې حال

يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ

کې چې دوی تکبر نه کوي -49- دوی له خپل
رب څخه ویریږي چې د

فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَ

دوی له پاسه دی او دوی کوي هغه څه چې دوی
ته حکم کاوه شي -50- او

قَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ

الله وويل: تاسو دوه معبودان مه نيسئ، همدا
خبره ده

اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَاِيَّايَ

چې هغه يو معبود دی، نو تاسو خاص له ما

فَارْهَبُوْنِ ﴿٥١﴾ وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ

نه وويريږئ -51- او خاص د هغه لپاره دي هغه

ع 12

السجدة 3

الْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ؕ اَفَغَيْرَ

څه چې په اسمانونو او ځمكه كې دي او عبادت خاص هم د ده لپاره دی، همېشه، ايا نو تاسو غير

اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ

له الله نه (له بل چا نه) وېرېږئ؟ -52- او په تاسو چې څه نعمت شوی دی،

فَمِنَ اللّٰهِ ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ

نو د الله له طرفه دی، بيا چې كله تاسو ته ضرر دررسېږي، نو خاص

تَجْـَٔرُوْنَ ﴿۵۳﴾ ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ

هغه ته زاري كوئ -53- بيا كله چې هغه له تاسو نه تكليف لرې كړي

عَنْكُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ

(، نو) ناڅاپه يوه ډله په تاسو كې له خپل رب

يُشۡرِكُوۡنَ ﴿۵۴﴾ لِيَكۡفُرُوۡا بِمَاۤ اٰتَيۡنٰهُمۡ ؕ

سره شريکان جوړوي -54- د دې لپاره چې
ناشکري وکړي د هغه څه چې مونږ دوی ته

فَتَمَتَّعُوۡا ۟ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۵۵﴾ وَ

ورکړي دي، نو تاسو فايده واخلئ، پس ژر به
تاسو پوه شئ -55- او

يَجۡعَلُوۡنَ لِمَا لَا يَعۡلَمُوۡنَ نَصِيۡبًا مِّمَّا

دوی د هغه څه لپاره چې په هېڅ نه پوهېږي؛
برخه مقرروي په هغه څه کې چې مونږ دوی ته

رَزَقۡنٰهُمۡ ؕ تَاللّٰهِ لَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنۡتُمۡ

ورکړي دي، قسم دی په الله چې خامخا له تاسو
به هرومرو پوښتنه کېږي، د هغه څه په باره کې

تَفۡتَرُوۡنَ ﴿۵۶﴾ وَيَجۡعَلُوۡنَ لِلّٰهِ الۡبَنٰتِ

چې تاسو به دروغ تړل -56- او دوی د الله لپاره
لونړه مقرروي،

سُبۡحٰنَهٗ ۙ وَلَهُمۡ مَّا يَشۡتَهُوۡنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذَا

هغه پاك دى، او د دوى لپاره دي هغه څه چې
دوى يې خوښوي -57- او كله چې

بُشِّرَ اَحَدُهُمۡ بِالۡاُنۡثٰى ظَلَّ وَجۡهُهٗ

په دوى كې يو ته د لور زېرى وركړى شي د هغه
مخ تك تور شي، په دې

مُسۡوَدًّا وَّهُوَ كَظِيۡمٌ ﴿۵۸﴾ يَتَوَارٰى مِنَ

حال كې چې له قهره ډك وي -58- له خلقو څخه
پټ ګرځي د هغه

الۡقَوۡمِ مِنۡ سُوۡٓءِ مَا بُشِّرَ بِهٖ ؕ

څه د بدۍ په وجه چې ده ته يې زېرى وركړى
شوى دى

اَيُمۡسِكُهٗ عَلٰى هُوۡنٍ اَمۡ يَدُسُّهٗ فِى

(او سوچ كوي چې)، ايا دى دغه (لور) سره له
ذلته وساتي، يا هغه

التُّرَابِ ؕ اَلَا سَآءَ مَا

په خاورو کې ومنډي، خبردار شئ! بد دي هغه څه چې

يَحۡكُمُوۡنَ ۝٥٩ لِلَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ

دوی يې فيصله کوي -59- د هغو کسانو لپاره چې په

بِالۡاٰخِرَةِ مَثَلُ السَّوۡءِ ۚ وَلِلّٰهِ الۡمَثَلُ

اخرت ايمان نه راوړي بد مثال دی او خاص د الله لپاره ترټولو لوړ مثال دی

ع 13

الۡاَعۡلٰى ؕ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ۝٦٠ وَ

او هم هغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی -60- او

لَوۡ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلۡمِهِمۡ مَّا

که چېرې الله خلق د ظلم په وجه نيولی (، نو) هغه به

تَرَكَ عَلَيۡهَا مِنۡ دَآبَّةٍ وَّ لٰكِنۡ

د دې (ځمکې) په سر هېڅ خوځنده نه و پرېښی
او لېکن

يُّؤَخِّرُهُمۡ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا

هغه دوی تر مقررې نېټې وروسته کوي، نو کله
چې د دوی

جَآءَ اَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ سَاعَةً وَّ

نېټه راشي (بیانو) دوی یوه گړۍ نه وروسته
کېږي او

لَا يَسۡتَقۡدِمُوۡنَ ۝٦١ وَيَجۡعَلُوۡنَ لِلّٰهِ مَا

نه مخکې کېږي -61- او دوی د الله لپاره هغه
څه

يَكۡرَهُوۡنَ وَتَصِفُ اَلۡسِنَتُهُمُ الۡكَذِبَ

ثابتوي چې (پخپله) يې بد گڼي او د دوی ژبې
دروغ بیانوي

اَنَّ لَهُمُ الْحُسْنٰى ؕ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ

چې بېشکه د همدوی لپاره تر ټولو ښه حالت دی، حقیقت دا دی چې بېشکه د همدوی لپاره اور دی

النَّارَ وَ اَنَّهُمْ مُّفْرَطُوْنَ ﴿۶۲﴾ تَاللّٰهِ لَقَدْ

او بېشکه همدوی تر ټولو مخکې لېږدول شوي دي -62- قسم دی په الله! یقینًا یقینًا

اَرْسَلْنَآ اِلٰۤى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ

مونږ امتونو ته له تا نه مخکې رسولان لېږلي وو،

لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ

نو شیطان دوی ته د دوی عملونه ښکلي کړل، نو نن ورځ همغه د دوی دوست دی

الْيَوْمَ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ وَ مَآ

او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی -63- او مونږ

اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ

په تا باندې كتاب نه دى نازل كړى مگر د دې
لپاره چې ته

لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ وَ هُدًى وَّ

دوى ته هغه ښه واضحه كړې چې دوى په هغه
كې اختلاف كړى دى۔ او د هغه قوم د هدايت او

رَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝٦٤ وَ اللّٰهُ اَنْزَلَ

رحمت لپاره چې ايمان لري -64- او الله له بره نه

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ

اوبه نازلې كړې دي، بيا يې په هغو سره ځمكه
راژوندۍ كړې

بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ

ده د هغې له مرگ نه پس، بېشكه په دې كې
خامخا لويه نښه ده د هغو خلقو

ع
14

يَّسۡمَعُوۡنَ ۟﴿۶۵﴾ وَ اِنَّ لَكُمۡ فِى الۡاَنۡعَامِ

لپاره چې اوري -65- او بېشکه تاسو لپاره په
څارويوکې خامخا لوی عبرت دی، مونږ تاسو ته

لَعِبۡرَةً‌ ؕ نُسۡقِيۡكُمۡ مِّمَّا فِىۡ بُطُوۡنِهٖ مِنۡۢ

در څښوو څيني له هغو څيزونو څخه چې د دوی
په ګېډو کې دي د

بَيۡنِ فَرۡثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا

غوشايبو او ويني په مينځ کې خالص شيده (پی)
چې د څښونکو لپاره له حلق نه په اسانی سره

لِّلشّٰرِبِيۡنَ ﴿۶۶﴾ وَمِنۡ ثَمَرٰتِ النَّخِيۡلِ وَ

تېرېدونکي دي -66- او د کجورو او

الۡاَعۡنَابِ تَتَّخِذُوۡنَ مِنۡهُ سَكَرًا وَّ

انګورو له مېوو څخه، تاسو له دغو نه نشه
کوونکي او

رِزْقًا حَسَنًا ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ

ښکلی رزق جوړوئ، بېشکه په دې کې خامخا
لویه نښه ده د هغو خلقو لپاره چې له

یَّعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَ اَوْحٰی رَبُّكَ اِلَی النَّحْلِ

عقل نه کار اخلي -67- او ستا رب د شاتو مچیو
ته په

اَنِ اتَّخِذِیْ مِنَ الْجِبَالِ بُیُوْتًا وَّ مِنَ

زړه کې واچوله چې په غرونو کې کورونه جوړ
کړه او په ونو کې او په

الشَّجَرِ وَ مِمَّا یَعْرِشُوْنَ ﴿۶۸﴾ ثُمَّ كُلِیْ

هغو کې چې خلق يې لوړ جوړوي -68- بیا ته
خوره له

مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسْلُكِیْ سُبُلَ رَبِّكِ

هر قسمه مېوو څخه، نو ته ځه د خپل رب په لارو

ذُلُلًا ؕ يَخۡرُجُ مِنۡۢ بُطُوۡنِهَا شَرَابٌ

باندې چې اساني دي، د دوی له خېټو نه مشروب راوځي

مُّخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهٗ فِيۡهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ

چې رنګونه يې مختلف دي، په ده کې د خلقو لپاره شفا ده،

اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ

بېشکه په دې کې لويه نښه ده د هغه قوم لپاره

يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿۶۹﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ

چې ښه فکر کوي -69- او الله تاسو پيداکړي يئ، بيا به

يَتَوَفّٰٮكُمۡ ۙ وَمِنۡكُمۡ مَّنۡ يُّرَدُّ اِلٰٓى

هغه تاسو وفات کوي او په تاسو کې ځيني هغه دي چې ډېر

اَرۡذَلِ الۡعُمُرِ لِكَیۡ لَا یَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٍ

خوار ژوندون ته ورگرځولی شي، د دې لپاره چې
له علم نه بعد په هېڅ

ع
15

شَیۡـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِیۡمٌ قَدِیۡرٌ ﴿۷۰﴾ وَاللّٰهُ

شي پوه نشي، بېشکه الله ښه عالم، ښه قادر دی -
70- او الله

فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلٰی بَعۡضٍ فِی الرِّزۡقِ ۚ

ستاسو ځینې په ځینو نورو باندې په رزق کې
غوره کړي دي،

فَمَا الَّذِیۡنَ فُضِّلُوۡا بِرَآدِّیۡ رِزۡقِهِمۡ

نو هغه کسان چې غوره کړی شوي دي هغوی
خپل رزق لره ورگرځوونکي

عَلٰی مَا مَلَكَتۡ اَیۡمَانُهُمۡ فَهُمۡ فِیۡهِ

نه دي په هغو کسانو باندې چې دوی یې مالکان
شوي دي، نو دوی په ده کې برابر دي؟

سَوَآءٌ ؕ اَفَبِنِعۡمَةِ اللّٰهِ يَجۡحَدُوۡنَ ﴿۷۱﴾ وَ

ايا نو د الله په نعمت سره دوی انکار کوي -71- او

اللّٰهُ جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ

الله تاسو لپاره ستاسو له جنسه

اَزۡوَاجًا وَّ جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡ اَزۡوَاجِكُمۡ

جوړې پيدا کړي دي او تاسو لپاره يې ستاسو له جوړو نه

بَنِيۡنَ وَ حَفَدَةً وَّ رَزَقَكُمۡ مِّنَ

زامن او لمسي پيدا کړي دي او تاسو ته يې د پاکيزه

الطَّيِّبٰتِ ؕ اَفَبِالۡبَاطِلِ يُؤۡمِنُوۡنَ وَ

ښيزونو څخه روزي درکړې ده، ايا نو په باطل باندې دوی ايمان راوړي او

بِنِعۡمَتِ اللّٰهِ هُمۡ يَكۡفُرُوۡنَ ۙ﴿۷۲﴾ وَ

د الله په نعمت سره دوی کفر کوي -72- او

يَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمۡلِكُ

دوی له الله نه غیر د هغو څیزونو عبادت کوي
چې د دوی لپاره اختیار نه لري

لَهُمۡ رِزۡقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ

د هیڅ رزق د اسمانونو او ځمکې نه د

شَيۡـًٔا وَّ لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ ۚ﴿۷۳﴾ فَلَا تَضۡرِبُوۡا

هیڅ شي او نه دوی طاقت لري -73- نو تاسو د
الله لپاره

لِلّٰهِ الۡاَمۡثَالَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ وَ اَنۡتُمۡ

مثالونه مه بیانوئ، بېشکه الله پوهېږي او تاسو

لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۷۴﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبۡدًا

نه پوهېږئ -74- الله يو مثال بيانوي چې يو

مَّمۡلُوۡكًا لَّا يَقۡدِرُ عَلٰى شَيۡءٍ وَّ مَنۡ

مملوك مريی دی چې په هېڅ شي قدرت نه لري او (بل)

رَّزَقۡنٰهُ مِنَّا رِزۡقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنۡفِقُ

هغه څوك دی چې مونږ هغه ته له خپل جانبه ښكلی رزق وركړی دی، نو هغه له ده

مِنۡهُ سِرًّا وَّ جَهۡرًا ؕ هَلۡ يَسۡتَوٗنَ ؕ

نه په پټه او ښكاره انفاق كوي، ايا دوی سره برابرېږي؟

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ ؕ بَلۡ اَكۡثَرُهُمۡ لَا

ټولې ستاينې خاص د الله لپاره دي، بلكې د دوی زياتره

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٧٥﴾ وَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيۡنِ

نه پوهېږي -75- او الله يو مثال بيانوي چې دوه سړي دي،

اَحَدُهُمَاۤ اَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلٰى شَىۡءٍ وَّ

په دواړو کې يو ګونګی دی، په هېڅ شي قدرت نه لري، په دې حال کې

هُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوۡلٰىهُ ۙ اَيۡنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا

چې هغه په خپل بادار باندې بار (بوج) دی، چې چېرته يې هم ولېږي

يَاۡتِ بِخَيۡرٍ ؕ هَلۡ يَسۡتَوِىۡ هُوَ ۙ وَمَنۡ

هېڅ خير نه راوړي، ايا برابرېږي دغه کس او هغه څوك

يَّاۡمُرُ بِالۡعَدۡلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ

چې په انصاف سره حکم کوي او هغه په نېغې لارې

ع 16

مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٦﴾ وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَ

باندې قايم دى -76- او خاص د الله لپاره دى
غيب د اسمانونو او

الْاَرْضِ ؕ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ اِلَّا كَلَمْحِ

ځمکې.، او د قيامت امر نه دى مگر په شان د
رپ

الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

د سترگو، يا هغه زيات قريب دى (له دې نه هم)
بېشکه الله په هر شي باندې

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٧٧﴾ وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ

ښه قادر دى -77- او الله تاسو د خپلو ميندو له
خېټو نه راووېستئ،

بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۙ وَّ

په داسې حال کې چې په هېڅ شي نه پوهېدلئ او

جَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَ الْاَبْصَارَ وَ

تاسو ته يې غوږونه او سترګې او زړونه پيدا کړل،

الْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَلَمْ

د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ -78- ايا دوی

يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ

مرغانو ته نه دي کتلي چې د اسمان په فضا کې مسخر کړی شوي دي،

السَّمَآءِ ؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ؕ اِنَّ

دوی لره نه ساتي (له غورځېدلو نه) مګر الله، بېشکه

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَ

په دې کې خامخا ډېرې نښې دي د هغو خلقو لپاره چې ايمان راوړي -79- او

اللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّ

الله تاسو لپاره ستاسو له کورونو نه د استوګنې ځایونه جوړ کړي دي او

جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ بُيُوْتًا

تاسو لپاره يې د څارويو له څرمنو نه کورونه جوړ کړي دي

تَسْتَخِفُّوْنَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَ يَوْمَ

چې تاسو يې د خپل سفر په ورځ سپک مومئ او د

اِقَامَتِكُمْ ۙ وَ مِنْ اَصْوَافِهَا وَ اَوْبَارِهَا

اقامت په ورځ هم او د هغو له وړيو او د هغو له وېښتانو

وَ اَشْعَارِهَاۤ اَثَاثًا وَّ مَتَاعًا اِلٰى

او د هغو له وږغنو نه يې اسبابونه او تر يو وخته پورې د نفعې سامانونه

حِيْنٍ ﴿٨٠﴾ وَ اللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ

(جوړ کړي دي) -80- او الله تاسو لپاره له هغو
شيزونو نه

ظِلٰلًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ

چې ده پيدا کړي دي سيوري پيدا کړي دي او
تاسو لپاره يې په غرونو کې

اَكْنَانًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ

پټ ځايونه جوړ کړي دي او تاسو لپاره يې
قميصونه پيدا کړي دي

تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ

چې تاسو له ګرمۍ نه ساتي او قميصونه (زغرې)
چې تاسو له

بَأْسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ

جنګ نه ساتي، همدارنګې هغه خپل نعمتونه پر
تاسو باندې پوره کوي، د دې لپاره

لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا

چې تاسو اسلام راوړئ -81- نو که دوی مخ
واړوي، نو همدا خبره ده چې په تا باندې یوائې

عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٢﴾ يَعْرِفُوْنَ

ښکاره رَسَوَل (تبلیغ کول) لازم دي -82- دوی د
الله

نِعْمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا وَاَكْثَرُهُمُ

نعمتونه پېژني، بیا له هغو نه انکار کوي او د دوی
زیاتره

ع 17

الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ

کافران دي -83- او هغه ورځ چې مونږ به

اُمَّةٍ شَهِيْدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ

له هر امت نه یو گواه راپورته کړو، بیا به هغو
کسانو ته چې کفر یې کړی دی، اجازت نه

كَفَرُوْا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَاِذَا

ورکولی شي او نه به له دوی نه د راضي کولو طلب کولی شي -84- او کله چې

رَاَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ

ووینې هغه کسان چې ظلم یې کړی دی عذاب لره، نو له دوی نه به هغه سپك (کم) نه کړی شي

عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٨٥﴾ وَاِذَا رَاَ

او نه به دوی ته مهلت ورکولی شي -85- او کله چې

الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا شُرَكَآءَهُمْ قَالُوْا

مشرکان خپل شریکان ووینې، دوی به ووایي:

رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ كُنَّا

ای زمونږ ربه! دا زمونږ هغه شریکان دي چې مونږ

الثلثة

نَدۡعُوۡا مِنۡ دُوۡنِكَ ۚ فَاَلۡقَوۡا اِلَيۡهِمُ

به له تا نه غير بلل، نو شريكان به دوى ته خبره وروغورځوي چې

الۡقَوۡلَ اِنَّكُمۡ لَكٰذِبُوۡنَ ۚ﴿۸۶﴾ وَ اَلۡقَوۡا اِلَى

بېشکه تاسو يقينًا دروغجنان يئ -86- او مشركان به په

اللّٰهِ يَوۡمَئِذِ ۣالسَّلَمَ وَ ضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا

دغې ورځې کې صلح الله ته وغورځوي او له دوى نه به هغه څه ورك شي

كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۸۷﴾ اَلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَ

چې دوى به دروغ ترل -87- هغه کسان چې كفر يې کړى دى او

صَدُّوۡا عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ زِدۡنٰهُمۡ عَذَابًا

د الله له لارې نه يې بندول کړي دي، مونږ به هغوى ته عذاب

فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا

د عذاب له پاسه ورزيات کړو، په سبب د هغه چې

يُفْسِدُوْنَ ﴿٨٨﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ

دوی به فساد کاوه -88- او په هغې ورځې کې چې مونږ به په هر امت کې

شَهِيْدًا عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ وَجِئْنَا

يو گواه راپورته کړو د دوی په خلاف د همدوی له نفسونو نه او مونږ

بِكَ شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ وَنَزَّلْنَا

به تا په دوی باندې گواه راولو او مونږ په تا باندې کتاب نازل کړی دی،

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّ

په داسې حال کې چې د هر شي لپاره واضحه بيان دی او

هُدًى وَّ رَحۡمَةً وَّ بُشۡرٰى

هدايت او رحمت او زيرى دى

ع 18

لِلۡمُسۡلِمِيۡنَ ۝٨٩ اِنَّ اللّٰهَ يَاۡمُرُ بِالۡعَدۡلِ

د مسلمانانو لپاره -89- بېشکه الله د انصاف کولو

وَ الۡاِحۡسَانِ وَ اِيۡتَآئِ ذِى الۡقُرۡبٰى وَ

او احسان کولو او خپلوانو ته د ورکړې حکم کوي
او

يَنۡهٰى عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَ الۡمُنۡكَرِ وَ

له فحاشۍ او بدو کارونو او سرکشۍ نه منع
کوي،

الۡبَغۡىِ ۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ

هغه تاسو ته نصيحت کوي، د دې لپاره چې

تَذَكَّرُوْنَ ۝٩٠ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا

تاسو نصيحت قبول كړئ -90- او تاسو د الله
وعده پوره كړئ كله چې

عٰهَدْتُّمْ وَلَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ بَعْدَ

تاسو وعده وكړئ او خپل قسمونه د هغو له
پخولو نه بعد مه ماتوئ،

تَوْكِيْدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَيْكُمْ

حال دا چې تاسو الله په خپلو ځانونو كفيل

كَفِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا

(ضامن) گرځولی دی، بېشكه الله پوهېږي په هغه

تَفْعَلُوْنَ ۝٩١ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّتِيْ نَقَضَتْ

څه چې تاسو يې كوئ -91- او تاسو د هغې ښځې
په شان مه كېږئ

غَزْلَهَا مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ اَنْكَاثًا ؕ

چې خپل وريشلي تارونه به يې له مضبوطوالي نه
پس بېرته اومه کول،

تَتَّخِذُوْنَ اَيْمَانَكُمْ دَخَلًاۢ بَيْنَكُمْ

په دې حال کې چې تړونې تړونې وي، تاسو خپل
قسمونه په خپل مينځ کې د تګۍ

اَنْ تَكُوْنَ اُمَّةٌ هِيَ اَرْبٰى مِنْ اُمَّةٍ ؕ اِنَّمَا

ذريعه جوړوئ، په دې وجه چې وي يوه ډله، هغه
ډېره زياته له بلې ډلې څخه،

يَبْلُوْكُمُ اللّٰهُ بِهٖ ؕ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ

همدا خبره ده چې الله تاسو په دې سره ازمايي او
خامخا

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مَا كُنْتُمْ فِيْهِ

ضرور به د قيامت په ورځ تاسو ته بيانوي هغه څه
چې تاسو په هغه

تَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۹۲﴾ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمۡ

كې اختلاف كاوه -92- او كه چېرې الله غوښتلی (نو) خامخا تاسو

اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنۡ يُّضِلُّ مَنۡ يَّشَآءُ وَ

به يې يو امت گرځولي وی او لېكن هغه گمراه كوي څوك چې وغواړي او

يَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَلَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا

هدايت وركوي چا ته چې وغواړي۔ او خامخا ضرور به له تاسو نه تپوس كېږي د هغو عملونو په

كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۳﴾ وَلَا تَتَّخِذُوۡۤا

باره كې چې تاسو به كول -93- او تاسو خپل قسمونه

اَيۡمَانَكُمۡ دَخَلًاۢ بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ

په خپل مينځ كې د تګي ذريعه مه جوړوئ، نو (گني) قدم

بَعۡدَ ثُبُوۡتِهَا وَتَذُوۡقُوا السُّوۡٓءَ بِمَا

به د هغه له ټېنګېدلو نه پس وښويېږي او تاسو به بدي وڅکئ،

صَدَدۡتُّمۡ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ۚ وَلَكُمۡ

په سبب د هغه چې تاسو د الله له لارې نه بندول کړي دي او تاسو لپاره

عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۹۴﴾ وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِعَهۡدِ

ډېر لوی عذاب دی -94- او تاسو د الله په عهد

اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ اِنَّمَا عِنۡدَ اللّٰهِ هُوَ

سره لږې پیسې مه اخلئ، بېشکه هغه څه چې د الله په نيز دي هغه

خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۵﴾ مَا

تاسو لپاره ډېر غوره دي، که چېرې تاسو پوهېږئ -95- هغه څه

عِنۡدَكُمۡ يَنۡفَدُ وَ مَا عِنۡدَ اللّٰهِ بَاقٍ ؕ وَ

چې له تاسو سره دي هغه ختمېږي او څه چې له
الله سره دي هغه باقي دي او

لَنَجۡزِيَنَّ الَّذِيۡنَ صَبَرُوۡۤا اَجۡرَهُمۡ

خامخا ضرور به مونږ هغو کسانو ته په عوض کې
د هغوی اجر ورکړو چې صبر يې کړی دی د هغو

بِاَحۡسَنِ مَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۶﴾ مَنۡ

تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول -
96- چا چې

عَمِلَ صَالِحًا مِّنۡ ذَكَرٍ اَوۡ اُنۡثٰى وَ هُوَ

نېك عمل وکړ، سړی وي، يا که ښځه، په داسې
حال کې

مُؤۡمِنٌ فَلَنُحۡيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَ

چې مومن وي، نو خامخا هرومرو به مونږ هغه ته
ژوند ورکړو، ډېر پاکيزه ژوند او

لَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا

خامخا هرومرو به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزا ورکړو د هغو تر ټولو ښو عملونو

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٧﴾ فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ

په بدل کې چې دوی به کول -97- نو کله چې ته قرآن لولې،

فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ

نو د الله پناه وغواړه د رټل شوي شیطان

الرَّجِيْمِ ﴿٩٨﴾ اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطٰنٌ عَلَى

نه (له شر) -98- بېشکه دا، نشته ده ته هېڅ غلبه په هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَلٰى رَبِّهِمْ

کسانو باندې چې ایمان يې راوړی دی او چې خاص په خپل رب

يَتَوَكَّلُوْنَ ۝٩٩ اِنَّمَا سُلْطٰنُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ

باندې هغوى توكل كوي -99- همداخبره ده چې د
ده غلبه په هغو كسانو باندې

يَتَوَلَّوْنَهٗ وَ الَّذِيْنَ هُمْ بِهٖ

ده چې له ده سره دوستي كوي او په هغو كسانو
باندې چې هغوى له هغه (الله)

ع
19

مُشْرِكُوْنَ ۝١٠٠ وَ اِذَا بَدَّلْنَآ اٰيَةً مَّكَانَ

سره شريك جوړونكي دي -100- او كله چې مونږ
يو ايت د بل

اٰيَةٍ ۙ وَّ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوْٓا اِنَّمَآ

ايت په ځاى كې بدل راوړو، او الله ښه پوه دى
په هغه څه چې هغه يې نازلوي، دوى وايې: خبره

اَنْتَ مُفْتَرٍ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا

همدا ده چې ته دروغ تړونكى يې، بلكې د دوى
اكثره

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۰۱﴾ قُلۡ نَزَّلَهٗ رُوۡحُ الۡقُدُسِ

نه پوهېږي -101- ته ووايه: هغه ستا د رب له جانبه په حقه سره روح القدس (جبريل) نازل

مِنۡ رَّبِّكَ بِالۡحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيۡنَ

کړې دی، د دې لپاره چې هغه کسان ثابت او ټينګ کړي

اٰمَنُوۡا وَ هُدًى وَّ بُشۡرٰى

چې ايمان يې راوړی دی او د مسلمانانو د هدايت

لِلۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴿۱۰۲﴾ وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ اَنَّهُمۡ

او زېري لپاره -102- او يقينًا يقينًا مونږ پوهېږو چې بېشکه

يَقُوۡلُوۡنَ اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؕ لِسَانُ

دوی وايي: خبره همدا ده چې ده ته يو انسان ښوونه کوي،

الَّذِىۡ يُلۡحِدُوۡنَ اِلَيۡهِ اَعۡجَمِىٌّ وَّ هٰذَا

د هغه کس ژبه چې دوی هغه ته نسبت کوي؛ عجمي ده او دا

لِسَانٌ عَرَبِىٌّ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۰۳﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ لَا

(قرآن) واضحه عربي ژبه ده -103- بېشکه هغه کسان چې

يُؤۡمِنُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۙ لَا يَهۡدِيۡهِمُ اللّٰهُ

د الله په ايتونو باندې ايمان راوړي، الله دوی ته هدايت نه کوي او دوی ته

وَلَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۱۰۴﴾ اِنَّمَا يَفۡتَرِى

ډېر دردوونکی عذاب دی -104- خبره همدا ده چې

الۡكَذِبَ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاٰيٰتِ

دروغ هغه کسان تړي چې د الله په ايتونو باندې ايمان نه راوړي

اللّٰهِ ۚ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿١٠٥﴾ مَنْ

او همدغه خلق دروغجن دي -105- هغه ثوک
چې

كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ اِلَّا مَنْ

په الله سره کافر شو د خپل ایمان له راوړلو نه
پس، غیر له

اُكْرِهَ وَ قَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ وَ

هغه کس نه چې زور پرې وکړی شي، په دې حال
کې چې د هغه زړه په ایمان سره مطمئن وي۔ او

لٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا

لېکن هغه ثوک چې په کفر سره خپله سینه فراخه
کړي،

فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ وَ لَهُمْ

نو په دغو خلقو باندې د الله له جانبه غضب دی
او د دوی لپاره

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ

ډېر لوی عذاب دی -106- دا په سبب د دې چې
بېشکه

اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى

دوی دنیايي ژوند په اخرت باندې

الْاٰخِرَةِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

غوره کړی دی او دا چې بېشکه الله کافر قوم ته

الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٠٧﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ

هدایت نه کوي -107- دا همغه کسان دي چې
الله د دوی

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۚ

په زړونو او د دوی په غوږونو او د دوی په سترګو
باندې مهر لګولی دی

وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ

او همدغه کسان غافلان دي -108- حقيقت دا دی چې

اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ

بېشکه دوی په اخرت کې، همدوی

الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٠٩﴾ ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ

تاوانيان دي -109- بيا بېشکه ستا رب د هغو کسانو لپاره

هَاجَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوْا ثُمَّ

چې هجرت يې کړی دی وروسته له دې چې په فتنه کې واچول شول، بيا يې

جٰهَدُوْا وَ صَبَرُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ

جهاد کړی دی او صبر يې کړی دی، بېشکه ستا رب له دې نه پس خامخا ښه مغفرت

ع
20

بَعۡدِهَا لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۝١١٠ يَوۡمَ تَاۡتِىۡ كُلُّ

کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی -110- هغه
ورځ چې هر کس

نَفۡسٍ تُجَادِلُ عَنۡ نَّفۡسِهَا وَتُوَفّٰى كُلُّ

به په داسې حال کې راځي چې د خپل نفس له
طرف نه به جګړه کوي او هر

نَفۡسٍ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا

نفس ته به پوره ورکړی شي هغه څه چې ده کړي
دي، په دې حال کې چې په دوی

يُظۡلَمُوۡنَ ۝١١١ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرۡيَةً

به ظلم ونه کړی شي -111- او الله د یو کلي
مثال بیانوي چې

كَانَتۡ اٰمِنَةً مُّطۡمَٮِٕنَّةً يَّاۡتِيۡهَا رِزۡقُهَا

د امن والا (او) اطمینان والا و، دغه (کلي) ته به
د هغه رزق له هره

رَغَدًا مِّنۡ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ

ځایه پرېمانه راته، نو دغه کلي د الله د نعمتونو ناشکري وکړه،

اللّٰهِ فَأَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الۡجُوعِ وَ

نو الله په دغه کلي باندې د لوږې او وېرې لباس وڅکاوه په سبب د

الۡخَوۡفِ بِمَا كَانُوا يَصۡنَعُونَ ١١٢ وَلَقَدۡ

هغو عملونو چې دوی به کول -112- او یقینًا یقینًا

جَآءَهُمۡ رَسُولٌ مِّنۡهُمۡ فَكَذَّبُوهُ

دوی ته له همدوی څخه رسول راغلی و، نو دوی د هغه تکذیب وکړ،

فَأَخَذَهُمُ الۡعَذَابُ وَهُمۡ

نو دوی عذاب ونیول، په داسې حال کې

ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

چې دوی ظالمان وو -113- نو تاسو خورئ له هغو (خوراکونو) نه چې تاسو ته الله درکړي دي،

حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ

چې حلال، پاکیزه دي او تاسو د الله د نعمتونو شکر وباسئ که

اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ

چېرې تاسو خاص د هغه عبادت کوئ -114- همدا خبره ده چې

عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ

هغه پر تاسو باندې حرامه کړې ده مرداره او وینه او د خنزیر غوښه

الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ

او هغه چې په هغه باندې د غیرالله لپاره اواز پورته کړی شوی وي، نو هغه څوک چې مجبوره

فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ

شي، په دې حال کې چې نه ظالم وي او نه (له حده) تجاوز کوونکى وي، نو بېشکه الله ډېر

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا

بخښونکى، بې حده رحم کوونکى دى -115- او په دې وجه چې

تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلٰلٌ

ستاسو ژبې دروغ بیانوي تاسو دا مه وایئ چې دا حلال دى

وَّهٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ

او دا حرام دى، د دې لپاره چې تاسو په الله باندې له

الْكَذِبَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى

ځانه دروغ جوړ کړئ، بېشکه هغه کسان چې په

اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿١١٦﴾ مَتَاعٌ

الله باندې دروغ تړي، هغوی به خلاصی ونه مومي -116- ډېره لږه

قَلِيْلٌ ۠ وَّ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١١٧﴾ وَ عَلَى

فایده ده، او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی -117- او په هغو

الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا

کسانو باندې چې یهودیان شوی دي، مونږ حرام کړي دي

عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ ۚ وَ مَا ظَلَمْنٰهُمْ وَ

هغه څه چې مونږ تا ته له دې نه مخکې بیان کړي دي او مونږ پر هغوی باندې ظلم نه دی کړی او

لٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ

لېکن هغوی وو چې په خپلو ځانونو یې ظلم کاوه -118- بیا

إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوٓءَ

بېشکه ستا رب هغو کسانو ته چې بدي يې په
ناپوهۍ

بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوا مِنۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ وَ

سره کړې ده، بيا يې له دې نه بعد توبه وېستله او

اَصۡلَحُوٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُوۡرٌ

اصلاح يې وکړه، بېشکه ستا رب له دې (توبې) نه
بعد خامخا ډېر بخښونکی، بې حده

ع 21

رَّحِيۡمٌ ۝١١٩ اِنَّ اِبۡرٰهِيۡمَ كَانَ اُمَّةً قَانِتًا

رحم کوونکی دی -119- بېشکه ابراهيم يو امت
و، د

لِّلّٰهِ حَنِيۡفًا ؕ وَلَمۡ يَكُ مِنَ

الله فرمان منونکی، حق ته مايله او نه و هغه

الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ ؕ

له مشرکانو څخه -120- د هغه د نعمتونو شکر کوونکی و،

اِجْتَبٰىهُ وَهَدٰىهُ اِلٰى صِرَاطٍ

هغه يې غوره کړی و او هغه ته يې د نېغې لارې

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٢١﴾ وَاٰتَيْنٰهُ فِى الدُّنْيَا

هدايت کړی و -121- او مونږ هغه ته په دنيا کې

حَسَنَةً ؕ وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ لَمِنَ

نېکي (او ښېګڼه) ورکړې وه او بېشکه هغه په اخرت کې خامخا له

الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ اَنِ

صالحانو څخه دی -122- بيا مونږ تا ته وحي وکړه

اتَّبِعۡ مِلَّةَ اِبۡرٰهِيۡمَ حَنِيۡفًا ؕ وَ مَا كَانَ

چې د ابراهيم د ملت پيروي وکړه چې حنيف و او
له

مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿۱۲۳﴾ اِنَّمَا جُعِلَ

مشرکانو څخه نه و -123- همدا خبره ده چې
(ورځ د)

السَّبۡتُ عَلَى الَّذِيۡنَ اخۡتَلَفُوۡا فِيۡهِ ؕ وَ

خالي په هغو کسانو مقرره شوې ده چې په دې کې
يې اختلاف کړی و او

اِنَّ رَبَّكَ لَيَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ

بېشکه ستا رب به خامخا د دوی په مينځ کې د

الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا كَانُوۡا فِيۡهِ

قيامت په ورځ فيصله کوي په هغه څيز کې چې
دوی به په

يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ

هغه کې اختلاف کاوه -124- ته د خپل رب لارې
ته په حکمت سره

بِالْحِكْمَةِ وَ الْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَ

او ښکلې نصیحت سره بلنه کوه او له دوی سره په
هغې طریقې سره مجادله (مباحثه)

جَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

کوه چې هغه تر ټولو ښه وي، بېشکه ستا رب
(چې دی)

هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ وَ هُوَ

هغه ښه پوه دی په هغه کس چې د هغه له لارې
نه گمراه شوی دی او هغه

اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَ اِنْ عَاقَبْتُمْ

ښه پوه دی په لار موندونکو باندې -125- او که
تاسو سزا (عذاب) ورکوئ،

فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ؕ وَ

نو د هغې سزا (عذاب) په مثل يې ورکوئ چې
تاسو ته په هغه سره عذاب درکړې شوى او

لَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ

البته که تاسو صبر وکړئ، (نو) يقينًا دا د صبر
کوونکو

لِّلصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَ اصْبِرْ وَ مَا صَبْرُكَ اِلَّا

لپاره ډېر غوره دى -126- او ته صبر کوه او نه
دى صبر ستا مګر

بِاللّٰهِ وَ لَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَ لَا تَكُ فِيْ

په توفيق د الله سره او په دوى باندې مه غمژن
کېږه او په زړه تنګۍ کې مه کېږه

ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ

د هغو مکرونو په وجه چې دوى يې کوي -127-
بېشکه الله د هغو

الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّ الَّذِيْنَ هُمْ

کسانو ملګری دی چې پرهېزګاري کوي او د هغو
کسانو چې هغوی

ع
22

مُّحْسِنُوْنَ ﴿۱۲۸﴾

نېکي کوونکي دي -128-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چي ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

سُبۡحٰنَ الَّذِىۡۤ اَسۡرٰى بِعَبۡدِهٖ لَيۡلًا

هغه ذات لره پاکي ده چي خپل بنده يې د شپې

مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَـرَامِ اِلَى الۡمَسۡجِدِ

په يوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد

الۡاَقۡصَا الَّذِىۡ بٰرَكۡنَا حَوۡلَهٗ لِنُرِيَهٗ

اقصیٰ ته بوتلو، هغه (مسجد اقصیٰ) چي مونږ د
هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی،

مِنۡ اٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ

د دې لپاره چي مونږ هغه ته له خپلو نښو څخه
ځيني وښيو، بېشکه هم هغه ښه اوريدونکی،

الْبَصِيْرُ ۝١ وَ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَ

ښه لیدونکی دی۔ -1- او مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړی و او

جَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا

هغه مو د بني اسرائیلو لپاره هدایت ګرځولی و، چې تاسو

تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ۝٢ ذُرِّيَّةَ مَنْ

زما نه غیر هیڅ کارساز مه نیسئ -2- ای د هغه چا اولاده

حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا

چې مونږ له نوح سره سواره کړي وو۔ بیشکه هغه ډیر شکر

شَكُوْرًا ۝٣ وَ قَضَيْنَآ اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

ایستونکی بنده و -3- او مونږ بني اسرائیلو ته په کتاب کې قطعي

فِی الۡکِتٰبِ لَتُفۡسِدُنَّ فِی الۡاَرۡضِ

حکم لیږلی و چې تاسو به خامخا هرومرو په
ځمکه کې دوه ځلې فساد کوئ

مَرَّتَیۡنِ وَ لَتَعۡلُنَّ عُلُوًّا کَبِیۡرًا ﴿۴﴾ فَاِذَا

او خامخا هرومرو به تاسو سرکشي کوئ، ډېره
لویه سرکشي -4- نو کله چې

جَآءَ وَعۡدُ اُوۡلٰىهُمَا بَعَثۡنَا عَلَیۡکُمۡ

په هغو دواړو کې د اول ځلې وعده راغله (نو)
مونږ پر تاسو باندې خپل داسې

عِبَادًا لَّنَاۤ اُولِیۡ بَاۡسٍ شَدِیۡدٍ فَجَاسُوۡا

بنده ګان مسلط کړل چې د ډېر سخت جنګ والا
(سخت جنګي خلق) وو،

خِلٰلَ الدِّیَارِ وَ کَانَ وَعۡدًا

نو هغوی د ښارونو په مینځ کې ښه وګرځېدل او
وه دا یوه وعده

مَّفْعُوْلًا ⑤ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ

پوره کړی شوې -5- بیا مونږ بیرته تاسو ته پر
هغوی باندې

عَلَيْهِمْ وَ اَمْدَدْنٰكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِيْنَ

غلبه دروگرځوله او ستاسو مدد مو وکړ په مالونو
او زامنو سره

وَ جَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيْرًا ⑥ اِنْ

او تاسو مو د ملاتړ په لحاظ ببخي زیات کړئ -6-
که تاسو

اَحْسَنْتُمْ اَحْسَنْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ ۗ وَ

نېکي وکړئ (نو) د خپلو ځانونو لپاره به نېکي
وکړئ او

اِنْ اَسَاْتُمْ فَلَهَا ؕ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ

که چېرې تاسو بدي وکړئ، نو د همدغو
(نفسونو) لپاره ده، نو کله چې د اخري ځل وعده

الۡاٰخِرَةِ لِيَسُوۡٓءٗا وُجُوۡهَكُمۡ وَ

راغله (نو مونږ پر تاسو باندې نور بنده ګان مسلط کړل)، د دې لپاره چې ستاسو مخونه

لِيَدۡخُلُوا الۡمَسۡجِدَ كَمَا دَخَلُوۡهُ اَوَّلَ

بد وران کړي او د دې لپاره چې جومات ته داخل شي لکه څنګه چې اول

مَرَّةٍ وَّلِيُتَبِّرُوۡا مَا عَلَوۡا

ځلې ده ته داخل شوي وو، او د دې لپاره چې هلاك او تباه کړي هر هغه شی چې دوی پرې

تَتۡبِيۡرًا ۝٧ عَسٰى رَبُّكُمۡ اَنۡ يَّرۡحَمَكُمۡ ۚ

غالب شي، سخت هلاکول -7- نږدې دی چې ستاسو رب به په تاسو رحم وکړي

وقف لازم

وَاِنۡ عُدۡتُّمۡ عُدۡنَا ۘ وَجَعَلۡنَا جَهَنَّمَ

او که تاسو بېرته وګرځېدئ (سرکشۍ ته، نو) مونږ به هم راوګرځو (عذاب درکولو ته)، او مونږ جهنم

لِلۡكٰفِرِيۡنَ حَصِيۡرًا ۝٨ اِنَّ هٰذَا

د کافرانو لپاره زندان گرځولی دی -8- بېشکه دا

الۡقُرۡاٰنَ يَهۡدِىۡ لِلَّتِىۡ هِىَ اَقۡوَمُ وَ

قرآن هغې (لارې) ته هدايت کوي چې تر ټولو برابره نېغه ده او

يُبَشِّرُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ الَّذِيۡنَ يَعۡمَلُوۡنَ

هغو مومنانو ته زېرى ورکوي چې نېك عملونه کوي،

الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمۡ اَجۡرًا كَبِيۡرًا ۝٩ وَّ

د دې چې يقينًا د دوى لپاره ډېر لوى اجر دى - 9- او

اَنَّ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ

دا چې بېشکه هغه کسان چې په اخرت باندې ايمان نه راوړي،

ع
1

اَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۟﴿۱۰﴾ وَيَدۡعُ

مونږ د هغوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب تیار کړی دی -10- او

الۡاِنۡسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالۡخَيۡرِ ؕ وَ

انسان د شر دعا غواړي د خپلې خیر د دعا (په شان) او

كَانَ الۡاِنۡسَانُ عَجُوۡلًا ﴿۱۱﴾ وَجَعَلۡنَا

انسان له شروع نه ډېر تلوار کوونکی دی -11- او مونږ

الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيۡنِ فَمَحَوۡنَاۤ اٰيَةَ

شپه او ورځ دوه نښې جوړې کړي دي، بیا مونږ د

الَّيۡلِ وَجَعَلۡنَاۤ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبۡصِرَةً

شپې نښه محوه کړه او د ورځې نښه مو روښانه وګرځوله، د دې لپاره

لِّتَبۡتَغُوۡا فَضۡلًا مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَلِتَعۡلَمُوۡا

چې تاسو د خپل رب فضل طلب کړئ او د دې لپاره

عَدَدَ السِّنِيۡنَ وَالۡحِسَابَ‌ؕ وَكُلَّ

چې تاسو د کلونو شمېر او حساب وپېژنئ او هر شی، مونږ هغه ښه

شَىۡءٍ فَصَّلۡنٰهُ تَفۡصِيۡلًا ۝١٢ وَكُلَّ اِنۡسَانٍ

په تفصیل سره بیان کړی دی -12- او هر انسان لره،

اَلۡزَمۡنٰهُ طٰۤـئِرَهٗ فِىۡ عُنُقِهٖ‌ؕ وَنُخۡرِجُ لَهٗ

مونږ هغه ته خپل عمل د هغه په غاړه کې لازم کړی دی

يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلۡقٰٮهُ

او د قیامت په ورځ به ده ته یو کتاب راوباسو چې ورسره به مخامخ شي، په داسې حال کې چې

مَنۡشُوۡرًا ﴿١٣﴾ اِقۡرَاۡ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى

غوړېدلی به وي -13- ته خپل کتاب ولوله، نن

بِنَفۡسِكَ الۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ

ورځ ستا په خلاف هم ستا خپل نفس کافي دی،

حَسِيۡبًا ﴿١٤﴾ؕ مَنِ اهۡتَدٰى فَاِنَّمَا يَهۡتَدِىۡ

حساب کوونکی -14- چا چې نېغه لار ونيوله، نو
همدا خبره ده چې هغه

لِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ

د خپل ځان (د فايدې) لپاره نېغه لار نيسي او
څوك چې بې لارې شو، نو همدا خبره ده چې هغه

عَلَيۡهَا ؕ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزۡرَ اُخۡرٰى ؕ وَ

د همدغه (نفس) په ضرر بې لارې كېږي او هېڅ
بار اوچتونكی د بل بار نه اوچتوي

مَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ

او مونږ كله هم عذاب وركوونكي نه يو تر هغه پورې چې

رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾ وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً

رسول ولېږو -15- او كله چې مونږ اراده وكړو چې يو كلى هلاك كړو

اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ

(نو) مونږ د هغه (كلي) كبرجنو مالدارو ته حكم وكړو، نو هغوى په ده كې فسق وكړي، نو په هغه

عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿۱۶﴾ وَ

باندې خبره ثابته شي، بيا مونږ هغه هلاك كړو، سخت هلاك كول -16- او

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ

مونږ له نوح نه وروسته څومره ډېر قرنونه (امتونه) هلاك كړي دي!

نُوحٍ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ

او ستا رب ښه کافي دی د خپلو بنده گانو په گناهونو باندې

خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ

ښه خبردار، ښه لیدونکی -17- هغه څوك چې داسې

الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ

وي چې دنیا غواړي (نو) مونږ به هغه ته په دې کې هغه څه په تلوار ورکړو چې مونږ یې غواړو، د

لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ

هغه چا لپاره چې مونږ یې اراده وکړو۔، بیا مونږ د هغه لپاره جهنم مقرروو چې دی به هغه ته ننوځي،

يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۱۸﴾ وَمَنْ

په داسې حال کې چې ملامت کړی شوی، شړل شوی به وي -18- او هغه

اَرَادَ الۡاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ

څوك چې اخرت غواړي او د هغه لپاره كوشش كوي، د هغه لايق

مُؤۡمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعۡيُهُمۡ

كوشش، په دې حال كې چې مومن (هم) وي، نو دغه خلق، د دوى سعي قدر كړى

مَّشۡكُوۡرًا ﴿۱۹﴾ كُلًّا نُّمِدُّ هٰۤؤُلَآءِ وَهٰۤؤُلَآءِ

شوې (او مقبوله) ده -19- له هر يو سره مونږ ستا د رب له وركړې څخه مدد كوو،

مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَ ؕ وَمَا كَانَ عَطَآءُ

له دوى سره اوله دغو سره، او ستا د رب عطاء (وركړه په دنيا كې) كله هم منع

رَبِّكَ مَحۡظُوۡرًا ﴿۲۰﴾ اُنۡظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا

كړى شوې نه ده -20- ته وګوره! څرنګه مونږ د دوى ځيني،

بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۭ وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ

په ځينو نورو باندې غوره کړي دي او خامخا
اخرت د درجو په لحاظ تر ټولو لوی او د فضيلت

دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ۝٢١ لَا تَجْعَلْ

ورکولو په لحاظ تر ټولو غټ دی -21- ته له الله
سره بل

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا

معبود مه نيسه، نو (ګنې) ملامت کړی شوی، بې

ع 2

مَّخْذُوْلًا ۝٢٢ۧ وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا

يارومددګار به کېنې -22- او ستا رب حکم کړی
دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هيچا)

اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۭ اِمَّا

مګر يوازې د هغه او له مور او پلار سره ښه
احسان کوئ او که

يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ

چېرې په دوی کې يو يا دواړه له تا سره لازمًا زوړوالي

كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا

(بوډاوالي) ته ورسېږي، نو ته دې دواړو ته أُف (هم) مه وايه او مه دوی رټه

وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴿٢٣﴾ وَاخْفِضْ

او ته دوی ته ډېره تعظيمي خبره وايه -23- او ته د دوی لپاره

لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ

له مهربانۍ نه د تواضع وزر ښکته کړه او وايه:

رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ

ای زما ربه! ته په دوی دواړو مهرباني وکړه، لکه څنګه چې دوی دواړو زما پالنه کړې ده، په

صَغِيْرًا ۞۲۴ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا فِيْ

دې حال کې چې زه وړوکی وم -24- ستاسو رب
په هغه څه ښه پوه دی

نُفُوْسِكُمْ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا صٰلِحِيْنَ فَاِنَّهٗ

چې ستاسو په نفسونو کې دي۔ که تاسو نېکان
یئ، نو بېشکه هغه له شروع نه د توبه

كَانَ لِلْاَوَّابِيْنَ غَفُوْرًا ۞۲۵ وَاٰتِ ذَا

کوونکو لپاره ډېر مغفرت کوونکی دی -25- او د
خپلوۍ

الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ

خاوند ته د هغه حق ورکړه او مسکين او

السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ۞۲۶ اِنَّ

مسافر ته (هم) او اسراف مه کوه، اسراف کول -
-26- بېشکه

الۡمُبَذِّرِيۡنَ كَانُوۡۤا اِخۡوَانَ الشَّيٰطِيۡنِ ؕ

اسراف كوونكي د شيطانانو وروڼه دي او شيطان

وَكَانَ الشَّيۡطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوۡرًا ﴿۲۷﴾ وَاِمَّا

له همېشه د خپل رب ډېر ناشكره دى -27- او كه

چېرې

تُعۡرِضَنَّ عَنۡهُمُ ابۡتِغَآءَ رَحۡمَةٍ مِّنۡ

ته له دوى نه اعراض كوې، د خپل رب له جانبه

د رحمت

رَّبِّكَ تَرۡجُوۡهَا فَقُلۡ لَّهُمۡ قَوۡلًا

د طلب لپاره چې ته يې امېد لرې، نو دوى ته ډېره

مَّيۡسُوۡرًا ﴿۲۸﴾ وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُوۡلَةً

اسانه خبره وايه -28- او مه كوه خپل لاس تر

خپلې

اِلٰى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ

غاړې پورې تړل شوی او مه هغه غځوه، بېخي پوره غځول (ګنې)

فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا ﴿٢٩﴾ اِنَّ رَبَّكَ

نو ملامت کړی شوی، پښېمانه شوی به کېنې -29- بېشکه ستا

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ

رب رزق فراخوي چا ته چې وغواړي او تنګوي يې، (چا ته چې وغواړی) بېشکه هغه په خپلو بنده

ع 3

اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿٣٠﴾ وَلَا

ګانو ښه خبردار، ښه ليدونکی دی -30- او تاسو خپل

تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ ؕ

اولاد د فقر له وېرې مه وژنئ، هم دا مونږ هغوی ته

نَحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡ ۚ إِنَّ قَتۡلَهُمۡ

روزي ورکوو او تاسو ته (هم) بېشکه د دوی وژل له

كَانَ خِطۡـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقۡرَبُوا الزِّنٰٓى

شروع نه ډېره لويه گناه ده -31- او تاسو زنا ته مه نژدې کيږئ،

إِنَّهُۥ كَانَ فَاحِشَةً ۖ وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾ وَ

بېشکه دا له شروع نه غټه بې حيايي ده او بده لار ده -32- او

لَا تَقۡتُلُوا النَّفۡسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ إِلَّا

تاسو هغه نفس مه وژنئ چې الله حرام کړی دی مگر

بِالۡحَقِّ ۗ وَمَنۡ قُتِلَ مَظۡلُومًا فَقَدۡ

په حقه سره او څوک چې ووژل شي، په دې حال کې چې مظلوم وي، نو يقينًا

جَعَلْنَا لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا فَلَا يُسْرِفْ فِّي

مونږ د هغه ولي (وارث) ته پوره غلبه ورکړې ده،
نو هغه دې په وژلو کې اسراف نه کوي،

الْقَتْلِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مَنْصُوْرًا ﴿۳۳﴾ وَلَا

بېشکه دغه (وارث) مدد کړی شوی دی -33- او
تاسو

تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ

د یتیم مال ته مه نژدې کېږئ مګر په هغې طریقې
سره چې هغه ترټولو ښه وي،

اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۪ وَاَوْفُوْا

تر هغه پورې چې هغه خپل د بلوغ حد ته
ورسېږي او تاسو

بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔوْلًا ﴿۳۴﴾ وَ

عهد پوره کوئ، بېشکه عهد دی پوښتل شوی -
34- او

اَوۡفُوا الۡكَيۡلَ اِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُوۡا

تاسو پېمانه پوره ورکوئ کله چې تاسو (څه شی) پېمانه کوئ او په ډېرې برابرې تلې

بِالۡقِسۡطَاسِ الۡمُسۡتَقِيۡمِ ؕ ذٰلِكَ خَيۡرٌ

سره تول کوئ دا (کار) تر ټولو غوره او د انجام په لحاظ

وَّ اَحۡسَنُ تَاۡوِيۡلًا ﴿۳۵﴾ وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ

تر ټولو ښه دی -35- او ته د هغه شي پیروي مه کوه چې

لَكَ بِهٖ عِلۡمٌ ؕ اِنَّ السَّمۡعَ وَالۡبَصَرَ وَ

تا ته د هغه علم نه وي، بېشکه غوږونه او سترګې

الۡفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ

او زړه، هر یو له دغو (درې واړو) دی د هغه په هکله

مَسْـُٔوۡلًا ﴿۳۶﴾ وَلَا تَمۡشِ فِى الۡاَرۡضِ

تپوس کړی شوی -36- او په ځمکه کې په تکبر سره مه ګرځه،

مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنۡ تَخۡرِقَ الۡاَرۡضَ وَلَنۡ

بېشکه چې ته به ځمکه ببخې خیرې نه کړی شې او په اوږدوالي

تَبۡلُغَ الۡجِبَالَ طُوۡلًا ﴿۳۷﴾ كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ

کې به غرونو ته ببخې ونه رسېږې -37- دغه ټول کارونه (چې دي)،

سَيِّئُهٗ عِنۡدَ رَبِّكَ مَكۡرُوۡهًا ﴿۳۸﴾ ذٰلِكَ

د دوی بدي ستا د رب په نیز له شروع نه ناخوښه ده -38- دا (ټول حکمونه) له هغو

مِمَّاۤ اَوۡحٰۤى اِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ الۡحِكۡمَةِ ؕ وَ

شخه دي چې ستا رب له حکمته شخه تا ته وحي کړي دي او

لَا تَجۡعَلۡ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلۡقٰى

ته له الله سره بل هيڅ معبود مه نيسه (ګڼې) نو

فِيۡ جَهَنَّمَ مَلُوۡمًا

په جهنم کې به وغورځول شې،

مَّدۡحُوۡرًا ﴿۳۹﴾ اَفَاَصۡفٰىكُمۡ رَبُّكُمۡ

ملامت کړی شوی، رټل شوی -39- ایا ستاسو رب تاسو په

بِالۡبَنِيۡنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الۡمَلٰٓئِكَةِ

زامنو سره غوره کړي يئ او (پخپله) هغه د ملايکو څخه

اِنَاثًا ؕ اِنَّكُمۡ لَتَقُوۡلُوۡنَ قَوۡلًا

جينکۍ نيولي دي؟ بېشکه تاسو يقينًا ډېره

ع
4

عَظِيۡمًا ﴿٤٠﴾ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِىۡ هٰذَا

لويه خبره وايئ -40- او يقينًا يقينًا مونږ په دې

الۡقُرۡاٰنِ لِيَذَّكَّرُوۡا ؕ وَمَا يَزِيۡدُهُمۡ

قرآن کې مکرر بيان کړی دی، د دې لپاره چې
دوی نصيحت واخلي (خو دغه بيان) دوی ته نه

اِلَّا نُفُوۡرًا ﴿٤١﴾ قُلۡ لَّوۡ كَانَ مَعَهٗۤ اٰلِهَةٌ كَمَا

زياتوي مگر تېښته (لرې والی) -41- ته ووايه: که
له دغه (الله) سره نور معبودان وی، لکه څنګه

يَقُوۡلُوۡنَ اِذًا لَّابۡتَغَوۡا اِلٰى ذِى الۡعَرۡشِ

چې دوی وايي (، نو) په دغه وخت کې به دوی
خامخا د عرش د مالك په

سَبِيۡلًا ﴿٤٢﴾ سُبۡحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا

طرف لاره لټولې وی -42- هغه لره پاکي ده او هغه
ډېر اوچت دی له هغو خبرو نه

يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ

چې دوی يې وايي ډېر لوی اوچتېدل -43- د هغه لپاره تسبيح وايي اوه

السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَ الْاَرْضُ وَ مَنْ

اسمانونه او ځمکه او هغه څوك چې په

فِيْهِنَّ ؕ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ

دغو کې دي، او نشته هېڅ يو شی مګر د هغه د ستاينې سره

بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ

تسبيح وايي او لېکن تاسو د هغو په

تَسْبِيْحَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا

تسبيح نه پوهېږئ، بېشکه هغه له ازله ډېر تحمل والا،

غَفُوۡرًا ﴿۴۴﴾ وَ اِذَا قَرَاۡتَ الۡقُرۡاٰنَ جَعَلۡنَا

ډېر بخښونکی دی -44- او کله چې ته قرآن لولې (، نو) مونږ ستا

بَيۡنَكَ وَ بَيۡنَ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ

په مینځ کې او د هغو کسانو په مینځ کې چې په اخرت ایمان

بِالۡاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسۡتُوۡرًا ﴿۴۵﴾ وَّ جَعَلۡنَا

نه راوړي یوه پټه پرده پیدا کړو -45- او مونږ د هغوی

عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ اَكِنَّةً اَنۡ يَّفۡقَهُوۡهُ وَ فِيۡۤ

په زړونو باندې پردې واچوو له دې نه چې دوی په ده پوه شي او د

اٰذَانِهِمۡ وَقۡرًا‌ ؕ وَ اِذَا ذَكَرۡتَ رَبَّكَ فِى

دوی په غوږونو کې کوڼوالی (پیداکړو)، او کله چې ته په قرآن کې یواځې خپل رب یاد کړې،

الۡقُرۡاٰنِ وَحۡدَهٗ وَلَّوۡا عَلٰٓى اَدۡبَارِهِمۡ

نو دوی په خپلو شاګانو بېرته وګرځي، په داسې حال کې چې

نُفُوۡرًا ۝٤٦ نَحۡنُ اَعۡلَمُ بِمَا يَسۡتَمِعُوۡنَ

ترهېدونکي وي -46- مونږ ښه پوه يو په هغه (نيت)

بِهٖۤ اِذۡ يَسۡتَمِعُوۡنَ اِلَيۡكَ وَاِذۡ هُمۡ

چې دوی په هغه سره اورېدل کوي، کله چې دوی تا ته غوږ ږدي او کله

نَجۡوٰٓى اِذۡ يَقُوۡلُ الظّٰلِمُوۡنَ اِنۡ

چې دوی پټې مشورې کوي، کله چې دا ظالمان وايي: تاسو پيروي

تَتَّبِعُوۡنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسۡحُوۡرًا ۝٤٧ اُنۡظُرۡ

نه کوئ مګر د داسې سړي چې جادو پرې شوی دی -47- ته وګوره!

كَيۡفَ ضَرَبُوۡا لَكَ الۡاَمۡثَالَ فَضَلُّوۡا

دوی ستا په باره کې مثالونه څنګه بیان کړل، نو ګمراه شول، نو د



فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ سَبِيۡلًا ﴿۴۸﴾ وَقَالُوۡۤا

سمې لارې استطاعت نه لري -48- او دوی وايي

ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا

ایا کله چې مونږ هډوکي او میده شوې خاورې شو، ایا یقینًا مونږ به

لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ خَلۡقًا جَدِيۡدًا ﴿۴۹﴾ قُلۡ

خامخا بیا راژوندي کړی شو په نوو پیدا کولو سره -49- ته ووایه:

كُوۡنُوۡا حِجَارَةً اَوۡ حَدِيۡدًا ﴿۵۰﴾ اَوۡ خَلۡقًا

تاسو کاڼي شئ، یا اوسپنه -50- یا کوم داسې مخلوق

مِّمَّا يَكۡبُرُ فِيۡ صُدُوۡرِكُمۡ ۚ فَسَيَقُوۡلُوۡنَ

له هغه قسمه نه چې ستاسو په سينو کې لوی ښکاري، نو دوی به ژر ووايي:

مَنۡ يُّعِيۡدُنَا ؕ قُلِ الَّذِيۡ فَطَرَكُمۡ

څوک به مونږ بيا راژوندي کوي؟ ته ووايه: هغه ذات چې تاسو يې

اَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنۡغِضُوۡنَ اِلَيۡكَ

اول کرت پيدا کړي يئ.، نو ژر به دوی خپل

رُءُوۡسَهُمۡ وَيَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هُوَ ؕ قُلۡ

سرونه تا ته (د استهزا په ډول) وخوځوي او وايي به: دا به کله وي؟ ته ووايه:

عَسٰٓى اَنۡ يَّكُوۡنَ قَرِيۡبًا ﴿٥١﴾ يَوۡمَ

امېد دی چې دغه به ډېر نژدې وي -51- په هغې ورځ کې

يَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ وَ

چې هغه (الله) به تاسو راوبلي، نو تاسو به (د هغه
بلل) قبول کړئ، په داسې حال کې چې د هغه ثنا

ع
5

تَظُنُّوْنَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٥٢﴾ وَ قُلْ

به وایئ، او گمان به کوئ چې تاسو نه یئ پاتې
شوي مگر لږ شانې -52- او ته زما بنده گانو ته

لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ

ووایه چې هغه خبره دې وايي چې هغه تر ټولو ښه
وي، بېشکه

الشَّيْطٰنَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّ

شیطان د دوی په مینځ کې دښمني اچوي، بېشکه

الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا

شیطان د انسان لپاره له شروع نه ښکاره

مُّبِيْنًا ﴿٥٣﴾ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِكُمْ ۚ اِنْ يَّشَاْ

دښمن دی -53- ستاسو رب په تاسو ښه پوه دی،
که هغه وغواړي (نو)

يَرْحَمْكُمْ اَوْ اِنْ يَّشَاْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ وَمَآ

په تاسو به رحم وکړي او که هغه وغواړي (نو)
تاسو ته به عذاب درکړي او ته

اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ

مونږ په دوی باندې ذمه وار نه يې لېږلی -54- او
ستاسو رب

اَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَ

ښه عالم دی په هغه چا چې په اسمانونو او ځمکه
کې دي او

لَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ عَلٰى بَعْضٍ

يقينًا يقينًا مونږ ځينو نبيانو ته په ځينو نورو باندې
فضيلت ورکړی دی

وَّ اٰتَيۡنَا دَاوٗدَ زَبُوۡرًا ۝٥٥ قُلِ ادۡعُوا

او مونږ داود ته زبور ورکړی و -55- ته ووايه: تاسو هغه (معبودان)

الَّذِيۡنَ زَعَمۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ فَلَا

راوبلئ چې تاسو يې له هغه (الله) نه غير عقيده لرئ، نو دوی

يَمۡلِكُوۡنَ كَشۡفَ الضُّرِّ عَنۡكُمۡ وَلَا

اختيار نه لري له تاسو نه د ضرر لرې کولو او نه

تَحۡوِيۡلًا ۝٥٦ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ

يې د ګرځولو -56- دغه خلق چې دوی يې بلي،

يَبۡتَغُوۡنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الۡوَسِيۡلَةَ اَيُّهُمۡ

هغه خلق دي چې خپل رب ته وسيله لټوي چې په دوی کې کوم

اَقۡرَبُ وَيَرۡجُوۡنَ رَحۡمَتَهٗ وَيَخَافُوۡنَ

یو زیات قریب دی، او د هغه د رحمت امېد لري او د هغه له

عَذَابَهٗ ؕ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ

عذابه وېرېږي، بېشکه ستا د رب عذاب له همېشه داسې دی چې

مَحۡذُوۡرًا ﴿۵۷﴾ وَاِنۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ اِلَّا نَحۡنُ

وېره ترې وکړی شي -57- او نشته هېڅ یو کلی مګر

مُهۡلِكُوۡهَا قَبۡلَ يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ اَوۡ

د قیامت له ورځې نه مخکې مونږ هغه لره هلاك کوونکي یو،

مُعَذِّبُوۡهَا عَذَابًا شَدِيۡدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ

یا هغه لره عذاب ورکوونکي یو، ډېر سخت عذاب۔، دا له شروع نه

فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿٥٨﴾ وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ

په کتاب کې لیکل شوي دي -58- او مونږ نه یو
منع کړي له دې

نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا

نه چې (د دوی د غوښتنې سره سم) معجزې
ولیږو مګر دې خبرې چې

الْاَوَّلُوْنَ ۭ وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ

اولنیو خلقو د دغو (معجزو) تکذیب کړی و او
مونږ ثمود ته اوښه ورکړه،

مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ۭ وَمَا نُرْسِلُ

چې ښکاره معجزه وه، نو هغوی له دې سره ظلم
وکړ او مونږ معجزې نه رالیږو

بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿٥٩﴾ وَاِذْ قُلْنَا لَكَ

مګر د ویرولو لپاره -59- او هغه وخت (یاد کړه)
چې مونږ تا ته وویل:

اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ؕ وَ مَا جَعَلۡنَا

بېشکه ستا رب ټول خلق راګېر کړي دي او مونږ هغه منظره

الرُّءۡيَا الَّتِىۡۤ اَرَيۡنٰكَ اِلَّا فِتۡنَةً لِّلنَّاسِ

چې مونږ تا ته وښووله نه ده ګرځولې مګر د خلقو لپاره ازمایش

وَ الشَّجَرَةَ الۡمَلۡعُوۡنَةَ فِى الۡقُرۡاٰنِ ؕ وَ

او هغه ونه چې په قرآن کې پرې لعنت کړی شوی دی او

نُخَوِّفُهُمۡ ۙ فَمَا يَزِيۡدُهُمۡ اِلَّا طُغۡيَانًا

مونږ دوی وېروو، نو (دغه وېرول) دوی ته نه زیاتوي مګر ډېره

كَبِيۡرًا ﴿۶۰﴾ؑ وَاِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اسۡجُدُوۡا

ع 6

لویه سرکشي -60- او کله چې مونږ ملایکو ته وویل: تاسو ادم ته سجده وکړئ،

د سورتونو فهرست

د سپارو فهرست

لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ قَالَ

نو دوی سجده وکړه غیر له ابلیس نه، هغه وویل: ایا

ءَاَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِيْنًا ﴿٦١﴾ قَالَ

زه هغه چا ته سجده وکړم چې تا له خټې پیدا کړی دی -61- هغه وویل:

اَرَءَيْتَكَ هٰذَا الَّذِىْ كَرَّمْتَ عَلَىَّ ؗ

ما ته خبر راکړه! دا سړی چې تا دا په ما باندې بهتر کړی دی،

لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

یقینًا که تا زه د قیامت د ورځې پورې وروسته کړم (نو) زه به خامخا هرومرو د ده

لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ

د اولادې بېخ وباسم، سوا له لږو څخه -62- (الله) وویل چې ځه!

اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَاِنَّ

نو په دوی کې چې چا ستا پیروي وکړه، نو بېشکه

جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿٦٣﴾ وَ

جهنم ستاسو جزا ده، ډېره پوره جزا -63- او

اسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ

ته په خپل اواز سره له دوی څخه هغه څوک

راپورته کړه

بِصَوْتِكَ وَ اَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَ

چې ستا پرې وس رسېږي، او ته په دوی باندې

خپل سواره او

رَجِلِكَ وَ شَارِكْهُمْ فِي الْاَمْوَالِ وَ

پیاده راجمع کړه اوله دوی سره په مالونو او

الْاَوْلَادِ وَعِدْهُمْ ۭ وَمَا يَعِدُهُمُ

اولادونو کې شريك شه او دوی ته وعده ورکړه، او
شيطان دوی ته وعده

الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ۝٦٤ اِنَّ عِبَادِيْ

نه ورکوي مگر د دوکې -64- بېشکه زما بنده گان

لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ ۭ وَكَفٰى

چې دي، تاله پر هغوی باندې هېڅ غلبه نشته او

بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ۝٦٥ رَبُّكُمُ الَّذِيْ يُزْجِيْ

ستا رب بنه کافي کارساز دی -65- ستاسو رب
هغه دی چې

لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوْا مِنْ

تاسو لپاره په سمندر کې بېړۍ روانوي، د دې
لپاره چې

فَضۡلِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِكُمۡ رَحِيۡمًا ۝٦٦ وَاِذَا

تاسو د هغه فضل ولټوئ، بېشکه هغه په تاسو له شروع نه ډېر رحم کوونکی دی -66- او کله چې

مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِى الۡبَحۡرِ ضَلَّ مَنۡ

تاسو ته په سمندر کې سختي دروروسېږي (، نو) هغه څوك (ستاسو له فکره)

تَدۡعُوۡنَ اِلَّاۤ اِيَّاهُ‌ ۚ فَلَمَّا نَجّٰٮكُمۡ اِلَى

ورك شي چې تاسو يې بلئ مګر يواځې هغه (الله بلئ)، نو کله چې تاسو

الۡبَرِّ اَعۡرَضۡتُمۡ‌ ؕ وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ

وچې ته بچ کړې (، نو) تاسو مخ اړوئ (له توحيده) او انسان دی

كَفُوۡرًا ۝٦٧ اَفَاَمِنۡتُمۡ اَنۡ يَّخۡسِفَ بِكُمۡ

ډېر ناشکره -67- ايا نو تاسو له دې نه په امان کې يئ چې هغه

جَانِبَ الْبَرِّ اَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ

تاسو د وچې ځمکې په یوه خوا کې ډوب (ښخ) کړي، یا پر تاسو باندې

حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ

کاڼي ورورونکې سخت باد راولېږي (او) بیا تاسو د خپل ځان لپاره هېڅ

وَكِيْلًا ۝٦٨ اَمْ اَمِنْتُمْ اَنْ يُّعِيْدَكُمْ

ساتونکې ونه مومئ -68- یا تاسو له دې نه په امان کې یئ

فِيْهِ تَارَةً اُخْرٰى فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ

چې په دغه (سمندر) کې مو بېرته په دوهم ځلې واپس کړي، نو پر تاسو باندې

قَاصِفًا مِّنَ الرِّيْحِ فَيُغْرِقَكُمْ بِمَا

ماتوونکی سخت باد راولېږي، نو تاسو د کفر

كَفَرْتُمْ ۙ ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ عَلَيْنَا

كولو په سبب غرق كړي، بيا به تاسو د خپل ځان
لپاره زمونږ په ضد راپسې ګرځېدونكى

بِهٖ تَبِيْعًا ﴿٦٩﴾ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ وَ

ونه مومئ -69- او يقينًا يقينًا مونږ د ادم اولادې ته

حَمَلْنٰهُمْ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ

ډېر عزت وركړى دى، او مونږ دوى (په سورليو
باندې) په وچه كې او په سمندر كې سواره كړي

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ

دي او مونږ دوى ته خوندور پاكيزه شيان وركړي
دي او مونږ دوى په خپل مخلوق كې په ډېرو

ع
7

مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴿٧٠﴾ۧ يَوْمَ نَدْعُوْا

زياتو باندې غوره كړي دي، غوره كول -70- او
(ياده كړه) هغه ورځ

كُلَّ اُنَاسٍۢ بِاِمَامِهِمۡ ۚ فَمَنۡ اُوۡتِيَ

چې مونږ به ټول خلق (انسانان) سره له خپل
امامه راوبلو، نو هغه څوك چې

كِتٰبَهٗ بِيَمِيۡنِهٖ فَاُولٰٓٮِٕكَ يَقۡرَءُوۡنَ

هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) په خپل ښي لاس
كې وركړى شو، نو دغه كسان به خپل كتاب

كِتٰبَهُمۡ وَلَا يُظۡلَمُوۡنَ فَتِيۡلًا ﴿۷۱﴾ وَمَنۡ

(عمل نامه) لولي او په دوى به د كجورې د نرى
تار هومره ظلم (هم) نه كيږي -71- او څوك چې

كَانَ فِيۡ هٰذِهٖۤ اَعۡمٰى فَهُوَ فِى الۡاٰخِرَةِ

په دې (دنيا) كې ړوند و، نو هغه به په اخرت كې
هم ړوند وي،

اَعۡمٰى وَاَضَلُّ سَبِيۡلًا ﴿۷۲﴾ وَاِنۡ كَادُوۡا

او (د نجات) د لارې په لحاظ به ډېر بې لارې
وي -72- او بېشكه شان دا دى

لَيَفْتِنُوْنَكَ عَنِ الَّذِىْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

چې دوی نژدې وو چې تا له هغه (قرآن) نه
واړوي چې مونږ تا ته وحي کړی دی،

لِتَفْتَرِیَ عَلَيْنَا غَيْرَهٗ ۖ وَاِذًا

د دې لپاره چې ته پر مونږ باندې له دې (قرآن) نه
غير راوتړې او په دغه وخت کې

لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا ۝٧٣ وَلَوْلَآ اَنْ

به دوی ته دوست نیولی وی -73- او که ته مونږه
(په حق باندې)

ثَبَّتْنٰكَ لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ

نه وی ټینګ کړی۔ (، نو) یقینًا یقینًا ته نژدې وې
چې دوی

شَيْئًا قَلِيْلًا ۝٧٤ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ

لږ څه مایله شې -74- (نو) په دغه وخت کې به
خامخا مونږ په

الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ

تا ځکلی وی دوه چند عذاب د ژوندون (په دنیا
کې) او دوه چنده عذاب د مرگ (په اخرت کې)

لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾ وَاِنْ كَادُوْا

بیا به ته د خپل ځان لپاره زمونږ په خلاف مدد
کوونکی ونه مومې -75- او بیشکه شان دا دی

لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ

چې دوی قریب وو چې تا خامخا له دې ځمکې

لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا وَاِذًا لَّا يَلْبَثُوْنَ

نه وخوځوي، د دې لپاره چې تا له دې نه وباسي
او په دغه وخت کې به دوی له تا نه وروسته

خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٧٦﴾ سُنَّةَ مَنْ قَدْ

درنگ (وخت) نه وی تېر کړی مگر ډېر لږ -76-
(زمونږ) طریقه (ده) په هغه

أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِن رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ

چا کې چې يقينًا مونږ له تا نه مخکې لیږلي وو د خپلو رسولانو څخه، او ته به زمونږ

ع 8

لِسُنَّتِنَا تَحۡوِيلًا ۝٧٧ أَقِمِ الصَّلَوٰةَ

طريقې لره هیڅ تبدیلېدل ونه مومې -77- ته لمونځ قايموه

لِدُلُوكِ الشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ الَّيۡلِ وَ

د لمر له زواله وورسته د شپې تر تیارې پورې او

قُرۡءَانَ الۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ الۡفَجۡرِ كَانَ

د سبا قرآن (لمونځ) هم (قايموه) بېشکه د سبا قرآن، ده ته

مَشۡهُودًا ۝٧٨ وَمِنَ الَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ

حاضري کولی شي -78- او د شپې په څه حصه کې خوب پرېږده،

نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ

چې تا لپاره دا زياتي عبادت دی۔، امېد دی چې
ستا رب به تا

مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿٧٩﴾ وَ قُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِىْ

مقامِ محمود (ستايل شوي ځای) ته پورته کړي -
79- او ته ووايه: ای زما ربه! ته ما داخل کړه په

مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّ اَخْرِجْنِىْ مُخْرَجَ

رښتيا داخلولو سره او ته ما وباسه په رښتيا

صِدْقٍ وَّ اجْعَلْ لِّىْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا

وېستلو سره او ته زما لپاره د خپل جانب نه يو
قوت

نَّصِيْرًا ﴿٨٠﴾ وَ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَ زَهَقَ

مددکوونکی مقرر کړه -80- او ته ووايه: حق
راغی او باطل

الْبَاطِلُ ۭ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ۝٨١ وَ

په تېښته ورك شو، بېشكه باطل دى وركېدونكى -81- او

نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَاۗءٌ وَّ

مونږ قرآن نازلوو هغه چې د مومنانو لپاره شفا او

رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلَا يَزِيْدُ

رحمت دى او ظالمانو ته نه زياتوي

الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ۝٨٢ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا

مگر تاوان -82- او كله چې مونږ په (نافرمان)

عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَ

انسان باندې انعام وكړو (نو) هغه مخ وگرځوي او خپل اړخ لرې كړي او

اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَـُٔوۡسًا ﴿٨٣﴾ قُلۡ كُلٌّ

کله چې ده ته شر (او تکلیف) ورسي (نو) ډېر نااميده شي -83- ته ووايه: هر کس په خپلې

يَّعۡمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖؕ فَرَبُّكُمۡ اَعۡلَمُ

مناسب حالې طريقې عمل کوي، نو ستا رب ښه عالم دی په هغه چا چې هغه

بِمَنۡ هُوَ اَهۡدٰى سَبِيۡلًا ﴿٨٤﴾ؑ وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ

د لارې په لحاظ ښه هدايت والا دی -84- او دوی له تا نه

عَنِ الرُّوۡحِؕ قُلِ الرُّوۡحُ مِنۡ اَمۡرِ رَبِّىۡ

د روح په باره کې پوښتنه کوي ته (ورته) ووايه: روح زما د رب له امره څخه

وَمَاۤ اُوۡتِيۡتُمۡ مِّنَ الۡعِلۡمِ اِلَّا

دی او تاسو ته له علم څخه (برخه) نه ده درکړ شوې مگر

ع 9

قَلِيۡلًا ﴿۸۵﴾ وَلَـئِنۡ شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ

ډېره لږه -85- او یقینًا که مونږ وغواړو (نو) خامخا ضرور به هغه (قرآن) بېرته یوسو چې مونږ

بِالَّذِىۡۤ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ

تا ته وحي کړی دی، بیا به ته د خپل ځان لپاره په دې باره کې زمونږ

بِهٖ عَلَيۡنَا وَكِيۡلًا ۙ﴿۸۶﴾ اِلَّا رَحۡمَةً مِّنۡ

په خلاف هېڅ وکیل (او کارساز) ونه مومې -86- خو د خپل رب له جانبه

رَّبِّكَ‌ؕ اِنَّ فَضۡلَهٗ كَانَ عَلَيۡكَ

د مهربانۍ په وجه، بېشکه د هغه فضل په تا باندې

كَبِيۡرًا ﴿۸۷﴾ قُلْ لَّـئِنِ اجۡتَمَعَتِ الۡاِنۡسُ وَ

ډېر لوی دی -87- ته ووایه: خامخا که انسانان او

الْجِنُّ عَلٰٓی اَنْ یَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا

پېریان ټول په دې خبره سره جمع شي چې د دې

الْقُرْاٰنِ لَا یَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ کَانَ

قرآن مِثل راوړي (، نو) د ده په مثل به رانه وړی
شي اگر که د دوی

بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِیْرًا ﴿۸۸﴾ وَلَقَدْ

ځینې د ځینو نورو ملاتړي (هم) وي -88- او
یقینًا یقینًا

صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ

مونږ په دې قرآن کې هر قسمه مثال بیا بیا بیان
کړی دی،

کُلِّ مَثَلٍ ؗ فَاَبٰٓی اَکْثَرُ النَّاسِ اِلَّا

نو زیاترو خلقو انکار وکړ غیر له

كُفُوۡرًا ﴿۸۹﴾ وَقَالُوۡا لَنۡ نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتّٰى

كفر كولو نه -89- او دوی وويل: مونږ به په تا له سره ايمان رانه

تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ الۡاَرۡضِ يَنۡۢبُوۡعًا ﴿۹۰﴾ۙ اَوۡ

وړو تر دې چې ته زمونږ لپاره په دې ځمکه کې خوټېدونكې چينه جاري كړې -90- يا چې

تَكُوۡنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنۡ نَّخِيۡلٍ وَّ عِنَبٍ

تا لپاره باغ وي د كجورو او انګور،

فَتُفَجِّرَ الۡاَنۡهٰرَ خِلٰلَهَا تَفۡجِيۡرًا ﴿۹۱﴾ۙ اَوۡ

بيا ته د دې (باغ) په مينځ كې ولې رواني كړې، روانول -91- يا چې

تُسۡقِطَ السَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا

لكه څنګه چې ستا خيال دی ته پر مونږ باندې

كِسَفًا اَوۡ تَاۡتِيَ بِاللّٰهِ وَ الۡمَلٰٓٮِٕكَةِ

اسمان ټوټې ټوټې راوغورځوې، يا چې ته الله او ملايك

قَبِيۡلًا ۙ۝۹۲ اَوۡ يَكُوۡنَ لَكَ بَيۡتٌ مِّنۡ

مخامخ (ښكاره) راولې -92- يا چې تا لپاره د سرو زرو كور وي،

زُخۡرُفٍ اَوۡ تَرۡقٰى فِى السَّمَآءِ ؕ وَلَنۡ

يا چې ته پورته اسمان ته وخېژې او مونږ به ستا په (تشو)

نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا

ختلو له سره ايمان رانه وړو تر هغه پورې چې ته پر مونږ باندې

كِتٰبًا نَّقۡرَؤُهٗ ؕ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّىۡ هَلۡ

داسې يو كتاب راكوز كړې چې مونږ يې لولو۔ ته (دوی ته) ووايه: زما رب لپاره پاكي ده،

ع
10

كُنۡتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوۡلًا ﴿۹۳﴾ وَ مَا مَنَعَ

زه نه یم مگر یو انسان (د نورو رسولانو په شان) رالیږل شوی -93- او خلق د

النَّاسَ اَنۡ یُّؤۡمِنُوۡۤا اِذۡ جَآءَهُمُ

ایمان له راوړلو نه نه دي منع کړي، کله چې دوی

الۡهُدٰۤی اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوۡۤا اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا

ته هدایت راغی، مگر دې خبرې چې دوی به ویل: ایا الله یو انسان

رَّسُوۡلًا ﴿۹۴﴾ قُلۡ لَّوۡ کَانَ فِی الۡاَرۡضِ

رسول رالیږلی دی! -94- ته (دوی ته) ووایه: که په ځمکه کې (د انسانانو په ځای)

مَلٰٓئِکَةٌ یَّمۡشُوۡنَ مُطۡمَئِنِّیۡنَ لَنَزَّلۡنَا

ملایك وی، چې په ارام سره گرځېدلی (نو) مونږ به خامخا په دوی باندې له

عَلَيۡهِمۡ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا

اسمان نه مَلك رسول رالیږلی

رَّسُوۡلًا ﴿٩٥﴾ قُلۡ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيۡدًۢا بَيۡنِىۡ

وی -95- ته ووایه: زما په مینځ کې او ستاسو په

وَبَيۡنَكُمۡ‌ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيۡرًۢا

مینځ کې الله بنه کافي گواه دی، بیشکه هغه په خپلو بنده گانو باندې بنه خبردار،

بَصِيۡرًا ﴿٩٦﴾ وَمَنۡ يَّهۡدِ اللّٰهُ فَهُوَ

بنه لیدونکی دی -96- او چا ته چې الله هدایت وکړي،

الۡمُهۡتَدِ‌ ۚ وَمَنۡ يُّضۡلِلۡ فَلَنۡ تَجِدَ

نو هم هغه هدایت موندونکی دی او هغه څوك چې هغه (الله) یې بې

لَهُمۡ اَوۡلِيَآءَ مِنۡ دُوۡنِهٖ ؕ وَنَحۡشُرُهُمۡ

لاري کړی، نو ته به د هغوی لپاره له هغه (الله) نه غیر هېڅ کارسازي (دوستان) له سره ونه مومې

يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوۡهِهِمۡ عُمۡيًا وَّ

او د قیامت په ورځ به مونږ دوی په خپلو مخونو باندې (نسکور) راجمع کړو، چې ړانده او

بُكۡمًا وَّ صُمًّا ؕ مَاۡوٰٮهُمۡ جَهَنَّمُ ؕ كُلَّمَا

ګونګیان او کاڼه به وي او د دوی اوسېدنځای به جهنم وي، هر کله چې (د جهنم اور) غلی شي،

النصف

خَبَتۡ زِدۡنٰهُمۡ سَعِيۡرًا ۝٩٧ ذٰلِكَ

(نو) مونږ به دوی ته لمبې وهونکی اور ورزیات کړو -97- „دا د دوی

جَزَآؤُهُمۡ بِاَنَّهُمۡ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِنَا وَ

جزا ده، په سبب د دې چې بېشکه دوی زمونږ په ایتونو سره کفر کړی و او

قَالُوۡۤا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّ رُفَاتًا ءَاِنَّا

ويل به يې: ايا كله چې مونږ هډوكي او ريږېدلې خاورې شو، ايا په رښتيا به مونږ هرومرو بيا

لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ خَلۡقًا جَدِيۡدًا ﴿۹۸﴾ اَوَ لَمۡ

ژوندي كولى شو، په نوي تخليق سره -98- ايا دوى نه دي

يَرَوۡا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِىۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

كتلي چې بېشكه هغه الله چې اسمانونه او ځمكه

الۡاَرۡضَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنۡ يَّخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ

يې پيدا كړي دي په دې قادر دى چې د دوى په مثل (نور) پيدا كړي۔

وَ جَعَلَ لَهُمۡ اَجَلًا لَّا رَيۡبَ فِيۡهِ‌ؕ فَاَبَى

او هغه د دوى لپاره يوه نېټه مقرر كړې ده چې په هغې كې هېڅ شك نشته،

الظّٰلِمُوۡنَ اِلَّا كُفُوۡرًا ﴿۹۹﴾ قُلۡ لَّوۡ اَنۡتُمۡ

نو ظالمانو انکار وکړ مگر له کفر کولو نه -99- ته (دوی ته) ووایه: که تاسو

تَمۡلِكُوۡنَ خَزَآٮِٕنَ رَحۡمَةِ رَبِّىۡۤ اِذًا

زما د رب د رحمت د خزانو مالکان شئ (نو) په دغه وخت کې به تاسو

لَّاَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡيَةَ الۡاِنۡفَاقِ‌ؕ وَكَانَ

هرومرو امساك (بخل) وکړئ د لګېدلو (خرچ کېدو) له وېرې نه او

ع 11

الۡاِنۡسَانُ قَتُوۡرًا ﴿۱۰۰﴾ وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا

انسان دی ډېر بخیل -100- او یقینًا یقینًا مونږ

مُوۡسٰى تِسۡعَ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ فَسۡـَٔلۡ بَنِىۡۤ

موسٰی ته نهه واضحې معجزې ورکړې وې، نو ته له بنی

اِسْرَآءِيْلَ اِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهٗ

اسرائيلو نه پوښتنه وکړه کله چې هغه دوی ته راغی، نو هغه ته

فِرْعَوْنُ اِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰمُوْسٰى

فرعون وويل: بېشکه زه خامخا ضرور په تا د جادو کړی شوي عقيده

مَسْحُوْرًا ﴿١٠١﴾ قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ

ساتم ای موسٰی! -101- ويې ويل: يقينًا يقينًا ته پوهېږې (په زړه کې) چې دا (نهه معجزې) نه دي

هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

نازلې کړي مگر داسمانونو او ځمکې رب، په داسې

بَصَآئِرَ ۚ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰفِرْعَوْنُ

حال کې چې دليلونه دي، او بېشکه زه خامخا هرومرو په تا باندې ای فرعونه!

مَثْبُوْرًا ﴿١٠٢﴾ فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ

د هلاك شوي يقين كوم -102- نو هغه (فرعون) اراده وکړه چې دوی له

الْاَرْضِ فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ

ځمکې نه وخوځوي، نو مونږ هغه او څوك چې له هغه سره وو ټول؛

جَمِيْعًا ﴿١٠٣﴾ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ لِبَنِيْٓ

غرق (ډوب) کړل -103- او د هغه (له هلاکت) نه وروسته مونږ بني

اِسْرَآءِيْلَ اسْكُنُوا الْاَرْضَ فَاِذَا

اسرائيلو ته وويل: تاسو په دغه ځمکه کې اوسئ، نو

جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ

کله چې د اخرت وعده (قيامت) راشي (نو) مونږ به تاسو ټول

لَفِيۡفًا ﴿١٠٤﴾ وَ بِالۡحَقِّ اَنۡزَلۡنٰهُ وَ بِالۡحَقِّ

سره ګډ راولو -104- او په حقه سره مونږ دا نازل کړی دی او په حقه

نَزَلَ ؕ وَ مَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّ

سره نازل شوی دی۔ او ته مونږ نه یې لیږلی مګر زیری ورکوونکی او

وقف لازم

نَذِيۡرًا ﴿١٠٥﴾ وَ قُرۡاٰنًا فَرَقۡنٰهُ لِتَقۡرَاَهٗ عَلَى

ویروونکی -105- او (مونږه) قرآن (نازل کړی دی) مونږ هغه ټوټه ټوټه (نازل) کړی دی،

النَّاسِ عَلٰى مُكۡثٍ وَّ نَزَّلۡنٰهُ

د دې لپاره چې ته دا خلقو ته ولولې په ارام (او وقفې) سره او مونږ دا نازل کړی دی

تَنۡزِيۡلًا ﴿١٠٦﴾ قُلۡ اٰمِنُوۡا بِهٖۤ اَوۡ لَا تُؤۡمِنُوۡا ؕ

(لږ لږ) نازلول -106- ته (دوی ته) ووایه چې تاسو په ده ایمان راوړئ، یا ایمان مه راوړئ،

إِنَّ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖٓ إِذَا

بېشکه هغه کسان چې له دغه (قرآن) نه مخکې هغوی

يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْأَذْقَانِ

ته علم ورکړی شوی دی، کله چې هغوی ته دا لوستی شي (نو) هغوی په زنو باندې نسکور

سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾ وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ إِنْ

پرېوځي، چې سجده کوونکي وي -107- او وايي زمونږ رب ته پاکي ده، بېشکه زمونږ د رب

كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّوْنَ

وعده خامخا کېدونکې ده -108- او دوی په زنو

لِلْأَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ

نسکور پرېوځي، چې ژاړي او عاجزي يې (د قرآن اورېدل) ورته

خُشُوۡعًا ۩۱۰۹ قُلِ ادۡعُوا اللّٰهَ اَوِ ادۡعُوا

ورزياته كړي -109- ته (دوی ته) ووايه: تاسو الله بلئ، يا تاسو

الرَّحۡمٰنَ ؕ اَيًّا مَّا تَدۡعُوۡا فَلَهُ

رحمٰن بلئ، هر يو (نوم) يې چې وبلئ، نو خاص د هغه لپاره دي تر ټولو

الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰى ۚ وَلَا تَجۡهَرۡ

ښکلي نومونه او ته (قراءت د) خپل لمونځ ډېر

بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَابۡتَغِ

مه ظاهروه او مه يې ډېر پټوه او د دې دواړو په

بَيۡنَ ذٰلِكَ سَبِيۡلًا ۝۱۱۰ وَقُلِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ

مينځ کې (منځنۍ) لار ولټوه -110- او ته ووايه: ټوله ثنا هغه الله لپاره خاص ده

الَّذِىْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّ لَمْ يَكُنْ لَّهٗ

چې نه يې څوك اولاد نيولى دى او نه د هغه لپاره

شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ

به بادشاهۍ كې څوك شريك شته او نه د هغه لپاره
د عاجزۍ په وجه څوك دوست

ع 12

مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ﴿١١١﴾

شته او ته د هغه لويي بيانوه، لويي كامله -111-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡۤ اَنۡزَلَ عَلٰی عَبۡدِہِ

ټولې ستاینې خاص د هغه الله لپاره دي چې په
خپل بنده یې

الۡکِتٰبَ وَ لَمۡ یَجۡعَلۡ لَّہٗ عِوَجًا ؕ ۜ﴿۱﴾ قَیِّمًا

کتاب نازل کړی دی او په ده کې یې هېڅ
کوږوالی نه دی ایښی [1] په دې حال

لِّیُنۡذِرَ بَاۡسًا شَدِیۡدًا مِّنۡ لَّدُنۡہُ وَ

کې چې سم برابر دی، د دې لپاره چې هغه دوی
له ډېر سخت عذاب نه وویروي، چې د هغه (الله)

یُبَشِّرَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ الَّذِیۡنَ یَعۡمَلُوۡنَ

له جانبه (راتلونکی) دی او هغو مومنانو ته زېری
ورکړي چې نېك عملونه کوي

الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا

چې بېشکه د دوی لپاره ډېر ښکلی

حَسَنًا ۝٢ مَّا كِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ۝٣ وَّ

اجر دی [2] چې دوی به تل ترتله په هغه کې اوسېدونکي وي [3] او

يُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ

چې هغه کسان ووېروي چې (له ډېره جهله) وايي: الله (د ځان لپاره)

وَلَدًا ۝٤ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّ لَا

اولاد نيولی دی [4] دوی ته په دې خبره هېڅ علم نشته او نه د

لِاٰبَآئِهِمْ ؕ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ

دوی پلرونو ته، دا د خبرې په لحاظ ډېره غټه (خبره)

اَفْوَاهِهِمْ ؕ اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا

ده چې د دوی له خولو نه راوځي، دوی نه

كَذِبًا ۝٥ فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰٓى

وايي مگر دروغ [5] نو ښايي چې ته د دوی پسې ورروسته (په گرځېدو سره)

اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا

له ډېره غمه د خپل ځان وژونکی شې که دوی په دې خبره

الْحَدِيْثِ اَسَفًا ۝٦ اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى

) قرآن) ایمان رانه وړي [6] بېشکه مونږ (چې يو) مونږ

الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ

هر هغه څيز چې د ځمکې له پاسه دی د دغې لپاره زينت گرځولی دی، د دې لپاره چې مونږ

اَحۡسَنُ عَمَلًا ۞ وَاِنَّا لَجٰعِلُوۡنَ مَا

دوی و ازمایو چې په دوی کې کوم یو د عمل په لحاظ ډېر غوره دی [7] او بېشکه مونږ خامخا

عَلَيۡهَا صَعِيۡدًا جُرُزًا ۞ اَمۡ حَسِبۡتَ

هغه څه چې په دې (ځمکه) باندې دي؛ وچ کلك ډاګ ګرځوونکي یو [8] ایا ته ګمان

اَنَّ اَصۡحٰبَ الۡـكَهۡفِ وَالرَّقِيۡمِ ۙ كَانُوۡا

کوې چې بېشکه د غار او تختۍ والا زمونږ په نښو کې

مِنۡ اٰيٰتِنَا عَجَبًا ۞ اِذۡ اَوَى الۡفِتۡيَةُ اِلَى

ډېر عجیبه وو؟ [9] (یاد کړه) هغه وخت چې ځلمیانو

الۡـكَهۡفِ فَقَالُوۡا رَبَّنَاۤ اٰتِنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ

غار ته رجوع وکړه، نو ویې ویل: ای زمونږه ربه! ته مونږ ته له خپل جانب نه

رَحۡمَةً وَّ هَيِّئۡ لَنَا مِنۡ اَمۡرِنَا

رحمت راکړه او زمونږ لپاره زمونږ په دې کار کې

رَشَدًا ﴿۱۰﴾ فَضَرَبۡنَا عَلٰۤی اٰذَانِهِمۡ فِی

هدايت برابر کړه [10] نو مونږ د دوی په غوږونو
خوب واچاوه،

الۡكَهۡفِ سِنِيۡنَ عَدَدًا ﴿۱۱﴾ ثُمَّ بَعَثۡنٰهُمۡ

په غار کې څو کاله په شمېر [11] بيا مونږ دوی
له خوبه راپاڅول،

لِنَعۡلَمَ اَیُّ الۡحِزۡبَيۡنِ اَحۡصٰی لِمَا

د دې لپاره چې مونږ معلوم کړو چې په دوه ډلو
کې کومې يوې هغه موده ياده ساتلې ده

ع 13

لَبِثُوۡۤا اَمَدًا ﴿۱۲﴾ نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ

چې دوی تېره کړې ده [12] مونږ تا ته د دوی
خبر په حقه سره بيانوو،

نَبَاَهُمۡ بِالۡحَقِّ ؕ اِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ اٰمَنُوۡا

بېشكه دوى داسې ځلميان وو چې په خپل رب يې ايمان راوړى و او مونږ

بِرَبِّهِمۡ وَ زِدۡنٰهُمۡ هُدًى ۖ ﴿۱۳﴾ وَّ رَبَطۡنَا

دوى په هدايت كې ورزيات كړي وو [13] او مونږ د دوى

عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ اِذۡ قَامُوۡا فَقَالُوۡا رَبُّنَا

زړونه مضبوط كړي وو، كله چې دوى ولاړ شول، نو ويې ويل: زمونږ رب د

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ لَنۡ نَّدۡعُوَا۟

اسمانونو او ځمكې رب دى، مونږ به هيڅكله له هغه نه

مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اِلٰهًا لَّقَدۡ قُلۡنَاۤ اِذًا

غير بل معبود ونه بلو (كه مونږ بل معبود وباله نو) ، يقينًا يقينًا په دغه وخت كې به مونږ ډېره

شَطَطًا ﴿١٤﴾ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ

غلطه خبره ويلې وي [14] زمونږ دې قوم له هغه (الله) نه

دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ۭ لَوْ لَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ

غير نور معبودان ونيول، دوی په (عبادت د) دغو (باطلو معبودانو) باندې

بِسُلْطٰنٍۭ بَيِّنٍ ۭ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

ښكاره دليل ولې نه راوړي؟ نو له هغه چا نه لوی ظالم څوك دی

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾ؕ وَاِذِ

چې په الله باندې دروغ تړي! [15] او كله چې تاسو

اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ

جدا شوئ له دوی نه او له هغه څه نه چې دوی يې له الله

فَأْوٗا اِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ

نه غير عبادت كوي، نو تاسو په غار كې ځای ونيسئ، ستاسو رب به تاسو لپاره

مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ

خپل رحمت خور كړي او تاسو لپاره به ستاسو په كار كې اساني

مِّرْفَقًا ﴿۱۶﴾ وَتَرَى الشَّمْسَ اِذَا طَلَعَتْ

تياره كړي [16] او ته به لمر وينې كله چې راخېژي،

تَّزٰوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَاِذَا

نو د دوی له غاره ښي اړخ ته ميلان كوي او كله

غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَ

چې پرېوځي (نو) د دوی په څنګ تېر شي چپ اړخ ته او

هُمْ فِيْ فَجْوَةٍ مِّنْهُ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ

دوی له دې (غار) نه په ارت میدان کې دي، دغه د

اللّٰهِ ؕ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَ

الله له نښو څخه دي، چا ته چې الله هدايت وکړي، نو هم هغه هدايت موندونکی دی او

مَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا

څوک چې گمراه کړي، نو ته به د هغه لپاره له سره ونه مومې، کوم لار

ع 14

مُّرْشِدًا ۧ ﴿١٧﴾ وَتَحْسَبُهُمْ اَيْقَاظًا وَّ هُمْ

ښوونکی دوست [17] او ته به په دوی د ويښو گمان کوې،

رُقُوْدٌ ۖۗ وَّ نُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَ ذَاتَ

حال دا چې دوی ويده دي او مونږ دوی په ښي اړخ او

الشِّمَالِ ۖ وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ

چپ اړخ اړوو. او د دوی سپی (د غار) په خولې کې د خپلو څنګلو غځوونکی دی،

بِالْوَصِيدِ ۚ لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ

که ته په دوی له بره نظر واچوې (نو) ته به خامخا

لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ

له دوی نه په تېښته راوګرځې او خامخا به ته د وېرې په لحاظ

رُعْبًا ﴿١٨﴾ وَكَذَٰلِكَ بَعَثْنَاهُمْ

ډک کړی شې [18] او همداسې مونږ دوی بیا راوېښ کړل،

لِيَتَسَاءَلُوا بَيْنَهُمْ ۚ قَالَ قَائِلٌ

د دې لپاره چې دوی په خپل مینځ کې یو له بله پوښتنه وکړي، په دوی کې یو ویونکي وویل:

مِّنۡهُمۡ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ ؕ قَالُوۡا لَبِثۡنَا يَوۡمًا

تاسو څومره وخت تېر كړی دی؟ دوی وویل: مونږ يوه ورځ،

اَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٍ ؕ قَالُوۡا رَبُّكُمۡ اَعۡلَمُ بِمَا

يا د ورځې څه حصه وخت تېر كړی دی، ـ نورو وویل: ستاسو رب ښه عالم دی په هغې

لَبِثۡتُمۡ ؕ فَابۡعَثُوۡۤا اَحَدَكُمۡ بِوَرِقِكُمۡ

مودې چې تاسو تېره كړې ده، ـ نو تاسو خپل يو تن له خپلو دې سپينوزرو

هٰذِهٖۤ اِلَى الۡمَدِيۡنَةِ فَلۡيَنۡظُرۡ اَيُّهَاۤ اَزۡكٰى

سره ښار ته ولېږئ، نو هغه دې وګوري چې د دې (ښار) كوم يو كس

طَعَامًا فَلۡيَاۡتِكُمۡ بِرِزۡقٍ مِّنۡهُ وَ

د طعام په لحاظ ډېر پاكيزه دی، نو دی دې تاسو ته له هغه نه خوراك راوړي او

لۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ

نرمي او زيركي دې كوي او په تاسو دې هيڅوك له سره

اَحَدًا ۝١٩ اِنَّهُمۡ اِنۡ يَّظۡهَرُوۡا عَلَيۡكُمۡ

خبر نه كړي [19] بېشكه دوى كه په تاسو خبر (او غالبه) شي (نو) دوى به تاسو

يَرۡجُمُوۡكُمۡ اَوۡ يُعِيۡدُوۡكُمۡ فِيۡ مِلَّتِهِمۡ

سنگسار كړي، يا به تاسو خپل دين ته بېرته وگرځوي او په دغه وخت كې

وَلَنۡ تُفۡلِحُوۡۤا اِذًا اَبَدًا ۝٢٠ وَكَذٰلِكَ

به تاسو له سره كامياب نشئ، هيڅكله [20] او همداسې

اَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ لِيَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ

مونږ په دوى باندې (خلق) خبر كړل، د دې لپاره چې دغه (خلق) پوه شي چې بېشكه د الله وعده

حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيْهَا ۚ اِذْ

حقه ده او دا چې بېشكه قيامت (چې دى) په ده
كې هيڅ شك نشته، (مونږ خلق)

يَتَنَازَعُوْنَ بَيْنَهُمْ اَمْرَهُمْ فَقَالُوا

هغه وخت (خبر كړل) چې دوى په خپل مينځ كې
د هغوى په معامله كې جګړې كولې، نو دوى

ابْنُوْا عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ۖ رَبُّهُمْ اَعْلَمُ

وويل: تاسو په دوى باندې يوه ودانۍ جوړه كړئ،
د دوى رب په دوى ښه

بِهِمْ ۖ قَالَ الَّذِيْنَ غَلَبُوْا عَلٰٓى اَمْرِهِمْ

عالم دى، هغو كسانو وويل چې د دوى په معامله
كې غالبه شوي وو،

لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِمْ

مونږ به خامخا هرومرو په دوى

مَّسۡجِدٗا ﴿٢١﴾ سَيَقُوۡلُوۡنَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمۡ

باندې جومات جوړوو [21] ژر به دغه (خلق) وايي چې (دوی) درې دي، د دوی څلورم د دوی

كَلۡبُهُمۡ ۚ وَيَقُوۡلُوۡنَ خَمۡسَةٌ سَادِسُهُمۡ

سپی دی او وايي به چې (دوی) پنځه دي، د دوی شپږم د

كَلۡبُهُمۡ رَجۡمًاۢ بِالۡغَيۡبِ ۚ وَيَقُوۡلُوۡنَ

دوی سپی دی، په داسې حال کې چې بې نښې ناليدلي ويشتل کوي او وايي به چې

سَبۡعَةٌ وَّثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ ؕ قُلۡ رَّبِّيۡۤ

)دوی) اوه دي۔ او د دوی اتم د دوی سپی دی۔، ته ووايه: زما رب

اَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِمۡ مَّا يَعۡلَمُهُمۡ اِلَّا

د دوی په شمېر ښه عالم دی، په دوی خبر (او عالِم) نه دي مګر

قَلِيۡلٌ ۙ۫ فَلَا تُمَارِ فِيۡهِمۡ اِلَّا مِرَآءً

ډېر لږ (خلق) ـ، نو ته د دوی په باره کې له
سرسري بحث نه غیر

ظَاهِرًا ۖ وَّلَا تَسۡتَفۡتِ فِيۡهِمۡ مِّنۡهُمۡ

بحث مه کوه او ته د دوی په باره کې په دغو
(اهل کتابو) کې له هیچا نه

ع 15

اَحَدًا ۝٢٢ وَلَا تَقُوۡلَنَّ لِشَاىۡءٍ اِنِّىۡ

فتوٰی مه غواړه [22] او ته د هیڅ شي په باره کې
له سره داسې مه وایه چې بېشکه

فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ۝٢٣ اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ اللّٰهُ

زه سبا ته د دغه کار کوونکی یم [23] مګر
(جوخت ورسره وایه) که الله یې وغواړي

وَاذۡكُرۡ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيۡتَ وَقُلۡ عَسٰٓى

او خپل رب یادوه کله چې دې هېر شي، او ته
ووایه امید دی

اَنۡ يَّهۡدِيَنِ رَبِّىۡ لِاَقۡرَبَ مِنۡ هٰذَا

چې ما ته به زما رب لار ښوونه وکړي د نېکۍ په لحاظ دې ته د

رَشَدًا ۝٢٤ وَلَبِثُوۡا فِىۡ كَهۡفِهِمۡ ثَلٰثَ

قريب ترې لارې [24] او دوی په خپل غار کې درې

مِائَةٍ سِنِيۡنَ وَازۡدَادُوۡا تِسۡعًا ۝٢٥ قُلِ

سوه کاله تېر کړل او نهه يې (پرې) ور زيات کړل [25] ته ووايه:

اللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا لَبِثُوۡا‌ ۚ لَهٗ غَيۡبُ

الله ښه عالم دی په مقدار د هغې مودې چې دوی تېره کړې ده.، خاص

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ‌ؕ اَبۡصِرۡ بِهٖ وَ

د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې غيب (پټ اَسرار) دي،

اَسۡمِعۡ ؕ مَا لَهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ مِنۡ وَّلِيٍّ ۫ وَّ

هغه څه ښه لیدونکی او څه ښه اورېدونکی دی.!
د دوی لپاره له هغه نه غیر هېڅ کارساز (او

لَا یُشۡرِكُ فِیۡ حُكۡمِهٖۤ اَحَدًا ﴿۲۶﴾ وَ اتۡلُ مَاۤ

حمایتي) نشته او هغه په خپل حکم (او قضاء) کې
هیڅوك نه شریکوي [26] او ته لوله هغه چې تا ته

اُوۡحِیَ اِلَیۡكَ مِنۡ كِتَابِ رَبِّكَ ۚ لَا

د خپل رب له کتابه وحي کړې شوې دی، د هغه
(الله)

مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ۫ وَ لَنۡ تَجِدَ مِنۡ دُوۡنِهٖ

کلمو لره هیڅوك بدلوونکی نشته او له هغه نه غیر
به ته له سره پناه

مُلۡتَحَدًا ﴿۲۷﴾ وَ اصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ

ځای ونه مومې [27] او ته خپل ځان له هغو
کسانو سره بند (او ټینګ) وساته

الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدٰوةِ وَ

چې خپل رب د ورځې په شروع کې او د ورځې په اخر کې بولي، دوی د هغه مخ غواړي۔ او

الۡعَشِيِّ يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ وَلَا تَعۡدُ

ستا سترګې دې له دوی نه تېرې نشي، چې ته د دنيايي

عَيۡنٰكَ عَنۡهُمۡ ۚ تُرِيۡدُ زِيۡنَةَ الۡحَيٰوةِ

ژوند ښايست غواړې او ته د هغه چا اطاعت مه کوه چې

الدُّنۡيَا ۚ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ اَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهٗ

مونږ له خپل ذکر نه د هغه زړه غافل کړی دی او هغه د خپل

عَنۡ ذِكۡرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمۡرُهٗ

خواهش تابع شوی دی او د هغه کار له حد نه

الثلثة

فُرُطًا ﴿٢٨﴾ وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ قف

وتلی دی [28] او ته (دوی ته) ووایه: حق ستا د رب له جانبه دی،

فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ

نو څوك چې (د ایمان) اراده وکړي، نو هغه دې ایمان راوړي او

فَلْيَكْفُرْ لا اِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا لا

څوك چې (د كفر) اراده وکړې، نو هغه دې كافر شي، بېشكه مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تیار

اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ط وَاِنْ

کړی دی چې له دغو نه د هغه پردې چاپېره شوي دي۔ او كه دوی

يَّسْتَغِيْثُوْا يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ

) له تندې نه) فریاد وکړي (نو) په داسې اوبو سره به يې فریاد رسي وشي

يَشْوِي الْوُجُوْهَ ؕ بِئْسَ الشَّرَابُ ؕ وَ

لکه زوې (د تیلو خټ) چې مخونه به وریتوي، بد دی دغه مشروب او

سَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿۲۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

دغه بد ځای دی د اوسېدلو [29] بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ

نېك عملونه یې کړي دي، (، نو) بېشکه مونږ د هغه چا اجر

مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا ﴿۳۰﴾ ج اُولٰٓئِكَ لَهُمْ

نه ضایع کوو چې ښه عمل یې کړی دی [30] دغه کسان چې دي،

جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ

د دوی لپاره د تل استوګنې جنتونه دي چې د هغو له لاندې

الۡاَنۡهٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيۡهَا مِنۡ اَسَاوِرَ مِنۡ

ولې بهېږي، دوی به په هغو کې د سروزرو په ونښیو

ذَهَبٍ وَّيَلۡبَسُوۡنَ ثِيَابًا خُضۡرًا مِّنۡ

اراسته (او ښکلي) کاوه شي او دوی به د نرۍ وریښمو او پېړو وریښمو شنې جامې اغوندي، په

سُنۡدُسٍ وَّاِسۡتَبۡرَقٍ مُّتَّكِـِٕيۡنَ فِيۡهَا

داسې حال کې چې په دغو (جنتونو) کې به په

عَلَى الۡاَرَآئِكِ‌ؕ نِعۡمَ الثَّوَابُ‌ؕ وَ

تختونو باندې تکیه وهونکي وي، دغه ښه بدل دی او

ع 16

حَسُنَتۡ مُرۡتَفَقًا ؒ ۳۱ وَاضۡرِبۡ لَهُمۡ

ښه د ارام ځای دی [31] او دوی ته یو مثال بیان کړه،

مَّثَلًا رَّجُلَیْنِ جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا

دوه سړي دي، په دوی کې يو ته مونږ د

جَنَّتَیْنِ مِنْ اَعْنَابٍ وَّ حَفَفْنٰهُمَا

انګورو دوه باغونه ورکړي دي، او دغه دواړه
(باغونه) مونږ په کجورو سره پټ کړي دي او د

بِنَخْلٍ وَّ جَعَلْنَا بَیْنَهُمَا زَرْعًا ؕ﴿۳۲﴾ كِلْتَا

دواړو په مينځ کې مونږ فصل (کښت) پيدا کړی
دی [32] دغه دواړه

الْجَنَّتَیْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا وَ لَمْ تَظْلِمْ

باغونه خپلې مېوې کوي اوهېڅ شی ترې نه

مِّنْهُ شَیْـًٔا ۙ وَّ فَجَّرْنَا خِلٰلَهُمَا

نه کموي او مونږ د دواړو په مينځ کې وياله

نَهَرًا ﴿٣٣﴾ وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ

بهولې ده [33] او د ده لپاره نورې مېوې هم شته،
نو ده خپل ملګري ته وویل،

وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَنَا اَكۡثَرُ مِنۡكَ مَالًا وَّ

په دې حال کې چې یو بل سره یې خبرې کولې:
زه له تا نه په مال کې زیات یم او

اَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾ وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ

په ملاتړ (سړیو) کې ډېر غالب یم [34] او دی
خپل باغ ته داخل شو، په داسې

ظَالِمٌ لِّنَفۡسِهٖ ۚ قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنۡ

حال کې چې په خپل ځان ظلم کوونکی و، ویې
ویل: زه ګمان نه کوم چې دا (باغ) به

تَبِيۡدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ

کله هم هلاك (او خراب) شي [35] او زه ګمان نه
کوم چې قیامت

قَآئِمَةً وَّلَئِنۡ رُّدِدۡتُّ اِلٰى رَبِّىۡ لَاَجِدَنَّ

قايمېدونکی دی او قسم دی که زه خپل رب ته
بوتلی شوم، نو خامخا هرومرو به زه له دې (باغ)

خَيۡرًا مِّنۡهَا مُنۡقَلَبًا ۝٣٦ قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ

نه غوره د بېرته ورتلو ځای وموممم [36] ده ته
خپل (مومن) ملګري وویل،

وَهُوَ يُحَاوِرُهٗۤ اَكَفَرۡتَ بِالَّذِىۡ خَلَقَكَ

په داسې حال کې چې ده ته یې جواب ورکاوه: ایا
ته په هغه ذات سره کافر شوی یې چې ته یې له

مِنۡ تُرَابٍ ثُمَّ مِنۡ نُّطۡفَةٍ ثُمَّ سَوّٰٮكَ

خاورو پیداکړې، بیا یې له نطفې نه، بیا یې ته
سمړی

رَجُلًا ؕ‏ ۝٣٧ لٰـكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّىۡ وَلَاۤ اُشۡرِكُ

برابر کړې [37] لېکن زه چې یم (زه وایم چې)
شان دا دی چې هم الله زما رب دی، او زه له خپل

بِرَبِّیٓ اَحَدًا ﴿۳۸﴾ وَلَوۡ لَاۤ اِذۡ دَخَلۡتَ

رب سره هيڅوك نه شريكوم [38] او كله چې ته
خپل باغ ته داخل شوې

جَنَّتَكَ قُلۡتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ اِلَّا

تا دا ولې ونه ويل: مَاشَاءَ اللهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بالله
(كيږي هغه چې الله يې اراده وكړي، هيڅ طَاقت

بِاللّٰهِ ۚ اِنۡ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنۡكَ مَالًا وَّ

نشته مگر د الله په توفيق سره) كه ته ما له خپل
ځان نه په مال او

وَلَدًا ﴿۳۹﴾ ۚ فَعَسٰى رَبِّیٓ اَنۡ يُّؤۡتِيَنِ خَيۡرًا

اولاد كې كم وينې [39] نو اميد دى چې ما ته به
زما رب ستا له باغ نه

مِّنۡ جَنَّتِكَ وَيُرۡسِلَ عَلَيۡهَا حُسۡبَانًا

غوره راكړي او په دغه (باغ) به له اسمانه

مِّنَ السَّمَآءِ فَتُصۡبِحَ صَعِيۡدًا

عذاب (تندر) نازل کړي، نو هغه به وچ ښوی

زَلَقًا ﴿٤٠﴾ اَوۡ يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرًا فَلَنۡ

میدان شي [40] یابه د ده اوبه وچې ډوبې شي،
بیا به ته د دغو (ډوبو اوبو) په

تَسۡتَطِيۡعَ لَهٗ طَلَبًا ﴿٤١﴾ وَاُحِيۡطَ بِثَمَرِهٖ

لټولو له سره ونه توانېږې [41] او د ده مېوې
ګېرې کړی شوې،

فَاَصۡبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ عَلٰى مَاۤ اَنۡفَقَ

) هلاکې شوې) نو داسې شه چې خپل ورغوي يې
(له افسوسه)

فِيۡهَا وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوۡشِهَا وَ

مښل په هغه (مال) باندې چې ده په دغه (باغ)
کې لګولی و، په داسې حال کې چې هغه د خپلو

يَقُوۡلُ يٰلَيۡتَنِىۡ لَمۡ اُشۡرِكۡ بِرَبِّىۡۤ

چتونو له پاسه لوېدلى و، او ده ويل: اى كاشكې ما د خپل رب سره هيڅوك نه

اَحَدًا ﴿۴۲﴾ وَلَمۡ تَكُنۡ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنۡصُرُوۡنَهٗ

وى شريك كړى [42] او د ده هېڅ داسې ډله نه وه چې له

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ

الله نه غير يې دده مرسته كړې وى او نه دا پخپله بدله اخيستونكى

مُنۡتَصِرًا ﴿۴۳﴾ؕ هُنَالِكَ الۡوَلَايَةُ لِلّٰهِ

) د ځان مدد كوونكى) و [43] په دغه وخت كې ټول د اختيار حق الله لره دى،

الۡحَقِّ ؕ هُوَ خَيۡرٌ ثَوَابًا وَّ خَيۡرٌ

هغه د ثواب په لحاظ ډېر غوره دى او د انجام په

ع
17

عُقْبًا ﴿٤٤﴾ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ

لحاظ ډېر ښه [44] او ته دوی ته د دنیایي ژوند

الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ

مثال بیان کړه چې د هغو اوبو په شان دی چې
مونږ له اسمان نه نازلې کړې دي،

فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ

نو په دغو سره د ځمکې زرغونه یو بل سره ګډه
وډه شي، بیا (دغه زرغونه) وچه

هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

کلکه ماته ماته شي، چې بادونه یې الوځوي او
الله په

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴿٤٥﴾ اَلْمَالُ وَ

هر شي باندې قدرت لرونکی دی [45] مال او

الْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَ

زامن د دنيايي ژوند زينت دی، او

الْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ

باقي پاتې کېدونکي نېك عملونه ستا د رب په نيز د ثواب په لحاظ غوره دي

ثَوَابًا وَّ خَيْرٌ اَمَلًا ﴿٤٦﴾ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ

او د امېد په لحاظ ډېر ښه [46] او (ياده کړه) هغه ورځ چې مونږ

الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً ۙ وَّ

به غرونه روان کړو او ته به ځمکه ښکاره (صاف ميدان) وينې او

حَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ

مونږ به دوی (ټول) راجمع کړو، نو په دوی کې به يو تن

اَحَدًا ﴿۴۷﴾ وَ عُرِضُوۡا عَلٰی رَبِّكَ صَفًّا ط

هم پرې نه ږدو [47] او دوی به خپل رب ته صف صف

لَقَدۡ جِئۡتُمُوۡنَا كَمَا خَلَقۡنٰكُمۡ اَوَّلَ

وړاندې کړی شي (او وبه ویلی شي:) یقینًا یقینًا تاسو مونږ ته داسې (لغړ او یواځې) راغلئ لکه

مَرَّةٍۢ ز بَلۡ زَعَمۡتُمۡ اَلَّنۡ نَّجۡعَلَ لَكُمۡ

چې مونږ تاسو په ړومبي ځل پیدا کړي وئ، بلکې تاسو دا ګڼله چې مونږ به تاسو لپاره له

مَّوۡعِدًا ﴿۴۸﴾ وَ وُضِعَ الۡكِتٰبُ فَتَرَی

سره کوم میعاد مقرر نه کړو [48] او کتاب به کېښودلی شي،

الۡمُجۡرِمِيۡنَ مُشۡفِقِيۡنَ مِمَّا فِيۡهِ وَ

نو ته به مجرمان وینې چې له هغه څه نه به وېرېدونکي وي چې په ده کې دي او

يَقُوۡلُوۡنَ يٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هٰذَا الۡكِتٰبِ لَا

وايي به: اى زمونږ هلاکته! د دې کتاب (اعمالنامې) څه حال دى

يُغَادِرُ صَغِيۡرَةً وَّلَا كَبِيۡرَةً اِلَّاۤ

چې نه وړه (ګناه) پرېږدي او نه غټه مګر هغه يې

اَحۡصٰهَا‌ ۚ وَوَجَدُوۡا مَا عَمِلُوۡا

حساب کړې ده او دوى به خپل کړي عملونه

ع 18

حَاضِرًا‌ ؕ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ اَحَدًا ﴿۴۹﴾ وَ

حاضر ومومي، او ستا رب په هيچا ظلم نه کوي [ 49] او (ياد کړه)

اِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓـئِكَةِ اسۡجُدُوۡا لِاٰدَمَ

هغه وخت چې مونږ ملايکو ته وويل: تاسو ادم ته سجده وکړئ،

فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ كَانَ مِنَ

نو دوی سجده وکړه، غیر له ابلیس نه، دا له

الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ؕ

جناتو څخه و، د خپل رب د حکم نافرماني يې وکړه ـ،

اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَ ذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ

ايا نو تاسو له ما نه غير هغه او د هغه اولاده دوستان جوړوئ،

دُوْنِيْ وَ هُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ

حال دا چې دوی ستاسو دښمنان دي، او د

لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ۝٥٠ مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ

ظالمانو لپاره بد بدل دی [50] ما دغه (شيطانان) د

خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ

اسمانونو او ځمکې پیدا کولو ته نه دي حاضر کړي او نه د دوی د

اَنْفُسِهِمْ ۠ وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ

ځانونو پیدا کولو ته او زه گمراه کوونکو لره مټ (بازو)

الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا ﴿٥١﴾ وَيَوْمَ يَقُوْلُ

جوړوونکی (نیونکی) نه یم [51] او (یاده کړه) هغه ورځ چې وبه وایي (الله):

نَادُوْا شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ

تاسو زما هغو شریکانو ته اواز وکړئ چې تاسو به گڼل، نو دوی به

فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَ

هغوی ته چغې ووهي، نو هغوی به دوی ته هېڅ جواب ورنه کړي او

جَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ مَّوۡبِقًا ﴿٥٢﴾ وَرَاَ

د دوی تر مینځه به مونږ د هلاکت ځای (دوزخ) وګرځوو [52] او

الۡمُجۡرِمُوۡنَ النَّارَ فَظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ

مجرمان به اور ووینې، نو یقین به وکړي چې بېشکه

مُّوَاقِعُوۡهَا وَلَمۡ يَجِدُوۡا عَنۡهَا

دوی په ده کې لوېدونکې دي او دوی به له دغه (اور) نه د په خنګ کېدلو

ع 19

مَصۡرِفًا ﴿٥٣﴾ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِيۡ هٰذَا

ځای ونه مومي [53] او یقینًا یقینًا مونږ په دې

الۡقُرۡاٰنِ لِلنَّاسِ مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَكَانَ

قرآن کې د خلقو لپاره هر قسمه مثالونه مکرر بیان کړي دي،

اَلۡاِنۡسَانُ اَكۡثَرَ شَیۡءٍ جَدَلًا ﴿۵۴﴾ وَ مَا

او انسان په جګړه کې تر هر شي زيات دی [54] او نه دي

مَنَعَ النَّاسَ اَنۡ يُّؤۡمِنُوۡۤا اِذۡ جَآءَهُمُ

منع کړي خلق له دې نه چې ايمان راوړي، کله چې دوی ته

الۡهُدٰى وَيَسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّهُمۡ اِلَّاۤ اَنۡ

هدايت راغی او له دې نه چې د خپل رب نه مغفرت وغواړي مګر (دې خبرې)

تَاۡتِيَهُمۡ سُنَّةُ الۡاَوَّلِيۡنَ اَوۡ يَاۡتِيَهُمُ

چې دوی ته د ړومبنو خلقو طريقه راشي، يا دوی ته

الۡعَذَابُ قُبُلًا ﴿۵۵﴾ وَمَا نُرۡسِلُ

عذاب مخامخ راشي [55] او مونږ رسولان نه ليږو

الۡمُرۡسَلِيۡنَ اِلَّا مُبَشِّرِيۡنَ وَ

مگر زېرى وركوونكي او وېرونكي، او

مُنۡذِرِيۡنَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

كافران شوي خلق په باطله سره جګړه كوي، د دې لپاره

بِالۡبَاطِلِ لِيُدۡحِضُوۡا بِهِ الۡحَقَّ وَ

چې په دې سره حق ورك او لرې كړي۔ او دوى زما

اتَّخَذُوۡۤا اٰيٰتِىۡ وَمَاۤ اُنۡذِرُوۡا هُزُوًا ۝٥٦ وَ

ايتونه او هغه څه چې دوى پرې وېرول شوي وو؛ مسخره ونيول [56] او

مَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنۡ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ

له هغه كس نه لوى ظالم څوك دى چې ده ته دخپل رب په ايتونو

فَاَعْرَضَ عَنْهَا وَ نَسِيَ مَا قَدَّمَتْ

سره نصيحت ورکړې شي، نو دی له هغو نه مخ
واړوي او هغه عملونه هېر

يَدٰهُ ؕ اِنَّا جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً

کړي چې د ده لاسونو مخکې لیږلي دي، بېشکه
مونږ د دوی په زړونو پردې اچولې دي،

اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَ اِنْ

د دې لپاره چې دوی په ده پوه (نه) شي او د
دوی په غوږونو کې مو کونوالی (اچولی دی) او

تَدْعُهُمْ اِلَى الْهُدٰى فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا

که ته دوی هدایت ته بلې، نو دوی به له سره
هیڅکله هم هدایت

اِذًا اَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَ رَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو

ونه مومي [57] او هم ستا رب ډېر بخښونکی، د
رحمت والا دی،

الرَّحْمَةِ ؕ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوْا

که دوی يې د خپلو کړو ګناهونو په سبب نيولي
وی،

لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ؕ بَلْ لَّهُمْ

)نو) دوی ته به يې عذاب خامخا ژر رالېږلی و،
بلکې د دوی لپاره

مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا مِنْ دُوْنِهٖ

د وعدې وخت شته، (نو) دوی به له هغه (الله)
نه غير هېڅ پناه

مَوْئِلًا ﴿۵۸﴾ وَتِلْكَ الْقُرٰٓى اَهْلَكْنٰهُمْ لَمَّا

ځای ونه مومي [58] او دغه کلي دي چې مونږ
دوی هلاك کړل، کله چې

ظَلَمُوْا وَ جَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ

دوی ظلم وکړ او مونږ د دوی هلاکت ته يوه نېټه

ع
20

مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰىهُ لَآ

تاکلې وه [59] او (یاد کړه) هغه وخت چې موسیٰ خپل ځلمي ته وویل:

اَبْرَحُ حَتّٰٓى اَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ اَوْ

زه به تل ځمه، تر هغه پورې چې د دوه دریابونو د جمع کېدو ځای ته ورسېږم، یا

اَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ

به ګرځمه ډېرې زمانې [60] نو کله چې دوی دواړه د هغو دواړو (دریابونو) په خپل

بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوْتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ

مینځ کې د یو ځای کېدو مقام ته ورسېدل، نو دوی خپل کب هېرکړ، نو هغه په سمندر کې (د)

فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ

سرنګ (په شان) خپله لار ونیوله [61] نو کله چې دوی (له دغه ځایه) تېر شول،

لِفَتٰىهُ اٰتِنَا غَدَآءَنَا ۫ لَقَدۡ لَقِيۡنَا مِنۡ

خپل ځلمي ته يې وويل: ته مونږ ته زمونږ سبا ناری راوړه، بېشکه يقينًا مونږ له خپل دې سفره له

سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ اَرَءَيۡتَ اِذۡ

ستومانۍ سره مخامخ شو [62] هغه وويل: ايا ته خبر شوې

اَوَيۡنَاۤ اِلَى الصَّخۡرَةِ فَاِنِّىۡ نَسِيۡتُ

کله چې مونږ لويې تيږې ته ځای ونيوه، نو بېشکه ما هغه

الۡحُوۡتَ ۫ وَمَاۤ اَنۡسٰنِيۡهُ اِلَّا الشَّيۡطٰنُ

کب هېر کړ۔ او هغه له ما نه هېر نه کړ مگر شيطان چې زه

اَنۡ اَذۡكُرَهٗ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيۡلَهٗ فِى

هغه (تا ته) ياد کړم او هغه په سمندر کې خپله لاره ډېر

الۡبَحۡرِ ۖۗ عَجَبًا ﴿۶۳﴾ قَالَ ذٰلِكَ مَا كُنَّا

عجیبه جوړه کړه [63] ویې ویل: دغه څه دي
چې مونږ

نَبۡغِ ۖۗ فَارۡتَدَّا عَلٰۤى اٰثَارِهِمَا

یې طلب کاوه، پس بېرته په همغو خپلو قدمونو
قدم په

قَصَصًا ﴿۶۴﴾ فَوَجَدَا عَبۡدًا مِّنۡ عِبَادِنَاۤ

قدم راوګرځېدل [64] بیا نو دوی زمونږ په بنده
ګانو کې یو بنده ومونده،

اٰتَيۡنٰهُ رَحۡمَةً مِّنۡ عِنۡدِنَا وَعَلَّمۡنٰهُ

چې مونږ هغه ته له خپله جانبه رحمت ورکړی و
او له خپل جانبه مو هغه ته

مِنۡ لَّدُنَّا عِلۡمًا ﴿۶۵﴾ قَالَ لَهٗ مُوۡسٰى هَلۡ

)خاص) علم ښوولی و [65] ده ته موسٰي وویل:
ایا زه ستا

اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنۡ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ

تابع شمه په دې شرط سره چې ته به ما ته ښيې له
هغه (علم) نه چې تا ته ښئغه لار

رُشۡدًا ۝٦٦ قَالَ اِنَّكَ لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ مَعِيَ

ښوول شوې ده [66] هغه وويل: بېشكه ته به زما
سره هيڅېرې د صبر كولو

صَبۡرًا ۝٦٧ وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلٰى مَا لَمۡ

طاقت ونه لرې [67] او ته به څنګه په هغه كار
صبر وكړې چې د علم په لحاظ تا د هغه

تُحِطۡ بِهٖ خُبۡرًا ۝٦٨ قَالَ سَتَجِدُنِيۡٓ اِنۡ

احاطه نه ده كړې [68] هغه وويل: كه الله
وغواړي ته

شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا وَّلَآ اَعۡصِيۡ لَكَ

به ما ضرور صبر كوونكى ومومې او زه به ستا د
حكم

اَمۡرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعۡتَنِیۡ فَلَا

نافرماني نه کوم [69] هغه وويل: که ته زما متابعت کوې،

تَسۡـَٔلۡنِیۡ عَنۡ شَیۡءٍ حَتّٰۤی اُحۡدِثَ لَكَ

نو ته له ما نه د هيڅ شي په باره کې تر هغه پورې تپوس مه کوه چې زه تا ته د هغه

ع 21

مِنۡهُ ذِکۡرًا ﴿٧٠﴾ فَانۡطَلَقَا ٚ حَتّٰۤی اِذَا رَکِبَا

ذکر شروع کړم [70] نو دوی دواړه روان شول تر دې چې کله دوی

فِی السَّفِیۡنَةِ خَرَقَهَا ؕ قَالَ اَخَرَقۡتَهَا

په کشتۍ کې سواره شول، نو ده هغه کشتۍ سورۍ کړه، موسیٰ وويل: ايا تا دا د دې لپاره

لِتُغۡرِقَ اَهۡلَهَا ۚ لَقَدۡ جِئۡتَ شَیۡـًٔا

سورۍ کړه چې ته د دې اهل (سورلۍ) غرق کړې، يقيناً يقيناً تا ډېر درونډ

اِمۡرًا ﴿۷۱﴾ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ اِنَّكَ لَنۡ

) او ناروا) كار وكړ [71] هغهوويل: ايا ما تا ته
ويلي نه وو چې بېشكه ته به زما سره

تَسۡتَطِيۡعَ مَعِیَ صَبۡرًا ﴿۷۲﴾ قَالَ لَا

هيڅېرې د صبر كولو طاقت ونه لرې [72] ده
وويل: ته ما په

تُؤَاخِذۡنِیۡ بِمَا نَسِيۡتُ وَلَا تُرۡهِقۡنِیۡ

هغه كار مه نيسه چې ما په هېره وكړ او ته په ما د
دې كار په

مِنۡ اَمۡرِیۡ عُسۡرًا ﴿۷۳﴾ فَانۡطَلَقَا ٝ حَتّٰۤی

وجه سختي مه راچوه [73] نو دواړه روان شول،
تر دې چې

اِذَا لَقِيَا غُلٰمًا فَقَتَلَهٗ ۙ قَالَ اَقَتَلۡتَ

كله دوى له يو هلك سره مخامخ شول، نو ده هغه
قتل كړ، (موسٰى) وويل:

نَفۡسًا زَكِيَّةًۢ بِغَيۡرِ نَفۡسٍؕ لَقَدۡ جِئۡتَ

ايا تا يو پاكيزه (بې گناه) نفس وواژه، بې له عوضه
د بل نفس، يقينًا يقينًا

شَيۡـًٔا نُّكۡرًا ﴿٧٤﴾

تا ډېر ناكاره كار وكړ [74]

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ

هغه (خضر) وويل: ايا ما تا ته ويلي نه وو چې
بېشکه ته به زما سره د صبر کولو طاقت

مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ

بېخي ونه کړې شې -75- هغه (موسٰی) وويل: که
له دې نه بعد ما له تا نه

شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ ۚ قَدْ

د څه شي په باره کې پوښتنه وکړه، نو بيا ته ما د
ځان مه ملګرى کوه، يقيناً ته

بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَانْطَلَقَا ۘ وقفة

زما له جانبه (حد د) عذر ته ورسېدې -76- بيا
دواړه روان شول

حَتّٰى اِذَا اَتَيَا اَهْلَ قَرْيَةِ اِسْتَطْعَمَا

تر هغه پورې چې د يو کلي اوسېدونکو ته راغلل
، نو) د هغه (کلي) له اوسېدونکو نه يې طعام)

اَهْلَهَا فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا

(خوراك) وغوښت، نو هغوى دواړو ته د مېلمستيا ورکولو نه انکار وکړ،

فِيْهَا جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ

بيا دوى په دغه (کلي) کې يو دېوال وموند چې غوښتل يې ونړېږي،

فَاَقَامَهٗ ؕ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ

نو ده (خضر) هغه سم کړ، هغه (موسیٰ) وويل: که تا غوښتلى (نو) خامخا په دې (سازولو) به دې

عَلَيْهِ اَجْرًا ۝ قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَ

مزدوري اخيستې وى -77- ده وويل: دا زما په مينځ کې اوستا په

بَيْنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ

مينځ کې (د) بېلتون (وخت) دى-، ژر به زه تا د هغو خبرو په حقيقت خبر کړم

تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾ اَمَّا السَّفِيْنَةُ

چې په هغو باندې تا د صبر کولو طاقت ونه کړی شو -78- هرچې کشتۍ

فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ يَعْمَلُوْنَ فِي الْبَحْرِ

وه، نو هغه د هغو مسکینانو وه چې په بحر کې یې

فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا وَ كَانَ وَرَآءَهُمْ

کار کاوه، نو ما اراده وکړه چې زه هغه عیبجنه کړم، په داسې حال کې چې د دوی په مخه کې یو

مَّلِكٌ يَّاْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَ

داسې باچا و چې هره (روغه) کشتۍ به یې په زور سره اخیستله -79- او

اَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ

هر چې هلك و، نو د هغه مور او پلار مومنان وو،

فَخَشِيۡنَاۤ اَنۡ يُّرۡهِقَهُمَا طُغۡيَانًا وَّ

نو مونږ له دې ووېرېدو چې دى به هغوى په
سرکشۍ او

كُفۡرًا ۚ﴿۸۰﴾ فَاَرَدۡنَاۤ اَنۡ يُّبۡدِلَهُمَا رَبُّهُمَا

کفر مجبوره کړي -80- نومونږ وغوښتل چې دوى
ته د دوى رب (داسې) بدل ورکړي (چې) د دغه

خَيۡرًا مِّنۡهُ زَكٰوةً وَّاَقۡرَبَ رُحۡمًا ﴿۸۱﴾ وَ

(هلك) نه په پاکۍ کې غوره وي او (له دغه نه) په
مهربانۍ کې ډېر نژدې وي -81- او

اَمَّا الۡجِدَارُ فَكَانَ لِغُلٰمَيۡنِ يَتِيۡمَيۡنِ

پاتې شو دېوالـ، نو هغه د دوه يتيمو هلکانو و،

فِى الۡمَدِيۡنَةِ وَكَانَ تَحۡتَهٗ كَنۡزٌ لَّهُمَا وَ

چې په ښارکې وو، او له هغه نه لاندې د هغو
دواړو لپاره خزانه وه او

كَانَ اَبُوۡهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ اَنۡ

د دغو دواړو پلار نېك (سړى) و، نو ستا رب اراده وكړه چې دوى

يَّبۡلُغَاۤ اَشُدَّهُمَا وَيَسۡتَخۡرِجَا

دواړه خپلې ځوانۍ (او قوت) ته ورسي او (بيا) خپله

كَنۡزَهُمَا ۖ رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّكَ ۚ وَمَا

خزانه راوباسي، ستا د رب د مهربانۍ په وجه۔ او دغه (كار) ما (له خپله ځانه) په

فَعَلۡتُهٗ عَنۡ اَمۡرِىۡ ؕ ذٰلِكَ تَاۡوِيۡلُ مَا

خپل حكم نه دى كړى۔، دغه حقيقت د هغه څه دى چې تا په هغو

ع 1

لَمۡ تَسۡطِعۡ عَّلَيۡهِ صَبۡرًا ؕ ﴿۸۲﴾ وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ

د صبر كولو طاقت ونشو كړى -82- او دوى له تا نه د

عَنْ ذِی الْقَرْنَیْنِ ؕ قُلْ سَاَتْلُوْا

ذوالقرنين په باره کې تپوس کوي، ته (دوی ته) ووايه: ژر به زه تاسو

عَلَیْكُمْ مِّنْهُ ذِكْرًا ؕ﴿۸۳﴾ اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِی

ته د هغه په هکله څه احوال ولولم -83- بېشکه مونږ ده ته په

الْاَرْضِ وَ اٰتَیْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَیْءٍ

ځمکه کې قدرت ورکړی و او مونږ ده ته له هر شي نه يوه لاره (او وسيله)

سَبَبًا ۙ﴿۸۴﴾ فَاَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۸۵﴾ حَتّٰۤی اِذَا بَلَغَ

ورکړې وه -84- نو ده لاره ونيوله (او هغه اسباب چې مغرب ته يې ورساوه) -85- تر هغه پورې چې

مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِیْ

کله دی د لمر پريوتو ځای ته ورسېده (نو) ده دغه (لمر) ومونده چې

عَيۡنٍ حَمِئَةٍ وَّ وَجَدَ عِنۡدَهَا قَوۡمًا ۬ؕ

د تورو ختو په لويه چينه کې ډوبېده، او ده هغې (چينې) ته نژدې يو قوم ومونده.

قُلۡنَا يٰذَا الۡقَرۡنَيۡنِ اِمَّاۤ اَنۡ تُعَذِّبَ وَ

مونږ وويل: اى ذوالقرنينه! يا خو دا چې ته (دوى ته) عذاب ورکړې او

اِمَّاۤ اَنۡ تَتَّخِذَ فِيۡهِمۡ حُسۡنًا ﴿۸۶﴾ قَالَ

يا خو دا چې ته د دوى په هکله ښه لار ونيسې -86- ده وويل: هرچې هغه کس دى چې (له دې نه

اَمَّا مَنۡ ظَلَمَ فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ

بعد) ظلم (شرك) وکړي، نو ژر به مونږ ده ته (دنيايي) سزا ورکړو، بيا به دى خپل رب ته بېرته

اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكۡرًا ﴿۸۷﴾ وَ اَمَّا

بوتلى شي، نو هغه به ده ته عذاب ورکړي ډېر سخت عذاب -87- او پاتې شو

مَنۡ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ

هغه کس چې ایمان راوړي او نېك عمل وکړي، نو
د هغه لپاره په بدله کې غوره ښېګڼه ده (چې جنت

اِلۡحُسۡنٰى ۚ وَ سَنَقُوۡلُ لَهٗ مِنۡ اَمۡرِنَا

دی) او ژر ده چې مونږ به ده ته له خپله کاره
اساني ووایو

يُسۡرًا ؕ ۸۸ ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا ۸۹ حَتّٰٓى اِذَا

(پیدا کړو) -88- بیا ده بله لاره ونیوله (او هغه
اسباب چې مشرق ته یې ورساوه) -89- تر هغه

بَلَغَ مَطۡلِعَ الشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَطۡلُعُ

پورې چې کله دی د لمر ختو ځای ته ورسېده (،
نو) دغه (لمر) یې وموندە

عَلٰى قَوۡمٍ لَّمۡ نَجۡعَلۡ لَّهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهَا

چې په داسې قوم راخېژي چې مونږ دوی ته د
دغه (لمر) نه لاندې کومه پرده

سِتۡرًا ۙ﴿۹۰﴾ كَذٰلِكَ ؕ وَقَدۡ اَحَطۡنَا بِمَا

نه وه ګرځولې -90- همداسې (حال) و۔ او يقيناً

مونږ د خبردارۍ په لحاظ په هغه څه احاطه کړې

لَدَيۡهِ خُبۡرًا ﴿۹۱﴾ ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿۹۲﴾ حَتّٰۤى

وه چې له ده سره وو -91- بيا ده بله لاره ونيوله

(او نور اسباب يې تيار کړل) -92- تر هغه پورې

اِذَا بَلَغَ بَيۡنَ السَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِنۡ

چې کله دی د دوه غرونو مينځ ته ورسېده (، نو) د

دغو دواړو

دُوۡنِهِمَا قَوۡمًا ۙ لَّا يَكَادُوۡنَ يَفۡقَهُوۡنَ

وړاندې يې داسې قوم ومونده چې نژدې نه وو

چې دوی (د ذوالقرنين) په

قَوۡلًا ﴿۹۳﴾ قَالُوۡا يٰذَا الۡقَرۡنَيۡنِ اِنَّ

خبره پوه شي -93- دوی وويل: ای ذوالقرنينه!

بېشکه

يَاْجُوۡجَ وَ مَاْجُوۡجَ مُفۡسِدُوۡنَ فِي

ياجوج او ماجوج په ځمکه کې فساد کوونکي دي،

الۡاَرۡضِ فَهَلۡ نَجۡعَلُ لَكَ خَرۡجًا عَلٰۤى

نو ايا مونږ تا لپاره لګښت مقرر کړو، د دې لپاره چې ته

اَنۡ تَجۡعَلَ بَيۡنَنَا وَ بَيۡنَهُمۡ

زمونږ په مينځ کې او د دوی مينځ کې يو دېوال

سَدًّا ﴿۹۴﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّیۡ فِيۡهِ رَبِّیۡ خَيۡرٌ

جوړ کړې؟ -94- ده وويل: هغه خيزونه چې ما ته په هغو کې زما رب قدرت راکړی دی (هغه) ډېر

فَاَعِيۡنُوۡنِیۡ بِقُوَّةٍ اَجۡعَلۡ بَيۡنَكُمۡ وَ

غوره دي، نو تاسو زما سره مرسته په محنت (او کار) سره وکړئ، زه به ستاسو په مينځ کې او د

بَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ

دوى په مينځ کې ښه مضبوط دېوال جوړ کړم -95- تاسو ما ته د اوسپنې تختې راکړئ، تر هغه

حَتّٰۤى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ

پورې (يې اينبودلې چې) کله دغه (دېوال) د (غرونو) دوو څوکو په مينځ کې برابر شو، ويې

انْفُخُوْا حَتّٰۤى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا قَالَ

ويل چې پو کړئ، تر هغه پورې چې کله يې دغه (اوسپنه) اور وګرځوله (، نو) ويې ويل: تاسو ما ته

اٰتُوْنِيْۤ اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا

راوړئ چې زه په دې (دېوال) ويلې کړې شوې تانبه توئ کړم -96- نو د دوى

اسْطَاعُوْۤا اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا

به طاقت نه وي چې په ده وخېژي او نه به دوى د سورې کولو طاقت

لَهٗ نَقۡبًا ﴿۹۷﴾ قَالَ هٰذَا رَحۡمَةٌ مِّنۡ رَّبِّیۡ ۚ

ولرلی شي -97- دغه زما د رب له جانبه يو رحمت دی،

فَاِذَا جَآءَ وَعۡدُ رَبِّیۡ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ وَ

نو کله چې زما د رب وعده راشي دا به د ځمکې سره هموار وګرځوي او

كَانَ وَعۡدُ رَبِّیۡ حَقًّا ﴿۹۸﴾ وَتَرَكۡنَا بَعۡضَهُمۡ

زما د رب وعده حقه ده -98- او مونږ به په دغه

يَوۡمَئِذٍ يَّمُوۡجُ فِیۡ بَعۡضٍ وَّ نُفِخَ فِی

ورځ کې د دوی ځيني پرېږدو چې په ځينو نورو کې به موجونه وهي (ننوځي به) او په شپېلۍ کې

الصُّوۡرِ فَجَمَعۡنٰهُمۡ جَمۡعًا ﴿۹۹﴾ وَّعَرَضۡنَا

به پوکی وکړی شي، نومونږ به دوی راجمع کړو، پوره جمع کول -99- او په دغي ورځ

جَهَنَّمَ يَوْمَىِٕذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ

به مونږ جهنم کافرانو ته راوړاندې کړو، ښه

عَرْضَا ﴿۱۰۰﴾ الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ فِيْ

راوړاندې کول -100- هغو کسانو ته چې د هغوی سترګې

غِطَآءٍ عَنْ ذِكْرِيْ وَكَانُوْا لَا

زما له ذکر نه په پرده کې وې او دوی

ع 2

يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ﴿۱۰۱﴾ اَفَحَسِبَ

اوریدل نشو کولی -101- ایا نو کافران

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ

شویو کسانو ګمان کړی دی چې دوی به له ما نه غیر زما بنده ګان

مِنۡ دُوۡنِیۡۤ اَوۡلِيَآءَ ؕ اِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ

کارسازوونکي ونيسي (او بيا به يې هم زه نه په عذاب کوم، نه) بېشکه مونږ د کافرانو لپاره جهنم

لِلۡكٰفِرِيۡنَ نُزُلًا ﴿۱۰۲﴾ قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُكُمۡ

مېلمستيا تيار کړې دی -102- ته (دوی ته) ووایه: ایامونږ تاسو ته د اعمالو په لحاظ د

بِالۡاَخۡسَرِيۡنَ اَعۡمَالًا ﴿۱۰۳﴾ؕ اَلَّذِيۡنَ ضَلَّ

تر ټولو زياتو تاواني کسانو خبر درکړو؟ -103- دوی هغه کسان دي

سَعۡيُهُمۡ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَهُمۡ

چې په دنیایي ژوند کې د دوی منډې توی (او بې ځایه) تللي دي،

يَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ يُحۡسِنُوۡنَ

حال دا چې دوی دا گمان کوي چې یقیناً هم دوی

صُنْعًا ﴿١٠٤﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ

عمل ښه کوي -104- هم دغه کسان دي چې د خپل رب په ایتونو او

رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ

د هغه په ملاقات سره کافر (او انکاري) شوي دي، نو د دوی عملونه برباد

فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

شول، نو د قیامت په ورځ به مونږ د دوی لپاره هیڅ

وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا

وزن ونه دروو -105- دغه، د دوی بدله جهنم دی په سبب

كَفَرُوْا وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ

د دې چې دوی کافران شول او زما ایتونه او زما رسولان يې

هُزُوًا ﴿۱۰۶﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

مسخره نيولي وو -106- بېشکه هغه کسان چې
ايمان يې راوړی دی او

الصّٰلِحٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنّٰتُ

نېك عملونه يې کړي دي، د دوی لپاره د فردوس
(اعلٰی)

الۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا ﴿۱۰۷﴾ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا لَا

جنتونه مېلمستيا دي -107- چې په دغو کې به تل
وي، دوی به له دغو نه

يَبۡغُوۡنَ عَنۡهَا حِوَلًا ﴿۱۰۸﴾ قُلۡ لَّوۡ كَانَ

ګرځېدل (او تبديلېدل) نه غواړي -108- ته
(دوی ته) ووايه: که

الۡبَحۡرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّىۡ لَنَفِدَ

سمندر زما د رب د کلماتو لپاره سياهي وي، (نو)

اَلۡبَحۡرُ قَبۡلَ اَنۡ تَنۡفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّیۡ وَ لَوۡ

سمندر به خامخا خلاص شي، مخکې له دې چې زما د رب کلمات تمام شي، اګر که مونږ د دغه

جِئۡنَا بِمِثۡلِهٖ مَدَدًا ﴿۱۰۹﴾ قُلۡ اِنَّمَاۤ اَنَا

(سمندر) په مثل مدد هم راوړو -109- ته (دوی ته) ووايه: بېشکه همدا خبره ده

بَشَرٌ مِّثۡلُكُمۡ يُوۡحٰۤى اِلَىَّ اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمۡ

چې زه يواځې ستاسو په شان بشر يم، ما ته وحي کولی شي چې بېشکه ستاسو معبود يواځې يو

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنۡ كَانَ يَرۡجُوۡا لِقَآءَ

معبود دی، نو هغه څوك چې د خپل رب د ملاقات امېد لري،

رَبِّهٖ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلًا صَالِحًا وَّ لَا

نو هغه دې نېك عمل وکړي او د خپل رب په

ع
3

يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا ۝١١٠

عبادت كې دې هيڅوك نه شريكوي -110-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چي ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

كٓهٰيٰعٓصٓ ۚ۝۱ ذِكۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّكَ عَبۡدَهٗ

کاف، ها، یا، عين، صاد -1- (دا) ستا د رب د
رحمت ذکر دی په خپل بنده

زَكَرِيَّا ۚ۝۲ اِذۡ نَادٰى رَبَّهٗ نِدَآءً

زکريا باندې -2- کله چې ده خپل رب ته اواز
وکړ ډېر

خَفِيًّا ۝۳ قَالَ رَبِّ اِنِّىۡ وَهَنَ الۡعَظۡمُ

ورو اواز -3- ويې ويل: ای زما ربه! يقينًا زه چې
يم زما هډوکي

مِنِّىۡ وَاشۡتَعَلَ الرَّاۡسُ شَيۡبًا وَّلَمۡ

کمزوري (ضعيف) شوي دي او سر (مې) د سپين
والي په وجه شغلې وهي، په دې حال کې چې ای

اَكُنۡ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ۝٤ وَاِنِّیۡ

زما ربه! زه هيڅکله له تا نه په سوال سره محروم (او نا امېده) نه يم پاتې شوی -4- او بېشکه زه

خِفۡتُ الۡمَوَالِیَ مِنۡ وَّرَآءِیۡ وَكَانَتِ

چې يم، خپل وروسته له خپلوانو نه وېرېږم، او

امۡرَاَتِیۡ عَاقِرًا فَهَبۡ لِیۡ مِنۡ لَّدُنۡكَ

زما ښځه له شروع نه شنډه ده، نو ته ما ته له خپل جانب نه يو

وَلِيًّا ۝٥ يَّرِثُنِیۡ وَيَرِثُ مِنۡ اٰلِ

وارث راکړه -5- چې وارث شي د دين زما او وارث شي

يَعۡقُوۡبَ ۖ وَاجۡعَلۡهُ رَبِّ

د دين د اولاد د يعقوب او دی وګرځوه ای ربه

رَضِيًّا ۝٦ يٰزَكَرِيَّاۤ اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ ِ

غوره شوی -6- ای زکریا! بېشکه مونږ تا ته د
داسې هلك زېری درکوو چې د

اِسۡمُهٗ يَحۡيٰى ۙ لَمۡ نَجۡعَلۡ لَّهٗ مِنۡ قَبۡلُ

ده به نوم يحيٰی وي، مونږ ده ته له دې نه مخکې
څوك همنامی نه دی

سَمِيًّا ۝٧ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوۡنُ لِىۡ غُلٰمٌ وَّ

گرځولی -7- ده وويل: ای زما ربه! زما لپاره به
هلك څنگه کېږي، په داسې حال

كَانَتِ امۡرَاَتِىۡ عَاقِرًا وَّقَدۡ بَلَغۡتُ مِنَ

کې چې زما ښځه له شروع نه شنډه ده اويقينًا زه د
ډېر زوړوالي په وجه ډېرې کمزورۍ

الۡكِبَرِ عِتِيًّا ۝٨ قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ

ته رسېدلی يم -8- (الله) ورته وويل: هم داسې
دي۔، ستا رب فرمايلي

هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّ قَدۡ خَلَقۡتُكَ مِنۡ قَبۡلُ

دي چې دغه (کار) ما ته ډېر اسان دی او تحقيق ته ما پيدا کړی يې له دې نه مخکې،

وَلَمۡ تَكُ شَيۡـًٔا ۝٩ قَالَ رَبِّ اجۡعَلۡ لِّيۡۤ

حال دا چې ته هېڅ شی نه وې -9- ده وويل: ای زما ربه! ته زما لپاره يوه نښه مقرره کړه (الله)

اٰيَةً ؕ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ

وويل: ستا نښه داده چې ته به له خلقو سره درې شپې (او ورځې) خبرې نشې کولی، په داسې حال

ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝١٠ فَخَرَجَ عَلٰى قَوۡمِهٖ

کې چې ته به ښه روغ يې -10- نو دی په خپل قوم باندې

مِنَ الۡمِحۡرَابِ فَاَوۡحٰۤى اِلَيۡهِمۡ اَنۡ

له عبادت ځای څخه راووت، پس دوی ته يې اشاره وکړه داسې چې

سَبِّحُوۡا بُكۡرَةً وَّ عَشِيًّا ﴿۱۱﴾ يٰيَحۡيٰى خُذِ

تاسو سبا او بېګاه تسبيح وايئ -11- اى يحيٰى!
ته دغه

الۡكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ؕ وَ اٰتَيۡنٰهُ الۡحُكۡمَ

كتاب په قوت سره ونيسه، او مونږ ده ته حكم
(حكمت او نبوت) وركړ، په داسې

صَبِيًّا ﴿۱۲﴾ ۙ وَّ حَنَانًا مِّنۡ لَّدُنَّا وَ زَكٰوةً ؕ وَ

حال كې چې دى هلك و -12- او له خپل جانب
نه مو (ده ته)، مهرباني (وركړې وه) او پاكي۔ او

كَانَ تَقِيًّا ﴿۱۳﴾ ۙ وَّ بَرًّۢا بِوَالِدَيۡهِ وَلَمۡ يَكُنۡ

دى ډېر پرهېزګاره و -13- او له خپل مور و پلار
سره نېكي كوونكى و، او

جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿۱۴﴾ وَ سَلٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ

سركشه، نافرمانه نه و -14- او په ده دې سلام وي
په هغې ورځ چې

وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوْتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ

دی وزیږول شو او په هغې ورځ چې دی به مري
او په هغې ورځ چې دی به بیا

ع
4

حَيًّا ﴿۱۵﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ ۘ اِذِ

ژوندی راپورته کړی شي -15- او ته په کتاب کې
(قصه د) مریم یاده کړه کله

وقف لازم

انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا

چې هغه له خپلې کورنۍ نه هغه ځای ته په څنګ
شوه چې (د کور)

شَرْقِيًّا ﴿۱۶﴾ فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُوْنِهِمْ

مشرقي جانب و -16- نو دې د دوی په طرف

حِجَابًا ۚ فَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهَا رُوْحَنَا

پرده ونیوله، نو مونږ دې ته خپل روح ولیږه،

فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتۡ اِنِّيۡۤ

نو هغه دې ته خپل شکل د کامل سړي جوړ کړ -
17- (نو) دې وويل: بېشکه

اَعُوۡذُ بِالرَّحۡمٰنِ مِنۡكَ اِنۡ كُنۡتَ

زه له تا نه په رحمٰن پورې پناه نيسم، که چېرې ته

تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ اِنَّمَاۤ اَنَا رَسُوۡلُ رَبِّكِ ۖ

پرهېزګاره يې -18- هغه وويل: يقينًا زه خو يواځې
ستا د رب رسول يم، د دې لپاره چې (د خپل رب

لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتۡ اَنّٰى

په حکم) تا ته يو ډېر پاك هلك درکړم -19- دې
وويل: زما به

يَكُوۡنُ لِىۡ غُلٰمٌ وَّلَمۡ يَمۡسَسۡنِىۡ بَشَرٌ وَّ

هلك څنګه پيدا شي؟ حال دا چې ما ته هېڅ بشر
نه دی رارسېدلی، او

الربع

لَمۡ اَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ

زه چېرې بدکاره هم نه يم -20- ويې ويل: خبره همداسې ده (لېکن) ستا رب فرمايلي دي:

هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ وَلِنَجۡعَلَهٗۤ اٰيَةً لِّلنَّاسِ

دغه کار ما ته ډېر اسان دی او د دې لپاره چې مونږ دی د خلقو لپاره نښه وگرځوو

وَرَحۡمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمۡرًا

او له خپل جانب نه رحمت۔ او دغه يو فيصله شوی

مَّقۡضِيًّا ﴿٢١﴾ فَحَمَلَتۡهُ فَانۡتَبَذَتۡ بِهٖ

کار دی -21- نو (مريم) په دغه (عيسٰی) سره حامله شوه، نو سره له ده يو لرې ځای

مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَاَجَآءَهَا الۡمَخَاضُ اِلٰى

ته په ځنگ شوه -22- نو دغې (مريم) لره د لنگوال درد

جِذۡعِ النَّخۡلَةِ ۚ قَالَتۡ يٰلَيۡتَنِىۡ مِتُّ

د کجورې د ونې تنې (ډډ) ته راوسته، دې وویل: اى کاشکې زه له دې

قَبۡلَ هٰذَا وَكُنۡتُ نَسۡيًا

نه مخکې مړه شوې وی او زه بېخي هېره شوې، له

مَّنۡسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادٰٮهَا مِنۡ تَحۡتِهَاۤ اَلَّا

زړونو وتلې وى -23- نو دې ته يې د دې له لاندې نه

تَحۡزَنِىۡ قَدۡ جَعَلَ رَبُّكِ تَحۡتَكِ

اواز وکړ چې مه خفه کېږه، يقيناً ستا رب له تا نه لاندې چينه

سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّىۡۤ اِلَيۡكِ بِجِذۡعِ النَّخۡلَةِ

پيدا کړې ده -24- او خپل ځان ته د کجورې تنه راوخوځوه،

تُسٰقِطۡ عَلَيۡكِ رُطَبًا جَنِيًّا ۝٢٥ فَكُلِىۡ وَ

هغه به په تا پخې تازه لوندې کجورې راوغورځوي -25- پس (دغه کجورې) خوره

اشۡرَبِىۡ وَقَرِّىۡ عَيۡنًا ۚ فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ

او (دغه اوبه) څښه او (په عيسٰی سره) سترګې يخې کړه، پس که خامخا

الۡبَشَرِ اَحَدًا ۙ فَقُوۡلِىۡۤ اِنِّىۡ نَذَرۡتُ

تا له خلقو څنې يو څوك وليده، نو (ورته) وايه: بيشکه ما

لِلرَّحۡمٰنِ صَوۡمًا فَلَنۡ اُكَلِّمَ الۡيَوۡمَ

د رحمٰن لپاره په ځان د روژې نذر منلی دی، پس نن ورځ به زه له سره خبرې ونه کړم

اِنۡسِيًّا ۚ۝٢٦ فَاَتَتۡ بِهٖ قَوۡمَهَا تَحۡمِلُهٗ ؕ

له هيڅ يوه انسان سره -26- نو دې (مريمې) هغه (عيسٰی) خپل قوم ته راوړ،

قَالُوۡا يٰمَرۡيَمُ لَقَدۡ جِئۡتِ شَيۡـًٔا

چې دى يې راخيستى و، دوى (ورته) وويل: اى مريمې! يقينًا يقينًا تا ډېر

فَرِيًّا ﴿۲۷﴾ يٰۤاُخۡتَ هٰرُوۡنَ مَا كَانَ اَبُوۡكِ

بدكار كړى دى -27- اى د هارون خورې! ستا پلار خو بد سړى نه و

امۡرَاَ سَوۡءٍ وَّ مَا كَانَتۡ اُمُّكِ

او نه ستا مور بدكاره (بد عمله)

بَغِيًّا ﴿۲۸﴾ فَاَشَارَتۡ اِلَيۡهِ ؕ قَالُوۡا كَيۡفَ

وه -28- نو هغې ده (عيسٰى) ته اشاره وكړه، دوى وويل: مونږ له هغه چا سره خنګه

نُكَلِّمُ مَنۡ كَانَ فِى الۡمَهۡدِ صَبِيًّا ﴿۲۹﴾ قَالَ

خبرې وكړو چې دى په غېږ كې دى، چې وړوكى دى -29- ده وويل:

اِنِّیۡ عَبۡدُ اللّٰہِ ۟ؕ اٰتٰنِیَ الۡکِتٰبَ وَ

بېشکه زه د الله بنده یم، هغه ما ته کتاب راکړی دی او

جَعَلَنِیۡ نَبِیًّا ﴿ۙ۳۰﴾ وَّ جَعَلَنِیۡ مُبٰرَکًا اَیۡنَ

زه يې نبي ګرځولی یم -30- او زه يې برکت ناك ګرځولی

مَا کُنۡتُ ۪ وَ اَوۡصٰنِیۡ بِالصَّلٰوۃِ وَ

یم په هر ځای کې چې اوسم او ده ما ته په لمانځه او

الزَّکٰوۃِ مَا دُمۡتُ حَیًّا ﴿۪ۖ۳۱﴾ وَّ بَرًّۢا

زکات سره کلك حکم راکړی دی، ترڅو چې زه ژوندی یم -31- (او زه يې ګرځولی یم) له خپلې

بِوَالِدَتِیۡ ۫ وَ لَمۡ یَجۡعَلۡنِیۡ جَبَّارًا

مور سره نېکي کوونکی او زه يې سرکشه، بدبخته

شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ وَ

نه يم گرځولى -32- او په ما دې سلام وي په هغې ورځ چې زه وزيږول شوم او په هغې ورځ چې زه

يَوْمَ اَمُوْتُ وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾ ذٰلِكَ

به مرم او په هغې ورځ چې زه به بيا ژوندى راپورته كولى شم -33- دغه

عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ

عيسٰى د مريمې زوى دى (الله د ده په باره كې) حقه خبره كړې ده، هغه

الَّذِيْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ

چې دوى په هغې كې سره جګړې كوي -34- د الله لپاره نه ښاييږي

يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ۭ اِذَا قَضٰٓى

چې دى دې څوك اولاد ونيسي، ده لره پاكي ده،، دى چې كله د څه

اَمۡرًا فَاِنَّمَا یَقُوۡلُ لَهٗ کُنۡ فَیَکُوۡنُ ﴿۳۵﴾ وَ

کار فيصله وکړي، نو بېشکه همدا خبره ده چې ده ته وايي: وشه! نو هغه (کار) وشي -35- او

اِنَّ اللّٰهَ رَبِّیۡ وَ رَبُّکُمۡ فَاعۡبُدُوۡهُ ؕ هٰذَا

بېشکه چې الله زما رب دی او ستاسو رب دی، نو تاسو د ده عبادت کوئ،

صِرَاطٌ مُّسۡتَقِیۡمٌ ﴿۳۶﴾ فَاخۡتَلَفَ

دا ډېره نېغه لار ده -36- نو دغه ډلې په

الۡاَحۡزَابُ مِنۡۢ بَیۡنِهِمۡ ۚ فَوَیۡلٌ

خپل منځ کې سره مختلفې شوې، نو

لِّلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنۡ مَّشۡهَدِ یَوۡمٍ

کافران شويو کسانو لپاره د ډېرې سترې ورځې له حاضرېدو

عَظِيۡمٍ ۝٣٧ اَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَ اَبۡصِرۡ ۙ يَوۡمَ

هلاكت (او خرابي) دی -37- دوی به څه ښه اوریدونکي او څه ښه لیدونکي وي! په هغې ورځ

يَاۡتُوۡنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوۡنَ الۡيَوۡمَ فِىۡ

چې مونږ ته به راځي، لیکن ظالمان نن ورځې په

ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ۝٣٨ وَ اَنۡذِرۡهُمۡ يَوۡمَ

ښکاره گمراهۍ کې دي -38- او ته دوی د حسرت (او ارمان) له ورځې

الۡحَسۡرَةِ اِذۡ قُضِىَ الۡاَمۡرُ ۘ وَ هُمۡ فِىۡ

وقف لازم

نه ووېروه کله چې به کار فیصله کړی شي، حال دا چې دوی (اوس)

غَفۡلَةٍ وَّ هُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝٣٩ اِنَّا نَحۡنُ

په غفلت کې دي او دوی ایمان نه راوړي -39- بیشکه مونږ چې یو، هم دا مونږ

نَرِثُ الۡاَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَاِلَيۡنَا

د ځمکې او د هغه چا چې په دغه (ځمکه) باندې دي؛ وارثان کېږو او خاص مونږ

ع 5

يُرۡجَعُوۡنَ ۝٤٠ وَاذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ

ته به دوی بېرته راوستی شي -40- او په کتاب کې

اِبۡرٰهِيۡمَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيۡقًا نَّبِيًّا ۝٤١ اِذۡ

ابراهيم ياد کړه، بېشکه دی ډېر رېښتينی (او) نبي و -41- کله چې

قَالَ لِاَبِيۡهِ يٰۤاَبَتِ لِمَ تَعۡبُدُ مَا لَا

ده خپل پلار ته وويل: ای زما پلار جانه! ته ولې د هغه څيز عبادت کوې

يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِيۡ عَنۡكَ

چې نه (څه) اوري او نهويني او له تا نه هيڅ شی (تکليف) نشي

شَيْـًٔا ﴿٤٢﴾ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ

لرې کولی -42- ای زما پلار جانه! بېشکه زه چې
یم یقینًا ما ته (د الله له جانبه)

الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ فَاتَّبِعْنِيْٓ اَهْدِكَ

هغه علم راغلی دی چې تا ته نه دی راغلی، نو ته
زما پیروي وکړه، زه به تا ته

صِرَاطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يٰٓاَبَتِ لَا تَعْبُدِ

نېغه (سمه) لار وښیم -43- ای زما پلار جانه! د

الشَّيْطٰنَ ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ

شیطان بندګي مه کوه، یقینًا شیطان

لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْٓ اَخَافُ

له رحمان نه نافرمان دی -44- ای زما پلارجانه!
بېشکه زه چې یم،

اَنْ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ

زه له دې نه وېرېږم چې تا ته به د رحمٰن له جانبه عذاب درورسيږي، نو ته

فَتَكُوْنَ لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ۝٤٥ قَالَ

به د شيطان دوست شې -45- هغه (پلار د ابراهيم) وويل:

اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِيْ يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ۚ

ای ابراهيمه! ايا ته زما له معبودانو نه مخ گرځوونکی يې، يقينًا

لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِيْ

که ته منع نه شوې، نو زه به تا خامخا ضرور سنگسار کړم او له ما څخه ډېره

مَلِيًّا ۝٤٦ قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ ۚ سَاَسْتَغْفِرُ

موده لرې شه -46- ده وويل: په تا دې سلام وي، ضرور به زه تا لپاره له

لَكَ رَبِّيۡ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِيۡ حَفِيًّا ۝٤٧ وَ

خپل رب نه مغفرت غواړم، بېشکه دی په ما باندې ډېر مهربان دی -47- او

اَعۡتَزِلُكُمۡ وَ مَا تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ

زه جدا کېږم له تاسو نه او له هغو څيزونو نه چې تاسو يې له

اللّٰهِ وَ اَدۡعُوۡا رَبِّيۡ ۖ عَسٰۤى اَلَّاۤ اَكُوۡنَ

الله نه غير بلئ، او زه خپل رب رابلم، امېد دی چې زه به د خپل رب په

بِدُعَآءِ رَبِّيۡ شَقِيًّا ۝٤٨ فَلَمَّا اعۡتَزَلَهُمۡ وَ

رابللو سره بدبخته نشم -48- نو کله چې دی له دوی نه او

مَا يَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبۡنَا لَهٗۤ

له هغو نه چې دغه خلق يې له الله نه غير عبادت کوي؛ بېل شو (، نو)

اِسۡحٰقَ وَ يَعۡقُوۡبَ ؕ وَ كُلًّا جَعَلۡنَا

مونږ ده ته اسحق او يعقوب عطا كړل او دا هر يو
مونږ

نَبِيًّا ﴿۴۹﴾ وَ وَهَبۡنَا لَهُمۡ مِّنۡ رَّحۡمَتِنَا وَ

نبيان ګرځولي وو -49- مونږ دغو ته له خپل
رحمته عطا وركړه او

ع
6

جَعَلۡنَا لَهُمۡ لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِيًّا ﴿۵۰﴾ وَ

مونږ دوى ته د صدق ډېره اوچته ژبه وركړې وه -
-50- او

اذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ مُوۡسٰۤى ۫ اِنَّهٗ كَانَ

په كتاب كې موسٰى ياد كړه، بېشكه چې دى

مُخۡلَصًا وَّ كَانَ رَسُوۡلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾ وَ

خالص كړى شوى و او رسول (او)، نبي و -51-
او

نَادَيۡنٰهُ مِنۡ جَانِبِ الطُّوۡرِ الۡاَيۡمَنِ وَ

مونږ ده ته د طور غر له ښي اړخ نه اواز کړی و
او مونږ دی قریب کړ، چې د راز

قَرَّبۡنٰهُ نَجِيًّا ۝٥٢ وَوَهَبۡنَا لَهٗ مِنۡ

خبرې مو ورسره کولې -52- او مونږ ده ته له خپل

رَّحۡمَتِنَاۤ اَخَاهُ هٰرُوۡنَ نَبِيًّا ۝٥٣ وَاذۡكُرۡ

رحمته د ده ورور هارون ورکړ، چې نبي و -53-
او په

فِى الۡكِتٰبِ اِسۡمٰعِيۡلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ

کتاب کې اسماعیل یاد کړه، بېشکه دی د وعدې

الۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُوۡلًا نَّبِيًّا ۝٥٤ وَكَانَ

رښتینی و او رسول (او) نبي و -54- او ده به خپل

يَاۡمُرُ اَهۡلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ۖ وَكَانَ

اهل ته په لمانځه او زكات سره حكم كاوه او دی د

عِنۡدَ رَبِّهٖ مَرۡضِيًّا ۝٥٥ وَاذۡكُرۡ فِى

خپل رب په نيز پسنديده و -55- او په كتاب كې

الۡكِتٰبِ اِدۡرِيۡسَ ۚ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيۡقًا

ادريس ياد كړه، يقينًا دی رښتينی

نَّبِيًّا ۝٥٦ وَّرَفَعۡنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ۝٥٧ اُولٰٓئِكَ

(او) نبي و -56- او دی مونږ ډېر اوچت ځای ته
پورته كړی دی -57- دغه خلق

الَّذِيۡنَ اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ مِّنَ

هغه كسان دي چې الله په دوی باندې له انبياوو

النَّبِيّنَ مِنۡ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ۗ وَ مِمَّنۡ

ځني انعام کړی دی، د ادم په اولاده کې او د هغه چا (په اولاد کې)

حَمَلۡنَا مَعَ نُوۡحٍ ۫ وَّ مِنۡ ذُرِّيَّةِ

چې مونږ له نوح سره بار کړي وو او د

اِبۡرٰهِيۡمَ وَاِسۡرَآءِيۡلَ ۫ وَ مِمَّنۡ

ابراهيم او اسرائيل (يعقوب) په اولاده کې۔ او له هغه چا نه

هَدَيۡنَا وَ اجۡتَبَيۡنَا ؕ اِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ

چې مونږ (ورته) هدايت کړی و او مونږ غوره کړي وو کله چې به په

اٰيٰتُ الرَّحۡمٰنِ خَرُّوۡا سُجَّدًا وَّ

دوی د رحمٰن ايتونه ولوستی شول (نو) دوی به پرېوتل، سجده کوونکي او

بُكِيًّا ﴿۵۸﴾ فَخَلَفَ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ

ژړېدونکي -58- نو له دوی نه وروسته داسې

اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ

بد ځای ناستي پيدا شول چې لمونځونه يې ضايع
کړل او د شهوتونو پيروي يې وکړه، نو ژر به دوی

فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾ اِلَّا مَنۡ تَابَ وَ

د خپلې بدۍ له انجام سره ملاقات وکړي -59-
مگر هغه څوك چې توبه وباسي او

اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ

ايمان راوړي او نېك عمل وکړي، نو دغه کسان
دي چې

يَدۡخُلُوۡنَ الۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُوۡنَ

دوی به جنت ته داخلېږي او په دوی به هېڅ شی

شَيْـًٔا ﴿٦٠﴾ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِيْ وَعَدَ

ظلم نه كېږي -60- د تل اوسېدونې جنتونو ته، هغه چې

الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ بِالْغَيْبِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

رحمٰن يې وعده كړې ده له خپلو بنده ګانو سره په ناليدلو، بېشكه دى (الله) چې دى، د ده

وَعْدُهٗ مَاْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا

وعده (خامخا) راتلونكې ده -61- دوى به په دغو (جنتونو) كې لغوه خبرې نه اورې غير

اِلَّا سَلٰمًا ؕ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً

له سلام نه، او د دوى لپاره په دغو (جنتونو) كې سبا او بېګاه د

وَّعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ

دوى رزق دى -62- دغه هغه جنتونه دي چې مونږ يې په

مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾ وَ مَا

خپلو بنده گانو کې هغه څوك وارث گرځولو چې پرهيزگاره وي -63- او (جبريل وويل)

نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَيْنَ

مونږ نه راكوځيږو مگر د خپل رب په امر سره، خاص د هغه لپاره دي هغه

اَيْدِيْنَا وَ مَا خَلْفَنَا وَ مَا بَيْنَ ذٰلِكَ ۚ وَ

څه چې زمونږ په وړاندې دي او هغې چې زمونږ وروسته دي او هغه څه چې د دغو په مينځ كې

مَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ ۚ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ

دي۔ او ستا رب هيڅكله هېروونكى نه دى -64- (دغه) د اسمانونو او

الْاَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَ

ځمكې رب دى او د هغه څه چې د دغو دواړو په مينځ كې دي، نو ته د ده عبادت كوه او

اصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ

د ده په عبادت ښه ټينګ اوسه، ايا ته د ده كوم

ع
7

سَمِيًّا ﴿۶۵﴾ؑ وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ءَاِذَا مَا

همنام پېژنې -65- او دغه (له بعث نه منكر) انسان
وايي: ايا كله چې زه مړ شم خامخا

مِتُّ لَسَوْفَ اُخْرَجُ حَيًّا ﴿۶۶﴾ اَوَ لَا

عنقريب به زه بيا ژوندى را ايستلى شم -66- ايا
دغه

يَذْكُرُ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ

انسان نه يادوي چې بېشكه مونږ دى له دې نه
مخكې پيدا كړى و،

وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴿۶۷﴾ فَوَرَبِّكَ

او دى هېڅ شى نه و -67- نو قسم دى ستا په رب

لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَ الشَّيٰطِيْنَ ثُمَّ

چې مونږ به خامخا ضرور دوی او شیطانان ټول راجمع کړو،

لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ

بیا به مونږ دوی خامخا ضرور د دوزخ چاپېره په گونډو پراته

جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ

راحاضر کړو -68- بیا به خامخا ضرور مونږ له هرې ډلې نه راوباسو هر هغه

اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ

څوك چې د سرکشۍ په لحاظ په رحمٰن باندې ډېر سخت دی -69- بیا خامخا

لَنَحْنُ اَعْلَمُ بِالَّذِيْنَ هُمْ اَوْلٰى بِهَا

مونږ په هغو خلقو ښه عالمان یو چې هغوی دغه (دوزخ) ته د داخلولو (او سوځولو)

صِلِيًّا ۝٧٠ وَاِنۡ مِّنۡكُمۡ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ

ښه لایق دي -70- او نشته دی په تاسو کې
هیڅوك مگر ده ته واردېدونکی دی دغه

عَلٰى رَبِّكَ حَتۡمًا مَّقۡضِيًّا ۝٧١ ۚ ثُمَّ نُنَجِّى

(واردېدل) ستا د رب په ذمه یقیني او فیصله کړی
شوي دي -71- بیا به مونږ هغو

الَّذِيۡنَ اتَّقَوْا وَّ نَذَرُ الظّٰلِمِيۡنَ فِيۡهَا

کسانو ته نجات ورکړو چې پرهېزگاري يې کړې
ده او ظالمان (کافران) به په دغه (دوزخ) کې په

جِثِيًّا ۝٧٢ وَاِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتُنَا

گونډو پراته پرېږدو -72- او کله چې دوی ته
زمونږ ایتونه لوستی شي،

بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لِلَّذِيۡنَ

چې ښه واضح دي، (، نو) کافران شوي کسان
هغو کسانو ته

اٰمَنُوۡۤا ۙ اَیُّ الۡفَرِیۡقَیۡنِ خَیۡرٌ مَّقَامًا وَّ

چې ایمان یې راوړی دی؛ وایي په دغو دواړو ډلو کې کومه یوه د مقام په لحاظ ډېره غوره او د

اَحۡسَنُ نَدِیًّا ﴿۷۳﴾ وَ کَمۡ اَہۡلَکۡنَا قَبۡلَہُمۡ

مجلس په لحاظ ډېر ښایسته ده -73- او له دوی نه مخکې مونږ څومره ډېر قرنونه (امتونه) هلاك

مِّنۡ قَرۡنٍ ہُمۡ اَحۡسَنُ اَثَاثًا وَّ

کړي دي، چې هغوی د سامانونو او لیدنې (شکل) په لحاظ

رِءۡیًا ﴿۷۴﴾ قُلۡ مَنۡ کَانَ فِی الضَّلٰلَۃِ

ډېر ښه وو -74- ته (دوی ته) ووایه: هر هغه څوك چې په ګمراهۍ کې وي،

فَلۡیَمۡدُدۡ لَہُ الرَّحۡمٰنُ مَدًّا ۬ۚ حَتّٰۤی اِذَا

نو رحمٰن دې ده ته مهلت ورکړي، مهلت ورکول، تر هغه پورې چې

رَاَوۡا مَا يُوۡعَدُوۡنَ اِمَّا الۡعَذَابَ وَاِمَّا

کله دوی هغه څه ووینې چې له دوی سره یې وعده کولی شي، یا عذاب، یا قیامت،

السَّاعَةَ ؕ فَسَيَعۡلَمُوۡنَ مَنۡ هُوَ شَرٌّ

نو دوی به ژر پوه شي چې څوک دی د ځای په لحاظ ډېر بد

مَّكَانًا وَّاَضۡعَفُ جُنۡدًا ۝٧٥ وَيَزِيۡدُ اللّٰهُ

او د لښکر په لحاظ ډېر کمزوری -75- او الله

هغو

الَّذِيۡنَ اهۡتَدَوۡا هُدًى ؕ وَالۡبٰقِيٰتُ

کسانو ته هدایت نور هم زیاتوي چې نېغه لار یې

موندلې ده، او

الصّٰلِحٰتُ خَيۡرٌ عِنۡدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّ

نېکۍ باقي پاتې کېدونکې ستا د رب په نیز د ثواب

په لحاظ ډېرې غوره دي او د بېرته

خَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾ اَفَرَءَيْتَ الَّذِىْ كَفَرَ

ورتللو په لحاظ ډېرې ښې دي -76- ايا تا هغه كس ليدلى چې زمونږ په

بِاٰيٰتِنَا وَ قَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّ

ايتونو باندې كافر شوى دى او وايي چې ما ته به (په اخرت كې) خامخا ضرور مال او

وَلَدًا ﴿٧٧﴾ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ

اولاد راكول كېږي -77- ايا دى په غيبو خبر شوى دى، يا ده د رحمٰن په نيز

الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ط سَنَكْتُبُ مَا

كومه وعده اخيستې ده -78- داسې نه ده ضرور مونږ ليكو هغه څه چې

يَقُوْلُ وَ نَمُدُّ لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَّ

دى يې وايي او ده ته به له عذابه وغځوو، غځول -79- او

نَرِثُهٗ مَا يَقُوۡلُ وَيَاۡتِيۡنَا فَرۡدًا ﴿٨٠﴾ وَ

په ميراث به اخلو هغه څه چې دی يې وايي، او
دی به مونږ ته يواځې (ځانله) راځي -80- او

اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوۡنُوۡا

دوی له الله نه غير (نور) معبودان ونيول، د دې
لپاره چې دغه (معبودان) د دوی د

لَهُمۡ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا ؕ سَيَكۡفُرُوۡنَ

عزت سبب شي -81- داسې نه ده، ژر به دغه
(معبودان) د دوی په

بِعِبَادَتِهِمۡ وَيَكُوۡنُوۡنَ عَلَيۡهِمۡ

عبادت سره منکر شي او دغه به د دوی په ضد

ع
8

ضِدًّا ﴿٨٢﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّاۤ اَرۡسَلۡنَا الشَّيٰطِيۡنَ

(او خلاف) شي -82- ايا ته نه ګورې چې مونږ
شيطانان په

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا

کافرانو باندې راخوشې کوو، چې دوی تېزوي، تېزول -83- نو ته په دوی

تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ

باندې (د عذاب په راتلو کې) تلوار مه کوه، بېشکه مونږ د دوی لپاره شمېرل کوو،

عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى

شمېرل -84- (یاده کړه) هغه ورځ چې مونږ به متقیان راجمع کړو

الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَّنَسُوْقُ

د رحمٰن په طرف بلل شوي سواره مېلمانه -85- او مجرمان

الْمُجْرِمِيْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَا

وقف لازم

(کافران) به د جهنم په طرف تږي پیاده شړو - -86- هغوی

يَمۡلِكُوۡنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ

د شفاعت اختيار نه لري، مگر هغه څوك چې

وقف لازم

عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا ۘ ﴿۸۷﴾ وَقَالُوا

د رحمٰن په نيز يې وعده اخيستې ده -87- او دغه (كافران) وايي:

اتَّخَذَ الرَّحۡمٰنُ وَلَدًا ؕ ﴿۸۸﴾ لَقَدۡ جِئۡتُمۡ

رحمٰن د ځان لپاره اولاد نيولى دى -88- يقينًا يقينًا تاسو ډېره لويه د

شَيۡـًٔا اِدًّا ۙ ﴿۸۹﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ

گناه خبره وكړه -89- نژدې دي چې اسمانونه له دې نه

مِنۡهُ وَتَنۡشَقُّ الۡاَرۡضُ وَتَخِرُّ

وچوي او ځمكه ټوټې ټوټې شي او غرونه راولوېږي

الۡجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ اَنۡ دَعَوۡا لِلرَّحۡمٰنِ

ذرې ذرې -90- په دې خبره چې دوی د رحمٰن لپاره

وَلَدًا ﴿۹۱﴾ وَ مَا يَنۡۢبَغِيۡ لِلرَّحۡمٰنِ اَنۡ

اولاد وباله -91- او رحمٰن ته نه ښايي چې

يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿۹۲﴾ اِنۡ كُلُّ مَنۡ فِي

اولاد ونيسي -92- نه دي دغه هر يو چې په

السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ اِلَّاۤ اٰتِي الرَّحۡمٰنِ

اسمانونو او ځمکه کې دي مگر رحمٰن ته راتلونکي دي، په دې حال کې

عَبۡدًا ﴿۹۳﴾ لَقَدۡ اَحۡصٰهُمۡ وَ عَدَّهُمۡ

چې بنده به وي -93- يقينًا يقينًا ده دوی راگېر کړي دي او دوی يې شمېرلي دي،

عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

شمېرل -94- او هر يو له دوی نه ده ته راتلونکی
دی په ورځ د قيامت

فَرْدًا ﴿٩٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

کې يواځې -95- بېشکه هغه کسان چې ايمان يې
راوړی دی او

الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ

نېك عملونه يې کړي دي ژر به رحمٰن د دوی
لپاره (د خلقو په زړونو کې) مينه (او محبت)

وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ

پيدا کړي -96- پس بېشکه همدا خبره ده چې
مونږ دغه (قرآن) ستا په ژبه آسان کړی دی، د دې

بِهِ الْمُتَّقِيْنَ وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا

لپاره چې ته په ده سره پرهېزګارانو ته زېری
ورکړې او ته په ده سره ډېر جګړه کوونکی

لُدًّا ﴿۹۷﴾ وَكَمۡ اَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُمۡ مِّنۡ

قوم ووېروې -97- او له دوى نه مخکې مونږه

قَرۡنٍ ؕ هَلۡ تُحِسُّ مِنۡهُمۡ مِّنۡ اَحَدٍ اَوۡ

خومره ډېر قرنونه هلاك كړي دي! ايا ته په دوى
كې يو تن محسوسوې،

ع 9 النصف

تَسۡمَعُ لَهُمۡ رِكۡزًا ﴿۹۸﴾ؑ

يا ته د دوى كوم نرم غږ (اواز) هم اورې -98-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی(1)

طٰهٰ ۚ﴿۱﴾ مَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ

طا، ها -1- مونږ قرآن په تا باندې د دې لپاره نه دی نازل کړی چې ته په سختۍ او

لِتَشۡقٰٓى ۙ﴿۲﴾ اِلَّا تَذۡكِرَةً لِّمَنۡ

مشقت کې پرېوځې -2- مګر (نازل کړی دی مونږ) نصیحت د هغه چا لپاره

يَّخۡشٰى ۙ﴿۳﴾ تَنۡزِيۡلًا مِّمَّنۡ خَلَقَ الۡاَرۡضَ

چې وېرېږي -3- (نازل کړی شوی دی) په نازلېدلو سره د هغه (الله) له جانبه چې ځمکه او

وَ السَّمٰوٰتِ الۡعُلٰى ؕ﴿۴﴾ اَلرَّحۡمٰنُ عَلَى

ډېر اوچت اسمانونه يې پيدا کړي دي -4- رحمٰن په عرش

الۡعَرۡشِ اسۡتَوٰی ۵ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ

باندې برقراره شو -5- خاص د ده لپاره دي هغه
څه چې په اسمانونو کې دي

وَ مَا فِی الۡاَرۡضِ وَ مَا بَیۡنَهُمَا وَ مَا

او هغه څه چې په ځمکه کې دي او هغه څه چې
د دواړو په مينځ کې دي او هغه څه چې د لوندې

تَحۡتَ الثَّرٰی ۶ وَ اِنۡ تَجۡهَرۡ بِالۡقَوۡلِ

ځمکې نه لاندې دي -6- او که ته خبره په جهر
سره کوې، نو يقيناً هغه په پټه خبره

فَاِنَّهٗ یَعۡلَمُ السِّرَّ وَ اَخۡفٰی ۷ اَللّٰهُ لَاۤ

او په ډېره پټه خبره هم پوهېږي -7- الله (چې دی)
نشته دی هېڅ لايق د

اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰی ۸ وَ

عبادت مگر هم دی دی، خاص د ده لپاره تر ټولو
ښکلي نومونه دي -8- او

وقف لازم

هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ مُوۡسٰىۘ ﴿۹﴾ اِذۡ رَاٰ نَارًا

ايا تا ته د موسٰى قصه (خبره) راغلې ده -9- کله چې ده اور وليده،

فَقَالَ لِاَهۡلِهِ امۡكُثُوۡۤا اِنِّىۡۤ اٰنَسۡتُ نَارًا

نو خپل اهل ته يې وويل: تاسو ايسار شئ، بېشکه ما اور وليده،

لَّعَلِّىۡۤ اٰتِيۡكُمۡ مِّنۡهَا بِقَبَسٍ اَوۡ اَجِدُ

کېدى شي چې زه له هغه نه تاسو ته لګولې (بله) لمبه راوړم، يا به په اور باندې څه

عَلَى النَّارِ هُدًى ﴿۱۰﴾ فَلَمَّاۤ اَتٰٮهَا نُوۡدِىَ

لار ښوونه (لار ښود) ومومم -10- نو کله چې دې دغه (اور) ته راغى، ده ته اواز وکړى

يٰمُوۡسٰىؕ ﴿۱۱﴾ اِنِّىۡۤ اَنَا رَبُّكَ فَاخۡلَعۡ

شو چې اى موسٰى! -11- بېشکه زه چې يم، زه ستا رب يم، نو ته خپلې پڼې

نَعۡلَيۡكَ ۚ اِنَّكَ بِالۡوَادِ الۡمُقَدَّسِ

وباسه، بېشکه ته په مقدسه (سپېڅلې) وادۍ (دره)

طُوًى ﴿١٢﴾ وَ اَنَا اخۡتَرۡتُكَ فَاسۡتَمِعۡ لِمَا

طُوٰی کې يې -12- او ته ما غوره کړی يې، نو ته هغه څه ته ښه غوږ شه چې

يُوۡحٰى ﴿١٣﴾ اِنَّنِيۡۤ اَنَا اللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا

وحي کولی شي -13- بېشکه زه چې يم، زه الله يم، نشته دی هېڅ لايق

فَاعۡبُدۡنِيۡ ۙ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ

د عبادت مګر همدا زه يم، نو ته زما عبادت کوه، او زما د يادولو لپاره

لِذِكۡرِيۡ ﴿١٤﴾ اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اَكَادُ

لمونځ قايموه -14- بېشکه قيامت راتلونکی دی، زه غوارم چې

اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا

دغه (قيامت) پټ وساتم، د دې لپاره چې هر نفس ته د هغو عملونو په سبب بدله

تَسْعٰى ﴿١٥﴾ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا

ورکړی شي چې دی يې کوي -15- نو تا دې هيڅكله بند نه کړې له دغه (قيامت) نه هغه څوك

يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ﴿١٦﴾ وَ

چې په دې ايمان نه راوړي او هغه د خپل خواهش پيروي کوي (، ګني) نو ته به هلاك شي -16- او

مَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ﴿١٧﴾ قَالَ هِيَ

ای موسٰی! ستا په ښي لاس کې څه شی دی؟ -17- ده وويل: دا زما

عَصَايَ ۚ اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا وَاَهُشُّ بِهَا

امسا ده په دې زه تکيه لګوم، او په دې سره زه خپلو ګډو (بيزو) ته

عَلٰى غَنَمِىْ وَلِىَ فِيْهَا مَاٰرِبُ

پاڼې شنډوهم، او زما لپاره په دې کې نور حاجتونه

اُخْرٰى ۝١٨ قَالَ اَلْقِهَا

(او فايدې) هم دي -18- (الله) وويل: اى موسٰى! ته دا

يٰمُوْسٰى ۝١٩ فَاَلْقٰهَا فَاِذَا هِىَ حَيَّةٌ

وغورځوه -19- نو ده دغه وغورځوله، نو ناڅاپه دغه (امسا) مار شو،

تَسْعٰى ۝٢٠ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ؕ وقفة

منډې يې وهلې -20- (الله) وويل: ته دا راونيسه، او ته مه ويرېږه،

سَنُعِيْدُهَا سِيْرَتَهَا الْاُوْلٰى ۝٢١ وَاضْمُمْ

ژر به موږ دا خپل ړومبني شکل ته راوګرځوو -21- او ته خپل لاس

يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ

خپل تخرگ ته پیوست کړه، دا به راووځي، چې
تك سپین به وي، بې له عیب (او بیمارۍ) نه، په

غَيْرِ سُوْٓءٍ اٰيَةً اُخْرٰى ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ

داسې حال کې چې دا بله نښه (او معجزه) ده -
22- د دې لپاره چې مونږ تا ته د خپلو

اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ﴿٢٣﴾ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ

ترټولو لویو نښو ځنې (څه) وښیو -23- ته فرعون
ته لاړ شه، بېشکه ده

ع
10

اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ

سرکشي شروع کړې ده -24- ده وویل: اى زما
ربه! ته ما لره زما سینه

صَدْرِيْ ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْ لِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٢٦﴾ وَاحْلُلْ

(خلاصه) پرانیځه -25- او ما ته زما کار اسان کړه
-26- او زما له

عُقۡدَةً مِّنۡ لِّسَانِيۡ ﴿٢٧﴾ يَفۡقَهُوۡا قَوۡلِيۡ ﴿٢٨﴾ وَ

ژبې نه غوټه پرانيځه -27- چې دوی زما په خبره پوه شي -28- او

اجۡعَلۡ لِّيۡ وَزِيۡرًا مِّنۡ اَهۡلِيۡ ﴿٢٩﴾ هٰرُوۡنَ

زما لپاره زما له اهل نه يو وزير (مددګار) وټاکه - -29- هارون، چې زما

اَخِي ﴿٣٠﴾ اشۡدُدۡ بِهٖۤ اَزۡرِيۡ ﴿٣١﴾ وَاَشۡرِكۡهُ فِيۡۤ

ورور دی -30- په ده سره ته زما مَلا قوي کړه - -31- او دی زما په کار کې

اَمۡرِيۡ ﴿٣٢﴾ كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيۡرًا ﴿٣٣﴾ وَّ

شريك کړه -32- د دې لپاره چې مونږ ستا ډېره تسبيح ووايو -33- او

نَذۡكُرَكَ كَثِيۡرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّكَ كُنۡتَ بِنَا

ستا ډېر ذکر وکړو -34- بېشکه هم ته زمونږ حال ښه

بَصِيۡرًا ﴿۳۵﴾ قَالَ قَدۡ اُوۡتِيۡتَ سُؤۡلَكَ

ليدونكى يې -35- (الله) وويل: اى موسٰى! يقينًا تا ته ستا سوال

يٰمُوۡسٰى ﴿۳۶﴾ وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَيۡكَ مَرَّةً

دركړى شو -36- او يقينًا يقينًا مونږ په تا باندې يو ځل بل

اُخۡرٰٓى ﴿۳۷﴾ اِذۡ اَوۡحَيۡنَآ اِلٰٓى اُمِّكَ مَا

احسان كړى و -37- كله چې مونږ ستا مور ته الهام وكړ هغه چې (تا ته اوس)

يُوۡحٰٓى ﴿۳۸﴾ اَنِ اقۡذِفِيۡهِ فِى التَّابُوۡتِ

وحي كولى شي -38- چې ته (اى مورې د موسٰى) دا (موسٰى) په تابوت (صندوق) كې

فَاقۡذِفِيۡهِ فِى الۡيَمِّ فَلۡيُلۡقِهِ الۡيَمُّ

واچوه، بيا دغه (صندوق) په سيند كې وغورځوه، نو دغه (صندوق)

بِالسَّاحِلِ يَاۡخُذۡهُ عَدُوٌّ لِّىۡ وَ عَدُوٌّ لَّهٗ ؕ

لره دې سيند په ساحل کې وغورځوي، چې دغه (موسٰی) لره ونيسي زما دښمن او د ده دښمن او

وَ اَلۡقَيۡتُ عَلَيۡكَ مَحَبَّةً مِّنِّىۡ ۚ وَ

ما په تا باندې له خپل جانبه محبت اچولی و، او د دې لپاره ستا

لِتُصۡنَعَ عَلٰى عَيۡنِىۡ ۝۳۹ اِذۡ تَمۡشِىۡۤ اُخۡتُكَ

تربيت زما د سترګو په وړاندې وشي -39- کله چې ستا خور (په تا پسې) روانه وه

فَتَقُوۡلُ هَلۡ اَدُلُّكُمۡ عَلٰى مَنۡ يَّكۡفُلُهٗ ؕ

(ته يې وليدې چې د هيچا تی (يې) نه اخلې) نو دې ويل: ايا زه تاسو ته هغه څوك وښيم چې د ده

فَرَجَعۡنٰكَ اِلٰٓى اُمِّكَ كَىۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا وَ

کفالت (او تربيت) به کوي۔، نو ته مونږ خپلې مور ته بېرته راوستې، د دې لپاره چې د هغې سترګې

وقف لازم

لَا تَحۡزَنَ ؕ وَ قَتَلۡتَ نَفۡسًا فَنَجَّیۡنٰكَ

یخې شي او غمژنه نشي او تا یو کس مړ کړی و، نو ته مونږ له

مِنَ الۡغَمِّ وَ فَتَنّٰكَ فُتُوۡنًا ۬ۚ فَلَبِثۡتَ

غم نه خلاص کړې. او ته مونږ په قسما قسم ازموینو سره وازمایلې، نو تا

سِنِیۡنَ فِیۡۤ اَهۡلِ مَدۡیَنَ ۬ۙ ثُمَّ جِئۡتَ عَلٰی

څو کاله په اهل مدین کې تېر کړل، بیا ته په ټاکلې اندازې سره راغلې،

قَدَرٍ یّٰمُوۡسٰی ﴿۴۰﴾ وَ اصۡطَنَعۡتُكَ

ای موسٰی! -40- او ته ما د خپل ځان لپاره

لِنَفۡسِیۡ ﴿ۚ۴۱﴾ اِذۡهَبۡ اَنۡتَ وَ اَخُوۡكَ بِاٰیٰتِیۡ

تیار کړی یې -41- ته لاړ شه او ستا ورور دې هم، زما په معجزو سره

وَلَا تَنِيَا فِىۡ ذِكۡرِىۡ ﴿۴۲﴾ اِذۡهَبَاۤ اِلٰى

او تاسو دواړه زما په ذکر (ياد) کې سستي مه کوئ
-42- تاسو دواړه

فِرۡعَوۡنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۴۳﴾ فَقُوۡلَا لَهٗ قَوۡلًا

فرعون ته لاړ شئ، بېشکه هغه باغي شوی دی -
43- نو تاسو هغه ته ډېره نرمه خبره وکړئ،

لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوۡ يَخۡشٰى ﴿۴۴﴾ قَالَا

ښايي چې دی پند واخلي، يا ووېرېږي -44-
دواړو وويل:

رَبَّنَاۤ اِنَّنَا نَخَافُ اَنۡ يَّفۡرُطَ عَلَيۡنَاۤ اَوۡ

ای زمونږه ربه! بېشکه مونږ له دې نه وېرېږو چې
دی به زمونږ سره زياتی وکړي، يا

اَنۡ يَّطۡغٰى ﴿۴۵﴾ قَالَ لَا تَخَافَاۤ اِنَّنِىۡ

به سرکشي شروع کړي -45- (الله) وويل: تاسو
مه وېرېږئ، بېشکه زه

مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰی ﴿۴۶﴾ فَاْتِيٰهُ فَقُوْلَآ

له تاسو سره يم، زه اورم او زه وينم -46- نو تاسو دواړه ورشئ،

اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ فَاَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ

پس (ورته) ووايئ چې بېشکه مونږ ستا د رب رسولان يو، نو ته زمونږ سره بني

اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ؕ قَدْ

اسرائيل خوشې کړه، او ته دوی مه په عذابوه، په تحقيق مونږ تا ته

جِئْنٰكَ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ ؕ وَالسَّلٰمُ عَلٰى

ستا د رب له معجزې سره راغلي يو، او (له عذاب نه) سلامتي ده د هغه

مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى ﴿۴۷﴾ اِنَّا قَدْ اُوْحِيَ

چا لپاره چې د هدايت پيروي وکړي -47- بېشکه مونږ چې يو، يقينًا مونږ ته وحي کړی

اِلَيْنَآ اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَ

شوې ده چې بېشكه عذاب په هغه چا دى چې (د رسولانو) تكذيب كوي او (له اسلامه) مخ گرځوي

تَوَلّٰى ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا

-48- ده (فرعون) وويل: اى موسٰى ستاسو د دواړو

يٰمُوْسٰى ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا الَّذِيْٓ اَعْطٰى كُلَّ

رب څوك دى؟ -49- ده وويل: زمونږ رب هغه ذات دى چې هر شي ته يې د ده (موافق)

شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ

شكل وركړى دى، بيا يې لار ښودلې ده -50- (فرعون) وويل: د ړومبنو زمانو د

الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿٥١﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ

خلقو څه حال دى؟ -51- ده وويل: د هغو علم زما له رب سره دى په

رَبِّیۡ فِیۡ کِتٰبٍ ۚ لَا یَضِلُّ رَبِّیۡ وَ لَا

یو کتاب کې، زما له رب نه څه ورکېږي او نه

یَنۡسَی ﴿۵۲﴾ الَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمُ الۡاَرۡضَ

ترې هېرېږي -52- هغه ذات چې تاسو لپاره يې
ځمکه فرش

مَهۡدًا وَّ سَلَکَ لَکُمۡ فِیۡهَا سُبُلًا وَّ

گرځولې ده او تاسو لپاره يې په دې کې لارې
چلولې دي او

اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ؕ فَاَخۡرَجۡنَا

له بره نه يې اوبه نازلې کړې دي، پس په دغو
(اوبو) سره مونږ

بِهٖۤ اَزۡوَاجًا مِّنۡ نَّبَاتٍ شَتّٰی ﴿۵۳﴾ کُلُوۡا وَ

بېلا بېل (او) قسما قسم زرغونې را ايستلي دي -
-53- تاسو يې خورئ او

اِرۡعَوۡا اَنۡعَامَكُمۡ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

خپل څاروي (په کې) څروئ، بېشکه په دغو (شيانو) کې د عقل والاو لپاره

ع 11

لِّاُولِي النُّهٰى ۝۵۴ مِنۡهَا خَلَقۡنٰكُمۡ وَفِيۡهَا

يقينًا ډېرې نښې دي -54- له هم دې (ځمکې) نه مونږ تاسو پيدا کړي يئ او په هم دې کې

نُعِيۡدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً

به مونږ تاسو ننه باسو، او بل کرت به مونږ

اُخۡرٰى ۝۵۵ وَلَقَدۡ اَرَيۡنٰهُ اٰيٰتِنَا كُلَّهَا

تاسو راوباسو -55- او يقينًا يقينًامونږ ده ته خپلې ټولې نښې (او معجزې) وروښوولې،

فَكَذَّبَ وَاَبٰى ۝۵۶ قَالَ اَجِئۡتَنَا

نو ده تکذيب وکړ او انکار يې وکړ -56- وويل: (فرعون) ايا ته مونږ

لِتُخۡرِجَنَا مِنۡ اَرۡضِنَا بِسِحۡرِكَ

ته راغلى يې اى موسٰى؟، د دې لپاره چې ته په خپل سحر (جادو) سره مونږ له خپلې

يٰمُوۡسٰى ۝٥٧ فَلَنَاۡتِيَنَّكَ بِسِحۡرٍ مِّثۡلِهٖ

ځمكې نه وباسې -57- نو مونږ به خامخا ضرور تا ته د دغه (سحر) په مثل

فَاجۡعَلۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكَ مَوۡعِدًا لَّا

سحر راوړو، نو ته زمونږ په مينځ كې او په خپل مينځ كې يوه وعده مقرره كړه

نُخۡلِفُهٗ نَحۡنُ وَلَاۤ اَنۡتَ مَكَانًا

چې نه به مونږ د هغې مخالفت كوو او نه ته۔، داسې ځاى چې

سُوًى ۝٥٨ قَالَ مَوۡعِدُكُمۡ يَوۡمُ الزِّيۡنَةِ

مساوي (هوار) وي -58- ده وويل: ستاسو د وعدې وخت د زينت (او جشن) ورځ ده

وَاَنۡ یُّحۡشَرَ النَّاسُ ضُحًی ﴿۵۹﴾ فَتَوَلّٰی

او دا چې خلق دې د څاښت په وخت کې راجمع کړی شي -59- نو فرعون وګرځېده،

فِرۡعَوۡنُ فَجَمَعَ کَیۡدَہٗ ثُمَّ اَتٰی ﴿۶۰﴾ قَالَ

نو خپل مکر (او چل) يې راجمع کړ، بيا راغی -60- (موسٰی جادوګرو ته) وويل:

لَہُمۡ مُّوۡسٰی وَیۡلَکُمۡ لَا تَفۡتَرُوۡا عَلَی

تاسو هلاك شئ! په الله باندې دروغ مه تړئ (ګڼئ) نو هغه به

اللّٰہِ کَذِبًا فَیُسۡحِتَکُمۡ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدۡ

تاسو په عذاب سره هلاك کړي، او په تحقيق نا اميده (او نامراد) شو هغه

خَابَ مَنِ افۡتَرٰی ﴿۶۱﴾ فَتَنَازَعُوۡۤا

کس چې (په الله) يې دروغ وتړل -61- نو دغو (جادوګرو) په خپل

اَمۡرَهُمۡ بَيۡنَهُمۡ وَاَسَرُّوا

کار کې په خپل مينځ سره جګړه وکړه او دغه پټه مشوره يې

النَّجۡوٰى ﴿٦٢﴾ قَالُوۡۤا اِنۡ هٰذٰنِ

خفيه وساتله -62- دوی وويل: بېشکه چې دا دواړه خامخا ساحران

لَسٰحِرٰنِ يُرِيۡدٰنِ اَنۡ يُّخۡرِجٰكُمۡ مِّنۡ

(جادوګر) دي، دوی دواړه غواړي چې تاسو له خپلې

اَرۡضِكُمۡ بِسِحۡرِهِمَا وَيَذۡهَبَا

ځمکې (خاورې) نه په خپل سحر (جادو) سره وباسي او ستاسو ډېر

بِطَرِيۡقَتِكُمُ الۡمُثۡلٰى ﴿٦٣﴾ فَاَجۡمِعُوۡا

غوره لار (د دين) ختمه کړي -63- نو تاسو خپل ټول چل

كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ائۡتُوۡا صَفًّا ۚ وَقَدۡ اَفۡلَحَ

مكر راجمع كړئ، بيا تاسو (ميدان ته) راشئ صف صف، او يقينًا نن

الۡيَوۡمَ مَنِ اسۡتَعۡلٰى ﴿٦٤﴾ قَالُوۡا يٰمُوۡسٰٓى

ورځ هغه څوك كامياب دى چې غالب شو -64- ده وويل: اى موسٰى!

اِمَّاۤ اَنۡ تُلۡقِىَ وَاِمَّاۤ اَنۡ نَّكُوۡنَ اَوَّلَ مَنۡ

يا به ته (امسا) غورځوې، يا به مونږ شو اول د هغه چا چې

اَلۡقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلۡ اَلۡقُوۡا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمۡ

(امسا) غورځوي -65- ده وويل: بلكې تاسو وغورځوئ، نو

وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ اِلَيۡهِ مِنۡ

ناڅاپه د دوى رسۍ او د دوى امساګانې د دوى د سحر په وجه د ده (موسٰى) خيال ته داسې

سِحۡرِهِمۡ اَنَّهَا تَسۡعٰى ﴿٦٦﴾ فَاَوۡجَسَ فِىۡ

راوستی شويې چې په رښتيا دغه منډې وهي -66-
نو موسٰی په خپل

نَفۡسِهٖ خِيۡفَةً مُّوۡسٰى ﴿٦٧﴾ قُلۡنَا لَا تَخَفۡ

نفس (زړه) کې وېره ومونده -67- مونږ (ده ته)
وويل: ته مه وېرېږه،

اِنَّكَ اَنۡتَ الۡاَعۡلٰى ﴿٦٨﴾ وَاَلۡقِ مَا فِىۡ

بېشکه هم ته ښه غالب يې -68- او ته هغه (امسا)
وغورځوه چې

يَمِيۡنِكَ تَلۡقَفۡ مَا صَنَعُوۡا ؕ اِنَّمَا

ستا په ښي لاس کې ده، چې هغه څه لواړ (ښوی)
تېر کړي چې دغو جوړ کړي دي، بېشکه

صَنَعُوۡا كَيۡدُ سٰحِرٍ ؕ وَلَا يُفۡلِحُ

هغه شی چې دوی تيار کړی دی د جادوګر چل
مکر دی، او جادوګر بری

السَّاحِرُ حَيْثُ اَتٰى ﴿٦٩﴾ فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ

نه مومي هر چېرته چې راشي -69- نو ساحران وغورځولی شول،

سُجَّدًا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَ

سجده کوونکي، ويې ويل: مونږ د هارون او

مُوْسٰى ﴿٧٠﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ

موسٰی په رب ايمان راوړ -70- (فرعون) وويل چې تاسو د ده تصديق وکړ مخکې له دې

اٰذَنَ لَكُمْ ۭ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ

چې زه تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دی يقينًا ستاسو هغه مشر دی چې تاسو ته يې سحر

عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ

(جادو) ښودلی دی، نو زه به خامخا ضرور ستاسو

اَيۡدِيَكُمۡ وَ اَرۡجُلَكُمۡ مِّنۡ خِلَافٍ وَّ

لاسونه او ستاسو پښې ادل بدل پرې کوم او زه به

لَاُصَلِّبَنَّكُمۡ فِىۡ جُذُوۡعِ النَّخۡلِ وَ

خامخا ضرور تاسو د کجور په تنو کې په دار کوم او تاسو به خامخا ضرور

لَتَعۡلَمُنَّ اَيُّنَاۤ اَشَدُّ عَذَابًا وَّ

پوه شئ چې په مونږ کې کوم يو د عذاب ورکولو په لحاظ ډېر سخت دی او ډېر باقی پاتې

اَبۡقٰى ۝ قَالُوۡا لَنۡ نُّؤۡثِرَكَ عَلٰى مَا

کېدونکی دی (زه او که موسٰی) -71- هغوی وويل: مونږ به تا ته له سره ترجيح

جَآءَنَا مِنَ الۡبَيِّنٰتِ وَالَّذِىۡ فَطَرَنَا

درنه کړو په هغه باندې چې مونږ ته راغلی دی چې ښکاره معجزې دي

فَاقۡضِ مَآ اَنۡتَ قَاضٍ ؕ اِنَّمَا تَقۡضِیۡ

او هغه (الله) چې مونږ يې پيدا کړي يو، نو ته هغه کار وکړه چې ته د هغه کوونکی يې، بېشکه ته

هٰذِهِ الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا ؕ﴿۷۲﴾ اِنَّاۤ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا

يواځې د دې دنيايي ژوند فيصله کولی شې -72- بېشکه مونږ په خپل رب ايمان راوړی دی،

لِيَغۡفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا وَمَاۤ اَكۡرَهۡتَنَا

د دې لپاره چې هغه زمونږ خطاګانې وبخښي او هغه (جرم) چې تا مونږ په هغه مجبوره کړي وو،

عَلَيۡهِ مِنَ السِّحۡرِ ؕ وَاللّٰهُ خَيۡرٌ وَّ

چې سحر دی او الله ډېر غوره۔ او تل پاتې

اَبۡقٰی ﴿۷۳﴾ اِنَّهٗ مَنۡ يَّاۡتِ رَبَّهٗ مُجۡرِمًا فَاِنَّ

کېدونکی دی -73- بېشکه شان دا دی چې هغه ثوک چې خپل رب ته راشي،

الثلثة

لَهٗ جَهَنَّمَ ؕ لَا يَمُوۡتُ فِيۡهَا وَ لَا

په دې حال کې چې کافر وي، نو بېشکه د ده لپاره دوزخ دی، دی به په ده کې نه مري او نه

يَحۡيٰى ﴿۷۴﴾ وَ مَنۡ يَّاۡتِهٖ مُؤۡمِنًا قَدۡ عَمِلَ

به (ښه) ژوندون کوي -74- او هغه څوك چې ده ته په داسې حال کې راشي چې مومن وي،

الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ

نېك عملونه يې کړي وي (، نو) د دوی لپاره ډېرې

الۡعُلٰى ۙ﴿۷۵﴾ جَنّٰتُ عَدۡنٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ

اوچتې درجې دي -75- چې د تل اوسېدنې جنتونه دي چې د هغو له

تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ؕ وَ ذٰلِكَ

لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، دغه د هغه چا بدله ده چې ځان يې (له

ع 12

جَزٰٓؤُا مَنۡ تَزَكّٰىؕ ﴿٧٦﴾ وَلَقَدۡ اَوۡحَيۡنَآ اِلٰى

شرك او كفر نه) پاك ساتلى وي -76- او يقينًا يقينًا موږ موسٰى ته وحي وكړه

مُوۡسٰٓى ۙ اَنۡ اَسۡرِ بِعِبَادِىۡ فَاضۡرِبۡ

چې ته زما بنده ګان د شپې وباسه، نو ته د دوى لپاره په

لَهُمۡ طَرِيۡقًا فِى الۡبَحۡرِ يَبَسًا ۙ لَّا

سمندر كې يوه وچه لاره جوړه كړه، ته به نه ويرېږې له نيول كېدو نه او نه

تَخٰفُ دَرَكًا وَّلَا تَخۡشٰى ﴿٧٧﴾ فَاَتۡبَعَهُمۡ

به وېرېږې (له ډوبېدو نه) -77- نو فرعون سره له

فِرۡعَوۡنُ بِجُنُوۡدِهٖ فَغَشِيَهُمۡ مِّنَ

خپلو لښكرو په دوى پسې راغى، نو دوى لره له سمندر نه هغه شي

اَلۡيَمِّ مَا غَشِيَهُمۡ ﴿٧٨﴾ وَ اَضَلَّ فِرۡعَوۡنُ

لاندې کړل چې دوی يې لاندې کړل -78- او
فرعون خپل قوم لره گمراه کړ او

قَوۡمَهٗ وَ مَا هَدٰى ﴿٧٩﴾ يٰبَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ

نېغه لار يې ور ونه ښودله -79- ای بني اسرائيلو

قَدۡ اَنۡجَيۡنٰكُمۡ مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَ

بېشکه مونږ تاسو ته ستاسو له دښمن نه نجات
درکړ او

وٰعَدۡنٰكُمۡ جَانِبَ الطُّوۡرِ الۡاَيۡمَنَ وَ

د طور غر ښي اړخ ته مو له تاسو سره وعده وکړه
او

نَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ الۡمَنَّ وَ

مونږ پر تاسو باندې مَن (ترنجبين) او

السَّلۡوٰى ﴿٨٠﴾ كُلُوۡا مِنۡ طَيِّبٰتِ مَا

مرزان (ډوله مرغان) نازل كړل -80- تاسو هغه
پاكيزه څيزونه خورئ چې

رَزَقۡنٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡا فِيۡهِ فَيَحِلَّ

مونږ تاسو ته دركړي دي او تاسو په دغه (رزق)
كې تجاوز مه كوئ (ګنې) نو په

عَلَيۡكُمۡ غَضَبِىۡ‌ۚ وَمَنۡ يَّحۡلِلۡ عَلَيۡهِ

تاسو به زما غضب راكوز شي اوهغه څوك چې په
هغه باندې زما غضب راكوز شي،

غَضَبِىۡ فَقَدۡ هَوٰى ﴿٨١﴾ وَاِنِّىۡ لَغَفَّارٌ لِّمَنۡ

نو يقينًا دى وغورځېده (هلاك شه) -81- او
بېشكه زه خامخا ډېر بخښونكى يم

تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ

هغه چا ته چې توبه وباسي او ايمان راوړي او
نېك عمل كوي، بيا په

اهۡتَدٰى ۝٨٢ وَمَآ اَعۡجَلَكَ عَنۡ قَوۡمِكَ

نېغه لار روان اوسي -82- او ته څه شي راګړندی
کړې له خپل قوم نه

يٰمُوۡسٰى ۝٨٣ قَالَ هُمۡ اُولَآءِ عَلٰٓى اَثَرِىۡ وَ

اى موسٰى! -83- ده وويل: دوى دغه دي په ما
پسې راروان دي او زه تا ته جلت راغلم

عَجِلۡتُ اِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضٰى ۝٨٤ قَالَ

اى زما ربه! د دې لپاره چې ته راضي شې -84-
(الله) وويل:

فَاِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۡۢ بَعۡدِكَ وَ

نو بېشكه مونږ ستا قوم له تا نه وروسته وازمايه او

اَضَلَّهُمُ السَّامِرِىُّ ۝٨٥ فَرَجَعَ مُوۡسٰٓى

سامري دوى ګمراه کړل -85- نو موسٰى خپل قوم
ته راواپس شو،

اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ یٰقَوْمِ

چې ډېر په غصه او غمجن و، ویې ویل: ای زما قومه!

اَلَمْ یَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ؕ

ایا تاسو سره ستاسو رب ډېره ښه وعده نه وه کړې،

اَفَطَالَ عَلَیْكُمُ الْعَهْدُ اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ

ایا نو په تاسو زمانه ډېره اوږده شوه، یا که تاسو اراده کړې وه

یَّحِلَّ عَلَیْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

چې په تاسو باندې د خپل رب غضب راکوز شي، نو تاسو زما د

فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِیْ ﴿۸۶﴾ قَالُوْا مَآ

وعدې خلاف ورزي وکړه -86- دوی وویل: مونږ ستا د

اَخۡلَفۡنَا مَوۡعِدَكَ بِمَلۡكِنَا وَلٰكِنَّا

وعدې مخالفت په خپل اختيار سره نه دی کړی،
او لېکن پر

حُمِّلۡنَآ اَوۡزَارًا مِّنۡ زِيۡنَةِ الۡقَوۡمِ

مونږ باندې د (قبطيانو د) قوم د ښکلا زيورات بار

فَقَذَفۡنٰهَا فَكَذٰلِكَ اَلۡقَى

کړی شوي وو، نو مونږ هغه وغورځول، نو
همداسې سامري هغه (په اور کې)

السَّامِرِيُّ ﴿۸۷﴾ فَاَخۡرَجَ لَهُمۡ عِجۡلًا

وغورځول -87- نو ده د دوی لپاره (له هغې کندې
څخه) يو سخی

جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوۡا هٰذَآ اِلٰهُكُمۡ

چې جسد و؛ راووېست، چې د ده لپاره د سخي
اواز و، نو دوی وويل: دا ستاسو معبود دی

وَ اِلٰهُ مُوْسٰى فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ اَفَلَا يَرَوْنَ اَلَّا

او د موسٰی معبود دی، پس هغه هېر کړی دی -
88- (الله فرمايي) نو ايا دوی نه ګوري چې

يَرْجِعُ اِلَيْهِمْ قَوْلًا ۙ وَّ لَا يَمْلِكُ لَهُمْ

بېشکه شان دا دی چې دغه (سخی) دوی ته بېرته
خبره نه راګرځوي او دی د دوی لپاره نه

ع 13

ضَرًّا وَّ لَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ وَ لَقَدْ قَالَ لَهُمْ

د ضرر اختيار لري او نه د نفعې -89- او يقينًا
يقينًا

هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ يٰقَوْمِ اِنَّمَا فُتِنْتُمْ

هارون دوی ته د دې (موسٰی له راتلو) نه مخکې
ويلي وو چې ای زما قومه! بېشکه همدا خبره ده

بِهٖ ۚ وَ اِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ فَاتَّبِعُوْنِيْ وَ

چې تاسو په دې سره ازمايل شوي يئ، او ستاسو
رب خو رحمٰن دی، نو تاسو زما پيروي وکړئ او

اَطِيۡعُوۡۤا اَمۡرِىۡ ۝٩٠ قَالُوۡا لَنۡ نَّبۡرَحَ

زما د حکم اطاعت وکړئ -90- دوی وویل: مونږ
به تل به په (عبادت) د ده

عَلَيۡهِ عٰكِفِيۡنَ حَتّٰى يَرۡجِعَ اِلَيۡنَا

محکم ولاړ اوسو، تر هغه پورې چې موسٰی مونږ

مُوۡسٰى ۝٩١ قَالَ يٰهٰرُوۡنُ مَا مَنَعَكَ اِذۡ

ته بېرته راشي -91- (موسٰی چې راغی نو) ویې
ویل: ای هارونه! ته څه شي منع کړی وې، کله

رَاَيۡتَهُمۡ ضَلُّوۡۤا ۝٩٢ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ

چې تا دوی ولیدل چې گمراه شول -92- چې تا
زما پیروي ونه کړه،

اَفَعَصَيۡتَ اَمۡرِىۡ ۝٩٣ قَالَ يَبۡنَؤُمَّ لَا

ایا نو تا زما د حکم نافرماني وکړه؟ -93- ده
وویل: ای زما د مور زویه! ته مه

تَاۡخُذۡ بِلِحۡيَتِىۡ وَلَا بِرَاۡسِىۡ‌ۚ اِنِّىۡ

زما ږیره نیسه او مه زما سره، بېشکه زه

خَشِيۡتُ اَنۡ تَقُوۡلَ فَرَّقۡتَ بَيۡنَ بَنِىۡۤ

وویرېدم له دې نه چې ته به وایې چې تا د بني

اِسۡرَآءِيۡلَ وَلَمۡ تَرۡقُبۡ قَوۡلِىۡ ﴿۹۴﴾ قَالَ

اسرائیلو په مینځ کې بېلتون واچاوه او زما خبرې
ته دې ونه کتل -94- (موسٰی) وویل:

فَمَا خَطۡبُكَ يٰسَامِرِىُّ ﴿۹۵﴾ قَالَ بَصُرۡتُ

نو ستا څه کار و ای سامري! -95- هغه وویل: ما
هغه شی ولیده

بِمَا لَمۡ يَبۡصُرُوۡا بِهٖ فَقَبَضۡتُ قَبۡضَةً

چې دوی هغه نه و لیدلی نو ما یو موټی (خاوره)
راوخیسته د

مِنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ

رسول له قدمه، نو هغه ما (د دغه سخي په خوله
کې) وغورځوله او همداسې ما ته

سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ﴿٩٦﴾ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ

زما نفس (دا کار) ښایسته کړی و -96- ده وویل:
نو ته ځه! پس بېشکه تا لره

لَكَ فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ ص

په ژوندن کې دا دي چې ته به وایې: (په ما) مه
لګېږئ،

وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ج وَانْظُرْ

او بېشکه تا لپاره د وعدې یو وخت دی چې له تا
سره به د هغې وعدې هېڅ خلاف ونه کړی شي، او

اِلٰۤى اِلٰهِكَ الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ط

ته خپل هغه معبود ته وګوره چې ته په (عبادت) د
ده باندې محکم ولاړ وې،

لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنۡسِفَنَّهٗ فِى الۡيَمِّ

مونږ به دی خامخا ضرور سوځوو، بیا مونږ دی په سمندر کښې

نَسۡفًا ﴿۹۷﴾ اِنَّمَاۤ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِىۡ لَاۤ اِلٰهَ

بادوو، بادول -97- بېشکه همدا خبره ده چې ستاسو معبود هغه الله دی چې نشته هېڅ لایق د

اِلَّا هُوَ ؕ وَسِعَ كُلَّ شَىۡءٍ عِلۡمًا ﴿۹۸﴾ كَذٰلِكَ

عبادت مگر هم دی دی، ده د علم په لحاظ هر شی، راګېر کړی -98- هم داسې مونږ

نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ اَنۡۢبَآءِ مَا قَدۡ سَبَقَ ۚ

تا ته بیانوو ځینې له هغو خبرونو نه چې مخکې تېر شوي دي او په تحقیق تا ته

وَقَدۡ اٰتَيۡنٰكَ مِنۡ لَّدُنَّا ذِكۡرًا ۖ ۚ ﴿۹۹﴾ مَنۡ

مونږ درکړی دی له خپل جانب نه ذکر (چې قرآن دی) -99- هرڅوك

اَعۡرَضَ عَنۡهُ فَاِنَّهٗ يَحۡمِلُ يَوۡمَ

چې له ده نه مخ وګرځوي، پس بېشکه دغه کس
به د قيامت په ورځ (د عذاب)

الۡقِيٰمَةِ وِزۡرًا ۙ﴿۱۰۰﴾ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهِ ؕ وَسَآءَ

بار پورته کوي -100- چې تل به وي په دغه
(عذاب) کې او دغه

لَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ حِمۡلًا ۙ﴿۱۰۱﴾ يَّوۡمَ يُنۡفَخُ

بد دی د دوی د لپاره د بارولو په لحاظ -101- په
هغې ورځ کې چې په شپېلۍ کې به (په دوهم ځل)

فِي الصُّوۡرِ وَنَحۡشُرُ الۡمُجۡرِمِيۡنَ

وپوکل شي۔ او په دغې ورځ کې به مونږ مجرمان
(کافران) راجمع کوو چې

يَوۡمَئِذٍ زُرۡقًا ۚ﴿۱۰۲﴾ يَّتَخَافَتُوۡنَ بَيۡنَهُمۡ

شين سترګي (تور مخي) به وي -102- دوی به په
خپل مينځ کې پټې پټې خبرې کوي

اِنۡ لَّبِثۡتُمۡ اِلَّا عَشۡرًا ۝١٠٣ نَحۡنُ اَعۡلَمُ

چې تاسو وخت نه دی تېر کړی (په دنیا کې) مګر لس شپې -103- مونږ ښه عالمان یو

بِمَا يَقُوۡلُوۡنَ اِذۡ يَقُوۡلُ اَمۡثَلُهُمۡ

په هغو خبرو چې دوی یې وایي، کله چې په دوی کې د روش په لحاظ ډېر کامل وایي:

ع 14

طَرِيۡقَةً اِنۡ لَّبِثۡتُمۡ اِلَّا يَوۡمًا ۝١٠٤ وَ

تاسو وخت نه دی تېر کړی مګر یوه ورځ -104-

يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡجِبَالِ فَقُلۡ

او دوی له تا نه د غرونو په باره کې پوښتنه کوي، نو ته (ورته) ووایه چې زما رب به

يَنۡسِفُهَا رَبِّىۡ نَسۡفًا ۝١٠٥ فَيَذَرُهَا قَاعًا

دغه (غرونه) تار په تار کړي، تار تار کول -105- نو دغه (ځمکه) به تش

صَفۡصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرٰی فِیۡهَا عِوَجًا وَّ لَاۤ

هوار ډاګ پرېږدي -106- چې ته به په دې کې نه ښکته والی وینې او نه

اَمۡتًا ﴿١٠٧﴾ یَوۡمَئِذٍ یَّتَّبِعُوۡنَ الدَّاعِیَ لَا

څه اوچت والی -107- په دغې ورځ کې به دوی د بلونکي پیروي کوي،

عِوَجَ لَهٗ ۚ وَ خَشَعَتِ الۡاَصۡوَاتُ

دغې (بلنې) ته به هېڅ کوږ والی نه وي، او ټول اوازونه به

لِلرَّحۡمٰنِ فَلَا تَسۡمَعُ اِلَّا

رحمٰن ته چوپ شي، نو ته به نه اورې مګر

هَمۡسًا ﴿١٠٨﴾ یَوۡمَئِذٍ لَّا تَنۡفَعُ الشَّفَاعَةُ

کشاری (د قدمونو) -108- په دغې ورځ کې به شفاعت فایده نه رسوي

اِلَّا مَنۡ اَذِنَ لَهُ الرَّحۡمٰنُ وَ رَضِیَ لَهٗ

مگر هغه چا ته چې د هغه په حق کې رحمٰن
اجازت وکړي او دغه (الله) د ده په

قَوۡلًا ﴿۱۰۹﴾ یَعۡلَمُ مَا بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَ مَا

خبره راضي شوی وي -109- دغه (الله) پوهېږي
په هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او په هر

خَلۡفَهُمۡ وَ لَا یُحِیۡطُوۡنَ بِهٖ عِلۡمًا ﴿۱۱۰﴾ وَ

هغه څه چې د دوی وروسته دي او دوی د هغه د
علم احاطه نشي کولی -110- او

عَنَتِ الۡوُجُوۡهُ لِلۡحَیِّ الۡقَیُّوۡمِ ؕ وَ قَدۡ

مخونه تل ژوندي، د ټول عالم انتظام کوونکي
ذات ته ټیټ شول او تحقیق نامراده شو هغه کس

خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمًا ﴿۱۱۱﴾ وَ مَنۡ یَّعۡمَلۡ

چې (د) ظلم (بار) یې پورته کړ -111- او هغه
څوك چې نېك

مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَ هُوَ مُؤۡمِنٌ فَلَا يَخٰفُ

عمل وکړي، په دې حال کې چې مومن وي، نو دی به نه له ظلم (بې انصافۍ)

ظُلۡمًا وَّ لَا هَضۡمًا ﴿۱۱۲﴾ وَ كَذٰلِكَ اَنۡزَلۡنٰهُ

نه وېرېږي او نه له نقصان نه -112- او هم داسې مونږ دغه (کتاب) نازل کړی دی

قُرۡاٰنًا عَرَبِيًّا وَّ صَرَّفۡنَا فِيۡهِ مِنَ

عربي قرآن، او مونږ په ده کې (ايتونه) له وعيد ځنې بيا بيا

الۡوَعِيۡدِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُوۡنَ اَوۡ يُحۡدِثُ

راوړي دي، د دې لپاره چې دوی پرهېزګاره شي يا دغه (قرآن) دوی ته

لَهُمۡ ذِكۡرًا ﴿۱۱۳﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الۡمَلِكُ

ځه پند پيدا کړي -113- نو اوچت دی الله حق بادشاه دی

الۡحَقُّ ۚ وَلَا تَعۡجَلۡ بِالۡقُرۡاٰنِ مِنۡ

او ته په (لوستلو د) قرآن سره تلوار مه کوه

قَبۡلِ اَنۡ يُّقۡضٰٓى اِلَيۡكَ وَحۡيُهٗ ۫ وَقُلۡ

مخکې له دې چې تا ته د ده وحي پوره کړی شي
او ته وايه: ای زما ربه ما ته (زما)

رَّبِّ زِدۡنِىۡ عِلۡمًا ﴿۱۱۴﴾ وَلَقَدۡ عَهِدۡنَاۤ اِلٰٓى

په علم کې زياتوالی راکړې -114- او يقينًا په
تحقيق سره مونږ

اٰدَمَ مِنۡ قَبۡلُ فَنَسِىَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهٗ

ادم ته له دې نه مخکې حکم کړی و، نو هغه هېر
کړ او مونږ د ده پخه اراده

ع 15
عَزۡمًا ﴿۱۱۵﴾ ۧ وَاِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓـئِكَةِ اسۡجُدُوۡا

ونه موندە -115- او کله چې مونږ ملايکو ته
وويل:

لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ

تاسو ادم ته سجده وکړئ، نو دوی سجده وکړه، غیر له ابلیس نه، ده

اَبٰى ﴿۱۱۶﴾ فَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَ

انکار وکړ -116- نو مونږ ادم ته وویل: بېشکه دا (ابلیس) ستا او ستا

لِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ

د ښځې دښمن دی، نو دی دې تاسو هرګز له جنت نه ونه باسي، (ګني) نو په

فَتَشْقٰى ﴿۱۱۷﴾ اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ فِيْهَا وَلَا

مشقت کې به پرېوځئ -117- بېشکه تا لپاره دا مقرر ده چې ته به په دې (جنت) کې نه وږی

تَعْرٰى ﴿۱۱۸﴾ وَاَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيْهَا وَلَا

کېږې او نه به بربنډېږې -118- او دا چې بېشکه ته به نه په ده کې تږی کېږې او نه

تَضْحٰى ﴿۱۱۹﴾ فَوَسْوَسَ اِلَيْهِ الشَّيْطٰنُ

به دي ګرمي کېږي -119- نو ده ته شيطان وسوسه واچوله،

قَالَ يٰاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ

ويې ويل: اى ادمه! ايا زه تا ته د تل ژوندي پاتې کېدلو ونه وښيم

الْخُلْدِ وَ مُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿۱۲۰﴾ فَاَكَلَا مِنْهَا

او داسې بادشاهي چې نه به ختمېږي -120- نو دوى دواړو (ښځې خاوند)

فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَ طَفِقَا

له دغې (ونې) نه خوراك وکړ، نو دوى ته خپل د شرم ځايونه ښکاره شول او دوى شروع

يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ز وَ

شول چې په خپلو ځانونو يې د جنت پاڼې نښلولې

عَصٰۤى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ۝١٢١ ثُمَّ اجْتَبٰهُ

او ادم د خپل رب نافرماني وکړه، نو وښويده - 121- بيا دی خپل

رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ۝١٢٢ قَالَ

رب غوره کړ، نو د ده توبه يې قبوله کړه او هدايت يې وکړ (ده ته) -122- (الله) وويل:

اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيْعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

تاسو دواړه له دې (جنت) نه کوز شئ ټول، ستاسو ځيني به د ځينو

عَدُوٌّ ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى ۙ

نورو دښمنان وي، نو که تاسو ته زما له جانبه هدايت راغی،

فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا

نو چا چې زما د هدايت پيروي وکړه، نو دی به نه گمراه کيږي او نه به

يَشۡقٰى ﴿۱۲۳﴾ وَمَنۡ اَعۡرَضَ عَنۡ ذِكۡرِىۡ

بدبخته کېږي -123- او هغه څوك چې زما له ذکر (قرآن) نه مخ وگرځوي،

فَاِنَّ لَهٗ مَعِيۡشَةً ضَنۡكًا وَّنَحۡشُرُهٗ

نو بېشکه د ده لپاره ډېر تنگ گذران (او ژوند) دی او دی به مونږ د

يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ اَعۡمٰى ﴿۱۲۴﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ

قيامت په ورځ ړوند راپورته کوو -124- دی به وايي: ای زما ربه!

حَشَرۡتَنِىۡۤ اَعۡمٰى وَقَدۡ كُنۡتُ

تا زه ولې ړوند راپاڅولم، حال دا چې زه

بَصِيۡرًا ﴿۱۲۵﴾ قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتۡكَ اٰيٰتُنَا

(په دنيا کې) بينا وم -125- (الله به) ووايي: همداسې و، تا ته زمونږ ايتونه راغلي وو،

فَنَسِيۡتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الۡيَوۡمَ

نو تا هغه هېر کړل، او همداسې به ته نن ورځ

تُنۡسٰى ﴿۱۲۶﴾ وَكَذٰلِكَ نَجۡزِىۡ مَنۡ اَسۡرَفَ

هېرولی شې -126- او همداسې مونږ جزا ورکوو
هغه چا

وَلَمۡ يُؤۡمِنۡ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ‌ؕ وَلَعَذَابُ

ته چې له حده ووت او د خپل رب په ایتونو یې
ایمان رانه وړ او خامخا د اخرت عذاب ډېر سخت

الۡاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبۡقٰى ﴿۱۲۷﴾ اَفَلَمۡ يَهۡدِ

دی او ډېر باقي پاتې کېدونکی دی -127- ایا نو
دوی ته نه

لَهُمۡ كَمۡ اَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُمۡ مِّنَ

ده څرګنده شوې چې څومره ډېرې پېړۍ (امتونه)
مونږ هلاکې کړې دي، چې دوی د

الۡقُرُوۡنِ يَمۡشُوۡنَ فِىۡ مَسٰكِنِهِمۡ ؕ اِنَّ

هغوی په استوګنځايونو کې تېرېږي، بېشکه

ع 16

فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِى النُّهٰى ﴿۱۲۸﴾ وَلَوۡ لَا

په دغو کې د عقل والاو لپاره ډېرې نښې دي - 128- او که چېرې هغه

كَلِمَةٌ سَبَقَتۡ مِنۡ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّ

خبره نه وی چې ستا د رب له جانبه مخکې شوې ده (، نو) خامخا دغه (هلاکت د دوی) به لازم و،

اَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿۱۲۹﴾ فَاصۡبِرۡ عَلٰى مَا

(او که چېرې نه وی، مقرر شوې نېټه -129- نو (ای نبي!) ته په هغو خبرو صبر کوه

يَقُوۡلُوۡنَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ

چې دوی يې وايي او ته د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه

طُلُوۡعِ الشَّمۡسِ وَ قَبۡلَ غُرُوۡبِهَا ۚ وَ

له لمر ختو نه مخکې او مخکې د پرېوتو له ده نه، او

مِنۡ اٰنَآءِ الَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَ اَطۡرَافَ

د شپې په ځينو وختونو کې، نو ته تسبيح وايه۔ او د ورځې په غاړو کې، ښايي

النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضٰى ﴿۱۳۰﴾ وَ لَا تَمُدَّنَّ

چې ته به خوشاله شې -130- او ته خپلې سترګې هر

عَيۡنَيۡكَ اِلٰى مَا مَتَّعۡنَا بِهٖۤ اَزۡوَاجًا

ګز مه اوږدوه هغه ځيز ته چې مونږ په هغه سره دغو ته نفع ورکړې ده

مِّنۡهُمۡ زَهۡرَةَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ۙ

چې قسما قسم ځيزونه دي۔ د دنيايي ژوند ښايست،

لِنَفۡتِنَهُمۡ فِيۡهِ ؕ وَ رِزۡقُ رَبِّكَ خَيۡرٌ وَّ

د دې لپاره چې مونږ دغه (کفار) په دې کې
وازمايو۔ او ستا د رب رزق ډېر غوره او ډېر باقي

اَبۡقٰى ﴿۱۳۱﴾ وَ اۡمُرۡ اَهۡلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَ

پاتې کېدونکی دی -131- او ته خپل اهل ته د
لمانځه حکم کوه او

اصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَا ؕ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقًا ؕ

ته هم په دې (لمانځه) ټینګ ولاړ اوسه، مونږ له تا
نه رزق نه غواړو،

نَحۡنُ نَرۡزُقُكَ ؕ وَ الۡعَاقِبَةُ

مونږ تا ته رزق درکوو، او ښه انجام د

لِلتَّقۡوٰى ﴿۱۳۲﴾ وَ قَالُوۡا لَوۡ لَا يَاۡتِيۡنَا بِاٰيَةٍ

پرهېزګارۍ لپاره دی -132- او دوی وايي: دی
(محمد) د خپل رب له جانبه مونږ

مِّنۡ رَّبِّهٖ ؕ اَوَلَمۡ تَاۡتِهِمۡ بَيِّنَةُ مَا فِى

ته كومه نښه (معجزه) ولې نه راوړي؟ ايا دوى ته واضح دليل له هغه څه نه دى راغلى چې په

الصُّحُفِ الۡاُوۡلٰى ۝١٣٣ وَلَوۡ اَنَّاۤ اَهۡلَكۡنٰهُمۡ

ړومبنيو صحيفو كې دي -133- او كه يقيناً مونږ دوى له دغه (قرآن) نه مخكې هلاك كړي وى (،

بِعَذَابٍ مِّنۡ قَبۡلِهٖ لَقَالُوۡا رَبَّنَا لَوۡلَاۤ

نو) خامخا دوى به ويلى: اى زمونږ ربه! تا مونږ ته ولې

اَرۡسَلۡتَ اِلَيۡنَا رَسُوۡلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ

يو رسول راونه لېږه، پس چې مونږ ستا د ايتونو پيروي كړې وى،

مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ نَّذِلَّ وَنَخۡزٰى ۝١٣٤ قُلۡ كُلٌّ

مخكې له دې نه چې مونږ ذليله شو او رسوا شو -134- ته (دوى ته) ووايه: هر يو

مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوۡا ۚ فَسَتَعۡلَمُوۡنَ مَنۡ

انتظار كوونكى دى، نو تاسو (هم) انتظار كوئ، نو ژر ده چې تاسو به پوه شئ

اَصۡحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ

چې د نېغې لارې خاوندان څوك دي او څوك دى چې نېغه

ع 17

اهۡتَدٰى ﴿۱۳۵﴾

لارې موندلې ده -135-

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَ هُمْ فِيْ

خلقو ته د هغوی (د) حساب (وخت) ډېر نژدې
شو، حال دا چې دوی په

غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ۚ ﴿١﴾ مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ

غفلت کې دي، مخ گرځوونکي دي -1- دوی ته د
خپل رب له جانبه

ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ

هېڅ نوی نصيحت نه راځي مگر دوی هغه اوري،
په داسې حال کې چې

وَ هُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٢﴾ لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ؕ وَ

دوی لوبې (مسخرې پرې) کوي -2- په دې حال
کې چې د دوی زړونه غافله وي، او

اَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ هَلْ

خفيه مشوره يې پټه وساتله هغو کسانو چې ظلم
يې کړی دی (او وېي ويل:)

هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ

دا (محمد) نه دی مگر ستاسو په شان يو انسان
دی، ايا نو تاسو

السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ۞ ٣ قٰلَ رَبِّيْ

جادو ته راځئ، حال دا چې تاسو گورئ -3-
(رسول دوی ته) وويل: زما رب

يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۡ

په اسمان او ځمکه کې په هره خبره پوهېږي او

وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۞ ٤ بَلْ قَالُوْٓا

هم هغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی -4- بلکې
دوی وايي:

اَضْغَاثُ اَحْلَامٍۭ بَلِ افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ

(دا قرآن) ګډوډ خوبونه دي، بلکې دا يې له خپل ځانه جوړ کړی دی،

شَاعِرٌ ۚۖ فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ اُرْسِلَ

بلکې دا شاعر دی، نو دا دې مونږ ته لويه نښه (معجزه) راوړي، له څنګه چې ړومبني (پېغمبران

الْاَوَّلُوْنَ ۝٥ مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ

په هغو سره) لېږل شوي وو -5- ايمان نه دی راوړی له دوی نه مخکې هېڅ

قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝٦ وَ

يو داسې کلي، چې مونږ هغه هلاك کړی، ايا نو دوی به ايمان راوړي؟ -6- او

مَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ

مونږ له تا نه مخکې رسولان نه دي لېږلي مګر سړي چې مونږ به هغوی ته وحي کوله،

اِلَيۡهِمۡ فَسۡـَٔلُوۡۤا اَهۡلَ الذِّكۡرِ اِنۡ

نو تاسو د ذکر له خاوندانو (عالمانو) نه تپوس وکړئ

كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ۝٧ وَمَا جَعَلۡنٰهُمۡ

که تاسو نه پوهېږئ -7- او مونږ هغه (رسولان داسې)

جَسَدًا لَّا يَاۡكُلُوۡنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوۡا

جسدونه نه ووگرځولي چې طعام به نه خوري او هغوی تل ژوندي پاتې

خٰلِدِيۡنَ ۝٨ ثُمَّ صَدَقۡنٰهُمُ الۡوَعۡدَ

کېدونکي نه وو -8- بیا مونږ له دوی سره وعده رښتیا کړه،

فَاَنۡجَيۡنٰهُمۡ وَمَنۡ نَّشَآءُ وَاَهۡلَكۡنَا

نو مونږ دوی ته نجات ورکړ او هغه چا ته چې زمونږ اراده (د هغوی د نجات) وه او له حد نه

الْمُسْرِفِيْنَ ۝٩ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ

تېرېدونکي مو هلاك کړل -9- یقینًا یقینًا مونږ تاسو ته داسې

كِتٰبًا فِيْهِ ذِكْرُكُمْ ؕ اَفَلَا

کتاب نازل کړی دی چې په هغه کې ستاسو ذکر (او عزت) دی، ایا نو تاسو

ع
1

تَعْقِلُوْنَ ۝١٠ وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ

عقل نه لرئ؟ -10- او څومره ډېر کلي چې ظالم

كَانَتْ ظَالِمَةً وَّ اَنْشَاْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا

وو، مونږ مات (او تویې) کړي دي او له هغو نه پس مو نور

اٰخَرِيْنَ ۝١١ فَلَمَّآ اَحَسُّوْا بَاْسَنَآ اِذَا هُمْ

خلق پیدا کړل -11- نو کله چې به یې زمونږ عذاب محسوس کړ، ناڅاپه به هغوی له دغو

مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُوا وَ

(كليو) نه (په ډېره بيړه) تښتېدل -12- تاسو مه تښتئ، او واپس لاړ شئ هغو (نعمتونو)

ارْجِعُوٓا إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَ

ته چې تاسو ته په هغو کې خوشحالي درکړې شوې وه او خپلو کورونو ته، د دې

مَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُوا

لپاره چې له تاسو نه پوښتنه وکړې شي -13- دوی وويل:

يٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظٰلِمِينَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَت

اې زمونږ هلاکته! بېشکه همدا مونږ ظالمان وو -14- نو تل به د دوی

تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ

دغه چغه وه تر دې چې مونږ به دوی وګرځول

حَصِيۡدًا خٰمِدِيۡنَ ﴿۱۵﴾ وَمَا خَلَقۡنَا

ربېل شوي، مړه يخ پراته -15- او مونږ

السَّمَآءَ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا

اسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مينځ
کې دي (داسې) نه دي پيدا کړي،

لٰعِبِيۡنَ ﴿۱۶﴾ لَوۡ اَرَدۡنَاۤ اَنۡ نَّتَّخِذَ لَهۡوًا

چې لوبې کوونکي يو -16- که مونږ اراده کړې
وی چې څه لوبه تماشه جوړه کړو

لَّاتَّخَذۡنٰهُ مِنۡ لَّدُنَّاۤ ۖ اِنۡ كُنَّا

(نو) يقيناً هغه به مو له خپلې خوا نه جوړه کړې
وی که مونږ (دا کار)

فٰعِلِيۡنَ ﴿۱۷﴾ بَلۡ نَقۡذِفُ بِالۡحَقِّ عَلَى

کوونکي وی -17- بلکې مونږ په حق سره باطل
وُلو،

الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ؕ وَ

نو دا د هغه دماغ راوباسي، نو ناڅاپه هغه ختمېدونکی وي، او

لَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَهٗ مَنْ

تاسو ته د هغه څه په وجه هلاکت دی چې تاسو يې بيانوئ -18- او خاص د هغه لپاره دي هغه

فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ وَ مَنْ عِنْدَهٗ

څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، او هغه څوك چې

لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا

له هغه سره دي، هغوی د هغه له عبادت نه تکبر نه کوي او نه

يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَ

ستومانه کېږي -19- هغوی شپه او روځ تسبيح وايي،

النَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمِ اتَّخَذُوْٓا

نه څه وقفه کوي -20- ايا دوی له ځمکې

اٰلِهَةً مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ﴿٢١﴾ لَوْ

نه نور معبودان نيولي دي چې هغوی ژوندي کول کوي؟ -21- که چېرې

كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ج

په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا

وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دی له هغو خبرو چې

يَصِفُوْنَ ﴿٢٢﴾ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ

دوی يې بيانوي -22- له هغه نه پوښتنه نشي کېدی د هغه څه په باره کې چې هغه يې کوي او

يُسْـَٔلُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

له دوی نه پوښتنه کېږي -23- ایا دوی له هغه (الله) نه پرته نور معبودان نیولي دي،

اٰلِهَةً ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا

ته ووایه: تاسو خپل پوخ دلیل راوړئ، دا (وحي) د هغه چا نصیحت دی چې

ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ بَلْ

زما سره دي او د هغه چا نصیحت دی چې له ما نه مخکې تېر شوي دي،

اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ

بلکې د دوی (کافر) اکثره خلق حق نه پېژني، نو دوی مخ

مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ

ګروځونکي دي -24- او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لیږلی

مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا نُوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ

مگر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي كوله چې
بېشكه شان دا دى چې له ما نه پرته بل هېڅ حق

اِلَّاۤ اَنَا فَاعۡبُدُوۡنِ ﴿۲۵﴾ وَ قَالُوا اتَّخَذَ

معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت كوئ -25- او
دوى (كافر) وايي:

الرَّحۡمٰنُ وَلَدًا سُبۡحٰنَهٗ ؕ بَلۡ عِبَادٌ

الله (د ځان لپاره) اولاد نيولى دى، هغه (له دې
نه) پاك دى، بلكې (ملايك خو) ډېر

مُّكۡرَمُوۡنَ ﴿۲۶﴾ لَا يَسۡبِقُوۡنَهٗ بِالۡقَوۡلِ وَ

معزز بنده ګان دي -26- له هغه (الله) نه په خبره
كولو كې ړومبى والى نه كوئ او

هُمۡ بِاَمۡرِهٖ يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۷﴾ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ

دوى خاص د هغه په حكم عمل كوي -27- هغه
ته معلوم دي څه چې د

اَيۡدِيۡهِمۡ وَ مَا خَلۡفَهُمۡ وَ لَا يَشۡفَعُوۡنَ ۙ

دوی په وړاندې دي او څه چې له دوی نه وروسته دي، او دوی شفاعت نشي کولی

اِلَّا لِمَنِ ارۡتَضٰى وَ هُمۡ مِّنۡ خَشۡيَتِهٖ

مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) ترې راضي وي او دوی خاص د هغه له هیبته

مُشۡفِقُوۡنَ ﴿٢٨﴾ وَ مَنۡ يَّقُلۡ مِنۡهُمۡ اِنِّىۡۤ

وېرېدونکي دي -28- او په دوی کې چې څوک ووايي چې بېشکه

اِلٰهٌ مِّنۡ دُوۡنِهٖ فَذٰلِكَ نَجۡزِيۡهِ جَهَنَّمَ ؕ

زه له هغه (الله) نه پرته معبود یم، نو دغه دی چې مونږ ده ته (د) جهنم جزا ورکوو،

ع 2

كَذٰلِكَ نَجۡزِى الظّٰلِمِيۡنَ ﴿٢٩﴾ اَوَ لَمۡ يَرَ

همداسې مونږ ظالمانو ته جزا ورکوو -29- ایا هغه کسان چې

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَ

کافران شوي دي په دې نه دي خبر شوي چې يقينًا يقينًا اسمانونه او

الْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ وَ

ځمکه دواړه سره نښتي وو، بيا مونږ دواړه بېل کړل، او

جَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَیْءٍ حَیٍّ ؕ اَفَلَا

مونږ له اوبو څخه هر ژوند شی پیدا کړی دی، ایا نو دوی

يُؤْمِنُوْنَ ۝۳۰ وَ جَعَلْنَا فِی الْاَرْضِ

ایمان نه راوړي؟ -30- او مونږ په ځمکه کې پاخه

رَوَاسِیَ اَنْ تَمِیْدَ بِهِمْ ۪ وَ جَعَلْنَا فِیْهَا

غرونه پيدا کړي دي چې په دوی باندې (دغه ځمکه) ونه خوځېږي او مونږ په دې

د سورتونو فهرست د سپارو فهرست

فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ۝٣١ وَ

کې لارې پیدا کړې دي، چې ارتې پراخه دي، د
دې لپاره چې دوی لار ومومي -31- او

جَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ۚ وَّ

مونږ اسمان محفوظ چت جوړ کړی دی او
دوی (کفار) د هغه (اسمان)

هُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ۝٣٢ وَ هُوَ

له نخښونه مخ گرځوونکي دي -32- او دی همغه

الَّذِىْ خَلَقَ الَّيْلَ وَ النَّهَارَ وَ

ذات دی چې شپه او ورځ او

الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ ؕ كُلٌّ فِىْ فَلَكٍ

لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړي دي، هر يو په (خپل)
فلك (دايره)

يُسَبِّحُوْنَ ۝٣٣ وَ مَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ

کې ګرځي -33- او مونږ له تا نه مخکې هیڅ یو انسان ته تل

قَبْلِكَ الْخُلْدَ ؕ اَفَاۡئِنْ مِّتَّ فَهُمُ

ژوندي پاتې کېدل نه دي مقرر کړي، ايا نو که ته مړ شې، نو دوی به تل ژوندي پ

الْخٰلِدُوْنَ ۝٣٤ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ

اتې کېدونکي وي؟ -34- هر يو نفس د مرګ (مزه) څکونکی دی،

الْمَوْتِ ؕ وَ نَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَ الْخَيْرِ

او مونږ تاسو په شر او خير سره ازمايو، ازمايل، او تاسو

فِتْنَةً ؕ وَ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ۝٣٥ وَ اِذَا رَاٰكَ

به خاص مونږ ته راوستلی شئ -35- او کله چې تا هغه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا

کسان ووینی چې کافران شوي دي (نو) دوی تا نه نیسي مګر

هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِیْ یَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَ

مسخره کړی شوی (او په خپل مینځ کې وایي:) ایا دا همغه کس دی چې ستاسو معبودان (په

هُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ هُمْ

سپکه) یادوي؟ حال دا چې همدوی پخپله د رحمن له یادولو نه

كٰفِرُوْنَ ۝٣٦ خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ

انکاري دي -36- انسان له تلواره پیدا کړی شوی دی،

عَجَلٍ ؕ سَاُورِیْكُمْ اٰیٰتِیْ فَلَا

ژر به تاسو ته خپلې نښې وښیم، لهذا له ما نه ژر

تَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٣٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا

مطالبه مه کوئ -37- او دوی وايي: دغه وعده به

الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٣٨﴾ لَوْ

کله وي، که تاسو رښتيني يئ؟ -38- که کافران
شوي

يَعْلَمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حِيْنَ لَا

کسان په هغه وخت کې پوه شي

يَكُفُّوْنَ عَنْ وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَلَا

چې له خپلو مخونو نه به اور نشي منع کولی او نه

عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ

له خپلو شاګانو او نه به د دوی مرسته

يُنْصَرُوْنَ ﴿٣٩﴾ بَلْ تَأْتِيهِم بَغْتَةً

كولى شي -39- بلكې دا (قيامت) به په دوى ناڅاپه راشي،

فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُوْنَ رَدَّهَا وَلَا

نو دوى به حيران كړي، بيا دوى د هغه د لرې كولو طاقت نه لري او نه به

هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ

دوى ته مهلت وركاوه شي -40- او يقينًا يقينًا له تا نه مخكې

بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ

رسولانو پورې استهزاگانې شوې دي، نو گېر كړل هغو كسانو لره

سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهِ

چې په دوى پورې به يې مسخرې كولې، هغه شي چې دوى

ع
3

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤١﴾ قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ

به وربوريږ استهزا كوله -41- (دوى ته) ته ووايه: تاسو د

بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ ؕ بَلْ

رحمن (له عذاب) نه د شپې او د ورځې څوك ساتي؟ بلكې

هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٤٢﴾ اَمْ

دوى دخپل رب له ذكر نه مخ ګرځوونكي دي - 42- ايا د

لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ؕ لَا

دوى لپاره نور معبودان شته چې زمونږ نه پرته دوى ساتي؟

يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ

هغوى د خپلو ځانونو د مرستې طاقت نه لري او نه دوى زمونږ (د عذاب)

مِّنَّا يُصۡحَبُوۡنَ ﴿۴۳﴾ بَلۡ مَتَّعۡنَا هٰۤؤُلَآءِ وَ

نه ساتل کېږي -43- بلکې مونږ دوی ته او د

اٰبَآءَهُمۡ حَتّٰى طَالَ عَلَيۡهِمُ الۡعُمُرُ ؕ

دوی پلرونو ته نفع ورکړه تر دې چې په دوی
باندې عمر

اَفَلَا يَرَوۡنَ اَنَّا نَاۡتِى الۡاَرۡضَ نَنۡقُصُهَا

اوږد شو، ایا نو دوی نه ویني چې بېشکه مونږ
ځمکې ته راځو، د هغې له غاړو نه

مِنۡ اَطۡرَافِهَا ؕ اَفَهُمُ الۡغٰلِبُوۡنَ ﴿۴۴﴾ قُلۡ

هغه کموو، ایا نو هم دوی غالب دي؟ -44- ته
(دوی ته) ووایه:

اِنَّمَاۤ اُنۡذِرُكُمۡ بِالۡوَحۡىِ ۖ وَلَا يَسۡمَعُ

یقینًا زه تاسو یواځې په وحې سره وېروم او کاڼه

الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَ

بلنه نه اوري كله چې هغوى وېرولى شي -45- او

لَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ

كه يقينًا دوى ته ستا د رب له عذاب نه لږ تپ
ورسېږي، (نو) دوى به

لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَ

خامخا لازمًا وايي: اى زمونږ هلاكته! بېشكه هم
مونږ ظالمان وو -46- او

نَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ

د قيامت په ورځ به مونږ ډېر د انصاف تلې كېږدو،
نو

الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ

په هېڅ نفس باندې به هېڅ شى ظلم ونه كړى
شي او كه دا (عمل) د

كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٍ مِّنۡ خَرۡدَلٍ اَتَيۡنَا

اوري د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او

بِهَا ؕ وَ كَفٰى بِنَا حٰسِبِيۡنَ ۝٤٧ وَ لَقَدۡ

هم مونږ حساب کوونکي بس يو -47- او يقينًا
يقينًا

اٰتَيۡنَا مُوۡسٰى وَ هٰرُوۡنَ الۡفُرۡقَانَ وَ

مونږ موسیٰ او هارون ته فرقان (حق او باطل سره
بېلوونکی کتاب) او

ضِيَآءً وَّ ذِكۡرًا لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ۝٤٨ الَّذِيۡنَ

رڼا او د متقيانو لپاره ذکر (نصيحت) ورکړی و -
48- هغه کسان چې

يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَيۡبِ وَ هُمۡ مِّنَ

له خپل رب نه خشيت (وېره) کوي بې له ليدلو او
دوی د

السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ ۝٤٩ وَهٰذَا ذِكْرٌ

قيامت څخه ویرېدونکي دي -49- او دا (قرآن)

مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ؕ اَفَاَنْتُمْ لَهٗ

مبارك نصيحت دى چې مونږ دا نازل کړی دی، ایا
نو تاسو له ده نه

مُنْكِرُوْنَ ۝٥٠ وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ

انكار كوونكي يئ -50- او يقينًا يقينًا مونږ ابراهيم
ته د هغه هدايت له دې

ع
4

الربع

رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ۝٥١ اِذْ

نه مخکې ورکړی و او مونږ په هغه باندې پوه وو -
51- کله چې

قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ

هغه خپل پلار او خپل قوم ته وويل: دا بتان، څه
شی دی

الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿٥٢﴾ قَالُوْا

هغه چې تاسو دوی ته په عبادت ټینګ ولاړ یئ؟ -52- هغوی وویل:

وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿٥٣﴾ قَالَ

مونږ خپل پلرونه دوی ته عبادت کوونکي موندلي دي -53- هغه وویل:

لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ

یقینًا یقینًا تاسو او ستاسو پلرونه په ښکاره

مُّبِيْنٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ

ګمراهۍ کې یئ -54- هغوی وویل: ایا تا مونږ ته حق راوړی دی، یا ته له

اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ

لوبو کوونکو څخه یې؟ -55- هغه وویل: بلکې ستاسو رب د

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ الَّذِیْ

اسمانونو او ځمکې رب دی۔ هغه (رب)

فَطَرَهُنَّ ۖ وَ اَنَا عَلٰی ذٰلِكُمْ مِّنَ

چې دغه یې پیدا کړي دي او زه په دې باندې له

الشّٰهِدِیْنَ ﴿۵۶﴾ وَ تَاللّٰهِ لَاَكِیْدَنَّ

ګواهانو ځنې یم -56- او په الله قسم دی چې هرومرو

اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا

خامخا به زه ستاسو له بتانو سره یو چال چلوم وروسته له دې چې تاسو وګرځئ

مُدْبِرِیْنَ ﴿۵۷﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا

شاکوونکي -57- نو هغه، دغه (بتان) ټوټې ټوټې کړل د

كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ

هغو له لوى نه غير (چې هغه يې پرېښود)، د دې لپاره چې هغوى همده

يَرْجِعُوْنَ ﴿٥٨﴾ قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا

ته رجوع وکړي -58- دوى وويل: زمونږ له معبودانو سره دا کار چا کړى دى،

بِاٰلِهَتِنَاۤ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٩﴾ قَالُوْا

بېشکه دغه کس يقينًا له ظالمانو څخه دى -59- دوى وويل:

سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗۤ

مونږ له يو زلمي نه اورېدلي وو، چې دوى به يې (په سپکه) يادول، هغه ته

اِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰۤى اَعْيُنِ

ابراهيم ويلى شي -60- هغوى وويل: نو هغه د خلقو د سترګو

النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴿٦١﴾ قَالُوٓا

په وړاندې راولئ، د دې لپاره چې هغوی (يې ووينې او) گواهي وكړي -61- ويې ويل:

ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا

ای ابراهيمه! ايا تا زمونږ له معبودانو سره دا

يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ

كار كړی دی؟ -62- هغه وويل: بلكې دا كار د دوی

كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا

دې مشر (لوی بت) كړی دی، نو تاسو له دوی نه پوښتنه وكړئ كه دوی

يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ

خبرې كوي -63- نو دوی خپلو نفسونو ته رجوع وكړه،

فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۙ﴿٦٤﴾ ثُمَّ

بيا يې وويل: بېشكه هم تاسو ظالمان يئ -64- بيا دوی

نُكِسُوْا عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ

په خپلو سرونو نسکور کړی شول (ويې ويل:) يقينًا يقينًا ته پوه يې

مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَالَ

چې دا (بتان) خبرې نشي کولی -65- هغه وويل:

اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا

ايا نو تاسو له الله نه پرته د هغه څه عبادت کوئ چې تاسو ته

يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ ط اُفٍّ

هېڅ نفع نشي رسولی او نه تاسو ته ضرر رسولی شي -66- اُف

لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ

په تاسو او په هغو چې تاسو يې له الله نه پرته
عبادت کوئ، ايا

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَ

نو تاسو عقل نه لرئ -67- وېيې ويل: دا
وسوځوئ او

انْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

د خپلو معبودانو مرسته وکړئ که چېرې تاسو
(څه)

فٰعِلِيْنَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّ

کوونکي يئ -68- مونږ وويل: اى اوره! يخ او

سَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿٦٩﴾ۙ وَاَرَادُوْا بِهٖ

سلامتيا والا شه په ابراهيم باندې -69- او دوى له
هغه سره د

كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿٧٠﴾ وَ

ضررناك مكر كولو اراده كړې وه، نو مونږه هم
دوی بې حده تاوانيان وګرځول -70- او

نَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ

مونږ هغه ته او لوط ته نجات ورکړ د هغې ځمکې
په طرف چې مونږ په هغې کې

بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ

د عالَمونو لپاره برکت اچولی دی -71- او مونږ
هغه ته

اِسْحٰقَ ؕ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ وَكُلًّا

اسحق عطا کړ او يعقوب، زياتي، او مونږه (دغه)
هر يو

جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً

نېکان ګرځولي دي -72- او مونږه هغوی داسې
امامان ګرځولي وو

يَّهۡدُوۡنَ بِاَمۡرِنَا وَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡهِمۡ

چې زمونږ په حکم سره به يې لار ښوونه کوله۔

فِعۡلَ الۡخَيۡرٰتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَ

او مونږ دوی ته د نېکۍ کولو او د لمونځ قايمولو او

اِيۡتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوۡا لَنَا

د زکات ورکولو وحي کړې وه او دوی خاص زمونږ

عٰبِدِيۡنَ ۙ‏ ﴿۷۳﴾ وَلُوۡطًا اٰتَيۡنٰهُ حُكۡمًا وَّ

عبادت کوونکي وو -73- او لوط ته۔، مونږ هغه ته د فيصلې کولو قوت او

عِلۡمًا وَّنَجَّيۡنٰهُ مِنَ الۡقَرۡيَةِ الَّتِىۡ كَانَتْ

پوهه ورکړې وه او مونږ هغه ته له هغه کلي نه نجات ورکړی و چې

تَّعۡمَلُ الۡخَبٰٓئِثَ ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا قَوۡمَ

ناپاکه خبیث عملونه یې کول، بېشکه هغوی د
بدۍ خلق (او)

سَوۡءٍ فٰسِقِيۡنَ ۙ﴿۷۴﴾ وَاَدۡخَلۡنٰهُ فِيۡ

نافرمانه وو -74- او مونږ هغه (لوط) په خپل

ع 5 رَحۡمَتِنَا ؕ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿۷۵﴾ ۧ وَ

رحمت کې داخل کړ، یقینًا هغه له نېکانو څخه
دی -75- او

نُوۡحًا اِذۡ نَادٰى مِنۡ قَبۡلُ فَاسۡتَجَبۡنَا

(یاد کړه) نوح، کله چې هغه له دې نه مخکې اواز
وکړ، نو مونږ د هغه سوال قبول کړ،

لَهٗ فَنَجَّيۡنٰهُ وَاَهۡلَهٗ مِنَ الۡكَرۡبِ

نو مونږ هغه ته او د هغه کورنۍ ته له ډېر لوی غم
نه

الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنَاهُ مِنَ الْقَوْمِ

نجات ورکړ -76- او مونږ د ده لپاره له هغه قوم نه

الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا

انتقام واخيست چې زمونږ د ايتونو تکذيب يې کړی و، بېشکه

قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٧٧﴾ وَ

هغوی بد خلق وو، نو مونږ دوی ټول غرق کړل - 77- او

دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِي

(ياد کړه) داود او سليمان، کله چې هغوی د فصل په باره کې فيصله

الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ

کوله، کله چې په هغه کې د شپې د خلقو بې شپانه ګډې بيزې خړبدلې وې

وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ﴿٧٨﴾ فَفَهَّمْنٰهَا

او مونږ له هغوی فیصلې ته کتونکي وو -78- نو مونږه

سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّ عِلْمًا ۡ وَّ

سلیمان ته هغه (فیصله) وښودله او مونږ (دوی) هر یو ته حکم او علم ورکړی و، او

سَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَ

مونږ د داود سره غرونه تابع کړي وو چې تسبیح به یې ویله او

الطَّيْرَ ؕ وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿٧٩﴾ وَعَلَّمْنٰهُ

مرغان (هم) او مونږ (د داسې کارونو) کوونکي وو -79- او مونږ هغه ته تاسو

صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْ

لپاره د زغرې جوړول وښودل، د دې لپاره چې هغه (زغره) ستاسو د (دښمنانو له

بَأْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَ

جنګ نه ستاسو حفاظت وکړي، نو ایا تاسو شکر
کوونکي یئ؟ -80- او

لِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً تَجْرِيْ

(مونږ) د سلیمان لپاره هوا (تابع کړې ده)، چې
ډېره تېزه وه، د هغه په

بِاَمْرِهٖٓ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ

حکم سره به هغې ځمکې (سیمې) ته روانېده چې
مونږ په هغې کې برکت اچولی دی

وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿٨١﴾ وَمِنَ

او مونږ له ازله په هر شي باندې پوه یو -81- او
(مونږ تابع کړي وو) ځینې

الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَ

له شیطانانو څخه هغه چې د ده لپاره به یې غوپې
وهلې او

يَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمْ

له دي نه غير نور کارونه به يې کول، او مونږ
دوی لره (له وراني نه)

حٰفِظِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ

ساتونکي وو -82- او (ياد کړه) ايوب کله چې هغه
خپل رب ته اواز وکړ چې يقينًا زه

مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ

(چې يم) ما ته تکليف رارسېدلی دی او ته تر ټولو
زيات

الرّٰحِمِيْنَ ﴿٨٣﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا

رحم کوونکی يې -83- نو مونږ د هغه دعا قبوله
کړه، نو مونږ هغه تکليف لرې

مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَ

کړ چې هغه ته و او مونږ هغه ته د هغه کورنۍ او

مِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَ

له هغوی سره د هغوی په مثل عطا کړل له خپل طرف نه د رحمت په وجه او د عبادت کوونکو

ذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ

لپاره د نصیحت په خاطر -84- او (یاد کړه) اسمعیل او

اِدْرِيْسَ وَ ذَا الْكِفْلِ ؕ كُلٌّ مِّنَ

ادریس او ذوالکفل، دغه هر یو

الصّٰبِرِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَ اَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ

له صبر کوونکو څخه دي -85- او مونږ دوی په

رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَ ذَا

خپل رحمت کې داخل کړل، بېشکه دوی له صالحانو څخه دي -86- او (یاد کړه) د

النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ لَّنْ

كب والا، كله چې هغه د غصې په حال كې لاړ، نو هغه دا خيال وكړ

نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِى الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ

چې مونږ به په ده باندې له سره تنگي ونه كړو، بيا يې په تيارو كې اواز وكړ (داسې) چې نشته

اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّىْ كُنْتُ مِنَ

هيڅ لايق د عبادت مگر ته يې، ته پاك يې، بېشكه هم زه له

الظّٰلِمِيْنَ ۚ ﴿٨٧﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ

ظالمانو څخه يم -87- نو مونږ د هغه دعا قبوله كړه او مونږ هغه له

مِنَ الْغَمِّ ۗ وَكَذٰلِكَ نُـنْجِى

غم نه خلاص كړ او همداسې مونږ مومنانو ته

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾ وَ زَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ

نجات ورکوو -88- او (یاد کړه) زکریا کله چې
هغه خپل رب ته اواز وکړ:

رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّ اَنْتَ خَيْرُ

ای زما ربه! ما یواځې (بې اولاده) مه پرېږده او
ته ترټولو

الْوٰرِثِيْنَ ﴿٨٩﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۡ وَ وَهَبْنَا

غوره وارث یې -89- نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه
او مونږ هغه

لَهٗ يَحْيٰى وَ اَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ اِنَّهُمْ

ته یحیٰی عطا کړ او د هغه لپاره مو د هغه ښځه
روغه کړه، بېشکه

كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَ

دوی (نبیان داسې) وو چې په نېکیو کې به یې
تلوار کاوه،

يَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّ رَهَبًا ۭ وَكَانُوْا لَنَا

په دې حال کې چې رغبت کوونکي او وېرېدونکي وو او دوی خاص زمونږ لپاره

خٰشِعِيْنَ ۝ وَالَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا

تواضع کوونکي وو -90- او (یاده کړه) هغه (جینۍ) چې د خپل شرم ځای حفاظت يې کړی

فَنَفَخْنَا فِيْهَا مِنْ رُّوْحِنَا وَجَعَلْنٰهَا وَ

و، نو مونږ په (ګرېوان د) هغې کې خپل ځيني روح پو کړ او مونږ هغه او د هغې

ابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝ اِنَّ هٰذِهٖٓ

زوی د خلقو لپاره لويه نښه وګرځول -91- بېشکه همدا

اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً ڮ وَّاَنَا رَبُّكُمْ

ستاسو دين دی، چې يو دين دی او هم زه ستاسو رب يم، نو تاسو

فَاعۡبُدُوۡنِ ﴿٩٢﴾ وَتَقَطَّعُوۡۤا اَمۡرَهُمۡ

زما عبادت كوئ -92- او دوى خپل (د دين) كار
په خپل

ع
6

بَيۡنَهُمۡ ؕ كُلٌّ اِلَيۡنَا رٰجِعُوۡنَ ﴿٩٣﴾ فَمَنۡ

مينځ كې ټوټې ټوټې كړ، دوى ټول خاص مونږ ته
واپس راتلونكي دي -93- نو هغه څوك

يَّعۡمَلۡ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٌ فَلَا

چې د نيكۍ عملونه كوي، په دې حال كې چې
مومن وي، نو د ده د كوشش لپاره

كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهٖ ۚ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوۡنَ ﴿٩٤﴾ وَ

هيڅ ناقدري نشته او بېشكه مونږ د دغه (كوشش)
ليكونكي يو -94- او

حَرٰمٌ عَلٰى قَرۡيَةٍ اَهۡلَكۡنٰهَاۤ اَنَّهُمۡ لَا

حرام (ممتنع) دي په هغه كلي باندې چې مونږ
هغه هلاك كړى وي دا چې په

يَرْجِعُوْنَ ۝٩٥ حَتّٰٓى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ

رښتيا به دوی بېرته نه راځي -95- تر هغه پورې
کله چې ياجوج

وَ مَاْجُوْجُ وَ هُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ

ماجوج پرانستل شي او دوی به له هرې لوړې نه
ګړندي

يَّنْسِلُوْنَ ۝٩٦ وَ اقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ

راکوزېږي -96- او حقه وعده به ښه رانژدې شي،
نو

فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ اَبْصَارُ الَّذِيْنَ

قصه دا ده چې ناڅاپه د هغو کسانو سترګې به
بوتې راوتلې

كَفَرُوْا ؕ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ

پاتې وي چې کفر يې کړی دی (او وايي به:) ای
زمونږ هلاکته! يقيناً مونږ له دې نه په غفلت کې

هٰذَا بَلۡ كُنَّا ظٰلِمِيۡنَ ﴿۹۷﴾ اِنَّكُمۡ وَمَا

وو، بلکې مونږ ظالمان وو -97- بېشکه تاسو او
هغه څه چې تاسو

تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ حَصَبُ

يې له الله نه پرته عبادت کوئ؛ (ټول) د

جَهَنَّمَ ؕ اَنۡتُمۡ لَهَا وٰرِدُوۡنَ ﴿۹۸﴾ لَوۡ كَانَ

جهنم خشاك يئ، تاسو هغه ته ننوتونکي يئ -98-
که چېرې

هٰۤؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوۡهَا ؕ وَكُلٌّ فِيۡهَا

دوی (په رښتيا) معبودان وی (، نو) ده ته به نه وو
داخل شوي او (دا) ټول به په

خٰلِدُوۡنَ ﴿۹۹﴾ لَهُمۡ فِيۡهَا زَفِيۡرٌ وَّهُمۡ

هغه کې تل ترتله وي -99- په دغه (دوزخ) کې به
د دوی چغې سورې وي او دوی

فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ۝١٠٠ إِنَّ الَّذِينَ

په هغه کې (هېڅ) نه اوري -100- بېشکه هغه کسان چې

سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنَىٰٓ ۙ أُولَٰٓئِكَ

هغوی ته زمونږ له جانبه سعادت مخکې فیصله شوی دی، دغه کسان له دغه

عَنْهَا مُبْعَدُونَ ۝١٠١ لَا يَسْمَعُونَ

(دوزخ) نه لرې کړی شوي دي -101- دوی به د هغه (دوزخ) اواز (هم)

حَسِيسَهَا ۖ وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ

نه اوري او دوی به په هغو (نعمتونو) کې تل ترتله وي چې د

أَنْفُسُهُمْ خَالِدُونَ ۝١٠٢ لَا يَحْزُنُهُمُ

دوی نفسونه يې غواړي -102- دوی به هغه تر

الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰهُمُ

تېولو لويه وېره نه غمجن کوئ او له دوی سره به

الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِیْ كُنْتُمْ

ملايك ملاقات کوي (او وايي به:) دا ستاسو هغه

ورځ ده چې تاسو ته به يې

تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ يَوْمَ نَطْوِی السَّمَآءَ كَطَیِّ

وعده درکولی شوه -103- (ياده کړه) هغه ورځ

چې مونږ به اسمان

السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاْنَآ اَوَّلَ

راونغاړو په شان د کاغذ د رانغاړلو په ليکنې

بانديې، لکه څنګه چې مونږ د اول

خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ؕ وَعْدًا عَلَيْنَا ؕ اِنَّا كُنَّا

تخليق ابتدا کړې ده، مونږ د هغه بيا اعاده کوو، دا

زمونږ په ذمه وعده ده، بېشکه

فٰعِلِيْنَ ﴿١٠٤﴾ وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْ

مونږ (دا كار) كوونكي يو -104- او يقينًا يقينًا مونږ په زبور كې له نصيحت نه پس

بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ يَرِثُهَا

دا ليكلي وو چې بېشكه دغه ځمكه، د دې به زما صالح (باصلاحيته)

عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ ﴿١٠٥﴾ اِنَّ فِيْ هٰذَا

بنده گان وارثان كېږي -105- بېشكه په دې (بيان) كې يقينًا د عبادت

لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿١٠٦﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ

كوونكو خلقو لپاره كفايت دی -106- او مونږ ته نه يې لېږلې

اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى

مگر د عالمونو لپاره رحمت -107- ووايه: بېشكه همدا خبره ده چې ما ته وحي كولی

إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَّاحِدٌ ج فَهَلْ

شي چې يقيناً هم دا خبره ده چې ستاسو حق معبود يو معبود دى، نو ايا تاسو

أَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٠٨﴾ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ

اسلام راوړونکي يئ؟ -108- نو که دوی وګرځېدل، نو ته (ورته) ووايه:

اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ ط وَإِنْ أَدْرِيٓ

ما تاسو په برابرۍ سره خبر کړي يئ او زه نه پوهېږم چې

أَقَرِيْبٌ أَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿١٠٩﴾ إِنَّهٗ

ايا نږدې دى، يا که لرې دى هغه چې تاسو سره يې وعده کولی شي -109- بېشکه هغه

يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا

(الله) په ښکاره خبره پوهېږي او په هغې هم چې

تَكْتُمُوْنَ ﴿١١٠﴾ وَاِنْ اَدْرِىْ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ

تاسو يې پټوئ -110- او زه نه پوهېږم کېدی شي
چې دا (تاخير د عذاب) تاسو لپاره يو ازمېښت

لَّكُمْ وَمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿١١١﴾ قٰلَ رَبِّ

وي او فايده اخيستل وي تر يو وخته پورې -
-111- (رسول) وويل: ای زما ربه!

احْكُمْ بِالْحَقِّ ؕ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ

په حق سره فيصله وکړه او هم زمونږ رب ډېر
مهربان دی، مدد ترې

الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿١١٢﴾

غوښتل شوی په هغو خبرو چې تاسو يې بيانوئ -
-112

ع 7
النصف

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ

ای خلقو! له خپل رب نه ووېرېږئ، بېشکه د قيامت زلزله

السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ ۝١ يَوْمَ تَرَوْنَهَا

ډېر لوی شی دی -1- په هغې ورځ چې تاسو هغه ووينئ، چې هره

تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ وَ

تی ورکوونکې به غافله شي له هغه (ورکوي) نه چې هغه ته تی

تَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى

ورکوي او هره حمل والا به خپل حمل وغورځوي او ته به

النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَ

خلقو لره نشه وينې، حال دا چې دوى به نشه نه وي او

لٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ۝٢ وَمِنَ

لېكن د الله عذاب به ډېر سخت وي -2- او په

النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ

خلقو كې ځينې هغه دي چې د الله په باره كې بې له علمه جګړه كوي

وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ۝٣ كُتِبَ

او د هر سركشه شيطان پيروي كوي -3- په باره د هغه كې (په ازل كې دا) ليكل شوي دي چې

عَلَيْهِ اَنَّهٗ مَنْ تَوَلَّاهُ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَ

بېشكه شان دا دى چې هر څوك د ده سره دوستي وكړي، نو يقيناً دا (شيطان) دغه (خپل دوست)

يَهۡدِيۡهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيۡرِ ۝۴ يٰۤاَيُّهَا

گمراه كوي او ده ته د لمبې وهونكي عذاب لاره ښيي -4- اى خلقو!

النَّاسُ اِنۡ كُنۡتُمۡ فِىۡ رَيۡبٍ مِّنَ

كه تاسو د بيا راژوندي كېدو په باره كې په شك كې يئ،

الۡبَعۡثِ فَاِنَّا خَلَقۡنٰكُمۡ مِّنۡ تُرَابٍ ثُمَّ

نو يقينًا مونږ تاسو له خاورې نه پيدا كړې يئ، (ستاسو نيكه ادم) بيا (مو د هغه اولاده پيدا كړه)

مِنۡ نُّطۡفَةٍ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنۡ

له يو ثاڅكي (مني) نه، بيا له پرنې وينې نه، بيا له يوې غوښې بوټۍ نه

مُّضۡغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيۡرِ مُخَلَّقَةٍ

چې تام الخلقت وي او ناقص الخلقت وي، د دې لپاره

لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡ ؕ وَ نُقِرُّ فِي الۡاَرۡحَامِ مَا

چې مونږ تاسو ته (خپل حکمت او قدرت) بیان
کړو او مونږ په رحمونو کې

نَشَآءُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ

ثابت پرېږدو هغه چې مونږ یې اراده وکړو تر
معلومې نېټې پورې، بیا مونږ تاسو راوباسو (د

طِفۡلًا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوۡۤا اَشُدَّكُمۡ ۚ وَ مِنۡكُمۡ

میندو له خېټو نه) په داسې حال کې چې واړه
بچي یئ، بیا (مونږ تاسو پالو)

مَّنۡ يُّتَوَفّٰى وَ مِنۡكُمۡ مَّنۡ يُّرَدُّ اِلٰٓى

د دې لپاره چې تاسو خپل قوت او کمال ته ورسئ
او په تاسو کې ځینې هغه دي چې وفات کولی

اَرۡذَلِ الۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۡۢ بَعۡدِ

شي او ځینې په تاسو کې هغه دي چې رد کولی
(رسولی) شي تر ټولو ناکاره عمر پورې، د دې

عِلْمٍ شَيْـًٔا ؕ وَ تَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً

لپاره چې هغه له پوهېدلو نه وروسته په هېڅ شي
پوه نشي او ته به ځمکه وچه شاړه وينې، نو كله

فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَ

چې مونږ په هغې باندې اوبه نازلې كړو (نو) خربه
او نرمه شي او

رَبَتْ وَ اَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ

له هر قسمه ښكلو (نباتاتو) نه

بَهِيْجٍ ۝۵ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَ

زرغون كړي -5- دا په سبب د دې چې يقينًا هم
الله حق دی او

اَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

دا چې يقينًا هغه مړي ژوندي كوي او دا چې
بېشكه هغه په هر شي

قَدِيۡرٌ ۙ﴿۶﴾ وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيۡبَ

باندې قادر دی -6- او دا چې یقینًا قیامت
راتلونکی دی، چې په (راتلو د) هغه کې هېڅ شك

فِيۡهَا ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ يَبۡعَثُ مَنۡ فِى

نشته او دا چې بېشکه الله به بیا ژوندي راپورته
کوي هر هغه چې

الۡقُبُوۡرِ ﴿۷﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّجَادِلُ

په قبرونو کې دي -7- او په خلقو کې ځیني هغه
دي چې د

فِى اللّٰهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا

الله په باره کې بې له علمه او بې له هدایته او بې
له روښانه

كِتٰبٍ مُّنِيۡرٍ ۙ﴿۸﴾ ثَانِىَ عِطۡفِهٖ لِيُضِلَّ عَنۡ

کتابه جګړه کوي -8- په داسې حال کې چې خپل
څنګ اړوي،

سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّ

د دي لپاره چې د الله له لارې نه (خلق) گمراه کړي، د ده لپاره په دنيا کې رسوايي ده او

نُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ

مونږ به په ده د قيامت په ورځ د سوځوونکي

الْحَرِيْقِ ۝٩ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَ

اور عذاب وڅکوو -9- دا په سبب د هغو عملونو دي چې ستا دواړو لاسونو مخکې لېږلي دي او

ع
8

اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝١٠ؑ وَ

دا چې بېشکه الله په خپلو بنده گانو باندې له سره ظلم کوونکی نه دی -10- او

مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى

په خلقو کې ځينې هغه دي چې د الله عبادت کوي

حَرْفٍ ۚ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ ۚ

په يوې غاړه باندې، نو كه ده ته خير ورسي (نو) په دې (دين) مطمئن

وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ انْقَلَبَ عَلَىٰ

(او قايم) پاتې شي او كه ده ته څه مصيبت (ازمېښت) ورسي (، نو) بېرته

وَجْهِهِ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ۚ

په خپل مخ (كفر ته) وګرځي، ده (خپل) دنيا او اخرت

ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ

ضايع كړل، همدغه ښكاره

الْمُبِينُ ⑪ يَدْعُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا

تاوان دى -11- دى له الله نه پرته هغه څه بلي چې ده

يَضُرُّهٗ وَ مَا لَا يَنۡفَعُهٗ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

ته نه ضرر رسولی شي او نه ده ته نفع رسولی شي، همدغه ډېره

الضَّلٰلُ الۡبَعِيۡدُ ۚ﴿۱۲﴾ يَدۡعُوۡا لَمَنۡ ضَرُّهٗۤ

لرې گمراهي ده -12- دا هغه (معبود) بلي چې

اَقۡرَبُ مِنۡ نَّفۡعِهٖ ؕ لَبِئۡسَ الۡمَوۡلٰى وَ

يقينًا د هغه نقصان د هغه له نفع نه زيات نژدې دی، خامخا (هغه) بد دوست دی او

لَبِئۡسَ الۡعَشِيۡرُ ﴿۱۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدۡخِلُ

خامخا بد ملگری دی -13- بېشکه الله هغه کسان چې

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي؛

جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ اِنَّ

داسې جنتونو ته داخلوي چې د هغو له لاندې
ولې بهېږي، بېشکه

اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۱۴﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ

الله کوي هغه چې اراده يې وکړي -14- هر څوک
چې دا ګمان کوي

اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ فِى الدُّنْيَا وَ

چې الله به په دنيا او اخرت کې د دغه (رسول) له

الْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ

سره مدد ونه کړي، نو هغه دې اسمان ته يوه رسۍ
اوږده کړي، بيا دې (هغه) غوڅه کړي،

ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ

نو ودې ګوري چې ايا په رښتيا به د ده چل (او
تدبير) هغه شی

كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ۝١٥ وَ كَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ

ختم كړي چې دا يې په غصه كړى دى -15- او همدارنګه مونږ دا (قرآن) د ثرګندو

اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّ اَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ

ايتونو په شكل كې نازل كړى دى او دا چې بېشكه الله هدايت كوي چا ته

يُّرِيْدُ ۝١٦ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ الَّذِيْنَ

چې اراده وكړي -16- بېشكه هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى

هَادُوْا وَ الصّٰبِـِٕيْنَ وَ النَّصٰرٰى وَ

او هغه كسان چې يهوديان شوي او صابيان او نصرانيان او

الْمَجُوْسَ وَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖۗ اِنَّ اللّٰهَ

مجوس دي او هغه كسان دي چې شرك يې كړى دى، بېشكه الله

يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

به د دوی په مینځ کې د قیامت په ورځ فیصله کوي، بېشکه الله

عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ﴿۱۷﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّ

په هر شي باندې گواه دی -17- ایا ته نه وینې چې بېشکه

اللّٰهَ يَسۡجُدُ لَهٗ مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ وَمَنۡ

الله (چې دی) ده ته سجده کوي هر هغه چې په اسمانونو کې دي او هر

فِى الۡاَرۡضِ وَالشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ وَ

هغه چې په ځمکه کې دي او لمر او سپوږمۍ او

النُّجُوۡمُ وَالۡجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَ

ستوري او غرونه او ونې او

الدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ ؕ وَ

ځاروي او ډېر له خلقو ځینې او (په دوی کې)

كَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ وَمَنْ

ډېر داسې دي چې په هغو باندې عذاب ثابت شوی دی او هغه

يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

څوك چې الله يې سپك كړي، نو ده ته هيڅوك عزت وركوونكى نشته، بېشكه الله

يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ۱۸ هٰذٰنِ خَصْمٰنِ

السجدة 6

كوي هغه څه چې اراده يې وكړي -18- دا دوه جګړه كوونكي

اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ ؗ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

(ډلې) دي چې د خپل رب په باره كې يې جګړه وكړه، نو هغه كسان چې كافران شوي دي

قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ؕ يُصَبُّ

د دوی لپاره به د اور جامي پرې کړی شي، د

مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ

دوی د سرونو له پاسه به ګرمې ایشېدلي

الْحَمِيْمُ ۚ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهٖ مَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ وَ

اوبه اچولی شي -19- (په دغو (اوبو) سره به هغه

څه (کولمې) خوړني کړی شي چې د دوی په ګېډو

الْجُلُوْدُ ؕ ﴿٢٠﴾ وَلَهُمْ مَّقَامِعُ مِنْ

کې دي او څرمنې (د دوی هم) -20- او د دوی (د

وهلو) لپاره د

حَدِيْدٍ ﴿٢١﴾ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا

اوسپنو څټکونه دي -21- هر کله چې دوی له هغه

(دوزخ) نه، له غم نه د وتلو اراده وکړي (، نو)

مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ اُعِيۡدُوۡا فِيۡهَا ۗ وَ ذُوۡقُوۡا

بېرته به په هغه کې ورگرځولی شي (او ورته ويلی به شي:) د سخت

عَذَابَ الۡحَرِيۡقِ ﴿۲۲﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدۡخِلُ

ع 9

سوځوونکي (اور) عذاب وڅکئ -22- بېشکه الله به هغه

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي

جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ

داسې جنتونه ته داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي،

يُحَلَّوۡنَ فِيۡهَا مِنۡ اَسَاوِرَ مِنۡ ذَهَبٍ وَّ

دوی ته به په هغو کې د سروزرو باهوگان واچول شي او ملغلرې او

لُؤْلُؤًا ۭ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿٢٣﴾ وَ

د دوی لباس به په هغو (جنتونو) کې وريښم وي -23- او

هُدُوْٓا اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ۚۖ وَ

دوی ته د پاکيزه خبرې ښوونه وشوه او

هُدُوْٓا اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴿٢٤﴾ اِنَّ

د ستايل شوي (الله) د لارې هدايت ورته وشو -24- بېشکه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ

هغه کسان چې کافران شوي دي او د الله له لارې نه

اللّٰهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِيْ

اړول کوي او له مسجد حرام نه هغه چې مونږ هغه د خلقو

جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءَ اِۨلْعَاكِفُ فِيْهِ

لپاره داسې ګرځولی دی چې په ده کې اوسېدونکي او له

وَالْبَادِ ؕ وَمَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِاِلْحَادٍۭ

بهره راتلونکي برابر دي، او څوك چې په ده کې په ظلم سره د الحاد (او بې لار توب)

ع 10

بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٢٥ وَاِذْ

اراده وکړي (، نو) مونږ به په هغه له ډېر دردوونکي عذاب څخه (عذاب) وڅکوو -25- او

بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ اَنْ لَّا

(ياد کړه) هغه وخت چې مونږه ابراهيم ته د بيت الله ځای ښکاره (معين) کړ چې ته له ما

تُشْرِكْ بِيْ شَيْـًٔا وَّطَهِّرْ بَيْتِيَ

سره هيڅ شی مه شريکوه، او زما کور د طواف کوونکو، او

لِلطَّآىِٕفِيْنَ وَالْقَآىِٕمِيْنَ وَالرُّكَّعِ

قيام كوونكو او ركوع كوونكو (او) سجده كوونكو

السُّجُوْدِ ﴿۲۶﴾ وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ

لپاره پاك كړه -26- او ته په خلقو كې د حج اعلان وكړه

يَاْتُوْكَ رِجَالًا وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَّاْتِيْنَ

دوى به تا ته پيدل راشي او په هر خوار ډنگر اوښ باندې چې دغه (اوښان) به راځي

مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿۲۷﴾ لِّيَشْهَدُوْا

له هرې لرې ژورې لارې نه -27- د دې لپاره چې دوى خپلو

مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ

فايدو ته حاضر شي او په معلومو ورځو كې د الله نوم ياد كړي،

اَيَّامٍ مَّعۡلُوۡمٰتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمۡ مِّنۡۢ

په هغو بې ژبو څارويو باندې چې هغه (الله) دوى ته

بَهِيۡمَةِ الۡاَنۡعَامِ‌ۚ فَكُلُوۡا مِنۡهَا وَ

ورکړي دي، نو تاسو له هغو نه خورئ او

اَطۡعِمُوا الۡبَآٮِٕسَ الۡفَقِيۡرَ‌ ۲۸ ثُمَّ

په بد حال فقير يې خورئ -28- بيا دې دوى

لۡيَقۡضُوۡا تَفَثَهُمۡ وَلۡيُوۡفُوۡا نُذُوۡرَهُمۡ وَ

خپل خيرې لرې کړي او خپل نذرونه دې پوره کړي او

لۡيَطَّوَّفُوۡا بِالۡبَيۡتِ الۡعَتِيۡقِ‏ ۲۹ ذٰلِكَ ۖ وَ

د قديم (او عزتمن) کور طوافونه دې وکړي -29- دغه (حکم بيان شو) او

مَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ

ثوك چې د الله د حرمتونو (احكامو) تعظيم كوي، نو دغه (كار) د ده لپاره د

عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا

خپل رب په نيز ډېر غوره دی۔ او تاسو لپاره څاروي حلال گرځول شوي دي

مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ

غير له هغو نه چې په تاسو (يې حرمت) لوستل كيږي، نو تاسو ځان وساتئ له پليتۍ نه

مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ

چې بتان دي او تاسو د دروغو له وينا څخه

الزُّوْرِ ۝٣٠ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ

ځان وساتئ -30- په داسې حال كې چې الله ته په

بِهٖ ؕ وَ مَنۡ يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ

اخلاص سره غاړه اېښودونكي يئ، له ده سره
شريك جوړونكي نه يئ، او هر څوك چې له الله

مِنَ السَّمَآءِ فَتَخۡطَفُهُ الطَّيۡرُ اَوۡ

سره شريك ونيسي، نو ګوياكې هغه له اسمان نه
راوغورځېده، نو مرغان يې وتښتوي،

تَهۡوِىۡ بِهِ الرِّيۡحُ فِىۡ مَكَانٍ

يا يې هوا (باد) له اوچت ځاى نه لرې په زور

سَحِيۡقٍ ۝٣١ ذٰلِكَ ۚ وَ مَنۡ يُّعَظِّمۡ شَعَآئِرَ

ځاى كې وغورځوي -31- دغه (حكم بيان شو) او
څوك چې د الله د نښو تعظيم وكړي،

اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنۡ تَقۡوَى الۡقُلُوۡبِ ۝٣٢ لَكُمۡ

نو بېشكه دا د زړونو له تقوىٰ څخه دي -32-
تاسو لپاره

فِيهَا مَنَافِعُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ

په دغو (څارويو) کې تر يو مقرر وخته پورې ډېرې فايدې دي، بيا د دوی

ع 11

مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ

حلالځای قديم کور (بيت الله) ته دی -33- او د هر

أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ

امت لپاره مونږ يوه قرباني مقرر کړې ده، د دې لپاره چې دوی د

اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ

الله نوم ياد کړي په هغو شيانو چې دوی ته هغه (الله) ورکړي دي،

الْأَنْعَامِ ۗ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ

چې څاروي دي، نو ستاسو حق معبود يو معبود دی، نو تاسو

اَسۡلِمُوۡا ؕ وَ بَشِّرِ الۡمُخۡبِتِیۡنَ ﴿ۙ۳۴﴾ الَّذِیۡنَ

خاص هغه ته غاړه کېږدئ او عاجزي کوونکو ته زېرى ورکړه -34- هغه کسان

اِذَا ذُکِرَ اللّٰہُ وَ جِلَتۡ قُلُوۡبُہُمۡ وَ

چې کله الله ياد کړی شي (نو) د دوی زړونه ووېرېږي او

الصّٰبِرِیۡنَ عَلٰی مَاۤ اَصَابَہُمۡ وَ

(زېرى ورکړه) صبر کوونکو ته په هغو (سختيو) چې دوی ته رسېږي او

الۡمُقِیۡمِی الصَّلٰوۃِ ۙ وَ مِمَّا رَزَقۡنٰہُمۡ

لمونځ قايمونکو ته او هغو ته چې له هغه مال نه څه انفاق کوي چې مونږ دوی

یُنۡفِقُوۡنَ ﴿۳۵﴾ وَ الۡبُدۡنَ جَعَلۡنٰہَا لَکُمۡ

ته ورکړی دی -35- او (د هديې) اوښان (او غوايان) مونږ هغه تاسو

مِّنۡ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمۡ فِيۡهَا خَيۡرٌ ۖ

لپاره د الله له نښو څخه ګرځولي دي، تاسو لپاره په دغو کې خير دی، نو تاسو په دغو

فَاذۡكُرُوا اسۡمَ اللّٰهِ عَلَيۡهَا صَوَآفَّ ۚ

باندې د الله نوم يادوئ، په داسې حال کې چې ولاړ وي،

فَاِذَا وَجَبَتۡ جُنُوۡبُهَا فَكُلُوۡا مِنۡهَا وَ

نو کله چې د دوی اړخونه پرېوځي، نو له دغو نه خورئ او

اَطۡعِمُوا الۡقَانِعَ وَالۡمُعۡتَرَّ ؕ كَذٰلِكَ

په صبر کوونکي او په بې صبره (سوالګري فقير) يې خورئ، همداسې

سَخَّرۡنٰهَا لَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ

تاسو لپاره مونږ دغه تابع کړي دي، د دې لپاره چې

تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۳۶﴾ لَنۡ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوۡمُهَا وَ

تاسو شکر وباسئ -36- الله ته له سره نه رسېږي د
دغو غوښې او

لَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنۡ يَّنَالُهُ التَّقۡوٰى

نه د دغو وينې او لېکن هغه ته ستاسو تقوىٰ
رسېږي،

مِنۡكُمۡ‌ؕ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَـكُمۡ

همداسې يې دغه تاسو لپاره تابع کړي دي، د دې

لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰٮكُمۡ‌ؕ وَبَشِّرِ

لپاره چې تاسو د الله لويي بيان کړئ په هغې
(طريقې) سره چې هغه تاسو ته ښوونه کړې ده او

الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ

نېکي کوونکو ته زيری ورکړه -37- بېشکه الله له
هغو کسانو نه دفاع کوي

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ

چې ایمان یې راوړی دی، بېشکه الله هر ډېر
خیانت گر، لوی

ع 12 الثلثة

خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ۝۳۸ۧ اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ

ناشکره نه خوښوي -38- هغو کسانو ته چې
ورسره قتال کاوه شي (د قتال)

بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰي نَصْرِهِمْ

اجازت ورکړی شو، ځکه چې یقینًا په دوی ظلم
کړی شوی دی، او بېشکه الله د دوی په مدد

لَقَدِيْرُ ۝۳۹ۙ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ

کولو خامخا قادر دی -39- هغه کسان چې له
خپلو کورونو نه ناحقه

دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا

اېستل شوي دي (بې له کوم سببه) مگر دا چې
دوی به ویل:

رَبُّنَا اللّٰهُ ؕ وَ لَوۡ لَا دَفۡعُ اللّٰهِ النَّاسَ

زمونږ رب الله دی، او كه چېرې د الله دفع كول نه وی خلقو لره،

بَعۡضَهُمۡ بِبَعۡضٍ لَّهُدِّمَتۡ صَوَامِعُ وَ

ځینو لره په ځینو نورو باندې (، نو) خامخا به نړول شوې وی تكیې او

بِيَعٌ وَّ صَلَوٰتٌ وَّ مَسٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيۡهَا

مدرسې او عبادتخانې او هغه جوماتونه چې په هغو كې د

اسۡمُ اللّٰهِ كَثِيۡرًا ؕ وَ لَيَنۡصُرَنَّ اللّٰهُ

الله نوم ډېر يادولی شي او الله به خامخا ضرور د هغه چا مدد

مَنۡ يَّنۡصُرُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِىٌّ

وكړي چې د هغه (الله) مدد كوي، بېشكه الله خامخا

عَزِيزٌ ۝٤٠ اَلَّذِينَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِى

ډېر زورور، غالب دی -40- هغه کسان دي چې
که مونږ دوی ته

الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا

په ځمکه کې قدرت ورکړو (نو) دوی به لمونځ
قايموي

الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا

او زکات به ادا کوي او د نېکۍ حکم به کوي او
له

عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ۝٤١ وَ

بدۍ نه به منع کوي، او خاص د الله لپاره د
کارونو انجام دی -41- او

اِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ

که چېرې دوی ستا تکذيب وکړي، نو يقيناً له
دوی نه مخکې

قَوْمُ نُوحٍ وَّ عَادٌ وَّ ثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ وَ قَوْمُ

د نوح قوم او عاديانو او ثموديانو تكذيب كړى دى -42- او د

اِبْرٰهِيْمَ وَ قَوْمُ لُوْطٍ ﴿۴۳﴾ وَّ اَصْحٰبُ

ابراهيم قوم او د لوط قوم -43- او د مدين والاو،

مَدْيَنَ ۚ وَ كُذِّبَ مُوْسٰى فَاَمْلَيْتُ

او د موسٰى تكذيب شوى دى، نو ما

لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ فَكَيْفَ كَانَ

كافرانو ته مهلت وركړ، بيا ما دوى ونيول، نو زما

نَكِيْرِ ﴿۴۴﴾ فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا وَ

انكار كول څنګه وو؟ -44- نو څومره ډېر كلي دي چې مونږ هغه هلاك كړي دي، په

هِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا وَ

داسې حال کې چې هغه ظالمان وو، نو دغه (کلي) په خپلو چتونو پراته دي، او څومره ډېر بېکاره

بِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَّ قَصْرٍ مَّشِيْدٍ ﴿۴۵﴾ اَفَلَمْ

پراته کوهیان دي او مضبوطې ماڼۍ دي -45- ایا نو دوی

يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَتَكُوْنَ لَهُمْ

په ځمکه کې گرځېدلي نه دي، نو چې دوی لپاره داسې

قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ بِهَآ اَوْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ

زړونه وی چې دوی په هغو سره پوهېدلی یا داسې غوږونه چې دوی په هغو سره

بِهَا ۚ فَاِنَّهَا لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ وَ لٰكِنْ

اورېدلی، نو بېشکه قصه دا ده چې سترگې نه ړندېږي او لېکن

تَعۡمَى الۡقُلُوۡبُ الَّتِىۡ فِى الصُّدُوۡرِ ﴿۴۶﴾ وَ

هغه زړونه ړندېږي چې په سينو کې دي -46- او

يَسۡتَعۡجِلُوۡنَكَ بِالۡعَذَابِ وَلَنۡ يُّخۡلِفَ

دوی په تا په (راوستلو د) عذاب سره تلوار کوي
او

اللّٰهُ وَعۡدَهٗ ؕ وَاِنَّ يَوۡمًا عِنۡدَ رَبِّكَ

الله به له سره د خپلې وعدې خلاف و نه کړي،
او بېشکه يوه ورځ ستا د رب په نيز د زرو کلونو په

كَاَلۡفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوۡنَ ﴿۴۷﴾ وَكَاَيِّنۡ مِّنۡ

شان ده له هغو چې تاسو يې شمېرئ -47- او ډېر

قَرۡيَةٍ اَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِىَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ

کلي دي چې ما هغو ته مهلت ورکړی و، حال دا
چې دوی ظالمان وو، بيا ما هغه

ع
13

اَخَذْتُهَا ۚ وَاِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿٤٨﴾ قُلْ يٰٓاَيُّهَا

ونيول، او خاص ما ته ببرته راتله دي -48- ته
ووايه:

النَّاسُ اِنَّمَآ اَنَا لَكُمْ نَذِيْرٌ

اى خلقو! ببشكه همدا خبره ده چې زه تاسو ته

مُّبِيْنٌ ﴿٤٩﴾ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

ښكاره وېروونكى يم -49- نو هغه كسان چې ايمان
يې راوړى دى او

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ

نيك عملونه يې كړي دي د دوى لپاره مغفرت او
ډېر د

كَرِيْمٌ ﴿٥٠﴾ وَالَّذِيْنَ سَعَوْا فِيْٓ اٰيٰتِنَا

عزت روزي ده -50- او هغه كسان چې زمونږ په
ايتونو كې

مُعْجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

کوشش کوي، په داسې حال کې چې (په خپل خيال کې) عاجزه کوونکي دي، دغه کسان د

الْجَحِيْمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ

دوزخ ملګري دي -51- او مونږ له تا نه مخکې نه

مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى اَلْقَى

دی لیږلی هيڅ يو رسول او نه نبي، مګر کله چې

به هغه

الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ۚ فَيَنْسَخُ اللّٰهُ

لوستل کول (، نو) شيطان به د هغه په لوستلو کې

غورځول وکړل، نو الله

مَا يُلْقِى الشَّيْطٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ

هغه لرې کوي چې شيطان يې غورځوي، بيا الله

اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ۙ﴿۵۲﴾ لِّيَجۡعَلَ

خپل ایتونه مضبوطوي، او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی -52- د دې لپاره

مَا يُلۡقِى الشَّيۡطٰنُ فِتۡنَةً لِّلَّذِيۡنَ فِىۡ

چې هغه (الله) هغه شی چې شیطان یې غورځوي د هغو کسانو لپاره

قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ وَّالۡقَاسِيَةِ قُلُوۡبُهُمۡ ؕ

ازمېښت وګرځوي چې د هغوی په زړونو کې مرض دی او د هغوی لپاره چې زړونه یې سخت

وَاِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ لَفِىۡ شِقَاقٍۢ بَعِيۡدٍ ۙ﴿۵۳﴾ وَّ

دي او بېشکه ظالمان خامخا په ډېر لوی مخالفت کې دی -53- او

لِيَـعۡلَمَ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ اَنَّهُ

د دې لپاره چې هغه کسان پوه شي چې دوی ته علم ورکړی شوی دی چې بېشکه

الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا بِهٖ فَتُخْبِتَ

دا (قرآن) حق دی ستا د رب له جانبه، پس چې
دوی په ده ایمان راوړي، بیا د دوی

لَهٗ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ

زړونه ده ته نرم شي او بېشکه الله خامخا هغو
کسانو ته چې ایمان يې راوړی دی؛

اٰمَنُوْٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝٥٤ وَلَا

د نېغې لارې هدایت کوونکی دی -54- او هغه

يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ

کسان چې کافران شوي دي تل به د دغه (قرآن)
په هکله به

حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً اَوْ

شك کې وي، تر دې چې په دوی قیامت ناڅاپه
راشي،

يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾ اَلْمُلْكُ

يا دوی ته د شنډې ورځې عذاب راشي -55- باچاهي

يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ

په دغې ورځ کې خاص د الله لپاره ده، هغه به د دوی په مينځ

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ

کې فيصله کوي۔ نو هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي د

جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٥٦﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ

نعمتونو په جنتونو کې دي -56- او هغه کسان چې کفر يې کړی دی او

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

زمونږ د ايتونو تکذيب يې کړی دی، نو دغه کسان چې دي، د دوی لپاره

ع
14

مُّهِيْنٌ ۝٥٧ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ

رسوا كوونكى عذاب دى -57- او هغه كسان چې
د الله په لاره كې يې هجرت كړى دى،

اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ

بيا هغوى ووژل شي، يا (په خپل مرگ) مړه شي
(نو) خامخا هرومرو به

اللّٰهُ رِزْقًا حَسَنًا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ

الله دوى ته ډېره ښكلې روزي وركړي، او بېشكه
الله خامخا همغه تر ټولو غوره

الرّٰزِقِيْنَ ۝٥٨ لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا

رزق وركوونكى دى -58- خامخا ضرور به هغه
دوى داسې ځاى ته داخل كړي

يَّرْضَوْنَهٗ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَلِيْمٌ

چې دوى به هغه خوښوي او بېشكه الله خامخا
ښه عالم،

حَلِيمٌ ﴿٥٩﴾ ذَٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا

ډېر تحمل والا دی -59- (خبره هم) دا ده، او هغه کس چې بدل يې واخيست په مثل د هغه (ضرر)

عُوقِبَ بِهِ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنْصُرَنَّهُ

چې دی په هغه سره مُعذب شوی و، بيا (په دويم ځل) په ده ظلم وکړی شو (نو) خامخا ضرور به

اللَّهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٦٠﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ

الله د ده مدد کوي، بېشکه الله خامخا ډېر معافي کوونکی، ډېر بخښونکی دی -60- دغه په دې

اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ

سبب چې بېشکه الله شپه په ورځ کې ننباسي او

النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَأَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ

ورځ په شپه کې ننباسي او دا چې بېشکه الله ښه اورېدونکی،

بَصِيْرٌ ﴿٦١﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَ

ښه ليدونكى دى -61- دغه په دې سبب چې
بېشكه الله، هم دى حق دى او

اَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ

دا چې بېشكه هغه چې دوى يې له هغه (الله) نه
غير بولي، همغه باطل دى

وَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٦٢﴾ اَلَمْ تَرَ

او دا چې بېشكه الله، هم دى ډېر اوچت، ډېر لوى
دى -62- ايا تا نه دي ليدلي

اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءًؗ

چې بېشكه الله له بره نه اوبه نازلې كړې،

فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةًؕ اِنَّ اللّٰهَ

بيا (په دغو سره) ځمكه تكه شنه گرځي، بېشكه
الله ډېر مهربان (ښه باريك بين)،

لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿٦٣﴾ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَ

ډېر خبردار دی -63- خاص هم دغه (الله) لره
دي هر څه چې په اسمانونو کې دي او

مَا فِي الْأَرْضِ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ

هر څه چې په ځمکه کې دي او بېشکه الله
خامخا هم دی غني (بې پروا) ډېر

ع
15

الْحَمِيدُ ﴿٦٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم

ستایل شوی دی -64- ایا تا نه دي لیدلي چې
بېشکه الله تاسو لپاره تابع کړي

مَّا فِي الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي فِي

دي هر هغه چې په ځمکه کې دي او بېړۍ چې

الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَن

په بحر کې د هغه په امر ګرځي او هغه اسمان
ساتي له دې نه چې

تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په ځمکه باندې راولوېږي مگر (خو) د هغه په حکم سره۔، بېشکه الله

بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝٦٥ وَهُوَ

په خلقو باندې خامخا ډېر نرمي کوونکی، مهربان دی -65- او دغه (الله) همغه

الَّذِيْٓ اَحْيَاكُمْ ؗ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ

ذات دی چې تاسو يې ژوندي کړي يئ، بيا به هغه تاسو مړه کاندي،

يُحْيِيْكُمْ ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ

بيا به هغه تاسو ژوندي کړي، بېشکه انسان

لَكَفُوْرٌ ۝٦٦ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا

خامخا ډېر ناشکره دی -66- د هر يو امت لپاره مونږ د بندگۍ يوه

هُمْ نَاسِكُوْهُ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْاَمْرِ

لاره مقرر كړې ده چې دوى په هغې عمل كوونكي دي، نو دوى دې له تا سره په دې كار (د

وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ ؕ اِنَّكَ لَعَلٰى هُدًى

دين) كې له سره جګړه ونه كړي او ته خپل رب ته (د خلقو) بلنه كوه، بېشكه ته

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٦٧﴾ وَاِنْ جٰدَلُوْكَ فَقُلِ اللّٰهُ

خامخا په نبغ (او برابر) هدايت باندې يې -67- او كه دوى له تاسره جګړه كوي، نو ته وايه: الله پوه

اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٦٨﴾ اَللّٰهُ يَحْكُمُ

دى په هغو عملونو چې تاسو يې كوئ -68- الله به د دوى په

بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ

مينځ كې د قيامت په ورځ په هغو خبرو كې فيصله كوي چې دوى به په

تَخْتَلِفُوْنَ ۝٦٩ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ

کې اختلاف کاوه -69- ایا ته نه يې پوه شوی چې
بېشکه الله پوهېږي

يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ

به هر هغه څه چې په اسمان او ځمکه کې دي،
بېشکه دغه

ذٰلِكَ فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

په یو کتاب کې دي، بېشکه دغه الله ته ډېر

يَسِيْرٌ ۝٧٠ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا

اسان دي -70- او دوی (کفار) له الله نه غیر د
هغه شي عبادت کوي چې الله په (عبادت د)

لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّ مَا لَيْسَ لَهُمْ

هغه هیڅ دلیل نه دی نازل کړی او د هغه شي چې
دوی ته په

بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ

هغه باندې هېڅ علم نشته، او د ظالمانو لپاره هېڅ

نَّصِيْرٍ ﴿۷۱﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا

مدد کوونکی نشته -71- او کله چې دوی ته زمونږ ايتونه ولوستل شي،

بَيِّنٰتٍ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

چې ډېر واضح دي، (نو) ته د کافران شويو کسانو په مخونو انکار پېژنې،

الْمُنْكَرَ ؕ يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ

نژدې وي چې دوی په هغو کسانو حمله وکړي چې دوی

يَتْلُوْنَ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ؕ قُلْ

ته زمونږ ايتونه تلاوت کوي، ته (دوی ته) ووايه:

اَفَاُنَبِّئُكُمۡ بِشَرٍّ مِّنۡ ذٰلِكُمۡ ؕ اَلنَّارُ ؕ

ايا نو زه تاسو ته له دغه نه د ډېر بد شي خبر درکړم (هغه) اور دی۔،

وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ؕ وَبِئۡسَ

الله د ده وعده کړې ده له هغو کسانو سره چې کافران شوي دي او هغه د بېرته

ع 16

الۡمَصِيۡرُ ۞ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ

ورتلو بد ځای دی -72- ای خلقو! يو مثال بيانولی شي،

فَاسۡتَمِعُوۡا لَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ تَدۡعُوۡنَ

نو تاسو ده ته ښه غوږ کېږدئ، بېشکه هغه شيان چې

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ لَنۡ يَّخۡلُقُوۡا ذُبَابًا وَّلَوِ

تاسو يې له الله نه غير بلئ دوی له سره يو مچ هم نشي پيدا کولی

اجْتَمَعُوا لَهُ ؕ وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ

اگر که دوی ده ته ټول راجمع شي او که مچ له
دوی نه یو

شَيْئًا لَّا يَسْتَنْقِذُوهُ مِنْهُ ؕ ضَعُفَ

شی وتښتوي، دوی له هغه نه دغه (شی) نشي
راخلاصولی، کمزوری دی دا طالب (د غیرالله

الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾ مَا قَدَرُوا اللّٰهَ

عبادت کوونکی) او دغه مطلوب (باطل معبود) -
73- دوی د الله قدر ونه کړ، څنگه چې

حَقَّ قَدْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ

د هغه د قدر کولو حق دی، بېشکه الله خامخا ډېر
زورور،

عَزِيزٌ ﴿٧٤﴾ اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ

ښه غالب دی -74- الله له ملایکو څخه

رُسُلًا وَّ مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ

استازي غوره کوي او له خلقو څخه، بېشکه الله
ښه اورېدونکی،

بَصِيْرٌ ۚ﴿۷۵﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَ مَا

ښه ليدونکی دی -75- هغه پوهېږي په هغه څه
چې د دوی په وړاندي دي او په

خَلْفَهُمْ ؕ وَ اِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ

هغه څه چې د دوی وروسته دي، او خاص الله
ته ټول کارونه بېرته

الْاُمُوْرُ ﴿۷۶﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا

ورګرځول کېږي -76- ای هغو کسانو چې ايمان
يې راوړی دی! تاسو رکوع کوئ

وَ اسْجُدُوْا وَ اعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَ افْعَلُوا

او سجده کوئ او د خپل رب عبادت کوئ او
نېکي کوئ،

الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۩ ﴿77﴾ وَ جَاهِدُوْا

د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ -77- او په (لاره د) الله کې کوشش کوئ،

فِي اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ ؕ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ وَ

څنګه چې د هغه د کوشش حق دی، هغه تاسو غوره کړي یئ او

مَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ

په تاسو باندې يې په دین کې هيڅ حرج (مشقت) نه دی ایښی،

حَرَجٍ ؕ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ؕ هُوَ

تاسو د خپل پلار ابراهیم د ملت تابع شئ، دغه (الله) تاسو

سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ۙ مِنْ قَبْلُ وَ فِيْ

مسلمانان نومولي یئ، له دې (قرآن) نه مخکې او

هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا

په ده کې، د دې لپاره چې رسول پر تاسو باندې
ګواه شي

عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى

او تاسو په خلقو باندې ګواهان شئ،

النَّاسِ ۚۖ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

نو تاسو لمونځ قايموئ او زكات ادا كوئ او

الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ؕ هُوَ

په (دين د) الله باندې منګولې ټېنګې کلکې کړئ،

مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ

هغه ستاسو مالك دى، نو هغه ښه مالك دى او ښه

النَّصِيرُ ﴿٧٨﴾

مدد کوونکی دی -78-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

قَدۡ اَفۡلَحَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ۙ﴿۱﴾ الَّذِيۡنَ هُمۡ فِىۡ

يقينًا مومنان كامياب شول -1- هغه چې هغوى په خپلو

صَلَاتِهِمۡ خٰشِعُوۡنَ ۙ﴿۲﴾ وَالَّذِيۡنَ هُمۡ

لمونځونو كې خشوع كوونكي دي -2- او هغه كسان چې دوى

عَنِ اللَّغۡوِ مُعۡرِضُوۡنَ ۙ﴿۳﴾ وَالَّذِيۡنَ هُمۡ

له لغو (خبرو او كارونو) نه مخ گرځوونكي دي -3- او هغه چې هغوى

لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوۡنَ ۙ﴿۴﴾ وَالَّذِيۡنَ هُمۡ

د زكات ادا كوونكي دي -4- او هغه چې هغوى د

لِفُرُوۡجِهِمۡ حٰفِظُوۡنَ ۙ﴿۵﴾ اِلَّا عَلٰۤى

خپلو فرجونو (د شهوت ځايونو) ساتونكي دي -
5- مگر له خپلو

اَزۡوَاجِهِمۡ اَوۡ مَا مَلَكَتۡ اَيۡمَانُهُمۡ

ښځو او وينځو نه، نو بېشكه دوى (هغوى ته په
ورتلو سره)

فَاِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُوۡمِيۡنَ ۚ﴿۶﴾ فَمَنِ ابۡتَغٰى

ملامت كړى شوي نه دي -6- پس چا چې ولټولو

وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡعٰدُوۡنَ ۚ﴿۷﴾ وَ

سوا له دغو نه، نو دغه كسان، دوى له حد نه
تېرېدونكي دي -7- او

الَّذِيۡنَ هُمۡ لِاَمٰنٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ

هغه چې هغوى د خپلو امانتونو او عهد رعايت

رٰعُوْنَ ۝٨ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ

كوونكي دي -8- او هغه چې هغوی په خپلو لمونځونو

يُحَافِظُوْنَ ۝٩ اُولٰٓئِكَ هُمُ

مداومت (او حفاظت) كوي -9- هم دغه خلق

الْوٰرِثُوْنَ ۝١٠ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ

وارثان دي -10- هغه چې د فردوس

الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝١١ وَ

وارثان كېږي به، دوی به په هغه كې همېشه وي -11- او

لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ

يقينًا يقينًا مونږ انسان د ختې له خُلاصې نه

وقف لازم

طِيْنٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً فِيْ قَرَارٍ

پيدا كړى دى -12- بيا مونږ هغه، نطفه (د مني يو
ځاڅكى) وګرځوله په مضبوط

مَّكِيْنٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً

قرار ځاى كې -13- بيا مونږ دغه نطفه د وينې
ټوټه وګرځوله،

فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا

وربسې مونږ دغه د وينې ټوټه د غوښې وړه بوټۍ
وګرځوله،

الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ

وربسې مونږ دغه بوټۍ هډوكي وګرځوله، بيا مو
هډوكو ته

لَحْمًا ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ

غوښه واغوستله، بيا مونږ هغه په بل تخليق كې
پيدا كړ،

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ۝١٤ ثُمَّ

نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پیدا
کوونکی دی -14- بیا

اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ۝١٥ ثُمَّ

بېشکه تاسو له دې (ژوند) نه بعد خامخا مړه
کېدونکي يئ -15- بیا به

اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ۝١٦ وَلَقَدْ

یقینًا تاسو د قیامت په ورځ ژوندي راپاڅولی شئ
-16- او یقینًا یقینًا

خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ۖ وَمَا

مونږ ستاسو له پاسه اوه لارې (اسمانونه) پیدا
کړي دي او مونږ

كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ۝١٧ وَاَنْزَلْنَا

د مخلوق (له ټولو حالاتو) نه غافله نه یو -17- او
مونږ له بره

مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَسۡکَنّٰهُ فِی

نه په اندازې سره اوبه نازلې کړې، بيا مو هغه په

الۡاَرۡضِ ۖۗ وَاِنَّا عَلٰی ذَهَابٍۭ بِهٖ

ځمکه کې وساتلې او بېشکه مونږ د هغې په بېولو

لَقٰدِرُوۡنَ ۚ﴿۱۸﴾ فَاَنۡشَاۡنَا لَکُمۡ بِهٖ جَنّٰتٍ

يقينًا قادر يو -18- نو مونږ په دې (اوبو) سره تاسو
لپاره

مِّنۡ نَّخِیۡلٍ وَّ اَعۡنَابٍ ۘ لَکُمۡ فِیۡهَا

د کجورو او انګورو باغونه پيدا کړي دي، چې
تاسو ته په هغو (باغونو) کې ډېرې

فَوَاکِهُ کَثِیۡرَۃٌ وَّ مِنۡهَا تَاۡکُلُوۡنَ ﴿۱۹﴾ۙ وَ

مېوې دي او له هم دغو (باغونو) نه تاسو خوراك
کوئ -19- او

وقف لازم

شَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ

هغه ونه (مو پیدا کړه) چې د طور سیناء نه راوځي؟ چې

تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَ صِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَ

د خوړونکو لپاره د غوړو او انګولي سره زرغونېږي -20- او

اِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ

بېشکه تاسو لپاره په څارویو کې یقینًا لوی عبرت دی، مونږ په تاسو له هغو (پیو) نه درڅښوو

نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهَا وَ لَكُمْ فِيْهَا

چې د هغو (څارویو) په ګېډو کې دي۔ او تاسو لپاره په دوی کې ډېرې فایدې دي

مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّ مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٢١﴾ وَ

او له دوی نه تاسو خوړل (هم) کوئ -21- دوی ته) ووایه: دا به هغه ذات راژوندي کوي چې دا

ع
1

عَلَيْهَا وَ عَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَ لَقَدْ

يې اول ځلې پيدا كړې دي، او هغه په خپل مخلوق باندې ښه عالم دی -22- بړلی و، نو هغه

اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ

(ورته) وويل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت كوئ،

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ

تاسو لپاره له هغه نه غير بل هېڅ حق معبود نشته، ايا

اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ

نو تاسو نه وېرېږئ! -23- نو د هغه له قومه

كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ

كافر شويو مشرانو وويل: نه دی دا (نوح) مگر هم ستاسو په شان بشر،

مِّثۡلُكُمۡ ۙ يُرِيۡدُ اَنۡ يَّتَفَضَّلَ عَلَيۡكُمۡ ؕ

دی غواړي چې پر تاسو باندې مشري (او برتري) حاصله کړي

وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَاَنۡزَلَ مَلٰٓـئِكَةً ۖۚ مَّا

او که الله غوښتلی (نو) خامخا ملايك به يې نازل کړې وو، مونږ خو دا خبره (چې رسول بني ادم

سَمِعۡنَا بِهٰذَا فِىۡۤ اٰبَآئِنَا الۡاَوَّلِيۡنَ ۚ‏ ﴿۲۴﴾ اِنۡ

وي) زمونږ په هغو پلرونو کې نه ده اوريدلې چې پخوا وو -24- نه دی دا

هُوَ اِلَّا رَجُلٌۢ بِهٖ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوۡا بِهٖ

(نوح) مګر داسې سړی چې په ده پورې لېونتوب نښتی دی، نو تاسو ده ته تر يو

حَتّٰى حِيۡنٍ‏ ﴿۲۵﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرۡنِىۡ بِمَا

وخته انتظار کوئ -25- هغه ووېل: ای زما ربه! ته زما مدد وکړه، په سبب د دې چې

كَذَّبُوۡنِ ﴿۲۶﴾ فَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡهِ اَنِ اصۡنَعِ

دوی زما تکذیب وکړ -26- نو مونږ هغه ته وحي وکړه

الۡفُلۡكَ بِاَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا فَاِذَا جَآءَ

داسې چې زمونږ د سترګو په وړاندې او زمونږ له وحي سره سم بېړۍ جوړه کړه،

اَمۡرُنَا وَفَارَ التَّنُّوۡرُ ۙ فَاسۡلُكۡ فِيۡهَا

نو کله چې زمونږ حکم راغی او تنور راوخوټېده، بیا نو ته په دې (بېړۍ) کې له

مِنۡ كُلٍّ زَوۡجَيۡنِ اثۡنَيۡنِ وَاَهۡلَكَ اِلَّا

هر قسمه نه جوړه جوړه دوه دوه (نر او ښځه) داخل کړه او خپله کورنۍ هم (خو) له هغه چا نه

مَنۡ سَبَقَ عَلَيۡهِ الۡقَوۡلُ مِنۡهُمۡ ۚ وَلَا

غیر چې په دوی کې په هغه باندې (د عذاب) خبره ړومبۍ شوې ده او ته

تُخَاطِبْنِیْ فِی الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ

له ما سره د هغو كسانو په باره كې خبره مه كوه چې ظلم يې كړى دى، بېشكه دوى

مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاِذَا اسْتَوَیْتَ اَنْتَ وَ مَنْ

به غرق كولى شي -27- نو كله چې وختلې ته او هغه څوك چې له

مَّعَكَ عَلَی الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

تا سره دي په بېړۍ كې، نو ووايه: ټول د كمال صفتونه خاص د

الَّذِیْ نَجّٰنَا مِنَ الْقَوْمِ

هغه الله لپاره دي چې مونږ يې له ظالم قوم نه

الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۸﴾ وَ قُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِیْ مُنْزَلًا

خلاص كړو -28- او (د كوزېدو په وخت كې) ووايه: اى زما ربه! ته ما په يو مبارك منزل (ځاى)

مُّبٰرَكًا وَّاَنۡتَ خَيۡرُ الۡمُنۡزِلِيۡنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ فِىۡ

کې کوز کړه او ته تر ټولو کوزوونکو ښه ډېر غوره يې -29- بېشکه په دې کې يقيناً دليلونه

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ وَّاِنۡ كُنَّا لَمُبۡتَلِيۡنَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ

(نښې) دي او بېشکه مونږ خامخا ازمېښت کوونکي يو -30- بيا

اَنۡشَاۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا

مونږه له دوی نه وروسته نور خلق

اٰخَرِيۡنَ ﴿۳۱﴾ فَاَرۡسَلۡنَا فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا

پيدا کړل -31- نو مونږ په هغو کې له همدوی څنې يو رسول ولېږه

مِّنۡهُمۡ اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَـكُمۡ مِّنۡ

چې تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه

ع
2

اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَ قَالَ الْمَلَاُ

غير بل هېڅ حق معبود نشته، ايا نو تاسو نه
وېرېږئ! -32- او وويل د ده له

مِنْ قَوْمِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا

قومه هغو مشرانو چې كافر شوي وو او د اخرت د
ملاقات يې تكذيب كړى و

بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَ اَتْرَفْنٰهُمْ فِي

او مونږ هغوى ته په دنيايي ژوند كې خوشحالي

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ

وركړې وه: نه دى دا مگر ستاسو په شان بشر، له
هغه څه

مِّثْلُكُمْ ۙ يَاْكُلُ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ وَ

نه دا خوراك كوي له څه نه چې تاسو خوراك
كوئ او

يَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ

له هغه څه نه څښاك كوي چې تاسو ترې څښاك كوئ -33- او (قسم دى)

اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ اِنَّكُمْ اِذًا

خامخا كه تاسو د خپل ځان په شان انسان اطاعت وكړئ، (نو) بېشكه چې تاسو به په دغه وخت كې

لَّخٰسِرُوْنَ ﴿٣٤﴾ اَيَعِدُكُمْ اَنَّكُمْ اِذَا

يقينًا تاوانيان يئ -34- ايا دا تاسو ته وعده دركوي دا چې بېشكه كله چې

مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ

تاسو مړه شئ او تاسو خاورې او هډوكي شئ (، نو) يقينًا به تاسو ژوندي

مُّخْرَجُوْنَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا

راوبښكل شئ؟ -35- (له عقله) ډېر لرې دى، ډېر لرې دى هغه څيز چې له تاسو

تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾ اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا

سره یې وعده کولی شي -36- نه دی دا (ژوندون) مگر همدا زمونږ دنیایي ژوندون،

نَمُوتُ وَ نَحْيَا وَ مَا نَحْنُ

چې مرو او ژوندي کېږو او له سره به مونږ بیا

بِمَبْعُوثِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلُ اِفْتَرٰى

راژوندي نه کړی شو -37- دی نه دی مگر (یو داسې) سړی چې

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا وَّ مَا نَحْنُ لَهٗ

په الله باندې یې دروغ ورتپلي دي او مونږ په ده باندې بېخي

بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا

ایمان راوړونکي نه یو -38- هغه (نبي) وویل: ای زما ربه! ته زما مدد وکړه، په سبب د دې چې دوی

كَذَّبُوْنِ ۝٣٩ قَالَ عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ

زه دروغجن وګڼلم -39- (الله) وويل: له ډېر لږ وخت نه پس به دوی خامخا

نٰدِمِيْنَ ۝٤٠ۚ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ

لازمًا پښېمانه شي -40- نو دوی یوې چغې په حقه سره ونيول،

بِالْحَقِّ فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءًۚ فَبُعْدًا

بيا نو مونږه دوی د سيلاب خس وخشاك کړل، نو د ظالم قوم لپاره (د الله له رحمت نه)

لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝٤١ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ

لرې والی دی -41- بيا مونږ له دوی نه بعد

بَعْدِهِمْ قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ۝٤٢ؕ مَا تَسْبِقُ

نور قومونه (خلق) پيدا کړل -42- هيڅ يو امت د خپلې مقررې

مِنۡ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَ مَا

نېټې نه نه ړومبی کېدی شي او نه

يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ ﴿۴۳﴾ ثُمَّ اَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا

وروسته کېدی شي -43- بيا مونږ خپل (نور) رسولان ولېږل،

تَتۡرَا ؕ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوۡلُهَا كَذَّبُوۡهُ

په دې حال کې چې يو په بل پسې پيوست وو، هر کله چې به کوم امت ته خپل رسول راغی (نو)

فَاَتۡبَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ بَعۡضًا وَّ جَعَلۡنٰهُمۡ

هغوی به د هغه تکذيب وکړ، نو مونږ به د دوی ځينې د ځينو نورو پسې (په هلاکت کې) پرله پسې

اَحَادِيۡثَ ۚ فَبُعۡدًا لِّقَوۡمٍ لَّا

کړل او مونږ دوی تشې قصې وگرځول، نو (د الله له رحمت نه) لرې والی دی د هغه قوم لپاره چې

يُؤْمِنُوْنَ ﴿٤٤﴾ ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ

ایمان نه راوړي -44- بیا مونږ موسٰی او د هغه ورور

هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٤٥﴾ اِلٰى

هارون ولیږل په خپلو ایتونو (معجزو) او ښکاره دلیل سره -45-

فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا

فرعون او د هغه ډلې ته، نو هغوی ډېره لویي وکړه او هغوی

قَوْمًا عَالِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ

یو متکبر قوم وو -46- نو هغوی ویل: ایا مونږ به د خپل ځان

لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا

په شان په دوه انسانانو باندې ایمان راوړو؟ حال دا چې د دې دواړو قوم

عٰبِدُوْنَ ۚ﴿۴۷﴾ فَكَذَّبُوْهُمَا فَكَانُوْا مِنَ

زمونږ غلامان دي -47- نو هغوی د دې دواړو
تكذيب وكړ، نو شول له

الْمُهْلَكِيْنَ ﴿۴۸﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى

هلاك كړی شويو نه -48- او يقينًا يقينًا مونږ موسٰى
ته كتاب وركړی و، د دې لپاره

الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَجَعَلْنَا

چې دوی (بني اسرائيل) نېغه لار ومومي -49- او
مونږ د مريمې زوی

ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗۤ اٰيَةً وَّاٰوَيْنٰهُمَاۤ اِلٰى

او د هغه مور (د خپل قدرت) لويه نښه گرځولې
وه، او مونږه دوی دواړه داسې هسكې (او نرمې

رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَّمَعِيْنٍ ﴿۵۰﴾ۧ يٰۤاَيُّهَا

ځمكې ته راوستل چې د قرار او پاكو (خربې
صافو بهېدونكو اوبو والا وه -50- ای رسولانو!

ع 3

الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَ اعْمَلُوْا

تاسو له پاکيزه ښيزونو څخه خورئ او نيك عملونه کوئ،

صَالِحًا ؕ اِنِّیْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِیْمٌ ؕ﴿۵۱﴾ وَ

بېشکه زه په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ، ښه عالم يم -51- او

اِنَّ هٰذِهٖۤ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّ اَنَا

بېشکه دا ستاسو دين دی، په داسې حال کې چې يو دين دی او زه ستاسو رب يم،

رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ ﴿۵۲﴾ فَتَقَطَّعُوْۤا اَمْرَهُمْ

نو تاسو له ما نه وېرېږئ -52- نو دوی (امتيانو) خپل (د دين) کار په

بَیْنَهُمْ زُبُرًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَیْهِمْ

خپل مينځ کې ټوټې ټوټې پرې کړ، هر يو حزب (ډله) په هغه (باطل دين) باندې چې له دوی سره

فَرِحُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَذَرْهُمْ فِيْ غَمْرَتِهِمْ حَتّٰى

دی، ډېر خوشحال دي -53- نو ته دوی تر یو
وخته پورې په خپلې

حِيْنٍ ﴿٥٤﴾ اَيَحْسَبُوْنَ اَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهٖ

گمراهۍ کې پرېږده -54- ايا دوی گمان کوي چې
بېشکه له مال او زامنو څخه چې په څه سره

مِنْ مَّالٍ وَّ بَنِيْنَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي

مونږ د دوی مدد کوو -55- چې مونږ دوی ته په
ښېگڼو (او اکرامونو)

الْخَيْرٰتِ ؕ بَلْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿٥٦﴾ اِنَّ

کې تلوار کوو؟ بلکې دوی نه پوهېږي -56- بېشکه

الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ

هغه کسان چې دوی د خپل رب (د عذاب) له ډاره

مُّشۡفِقُوۡنَ ﴿۵۷﴾ۙ وَ الَّذِیۡنَ هُمۡ بِاٰیٰتِ

وېرېدونکي دي -57- او هغه کسان چې دوی د خپل رب په

رَبِّهِمۡ یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۸﴾ۙ وَ الَّذِیۡنَ هُمۡ

ایتونو ایمان راوړي -58- او هغه کسان چې دوی له

بِرَبِّهِمۡ لَا یُشۡرِكُوۡنَ ﴿۵۹﴾ۙ وَ الَّذِیۡنَ

خپل رب سره شرك نه كوي -59- او هغه کسان

یُؤۡتُوۡنَ مَاۤ اٰتَوۡا وَّ قُلُوۡبُهُمۡ وَجِلَةٌ اَنَّهُمۡ

چې ورکوي، هغه څه چې ورکوي، او زړونه د دوی وېرېدونکي وي (ځکه چې) یقینًا

اِلٰی رَبِّهِمۡ رٰجِعُوۡنَ ﴿۶۰﴾ۙ اُولٰٓئِكَ

دوی خپل رب ته واپس ورتلونکي دي -60- دغه کسان

يُسٰرِعُوْنَ فِى الْخَيْرٰتِ وَ هُمْ لَهَا

په نېکيو کې تلوار کوي او دوی دغو (نېکيو) ته

سٰبِقُوْنَ ﴿٦١﴾ وَ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا

رومبی کېدونکي دي -61- مونږ هېڅ يو نفس نه مکلف کوو مګر

وُسْعَهَا وَ لَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ بِالْحَقِّ وَ

د هغه له طاقت سره سم او زمونږ سره کتاب دی چې حق بيانوي او په دوی به

هُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٦٢﴾ بَلْ قُلُوْبُهُمْ فِىْ

هېڅ ظلم ونه کړی شي -62- بلکې د دوی (کفارو) زړونه له

غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا وَ لَهُمْ اَعْمَالٌ مِّنْ

دې (قرآن) نه په غفلت کې دي او د دوی لپاره له دې (شرك) نه علاوه نور (ناکاره) عملونه دي،

دُوْنِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عٰمِلُوْنَ ﴿٦٣﴾ حَتّٰۤى

چې دوی هغه کوونکي دي -63- تر هغه پورې

اِذَاۤ اَخَذْنَا مُتْرَفِیْهِمْ بِالْعَذَابِ اِذَا

چې کله مونږ د دوی متکبره مالداران په عذاب
سره ونیسو (، نو) ناڅاپه

هُمْ یَجْــَٔرُوْنَ ﴿٦٤﴾ؕ لَا تَجْــَٔرُوا الْیَوْمَ ۫ قف

دوی (بیا) فریاد کوي -64- نن ورځ فریاد مه
کوئ،

اِنَّكُمْ مِّنَّا لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَدْ كَانَتْ

بېشکه تاسو سره به زمونږ له جانبه مدد ونه کړی
شي -65- یقینًا زما

اٰیٰتِیْ تُتْلٰى عَلَیْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰۤى

ایتونه به په تاسو تلاوت کولی شول، نو تاسو به په

اَعْقَابِكُمْ

خپلو پوندو

تَنْكِصُوْنَ ﴿٦٦﴾ مُسْتَكْبِرِيْنَ ۖ بِهٖ سٰمِرًا

بېرته گرځېدئ -66- په دې حال کې چې کبر
کوونکي به وئ په دې (قرآن، محمد یا کعبې)

تَهْجُرُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ اَمْ

سره، چې د شپې قصې کوونکي به وئ، تاسو به
(قرآن) پرېښوده -67- ایا نو دوی په دې وینا کې

جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَاْتِ اٰبَآءَهُمُ

(چې قرآن دی) فکر نه کوي، یا دوی ته هغه څه
راغلي دي چې د دوی پلرونو ته نه دي

الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾ اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ

راغلي چې له دوی نه پخوا وو -68- یا که دوی
خپل رسول نه دی پېژندلی،

فَهُمۡ لَهٗ مُنۡكِرُوۡنَ ﴿٦٩﴾ اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ بِهٖ

پس دوی له ده نه منکران دي -69- ایا دوی وایي

جِنَّةٌ ؕ بَلۡ جَآءَهُمۡ بِالۡحَقِّ وَ

چې په ده لېونتوب دی، (داسې نه ده) بلکې هغه دوی ته حق (دین) راوړی دی او

اَكۡثَرُهُمۡ لِلۡحَقِّ كٰرِهُوۡنَ ﴿٧٠﴾ وَلَوِ

د دوی زیاتره حق لره بدګڼونکي دي -70- او که

اتَّبَعَ الۡحَقُّ اَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ

حق (الله) د دوی د خواهشاتو پیروي کړې وی (، نو) خامخا به تباه شوي وو

السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ وَمَنۡ فِيۡهِنَّ ؕ بَلۡ

اسمانونه او ځمکه او هغه څوك چې په دغو کې دي، بلکې

اٰتَيۡنٰهُمۡ بِذِكۡرِهِمۡ فَهُمۡ عَنۡ

مونږ دوی ته د دوی ذکر راوړ، نو دوی له خپل

ذِكۡرِهِمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۷۱﴾ اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ

ذکر نه مخ اړوونکي دي -71- ایا ته له دوی نه

خَرۡجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيۡرٌ ۖ وَّهُوَ خَيۡرُ

مزدوري غواړې؟ نو د خپل رب مزدوري ډېره

غوره ده او هغه ترټولو غوره

الرّٰزِقِيۡنَ ﴿۷۲﴾ وَاِنَّكَ لَتَدۡعُوۡهُمۡ اِلٰى

رزق ورکوونکی دی -72- او بېشکه ته یقینًا دوی

صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۷۳﴾ وَاِنَّ الَّذِيۡنَ لَا

الربع

نېغې لارې ته بلې -73- او بېشکه هغه کسان چې

په

يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ

اخرت ایمان نه راوړي له سمې لارې نه

لَنٰكِبُوۡنَ ﴿۷۴﴾ وَلَوۡ رَحِمۡنٰهُمۡ وَكَشَفۡنَا

خامخا کاږه دي -74- او که مونږ په دوی مهرباني

کړې وی او هغه تکلیف مو لرې کړی وی چې په

مَا بِهِمۡ مِّنۡ ضُرٍّ لَّلَجُّوۡا فِىۡ طُغۡيَانِهِمۡ

دوی دی (، نو) خامخا به دوی په خپله سرکشۍ

کې راتینګ شوي وو، په دې حال

يَعۡمَهُوۡنَ ﴿۷۵﴾ وَلَقَدۡ اَخَذۡنٰهُمۡ

کې چې سرګردان به وو -75- او یقینًا یقینًا مونږ

دوی په

بِالۡعَذَابِ فَمَا اسۡتَكَانُوۡا لِرَبِّهِمۡ وَمَا

عذاب سره ونیول، نو (بیا هم) دوی نه خپل رب ته

غاړه کېښوده او نه یې

يَتَضَرَّعُوْنَ ۝٧٦ حَتّٰۤى اِذَا فَتَحْنَا

تضرع او زاري وكړه -76- تر دې چې كله مونږ په

عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ

دوی باندې د ډېر سخت عذاب والا دروازه

پرانستله ناڅاپه دوی

ع 4

فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ۝٧٧ وَهُوَ الَّذِيْۤ اَنْشَاَ

په هغه كې نا اميده وو -77- او دغه (الله) هماغه

ذات دی

لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ

چې تاسو لپاره يې غوږونه او سترګې او زړونه

پيدا كړل،

قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝٧٨ وَهُوَ الَّذِيْ

تاسو ډېر لږ شكر وباسئ -78- او دی هماغه ذات

دی

ذَرَاَكُمۡ فِى الۡاَرۡضِ وَاِلَيۡهِ

چې تاسو يې په ځمکه کې خواره کړي يئ او
خاص د هغه په طرف به تاسو

تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۷۹﴾ وَهُوَ الَّذِىۡ يُحۡىٖ وَيُمِيۡتُ

ورجمع کولی شئ -79- او د غه (الله) هغه ذات
دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي

وَلَهُ اخۡتِلَافُ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ‌ؕ اَفَلَا

او خاص د همده په اختيار کې دی د شپې او
ورځې اختلاف (بدلېدل رابدلېدل) ايا نو تاسو له

تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۸۰﴾ بَلۡ قَالُوۡا مِثۡلَ مَا قَالَ

عقل نه کار نه اخلئ! -80- بلکې وايي دوی په
شان د هغې وينا چې

الۡاَوَّلُوۡنَ ﴿۸۱﴾ قَالُوۡۤا ءَاِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا

پخوانيو (کافرو) ويلې وه -81- هغوی ويل: ايا کله
چې مونږ مړه شو او

تُرَابًا وَّ عِظَامًا ءَاِنَّا

خاورې او هډوكي شو، ايا مونږ به په

لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ﴿۸۲﴾ لَقَدۡ وُعِدۡنَا نَحۡنُ وَ

رښتيا يقينًا بيا راژوندي كولى شو -82- (بلكې نه
كيږو ځكه چې) يقينًا يقينًا مونږ ته او

اٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنۡ قَبۡلُ اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّاۤ

زمونږ پلرونو ته دا وعده له دې نه مخكې (هم)
راكړى شوې وه، نه دي دا خبرې مگر

اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۸۳﴾ قُلۡ لِّمَنِ

د ړومبنو خلقو باطلې قصې دي -83- ته (دوى ته)
ووايه: دا

الۡاَرۡضُ وَ مَنۡ فِيۡهَاۤ اِنۡ كُنۡتُمۡ

ځمكه او څوك چې په دې كې دي، د چا دي؟ كه
چېرې

تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا

تاسو پوهېږئ -84- دوی به يقينًا ووايي: خاص د
الله لپاره دي، (نو ورته) ووايه: ايا نو

تَذَكَّرُوْنَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ

تاسو نصيحت نه اخلئ! -85- ته (دوی ته) ووايه:
د

السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ

اوو اسمانونو او د ډېر لوی عرش

الْعَظِيْمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا

رب څوك دی؟ -86- دوی به ضرور ووايي: د الله
لپاره دي، ته (ورته) ووايه: ايا نو تاسو

تَتَّقُوْنَ ﴿٨٧﴾ قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ

نه وېرېږئ! -87- ته (دوی ته) ووايه: څوك دی
هغه ذات چې د هغه په لاس کې د هر شي

شَیۡءٍ وَّ هُوَ یُجِیۡرُ وَ لَا یُجَارُ عَلَیۡهِ اِنۡ

بادشاهي ده او هغه پناه ورکوي او د هغه په خلاف پناه نشي ورکول کېدی که

کُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۸﴾ سَیَقُوۡلُوۡنَ لِلّٰهِ ؕ قُلۡ

چېرې تاسو پوهېږئ -88- خامخا به دوی ووايي: خاص د الله لپاره دي. ته (ورته) ووایه:

فَاَنّٰی تُسۡحَرُوۡنَ ﴿۸۹﴾ بَلۡ اَتَیۡنٰهُمۡ

نو څنګه په تاسو جادو کولی شي؟ -89- بلکې مونږ دوی ته

بِالۡحَقِّ وَ اِنَّهُمۡ لَکٰذِبُوۡنَ ﴿۹۰﴾ مَا اتَّخَذَ

حق راوړی دی او بېشکه دوی خامخا دروغجنان دي -90- الله (د ځان لپاره)

اللّٰهُ مِنۡ وَّلَدٍ وَّ مَا کَانَ مَعَهٗ مِنۡ اِلٰهٍ

هېڅ اولاد نیولی نه دی او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته (او که ورسره وی نو)

اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ وَ لَعَلَا

په دغه وخت کې به خامخا هر اله بېولي وو هغه
څه چې پيدا کړي يې وو، او خامخا

بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا

د دوی ځينو به په ځينو نورو باندې غلبه کوله،
پاك دی الله له هغو خبرو نه

يَصِفُوْنَ ۙ﴿۹۱﴾ عٰلِمِ الْغَيْبِ وَ الشَّهَادَةِ

چې دوی يې بيانوي -91- چې په غيبو او ښكاره
و عالم دی، نو ډېر اوچت دی هغه له هغو شيزونو

ع
5

فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۹۲﴾ؑ قُلْ رَّبِّ اِمَّا

نه چې دوی يې ورسره شريكوي -92- (ای نبي!)
ته ووايه: ای زما ربه! كه چېرې خامخا ته ما ته

تُرِيَنِّيْ مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ﴿۹۳﴾ رَبِّ فَلَا

هغه (عذاب) وښيې چې له دوی سره يې وعده
كولی شي -93- ای زما ربه! نو ته ما په

تَجْعَلْنِيْ فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَاِنَّا

ظالم قوم کې مه شاملوه -94- او بېشکه مونږ

عَلٰٓى اَنْ نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ

خامخا قادر یو په دې چې تا ته هغه (عذاب) وښیو چې دوی ته یې

لَقٰدِرُوْنَ ﴿٩٥﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ

مونږ وعده ورکوو -95- (ای نبي!) ته بدي دفع (لرې) کوه په هغې طریقې سره

السَّيِّئَةَ ؕ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا

چې تر ټولو ښه وي، مونږ ښه پوه یو په هغو خبرو چې

يَصِفُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ

دوی یې بیانوي -96- او ته ووایه: ای زما ربه! زه په تا پورې پناه نیسم

هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ ﴿۹۷﴾ وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ

د شيطانانو له وسوسو نه -97- او زه په تا پورې
پناه نيسم اى زما ربه! له دې نه چې

اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ﴿۹۸﴾ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ

دوى ما ته حاضر شي -98- تر هغه پورې چې په
دوى كې

اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ

يو كس ته مرگ راشي (، نو بيا) به وايي: اى زما
ربه!

ارْجِعُوْنِ ﴿۹۹﴾ لَعَلِّيْۤ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا

ته ما بېرته وگرځوه -99- د دې لپاره چې زه نېك
عمل وكړم په هغه

تَرَكْتُ كَلَّا ؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ وَ

څيز كې چې ما (هلته په دنيا كې) پرېښى دى،
هېڅ كله هم نشي كېدى، بېشكه دا (بېرته تلل) يوه

مِنْ وَّرَآىِٕهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ

خبره ده چې دا د هغې ويونكى دى او د دوى په مخ كې برزخ دى تر هغې ورځې پورې چې دوى

يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِى الصُّوْرِ فَلَآ

به بيا ژوندي راپورته كولى شي -100- نوكله چې په شپېلۍ كې پوكى وكړى شي، نو نه به

اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَىِٕذٍ وَّلَا

وي د دوى په مينځ كې هېڅ (فايده مند) نسبونه په دغې ورځ كې او نه به دوى له

يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ

يو بل نه پوښتنه كوي -101- نو هغه څوك چې، د هغه تلې درنې شوې،

فَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَمَنْ

نو همدغه خلق كامياب دي -102- او هغه څوك چې،

خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓىِٕكَ الَّذِيْنَ

د هغه تلې سپکې شوې، نو دغه هغه کسان دي چې

خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فِيْ جَهَنَّمَ

خپلو ځانونو ته يې تاوان رسولی دی، په دوزخ کې

خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ وَ

به تل پراته وي -103- اور به د دوی مخونه سوځوي او دوی به په دغه (جهنم)

هُمْ فِيْهَا كٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ

کې بدمخي غونج تندي وي -104- ايا زما ايتونه

تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا

به تاسو ته نه لوستل کېدل، نو تاسو به د هغو

تُكَذِّبُوۡنَ ﴿۱۰۵﴾ قَالُوۡا رَبَّنَا غَلَبَتۡ عَلَيۡنَا

تکذیب کاوه -105- دوی به ووايي: ای زمونږه ربه! پر مونږ باندې زمونږ

شِقۡوَتُنَا وَكُنَّا قَوۡمًا ضَآلِّيۡنَ ﴿۱۰۶﴾ رَبَّنَآ

بدبختي غالبه شوې وه او مونږ گمراه قوم وو -106- ای زمونږ ربه!

اَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا فَاِنۡ عُدۡنَا فَاِنَّا

مونږ له دې (جهنم) نه وباسه، نو که مونږ بیا (کفر ته) راوگرځېدو، نو بیا یقینًا

ظٰلِمُوۡنَ ﴿۱۰۷﴾ قَالَ اخۡسَـُٔوۡا فِيۡهَا وَلَا

مونږ ظالمان یو -107- وبه فرمايي: ذلیله خوار پراته اوسئ په ده کې او زما سره

تُكَلِّمُوۡنِ ﴿۱۰۸﴾ اِنَّهٗ كَانَ فَرِيۡقٌ مِّنۡ

خبرې مه کوئ -108- بیشکه شان دا دی چې زما

عِبَادِیْ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَاۤ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ

په بنده ګانو کې يوه ډله وه چې ويل به يې: ای زمونږ ربه! مونږ ايمان راوړی دی، نو ته مونږ ته

لَنَا وَ ارْحَمْنَا وَ اَنْتَ خَیْرُ

بخښنه وکړه او پر مونږ رحم وکړه او ته تر ټولو ډېر غوره

الرّٰحِمِیْنَ ۱۰۹ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِیًّا

رحم کوونکی يې -109- نو تاسو به هغوی مسخره کړی شوي نيول،

حَتّٰۤی اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِیْ وَ كُنْتُمْ

تر دې چې دوی له تاسو نه زما ياد (هم) هېر کړ او تاسو

مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ۱۱۰ اِنِّیْ جَزَیْتُهُمُ

به پر هغوی پورې خندل -110- بېشکه زه چې يم،

اَلْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْٓا ۙ اَنَّهُمْ هُمُ

ما نن ورځ هغوی ته بدله ورکړه، په سبب د هغه
چې هغوی صبر کړی و، بېشکه هم

الْفَآئِزُوْنَ ﴿١١١﴾ قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي

هغوی کامیاب دي -111- وبه وایي: تاسو په
ځمکه کې د کلونو په

الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ ﴿١١٢﴾ قَالُوْا لَبِثْنَا

شمېر څومره وخت تېر کړی دی؟ -112- هغوی
به ووایي: مونږ وخت تېر کړی دی

يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ

یوه ورځ، یا د ورځې څه حصه، نو له حسابگرو

الْعَآدِّيْنَ ﴿١١٣﴾ قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا

نه تپوس وکړه -113- وبه فرمایي: تاسو وخت نه
دی تېر کړی مگر (د اخرت د عذاب په مقابله

لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ

كې) ډېر لږ، كه چېرې په رښتیا

تَعْلَمُوْنَ ﴿١١٤﴾ اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا

تاسو یئ چې پوهېږئ -114- ایا نو تاسو ګمان كوئ چې بېشكه

خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا

مونږ تاسو بس عبث پیدا كړي یئ او دا چې بېشكه تاسو به مونږ ته نه

تُرْجَعُوْنَ ﴿١١٥﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ

راوستل كېږئ -115- نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی،

الْحَقُّ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ

نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك

الْكَرِيْمِ ﴿١١٦﴾ وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا

عرش رب دی -116- او هغه څوك چې له الله
سره بل داسې اله بللي

اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ

چې له هغه سره په دې باندې هیڅ دلیل نشته، نو
بېشکه همدا خبره ده چې د ده حساب

عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ

د ده د رب په نیز دی، بېشکه شان دا دی چې

الْكٰفِرُوْنَ ﴿١١٧﴾ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ

کافران بری نه مومي -117- او ته ووایه: ای زما
ربه! بخښنه وکړه او رحم وکړه

ع
6

وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿١١٨﴾

او ته ترټولو ډېر غوره رحم کوونکی یې -118-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

سُوۡرَةٌ اَنۡزَلۡنٰهَا وَ فَرَضۡنٰهَا وَ اَنۡزَلۡنَا

(دا) يو سورت دی چې مونږ دا نازل کړی دی او مونږ دا فرض کړی دی

فِیۡهَاۤ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ لَّعَلَّکُمۡ

او مونږ په ده کې ښکاره ايتونه نازل کړي دي، د دې لپاره چې

تَذَکَّرُوۡنَ ۝۱ اَلزَّانِیَةُ وَ الزَّانِیۡ

تاسو نصيحت واخلئ -1- هغه ښځه چې زنا يې کړي وي او هغه سړی چې زنا يې کړي وي،

فَاجۡلِدُوۡا کُلَّ وَاحِدٍ مِّنۡهُمَا مِائَةَ

نو تاسو (ای قاضيانو او حاکمانو) په دغو دواړو کې هر يو سل دُرې ووهئ

جَلۡدَةٍ ۖ وَّلَا تَاۡخُذۡكُمۡ بِهِمَا رَاۡفَةٌ فِیۡ

او تاسو دې د الله په دين کې (په حکم نافذولو کې)

دِیۡنِ اللّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَ

په دغو باندې زړه سوى ونه نيسي، که يئ تاسو چې په الله او

الۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ۚ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا

په ورځ د اخرت ايمان لرئ او د دې دواړو سزا ته

طَآئِفَةٌ مِّنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝٢ اَلزَّانِیۡ لَا

دې د مومنانو يوه ډله حاضره وي -2- زنا کار سړى

يَنۡكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوۡ مُشۡرِكَةً ۫ وَّ

نکاح نه کوي مګر له زناکارې، يا مشرکې ښځې سره او

اَلزَّانِيَةُ لَا يَنۡكِحُهَاۤ اِلَّا زَانٍ اَوۡ

زناكاره ښځه، له هغې سره نكاح نه كوي مګر زنا كار،

مُشۡرِكٌ‌ ۚ وَحُرِّمَ ذٰ لِكَ عَلَى

يا مشرك سړى او په مومنانو باندې دغه (زنا او د زنا كارو سره نكاح)

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝٣ وَالَّذِيۡنَ يَرۡمُوۡنَ

حرام كړى شوي دي -3- او هغه كسان چې په

الۡمُحۡصَنٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَاۡتُوۡا بِاَرۡبَعَةِ

پاكدامنو ښځو تهمت لګوي، بيا څلور

شُهَدَآءَ فَاجۡلِدُوۡهُمۡ ثَمٰنِيۡنَ جَلۡدَةً وَّ

ګواهان رانه ولي، نو تاسو دوى اتيا دُرې ووهئ او

لَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ۚ وَ

هېڅکله هم د دوی ګواهي مه قبلوئ او

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝٤ اِلَّا الَّذِيْنَ

همدغه کسان فاسقان دي -4- مګر هغه کسان

تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۚ فَاِنَّ

چې له دې نه بعد توبه وباسي او (د ځان) اصلاح وکړي، نو بېشکه الله ډېر بخښونکی،

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٥ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ

بې حده رحم کوونکی دی -5- او هغه کسان چې په

اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ

خپلو ښځو تهمت ولګوي او له خپلو ځانونو نه

اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ

غير نور د دوی لپاره څوك گواهان نه وي، نو د دوی د يو گواهي څلور

شَهٰدٰتٍ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ

ځلې د الله په نامه شاهدي کول دي چې بېشکه دا خامخا له

الصّٰدِقِيْنَ ۝٦ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ لَعْنَتَ

رښتينو څخه دی -6- او پنځمه (گواهي) دا چې بېشکه په ده دې د

اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٧ وَ

الله لعنت وي که دا له دروغجنو څنې وي -7- او

يَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ

له هغې نه سزا دفع کوي دا چې هغه (ښځه) څلور

شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٨ وَ

ځلې د الله په نامه شاهدي ورکړي چې بېشکه دغه (سړی) خامخا له دروغجنو ځنې دی -8- او

الْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ

پنځمه (ګواهي) دا چې بېشکه د الله غضب دې په دې وي که دا (سړی په دې تهمت لګولو کې)

كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝٩ وَلَوْ لَا فَضْلُ

له رښتیا ویونکو ځنې وي -9- او که پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وی او دا

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ

چې بېشکه الله ډېر توبه قبلوونکی، ښه حکمت والا دی (نو تاسو به په دنیا کې معذب شوي وی)

ع 7

حَكِيْمٌ ۝١٠ ۧ اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ

-10- بېشکه هغه کسان چې غټ دروغ يې راوړي دي،

عُصۡبَةٌ مِّنۡكُمۡ ؕ لَا تَحۡسَبُوۡهُ شَرًّا

له هم تاسو نه یوه ډله ده، په دې (دروغو) د ځان لپاره د شر ګمان مه کوئ

لَّكُمۡ ؕ بَلۡ هُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ ؕ لِكُلِّ امۡرِیٍٴ

بلکې دا تاسو لپاره خیر دی، په دغو (بهتان ویونکو) کې د هر یو سړي

مِّنۡهُمۡ مَّا اكۡتَسَبَ مِنَ الۡاِثۡمِ ۚ وَ

لپاره هغه شی دی چې هغه ګټلی دی له ګناه نه او

الَّذِىۡ تَوَلّٰى كِبۡرَهٗ مِنۡهُمۡ لَهٗ عَذَابٌ

هغه کس چې د دغو (دروغو) لوی بار یې پورته کړی دی په دوی کې د ده لپاره ډېر

عَظِيۡمٌ ﴿۱۱﴾ لَوۡلَاۤ اِذۡ سَمِعۡتُمُوۡهُ ظَنَّ

لوی عذاب دی -11- کله چې تاسو دا (دروغ) واورېدل،

الۡمُؤۡمِنُوۡنَ وَ الۡمُؤۡمِنٰتُ بِاَنۡفُسِهِمۡ

نو ولې مومنو سړيو او مومنو ښځو په خپلو ځانونو باندې

خَيۡرًا ۙ وَّ قَالُوۡا هٰذَاۤ اِفۡكٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۲﴾ لَوۡ

د خير گمان ونه کړ او دا يې ونه ويل چې دا ښکاره دروغ دي -12- ولې يې

لَا جَآءُوۡ عَلَيۡهِ بِاَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَاِذۡ

په دې (دروغو) باندې څلور گواهان رانه وستل، نو کله

لَمۡ يَاۡتُوۡا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓـئِكَ عِنۡدَ

چې يې څلور گواهان رانه وستل، نو همدغه کسان د

اللّٰهِ هُمُ الۡكٰذِبُوۡنَ ﴿۱۳﴾ وَلَوۡ لَا فَضۡلُ

الله په نيز دروغجن دي -13- او که چېرې پر تاسو باندې د

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهٗ فِي الدُّنْيَا وَ

الله فضل او د هغه رحمت نه وی په دنیا او

الْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ

اخرت كې (، نو) خامخا به تاسو ته د هغو (دروغو) په سبب چې تاسو په هغه كې غوپه شوي

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۚ ﴿۱۴﴾ اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ

وئ؛ ډېر لوی عذاب دررسېدلی و -14- كله چې تاسو دا (بهتان) په

بِاَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا

خپلو ژبو سره اخیستو او تاسو به په خپلو خولو سره هغه

لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ وَّتَحْسَبُوْنَهٗ

خبرې كولې چې تاسو ته د هغې هېڅ علم نه و او تاسو به دا خبره اسانه گڼله،

هَيِّنًاۖ وَّ هُوَ عِنۡدَ اللّٰهِ عَظِيۡمٌ ﴿۱۵﴾ وَلَوۡ

حال دا چې هغه د الله په نیز ډېره لویه وه -15- او
کله چې تاسو

لَاۤ اِذۡ سَمِعۡتُمُوۡهُ قُلۡتُمۡ مَّا يَكُوۡنُ لَنَاۤ

دا (بهتان) واوريده (، نو) ولې تاسو ونه ويلې:
مونږ ته جايز نه دي چې په دې

اَنۡ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَاۖ سُبۡحٰنَكَ هٰذَا

خبره باندې خوله وخوځوو، تا لره پاکي ده (اى
ربه!)

بُهۡتَانٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۶﴾ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنۡ

دا ډېر لوى بهتان دى -16- تاسو ته الله نصيحت
كوي چې

تَعُوۡدُوۡا لِمِثۡلِهٖۤ اَبَدًا اِنۡ كُنۡتُمۡ

تاسو د دې په مثل كار ته هيڅكله هم ونه ګرځئ
كه

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٧﴾ وَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ

تاسو مومنان يئ -17- او الله تاسو ته خپل

الْاٰيٰتِ ؕ وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٨﴾ اِنَّ

ايتونه بيانوي او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی
-18- بېشکه

الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ

هغه کسان چې خوښوي چې په مومنانو کې
فاحشه (بدنامي) خوره شي،

فِي الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۙ

د دوی لپاره په دنیا او اخرت کې ډېر

فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ؕ وَ اللّٰهُ يَعْلَمُ وَ

دردوونکی عذاب دی، او الله پوهېږي او

اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ

تاسو نه پوهېږئ -19- او که پر تاسو باندې د الله فضل او د

عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ

هغه رحمت نه وی او دا چې بېشکه الله ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی (نو په دنيا

رَّحِيْمٌ ﴿۲۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا

کې به ډېر رسوا شوي وی) -20- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی!

ع 8

النصف

تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ وَمَنْ

تاسو د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ او چا چې

يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ

د شيطان د قدمونو پيروي وکړه، نو بېشکه دا (شيطان) د بې حيايۍ

بِالْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَوْ لَا فَضْلُ

او ناروا كارونو امر كوي او كه پر تاسو باندې د
الله فضل

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ

او د هغه رحمت نه وى (نو) په تاسو كې هيڅوك
هيڅكله هم (د بهتان له ګناه نه)

مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّىْ مَنْ

پاك شوى نه وى او ليكن الله پاكوي چا لره چې
وغواړي

يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢١﴾ وَلَا

او الله ښه اوريدونكى، ښه عالم دى -21- او په
تاسو

يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ

كې دې د فضيلت او فراخۍ خاوندان له دې قسم

اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِى الْقُرْبٰى وَ الْمَسٰكِيْنَ وَ

نه خوري چې نه به ورکوي (نفقه) خپلوانو او
مسکینانو او

الْمُهٰجِرِيْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ وَ لْيَعْفُوْا

د الله په لار کې هجرت کوونکو ته او دوی دې
معافي وکړي

وَ لْيَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ

او تېر دې شي، ایا تاسو دا نه خوښوئ چې الله
تاسو ته بخښنه وکړي

اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲﴾ اِنَّ

او الله ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی -
22- بېشکه

الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ

هغه کسان چې په پاك لمنو، ناخبره مومنو ښځو
باندې

الۡمُؤۡمِنٰتِ لُعِنُوۡا فِى الدُّنۡيَا وَ

تهمت لگوي په دوى باندې په دنيا او

الۡاٰخِرَةِ ۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ

اخرت كې لعنت كړى شوى دى او د دوى لپاره

عَظِيۡمٌ ۙ‏ ﴿۲۳﴾ يَّوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ

لوى عذاب دى -23- په هغې ورځ چې په دوى باندې به

اَلۡسِنَتُهُمۡ وَاَيۡدِيۡهِمۡ وَاَرۡجُلُهُمۡ بِمَا

خپلې ژبې او خپل لاسونه او خپلې پښې گواهي كوي (د دوى) په هغو

كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ‏ ﴿۲۴﴾ يَوۡمَئِذٍ يُّوَفِّيۡهِمُ اللّٰهُ

عملونو چې دوى به كول -24- په دغې ورځ كې به الله دوى ته د دوى حقه (لايقه)

دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ

بدله پوره ورکړي او دوی به پوه شي چې بېشکه
الله، هم هغه

الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ۝٢٥ اَلْخَبِيْثٰتُ

ښکاره (او ثابت) حق دی -25- ناپاکې ښځې د

لِلْخَبِيْثِيْنَ وَ الْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ

ناپاکو سړيو لپاره دي او ناپاك سړي د ناپاکو ښځو
لپاره دي

وَ الطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَ الطَّيِّبُوْنَ

او پاکې ښځې د پاکو سړيو لپاره دي او پاك سړي

لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا

د پاکو ښځو لپاره دي، دغه (پاکان خلق) پاك او
بري دي

ع
9

يَقُوۡلُوۡنَ ؕ لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ وَّ رِزۡقٌ

له هغو خبرو نه چې دوی (دروغجن) يې وايي او
د دغو (پاکو خلقو) لپاره مغفرت او

كَرِيۡمٌ ﴿٢٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا

عزتناکه روزي ده -26- ای هغو کسانو چې ایمان
يې راوړی دی

تَدۡخُلُوۡا بُيُوۡتًا غَيۡرَ بُيُوۡتِكُمۡ حَتّٰى

تاسو له خپلو کورونو نه غیر نورو کورونو ته مه
داخلیږئ، تر دې چې

تَسۡتَاۡنِسُوۡا وَ تُسَلِّمُوۡا عَلٰٓى اَهۡلِهَا ؕ

تاسو اجازه وغواړئ او د هغو په اوسېدونکو سلام
واچوئ۔

ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ

دا تاسو لپاره ډېر غوره دي، د دې لپاره چې تاسو

تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فِيْهَاۤ

نصيحت ومنئ -27- نو كه تاسو په دې (كورونو) كې

اَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوْهَا حَتّٰى يُؤْذَنَ

څوك ونه مومئ، نو تاسو هغو ته مه ننوځئ، تر دې چې تاسو ته اجازت دركړى شي

لَكُمْ ۚ وَاِنْ قِيْلَ لَكُمُ ارْجِعُوْا

او كه تاسو ته وويل شي چې بېرته وګرځئ، نو تاسو بېرته وګرځئ،

فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا

دا تاسو لپاره ډېر پاكيزه دي او الله په هغو كارونو چې

تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿٢٨﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ

تاسو يې كوئ؛ ښه عالم دى -28- پر تاسو باندې هيڅ

جُنَاحٌ اَنۡ تَدۡخُلُوۡا بُيُوۡتًا غَيۡرَ

گناه نشته چې تاسو داسې کورونو ته داخل شئ چې د

مَسۡكُوۡنَةٍ فِيۡهَا مَتَاعٌ لَّكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ

اوسېدني نه دي (او) په هغو کې ستاسو څه سامان (منفعت) وي او الله پوهېږي په هغه څه

يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُوۡنَ وَمَا تَكۡتُمُوۡنَ ﴿۲۹﴾ قُلۡ

چې تاسو يې څرګندوئ او هغه چې تاسو يې پټوئ -29- ته مومنانو

لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ يَغُضُّوۡا مِنۡ اَبۡصَارِهِمۡ وَ

ته ووايه چې خپلې سترګې دې (له نامحرمو نه) ټيټې ساتي او

يَحۡفَظُوۡا فُرُوۡجَهُمۡ ؕ ذٰلِكَ اَزۡكٰى لَهُمۡ ؕ

د خپلو فرجونو (شرم ځايونو) ساتنه دې کوي، دا د دوی لپاره ډېر پاکيزه دي،

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۞٣٠ وَ قُلْ

بېشکه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې
دوی يې کوي -30- او ته مومنو

لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَ

ښځو ته ووايه چې خپلې سترګې دې ټيټې ساتي او

يَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ

د خپلو شرم ځايونو حفاظت دې کوي او خپل

زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَ

زينت دې نه ښکاره کوي مګر هغه چې له دې
(زينت) نه (عادتًا) ظاهرېږي، او

لْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ص وَ

په خپلو ګرېوانونو دې پړوني واچوي او

لَا يُبۡدِيۡنَ زِيۡنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوۡلَتِهِنَّ اَوۡ

دوی دې خپل زينت نه څرګندوي مګر د خپلو خاوندانو لپاره يا د

اٰبَآٮِٕهِنَّ اَوۡ اٰبَآءِ بُعُوۡلَتِهِنَّ اَوۡ

خپلو پلرونو يا د خپلو خاوندانو د پلرونو لپاره

اَبۡنَآٮِٕهِنَّ اَوۡ اَبۡنَآءِ بُعُوۡلَتِهِنَّ اَوۡ

يا د خپلو زامنو لپاره يا د خپل خاوند د زامنو لپاره

اِخۡوَانِهِنَّ اَوۡ بَنِىۡۤ اِخۡوَانِهِنَّ اَوۡ بَنِىۡۤ

يا د خپلو ورونو لپاره يا د خپلو وربرونو لپاره يا د

اَخَوٰتِهِنَّ اَوۡ نِسَآٮِٕهِنَّ اَوۡ مَا مَلَـكَتۡ

خپلو خورينو لپاره يا د خپلو ښځو لپاره يا هغه چا ته چي د دوی

اَيۡمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِيۡنَ غَيۡرِ اُولِى

ښځې لاسونه يې مالکان شوي دي، يا هغو تابعانو ته
چې ښځو ته له

الۡاِرۡبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفۡلِ

حاجت والاوو نه وي له سړيو نه، يا هغو وړو
هلکانو (ماشومانو)

الَّذِيۡنَ لَمۡ يَظۡهَرُوۡا عَلٰى عَوۡرٰتِ

ته چې د ښځو په اسرارو او پټو خبرو واقف شوي
نه وي۔

النِّسَآءِ‌ۖ وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِاَرۡجُلِهِنَّ

او دا (ښځې) دې خپلې پښې نه وهي، د دې لپاره

لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِيۡنَ مِنۡ زِيۡنَتِهِنَّ‌ؕ وَ

چې معلوم کړى شي هغه څه چې دوى يې له خپل
زينت څخه پټوي او

تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ

تاسو ټول الله ته توبه وباسئ اى مومنانو! د دې

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٣١﴾ وَاَنْكِحُوا

لپاره چې تاسو كامياب شئ -31- او په تاسو كې د

الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ مِنْ

بې واده خلقو (ښځې وي او كه سړي) نكاح كوئ، او

عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ ۭ اِنْ يَّكُوْنُوْا

په خپلو مريانو او وينځو كې د نېكانو صالحو (هم نكاح كوئ) كه چېرې (دغه ذكر شوي خلق)

فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۭ وَ

فقيران وي (نو) الله به دوى له خپله فضله غنيان كړي او

اللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ

الله د فراخۍ والا، ښه عالم دى -32- او هغه

الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ نِكَاحًا حَتّٰى

كسان دي خپل ځان (او عفت) وساتي چې
(اسباب د) نكاح نه مومي تر هغه

يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ط وَالَّذِيْنَ

پورې چې الله دوى له خپله فضله غنيان كړي او
ستاسو په

يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ

مريانو وينځو كې چې څوك مكاتب والى غواړي،
نو تاسو له

اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ

هغوى سره مكاتبت وكړئ كه تاسو په دوى كې
څه خير معلوم كړئ

فِيْهِمْ خَيْرًا ۖ وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ

او تاسو دوی ته د الله له هغه مال نه ورکړئ چې تاسو

الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ۭ وَلَا تُكْرِهُوْا

ته يې درکړی دی او تاسو خپلې وينځې په زنا مه مجبوروئ،

فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَاۗءِ اِنْ اَرَدْنَ

که دوی د ځان پاك ساتلو اراده لري، د دې لپاره

تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ الْحَيٰوةِ

چې تاسو د دنيايي ژوند سامان (او مال) طلب کړئ او څوك چې

الدُّنْيَا ۭ وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ

دوی مجبورې کړي، نو بېشکه الله (چې دی) په

مِنۡۢ بَعۡدِ اِكۡرَاهِهِنَّ غَفُوۡرٌ

دوی باندې د (مالکانو له) زور نه پس ډېر بخښونکی،

رَّحِيۡمٌ ۝٣٣ وَلَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكُمۡ اٰيٰتٍ

بې حده مهربان دی -33- او یقینًا یقینًا مونږ تاسو ته ښکاره ونکي ایتونه

مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا مِّنَ الَّذِيۡنَ خَلَوۡا مِنۡ

نازل کړي دي او حال د هغو کسانو چې له تاسو نه

قَبۡلِكُمۡ وَمَوۡعِظَةً لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ۝٣٤ اَللّٰهُ

مخکې تېر شوي دي او نصیحت لپاره د متقیانو -34- الله

ع 10

نُوۡرُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ مَثَلُ نُوۡرِهٖ

د اسمانونو او ځمکې نور دی، د هغه د نور صفت داسې دی

كَمِشْكٰوةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ؕ اَلْمِصْبَاحُ

لکه يوه طاقچه ده چې په هغې کې بله ډيوه ده، بله ډيوه

فِيْ زُجَاجَةٍ ؕ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ

په شيشې (قنديل) کې ده، دغه قنديل (داسې دی)

دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ

گوياکې هغه روڼ ځلېدونکی ستوری دی، د زيتون له مبارکې ونې

زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ

نه بلولی شي چې (دغه ونه) نه مشرق طرف ته وي او نه مغرب طرف ته، نږدې ده چې

زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ

د هغې تېل (پخپله) رڼا وکړي اگر چې دغو ته اور هم نه وي رسېدلی، رڼا

نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ

له پاسه رڼا، الله د خپل نور په طرف هغه چا ته
لار ښيي

يَّشَآءُؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ

چې يې وغواړي او الله د خلقو لپاره مثالونه
بيانوي،

لِلنَّاسِؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ۙ۝۳۵ فِىْ

او الله په هر شي باندې ښه پوه دی -35- په هغو

بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ

کورونو (جوماتونو) کې چې الله حکم کړی دی
چې پورته دې کړل شي او په دغو کې دې د ده

فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَ

نوم يادوه شي او په دغو (جوماتونو) کې د هغه
پاکي بيانوي، د ورځې په شروع کې او

الۡاٰصَالِ ﴿۳۶﴾ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلۡهِيۡهِمۡ تِجَارَةٌ

د ورځې په اخر کې -36- (داسې) سړي چې د

وَّلَا بَيۡعٌ عَنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ

الله له ذکر او لمونځ قايمولو او د زکات اداکولو

الصَّلٰوةِ وَاِيۡتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ يَخَافُوۡنَ

نه يې نه تجارت غافله کوي او نه اخيستل

خرڅول، دوی له

يَوۡمًا تَتَقَلَّبُ فِيۡهِ الۡقُلُوۡبُ وَ

هغې ورځې نه ويرېږي چې په هغې کې به زړونه

او

الۡاَبۡصَارُ ﴿۳۷﴾ لِيَجۡزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحۡسَنَ مَا

سترګې اوړي راوړي -37- د دې لپاره چې الله

دوی ته بدله ورکړي ډېره ښکلې بدله

عَمِلُوْا وَ يَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَ اللّٰهُ

د هغو عملونو چې دوی کړي دي او دوی ته له خپل فضله اضافه وکړي او الله

يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۸﴾ وَ

چا ته چې وغواړي، بې له حسابه رزق ورکوي - 38- او

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ

هغه کسان چې کافران شوي دي، د هغوی عملونه د سراب (شګې ګل)

بِقِيْعَةٍ يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً ؕ حَتّٰٓى

په شان دي چې په هوار ډاګ کې دي، تږی په هغه

اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَّ وَجَدَ اللّٰهَ

باندې د اوبو ګمان کوي، تر دې چې کله ده ته راشي، نو دغه هېڅ شی ونه مومي او په خپلې خوا

عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ سَرِیْعُ

کې الله ومومي، نو هغه به ده ته د ده حساب پوره ورکړي، او الله ډېر ژر

الْحِسَابِ ﴿٣٩﴾ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِیْ بَحْرٍ لُّجِّیٍّ

حساب والا دی -39- یا (د دوی عملونه) د هغو تیارو په

یَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ

شان دي چې په ژور سمندر کې دي، چې دغه (سمندر) یو موج (چپې) پټ کړی وي،

فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ

د هغه له پاسه بل موج (چپه) وي (بیا) د هغه له پاسه وربځ وي، تیاري دي

بَعْضٍ ؕ اِذَاۤ اَخْرَجَ یَدَهٗ لَمْ یَكَدْ

چې د دوی ځینې د ځینو نورو له پاسه دي، کله چې دی خپل لاس راوباسي (، نو)

يَرٰىهَا ؕ وَ مَنۡ لَّمۡ يَجۡعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوۡرًا

نژدې نه دي چې دغه ووينې او هر هغه څوك چې الله ده ته رڼا ورنه كړي،

ع 11

فَمَا لَهٗ مِنۡ نُّوۡرٍ ﴿۴۰﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ

نو د هغه لپاره هېڅ رڼا نشته -40- ايا ته نه وينې چې بېشكه الله چې دى،

يُسَبِّحُ لَهٗ مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

د هغه لپاره پاكي بيانوي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمكه كې دي۔

وَالطَّيۡرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ كُلٌّ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَهٗ

او مرغان هم (تسبيح وايي)، په داسې حال كې چې د خپلو وزرو خواره كوونكي وي،

وَتَسۡبِيۡحَهٗ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ بِمَا

هر يو (چې دى) يقينًا هغه (الله) د هغه په لمونځ او د هغه په تسبيح عالم دى، او الله ښه عالم دى په

يَفۡعَلُوۡنَ ﴿٤١﴾ وَلِلّٰهِ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَ

هغو كارونو چې دوى يې كوي -41- او خاص د
الله لپاره ده د اسمانونو او

الۡاَرۡضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الۡمَصِيۡرُ ﴿٤٢﴾ اَلَمۡ تَرَ

ځمكې بادشاهي، او خاص الله ته بېرته ورتله دي
-42- ايا تا نه دي

اَنَّ اللّٰهَ يُزۡجِىۡ سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيۡنَهٗ

كتلي چې بېشكه الله وريځې روانوي، بيا هغه په
خپل منځ كې

ثُمَّ يَجۡعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الۡوَدۡقَ

يو ځاى كوي، بيا هغه لاندې باندې قط په قط
كوي،

يَخۡرُجُ مِنۡ خِلٰلِهٖ ۚ وَيُنَزِّلُ مِنَ

بيا ته باران وينې چې د دې له مينځه راوځي او د

السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْۢ بَرَدٍ

اسمان له جانبه (د وريځو) غرونه راكوزوي چې په هغو كې

فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَيَصْرِفُهٗ عَنْ

ځينې ږلۍ وي، نو هغه رسوي هغه چا ته چې يې وغواړي او اړوي يې له هغه چا نه

مَّنْ يَّشَآءُ ؕ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ

چې يې وغواړي، نژدې وي چې د هغو د بريښنا پړق (چمك)

بِالْاَبْصَارِ ۝٤٣ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَ

نظرونه ختم كړي -43- الله شپه او

النَّهَارَ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي

ورځ اړوي را اړوي بېشكه په دغو كې د سترګو خاوندانو ته

الۡاَبۡصَارِ ﴿۴۴﴾ وَ اللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنۡ

لوی عبرت دی -44- او په څمکه گرځېدونکی هر حيوان الله له

مَّآءٍ ۚ فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّمۡشِىۡ عَلٰى بَطۡنِهٖ ۚ وَ

اوبو څخه پيدا کړی دی، نو په دوی کې ځيني هغه دي چې په خپلې خېټې تگ کوي او

مِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّمۡشِىۡ عَلٰى رِجۡلَيۡنِ ۚ وَ

په دوی کې ځېني هغه دي چې په دوه پښو تگ کوي او

مِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّمۡشِىۡ عَلٰٓى اَرۡبَعٍ ؕ يَخۡلُقُ

په دوی کې ځيني هغه دي چې په څلورو گرځي،

اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

الله چې څه وغواړي پيدا کوي يې، بېشکه الله په هر شي

قَدِیۡرٌ ﴿۴۵﴾ لَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ اٰیٰتٍ مُّبَیِّنٰتٍ ؕ وَ

باندې ښه قادر دی -45- یقینًا یقینًا مونږه
بیانوونکي ایتونه نازل کړي دي او

اللّٰهُ یَهۡدِیۡ مَنۡ یَّشَآءُ اِلٰی صِرَاطٍ

الله چې چا ته وغواړي، نېغې لارې ته يې

مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۴۶﴾ وَ یَقُوۡلُوۡنَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ

هدايت کوي -46- او دوی وايي: مونږ په الله
باندې او

بِالرَّسُوۡلِ وَ اَطَعۡنَا ثُمَّ یَتَوَلّٰی فَرِیۡقٌ

په رسول باندې ايمان راوړی دی او مونږ اطاعت
کړی دی،

مِّنۡهُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ ؕ وَ مَاۤ اُولٰٓئِكَ

بيا په دوی کې يوه ډله له دې نه پس مخ گرځوي۔
او دغه خلق

بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَ

له سره مومنان نه دي -47- او كله چې دوى الله
او

رَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اِذَا فَرِيْقٌ

د هغه رسول ته راوبلل شي، د دې لپاره چې هغه د
دوى په مينځ كې فيصله وكړي، ناڅاپه، په دوى

مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ

كې يوه ډله مخ ګرځوونكې وي -48- او كه حق د
دوى لپاره وي

الْحَقُّ يَاْتُوْٓا اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ ﴿٤٩﴾ اَفِيْ

(نو بيا) ده (رسول) ته راځي، چې ګړندي فرمان
منونكي دي -49- ايا د

قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْٓا اَمْ

دوى په زړونو كې مرض دى، يا دوى شك كوي،

يَخَافُوْنَ اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَ

يا دوی وېرېږي له دې نه چې الله او د

رَسُوْلُهٗ ؕ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ

هغه رسول به په دوی ظلم وکړي، بلکې همدغه خلق

الظّٰلِمُوْنَ ۠ ﴿۵۰﴾ اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ

ع 12 الثالثة

ظالمان دي -50- بېشکه د مومنانو خبره خو

اِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ

همدا وي، کله چې دوی الله او د هغه رسول ته

بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ؕ وَ

وبلل شي چې وايي: مونږ (حکم) واورېده او مونږ ومانه او

أُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٥١﴾ وَمَن يُطِعِ

همدغه خلق كامياب (خلاصى موندونكي) دي - 51- او هر څوك چې د

ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ

الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي او له الله نه وویریږي او د هغه تقویٰ اختيار کړي،

فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿٥٢﴾ وَأَقۡسَمُواْ

نو همدغه خلق برى موندونكي دي -52- او دوى په الله قسمونه

بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِنۡ أَمَرۡتَهُمۡ

وخوړل، سخت پاخه قسمونه: خامخا كه ته دوى ته (جهاد ته د وتلو) امر وكړې (نو) دوى به

لَيَخۡرُجُنَّۖ قُل لَّا تُقۡسِمُواْۖ طَاعَةٌ

خامخا ضرور وځي، ته (دوى ته) ووايه: تاسو (د دروغو) قسمونه مه خورئ،

مَّعۡرُوۡفَةٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيۡرٌۢ بِمَا

(له تاسو مطلوب) نېك طاعت دى، بېشكه الله ښه خبردار دى په هغو كارونو

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۵۳﴾ قُلۡ اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوا

چې تاسو يې كوئ -53- ته دوى ته ووايه: تاسو د الله اطاعت وكړئ او د رسول

الرَّسُوۡلَ ۚ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاِنَّمَا عَلَيۡهِ مَا

اطاعت وكړئ، نو كه دوى مخ واړوي، نو بېشكه همدا خبره ده چې

حُمِّلَ وَعَلَيۡكُمۡ مَّا حُمِّلۡتُمۡ ؕ وَاِنۡ

په دغه (رسول) باندې هغه (د تبليغ) بار دى چې پرې اېښودل شوى دى او پر تاسو باندې

تُطِيۡعُوۡهُ تَهۡتَدُوۡا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوۡلِ

هغه بار دى چې په تاسو اېښودل شوى دى او كه تاسو د هغه (رسول) اطاعت وكړئ (نو) نېغه لار

اِلَّا الۡبَلٰغُ الۡمُبِيۡنُ ﴿۵۴﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ

به وموميْ، او د رسول په ذمه نشته مگر ښکاره پيغام رسول -54- الله وعده كړې د هغو كسانو

اٰمَنُوۡا مِنۡكُمۡ وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

سره چې ايمان يې راوړى دى، چې تاسو يئ او نېك عملونه يې كړي دي،

لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ كَمَا

چې خامخا هرومرو به دوى ته په ځمكه كې خلافت وركوي

اسۡتَخۡلَفَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ۖ وَ

لكه چې هغو كسانو ته يې خلافت وركړى و چې له دوى نه مخكې وو او

لَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِيۡنَهُمُ الَّذِى ارۡتَضٰى

خامخا ضرور به دوى ته د دوى هغه دين ثابت (او قوي) وګرځوي

لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ

چې هغه (الله) د دوی لپاره غوره کړې دی او
خامخا ضرور به دوی ته د دوی له وېرې نه پس

اَمْنًاؕ يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ

امن په بدل کې ورکړي، چې دوی به زما عبادت
کوي او زما سره به هېڅ شی نه شریکوي،

شَيْـًٔاؕ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ

او هر څوك چې د دغو (انعامونو) نه بعد کافر شو،
نو همدغه کسان

هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ

فاسقان دي -55- او تاسو لمونځ قایموئ او

اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ

زکات ادا کوئ او د رسول اطاعت کوئ،

لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ﴿۵۶﴾ لَا تَحۡسَبَنَّ

د دي لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي -56- ته له سره ګمان مه کوه په

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مُعۡجِزِيۡنَ فِى الۡاَرۡضِ‌ۚ

هغو کسانو چې کافران شوي دي چې په ځمکه کې (دوی مونږ لره)

وَمَاۡوٰٮهُمُ النَّارُ‌ؕ وَلَبِئۡسَ

عاجزه کوونکي دي. او د دوی استوګنه اور دی، او هغه خامخا

ع 13

الۡمَصِيۡرُ ﴿۵۷﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

د ورتلو بد ځای دی -57- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

لِيَسۡتَاۡذِنۡكُمُ الَّذِيۡنَ مَلَكَتۡ

له تاسو نه دې هغه کسان چې تاسو یې مالکان یئ

اَيۡمَانُكُمۡ وَ الَّذِيۡنَ لَمۡ يَبۡلُغُوا

او هغه كسان چې له تاسو (ازادو) نه بلوغ

الۡحُلُمَ مِنۡكُمۡ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ؕ مِنۡ قَبۡلِ

ته نه دي رسېدلي، درې ځلې دې اجازت غواړي

صَلٰوةِ الۡفَجۡرِ وَ حِيۡنَ تَضَعُوۡنَ

له سبا د لمانځه نه مخکې او کله چې

ثِيَابَكُمۡ مِّنَ الظَّهِيۡرَةِ وَ مِنۡۢ بَعۡدِ

تاسو په غرمه کې جامې وباسئ او د

صَلٰوةِ الۡعِشَآءِ ۛؕ ثَلٰثُ عَوۡرٰتٍ لَّكُمۡ ؕ

ماسختن له لمانځه نه پس۔، تاسو لپاره درې د

لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ وَلَا عَلَيۡهِمۡ جُنَاحٌۢ

پردې وختونه دي، د دغو (وختونو) نه غير نه په تاسو گناه شته

بَعۡدَهُنَّ ؕ طَوّٰفُوۡنَ عَلَيۡكُمۡ بَعۡضُكُمۡ

او نه پر هغوی باندې، (دوی) ډېر گرځېدونکي دي پر تاسو باندې،

عَلٰى بَعۡضٍ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ

ستاسو ځينې په ځينو نورو باندې، همداسې الله تاسو ته

الۡاٰيٰتِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿۵۸﴾ وَاِذَا

ايتونه بيانوي، او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی -58- او کله چې

بَلَغَ الۡاَطۡفَالُ مِنۡكُمُ الۡحُلُمَ

ستاسو (ازاد) ماشومان بلوغ ته ورسېږي، نو دوی دې

فَلۡيَسۡتَاۡذِنُوۡا كَمَا اسۡتَاۡذَنَ الَّذِيۡنَ

اجازت غواړي، لکه چې هغه کسان اجازت غواړي چې

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ‌ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَـكُمۡ

له دوی نه مخکې (بالغ شوي) دي، همداسې الله تاسو ته

اٰيٰتِهٖ‌ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ۝۵۹ وَ

خپل ايتونه بيانوي، او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی -59- او

الۡقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ الّٰتِىۡ لَا

ډېرې زړې (له حيض او اولاد نه) ناستې ښځې هغه چې

يَرۡجُوۡنَ نِكَاحًا فَلَيۡسَ عَلَيۡهِنَّ جُنَاحٌ

(د بوډاوالي په وجه) د نکاح امېد نه لري، نو پر هغوی باندې څه ګناه نشته

اَنۡ يَّضَعۡنَ ثِيَابَهُنَّ غَيۡرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ

چې خپلې جامې کېږدي، په داسې حال کې چې د

بِزِيۡنَةٍ‌ؕ وَاَنۡ يَّسۡتَعۡفِفۡنَ خَيۡرٌ لَّهُنَّ‌ؕ

زينت ښکاره کوونکې نه وي، او دا چې دوی (له

دې نه هم) ځان وساتي، د دوی لپاره ډېره غوره

وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ۞٦٠ لَيۡسَ عَلَى

دي، او الله ښه اورېدونکی، ښه عالم دی -60- په

الۡاَعۡمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡاَعۡرَجِ

ړانده باندې حرج نشته او نه په ګوډ

حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡمَرِيۡضِ حَرَجٌ وَّلَا

حرج (مشقت) شته او نه په ناروغه حرج شته او

نه

عَلٰۤى اَنۡفُسِكُمۡ اَنۡ تَاۡكُلُوۡا مِنۡۢ بُيُوۡتِكُمۡ

ستاسو په خپلو ځانونو باندې (حرج شته) چې
تاسو له خپلو کورونو نه خوراك وکړئ،

اَوۡ بُيُوۡتِ اٰبَآٮِٕكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ اُمَّهٰتِكُمۡ

يا د خپلو پلرونو له کورونو نه، يا د خپلو ميندو له
کورونو نه،

اَوۡ بُيُوۡتِ اِخۡوَانِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ

يا د خپلو وروڼو له کورونو نه، يا د خپلو

اَخَوٰتِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ اَعۡمَامِكُمۡ اَوۡ

خويندو له کورونو نه، يا د خپلو ترونو له کورونو
نه، يا د

بُيُوۡتِ عَمّٰتِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ اَخۡوَالِكُمۡ اَوۡ

خپلو پلرنۍ تروريانو له کورونو نه يا د خپلو
ماماګانو له کورونو نه،

بُيُوۡتِ خٰلٰتِكُمۡ اَوۡ مَا مَلَكۡتُمۡ

یا د خپلو مورنۍ ترورېانو له کورونو نه، یا له هغو (کورونو) نه چې تاسو د هغو د

مَّفَاتِحَهٗۤ اَوۡ صَدِيۡقِكُمۡ ؕ لَيۡسَ

چابیو اختیارمن شئ، یا د خپلو دوستانو (له کورونو) نهـ، په

عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ اَنۡ تَاۡكُلُوۡا جَمِيۡعًا اَوۡ

تاسو هېڅ ګناه نشته چې تاسو یو ځای خوراك وکړئ، یا

اَشۡتَاتًا ؕ فَاِذَا دَخَلۡتُمۡ بُيُوۡتًا فَسَلِّمُوۡا

بېل بېل، نو کله چې تاسو کورونو ته ننوځئ، نو په

عَلٰٓى اَنۡفُسِكُمۡ تَحِيَّةً مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ

خپلو ځانونو سلام اچوئ، (دا) د الله له جانبه

مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ

مبارکه پاکيزه تحفه ده، همداسې الله تاسو ته ايتونه بيانوي،

ع 14

لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝٦١ ۧ اِنَّمَا

د دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ -61- بېشکه هم

الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ

دا خبره ده چې مومنان خو هغه کسان دي چې په الله او

رَسُوْلِهٖ وَ اِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰۤى اَمْرٍ

د هغه په رسول يې ايمان راوړی دی- او کله چې دوی له هغه (رسول) سره په کوم جمع کوونکي

جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ

کار (لکه، جمعه، جهاد، يا جرگه) وي، (نو پخپل سر) نه ځي، تر هغه پورې چې له هغه نه اجازت

اِنَّ الَّذِيۡنَ يَسۡتَاۡذِنُوۡنَكَ اُولٰٓٮِٕكَ

وغواړي، بېشکه هغه کسان چې له تا نه اجازت غواړي، دغه

الَّذِيۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ‌ ۚ فَاِذَا

کسان دي چې په الله او د هغه په رسول ایمان لري، نو کله چې

اسۡتَاۡذَنُوۡكَ لِبَعۡضِ شَاۡنِهِمۡ فَاۡذَنۡ

دوی له تا نه د خپلو ځینو کارونو لپاره اجازت وغواړي، نو په دوی

لِّمَنۡ شِئۡتَ مِنۡهُمۡ وَاسۡتَغۡفِرۡ لَهُمُ

کې چې چا ته وغواړې اجازت ورکړه او د دوی لپاره له الله نه بخښنه وغواړه.

اللّٰهَ‌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۶۲﴾ لَا

بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی - 62- تاسو

تَجۡعَلُوۡا دُعَآءَ الرَّسُوۡلِ بَيۡنَكُمۡ

په خپل مينځ کې د رسول بلنه داسې مه ګرځوئ

كَدُعَآءِ بَعۡضِكُمۡ بَعۡضًا ؕ قَدۡ يَعۡلَمُ

لکه ستاسو د ځينو بلنه ځينو نورو ته.، يقينًا الله

اللّٰهُ الَّذِيۡنَ يَتَسَلَّلُوۡنَ مِنۡكُمۡ لِوَاذًا ۚ

هغه کسان پېژني چې له تاسو نه کشېږي (يو يو، دوه دوه، پټ دباندې وځي)، په داسې حال کې

فَلۡيَحۡذَرِ الَّذِيۡنَ يُخَالِفُوۡنَ عَنۡ

چې يو له بله ځان سره پناه کوي، نو هغه کسان دې ووېرېږي چې د هغه (رسول) له حکم نه

اَمۡرِهٖۤ اَنۡ تُصِيۡبَهُمۡ فِتۡنَةٌ اَوۡ يُصِيۡبَهُمۡ

مخالفت کوي، له دې نه چې دوی ته څه افت ورسېږي، يا دوی ته

عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿٦٣﴾ اَلَاۤ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي

ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي -63- خبردار شئ! بېشکه خاص د الله لپاره دي هر

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ قَدۡ يَعۡلَمُ مَاۤ

هغه څه دي چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، يقينًا هغه عالم دی په هغه حال چې

اَنۡتُمۡ عَلَيۡهِ ؕ وَيَوۡمَ يُرۡجَعُوۡنَ اِلَيۡهِ

تاسو په هغه يئ او په هغې ورځ (هم) چې تاسو به هغه ته بېرته بېول کېږئ،

فَيُنَبِّئُهُمۡ بِمَا عَمِلُوۡا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ

نو هغه به دوی په هغو عملونو خبر کړي چې دوی کړي دي، او الله په هر شي

ع
15

شَىۡءٍ عَلِيۡمٌ ﴿٦٤﴾

باندې ښه عالم دی -64-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

تَبٰرَكَ الَّذِىۡ نَزَّلَ الۡفُرۡقَانَ عَلٰى

ډېر بركتناك دى هغه ذات چې په خپل بنده يې فرقان (قرآن) نازل كړى دى،

عَبۡدِهٖ لِيَكُوۡنَ لِلۡعٰلَمِيۡنَ

د دې لپاره چې دى د خلقو لپاره

نَذِيۡرَا ۙ ۝١ الَّذِىۡ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَ

وېروونكى شي -1- هغه ذات چې خاص د هغه لپاره د اسمانونو او

الۡاَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدًا وَّلَمۡ يَكُنۡ

ځمكې بادشاهي ده او هيڅ اولاد يې نه دى نيولى او د

لَّهٗ شَرِيْكٌ فِى الْمُلْكِ وَ خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ

ده لپاره په بادشاهۍ کې هېڅ شريك نشته، او هر
شی يې پيدا کړی دی، نو هغه يې

فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا ۝۲ وَ اتَّخَذُوْا مِنْ

په اندازه کړی دی، اندازه کول -2- او دوی
(کفارو) له

دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّ هُمْ

هغه نه غير نور داسې معبودان نيولي دي چې هېڅ
شی نشي پيدا کولی،

يُخْلَقُوْنَ وَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ

په داسې حال کې چې دوی پيدا کاوه شي او دوی
د خپلو ځانونو

ضَرًّا وَّ لَا نَفْعًا وَّ لَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَّ لَا

لپاره نه د ضرر مالکان دي او نه د نفعې او نه د
مرگ اختيار لري او نه

حَيٰوةً وَّلَا نُشُوۡرًا ۝٣ وَقَالَ الَّذِيۡنَ

د ژوند او نه د بيا ژوندي كولو -3- او كافران شويو خلقو وويل:

كَفَرُوۡۤا اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّاۤ اِفۡكُ ۨافۡتَرٰىهُ وَ

نه دى دا مگر دروغ چې ده، له ځانه جوړ كړى دى او

اَعَانَهٗ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ اٰخَرُوۡنَ ۛۚ فَقَدۡ

په ده باندې نورو خلقو د ده مرسته كړې ده۔، نو يقينًا دغو (كفارو)

جَآءُوۡ ظُلۡمًا وَّزُوۡرًا ۝٤ ۛۚ وَقَالُوۡۤا اَسَاطِيۡرُ

وكړ لوى ظلم او دروغ -4- او دوى وويل: (دا) د ړومبنيو

الۡاَوَّلِيۡنَ اكۡتَتَبَهَا فَهِىَ تُمۡلٰى عَلَيۡهِ

خلقو باطلې قصې دي چې ده په چا ليكلي دي، نو هغه ده ته

بُكۡرَةً وَّاَصِيۡلًا ۝۵ قُلۡ اَنۡزَلَهُ الَّذِىۡ

سبا او بېګاه لوستلى شي -5- ته (دوى ته) ووايه:
دا (قرآن) هغه ذات نازل کړی دی

يَعۡلَمُ السِّرَّ فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ

چې عالم دی په هر پټ څيز باندې چې په اسمانونو
او ځمکه کې دی،

اِنَّهٗ كَانَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ۝۶ وَقَالُوۡا مَالِ

بېشکه هغه ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی
دی -6- او دوی وايي:

هٰذَا الرَّسُوۡلِ يَاۡكُلُ الطَّعَامَ وَيَمۡشِىۡ

دې رسول ته څه دي چې طعام خوري او په

فِى الۡاَسۡوَاقِ ؕ لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡهِ مَلَكٌ

بازارونو کې ګرځي، ده ته ملايك ولې نه نازلاوه
شي،

فَيَكُوۡنَ مَعَهٗ نَذِيۡرًا ۙ﴿۷﴾ اَوۡ يُلۡقٰٓى اِلَيۡهِ

بیا چې له ده سره دغه (ملایك) وېرووونکي شي -7- یا ده ته خزانه ولې

كَنۡزٌ اَوۡ تَكُوۡنُ لَهٗ جَنَّةٌ يَّاۡكُلُ مِنۡهَا ؕ وَ

نه غورځولی کېږي، یا ولې د ده لپاره داسې باغ نه کېږي چې دا له هغه نه خوراك کوي؟ او

قَالَ الظّٰلِمُوۡنَ اِنۡ تَتَّبِعُوۡنَ اِلَّا رَجُلًا

ظالمانو وویل: تاسو پیروي نه کوئ مګر د داسې سړي چې

مَّسۡحُوۡرًا ﴿۸﴾ اُنۡظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُوۡا لَكَ

سحر (جادو) پرې شوی دی -8- ته وګوره! دوی تا لپاره څنګه

الۡاَمۡثَالَ فَضَلُّوۡا فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ

مثالونه بیانوي، نو ګمراه شول، نو دوی د (حقې) لارې (د موندلو)

ع
16

سَبِيْلًا ۝۹ تَبٰرَكَ الَّذِیْۤ اِنْ شَآءَ جَعَلَ

هیڅ طاقت نه لري -9- ډېر برکتناك دى هغه ذات چې كه وغواړي تا

لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ

لپاره به د دغو (خزانو) نه غوره وگرځوي (يعنې داسې) باغونه چې د

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ وَ يَجْعَلْ لَّكَ

هغو له لاندې ولې بهېږي او تا لپاره به بنگلې

قُصُوْرًا ۝۱۰ بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ ۚ وَ

جوړې كړي -10- بلكې دوى د قيامت تكذيب وكړ او

اَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ

مونږ د هغه چا لپاره چې د قيامت تكذيب كوي؛

سَعِيۡرًا ۚ﴿۱۱﴾ اِذَا رَاَتۡهُمۡ مِّنۡ مَّكَانٍۭ بَعِيۡدٍ

لمبې وهونکی اور تیار کړی دی -11- کله چې هغه (اور) دوی لره له ډېر لرې ځای نه ووینې، نو

سَمِعُوۡا لَهَا تَغَيُّظًا وَّ زَفِيۡرًا ﴿۱۲﴾ وَاِذَاۤ

دوی به د هغه خوټکېدل او غورېدل واوري -12- او کله چې

اُلۡقُوۡا مِنۡهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيۡنَ

دوی په دغه (دوزخ) کې په تنګ ځای کې وغورځول شي، په داسې حال کې چې له یو بل

دَعَوۡا هُنَالِكَ ثُبُوۡرًا ؕ﴿۱۳﴾ لَا تَدۡعُوا

سره به په ځنځیرونو تړل شوي وي (، نو) دوی به په دغه ځای کې مرګ ته چغې وهي -13- نن ورځ

الۡيَوۡمَ ثُبُوۡرًا وَّاحِدًا وَّ ادۡعُوۡا ثُبُوۡرًا

تاسو یو هلاکت (مرګ) ته چغې مه وهئ او (بلکې) تاسو ډېرو

كَثِيۡرًا ﴿۱۴﴾ قُلۡ اَذٰلِكَ خَيۡرٌ اَمۡ جَنَّةُ

هلاکتونو ته چغې ووهئ -14- ته (دوی ته) ووايه: دغه (خير) غوره دی، يا که هغه

الۡخُلۡدِ الَّتِىۡ وُعِدَ الۡمُتَّقُوۡنَ ؕ كَانَتۡ

د همېشه والي جنت چې متقيانو (پرهېزگارو) ته يې وعده ورکړې شوې ده؟ دغه به د

لَهُمۡ جَزَآءً وَّمَصِيۡرًا ﴿۱۵﴾ لَهُمۡ فِيۡهَا مَا

دوی لپاره بدله او د ورتلو ځای وي -15- د دوی لپاره به په هغه کې

يَشَآءُوۡنَ خٰلِدِيۡنَ ؕ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ

هغه څه وي چې دوی يې غواړي، په داسې حال کې چې دوی به په کې تل وي، دا ستا د رب په

وَعۡدًا مَّسۡـُٔوۡلًا ﴿۱۶﴾ وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ وَ

ذمه غوښتل شوې وعده ده -16- او (ياده کړه) هغه ورځ چې هغه (الله) به راجمع کړي دوی او

مَا يَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ فَيَقُوۡلُ

هغه څه چې دوى به يې له الله نه غير عبادت كاوه، نو وبه وايي:

ءَاَنۡتُمۡ اَضۡلَلۡتُمۡ عِبَادِىۡ هٰٓؤُلَآءِ اَمۡ

ايا تاسو زما دغه بنده گان گمراه كړي وو، يا دوى

هُمۡ ضَلُّوا السَّبِيۡلَ ؕ﴿۱۷﴾ قَالُوۡا سُبۡحٰنَكَ

پخپله (حقه) لاره وركه كړې وه؟ -17- دغه (معبودان) به ووايي: تالره پاكي ده،

مَا كَانَ يَنۡۢبَغِىۡ لَنَاۤ اَنۡ نَّتَّخِذَ مِنۡ

مونږ ته جايز نه ده چې مونږ له تا نه

دُوۡنِكَ مِنۡ اَوۡلِيَآءَ وَ لٰـكِنۡ مَّتَّعۡتَهُمۡ وَ

غير دوستان ونيسو او لېكن تا دوى ته او د دوى پلرونو ته فايده (او ښه زندگي) وركړې وه،

اٰبَآءَهُمْ حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوْا

تر دې چې دوی ذکر (نصیحت) هېر کړ او دوی

قَوْمًا بُوْرًا ﴿۱۸﴾ فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ بِمَا

هلاکېدونکی قوم و -18- نو یقینًا (ای مشرکانو!) دوی تاسو دروغجن کړئ

تَقُوْلُوْنَ ۙ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ صَرْفًا وَّلَا

په هغې خبره کې چې تاسو ویله، نو تاسو نه د (عذاب د) ګرځولو طاقت لرئ او نه

نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ

د مدد کولو، او په تاسو کې هر هغه څوك چې ظلم وکړي! مونږ به هغه ته ډېر

عَذَابًا كَبِيْرًا ﴿۱۹﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ

لوی عذاب وڅکوو -19- او له تا نه مخکې مونږ

مِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ اِلَّاۤ اِنَّهُمۡ لَيَاۡكُلُوۡنَ

رسولان نه دي لیږلي مګر چې یقینًا هغوی به

الطَّعَامَ وَيَمۡشُوۡنَ فِى الۡاَسۡوَاقِ ؕ وَ

خامخا طعام خواړه، او په بازارونو کې ګرځېدل او

جَعَلۡنَا بَعۡضَكُمۡ لِبَعۡضٍ فِتۡنَةً ؕ

مونږه ستاسو ځینې د ځینو نورو لپاره ازمېښت
ګرځولي دي (چې)

ع
17

اَتَصۡبِرُوۡنَ‌ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيۡرًا ۚ ﴿۲۰﴾

ایا تاسو صبر کوئ (که نه؟) او ستا رب له ازله ښه
لیدونکی دی -20-

وَ قَالَ الَّذِيۡنَ لَا يَرۡجُوۡنَ لِقَآءَنَا لَوۡ لَآ

او وویل هغو کسانو چې زمونږ د ملاقات امید نه لري:

اُنۡزِلَ عَلَيۡنَا الۡمَلٰٓـئِكَةُ اَوۡ نَرٰى رَبَّنَا ؕ

پر مونږ باندې ملایك ولې نه نازلولی شي، یا (ولې) مونږ خپل رب نه وینو،

لَقَدِ اسۡتَكۡبَرُوۡا فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ وَ عَتَوۡ

یقینًا یقینًا دوی په خپلو نفسونو کې کبر وکړ، او له حده تېر شول، له حد نه

عُتُوًّا كَبِيۡرًا ۝٢١ يَوۡمَ يَرَوۡنَ الۡمَلٰٓـئِكَةَ

ډېر لوی تېرېدل -21- (یاده کړه) هغه ورځ چې دوی به ملایك ویني،

لَا بُشۡرٰى يَوۡمَـئِذٍ لِّلۡمُجۡرِمِيۡنَ وَ

په دغې ورځ کې به د مجرمانو لپاره هېڅ زېری (خوشالي) نه وي او

يَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿٢٢﴾ وَقَدِمْنَآ

وايي به (ملايك چې جنت) بند دی، ممنوع دی -
22- او دوی چې

اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ

څه عمل هم کړی دی هغه ته به مونږ ورسو، نو
هغه به خور

هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿٢٣﴾ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

کړی شوی ګرد وګرځوو -23- جنتيان به په دغې

يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ

ورځ کې د استوګنې په لحاظ غوره او د ارام ځای
په

مَقِيْلًا ﴿٢٤﴾ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ

لحاظ ډېر ښه وي -24- او (ياده کړه) هغه ورځ
چې په وريځو سره به اسمان

بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ

تيوتې تيوتې شي او ملايك به نازل کړی

تَنْزِيْلًا ﴿٢٥﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ ِالْحَقُّ

شي (پرله پسې) نازلول -25- حقيقي بادشاهي به
په دغې ورځ کې

لِلرَّحْمٰنِ ؕ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ

د رحمن لپاره وي، او وي به دغه په کافرانو ډېره

عَسِيْرًا ﴿٢٦﴾ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى

سخته ورځ -26- او (ياده کړه) هغه ورځ چې ظالم
به په

يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِى اتَّخَذْتُ مَعَ

خپلو دواړو لاسونو خوله لګوي، په داسې حال
کې چې وايي به: ای کاشکې!

الرَّسُوۡلِ سَبِيۡلًا ﴿۲۷﴾ يٰوَيۡلَتٰى لَيۡتَنِىۡ لَمۡ

ما له رسول سره (نېغه) لار نيولې وی -27- ای زما هلاکته! کاشکې ما فلانکی

اَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيۡلًا ﴿۲۸﴾ لَقَدۡ اَضَلَّنِىۡ

سړی دوست نه وی جوړ کړی -28- يقينًا يقينًا هغه زه له

عَنِ الذِّكۡرِ بَعۡدَ اِذۡ جَآءَنِىۡ‌ؕ وَكَانَ

ذکر (قرآن) نه گمراه کړم، کله چې هغه (ذکر) ما ته راغی

الشَّيۡطٰنُ لِلۡاِنۡسَانِ خَذُوۡلًا ﴿۲۹﴾ وَقَالَ

او شيطان انسان لره بې مدده پرېښودونکی دی -29- او رسول وويل:

الرَّسُوۡلُ يٰرَبِّ اِنَّ قَوۡمِى اتَّخَذُوۡا

ای زما ربه! بېشکه زما قوم دا

هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ﴿۳۰﴾ وَ كَذٰلِكَ

قرآن متروك گرځولی دی -30- او همداسې

جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ

مونږ د هر نبي لپاره له مجرمانو څخه

الْمُجْرِمِيْنَ ؕ وَ كَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّ

دښمنان گرځولي وو او ستا رب ډېر کافي دی، سمه لار ښوونکی، او

نَصِيْرًا ﴿۳۱﴾ وَ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ لَا

ښه مدد کوونکی -31- او کافران شویو خلقو وويل: په ده باندې

نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚۛ

قرآن ټول يو کرت ولې نه نازلاوه شي؟ همداسې (لږ لږ يې نازلوو) د دې لپاره چې په ده

كَذٰلِكَ ۛ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ

سره مونږ ستا زړه مضبوط کړو او مونږ ښه په ارام لوستی دی دا (قرآن په تا باندې)

تَرْتِيْلًا ۝٣٢ وَلَا يَأْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا

په ارام لوستل -32- او دوی تا ته کوم مثال (عجیب سوال او اعتراض) نه راوړي مګر

جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ

مونږ تا ته راوړو (د هغه) حق (جواب) او تر ټولو

تَفْسِيْرًا ۝٣٣ ؕ اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى

ښه تفسیر -33- هغه کسان چې جهنم ته به په

وُجُوْهِهِمْ اِلٰى جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ

خپلو مخونو جمع کولی شي، دغه کسان د ځای په لحاظ

ع
1

مَّكَانًا وَّ اَضَلُّ سَبِيْلًا ۝٣٤ وَ لَقَدْ اٰتَيْنَا

تر ټولو بد او د لارې په لحاظ تر ټولو ګمراه دي - 34- او يقينًا يقينًا مونږ

مُوْسَى الْكِتٰبَ وَ جَعَلْنَا مَعَهٗٓ اَخَاهُ

موسٰى ته كتاب وركړى و او مونږ له هغه سره د هغه ورور

هٰرُوْنَ وَزِيْرًا ۝٣٥ فَقُلْنَا اذْهَبَآ اِلَى

هارون مددګار ګرځولى و -35- نو مونږ وويل: تاسو دواړه هغه

الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ

قوم ته لاړ شئ چې زمونږ د ايتونو تكذيب يې كړى دى، بيا مونږ هغوى (فرعونيان)

فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ۝٣٦ وَ قَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا

هلاك كړل، سخت هلاكول -36- او (مونږ هلاك كړه) د نوح قوم،

كَذَّبُوا الرُّسُلَ اَغۡرَقۡنٰهُمۡ وَ

کله چې هغوی د رسولانو تکذیب وکړ، مونږ
هغوی غرق کړل او

جَعَلۡنٰهُمۡ لِلنَّاسِ اٰيَةً ؕ وَ اَعۡتَدۡنَا

مونږه دوی د خلقو لپاره (د عبرت) نشان وګرځول
او مونږه د ظالمانو لپاره ډېر

لِلظّٰلِمِيۡنَ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۚ﴿۳۷﴾ وَّ عَادًا وَّ

دردوونکی عذاب تیار کړی دی -37- او (مونږ
هلاك کړي دي) عادیان او

ثَمُوۡدَا۠ وَ اَصۡحٰبَ الرَّسِّ وَ قُرُوۡنًۢا بَيۡنَ

ثمودیان او د کوهي والا او د دوی په مینځ کې

ذٰلِكَ كَثِيۡرًا ﴿۳۸﴾ وَ كُلًّا ضَرَبۡنَا لَهُ

ډېر زیات نور قومونه -38- او (په دوی کې) هر یو
ته، مونږ هغه

الْاَمْثَالَ ۫ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ﴿۳۹﴾ وَ

ته مثالونه بيان كړي وو او مونږ ټول هلاك كړل، بېخي هلاكول -39- او

لَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ اُمْطِرَتْ

يقينًا يقينًا دوی په هغه كلي تېر شوي دي چې په هغه باندې د

مَطَرَ السَّوْءِ ؕ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَا ۚ

بدې باران ورول شوی و، ايا نو دوی هغه نه ليده؟ بلكې دوی د

بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿۴۰﴾ وَاِذَا

بيا ژوندي پورته كېدلو اميد نه لاره -40- او كله چې

رَاَوْكَ اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا

دوی تا ووينې (، نو) دوی تا نه نيسي مگر ځای د مسخرې (او وايي:) ايا دا

الَّذِیۡ بَعَثَ اللّٰہُ رَسُوۡلًا ﴿۴۱﴾ اِنۡ کَادَ

هغه سړی دی چې الله، (په طور د) رسول رالیږلی دی؟ -41- بیشکه چې دی

لَیُضِلُّنَا عَنۡ اٰلِـهَتِنَا لَوۡ لَاۤ اَنۡ صَبَرۡنَا

نژدې و چې مونږ خامخا له خپلو معبودانو نه بې لارې کړي که

عَلَیۡهَا ؕ وَ سَوۡفَ یَعۡلَمُوۡنَ حِیۡنَ یَرَوۡنَ

مونږ په دوی ټینګ ودرېدلي نه وی۔ (الله فرمايي:) دوی به ژر پوه شي کله چې دوی عذاب

الۡعَذَابَ مَنۡ اَضَلُّ سَبِیۡلًا ﴿۴۲﴾ اَرَءَیۡتَ

ويني چې څوك له (حقې) لارې نه ډېر بې لارې دی -42- ایا ته هغه څوك ويني

مَنِ اتَّخَذَ اِلٰـهَهٗ هَوٰىهُ ؕ اَفَاَنۡتَ تَکُوۡنُ

چې خپل معبود يې خپل خواهش ګرځولی دی! ایا نو ته به په

عَلَيْهِ وَكِيْلًا ﴿٤٣﴾ اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ

ده باندې نګران يې -43- ايا ته ګمان کوې چې په

اَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُوْنَ اَوْ يَعْقِلُوْنَ ۭ اِنْ

رښتيا د دوی زياتره اوري، يا له عقل نه کار اخلي،

هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ

دوی نه دي مګر په شان د څارويو بلکې دوی د لارې په لحاظ

ع 2

سَبِيْلًا ﴿٤٤﴾ اَلَمْ تَرَ اِلٰى رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ

زيات ګمراه دي -44- ايا تا (د) خپل رب (قدرت) ته نه دي کتلي چې هغه

الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا ۚ ثُمَّ

سيوری څنګه غځولی دی او که هغه غوښتلی (نو) هغه به يې خامخا ولاړ (ساکن) ګرځولی وی،

جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ

بیا مونږ په هغه باندې لمر دلیل وګرځاوه -45- بیا مونږ

قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا قَبْضًا يَّسِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَ هُوَ

هغه خپل طرف ته راټول کړ ډیر اسان راټولول -46- او دی هماغه

الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا وَّ

ذات دی چې تاسو لپاره یې شپه لباس او

النَّوْمَ سُبَاتًا وَّ جَعَلَ النَّهَارَ

خوب (سبب د) ارام ګرځولی دی او ورځ یې د ګرځیدو

نُشُوْرًا ﴿٤٧﴾ وَ هُوَ الَّذِىْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ

وخت ګرځولې ده -47- او همدی هغه ذات دی چې هواګانې یې

بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ۚ وَاَنْزَلْنَا

له رحمت نه مخکې زېری ورکوونکې لېږلې دي او مونږ له

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُوْرًا ۟ۙ لِّنُحْیِۦَ بِهٖ

بره نه پاکوونکي اوبه نازلې کړې دي -48- د دې لپاره چې

بَلْدَةً مَّيْتًا وَّ نُسْقِيَهٗ مِمَّا خَلَقْنَآ

مونږ په دغو (اوبو) سره مړ ښار راژوندی کړو او چې دا په خاروېو او ډېر زیاتو انسانانو

اَنْعَامًا وَّ اَنَاسِیَّ كَثِیْرًا ۟ وَلَقَدْ

وڅښوو، چې زمونږ له مخلوق څخه دي -49- او یقینًا یقینًا

صَرَّفْنٰهُ بَیْنَهُمْ لِیَذَّكَّرُوْا ۖؗ فَاَبٰۤی

مونږ دا د دوی په مینځ کې په قسم قسم طریقو خورې کړې دي،

اَكۡثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوۡرًا ۞ وَلَوۡ شِئۡنَا

لپاره د دي چې دوی نصيحت واخلي، نو زياترو خلقو انكار وكړ مگر له كفر كولو نه -50- او كه

لَبَعَثۡنَا فِىۡ كُلِّ قَرۡيَةٍ نَّذِيۡرًا ۞ فَلَا

مونږ غوښتلی (، نو) مونږ به خامخا هر كلي ته يو وېرووںكی لېږلی و -51- نو ته د

تُطِعِ الۡكٰفِرِيۡنَ وَجَاهِدۡهُمۡ بِهٖ

كافرانو اطاعت مه كوه او ته له دوی سره په دې (قرآن) سره جهاد كوه،

جِهَادًا كَبِيۡرًا ۞ وَهُوَ الَّذِىۡ مَرَجَ

ډېر لوی جهاد كول -52- او دی هماغه ذات دی

الۡبَحۡرَيۡنِ هٰذَا عَذۡبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا

چې دوه دريابونه يې خوشې كړې دي (له يو بل سره جوخت) دا خوږ دی، ډېر خوږ (تنده

مِلۡحٌ اُجَاجٌ ۚ وَ جَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخًا وَّ

ماتوونكى) او د ا (بل) تريو دى، بنه تريو او د دواړو په مينځ كې يې يوه پرده او بند پيدا كړى

حِجۡرًا مَّحۡجُوۡرًا ﴿۵۳﴾ وَ هُوَ الَّذِىۡ خَلَقَ

دى چې منع كړى شوى دى -53- او دى همغه ذات دى چې له

مِنَ الۡمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّ

اوبو نه يې انسان پيدا كړى دى، بيا يې هغه (د) نسب او

صِهۡرًا ؕ وَ كَانَ رَبُّكَ قَدِيۡرًا ﴿۵۴﴾ وَ

سخرګنۍ (والا) وګرځاوه او ستا رب بنه قادر دى -54- او

يَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا

دوى له الله نه غير د هغه څه عبادت كوي چې دوى

يَنۡفَعُهُمۡ وَلَا يَضُرُّهُمۡ ؕ وَكَانَ الۡكَافِرُ

ته نه نفع رسولی شي اونه دوی ته ضرر رسولی
شي او کافر د خپل رب په مخالفت کې (د

عَلٰى رَبِّهٖ ظَهِيۡرًا ﴿۵۵﴾ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا

شيطان) مدد کوونکی دی -55- او ته مونږ نه يې
لیږلی مگر

مُبَشِّرًا وَّنَذِيۡرًا ﴿۵۶﴾ قُلۡ مَاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ

زېری ورکوونکی او وېروونکی -56- ته (دوی ته)
ووایه: زه له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې هېڅ

عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ اِلَّا مَنۡ شَآءَ اَنۡ

مزدوري (اجرت) نه غواړم خو (غواړم ایمان راوړل
د) هغه کس چې غواړي

يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيۡلًا ﴿۵۷﴾ وَتَوَكَّلۡ عَلَى

چې د خپل رب په طرف لار ونیسي -57- او ته
توکل وکړه په هغه

الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَ سَبِّحْ بِحَمْدِهِ ؕ

تل ژوندي ذات چې نه مري او ته د هغه له ستاینې سره تسبیح بیانوه

وَ كَفٰى بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ

او هم الله د خپلو بنده ګانو په ګناهونو بنه

خَبِيْرًا ۚۛ﴿۵۸﴾ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

کافي خبردار دی -58- هغه (الله) چې اسمانونه او

الْاَرْضَ وَ مَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ

ځمکه، او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي، په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي،

اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۛۚ اَلرَّحْمٰنُ

بیا په عرش باندې برقرار شو، (دغه) رحمن دی،

فَسْـَٔلْ بِهٖ خَبِيْرًا ﴿٥٩﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ

نو ته د ده په باره کې له ښه خبردار نه تپوس وکړه
-59- او کله چې دوی ته وويل شي:

اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا

تاسو رحمٰن ته سجده وکړئ، دوی وايي:
رحمن څه شی دی؟ ايا مونږ به هغه څه ته سجده

الرَّحْمٰنُ ۗ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا وَ

کوو چې ته يې مونږ ته حکم راکوې۔ او دا
(رحمٰن ته د سجده کولو حکم) دوی ته منده

ع 3

السجدة 8

زَادَهُمْ نُفُوْرًا ﴿٦٠﴾ السجدة ۩ تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ

تېښته ورزياته کړي -60- ډېر برکتناك دی هغه
ذات چې

فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّ جَعَلَ فِيْهَا

په اسمان کې يې برجونه پيدا کړي دي او په ده کې
يې

سِرٰجًا وَّ قَمَرًا مُّنِيْرًا ﴿٦١﴾ وَ هُوَ الَّذِىْ

چراغ (لمر) او رڼا کوونکې سپوږمۍ پيدا کړې ده -61- او دی هماغه ذات دی

جَعَلَ الَّيْلَ وَ النَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ

چې شپه او ورځ يې يو له بل پسې راتلونکې پيدا کړي دي، د هغه چا لپاره چې اراده لري چې

اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿٦٢﴾ وَ عِبَادُ

نصيحت واخلي يا غواړي چې شکر وباسي -62- او د رحمن بنده ګان

الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى

هغه دي چې په ځمکه ورو ګرځي او کله

الْاَرْضِ هَوْنًا وَّ اِذَا خَاطَبَهُمُ

چې له دوی سره جاهلان خطاب (خبره) کوي (نو)

الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ﴿٦٣﴾ وَ الَّذِيْنَ

دوی سالمه (درسته) خبره کوي -63- او هغه کسان
دي چې

يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّ قِيَامًا ﴿٦٤﴾ وَ

خپل رب ته شپه تېروي، په داسې حال کې چې
سجده کوونکي او قيام کوونکي وي -64- او

الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا

هغه کسان دي چې وايي: ای زمونږ ربه! ته زمونږ
نه د

عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ اِنَّ عَذَابَهَا كَانَ

جهنم عذاب وگرځوه، بېشکه د هغه عذاب

غَرَامًا ﴿٦٥﴾ اِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّ

همېشه لازمېدونکی دی -65- بېشکه دا (جهنم) د
قرار او

مُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَالَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُوا لَمْ

استوګنې په لحاظ بد ځای دی -66- او هغه کسان
دي چې کله انفاق کوي (مال لګوي نو)

يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ

اسراف نه کوي او بخل هم نه کوي او د دغو
(دواړو حالتونو) په مينځ

ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ

کې ميانه حاله وي -67- او هغه کسان دي چې له

مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ

الله سره بل معبود نه بلي او هغه

النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَ

نفس چې الله حرام کړی وي؛ ناحقه نه قتلوي او

لَا يَزْنُونَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ

زنا نه کوي او څوك چې د غه (کارونه) وکړي
(نو) هغه به د خپلې ګناه له جزا

اَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُّضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ

سره ملاقات وکړي -68- د قيامت په ورځ به ده ته
عذاب دوه چنده کولی شي او په هغه (عذاب) کې

الْقِيٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيْهٖ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ اِلَّا مَنْ

به تل وي، په داسې حال چې چې خوار او ذليله
به وي -69- مګر هغه کس چې

تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا

توبه وباسي او ايمان راوړي او نېك عمل وکړي، نو

فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ

دغه کسان دي چې الله به د دوی بدۍ په نېکۍ
سره بدلې کړي

حَسَنٰتٍ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

او الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده رحم

رَّحِيْمًا ۝۷۰ وَ مَنْ تَابَ وَ عَمِلَ صَالِحًا

کوونکی دی -70- او هغه څوك چې توبه وباسي او نېك عمل وکړي، نو

فَاِنَّهٗ يَتُوْبُ اِلَى اللّٰهِ مَتَابًا ۝۷۱ وَ الَّذِيْنَ

بېشکه دغه کس الله ته رجوع کوي، رجوع کول - 71- او هغه کسان دي چې

لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ ۙ وَ اِذَا مَرُّوْا

باطلو ته نه حاضرېږي او کله چې په بېکاره کار

بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ۝۷۲ وَ الَّذِيْنَ اِذَا

تېرېږي (نو) عزت داره تېرېږي -72- او هغه کسان دي چې

ذُكِّرُوا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا

کله دوی ته د خپل رب په ایتونو سره نصیحت وکړی شي (نو) په دې (ایتونو) باندې

صُمًّا وَّ عُمْيَانًا ﴿٧٣﴾ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ

کاڼه او ړانده نه غورځېږي -73- او هغه کسان دي چې وايي:

رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَ ذُرِّيّٰتِنَا

ای زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ له ښځو نه او زمونږ له اولادونو نه

قُرَّةَ اَعْيُنٍ وَّ اجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ

د سترګو یخ والی راوبښه او ته مونږ د متقیانو

اِمَامًا ﴿٧٤﴾ اُولٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا

امام وګرځوه -74- دغه کسان دي چې د صبر کولو په سبب به دوی ته

صَبَرُوْا وَ يُلَقَّوْنَ فِيْهَا تَحِيَّةً وَّ

د اوچتو ماڼيو بدله ورکولی شي او په دې (جنت)
کې به د ژوند په دعا او سلام سره د دوی

سَلٰمًا ﴿٧٥﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ حَسُنَتْ

استقبال کولی شي -75- په داسې حال کې چې
همېشه به وي دوی په دغه (جنت) کې، د قرار او

مُسْتَقَرًّا وَّ مُقَامًا ﴿٧٦﴾ قُلْ مَا يَعْبَؤُا

استوګنې په لحاظ دا ښه ځای دی -76- ته (دوی
ته) ووایه:

بِكُمْ رَبِّيْ لَوْ لَا دُعَآؤُكُمْ ۚ فَقَدْ

زما رب ستاسو څه پروا کوي که ستاسو دعا کول
نه وی، نو يقيناً تاسو تکذيب کړی دی، نو ژر به

كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ﴿٧٧﴾

دا (د تکذيب سزا تاسو سره) لازمه وي -77-

ع 4

ربع

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

طٰسٓمّٓ ۝١ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ

طا، سين، ميم -1- دا د واضح كتاب

الۡمُبِيۡنِ ۝٢ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفۡسَكَ اَلَّا

ايتونه دي -2- ښايي چې ته د خپل ځان هلاكوونكى يې، په دې وجه

يَكُوۡنُوۡا مُؤۡمِنِيۡنَ ۝٣ اِنۡ نَّشَاۡ نُنَزِّلۡ

چې دوى مومنان كېږي نه -3- كه مونږ وغواړو (نو) په

عَلَيۡهِمۡ مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتۡ

دوى به له اسمان نه يو دليل نازل كړو، بيا به د

اَعۡنَاقُهُمۡ لَهَا خٰضِعِيۡنَ ﴿۴﴾ وَ مَا

دوی څټونه دغه (دليل) ته غاړه اېښودونکي شي - 4- او دوی ته

يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ ذِكۡرٍ مِّنَ الرَّحۡمٰنِ

د رحمن له جانبه څه نوی ذکر (نصيحت) نه

مُحۡدَثٍ اِلَّا كَانُوۡا عَنۡهُ

راځي مگر دوی له هغه نه مخ

مُعۡرِضِيۡنَ ﴿۵﴾ فَقَدۡ كَذَّبُوۡا

گرځوونکي دي -5- نو تحقيق دوی تکذيب وکړ،

فَسَيَاۡتِيۡهِمۡ اَنۡۢبٰٓؤُا مَا كَانُوۡا بِهٖ

پس دوی ته به ژر د هغه څه خبر (انجام) راشي چې دوی به

يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ۝٦ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اِلَى

په هغه پورې استهزا کولې -6- ايا دوی ځمکې ته نه گوري،

الۡاَرۡضِ كَمۡ اَنۡۢبَتۡنَا فِيۡهَا مِنۡ كُلِّ

څومره ډېر مونږ په دې کې له هر قسمه عمده

زَوۡجٍ كَرِيۡمٍ ۝٧ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا

جوړه نه زرغون کړي دي -7- بېشکه په دې کې خامخا لويه نښه ده

كَانَ اَكۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ۝٨ وَاِنَّ رَبَّكَ

او د دوی زياتره ايمان راوړونکي نه دي -8- او بېشکه ستا رب

ع 5

لَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الرَّحِيۡمُ ۝٩ وَاِذۡ نَادٰى

خامخا هم هغه ښه غالب، بې حده رحم کوونکی دی -9- او (ياد کړه) هغه وخت چې ستا رب

رَبُّكَ مُوسَىٰٓ اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ

موسىٰ ته اواز وكړ داسې چې ته هغه قوم ته ورشه

الظّٰلِمِيْنَ ۝١٠ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۗ اَلَا

چې ظالمان دي -10- چې د فرعون قوم دی، ايا دوی نه

يَتَّقُوْنَ ۝١١ قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ

وېرېږي (له الله نه)! -11- (موسیٰ) وويل: ای زما ربه! بېشکه زه له دې نه وېرېږم چې

يُّكَذِّبُوْنِ ۝١٢ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا

دوی به زما تکذيب وکړي -12- او (بل) زما سينه تنګېږي او (بل)

يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ ۝١٣ وَ

زما ژبه نه چلېږي، نو ته هارون ته پېغام ولېږه -13- او

لَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ فَاَخَافُ اَنْ

(بل دا چي) د هغوی لپاره زما په خلاف (دعویٰ د) ګناه ده، نو زه له دې نه وېرېږم چي

يَّقْتُلُوْنِ ۚ﴿۱۴﴾ قَالَ كَلَّا ۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ

دوی به ما قتل کړي -14- (الله) وفرمايل: داسي نشي کېدی، نو تاسو دواړه زما له ښکاره معجزو

اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ﴿۱۵﴾ فَأْتِيَا

سره لاړ شئ، بېشکه مونږ له تاسو سره يو، اورېدونکي يو -15- نو تاسو دواړه

فِرْعَوْنَ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ

فرعون ته ورشئ، نو (ورته) ووايئ: بېشکه مونږ د رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾ لا اَنْ اَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ

العلمين استازي يو -16- په دې خبره چي ته زمونږ سره بني

اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا

اسرائيل خوشې کړه -17- (فرعون) وويل: ايا مونږه په

وَلِيْدًا وَّ لَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ

خپل کاله کې ستا پالنه نه وه کړې، په داسې حال کې چې ته بچی وې او تا په مونږ کې د خپل عمر

سِنِيْنَ ﴿١٨﴾ وَ فَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِيْ

څو کاله تېر کړي وو -18- او تا خپل هغه کار کړی و چې تا کړی و،

فَعَلْتَ وَ اَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ قَالَ

په دې حال کې چې ته له ناشکرو څخه يې -19- (موسٰی) وويل:

فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّ اَنَا مِنَ

ما دغه کار په هغه وخت کې کړی و

الضَّآلِّينَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرۡتُ مِنكُمۡ لَمَّا

چې زه له ناپوهانو څخه وم -20- نو کله چې زه له تاسو وویرېدم (نو) له تاسو

خِفۡتُكُمۡ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكۡمٗا وَ

نه وتښتېدم، بیا ما ته زما رب حکم (او علم) راکړ او

جَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلۡكَ

زه یې له رسولانو څخه وګرځولم -21- او دغه داسې

نِعۡمَةٞ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنۡ عَبَّدتَّ بَنِيٓ

احسان دی چې ته یې په ما زباتوې (هغه) دا دی چې تا بني اسرائیل غلامان

إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ قَالَ فِرۡعَوۡنُ وَمَا رَبُّ

ګرځولي وو -22- فرعون وویل: او رب العلمین

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ

څه شی دی؟ -23- هغه وویل: رب دی د اسمانونو او

الْاَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا ؕ اِنْ كُنْتُمْ

ځمكې او د هغه څه چې د دې دواړو په مينځ كې دي، كه تاسو

مُّوْقِنِيْنَ ﴿٢٤﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗۤ اَلَا

يقين كوونكي يئ -24- هغه (فرعون) خپلو ګېر چاپېره خلقو ته وويل: ايا

تَسْتَمِعُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَ رَبُّ

تاسو نه اورئ؟ -25- (موسیٰ) وویل: (چې رب العلمين) ستاسو رب دی او

اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٦﴾ قَالَ اِنَّ

ستاسو د مخكينو پلرونو رب دی -26- (فرعون) وويل: بېشكه

رَسُوۡلَكُمُ الَّذِیۡۤ اُرۡسِلَ اِلَیۡكُمۡ

ستاسو دغه رسول چې تاسو ته رالیږل شوی دی،

لَمَجۡنُوۡنٌ ﴿۲۷﴾ قَالَ رَبُّ الۡمَشۡرِقِ وَ

یقینًا لیونی دی -27- (موسیٰ) وویل: (هغه) د
مشرق او

الۡمَغۡرِبِ وَ مَا بَیۡنَهُمَا ؕ اِنۡ كُنۡتُمۡ

مغرب رب دی او څه چې د دې دواړو په مینځ کې
دي، که تاسو له

تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۲۸﴾ قَالَ لَئِنِ اتَّخَذۡتَ اِلٰهًا

عقل نه کار اخلئ -28- (فرعون موسیٰ ته) وویل:
قسم دی که تا له ما

غَیۡرِیۡ لَاَجۡعَلَنَّكَ مِنَ

نه غیر بل معبود ونیوه (نو) زه به خامخا

الْمَسْجُوْنِيْنَ ﴿٢٩﴾ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ

هرومرو تا وگرځوم له قیدیانو ځنې -29- (موسیٰ) وویل: ایا اګر که زه تا ته یو ښکاره څرګندوونکی

بِشَیْءٍ مُّبِیْنٍ ﴿٣٠﴾ قَالَ فَاْتِ بِهٖۤ اِنْ كُنْتَ

شی (دلیل) راوړم -30- (فرعون) وویل: نو ته هغه راوړه که

مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿٣١﴾ فَاَلْقٰی عَصَاهُ فَاِذَا

ته له رښتینو څخه یې -31- نو هغه (موسیٰ) خپله امسا وغورځوله، نو ناڅاپه

هِیَ ثُعْبَانٌ مُّبِیْنٌ ﴿٣٢﴾ وَّ نَزَعَ یَدَهٗ فَاِذَا

هغه وه ښکاره ښامار -32- او خپل لاس یې راوایست،

هِیَ بَیْضَآءُ لِلنّٰظِرِیْنَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَاِ

نو ناڅاپه هغه د کتونکو لپاره تك سپین و -33- فرعون خپلو چاپېره سردارانو ته وویل:

ع
6

حَوْلَهٗۤ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ۝٣٤ يُّرِيْدُ

بېشکه دا یقینًا ډېر پوه جادوګر دی -34- دا غواړي چې

اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ ۖ

په خپل جادو سره تاسو له خپلې ځمکې نه وباسي، نو

فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ۝٣٥ قَالُوْۤا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ

تاسو د څه مشوره راکوئ؟ -35- هغوی وویل: ته دا او د ده ورور وروسته کړه

وَابْعَثْ فِي الْمَدَآئِنِ

او په ښارونو کې

حٰشِرِيْنَ ۝٣٦ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ

راټولوونکي ولېږه -36- چې تا ته هر ښه پوه، غټ

عَلِيْمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ

جادوګر راولي -37- نو جادوګر د معلومې ورځې میعاد ته

يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٣٨﴾ وَّ قِيْلَ لِلنَّاسِ هَلْ

راجمع کړی شول -38- او خلقو ته وویل شول چې ایا تاسو

اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُوْنَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ

راجمع کېدونکي یئ؟ -39- کېدی شي چې

السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوْا هُمُ

مونږ د جادوګرو پیروي وکړو که هم دوی

الْغٰلِبِيْنَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا

غالب راتلونکي شي -40- نو کله چې جادوګر راغلل، (نو) فرعون ته یې وویل:

لِفِرۡعَوۡنَ اَئِنَّ لَنَا لَاَجۡرًا اِنۡ كُنَّا

ايا يقينًا به زمونږ لپاره واقعي اجر وي كه

نَحۡنُ الۡغٰلِبِيۡنَ ﴿۴۱﴾ قَالَ نَعَمۡ وَاِنَّكُمۡ

همدا مونږ غالبه شو؟ -41- ويې ويل: هو، او بېشكه تاسو به په دغه

اِذًا لَّمِنَ الۡمُقَرَّبِيۡنَ ﴿۴۲﴾ قَالَ لَهُمۡ

وخت كې خامخا له مقربانو څخه يئ! -42- دوى ته موسٰى وويل:

مُّوۡسٰٓى اَلۡقُوۡا مَآ اَنۡتُمۡ

تاسو هغه څه وغورځوئ چې تاسو يې

مُّلۡقُوۡنَ ﴿۴۳﴾ فَاَلۡقَوۡا حِبَالَهُمۡ وَ

غورځوونكي يئ -43- نو هغوى خپلې رسۍ او

عِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا

امساګانې وغورځولې او ويې ويل: د فرعون په عزت سره، بېشکه مونږ،

لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَأَلْقٰى مُوْسٰى

خامخا همدا مونږ غالب يو -44- نو موسٰى خپله

عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا

امسا وغورځوله، نو ناڅاپه هغې هغه څه ښوی تېرول چې دوی په

يَأْفِكُوْنَ ﴿٤٥﴾ فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ

دروغه جوړ کړي وو -45- نو جادوګر وغورځول شول (پرمخې)،

سٰجِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ

چې سجده کوونکي وو -46- ويې ويل: مونږ په رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَ

العلمين ايمان راوړ -47- چې د موسٰى او

هٰرُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ

هارون رب دى -48- (فرعون) وويل: تاسو په ده ايمان راوړ مخکې له دې

اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِىْ

نه چې زه تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دا يقينًا ستاسو هغه مشر دى

عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۬ۚ

چې تاسو ته يې جادو ښودلى دى، نو يقينًا تاسو به ژر پوه شئ، خامخا هرومرو به

لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ

زه ستاسو لاسونه او ستاسو پښې، ادل بدل پرې کړم،

خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ

او زه به خامخا هرومرو تاسو

اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٩﴾ قَالُوْا لَا ضَيْرَ اِنَّآ اِلٰى

ټول په دار کړم -49- هغوی وویل: هېڅ ضرر نشته، بېشکه مونږ خپل

رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ

رب ته بېرته ورتلونکي يو -50- بېشکه مونږ دا طمع لرو

لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ كُنَّآ اَوَّلَ

چې زمونږ رب به مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښي، په دې چې مونږ (په دې حاضرينو کې) اول د

ع 7

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥١﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى اَنْ

ايمان راوړونکو يو -51- او مونږ موسىٰ ته وحي وکړه داسې

أَسْرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم

چې ته زما بنده ګان د شپې بوځه، بېشکه تاسو

مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي

پسې به درتلل کېدی شي -52- نو فرعون په ښارونو

الْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ

کې راټولوونکي ولېږل -53- (او ويې ويل) بېشکه دغه (بني اسرائيل)

لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا

ډېره لږه وړه ډله ده -54- او بېشکه دوی مونږ لره يقينًا

لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ

غصه کوونکي دي -55- او بېشکه مونږ خامخا

حٰذِرُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّ

بيداره ډله يو -56- نو مونږه دوی (فرعونيان) له
باغونو او

عُيُوْنٍ ﴿٥٧﴾ وَّ كُنُوْزٍ وَّ مَقَامٍ

چينو نه راوښکل -57- او له خزانو او ښو

كَرِيْمٍ ﴿٥٨﴾ كَذٰلِكَ ؕ وَ اَوْرَثْنٰهَا بَنِيْٓ

ځايونو نه -58- همداسې (مونږ وکړل) او مونږ د
دغو (ځيزونو) وارثان بني

اِسْرَآءِيْلَ ﴿٥٩﴾ فَاَتْبَعُوْهُمْ

اسرائيل وګرځول -59- نو (فرعونيان) د دوی پسې
شول، چې د لمر ختو په

مُّشْرِقِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ

وخت کې داخليدونکي وو -60- نو کله چې دواړو
ډلو يو بل سره وليدل،

قَالَ اَصۡحٰبُ مُوۡسٰٓى اِنَّا

د موسیٰ ملګرو وويل: بېشکه مونږ
خامخا

لَمُدۡرَكُوۡنَ ۚ‏ ۝٦١ قَالَ كَلَّا ۚ اِنَّ مَعِىَ رَبِّىۡ

نيول کېدونکي يو -61- (موسیٰ) وويل: هيڅکله
داسې نشي کېدی، بېشکه زما سره زما رب دی،

سَيَهۡدِيۡنِ ۝٦٢ فَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى مُوۡسٰٓى اَنِ

هغه به ضرور زما لار ښوونه کوي -62- نو مونږ
موسیٰ ته وحي وکړه چې ته په

اضۡرِبْ بِّعَصَاكَ الۡبَحۡرَ ‌ؕ فَانۡفَلَقَ

خپلې امسا سره سمندر ووهه، نو هغه څيرې شو،
نو

فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٍ كَالطَّوۡدِ الۡعَظِيۡمِ ۚ‏ ۝٦٣ وَ

هره برخه د ډېر اوچت غر په شان شوله -63- او

اَزْلَفْنَا ثَمَّ الْاٰخَرِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَ اَنْجَيْنَا

دغه ځای ته مونږ. هغه نور بنه رانژدې کړل -64- اومونږ

مُوْسٰى وَ مَنْ مَّعَهٗۤ اَجْمَعِيْنَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ

موسیٰ او هغو کسانو ته چې له هغه سره وو؛ ټولو ته نجات ورکړ -65- بیا

اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿٦٦﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

مونږ هغه نور غرق (ډوب) کړل -66- بېشکه په دې کې

لَاٰيَةً ؕ وَ مَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

خامخا لویه نښه ده، او د دوی زیاتره

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٦٧﴾ وَ اِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

ایمان راوړونکي نه وو -67- او بېشکه رب ستا خامخا هم هغه ښه غالب،

ع 8

الرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ

بې حده رحم کوونکی دی -68- او ته دوی ته د

إِبْرَاهِيمَ ﴿٦٩﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا

ابراهیم خبر (قصه) ولوله -69- کله چې هغه خپل
پلار او خپل قوم ته وویل: تاسو د

وقف لازم

تَعْبُدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا

څه شیز عبادت کوئ -70- هغوی وویل: مونږ د
بتانو عبادت کوو،

فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ ﴿٧١﴾ قَالَ هَلْ

پس همېشه به دوی ته په عبادت قایم اوسو -71-
هغه وویل: ایا دوی

يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ﴿٧٢﴾ أَوْ

ستاسو اوري کله چې تاسو (دوی) بلئ؟ -72- یا
تاسو

يَنفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا بَلْ

ته نفع دررسوي، يا ضرر دررسوي؟ -73- هغوى وويل: بلكې مونږ

وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَٰلِكَ

خپل پلرونه موندلي دي چې همداسې به

يَفْعَلُونَ ﴿٧٤﴾ قَالَ أَفَرَءَيْتُم مَّا كُنتُمْ

يې كول -74- هغه وويل: ايا تاسو كتلي دي (او پوه شوي يئ په) هغه چې تاسو يې

تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمُ

عبادت كوئ -75- تاسو او ستاسو پخوا تېر

الْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّي إِلَّا رَبَّ

شوي پلرونه -76- پس بېشكه دوى (ستاسو معبودان) زما دښمنان دي

الۡعٰلَمِيۡنَ ۙ﴿۷۷﴾ الَّذِيۡ خَلَقَنِيۡ فَهُوَ

غير له رب العلمين نه -77- هغه چې زه يې پيدا کړی يم، نو هغه زما لار

يَهۡدِيۡنِ ۙ﴿۷۸﴾ وَ الَّذِيۡ هُوَ يُطۡعِمُنِيۡ وَ

ښوونه کوي -78- او هغه چې همغه په ما خوراك کوي او

يَسۡقِيۡنِ ۙ﴿۷۹﴾ وَ اِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ

په ما ښنباك کوي -79- او کله چې زه ناروغه شم، نو هغه

يَشۡفِيۡنِ ۪ۙ﴿۸۰﴾ وَ الَّذِيۡ يُمِيۡتُنِيۡ ثُمَّ

ما ته شفا راکوي -80- او هغه چې ما ته به مرگ راکوي، بیا به

يُحۡيِيۡنِ ۙ﴿۸۱﴾ وَ الَّذِيۡۤ اَطۡمَعُ اَنۡ يَّغۡفِرَ لِيۡ

ما ژوندی کوي -81- او هغه چې زه طمع لرم دا چې د

خَطِيْٓـَٔتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ

قيامت په ورځ به هغه ما ته زما ګناه وبخښي -82-
اى زما ربه! ما ته حکم (علم وحکمت)

حُكْمًا وَّ اَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَ

راکړه او ما له نېکانو سره پیوست کړه -83- او

اجْعَلْ لِّيْ لِسَانَ صِدْقٍ فِي

زما لپاره په وروستنو خلقو کې د صدق ژبه

الْاٰخِرِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَ اجْعَلْنِيْ مِنْ وَّرَثَةِ

(نېکنامي) وګرځوه -84- او ما د نعمتونو د جنت
له وارثانو

جَنَّةِ النَّعِيْمِ ﴿٨٥﴾ وَ اغْفِرْ لِاَبِيْٓ اِنَّهٗ كَانَ

ځنې وګرځوه -85- او زما پلار ته بخښنه وکړه،
یقینًا هغه

مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِيْ يَوْمَ

له گمراهانو څنې و -86- او ته ما مه شرموه په هغې ورځ کې چې خلق به

يُبْعَثُوْنَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا

بيا ژوندي کولی شي -87- په هغې ورځ چې نه به مال نفع رسوي او نه

بَنُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ

زامن -88- مګر هغه چا ته چې الله ته په ډېر

سَلِيْمٍ ﴿٨٩﴾ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ

سلامت زړه راغی -89- او جنت به (په هغې ورځ کې) پرهېزګارانو ته

لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ

ورنژدې کړی شي -90- او جهنم به ګمراهانو ته

لِلْغٰوِيْنَ ﴿۹۱﴾ وَ قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ

ښه ښكاره كړی شي -91- او دوی ته به وويل شي: چيرته دي هغه (معبودان) چې

تَعْبُدُوْنَ ﴿۹۲﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ هَلْ

تاسو به يې عبادت كاوه -92- له الله نه غير، ايا دوی

يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ

ستاسو مدد كوي، يا دوی

يَنْتَصِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ وَ

بدله اخيستی شي؟ -93- نو دا (بتان) به په دغه (جهنم) كې نسكور وغورځول

الْغٰوٗنَ ﴿۹۴﴾ وَ جُنُوْدُ اِبْلِيْسَ

شي دوی او گمراهان هم -94- او د ابليس لښكرې،

اَجۡمَعُوۡنَ ﴿۹۵﴾ قَالُوۡا وَ هُمۡ فِیۡهَا

دوی ټول -95- دوی به ووايي، په داسې حال کې چې دوی به

يَخۡتَصِمُوۡنَ ﴿۹۶﴾ تَاللّٰهِ اِنۡ كُنَّا لَفِیۡ ضَلٰلٍ

سره جګړې کوي: -96- قسم په الله، يقيناً مونږه خامخا په

مُّبِیۡنٍ ﴿۹۷﴾ اِذۡ نُسَوِّیۡكُمۡ بِرَبِّ

ښکاره ګمراهۍ کې وو -97- کله چې مونږ تاسو له رب

الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۹۸﴾ وَ مَاۤ اَضَلَّنَاۤ اِلَّا

العلمين سره برابرولئ -98- او مونږ نه وو ګمراه کړي مګر

الۡمُجۡرِمُوۡنَ ﴿۹۹﴾ فَمَا لَنَا مِنۡ

مجرمانو (بدو مشرانو) -99- نو زمونږ لپاره هيڅوك

شَافِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَوْ

شفاعت کوونکي نشته -100- او نه کوم مخلص
دوست -101- نو ارمان

أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ

که په رښتیا زمونږ لپاره یو ځل دنیا ته واپسي وی،
نو چې شوي وی مونږ

الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا

له مومنانو نه -102- بېشکه په دې کې خامخا لویه
نښه ده او

كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ

د دوی زیاتره مومنان نه وو -103- او بېشکه ستا
رب، خامخا همغه

ع
9

لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ

ډېر غالب، بې حده رحم کوونکی دی -104- د
نوح قوم د

نُوحِ ۨالۡمُرۡسَلِيۡنَ ۚ﴿۱۰۵﴾ اِذۡ قَالَ لَهُمۡ

رسولانو تكذيب وكړ -105- كله چې دوى ته د دوى ورور نوح وويل:

اَخُوۡهُمۡ نُوۡحٌ اَلَا تَتَّقُوۡنَ ۚ﴿۱۰۶﴾ اِنِّىۡ لَكُمۡ

ايا تاسو نه وېرېږئ! -106- بېشكه زه تاسو ته

رَسُوۡلٌ اَمِيۡنٌ ۙ﴿۱۰۷﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

امانتگر رسول يم -107- نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او

اَطِيۡعُوۡنِ ۚ﴿۱۰۸﴾ وَمَاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ

زما اطاعت وكړئ -108- او زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې

اَجۡرٍ ۚ اِنۡ اَجۡرِىَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ

هيڅ اجر (عوض) نه غواړم، نه دى اجر زما مگر په رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

العلمين باندې -109- نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او

اَطِيْعُوْنِ ﴿۱۱۰﴾ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَ

زما اطاعت وکړئ -110- هغوی وویل: ایا مونږ په تا ایمان راوړو!، حال دا چې ستا پیروي تر ټولو

اتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ قَالَ وَمَا عِلْمِىْ

رذیلو خوارو خلقو کړې ده -111- (نوح) وویل: او ما ته څه علم دی په هغه

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ اِنْ حِسَابُهُمْ اِلَّا

څه چې دوی يې کوي -112- نه دی د دوی حساب مګر

عَلٰى رَبِّىْ لَوْ تَشْعُرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ

زما په رب باندې، که تاسو پوهېږئ -113- او زه له سره دې

الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيرٌ

مومنانو لره شړونکی نه یم -114- زه نه یم مگر

مُّبِينٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوا لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰنُوحُ

ښکاره وېروونکی -115- دوی وویل: ای نوحه!
قسم دی که ته وانه وښتې (نو)

لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ

خامخا هرومرو به ته له سنگسار کړی شویو ځنې
شې -116- هغه وویل: ای زما ربه!

اِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَافْتَحْ بَيْنِي وَ

بېشکه زما قوم زما تکذیب وکړ -117- نو ته زما په
مینځ کې او

بَيْنَهُمْ فَتْحًا وَّ نَجِّنِي وَ مَنْ مَّعِيَ مِنَ

د دوی په مینځ کې فیصله وکړه واضحه فیصله او
ته ما ته نجات راکړه او هغه چا ته

النصف

الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنْجَيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي

چې له ما سره کوم مومنان دي -118- نو مونږ نجات ورکړ هغه ته او هغه چا ته چې له

الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا

ده سره په ډکه کشتۍ کې وو -119- بیا مونږ له دې نه پس باقي

بَعْدُ الْبٰقِينَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَ

خلق غرق (ډوب) کړل -120- بېشکه په دې کې خامخا لویه نښه ده۔ او

مَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٢١﴾ وَاِنَّ

د دوی زیاتره مومنان نه وو -121- او بېشکه ستا

ع
10

رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتْ

رب خامخا همغه ډېر غالب، بې حده رحم کوونکی دی -122- عادیانو

عَادُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ

د رسولانو تکذیب وکړ -123- کله چې دوی ته د دوی ورور

اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اِنِّیْ لَكُمْ

هود وویل: ایا تاسو نه وېرېږئ! -124- بېشکه زه تاسو ته

رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ ﴿١٢٥﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

امانتگر رسول یم -125- نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او

اَطِیْعُوْنِ ﴿١٢٦﴾ وَ مَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ مِنْ

زما اطاعت وکړئ -126- او زه له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې

اَجْرٍ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰی رَبِّ

هېڅ اجر (عوض) نه غواړم، زمااجر نه دی مگر په رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۷﴾ اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ رِيْعٍ اٰيَةً

العلمين باندې -127- ايا تاسو په هر اوچت ځای يوه نښه (لوړه ودانۍ) جوړوئ، په داسې حال کې

تَعْبَثُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ

چې عبثيات کوئ! -128- او تاسو پاخه عمارتونه جوړوئ، ښايي چې تاسو به

لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ وَاِذَا بَطَشْتُمْ

(په دنيا کې) تل اوسېږئ -129- او کله چې تاسو نيول کوئ (، نو) نيول کوئ، په داسې

بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

حال کې چې ظلم کوونکي يئ -130- نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او

اَطِيْعُوْنِ ﴿۱۳۱﴾ وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ اَمَدَّكُمْ

زما اطاعت وکړئ -131- او تاسو له هغه ذات نه ووېرېږئ

بِمَا تَعۡلَمُوۡنَ ۚ﴿۱۳۲﴾ اَمَدَّكُمۡ بِاَنۡعَامٍ وَّ

چې ستاسو مدد يې کړی دی په هغه څه سره چې تاسو پرې پوه يئ -132- هغه ستاسو مدد کړی دی

بَنِيۡنَ ۙ﴿۱۳۳﴾ وَ جَنّٰتٍ وَّ عُيُوۡنٍ ۚ﴿۱۳۴﴾ اِنِّىۡۤ اَخَافُ

په څارويو او زامنو سره -133- او باغونو او چينو سره -134- بېشکه زه پر تاسو

عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ؕ﴿۱۳۵﴾ قَالُوۡا

باندې د ډېرې لويې ورځې د عذاب وېره کوم -135- هغوی وويل:

سَوَآءٌ عَلَيۡنَاۤ اَوَعَظۡتَ اَمۡ لَمۡ تَكُنۡ

مونږ ته يو شان ده، ايا که ته نصيحت (وعظ) کوې، يا ته نه کېږې له

مِّنَ الۡوٰعِظِيۡنَ ۙ﴿۱۳۶﴾ اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّا خُلُقُ

وعظ کوونکو نه -136- نه دی دا ستا (وعظ کول) مگر عادت

الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ

د پخوانيو خلقو -137- او مونږ له سره په عذاب

بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَهْلَكْنٰهُمْ ؕ

کې مبتلا کېدونکي نه يو -138- نو دوی د هغه
تکذيب وکړ، نو مونږه دوی هلاك کړل،

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

بېشکه په دې کې خامخا لويه نښه ده او د دوی
اکثره

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٩﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

مومنان نه وو -139- او بېشکه ستا رب خامخا
همغه ښه غالب،

ع
11

الرَّحِيْمُ ﴿١٤٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ

بې حده رحم کوونکی دی -140- ثموديانو د

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٤١﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ

رسولانو تکذیب وکړ -141- کله چې دوی ته د دوی ورور صالح وویل:

صٰلِحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٤٢﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ

ایا تاسو نه وېرېږئ! -142- بېشکه زه تاسو ته امانتګر

اَمِيْنٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٤٤﴾ وَ

رسول یم -143- نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ -144- او

مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ

زه له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې هېڅ اجر نه غواړم،

اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ

زما اجر نه دی مګر په رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٤٥﴾ اَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَآ

العلمين باندې -145- ايا تاسو به په پرېښودل شئ په هغو څيزونو کې چې دلته دي،

اٰمِنِيْنَ ﴿١٤٦﴾ فِيْ جَنّٰتٍ وَّ عُيُوْنٍ ﴿١٤٧﴾ وَّ زُرُوْعٍ

په امن (او بې غمۍ) سره -146- په باغونو او چينو کې -147- او په فصلونو

وَّ نَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ﴿١٤٨﴾ وَ تَنْحِتُوْنَ

او داسې کجورو کې چې د هغو وږي (شګوفې) ډېر نرمې پستې وي -148- او تاسو په

مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا

غرونو کې کورونه توږئ (کنئ)، په داسې حال کې چې ښه ماهران يئ -149- نو تاسو له

اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾ وَ لَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ

الله نه ووېرېږئ، او زما اطاعت وکړئ -150- او تاسو د اسراف

الْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي

كوونكو (له حد نه تېرېدونكو كافرانو) حكم مه منئ -151- هغه چې په ځمكه كې فساد

الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوا إِنَّمَا

كوي او اصلاح نه كوي -152- هغوى وويل: بېشكه همدا خبره ده چې ته

أَنتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا أَنتَ إِلَّا

له جادو كړى شويو كسانو څخه يې -153- ته نه يې مګر زمونږ

بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِآيَةٍ إِن كُنتَ مِنَ

په مثل بشر، نو ته كومه معجزه راوړه! كه ته له

الصَّادِقِينَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هَٰذِهِ نَاقَةٌ لَّهَا

رښتينو څخه يې -154- او هغه وويل: دا اوښه ده، د دې

شِرْبٌ وَّ لَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿١٥٥﴾ وَ

لپاره د اوبو وار دی او تاسو لپاره د مقررې ورځې د اوبو وار دی -155- او

لَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابُ

تاسو دې ته هېڅ تکلیف مه رسوئ، (ګنې) نو تاسو به د ډېرې لویې

يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوْهَا فَاَصْبَحُوْا

ورځې عذاب ونیسي -156- نو دوی د هغې پښې پرې کړل، بیا دوی

نٰدِمِيْنَ ﴿١٥٧﴾ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ ؕ اِنَّ فِيْ

پښېمانه شول -157- نو دوی عذاب ونیول، بېشکه په دې کې

ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

خامخا لویه نښه ده او د دوی اکثره

مُّؤْمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ

مومنان نه وو -158- او بېشكه ستا رب خامخا همغه ډېر غالب،

ع 12

الرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ

بې حده رحم كوونكى دى -159- د لوط قوم د

الْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ

رسولانو تكذيب وكړ -160- كله چې دوى ته د دوى ورور

لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ

لوط وويل: ايا تاسو نه وېرېږئ! -161- بېشكه زه تاسو ته

أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَ

امانتگر رسول يم -162- نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وكړئ -163- او

مَآ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ‌ۚ اِنۡ

زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر (عوض) نه غواړم،

اَجۡرِىَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ

زما اجر نه دی مګر په رب

الۡعٰلَمِيۡنَ‌ؕ ﴿۱۶۴﴾ اَتَاۡتُوۡنَ الذُّكۡرَانَ مِنَ

العلمين باندې -164- ايا په مخلوقاتو كې تاسو له سړيو سره

الۡعٰلَمِيۡنَۙ ﴿۱۶۵﴾ وَتَذَرُوۡنَ مَا خَلَقَ لَكُمۡ

بدكاري كوئ -165- او تاسو پرېږدئ هغه څه چې تاسو لپاره

رَبُّكُمۡ مِّنۡ اَزۡوَاجِكُمۡ‌ؕ بَلۡ اَنۡتُمۡ

ستاسو رب پيدا كړي دي، يعني ستاسو ښځې، بلكې تاسو له حده

قَوۡمٌ عٰدُوۡنَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوۡا لَئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهِ

تېرېدونکي خلق يئ -166- دوی وويل: قسم دی
که ته منع نه شوې

يٰلُوۡطُ لَتَكُوۡنَنَّ مِنَ

ای لوطه! (نو) خامخا هرومرو به ته له

الۡمُخۡرَجِيۡنَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ اِنِّيۡ لِعَمَلِكُمۡ مِّنَ

اېستل شويو ځنې شې -167- هغه وويل: بېشکه
زه ستاسو له عمل سره له سخت بغض

الۡقَالِيۡنَ ﴿١٦٨﴾ؕ رَبِّ نَجِّنِيۡ وَاَهۡلِيۡ مِمَّا

لرونکو ځنې يم -168- ای زما ربه! ته ما ته او زما
اهل ته نجات راکړې له هغو کارونو نه

يَعۡمَلُوۡنَ ﴿١٦٩﴾ فَنَجَّيۡنٰهُ وَاَهۡلَهٗۤ

چې دوی يې کوي -169- نو مونږ هغه ته او د هغه
اهل ټولو ته

اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۱۷۰﴾ اِلَّا عَجُوۡزًا فِی

نجات ورکړ -170- غير له يوې بوډۍ نه چې په باقي پاتې

الۡغٰبِرِيۡنَ ﴿۱۷۱﴾ ثُمَّ دَمَّرۡنَا الۡاٰخَرِيۡنَ ﴿۱۷۲﴾ وَ

کېدونکو کې وه -171- بیا مونږ هغه نور هلاك کړل -172- او

اَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ

په دوی باندې مونږ باران ووراوه، عجیب (د کاڼو) باران، نو بد باران و د

الۡمُنۡذَرِيۡنَ ﴿۱۷۳﴾ اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا

وېرول شويو (خلقو) -173- بېشکه په دې کې خامخا لويه نښه ده، او د

كَانَ اَكۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۷۴﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ

دوی زیاتره مومنان نه وو -174- او بېشکه ستا رب خامخا

ع
13

لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٧٥﴾ كَذَّبَ

همغه ډېر غالب، بې حده رحم كوونكى دى -175- د ونو ځنګل

اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧٦﴾ اِذْ قَالَ

والاو د رسولانو تكذيب وكړ -176- كله چې دوى ته

لَهُمْ شُعَيْبٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٧٧﴾ اِنِّيْ لَكُمْ

شعيب وويل: ايا تاسو نه وېرېږئ! -177- بېشكه زه تاسو ته

رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٧٨﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

امانتګر رسول يم -178- نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او

اَطِيْعُوْنِ ﴿١٧٩﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ

زما اطاعت وكړئ -179- او زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې

اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰی رَبِّ

هیڅ اجر نه غواړم، زما اجر نه دی مګر په رب

الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۸۰﴾ اَوْفُوا الْكَیْلَ وَ لَا تَكُوْنُوْا

العلمین باندي -180- تاسو پیمانه پوره ورکوئ او تاسو له

مِنَ الْمُخْسِرِیْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَزِنُوْا

کم ورکونکو څخه مه کېږئ -181- او تاسو په

بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِیْمِ ﴿۱۸۲﴾ وَ لَا

برابري تلي سره تول کوئ -182- او تاسو

تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْیَآءَهُمْ وَ لَا

خلقو ته د هغوی شیزونه مه کموئ، او مه ګرځئ

تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿١٨٣﴾ وَ

په وراني سره په ځمکه کې، په دې حال چې فساد کوونکي يئ -183- او

اتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ وَ الْجِبِلَّةَ

تاسو له هغه ذات نه ووېرېږئ چې تاسو او

ړومبني خلق يې

الْأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾ قَالُوٓا إِنَّمَآ أَنْتَ مِنَ

پيدا کړي دي -184- هغوی وويل: بېشکه همدا

خبره ده چې ته له

الْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾ وَ مَآ أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ

جادو کړی شويو څنې يې -185- او ته نه يې مګر

زمونږ په شان بشر،

مِّثْلُنَا وَإِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ

او يقينًا مونږ خامخا تا له دروغ ويونکو

الْكٰذِبِيْنَ ۚ﴿۱۸۶﴾ فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا

خڅه ګڼو -186- نو ته پر مونږ باندې له

مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ

اسمانه ټوټې راوغورځوه، كه ته له

الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۷﴾ قَالَ رَبِّیْٓ اَعْلَمُ بِمَا

رښتينو څنې يې -187- هغه وويل: زما رب ښه عالم دی په هغو كارونو

تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ

چې تاسو يې كوئ -188- نو دوی د هغه تكذيب وكړ، پس دوی د سيوري د

يَوْمِ الظُّلَّةِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ

ورځې عذاب ونيول، بيشكه دغه (عذاب) د ډېرې

عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ

لويې ورځې عذاب و -189- بېشکه په دې کې خامخا لويه نښه ده، او د دوی

أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ

زياتره مومنان نه وو -190- او بېشکه ستا رب خامخا همغه ډېر غالب، بې حده

ع 14

الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾ وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ

رحم کوونکی دی -191- او بېشکه دا (قرآن) د رب العلمين (له جانبه)

رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ

نازل کړی شوی دی -192- دا جبريل امين

الْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ

راکوز کړی دی -193- ستا په زړه باندې، د دې لپاره چې ته له

الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۱۹۴﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ

وېرونکو څخه شې -194- په ښکاره عربي

مُّبِيْنٍ ﴿۱۹۵﴾ وَاِنَّهٗ لَفِيْ زُبُرِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۹۶﴾ اَوَ

ژبه کې -195- او بېشکه دا (قرآن، يعني د ده
ذکر) د ړومبنيو خلقو په کتابونو کې دی -196- ايا

لَمْ يَكُنْ لَّهُمْ اٰيَةً اَنْ يَّعْلَمَهٗ عُلَمٰٓؤُا

دغه (کفارو) ته (د قرآن د حقانيت) دا لويه نښه نه
ده چې د بني اسرائيلو عالمان

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۹۷﴾ وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ عَلٰى

په ده پوهېږي؟ -197- او که مونږ دا (قرآن) په

بَعْضِ الْاَعْجَمِيْنَ ﴿۱۹۸﴾ فَقَرَاَهٗ عَلَيْهِمْ

عجميانو کې په چا نازل کړی وی -198- بيا هغه
دا (قرآن) دوی ته لوستلی وی،

مَا كَانُوا بِهِ مُؤْمِنِينَ ۝١٩٩ كَذٰلِكَ

دوی په ده باندې ایمان راوړونکي نه وو -199- همداسې مونږ

سَلَكْنٰهُ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝٢٠٠ لَا

دا (د قرآن تکذیب) د مجرمانو په زړونو کې ننه ایستلی دی -200- دوی

يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ

په ده ایمان نه راوړي تر هغه پورې چې دوی ډېر دردوونکی

الْاَلِيْمَ ۝٢٠١ فَيَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا

عذاب ووینې -201- نو هغه (عذاب) به په دوی ناڅاپه راشي، په داسې حال کې چې

يَشْعُرُوْنَ ۝٢٠٢ فَيَقُوْلُوْا هَلْ نَحْنُ

دوی نه پوهېږي -202- بیا به دوی وایي: ایا مونږ ته

مُنْظَرُوْنَ ﴿٢٠٣﴾ اَفَبِعَذَابِنَا

به مهلت راکولی شي؟ -203- ایا نو دوی زمونږ همدا

يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٢٠٤﴾ اَفَرَءَيْتَ اِنْ

عذاب ژر غواړي -204- نو ته ما ته خبر راکړه که

مَّتَّعْنٰهُمْ سِنِيْنَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُمْ مَّا

مونږ دوی ته څو کاله نفع ورکړو -205- بیا په دوی هغه (عذاب) راشي چې

كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا

دوی سره به یې وعده کولی شوه -206- (نو) د دوی به هېڅ په کار رانشي هغه څه چې دوی ته به

كَانُوْا يُمَتَّعُوْنَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ

(په هغو سره) نفع ورکولی شوه -207- او مونږ هېڅ یو کلی نه دی هلاك کړی

قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرَىٰ وَ

مگر د هغه لپاره وېرووونکي وو -208- د نصيحت کولو لپاره،

مَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ

اوموږ ظالمان نه وو -209- او دا (قرآن) شيطانانو نه

الشَّيَٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُمْ وَمَا

دی راکوز کړی -210- او نه دا (کار) د هغوی لپاره صحيح دی او نه دوی

يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ

(د دې کار) طاقت لري -211- بېشکه دوی (شيطانان) له اورېدلو نه خامخا منع

لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا

کړی شوي (لرې کړی شوي) دي -212- نو ته له الله سره بل هېڅ معبود مه بله، (گڼې)

اٰخَرَ فَتَكُوۡنَ مِنَ الۡمُعَذَّبِيۡنَ ۚ﴿۲۱۳﴾ وَ

نو شې به ته له عذاب ورکړی شویو نه -213- او

اَنۡذِرۡ عَشِيۡرَتَكَ الۡاَقۡرَبِيۡنَ ۙ﴿۲۱۴﴾ وَ

ته خپل ډېر نژدې خپلوان ووېروه -214- او

اخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ

ته خپل وزر ښکته کړه د هغه چا لپاره چې ستا پیروي یې کړې ده،

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۚ﴿۲۱۵﴾ فَاِنۡ عَصَوۡكَ فَقُلۡ اِنِّىۡ

چې مومنان دي -215- نو که دغو (خپلوانو) ستا نافرماني وکړه، نو ته (ورته) ووایه: بېشکه زه د هغو

بَرِىۡٓءٌ مِّمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ۚ﴿۲۱۶﴾ وَتَوَكَّلۡ عَلَى

کارونو نه بېزاره یم چې تاسو یې کوئ -216- او ته توکل وکړه

الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿٢١٧﴾ الَّذِىْ يَرٰىكَ

په ډېر غالب، بې حده رحم کوونکي ذات باندې - 217- هغه چې تاويني کله

حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِى

چې ته پاڅېږې (لمانځه ته) -218- او په سجده کوونکو کې

السّٰجِدِيْنَ ﴿٢١٩﴾ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ

ستا اوښتل (ويني) -219- بېشکه هغه، هم هغه ښه اورېدونکی،

الْعَلِيْمُ ﴿٢٢٠﴾ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ عَلٰى مَنْ

ښه عالم دی -220- ايا زه تاسو ته خبر درکړم چې په چا

تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلٰى كُلِّ

باندې شيطانان راکوزېږي؟ -221- دوی په هر ډېر دروغجن،

اَفَّاكٍ اَثِيۡمٍ ۙ﴿۲۲۲﴾ يُّلۡقُوۡنَ السَّمۡعَ وَ

سخت مجرم باندې راکوزېږي -222- دوی غوږ
ږدي (د ملايکو خبرو ته) او

اَكۡثَرُهُمۡ كٰذِبُوۡنَ ؕ﴿۲۲۳﴾ وَالشُّعَرَآءُ

د دوی زياتره دروغجنان دي -223- او شاعران
(چې دي) د دوی

يَتَّبِعُهُمُ الۡغَاوٗنَ ؕ﴿۲۲۴﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّهُمۡ فِىۡ

پيروي ګمراه خلق کوي -224- ايا ته نه وينې چې
بېشکه دوی په هره وادۍ (ناو)

كُلِّ وَادٍ يَّهِيۡمُوۡنَ ۙ﴿۲۲۵﴾ وَاَنَّهُمۡ يَقُوۡلُوۡنَ

کې سرګردانه ګرځي -225- او بېشکه دوی وايي
هغه څه چې

مَا لَا يَفۡعَلُوۡنَ ۙ﴿۲۲۶﴾ اِلَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ

دوی يې (پخپله) نه کوي -226- غير له هغو
کسانو نه چې ايمان راوړي او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ ذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِيۡرًا

نېك عملونه كوي او الله ډېر زيات يادوي او بدله

وَّ انۡتَصَرُوۡا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُوۡا ‌ؕ وَ

اخلي كله چې پر دوی ظلم وكړی شي، او

سَيَعۡلَمُ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡۤا اَىَّ مُنۡقَلَبٍ

هغه كسان چې ظلم يې كړی دی ژر به پوه شي
چې د بېرته ورتلو كوم ځای ته به

ع
15

يَّنۡقَلِبُوۡنَ ﴿۲۲۷﴾

دوی بېرته ورځي -227-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

طٰسٓ ۚ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡقُرۡاٰنِ وَكِتَابٍ

طا، سين، دا د قرآن او ښرگند (ښکاره بيانوونکي)

مُّبِيۡنٍ ۙ﴿۱﴾ هُدًى وَّبُشۡرٰى

کتاب ايتونه دي -1- هدايت او زېری دی،

لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۙ﴿۲﴾ الَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ

د مومنانو لپاره -2- هغه چې لمونځ قايموي او

الصَّلٰوةَ وَيُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ وَهُمۡ

زکات ورکوي او هم دوی په اخرت

بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝٣ إِنَّ الَّذِيْنَ

يقين كوي -3- بېشكه هغه كسان

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ

چې په اخرت ايمان نه راوړي، دوی ته مونږ د
دوی عملونه ښايسته

اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ۝٤ اُولٰٓئِكَ

کړي دي، نو دوی سرګردانه دي -4- دغه کسان

الَّذِيْنَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي

دي چې د دوی لپاره بد عذاب دی، او دوی به په

الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝٥ وَاِنَّكَ

اخرت کې هم دوی تر ټولو تاوانيان وي -5- او
بېشکه

لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ

ته (چې يې) خامخا تا ته د ډېر حکمت والا، ښه علم والا (الله) له جانبه قرآن ښوولی

عَلِيْمٍ ۝٦ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِاَهْلِهٖۤ اِنِّيْۤ

(او عطا کولی) شي -6- (ياد کړه) هغه وخت چې موسٰی خپلې ښځې ته وويل: بېشکه

اٰنَسْتُ نَارًا ؕ سَاٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ

ما اور وليده، زه به تاسو ته له دغه (ځای) نه څه خبر راوړم، يا

اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ

به تاسو ته بله کړی شوې لمبه راوړم، د دې لپاره چې

تَصْطَلُوْنَ ۝٧ فَلَمَّا جَآءَهَا نُوْدِيَ اَنْۢ

تاسو تاوده شئ -7- نو کله چې دی هغه (اور) ته راغی، اواز وکړی شو،

بُوْرِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ۗ وَ

داسې چې برکتي کړی شوی دی هغه چې په اور کې دی او هغه چې د ده (اور) چاپېره دی او

سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝٨ یٰمُوْسٰۤی

پاکي ده الله ته چې رب العلمين دی -8- ای موسٰی!

اِنَّهٗۤ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝٩ وَ

بېشکه شان دا دی چې هم زه الله یم، ښه غالب، ښه حکمت والا -9- او

اَلْقِ عَصَاكَ ۗ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا

ته خپله امسا وغورځوه، نو کله چې هغه دا ولیدله چې خوځېږي، ګویا کې

جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ یُعَقِّبْ ۗ

دغه (همسا) نری سپین تېز مار دی، نو وتېښتېده چې شاکوونکی و او بېرته راونه ګرځېده۔،

يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ ۖ اِنِّيْ لَا يَخَافُ لَدَيَّ

اى موسٰى، مه وېرېږه، بېشكه زه چې يم، له ما سره

الْمُرْسَلُوْنَ ﴿١٠﴾ اِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ

رسولان نه وېرېږي -10- خو هغه څوك چې ظلم يې كړى وي، بيا

حُسْنًا بَعْدَ سُوْٓءٍ فَاِنِّيْ غَفُوْرٌ

له بدى نه پس نېكي په بدل كې راوړي، نو بېشكه زه ډېر بخښونكى، بې حده

رَّحِيْمٌ ﴿١١﴾ وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ

رحم كوونكى يم -11- او ته خپل لاس په خپل گرېوان كې ننباسه،

تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۖ فِيْ

(نو) له بيمارى (او عيب) نه بغير به تك سپين راووځي، (دا حساب دي) په

تِسۡعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ وَ قَوۡمِهٖ ؕ

نهو معجزو کې (چې ته ورسره لېږل شوی يې) فرعون او د هغه قوم ته،

اِنَّهُمۡ كَانُوۡا قَوۡمًا فٰسِقِيۡنَ ﴿۱۲﴾ فَلَمَّا

بېشکه دوی يو فاسق (نافرمانه) قوم دی -12- نو کله چې

جَآءَتۡهُمۡ اٰيٰتُنَا مُبۡصِرَةً قَالُوۡا هٰذَا

دوی ته زمونږ نښې (معجزې) راغلې، چې روښانه وې، (نو) دوی وويل: دا

سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ۚ﴿۱۳﴾ وَ جَحَدُوۡا بِهَا وَ

ښکاره جادو دی -13- او دوی له دغو (معجزو) نه انکار وکړ،

اسۡتَيۡقَنَتۡهَاۤ اَنۡفُسُهُمۡ ظُلۡمًا وَّ عُلُوًّا ؕ

د ظلم او سرکشۍ په وجه، حال دا چې د دوی نفسونو په دغو

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

يقين کړی و، نو ته وګوره د فساد کوونکو

ع 16

الْمُفْسِدِينَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُدَ وَ

انجام څنګه و؟ -14- او يقينًا يقينًا مونږ داود او

سُلَيْمَانَ عِلْمًا ۖ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلَّهِ

سليمان ته (خاص) علم ورکړی و او هغو دواړو

وويل: ټوله ستاينه خاص د هغه الله لپاره

الَّذِي فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ

ده چې مونږ ته يې په خپلو مومنو بنده ګانو کې په

ډېرو زياتو باندې

الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥﴾ وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُدَ وَ

فضيلت راکړی دی -15- او سليمان د داود (په

علم، نبوت او سلطنت کې)

قَالَ يَاَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ

وارث شو او هغه وویل: ای خلقو! مونږ ته د

الطَّيْرِ وَ اُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ؕ اِنَّ

الوتونکو (مرغانو) خبرې ښوول شوې دي او مونږ
ته له هر څیز نه راکړه شوې ده، بېشکه

هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿١٦﴾ وَ حُشِرَ

دا، خامخا هم دغه ښکاره فضل دی -16- او د

لِسُلَيْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ الْجِنِّ وَ الْاِنْسِ

سلیمان لپاره د هغه لښکرې راجمع کړې شوې،
چې له پېریانو او انسانانو

وَ الطَّيْرِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿١٧﴾ حَتّٰٓى اِذَآ

او مرغانو څخه وې، بیا به د دوی (په ترتیب سره)
ډلې جوړولی شوې -17- تر هغه پورې چې کله

اَتَوۡا عَلٰى وَادِ النَّمۡلِ ۙ قَالَتۡ نَمۡلَةٌ يّٰۤاَيُّهَا

دوی د مېږانو په دره راغلل، (نو) یوې مېږۍ
وویل:

النَّمۡلُ ادۡخُلُوۡا مَسٰكِنَكُمۡ ۚ لَا

ای مېږانو تاسو خپلو استوګنو ته ننوځئ، چې

يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمٰنُ وَ جُنُوۡدُهٗ ۙ وَ هُمۡ

تاسو سلیمان او د هغه لښکرې مات او چیت پیت
نه کړي، په داسې حال کې

لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۸﴾ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّنۡ

چې دوی به نه پوهېږي -18- نو دی د دې په
خبره (اول) مسکی شو، چې خندا کوونکی و

قَوۡلِهَا وَ قَالَ رَبِّ اَوۡزِعۡنِىۡۤ اَنۡ اَشۡكُرَ

(ورپسې د خوشحالۍ په وجه) ویې ویل: ای زما
ربه! ته ما ته الهام او توفیق راکړه چې زه ستا د

نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى

هغو نعمتونو شكر وباسم چې تا په ما او زما په

وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَ

مور و پلار انعام (او پېرزو) كړي دي او دا چې زه
داسې نېك عمل وكړم چې ته يې خوښوې، او

اَدْخِلْنِيْ بِرَحْمَتِكَ فِيْ عِبَادِكَ

ته ما په خپل رحمت سره په خپلو نېكو بنده ګانو

الصّٰلِحِيْنَ ۝١٩ وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا

كې داخل كړه -19- او د مرغانو لټونه يې وكړه، نو
ويې ويل: ما له

لِيَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ ۖ اَمْ كَانَ مِنَ

څه دي چې زه هدهد (ملاچرګك) نه وينم، بلكې
كه هغه له

الْغَآئِبِينَ ﴿٢٠﴾ لَأُعَذِّبَنَّهٗ عَذَابًا شَدِيدًا

غايب شويو څنې دی؟ -20- خامخا هرومرو به زه ده ته سزا ورکړم، ډېره سخته سزا،

أَوْ لَأَا۟ذْبَحَنَّهٗٓ أَوْ لَيَأْتِيَنِّى بِسُلْطَٰنٍ

يا به خامخا ضرور دی حلال کړم، يا به ضرور هرومرو ما ته

مُّبِينٍ ﴿٢١﴾ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ

ښکاره دليل راوړي -21- نو هغه (هدهد) ايسار شو، خو ډېر نه، (او ژر راغی) نو ويې ويل: ما

أَحَطتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُكَ مِن

هغه خبره (په علم کې) ګېره کړې ده چې تا هغه ګېره کړې نه ده او زه تا ته له سبا (ښار) نه په

سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾ إِنِّى وَجَدتُّ امْرَأَةً

يقيني خبر سره راغلی يم -22- بېشکه ما يوه داسې ښځه وموندله

تَمۡلِكُهُمۡ وَ اُوۡتِيَتۡ مِنۡ كُلِّ شَیۡءٍ وَّ لَهَا

چې په دغو (د سبا ښار په اوسېدونکو) بادشاهي
کوي او هغې ته له هر څيز څخه ورکړه شوې ده

عَرۡشٌ عَظِيۡمٌ ﴿۲۳﴾ وَجَدۡتُّهَا وَ قَوۡمَهَا

او د هغې يو ډېر لوی تخت دی -23- ما هغه او د
هغې قوم

يَسۡجُدُوۡنَ لِلشَّمۡسِ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَ

وموندل چې له الله نه غير لمر ته سجده کوي او

زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيۡطٰنُ اَعۡمَالَهُمۡ

دوی ته شيطان خپل عملونه ښايسته کړي دي،

فَصَدَّهُمۡ عَنِ السَّبِيۡلِ فَهُمۡ لَا

نو دوی يې له (حقې) لارې نه منع کړي دي، نو

يَهْتَدُوْنَ ﴿٢٤﴾ اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ

دوی هدایت نه مومي -24- چې دوی الله ته سجده ونه کړي،

يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَ

هغه چې په اسمانونو او ځمکه کې پټ څیزونه راوباسي او

الْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ وَمَا

پوهېږي په هغه څه چې تاسو يې پټوئ او په هغه څه چې

تُعْلِنُوْنَ ﴿٢٥﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ

تاسو يې ښکاره کوئ -25- الله چې دی، نشته هیڅ لایق د عبادت مگر هم دی دی،

الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٦﴾ السجدة قَالَ سَنَنْظُرُ

د ډېر ستر عرش رب دی -26- (سلیمان) وویل: ضرور به مونږ گورو

السجدة 9

اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ

چې ايا تا رښتيا ويلي دي، يا ته له دروغ

الْكٰذِبِيْنَ ۝٢٧ اِذْهَبْ بِّكِتٰبِيْ هٰذَا

ويونكو څخه يې؟ -27- ته زما دا ليك يوسه، نو ته

فَاَلْقِهْ اِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ

دا دوى ته ورغورځوه، بيا ته له دوى نه مخ
وگرځوه، نو وگوره چې

مَاذَا يَرْجِعُوْنَ ۝٢٨ قَالَتْ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَؤُا

دوى څه واپس کوي؟ -28- هغې وويل: اى
سردارانو!

اِنِّيْۤ اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ۝٢٩ اِنَّهٗ مِنْ

بېشکه زه چې يم، ما ته يو ډېر عزتناك ليك
راغورځول شوى دى -29- بېشکه دا د

سُلَيْمٰنَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ

سلیمان له جانبه (راغلی) دی او بېشکه هغه (داسې) دی: د الله په نامه سره (شروع کوم) چې

الرَّحِيْمِ ﴿٣٠﴾ اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ وَاْتُوْنِيْ

ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی - 30- دا چې تاسو زما په خلاف سرکشي مه کوئ او

ع
17

مُسْلِمِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا

تاسو ما ته راشئ مسلمانان (غاړه اېښودونکي) - 31- هغې ووېل: ای سردارانو!

اَفْتُوْنِيْ فِيْٓ اَمْرِيْ ۚ مَا كُنْتُ قَاطِعَةً

تاسو ما ته زما په (دغه) کار کې مشوره راکړئ، زه د کوم کار فیصله کوونکې نه یم تر

اَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ﴿٣٢﴾ قَالُوْا نَحْنُ

هغه پورې چې تاسو ما ته حاضر شئ -32- هغوی ووېل: مونږه

أُولُوا قُوَّةٍ وَّأُولُوا بَأْسٍ شَدِيدٍ ۙ وَّ

د قوت والا او د ډېر سخت جنګ والا يو، او

الْاَمْرُ اِلَيْكِ فَانْظُرِيْ مَاذَا

(نور) اختيار تا ته دی، نو ته وګوره چې ته

تَاْمُرِيْنَ ۞٣٣ قَالَتْ اِنَّ الْمُلُوْكَ اِذَا

څه حکم کوې؟ -33- هغې وويل: بېشکه
بادشاهان (د هغوی لښکرې)

دَخَلُوْا قَرْيَةً اَفْسَدُوْهَا وَجَعَلُوْٓا

چاپان چې دي، کله چې دوی کوم کلي (ښار) ته
داخل شي (نو) هغه خرابوي،

اَعِزَّةَ اَهْلِهَآ اَذِلَّةً ۚ وَكَذٰلِكَ

او د هغه عزتمن اوسېدونکي ذليله ګرځوي او
دوی به

يَفْعَلُوْنَ ۝٣٤ وَاِنِّيْ مُرْسِلَةٌ اِلَيْهِمْ

هم همداسې کوي -34- او بېشکه زه دوی ته یوه ډالۍ لیږونکې یم،

بِهَدِيَّةٍ فَنٰظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ

نو کتونکې یم چې په څه خبرې سره لیږل شوي

الْمُرْسَلُوْنَ ۝٣٥ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمٰنَ قَالَ

استازي بېرته راځي -35- نو کله چې هغه (استازی) سلیمان ته راغی، (نو سلیمان ورته)

اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ ۫ فَمَآ اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ خَيْرٌ

وویل: ایا تاسو په مال سره زما مدد کوئ، نو هغه چې ما ته الله راکړی دی (هغه)

مِّمَّآ اٰتٰىكُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ

ډېر غوره دی له هغه نه چې تاسو ته یې درکړی دی، بلکې تاسو په خپلې

تَفۡرَحُوۡنَ ﴿٣٦﴾ اِرۡجِعۡ اِلَيۡهِمۡ

ډالۍ سره خوشالېږئ -36- ته هغوی ته بېرته لاړ شه،

فَلَنَاۡتِيَنَّهُمۡ بِجُنُوۡدٍ لَّا قِبَلَ لَهُمۡ بِهَا

نو مونږ به خامخا هرومرو په دوی پسې داسې لښکرې بوځو، چې په دوی کې به

وَلَنُخۡرِجَنَّهُمۡ مِّنۡهَاۤ اَذِلَّةً وَّهُمۡ

له هغو سره د مقابلې هېڅ طاقت نه وي او مونږ به خامخا هرومرو دوی له هغه (ښاره) وباسو، په دې

صٰغِرُوۡنَ ﴿٣٧﴾ قَالَ يٰۤاَيُّهَا الۡمَلَؤُا اَيُّكُمۡ

حال چې چې ذليل به وي، خوار او سپك به وي -37- (سليمان) وويل: ای (د دربار) مخورو! په

يَاۡتِيۡنِىۡ بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ اَنۡ يَّاۡتُوۡنِىۡ

تاسو کې به څوك ما ته د هغې تخت راوړي، مخکې له دې چې دوی

مُسْلِمِيْنَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيْتٌ مِّنَ الْجِنِّ

ما ته راشي مسلمانان (غاړه ايښودونکي)؟ -38- په پيريانو کې ډېر سخت زورور وويل:

اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ تَقُوْمَ مِنْ

زه به هغه تا ته راوړم مخکې له دې چې ته له

مَّقَامِكَ ۚ وَاِنِّيْ عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ

خپل ځای نه پاڅېږې، او بېشکه زه په دغه (تخت) باندې خامخا قوي (او)

اَمِيْنٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ الَّذِيْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ

امانتګر يم -39- وويل هغه کس چې له هغه سره د

الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَدَّ

کتاب علم و: زه به هغه تا ته راوړم مخکې له دې چې تا ته

اِلَيۡكَ طَرۡفُكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهُ مُسۡتَقِرًّا

خپل نظر بيا راگرځي، نو کله چې يې هغه خپلې مخې ته برقرار

عِنۡدَهٗ قَالَ هٰذَا مِنۡ فَضۡلِ رَبِّيۡ ۖ قف

(حاضر) وليد، ويې ويل: دا زما د رب له فضله ځنې دی،

لِيَبۡلُوَنِيۡٓ ءَاَشۡكُرُ اَمۡ اَكۡفُرُ ؕ وَمَنۡ

د دې لپاره چې هغه ما وازمايي چې زه شکر وباسم، يا ناشکري کوم او څوک

شَكَرَ فَاِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ

چې شکر وباسي، نو هغه يوازې د ځان لپاره شکر وباسي او څوک چې ناشکري کوي،

كَفَرَ فَاِنَّ رَبِّيۡ غَنِيٌّ كَرِيۡمٌ ۝٤٠ قَالَ

نو بېشکه زما رب ډېر بې پروا، ډېر کرم کوونکی دی -40- ويې ويل:

نَكِّرُوْا لَهَا عَرْشَهَا نَنْظُرْ اَتَهْتَدِيْٓ اَمْ

هغې ته خپل تخت نا اشنا كړئ چې وګورو ايا

تَكُوْنُ مِنَ الَّذِيْنَ لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿٤١﴾ فَلَمَّا

پېژني يې، يا كېږي له هغو كسانو نه چې نه يې پېژني -41- نو كله چې

جَآءَتْ قِيْلَ اَهٰكَذَا عَرْشُكِ ؕ قَالَتْ

هغه راغله، (ورته) وويل شول: ايا ستا تخت همداسې دى؟ هغې وويل: ګويا كې دا همغه دى۔

كَاَنَّهٗ هُوَ ۚ وَ اُوْتِيْنَا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهَا وَ

او مونږ ته له دې (معجزې) نه مخكې (د توحيد او نبوت) علم راكړى شوى و او مونږ غاړه

كُنَّا مُسْلِمِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَ صَدَّهَا مَا كَانَتْ

اېښودونكي (مسلمانان) وو -42- او دا (د الله له عبادت نه) منع كړې وه

تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ اِنَّهَا كَانَتْ مِنْ

هغه څيز چې دې يې له الله نه غير عبادت كاوه، يقينًا

قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿٤٣﴾ قِيْلَ لَهَا ادْخُلِي

هغه له كافر قوم څنې وه -43- هغې ته وويل شول: ته دې

الصَّرْحَ ۚ فَلَمَّا رَاَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَّ

صحن ته ننوځه، نو كله چې يې هغه وليده، نو په

كَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا ۭ قَالَ اِنَّهٗ

هغه يې د ژورو اوبو گمان وكړ او له خپلو دواړو پنډيو نه يې كپړه پورته كړه- هغه (سليمان) وويل:

صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ ۭ۬ قَالَتْ رَبِّ

بېشكه دا هوار ښويه صحن دی چې له شيشو نه (جوړ) دی، هغې وويل: بېشكه ما (مخكې) په

إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ

خپل ځان ظلم کړی دی او ما له سلیمان سره

ع 18

سُلَيْمٰنَ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَلَقَدْ

خاص د الله رب العلمین لپاره اسلام راوړی دی - 44- او یقینًا یقینًا

أَرْسَلْنَآ إِلٰى ثَمُوْدَ أَخَاهُمْ صٰلِحًا أَنِ

مونږ ثمودیانو ته د هغوی ورور صالح لیږلی و، په دې سره چې

اعْبُدُوا اللّٰهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيْقٰنِ

تاسو د الله عبادت کوئ، نو ناڅاپه هغوی داسې دوه ډلې وې چې په خپل

يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لِمَ

مینځ کې جنګېدلې -45- هغه وویل: ای زما قومه! ولې

تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ بِالسَّیِّئَةِ قَبۡلَ

تاسو په بدۍ (عذاب) سره تادي کوئ، مخکې له

الۡحَسَنَةِ ۚ لَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرُوۡنَ اللّٰهَ

نېکۍ (توبې) نه، ولې تاسو له الله نه مغفرت نه غواړئ؟ د دې لپاره چې په

لَعَلَّکُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ﴿۴۶﴾ قَالُوا اطَّیَّرۡنَا بِكَ

تاسو رحم وکړی شي -46- هغوی وویل: مونږ په تا او په هغه چا چې

وَبِمَنۡ مَّعَكَ ؕ قَالَ طٰٓئِرُکُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ

له تاسره دي؛ بدفالي نیولې ده.، هغه وویل: ستاسو بدفالي د الله په نېز ده، بلکې

بَلۡ اَنۡتُمۡ قَوۡمٌ تُفۡتَنُوۡنَ ﴿۴۷﴾ وَکَانَ فِي

تاسو داسې قوم یئ چې ازمایل کېږئ -47- او په ښار

الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِي

کې نهه (غټ شرير) سړي وو، چې په ځمکه کې به

الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالُوْا

يې فساد کاوه او اصلاح به يې نه کوله -48-
هغوى وويل:

تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ

تاسو په الله قسم وخورئ چې خامخا هرومرو به په ده او د ده په ټبر د شپې حمله کوو،

لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ

بيا به مونږ د ده ولي (وارث) ته خامخا ضرور (داسې) ووايو چې مونږ د ده هلاکت ته حاضر

اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَمَكَرُوْا

شوي نه يو او بېشکه مونږ يقينًا رښتيني يو -49-
او دوى مکر وکړ،

مَكۡرًا وَّ مَكَرۡنَا مَكۡرًا وَّ هُمۡ لَا

خاص مكر كول او مونږ هم تدبير وكړ خاص تدبير كول، په دې حال كې چې

يَشۡعُرُوۡنَ ﴿٥٠﴾ فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ

دوى نه پوهېدل -50- نو ته وګوره چې د دوى د

مَكۡرِهِمۡ ۙ اَنَّا دَمَّرۡنٰهُمۡ وَ قَوۡمَهُمۡ

مكر انجام څنګه و چې بېشكه مونږه دوى او د دوى قوم

اَجۡمَعِيۡنَ ﴿٥١﴾ فَتِلۡكَ بُيُوۡتُهُمۡ خَاوِيَةًۢ

ټول هلاك كړل -51- نو دغه د دوى كورونه دي، چې وران شوي پراته دي، په سبب د دې چې ظلم

بِمَا ظَلَمُوۡا ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ

(شرك) يې كاوه، بېشكه په دې كې خامخا لويه نښه

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٥٢﴾ وَ اَنۡجَيۡنَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ

ده د هغه قوم لپاره چې پوهېږي -52- او مونږ نجات ورکړ هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی و

كَانُوۡا يَتَّقُوۡنَ ﴿٥٣﴾ وَ لُوۡطًا اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖۤ

او پرهېزگاري يې كوله -53- او (ياد كړه) لوط كله چې ده خپل قوم ته وويل:

اَتَاۡتُوۡنَ الۡفَاحِشَةَ وَ اَنۡتُمۡ

ايا تاسو فاحشه (د لواطت قبيح كار) كوئ، حال دا

تُبۡصِرُوۡنَ ﴿٥٤﴾ اَئِنَّكُمۡ لَتَاۡتُوۡنَ الرِّجَالَ

چې تاسو وينئ -54- ايا بېشكه تاسو خامخا د

شَهۡوَةً مِّنۡ دُوۡنِ النِّسَآءِ ؕ بَلۡ اَنۡتُمۡ

خپل شهوت لپاره له خپلو ښځو نه غير له سړيو سره بدكاري كوئ! بلكې تاسو

قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿٥٥﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ

داسې قوم يئ چې جهالت كوئ -55- نو د ده د

قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْٓا اٰلَ لُوْطٍ

قوم جواب نه و غير له دې نه چې دوی وويل:
تاسو د لوط خپلخانه له

مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ

خپل كلي نه وباسئ، بېشكه دوی داسې خلق دی
چې ځانونه

يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اِلَّا

ډېر پاك ساتي -56- نو مونږ نجات وركړ ده ته، او
د ده كورنۍ ته د ده له

امْرَاَتَهٗ ۡ قَدَّرْنٰهَا مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَ

ښځې نه غير، مونږ هغه په باقي پاتې كېدونكو كې
مقرر كړې وه -57- او

اَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ

مونږ په دوی باندې (د کاڼو) باران ووراوه، نو د
وېرول

ع
19

الۡمُنۡذَرِيۡنَ ۝٥٨ قُلِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَ سَلٰمٌ

شویو باران بد و -58- ته ووایه: ټوله ستاینه خاص
د الله لپاره ده، او سلام دې وي

عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيۡنَ اصۡطَفٰى ؕ آٰللّٰهُ خَيۡرٌ

د هغه په هغو بنده ګانو باندې چې غوره کړي یې
دي، ایا الله غوره دی، یا که هغه

اَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ۝٥٩ ؕ

چې دوی یې (له الله سره) شریکوي -59-

اَمَّنۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضَ وَ

بلکي هغه ذات (بهتر دی) چي اسمانونه او ځمکه يي پيدا کړي دي او

اَنۡزَلَ لَكُمۡ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ

تاسو لپاره يي له بره نه اوبه نازلي کړي دي، نو هم مونږ

فَاَنۡۢبَتۡنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٍ ۚ مَا

په هغو سره د رونق (او ښايست) والا باغونه زرغون کړل۔،

كَانَ لَكُمۡ اَنۡ تُنۡۢبِتُوۡا شَجَرَهَا ؕ ءَاِلٰهٌ

تاسو لپاره دا طاقت نشته چي تاسو د هغو (باغونو) وني زرغوني کړئ۔، ايا له الله سره بل

مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ

معبود شته؟ بلکي دوی يو داسي قوم دی چي (له الله سره د نورو)

يَّعۡدِلُوۡنَ ؕ﴿۶۰﴾ اَمَّنۡ جَعَلَ الۡاَرۡضَ

برابري كوي -60- بلكې هغه ذات (غوره دى) چې ځمكه يې

قَرَارًا وَّ جَعَلَ خِلٰلَهَاۤ اَنۡهٰرًا وَّ جَعَلَ

د قرار (او ارام) ځاى جوړه كړې ده او د هغې

لَهَا رَوَاسِیَ وَ جَعَلَ بَیۡنَ الۡبَحۡرَیۡنِ

په مينځ كې يې نهرونه جوړ كړي دي او د دې لپاره يې پاخه لوړ غرونه پيدا كړي دي،

حَاجِزًا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلۡ اَكۡثَرُهُمۡ

او د دوو سمندرونو په مينځ كې يې پرده پيدا كړې ده.، ايا له الله سره بل معبود شته؟ بلكې د دوى

لَا یَعۡلَمُوۡنَ ؕ﴿۶۱﴾ اَمَّنۡ یُّجِیۡبُ الۡمُضۡطَرَّ

اكثره نه پوهېږي -61- بلكې هغه ذات (غوره دى) چې د مجبور (او عاجز)

اِذَا دَعَاهُ وَ يَكۡشِفُ السُّوۡٓءَ وَ

سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکليف (او سختي)

يَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ الۡاَرۡضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ

لرې کوي او تاسو د ځمکې خليفه ګان جوړوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟

اللّٰهِ ؕ قَلِيۡلًا مَّا تَذَكَّرُوۡنَ ؕ﴿۶۲﴾ اَمَّنۡ

تاسو ډېر لږ شانته نصيحت قبلوئ -62- بلکې هغه ذات (غوره دی)

يَّهۡدِيۡكُمۡ فِىۡ ظُلُمٰتِ الۡبَرِّ وَ الۡبَحۡرِ وَ

چې تاسو ته د وچې او سمندر په تيارو کې لاره ښيي او

مَنۡ يُّرۡسِلُ الرِّيٰحَ بُشۡرًۢا بَيۡنَ يَدَىۡ

هغه ذات چې له خپل رحمت نه مخکې هواګانې ليږي،

رَحْمَتِهٖ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا

چې زېرى وركوونكې وي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ الله ډېر اوچت دى له هغو شيانو نه

يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ

چې دوى يې (له الله سره) شريكوي -63- بلكې هغه ذات چې اول ځلې مخلوق پيدا كوي، بيا به

يُعِيْدُهٗ وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَ

دغه (مخلوق) بېرته ژوندي كوي او هغه ذات چې تاسو ته له اسمان او

الْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قُلْ هَاتُوْا

ځمكې نه روزي دركوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ ته (دوى ته) ووايه:

بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٦٤﴾ قُلْ

تاسو خپل دليل راوړئ، كه تاسو رښتيني يئ -64- ته (دوى ته) ووايه:

لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ

هر هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي په غيبو نه

الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ وَ مَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ

پوهېږي غير له الله نه۔ او دوی نه پوهېږي چې کله به دوی بيا

يُبْعَثُوْنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي

ژوندي کولی شي -65- بلکې د اخرت په باره کې

الْاٰخِرَةِ قف بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا قف بَلْ

د دوی علم بېخي ختم شوی دی۔، بلکې دوی د دغه (قيامت) په باره کې په شك کې دي، بلکې

ع 1

هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ﴿۶۶﴾ ع وَ قَالَ الَّذِيْنَ

دوی له دغه (قيامت) نه ړانده دي -66- او کافران شويو کسانو وويل:

كَفَرُوٓا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا وَّ اٰبَآؤُنَآ اَئِنَّا

ايا کله چې مونږه او زمونږ پلرونه خاورې شو، ايا په رښتيا به مونږ خامخا (ژوندي)

لَمُخۡرَجُوۡنَ ﴿٦٧﴾ لَقَدۡ وُعِدۡنَا هٰذَا نَحۡنُ

راوښکلی شو؟ -67- يقينًا يقينًا له دې نه مخکې هم دا وعده مونږ ته

وَ اٰبَآؤُنَا مِنۡ قَبۡلُ ۙ اِنۡ هٰذَآ اِلَّآ

او زمونږ پلرونه ته راکړی شوې ده۔، نه دي دغه (خبرې) مګر د

اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿٦٨﴾ قُلۡ سِيۡرُوۡا فِى

ړومبنو خلقو باطلې قصې -68- ته (دوی ته) ووايه: تاسو په

الۡاَرۡضِ فَانۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ

ځمکه کې وګرځئ، بيا وګورئ چې د مجرمانو (کافرانو)

الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۶۹﴾ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَ

انجام څنګه و؟ -69- او ته په دوی غم مه کوه او په

لَا تَكُنۡ فِيۡ ضَيۡقٍ مِّمَّا يَمۡكُرُوۡنَ ﴿۷۰﴾ وَ

تنګی کې مه کېږه، د هغو مکرونو (فریبونو) په سبب چې دوی يې کوي -70- او

يَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هٰذَا الۡوَعۡدُ اِنۡ كُنۡتُمۡ

دوی وايي: دا (د عذاب د نازلېدو) وعده به کله وي، که

صٰدِقِيۡنَ ﴿۷۱﴾ قُلۡ عَسٰٓى اَنۡ يَّكُوۡنَ رَدِفَ

تاسو رښتيني يئ -71- ته (دوی ته) ووايه چې امېد دی چې په تاسو پسې به پیوست شي ځینې له

لَكُمۡ بَعۡضُ الَّذِىۡ تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ ﴿۷۲﴾ وَ

هغه (عذاب) نه چې تاسو يې په جلتۍ غواړئ - 72- او

اِنَّ رَبَّكَ لَذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى النَّاسِ وَ

بیشکه ستا رب په خلقو باندې خامخا د فضل
کولو والا دی او

لٰكِنَّ اَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُوۡنَ ﴿۷۳﴾ وَاِنَّ

لېکن د دوی اکثره شکر نه وباسي -73- او بېشکه

رَبَّكَ لَيَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوۡرُهُمۡ وَ مَا

ستا رب خامخا پوهېږي په هغه څه چې د دوی
سینې يې پټوي او څه چې دوی

يُعۡلِنُوۡنَ ﴿۷۴﴾ وَمَا مِنۡ غَآئِبَةٍ فِى

(خلق) ظاهروي -74- او په اسمان او

السَّمَآءِ وَ الۡاَرۡضِ اِلَّا فِىۡ كِتٰبٍ

ځمکه کې هېڅ پټ پناه شی نشته مګر په واضح

مُّبِيۡنٍ ﴿۷۵﴾ اِنَّ هٰذَا الۡقُرۡاٰنَ يَقُصُّ عَلٰى

كتاب كې (ليك) دي -75- بېشكه دا قرآن

بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اَكۡثَرَ الَّذِىۡ هُمۡ فِيۡهِ

بني اسرائيلو ته د هغو خبرو زياتره حصه بيانوي چې دوی په

يَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۷۶﴾ وَاِنَّهٗ لَهُدًى وَّرَحۡمَةٌ

هغو كې اختلاف كوي -76- او بېشكه دا (قرآن) يقينًا هدايت او رحمت دی،

لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۷۷﴾ اِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِىۡ بَيۡنَهُمۡ

لپاره د مومنانو -77- بېشكه ستا رب به د دوی په مينځ كې

بِحُكۡمِهٖ ۚ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ

په خپل انصاف سره فيصله كوي، او همغه ډېر غالب،

الْعَلِيْمُ ﴿۷۸﴾ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّكَ عَلَى

ښه علم والا دی -78- نو ته خاص په الله باندې توکل وکړه، بېشکه ته په

الْحَقِّ الْمُبِيْنِ ﴿۷۹﴾ اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ

ښکاره حق باندې يې -79- بېشکه ته مړو ته

الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا

نشې اورولی او ته کڼو ته (هم) اواز نشې رسولی، کله چې دوی مخ واړوي، په دې

وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۸۰﴾ وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِى

حال کې چې شا کوونکي وي -80- او ته

الْعُمْىِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا

ړندو ته د هغوی له ګمراهۍ نه هدايت کوونکی نه يې، ته نشې اورولی مګر

مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾ وَ

هغه چا ته چې زمونږ په ایتونو ایمان راوړي، نو هم دوی مسلمانان دي -81- او

اِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَا

کله چې په دوی (د عذاب) خبره ثابته شي (او

لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ ۙ اَنَّ

قیامت رانژدې شي، نو) مونږ به دوی ته له ځمکې نه یوه دابّه (ژوندی خوځنده) راوباسو، چې له

ع 2

النَّاسَ كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٨٢﴾ۧ وَ

دوی سره به خبرې کوي، چې بېشکه خلقو به زمونږ په ایتونو یقین نه کاوه -82- او (یاده کړه)

يَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّنْ

هغه ورځ چې مونږ به له هر امت نه (د مشرانو) یوه ډله راجمع کړو،

يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ حَتّٰٓى

له هغو نه چې زمونږ د ايتونو تكذيب كوي، نو
دوى به منع كولى (يوځاى كولى) شي -83- تر

اِذَا جَآءُوْ قَالَ اَكَذَّبْتُمْ بِاٰيٰتِيْ وَلَمْ

دې چې كله دوى (محشر ته) راشي، وبه وايي
(الله): ايا تاسو زما د ايتونو تكذيب كړى و، حال

تُحِيْطُوْا بِهَا عِلْمًا اَمَّا ذَا كُنْتُمْ

دا چې د علم په لحاظ سره تاسو د هغو احاطه نه
وه كړې، ايا څه دي هغه چې تاسو

تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ بِمَا

عمل كاوه؟ -84- او په دوى باندې به (د عذاب)
خبره ثابته شي، په سبب

ظَلَمُوْا فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٨٥﴾ اَلَمْ يَرَوْا

د هغه ظلم چې دوى كړى و، نو دوى به خبرې
نشي كولى -85- ايا دوى نه دي كتلي

اَنَّا جَعَلۡنَا الَّيۡلَ لِيَسۡكُنُوۡا فِيۡهِ وَ

چې بېشکه مونږ شپه پيدا کړې ده، د دې لپاره چې دوی په دې کې سکون (او ارام) وکړي او

النَّهَارَ مُبۡصِرًا ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

ورځ مو روښانه (ګرځولې ده) بېشکه په دغو کې خامخا ډېر دليلونه (نښې) دي

لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۸۶﴾ وَيَوۡمَ يُنۡفَخُ فِى

د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي -86- او (ياده کړه) هغه ورځ چې

الصُّوۡرِ فَفَزِعَ مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ وَمَنۡ

په شپيلۍ کې به پوکی وکړی شي، نو سخت به ووېرېږي هغه څوك چې په اسمانونو کې دي او

فِى الۡاَرۡضِ اِلَّا مَنۡ شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَكُلٌّ

هغه څوك چې په ځمکه کې دي غير له هغه چا نه چې الله يې وغواړي او دوی ټول به

اَتَوْهُ دٰخِرِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ

دغه (الله) ته عاجزه (او ذليله) راشي -87- او ته به غرونه وينې،

تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ

ته به په دوی د کلکو ولاړو ګمان کوې، حال دا چې دوی به د وريځې د

السَّحَابِ ؕ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اَتْقَنَ

تېرېدلو په شان تېرېږي، (وګورئ) کاريګري د الله هغه چې

كُلَّ شَيْءٍ ؕ اِنَّهٗ خَبِيْرٌۢ بِمَا

هر شی يې محکم کړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو

تَفْعَلُوْنَ ﴿٨٨﴾ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ

چې تاسو يې کوئ -88- هغه څوك چې يوه نېکي (د توحيد کلمه) راوړي،

خَيۡرٌ مِّنۡهَا ۚ وَهُمۡ مِّنۡ فَزَعٍ يَّوۡمَئِذٍ

نو د هغه لپاره له هغې نه غوره (بدله) ده او دوی
به د دغې ورځې د سختې وېرې نه په

اٰمِنُوۡنَ ﴿۸۹﴾ وَمَنۡ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ

امان (امن والا) وي -89- او څوك چې يوه بدي
(شرك) راوړي،

فَكُبَّتۡ وُجُوۡهُهُمۡ فِى النَّارِ ؕ هَلۡ

نو د دوی مخونه به په اور كې نسكور وغورځولی
شي، (او ورته ويلی به شي) تاسو ته جزا نه

تُجۡزَوۡنَ اِلَّا مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۰﴾ اِنَّمَاۤ

دركولی كېږي مگر (جزا د) هغو عملونو چې تاسو
به كول -90- بېشكه ما

اُمِرۡتُ اَنۡ اَعۡبُدَ رَبَّ هٰذِهِ الۡبَلۡدَةِ

ته حكم شوی دی چې يواځې د دې ښار د رب
عبادت وكړم،

الَّذِیْ حَرَّمَهَا وَلَهٗ كُلُّ شَیْءٍ٘ وَّ

هغه (الله) چې ده ته يې حرمت (عزت) ورکړی دی او هر شی خاص د هغه لپاره دی او

اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿۹۱﴾ وَ

ما ته حکم راکړی شوی دی چې زه له مسلمانانو څخه شم -91- او

اَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰی

داچې د قرآن تلاوت وکړم، نو څوك چې په نېغه لار روان شو،

فَاِنَّمَا یَهْتَدِیْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ

نو بېشکه هغه يواځې د خپل ځان د فايدې لپاره په نېغه لار ځي او څوك چې گمراه شو،

فَقُلْ اِنَّمَاۤ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِیْنَ ﴿۹۲﴾ وَقُلِ

نو ته ووايه: زه خو يواځې له وېرووونکو څخه يم -92- او ته ووايه:

الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ

ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي، هغه به عنقريب په تاسو

فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا

خپل دليلونه (نښې) وويني، نو تاسو به هغه وپېژنئ او ستا رب له سره غافل نه دی له

ع 3

تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾

هغو کارونو نه چې تاسو يې کوئ -93-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

طٰسٓمّٓ ۝١ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ

طا، سين، ميم -1- دا د ښكاره كتاب

الۡمُبِيۡنِ ۝٢ نَتۡلُوۡا عَلَيۡكَ مِنۡ نَّبَاِ

ايتونه دي -2- مونږ تا ته لولو د

مُوۡسٰى وَفِرۡعَوۡنَ بِالۡحَقِّ لِقَوۡمٍ

موسٰى او فرعون له خبرونو ځنې په حقه سره د هغه قوم لپاره

يُّؤۡمِنُوۡنَ ۝٣ اِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِى

چې ايمان راوړي -3- بېشكه فرعون په ځمكه

الۡاَرۡضِ وَ جَعَلَ اَهۡلَهَا شِيَعًا

کې لویي راخیستې وه او د دې اوسېدونکې یې ډلې ډلې کړي وو،

يَّسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةً مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ

په دوی کې یې یوه ډله ډېره ضعیفه کوله، د دوی

اَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡىٖ نِسَآءَهُمۡ ؕ اِنَّهٗ

زامن به یې حلالول او د دوی ښځې به یې ژوندۍ پرېښودلې، بېشکه هغه

كَانَ مِنَ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ۝٤ وَنُرِيۡدُ اَنۡ

له فساد کوونکو څخه و -4- او مونږ اراده وکړه چې په

نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيۡنَ اسۡتُضۡعِفُوۡا فِى

هغو کسانو احسان وکړو چې په ځمکه کې ډېر ضعیف کړی شوي دي

الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ اَىِٕمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ

او چې دوی امامان وګرځوو او چې مونږ دوی (د فرعون د ملك)

الْوٰرِثِيْنَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى الْاَرْضِ

وارثان وګرځوو -5- او چې مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو

وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا

او چې فرعون او هامان او د دواړو لښکرو ته له دغو (بني اسرائيلو) نه

مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ۝٦ وَاَوْحَيْنَآ

هغه شی وښيو چې دوی به ترې وېرېدل -6- او مونږ د

اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ فَاِذَا

موسٰی مور ته وحي وکړه چې ته ده ته تی ورکوه، نو

خِفۡتِ عَلَيۡهِ فَاَلۡقِيۡهِ فِى الۡيَمِّ وَلَا

کله چې په ده ووېرېدلې، نو دا په سیند کې وغورځوه او مه

تَخَافِىۡ وَلَا تَحۡزَنِىۡ ۚ اِنَّا رَآدُّوۡهُ اِلَيۡكِ وَ

وېرېږه او غم مه کوه، بېشکه دا مونږ تا ته بېرته راوستونکي يو او مونږ

جَاعِلُوۡهُ مِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۝۷ فَالۡتَقَطَهٗۤ

دا له رسولانو له نه گرځوونکي يو -7- نو دی ال فرعون ومونده (او اوچت يې کړ)

اٰلُ فِرۡعَوۡنَ لِيَكُوۡنَ لَهُمۡ عَدُوًّا وَّ

د دې لپاره چې (عاقبتًا) د دوی لپاره دښمن او

حَزَنًا ؕ اِنَّ فِرۡعَوۡنَ وَهَامٰنَ وَ

غم شي، بېشکه فرعون او هامان او

جُنُوْدَهُمَا كَانُوْا خٰطِـِٕيْنَ ۝٨ وَ قَالَتِ

د دواړو لښکرې (دوی ټول) خطا کوونکي وو -8-
او د فرعون ښځې وویل:

امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَ لَكَ ؕ

(دا هلك) زما او ستا د سترګو يخوالی دی، تاسو

لَا تَقْتُلُوْهُ ۖۗ عَسٰۤى اَنْ يَّنْفَعَنَاۤ اَوْ

دا مه وژنئ، امېد دی چې دا به مونږ ته نفع
راورسوي، يا به دا

نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّ هُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝٩ وَ

مونږ زوی ونیسو، په دې حال کې چې دوی نه
پوهېدل -9- او

اَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًا ؕ اِنْ

د موسٰی د مور زړه (له صبره) ښخي خالي شو،
بېشکه

كَادَتۡ لَتُبۡدِیۡ بِهٖ لَوۡ لَاۤ اَنۡ رَّبَطۡنَا عَلٰی

هغه قريب وه چې خامخا د ده اظهار وكړي كه
چېرې مونږ د

قَلۡبِهَا لِتَكُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۰﴾ وَ

هغې زړه مضبوط كړى نه وى، د دې لپاره چې له
باور كوونكو څخه شي -10- او

قَالَتۡ لِاُخۡتِهٖ قُصِّيۡهِ ۫ فَبَصُرَتۡ بِهٖ

هغې د هغه خور ته وويل: د ده (موسٰى) پسې
برابره ځه، نو هغې به ده ته له

عَنۡ جُنُبٍ وَّ هُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۱﴾ وَ

لرې نه كتل، په دې حال كې چې دوى به نه
پوهېدل -11- او

حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِ الۡمَرَاضِعَ مِنۡ قَبۡلُ

مونږ په ده باندې دايیګانې بندې كړې وې، له
مخكې نه،

فَقَالَتْ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰٓى اَهْلِ بَيْتٍ

نو هغې (د موسٰی خور) وویل: ایا زه تاسو ته داسې کورنۍ وښیم چې

يَّكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ وَهُمْ لَهٗ

ستاسو لپاره د ده کفالت (او ساتنه) وکړي، په داسې حال کې چې هغوی به له ده

نٰصِحُوْنَ ﴿۱۲﴾ فَرَدَدْنٰهُ اِلٰٓى اُمِّهٖ كَیْ تَقَرَّ

سره ښېګڼه کوونکي وي -12- نو مونږ هغه خپلې مور ته بېرته راوسته،

عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ

د دې لپاره چې د هغې سترګې يخې شي او غم ونه کړي او د دې لپاره چې پوه شي چې بېشکه د

اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا

الله وعده حقه ده۔ او لېکن د دوی زیاتره

ع
4

الربع

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿١٣﴾ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسۡتَوٰٓى

خلق نه پوهېږي -13- او کله چې هغه خپل زور (ځوانی) ته ورسېده، او ښه برابر شه،

اٰتَيۡنٰهُ حُكۡمًا وَّعِلۡمًا ؕ وَكَذٰلِكَ

مونږ هغه ته حکم (نبوت) او پوهه ورکړه او همداسې مونږ

نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿١٤﴾ وَدَخَلَ

نېکي کوونکو ته بدله ورکوو -14- او هغه (دې)

الۡمَدِيۡنَةَ عَلٰى حِيۡنِ غَفۡلَةٍ مِّنۡ اَهۡلِهَا

ښار ته د هغه (ښار) د اوسېدونکو د غفلت (خوب) په وخت کې داخل شو،

فَوَجَدَ فِيۡهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلٰنِ ۖ هٰذَا

نو ده په هغه کې دوه سړي وموندل چې له يو بل سره په جنګ وو، دا يو

مِنۡ شِيۡعَتِهٖ وَ هٰذَا مِنۡ عَدُوِّهٖ‌ۚ

د ده له ډلې (بنی اسرائيلو) نه و او دا بل د ده له دښمنانو څخه و۔

فَاسۡتَغَاثَهُ الَّذِىۡ مِنۡ شِيۡعَتِهٖ عَلَى

نو، هغه کس چې د ده له ډلې څخه و، له ده نه يې مرسته وغوښته،

الَّذِىۡ مِنۡ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهٗ مُوۡسٰى

د هغه کس په خلاف چې د ده له دښمنانو څخه و۔، نو موسٰی

فَقَضٰى عَلَيۡهِ‌ۖ قَالَ هٰذَا مِنۡ عَمَلِ

هغه په سوك وواهه، نو هغه يې قتل کړ، ده وويل:

الشَّيۡطٰنِ‌ؕ اِنَّهٗ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ

دا د شيطان له کاره څخه دی، بېشکه هغه ښکاره گمراه

مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ

کوونکی دښمن دی -15- ده وویل: ای زما ربه!
بېشکه ما په خپل ځان ظلم کړی دی،

فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ لَهٗ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ

نو ته ما ته بخښنه وکړې، نو هغه ورته بخښنه
وکړه، بېشکه هغه، هم هغه ډېر بخښونکی، بې حده

الرَّحِيْمُ ﴿١٦﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ

رحم کوونکی دی -16- ويې ويل: ای زما ربه! په
سبب د هغه انعام چې تا په ما وکړ،

فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا

نو زه به هېچرې د مجرمانو

لِّلْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٧﴾ فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ

مددګار نشم -17- نو سبا يې کړ په ښار کې،

خَآىِٕفًا يَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِى اسْتَنْصَرَهٗ

په داسې حال کې چې وېرېدونکی و، (او) انتظار يې کاوه، نو ناڅاپه

بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ ؕ قَالَ لَهٗ مُوْسٰى

هغه کس چې پرون يې له ده نه مدد غوښتی و، ده ته نارې وهي، موسٰی ده ته وويل:

اِنَّكَ لَغَوِىٌّ مُّبِيْنٌ ۝١٨ فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ اَنْ

بېشکه ته خامخا ښکاره ګمراه يې -18- نو کله چې ده اراده وکړه

يَّبْطِشَ بِالَّذِىْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ

چې هغه کس ونيسي چې هغه د دوی دواړو دښمن دی، هغه وويل:

يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِىْ كَمَا قَتَلْتَ

ای موسٰی! ايا ته غواړې چې ما (هم) قتل کړې،

نَفۡسًۢا بِالۡاَمۡسِ‌ۖ اِنۡ تُرِيۡدُ اِلَّاۤ اَنۡ

لکه پرون چې دې یو نفس وژلی و، ته نه غواړې مگر دا

تَكُوۡنَ جَبَّارًا فِى الۡاَرۡضِ وَمَا تُرِيۡدُ

چې په ځمکه کې زورور شې او ته نه غواړې چې

اَنۡ تَكُوۡنَ مِنَ الۡمُصۡلِحِيۡنَ ﴿۱۹﴾ وَجَآءَ

ته له اصلاح کوونکو څخه شې -19- او د

رَجُلٌ مِّنۡ اَقۡصَا الۡمَدِيۡنَةِ يَسۡعٰى قَالَ

ښار تر ټولو لرې غاړې نه یو سړی راغی چې منډې یې راوهلې، ویې ویل:

يٰمُوۡسٰۤى اِنَّ الۡمَلَاَ يَاۡتَمِرُوۡنَ بِكَ

ای موسیٰ بېشکه چې مشران ستا په باره کې مشورې کوي،

لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّيْ لَكَ مِنَ

د دې لپاره چې تا قتل کړي، نو ته وځه! بېشکه زه ستا له خير

النّٰصِحِيْنَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا

غوښتونکو څخه يم -20- نو موسٰی له دغه (ښار) نه ووت،

يَّتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ

په دې حال کې چې وېرېدونکی و (او) انتظار يې کاوه، ويې ويل: ای زما ربه! ته ما ته له ظالم قوم

ع 5

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ

نه نجات راکړې -21- او کله چې يې د مدين په طرف مخه کړه،

قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِيْ سَوَآءَ

ويې ويل: امېد دی چې زما رب به ما ته نېغه

السَّبِيۡلِ ﴿۲۲﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدۡيَنَ

لار راوښيي -22- او کله چې د مدين اوبو ته ورسېده،

وَجَدَ عَلَيۡهِ اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسۡقُوۡنَ ۙ۬

نو د هغه (کوهي) په خوا کې يې د خلقو يوه ډله

وَ وَجَدَ مِنۡ دُوۡنِهِمُ امۡرَاَتَيۡنِ

وموندله چې اوبه يې ورکولې او له هغوی نه يې رابېرته دوه ښځې وموندلې

تَذُوۡدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطۡبُكُمَا ؕ قَالَتَا لَا

چې خپل څاروي يې رامنع کول، ويې ويل: ستاسو څه معامله ده؟ هغوی وويل: مونږ (څارويو

نَسۡقِىۡ حَتّٰى يُصۡدِرَ الرِّعَآءُ ٚ وَاَبُوۡنَا

ته) اوبه نه ورکوو تر هغه پورې چې شپانه بېرته (سره له ماله) لاړ شي او زمونږ پلار

شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰى

عمر خوړلی بوډا دی -23- نو (د) هغو (کنډك) ته
يې اوبه ورکړې،

اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّيْ لِمَآ اَنْزَلْتَ

بیا سیوري ته وګرځېده، نو ویې ویل: ای زما ربه!
بېشکه زه هر هغه خیز ته چې ته یې ما ته نازلوې

اِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿٢٤﴾ فَجَآءَتْهُ

له خیره ځنې؛ محتاج یم -24- نو په دغو

اِحْدٰىهُمَا تَمْشِيْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۫

دواړو کې یوه ده ته راغله چې په ډېرې حیا سره
یې تګ کاوه،

قَالَتْ اِنَّ اَبِيْ يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ

ویې ویل: بېشکه زما پلار تا غواړي، د دې لپاره
چې تا ته اجر (حق) درکړي

مَا سَقَيْتَ لَنَا ؕ فَلَمَّا جَآءَهٗ وَ قَصَّ

د هغه عمل چې تا مونږ ته (زمونږ څاروي) اوبه کړي وو، نو کله چې

عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ ٙ قف وقفة

هغه ده ته راغی او ده ته يې (خپله) قصه بيان کړه، ويې ويل: ته مه وېرېږه (اوس)

نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵﴾ قَالَتْ

ته له ظالم قوم نه خلاص شوی يې -25- په دواړو کې يوې وويل:

اِحْدٰىهُمَا يٰۤاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ؗ اِنَّ خَيْرَ

ای زما پلار جانه! ته دا مزدور ونيسه، بېشکه ترټولو غوره

مَنِ اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِيُّ

په هغه چا کې چې ته يې مزدور نيسې، هغه دی چې ښه قوتناك

الْاَمِيْنُ ﴿٢٦﴾ قَالَ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ

او امانتګر وي -26- ويې ويل: بېشکه زه غواړم په

اِحْدَى ابْنَتَيَّ هٰتَيْنِ عَلٰٓى اَنْ تَاْجُرَنِيْ

خپلو دغو دوه لوڼو کې یوه تا ته په نکاح درکړم، په دې شرط چې

ثَمٰنِيَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا

ته به اته کاله زما مزدوري کوې، نو که تا لس کاله پوره کړل،

فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اَشُقَّ

نو ستا له اړخه به (احسان) وي، او زه په تا باندې مشقت اچول نه غواړم،

عَلَيْكَ ۭ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَاۗءَ اللّٰهُ مِنَ

ژر ده چې ته به ما له نېکانو څخه ومومې، که الله

الصّٰلِحِيْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَ

وغواړي (ان شاء الله) -27- ويې ويل: دا دى (عهد مقرر) زما په مينځ کې او

بَيْنَكَ ؕ اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا

ستا په مينځ کې، په دغو دواړو نېټو کې چې کومه ما پوره کړه، نو په ما به

عُدْوَانَ عَلَيَّ ؕ وَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ

(نور) هېڅ زياتى نه وي، او څه چې مونږ وايو، الله

ع 6

وَكِيْلٌ ﴿٢٨﴾ فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى الْاَجَلَ وَ

پرې گواه دى -28- نو کله چې موسٰى نېټه پوره کړه او

سَارَ بِاَهْلِهٖٓ اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ

له خپل اهل سره روان شو (، نو) د طور له جانبه

نَارًا ۚ قَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ

يې اور وليده، خپل اهل ته يې وويل: تاسو ايسار شي، بېشکه ما

نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ

اور وليده، کېدی شي چې زه تاسو ته له هغه نه څه خبر،

جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ

يا د اور سکروټه (شغله) راوړم، د دې لپاره چې

تَصْطَلُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ مِنْ

تاسو (پرې) تاوده شئ -29- نو کله چې دغه (اور) ته راغی (، نو) په

شَاطِئِ الْوَادِ الْاَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ

مبارکه ټوټه (قطعه) کې د ناو په ښي اړخ کې له

وني نه

الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ اَنْ يّٰمُوْسٰٓى اِنِّيْٓ

ورته اواز وکړی شو داسې چې ای موسٰی! بېشکه همدا

اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٠﴾ وَاَنْ اَلْقِ

زه الله رب العلمین یم -30- او داسې چې

عَصَاكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ

خپله امسا وغورځوه، نو کله چې يې هغه ولیدله چې حرکت کوي،

وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰٓى

ګویاکې نری منګری مار دی، (نو) مخ يې واړوه، په دې حال کې چې شاکوونکی (تښتېدونکی) و،

اَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۗ اِنَّكَ مِنَ

او بېرته را ونه ګرځېده، ای موسٰی! مخ راواړوه او مه وېرېږه: بېشکه ته له

الْاٰمِنِيْنَ ﴿٣١﴾ اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ

امان موندونکو څخه یې -31- ته خپل لاس په
خپل ګرېوان کې ننباسه،

تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۫ وَّ

را وبه وځي، په داسې حال کې چې بې له کوم
عیبه به تك سپین وي او

اضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ

ته خپل څانګ خپل ځان ته راپېوست کړه، د

فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى

وېرې له وجې نه، نو دغه دواړه ستا د رب له

فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا

جانبه دلیلونه دي فرعون او د هغه سردارانو ته،
بېشکه چې دوی

فٰسِقِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ

فاسقان خلق دي -32- ويې ويل: اى زما ربه! بېشكه ما له دوى نه يو نفس وژلى دى،

نَفْسًا فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿٣٣﴾ وَاَخِيْ

نو زه وېرېږم چې دوى به ما ووژني -33- او زما ورور

هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ

هارون چې دى، هغه له ما نه په ژبه كې ډېر فصيح دى،

مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ

نو ته هغه زما سره مددگار ولېږه چې زما تصديق كوي، بېشكه زه وېرېږم له دې نه چې دوى به زما

يُّكَذِّبُوْنِ ﴿٣٤﴾ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ

تكذيب وكړي -34- ويې ويل: ژر به مونږ ستا

بِاَخِیۡكَ وَ نَجۡعَلُ لَكُمَا سُلۡطٰنًا فَلَا

مت په خپل ورور سره مضبوط کړو او تاسو لپاره به غلبه وګرځوو،

یَصِلُوۡنَ اِلَیۡكُمَا ۚۛ بِاٰیٰتِنَاۤ ۚۛ اَنۡتُمَا وَ مَنِ

نو دوی به تاسو ته نشي دررسېدلی، زمونږ د نښو په وجه۔ تاسو دواړه او څوك چې ستاسو پیروي

اتَّبَعَكُمَا الۡغٰلِبُوۡنَ ﴿۳۵﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمۡ

کوي هم تاسو (ټول) به غالب وئ -35- نو کله چې دوی ته

مُّوۡسٰی بِاٰیٰتِنَا بَیِّنٰتٍ قَالُوۡا مَا هٰذَاۤ اِلَّا

موسٰی زمونږ په څرګندو معجزو سره راغی، دوی وویل: نه دی دا مګر

سِحۡرٌ مُّفۡتَرًی وَّ مَا سَمِعۡنَا بِهٰذَا فِیۡۤ

جادو (سحر)، چې په دروغو سره جوړ کړی شوی دی او مونږ دا خبره په خپلو

اٰبَآئِنَا الۡاَوَّلِيۡنَ ۝٣٦ وَقَالَ مُوۡسٰى رَبِّيۡۤ

پلرونو کې نه ده اورېدلې چې پخوا وو -36- او موسیٰ وويل: زما رب

اَعۡلَمُ بِمَنۡ جَآءَ بِالۡهُدٰى مِنۡ عِنۡدِهٖ

ښه عالم دی په هغه چا چې د هغه له جانبه په هدايت سره راغلی دی

وَمَنۡ تَكُوۡنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ‌ؕ اِنَّهٗ لَا

او په هغه چا چې د هغه لپاره به د اخرت ښه انجام وي، بېشکه شان دا دی

يُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ ۝٣٧ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ

چې ظالمان به بری نه مومي -37- او فرعون وويل:

يٰۤاَيُّهَا الۡمَلَاُ مَا عَلِمۡتُ لَكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ

ای سردارانو! زه تاسو لپاره له خپل ځان نه غير بل هېڅ معبود نه پېژنمـ،

غَيۡرِىۡ ۚ فَاَوۡقِدۡ لِىۡ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيۡنِ

نو اى هامانه! ته زما لپاره په خټې باندې اور بل
کړه،

فَاجۡعَلْ لِّىۡ صَرۡحًا لَّعَلِّىۡۤ اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ

پس زما لپاره يوه اوچته ماڼۍ جوړه کړه، کېدی
شي چې زه د

مُوۡسٰى ۙ وَاِنِّىۡ لَاَظُنُّهٗ مِنَ

موسٰی معبود ته وخېژم او بېشکه زه دا له

الۡكٰذِبِيۡنَ ۝٣٨ وَاسۡتَكۡبَرَ هُوَ وَجُنُوۡدُهٗ

دروغجنانو څنې ګڼم -38- او ده او د ده لښکرو

فِى الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ وَظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ

په ځمکه کې ناحقه (تکبر او) اولويي وکړه او دا
يې وګڼله چې يقينًا دوی

اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٣٩﴾ فَاَخَذْنٰهُ وَ

به مونږ ته نه راګرځول کېږي -39- نو مونږ دا او د ده

جُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۚ فَانْظُرْ

لښکرې راونيولې، نو مونږ دوی په درياب کې وغورځول، نو ته وګوره

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَ

چې د ظالمانو (کافرانو) انجام څنګه و؟ -40- او

جَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَ

مونږه دوی داسې پېشوايان وګرځول چې اور ته بلنه کوي او

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿٤١﴾ وَ

د قيامت په ورځ به له دوی سره مرسته نه کولی شي -41- او

اَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَ

په دې دنيا کې مونږ د دوی پسې لعنت ولګاوه، او

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ

د قيامت په ورځ به همدوی له خراب کړی

ع 7

الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴿۴۲﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى

شويو (بدمخي شويو) څخه وي -42- او يقينًا يقينًا

مونږ موسٰی ته

الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ

کتاب ورکړی و، وروسته له هغه نه چې مونږ

ړومبني امتونه هلاك کړل،

الْاُوْلٰى بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّ

په دې حال کې چې هغه د خلقو لپاره د بصيرتونو

والا، او هدايت او

رَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَمَا

رحمت دی، د دې لپاره چې دوی نصیحت ومني -
-43 او (ای نبي!) ته (د موسٰی)

كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى

سره د مغربي (غره) خوا ته نه وې کله چې مونږ

مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ

موسٰی ته د (نبوت د) کار وحي وکړه او ته له

الشّٰهِدِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا

حاضرینو څخه نه وې -44- او لېکن مونږ ډېر
امتونه پیدا کړل،

فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ

نو په دوی خپل عمرونه اوږده شول۔ او ته په
مدین والاو کې

ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ

اوسېدونکی نه وې، چې تا هغوی ته زمونږ

اٰيٰتِنَا ۙ وَ لٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَ مَا

ایتونه لوستلی، او لېکن همدا مونږ (تا لره)
لېږونکي یو -45- او ته د

كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا وَ لٰكِنْ

طور خوا ته نه وې کله چې مونږ اواز وکړ او
لېکن (ته لېږلی يې مونږ)

رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ

رحمت، د خپل رب له جانبه، د دې لپاره چې ته
هغه قوم وویروې چې له

اَتٰهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ

تا نه مخکې دوی ته کوم وېروونکی نه دی
راغلی، د دې لپاره چې دوی

يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ

نصيحت قبول کړي -46- او كه دا نه وى چې
دوى ته به څه

مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ

مصيبت ورسېږي په سبب د هغو عملونو چې د
دوى لاسونو مخكې لېږلي دي،

فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا

بيا به دوى وايي: اى زمونږ ربه! ته مونږ ته كوم
رسول ولې نه رالېږې،

رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ وَنَكُوْنَ مِنَ

پس چې مونږ ستا د ايتونو تابع شو او شو له

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ

مومنانو څخه -47- نو كله چې دوى ته زمونږ له

مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْا لَوْ لَآ اُوْتِيَ مِثْلَ مَآ

جانبه حق راغی، ویې ویل: ده ته په مثل د هغو (معجزو) ولې نه دي ورکړې شوي

اُوْتِيَ مُوْسٰى ؕ اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا بِمَآ اُوْتِيَ

چې موسٰی ته ورکړې شوې دي؟ ایا دوی کافران شوي نه وو په هغو (معجزو) چې له دې نه مخکې

مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ۚ قَالُوْا سِحْرٰنِ

موسٰی ته ورکړې شوې وې؟ دوی وویل: دوه سحره دي،

تَظٰهَرَا ۫ وَقَالُوْٓا اِنَّا بِكُلٍّ

چې د یو بل مدد کوي، او دوی وویل: مونږ په هر یو

كٰفِرُوْنَ ۝٤٨ قُلْ فَاْتُوْا بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ

سره کفر کوونکي یو -48- ته ووایه: تاسو د الله له خوا نه داسې کتاب راوړئ چې هغه د

اللّٰهِ هُوَ اَهۡدٰى مِنۡهُمَاۤ اَتَّبِعۡهُ اِنۡ

دې دواړو کتابونو نه زيات لار ښوونکی وي، چې
زه د هغه پيروي وکړم،

كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ۝٤٩ فَاِنۡ لَّمۡ

که تاسو رښتيني يئ -49- نو که دوی ستا خبره

يَسۡتَجِيۡبُوۡا لَكَ فَاعۡلَمۡ اَنَّمَا يَتَّبِعُوۡنَ

ونه منله، نو ته پوه شه چې دوی يقينًا يواځې د
خپلو خواهشاتو پيروي کوي

اَهۡوَآءَهُمۡ ؕ وَمَنۡ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ

او له هغه چا نه لوی گمراه څوك دی، چې د خپل

هَوٰٮهُ بِغَيۡرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

خواهش پيروي کوي، بې له هدايته د الله له
جانبه۔ بېشکه الله

ع 8

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ

ظالم قوم ته نېغه لار نه ښيي -50- او يقينًا يقينًا

وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ

مونږ دوی ته کلام پرله پسې لیږلی دی، د دې لپاره
چې

يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٥١﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ

دوی نصیحت واخلي -51- هغه کسان چې مونږ
هغوی ته له

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ

ده نه مخکې کتاب ورکړی و، هغوی په ده باندې

النصف

يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا

ایمان راوړي -52- او کله چې دوی ته ولوستی
شي، دوی وایي:

اٰمَنَّا بِهٖۤ اِنَّهُ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّنَاۤ اِنَّا كُنَّا

مونږ په ده باندې ایمان راوړی دی، بېشکه همدا زمونږ د رب له جانبه حق دی، بېشکه مونږ له

مِنۡ قَبۡلِهٖ مُسۡلِمِيۡنَ ﴿۵۳﴾ اُولٰٓئِكَ يُؤۡتَوۡنَ

ده نه مخکې هم مسلمانان وو -53- دغه کسان دي چې دوی ته به

اَجۡرَهُمۡ مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُوۡا وَ

د دوی اجر دوه کرته ورکاوه شي، په سبب د دې چې دوی صبر وکړ۔ او

يَدۡرَءُوۡنَ بِالۡحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا

دوی په نېکۍ سره بدي لرې کوي، او ځینې له هغه مال نه چې مونږ دوی ته

رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ﴿۵۴﴾ وَاِذَا سَمِعُوا

ورکړی دی لګوي يې -54- او کله چې دوی بېکاره

اللَّغۡوَ اَعۡرَضُوۡا عَنۡهُ وَ قَالُوۡا لَنَاۤ

خبره واوري (، نو) له هغې نه مخ واړوي او وايي:

اَعۡمَالُنَا وَ لَكُمۡ اَعۡمَالُكُمۡ ۫ سَلٰمٌ

زمونږ لپاره زمونږ عملونه دي او ستاسو لپاره ستاسو عملونه دي، په تاسو دې

عَلَيۡكُمۡ ۫ لَا نَبۡتَغِى الۡجٰهِلِيۡنَ ﴿۵۵﴾ اِنَّكَ

سلام وي، مونږ جاهلان نه غواړو -55- بېشكه ته

لَا تَهۡدِىۡ مَنۡ اَحۡبَبۡتَ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ

هدايت نشې كولى هغه چا ته چې ته يې خوښوې، او ليكن الله

يَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ ۚ وَ هُوَ اَعۡلَمُ

هدايت وركوي چا ته چې وغواړي او هغه ښه عالم دی په

بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ نَّتَّبِعِ

هدايت موندونكو باندې -56- او دوى وايي: كه
مونږ له تا سره

الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ اَرْضِنَاؕ

د هدايت پيروي وكړو (نو) له خپلې ځمكې نه به
وتښتول (ووېستل) شو،

اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا يُّجْبٰٓى

ايا مونږ دوى ته د داسې حرم تمكين نه دى
وركړى چې د امن والا دى، ده ته

اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا وَ

د هر شي مېوې راوړلى (او وركولى) شي ښه رزق
وركول، زمونږ له خوا نه، او

لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَكَمْ

لېكن د دوى زياتره نه پوهېږي -57- او مونږ
څومره

اَهۡلَكۡنَا مِنۡ قَرۡيَةٍۭ بَطِرَتۡ مَعِيۡشَتَهَا ۚ

ډېر كلي هلاك كړي دي چې په خپل معيشت كې يې سركشي

فَتِلۡكَ مَسٰكِنُهُمۡ لَمۡ تُسۡكَنۡ مِّنۡۢ

كړې وه، نو دغه د دوى كورونه دي چې له دوى نه پس په

بَعۡدِهِمۡ اِلَّا قَلِيۡلًا ؕ وَكُنَّا نَحۡنُ

كې سكونت نه دى شوى مگر ډېر لږ او هم دا مونږ

الۡوٰرِثِيۡنَ ﴿۵۸﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهۡلِكَ

وارثان يو -58- او ستا رب له سره د كليو هلاكوونكى نه دى،

الۡقُرٰى حَتّٰى يَبۡعَثَ فِىۡۤ اُمِّهَا رَسُوۡلًا

تر هغه پورې چې د هغو (كليو) په اصل (مركزي ښار) كې يو رسول ولېږي

يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي

چې دوی ته زمونږ ایتونه لولي، اومونږ د کلیو هلاکوونکي نه یو مګر په داسې حال

الْقُرٰۤى اِلَّا وَاَهْلُهَا ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَمَاۤ

کې چې د هغو اوسېدونکي ظالمان وي -59- او تاسو ته

اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ

چې څه شی هم درکړی شوی دی، نو د دنیایي

الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ

ژوند فایده او د هغه زینت دی، او هغه څه چې له الله سره دي، ډېر غوره او ښه باقي پاتې کېدونکي

وَّاَبْقٰى ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۰﴾ اَفَمَنْ

دي، ایا نو تاسو له عقل نه کار نه اخلئ؟ -60- ایا نو هغه

ع 9

وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ كَمَنْ

ځوك چې له هغه سره مونږ وعده كړې ده، ښه وعده، پس دى له هغې سره ملاقات كوونكى دى،

مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ

د هغه چا په شان دى، چې مونږ هغه ته فايده وركړه د دنيايي ژوند فايده، بيا به هغه د

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ۝٦١ وَ

قيامت په ورځ له حاضر كړى شويو څخه وي؟ -61- او (ياده كړه)

يَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِىَ

هغه ورځ چې دوى ته به هغه (الله) اواز وكړي، نو وبه وايي: زما هغه شريكان

الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ۝٦٢ قَالَ

چېرته دي چې تاسو به ګڼل؟ -62- هغه كسان به وايي

الَّذِيۡنَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ الۡقَوۡلُ رَبَّنَا

چې پر هغوی باندې خبره ثابته شوې ده: ای زمونږه ربه!

هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيۡنَ اَغۡوَيۡنَا‌ ۚ اَغۡوَيۡنٰهُمۡ

دا هغه کسان دي چې مونږ ګمراه کړي وو، مونږ دوی ګمراه کړل،

كَمَا غَوَيۡنَا‌ ۚ تَبَرَّاۡنَاۤ اِلَيۡكَ‌ مَا كَانُوۡۤا

لکه چې مونږ ګمراه شوي وو۔ مونږ (له دوی نه) ستا په طرف بېزاره کېږو،

اِيَّانَا يَعۡبُدُوۡنَ ۝٦٣ وَقِيۡلَ ادۡعُوۡا

دوی زمونږ عبادت نه کاوه -63- او وبه ویل شي: تاسو

شُرَكَآءَكُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ

خپل شریکان وبلئ، نو دوی به هغوی وبلي: نو هغوی

يَسۡتَجِيۡبُوۡا لَهُمۡ وَرَاَوُا الۡعَذَابَ ۚ لَوۡ

به دوی ته هېڅ جواب ورنه کړي او دوی به
عذاب ووېني (او تمنا به وکړي چې) کاشکې

اَنَّهُمۡ كَانُوۡا يَهۡتَدُوۡنَ ﴿٦٤﴾ وَيَوۡمَ

واقعتًا دوی (په دنيا کې) هدايت موندلی وی -
64- او (ياده کړه) هغه ورځ

يُنَادِيۡهِمۡ فَيَقُوۡلُ مَاذَاۤ اَجَبۡتُمُ

چې دوی ته به (الله) اواز وکړي، نو وبه وايي:
تاسو رسولانو ته

الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتۡ عَلَيۡهِمُ

څه جواب ورکړی و؟ -65- نو په دغې ورځ به په
دوی باندې

الۡاَنۡۢبَآءُ يَوۡمَئِذٍ فَهُمۡ لَا

خبرونه پټ شي، نو دوی به يو تربله

يَتَسَآءَلُوۡنَ ﴿٦٦﴾ فَاَمَّا مَنۡ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ

پوښتنه نه کوي -66- نو پاتې شو هغه کس چې
توبه وباسي او ایمان راوړي او

عَمِلَ صَالِحًا فَعَسٰۤى اَنۡ يَّكُوۡنَ مِنَ

نېك عمل وکړي، نو امېد دی چې دغه به له نجات

الۡمُفۡلِحِيۡنَ ﴿٦٧﴾ وَ رَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ

موندونکو څخه وي -67- او ستا رب پیدا کوي
هغه چې وغواړي

وَ يَخۡتَارُ ؕ مَا كَانَ لَهُمُ الۡخِيَرَةُ ؕ

او هغه انتخاب کوي، دوی ته هېڅ اختیار نشته،
الله لره پاکي ده،

سُبۡحٰنَ اللّٰهِ وَ تَعٰلٰى عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ﴿٦٨﴾ وَ

او هغه اوچت دی له هغه څه نه چې دوی یې
(ورسره) شریکوي -68- او

رَبُّكَ يَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوۡرُهُمۡ وَ مَا

ستا رب پوهېږي په هغه څه چې د دوی سينې يې
پټوي او څه چې

يُعۡلِنُوۡنَ ﴿۶۹﴾ وَ هُوَ اللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ

دوی څرګندوي -69- او همدغه الله دی، نشته
هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی،

الۡحَمۡدُ فِی الۡاُوۡلٰی وَ الۡاٰخِرَةِ ۫ وَ لَهُ

خاص هم ده لره ثنا ده په دنيا او اخرت کې، او
خاص

الۡحُكۡمُ وَ اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۷۰﴾ قُلۡ

هم ده لره حکم دی، او خاص ده ته به تاسو بېرته
بيولی شئ -70- ته (دوی ته) ووايه:

اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيۡكُمُ الَّيۡلَ

تاسو ما ته خبر راکړئ که چېرې الله پر تاسو
باندې د قيامت

سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ

د ورځې پورې همېشه شپه کړي (نو) له الله نه غير بل څوك اِلٰه (معبود) دى

اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ اَفَلَا

چې تاسو ته رڼا راوړي؟ ايا نو تاسو

تَسْمَعُوْنَ ۝٧١ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ

نه اورئ؟ -71- ته (دوى ته) ووايه: ما ته خبر راكړئ، كه چېرې

اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ

الله پر تاسو باندې د قيامت د ورځې پورې همېشه ورځ كړي،

الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ

نو له الله نه غير بل څوك معبود دى چې تاسو ته

بِلَيۡلٍ تَسۡكُنُوۡنَ فِيۡهِ ؕ اَفَلَا

هغه شپه راوړي چې تاسو په هغې کې ارام کوئ؟ ايا

تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۷۲﴾ وَ مِنۡ رَّحۡمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ

نو تاسو نه وينئ؟ -72- او خاص د خپل رحمت له وجې يې تاسو لپاره

الَّيۡلَ وَ النَّهَارَ لِتَسۡكُنُوۡا فِيۡهِ وَ

شپه او ورځ پيدا کړې ده، د دې لپاره چې تاسو په دغې (شپه) کې ارام وکړئ او

لِتَبۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِهٖ وَ لَعَلَّكُمۡ

د دې لپاره چې تاسو (په دغې ورځ کې) د هغه له فضله (څه) ولټوئ او د دې لپاره

تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۷۳﴾ وَ يَوۡمَ يُنَادِيۡهِمۡ فَيَقُوۡلُ

چې تاسو شکر وباسئ -73- او (ياده کړه) هغه ورځ چې دوی ته (الله) اواز وکړي، نو وبه وايي:

اَيۡنَ شُرَكَآءِىَ الَّذِيۡنَ كُنۡتُمۡ

چېرته دي زما هغه شريكان چې تاسو

تَزۡعُمُوۡنَ ﴿۷۴﴾ وَنَزَعۡنَا مِنۡ كُلِّ اُمَّةٍ

به ګڼل؟ -74- او مونږ به له هر امت نه يو ګواه راوباسو،

شَهِيۡدًا فَقُلۡنَا هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ

نو مونږ به (دوى ته) ووايو: تاسو خپل دليل راوړئ،

فَعَلِمُوۡۤا اَنَّ الۡحَقَّ لِلّٰهِ وَضَلَّ عَنۡهُمۡ

نو دوى به پوه شي چې بېشكه حق خاص د الله لپاره دى، او له دوى نه به هغه څه

مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۷۵﴾ اِنَّ قَارُوۡنَ كَانَ

ورك شي چې دوى به دروغ تړل -75- بېشكه قارون د

ع 10

مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ ۖ وَ

موسیٰ له قومه څخه و، نو ده په دغو (بني
اسرائيلو) باندې سرکشي (او لويي) وکړه او

اٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ

مونږه ده ته له خزانو څنې دومره مقدار ورکړی و
چې بېشکه د هغو چابیانې (کلیګانې)

لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ اُولِي الْقُوَّةِ ۗ اِذْ قَالَ

به خامخا په طاقتورې ډلې درنېدلې، (ياد کړه) هغه
وخت چې ده ته د ده

لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

قوم وويل: ته (په مال خوشحالي او) تکبر مه کوه
بېشکه الله (په مال خوشالېدونکي) تکبر

الْفَرِحِيْنَ ﴿٧٦﴾ وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ

کوونکي نه خوښوي -76- او ته په هغه (مال) کې
چې تا ته الله درکړی دی؛

الدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ

د اخرت کور (جنت) لټوه، او له دنيا نه خپله برخه

مِنَ الدُّنْيَا وَاَحْسِنْ كَمَآ اَحْسَنَ اللّٰهُ

مه هېروه، او احسان کوه، لکه چې تا سره الله احسان کړی دی،

اِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْاَرْضِ ط

او په ځمکه کې فساد مه غواړه،

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ قَالَ

بېشکه الله فساد کوونکي نه خوښوي -77- هغه وويل:

اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ ط اَوَلَمْ

يقيناً دا خو ما ته راکړی شوی دی په هغه علم سره چې زما سره دی، ايا دی

يَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ قَدۡ اَهۡلَكَ مِنۡ قَبۡلِهٖ

نه و پوه، چې بېشكه الله يقينًا له ده نه مخكې له امتونو څخه هغه څوك هلاك كړي دي

مِنَ الۡقُرُوۡنِ مَنۡ هُوَ اَشَدُّ مِنۡهُ قُوَّةً وَّ

چې هغه له ده نه په قوت كې زيات سخت وو، او

اَكۡثَرُ جَمۡعًا ؕ وَلَا يُسۡـَٔلُ عَنۡ

په جمع (ډله) كې له ده نه ډېر وو، او له مجرمانو (كافرانو) نه به د خپلو ګناهونو

ذُنُوۡبِهِمُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۝٧٨ فَخَرَجَ عَلٰى

په باره كې، تپوس نه كاوه شي -78- نو دى په خپل قوم

قَوۡمِهٖ فِىۡ زِيۡنَتِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيۡنَ

باندې په زينت كې راووت، (نو) هغو كسانو وويل

يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا

چې دنیايي ژوند يې غوښته: ای کاشکې چې مونږ له

مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ قَارُوْنُ ۙ اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ

هم وی په شان د هغو (مالونو) چې قارون ته ورکړی شوي دي، بېشکه دا خامخا د ډېرې

عَظِيْمٍ ﴿٧٩﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

لویې برخې خاوند دی -79- او هغو کسانو وویل چې علم ورته ورکړی شوی و: په تاسو افسوس! د

وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَ

الله ثواب ډېر غوره دی د هغه چا لپاره چې ایمان يې راوړی دی او

عَمِلَ صَالِحًا ۚ وَلَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا

نېک عمل يې کړی دی، او دغه خبره نه ښوولی نشي مګر

الصّٰبِرُوْنَ ﴿٨٠﴾ فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ

صبر کوونکو ته -80- نو مونږ هغه او د هغه کور په

الْاَرْضَ قف فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ

ځمکه کې ننه ایست، نو بیا د ده

يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ق وَمَا كَانَ

لپاره له الله نه غیر هیڅ ډله نه وه چې د ده مدد یې کړی وی اونه و دی (پخپله)

مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿٨١﴾ وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ

له بدل اخیستونکو څخه -81- او شول هغه کسان چې

تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ

پرون یې د ده د مرتبې تمنا کوله، چې ویل یې:

وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ

تعجب دی! ځکه چې یقینًا الله رزق فراخوي چا
لپاره چې وغواړي په خپلو بنده ګانو

مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ

کې او تنګوي يې-، که چېرې نه وی دا چې الله
پر مونږ احسان وکړ،

عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ؕ وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ

خامخا مونږ به يې هم (په ځمکه کې) ننه ايستي
(ډوب کړي) وو، تعجب دی! ځکه چې یقینًا،

ع 11

الْكٰفِرُوْنَ ۟۸۲ تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ

کافران خلاصی نه مومي -82- دغه د اخرت کور
(جنت) دا

نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي

مونږ د هغو کسانو لپاره مقرروو چې په ځمکه کې
نه د

الۡاَرۡضِ وَلَا فَسَادًا ؕ وَالۡعَاقِبَةُ

لويي اراده لري او نه د فساد (وراني) كولو او ښه انجام د

لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۸۳﴾ مَنۡ جَآءَ بِالۡحَسَنَةِ فَلَهٗ

پرهېزگارانو لپاره دى -83- چا چې يوه نېكي راوړه، نو

خَيۡرٌ مِّنۡهَا ۚ وَمَنۡ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا

د هغه لپاره له هغې نه غوره (بدله) ده او چا چې يوه بدي راوړه،

يُجۡزَى الَّذِيۡنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا

نو جزا نشي وركولى هغو كسانو ته چې بدى يې كړي دي، مگر هغه چې دوى

كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۸۴﴾ اِنَّ الَّذِىۡ فَرَضَ

به څه عمل كاوه -84- بېشكه هغه (الله) چې په تا يي قرآن فرض (نازل)

عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ ؕ قُلۡ

کړی دی يقينًا هغه تالره د وعدې ځای ته بېرته بېونکی دی ـ، ته ووايه:

رَّبِّىۡۤ اَعۡلَمُ مَنۡ جَآءَ بِالۡهُدٰى وَمَنۡ

زما رب ښه عالم دی په هغه چا چې نېکي يې راوړې ده او په هغه چا چې

هُوَ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۸۵﴾ وَمَا كُنۡتَ

هغه په ښکاره ګمراهۍ کې دی -85- او تا امېد نه

تَرۡجُوۡۤا اَنۡ يُّلۡقٰٓى اِلَيۡكَ الۡكِتٰبُ اِلَّا

لاره چې تا ته به کتاب نازل کړی شي لېکن ستا د رب له جانبه

رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوۡنَنَّ ظَهِيۡرًا

د رحمت په وجه (نازل کړی شو)، نو ته له سره مه کېږه

لِّلۡكٰفِرِيۡنَ ۝٨٦ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنۡ اٰيٰتِ

مددگار د کافرانو -86- او دوی (کافران) دې تا د الله له ایتونو

اللّٰهِ بَعۡدَ اِذۡ اُنۡزِلَتۡ اِلَيۡكَ وَادۡعُ اِلٰى

نه هیچېرې وانه ړوي، وروسته له دې چې کله تا ته نازل کړی شول،

رَبِّكَ وَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ

او ته خپل رب طرف ته (خلق) بله، او هیچېرې مه کېږه

الۡمُشۡرِكِيۡنَ ۝٨٧ وَلَا تَدۡعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا

له مشرکانو څخه -87- او ته له الله سره بل هېڅ معبود مه بله۔ (ځکه چې)

وقف لازم

اٰخَرَ ۘ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَىۡءٍ هَالِكٌ

د عبادت هېڅ لایق نشته مگر هغه دی، د هغه له مخ (ذات) نه غیر هر څیز فناکېدونکی دی۔

إِلَّا وَجۡهَهُۥۚ لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَإِلَيۡهِ

حکم خاص د هغه لپاره دی او خاص هغه ته

ع 12 الثلثة

تُرۡجَعُونَ ۝٨٨

به تاسو بېرته بوتلی شئ -88-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

الٓمّٓ ۚ ۱ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنۡ يُّتۡرَكُوۡۤا اَنۡ

الف، لام، ميم -1- ايا خلقو دا ګمان كړى دى چې دوى به په خپلې دې وينا پرېښودل شي چې: مونږ

يَّقُوۡلُوۡۤا اٰمَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُوۡنَ ۲ وَ

ايمان راوړى دى، حال دا چې دوى به نه ازمايل كېږي -2- او

لَقَدۡ فَتَنَّا الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ

يقينًا يقينًا مونږ هغه كسان ازمايلي وو چې له دوى نه مخكې وو،

فَلَيَعۡلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ صَدَقُوۡا وَ

نو خامخا ضرور به الله هغه كسان معلوموي (ظاهروي) چې رښتيني دي او

لَيَعۡلَمَنَّ الۡكٰذِبِيۡنَ ﴿۳﴾ اَمۡ حَسِبَ

خامخا ضرور به دروغجن معلوموي -3- بلکې ايا
هغو

الَّذِيۡنَ يَعۡمَلُوۡنَ السَّيِّاٰتِ اَنۡ

کسانو گمان کړی دی چې بد عملونه کوي چې
دوی به زمونږ نه ړومبی (او خلاص) شي؟

يَّسۡبِقُوۡنَا ؕ سَآءَ مَا يَحۡكُمُوۡنَ ﴿۴﴾ مَنۡ

بد دی هغه حکم (فيصله) چې دوی يې کوي -4-
هر څوك

كَانَ يَرۡجُوۡا لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ

چې د الله د ملاقات امېد لري، نو بېشکه د الله (د
ملاقات) نېټه

لَاٰتٍ ؕ وَهُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۵﴾ وَمَنۡ

خامخا راتلونکې ده او هم هغه ښه اورېدونکی،
ښه عالم دی -5- او هغه څوك

جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ؕ اِنَّ

چې جهاد کوي، نو يقيناً هم د خپل ځان لپاره جهاد کوي۔، بېشکه

اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَ الَّذِيْنَ

الله خامخا غني (ډېر بې پروا) دی، له عالمونو نه -6- او هغه کسان

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ

چې ایمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي، خامخا ضرور به

عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَ لَنَجْزِيَنَّهُمْ

مونږ له هغوی نه د هغوی ګناهونه ورژوو او خامخا ضرور به مونږ دوی ته د

اَحْسَنَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ وَ

ترټولو غوره عملونو چې دوی به کول؛ بدله ورکړو -7- او

وَصَّيۡنَا الۡاِنۡسَانَ بِوَالِدَيۡهِ حُسۡنًا ؕ وَ

مونږ انسان ته د خپل مور و پلار په باره کې د نېکۍ کولو کلك حکم کړی دی، او

اِنۡ جَاهَدٰكَ لِتُشۡرِكَ بِىۡ مَا لَيۡسَ لَكَ

که دوی دواړه په تا ډېر کوښښ وکړي، د دې لپاره چې ته زما سره هغه شی شریك کړې

بِهٖ عِلۡمٌ فَلَا تُطِعۡهُمَا ؕ اِلَىَّ مَرۡجِعُكُمۡ

چې تا ته د هغه هېڅ علم نشته، نو ته د دوی خبره مه منه، خاص ما ته ستاسو بېرته راتلل دي،

فَاُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۝٨ وَ

نو زه به تاسو په هغو عملونو خبر کړم چې تاسو به کول -8- او

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نیك عملونه

لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ ⑨ وَمِنَ

يې کړي دي، خامخا ضرور به مونږ دوی په (ډله
د) صالحانو کې داخل کړو -9- او په

النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ

خلقو کې ځینې هغه څوك دي چې وايي: مونږ په
الله ایمان راوړی دی، نو کله

اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ

چې ده ته په (لاره د) الله کې تکلیف (سختي)
ورسولی شي (، نو) د خلقو (له اړخه)

كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ

سختي (او فتنه) د الله له جانبه عذاب وګڼي او
قسم دی خامخا که

رَّبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ اَوَ

ستا د رب له جانبه امداد راشي (، نو) خامخا
ضرور به وايي چې بېشکه مونږ هم له تاسو سره

لَيۡسَ اللّٰهُ بِاَعۡلَمَ بِمَا فِيۡ صُدُوۡرِ

وو۔، ايا الله ښه عالم نه دی په هغه (اخلاص او نفاق) چې د عالمونو (خلقو)

الۡعٰلَمِيۡنَ ۝١٠ وَلَيَعۡلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ

په سينو کې دی -10- او خامخا ضرور به الله هغه کسان معلوموي (ښرګندوي)

اٰمَنُوۡا وَلَيَعۡلَمَنَّ الۡمُنٰفِقِيۡنَ ۝١١ وَقَالَ

چې ايمان يې راوړی دی او خامخا ضرور به منافقين معلوموي -11- او کافران شويو

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لِلَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّبِعُوۡا

کسانو هغو خلقو ته وويل چې ايمان يې راوړی دی: تاسو

سَبِيۡلَنَا وَلۡنَحۡمِلۡ خَطٰيٰكُمۡ ؕ وَمَا

زمونږ د لارې متابعت وکړئ او لازم ده چې مونږ ستاسو ګناهونه اوچت کړو۔، حال دا

هُمۡ بِحٰمِلِیۡنَ مِنۡ خَطٰیٰهُمۡ مِّنۡ

چې دوی د هغوی له ګناهونو نه هېڅ شی (ګناه) نه

شَیۡءٍ ؕ اِنَّهُمۡ لَکٰذِبُوۡنَ ﴿۱۲﴾ وَ لَیَحۡمِلُنَّ

دي پورته کوونکي، بېشکه دوی دروغجنان دي - 12- او خامخا ضرور به

اَثۡقَالَهُمۡ وَ اَثۡقَالًا مَّعَ اَثۡقَالِهِمۡ ۫ وَ

دوی خپل بوجونه پورته کوي او له خپلو بوجونو سره نور بوجونه (هم) او

لَیُسۡـَٔلُنَّ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ عَمَّا کَانُوۡا

د قیامت په ورځ به خامخا ضرور له دوی نه د هغو (دروغو) تپوس کولی شي چې

ع 13

یَفۡتَرُوۡنَ ﴿۱۳﴾ ؑ وَ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰی

دوی له ځانه جوړول -13- او یقینًا یقینًا مونږه نوح خپل قوم ته (رسول) لېږلی و،

قَوۡمِهٖ فَلَبِثَ فِيۡهِمۡ اَلۡفَ سَنَةٍ اِلَّا

نو هغه په دوی کې پنځوس کاله کم زر کاله تېر کړل،

خَمۡسِيۡنَ عَامًا ؕ فَاَخَذَهُمُ الطُّوۡفَانُ

بیا دوی طوفان ونیول، په داسې حال کې

وَهُمۡ ظٰلِمُوۡنَ ۝١٤ فَاَنۡجَيۡنٰهُ وَاَصۡحٰبَ

چې دوی ظالمان وو -14- نو مونږ هغه ته او

السَّفِيۡنَةِ وَجَعَلۡنٰهَاۤ اٰيَةً

د کشتۍ والاو ته نجات ورکړ او مونږ د عالمونو لپاره دغه (کشتۍ، یا قصه)

لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ۝١٥ وَاِبۡرٰهِيۡمَ اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِ

لویه نښه وګرځوله -15- او (یاده کړه قصه د ابراهیم، کله چې هغه خپل قوم ته وویل:

اعۡبُدُوا اللّٰهَ وَ اتَّقُوۡهُ ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ

تاسو د الله عبادت کوئ او له هغه نه وېرېږئ،

لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا

دا تاسو لپاره ډېر غوره دي، که تاسو پوهېږئ -16-

يقينًا تاسو

تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اَوۡثَانًا وَّ

له الله نه غير د بتانو عبادت کوئ او

تَخۡلُقُوۡنَ اِفۡكًا ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ تَعۡبُدُوۡنَ

تاسو دروغ جوړوئ، بېشکه هغه (معبودان) چې

تاسو يې له

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ لَا يَمۡلِكُوۡنَ لَكُمۡ رِزۡقًا

الله نه غير عبادت کوئ، دوی تاسو لپاره د رزق

مالکان نه دي،

فَابۡتَغُوۡا عِنۡدَ اللّٰهِ الرِّزۡقَ وَاعۡبُدُوۡهُ

نو تاسو له الله سره رزق ولټوئ او د هغه عبادت کوئ

وَاشۡكُرُوۡا لَهٗ ؕ اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنۡ

او د هغه شکر وباسئ، تاسو به خاص هغه ته بېرته بیولی کېږئ -17- او (ای کافرانو!)

تُكَذِّبُوۡا فَقَدۡ كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنۡ

که تاسو تکذیب کوئ، نو یقینًا له تاسو نه مخکې امتونو هم تکذیب کړی دی،

قَبۡلِكُمۡ ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوۡلِ اِلَّا الۡبَلٰغُ

او د رسول په غاړه یواځې ښکاره پېغام

الۡمُبِيۡنُ ﴿۱۸﴾ اَوَلَمۡ يَرَوۡا كَيۡفَ يُبۡدِئُ

رسونه ده -18- ایا دوی نهویني چې الله څنګه اول کرت مخلوق پیدا کوي،

اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى

بيا د هغو اعاده کوي، بېشکه دا (کار) الله ته

اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۱۹﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

ډېر اسان دی -19- ته ووايه: تاسو په ځمکه کې وګرځئ،

فَانْظُرُوْا كَيْفَ بَدَاَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللّٰهُ

بيا وګورئ چې هغه (الله) د مخلوق ابتدا څنګه کړې ده،

يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى

بيا به الله پيدا کړي، وروستني پيدا کول، بېشکه الله په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَ

هر شي باندې ښه قادر دی -20- هغه عذاب ورکوي هغه چا ته چې وغواړي او

يَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاِلَيْهِ

رحم کوي په هغه چا چې وغواړي او خاص هغه ته به تاسو

تُقْلَبُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي

بېرته بېولی کېږئ -21- او (ای خلقو!) نه يئ تاسو عاجزه کوونکي (د الله)

الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ۫ وَمَا لَكُمْ

په ځمکه او نه په اسمان کې او تاسو لپاره له

ع 14

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۲۲﴾

الله نه غير نه هيڅ دوست شته او نه مددګار -22-

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَلِقَآئِهٖٓ

او هغه کسان چې د الله په ايتونو او د هغه په ملاقات سره کافر شوي دي،

اُولٰٓئِكَ يَئِسُوۡا مِنۡ رَّحۡمَتِىۡ وَاُولٰٓئِكَ

دغه كسان زما له رحمت نه نا اميده شوي دي او
دغه كسان دي چې د دوى

لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿٢٣﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ

لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى -23- نو د هغه
(ابراهيم)

قَوۡمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوا اقۡتُلُوۡهُ اَوۡ حَرِّقُوۡهُ

د قوم (بل) هېڅ جواب نه و مگر دا چې دوى
وويل: تاسو دا ووژنئ يا دا وسوځوئ،

فَاَنۡجٰهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ

نو الله ده ته له اور نه نجات وركړ، بېشكه په دې
كې خامخا ډېرې نښې دي

لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ اِنَّمَا

د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړى -24- او ده
وويل: يقينًا تاسو له

اتَّخَذۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اَوۡثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ

الله نه غير (دا) بتان يواځې د خپل مينځي دوستۍ لپاره

بَيۡنِكُمۡ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ۚ ثُمَّ يَوۡمَ

نيولي دي، په دنيايي ژوند کې، بيا به د قيامت په ورځ

الۡقِيٰمَةِ يَكۡفُرُ بَعۡضُكُمۡ بِبَعۡضٍ وَّ

ستاسو ځينې په ځينو نورو سره منکرېږي او ستاسو ځيني به په

يَلۡعَنُ بَعۡضُكُمۡ بَعۡضًا ۡ وَّ مَاۡوٰىكُمُ

ځينو نورو لعنت وايي او ستاسو استوګنه اور دی او

النَّارُ وَمَا لَكُمۡ مِّنۡ نّٰصِرِيۡنَ ۙ ﴿۲۵﴾ فَاٰمَنَ

تاسو لپاره به هيڅوك مدد کوونکي نه وي -25- نو په ده باندې

وقف لازم

لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَ قَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ؕ

لوط ایمان راوړ او ده وویل: بېشکه زه خپل رب ته هجرت کوونکی یم،

اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٢٦ وَ وَهَبْنَا

بېشکه هم هغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی - 26- او مونږ هغه

لَهٗ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَ جَعَلْنَا فِيْ

ته اسحق او یعقوب وبخښل او مونږ د هغه په

ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَ الْكِتٰبَ وَ اٰتَيْنٰهُ

اولاده کې نبوت او کتاب کېښوده او مونږ هغه ته د هغه

اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا ۚ وَ اِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ

اجر په دنیا کې ورکړ او بېشکه هغه په اخرت کې خامخا له

لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٢٧﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ

صالحانو څخه دی -27- او (یاده کړه قصه د) لوط کله چې هغه

لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ز مَا

خپل قوم ته وویل: بېشکه تاسو یقینًا غتېه بدکاري کوئ،

سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ

چې په عالمونو کې هیڅوك دې ته له تاسو نه

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾ اَىِٕنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ

ړومبی شوي نه دي -28- ایا خامخا تاسو یقینًا له سړیو سره

وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ۙ۬ وَتَاْتُوْنَ فِيْ

بدکاري کوئ او لارې شکوئ او تاسو په خپل مجلس

نَادِيۡكُمُ الۡمُنۡكَرَ ؕ فَمَا كَانَ جَوَابَ

کې ناکاره کارونه کوئ، نو د ده د قوم (بل) هېڅ

قَوۡمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوا ائۡتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ

جواب نه و مګردا چې دوی وویل: ته په مونږ د
الله

اِنۡ كُنۡتَ مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۲۹﴾ قَالَ رَبِّ

عذاب راوله که ته له رښتینو څخه یې -29- ده
وویل: ای زما ربه!

انۡصُرۡنِىۡ عَلَى الۡقَوۡمِ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿۳۰﴾ وَ

ع
15

د فسادي قوم په مقابله کې ته زما مدد وکړه -30-
او

لَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَاۤ اِبۡرٰهِيۡمَ

کله چې زمونږ استازیو ابراهیم ته

بِالْبُشْرٰی ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مُهْلِكُوْٓا اَهْلِ

زېرى راوړ (بيا يې ورته وويل:) بېشکه مونږ د

هٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۚ اِنَّ اَهْلَهَا كَانُوْا

دې کلي اوسېدونکو لره هلاك كوونكي يو، بېشکه د دغه (كلي)

ظٰلِمِيْنَ ۚ ۝٣١ قَالَ اِنَّ فِيْهَا لُوْطًا ؕ قَالُوْا

اوسېدونكي ظالمان دي -31- ده وويل: بېشکه په دغه (كلي) كې خو لوط دى، هغوى وويل:

نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَنْ فِيْهَا ۫ لَنُنَجِّيَنَّهٗ وَ

مونږ په هغه چا ښه عالمان يو چې په دغه كې دي، مونږ به خامخا ضرور هغه ته او

اَهْلَهٗٓ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۫ كَانَتْ مِنَ

د هغه اهل ته نجات وركوو۔ د هغه له ښځې نه غير، هغه په باقي

الۡغٰبِرِيۡنَ ﴿۳۲﴾ وَلَمَّاۤ اَنۡ جَآءَتۡ رُسُلُنَا

پاتې کېدونکو کې ده -32- او کله چې ښتګه

لُوۡطًا سِیۡٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعًا وَّ

لوط ته زمونږ استازي راغلل (، نو) هغه د دوی
په وجه غمګین شو او د دوی په وجه يې زړه ډېر

قَالُوۡا لَا تَخَفۡ وَلَا تَحۡزَنۡ ۟ اِنَّا

تنګ شو او هغوی وويل: ته مه وېرېږه او مه
غمګين کېږه، بېشکه مونږ تا لره

مُنَجُّوۡكَ وَاَهۡلَكَ اِلَّا امۡرَاَتَكَ كَانَتۡ

او ستا اهل لره نجات ورکوونکي يو، خو ستا له
ښځې نه غير، هغه په باقي پاتې

مِنَ الۡغٰبِرِيۡنَ ﴿۳۳﴾ اِنَّا مُنۡزِلُوۡنَ عَلٰۤى

کېدونکو کې ده -33- بېشکه مونږ د دې کلي په

اَهۡلِ هٰذِهِ الۡقَرۡيَةِ رِجۡزًا مِّنَ السَّمَآءِ

اوسېدونكو باندې له اسمانه عذاب نازلوونكي يو، په سبب د هغې نافرمانۍ

بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ۝٣٤ وَلَقَدۡ تَّرَكۡنَا

(او بدكارۍ) چې دوى به كوله -34- او يقينًا يقينًا مونږ له دغه كلي نه يوه ډېره ښكاره نښه

مِنۡهَاۤ اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ۝٣٥ وَاِلٰى

پرېښوده، د هغه قوم لپاره چې له عقل نه كار اخلي -35- او (مونږ لېږلى و)

مَدۡيَنَ اَخَاهُمۡ شُعَيۡبًا ۙ فَقَالَ يٰقَوۡمِ

مدين ته د هغوى ورور شعيب، نو ده وويل: اى زما قومه!

اعۡبُدُوا اللّٰهَ وَارۡجُوا الۡيَوۡمَ الۡاٰخِرَ وَ

تاسو د الله عبادت كوئ او د اخري ورځې امېد ساتئ او

لَا تَعۡثَوۡا فِی الۡاَرۡضِ

په ځمکه کې ورانکاري مه ګرځئ، په داسې حال کې

مُفۡسِدِیۡنَ ﴿۳۶﴾ فَكَذَّبُوۡهُ فَاَخَذَتۡهُمُ

چې فساد کوونکي یئ -36- نو دوی د هغه تکذیب وکړ،

الرَّجۡفَةُ فَاَصۡبَحُوۡا فِیۡ دَارِهِمۡ

نو دوی سختې زلزلې ونیول، نو شول په خپلو کورونو کې

جٰثِمِیۡنَ ﴿۳۷﴾ وَ عَادًا وَّ ثَمُوۡدَاۡ وَ قَدۡ تَّبَیَّنَ

پړمخې مړه پراته -37- او (هلاك کړي مو وو قوم د) عاد او ثمود او په تحقیق

لَكُمۡ مِّنۡ مَّسٰكِنِهِمۡ ۟ وَ زَیَّنَ لَهُمُ

تاسو ته (د دوی هلاکول) د دوی له کورونو نه ښکاره شوي دیاوو

الشَّيۡطٰنُ اَعۡمَالَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ

دوی ته شیطان خپل عملونه ښایسته کړل، نو دوی يې

السَّبِيۡلِ وَكَانُوۡا مُسۡتَبۡصِرِيۡنَ ۝٣٨ وَ

له (حقې) لارې نه منع کړل (واړول)، حال دا چې دوی ښه بینا (او هوښیار) وو -38- او

قَارُوۡنَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَامٰنَ ۖ وَلَقَدۡ

(مونږ هلاك كړ) قارون او فرعون او هامان او يقينًا يقينًا

جَآءَهُمۡ مُّوۡسٰى بِالۡبَيِّنٰتِ

دوی ته موسٰی ښکاره معجزې راوړې وې،

فَاسۡتَكۡبَرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ وَمَا كَانُوۡا

نو دوی په ځمکه کې لويي وکړه او دوی (زمونږ نه)

سٰبِقِیْنَ ﴿۳۹﴾ فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ

ړومبی کېدونکی نه وو -39- نو (په دوی کې) هر یو مونږ

فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَیْهِ حَاصِبًا وَ

په خپلې ګناه سره ونیوه، نو په دوی کې ځینې هغه دي چې مونږ پرې کاڼي

مِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ الصَّیْحَةُ وَ

ورېشتونکی باد راخوشې کړ او ځینې په دوی کې هغه دي چې دوی سختې چغې ونیول او

مِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ وَ

ځینې په دوی کې هغه دي چې مونږ هغوی په ځمکه کې ننه ایستل او

مِنْهُمْ مَّنْ اَغْرَقْنَا وَ مَا كَانَ اللّٰهُ

ځینې په دوی کې هغه دي چې مونږ (په اوبو کې) غرق کړل او الله له سره داسې

لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلٰكِنۡ كَانُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ

نه و چې په دوی يې ظلم کړی وی او ليکن دوی په خپلو ځانونو

يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۴۰﴾ مَثَلُ الَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ

(پخپله) ظلم کاوه -40- د هغو کسانو حال چې له

دُوۡنِ اللّٰهِ اَوۡلِيَآءَ كَمَثَلِ الۡعَنۡكَبُوۡتِ ۚۖ

الله نه غير يې دوستان (او کارسازي) نيولي دي د غنې (جولاګي) د حال په شان دی،

اِتَّخَذَتۡ بَيۡتًا ؕ وَاِنَّ اَوۡهَنَ الۡبُيُوۡتِ

چې يو کور جوړ کړي، او بېشکه په کورونو کې تر ټولو کمزوری

لَبَيۡتُ الۡعَنۡكَبُوۡتِ ۘ لَوۡ كَانُوۡا

وقف لازم

کور خامخا د جولاګي کور دی۔ که چېرې دوی

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٤١﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُوۡنَ

پوهېدلی (نو د غير الله عبادت به يې نه کاوه) -
41- بېشکه الله په هر هغه شي عالم دی چې دوی

مِنۡ دُوۡنِهٖ مِنۡ شَىۡءٍ ؕ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ

يې له هغه نه غير بلي او همغه ښه غالب،

الۡحَكِيۡمُ ﴿٤٢﴾ وَتِلۡكَ الۡاَمۡثَالُ نَضۡرِبُهَا

ښه حکمت والا دی -42- او دغه مثالونه، مونږ
دغه د

لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعۡقِلُهَاۤ اِلَّا الۡعٰلِمُوۡنَ ﴿٤٣﴾

خلقو لپاره بيانوو او په دوی نه پوهېږي مگر پوه
خلق -43-

خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ

الله اسمانونه او ځمکه په حق سره پيدا کړي دي،

بِالْحَقِّ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

بېشکه په دې کې د مومنانو لپاره

ع
16

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝۴۴

خامخا لویه نښه ده -44-

أُتْلُ مَآ أُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَ

ته هغه لوله چې تا ته وحي کړې شوې دی، چې کتاب (او قرآن) دی او

اَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ

لمونځ قایموه۔، بېشکه لمونځ (لمونځ کوونکي لره) له

الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ

بې حیایۍ او بدکار نه منع کوي۔ او خامخا د الله یادول

اَكْبَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَ

ډېر لوی دي او الله پوهېږي په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ(45) او

لَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ

تاسو له اهل کتابو سره جګړه مه کوئ مګر په هغې (طریقې) سره چې

اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ وَ

هغه تر ټولو ښه وي، غير له هغو کسانو نه چې ظلم وکړي له دوی څخه. او

قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَ

تاسو وايئ: مونږ په هغه (کتاب) ايمان راوړی دی چې مونږ ته نازل کړی شوی دی او (په هغه

اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ

کتاب) چې تاسو ته نازل کړی شوی دی او زمونږ معبود او ستاسو معبود يو دی

وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَكَذٰلِكَ

او مونږ خاص هغه ته غاړه اېښودونکي يو(46) او هم داسې

اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ ؕ فَالَّذِيْنَ

مونږ تا ته کتاب نازل کړ، نو هغه کسان

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ

چې مونږ هغوی ته کتاب ورکړی دی هغوی په ده (قرآن) ایمان راوړي او

هٰٓؤُلَآءِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَمَا يَجْحَدُ

له دغو (عربو) نه ځینې هغه دي چې په ده ایمان راوړي او

بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَمَا كُنْتَ

زمونږ له ایتونو نه انکار نه کوي مګر کافران(47) او له دې

تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ

(قرآن) نه مخکې نه تا کوم کتاب لوسته او نه تا د غه په

بِيَمِيْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿٤٨﴾ بَلْ

خپل ښي لاس سره لیکه، (که ته داسې وی نو) په دغه وخت کې به باطل پرستو شك کاوه(48) بلکې

هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ

دغه (قرآن) ښکاره ايتونه دي د هغو خلقو په سينو

اُوْتُوا الْعِلْمَ ؕ وَ مَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَاۤ اِلَّا

کې چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی۔ او زمونږ له ايتونو نه انکار نه کوي مگر

الظّٰلِمُوْنَ ۝۴۹ وَ قَالُوْا لَوْ لَاۤ اُنْزِلَ عَلَيْهِ

ظالمان(49) او دوی وايي: په ده باندې د خپل رب له جانبه نښې (معجزې)

اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ

ولې نه نازلولی شي؟ ته (دوی ته) ووايه: بېشکه معجزې خو يواځې له

اللّٰهِ ؕ وَ اِنَّمَاۤ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۵۰ اَوَ لَمْ

الله سره دي، بېشکه زه خو بس ښکاره وېرووونکی يم(50) ايا دوی

يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

ته دا کافي نه دي چې بېشکه مونږ په تاکتاب نازل کړی دی،

يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّ

په دې حال کې چې دوی ته لوستل کېږي، بېشکه چې په دغه (کتاب) کې خامخا رحمت او نصیحت

ع 1

ذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾ قُلْ كَفٰى

دی د هغه قوم لپاره چې ایمان راوړي(51) ته (دوی ته) ووایه:

بِاللّٰهِ بَيْنِىْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ

زما په مینځ کې او ستا په مېنځ کې الله ښه کافي گواه دی، هغه عالم دی په

مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِيْنَ

هر هغه شي چې په اسمانونو او ځمکه کې دي او هغه کسان چې

اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ

په باطل يې ايمان راوړى دى او په الله سره كافران شوي دي

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَ

همدغه كسان تاوانيان دي(52) او دوى دعذاب په راتلو سره په تا تلوار كوي، او

يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَلَوْ لَآ

كه چېرې ټاكل شوې نېټه نه وى (نو) خامخا به په دوى عذاب راغلى و، او

اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ؕ وَ

خامخا ضرور به دا په دوى ناڅاپه راځي، په

لَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّ هُمْ لَا

دې حال كې چې دوى به شعور (خبر)

يَشْعُرُونَ ﴿٥٣﴾ يَسْتَعْجِلُونَكَ

نه لري(53) او دوی د عذاب

بِالْعَذَابِ ۚ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ

په راتلو سره په تا تلوار کوي، حال دا چې جهنّم خو کافرانو لره

بِالْكَافِرِينَ ﴿٥٤﴾ يَوْمَ يَغْشَاهُمُ

خامخا راګېروونکی دی(54) په هغې ورځ کې چې دوی لره

الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ

به عذاب پټ کاندي د دوی له پاسه نه او د دوی

أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا مَا كُنْتُمْ

د پښو له لاندي، نه او دوی ته به ووايي: تاسو (د) هغه عمل (سزا) وڅکئ چې

تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٥﴾ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ

تاسو به کاوه(55) ای زما هغو بنده ګانو چې ایمان
يې راوړی دی! بېشکه

اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ

زما ځمکه فراخه ده، نو تاسو خاص

فَاعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ

زما عبادت کوئ(56) هر نفس د مرګ (مزه)

الْمَوْتِ ۗ ثُمَّ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَ

څکونکی دی، بیا به خاص مونږ ته راګرځولی شئ
(57) او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او نېك عملونه
يې کړي

لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي

خامخا ضرور به مونږ دوی ته د جنت په داسې لوړو بالاخانو کې ځای ورکړو

مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ

چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، په دې حال کې چې تل به وي په دغو (بالاخانو) کې، دغه (جنت)

نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿٥٨﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا

د عمل کوونکو ښه اجر دی(58) هغه کسان چې صبر يې کړی دی

وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾ وَكَأَيِّن مِّن

او دوی خاص په خپل رب باندې توکل کوي(59) او په ځمکه

دَابَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۖ اللَّهُ يَرْزُقُهَا وَ

ډېر خوځنده (زنده سر) دي چې خپل رزق نه پورته کوي، الله دوی ته او

اِیَّاکُمۡ ۫ۖ وَ ھُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ ﴿۶۰﴾ وَ

تاسو ته روزي درکوي او هغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی(60) او

لَئِنۡ سَاَلۡتَھُمۡ مَّنۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او

الۡاَرۡضَ وَ سَخَّرَ الشَّمۡسَ وَ الۡقَمَرَ

ځمکه چا پیدا کړي دي او (چا) لمر او سپوږمی مسخر کړي دي؟ دوی به خامخا ضرور ووايي

لَیَقُوۡلُنَّ اللّٰہُ ۚ فَاَنّٰی یُؤۡفَکُوۡنَ ﴿۶۱﴾ اَللّٰہُ

چې الله (پیدا کړي او مسخر کړي دي)، نو څرنګه دوی ګرځولی شي؟(61) الله

یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِہٖ

چې په خپلو بنده ګانو کې چا لره وغواړي؛ رزق

وَيَقۡدِرُ لَهٗ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ

فراخوي او په هغه يې تنگوي، بېشکه الله په هر شي

عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ

ښه عالم دی(62) او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې

مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ

چا له اسمان نه اوبه نازلې کړې دي، بيا يې په هغو سره ځمکه

مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلِ

د هغې له مرگ نه پس ژوندۍ کړې ده؟ (نو) خامخا ضرور به دوی ووايي چې الله (دا کار

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا

کړی دی) ته ووايه: ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلکې د دوی

ع
2

يَعۡقِلُوۡنَ ۝٦٣ وَمَا هٰذِهِ الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَاۤ

اکثره عقل نه لري(63) او دا دنیایي ژوند نه دی

اِلَّا لَهۡوٌ وَّلَعِبٌ ؕ وَاِنَّ الدَّارَ الۡاٰخِرَةَ

مگر عبث او لوبې او بېشکه دار اخرت (جنت)

لَهِىَ الۡحَيَوَانُ ۘ لَوۡ كَانُوۡا

وقف لازم

خامخا همغه واقعي ژوندون دی، که چېرې

يَعۡلَمُوۡنَ ۝٦٤ فَاِذَا رَكِبُوۡا فِى الۡفُلۡكِ

دوی پوهېدلی(64) نو کله چې دوی په کشتۍ کې
سواره شي (، نو)

دَعَوُا اللّٰهَ مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ ۚ فَلَمَّا

دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه
لره دین خالص کوونکي وي، نوکله چې

نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ

هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره)

يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۚ وَ

شریکان نیسي(65) د دې لپاره چې دوی په هغو (نعمتونو سره) کفر (ناشکري) وکړي چې مونږ

لِيَتَمَتَّعُوْا ۫ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ اَوَلَمْ

دوی ته ورکړي دي او د دې لپاره چې دوی فایده واخلي، نو ژر به دوی پوه شي(66) ایا دوی نه

يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا اٰمِنًا وَّ

دي لیدلي چې بېشکه مونږ حرم امن والا ګرځولی دی، حال دا چې

يُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۭ

د دوی ګېر چاپېره خلق تښتولی شي، ایا نو دوی

اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ

په باطل ايمان راوړي او د الله په نعمت سره

يَكْفُرُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

كافران كيږي؟(67) او له هغه كس نه لوى ظالم
څوك دى

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ

چې په الله باندې دروغ تړي، يا د حق تكذيب
كوي،

بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ

كله چې ده ته دغه (حق) راشي، ـ ايا په جهنّم كې

مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَالَّذِيْنَ

د كافرانو لپاره د اوسېدوځاى نشته؟(68) او هغه
كسان

ع
3

جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ؕ وَ

چې په (دين ز) مونږ کې کوشش کوي (، نو) مونږ به دوی ته خامخا ضرور خپلې لارې وښيو او

اِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ۟﴿۶۹﴾

بېشکه الله خامخا د نېکي کوونکو ملګرى دى (69)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

الٓمّٓ ۚ ① غُلِبَتِ الرُّوْمُ ۙ ② فِيْٓ اَدْنَى

الف، لام، ميم(1) روميان مغلوب کړی شول(2) په ډېرې نږدې

الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ

ځمکه کې، او دوی به د خپل مغلوب کېدو نه وروسته

سَيَغْلِبُوْنَ ۙ ③ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ۗ لِلّٰهِ

ژر غالب شي(3) په څو کلونو کې۔ خاص الله ته

الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ وَ

حکم دی له دې نه مخکې او له دې نه وروسته او

يَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝٤ بِنَصْرِ

په دغې ورځ به مومنان خوشاله شي(4) د الله په
مدد،

اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

هغه مدد كوي چا ته چې وغواړي او همغه ښه
غالب،

الرَّحِيْمُ ۝٥ وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ

ښه مهربان دی(5) وعده كول د الله، ـ الله د

وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

خپلې وعدې مخالفت نه كوي او لېكن د خلقو
زياتره

يَعْلَمُوْنَ ۝٦ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ

نه پوهېږي(6) دوی د دنيايي ژوند په ظاهري (او
سرسري شيانو) پوهېږي،

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۖ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ

په داسې حال کې چې دوی له اخرته هم دوی

هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٧ اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ

غافلان دي(7) ایا دوی په خپلو نفسونو کې فکر

اَنْفُسِهِمْ ۫ مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَ

نه دی کړی، چې الله اسمانونه او ځمکه او هر
هغه څه

الْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَ

چې د دې دواړو په مینځ کې دي؛ نه دي پیدا
کړي مګر په حقه سره او

اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ

په ټاکلې نېټې سره۔ او بېشکه ډېر له خلقو څنې د

النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ﴿٨﴾ اَوَ

خپل رب په ملاقات خامخا منکران (او کافران) دي(8) ایا

لَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا

دوی په ځمکه کې نه ګرځي، نو چې وګوري چې

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ

د هغو کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو۔

قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّ

هغوی له دوی نه په قوت کې زیات سخت وو او

اَثَارُوا الْاَرْضَ وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ مِمَّا

هغوی ځمکه خیروله او دا یې اباده کړې وه ډېره له هغې نه چې دوی

عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم

دغه اباده کړې ده او دوی ته خپلو رسولانو ښکاره

بِالۡبَيِّنٰتِ ؕ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَ

دلیلونه راوړي وو، نو الله کله هم داسې نه و چې
په دوی ظلم وکړي او

لٰكِنۡ كَانُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ؕ﴿۹﴾ ثُمَّ

لېکن دوی (پخپله) په خپلو ځانونو ظلم کاوه(9)
بیا د

كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيۡنَ اَسَآءُوا السُّوۡۤاٰى

هغو کسانو انجام، چې بد یې کړي وو، ډېر بد و،

اَنۡ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوۡا بِهَا

په دې سبب چې دوی د الله د ایتونو تکذیب کړی
و او په دغو (ایتونو) پوري به

ع
4

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٠﴾ اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ

يې استهزا کولې(10) الله اول ځلې مخلوق پیدا کوي،

ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿١١﴾ وَ

بیا به یې اعاده کوي، بیا به خاص هغه ته ورگرځولی شي(11) او

يَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ

په هغې ورځ چې قیامت قایم شي، مجرمان به

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿١٢﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ

نااميده شي(12) او د دوی لپاره به د دوی په

شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَ كَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ

شريکانو کې هيڅ شفاعت کوونکي نه وي او دوی به له خپلو شريکانو

كٰفِرِيْنَ ﴿١٣﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

نه منكران (كافران) شي(13) او په كومه ورځ چې
قيامت قايم شي، په دغې ورځ به

يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿١٤﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

دوی بېل بېل شي(14) نو هر چې هغه كسان دي

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ

چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې كړي
دي، نو دوی به په

رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ﴿١٥﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

باغ (جنت) كې خوشالولی شي(15) او پاتې شو
هغه كسان

كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآئِ

چې كفر يې كړی دی او زمونږ د ايتونو او د
اخرت د ملاقات تكذيب يې كړی دی،

الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ

نو دغه کسان به په عذاب کې حاضر کړی

مُحْضَرُوْنَ ﴿١٦﴾ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ

شوي وي(16) نو (وایئ) د الله تسبیح کله چې

تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ

تاسو مابنام کوئ او کله چې تاسو سبا کوئ(17)
او خاص

الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَ

هغه لره ستاینئ دي په اسمانونو اوپه ځمکه کې او
(تسبیح وایئ)

عَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ

د ورځې په اخره برخه کې او کله چې تاسو
ماسپښین کوئ(18) هغه (الله) له

الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ

مړي نه ژوندی راوباسي او له ژوندي نه مړی راوباسي

الْحَيِّ وَيُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَ

او ځمکه د هغې له مرګ نه پس راژوندۍ کوي

ع 5

كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿١٩﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ

او همداسې به تاسو راویستل کېږئ(19) او یوه د هغه له نښو

خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ

ځنې دا ده چې تاسو يې له خاورې پیدا کړئ، بیا ناڅاپه تاسو

بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ

بشر وئ چې خورېدلئ(20) او د هغه له نښو ځنې

خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا

دا دي چې تاسو لپاره یې ستاسو له نفسونو څخه جوړې پیدا کړې،

لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَ جَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً

د دې لپاره چې تاسو هغو ته (په مایله کېدو سره) سکون حاصل کړئ او هغه ستاسو په مینځ کې

وَّ رَحْمَةً ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

مینه او مهرباني پیدا کړه، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره

يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝۲۱ وَ مِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ

چې پښه فکر کوي(21) او د هغه له نښو څنې د

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ اخْتِلَافُ

اسمانونو او ځمکې پیدا کول دي او ستاسو د ژبو

اَلۡسِنَتِكُمۡ وَ اَلۡوَانِكُمۡ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ

او ستاسو د رنګونو اختلاف (بېل والی) دی،
بېشکه په دغو کې خامخا نښې

لَاٰيٰتٍ لِّلۡعٰلِمِيۡنَ ﴿۲۲﴾ وَ مِنۡ اٰيٰتِهٖ

دي د عالمانو (پوهانو) لپاره(22) او د هغه له نښو
نه ستاسو خوب دی،

مَنَامُكُمۡ بِالَّيۡلِ وَ النَّهَارِ وَ

په شپه او ورځ کې او ستاسو لټول دي

ابۡتِغَآؤُكُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ

د هغه له فضله، بېشکه په دغو کې خامخا نښې

لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۳﴾ وَ مِنۡ اٰيٰتِهٖ

دي د هغه قوم لپاره چې اوري(23) او د هغه له
نښو څخه (دا) دي

يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّ طَمَعًا وَّ يُنَزِّلُ

چې هغه تاسو ته برېښنا د وېرې او طمعې لپاره ښيي او له بره نه

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ

اوبه نازلوي، بيا په دغو (اوبو) سره ځمکه راژوندۍ کوي، د هغې

بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

له مرګ نه وروسته، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې له عقل

يَّعْقِلُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ تَقُوْمَ

نه کار اخلي(24) او د هغه له نښو څخه (دا) دي چې

السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ ؕ ثُمَّ اِذَا

اسمان او ځمکه د هغه په حکم سره ولاړ دي، بيا چې

دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ اِذَآ

كله هغه تاسو راوبلي، يوځل بلل، له ځمكې نه، (نو) ناڅاپه به

اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴿٢٥﴾ وَلَهٗ مَنْ فِي

تاسو (ژوندي) راوځئ(25) او خاص د هغه لپاره دي هغه څوك چې

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ

په اسمانونو او ځمكه كې دي، (دغه) ټول د همده

قٰنِتُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ

اطاعت كوونكي دي(26) او دى همغه ذات دى چې مخلوق اول

ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ ؕ وَلَهُ

ځلې پيدا كوي، بيا به دغه دوباره راژوندي كوي او دغه (بيا راژوندي كول)

الْمَثَلُ الْاَعْلٰى فِى السَّمٰوٰتِ وَ

هغه (الله) ته ډېر اسان دي۔ او خاص هغه لره تر
ټولو لوړ شان (او صفت) دی په اسمانونو او

الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

ځمکه کې او هغه ښه غالب، ښه

ع 6 الربع

الْحَكِيْمُ ﴿٢٧﴾ ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ

حکمت والا دی(27) هغه (الله) تاسو ته ستاسو

اَنْفُسِكُمْ ۭ هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا مَلَكَتْ

له ځانونو نه یو مثال بیانوي (هغه دا چې) ایا تاسو
لپاره ستاسو له مریانو څخه په هغه (مال) کې چې

اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِيْ مَا رَزَقْنٰكُمْ

مونږ تاسو ته درکړی دی، څوك شریکان شته؟ نو
چې تاسو (ټول) په هغه (مال) کې سره برابر یئ

فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ

چې تاسو له دوی نه داسې وېرېږئ لکه

كَخِيْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۭ كَذٰلِكَ

ستاسو وېره کول له خپلو ځانونو (ازادو شريکانو
نه)، همداسې

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾ بَلِ

مونږ ايتونه په تفصيل سره بيانوو، د هغه قوم لپاره
چې له عقل نه کار اخلئ(28) بلکې

اتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ بِغَيْرِ

هغو کسانو چې ظلم يې کړی دی، بې له علمه د

عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ۭ وَ

خپلو خواهشاتو پيروي وکړه، نو هغه چا ته به
څوک هدايت وکړي چې الله

مَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ

گمراه کړی دی او د دوی لپاره هېڅ مدد کوونکي نشته(29) نو ته خپل مخ

لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ؕ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ

دین ته نېغ (او برابر) وساته، په داسې حال کې چې حق ته مایل اوسې، ـ (تاسو لازم ونیسئ) د

فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ

الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پیدا کړي دي، د

اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ

الله تخلیق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نېغ) دین دی، او لیکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ مُنِيْبِيْنَ

د خلقو اکثریت نه پوهېږي(30) په داسې حال

اِلَيۡهِ وَاتَّقُوۡهُ وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا

کې چې هغه ته رجوع کوونکي يئ او له هغه نه ووېرېږئ او لمونځ قايم کړئ او له

تَكُوۡنُوۡا مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ۙ‏ ﴿۳۱﴾ مِنَ

مشرکانو څخه مه کېږئ(31) له هغو

الَّذِيۡنَ فَرَّقُوۡا دِيۡنَهُمۡ وَكَانُوۡا شِيَعًا ‌ؕ

کسانو څخه چې خپل دين يې تار په تار کړی دی او ډلې ډلې (پارټۍ پارټۍ) شوي دي، هره يوه ډله

كُلُّ حِزۡبٍۢ بِمَا لَدَيۡهِمۡ فَرِحُوۡنَ‏ ﴿۳۲﴾ وَ

په هغه څه سره چې له دوی سره دي؛ ډېره خوشحاله ده(32) او

اِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوۡا رَبَّهُمۡ

کله چې خلقو ته ضرر ورسېږي (نو) دوی خپل رب بولي،

مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ

په داسې حال کې چې هغه ته رجوع کوونکي وي، بيا چې کله هغه (الله) له خپل جانبه په دوی

رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ

رحمت وشکوي، ناڅاپه په دوی کې يوه ډله له خپل رب سره

يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ط

شريکان نيسي(33) د دې لپاره چې دوی د هغه څه ناشکري وکړي چې مونږ دوی ته ورکړې دي،

فَتَمَتَّعُوْا ٚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ

نوتاسو فايده واخلئ، پس ژر به تاسو پوه شئ(34) ايا مونږ

اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ

په دوی باندې کوم د ليل نازل کړی دی، نو دغه (دليل دوی ته) د هغه شي خبرې کوي چې دوی

بِمَا كَانُوا بِهٖ يُشْرِكُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَآ أَذَقْنَا

به د دغه (الله) سره شريكاوه(35) او كله چې
مونږ په

النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا بِهَا ؕ وَإِنْ

خلقو خپل رحمت وڅكوو (نو) دوى په هغه
خوشحال شي او كه دوى ته څه سختي ورسيږي

تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ

د هغو عملونو په سبب چې د دوى لاسونو مخكې
ليږلي دي (نو)

إِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ﴿٣٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ

ناڅاپه دوى نااميده شي(36) ايا دوى نه دي
ليدلي چې بېشكه

اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ

الله رزق فراخوي، چا ته چې وغواړي او

يَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ

تنگوي يې، بېشکه په دغه کې خامخا د هغه قوم لپاره نښې دي

يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۳۷﴾ فَاٰتِ ذَا الۡقُرۡبٰى حَقَّهٗ وَ

چې ايمان راوړي(37) نو ته رشته دار ته د هغه حق ورکړه او

الۡمِسۡكِيۡنَ وَابۡنَ السَّبِيۡلِ ؕ ذٰلِكَ

مسکين او مسافر ته، دغه د هغو

خَيۡرٌ لِّلَّذِيۡنَ يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَ اللّٰهِ ۫ وَ

کسانو لپاره ډېر غوره دي چې د الله مخ غواړي، او

اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿۳۸﴾ وَمَآ

همدغه خلق پوره کامياب دي(38) او هغه څه

اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا۠ فِيْٓ اَمْوَالِ

چې تاسو يې ورکوئ، چې له سوده څخه وي، د
دې لپاره چې د

النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ

خلقو په مالونو کې زيات شي، نو د الله په نيز دغه
نه زياتيږي او هغه

اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ

څه چې تاسو يې ورکوئ چې له زکاته وي، په
داسې حال کې چې تاسو د الله مخ غواړئ، نو

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ﴿٣٩﴾ اَللّٰهُ

همدغه کسان ډېر زياتوونکي دي(39) الله هغه

الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ

ذات دی چې تاسو يې پيدا کړئ، بيا هغه تاسو ته
روزي درکړه، بيا

يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ مِنْ

به هغه تاسو مړه کوي، بیا به تاسو ژوندي کوي، ایا ستاسو

شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَٰلِكُمْ مِنْ

په شریکانو کې کوم یو شته چې په دغو (کارونو) کې څه

شَيْءٍ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا

شی کولی شي؟ هغه (الله) ته پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له دې نه چې دوی

ع 7

يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَ

ورسره شریك نیسي(40) په وچه او لونده (بر او

الْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ

بحر) کې فساد خور شو، په سبب د هغو (عملونو) چې د خلقو لاسونو

لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا

کړي دي، د دې لپاره چې هغه (الله) په دوی
ځينې برخه (د سزا) د هغو عملونو وڅکوي چې

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾ قُلْ سِيرُوا فِي

دوی کړي دي، د دې لپاره چې دوی راواپس شي
(41) ته (دوی ته) ووايه: تاسو په

الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

ځمکه کې وګرځئ، نو وګورئ چې د هغو

الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُمْ

کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو، د
هغوی

مُشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ

اکثره مشرکان وو(42) نو ته خپل مخ ډېر نېغ
(سم) دین

الْقَيِّمِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ

ته برابر او قايم وساته له دې نه مخكې چې هغه
ورځ راشي چې د الله له جانبه هغې ته بېرته

لَهٗ مِنَ اللّٰهِ يَوْمَىٕذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿٤٣﴾ مَنْ

گرځېدل (گرځول) نشته، په دغې ورځ كې به خلق
تار په تار (بېل بېل) شي(43) هر

كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ

څوك چې كافر شو، نو په همده باندې (عذاب د
كفر د ده دى۔ او چا

صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ

چې نېك عمل وكړ، نو دوى خاص د خپلو ځانونو
لپاره

يَمْهَدُوْنَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

فرشونه غوړوي (او ځايونه تياروي)(44) د دې
لپاره چې هغه (الله) هغو كسانو ته چې ايمان يې

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنۡ فَضۡلِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا

راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي؛ له خپله فضله بدله ورکړي، بېشکه هغه

يُحِبُّ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۴۵﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ اَنۡ

(الله) له کافرانو سره مينه نه کوي(45) او د هغه (الله) له نښو څخه يو دا

يُّرۡسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّ

دي چې هغه هواګانې رالېږي، چې زېری ورکوونکي دي، او

لِيُذِيۡقَكُمۡ مِّنۡ رَّحۡمَتِهٖ وَلِتَجۡرِيَ

د دې لپاره چې په تاسو له خپل رحمته څينې (مزې)! وڅکوي او د دې لپاره

الۡفُلۡكُ بِاَمۡرِهٖ وَلِتَبۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِهٖ وَ

چې کشتۍ د هغه په حکم سره روانې شي، او د دې لپاره چې تاسو د هغه له فضله ولټوئ، او

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ(46) اويقينًا
يقينًا مونږ له

مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ

تا نه مخکې خپلو قومونو رسولان ته لېږلي وو،

فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ

نوهغوی دوی ته په ښکاره معجزو سره راغلل، نو
مونږه له

الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا ط وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا

هغو کسانو نه چې جرم (کفر) يې کړی و، انتقام
(او بدل) واخيست او په مونږه باندې

نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾ اَللّٰهُ الَّذِىْ يُرْسِلُ

د مومنانو مدد کول حق دي(47) الله هغه ذات
دی چې

الرِّيٰحَ فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهٗ فِي

هواګانې لېږي، نو هغه ورېځې پورته كوي، نو هغه (الله)

السَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهٗ كِسَفًا

دغه په بره كې څنګه چې وغواړي خوروي او دغه (ورېځې)

فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ

ټوټه ټوټه لاندې باندې وګرځوي، بيا ته باران وينې چې د هغې (ورېځې) له مينځ نه راوځي،

فَاِذَآ اَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ

نو كله چې دغه (باران) هغه چا ته ورسوي چې هغه يې په خپلو بنده ګانو كې اراده كړې وي،

اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنْ كَانُوْا

ناڅاپه دوى ښه خوشحالي كوي(48) او يقينًا دوى

مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ

مخكې له دې چې په دوی دغه (باران) نازل کړی شي، له دې نه مخکې

لَمُبْلِسِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَانْظُرْ اِلٰٓى اٰثٰرِ رَحْمَتِ

خامخا نا امېده وو(49) نو ته د الله د رحمت نښو (او اشارو) ته وګوره،

اللّٰهِ كَيْفَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ

الله څرنګه د هغې له مرګ (وچ والي) نه وروسته ځمکه ژوندۍ کوي،

اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

بېشکه دغه (الله) خامخا مړو لره ژوندي کوونکی دی او هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٥٠﴾ وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا رِيْحًا

شي باندې قادر دی(50) او قسم دی که مونږ (د دوی په فصلونو داسې ضرري) هوا را اولېږو،

فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ

بيا دوى دغه (فصل) تك زېړ ووينې، (نو) خامخا دوى به له دې نه بعد شي

يَكْفُرُوْنَ ۝٥١ فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَ

چې كفر به كوي(51) نو بېشكه ته مړو ته نشې اورولى او

لَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا

نه ته كڼو ته بلنه اورولى شې، كله چې هغوى مخ واړوي، په داسې حال كې چې شا

مُدْبِرِيْنَ ۝٥٢ وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِ الْعُمْيِ

كوونكي وي(52) او ته ړندو ته د هغوى له

عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ

گمراهۍ نه هدايت كوونكى نه يې، ته نشې اورولى مگر هغه

ع
8

يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۵۳﴾ اَللّٰهُ

چا ته چې زمونږ په ايتونو ايمان راوړي، نو دوی مسلمانان دي(53) الله

الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ

هغه ذات دی چې تاسو يې له ضعف نه پيدا کړئ،

مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ

بيا يې له کمزورۍ نه بعد قوت پيدا کړ، بيا يې له

بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّ شَيْبَةً ؕ يَخْلُقُ مَا

قوت نه پس کمزوري او بوډاوالی (دوېښتو سپين والی) پيدا کړ، څه چې هغه

يَشَآءُ ۚ وَ هُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ﴿۵۴﴾ وَ يَوْمَ

وغواړي پيدا کوي، او همغه ښه عالم، ښه قدرت والا دی(54) او

تَقُوۡمُ السَّاعَةُ يُقۡسِمُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۙ

په هغې ورځ کې چې قيامت به قايم شي، مجرمان

مَا لَبِثُوۡا غَيۡرَ سَاعَةٍ ؕ كَذٰلِكَ كَانُوۡا

(کافران) به (په دې) قسم خوري چې دوی (په دنيا کې) له يو ساعت نه غير نه دي پاتې شوي،

يُؤۡفَكُوۡنَ ﴿۵۵﴾ وَقَالَ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا

همدارنګې به دوی ګرځولی شول(55) او هغه

الۡعِلۡمَ وَالۡاِيۡمَانَ لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ فِىۡ

کسان به چې هغوی ته علم او ايمان ورکړی شوی و، ووايي: يقينًا يقينًا

كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰى يَوۡمِ الۡبَعۡثِ ۖ فَهٰذَا

تاسو د الله په کتاب کې د بعث (بيا راژوندي کولو) د ورځې پورې پاتې

يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا

شوي يئ، نو دا د بعث، ورځ ده، او لېكن تاسو وئ

تَعْلَمُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ

چې نه پوهېدئ(56) نو په دغې ورځ به هغو

ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ

كسانو ته چې ظلم (شرك) يې كړى دى، د هغوى عذر فايده نه رسوي او نه به له دوى نه د معذرت

يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ

كولو (او توبه ايستلو) غوښتنه كېږي(57) او يقينًا يقينًا مونږه خلقو ته

فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَلَئِنْ

په دې قرآن كې هر قسمه مثال بيان كړى دى، او قسم دى

جِئۡتَهُمۡ بِاٰيَةٍ لَّيَقُوۡلَنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا

كه ته دوى ته كومه نښه (معجزه) راوړې (نو) هغه
كسان به چې كافران شوي دي؛ خامخا ضرور

اِنۡ اَنۡتُمۡ اِلَّا مُبۡطِلُوۡنَ ۝٥٨ كَذٰلِكَ

وايي: تاسو نه يئ مګر باطل (او ناحق) ويونكي(
58) همداسې

يَطۡبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوۡبِ الَّذِيۡنَ لَا

الله د هغو كسانو په زړونو مهر لګوي چې نه

يَعۡلَمُوۡنَ ۝٥٩ فَاصۡبِرۡ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ

پوهېږي(59) نو (اى نبي) ته صبر كوه، بېشكه د
الله وعده حقه ده

وَّلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ الَّذِيۡنَ لَا

او تا دې له سره سپك نه كړي هغه كسان

ع
9

يُوْقِنُوْنَ ۚ ﴿٦٠﴾

چې (په اخرت) يقين نه لري(60)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

الٓمّٓ ۚ﴿۱﴾ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ

الف، لام، ميم(1) دغه د حكمت لرونكي كتاب

الۡحَكِيۡمِ ۙ﴿۲﴾ هُدًى وَّ رَحۡمَةً

ايتونه دي(2) په داسې حال كې چې نېكي
كوونكو لپاره هدايت او

لِّلۡمُحۡسِنِيۡنَ ۙ﴿۳﴾ الَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ

رحمت دى(3) هغه كسان چې لمونځ

الصَّلٰوةَ وَ يُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ وَ هُمۡ

قايموي او زكات ادا كوي او په

بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝٤ اُولٰٓئِكَ عَلٰى

اخرت باندې هم دوی یقین کوي(4) دغه کسان په

هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

هدایت باندې دي د خپل رب له جانبه او همدغه کسان پوره

الْمُفْلِحُوْنَ ۝٥ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

کامیاب دي(5) او په خلقو کې

يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ

ځینې هغه څوك دي چې عبثې خبرې اخلي، د دې لپاره

سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ وَّيَتَّخِذَهَا

چې بې له علمه د الله له لارې نه (خلق) گمراه کړي

هُزُوًا ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

او دغه (لاره) مَسخره جوړه کړي، دغه کسان چې دي،

مُّهِينٌ ۝٦ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا وَلَّىٰ

د دوی لپاره سپکوونکی عذاب دی(6) او کله چې ده ته زمونږ ایتونه ولوستل شي

مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِي

(نو) مخ وګرځوي، په داسې حال کې چې ډېر تکبر کوونکی وي، ګویاکې ده دا له سره اورېدلي

أُذُنَيْهِ وَقْرًا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ

نه دي، ګویاکې د ده په دواړو غوږونو کې دروندوالی (کوڼوالی) دی، نو ته ده ته د ډېر

أَلِيمٍ ۝٧ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

دردوونکي عذاب زېری ورکړه(7) بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی اونېك عملونه یې کړي

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتُ

دي، د دوی لپاره د نعمتونو

النَّعِيْمِ ﴿٨﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ

جنتونه دي(8) چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي (دغه وعده کړې ده) وعده د الله

حَقًّا ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٩﴾ خَلَقَ

حقه او همغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی(9) هغه،

السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا وَاَلْقٰى

اسمانونه بې له ستنو پیدا کړي دي چې تاسو هغه وینئ او

فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَ

په ځمکه کې یې پاخه غرونه غورځولي (پیدا کړي) دي چې دغه (ځمکه) تاسو ونه خوځوي.

بَثَّ فِيۡهَا مِنۡ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَ اَنۡزَلۡنَا مِنَ

او په دغې (ځمکه) کې هر قسمه خوځنده (ژوندي سر) خواره کړي دي او مونږ له بره نه اوبه نازلې

السَّمَآءِ مَآءً فَاَنۡۢبَتۡنَا فِيۡهَا مِنۡ كُلِّ

کړې دي، بيا مونږ په دغې (ځمکه) کې هر قسمه ښې عمده (غلې، گياگانې)

زَوۡجٍ كَرِيۡمٍ ۝١٠ هٰذَا خَلۡقُ اللّٰهِ فَاَرُوۡنِیۡ

رازرغونې کړې(10) دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشرکانو!) ما ته ونبيئ څه

مَاذَا خَلَقَ الَّذِيۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖ ؕ بَلِ

شی دی هغه چې دغو (بتانو) پيدا کړی دی، چې غير له هغه (الله) نه دي، بلکې

ع 10

الظّٰلِمُوۡنَ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ۝١١ وَلَقَدۡ

ظالمان په ښکاره گمراهۍ کې دي(11) او يقينًا يقينًا

اٰتَیۡنَا لُقۡمٰنَ الۡحِکۡمَۃَ اَنِ اشۡکُرۡ لِلّٰہِ ؕ وَ

مونږ لقمان ته حكمت وركړى و چې د الله شكر وباسه او

مَنۡ یَّشۡکُرۡ فَاِنَّمَا یَشۡکُرُ لِنَفۡسِہٖ ۚ وَ

هر چا چې شكر وكړ، نو بېشكه همدا خبره ده چې هغه د ځان لپاره شكر كوي، او هر چا چې

مَنۡ کَفَرَ فَاِنَّ اللّٰہَ غَنِیٌّ حَمِیۡدٌ ﴿۱۲﴾ وَ اِذۡ

ناشكري وكړه، نو بېشكه الله ډېر بې پروا، بنه ستايل شوى دى(12) او (ياد كړه) هغه

قَالَ لُقۡمٰنُ لِابۡنِہٖ وَ ہُوَ یَعِظُہٗ یٰبُنَیَّ لَا

وخت چې لقمان خپل زوى ته وويل، په دې حال كې چې ده ته يې نصيحت كاوه: اى زما خوږه

تُشۡرِکۡ بِاللّٰہِ ؕؔ اِنَّ الشِّرۡکَ لَظُلۡمٌ

زويه! له الله سره شريك مه نيسه، بېشكه شرك يقينًا

عَظِيمٌ ﴿١٣﴾ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ

ډېر لوی ظلم دی(13) اومونږ انسان ته د خپل

بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ

مور او پلار (سره د نېکي کولو) په باره کې کلک حکم کړی دی، دی خپلې مور اوچت کړی و، په

وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَ

داسې حال کې چې سخته کمزورې وه، له پاسه د بلې کمزورۍ نه او د ده بېلول (د تي نه) په دوه

لِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿١٤﴾ وَإِن

کلونو کې وو، دا چې ته زما او د خپل مور او پلار شکر کوه، خاص ما ته بېرته راتله دي(14) او که

جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ

دوی (دواړه) په تا ډېر کوشش وکړي د دې چې ته زما سره هغه شی شریك کړه، چې تا ته د هغه هیڅ

النصف

لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۙ فَلَا تُطِعْهُمَا وَ صَاحِبْهُمَا

علم نشته، نو ته د دوی خبره مه منه، او

فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَّ اتَّبِعْ سَبِيلَ

په دنيا کې له دوی سره نېکه ملګرتيا کوه او ته د
هغه چا د لارې پيروي کوه

مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ

چې ما ته رجوع کوي، بيا خاص ما ته ستاسو
بېرته راتله دي، نو زه به تاسو په

فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ يٰبُنَيَّ

هغو کارونو خبر کړم چې تاسو به کول(15) ای
زما خوږه زويه!

اِنَّهَآ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ

بېشکه دغه (د بدۍ او نېکۍ خصلت) چې دی،
که دغه د اوري د داني

فَتَكُنْ فِيْ صَخْرَةٍ اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي

په قدر وي، بيا دغه په يو کاڼي کې وي، يا په اسمانونو کې وي، يا په

الْاَرْضِ يَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ

ځمکه کې وي، الله به هغه راوړي، بېشکه الله ډېر باريك بين،

خَبِيْرٌ ۝١٦ يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَاْمُرْ

ښه خبردار دی(16) ای زما خوږه زویه! ته لمونځ قايموه او د

بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ

نېکۍ حکم کوه او له بدۍ نه (ځان او خلق) منع کوه او

اصْبِرْ عَلٰى مَآ اَصَابَكَ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ

صبر کوه په هغه (تکليف) چې تا ته رسېږي. بېشکه دغه (کارونه)

عَزۡمِ الۡاُمُوۡرِ ۚ﴿۱۷﴾ وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ

له اهمو کارونو څخه دي(17) او له خلقو نه

لِلنَّاسِ وَلَا تَمۡشِ فِي الۡاَرۡضِ مَرَحًا ؕ

خپل مخ مه ګرځوه، او په ځمکه کې په تکبر سره مه ګرځه،

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٍ

بېشکه الله نه خوښوي هر کبرجن (او)

فَخُوۡرٍ ۚ﴿۱۸﴾ وَاقۡصِدۡ فِيۡ مَشۡيِكَ وَ

فخر کوونکی(18) او ته په خپل تګ کې میانه رو اوسه او

اغۡضُضۡ مِنۡ صَوۡتِكَ ؕ اِنَّ اَنۡكَرَ

خپل اواز څه ورو کړه، بېشکه چې په اوازونو

ع
11

الۡاَصۡوَاتِ لَصَوۡتُ الۡحَمِیۡرِ ﴿۱۹﴾ اَلَمۡ

کي تر ټولو بد (اواز) خامخا د خره اواز دی(19)
ایا تاسو

تَرَوۡا اَنَّ اللّٰہَ سَخَّرَ لَکُمۡ مَّا فِی

نه دي کتلي چې بېشکه الله تاسو لپاره په کار
اچولي دي هر هغه څه چې په

السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الۡاَرۡضِ وَ اَسۡبَغَ

اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې
دي او پر

عَلَیۡکُمۡ نِعَمَہٗ ظَاہِرَۃً وَّ بَاطِنَۃً ؕ وَ مِنَ

تاسو باندې يې خپل نعمتونه، چې ظاهري دي او
باطني دي؛ پوره کړي دي او په

النَّاسِ مَنۡ یُّجَادِلُ فِی اللّٰہِ بِغَیۡرِ عِلۡمٍ

خلقو کې ځيني هغه دي چې د الله په باره کې
جګړه کوي، بې له علمه

وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿٢٠﴾ وَاِذَا

او بې له هدايته او بې له روښانه كتابه(20) او كله

قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا

چې دوى ته وويل شي چې تاسو د هغه (قرآن) پيروي وكړئ چې الله نازل كړى دى دوى وايي:

بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ط اَوَ

(نه!) بلكې مونږ د هغې (لارې) پيروي كوو چې په هغې باندې مونږ خپل پلرونه

لَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ يَدْعُوْهُمْ اِلٰى

موندلي دي، ايا اگر كه شيطان دوى د دوزخ

عَذَابِ السَّعِيْرِ ﴿٢١﴾ وَمَنْ يُّسْلِمْ

عذاب ته رابلل(21) او هغه څوك چې

وَجۡهَهٗۤ اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحۡسِنٌ فَقَدِ

خپل مخ الله ته وسپاري، په دې حال کې چې
نېکي کوونکی وي، نو يقينًا

اسۡتَمۡسَكَ بِالۡعُرۡوَةِ الۡوُثۡقٰى ؕ وَاِلَى اللّٰهِ

ده په ډېرې مضبوطې کړۍ باندې منګولې ښخې
کړې دي، او خاص الله ته

عَاقِبَةُ الۡاُمُوۡرِ ﴿۲۲﴾ وَمَنۡ كَفَرَ فَلَا

د ټولو کارونو انجام دی(22) او هر څوک چې
کافر شو، نو تا

يَحۡزُنۡكَ كُفۡرُهٗ ؕ اِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ

دې د هغه کافر کېدل غمګين نه کړي، خاص
مونږ ته د دوی بېرته راتله دي،

فَنُنَبِّئُهُمۡ بِمَا عَمِلُوۡا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ

نو مونږ به دوی خبر کړو په هغو کارونو چې دوی
به کول، بېشکه الله ښه عالم دی

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٢٣﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ

په هغو خبرو چې په سينو کې دي(23) مونږ به دوی ته لږه شان نفع ورکړو،

نَضْطَرُّهُمْ اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿٢٤﴾ وَلَئِنْ

بيا به مونږ په زور سره دوی ډېر سخت عذاب ته راکاږو(24) او قسم دی که

سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او

الْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ الْحَمْدُ

ځمکه چا پيدا کړې دي (، نو) دوی به خامخا ضرور ووايي چې الله۔ ته ووايه: ټول د کمال

لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾ لِلّٰهِ

صفتونه خاص الله لره دي ـبلکې د دوی زياتره نه پوهېږي(25) خاص د الله لپاره دي

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ

هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي۔،
بېشكه الله، همغه ډېر بې پروا،

الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ اَنَّ مَا فِي

ښه ستايل شوى دى(26) او كه په رښتيا سره هره
هغه ونه چې په

الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ

ځمكه كې ده، قلمونه شي، په داسې حال كې چې
(سياهي شي) دغه (محيط) بحر، (بيا)

يَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا

د ده مدد نور اوه بحرونه وكړي (نو) د

نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

الله كلمات به خلاص نشي، بېشكه الله ښه غالب،

حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾ مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ

ښه حکمت والا دی(27) نه دي ستاسو پیدا کول
او نه بیا ژوندي راپاڅول

إِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ۗ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ

مګر لکه د یوه نفس، بېشکه الله ښه اورېدونکی،

بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ

ښه لیدونکی دی(28) ایا تا نه دي لیدلي چې
بېشکه الله شپه په ورځ کې ننباسي

فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَ

او ورځ په شپه کې ننباسي او هغه

سَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِي

لمر او سپوږمۍ مسخر کړي (په کار اچولي) دي،
هر یو یې تر

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّ اَنَّ اللّٰهَ بِمَا

مقررې نېټې پورې روان دي او دا چې بېشکه هغه الله په هغو کارونو چې

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٢٩﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ

تاسو يې کوئ؛ ښه خبردار دی(29) دغه په دې سبب چې بېشکه الله،

الْحَقُّ وَ اَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ

هم دی حق دی، او دا چې بېشکه هغه (معبودان) چې دوی يې له هغه (الله) نه غير بولي،

الْبَاطِلُ ۙ وَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ

باطل دي او دا چې بېشکه الله، هم دی ډېر اوچت،

ع 12

الْكَبِيْرُ ﴿٣٠﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِىْ

ډېر لوی دی(30) ايا تا نه دي ليدلي چې بېشکه کشتۍ په سمندر کې

فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمْ مِّنْ

د الله په نعمت سره تګ کوي، د دې لپاره چې
تاسو ته له خپلو نښو

اٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ

ځنې وښيي، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د
هر ډېر صبر کوونکي، ډېر

شَكُوْرٍ ﴿٣١﴾ وَاِذَا غَشِيَهُمْ مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ

شکر کوونکي لپاره(31) او کله چې دوی لره د
وريځو په شان موج را لاندې (پټ) کړي (نو)

دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا

دوی الله بولي، په داسې حال کې چې دين خاص
الله ته خالص کوونکي وي، نو کله چې هغه دوی

نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ؕ وَ

ته وچې ته نجات ورکړي، بيا نو په دوی کې ځينې
په نېغه لاره ولاړ وي۔ او

مَا يَجۡحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ

زمونږ له ایتونو (دلیلونو) نه انکار نه کوي مګر هر
هغه چې ډېر عهد ماتوونکی،

كَفُوۡرٍ ﴿۳۲﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ وَ

ډېر ناشکره دي(32) ای خلقو! تاسو د خپل رب
تقوٰی غوره کړئ او

اخۡشَوۡا يَوۡمًا لَّا يَجۡزِىۡ وَالِدٌ عَنۡ

له هغې ورځې نه وویرېږئ چې هېڅ پلار به د

وَّلَدِهٖ وَلَا مَوۡلُوۡدٌ هُوَ جَازٍ عَنۡ وَّالِدِهٖ

خپل اولاد په کار نشي راتلی او نه کوم اولاد شته
چې هغه له خپل پلار نه څه شی (عذاب) دفع

شَيۡـئًا ؕ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا

کوونکی دی۔، بېشکه د الله وعده حقه ده، نو

تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ وَلَا

دنیایي ژوند دې تاسو له سره غره (دوکه) نه کړي اوتاسو دې د الله په باره کې لوی

يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ ۝٣٣ إِنَّ اللَّهَ

غره کوونکی (شیطان) له سره غره نه کړي(33) بېشکه الله چې دی،

عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ

خاص له هغه سره د قیامت علم دی او هغه باران نازلوي او هغه (په یقیني طریقه، بې له وسایلو)

الْغَيْثَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۖ وَ

پوهېږي په هر هغه څه چې په رحمونو کې دي او

مَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَ

هېڅ یونفس نه پوهېږي چې هغه به سبا ته څه کار کوي او

مَا تَدۡرِيۡ نَفۡسٌۢ بِاَيِّ اَرۡضٍ تَمُوۡتُ ؕ

هېڅ يو نفس نه پوهېږي چې په كومه ځمكه (سيمه) كې به مري،

ع 13

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌ خَبِيۡرٌ ۝٣٤

بېشكه الله ښه عالم، ښه خبردار دی(34)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

الٓمّٓ ۚ﴿۱﴾ تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ

الف، لام، ميم(1) د دغه كتاب نازلول، چې په ده كې هيڅ شك نشته،

مِنۡ رَّبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ؕ﴿۲﴾ اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ

د رب العالمين له جانبه دي(2) (بلكې) ايا دوى وايي چې ده (محمدﷺ) دا

افۡتَرٰىهُ ۚ بَلۡ هُوَ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكَ

له خپله ځانه جوړ كړى دى، بلكې همدغه ستا د رب

لِتُنۡذِرَ قَوۡمًا مَّاۤ اَتٰىهُمۡ مِّنۡ نَّذِيۡرٍ مِّنۡ

له جانبه حق دى، د دې لپاره چې ته هغه قوم وويروې چې دوى

قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿٣﴾ اَللّٰهُ الَّذِىْ

ته له تا نه مخکې هېڅ وېرووونکی نه دی راغلی، د دې لپاره چې دوی سمه لاره ومومي(3) الله هغه

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا

ذات دی چې اسمانونه او ځمکه او هر هغه

بَيْنَهُمَا فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى

څه چې د دې دواړو په مینځ کې دي، په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا یې په

الْعَرْشِ ؕ مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ

عرش باندې استوا وکړه. ستاسو لپاره له هغه نه غير نه هېڅ کارساز شته

وَّلَا شَفِيْعٍ ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤﴾ يُدَبِّرُ

او نه شفاعت کوونکی، ایا نو تاسو پند نه اخلئ!(4) هغه د کار تدبیر

الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ

کوي له اسمان نه ځمکې ته (د قيامت د ورځې
پورې)، بيا به ده

يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗٓ

ته دغه (کار) په هغې ورځ کې خېژي چې د هغې
مقدار

اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ۝٥ ذٰلِكَ عٰلِمُ

زر کاله دی، له هغو (کلونو) نه چې تاسو يې
شمېرئ(5) دغه (الله) د پټو او

الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ

ښکاره و عالم دی، چې ښه غالب،

الرَّحِيْمُ ۝٦ الَّذِيْٓ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ

بې حده مهربان دی(6) هغه (الله) چې ښايسته
کړې يې دی هر شی

خَلَقَهٗ وَ بَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ مِنْ

چې ده هغه پيدا کړې دی، او د انسان تخليق يې
له

طِيْنٍۚ ⑦ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ

ختې نه شروع کړې دی(7) بيا يې د هغه نسل د
ضعيفو

مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍۚ ⑧ ثُمَّ سَوّٰىهُ وَ نَفَخَ

حقيرو اوبو له خلاصې نه پيدا کړ(8) بيا يې هغه

فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَ جَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ

برابر کړ او په هغه کې يې له خپله روحه څنې پو
کړل او د هغه لپاره يې غوږونه

وَ الْاَبْصَارَ وَ الْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِيْلًا مَّا

او سترګې او زړونه پيدا کړل (خو) تاسو ډېر لږ

تَشۡكُرُوۡنَ ۝٩ وَقَالُوۡٓا ءَاِذَا ضَلَلۡنَا فِى

شکر وباسئ(9) او دوی وايي: ايا كله چې مونږ په

الۡاَرۡضِ ءَاِنَّا لَفِىۡ خَلۡقٍ جَدِيۡدٍ ؕ بَلۡ

ځمكه كې ورك (او خاورې) شو، ايا مونږ به
خامخا په رښتيا سره په نوي تخليق كې يو۔! بلكې

هُمۡ بِلِقَآئِ رَبِّهِمۡ كٰفِرُوۡنَ ۝١٠ قُلۡ

دوی د خپل رب له ملاقات نه انكار كوونكي دي(
10) ته (دوی ته) ووايه:

يَتَوَفّٰٮكُمۡ مَّلَكُ الۡمَوۡتِ الَّذِىۡ وُكِّلَ

ستاسو روحونه هغه د مرگ مَلَك قبض كوي چې
په تاسو مقرر كړی شوی دی،

ع 14

بِكُمۡ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُوۡنَ ۝١١ وَلَوۡ

بيا به تاسو خپل رب ته بېرته ورگرځولی شئ(11)
او كه ته

تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا

ووينې کله چې مجرمان د خپل رب په وړاندې سرکوزي وي

رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا

(د خپلو سرونو ټيټوونکي وي او وايي به) اى زمونږه ربه! مونږ وليده

وَ سَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا

او مونږ واورېده، نو ته مونږ بېرته بوځه، چې مونږ نېك عمل وكړو، بېشكه مونږ (اوس)

مُوْقِنُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ

يقين كوونكي يو(12) او كه مونږ غوښتلى (نو) مونږ به خامخا

نَفْسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّىْ

هر نفس ته د هغه هدايت وركړى و او ليكن زما له جانبه دغه خبره ثابته (او لازمه) شوې ده

لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ

چې زه به جهنّم خامخا ضرور له پېریانو او انسانانو،

اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳﴾ فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ

ټولو نه ډکوم(13) نو تاسو (دا عذاب) وڅکئ

لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَ

په سبب د دې چې تاسو د خپلې دغې ورځې ملاقات هېر کړی و، بېشکه مونږ (هم) تاسو هېر

ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ

کړئ، نو تاسو (اوس) دغه دايمي عذاب وڅکئ، په سبب د هغو

تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ

عملونو چې تاسو به کول(14) بېشکه زمونږ په ايتونو خو يواځې هغه کسان ايمان راوړي

إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَّ سَبَّحُوا

چې کله دوی ته په دغو (ایتونو) سره پند ورکړی شي، نو پرېوځي، په

بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَ هُمْ لَا

داسې حال کې چې سجده کوونکي وي او د خپل رب د ستاینې سره تسبیح وایي



يَسْتَكْبِرُوْنَ ۩ ﴿١٥﴾ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ

او دوی تکبر نه کوي(15) د دوی ډډې له خپلو

الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّ

خوب ځایونو نه لرې کېږي، دوی خپل رب بولي په وېرې او

طَمَعًا ۡ وَّ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿١٦﴾ فَلَا

طمعې سره او له هغه (مال) نه، چې مونږ دوی ته ورکړی دی؛ خه لګوي(16) نو هېڅ

تَعۡلَمُ نَفۡسٌ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ

يو نفس ته معلوم نه دي هغه څه چې د دوی لپاره
پټ کړی شوي دي،

أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ

د سترګو له يخوالي نه، لپاره د بدلې د هغو عملونو

يَعۡمَلُونَ ١٧ أَفَمَن كَانَ مُؤۡمِنٗا كَمَن

چې دوی به کول(17) ايا هغه څوك چې مومن
وي، د هغه چا په شان دی

كَانَ فَاسِقٗاۚ لَّا يَسۡتَوُۥنَ ١٨ أَمَّا ٱلَّذِينَ

چې فاسق وي؟ دوی سره نه برابرېږي(18) هر
چې هغه کسان دي

ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ

چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي
دي، نو د دوی

جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ۫ نُزُلًا بِمَا كَانُوْا

لپاره د استوګنې باغونه دي، د مېلمستيا په طريقه، په سبب د هغو

يَعْمَلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا

عملونو چې دوی به کول(19) او پاتې شو هغه کسان چې فاسقان شوي دي،

فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ

نو د دوی استوګنه اور دی، هر کله چې دوی اراده وکړي چې له دغه (اور) نه ووځي (نو) بېرته

يَّخْرُجُوْا مِنْهَآ اُعِيْدُوْا فِيْهَا وَقِيْلَ

به په هغه کې واپس کړی شي او دوی ته به وويل شي

لَهُمْ ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّذِىْ

چې تاسو د اور هغه عذاب وڅکئ چې تاسو به د

كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ

ده تكذيب كاوه(20) او مونږ به خامخا هرومرو په
دوی د

مِّنَ الْعَذَابِ الْاَدْنٰى دُوْنَ الْعَذَابِ

نژدې (لږ) عذاب نه وڅكوو، له ډېر لوی عذاب نه
مخكې، د دې لپاره

الْاَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٢١﴾ وَمَنْ

چې دوی (له كفر نه اسلام ته) راوګرځي(21) او
څوك دی

اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ثُمَّ

لوی ظالم له هغه چا نه چې هغه ته د خپل رب په
ايتونو سره پند وركړی شي، بيا هغه له دغو

اَعْرَضَ عَنْهَا ؕ اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ

(ايتونو) نه مخ وګرځوي، بېشكه مونږ له مجرمانو
نه

ع 15

مُنْتَقِمُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى

انتقام اخيستونكي يو(22) او يقينًا مونږ موسىٰ ته

الْكِتٰبَ فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ

كتاب وركړى و، نو ته د هغه (موسىٰ) له ملاقات نه

وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٢٣﴾ وَ

مه په شك كې كېږه او مونږ هغه د بني اسرائيلو لپاره هدايت گرځولى و(23) او

جَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا

مونږ په دوى كې ځينې امامان گرځولي وو چې زمونږ په حكم سره به يې (خلقو ته)

لَمَّا صَبَرُوْا ؕ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا

لار ښودنه كوله كله چې دوى صبر وكړ، او دوى زمونږ په ايتونو

يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ

يقين كاوه(24) بېشكه همدغه ستا رب به د

بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ

قيامت په ورځ د دوی په مينځ کې فيصله کوي، په
هغو خبرو کې چې دوی به په

يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ

هغو کې اختلاف کاوه(25) ايا دوی ته ښکاره
شوې نه ده چې مونږ له دوی نه

أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْقُرُونِ

مخکې څومره ډېرې پېړۍ هلاکې کړې دي، چې
دوی

يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

د هغو په (ورانو) استوګنو کې (تل) تېرېږي،
بېشکه په دغو کې

لَاٰيٰتٍ ؕ اَفَلَا يَسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۶﴾ اَوَلَمۡ يَرَوۡا

خامخا نښې دي، ايا نو دوی نه اوري!(26) او ايا دوی نه دي ليدلي

اَنَّا نَسُوۡقُ الۡمَآءَ اِلَى الۡاَرۡضِ الۡجُرُزِ

چې بېشکه مونږ وچې (گياه ختمې شوې) ځمکې ته اوبه ليږو،

فَنُخۡرِجُ بِهٖ زَرۡعًا تَاۡكُلُ مِنۡهُ

نو په دغو (اوبو) سره هغه فصل راوباسو چې له هغه نه د دوی

اَنۡعَامُهُمۡ وَاَنۡفُسُهُمۡ ؕ اَفَلَا

څاروي او د دوی نفسونه خوراك کوي، ايا نو

يُبۡصِرُوۡنَ ﴿۲۷﴾ وَيَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هٰذَا

دوی نهويني(27) او دوی وايي: دغه فيصله به

الثلثة

الْفَتْحُ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۞٢٨ قُلْ

كله وي، كه تاسو رښتيني يئ؟(28) ته (دوى ته) ووايه:

يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

د فيصلې په ورځ به كافران شويو كسانو ته د

اِيْمَانُهُمْ وَلَا هُمْ

هغوى ايمان راوړل فايده ورنكړي او نه به دوى ته

يُنْظَرُوْنَ ۞٢٩ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ

مهلت وركولى شي(29) نو ته له دوى نه مخ واړوه او انتظار كوه،

اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ۞٣٠

بېشكه دوى (هم) انتظار كوونكي دي(30)

ع 16

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

يٰۤاَيُّهَا النَّبِىُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ

اى نبي! ته له الله نه ووېرېږه او د

الۡكٰفِرِيۡنَ وَالۡمُنٰفِقِيۡنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

كافرانو او منافقانو خبره مه منه۔، بېشكه چې الله له ازله

عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ۙ﴿۱﴾ وَّاتَّبِعۡ مَا يُوۡحٰۤى

ښه عالم، ښه حكمت والا دى(1) او ته د هغه (حكم) پيروي كوه چې تا ته د خپل رب له جانبه

اِلَيۡكَ مِنۡ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا

وحي كولى شي، بېشكه الله په هغو كارونو چې

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۙ﴿٢﴾ وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَ

تاسو يې کوئ (اى خلقو!) ښه خبردار دى(2) او ته په الله توکل وکړه او الله ښه

كَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٣﴾ مَا جَعَلَ اللّٰهُ

کافي دى كار جوړوونكى(3) الله د هېڅ يو سړي

لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا

لپاره د هغه په دننه کې دوه زړونه نه دي پيدا کړي او هغه (الله)

جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ

ستاسو هغه ښځې چې تاسو له هغو نه ظهار کوئ

مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ

ستاسو میندې نه دي گرځولي او هغه (الله)

اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ

ستاسو په زامنو بلل شوي ستاسو (واقعي) زامن نه دي گرځولي،

قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ

دغه (درې خبرې) ستاسو (بېكاره) خبرې دي، په خپلو خولو سره، او الله

الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِى

حق وايي او هغه نېغه

السَّبِيْلَ ۝٤ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ

لار ښيي(4) تاسو دغه (په زامنو بلل شوي) د هغوى پلرونو ته منسوب كړئ،

اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا

دغه (كار) د الله په نېز د انصاف والا دى، نو كه

اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ فِی الدِّیْنِ وَ

تاسو د هغوی پلرونه نه پېژنئ، نو دوی ستاسو
ورونه دي په دين كې او

مَوَالِیْكُمْ ؕ وَلَیْسَ عَلَیْكُمْ جُنَاحٌ

ستاسو دوستان دي، او په تاسو هېڅ گناه نشته په

فِیْمَاۤ اَخْطَاْتُمْ بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ

هغه شي كې چې تاسو په كې خطا شئ۔ او لېكن
(گناه شته د) هغه (كار) چې

قُلُوْبُكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

ستاسو زړونه د هغه قصد (اراده) وكړي او الله له
ازله ډېر بخښونكى،

رَّحِیْمًا ۝٥ اَلنَّبِیُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ

بې حده مهربان دى(5) نبي (محمد ﷺ) په
مومنانو باندې د

اَنۡفُسِهِمۡ وَ اَزۡوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمۡ ؕ وَ

دوی له ځانونو نه زيات حقدار دی۔ او د ده ښځې د دوی میندې دي او

اُولُوا الۡاَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ اَوۡلٰى بِبَعۡضٍ

د خپلوۍ خاوندان (رشته داران) د الله په کتاب کې د

فِىۡ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَ

دوی ځینې په ځینو نورو باندې له مومنانو او

الۡمُهٰجِرِيۡنَ اِلَّاۤ اَنۡ تَفۡعَلُوۡۤا اِلٰٓى

مهاجرینو نه زيات حق لرونکي دي، مګر دا چې تاسو له خپلو

اَوۡلِيٰٓـئِكُمۡ مَّعۡرُوۡفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِى

دوستانو سره څه نېکي وکړئ۔ دغه په کتاب کې

الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿٦﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ

ليکل شوي دي(6) او کله چې مونږ له

النَّبِيّٖنَ مِيْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُّوْحٍ

نبيانو نه د دوی پخه وعده واخيسته او له تا نه او
له نوح

وَّاِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسَى ابْنِ

او ابراهيم او موسٰی او د مريمې له زوی عيسٰی

مَرْيَمَ ۠ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا

نه، او مونږ له دوی نه ډېره پخه مضبوطه وعده

غَلِيْظًا ﴿٧﴾ لِّيَسْـَٔلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ

واخيسته(7) د دې لپاره چې هغه (الله) له
صادقانو نه

صِدْقِهِمْ ۚ وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا

د هغوی د صدق (رښتیاوو) په باره کې تپوس
وکړي او هغه د کافرانو لپاره ډېر دردوونکی عذاب

ع
17

اَلِیْمًا ۟ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا

تیار کړی دی(8) ای هغو کسانو چې ایمان یې
راوړی دی!

نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ

تاسو د الله هغه نعمت رایاد کړئ چې پر تاسو
شوی دی، کله چې په تاسو لښکرې راغلې،

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا وَّ جُنُوْدًا لَّمْ

نو مونږ پر هغوی باندې باد او داسې لښکرې
راخوشې کړې چې

تَرَوْهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

تاسو نه لیدلې او الله هغو کارونو لره چې تاسو یې
کوئ

بَصِيْرًا ۝٩ اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَ

ښه ليدونكى دى(9) كله چې دوى په تاسو راغلل،

مِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ

ستاسو له بره اړخ نه او ستاسو نه له لاندې اړخ نه او كله

الْاَبْصَارُ وَ بَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ

چې سترګې كږې او زړونه چنغړكو ته ورسېدل او

وَ تَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ۝١٠ هُنَالِكَ

تاسو په الله ګمانونه كول، قسم قسم ګمانونه(10) په دغه ځاى (او وخت)

ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ زُلْزِلُوْا زِلْزَالًا

كې مومنان وازمايلى شول او وخوځولى شول، ډېر

شَدِيْدًا ﴿١١﴾ وَإِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَ

سخت خوځول(11) او (یاد کړه) هغه وخت چې منافقانو او

الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا

هغو کسانو چې د هغوی په زړونو کې مرض و، وویل: مونږ سره

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿١٢﴾ وَاِذْ قَالَتْ

الله او د هغه رسول وعده نه ده کړې مګر د دوکې (وعده)(12) او کله چې په دوی

طَّآىِٕفَةٌ مِّنْهُمْ يٰٓاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ

کې يوې ډلې وويل: ای د يثرب (مدينې) اوسېدونکو! تاسو لپاره (د استوګنې)

لَكُمْ فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ

هېڅ ځای نشته، نو بېرته وګرځئ او په دوی کې يوه ډله له نبي نه د بېرته تللو اجازت غواړي،

مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ بُيُوْتَنَا

دوی وايي: بېشکه زمونږ کورونه تش پراته دي،

عَوْرَةٌ ۛ وَ مَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ

حال دا چې هغه تش نه دي پراته، دوی اراده نه
لري

اِلَّا فِرَارًا ﴿۱۳﴾ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ

مګر د تېښتې(13) او که په دوی (دغه لښکرې)
په دې (مدينه) کې رانَنه ايستی شي د دې له

اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ لَاٰتَوْهَا وَ

(ټولو) اړخونو نه، بيا له دوی نه د فتنې (د شرك او
له مسلمانانو سره د جنګ) غوښتنه وکړی شي (،

مَا تَلَبَّثُوْا بِهَآ اِلَّا يَسِيْرًا ﴿۱۴﴾ وَلَقَدْ

نو) دوی به خامخا دغه (کار) وکړي او دوی به په
دې کې ځنډ ونه کړي مګر ډېر لږ(14) او يقينًا

كَانُوْا عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ

يقينًا دوی له دې نه مخکې له الله سره عهد کړی و، چې

الْاَدْبَارَ ؕ وَكَانَ عَهْدُ اللّٰهِ

دوی به شاګانې وانه ړوي او د الله عهد دی چې (د ده باره کې)

مَسْـُٔوْلًا ﴿۱۵﴾ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ

پوښتنه کېږي(15) ته (دوی ته) ووايه: تاسو ته به ټېښته له سره

اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ وَ

نفع در ونه رسوي که تاسو له مرګ، یا قتل نه وتښتئ او په دغه وخت کې به تاسو

اِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۶﴾ قُلْ مَنْ

ته فایده درنه کړی شي مګر ډېره لږه(16) ته (دوی ته) ووايه: څوک

ذَا الَّذِیْ یَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ

دی هغه ذات چې تاسو به له الله نه بچ کړي که هغه (الله) تاسو ته د تکلیف رسولو اراده وکړي، یا

بِكُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ؕ وَلَا

هغه په تاسو د مهربانۍ کولو اراده وکړي؟ او دوی

یَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِیًّا وَّلَا

به د خپل ځان لپاره له الله نه غیر نه هیڅ کارساز ومومي او

نَصِیْرًا ﴿۱۷﴾ قَدْ یَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِیْنَ

نه مدد ګار(17) یقینًا الله ته په تاسو کې (له جهاد نه)

مِنْكُمْ وَالْقَآىِٕلِیْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ

منع کوونکي معلوم دي او خپلو وروڼو ته دا ویونکي

اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا

چې مونږ ته راشئ! او دوی جنګ ته نه راځي مګر

قَلِيْلًا ۙ﴿۱۸﴾ اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖۚ فَاِذَا جَآءَ

ډېر لږ(18) په داسې حال کې چې پر تاسو باندې بخل کوونکي دي، نو کله

الْخَوْفُ رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ

چې وېره راشي (، نو) ته به دوی وینې چې تا ته به ګوري،

تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ كَالَّذِيْ يُغْشٰى عَلَيْهِ

په داسې حال کې چې د دوی سترګې به (داسې) چورلي، لکه هغه کس

مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ

چې په هغه د مرګ په وجه بې هوشي راوستلې شوې وي، نو کله چې وېره لاړه شي (نو) دوی

سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى

تاسو ته ضرر دررسوي په خپلو تېرو ژبو سره، په داسې حال کې

الْخَيْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ

چې د خير (مالِ غنيمت) ډېر حريصان وي، دغو كسانو ايمان نه دى راوړى،

اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

نو الله د دوى عملونه برباد كړل او دغه (كار) الله ته ډېر

يَسِيْرًا ﴿١٩﴾ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ

اسان دى(19) دوى په لښكرو ګمان كوي چې

يَذْهَبُوْا ۚ وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا

دوى نه دي تللي، او كه دغه لښكرې (بيا) راشي (نو) دوى

لَوۡ اَنَّهُمۡ بَادُوۡنَ فِى الۡاَعۡرَابِ

خوښوي چې کاشکې په رښتيا دوی باندېښيان وی په اعرابو (صحرايي خلقو) کې،

يَسۡاَلُوۡنَ عَنۡ اَنۡۢبَآٮِٕكُمۡ‌ ؕ وَلَوۡ كَانُوۡا

چې ستاسو د خبرونو په باره کې يې پوښتنې کولی، او که دوی په تاسو کې وی

ع 18

فِيۡكُمۡ مَّا قٰتَلُوۡۤا اِلَّا قَلِيۡلًا ۞ لَقَدۡ كَانَ

نو دوی به جنګ نه و کړی مګر ډېر لږ(20) يقينًا يقينًا تاسو

لَكُمۡ فِىۡ رَسُوۡلِ اللّٰهِ اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنۡ

لپاره په (کار د) رسول الله کې ډېره ښه اقتدا ده، د هغه

كَانَ يَرۡجُوا اللّٰهَ وَالۡيَوۡمَ الۡاٰخِرَ وَ

چا لپاره چې د الله او د وروستنۍ ورځې امېد لري او الله

ذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ

ډېر زيات يادوي(21) او كله چې مومنانو ډلې

الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ

وليدې، ويې ويل: دا هغه دي چې مونږ سره يې الله او د هغه

وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۫ وَمَا

رسول وعده كړې وه، او الله او د هغه رسول رښتيا ويلي وو، اودوى ته

زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ﴿٢٢﴾ مِنَ

دغو زيات نه كړ مگر ايمان او (د الله حكمونو ته) تسليمېدل(22) په

الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا

مومنانو كې ځينې داسې سړي دي چې هغه خبره يې رښتيا كړله چې په

اللّٰهَ عَلَيۡهِ ۚ فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ قَضٰى نَحۡبَهٗ وَ

هغې يې له الله سره عهد کړی و نو ځینې په دوی کې هغه دي چې پوره یې کړ خپل نذر (عهد) او

مِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّنۡتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوۡا

ځینې په دوی کې هغه دي چې انتظار کوي او دوی (په خپله خبره کې) تبدیلي نه ده کړې،

تَبۡدِيۡلًا ۙ﴿۲۳﴾ لِّيَجۡزِىَ اللّٰهُ الصّٰدِقِيۡنَ

هېڅ تبدیلي(23) د دې لپاره چې الله رښتینو ته د هغوی

بِصِدۡقِهِمۡ وَيُعَذِّبَ الۡمُنٰفِقِيۡنَ اِنۡ

د رښتیاوو په سبب بدله ورکړي او منافقانو ته

شَآءَ اَوۡ يَتُوۡبَ عَلَيۡهِمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

عذاب ورکړي که یې وغواړي، یا په دوی رجوع وکړي، بېشکه چې الله ډېر

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

بخښونکی، بې حده مهربان دی(24) او الله

كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ط وَ

کافران سره له خپلې غصې نه بېرته وشړل، په داسې حال کې چې هېڅ خير يې ونه موند۔ او

كَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ط وَكَانَ

الله مومنان له جنګ نه وساتل۔او الله ډېر زورور،

اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ﴿۲۵﴾ وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ

ښه غالب دی(25) او هغه (الله) هغه کسان

ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ

چې د دوی مرسته يې کړې وه، چې له اهل کتابو څخه وو،

صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ

له خپلو قلاګانو نه راکوز کړل. او د دوی په زړونو کې یې

الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ

وېره وغورځوله، (نو) یوه ډله تاسو وژله او بله ډله تاسو

فَرِيقًا ۝٢٦ وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَ

بندي کوله(26) او هغه، تاسو وارثان کړئ د هغوی د ځمکو او

دِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضًا لَّمْ

د هغوی د کورونو او د هغوی د مالونو او د هغې ځمکې

تَطَئُوهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

چې تاسو هغه نه وه پایمال کړې، او الله په هر شي باندې له

ع
19

قَدِيرًا ﴿٢٧﴾ يَآأَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ

ازله ښه قادر دی(27) ای نبي! ته خپلو ښځو ته
ووایه!

إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا وَ

که تاسو يئ چې دنيايي ژوند او د ده

زِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَ

زينت غواړئ، نو راشئ چې زه تاسو ته څه فايده
دروړسوم او

أُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٢٨﴾ وَإِن

تاسو خوشې (ازادې) کړم، ډېر ښه ازادول(28)
اوکه

كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ

تاسو يئ چې الله او د هغه رسول او د اخرت کور

الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ

(جنت) غواړئ، نو بېشکه الله د نېکي کوونکو ښځو لپاره، چې تاسو يئ،

مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٢٩﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ

ډېر لوی اجر تيار کړی دی(29) ای د نبي ښځو!

مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

په تاسو کې چې هر چا ښکاره بدکاري وکړه (نو)

يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ؕ وَكَانَ

هغې ته به عذاب يو په دوه، دوچند کړی شي او دغه

ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿٣٠﴾

(کار) الله ته ډېر اسان دی(30)

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَ

او په تاسو كې چې څوك د الله او د هغه د رسول

تَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ

اطاعت وكړي او نيك عمل وكړي (، نو) مونږ به
هغې ته د هغې اجر دوه ځله وركړو او مونږ د هغې

وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿٣١﴾ يٰنِسَآءَ

لپاره ډېر د عزت رزق تيار كړى دى(31) اى د
نبي ښځو!

النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ

تاسو په (ډلو د) ښځو كې د هيڅ يوې (ډلې)
په شان نه يئ كه

اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ

تاسو پرهېزګاري وكړئ، نو تاسو په وينا كې نرمي
مه كوئ، (ګنې) نو هغه

فَيَطْمَعَ الَّذِىْ فِىْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّ قُلْنَ

کس به په طمع کې پرېوځي چې د هغه په زړه کې (د نفاق، یا بدکارۍ) مرض وي او تاسو هغه

قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ وَ قَرْنَ فِىْ بُيُوْتِكُنَّ وَ

خبره کوئ چې مناسبه وي(32) او تاسو په خپلو کورونو کې قرار ونیسئ او

لَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَ

تاسو د ړومبني جاهلیت د زینت ښکاره کولو په شان زینت مه ښکاره کوئ۔ او

اَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَ

تاسو لمونځ قایموئ او زکات ادا کوئ او

اَطِعْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ

د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ۔، بېشکه همدا خبره ده چې الله غواړي

لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ

چې له تاسو نه، ای اهل بيتو! ګناه لرې کړي

الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَ

او تاسو پاك كړي، پاكول(33) او

اذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ

تاسو يادوئ هغه د الله ايتونه او حكمت چې

اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ لَطِيْفًا

ستاسو په كورونو كې لوستل كېږي، بېشكه الله
دى، ډېر باريك بين،

ع 1

خَبِيْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ

ښه خبردار(34) بېشكه مسلمانان او مسلمانانې

وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ

او مومنان او مومنانې، او اطاعت کوونکي

وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ

او اطاعت کوونکې او صادقان (رښتيني) او صادقانې

وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ

او صبر کوونکي او صبر کوونکې اوعاجزي کوونکي

وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَ

او عاجزي کوونکې او خيرات کوونکي او

الْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ

خيرات کوونکې او روژه نيونکي او روژه نيوونکې

وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَ

او د خپلو شرم ځايونو حفاظت کوونکي او
حفاظت کوونکې او

الذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ

الله لره ډېر يادوونکي او يادوونکې،

اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا

الله د دوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر

عَظِيْمًا ﴿٣٥﴾ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا

تيار کړی دی(35) او نه دي روا د هېڅ مومن
لپاره او نه

مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اَمْرًا

د مومنې لپاره، کله چې الله او د هغه رسول د يو
کار فيصله وکړي

اَنۡ يَّكُوۡنَ لَهُمُ الۡخِيَرَةُ مِنۡ اَمۡرِهِمۡ ؕ

دا چې د دوی لپاره دې په خپل كار كې اختيار وي

وَمَنۡ يَّعۡصِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ فَقَدۡ ضَلَّ

او څوك چې د الله او د هغه د رسول نافرماني كوي، نو يقينًا دغه (كس) گمراه شو،

ضَلٰلًا مُّبِيۡنًا ؕ ۳۶ وَاِذۡ تَقُوۡلُ لِلَّذِىۡۤ

ښكاره گمراه كېدل(36) او (ياد كړه اى نبي!) كله چې تا هغه كس ته

اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِ

چې الله په هغه انعام كړى و او تا (هم) په هغه (په ازادولو سره) انعام كړى و؛ ويل:

اَمۡسِكۡ عَلَيۡكَ زَوۡجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَ

ته خپله ښځه له ځان سره وساته او له الله نه ووېرېږه او

تُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَ

تا هغه خبره په خپل زړه کې پټوله چې الله د هغې ښکاره کوونکی و او

تَخْشَى النَّاسَ ۚ وَ اللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ

ته له خلقو نه وېرېدلې او الله زيات حق دار دی چې ته له

تَخْشٰهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا

هغه نه ووېرېږې، نوکله چې زيد له هغې نه غرض (حاجت) پوره کړ (نو)

زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى

مونږ هغه تا ته په نکاح کړه، د دې لپاره چې په

الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْٓ اَزْوَاجِ

مومنانو باندې د خپلو په زامنو بلل شويو، په ښځو کې څه

اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَ

سختي نه وي، كله چې دغه (په زامنو بلل شوي) له دغو (ښځو) نه حاجت پوره كړي او

كَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾ مَا كَانَ عَلَى

دى د الله كار ادا كړى شوى(37) په نبي باندې

النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ

هيڅ قدر حرج (او سختي) نشته په هغه كار (د نكاح) كې چې الله د ده لپاره مقرر كړى و،

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ؕ

د الله (مقرر كړې) طريقه ده په هغو (نبيانو) كې چې له ده نه مخكې تېر شوي دي

وَ كَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا

او دى د الله امر قطعي ټاكل

مَّقْدُوْرًا ۟ۙ ﴿۳۸﴾ الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ

شوې فيصله(38) هغه (نبيان) چې د الله پيغامونه رسوي

اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا

او له هغه نه وېرېږي او له الله نه غير له هيچا نه نه وېرېږي

اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ﴿۳۹﴾ مَا

او الله ښه کافي دی حساب کوونکی(39)

كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ

محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار نه دی او

لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَ

ليکن د الله رسول دی او د نبيانو (د لړۍ) ختمونکی دی او

ع
2

كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۴۰﴾ یٰٓاَیُّهَا

الله په هر شي ښه عالم دى(40) اى هغو

الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا

كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو الله يادوئ،

كَثِیْرًا ﴿۴۱﴾ وَّ سَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ

ډېر زيات يادول(41) او تاسو د هغه پاكي بيانوئ
د ورځې په اوله برخه او

اَصِیْلًا ﴿۴۲﴾ هُوَ الَّذِیْ یُصَلِّیْ عَلَیْكُمْ وَ

اخري برخه كې(42) دى همغه ذات دى چې په
تاسو "صلاة" (شفقت) رالېږي او

مَلٰٓئِكَتُهٗ لِیُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

د هغه ملايك (هم)، د دې لپاره چې هغه تاسو له
تيارو

اِلَى النُّوْرِ ؕ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ

نه رڼا ته راوباسي، هغه په مومنانو ډېر

رَحِيْمًا ﴿۴۳﴾ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ

رحم کوونکی دی(43) (د الله له جانبه) دوی ته
پیشکشي به، په هغې ورځ کې چې دوی به له هغه

سَلٰمٌ ۚۖ وَاَعَدَّ لَهُمْ اَجْرًا

(الله) سره ملاقات کوي، سلام وي، او هغه د دوی
لپاره ډېر د عزت اجر

كَرِيْمًا ﴿۴۴﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ

تیار کړی دی(44) ای نبي! بېشکه مونږ ته گواه،

شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۴۵﴾ لا وَّدَاعِيًا

او زېری ورکوونکی، او وېروونکی لیږلی یې(45)
او الله ته د

إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ﴿٤٦﴾ وَ

هغه په حكم سره، بلونكى او رڼا كوونكې ډيوه مولېږلى يې(46) او

بَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ اللَّهِ

ته مومنانو ته زېرى وركړه په دې سره چې بېشكه د دوى لپاره د الله له جانبه

فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَ

ډېر لوى فضل دى(47) او ته د كافرانو او

الْمُنَافِقِينَ وَدَعْ أَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى

منافقانو خبره مه منه او د دوى ضرر پرېږده او په

اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾ يَا أَيُّهَا

الله توكل وكړه او الله بنه كافي دى كارساز(48) اى هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ

كسانو چې ايمان يې راوړى دى! كله چې تاسو له مومنو ښځو سره نكاح وكړئ،

ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ

بيا دوى طلاقې كړئ، مخكې له دې چې تاسو

تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ

هغو ته لاس وروړئ، نو تاسو لپاره په دوى باندې هيڅ عدت نشته،

تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَ سَرِّحُوْهُنَّ

چې تاسو به هغه شمېرئ، نوتاسو دوى ته څه فايده وركړئ او دوى خوشې كړئ،

سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿٤٩﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ

ډېر ښه خوشې كول(49) اى نبي! بېشكه

اَحْلَلْنَا لَكَ اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْٓ اٰتَيْتَ

مونږ تا لپاره ستا هغه ښځې حلالې كړې دي چې
تا (هغو ته)

اُجُوْرَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّآ

خپل مهرونه وركړي دي او هغه ښځې (هم) چې
ته يې مالك شوى يې له هغو (وينځو) نه

اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ

چې الله تا ته (له كفارو نه) راګرځولي دي او
(مونږ حلالې كړې دي) ستا د تره لوڼه او ستا د

عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ

عمو (پلرنۍ تروريانو) لوڼه او ستا د ماما لوڼه او
ستا د خاله ګانو (مورنۍ ترورريانو) لوڼه،

الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ ۫ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً

هغه چې له تا سره يې هجرت كړى دى، او (هغه)
مومنه ښځه (هم)،

إِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ

که چېرې هغه خپل ځان نبي ته وبخښي، که نبي اراده وکړي

النَّبِيُّ أَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ۚ خَالِصَةً لَّكَ

چې دغه په نکاح واخلي، په داسې حال کې چې (دغه ښځه)

مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ قَدْ عَلِمْنَا مَا

له مومنانو نه غير يوائې تا ته خاص (جايزه) ده،

فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْٓ أَزْوَاجِهِمْ وَمَا

يقينًا مونږ ته هغه (حکم) معلوم دى
چې مونږ په دوى باندې د خپلو ښځو او

مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ

خپلو وينځو په باره کې فرض کړى دى،

حَرَجٌ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

د دې لپاره چې په تا هېڅ حرج (او سختي) نه وي
او الله له ازله ډېر بخښونکی،

رَّحِيْمًا ۝٥٠ تُرْجِیْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَ

بې حده مهربان دی(50) ته چې په دغو (ښځو)
کې کومه غواړې

تُــٔوِیْۤ اِلَيْكَ مَنْ تَشَآءُ ؕ وَمَنِ

ببرته (وروسته) کوې يې اوکومه چې غواړې ځان
ته يې رانژدې کوې او هغه

ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ

چې ته يې بيا غواړې له هغو نه چې تالرې کړې
وې، نوپه تا هېڅ ګناه نشته

عَلَيْكَ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰۤى اَنْ تَقَرَّ اَعْيُنُهُنَّ وَ

دغه (حکم) ډېر نژدې دی چې د دوی سترګې به
يخې شي او

لَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ

نه به غمجنې کېږي او دوی تېولې به په هغه راضي کېږي چې ته يې دوی

كُلُّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِىْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَ

ته ورکوې او الله په هغو خبرو پوهېږي چې ستاسو په زړونو کې دي۔ او

كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَلِيْمًا ﴿٥١﴾ لَا يَحِلُّ لَكَ

الله دی ښه عالم، ښه تحمل والا(51) د دغو (نهو ښځو) نه

النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ وَلَآ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ

پس تا ته (نورې) ښځې حلالې نه دي او نه دا (حلال دي) چې ته د دوی په بدل کې نورې

مِنْ اَزْوَاجٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ

ښځې واخلې (راولې) اگر که د هغوی حسن تا په تعجب کې اچوي،

اِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِيۡنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى

مگر (خو روا دي درته) هغه وينځې چې ته يې مالك شې. او الله دى په

ع 3

كُلِّ شَىۡءٍ رَّقِيۡبًا ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

هر شي باندې ښه نگران(52) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى!

لَا تَدۡخُلُوۡا بُيُوۡتَ النَّبِىِّ اِلَّاۤ اَنۡ يُّؤۡذَنَ

تاسو د نبي كورونو ته مه ننوځئ مگر دا چې تاسو

لَكُمۡ اِلٰى طَعَامٍ غَيۡرَ نٰظِرِيۡنَ اِنٰٮهُ ۙ وَ

ته طعام (خوړولو) ته اجازت دركړى شي، په داسې حال كې چې د هغه (طعام) پخلي ته انتظار

لٰكِنۡ اِذَا دُعِيۡتُمۡ فَادۡخُلُوۡا فَاِذَا

كوونكي نه يئ او ليكن كله چې تاسو وبلل شئ، نو ننوځئ،

طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ

بيا چې کله طعام وخورئ، نو خوراه شئ۔ او نه دا چې په خبرو سره زړه

لِحَدِيْثٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى

خوشالوونکي يئ: بېشکه دغه (کار) داسې دى چې نبي ته تکليف رسوي،

النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيٖ مِنْكُمْ ؗ وَاللّٰهُ لَا

نوهغه له تاسو نه حيا کوي او الله د حقې خبرې (له ويلو) نه حيا نه کوي۔

يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ ؕ وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ

او کله چې تاسو له دغو (پاکو بيبيانو) نه څه سامان غواړئ،

مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ؕ

نو له دوى نه يې په داسې حال کې غواړئ، چې تاسو له پردې نه د باندې يئ۔،

ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَ قُلُوْبِهِنَّ ؕ وَ

دا (كار) ډېر پاك ساتونكى دى ستاسو زړونو لره او

مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ

د هغوى زړونو لره. او تاسو ته روا نه دي چې تاسو د الله رسول ته تكليف ورسوئ او

لَاۤ اَنْ تَنْكِحُوْۤا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖۤ

نه دا چې تاسو د هغه له ښځو سره له هغه نه پس نكاح وكړئ،

اَبَدًا ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ

هيڅكله. بېشكه دغه (كار) د الله په نيز ډېر

عَظِيْمًا ﴿٥٣﴾ اِنْ تُبْدُوْا شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ

لوى (جرم) دى(53) كه چېرې تاسو كوم شى څرګند كړئ، يا هغه پټ كړئ،

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۵۴﴾ لَا

نو بېشکه الله په هر شي باندې ښه عالم دی(54)
په دغو

جُنَاحَ عَلَیْهِنَّ فِیْۤ اٰبَآىِٕهِنَّ وَ لَاۤ

(ښځو) هېڅ ګناه نشته په (مخامخ کېدو او راتلو
د) خپلو پلرونو کې او نه په

اَبْنَآىِٕهِنَّ وَ لَاۤ اِخْوَانِهِنَّ وَ لَاۤ اَبْنَآءِ

خپلو زامنو کې او نه په خپلو وروڼو کې او نه په
خپلو

اِخْوَانِهِنَّ وَ لَاۤ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ وَ لَا

وریرونو کې او نه په خپلو خورینو کې او نه په

نِسَآىِٕهِنَّ وَ لَا مَا مَلَكَتْ اَیْمَانُهُنَّ ۚ وَ

خپلو ښځو کې او نه (ګناه شته) په (مخامخ کېدو
او راتلو د) هغو (وینځو مریانو) کې چې د دغو

اتَّقِيْنَ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ

(ښځو) ښې لاسونه يې مالکان شوي دي۔ او (اې
ښځو!) تاسو له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله په

شَیْءٍ شَهِیْدًا ﴿۵۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِكَتَهٗ

هر شي باندې ښه گواه دی(55) بېشکه الله او د
هغه ملايک

یُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِیِّ ؕ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ

په نبي درود وايي۔، اې هغو کسانو چې

اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا

ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې
درود وايئ او سلام وايئ،

تَسْلِیْمًا ﴿۵۶﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ یُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَ

سلام ويل(56) بېشکه هغه کسان چې الله او د
هغه رسول ته ايذا (او تکليف) رسوي،

رَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَ

الله په دوی لعنت کړی دی په دنیا او

الْاٰخِرَةِ وَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا

اخرت (دواړو) کې او د دوی لپاره یې سپکوونکی عذاب

مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾ وَ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

تیار کړی دی(57) او هغه کسان چې مومنو سړیو

وَ الْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ

او مومنو ښځو ته په ناکړي کار (او ناکرده گناه) تکلیف رسوي، نویقینًا

ع 4

احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾ يٰٓاَيُّهَا

دوی په خپل ځان غټ دروغ او ښکاره گناه باروي(58) ای نبي!

النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَ بَنٰتِكَ وَ نِسَآءِ

ته خپلو ښځو او خپلو لوڼو او د مومنانو ښځو ته

الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ

ووايه چې په خپلو ځانونو دې له خپلو

جَلَابِيْبِهِنَّ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰۤى اَنْ يُّعْرَفْنَ

څادرو څنې راخواره (او راځوړند) کاندي، دغه
(د بدن پټول) ډېر نژدې دي دې ته چې دوی به

فَلَا يُؤْذَيْنَ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

وپېژندل شي (چې پرده دارې دي) نو دوی ته به
تکلیف نه رسولی شي او الله دی ډېر بخښونکی،

رَّحِيْمًا ﴿۵۹﴾ لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَ

بې حده رحم کوونکی(59) قسم دی که دغه
منافقان او هغه کسان چې د هغوی

الَّذِيۡنَ فِيۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ وَّ

په زړونو کې (د بدکارۍ) مرض دی او

الۡمُرۡجِفُوۡنَ فِي الۡمَدِيۡنَةِ لَنُغۡرِيَنَّكَ

په مدينه کې بدې (تشويشناکې) اوازې ګډوونکي،
منع نشي (نو) مونږ به خامخا ضرور تا په دوی

بِهِمۡ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوۡنَكَ فِيۡهَاۤ اِلَّا

مسلط کړو، بيا به دوی په دې کې له تا سره هَم
جواره (په ګاونډ کې) پاتې نشي مګر

قَلِيۡلًا ۖۛ ﴿٦٠﴾ مَّلۡعُوۡنِيۡنَ ۛۚ اَيۡنَمَا ثُقِفُوۡۤا

ډېر لږ (وخت)(60) په داسې حال کې چې رټلي
ترټلي شوي به وي، هر چېرې چې ومونډل شي

الربع

اُخِذُوۡا وَ قُتِّلُوۡا تَقۡتِيۡلًا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ فِي

(نو) وبه نيول شي او وبه وژلی شي ډېر بد وژل
کېدل(61) دغه لاره د الله (اېښودل شوې) ده د

الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ

هغو (منافقو) کسانو په باره کې چې له دوی نه
مخکې تېر شوي دي او ته به د الله

لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٦٢﴾ يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ

لارې لره هېڅ تبديلي ونه مومې(62) (ای نبي)
خلق له

عَنِ السَّاعَةِ ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ

تا نه د قيامت په باره کې تپوس کوي، ته (دوی ته)
ووايه چې بېشکه د هغه (قيامت) علم

اللّٰهِ ؕ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ

يواځې الله سره دی، او ته څه شي پوه کړې يې؟
کېدی شي چې قيامت

تَكُوْنُ قَرِيْبًا ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ

ډېر نژدې وي(63) بېشکه الله په کافرانو لعنت

الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ لَهُمْ

کړی دی او د دوی لپاره يې سخت لمبې وهونکی

سَعِيْرًا ﴿٦٤﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا لَا

اور تيار کړی دی(64) په داسې حال کې چې په
ده کې به همېشه وي، تل ترتله، دوی به نه کوم

يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ

دوست (کارسازی) مومي او نه مددګار(65) په
هغې ورځ

تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ

کې چې د دوی مخونه به په اور کې اړولی
راړولی شي۔، دوی به وايي:

يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا

ای کاشکي مونږ! د الله اطاعت کړی وی او د

الرَّسُوۡلَا ۞ وَقَالُوۡا رَبَّنَاۤ اِنَّاۤ اَطَعۡنَا

رسول اطاعت مو کړی وی(66) او دوی به وايي: ای زمونږه ربه! بېشکه مونږ د

سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوۡنَا

خپلو مشرانو او د خپلو غټانو اطاعت کړی و، نو دوی زمونږ نه

السَّبِيۡلَا ۞ رَبَّنَاۤ اٰتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ

حقه لار ورکه کړه(67) ای زمونږ ربه! ته دوی ته له

الۡعَذَابِ وَالۡعَنۡهُمۡ لَعۡنًا

عذابه دوه چنده ورکړه او ته په دوی لعنت وکړه، ډېر

ع 5

كَبِيۡرًا ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا

لوی لعنت کول(68) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی!

تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ

تاسو د هغو کسانو په شان مه کېږئ چې موسٰی ته يې تکليف رسولی و، نو الله هغه (موسٰی) پاك

اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا ؕ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ

(او بري) کړ د هغه (الزام او دروغو) نه چې دوی ويل او هغه د الله په

وَجِيْهًا ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا

نېز ډېر مخور و(69) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو له الله نه

اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۞ يُّصْلِحْ

ووېرېږئ او خبره کوئ ډېره سمه (درسته) خبره( 70) هغه به تاسو ته

لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ

ستاسو عملونه درست (او صالح) کړي او تاسو ته به ستاسو گناهونه وبخښي۔

ذُنُوۡبَكُمۡ ؕ وَمَنۡ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ

او هر څوك چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وكړي،

فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيۡمًا ﴿۷۱﴾ اِنَّا عَرَضۡنَا

نو يقينًا دغه كامياب شو، ډېر لوى كامیابېدل(71) بېشكه مونږ

الۡاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَ

اسمانونو او ځمكې او غرونو ته امانت وړاندې كړ،

الۡجِبَالِ فَاَبَيۡنَ اَنۡ يَّحۡمِلۡنَهَا وَ

نو دوى د ده له پورته كولو نه انكار وكړ او

اَشۡفَقۡنَ مِنۡهَا وَحَمَلَهَا الۡاِنۡسَانُ ؕ

له ده ووېرېدل او انسان دغه (امانت) پورته كړ،

اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا جَهُوْلًا ﴿۷۲﴾ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ

بېشکه دغه (انسان) دی، ډېر ظالم، ډېر نادان(72)
(دغه وړاندې کول وو) د دې لپاره چې الله

الْمُنٰفِقِيْنَ وَ الْمُنٰفِقٰتِ وَ

منافقانو سړيو او منافقو ښځو او

الْمُشْرِكِيْنَ وَ الْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ

مشرکانو سړيو او مشرکو ښځو ته عذاب ورکړي۔
او

اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَ

چې الله په مومنانو سړيو اومومنو ښځو باندې په
رحمت سره رجوع وکړي او

كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۷۳﴾

ع 6

الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی(
73)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَ

ټول د کمال صفتونه يواځې هغه الله لره دي چې خاص د هغه لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو

مَا فِى الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِى

کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي۔ او خاص همده ته دي ټولې ستاينې

الْاٰخِرَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

په اخرت کې۔ او همدغه (الله) ښه حکمت والا،

الْخَبِيْرُ ۝ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى الْاَرْضِ وَ

ښه خبردار دی(1) هغه پوهېږي په هر هغه څه چې په ځمکه کې ننوځي او

مَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ

په هر هغه څه چې له دې نه راوځي او په په هر
هغه څه چې له

السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ؕ وَهُوَ

اسمان نه راکوزېږي او په هر هغه څه چې په ده
کې پورته خېژي۔ او همدغه (الله) بې حده

الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ۝٢ وَقَالَ الَّذِيْنَ

مهربان، ډېر بخښونکی دی(2) او کافران شویو
کسانو وویل

كَفَرُوْا لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ؕ قُلْ بَلٰى وَ

چې مونږ ته به قیامت رانشي۔ ته (دوی ته) ووایه:
ولې نه!

رَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ لَا

زما دې په خپل رب قسم وي چې خامخا لازمًا به
هغه (قیامت) تاسو ته راشي۔ (هغه رب)

يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ

چې د غیبو عالم دی۔ له هغه نه نه پټېږي په اندازه د یوې ذرې په اسمانونو کې

وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَآ أَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ

او نه په ځمکه کې او نه د دغې (ذرې) نه وړوکی (شی)

وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتٰبٍ

او نه (ترې) غټ۔ مگر (دغه هر څه) په

مُّبِينٍ ۝٣ لِّيَجْزِيَ الَّذِينَ اٰمَنُوْا وَ

ښکاره کتاب کې دي(3) د دې لپاره چې هغه (الله) بدله ورکړي هغو کسانو ته چې ایمان یې

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۭ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ

راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، دغه کسان (چې دي)

مَّغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ كَرِيمٌ ④ وَالَّذِينَ

د دوی لپاره مغفرت او ډېر د عزت رزق دی(4)
او هغه کسان

سَعَوْ فِيٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ

چې زمونږ په ایتونو کې (د باطلولو) کوشش کوي،
په دې حال کې چې (په خپل گمان الله لره) عاجزه

عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ⑤ وَيَرَى

کوونکي وي۔، دغه کسان (چې دي) د دوی لپاره
له بد عذاب نه ډېره دردونکې سزا ده(5) او هغه

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيٓ اُنْزِلَ

کسان چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی،
(دوی) هغه (قرآن)

اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ وَيَهْدِيٓ

چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی،
همدغه حق ويني او دغه (قرآن) د ډېر غالب، بنه

اِلٰی صِرَاطِ الۡعَزِیۡزِ الۡحَمِیۡدِ ﴿۶﴾ وَ قَالَ

ستايل شوي (الله) لارې ته ښودنه کوي(6) او

الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا هَلۡ نَدُلُّکُمۡ عَلٰی رَجُلٍ

کافران شويو کسانو وويل: ايا مونږ تاسو ته داسې
سړی وښيو

یُّنَبِّئُکُمۡ اِذَا مُزِّقۡتُمۡ کُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ

چې تاسو ته خبر درکوي چې کله تاسو ذرې ذرې
کړی شئ، پوره ذره کېدل، (نو) بېشکه تاسو به

اِنَّکُمۡ لَفِیۡ خَلۡقٍ جَدِیۡدٍ ﴿۷﴾ اَفۡتَرٰی

خامخا په نوي تخليق کې يئ (له نوي سره به پيدا
کولی شئ)(7) ايا ده له ځانه

عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا اَمۡ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ بَلِ

په الله دروغ تړلي دي، يا په ده پورې لېونتوب
دی۔ (داسې نه ده ای مشرکانو!)

الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِي

بلکې هغه کسان چې په اخرت ایمان نه لري په

الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ ۝٨ اَفَلَمْ

عذاب او ډېرې لرې ګمراهۍ کې دي(8) ایا دوی نه

يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا

دې کتلي هغه ته چې د دوی په مخ کې دي او هغه ته

خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنْ

چې له دوی نه وروسته دي۔ له اسمانه او ځمکې نه۔، که

نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ

چېرې مونږ وغواړو (نو) دوی به په ځمکه کې ورډوب کړو، یا به په

عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ ۚ إِنَّ فِي

دوی له اسمانه ټوټې راوغورځوو. بېشکه په دغو

ع
7

ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ

(کارونو) کې خامخا لویه نښه ده د هر رجوع کوونکي بنده لپاره(9) او یقینًا یقینًا

آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا فَضْلًا ۖ يَا جِبَالُ أَوِّبِي

مونږ داود ته له خپله جانبه لوی فضیلت ورکړی و، ای غرونو!

مَعَهُ وَالطَّيْرَ ۖ وَأَلَنَّا لَهُ

او مرغانو له ده سره تسبیح راوګرځوئ. او مونږ د ده لپاره

الْحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ

اوسپنه پسته کړې وه(10) چې ته پوره ارتې زغرې جوړوه او د (کړیو)

فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا

په اوبدلو (بوڼلو) کې اندازه کوه ـ او تاسو نېك عمل کوئ، بېشکه زه هغه کارونو لره چې تاسو يې

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١﴾ وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ

کوئ؛ ښه ليدونکی يم(11) او د سليمان لپاره مو هوا (مسخر کړې وه) چې د هغې

غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۖ وَ

د ورځې د اولې حصې مزل يوه مياشت (لاره) وه او د هغې د ورځې د اخري حصې مزل (هم) يوه

أَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ ۖ وَمِنَ الْجِنِّ

مياشت (لاره) وه او د ده لپاره مونږ د ويلې کړی شوې تانبې چينه وبهوله او (مسخر کړي مو وو)

مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِ ۖ وَ

له پېرانو نه هغه څوك چې د ده په مخ کې به يې د ده د رب په حکم سره کار کاوه ـ (ورته ويل شوي

مَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ

وو چې) په دوی کې چې هر چا زمونږ له حکم نه سرکشي وکړه (، نو) مونږ به په هغه د لمبې وهونکي

عَذَابِ السَّعِيْرِ ﴿۱۲﴾ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا

اور د عذاب نه وڅکوو(12) دوی (پېريانو) به د ده لپاره هغه څه جوړول

يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَ تَمَاثِيْلَ وَ

چې ده به غوښتل، يعنې اوچتې قلاګانې، او تمثالونه او

جِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَ قُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ

لګنونه، لکه تالابونه او په نغريو کلک پراته

اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا ؕ وَ قَلِيْلٌ مِّنْ

دېګونه۔ اې آل داوده! تاسو (نېك) عمل کوئ د شکر لپاره۔ او زما په بنده ګانو کې

عِبَادِيَ الشَّكُورُ ﴿١٣﴾ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ

شکر کوونکي ډېر لږ دي(13) نو کله چې مونږ په ده

الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ

د مرګ حکم وکړ، نو دوی (پېریان هیچا) خبر نه کړل مګر د

الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ ۖ فَلَمَّا خَرَّ

ځمکې چینجو چې د ده امسا یې خوړله، نو کله چې

تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ

هغه (سلیمان په ځمکه) ولوېده (نو) پېریانو ته معلومه شوه چې بېشکه که دوی

الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ

په غیبو پوهېدلی (نو) په دغه سپکوونکي عذاب کې به

الْمُهِيْنِ ۗ﴿۱۴﴾ لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ

نه و پاتې شوي(14) يقينًا يقينًا د سبا (خلقو) لپاره

مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّ

په خپلې استوګنې کې يوه لويه نښه وه (هغه دا چې د دوی) ښي او چپ اړخ ته

شِمَالٍ ۗ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَ

دوه باغونه دي۔، تاسو د خپل رب له رزقه خورئ او

اشْكُرُوْا لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَّ رَبٌّ

د هغه شکر وباسئ ۔ (دا ښار) پاکيزه ښار دی او (ستاسو) رب دی

غَفُوْرٌ ﴿۱۵﴾ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ

ډېر بخښونکی(15) بيا دوی مخ واړولو (د نبيانو له دعوت نه) نو مونږ

سَيۡلَ الۡعَرِمِ وَ بَدَّلۡنٰهُمۡ بِجَنَّتَيۡهِمۡ

په دوی د بند زورور سېلاب راخلاص کړ او د دوی د

جَنَّتَيۡنِ ذَوَاتَیۡ اُكُلٍ خَمۡطٍ وَّ اَثۡلٍ وَّ

دوه باغونو په ځای مو دوی ته دوه داسې باغونه په بدل کې ورکړل چې دواړه خاوندان د بې خونده

شَیۡءٍ مِّنۡ سِدۡرٍ قَلِيۡلٍ ﴿۱۶﴾ ذٰلِكَ

مېوو او غزانو او څه لږ شی د بېرو وو(16) دغه،

جَزَيۡنٰهُمۡ بِمَا كَفَرُوۡا ؕ وَ هَلۡ نُجٰزِیۡۤ

مونږ دوی ته سزا ورکړه، په سبب د دوی د کفر کولو۔ او مونږ جزا نه ورکوو

اِلَّا الۡكَفُوۡرَ ﴿۱۷﴾ وَ جَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَ بَيۡنَ

مگر سخت ناشکري ته(17) او مونږه د دوی په مینځ کې او د

الْقُرَى الَّتِىْ بٰرَكْنَا فِيْهَا قُرًى ظَاهِرَةً

هغو کليو په مينځ کې چې مونږ په هغو کې برکت اچولی و۔ ښکاره (لارې ته نژدې) کلي جوړ کړل

وَّ قَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ ؕ سِيْرُوْا فِيْهَا

او د دغو (کليو) په مينځ کې مونږ تګ راتګ په اندازه کړی و۔، تاسو ګرځئ په دغو (کليو) کې،

لَيَالِيَ وَ اَيَّامًا اٰمِنِيْنَ ﴿۱۸﴾ فَقَالُوْا رَبَّنَا

په شپو او ورځو، په داسې حال کې چې په امان به يئ(18) نو دوی وويل: ای زمونږ ربه!

بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا وَ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

ته زمونږ د منزلونو په مينځ کې لرې والی پيدا کړه۔ او دوی په خپلو ځانونو ظلم وکړ،

فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَ مَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ

نو مونږه دوی قصې (افسانې) وګرځول او مونږ دوی

مُمَزَّقٍ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ

تار په تار كړل، پوره تار په تار كول، بېشكه په دغو كې خامخا نښې دي دهر ډېر صبر كوونكي، ډېر

شَكُوْرٍ ⑲ وَ لَقَدْ صَدَّقَ عَلَیْهِمْ

شكر كوونكي لپاره(19) او يقينًا يقينًا

اِبْلِیْسُ ظَنَّهٗ فَاتَّبَعُوْهُ اِلَّا فَرِیْقًا مِّنَ

ابليس د دوى په باره كې خپل خيال رښتيا ومونده، نو دوى ټولو د هغه پيروي وكړه، مګر يوې

الْمُؤْمِنِیْنَ ⑳ وَ مَا كَانَ لَهٗ عَلَیْهِمْ مِّنْ

ډلې، چې هغه مومنان دي(20) او د دغه (شيطان) لپاره په دغو

سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ یُّؤْمِنُ

(اهل سباوو) باندې هېڅ تسلط (او غلبه) نه وه مګر د دې لپاره چې مونږ معلوم (او بېل) كړو

بِالْاٰخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ؕ وَ

هغه څوك چې په اخرت ايمان لري له هغه چا نه
چې هغه د دغه (اخرت) په باره کې په شك کې

ع
8

رَبُّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ﴿٢١﴾ قُلِ

دی او ستا رب د هر شي ښه نګران دی(21) ته
(دې مشركانو ته) ووايه:

ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ

تاسو هغه (معبودان) وبولئ چې تاسو (هغه) له
الله نه غير (معبودان) ګڼلي دي، دوی د يوې ذرې

لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَ

اندازه اختيار (او مِلك) نه لري په اسمانونو کې او

لَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ

نه په ځمکه کې او د دوی لپاره په دغو دواړو کې
هيڅ برخه (شركت) نشته،

شِرْكٍ وَّ مَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ ﴿٢٢﴾ وَ

او نشته دغه (الله) ته له دوی نه هيڅ مددگار( 22) او

لَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا لِمَنْ

د هغه (الله) په نيز شفاعت نفع نه رسوي مگر د هغه چا لپاره

اَذِنَ لَهٗ ؕ حَتّٰٓى اِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ

چې هغه (الله) د هغه لپاره اجازت ورکړي۔ تر هغه پورې چې کله د دوی د زړونو نه وېره

قَالُوْا مَا ذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوا

(هيبت) لرې کړی شي (نو) دوی وايي: ستاسو رب څه وفرمايل؟ هغوی به ووايي چې حق (يې

الْحَقَّ ۚ وَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٢٣﴾ قُلْ مَنْ

وفرمايه) او هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی(23) (ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه

يَرۡزُقُكُمۡ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ

چې تاسو ته له اسمانونو اوځمکې نه څوک رزق درکوي؟

قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّاۤ اَوۡ اِيَّاكُمۡ لَعَلٰى هُدًى

ته ووايه چې ”الله“ او بېشکه مونږ، يا تاسو خامخا په هدايت باندې يو،

اَوۡ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۲۴﴾ قُلۡ لَّا تُسۡـَٔلُوۡنَ

يا په ښکاره ګمراهۍ کې يو(24) ته (دوی ته) ووايه: له تاسو نه

عَمَّاۤ اَجۡرَمۡنَا وَلَا نُسۡـَٔلُ عَمَّا

د هغو جرمونو په باره کې تپوس نه کېږي چې مونږ کړي دي او زمونږ نه پوښتنه نه کېږي د هغو

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۵﴾ قُلۡ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ

عملونو په باره کې چې تاسو يې کوئ(25) ته ووايه: زمونږ رب به زمونږ په مينځ کې جمع

يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ۗ وَهُوَ الْفَتَّاحُ

وكړي، بيا به زمونږ په مينځ کې په حقه سره فيصله وکړي او هم دی ښه فيصله کوونکی،

الْعَلِيمُ ﴿٢٦﴾ قُلْ أَرُونِيَ الَّذِينَ

ښه عالم دی(26) ته (دوی ته) ووایه: تاسو ما ته هغه (معبودان) راوښیئ چې

أَلْحَقْتُم بِهِ شُرَكَاءَ ۖ كَلَّا ۚ بَلْ هُوَ اللَّهُ

تاسو له هغه (الله) سره پیوست کړي دي، چې شریکان دي۔ (کله هم داسې نشي کېدی) بلکې

الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا

همدغه الله ښه غالب، ښه حکمت والا دی(27) او ته نه يې لیږلی مونږ مگر

كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ

د ټولو خلقو (انسانانو) لپاره زېرې ورکوونکی او وېروونکی او لیکن

أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝٢٨ وَ

اکثره خلق نه پوهېږي(28) او

يَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ

دوی وايي: دغه وعده به کله وي که تاسو

صَادِقِينَ ۝٢٩ قُلْ لَكُمْ مِيعَادُ يَوْمٍ لَا

رښتيني يئ؟(29) ته (دوی ته) ووایه: تاسو لپاره د داسې ورځې وعده ده

تَسْتَأْخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا

چې تاسو به له هغې نه نه يوه گړۍ وروسته کېږي او نه

تَسْتَقْدِمُونَ ۝٣٠ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا

به تاسو ړومبی کېږئ(30) او کافران شويو کسانو وويل:

ع 9

النصف

لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا بِالَّذِىْ

مونږ به له سره په دې قرآن ایمان رانه وړو او نه په هغو

بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ

کتابونو چې له ده نه مخکې دي۔ او که ته ووینې کله چې ظالمان

مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚۖ يَرْجِعُ

د خپل رب په وړاندې ودرول شوي وي، په داسې حال کې چې د دوی

بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضِ ِۨالْقَوْلَ ۚ يَقُوْلُ

ځینې به ځینو نورو ته خبره اړوي (داسې) چې (په دنیا کې)

الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ

بنه ضعیف کړی شوي کسان به هغو کسانو ته ووایي چې تکبر به یې کاوه: که تاسو (مونږ لره د

اسْتَكْبَرُوْا لَوْ لَآ اَنْتُمْ لَكُنَّا

ایمان نه منع کوونکي) نه وی (، نو) یقیناً مونږ به

مُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا

مومنان وو(31) هغه کسان به ووایي چې تکبر یې
کړی و،

لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْٓا اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ

هغو کسانو ته چې ښه کمزور کړی شوي وو-: ایا
مونږه

عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ بَلْ

تاسو د هدایت نه بند کړي وئ، وروسته له دې
چې کله هغه تاسو ته راغی! (داسې نه ده) بلکې

كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

تاسو (پخپله) مجرمان وئ(32) او کمزور کړی
شوي کسان به هغو کسانو ته ووایي

اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ

چې تکبر به يې کاوه: (داسې نه وه) بلکې (دا ستاسو) د شپې او

مَكْرُ الَّيْلِ وَ النَّهَارِ اِذْ تَاْمُرُوْنَنَاۤ اَنْ

ورځې مکر (او فريب) و، کله چې به تاسو مونږ ته حکم کاوه چې

نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَ نَجْعَلَ لَهٗۤ اَنْدَادًا ؕ وَ

مونږ په الله سره کافران شو او د هغه لپاره مونږ شريکان پيدا کړو او

اَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ؕ وَ

دوی (ټول) به پښېماني پټه کړي۔ کله چې دوی عذاب ووينې او

جَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْۤ اَعْنَاقِ الَّذِيْنَ

مونږ به ځنځيرونه د کافرانو شويو کسانو په غاړو (څټونو) کې واچوو، ۔

كَفَرُوْا ؕ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا

دوی ته بدله نه ورکول کېږي مگر د هغو عملونو

يَعْمَلُوْنَ ۝٣٣ وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ

چې دوی به کول(33) او مونږ نه و لېږلی په کوم ښار کې

نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا بِمَآ

هېڅ یو وېروونکی مگر هغه متکبره مړو (مالدارو) خلقو به ویل: بېشکه مونږ په هغه څه چې تاسو په

اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ۝٣٤ وَقَالُوْا نَحْنُ

هغه سره رالېږل شوي يئ، کافران یو(34) او دوی به ویل: مونږ

اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۙ وَّمَا نَحْنُ

د مال او اولاد په لحاظ ډېر زیات یو او مونږ به په

بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿٣٥﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ

عذاب كولى نشو(35) ته (دوى ته) ووايه: بېشكه زما رب

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلٰكِنَّ

رزق فراخوي چا ته چې وغواړي او تنګوي يې او لېكن د

ع 10

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَمَآ

خلقو اكثريت نه پوهېږي(36) او نه دي ستاسو

اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ

مالونه او نه اولاد هغه شى چې هغه تاسو مونږ ته

تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰٓى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ وَ

رانژدې كړي، ښه رانژدې كول۔ مګر هغه څوك چې ايمان يې راوړ او

عَمِلَ صَالِحًا ۚ فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ جَزَاءُ

نېك عمل يې وكړ، نو دغه كسان دي چې د دوی لپاره دوه چنده بدله ده،

الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ

په سبب د هغو عملونو چې دوی كړي دي او دوی به (د جنت) په بالاخانو

آمِنُونَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِي آيَاتِنَا

كې په امن وي(37) او هغه كسان چې زمونږ په ايتونو كې

مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ فِي الْعَذَابِ

كوشش كوي، چې (په خپل خيال مونږ ه لره) عاجزه كوونكي وي.، دغه كسان په عذاب كې

مُحْضَرُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ

حاضر كړی شوي دي(38) ته (دوی ته) ووايه: بېشكه زما رب

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ

رزق فراخوي چا ته چې وغواړي په خپلو بنده گانو کې او د هغه

لَهٗ ؕ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ فَهُوَ

لپاره یې تنگوي او تاسو چې څه شی هم لگوئ، نو هغه د دغه (څیز)

يُخْلِفُهٗ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝٣٩ وَيَوْمَ

عوض درکوي۔ او هغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکی دی(39) او (یاد کړئ) هغه ورځ

يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ يَقُوْلُ

چې هغه (الله) به دوی ټول راجمع کړي، بیا به

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا

ملایکو ته ووایي: ایا دغو کسانو به خاص ستاسو

يَعۡبُدُوۡنَ ﴿۴۰﴾ قَالُوۡا سُبۡحٰنَكَ اَنۡتَ

عبادت کاوه؟(40) هغوی (ملایك) به ووايي: تا لره پاکي ده،

وَلِيُّنَا مِنۡ دُوۡنِهِمۡ ۚ بَلۡ كَانُوۡا

ته له دوی نه غير زمونږ مولٰی (او کارساز) يې۔

يَعۡبُدُوۡنَ الۡجِنَّ ۚ اَكۡثَرُهُمۡ بِهِمۡ

بلکې دوی به د پېريانو عبادت کاوه، د دوی اکثره پر هغوی

مُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۴۱﴾ فَالۡيَوۡمَ لَا يَمۡلِكُ

ايمان راوړونکي وو(41) نو نن ورځ ستاسو

بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ نَّفۡعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ وَ

ځينې د ځينو نورو لپاره نه د هيڅ نفعې اختيار لري اونه د ضرر۔ او

نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ

مونږ به هغو کسانو ته چې ظلم (شرك) يې کړی دی، ووايو: تاسو د هغه

النَّارِ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَ

اور عذاب وڅکئ چې تاسو به د هغه تکذيب کاوه (42) او

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا

کله چې دوی ته زمونږ ايتونه تلاوت کولی شي، چې ښه واضح دي (نو) دوی وايي:

هٰذَآ اِلَّا رَجُلٌ يُّرِيْدُ اَنْ يَّصُدَّكُمْ

نه دی دا مگر يو داسې سړی دی چې غواړي چې تاسو د

عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوْا مَا

هغو (معبودانو له عبادت) نه منع کړي چې ستاسو پلرونو به يې عبادت کاوه۔ او دوی وايي:

هٰذَآ اِلَّآ اِفۡكٌ مُّفۡتَرًى ؕ وَ قَالَ الَّذِيۡنَ

دا (قرآن) نه دی مګر خالص دروغ دي چې له ځانه جوړ کړی شوي دي او کافران شوي خلق د

كَفَرُوۡا لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ ۙ اِنۡ هٰذَآ

حق (قرآن) په باره کې وايي کله چې دوی ته راغی:

اِلَّا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۴۳﴾ وَ مَآ اٰتَيۡنٰهُمۡ مِّنۡ

نه دی دا مګر ښکاره جادو(43) حال دا چې مونږ

كُتُبٍ يَّدۡرُسُوۡنَهَا وَ مَآ اَرۡسَلۡنَآ اِلَيۡهِمۡ

دوی ته هېڅ کتابونه نه دي ورکړي چې دوی يې لولي او نه له تا نه مخکې مونږ دوی ته

قَبۡلَكَ مِنۡ نَّذِيۡرٍ ﴿۴۴﴾ؕ وَ كَذَّبَ الَّذِيۡنَ

هېڅ وېروونکی لېږلی دی(44) او هغو کسانو تکذيب کړی و،

مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ

چې له دوی نه مخکې وو، حال دا چې دوی (د مکې کافران) نه دي رسېدلي لسمې برخې ته د

اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ

هغه (قوت او قدرت) چې ما هغوی (مخکینو کافرانو) ته ورکړی و، نو هغوی زمونږ د رسولانو

نَكِيْرِ ۝٤٥ قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ

تکذیب وکړ، بیا نو زما انکار څنګه و(45) ته (دوی ته) وایه: بېشکه زه تاسو ته یوائې دیوې

ع 11

اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ

خبرې وعظ کوم، دا چې تاسو خاص الله ته ودرېږئ، دوه دوه او یو یو،

تَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ

بیا ښه فکر وکړئ چې ستاسو په ملګري کې

اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَىْ

هيڅ لېونتوب نشته۔، نه دی دا مګر تاسو لره
وېرروونکی، د ډېر

عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ

سخت عذاب نه مخکې(46) ته (دوی ته) ووایه:
هغه چې ما له تاسو نه

اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى

څه اجرت غوښتی وي، نو هغه دې تاسو لپاره وي،
زما اجر نشته مګر په

اللّٰهِ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ

الله باندې دی او هغه په هر شي باندې ښه ګواه
(او ښه خبردار) دی(47) ته ووایه:

اِنَّ رَبِّيْ يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ

بېشکه زما رب حق رالېږي۔ (هغه) د پټو خبرو

الْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَ مَا

ښه عالم دی(48) ته ووایه: حق راغی او باطل نه اول ځلې پیدا کول کولی شي او نه

يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَ مَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ اِنْ

دوباره ژوندي کول کولی شي(49) ته (دوی ته) ووایه: که چېرې

ضَلَلْتُ فَاِنَّمَآ اَضِلُّ عَلٰى نَفْسِيْ ۚ وَ اِنِ

زه گمراه شم، نو یقینًا یواځې د خپل ځان په ضرر گمراه کېږم او

اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِيْٓ اِلَيَّ رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ

که ما هدایت وموندہ، نو په سبب د هغه کلام چې زما رب یې ما ته وحي کوي، بېشکه

سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ﴿٥٠﴾ وَ لَوْ تَرٰٓى اِذْ فَزِعُوْا

هغه ښه اورېدونکی، ډېر نژدې دی(50) او که ته وویني کله چې دوی ووېرېږي،

فَلَا فَوْتَ وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ

نو هېڅ خلاصى به نه وي او دوى به له ډېر

قَرِيْبٍ ﴿۵۱﴾ وَّقَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ

نژدې ځايه ونيول شي(51) او دوى به ووايي:
مونږ په دغه (الله) ايمان راوړى دى، او د دوى

التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ﴿۵۲﴾ وَّقَدْ

لپاره به د ډېر لرې ځاى نه نيول له كومه وي!(
52) حال دا چې يقينًا

كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ

دوى په ده سره له دې نه مخكې كافران شوي وو
او دوى به بې له ليدلو

بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾ وَحِيْلَ

ويشتل كول، له ډېر لرې ځايه(53) او پرده به

بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ كَمَا فُعِلَ

واچول شي د دوی په مینځ کې او په مینځ د هغه شي کې چې دوی يې غواړي (او ارمان يې کوي)

بِأَشْيَاعِهِمْ مِّنْ قَبْلُ ۗ إِنَّهُمْ كَانُوْا فِيْ

لکه چې د دوی له ملګرو (هم جنسو) سره (دا کار) کړی شوی و له دوی نه مخکې، بېشکه دوی

ع 12

شَكٍّ مُّرِيْبٍ ۝٥٤

په اضطراب اچوونکي شك کې وو(54)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

ټولې ستاينې خاص د الله لپاره دي چې د
اسمانونو او ځمکې

جَاعِلِ الۡمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِىۡۤ اَجۡنِحَةٍ

پيدا کوونکی دی، ملايکو لره رسولان ګرځوونکی
دی، (داسې ملايك)

مَّثۡنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ؕ يَزِيۡدُ فِى الۡخَلۡقِ

چې د وزرو والا دي، دوه دوه او درې درې او
څلور څلور، هغه په تخليق کې

مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

زياتوي چې څه وغواړي، بېشکه الله په هر شي

قَدِيْرٌ ۝١ مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ

باندې بنه قادر دی(1) هر هغه شی چې الله يې د خلقو لپاره له

رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ ۙ

رحمته پرانيزي، نو د هغه (رحمت) هيڅوک بندوونکی نشته۔ او هر شی چې هغه يې بند کړي،

فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَهُوَ

نو د هغه راخلاصوونکی نشته د هغه (الله) نه بعد۔، همغه بنه غالب،

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٢ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

بنه حکمت والا دی(2) ای خلقو!

اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ؕ هَلْ مِنْ

تاسو د الله هغه نعمتونه ياد کړئ چې په تاسو شوي دي۔، ايا له

خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ

الله نه غير (بل) خالق شته، چې تاسو ته له

السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۖ

اسمان او ځمکې نه رزق درکوي؟ نشته هېڅ حق

معبود مگر هم دی دی، نو کوم

فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۳﴾ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ

اړخ ته تاسو گرځولی کېږئ(3) او كه چېرې دوی

ستا تكذيب وكړي، نو يقينًا

كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ

له تا نه د مخكينو رسولانو هم تكذيب شوی دی،

او خاص الله ته ټول كارونه

تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۴﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ

بېرته گرځولی شي(4) ای خلقو! بېشكه

وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ

د الله وعده حقه ده، نو تاسو دې دنيايي ژوند له

الدُّنْيَا ۚ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ

سره غره (دوکه) نه کړي او تاسو دې ډېر غره (دوکه) کوونکی د الله په باره کې

الْغَرُوْرُ ۝۵ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ

له سره غره نه کړي(5) بېشکه شيطان هم ستاسو دښمن دی،

فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ۭ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ

نو تاسو هغه دښمن وګڼئ، يقيناً همدا خبره ده چې هغه خپله ډله رابلي،

لِيَكُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ

د دې لپاره چې دوی له دوزخيانو

السَّعِيْرِ ۝٦ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ

ځنې شي(6) هغه كسان چې كافران شوي دي، د دوى لپاره

عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۬ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

ډېر سخت عذاب دى او هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ

نېك عملونه يې كړي دي، د دوى لپاره مغفرت او ډېر

ع 13

كَبِيْرٌ ۝٧ اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ

لوى اجر دى(7) ايا نو هغه كس چې هغه ته خپل بد عمل

فَرَاٰهُ حَسَنًا ؕ فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ

ښايسته كړى شي، پس هغه، دغه (بد عمل) ښه وينيـ، (ګڼي) نو بېشكه الله ګمراه كوي

د سورتونو فهرست د سپارو فهرست

يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۖ فَلَا

چا له چې وغواړي او هدايت وركوي چا له چې وغواړي،

تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ؕ اِنَّ

نو ستا نفس دې په (گمراهۍ د) دوی د افسوس له وجې نه نه هلاكېږي۔، بېشكه چې الله ښه عالم

اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝٨ وَاللّٰهُ

دی په هغو كارونو چې دوی يې كوي(8) او الله

الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ فَتُثِيْرُ سَحَابًا

هغه ذات دی چې بادونه رالېږي، پس هغه (بادونه)

فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَاَحْيَيْنَا بِهِ

وريځې راپورته كوي، بيا مونږ هغه (وريځ) مړ ښار ته بوځو،

الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ كَذٰلِكَ

بيا په هغې سره ځمکه راژوندۍ کړو، د هغې له
مرګ نه پس، ـ همداسې به وي بیا

النُّشُوْرُ ۝٩ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ

ژوندي پورته کول(9) هر هغه څوك چې هغه عزت
غواړي، نو خاص الله ته

الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ؕ اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ

دی ټول عزت، همدغه (الله) ته پاکیزه خبرې
پورته خېژي

الطَّيِّبُ وَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ ؕ وَ

او نېك عمل دغه (کلمات) پورته کوي او

الَّذِيْنَ يَمْكُرُوْنَ السَّيِّاٰتِ لَهُمْ

هغه کسان چې ناکاره (بد) مکرونه جوړوي، د
دوی لپاره

عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَ مَكْرُ اُولٰٓئِكَ هُوَ

ډېر سخت عذاب دی او د دغو كسانو مكر، هم هغه

يَبُوْرُ ⑩ وَ اللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ

باطل (او هلاك) دی(10) او الله تاسو له خاورې نه پيدا كړي يئ، بيا بيې

مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ اَزْوَاجًا ؕ وَ مَا

له نطفې نه، بيا يې تاسو جوړې جوړې (ښځه او خاوند) وګرځولئ۔ او نه

تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَ لَا تَضَعُ اِلَّا

حامله كېږي هېڅ يوه ښځه او نه زېږوي (بچي لره) مګر

بِعِلْمِهٖ ؕ وَ مَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّ لَا

د هغه (الله) په علم سره او د هېڅ عمر اوږد كړى شوي عمر نه اوږدول كېږي او نه

يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ

د هغه له عمر نه کمی کولی شي مګر (دا هر څه) په کتاب کې (ثابت) دي، بېشکه دغه (د عمر

ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۱۱﴾ وَمَا يَسْتَوِى

لنډول او اوږدول) الله ته ډېر اسان دي(11) او هغه دواړه

الْبَحْرٰنِ ۖ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ

بحرونه (سیندونه) سره نه برابرېږي- دا یو خوږ دی، ډېر خوږ، (تنده ماتوونکی) دی،

شَرَابُهٗ وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ

د ده اوبه په اسانۍ سره تېرېدونکې دي او دا (بل) تریو (او) سخت تریخ دی، او تاسو له هر یو

تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ

څنې تازه غوښې خورئ اوتاسو هغه زیوارت راوباسئ چې تاسو یې

حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ

اغوندئ او ته په دغه (سمندر) کې کشتۍ وينې،
په داسې حال کې چې (اوبو لره)

مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ

څيرونکې رواني وي، د دې لپاره چې تاسو د هغه
(الله) له فضله ولټوئ او د دې لپاره چې

تَشْكُرُوْنَ ۝١٢ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَ

تاسو شکر وباسئ(12) دغه (الله) شپه په ورځ
کې ننباسي او

يُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۙ وَسَخَّرَ

ورځ په شپه کې ننباسي او هغه په کار اچولي دي

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ

لمر او سپوږمۍ، هر يو تر مقررې نېټې پورې روان
دی،

مُّسَمًّى ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ

دغه الله ستاسو رب دی، خاص د ده لپاره بادشاهي ده۔ او هغه (معبودان)

وَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا

چې تاسو يې له دغه (الله) نه غير بولئ، دوی د کجورې د

يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ؕ﴿۱۳﴾ اِنْ تَدْعُوْهُمْ

زړي د پردې هم مالکان نه دي(13) که تاسو دوی وبولئ، دوی

لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوْا مَا

ستاسو بلنه نه اوري او که چېرې وايې وري، نو دوی

اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ؕ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ

ستاسو بلنه قبلولی نه شي او د قيامت په ورځ به

يَكۡفُرُوۡنَ بِشِرۡكِكُمۡ ؕ وَلَا يُنَبِّئُكَ

دوی ستاسو په شريك جوړولو منكر شي او تا ته (بل څوك) خبر نشي دركولی د

مِثۡلُ خَبِيۡرٍ ﴿۱۴﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اَنۡتُمُ

ښه خبرداره (الله) په شان(14) ای خلقو! هم تاسو

الۡفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ هُوَ الۡغَنِىُّ

الله ته محتاجان يئ، او الله، هم دی ښه بې پروا،

الۡحَمِيۡدُ ﴿۱۵﴾ اِنۡ يَّشَاۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَاۡتِ

ښه ستايل شوی دی(15) كه هغه اراده وكړي (نو) تاسو به ختم كړي او نور

بِخَلۡقٍ جَدِيۡدٍ ﴿۱۶﴾ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

نوی مخلوق به راولي(16) او دغه الله ته هيڅ

ع 14 الثلثة

بِعَزِيۡزٍ ﴿۱۷﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزۡرَ اُخۡرٰی ؕ

گران (او مشکل نه دي(17) او هېڅ پورته کوونکی د بل د گناه بار

وَاِنۡ تَدۡعُ مُثۡقَلَةٌ اِلٰی حِمۡلِهَا لَا

نه پورته کوي او که دروند باری خپل بار ته (بل ثوك) راوبولي (، نو)

يُحۡمَلۡ مِنۡهُ شَیۡءٌ وَّلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبٰی ؕ

له هغه نه به هېڅ شی وانه خستی شي اگر که د خپلوۍ والا هم وي۔،

اِنَّمَا تُنۡذِرُ الَّذِيۡنَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ

بېشکه همدا خبره ده چې ته يوائې هغه کسان وېروې چې له خپل رب نه

بِالۡغَيۡبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَمَنۡ

په غيبو سره خشيت (او وېره) کوي او لمونځ قايموي۔ او هغه

تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ

ثوك چې پاكي حاصلوي، نو همدا خبره ده چې هغه د ځان (د فايدې) لپاره پاكي حاصلوي

الْمَصِيْرُ ۝١٨ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَ

اوخاص الله ته بېرته ورتله دي(18) او ړوند اوليدونكى (بينا) سره

الْبَصِيْرُ ۝١٩ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ۝٢٠ وَ

برابرېدى نشي(19) او نه هم تيارې او رڼا)(20) او

لَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ ۝٢١ وَمَا يَسْتَوِي

نه هم سيورى او گرم باد (يا تېز لمر)(21) او نه هم

الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

ژوندي او مړي۔ بېشكه الله

يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ

اوروي هغه چا ته چې يې وغواړي او ته نشې اوروله هغه

مَّنْ فِي الْقُبُوْرِ ﴿٢٢﴾ اِنْ اَنْتَ اِلَّا

چا ته چې په قبرونو کې دي(22) نه يې ته مګر

نَذِيْرٌ ﴿٢٣﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا

وېروونکی(23) بېشکه مونږ ته په حق (دين) سره لېږلی يې چې زېری ورکوونکی

وَّنَذِيْرًا ۭ وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِيْهَا

او وېروونکی يې او نه و هېڅ يو امت مګر په هغه کې يو

نَذِيْرٌ ﴿٢٤﴾ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَ

وېروونکی تېر شوی دی(24) او که چېرې دوی تا دروغجن وبولي، نو يقينًا (خپل انبياء) دروغجن

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ جَآءَتْهُمْ

بللي وو هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو،
دوی ته د

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالزُّبُرِ وَ

دوی رسولان په ښکاره دليلونو سره، او په صحيفو
سره او په روښانه رڼا کوونکي

بِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ اَخَذْتُ الَّذِيْنَ

کتاب سره راغلي وو(25) بيا ما هغه کسان ونيول

ع 15

كَفَرُوْا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٢٦﴾ اَلَمْ تَرَ

چې کافران شول، نو زما انکار څرنګه و؟(26) ايا
تا نه دي ليدلي

اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ

چې بېشکه الله له بره نه اوبه نازلې کړې دي،

فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا

بيا مونږ په دغو سره داسې مېوې راوېستلې دي چې د

اَلْوَانُهَا ؕ وَ مِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيْضٌ وَّ

هغو رنګونه مختلف دي۔ او په غرونو کې ځينې سپينې او

حُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَ غَرَابِيْبُ

سرې لارې دي، چې د دغو (لارو) رنګونه سره مختلف دي او (ځينې په دوی کې) ډېرې تکې

سُوْدٌ ﴿۲۷﴾ وَ مِنَ النَّاسِ وَ الدَّوَآبِّ وَ

تورې دي(27) او له خلقو او زنده سرو او

الْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ ؕ

څارويو څخه (داسې قسم دی چې) د دغو رنګونه سره مختلف دي هم داسې،

اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ

بېشکه هم دا خبره ده چې له الله نه د هغه په بنده
ګانو کې یواځې عالمان وېرېږي۔،

اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ غَفُوْرٌ ﴿۲۸﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ

بېشکه الله ښه غالب، ډېر بخښونکی دی(28)
بېشکه هغه کسان

یَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ

چې د الله کتاب لولي او لمونځ قایموي او

اَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّ عَلَانِیَةً

انفاق کوي له هغه (مال) نه چې دوی ته مونږ
ورکړی دی، په پټه او په ښکاره۔، دوی د داسې

یَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ﴿۲۹﴾ لِیُوَفِّیَهُمْ

تجارت امېد لري چې له سره به هلاك نشي(29) د
دې لپاره چې (الله) دوی

اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ

ته د دوی اجرونه پوره ورکړي او دوی ته له خپله فضله زیات ورکړي، بېشکه چې دغه (الله) ډېر

غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿٣٠﴾ وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

بخښونکی، ښه قدردان دی(30) او هغه څه چې مونږ تا ته له

مِنَ الْكِتٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا

کتابه وحي کړي دي هم دغه حق دي، په داسې حال کې چې تصدیق کوونکی دی د هغو

بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ

(کتابونو) چې له ده نه مخکې وو، بېشکه الله په خپلو بنده ګانو باندې خامخا ښه خبردار،

بَصِيْرٌ ﴿٣١﴾ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ الَّذِيْنَ

ښه لیدونکی دی(31) بیا مونږ د دغه کتاب (قرآن) وارثان کړل هغه کسان

اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ

چې مونږ په خپلو بنده ګانو کې غوره (او انتخاب) کړي وو، بيا په دوی کې ځينې په

لِّنَفْسِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمِنْهُمْ

خپل ځان ظلم کوونکي دي او ځينې په دوی کې مينځ لاري دي او ځينې

سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

په دوی کې نېکيو ته ړومبی کېدونکي دي، د الله په حکم سره، يقينًا همدغه

الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ۝٣٢ جَنّٰتُ عَدْنٍ

ډېر لوی فضل دی(32) د تل استوګنې جنتونه دي،

يَّدْخُلُوْنَهَا يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ

دوی به دغو ته ننوځي، دوی به په دغو (جنتونو) کې د سرو زرو په بنګړو سره

مِنۡ ذَهَبٍ وَّلُؤۡلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمۡ فِيۡهَا

او په ملغلرو سره زیور دار (اراسته) کولی شي او
د دوی جامې به په دغو (جنتونو)

حَرِيۡرٌ ﴿۳۳﴾ وَقَالُوا الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِيۡٓ

کې وربښم وي(33) او دوی به ووایي: ټول د کمال
صفتونه خاص هغه الله لره دي چې

اَذۡهَبَ عَنَّا الۡحَزَنَ ؕ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوۡرٌ

زمونږ نه يې غم (خفگان) ختم کړ، بېشکه زمونږ
رب خامخا ډېر بخښونکی،

شَكُوۡرُ ﴿۳۴﴾ الَّذِيۡٓ اَحَلَّنَا دَارَ الۡمُقَامَةِ

بې حده قدردان دی(34) هغه (الله) چې مونږ ته
يې له خپله فضله د اوسېدنې کور ته راوستو،

مِنۡ فَضۡلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيۡهَا نَصَبٌ وَّلَا

چې مونږ ته په دغو کې نه څه تکلیف رارسېږي او
نه

يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا

مونږ ته په دغو کې ستوماني رارسېږي(35) او
هغه کسان چې کافران شوي دي،

لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ

د دوی لپاره د جهنّم اور دی، په دوی به نه (د بل
مرګ) فیصله کېږي، پس

فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ

چې دوی مړه شي او نه به له دوی نه د دغه
(جهنّم)

عَذَابِهَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي كُلَّ كَفُورٍ ﴿٣٦﴾ وَ

له عذاب نه کمی کولی شي، همداسې مونږ هر
ډېر ناشکره (بې ایمانه) ته بدله ورکوو(36) او

هُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا ۚ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا

دوی به په دغه (دوزخ) کې چغې سورې وهي،
(وايي به:) ای زمونږه ربه! ته مونږ راوباسه،

نَعۡمَلۡ صَالِحًا غَيۡرَ الَّذِىۡ كُنَّا نَعۡمَلُ ؕ

مونږ به نیك عمل وکړو غیر له هغه عمل نه چې
مونږ به کاوه۔،

اَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُمۡ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيۡهِ مَنۡ

او ایا مونږ تاسو ته دومره عمر نه و درکړی چې په
هغه کې پند اخلي هر هغه څوك چې پند اخیستل

تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيۡرُ ؕ فَذُوۡقُوۡا

غواړي، او تاسو ته وېروونکی هم راغلی و۔، نو
تاسو (اوس عذاب) وڅکئ،

ع 16

فَمَا لِلظّٰلِمِيۡنَ مِنۡ نَّصِيۡرٍ ۝٣٧ اِنَّ اللّٰهَ

پس د ظالمانو لپاره هېڅ مدد کوونکی نشته(37)
بېشکه چې الله

عٰلِمُ غَيۡبِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ اِنَّهٗ

د اسمانونو او ځمکې د غیبو عالم دی۔، بېشکه

عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٣٨﴾ هُوَ الَّذِیْ

هغه د سينو په خبرو ښه پوهېدونکی دی(38) دغه (الله) همغه ذات دی

جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ فِی الْاَرْضِ ؕ فَمَنْ

چې تاسو يې په ځمکه کې (د تېرو خلقو) خليفګان جوړ کړئ، نو

كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ؕ وَلَا يَزِيْدُ

هغه څوك چې كافر شو، نو خاص په همده باندې د ده (د) كفر (ضرر) دی۔

الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ اِلَّا

او كافرانو ته د دوی كفر د خپل رب په نيز نه ورزياتوي مګر

مَقْتًا ۚ وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ

غضب، او كافرانو ته د دوی كفر نه وزرياتوي

اِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾ قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ

مگر تاوان(39) (اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه:

شُرَكَآءَكُمُ الَّذِيۡنَ تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ

ايا تاسو خپل شريكان ليدلي دي هغه چې تاسو يې له

اللّٰهِ ؕ اَرُوۡنِيۡ مَاذَا خَلَقُوۡا مِنَ الۡاَرۡضِ

الله نه غير بلئ، تاسو ما ته وښيئ چې دوى له ځمكې

اَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۚ اَمۡ

څخه څه پيدا كړي دي۔، يا د دوى لپاره په اسمانونو كې څه شراكت (او برخه) شته؟

اٰتَيۡنٰهُمۡ كِتٰبًا فَهُمۡ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنۡهُ ۚ

يا مونږ دوى ته څه كتاب وركړى دى، نو دوى له هغه نه په پاخه دليل باندې (ولاړ) دي؟ ۔

بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا

بلكي ظالمان (چې دي) د دوی ځينې د ځينو نورو سره وعده نه کوي

اِلَّا غُرُوْرًا ۝٤٠ اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ

مگر د دوکې(40) بېشکه چې الله

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا ۚ۬ وَ لَئِنْ

اسمانونه او ځمکه ساتي او (نيسي يې) چې زايل نشي او قسم د ی

زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْۢ

كه دواړه په زوال شي (نو) له هغه (الله) نه غير به يې هيڅوك ونه ساتلی شي) (ونه نيولی) شي-،

بَعْدِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ۝٤١ وَ

بېشكه هغه (الله) دی، ښه تحمل والا، ډېر بخښونكی(41) او

اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ

دوی په الله قسمونه وخوړل، خپل پاخه قسمونه، خامخا که دوی ته

جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ لَّيَكُوْنُنَّ اَهْدٰى مِنْ

کوم وېروونکی راغی (نو) دوی په خامخا ضرور په امتونو کې له هر یو نه ډېر هدایت موندونکي

اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ

وي، نوکله چې دوی ته وېروونکی راغی، نو دوی

مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرَا ۟ ۙ (42) اِسْتِكْبَارًا فِى

ته یې زیاته نه کړه مگر تېښته(42) په ځمکه کې د لویي کولو

الْاَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۭ وَلَا يَحِيْقُ

لپاره او د ډېر بد مکر کولو لپاره، او ډېر بد مکر

الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ ؕ فَهَلْ

يواځې په خپل اهل (مکر کوونکي) چاپېره کېږي۔، نو دوی

يَنْظُرُوْنَ اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ فَلَنْ

انتظار نه کوي مګر د ړومبنو خلقو د طريقې، نو ته

تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۚ وَلَنْ تَجِدَ

به د الله طريقې لره له سره هېڅ تبديلي ونه مومې او ته به د

لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَحْوِيْلًا ﴿۴۳﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا

الله طريقې لره له سره څه ګرځول ونه مومې(43) ايا دوی په

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ

ځمکه کې نه دي ګرځېدلي، پس چې ووينې چې د هغو کسانو انجام څنګه و

عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَ كَانُوْٓا

چې له دوی نه مخکې وو، او هغوی له دوی

اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ وَ مَا كَانَ اللّٰهُ

نه په قوت کې زیات سخت و۔ او الله کله هم
داسې نه دی

لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَیْءٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَ لَا

چې هغه لره دې عاجزه کړي هیڅ کوم شی په
اسمانونوکې او

فِی الْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا

په ځمکه کې، بیشکه هغه (الله) له ازله ښه پوه،

قَدِيْرًا ﴿۴۴﴾ وَ لَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا

ښه قادر دی(44) او که چیرې الله خلق نیولي
وی په سبب

كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ

د هغو (بدو عملونو) چې دوی کړي دي، نو د دې (ځمکې) په شا به يې هېڅ زنده سر (خوځنده) نه

وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ

و پرېښې او لېکن دوی تر ټاکل شوې نېټې پورې وروسته کوي،

فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ

نو کله چې د دوی نېټه راشي، نو بېشکه الله خپلو

ع
17

بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ۝٤٥

بنده گانو لره ښه ليدونکی دی(45)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

يٰسٓ ۚ‏ ﴿۱﴾ وَالۡقُرۡاٰنِ الۡحَكِيۡمِۙ ﴿۲﴾ اِنَّكَ

يا، سين(1) قسم دى په قرآن، چې ډېر د حكمت والا دى(2) بېشكه

لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَۙ ﴿۳﴾ عَلٰى صِرَاطٍ

ته، يقينًا له رسولانو څخه يې(3) په نېغه

مُّسۡتَقِيۡمٍؕ ﴿۴﴾ تَنۡزِيۡلَ الۡعَزِيۡزِ

لار يې(4) (دغه قرآن) د ډېر غالب، بې حده

الرَّحِيۡمِۙ ﴿۵﴾ لِتُنۡذِرَ قَوۡمًا مَّاۤ اُنۡذِرَ

مهربان نازلول دي(5) د دې لپاره چې ته هغه قوم وويروې چې د دوى

اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٦ لَقَدْ حَقَّ

پلرونه نه دي وېرول شوي، نو (ځکه) دوی غافلان دي(6) يقينًا يقينًا د دوی

الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا

په زياترو باندې (د عذاب) خبره ثابته شوې ده، نو (په دې وجه) دوی

يُؤْمِنُوْنَ ۝٧ اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ

ايمان نه راوړي(7) بېشکه مونږ د دوی په غاړو (څټونو) کې

اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ

طوقونه اچولي دي، نو دغه (طوقونه) تر زنو پورې دي، نو (په دې سره) دوی جګ

مُّقْمَحُوْنَ ۝٨ وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ

سري کړی شوي دي(8) او مونږ د دوی په مخه کې

اَيۡدِيۡهِمۡ سَدًّا وَّ مِنۡ خَلۡفِهِمۡ سَدًّا

يو دېوال كړى دى او يو دېوال د دوى شا ته.

فَاَغۡشَيۡنٰهُمۡ فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُوۡنَ ۝٩ وَ

پس مونږ دوى پټ كړي دي، لهذا دوى هېڅ ويني (9) او

سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَاَنۡذَرۡتَهُمۡ اَمۡ لَمۡ

دوى ته يو شان ده كه ته دوى ووېروې، يا ته دوى

تُنۡذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝١٠ اِنَّمَا تُنۡذِرُ

ونه وېروې، دوى ايمان نه راوړي(10) بېشكه همدا خبره

مَنِ اتَّبَعَ الذِّكۡرَ وَ خَشِىَ الرَّحۡمٰنَ

ده چې ته يواځې هغه څوك وېروې چې د ذكر (قرآن) پيروي كوي او له رحمٰن نه

بِالْغَيْبِ ۚ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَّاَجْرٍ

په نالیدلو وېرېږي، نو ته دغه کس ته د مغفرت او د ډېر عزت والا اجر

كَرِيْمٍ ⑪ اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَ

زېرى ورکړه(11) بېشکه مونږ، همدا مونږ مړي ژوندي کوو او

نَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ۣ وَكُلَّ

مونږ هغه څه لیکو چې دوی یې مخکې لېږي او د دوی پاتې نښې (هم) او هر

ع 18

شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ⑫ وَ

شی، مونږ هغه په ښکاره اصل (لوح محفوظ) کې درج کړی دی(12) او

وقف لازم

اضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ

ته دوی ته د دغه کلي اوسېدونکي مثال وګرځوه، کله چې

اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ۚ﴿۱۳﴾ اِذْ اَرْسَلْنَآ

دوى ته رسولان راغلل(13) كله چې مونږ دوى
ته دوه پيغمبران ولېږل،

اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا فَعَزَّزْنَا

نو دوى هغو دواړو ته دروغجن وويل، نو مونږ

بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ اِلَيْكُمْ

(دغه) په دريم سره مضبوط كړل، نو دغو
(رسولانو) وويل: بېشكه مونږ تاسو ته

مُّرْسَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ

رسولان (رالېږل شوي) يو(14) دوى وويل، تاسو
نه يئ مگر

مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ مِنْ

زمونږ په شان انسانان۔ او رحمٰن هېڅ شى هم نه
دى نازل كړى،

شَيْءٍ ۙ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ۝١٥ قَالُوْا

نه يئ تاسو مگر دروغ وايئ(15) دغو (رسولانو) وويل:

رَبُّنَا يَعْلَمُ اِنَّآ اِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ ۝١٦ وَ

زمونږ رب پوهېږي، بېشكه مونږ تاسو ته يقينًا (پيغمبران) راستول شوي يو(16) او

مَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝١٧ قَالُوْٓا

زمونږ په ذمه نشته مگر ښكاره پيغام رسونه(17) دغو خلقو وويل:

اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا

بېشكه مونږ په تاسو سره بدفالي نيولې ده، قسم دى كه تاسو منع نشوئ (، نو)

لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ

مونږ به خامخا ضرور تاسو سنگسار كړو او زمونږ له جانبه به تاسو ته خامخا ضرور ډېر دردوونكى

اَلِيْمٌ ۝١٨ قَالُوْا طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ۭ اَئِنْ

عذاب درورسېږي(18) دغو (پېغمبرانو) وويل: ستاسو بدفالي له هم تاسو سره ده،

ذُكِّرْتُمْ ۭ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ

ايا نو كه تاسو ته پند دركړى شي (نو تاسو دغه ته بدفالي وايئ؟) بلكې تاسو له حده

مُّسْرِفُوْنَ ۝١٩ وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا

تېرېدونكى قوم يئ(19) او د ښار تر ټولو لرې

الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى قَالَ يٰقَوْمِ

جانب نه يو سړى راغى، چې منډې يې وهلې، ويې ويل: اى زما قومه!

اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ ۝٢٠ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا

تاسو د رسولانو پيروي وكړئ(20) تاسو د هغه چا پيروي وكړئ چې له تاسو نه څه اجر (او

يَسۡـَٔلُكُمۡ اَجۡرًا وَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿٢١﴾

مزدوري) نه غواړي، په داسې حال کې چې دوی
(پخپله) هدايت موندونکي دي(21)

وَمَا لِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ

او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د
هغه ذات عبادت نه کوم چې زه يې پيدا کړی يم او

تُرۡجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً

خاص هغه ته به تاسو بېرته بېول کېږئ(22) ايا زه
له هغه (الله) نه غير نور داسې معبوان ونيسم چې

إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ عَنِّي

که رحمٰن ما ته د ضرر رسولو اراده وکړي، (نو) له
ما نه به د دوی سفارش هېڅ شی (ضرر) دفع

شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّيٓ

(لرې) نه کړی شي او نه به ما دوی خلاص کړی
شي(23) بېشکه

إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّيٓ ءَامَنتُ

زه به په دغه وخت کې خامخا په ښکاره گمراهی
کې يم(24) بېشکه زه چې يم،

بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُوْنِ ﴿٢٥﴾ قِيْلَ ادْخُلِ

ما ستاسو په رب ايمان راوړی دی، نو تاسو (ټول) زما (دا خبره) واورئ(25) ده ته وويل شو: ته

الْجَنَّةَ ۖ قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ

جنت ته ننوځه! ده وويل: ای کاشکې چې زما قوم

يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِيْ رَبِّيْ وَ جَعَلَنِيْ

پوه شي!(26) په هغه شي چې زما رب ما ته په هغه سره بخښنه وکړه او زه يې له

مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿٢٧﴾ وَ مَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى

عزتمنو څخه کړمه(27) او مونږ له هغه نه وروسته د ده

قَوْمِهٖ مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ جُنْدٍ مِّنَ

په قوم باندې له اسمان نه هيڅ لښکر راکوز

السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِيْنَ ﴿٢٨﴾ اِنْ

نه کړ او نه مونږ نازلوونکي وو(28) هغه (سزا) نه

كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ

وه مگر يوه چغه، نو ناڅاپه دوی مړه يخ پخ

خٰمِدُوْنَ ﴿٢٩﴾ يٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا

پراته وو(29) ای افسوسه په بنده گانو! دوی ته

يَأْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ

به نه راته کوم رسول مگر دوی به په هغه پورې

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٣٠﴾ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا

استهزا کولې(30) ایا دوی نه ويني چې له دوی نه

قَبۡلَهُمۡ مِّنَ الۡقُرُوۡنِ اَنَّهُمۡ اِلَيۡهِمۡ لَا

مخكې مونږ څومره امتونه هلاك كړي دي، چې يقينًا هغوی دوی ته

يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۳۱﴾ وَاِنۡ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيۡعٌ

بېرته نه راګرځي(31) او نه دي دا هر يو مګر ټول به زمونږ په

ع 1

لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُوۡنَ ﴿۳۲﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ

وړاندې حاضر كړی شوي وي(32) او د دوی لپاره

الۡاَرۡضُ الۡمَيۡتَةُ ۚۖ اَحۡيَيۡنٰهَا وَاَخۡرَجۡنَا

يوه لويه نښه مړه (وچه كلكه) ځمكه ده، چې مونږ هغه ژوندۍ كړه او له هغې نه مونږ دانې

مِنۡهَا حَبًّا فَمِنۡهُ يَاۡكُلُوۡنَ ﴿۳۳﴾ وَجَعَلۡنَا

راوويستې، نو د دغو (دانو) څخه دوی خوراك كوي(33) او مونږ په دغه (ځمكه)

فِيۡهَا جَنّٰتٍ مِّنۡ نَّخِيۡلٍ وَّ اَعۡنَابٍ وَّ

كې د كجورو او انګورو باغونه پيدا كړي دي او

فَجَّرۡنَا فِيۡهَا مِنَ الۡعُيُوۡنِ ۙ۝۳۴ لِيَاۡكُلُوۡا

مونږه په دغه (ځمكه) كې چينې جاري كړي دي( 34) د دې لپاره

مِنۡ ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتۡهُ اَيۡدِيۡهِمۡ ؕ

چې دوی د دغو (ځيزونو) له مېوو نه خوراك وكړي، حال دا چې دغه (مېوې) د دوی لاسونو نه

اَفَلَا يَشۡكُرُوۡنَ ۝۳۵ سُبۡحٰنَ الَّذِىۡ

دي پيدا كړي، ايا نو دوی شكر نه وباسي(35) پاكي ده هغه ذات لره چې

خَلَقَ الۡاَزۡوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۡۢبِتُ

دغه ټولې جوړې يې پيدا كړي دي، له هغو ځيزونو نه چې

الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا

ځمکه يې زرغونوي او د دوی له نفسونو نه او له هغو شيزونو نه چې

يَعْلَمُوْنَ ۝٣٦ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ نَسْلَخُ

دوی يې نه پېژني(36) او د دوی لپاره لويه نښنه شپه (هم) ده، مونږ له

مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ۝٣٧ وَ

هغې نه ورځ راوباسو، نو ناڅاپه دوی په تيارو کې ننوتونکي وي(37) او

الشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ؕ ذٰلِكَ

لمر (دی چې) په خپلې ټاکلې لارې باندې روان دی، دغه

تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝٣٨ وَالْقَمَرَ

د ډېر غالب، ښه پوه ذات مُقَدر (اندازه) کول دي( 38) او سپوږمۍ

قَدَّرۡنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالۡعُرۡجُوۡنِ

لره، مونږ د هغې لپاره منزلونه مقرر کړي دي، تر
هغه پورې چې دا شي لکه د کجورې

الۡقَدِيۡمِ ﴿۳۹﴾ لَا الشَّمۡسُ يَنۡۢبَغِىۡ لَهَاۤ اَنۡ

وچ ډنډورکی(39) لمر لره ممکن نه دي

تُدۡرِكَ الۡقَمَرَ وَلَا الَّيۡلُ سَابِقُ

چې سپوږمۍ رالاندې کړي او نه شپه په

النَّهَارِ‌ ؕ وَكُلٌّ فِىۡ فَلَكٍ يَّسۡبَحُوۡنَ ﴿۴۰﴾ وَ

ورځ ړومبۍ کېدونکې ده او هر يو په (خپل) مدار
کې لامبو وهي(40) او

اٰيَةٌ لَّهُمۡ اَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِى

د دوی لپاره لويه نښه داده چې بېشکه مونږ د
دوی اولاد په ډکه بېړۍ

الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ۝٤١ وَخَلَقْنَا لَهُمْ

کې سواره کړي دي(41) او د دوی لپاره مو د دغې (بېړۍ) په شان هغه څيزونه

مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ ۝٤٢ وَاِنْ نَّشَاْ

پيدا کړي دي چې دوی پرې سورېږي(42) او که مونږ وغواړو (نو)

نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ

دوی به غرق کړو، بيا به دوی لپاره نه هېڅ فريادرس وي او نه به دوی له

يُنْقَذُوْنَ ۝٤٣ اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا

غرقېدونه خلاصول کېږي(43) مگر (نه يې غرقوو) له خپل جانب نه د رحمت په سبب او تر يو وخته

اِلٰى حِيْنٍ ۝٤٤ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا مَا

پورې د فايدې اخيستلو لپاره(44) او کله چې دوی ته وويل شي: تاسو ځان وساتئ

بَيۡنَ اَيۡدِيۡكُمۡ وَ مَا خَلۡفَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ

له هغه (عذاب) نه چې ستاسو په مخکې دی او له
هغه نه چې ستاسو شا ته (په اخرت کې) دی، د

تُرۡحَمُوۡنَ ۝٤٥ وَ مَا تَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ اٰيَةٍ مِّنۡ

دې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي(45) او
دوی ته د خپل رب له دلیلونو نه

اٰيٰتِ رَبِّهِمۡ اِلَّا كَانُوۡا عَنۡهَا

هیڅ دلیل نه راځي، مګر دوی له هغو نه مخ

مُعۡرِضِيۡنَ ۝٤٦ وَ اِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ اَنۡفِقُوۡا

ګرځوونکي دي(46) او کله چې دوی ته وویل
شي چې تاسو له

مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ۙ قَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

هغه (مال) نه ځینې ولګوئ چې الله تاسو ته
درکړی دی، نو کافران شوي (د الله منکر) کسان

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ

هغو خلقو ته چې ایمان یې راوړی دی؛ وایي: ایا
مونږ هغه

اللّٰهُ اَطْعَمَهٗٓ ۖ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ

چا ته طعام ورکړو چې که الله غوښتلی (نو) هغه
ته به یې طعام ورکړی وی. نه یئ تاسو مګر په

مُّبِيْنٍ ﴿۴۷﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ

ښکاره ګمراهۍ کې(47) او دوی (کفار) وایي: (د
قیامت) دغه وعده به کله وي که

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ مَا يَنْظُرُوْنَ

تاسو رښتیني یئ(48) دوی انتظار نه کوي

اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً تَاْخُذُهُمْ وَهُمْ

مګر د یوې داسې چغې چې دوی به ونیسي، په
داسې حال کې چې دوی به یو له بله

يَخِصِّمُوْنَ ﴿٤٩﴾ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ تَوْصِيَةً

سره جګړې کوي(49) نو نه به د وصيت کولو توان ولري

ع 2

وَّلَآ اِلٰٓى اَهْلِهِمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَنُفِخَ فِي

او نه به خپل اهل ته بېرته ورشي(50) او په

الصُّوْرِ فَاِذَا هُمْ مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰى

شپېلۍ کې به پوکی وکړی شي، نو ناڅاپه به دوی له قبرونو نه د

رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿٥١﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ

خپل رب په طرف منډې وهي(51) دوی به وايي: ای زمونږ هلاکته!

بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا ٚ سكتة هٰذَا مَا وَعَدَ

وقف لازم

مونږ له خپل خوب ځای نه چا راپاڅولو؟ (جواب به ورکړی شي) دا هغه (ژوندون) دی چې رحمٰن

الرَّحۡمٰنُ وَ صَدَقَ الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۵۲﴾ اِنۡ

يې وعده کړې وه او رسولانو رښتيا ويلي وو(52)
دغه (پوکی)

كَانَتۡ اِلَّا صَيۡحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمۡ

به نه وي مگر يوه چغه، نو ناڅاپه به دوی ټول
زمونږ

جَمِيۡعٌ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُوۡنَ ﴿۵۳﴾ فَالۡيَوۡمَ لَا

په وړاندې حاضر کړی شوي وي(53) نو نن ورځ
به په هيڅ

تُظۡلَمُ نَفۡسٌ شَيۡـًٔا وَّلَا تُجۡزَوۡنَ اِلَّا

يو نفس باندې هيڅ شی ظلم ونه کړی شي او
تاسو ته به بدله نه درکولی کيږي

مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۵۴﴾ اِنَّ اَصۡحٰبَ

مگر هغه چې تاسو څه عمل کاوه(54) بېشکه د
جنت والا

الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ

نن ورځ په مشغولتیا کې دي، خوند

فٰكِهُوْنَ ۚ۝٥٥ هُمْ وَ اَزْوَاجُهُمْ فِيْ ظِلٰلٍ

اخیستونکي دي(55) دوی او د دوی ښځې په
سیورو کې (ناست) دي، په تختونو

عَلَى الْاَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ۝٥٦ لَهُمْ فِيْهَا

باندې تکیه وهونکي دي(56) د دوی لپاره په
دغو (جنتونو)

فَاكِهَةٌ وَّ لَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ۚ۝٥٧ سَلٰمٌ ۗ قف

ښې مېوې دي او د دوی لپاره هغه څه دي چې
دوی یې غواړي(57) سلام دی (چې دوی ته به

قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ۝٥٨ وَ امْتَازُوا

ویلی شي) ښکاره ویل د رب له جانبه، چې ډېر
مهربان دی(58) او (وبه ویل شي:)

الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٥٩﴾ اَلَمْ اَعْهَدْ

اى مجرمانو! تاسو نن ورځ بېل بېل شئ(59) اى بني ادمو! ايا ما تاسو ته

اِلَيْكُمْ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا

كلك حكم نه و كړى، داسې چې تاسو د شيطان عبادت مه كوئ.

الشَّيْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٠﴾ وَّ

يقينًا هغه ستاسو ښكاره دښمن دى(60) او

اَنِ اعْبُدُوْنِيْ ۗ هٰذَا صِرَاطٌ

داسې چې تاسو زما عبادت كوئ، دا نېغه

مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ اَضَلَّ مِنْكُمْ

لار ده؟(61) او يقينًا يقينًا ده (شيطان) په تاسو كې ډېر

جِبِلًّا كَثِيْرًا ۭ اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا

خلق گمراه کړي دي، ايا نو تاسو داسې نه يئ چې

تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٢﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِىْ كُنْتُمْ

عقل وچلوئ؟(62) (منکرانو ته به په اخرت کې ووېل شي:) دا هغه جهنم دی چې تاسو ته به يې

تُوْعَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا

وعده درکول کېده(63) تاسو ده ته په نن ورځ ننوځئ، په سبب د هغه

كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٦٤﴾ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى

کفر چې تاسو به کاوه(64) نن ورځ به مونږ د دوی په

اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ

خولو مهر ولګوو، او زمونږ سره به د دوی لاسونه خبرې کوي او د دوی پښې به ګواهي کوي

أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ

په هغو کارونو چې دوی به کول(65) او که مونږ غوښتلی (نو)

نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰٓ أَعْيُنِهِمْ

د دوی سترګې به مو محوه (هوارې) کړې وی، نو دوی

فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَأَنَّىٰ

به (خپلې معلومې) لارې ته وړاندې شوي وی، بیا

يُبْصِرُونَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنَٰهُمْ

به دوی څنګه لیدله(66) او که مونږ غوښتلی (نو) خامخا مونږ به دوی

عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَٰعُوا مُضِيًّا وَّ

په خپلو ځایونو کې مسخ کړي وو، نو (بیا به) دوی نه د وړاندې تللو طاقت لاره او

ع 3

لَا يَرْجِعُوْنَ ۝٦٧ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ

نه به بېرته ګرځېدلی وی(67) او هر هغه څوك
چې مونږ هغه ته اوږد عمر ورکړو (نو) هغه په

فِي الْخَلْقِ ۭ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ۝٦٨ وَمَا

تخليق (ساخت) کې نسکور کړو، ایا نو دوی عقل
مندي نه کوي(68) او مونږ

عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ۭ اِنْ هُوَ

ده ته شعر نه دی ښودلی او نه دا له ده سره
ښایېږي، نه دی دا کتاب

اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ۝٦٩ لِّيُنْذِرَ مَنْ

مګر نصیحت دی او بیانوونکی قرآن دی(69) د
دې لپاره چې دغه (قرآن، یا نبي)

كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى

هغه څوك ووېروي چې ژوندی وي او د دې لپاره
چې په کافرانو

الْكٰفِرِيْنَ ۝٧٠ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا

خبره ثابته شي(70) ايا دوى نه دي كتلي چې بېشكه مونږ له

لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ اَنْعَامًا فَهُمْ

هغو څيزونو نه چې زمونږ لاسونو جوړ كړي دي، دوى لپاره څاروي پيدا كړي دي،

لَهَا مٰلِكُوْنَ ۝٧١ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا

بيا دوى د هغو مالكان دي(71) او مونږ دغه (څاروي) د دوى لپاره تابع كړي دي، نو په دغو

رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ۝٧٢ وَلَهُمْ

كې ځينې د دوى سورلۍ دي او په دغو كې ځينې دوى خوري(72) او د دوى

فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ؕ اَفَلَا

لپاره په دغو (څارويو) كې فايدې او مشروبونه دي، ايا نو دوى

يَشۡكُرُوۡنَ ﴿۷۳﴾ وَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

شکر نه وباسي؟(73) او دوی له الله نه غیر نور معبودان ونیول، د

اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمۡ يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۷۴﴾ؕ لَا

دي لپاره چې دوی سره مدد وکړی شي(74) دغه (معبودان)

يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ نَصۡرَهُمۡ ۙ وَ هُمۡ لَهُمۡ

د دوی د مدد کولو طاقت نه لري، په داسې حال کې چې دوی (مشرکان) به دغو (معبودانو) ته

جُنۡدٌ مُّحۡضَرُوۡنَ ﴿۷۵﴾ فَلَا يَحۡزُنۡكَ

حاضر کړی شوی لښکر وي(75) نو تا دې د دوی وینا غمژن نه کړي،

وقف لازم

قَوۡلُهُمۡ ۘ اِنَّا نَعۡلَمُ مَا يُسِرُّوۡنَ وَ مَا

بېشکه مونږ پوهېږو په هغه (حسد، کینه) چې دوی يې پټوي او په هغه (کفر، عناد)

يُعۡلِنُوۡنَ ۝٧٦ اَوَلَمۡ يَرَ الۡاِنۡسَانُ اَنَّا

چې دوی يې ښکاره کوي(76) ايا انسان نه دي

کتلي چې بېشکه مونږ دغه (انسان)

خَلَقۡنٰهُ مِنۡ نُّطۡفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيۡمٌ

له نطفې (يو څاڅکي اوبو) نه پيدا کړی دی، نو

ناڅاپه دی ښکاره سخت

مُّبِيۡنٌ ۝٧٧ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ

جګړه کوونکی دی(77) او دی زمونږ لپاره مثال

بيانوي او خپل پيدايښت

خَلۡقَهٗ ؕ قَالَ مَنۡ يُّحۡيِ الۡعِظَامَ وَهِيَ

يې هېر کړی دی، وايي: دغه هډوکي به څوك

راژوندي کوي، په داسې حال کې چې

رَمِيۡمٌ ۝٧٨ قُلۡ يُحۡيِيۡهَا الَّذِيۡۤ اَنۡشَاَهَاۤ

هغه وراسته وي(78) ته (دوی ته) ووايه: دا به

هغه ذات راژوندي کوي چې دا يې اول ځلې پيدا

أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ

کړي دي، او هغه په خپل مخلوق باندې

عَلِيمٌ ۝٧٩ الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ

ښه عالم دی(79) هغه ذات چې تاسو لپاره يې له

الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا أَنتُم

شنې ونې نه اور پيدا کړی دی، نو ناڅاپه تاسو له

مِّنْهُ تُوقِدُونَ ۝٨٠ أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ

دغې (شنې ونې) نه اور بلوئ(80) ايا هغه ذات
چې

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن

اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي، په دې نه دی
قادر چې هغه د دوی په شان

يَّخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ ؕ بَلٰی ٭ وَهُوَ الۡخَلّٰقُ

(نور مخلوق) پيدا كړي؟ ولې نه! او هم دی ښه پيدا كوونكی،

الۡعَلِيۡمُ ﴿۸۱﴾ اِنَّمَاۤ اَمۡرُهٗۤ اِذَاۤ اَرَادَ شَيۡـًٔا

ښه پوه دی(81) بېشكه د هغه امر (حكم) هم دا وي چې كله د يو شي اراده وكړي، دا چې هغه ته

اَنۡ يَّقُوۡلَ لَهٗ كُنۡ فَيَكُوۡنُ ﴿۸۲﴾ فَسُبۡحٰنَ

ووايي چې پيدا شه، نو هغه پيدا شي(82) نو پاكي ده هغه (الله) لره چې خاص

الَّذِيۡ بِيَدِهٖ مَلَكُوۡتُ كُلِّ شَيۡءٍ وَّاِلَيۡهِ

د هغه په لاس كې د هر شي باچاهي ده او خاص

ع 4

تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۸۳﴾

هغه ته به بېرته بېولی كېږئ(83)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

وَ الصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۙ﴿۱﴾ فَالزّٰجِرٰتِ

قسم دى (د ملايكو) په صف جوړونكو ډلو باندې، صف جوړول(1) بيا (شيطانانو لره) په شړونك

زَجۡرًا ۙ﴿۲﴾ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكۡرًا ۙ﴿۳﴾ اِنَّ اِلٰهَكُمۡ

(ملايكو دى) سخت شړل(2) بيا د ذكر په لوستونكو باندې(3) چې بېشكه ستاسو معبود يقينًا

لَوَاحِدٌ ؕ﴿۴﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَ

يو دى(4) چې د اسمانونو او ځمكې رب دى او

مَا بَيۡنَهُمَا وَ رَبُّ الۡمَشَارِقِ ؕ﴿۵﴾ اِنَّا زَيَّنَّا

د هغه څه چې د دواړو په مينځ كې دي او د مشرقونو رب دى(5) بېشكه مونږ (ځمكې ته)

| |
|---|
| السَّمَآءَ الدُّنۡیَا بِزِیۡنَةِ ِالۡكَوَاكِبِ ۙ﴿۶﴾ وَ<br>زیات نژدې اسمان په زینت سره ښایسته کړی دی، چې ستوري دي(6) او |
| حِفۡظًا مِّنۡ كُلِّ شَیۡطٰنٍ مَّارِدٍ ۚ﴿۷﴾ لَا<br>له هر سرکښه شیطان نه مو ښه ساتلی دی(7) دغه (شیطانان) |
| یَسَّمَّعُوۡنَ اِلَی الۡمَلَاِ الۡاَعۡلٰی وَ<br>تر ټولو لوړ مجلس ته غوږ نشي نیولی او |
| یُقۡذَفُوۡنَ مِنۡ كُلِّ جَانِبٍ ۖ﴿۸﴾ دُحُوۡرًا وَّ<br>دوی له هره جانبه ویشتل شي(8) د شړلو لپاره او |
| لَهُمۡ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۙ﴿۹﴾ اِلَّا مَنۡ خَطِفَ<br>د دوی لپاره همېشنی عذاب دی(9) غیر له هغه (شیطان) نه چې وتښتوي |

الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ

یو کرت تښتونه، نو په ده پسې شي لمبه

ثَاقِبٌ ﴿۱۰﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا

رڼا کوونکې(10) نو ته له دوی نه پوښتنه وکړه
چې ایا دوی د تخلیق په لحاظ

اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ

ډېر سخت دي، یا هغه چې مونږ پیدا کړي دي؟،
بېشکه مونږ دوی له سرېښناکې

طِيْنٍ لَّازِبٍ ﴿۱۱﴾ بَلْ عَجِبْتَ وَ

خټې نه پیدا کړي دي(11) بلکې ته (د دوی په
انکار) تعجب کوې، په داسې حال کې چې دوی

يَسْخَرُوْنَ ﴿۱۲﴾ صَ وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا

(په تا پورې) مسخرې کوي(12) او کله چې دوی
ته نصیحت وکړی شي،

يَذۡكُرُوۡنَ ۟ۖ﴿١٣﴾ وَاِذَا رَاَوۡا اٰيَةً

دوی پند (نصيحت) نه اخلي(13) او کله چې
دوی کومه (نښه دليل) ويني، (نو ورپورې) ډېرې

يَّسۡتَسۡخِرُوۡنَ ۟ۖ﴿١٤﴾ وَقَالُوۡۤا اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّا

مسخرې کوي(14) او وايي چې نه دی دا (چې
مونږ وليد) مګر

سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ۚ﴿١٥﴾ ءَاِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا

ښکاره جادو(15) ايا کله چې مونږ مړه شو او
خاورې او هډوکي شو، ايا په رښتيا به مونږ خامخا

وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ۙ﴿١٦﴾ اَوَاٰبَآؤُنَا

بيا ژوندي راپاڅول کېږو؟(16) او ايا زمونږ
ړومبني

الۡاَوَّلُوۡنَ ؕ﴿١٧﴾ قُلۡ نَعَمۡ وَاَنۡتُمۡ

پلرونه هم؟(17) ته (دوی ته) ووايه: هو! په
داسې حال کې

دَاخِرُوْنَ ۚ﴿١٨﴾ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ

چې تاسو به ذليل هم يئ(18) پس همدا خبره ده چې هغه (قيامت) خو يوه چغه ده،

فَاِذَا هُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا

نو ناڅاپه به دوی ګوري(19) او دوی به وايي: ای زمونږ هلاکته!

هٰذَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿٢٠﴾ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ

دا د بدلې ورځ ده(20) دا د فيصلې ورځ ده، هغه ورځ

الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۧ﴿٢١﴾ اُحْشُرُوا

چې تاسو به د دې تکذيب کاوه(21) (الله به ملايکو ته ووايي:)

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا

تاسو راټول کړئ هغه کسان چې ظلم (شرک) يې کړی دی او د دوی جوړې (د عقيدې ملګري) او

ع 5

يَعۡبُدُوۡنَ ۝٢٢ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ فَاهۡدُوۡهُمۡ

هغه څه چې دوی به يې عبادت کاوه(22) له الله
نه غير، نو تاسو دوی د دوزخ

اِلٰى صِرَاطِ الۡجَحِيۡمِ ۝٢٣ وَقِفُوۡهُمۡ

په لاره روان (او برابر) کړئ(23) او دوی
ودروئ،

اِنَّهُمۡ مَّسۡـُٔوۡلُوۡنَ ۝٢٤ مَا لَـكُمۡ لَا

بېشکه له دوی نه پوښتنې کول شي(24) په تاسو
څه دي چې يو له

تَنَاصَرُوۡنَ ۝٢٥ بَلۡ هُمُ الۡيَوۡمَ

بله سره مرسته نه کوئ؟(25) بلکې دوی نن ورځ
(پخپله)

مُسۡتَسۡلِمُوۡنَ ۝٢٦ وَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى

تسليمېدونکي دي(26) او د دوی ځينې به ځينو
نورو ته

بَعۡضٖ يَّتَسَآءَلُوۡنَ ﴿٢٧﴾ قَالُوۡۤا اِنَّكُمۡ

مخ ورواړوي، يو تربله به پوښتنې کوي(27) وبه وايي (کشران مشرانو ته) بېشکه هم تاسو

كُنۡتُمۡ تَاۡتُوۡنَنَا عَنِ الۡيَمِيۡنِ ﴿٢٨﴾ قَالُوۡا

وئ چې مونږ ته به په زور سره راتللئ(28) وبه وايي (مشران په جواب کې)

بَلۡ لَّمۡ تَكُوۡنُوۡا مُؤۡمِنِيۡنَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ

بلکې تاسو پخپله ایمان راوړونکي نه وئ(29) او زمونږ لپاره

لَنَا عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍ ۚ بَلۡ كُنۡتُمۡ

پر تاسو باندې هېڅ زور (تسلط) نه و، بلکې تاسو

قَوۡمًا طٰغِيۡنَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيۡنَا قَوۡلُ

پخپله سرکښه قوم وئ(30) نو په مونږه باندې زمونږ د رب خبره ثابته شوه،

رَبِّنَآ ۖ اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ﴿٣١﴾ فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا

يقينًا مونږ خامخا (عذاب لره) څکونکي يو(31)
نو مونږ تاسو گمراه کړئ، بېشکه

كُنَّا غٰوِيْنَ ﴿٣٢﴾ فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي

مونږ (پخپله هم) گمراهان وو(32) پس بېشکه
دوی په دغه ورځ په

الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ

عذاب کې سره شريکان دي(33) بېشکه مونږ له

نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿٣٤﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْٓا اِذَا

مجرمانو سره همداسې کوو(34) بېشکه دوی
(داسې) وو چې

قِيْلَ لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ۙ

کله به دوی ته وويل شول چې له الله نه غير هېڅ
لايق د عبادت نشته (، نو)

يَسْتَكْبِرُوْنَ ۝٣٥ۙ وَيَقُوْلُوْنَ اَئِنَّا

دوی به تکبر کاوه(35) او دوی وايي چې ايا يقينًا

لَتَارِكُوْٓا اٰلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ

مونږ په رښتيا سره د يو لېوني شاعر له وجې نه
خپل معبودان (خدايان)

مَّجْنُوْنٍ ۝٣٦ؕ بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ

پرېښودونکي يو(36) (داسې نه ده) بلکې دغه
(نبي) حق (دين) راوړی دی، او د رسولانو

الْمُرْسَلِيْنَ ۝٣٧ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا

تصديق يې کړی دی(37) بېشکه تاسو خامخا ډېر
دردوونکي

الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ۝٣٨ۚ وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا

عذاب لره څکونکي يئ(38) او تاسو ته بدله نه
درکولی کېږي مګر

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ

د هغو عملونو چې تاسو به کول(39) لېکن د الله غوره کړی

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۴۰﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ

شوي بنده گان(40) دغه کسان چې دي، د دوی لپاره

مَّعْلُوْمٌ ﴿۴۱﴾ فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ

معلومه روزي ده(41) چې (رنگارنگ) مېوې دي، په داسې حال کې چې دوی به عزتمن

مُّكْرَمُوْنَ ﴿۴۲﴾ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۴۳﴾ عَلٰى

کړی شوي وي(42) د نعمتونو په باغونو کې(43) (چې ناست به وي) په

سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۴۴﴾ يُطَافُ عَلَيْهِمْ

تختونو يو بل ته مخامخ(44) په دوی به د روانو صافو

بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿٤٥﴾ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ

شرابو جامونه گرځولی شي(45) چې تك سپين به وي، د ښنونكو لپاره

لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ

به خوندور وي(46) نه به په هغو كې سر خوږى وي او نه به دوى د دغو (شرابو)

عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ

په وجه نشه كولى شي(47) او له دوى سره به د (خپل) نظر رامنع كوونكي

الطَّرْفِ عِيْنٌ ﴿٤٨﴾ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ

غټو سترګو والا حورې وي(48) ګوياكې دوى پټې ساتل شوې

مَّكْنُوْنٌ ﴿٤٩﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

هګۍ دي(49) نو د دغو (جنتيانو) ځينې به ځينو نورو ته مخ راوګرځوي،

يَّتَسَآءَلُوْنَ ۝٥٠ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّيْ

چې سره تپوس به کوي(50) په دوی کې یو
ویونکی به ووايي: بېشکه

كَانَ لِيْ قَرِيْنٌ ۝٥١ يَّقُوْلُ اَئِنَّكَ لَمِنَ

زما یو دوست و(51) ویل به یې: ایا یقینًا ته
خامخا له تصدیق

الْمُصَدِّقِيْنَ ۝٥٢ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا

کوونکو څنې یې؟(52) ایا کله چې مونږ مړه شو
او خاورې او هډوکي شو، ایا بېشکه

وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ ۝٥٣ قَالَ هَلْ

مونږ ته به خامخا جزا راکولی شي(53) وبه وایي:
ایا تاسو

اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ۝٥٤ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِيْ

کتونکي یئ؟(54) نو وبه ګوري، نو هغه به (د
دوزخ)

سَوَآءِ الۡجَحِيۡمِ ﴿۵۵﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنۡ

په مینځ کې وويني(55) وبه وايي (کتونکی): قسم په الله! بېشکه شان دا و چې ته نژدې

كِدۡتَّ لَتُرۡدِيۡنِ ﴿۵۶﴾ وَلَوۡلَا نِعۡمَةُ رَبِّىۡ

وې چې ما هلاك کړې(56) او که زما د رب نعمت نه وی (نو) خامخا زه به

لَكُنۡتُ مِنَ الۡمُحۡضَرِيۡنَ ﴿۵۷﴾ اَفَمَا نَحۡنُ

له حاضر کړی شويو څخه وم(57) ايا نو مونږ مړه

بِمَيِّتِيۡنَ ﴿۵۸﴾ اِلَّا مَوۡتَتَنَا الۡاُوۡلٰى وَمَا

کېدونکي نه يو(58) زمونږ له ړومبي مرگ نه غير، او

نَحۡنُ بِمُعَذَّبِيۡنَ ﴿۵۹﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الۡفَوۡزُ

مونږ په عذاب کړی شوي نه يو(59) بېشکه دا، يقينًا همدغه ډېر

الْعَظِيْمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ

لوی بری دی(60) د دغو (نعمتونو) مثل لپاره دي عمل کوونکي

الْعٰمِلُوْنَ ﴿٦١﴾ اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ

عمل وکړي(61) ایا دغه د مېلمستیا په لحاظ غوره

شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴿٦٢﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً

دي، یا د زقوم ونه(62) بېشکه مونږ دغه (ونه) د ظالمانو (مشرکانو) لپاره فتنه

لِّلظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٣﴾ اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْٓ

(او عذاب) گرځولې ده(63) بېشکه دغه داسې ونه ده چې د

اَصْلِ الْجَحِيْمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ

دوزخ په بېخ کې راوځي(64) د دغې وږې، گویاکې هغه د

الشَّيٰطِيۡنِ ﴿٦٥﴾ فَاِنَّهُمۡ لَاٰكِلُوۡنَ مِنۡهَا

شیطانانو سرونه دي(65) پس بېشکه دوی به خامخا له هغې نه خوړونکي وي،

فَمَالِـُٔوۡنَ مِنۡهَا الۡبُطُوۡنَ ؕ﴿٦٦﴾ ثُمَّ اِنَّ

نو له هغې نه به د خپلو خېټو ډکوونکي وي(66) بیا بېشکه دوی

لَهُمۡ عَلَيۡهَا لَشَوۡبًا مِّنۡ حَمِيۡمٍ ۚ﴿٦٧﴾ ثُمَّ

ته به د هغې له پاسه د ایشول شویو اوبو ګډون وي(67) بیا

اِنَّ مَرۡجِعَهُمۡ لَاِالَى

بېشکه د دوی ورتله خامخا لمبې وهونکي

الۡجَحِيۡمِ ﴿٦٨﴾ اِنَّهُمۡ اَلۡفَوۡا اٰبَآءَهُمۡ

اور ته دي(68) بېشکه دوی خپل پلرونه

ضَآلِّيْنَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ

گمراه موندلي دي(69) نو دوی د هغوی په
قدمونو پسې په ډېرې تېزۍ

يُهْرَعُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ

سره منډې وهي(70) او يقينًا يقينًا له دوی نه
مخکې د

اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

ړومبنو خلقو اکثره گمراه شوي دي(71) او يقينًا
يقينًا مونږ په دوی کې وېروونکي

فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿٧٢﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ

پېغمبران لېږلي وو(72) نو ته وگوره چې د وېرول

عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٧٣﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ

شويو انجام څنگه و؟(73) لېکن د الله غوره کړي

ع
6

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٧٤﴾ وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ

بندګان (له عذاب نه خلاص دي)(74) او يقينًا يقينًا مونږ ته نوح اواز وکړ، نو (مونږ)

فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنٰهُ وَ

ښه جواب ورکوونکي يو(75) او مونږ هغه ته او د هغه کورنۍ ته

اَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا

له ډېر لوی غم نه نجات ورکړ(76) او مونږ د هغه اولاده، بس هم هغه

ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ

باقي پاتې کېدونکي وګرځوله(77) او مونږ په ده باندې په وروستنيو خلقو کې

فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿٧٨﴾ سَلٰمٌ عَلٰى نُوْحٍ فِي

(مدح او ثنا) پرېښودله(78) په عالمونو کې دې په نوح

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٩﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِی

سلام وي(79) بېشکه مونږ نېکانو ته همداسې

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

بدله ورکوو(80) بېشکه هغه زمونږ د مومنو بنده

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا

ګانو څخه و(81) بیا مونږ هغه نور (کافر)

الْاٰخَرِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ

خلق غرق کړل(82) او بېشکه د هغه له ملګرو
څخنې

لَاِبْرٰهِيْمَ ﴿٨٣﴾ اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلْبٍ

خامخا ابراهیم دی(83) (یاد کړه) کله چې هغه
خپل رب ته په ډېر

وقف لازم

سَلِيۡمٍ ﴿۸۴﴾ اِذۡ قَالَ لِاَبِيۡهِ وَ قَوۡمِهٖ مَا ذَا

روغ زړه سره راغی(84) کله چې هغه خپل پلار
او خپل قوم ته وویل: څه شی دی چې

تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۸۵﴾ ج اَئِفۡكًا اٰلِهَةً دُوۡنَ اللّٰهِ

تاسو يې عبادت کوئ؟(85) ايا تاسو د دروغو (او
باطلو) لپاره له الله پرته

تُرِيۡدُوۡنَ ﴿۸۶﴾ ط فَمَا ظَنُّكُمۡ بِرَبِّ

معبودان غواړئ؟(86) نو په رب العالمين مو
ستاسو

الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۸۷﴾ فَنَظَرَ نَظۡرَةً فِي

څه گمان دی(87) نو په ستوريو کې نظر يې

النُّجُوۡمِ ﴿۸۸﴾ لا فَقَالَ اِنِّيۡ

واچوه، يو نظر(88) نو ويې ويل: بېشکه

سَقِيۡمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوۡا عَنۡهُ

زه ناجوړه یم(89) نو دوی له هغه نه وګرځېدل، په داسې حال کې

مُدۡبِرِيۡنَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ اِلٰٓى اٰلِهَتِهِمۡ فَقَالَ

چې شاکوونکي وو(90) نو د دوی معبودانو (بتانو) ته پټ راغی، نو ویې ویل:

اَلَا تَاۡكُلُوۡنَ‌ۚ ﴿٩١﴾ مَا لَـكُمۡ لَا

ایا تاسو (دا خوراکونه) نه خورئ؟(91) په تاسو څه شوي دي چې

تَنۡطِقُوۡنَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيۡهِمۡ ضَرۡبًۢا

تاسو خبرې نه کوئ؟(92) نو په مهارت سره یې په دوی باندې راباندې کړل، په داسې حال کې چې

بِالۡيَمِيۡنِ ﴿٩٣﴾ فَاَقۡبَلُوۡۤا اِلَيۡهِ

په ښي لاس سره وهونکی و(93) نو هغوی (مشرکانو) ده ته متوجه شول،

يَزِفُّوْنَ ۝٩٤ قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ مَا

چې وړپسې منډې يې وهلې(94) ده وويل: ايا تاسو د هغه څه عبادت کوئ چې

تَنْحِتُوْنَ ۝٩٥ۙ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا

تاسو يې (پخپله) تراشئ(95), حال دا چې الله تاسو او هغه عملونه چې تاسو يې

تَعْمَلُوْنَ ۝٩٦ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا

کوئ، پيدا کړي دي(96) دوی وويل: د ده لپاره يوه ودانۍ جوړه کړئ، بيا تاسو

فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ۝٩٧ فَاَرَادُوْا بِهٖ

دا په لمبې وهونکي اور کې واچوئ(97) نو دوی له ده سره د فريب اراده وکړه،

كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ۝٩٨ وَ

نو مونږ همدوی تر ټولو زيات ذليله کړل(98) او

قَالَ اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ

ده (ابراهيم) وويل: بېشکه زه خپل رب ته تلونکی يم، ژر به هغه

سَيَهْدِيْنِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ

ما ته لاره وښيي(99) ای زما ربه! ته ما ته (زوی) راکړې، چې له

الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ

صالحانو څنې وي(100) نو مونږ ده ته د ډېر حلم والا

حَلِيْمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ

هلك زېری ورکړ(101) نو کله چې هغه (هلك) له ده (خپل پلار) سره منډې وهلو ته ورسېده، ويې

يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ

ويل: ای زما خوږه زويه! بېشکه زه په خوب کې وينم داسې چې بېشکه زه تا ذبحه کوم،

فَانْظُرْ مَا ذَا تَرٰى ؕ قَالَ يٰۤاَبَتِ افْعَلْ

نو ته وګوره چې ستا څه رايه ده؟ هغه وويل: ای
زما پلار جانه! ته هغه کار وکړه

مَا تُؤْمَرُ ؗ سَتَجِدُنِيْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ

چې تا ته يې امر کول شي، ژر ده چې که الله
وغواړي، ته به ما له

الصّٰبِرِيْنَ ۝١٠٢ فَلَمَّاۤ اَسْلَمَا وَتَلَّهٗ

صبر کوونکو څخه ومومې(102) نو کله چې دواړو
غاړه کېښوده او هغه

لِلْجَبِيْنِ ۝١٠٣ وَنَادَيْنٰهُ اَنْ

يې په اړخ څملاوه(103) او مونږ ده ته اواز وکړ،
داسې

يّٰۤاِبْرٰهِيْمُ ۝١٠٤ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا

چې ای ابراهيمه(104) يقيناً تا خوب رښتيا کړ،
بېشکه

كَذٰلِكَ نَجۡزِی الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ

مونږ نېکي کوونکو ته همداسې بدله ورکوو(105) بېشکه دا،

هٰذَا لَهُوَ الۡبَلٰٓؤُا الۡمُبِيۡنُ ﴿۱۰۶﴾ وَ فَدَيۡنٰهُ

يقينًا همدغه ښکاره ازمېښت و(106) او مونږ ده (اسماعيل) ته په ډېرې لويې

بِذِبۡحٍ عَظِيۡمٍ ﴿۱۰۷﴾ وَ تَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِی

ذبيحې سره خلاصی ورکړو(107) او مونږ باقي پرېښود په ده باندې

الۡاٰخِرِيۡنَ ﴿۱۰۸﴾ سَلٰمٌ عَلٰۤى

وروستنيو خلقو کې(108) دا چې سلام دې وي

اِبۡرٰهِيۡمَ ﴿۱۰۹﴾ كَذٰلِكَ نَجۡزِی

په ابراهيم(109) نېکانو ته مونږ همداسې

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١١٠﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

بدله ورکوو(110) بېشکه هغه زمونږ له

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١١﴾ وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا

مومنو بنده ګانو څخه دی(111) او مونږ ده ته د
اسحاق زېرې ورکړ، په داسې

مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١١٢﴾ وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰٓى

حال کې چې نبي و، له صالحانو نه(112) او
برکت اچولی و مونږ په ده (اسمٰعیل) باندې او په

اِسْحٰقَ ؕ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّ

اسحاق باندې، او د دې دواړو په اولاد کې څوک
نېکې کوونکی دی او

ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿١١٣﴾ۧ وَلَقَدْ مَنَنَّا

څوک په خپل ځان باندې ښکاره ظلم کوونکی دی
(113) او یقینًا یقینًا مونږ په

ع
7

عَلٰى مُوْسٰى وَ هٰرُوْنَ ﴿١١٤﴾ وَ نَجَّيْنٰهُمَا وَ

موسیٰ او هارون احسان وکړ(114) او مونږ دغو دواړو ته او د دغو دواړو

قَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿١١٥﴾ وَ

قوم ته له ډېر لوی غم نه نجات ورکړ(115) او

نَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿١١٦﴾ وَ

مونږ د دوی مدد وکړ، نو همدوی غالبه شول( 116) او

اٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿١١٧﴾ وَ

مونږ دغو دواړو ته ډېر واضحه کتاب ورکړی و( 117) او

هَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١١٨﴾ وَ

مونږ دغو دواړو ته نېغه لاره ښودلي وه(118) او

تَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿١١٩﴾ سَلٰمٌ

مونږ په دواړو باندې په وروستنيو خلقو کې باقي پرېښوده(119) دا چې سلام دې وي

عَلٰى مُوْسٰى وَ هٰرُوْنَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ

په موسي او هارون(120) بېشکه مونږ نېکي کوونکو ته

نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٢١﴾ اِنَّهُمَا مِنْ

همداسې بدله ورکوو(121) بېشکه دغه دواړه زمونږ د

عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٢٢﴾ وَاِنَّ اِلْيَاسَ

مومنو بنده ګانو څخه دي(122) او بېشکه الياس خامخا

لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَلَا

له رسولانو څخه دی(123) (ياد کړه)، هغه وخت چې ده خپل قوم ته وويل:

تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ

ولې تاسو نه وېرېږئ!(124) ايا تاسو بعل (بت) بولئ او تر ټولو ښه

اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ اللّٰهَ رَبَّكُمْ وَ

پيدا کوونکی ذات پرېږدئ(125) چې الله دی، چې ستاسو رب دی او

رَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ فَكَذَّبُوْهُ

ستاسو د ړومبنو پلرونو رب دی(126) نو هغوی د ده تکذيب وکړ،

فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ

نو بېشکه هغوی به خامخا حاضرولی شي(127) د الله له خالص کړی شويو بنده ګانو نه غير (چې

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي

دوی د هغه تکذيب ونه کړ)(128) او باقي پرېښود مونږ په ده

الْاٰخِرِيْنَ ۝١٢٩ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ

باندې په وروستنيو خلقو کې(129) چې په

يَاسِيْنَ ۝١٣٠ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى

الياسين دې سلام وي(130) بېشکه مونږ نېکي کوونکو ته همداسې

الْمُحْسِنِيْنَ ۝١٣١ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

بدله ورکوو(131) بېشکه هغه زمونږ له مومنو بنده

الْمُؤْمِنِيْنَ ۝١٣٢ وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ

ګانو څخه دی(132) او بېشکه لوط له

الْمُرْسَلِيْنَ ۝١٣٣ اِذْ نَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ

رسولانو څخه دی(133) (ياد کړه) هغه وخت چې مونږ ده ته او د ده کورنۍ ته،

اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۱۳۴﴾ۙ اِلَّا عَجُوۡزًا فِي

ټولو ته نجات ورکړ(134) غير له يوې بوډۍ نه
چې په باقي پاتې

الۡغٰبِرِيۡنَ ﴿۱۳۵﴾ ثُمَّ دَمَّرۡنَا الۡاٰخَرِيۡنَ ﴿۱۳۶﴾ وَ

کېدونکو کې وه(135) بيا مونږ نور (ټول) خلق
هلاك کړل(136) او

اِنَّكُمۡ لَتَمُرُّوۡنَ عَلَيۡهِمۡ

بېشکه تاسو په دوی تېرېږئ، په دې حال کې

مُّصۡبِحِيۡنَ ﴿۱۳۷﴾ وَبِالَّيۡلِ ؕ اَفَلَا

چې سبا کوونکي يئ(137) او په شپه کې هم، ايا
نو تاسو

تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۳۸﴾ۧ وَاِنَّ يُوۡنُسَ لَمِنَ

عقل نه کاروئ(138) او بېشکه يونس خامخا له

ع 8

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٣٩﴾ اِذْ اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ

رسولانو څخه دی(139) (یاد کړه) هغه وخت چې
هغه ډکې

الْمَشْحُوْنِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ

کشتۍ ته وتښتېده(140) نو ده قرعه واچوله، نو
شو (په قرعه کې) له مغلوب کړی

الْمُدْحَضِيْنَ ﴿١٤١﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ وَ

شویو څخه(141) نو ښوی تېر کړ هغه لره مهي
(کب)، په دې حال کې چې هغه (د خپل ځان)

هُوَ مُلِيْمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ

ملامت کوونکی و(142) نو که دا خبره نه وی چې
بېشکه هغه له تسبیح

الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖٓ اِلٰى

ویونکو څخه و(143) (نو) خامخا دا به د هغه
(کب) په خېټه کې تر هغې ورځې پورې پاتې و

النصف

يَوۡمِ يُبۡعَثُوۡنَ ﴿۱۴۴﴾ فَنَبَذۡنٰهُ بِالۡعَرَآءِ وَ

چې دوی به بیا ژوندي راپاڅولی شي(144) نو
مونږ هغه په ډاګه میدان کې وغورځاوه،

هُوَ سَقِیۡمٌ ﴿۱۴۵﴾ وَ اَنۡۢبَتۡنَا عَلَیۡهِ شَجَرَةً

په دې حال کې چې ناروغ و(145) او مونږ په ده
باندې یو څېلۍ داره

مِّنۡ یَّقۡطِیۡنٍ ﴿۱۴۶﴾ وَ اَرۡسَلۡنٰهُ اِلٰی مِائَةِ

ونه را زرغونه کړه(146) او مونږ دی لیږلی و سل
زرو خلقو ته

اَلۡفٍ اَوۡ یَزِیۡدُوۡنَ ﴿۱۴۷﴾ فَاٰمَنُوۡا

بلکې دوی زیات وو(147) نو دوی ایمان راوړ،

فَمَتَّعۡنٰهُمۡ اِلٰی حِیۡنٍ ﴿۱۴۸﴾ فَاسۡتَفۡتِهِمۡ

نو مونږ دوی ته تر یو وخته پورې نفع ورکړه(
148) نو ته له

اَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ﴿١٤٩﴾ اَمْ

دوى نه پوښتنه وکړه، ايا ستا د رب لپاره لوڼه دي او د دوى لپاره زامن دي؟(149) يا که

خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمْ

مونږ ملايك ښځې پيدا کړي دي، په داسې حال کې

شٰهِدُوْنَ ﴿١٥٠﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ مِّنْ اِفْكِهِمْ

چې دوى حاضر وو(150) خبردار! بېشکه دوى له خپلو بدترو دروغو څخه

لَيَقُوْلُوْنَ ﴿١٥١﴾ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ

خامخا (داسې) وايي(151) الله اولاد زېږولى دى. او بېشکه دوى يقينًا

لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٥٢﴾ اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى

دروغجن دي(152) ايا هغه (الله د ځان لپاره) لوڼه غوره کړي دي

الْبَنِيْنَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ قف كَيْفَ

په زامنو باندې(153) په تاسو څه شوي دي، څرنګه تاسو (دا) فيصله

تَحْكُمُوْنَ ﴿١٥٤﴾ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٥٥﴾ اَمْ

(او حکم) کوئ؟(154) ايا تاسو نصيحت نه اخلئ (155) ايا

لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥٦﴾ فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ

تاسو لپاره څه واضحه دليل شته؟(156) نو تاسو خپل کتاب راوړئ،

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٥٧﴾ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ

که چېرې تاسو رښتيني يئ(157) او دوی د هغه (الله)

وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ط وَلَقَدْ عَلِمَتِ

په مينځ کې او د پېريانو په مينځ کې نسب (د خپلوۍ نسبت) مقرر کړ، او يقينًا يقينًا پېريان په

الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ سُبْحٰنَ

دې پوه شوي دي چې بېشکه دوی به خامخا
حاضر کړی شي(158) الله لپاره پاکي

اللّٰهِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ

ده له هغو (خبرو) نه چې دوی يې وايي(159)
لېکن د الله خالص (غوره) کړی شوي

الْمُخْلَصِیْنَ ﴿۱۶۰﴾ فَاِنَّكُمْ وَ مَا

بنده ګان (له دغو خبرو نه بچ دي)(160) پس
بېشکه تاسو او هغه چې

تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ مَآ اَنْتُمْ عَلَیْهِ

تاسو يې عبادت کوئ(161) نه يئ تاسو په دې
(بت پرستۍ) سره ګمراه کوونکي (په فتنه کې

بِفٰتِنِیْنَ ﴿۱۶۲﴾ اِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ

اچوونکي د هيچا)(162) غير له هغه چا نه چې
هغه په

الْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا مِنَّا إِلَّا لَهُ مَقَامٌ

دوزخ کې ننوتونکی دی(163) او په مونږ کې
هيڅوك نشته مګر د هغه لپاره

مَّعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَ

معلوم ځای دی(164) او بېشکه خامخا مونږ صف
تړونکي يو(165) او

إِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾ وَإِن كَانُوا

بېشکه مونږ خامخا تسبيح ويونکي يو(166) او
بېشکه چې خامخا

لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ أَنَّ عِندَنَا ذِكْرًا مِّنَ

دوی به ويل(167) که چېرې مونږ سره د پخوانيو
خلقو (له کتابونو) نه

الْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ اللَّهِ

کوم ذکر (کتاب) وی(168) (نو) خامخا مونږ به د
الله خالص (او غوره)

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ

کړی شوي بنده ګان وو(169) نو دوی په دغه (قرآن) سره کافر شول، نو ژر ده

يَعْلَمُوْنَ ﴿١٧٠﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا

چې دوی به پوه شي(170) او یقینًا یقینًا زمونږ خبره زمونږ د لیږل شویو (رسولانو)

لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧١﴾ۚ اِنَّهُمْ لَهُمُ

بنده ګانو لپاره صادر شوې ده(171) چې بېشکه دوی، خامخا هم دوی

الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿١٧٢﴾ۖ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ

مدد کړی شوي دي(172) او بېشکه زمونږ لښکر، خامخا هم دوی

الْغٰلِبُوْنَ ﴿١٧٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى

غالب راتلونکي دي(173) نو ته له دوی نه مخ وګرځوه،

حِيْنٍ ﴿١٧٤﴾ وَّ اَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ

تر یو وخته پورې(174) او دوی ته ګوره، نو ژر ده چې دوی به

يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧٥﴾ اَفَبِعَذَابِنَا

(خپل انجام) ووینې(175) ایا نو دوی زمونږ د

يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿١٧٦﴾ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ

عذاب تلوار کوي(176) نو کله چې هغه د دوی په مېدان کې نازل شي،

فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿١٧٧﴾ وَتَوَلَّ

نو د وېرول شویو سبا به بد وي(177) او ته له دوی نه مخ

عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿١٧٨﴾ وَّ اَبْصِرْ فَسَوْفَ

وګرځوه تر یو وخته پورې(178) او ته ګوره، نو ژر ده

يُبۡصِرُوۡنَ ﴿١٧٩﴾ سُبۡحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الۡعِزَّةِ

چې دوی به ووینې(179) ستا رب لره پاکي ده
چې د عزت (او غلبې) مالك دی، له هغو خبرو نه

عَمَّا يَصِفُوۡنَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى

چې دوی (مشركان) يې بيانوي(180) او سلام دې
وي په

الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿١٨١﴾ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ

رسولانو باندې(181) او ټول د كمال صفتونه
خاص الله لره دي چې

ع
9

الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿١٨٢﴾

د عالمونو ټوله پالونكی دی(182)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

صٓ وَالۡقُرۡاٰنِ ذِى الذِّكۡرِؕ ۝١ بَلِ

صاد، قسم دی په قرآن چې د نصيحت والا دی(1)
بلکې

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فِىۡ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ۝٢ كَمۡ

هغه کسان چې کافران شوي دي، په کبر او
مخالفت کې دي(2) مونږه

اَهۡلَكۡنَا مِنۡ قَبۡلِهِمۡ مِّنۡ قَرۡنٍ فَنَادَوۡا

له دوی نه مخکې څومره ډېرې پېړۍ هلاکې کړې
دي، نو هغوی به چغې وهلې، حال دا چې دغه

وَّلَاتَ حِيۡنَ مَنَاصٍ ۝٣ وَعَجِبُوۡۤا اَنۡ

وخت به د خلاصې نه و(3) او دوی په دې وجه
تعجب کوي

جَآءَهُمۡ مُّنۡذِرٌ مِّنۡهُمۡ ۫ وَقَالَ

چې دوی ته له همدوی څخه یو وېروونکی راغی او کافرانو وویل:

الۡكٰفِرُوۡنَ هٰذَا سٰحِرٌ

دا (پېغمبر) جادوګر دی، سخت

كَذَّابٌ ۖ﴿۴﴾ اَجَعَلَ الۡاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۖ

دروغجن دی(4) ایا ده دغه معبودان یو اله وګرځول،

اِنَّ هٰذَا لَشَیۡءٌ عُجَابٌ ﴿۵﴾ وَانۡطَلَقَ

بېشکه دا خامخا ډېر عجیبه شیز دی(5) او له دوی څخه (د کفارو)

الۡمَلَاُ مِنۡهُمۡ اَنِ امۡشُوۡا وَاصۡبِرُوۡا

مشران لاړل، چې (ویل یې:) ځئ او په خپلو معبودانو ټینګ اوسئ،

عَلَىٰٓ اٰلِهَتِكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ

بېشکه دغه (توحيد) خامخا يو داسې شی دی
چې غوښتنه يې

يُّرَادُ ۚ ﴿٦﴾ مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ

کولی شي (زمونږ نه)(6) مونږ دغه (توحيد) په
وروستي دين (نصرانيت)

الْاٰخِرَةِ ۚ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

کې نه دی اورېدلی. نه دی دا مګر له خپله ځانه
نه جوړ کړی

اخْتِلَاقٌ ۚ ﴿٧﴾ ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْ

شوي دروغ(7) ايا زمونږ له مينځه په ده باندې
ذکر (وحي، قرآن)

بَيْنِنَا ۭ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِيْ ۚ

نازل کړی شو! بلکې دوی زما د ذکر (قرآن) په

بَلۡ لَّمَّا يَذُوۡقُوۡا عَذَابِ ؕ﴿۸﴾ اَمۡ عِنۡدَهُمۡ

هکله په شك كې دي بلكې لا تر اوسه دوى زما عذاب نه دى څکلى(8) ايا له دوى سره ستا د رب

خَزَآٮِٕنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ الۡعَزِيۡزِ

د رحمت خزانې دي (هغه رب) چې ډېر غالب،

الۡوَهَّابِ ۚ﴿۹﴾ اَمۡ لَهُمۡ مُّلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَ

عطا كوونكى دى؟(9) يا د دوى لپاره بادشاهي ده د اسمانونو او

الۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ۚ فَلۡيَرۡتَقُوۡا فِى

ځمكې او د هغه څه چې د دواړو په مينځ كې دي، نو دوى دې په

الۡاَسۡبَابِ ﴿۱۰﴾ جُنۡدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُوۡمٌ

اسبابو كې وخېژي(10) (دغه) داسې لښكر ګوټى دى له لښكرو څخه،

مِّنَ الْاَحْزَابِ ⑪ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ

چې په دغه ځای کې شکست ورکړی شوی دی( 11) تکذیب کړی و له دوی نه مخکې د

نُوْحٍ وَّ عَادٌ وَّ فِرْعَوْنُ ذُو الْاَوْتَادِ ⑫ وَ

نوح قوم او عادیانو او فرعون چې د مېخونو والا و(12) او

ثَمُوْدُ وَ قَوْمُ لُوْطٍ وَّ اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ ط

ثمودیانو او د لوط قوم او د ځنګل والاوو،

اُولٰٓىِٕكَ الْاَحْزَابُ ⑬ اِنْ كُلٌّ اِلَّا كَذَّبَ

همدغه ډلې دي(13) نه ده هره یوه (ډله) مګر چې د رسولانو تکذیب یې کړی دی،

ع 10

الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ⑭ وَ مَا يَنْظُرُ

نو زما عذاب پرې ثابت شو(14) او دوی انتظار نه کوي

هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا صَيۡحَةً وَّاحِدَةً مَّا لَهَا مِنۡ

مگر د یوې داسې چغې چې د هغې لپاره بېرته

فَوَاقٍ ﴿۱۵﴾ وَ قَالُوۡا رَبَّنَا عَجِّلۡ لَّنَا قِطَّنَا

گرځېدل نشته (وقفه نشته)(15) او دوی ویل: ای
زمونږ ربه! ته مونږ ته زمونږ برخه ژر راکړه، د

قَبۡلَ يَوۡمِ الۡحِسَابِ ﴿۱۶﴾ اِصۡبِرۡ عَلٰى مَا

حساب له ورځې نه مخکې(16) ته د دوی په دغو
خبرو صبر کوه او

يَقُوۡلُوۡنَ وَ اذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوٗدَ ذَا

ته زمونږ بنده داود یاد کړه چې د قوت والا و،

الۡاَيۡدِ ۚ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۱۷﴾ اِنَّا سَخَّرۡنَا

بېشکه هغه ډېر رجوع کوونکی و(17) بېشکه مونږ
له هغه

الْجِبَالَ مَعَهٗ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَ

سره غرونه تابع کړي وو چې د ورځې په اخره او اوله برخه کې

الْاِشْرَاقِ ﴿۱۸﴾ وَالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةً ؕ كُلٌّ

به يې تسبيح ويله(18) او مرغان مو (تابع کړي وو) په دې حال کې چې جمع کړی شوي به وو،

لَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۱۹﴾ وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ وَاٰتَيْنٰهُ

هر يو به ده ته ښه رجوع کوونکی و(19) اومونږ د هغه باچاهي مضبوطه کړې وه او مونږ هغه ته

الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾ وَهَلْ

حکمت او د غوڅې خبرې قوت ورکړی و(20) او ايا تا ته

اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ ۘ اِذْ تَسَوَّرُوا

وقف لازم

د جګړه کوونکو خبر راغلی دی، کله چې هغوی په (دېوال د)

الْمِحْرَابَ ۙ﴿٢١﴾ اِذْ دَخَلُوْا عَلٰى دَاوٗدَ

عبادت خانې راوختل(21) کله چې دوی په داود ورننوتل،

فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوْا لَا تَخَفْ ۚ خَصْمٰنِ

نو هغه له دوی نه وویرېده، دوی وویل: ته مه وېرېږه! (مونږ یو) دوه جګړه کوونکې ډلې، زمونږ

بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا

ځینو په ځینو نورو ظلم کړی دی، نو ته زمونږ په مینځ کې په

بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ اِلٰى

حقه سره فیصله وکړه او زیاتی مه کوه او ته نېغې لارې ته زمونږ

سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿٢٢﴾ اِنَّ هٰذَآ اَخِيْ ۗ لَهٗ

لار ښووونه وکړه(22) بیشکه دا زما ورور دی،

تِسۡعٌ وَّتِسۡعُوۡنَ نَعۡجَةً وَّلِيَ نَعۡجَةٌ

د ده نهه نوي (يو کم سل) ګډې (مېږې) دي او زما

وَّاحِدَةٌ ۟ فَقَالَ اَكۡفِلۡنِيۡهَا وَعَزَّنِيۡ فِي

يوه ګډه (مېږه) ده، نو ده وويل: ته ما د دې کفيل (مالك) وګرځوه او په خبرو کې يې په

الۡخِطَابِ ۝۲۳ قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ

ما غلبه کړې ده(23) ده (داود) وويل: يقينًا يقينًا ده په تا ظلم کړی دی، ستا د ګډې په غوښتلو

نَعۡجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ ؕ وَاِنَّ كَثِيۡرًا مِّنَ

(چې يو ځای يې کړي) له خپلو ګډو سره او بېشکه په شريکانو کې ډېر

الۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِيۡ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ

زيات (داسې وي چې) خامخا ځينې د دوی په ځينو

إِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

نورو ظلم کوي، غير له هغو کسانو نه چې ايمان يې راوړی دی او نيك عملونه يې کړي دي

وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ط وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا

او دوی ډېر لږ دي. او داود يقين وکړ چې بېشکه همدا خبره ده چې مونږ هغه وازمايه، نو له

فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّ

خپل رب نه يې بخښنه وغوښته او پرېوته، په داسې حال کې چې رکوع (او) سجده کوونکی و،

السجدة 11

اَنَابَ ۩ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ط وَاِنَّ لَهٗ

او رجوع يې وکړه(24) نو مونږ ده ته دغه (خطا) وبخښله، او بېشکه د هغه

عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿٢٥﴾ يٰدَاوٗدُ

لپاره زمونږ په نيز خامخا قربت دی او د ورتلو ښه ځای دی(25) ای داوده!

اِنَّا جَعَلۡنٰكَ خَلِيۡفَةً فِى الۡاَرۡضِ

بېشكه مونږ ته په ځمكه كې خليفه گرځولى يې،

فَاحۡكُمۡ بَيۡنَ النَّاسِ بِالۡحَقِّ وَلَا

نو ته د خلقو په مينځ كې په حقه سره فيصلې كوه او د

تَتَّبِعِ الۡهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنۡ سَبِيۡلِ

خواهشاتو پيروي مه كوه، (گنې) نو تا به د الله له لارې نه گمراه كړي،

اللّٰهِ‌ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَضِلُّوۡنَ عَنۡ سَبِيۡلِ

بېشكه هغه كسان چې د الله له لارې نه گمراه كېږي،

اللّٰهِ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌۢ بِمَا نَسُوۡا

د هغوى لپاره ډېر سخت عذاب دى، په سبب د دوى د هېرولو

ع
11

يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿٢٦﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ

ورځې د حساب لره(26) او مونږ اسمان

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ؕ ذٰلِكَ

او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي داسې نه دي پیدا کړي، چې باطل (او عبث) دي

ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ

دغه (باطل پیدا کول) د کافران شویو خلقو گمان دی، نو دا کافران شویو خلقو لپاره له

كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ ﴿٢٧﴾ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ

اوره هلاکت (او عذاب) دی(27) ایا مونږ به هغه کسان چې

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

ایمان یې راوړی دی او نیک عملونه یې کړي دي،

كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۫ اَمْ نَجْعَلُ

په ځمکه کې د فساد کوونکو په شان وګرځوو؟ ایا مونږ به متقیان د فاجرانو

الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ﴿۲۸﴾ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ

(بدکارانو) په شان وګرځوو؟(28) (دغه قرآن) کتاب دی چې

اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ وَ

مونږه تا ته نازل کړی دی، برکتناك دی، د دې لپاره چې دوی د ده په ایتونو کې فکر وکړي او د

لِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۲۹﴾ وَوَهَبْنَا

دې لپاره چې د خالصو عقلونو والا ترې پند واخلي(29) او مونږ

لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ ؕ نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ اِنَّهٗٓ

داود ته سلیمان عطا کړ، (هغه) ښه بنده و، بېشکه چې هغه ډېر

اَوَّابٌ ﴿٣٠﴾ اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ

رجوع کوونکی و(30) کله چې ده ته د ورځې په اخر کې هغه ګړندي خاص اسونه وړاندې کړی

الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ﴿٣١﴾ فَقَالَ اِنِّيْٓ

شول چې په درې پښو ودریږي(31) نو ده ویل: بېشکه ما د دغه مال

اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ

محبت محبوب ګڼلی دی د خپل رب د یاد په وجه، تر دې چې (دغه اسونه)

حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوْهَا

په پرده کې پټ شول(32) تاسو دغه ما ته بېرته راولئ،

عَلَيَّ فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوْقِ وَ

نو شروع شو چې په پنډیو او څټونو

الْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾ وَ لَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَ

يې لاس راښکه(33) او يقيناً يقيناً مونږ سليمان وازمايه،

اَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ

او د ده په کرسۍ مو يو جسد وغورځاوه، بيا ده

اَنَابَ ﴿۳۴﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ

رجوع وکړه(34) ده وويل: اى زما ربه! ته ما وبخښه او ما ته

مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ ۚ

داسې باچاهي راکړه چې له ما نه پس د چا لپاره هم مناسب نه وي،

اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ

بېشکه هم ته ښه عطا کوونکى يې(35) نو مونږ د ده لپاره هوا مسخره کړه

الرِّيۡحَ تَجۡرِىۡ بِاَمۡرِهٖ رُخَآءً حَيۡثُ

چې د ده په امر سره به چلېدله نرمه نرمه، چېرته
چې

اَصَابَ ۙ۝۳۶ وَ الشَّيٰطِيۡنَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَّ

به ده اراده وکړه(36) (مونږ تابع کړي وو د ده
لپاره) پېریان هر بنه معمار او بنه غوټه

غَوَّاصٍ ۙ۝۳۷ وَّ اٰخَرِيۡنَ مُقَرَّنِيۡنَ فِى

وهونکی(37) او نور (پېریان) چې په ځنځیرونو
کې له یو بل سره

الۡاَصۡفَادِ ۝۳۸ هٰذَا عَطَآؤُنَا فَامۡنُنۡ اَوۡ

تړل شوي وو(38) دا زمونږ عطا ده، نو ته احسان
کوه،

اَمۡسِكۡ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ۝۳۹ وَاِنَّ لَهٗ

یا یې وساته، بې له حسابه(39) او بېشکه د هغه

ع
12

وقف لازم

عِنۡدَنَا لَزُلۡفٰى وَ حُسۡنَ مَاٰبٍ ﴿۴۰﴾ وَ

لپاره زمونږ په نیز خامخا قرب دی، او (په اخرت کې) د ورتلو ښه ځای دی(40) او

اذۡكُرۡ عَبۡدَنَاۤ اَیُّوۡبَ ۘ اِذۡ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّیۡ

ته زمونږ بنده ایوب یاد کړه، کله چې هغه خپل رب ته اواز وکړ چې بېشکه ما ته

مَسَّنِیَ الشَّیۡطٰنُ بِنُصۡبٍ وَّ

شیطان ایذا او تکلیف

عَذَابٍ ﴿۴۱﴾ اُرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَ ۚ هٰذَا

رارسولی دی(41) ته (ځمکه) په خپلې پښې سره ووهه،

مُغۡتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّ شَرَابٌ ﴿۴۲﴾ وَ وَهَبۡنَا لَهٗۤ

دغه یخ غسلځای دی، او د څښلو اوبه دي(42) او مونږ ده ته د

اَهۡلَهٗ وَ مِثۡلَهُمۡ مَّعَهُمۡ رَحۡمَةً مِّنَّا وَ

ده اهل ورکړ او له دوی سره د دوی په مثل (نور هم) له خپل جانب نه د رحمت له وجې او

ذِكۡرٰى لِاُولِى الۡاَلۡبَابِ ﴿۴۳﴾ وَ خُذۡ

عقلمندو ته د نصیحت لپاره(43) او ته په خپل

بِيَدِكَ ضِغۡثًا فَاضۡرِبۡ بِّهٖ وَلَا

لاس سره جارو ونیسه، نو په هغې سره وهل وکړه او مه

تَحۡنَثۡ ؕ اِنَّا وَجَدۡنٰهُ صَابِرًا ؕ نِعۡمَ

حانث کیږه، بیشکه مونږ هغه صابر ومونده، (هغه) ښه سړی و،

الۡعَبۡدُ ؕ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۴۴﴾ وَ اذۡكُرۡ عِبٰدَنَاۤ

بیشکه هغه ډیر رجوع کوونکی و(44) او ته زمونږ بنده ګان

إِبْرٰهِيْمَ وَإِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ أُولِي

ابراهیم، او اسحٰق او یعقوب یاد کړه چې د (عمل
د) قوت او (حق لیدونکو)

الْأَيْدِيْ وَالْأَبْصَارِ ﴿٤٥﴾ إِنَّآ أَخْلَصْنٰهُمْ

سترګو خاوندان وو(45) بېشکه مونږ دوی په یو
خالص خوی

بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّهُمْ

سره خالص کړي دي چې هغه د اخرت یادول دي
(46) او بېشکه دوی

عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ﴿٤٧﴾ وَ

زمونږ، په نیز خامخا له غوره کړی شویو، بهترو
خلقو څخنې دي(47) او

اذْكُرْ إِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَذَا

ته اسماعیل او الیسع او

الْكِفْلِ ؕ وَكُلٌّ مِّنَ الْاَخْيَارِ ﴿٤٨﴾ هٰذَا

ذوالکفل یاد کړه، دغه هر یو د خیر او بهترۍ والا وو(48) دا

ذِكْرٌ ؕ وَاِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ لَحُسْنَ

پند دی، او بېشکه د متقیانو لپاره خامخا د ورتلو

مَاٰبٍ ﴿٤٩﴾ جَنّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ

ښه ځای دی(49) چې د همېشه استوګنې جنتونه دي، په داسې حال کې چې د دوی لپاره یې

الْاَبْوَابُ ﴿٥٠﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا يَدْعُوْنَ

دروازې ښې پرانستې دي(50) په دغو کې به تکیه وهلې وي، په دغو (جنتونو) کې

فِيْهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ وَّشَرَابٍ ﴿٥١﴾ وَ

به دوی ډېرې مېوې او مشروب راغواړي(51) او

عِنۡدَهُمۡ قٰصِرٰتُ الطَّرۡفِ

له دوی سره به د نظر رامنع کوونکې همځولې

اَتۡرَابٌ ﴿۵۲﴾ هٰذَا مَا تُوۡعَدُوۡنَ لِيَوۡمِ

ښځې وي(52) دا (ثواب او نعمتونه) هغه څه دي
چې تاسو ته يې د حساب د ورځې لپاره وعده

الۡحِسَابِ ﴿۵۳﴾ اِنَّ هٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهٗ

درکولی شي(53) بېشکه دا خامخا زمونږ داسې
رزق دی، چې ده لره هېڅ

مِنۡ نَّفَادٍ ﴿۵۴﴾ هٰذَا ؕ وَاِنَّ لِلطّٰغِيۡنَ لَشَرَّ

خلاصېدل نشته(54) دغه (د مومنانو حال) دی او
بېشکه د سرکشانو لپاره خامخا د

مَاٰبٍ ﴿۵۵﴾ جَهَنَّمَ ۚ يَصۡلَوۡنَهَا ۚ فَبِئۡسَ

ورتلو ډېر بد ځای دی(55) چې جهنم دی، دوی
به په هغه کې داخلېږي،

الْمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هٰذَا ۙ فَلْيَذُوْقُوْهُ حَمِيْمٌ وَّ

نو هغه بده بستره ده(56) دغه اېشېدلې اوبه او
زوې دي، نو دوی

غَسَّاقٌ ﴿٥٧﴾ ۙ وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖٓ

دې دا وڅکي(57) او بل (عذاب) دی له دغه

اَزْوَاجٌ ﴿٥٨﴾ ؕ هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۚ

قسم نه، څو قسمه(58) دغه یوه ډله ده چې له
تاسو سره په

لَا مَرْحَبًا بِهِمْ ؕ اِنَّهُمْ صَالُوا

ډېر تکلیف سره ننوتونکي دي، دوی ته دې هېڅ
خوشالي نه وي، بېشکه دوی اور ته

النَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ ۚ لَا مَرْحَبًا

داخلېدونکي دي(59) هغوی به ووايي: بلکې تاسو
چې یئ، تاسو ته دې هېڅ خوشالي نه وي،

بِكُمْ ؕ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا ۚ فَبِئْسَ

تاسو دغه (عذاب) مونږ ته راوړاندې کړی دی، نو دا (دوزخ)

الْقَرَارُ ۝٦٠ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا

بد قرار ځای دی(60) دوی به ووایي: ای زمونږ ربه! چا چې مونږ ته دا راوړاندې کړی دی، نو ته

هٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ۝٦١ وَ

هغه ته په اور کې عذاب دوه چنده ورزیات کړه( 61) او

قَالُوْا مَا لَنَا لَا نَرٰى رِجَالًا كُنَّا

دوی به ووایي: پر مونږ څه شوي دي چې مونږ هغه سړي نه وینو چې مونږ به هغوی

نَعُدُّهُمْ مِّنَ الْاَشْرَارِ ۝٦٢ اَتَّخَذْنٰهُمْ

له اشرارو (بدترو خلقو) څنې شمېرل؟(62) ایا مونږ هغوی

سِخۡرِيًّا اَمۡ زَاغَتۡ عَنۡهُمُ

په مسخرو سره نیولې وو، یا که له هغوی نه زمونږ

الۡاَبۡصَارُ ﴿۶۳﴾ اِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ

سترګې کږې شوې دي؟(63) بېشکه دغه خامخا
حق دي، يعنې (دا) د دوزخيانو خپل

ع 13

اَهۡلِ النَّارِ ﴿۶۴﴾ قُلۡ اِنَّمَاۤ اَنَا مُنۡذِرٌ ۖۗ وَّ مَا

مينځې جګړه کول(64) ته (دوی ته) ووايه: زه خو
بس وېروونکی يم، او نشته دی

مِنۡ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ الۡوَاحِدُ الۡقَهَّارُ ﴿۶۵﴾ رَبُّ

حق معبود غير له الله نه چې يو او ډېر غلبې والا
دی(65) چې رب دی

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا

د اسمانونو او ځمکې او د هغه څه چې د دواړو په
مينځ کې دي،

الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝٦٦ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا

چې ډېر غالب، ښه بخښونکی دی(66) ته (دوی ته) ووایه: دغه (قرآن)

عَظِيْمٌ ۝٦٧ اَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُوْنَ ۝٦٨ مَا

ډېر لوی خبر دی(67) تاسو له ده نه مخ گرځوونکي یئ(68) ما ته

كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَاِ الْاَعْلٰٓى اِذْ

د ملاِ اعلیٰ (لوړ مجلس) په باره کې هېڅ علم نشته، کله چې دوی په خپل

يَخْتَصِمُوْنَ ۝٦٩ اِنْ يُّوْحٰٓى اِلَيَّ اِلَّآ اَنَّمَآ

مینځ کې اختلاف کوي(69) ما ته وحي نه کېږي مگر د دې چې بېشکه همدا خبره ده

اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧٠ اِذْ قَالَ رَبُّكَ

چې زه ښکاره وېروونکی یم(70) کله چې ستا رب

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّیْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ

ملايکو ته وويل چې بېشکه زه له خټې نه د يو بشر

طِيْنٍ ﴿۷۱﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَ نَفَخْتُ فِيْهِ

پيدا کوونکی يم(71) نو کله چې زه هغه برابر کړم
او په هغه کې له خپل (پيدا کړي)

مِنْ رُّوْحِیْ فَقَعُوْا لَهٗ

روح نه پو کړم، نو تاسو هغه ته پرېوځئ،

سٰجِدِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ

چې سجده کوونکي يئ(72) نو ملايکو ټولو

اَجْمَعُوْنَ ﴿۷۳﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اِسْتَكْبَرَ وَ

سجده وکړه(73) غير له ابليس نه، هغه لويي وکړه
او

كَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٤﴾ قَالَ يٰۤاِبْلِيْسُ

شو له کافرانو څخه(74) (الله) وويل: ای ابليسه!

مَا مَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ

ته هغه کس ته له سجدې کولو نه څه شي منع کړې، چې ما پخپلو دواړو

بِيَدَيَّ ؕ اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ

لاسونو پيدا کړی دی؟ ايا تا لويي وکړه، يا ته (له شروع نه) د لوړو اوچتو

الْعَالِيْنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ؕ

خلقو څنې يې؟(75) هغه وويل: زه له ده نه ډېر غوره يم، تا زه له

خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّ خَلَقْتَهٗ مِنْ

اوره پيدا کړی يم او هغه دې له خټې نه

طِيۡنٍ ﴿۷۶﴾ قَالَ فَاخۡرُجۡ مِنۡهَا فَاِنَّكَ

پيدا کړی دی(76) (الله) وويل: نو ته له دې (جنت) نه ووځه، پس بېشکه ته

رَجِيۡمٌ ۖ ﴿۷۷﴾ وَّاِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِىۡۤ اِلٰى يَوۡمِ

رټل شوی يې(77) او بېشکه په تا باندې د بدلې تر ورځې پورې

الدِّيۡنِ ﴿۷۸﴾ قَالَ رَبِّ فَاَنۡظِرۡنِىۡۤ اِلٰى يَوۡمِ

زما لعنت دی(78) هغه وويل: ای زما ربه! نو ته ما ته تر هغې ورځې پورې مهلت راکړه چې دوی

يُبۡعَثُوۡنَ ﴿۷۹﴾ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ

(خلق) به بيا راژوندي کولی شي(79) الله وويل: پس بېشکه ته له مهلت ورکړی

الۡمُنۡظَرِيۡنَ ۙ ﴿۸۰﴾ اِلٰى يَوۡمِ الۡوَقۡتِ

شويو څخه يې(80) د معلوم وخت تر ورځې

الْمَعْلُوْمِ ﴿٨١﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ

پورې(81) ده وويل: نو قسم ستا پر عزت! چې خامخا ضرور

لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٢﴾ اِلَّا عِبَادَكَ

به زه دوی ټول گمراه کوم(82) مگر په دوی کې ستا هغه بنده گان

مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٨٣﴾ قَالَ فَالْحَقُّ وَ

چې خالص کړی شوي دي(83) الله وويل: پس حقه خبره دا ده، او

الْحَقَّ اَقُوْلُ ﴿٨٤﴾ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ

زه حقه خبره کوم(84) چې خامخا ضرور به زه جهنم ډکوم له تا نه او له هغه چا نه

وَ مِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٥﴾ قُلْ

چې په دوی کې ستا پیروي وکړي، له ټولو نه(85) ته (دوی ته) ووایه:

مَآ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ وَّ مَآ اَنَا

زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر نه غواړم او زه له تكلف

مِنَ الۡمُتَكَلِّفِيۡنَ ﴿۸۶﴾ اِنۡ هُوَ اِلَّا ذِكۡرٌ

كوونكو څخه نه يم(86) نه دى دا (قرآن) مګر د

لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۸۷﴾ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعۡدَ

عالمونو لپاره نصيحت(87) او خامخا ضرور به تاسو څه وخت وروسته د ده

ع 14

حِيۡنٍ ﴿۸۸﴾

په خبر عالمان شئ(88)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

تَنۡزِیۡلُ الۡکِتٰبِ مِنَ اللّٰہِ الۡعَزِیۡزِ

د دې کتاب نازلول د الله له جانبه دي، چې ډېر
غالب،

الۡحَکِیۡمِ ﴿۱﴾ اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَیۡکَ الۡکِتٰبَ

ښه حکمت والا دی(1) بېشکه مونږ تا ته کتاب په

بِالۡحَقِّ فَاعۡبُدِ اللّٰہَ مُخۡلِصًا لَّہُ

حقه سره نازل کړی دی، نو ته د الله عبادت کوه،
په داسې حال کې چې دين هغه (الله) لره خالص

الدِّیۡنَ ﴿۲﴾ اَلَا لِلّٰہِ الدِّیۡنُ الۡخَالِصُ ؕ وَ

کوونکی يې(2) خبردار شئ! خاص د الله لپاره
خالص دين دی، او

وقف لازم

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۘ

هغه كسان چې له هغه نه غير يې دوستان
(كارسازي) نيولي دي (وايي:) مونږ د دوی

مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ

عبادت نه كوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله
ته نژدې كړي، ښه نژدې كول، بېشكه الله به د

زُلْفٰى ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْ مَا

دوی په مينځ كې په هغو خبرو كې فيصله كوي

هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۬ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا

چې دوی په هغو كې اختلاف كوي، بېشكه الله
هدايت نه كوي

يَهْدِيْ مَنْ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾ لَوْ اَرَادَ

هغه چا ته چې هغه دروغجن، ډېر ناشكره وي(3)
كه الله غوښتلى

اللّٰهُ اَنۡ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصۡطَفٰى مِمَّا

چې (د ځان لپاره) اولاد ونيسي، (نو) خامخا ده
به له

يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ سُبۡحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ

خپله مخلوقه هغه غوره کړي وی چې دا يې
غواړي، هغه لره پاکي ده. هم دی الله

الۡوَاحِدُ الۡقَهَّارُ ۝۴ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

دی چې يو (او) ډېر غالب دی(4) هغه اسمانونه او

الۡاَرۡضَ بِالۡحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيۡلَ عَلَى

ځمکه په حقه سره پيدا کړي دي، هغه شپه په

النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيۡلِ وَ

ورځ تاووي (نغاړي) او ورځ په شپه تاووي او

سَخَّرَ الشَّمۡسَ وَ الۡقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجۡرِیۡ

هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر يو مقرر کړی

لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اَلَا هُوَ الۡعَزِيۡزُ

شوي نېټې ته روان دی، خبردار شئ! همغه ښه غالب،

الۡغَفَّارُ ﴿۵﴾ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ نَّفۡسٍ وَّاحِدَةٍ

ښه بخښونکی دی(5) هغه تاسو له يو نفس نه پيدا کړي يئ،

ثُمَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَ اَنۡزَلَ لَكُمۡ

بيا يې له هغه نه د هغه ښځه پيدا کړه او تاسو لپاره يې

مِّنَ الۡاَنۡعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزۡوَاجٍ ؕ

له څارويو نه اته جوړې پيدا کړې،

يَخۡلُقُكُمۡ فِيۡ بُطُوۡنِ اُمَّهٰتِكُمۡ خَلۡقًا

هغه تاسو د خپلو میندو په خیټو کې پیدا کوي،

مِّنۡۢ بَعۡدِ خَلۡقٍ فِيۡ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ؕ

یو قسم پیدا کول، وروسته له بل قسم پیدا کولو نه، په دریو تیارو کې،

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمۡ لَهُ الۡمُلۡكُ ؕ لَاۤ اِلٰهَ

دغه الله ستاسو رب دی، بادشاهي خاص د هغه لپاره ده، نشته دی هیڅ حق معبود

اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصۡرَفُوۡنَ ۝۶ اِنۡ تَكۡفُرُوۡا

مګر هغه دی، نو کوم طرف ته تاسو ګرځولی شئ( 6) که تاسو کفر

فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنۡكُمۡ ۟ وَلَا يَرۡضٰى

اختیار کړئ، نو بېشکه الله له تاسو نه بې پروا دی، او هغه د خپلو بنده ګانو

لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ

لپاره کفر نه خوښوي، او که تاسو شکر وباسئ (نو) دی دغه (شکر) تاسو ته خوښوي،

لَكُمْ ۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۗ

او هېڅ بار وړونکی د بل بار نه وړي، بیا خاص

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ

خپل رب ته ستاسو بېرته ورتله دي، نو هغه به

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۗ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ

تاسو په هغو عملونو خبر کړي چې تاسو به کول، بېشکه هغه

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ وَاِذَا مَسَّ

د سینو په خبرو ښه عالم دی(7) او کله چې

الۡاِنۡسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهٗ مُنِيۡبًا اِلَيۡهِ

انسان ته سختي ورسېږي (، نو) خپل رب بلي، په داسې حال کې چې هغه ته رجوع کوونکی وي،

ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ نِعۡمَةً مِّنۡهُ نَسِىَ مَا كَانَ

بیا چې کله هغه (الله) ده ته له خپل جانب نه نعمت ورکړي (، نو) هېر کړي هغه ذات

يَدۡعُوۡۤا اِلَيۡهِ مِنۡ قَبۡلُ وَ جَعَلَ لِلّٰهِ

چې ده به له دې (نعمت) نه مخکې دغه (تکلیف لرې کولو) ته باله، او الله

اَنۡدَادًا لِّيُضِلَّ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ ؕ قُلۡ تَمَتَّعۡ

لپاره شریکان مقرر کړي، د دې لپاره چې د هغه (الله) له لارې نه (خلق)

بِكُفۡرِكَ قَلِيۡلًا ۖۗ اِنَّكَ مِنۡ اَصۡحٰبِ

گمراه کړي، ته ووایه: ته په خپل کفر سره لږه نفعه واخله، بېشکه ته له

النَّارِ ﴿٨﴾ اَمَّنۡ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيۡلِ

دوزخيانو څخه يې(8) ايا هغه څوك چې هغه د شپې په ساعتونو

سَاجِدًا وَّ قَآئِمًا يَّحۡذَرُ الۡاٰخِرَةَ وَ

کې اطاعت کوونکی دی، چې سجده کوونکی او قيام کوونکی وي، له اخرت نه ويرېږي او

يَرۡجُوۡا رَحۡمَةَ رَبِّهٖ ؕ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِى

د خپل رب د رحمت اميد لري، ته ووايه: ايا سره برابرېدلی شي

الَّذِيۡنَ يَعۡلَمُوۡنَ وَ الَّذِيۡنَ لَا

هغه کسان چې پوهېږي او هغه کسان چې نه

يَعۡلَمُوۡنَ ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا

پوهېږي، بېشکه همدغه د خالصو عقلونو والا

ع
15

الْاَلْبَابِ ۝٩ قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

نصيحت اخلي(9) ته (دوى ته د الله له جانبه) ووايه: اى زما هغو بنده ګانو چې ايمان يې راوړى

اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ

دى: تاسو له خپل رب نه ووېرېږئ، د هغو كسانو

هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَاَرْضُ اللّٰهِ

لپاره چې په دنيا كې يې نېكي كړې ده؛ لويه نېكي (او بدله) ده او د الله ځمكه

وَاسِعَةٌ ؕ اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ

فراخه ده، بېشكه يواځې صبر كوونكو ته د هغوى

اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝١٠ قُلْ اِنِّيْٓ

اجر بې حسابه پوره وركاوه شي(10) ته (دوى ته) ووايه: بېشكه

أُمِرۡتُ اَنۡ اَعۡبُدَ اللّٰهَ مُخۡلِصًا لَّهُ

ما ته حکم راکړ شوی دی چې زه د الله عبادت کوم، په داسې حال کې چې هغه (الله) لره

الدِّیۡنَ ۟ۙ﴿۱۱﴾ وَ اُمِرۡتُ لِاَنۡ اَکُوۡنَ اَوَّلَ

دین خالص کوونکی یم(11) او ما ته حکم راکړی شوی دی چې زه تر ټولو اول

الۡمُسۡلِمِیۡنَ ﴿۱۲﴾ قُلۡ اِنِّیۡۤ اَخَافُ اِنۡ

مسلمان یم(12) ته (دوی ته) ووایه: بېشکه زه که د

عَصَیۡتُ رَبِّیۡ عَذَابَ یَوۡمٍ

خپل رب نافرماني وکړم. د ډېرې لویې ورځې له

عَظِیۡمٍ ﴿۱۳﴾ قُلِ اللّٰهَ اَعۡبُدُ مُخۡلِصًا لَّهٗ

عذاب نه وېرېږم(13) ته (دوی ته) ووایه: زه خاص د الله عبادت کوم،

دِيۡنِىۡ ﴿۱۴﴾ فَاعۡبُدُوۡا مَا شِئۡتُمۡ مِّنۡ

په داسې حال کې چې هغه لره خپل دین خالص کوونکی یم(14) نو تاسو له هغه نه

دُوۡنِهٖ ؕ قُلۡ اِنَّ الۡخٰسِرِيۡنَ الَّذِيۡنَ

غیر د څه شي چې غواړئ، عبادت وکړئ، ته ووایه: بېشکه نقصان کوونکي هغه کسان دي چې

خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ وَ اَهۡلِيۡهِمۡ يَوۡمَ

د قیامت په ورځ یې خپلو ځانونو او خپل اهل ته

الۡقِيٰمَةِ ؕ اَلَا ذٰلِكَ هُوَ الۡخُسۡرَانُ

تاوان رسولی دی. خبردار شئ، دغه (تاوان) همدغه

الۡمُبِيۡنُ ﴿۱۵﴾ لَهُمۡ مِّنۡ فَوۡقِهِمۡ ظُلَلٌ مِّنَ

ښکاره تاوان دی(15) د دوی لپاره به د دوی له

النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ؕ ذٰلِكَ

پاسه د اور چوپالونه وي او د دوی له لاندې نه به هم چوپالونه وي.

يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهٖ عِبَادَهٗ ؕ يٰعِبَادِ

دغه (عذاب) دی چې الله په ده سره خپل بنده گان وېروي، ای زما بنده گانو!

فَاتَّقُوْنِ ﴿۱۶﴾ وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا

نو تاسو زما نه ووېرېږئ(16) او هغه کسان چې له

الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا اِلَى

طاغوت نه يې ځان وساته، يعنې د هغو له عبادت کولو نه او

اللّٰهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ

الله ته يې رجوع وکړه، خاص د دوی لپاره زېرى دی، نو ته زما په

عِبَادِ ﴿١٧﴾ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ

بنده گانو زيرى وكړه(17) هغه (بنده گان) چې
خبره په غور سره اوري،

فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

نو د هغې د تر ټولو ښې پيروي كوي، دا هغه
كسان دي چې

هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا

الله دوى ته هدايت كړى دى او همدغه كسان د
خالص

الْاَلْبَابِ ﴿١٨﴾ اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ

عقل والا دي(18) ايا نو هغه څوك چې په هغه
باندې

الْعَذَابِ ؕ اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ فِي

د عذاب خبره ثابته شوې ده، ايا نوته هغه څوك

النَّارِ ﴿١٩﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ

خلاصولی شي چې په اور کې وي(19) لېکن هغه کسان چې له خپل رب نه

لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ

وبربري خاص د دوی لپاره داسې بالاخانې دي چې د هغو له پاسه (نورې) نبې جوړې کړی شوي

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۬ وَعْدَ

بالاخانې دي، چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، (دا) د

اللّٰهِ ۭ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿٢٠﴾ اَلَمْ

الله کړې وعده ده، الله د وعدې مخالفت نه کوي (20) ايا تا نه

تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

دي کتلي چې بېشکه الله له بره نه اوبه نازلې کړې دي،

فَسَلَكَهٗ يَنَابِيۡعَ فِى الۡاَرۡضِ ثُمَّ

بیا یې دغه (اوبه) په ځمکه کې په چینو کې ننه ایستي دي، بیا هغه

یُخۡرِجُ بِهٖ زَرۡعًا مُّخۡتَلِفًا اَلۡوَانُهٗ ثُمَّ

په دغو (اوبو) سره فصل راوباسي، په دې حال کې چې د هغه رنګونه مختلف وي،

یَهِیۡجُ فَتَرٰىهُ مُصۡفَرًّا ثُمَّ یَجۡعَلُهٗ

بیا هغه وچ شي، نو ته هغه (شین رنګی فصل) تک زیړ وینې، بیا دغه (فصل) لره هغه رژېدلی (مات

حُطَامًا ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَذِكۡرٰى لِاُولِى

شوی) وګرځوي، بېشکه په دغه کې د خالصو عقلونو والاو لپاره

ع 16

الۡاَلۡبَابِ ﴿۲۱﴾ اَفَمَنۡ شَرَحَ اللّٰهُ صَدۡرَهٗ

خامخا نصیحت دی(21) ایا نو هغه څوك چې الله د هغه سینه د

لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ

اسلام لپاره پرانستلي وي، نو دغه کس په رڼا کې
وي د خپل رب له جانبه،

فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ

پس هلاکت دی هغو کسانو ته چې د هغوی زړونه
د الله له ذکره سخت دي،

اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٢﴾ اَللّٰهُ

دغه کسان په ښکاره گمراهۍ کې دي(22) الله تر

نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا

ټولو ښکلی کلام نازل کړی دی، چې داسې کتاب
دی

مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ

چې په خپل مینځ کې مشابه دی، مکرر (او
غبرگ) دی،

الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ ثُمَّ تَلِيْنُ

چې له ده نه د هغو کسانو پوستکي ځيګ کېږي چې له خپل رب نه وېرېږي، بيا د دوی

جُلُوْدُهُمْ وَ قُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ

پوستکي او د دوی زړونه د الله ذکر ته نرم شي،

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ

دغه د الله هدايت دی، چې چا ته وغواړي په ده سره هدايت ورکوي او هغه

يَّشَآءُ ؕ وَ مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ

څوک چې الله يې ګمراه کړي، نو د هغه لپاره هيڅوک لار

هَادٍ ﴿٢٣﴾ اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ

ښودونکی نشته(23) ايا نو هغه څوک چې په خپل مخ سره

الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَقِيْلَ

ځان بچ کوي له سخت عذاب نه په ورځ د قیامت کې

لِلظّٰلِمِيْنَ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ

او ظالمانو ته به وویل شي: تاسو وڅکئ (سزا د) هغو عملونو

تَكْسِبُوْنَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ

چې تاسو به کول(24) هغو کسانو تکذیب کړی و چې له

قَبْلِهِمْ فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ

دوی نه مخکې وو، نو په دوی عذاب له هغه ځایه راغی

لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٥﴾ فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْيَ

چې دوی نه پوهېدل(25) نو الله په دوی په دنیایي ژوند کې

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

رسوايي وڅکوله او خامخا د اخرت عذاب تر

اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ

ډېرلو لوی دی، که چېرې دوی پوهېدلی(26) او يقينًا يقينًا

ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ

مونږ د خلقو لپاره په دې قرآن کې هر قسمه مثال بيان کړی دی،

كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٧﴾ ۚ قُرْاٰنًا

د دې لپاره چې دوی نصيحت واخلي(27) په داسې حال کې

عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ

چې دغه عربي (واضح) قرآن دی، د کوږوالي والا نه دی، د دې لپاره

وقف لازم

يَتَّقُوْنَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ

چې دوی پرهېزګاره شي(28) الله يو مثال بيانوي،
يو (غلام) سړی دی،

شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا

په ده کې بدخويه په خپل مينځ کې ناسازه کسان
شريکان دي او بل (غلام) سړی دی چې سالم (او

لِّرَجُلٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَلْحَمْدُ

پوره) د يو سړي دی، ايا دغه دواړه په حال کې
سره برابر دي؟ ټول د کمال صفتونه خاص د الله

لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّكَ

لپاره دي بلکې د دوی اکثره نه پوهېږي(29)
بيشکه ته هم

مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ

مړ کېدونکی يې او بيشکه دوی (هم) مړ
کېدونکي دي(30) بيا بيشکه

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ

تاسو به د قيامت په ورځ د خپل رب په وړاندې،

ع 17

تَخْتَصِمُوْنَ ۟

يو تربله جګړه کوئ(31)

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَ

نو له هغه چا نه لوی ظالم څوك دی چې په الله

كَذَّبَ بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ اَلَيْسَ فِيْ

دروغ تړي او رښتيا (قرآن) دروغ ګڼي، کله چې
دغه (رښتيا) ده ته راشي؟ ايا په

جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَالَّذِيْ

دوزخ کې د کافرانو لپاره استوګنځی نشته؟(32)
او هغه کس

جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ

چې صدق (رښتينی دين) يې راوړ او (هغه چې) د
دغه (صدق) تصديق يې وکړ (نو) هم

هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿٣٣﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ

دغه کسان پرهېزګاران دي(33) د دوی لپاره د
خپل رب په نيز

عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا

هغه څه دي چې دوی يې غواړي، دغه د

الْمُحْسِنِيْنَ ۝۳۴ۚۖ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

نېکي کوونکو بدله ده(34) د دې لپاره چې الله له
دوی

اَسْوَاَ الَّذِیْ عَمِلُوْا وَ يَجْزِيَهُمْ

نه هغه بدتر گناهونه لرې (ختم) کړي چې دوی
کړي دي او دوی ته د دوی اجر

اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِیْ كَانُوْا

بدله ورکړي، په سبب د هغو تر ټولو ښکلو عملونو

يَعْمَلُوْنَ ۝۳۵ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ

چې دوی به کول(35) ايا الله خپل بنده ته ښه
کافي کېدونکی نه دی

وَ يُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَ

او دوی تا په هغو (معبودانو) وېروي چې له دغه (الله) نه غير دي او هغه څوك چې

مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۚ﴿۳۶﴾ وَ

الله يې گمراه کړي، نو د هغه لپاره هيڅوك نېغه لار ښودونکی نشته(36) او

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ؕ

هغه څوك چې الله ورته هدايت وکړي، نو د هغه لپاره هيڅوك گمراه کوونکی نشته.

اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِى انْتِقَامٍ ﴿۳۷﴾ وَ

ايا الله ښه غالب او انتقام والا نه دی؟(37) او

لَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

يقينًا که ته له دوی نه تپوس وکړې چې اسمانونه او

الْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ

ځمکه چا پیدا کړي دي (، نو) دوی به خامخا لازمًا ووایي چې ''الله''، ته (دوی ته) ووایه:

مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَنِيَ

تاسو ما ته خبر راکړئ، هغه (معبودان) چې تاسو يې له الله نه غير بلئ.

اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖٓ اَوْ

که چېرې الله ما ته د ضرر رسولو اراده وکړي، ایا دغه (ستاسو معبودان) د هغه د ضرر لرې کوونکي

اَرَادَنِيْ بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكٰتُ

دي؟ یا که هغه (الله) ما سره د رحمت اراده وکړي، ایا دغه (معبودان) د

رَحْمَتِهٖ ؕ قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ؕ عَلَيْهِ

هغه د رحمت منع کوونکي دي؟ ته (دوی ته) ووایه: زما لپاره بس الله کافي دی،

يَتَوَكَّلُ الۡمُتَوَكِّلُوۡنَ ﴿۳۸﴾ قُلۡ يٰقَوۡمِ

خاص په ده باندې توكل كوونكي توكل كوي(38)
ته (دوی ته) ووايه: ای زما قومه:

اعۡمَلُوۡا عَلٰى مَكَانَتِكُمۡ اِنِّىۡ عَامِلٌ‌ ۚ

تاسو په خپله طريقه (او ځای) عمل كوئ، بېشكه
زه هم عمل كوونكی يم،

فَسَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ۙ‏ ﴿۳۹﴾ مَنۡ يَّاۡتِيۡهِ عَذَابٌ

نو ژر به تاسو وپېژنئ(39) هغه څوك چې ده ته به
داسې عذاب راشي

يُّخۡزِيۡهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٌ

چې دا به وشرموي او په ده به دايمي عذاب

مُّقِيۡمٌ‏ ﴿۴۰﴾ اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ

نازل شي(40) بېشكه مونږ په تا باندې كتاب نازل
كړی دی

لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى

د خلقو لپاره په حقه سره، نوهغه څوك چې په سمه
لار روان شي،

فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ

نو د خپل ځان لپاره يې نفع ده او هغه څوك چې
ګمراه شي، نو بېشكه همدا خبره ده

عَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ

چې دی د همدغه (ځان) په ضرر ګمراه كېږي او
ته په دوی باندې له

ع 1

بِوَكِيْلٍ ﴿٤١﴾ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ

سره نګران نه يې(41) الله نفسونه (ساګاني)
قبضوي د هغو د مرګ په وخت كې او هغه (نفس)

مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ۚ

چې مړ نه وي د (هغه ساه) د خوب په وخت كې
(قبضوي)، بيا

فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَ

هغه (ساه) ساتي چې په هغې يې د مرګ فيصله
کړې وي او

يُرْسِلُ الْاُخْرٰۤى اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

هغه بله تر مقررې نېټې پورې راخوشې کړي،

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

بېشکه په دغو (قبض، ساتلو او پرېښودلو) کې
خامخا لويې نښې دي د هغه قوم لپاره

يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ

چې ښه فکر کوي(42) بلکې ايا دوی له الله نه

اللّٰهِ شُفَعَآءَ ؕ قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا

غير شفاعت کوونکي نيولي دي، ته (دوی ته)
ووايه: ايا (دوی به شفاعت کوي!) اګر که دوی

يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٤٣﴾ قُلْ

په داسې حال کې وي چې نه د څه شي مالکان وي او نه عقل لري(43) ته (دوی ته) ووايه:

لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ؕ لَهٗ مُلْكُ

شفاعت ټول خاص د الله په اختيار کې دی، خاص د هغه لپاره

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ ثُمَّ اِلَيْهِ

د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، بيا به تاسو خاص هغه

تُرْجَعُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ

ته بېرته بېول کېږئ(44) او کله چې الله يواځې ياد کړی شي (، نو)

اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

د هغو کسانو زړونه سخت تنګ شي چې په اخرت ايمان نه لري

بِالۡاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيۡنَ مِنۡ

او کله چې هغه (معبودان، بتان) یاد کړی شي چې له هغه (الله)

دُوۡنِهٖۤ اِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ ۝٤٥ قُلِ

نه غیر دي (، نو) ناڅاپه دوی ډېر خوشحالېږي( 45) ته ووایه:

اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

ای الله د اسمانونو اوځمکې پیدا کوونکیه،

عٰلِمَ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ اَنۡتَ تَحۡكُمُ

د غیبو او د ښکاره وو عالِمه، ته به د خپلو بنده ګانو په

بَيۡنَ عِبَادِكَ فِىۡ مَا كَانُوۡا فِيۡهِ

مینځ کې فیصله کوې، په هغو خبرو کې چې دوی به په هغو کې

يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

اختلاف كاوه(46) او كه په رښتيا سره د ظلم (شرك) كوونكو كسانو لپاره

مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ

هغه څه چې په ځمكه كې دي، ټول مملوك شي او د دغه په مثل نور ورسره شي،

لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ يَوْمَ

نو دوی به خامخا د قيامت په ورځ كې له بدتر عذاب نه د خلاصي لپاره دغه فديه وركړي. او

الْقِيٰمَةِ ؕ وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ

دوی ته به د الله له جانبه هغه څه ښكاره شي چې

يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا لَهُمْ

دوی به يې ګمان هم نه كاوه(47) او دوی ته به د

سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا وَ حَاقَ بِهِمْ مَّا

خپلو کړو عملونو بدۍ ښکاره شي او له دوی نه به هغه (عذاب) چاپېره شي چې دوی

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤٨﴾ فَاِذَا مَسَّ

به په هغه پورې استهزا کولې(48) نو کله چې

الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ

انسان ته تکليف ورسي (، نو) مونږ بلي، بيا چې کله ده ته مونږ له خپله

نِعْمَةً مِّنَّا قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى

جانبه نعمت ورکړو (، نو) دی وايي: دا خو ما ته يواځې (زما) د علم په سبب راکړ شوی دی،

عِلْمٍ بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

بلکې دغه (ورکړه) ازمېښت دی، او لېکن د دوی اکثره

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٩﴾ قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ

نه پوهېږي(49) يقينًا دغه خبره هغو كسانو (هم) كړې وه چې له

قَبْلِهِمْ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

دوی نه مخکې وو، نو د دغو کسانو هېڅ په کار رانغلل هغه (مالونه)

يَكْسِبُوْنَ ﴿٥٠﴾ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا

چې دوی به گټل(50) نو دغو (پخوانيو خلقو) ته د خپلو کړو عملونو بدۍ

كَسَبُوْا ؕ وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ

ورسېدلې او هغه کسان چې ظلم يې کړی دی له دغو خلقو نه (چې قريش دي) ژر به دوی ته د

سَيُصِيْبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۙ وَمَا

دوی د کړو عملونو بدۍ ورسېږي او دوی (مونږ لره)

هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٥١﴾ اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ

عاجزه کوونکي نه دي(51) او ايا دوی نه پوهېږي چې بېشکه

اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ

الله رزق فراخوي چا لپاره چې وغواړي او

يَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

تنگوي يې، بېشکه په دغو (فراخولو اوتنگولو) کې خامخا ډېرې نښې دي د هغه قوم لپاره

ع 2

يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ

چې ايمان راوړي(52) ته (دوی) ته ووايه: ای زما هغو بنده گانو

اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ

چې په خپلو ځانونو يې زياتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نااميده کېږئ،

رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ

بېشکه الله ټول ګناهونه بخښي، بېشکه دغه (الله)، هم

جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝۵۳ وَ

دی ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی( 53) او

اَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ

تاسو خپل رب ته رجوع وکړئ او هغه ته غاړه کېږدئ،

قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا

مخکې له دې نه چې په تاسو عذاب راشي، بیا به تاسو سره

تُنْصَرُوْنَ ۝۵۴ وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ

مدد نه کولی شي(54) او تاسو د تر ټولو ښه حکم (قرآن)

اُنۡزِلَ اِلَيۡكُمۡ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ

پيروي وکړئ هغه چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل کړې شوی دی مخکې

اَنۡ يَّاۡتِيَكُمُ الۡعَذَابُ بَغۡتَةً وَّاَنۡتُمۡ لَا

له دې نه چې په تاسو عذاب راشي ناڅاپه، حال دا چې

تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۵۵﴾ اَنۡ تَقُوۡلَ نَفۡسٌ

تاسو به نه پوهېږئ(55) (تاسو اوس خپل رب ته رجوع وکړئ) ځکه چې نفس به وايي:

يّٰحَسۡرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ فِىۡ جَنۡۢبِ اللّٰهِ

ای زما حسرته! په هغه چې ما د الله په حق کې تقصير (او کمی) کړی دی

وَاِنۡ كُنۡتُ لَمِنَ السّٰخِرِيۡنَ ﴿۵۶﴾ اَوۡ

او يقيناً زه خامخا د استهزا کوونکو ځنې وم(56) يا به وايي:

تَقُوْلَ لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِىْ لَكُنْتُ مِنَ

كه حقيقتًا الله ما ته هدايت كړى وى (، نو) زه به خامخا د

الْمُتَّقِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى

پرهېزګارانو څنې وى(57) يا به وايي كله چې

الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِىْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ مِنَ

عذاب ويني: كاشكې په رښتيا سره ما ته بېرته تلل وى، نو زه به له

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِىْ

نېكي كوونكو څنې وم(58) ولې نه! يقينًا تا ته زما ايتونه راغلي وو، نو تا

فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ

د هغو تكذيب كړى و او تكبر دې كړى و او ته وې

مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٩﴾ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى

له کافرانو نه(59) او د قيامت په ورځ به ته هغه

الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ

کسان ووينې چې په الله يې دروغ تړلي وو، په
داسې حال کې چې د دوی مخونه به

مُّسْوَدَّةٌ ۭ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى

تك تور کړی شوي وي، ايا په دوزخ کې د تکبر
کوونکو

لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٦٠﴾ وَيُنَجِّى اللّٰهُ الَّذِيْنَ

لپاره ځای نشته!(60) او الله به هغو کسانو ته
چې ځان يې (له شرك نه) بچ ساتلی دی، د خپلې

اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ ۡ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْۗءُ

کاميابۍ (او فلاح) په وجه نجات ورکړي، په
داسې حال کې چې دوی ته به نه سختي رسيږي

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝٦١ اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ

او نه به دوی غمجن کېږي(61) الله د هر شي
پيدا کوونکی دی

شَيْءٍ ؗ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ۝٦٢ لَهٗ

او هغه په هر شي باندې نګران دی(62) خاص
هم

مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَ

ده لره د اسمانونو او ځمکې چابيانې دي، او

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ

هغه کسان چې د الله په ايتونو سره کافران شوي
دي، هم دغه کسان

ع 3

الْخٰسِرُوْنَ ۝٦٣ قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ

تاوانيان دي(63) ته (دوی ته) ووايه: ايا نو تاسو
ما ته حکم کوئ

تَاۡمُرُوۡٓنِّیۡۤ اَعۡبُدُ اَیُّهَا الۡجٰهِلُوۡنَ ﴿۶۴﴾ وَ

چې زه د غير الله عبادت وکړم؟ اى جاهلانو!(64) او

لَقَدۡ اُوۡحِیَ اِلَیۡكَ وَاِلَی الَّذِیۡنَ مِنۡ

يقينًا يقينًا تا ته وحي کړى شوې ده او هغو کسانو ته چې له

قَبۡلِكَ ۚ لَئِنۡ اَشۡرَكۡتَ لَیَحۡبَطَنَّ

تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دى که تا شرك وکړ (نو)

عَمَلُكَ وَلَتَكُوۡنَنَّ مِنَ

ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له

الۡخٰسِرِیۡنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ اللّٰهَ فَاعۡبُدۡ وَكُنۡ

تاوانيانو څخه شې(65) بلکې ته خاص د الله عبادت کوه او اوسه له

مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ

شکر کوونکو څنې(66) او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونه کړ

حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ

د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ

ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی)

بِيَمِيْنِهٖ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا

شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو څيزونو نه چې دوی يې (له هغه سره)

يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَنُفِخَ فِى الصُّوْرِ فَصَعِقَ

شريکوي(67) او په شپېلۍ کې به پو کړی شي،

مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا

نو بې هوښه (بې خوده) به شي هر هغه څوك چې
په اسمانونو كې دي او هر هغه څوك چې په ځمكه

مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى

كې دي، غير له هغه چا نه چې الله يې وغواړي،
بيا به په دې كې بل ځلې پو كړى شي، نو ناڅاپه

فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَاَشْرَقَتِ

به دوى ولاړ وي، ګوري به (حيران حيران)(68)
او ځمكه

الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَ

به د خپل رب په نور سره روښانه شي او كتاب
(عمل نامه) به كېښودل

جِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ

شي او نبيان او شاهدان به راوستل شي او د دوى
په مينځ كې به په حق (او انصاف) سره فيصله

بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَ

وکړی شي، په داسې حال کې چې په دوی به هیڅ ظلم ونه کړی شي(69) او

وُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ

هر نفس ته به د ده کړی عمل پوره ورکړی شي او هغه (الله) ښه عالم دی په هغو

ع
4

اَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ

عملونو چې دوی یې کوي(70) او کافران شوي کسان به

كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ زُمَرًا ؕ حَتّٰٓى اِذَا

دوزخ ته ډلې ډلې روان کړی شي، تر هغه پورې چې کله دوی

جَآءُوْهَا فُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ

دغه (دوزخ) ته راشي، (نو) د ده دروازې به پرانستل شي او دوی ته به د دغه (جهنم) نګرانان

خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ

وواييږ: ايا تاسو ته رسولان نه وو راغلي، چې له هم

يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ وَ

ستاسو نه وو، چې تاسو ته به يې ستاسو د رب ايتونه لوستل او

يُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ

تاسو به يې د خپلې دغې ورځې له ملاقات نه وېرولئ؟ دوی به

قَالُوْا بَلٰى وَ لٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ

وواييږ: ولې نه! (راغلي وو) او لېکن د عذاب خبره په کافرانو باندې

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۱﴾ قِيْلَ ادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ

ثابته شوې وه(71) وبه ويل شي (دوی ته): تاسو د دوزخ په دروازو

جَهَنَّمَ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا‌ۚ فَبِئۡسَ مَثۡوَى

كې ننوځئ، په داسې حال كې چې په دغه (دوزخ) كې به تل يئ، نو د تكبر كوونكو

الۡمُتَكَبِّرِيۡنَ ۝٧٢ وَسِيۡقَ الَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا

استوګنه بده ده(72) او هغه كسان به چې له خپل

رَبَّهُمۡ اِلَى الۡجَـنَّةِ زُمَرًا‌ ؕ حَتّٰٓى اِذَا

رب نه وېرېدل، جنت ته ډلې ډلې روان كړى شي، تر هغه پورې

جَآءُوۡهَا وَفُتِحَتۡ اَبۡوَابُهَا وَقَالَ

چې كله دوى ده ته راشي، په دې حال كې چې د ده دروازې به (له مخكې نه) پرانستل شوي وي

لَهُمۡ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ طِبۡتُمۡ

او دوى ته به د دغه (جنت) نګرانان ووايي: په تاسو دې سلام وي، تاسو پاك يئ، نو دغو ته داخل

فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ

شئ، په داسې حال کې چې تل اوسېدونکي به يئ (73) او دوی به وايي: ټول د کمال صفتونه هغه

لِلّٰهِ الَّذِىْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا

الله لره خاص دي چې زمونږ سره يې خپله وعده رښتيني کړه او مونږ ته يې

الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ

دغه ځمکه ميراث راکړه، چې په دغه جنت کې مونږ ځای نيسو، هر ځای چې مونږ وغواړو،

نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَتَرَى

نو د (نېك) عمل کوونکو اجر ښه دی(74) او (ای نبي)

الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ

ته به ملايك ووينې، چې د عرش ګېر چاپېره

يُسَبِّحُوۡنَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ ۚ وَ قُضِىَ

راتاوېدونكي وي، چې د خپل رب له حمد سره تسبيح وايي او

بَيۡنَهُمۡ بِالۡحَقِّ وَ قِيۡلَ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ

د دغو (خلقو) په مينځ كې به په حقه سره فيصله وكړى شي او وبه ويل شي: ټول د كمال صفتونه

رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۷۵﴾

ع 5

خاص د الله لپاره دي چې د عالمونو ښه پالونكى دى(75)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

حٰمٓ ۚ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ

حا، ميم(1) د کتاب نازلول د الله له جانبه دي

الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۙ﴿۲﴾ غَافِرِ الذَّنْۢبِ وَ

چې ډېر غالب، ښه پوه دی(2) د گناهونو بخښونکی او

قَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ۙ ذِي

د توبې قبلوونکی دی، ډېر سخت عذاب والا د لوی

الطَّوْلِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ اِلَيْهِ

فضل والا دی، نشته دی هېڅ حق معبود مگر هم دی دی، خاص هم ده ته

الْمَصِيْرُ ۝٣ مَا يُجَادِلُ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ اِلَّا

بېرته ورتله دي(3) د الله په ایتونو کې جګړې نه کوي مګر

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ

هغه کسان چې کافران شوي دي، نو په ښارونو کې د دوی تګ راتګ دې

فِي الْبِلَادِ ۝٤ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ

تا تېر نه باسي(4) له دغو (قریشو) نه مخکې د نوح قوم تکذیب کړی و

وَّ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۠ وَ هَمَّتْ

او د دوی (قوم نوح) نه وروسته نورو ډلو (هم) او هر یو

كُلُّ اُمَّةٍۭ بِرَسُوْلِهِمْ لِيَاْخُذُوْهُ وَ

امت د خپل رسول په باره کې اراده وکړه چې هغه راګیر کړي او

جٰدَلُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ

دوی په باطله سره جګړې وکړې، د دې لپاره چې په دغه (باطل) سره حق

فَاَخَذْتُهُمْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ۝٥ وَ

ختم (او زايله) کړي، نو ما دوی ونیول، بیا نو زما سزا ورکول څنګه وو؟(5) او

كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ

همداسې ستا د رب خبره په هغو کسانو لازمه شوې ده

كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ۝٦ ۘ اَلَّذِيْنَ

وقف لازم

چې کافران شوي دي، چې بېشکه دوی د اور ملګري دي(6) (له ملايکو څخه) هغه کسان

يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ

چې عرش اوچتوي او هغه (ملايك) چې د دغه (عرش) ګېر چاپېره دي،

يُسَبِّحُوۡنَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ

دوی د خپل رب د ستاینې سره تسبیح وایي او په ده ایمان لري

وَيَسۡتَغۡفِرُوۡنَ لِلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا‌ ۚ رَبَّنَا

او د هغو کسانو لپاره مغفرت غواړي چې ایمان یې راوړی دی (او وایي:) ای زمونږه ربه!

وَسِعۡتَ كُلَّ شَىۡءٍ رَّحۡمَةً وَّعِلۡمًا

ته د رحمت په لحاظ سره هر شي ته رسېدلی یې، نو ته

فَاغۡفِرۡ لِلَّذِيۡنَ تَابُوۡا وَاتَّبَعُوۡا

هغو کسانو ته بخښنه وکړې چې توبه یې ایستلې ده او

سَبِيۡلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ

ستا د لارې پیروي یې کړې ده او ته دوی د دوزخ له

الْجَحِيْمِ ۝٧ رَبَّنَا وَ اَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ

عذاب نه وساته(7) اى زمونږه ربه! او ته دوى د تل استوګنې هغو

عَدْنِ اِلَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ وَ مَنْ صَلَحَ مِنْ

جنتونو ته ننباسه چې تا يې له دوى سره وعده کړې ده، او هغه څوك چې صلاحيت ولري

اٰبَآىِٕهِمْ وَ اَزْوَاجِهِمْ وَ ذُرِّیّٰتِهِمْ ؕ

د دوى له پلرونو او د دوى له ښځو او د دوى له اولادونو څخه (هغه هم ننباسه)،

اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝٨ۙ وَ قِهِمُ

بېشکه ته، هم ته ښه غالب، ډېر حکمت والا يې( 8) او ته دوى

السَّیِّاٰتِ ؕ وَ مَنْ تَقِ السَّیِّاٰتِ یَوْمَىِٕذٍ

له سختيو نه بچ وساته او هغه څوك چې ته يې په دغې ورځ کې له

فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ؕ وَ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

سختیو نه بچ وساتې، نو یقینًا تا په هغه رحم وکړ
او هم دغه ډېره

الْعَظِيْمُ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

لویه کامیابي ده(9) بېشکه هغه کسان چې کافران
شوي دي،

ع
6

يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ مِنْ

دوی ته به (په دوزخ کې) اواز وکړی شي: یقینًا
(تاسو ته) د الله غصه کېدل ډېر لوی وو

مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى

ستاسو خپلو ځانونو ته له غصه کېدلو نه، کله چې
به تاسو ایمان ته بللی شوئ،

الْاِيْمَانِ فَتَكْفُرُوْنَ ۝ قَالُوْا رَبَّنَآ

نو تاسو به کفر کاوه(10) (نو) دوی به وواییي: ای
زمونږه ربه!

اَمَتَّنَا اثۡنَتَيۡنِ وَاَحۡيَيۡتَنَا اثۡنَتَيۡنِ

تا مونږ دوه ځلې مړه کړو او دوه ځل دې مونږ ژوندي کړو،

فَاعۡتَرَفۡنَا بِذُنُوۡبِنَا فَهَلۡ اِلٰى خُرُوۡجٍ

نو مونږ (اوس) د خپلو ګناهونو اقرار وکړ، نو ايا (له دوزخ نه زمونږ) وتلو

مِّنۡ سَبِيۡلٍ ﴿۱۱﴾ ذٰلِكُمۡ بِاَنَّهٗۤ اِذَا دُعِىَ

ته کومه لار شته؟(11) دغه (ابدي عذاب) په دې سبب دى چې بېشکه شان دا دى

اللّٰهُ وَحۡدَهٗ كَفَرۡتُمۡ‌ ۚ وَاِنۡ يُّشۡرَكۡ بِهٖ

چې کله به الله يواځې وبلل شو (نو) تاسو به کفر کاوه او که له ده سره به شريك ونيول شو (نو)

تُؤۡمِنُوۡا‌ ؕ فَالۡحُكۡمُ لِلّٰهِ الۡعَلِىِّ

تاسو به ايمان راوړ، نو حکم خاص هغه الله لره دى چې ډېر اوچت،

الْكَبِيْرِ ﴿۱۲﴾ هُوَ الَّذِىْ يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ وَ

ډېر لوى دى(12) دى همغه ذات دى چې تاسو ته
خپلې نښې ښيي او

يُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ؕ وَ مَا

تاسو لپاره له اسمان نه رزق نازلوي او پند نه اخلي

يَتَذَكَّرُ اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ ﴿۱۳﴾ فَادْعُوا اللّٰهَ

مگر هغه څوك چې (حق ته) رجوع كوي(13) نو
تاسو الله بلئ،

مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ

په داسې حال كې چې همده ته د دين خالص
كوونكي يئ اگر كه

الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو

كافران يې بد گڼي(14) (دغه الله) د اوچتو درجو
والا (د درجو اوچتونكى) دى،

الْعَرْشِ ۚ يُلْقِي الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى

د عرش مالك دی، په خپلو بنده گانو كې په چا
چې وغواړي، په خپل حكم سره وحي نازلوي،

مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ لِيُنْذِرَ يَوْمَ

د دې لپاره چې دغه (بنده خلقو لره) د ملاقات له
ورځې

التَّلَاقِ ۝١٥ يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ لَا يَخْفٰى

نه ووېروي(15) له هغې ورځې نه چې دوی به
بېخي ښكاره وي،

عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ؕ لِمَنِ الْمُلْكُ

له الله نه به د دوی هېڅ شی پټ نه وي، نن ورځ
د چا بادشاهي ده؟

الْيَوْمَ ؕ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ۝١٦ اَلْيَوْمَ

خاص د الله (بادشاهي ده) چې يو دی، ښه غالب
دی(16) نن ورځ

تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ؕ لَا

به هر نفس ته د هغه د کړي عمل بدله ورکړی شي،

ظُلْمَ الْيَوْمَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

نن ورځ ظلم بېخي نشته، بېشکه الله ډېر ژر

الْحِسَابِ ۝١٧ وَ اَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ

حساب کوونکی دی(17) او ته دوی له نژدې ورځې نه ووېروه کله

اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كٰظِمِيْنَ ؕ

چې زړونه به له چنغړکو سره وي، په داسې حال کې چې له غم نه به ډک وي،

مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّ لَا شَفِيْعٍ

د ظالمانو لپاره به نه هیڅوك پوخ دوست وي او نه کوم داسې شفاعت کوونکی چې

يُّطَاعُ ﴿١٨﴾ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا

خبره يې ومنله شي(18) هغه د سترګو په خيانت پوهېږي او په هغو خبرو

تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿١٩﴾ وَاللّٰهُ يَقْضِيْ

چې سينې يې پټوي (او رازونه وي)(19) او الله په

بِالْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

حقه سره فيصله کوي او هغه (معبودان) چې دوی يې له هغه (الله) نه غير بلي،

لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ

دغه د هېڅ شي فيصله نشي کولی، بېشکه الله، هم دی

ع 7

السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿٢٠﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي

ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی(20) ايا دوی په ځمکه کې نه دي

الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

گرځېدلي، پس چې وګوري چې د هغو کسانو

الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْا هُمْ

انجام څنګه و، چې له دوی نه مخکې وو، هغوی له دوی

اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ

نه په قوت کې او په ځمکه کې د نښو (او یادګارونو) په لحاظ ډېر سخت (او مضبوط) وو،

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَمَا كَانَ

نو الله دوی د خپلو ګناهونو په سبب ونیول او د دوی لپاره له

لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿٢١﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

الله نه هیڅوک بچ کوونکی نه و(21) دغه په دې سبب چې یقینًا دوی

كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

داسې وو چې دوی ته خپلو رسولانو ښکاره دليلونه راوړل،

فَكَفَرُوْا فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ قَوِيٌّ

نو (بيا هم) دوی کافران شول، نو الله دوی ونيول، بېشکه هغه، ډېر زورور، ډېر

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

سخت عذاب والا دی(22) او يقينًا يقينًا مونږ

مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۳﴾ اِلٰى

موسٰی له خپلو معجزو او ښکاره دليل سره لېږلی و (23) فرعون

فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا

او هامان او قارون ته، نو دوی وويل: (دا خو)

سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمۡ بِالۡحَقِّ

جادوگر دی، سخت دروغجن دی(24) نو کله چې هغه دوی ته زمونږ له جانبه حق راوړ،

مِنۡ عِنۡدِنَا قَالُوا اقۡتُلُوۡۤا اَبۡنَآءَ

دوی وویل: تاسو د هغو کسانو زامن ووژنئ

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَهٗ وَاسۡتَحۡيُوۡا

چې له ده سره یې ایمان راوړی دی او د دوی

نِسَآءَهُمۡ ؕ وَمَا كَيۡدُ الۡكٰفِرِيۡنَ اِلَّا

ښځې (لوڼه) ژوندۍ پرېږدئ او د کافرانو چل مکر نه دی مگر

فِيۡ ضَلٰلٍ ﴿٢٥﴾ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُوۡنِيۡۤ

په تباهۍ کې(25) او فرعون (خپلو درباریانو ته) وویل: تاسو ما

اَقۡتُلۡ مُوۡسٰى وَلۡيَدۡعُ رَبَّهٗ ۚ اِنِّىۡۤ اَخَافُ

پرېږدئ چې زه (دا) موسٰی ووژنم او دا دې خپل رب ته چغې ووهي، بېشکه زه له دې وېرېږم

اَنۡ يُّبَدِّلَ دِيۡنَكُمۡ اَوۡ اَنۡ يُّظۡهِرَ فِى

چې دا به ستاسو دين بدل کړي، يا به په ځمکه

الۡاَرۡضِ الۡفَسَادَ ۞ وَقَالَ مُوۡسٰۤى اِنِّىۡ

کې فساد خور کړي(26) او موسٰی وویل چې بېشکه

عُذۡتُ بِرَبِّىۡ وَرَبِّكُمۡ مِّنۡ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ

ما د خپل رب او ستاسو د رب پناه نیولې ده له هر تکبر کوونکي نه،

لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ الۡحِسَابِ ۞ وَقَالَ

ع
8

چې د حساب په ورځې ایمان نه لري(27) او په اٰل

رَجُلٌ مُّؤۡمِنٌ ۖ مِّنۡ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ

فرعون کې يو مومن سړي چې خپل ايمان يې پټ ساتلو، وويل:

اِيۡمَانَهٗۤ اَتَقۡتُلُوۡنَ رَجُلًا اَنۡ يَّقُوۡلَ رَبِّىَ

ايا تاسو يو سړی په دې وجه وژنئ چې هغه وايي: زما رب

اللّٰهُ وَقَدۡ جَآءَكُمۡ بِالۡبَيِّنٰتِ مِنۡ

الله دی، حال دا چې يقينًا هغه تاسو ته د خپل رب له

رَّبِّكُمۡ ؕ وَاِنۡ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيۡهِ كَذِبُهٗ ۚ

جانبه ښکاره دليلونه هم راوړي دي او که دی دروغجن وي،

وَاِنۡ يَّكُ صَادِقًا يُّصِبۡكُمۡ بَعۡضُ

نو په همده باندې د خپلو دروغو ضرر دی او که دی رښتينی وي (نو بيا خو به) تاسو ته د هغه

الَّذِیْ یَعِدُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَهْدِیْ

(عذاب) ځينې برخه دروربېږي چې دا يې تاسو ته وعده درکوي، بېشکه الله هدايت نه کوي هغه

مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ یٰقَوْمِ لَكُمُ

چا ته چې هغه له حده تېرېدونکی، ډېر دروغجن وي(28) اى زما قومه!

الْمُلْكُ الْیَوْمَ ظٰهِرِیْنَ فِی الْاَرْضِ ؗ

نن ورځ ستاسو بادشاهي ده، په داسې حال کې چې په ځمکه کې

فَمَنْ یَّنْصُرُنَا مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ

غالب يئ، نو مونږ به د الله له عذاب نه څوك بچ کوي که هغه پر

جَآءَنَا ؕ قَالَ فِرْعَوْنُ مَاۤ اُرِیْكُمْ اِلَّا

مونږ راشي؟ فرعون ووېل: زه تاسو ته نه ښيم مګر

مَاۤ اَرٰى وَمَاۤ اَهۡدِيۡكُمۡ اِلَّا سَبِيۡلَ

هغه خبره چې زه يې وينم او زه تاسو ته ښودنه نه کوم مگر د سمې

الرَّشَادِ ۝٢٩ وَقَالَ الَّذِىۡۤ اٰمَنَ يٰقَوۡمِ

درستې لارې(29) او هغه کس وويل چې ايمان يې راوړی و:

اِنِّىۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ مِّثۡلَ يَوۡمِ

ای زما قومه! بېشکه زه په تاسو د (تېرو) ډلو د ورځې له مثل

الۡاَحۡزَابِ ۝٣٠ۙ مِثۡلَ دَاۡبِ قَوۡمِ نُوۡحٍ وَّ

نه وېرېږم(30) د نوح د قوم او

عَادٍ وَّثَمُوۡدَ وَالَّذِيۡنَ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡؕ وَ

عاديانو او ثموديانو او د هغو کسانو د حال له مثل نه چې له دوی نه وروسته وو او

مَا اللّٰهُ يُرِيۡدُ ظُلۡمًا لِّلۡعِبَادِ ﴿۳۱﴾ وَيٰقَوۡمِ

الله په بنده گانو د هيڅ ظلم اراده نه كوي(31) او اى زما قومه!

اِنِّىۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ يَوۡمَ التَّنَادِ ﴿۳۲﴾ يَوۡمَ

زه په تاسو يو بل ته د چيغو وهلو له ورځې نه ويريږم(32) هغه ورځ

تُوَلُّوۡنَ مُدۡبِرِيۡنَ ۚ مَا لَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ

چې تاسو به وگرځئ شا اړوونكي، په داسې حال كې چې تاسو لپاره به له الله

مِنۡ عَاصِمٍ ۚ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

نه هيڅوك بچ كوونكى نه وي. او هغه څوك چې الله يې گمراه كړي، نو د هغه لپاره هيڅوك هدايت

مِنۡ هَادٍ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدۡ جَآءَكُمۡ يُوۡسُفُ

وركوونكى نشته(33) او يقينًا يقينًا تاسو ته له دې نه مخكې يوسف

مِنۡ قَبۡلُ بِالۡبَیِّنٰتِ فَمَا زِلۡتُمۡ فِیۡ شَكٍّ

په واضحو دليلونو سره راغلی و، نو تاسو د هغه
څه په باره کې چې تاسو ته

مِّمَّا جَآءَكُمۡ بِهٖ ؕ حَتّٰۤی اِذَا هَلَكَ

هغه راوړی و؛ تل په شك کې وئ، تر هغه پورې
چې کله هغه مړ شو،

قُلۡتُمۡ لَنۡ یَّبۡعَثَ اللّٰهُ مِنۡۢ بَعۡدِهٖ

تاسو وويل: له ده نه وروسته به الله له سره هېڅ

رَسُوۡلًا ؕ كَذٰلِكَ یُضِلُّ اللّٰهُ مَنۡ هُوَ

رسول راونه لېږي، همداسې الله گمراه کوي هغه
چا لره چې هغه له حده تېرېدونکی،

مُسۡرِفٌ مُّرۡتَابُۨ ﴿۳۴﴾ الَّذِیۡنَ یُجَادِلُوۡنَ

شك کوونکی دی(34) هغه کسان چې د

فِيۡۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيۡرِ سُلۡطٰنٍ اَتٰٮهُمۡ ؕ

الله په ایتونو کې جګړې کوي بې له کوم داسې

كَبُرَ مَقۡتًا عِنۡدَ اللّٰهِ وَ عِنۡدَ الَّذِيۡنَ

دلیله چې دوی ته راغلی وي، (دغه) د الله په نیز
او د هغو کسانو په نیز

اٰمَنُوۡا ؕ كَذٰلِكَ يَطۡبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

چې ایمان یې راوړی د غضب په لحاظ غټه خبره
ده، همداسې الله د تکبر کوونکي او جبر کوونکي

قَلۡبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ۝٣٥ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ

په هر (جز د) زړه باندې مهر لګوي(35) او
فرعون وويل:

يٰهَامٰنُ ابۡنِ لِىۡ صَرۡحًا لَّعَلِّىۡۤ اَبۡلُغُ

ای هامانه! ته زما لپاره یوه ډېره اوچته ماڼۍ جوړه
کړه، ښایي

الْاَسْبَابَ ﴿٣٦﴾ اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ

چې زه لارو ته ورسېږم(36) داسمانونو لارو ته،

اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَ اِنِّیْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ؕ وَ

بيا د موسیٰ الله له بره وګورم او بېشکه زه يقينًا دا دروغجن ګڼم او

كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَ

همداسې فرعون ته خپل بد عمل ښايسته کړى شوى و، او

صُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَ مَا كَيْدُ

له (حقې) لارې نه منع کړى شوى و او د فرعون چل

ع 9

فِرْعَوْنَ اِلَّا فِیْ تَبَابٍ ﴿٣٧﴾ وَ قَالَ الَّذِیْٓ

(او مکر) نه و مګر په تباهۍ کې(37) او هغه کس

اٰمَنَ يٰقَوۡمِ اتَّبِعُوۡنِ اَهۡدِكُمۡ سَبِيۡلَ

چې ایمان یې راوړی و، وویل: ای زما قومه! تاسو زما پیروي وکړئ چې زه تاسو ته د

الرَّشَادِ ۚ﴿۳۸﴾ يٰقَوۡمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الۡحَيٰوةُ

هدایت لاره وښیم(38) ای زما قومه! بېشکه همدا خبره ده

الدُّنۡيَا مَتَاعٌ ۫ وَّاِنَّ الۡاٰخِرَةَ هِىَ دَارُ

چې دغه دنیایي ژوند خو لږه فایده ده او یقینًا اخرت چې دی، هم هغه د

الۡقَرَارِ ﴿۳۹﴾ مَنۡ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا

قرار کور دی(39) هر څوك چې بد کار وکړي، نو ده ته

يُجۡزٰٓى اِلَّا مِثۡلَهَا ۚ وَمَنۡ عَمِلَ

به بدله نه ورکولی شي مګر په مثل د دغه (بد کار) او هر څوك چې نېك عمل

صَالِحًا مِّنۡ ذَكَرٍ اَوۡ اُنۡثٰى وَهُوَ مُؤۡمِنٌ

وکړي، سړی وي، یا ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو

فَاُولٰٓئِكَ يَدۡخُلُوۡنَ الۡجَنَّةَ يُرۡزَقُوۡنَ

دغه کسان به جنت ته داخلیږي، دوی ته به په دغه (جنت) کې بې

فِيۡهَا بِغَيۡرِ حِسَابٍ ۝٤٠ وَيٰقَوۡمِ مَا لِيۡۤ

حسابه رزق ورکول کیږي(40) او ای زما قومه! په ما څه

اَدۡعُوۡكُمۡ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدۡعُوۡنَنِيۡۤ اِلَى

چل دی چې زه تاسو نجات (او خلاصي) ته راغواړم او تاسو ما

النَّارِ ۝٤١ تَدۡعُوۡنَنِيۡ لِاَكۡفُرَ بِاللّٰهِ وَ

اور ته رابلئ(41) تاسو ما رابلئ د دې لپاره چې زه په الله سره کافر شم او

النصف

اُشْرِكَ بِهٖ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ؗ وَّ اَنَا

له هغه سره هغه شی شريك كړم چې ما ته د دغه (شي په اله کېدو) هېڅ علم نشته، حال دا چې زه

اَدْعُوْكُمْ اِلَى الْعَزِيْزِ الْغَفَّارِ ﴿٤٢﴾ لَا

تاسو ډېر غالب، ډېر مغفرت كوونكي (الله) ته رابولم (42) حقه

جَرَمَ اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ لَيْسَ لَهٗ

خبره دا ده چې يقينًا هغه (معبود) چې تاسو ما (د هغه (عبادت) ته بلئ، د هغه لپاره خو

دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ وَاَنَّ

نه په دنيا كې څه بلل شته او نه په اخرت كې او دا چې بېشكه

مَرَدَّنَآ اِلَى اللّٰهِ وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ

زمونږ بېرته ورتلل خاص الله ته دي او دا چې يقينًا له حده تېرېدونكي،

اَصۡحٰبُ النَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذۡكُرُوۡنَ مَاۤ

همدغه د اور ملګري دي(43) پس ژر ده چې
تاسو به دغه خبرې يادوئ

اَقُوۡلُ لَكُمۡ ؕ وَاُفَوِّضُ اَمۡرِىۡۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ

چې زه يې تاسو ته (اوس) وايم. او زه خپل کار
الله ته سپارم،

اِنَّ اللّٰهَ بَصِيۡرٌۢ بِالۡعِبَادِ ﴿٤٤﴾ فَوَقٰٮهُ اللّٰهُ

بېشکه الله (خپلو) بنده ګانو لره ښه ليدونکی دی(
44) نو الله هغه د دوی

سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوۡا وَحَاقَ بِاٰلِ

د مکرونو له بديو نه بچ وساته او (پخپله) اٰل

فِرۡعَوۡنَ سُوۡٓءُ الۡعَذَابِ ۚ﴿٤٥﴾ اَلنَّارُ

فرعون ډېر سخت عذاب ګېرکړل(45) (د دوزخ)
اور

يُعۡرَضُوۡنَ عَلَيۡهَا غُدُوًّا وَّ عَشِيًّا ۚ وَ

(چې دی) دوی هغه ته هر سبا او هر بېگاه
وړاندې کاوه شي او

يَوۡمَ تَقُوۡمُ السَّاعَةُ ۟ اَدۡخِلُوۡۤا اٰلَ

په هغې ورځ کې چې قیامت قایم شي (نو ملایکو
ته به وویل شي:) تاسو ال

فِرۡعَوۡنَ اَشَدَّ الۡعَذَابِ ﴿۴۶﴾ وَ اِذۡ

فرعون لره تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ(46) او
(یاد کړه)

يَتَحَآجُّوۡنَ فِي النَّارِ فَيَقُوۡلُ الضُّعَفٰٓؤُا

هغه وخت چې دوی به په خپل مینځ کې جګړې
کوي، نو کمزوري به

لِلَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡۤا اِنَّا كُنَّا لَـكُمۡ تَبَعًا

هغو کسانو ته وایي چې تکبر یې کاوه: بېشکه مونږ
خو ستاسو پیروي

فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ

كوونكي وو، نو ايا تاسو زمونږ نه له اور څخه برخه

النَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا

لرې كوونكي يئ؟(47) هغه كسان به (په جواب كې) ووايي

كُلٌّ فِيْهَآ ۙ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ

چې تكبر يې كړى و: بېشكه مونږ ټول په دغه (دوزخ) كې يو، بېشكه الله د بنده ګانو په مينځ

الْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ

كې فيصله كړې ده(48) او هغه كسان به چې (د دوزخ) په اور كې دي،

لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ

د جهنم نګرانانو ته ووايي: تاسو له خپل رب نه دعا وغواړئ چې زمونږ په

عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوْٓا اَوَلَمْ

عذاب کې بس يوه ورځ تخفيف وکړي(49) دوی
به (په جواب کې) ووايي: ايا تاسو ته

تَكُ تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ

به ستاسو رسولان په واضحو دليلونو سره نه
راتلل؟ دوی (دوزخيان)

قَالُوْا بَلٰى ؕ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا

به ووايي: ولې نه (نو) دوی (د دوزخ نګرانان) به
ووايي، پس تاسو (پخپله) دعا وکړئ او د

ع 10

الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿٥٠﴾ ۧ اِنَّا لَنَنْصُرُ

کافرانو دعا نه ده مګر په ضياع کې(50) بېشکه
مونږ خامخا د

رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ

خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ايمان يې
راوړی دی، په دنيايي ژوند

الدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُوۡمُ الۡاَشۡهَادُ ۙ﴿۵۱﴾ يَوۡمَ

کي مدد کوو او په هغي ورځ کي (هم) چي
ګواهان به ودرېږي(51) په هغي ورځي

لَا يَنۡفَعُ الظّٰلِمِيۡنَ مَعۡذِرَتُهُمۡ وَلَهُمُ

کي چي ظالمانو (مشرکانو) ته به د هغوی معذرت
هیڅ نفع نه رسوي او د همدوی

اللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوۡٓءُ الدَّارِ ﴿۵۲﴾ وَلَقَدۡ

لپاره لعنت دی او د همدوی لپاره بد کور (دوزخ)
دی(52) او یقینًا یقینًا

اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡهُدٰى وَاَوۡرَثۡنَا بَنِیۡۤ

مونږ موسٰی ته هدایت (تورات) ورکړی و او بني

اِسۡرَآءِيۡلَ الۡكِتٰبَ ۙ﴿۵۳﴾ هُدًى وَّذِكۡرٰى

اسرائیلو ته مو کتاب میراث ورکړ(53) په داسي
حال کي چي د

لِاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿٥٤﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ

خالصو عقلونو والاو ته هدايت او پند و(54) نو (اى نبي) ته صبر وكړه! بېشكه د

اللّٰهِ حَقٌّ وَّ اسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَ سَبِّحْ

الله وعده حقه ده او د خپلې ګناه لپاره بخښنه وغواړه او د ورځې په

بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِیِّ وَ الْاِبْكَارِ ﴿٥٥﴾ اِنَّ

اخره او اوله برخه كې د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه(55) بېشكه

الَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ فِیْۤ اٰیٰتِ اللّٰهِ بِغَیْرِ

هغه كسان چې د الله په ايتونو كې جګړې كوي، بې له داسې دليله

سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ اِنْ فِیْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا

چې دوى ته راغلى وي، د دوى په سينو كې نه دى مګر

كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ

كبر چې دوى دغه (د كبر مقتضا) ته رسېدونكي نه دي، نو ته په

بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ

الله پورې پناه ونيسه، بېشكه هغه، هم هغه ښه اورېدونكى،

الْبَصِيْرُ ﴿۵۶﴾ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ښه ليدونكى دى(56) يقينًا د اسمانونو او ځمكې پيدا كول

اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ

د خلقو له پيدا كولو نه ډېر لوى دي او لېكن د

النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَمَا يَسْتَوِى

خلقو اكثريت نه پوهېږي(57) او ړوند او بينا سره

الۡاَعۡمٰى وَالۡبَصِيۡرُ ۙ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ

نه برابربږي او نه هم هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الۡمُسِىۡٓءُ‌ ؕ قَلِيۡلًا

نېك عملونه يې كړي دي او بدكاره (سره نه برابربږي) تاسو ډېر لږ

مَّا تَتَذَكَّرُوۡنَ ﴿۵۸﴾ اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ لَّا

نصيحت اخلئ(58) بېشكه قيامت خامخا راتلونكى دى،

رَيۡبَ فِيۡهَا وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا

په ده كې هېڅ شك نشته. او لېكن د خلقو اكثريت

يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۹﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادۡعُوۡنِىۡۤ

ايمان نه راوړي(59) او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ

اَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ

چې زه ستاسو دعا قبوله کړم. بېشکه هغه کسان چې

يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ عَنۡ عِبَادَتِىۡ

زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي،

ع 11

سَيَدۡخُلُوۡنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيۡنَ ۝٦٠ اَللّٰهُ

په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي(60) الله

الَّذِىۡ جَعَلَ لَكُمُ الَّيۡلَ لِتَسۡكُنُوۡا

هغه ذات دی چې تاسو لپاره يې شپه پيدا کړې ده، د دې لپاره چې تاسو په دې کې ارام حاصل کړئ

فِيۡهِ وَالنَّهَارَ مُبۡصِرًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوۡ

او ورځ يې روښانه (ګرځولې ده)، بېشکه الله په خلقو باندې

فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ

خامخا ډېر فضل کولو والا دی او لېکن د خلقو

النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦١﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

اکثريت شکر نه وباسي(61) دغه الله ستاسو

رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۘ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

رب دی چې د هر شي پيدا کوونکی دی، نشته
هېڅ لايق د عبادت مگر همدی دی،

وقف لازم

هُوَ ۖ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٦٢﴾ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ

نو کوم طرف ته تاسو گرځولی شئ(62) همداسي
به (له حق نه) گرځولی

الَّذِيْنَ كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

کېدل هغه کسان چې د الله له ايتونو

يَجْحَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ

نه به يې انكار كاوه(63) الله هغه ذات دى چې
تاسو لپاره يې

الْاَرْضَ قَرَارًا وَّ السَّمَآءَ بِنَآءً وَّ

ځمكه قرار ځاى او اسمان چت ګرځولى دى او

صَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَ رَزَقَكُمْ

ستاسو صورتونه يې جوړ كړي دي، پس ستاسو
صورتونه يې ښكلي جوړ كړي دي او تاسو ته يې

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚۖ

له پاكيزه څيزونو نه رزق عطا كړى دى، دغه الله
ستاسو رب دى،

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿٦٤﴾ هُوَ الْحَیُّ

نو الله رب العالمين ډېر بركتي دى(64) هم دى
(تل) ژوندى دى،

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ

نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، نو تاسو دا بلئ، په داسې حال کې چې هم ده

الدِّيْنَ ۭ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ

لره د دين خالص کوونکي يئ، ټول د کمال صفتونه خاص د الله رب

الْعٰلَمِيْنَ ۝٦٥ قُلْ اِنِّىْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ

العالمين لپاره دي(65) ته (دوی ته) ووايه: بېشکه زه له دې نه منع کړی شوی يم چې د هغو

الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا

(معبودانو) عبادت وکړم چې تاسو يې له الله نه غير بلئ،

جَاۗءَنِىَ الْبَيِّنٰتُ مِنْ رَّبِّىْ ۡ وَاُمِرْتُ

کله چې ما ته زما د رب له جانبه ښکاره دليلونه راغلل او ما ته حکم شوی دی

اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِیْ

چې زه رب العالمين ته تسليم شم(66) دی همغه ذات دی

خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ

چې تاسو يې له خاورې پيدا کړئ، بيا يې له نطفې نه، بيا يې

مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ

د وينې له ټوټې نه: بيا هغه تاسو راوباسي، په داسې حال کې چې واړه (ماشومان) يئ، بيا (هغه

لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا

ستاسو تربيت کوي)، د دې لپاره چې تاسو خپل قوت (او ځوانۍ) ته ورسېږئ، بيا (مو ژوندي

شُيُوْخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ

ساتي) د دې لپاره چې زاړه (بوډاګان) شئ، او ځينې په تاسو کې هغه دي چې له دغه (وخت) نه

قَبۡلُ وَلِتَبۡلُغُوۡۤا اَجَلًا مُّسَمًّى وَّ

مخکې وفات کولی شي. او (تاسو ساتي) د دې
لپاره چې تاسو مقررې نېټې ته ورسېږئ او د دې

لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴿٦٧﴾ هُوَ الَّذِىۡ يُحۡىٖ وَ

لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ(67) دی
همغه ذات دی چې ژوندي کول کوي او

يُمِيۡتُ‌ ۚ فَاِذَا قَضٰۤى اَمۡرًا فَاِنَّمَا يَقُوۡلُ

مړه کول کوي، نو کله چې د يو کار (د ايجاد)
فيصله وکړي، نو بېشکه همدا خبره ده چې ده ته

ع 12

لَهٗ كُنۡ فَيَكُوۡنُ ﴿٦٨﴾ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ

وايي: موجود شه! نو هغه موجود شي(68) ايا تا
هغه کسان نه

يُجَادِلُوۡنَ فِىۡۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ اَنّٰى

دي ليدلي چې د الله په ايتونو کې جګړې کوي،
کوم طرف ته دوی

يُصْرَفُوْنَ ۚ﴿٦٩﴾ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَ

گرځولی شي؟(69) هغه کسان چې تکذيب کوي د کتابونو او

بِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۛ فَسَوْفَ

د هغه څه چې په هغو سره مونږ خپل رسولان لېږلي وو، پس ژر به

يَعْلَمُوْنَ ۙ﴿٧٠﴾ اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ وَ

دوی پوه شي(70) کله چې به د دوی په غاړو کې طوقونه او

السَّلٰسِلُ ؕ يُسْحَبُوْنَ ۙ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيْمِ ۙ۵

ځنځيرونه وي، چې دوی به راښکلی کېږي(71) په ډېرو گرمو اوبو کې،

ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ ۚ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيْلَ

بيا به دوی (د دوزخ) په اور کې سوځولی شي( 72) بيا به دوی ته ويلی شي

لَهُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿۷۳﴾ مِنْ

چې چېرته دي هغه (معبودان) چې تاسو به شریکول(73) له

دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا بَلْ لَّمْ

الله نه غیر؟ دوی به ووایي: هغه زمونږ نه ورك شول،

نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا ؕ كَذٰلِكَ

بلکې مونږ له دې نه مخکې هېڅ شی نه باله، همداسې

يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾ ذٰلِكُمْ بِمَا

الله کافرانو لره گمراه کوي(74) دغه په سبب د

كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ

دې چې تاسو به په ځمکه کې ناحقه خوشحالي (اولویې) کوله او

الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ

په سبب د هغه چې تاسو به

تَمْرَحُوْنَ ﴿٧٥﴾ اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ

تکبر کاوه(75) تاسو د جهنم په دروازو کې

ننوځئ،

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى

په داسې حال چې په دغه (جهنم) کې به همېشه

يئ، نو د متکبرينو

الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٦﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ

استوګنځی بد دی(76) نو ته صبر کوه، بېشکه د

الله وعده

حَقٌّ ۚ فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ

حقه ده، نو که خامخا مونږ تا ته ځينې د هغه

(عذاب) وښيو

نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا

چې مونږ يې دوی ته وعده ورکوو، يا مونږ تا وفات کړو، نو هم مونږ ته به

يُرْجَعُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ

دوی بېرته راوستلی شي(77) او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخکې ډېر رسولان رالېږلي وو،

قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَ

په دوی کې ځينې هغه دي چې مونږ تا ته بيان کړي دي او

مِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ؕ وَمَا

په دوی کې ځينې هغه دي چې مونږ تا ته نه دي بيان کړي. او د

كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ

هيڅ رسول لپاره دا ممکن نه وه چې هغه پخپله کومه معجزه راوړي مگر د الله په حکم سره،

اللّٰهِ ۚ فَاِذَا جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ

نو کله چې د الله حکم راشي (نو) په حق سره به فیصله وکړی شي

ع 13

وَ خَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝۷۸ اَللّٰهُ

او په دغه وخت (او ځای) کې به باطل پرستان تاوانیان شي(78) الله

الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا

هغه ذات دی چې تاسو لپاره یې څاروي پیدا کړي دي، د دې لپاره چې تاسو په دوی کې په ځینو

مِنْهَا وَ مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۝۷۹ وَ لَكُمْ فِيْهَا

سورلي کوئ او په دوی کې ځینې تاسو خورئ( 79) او تاسو لپاره په دغو (څارویو)

مَنَافِعُ وَ لِتَبْلُغُوْا عَلَيْهَا حَاجَةً فِيْ

کې ډېرې نفعې دي او د دې لپاره چې تاسو په دوی سره هغه حاجت ته ورسېږئ

صُدُوۡرِكُمۡ وَ عَلَيۡهَا وَ عَلَى الۡفُلۡكِ

چې ستاسو په سينو کې دی، او په دغو باندې او په کشتيو باندې تاسو

تُحۡمَلُوۡنَ ؕ ۝٨٠ وَيُرِيۡكُمۡ اٰيٰتِهٖ ۖۗ فَاَىَّ

سورول کېږئ(80) او هغه (الله) تاسو ته خپلې نښې ښيي، نو تاسو د

اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنۡكِرُوۡنَ ۝٨١ اَفَلَمۡ يَسِيۡرُوۡا

الله له کومو نښو نه انکار کوئ؟(81) ايا نو دوی

فِى الۡاَرۡضِ فَيَنۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ

په ځمکه کې گرځېدلي نه دي، پس چې دوی کتلي وی

عَاقِبَةُ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ كَانُوۡۤا

چې د هغو خلقو انجام څنگه و چې له دوی نه مخکې وو، هغوی له

اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي

دوی نه زیات وو او د قوت او په ځمکه کې د

الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

نښو په لحاظ ډېر سخت وو، نو د دوی هېڅ په
کار رانغلل هغه څه

يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

چې دوی به ګټل(82) نو کله چې دوی ته د دوی
پیغمبران

بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ

په ښکاره دلیلونو سره راغلل، (نو) دوی به په هغه

الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

علم خوشالي (او لويي) شروع کړه چې له دوی
سره و، او ګېرچاپېره به شو هغه څه چې دوی به په

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْآ

هغه پورې استهزاء كولې(83) نو كله چې به دوى زمونږ عذاب وليده، دوى به وويل:

اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَ كَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ

مونږ په الله ايمان راوړى دى چې ايكي يواځې دى، او مونږ كافران شولو په هغه څيز چې مونږ به

مُشْرِكِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ

د هغه په سبب مشركان وو(84) نو دغه (كار داسې) نه و چې دوى ته د دوى

اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ

ايمان راوړل نفع وركړې وي كله چې دوى زمونږ عذاب وليده، (دا) ده ايښې طريقه د الله هغه

الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَ خَسِرَ

طريقه چې د هغه په بنده گانو كې تېره شوې ده او په دغه ځاى (او وخت) كې

ع
14

هُنَالِكَ الۡكٰفِرُوۡنَ ﴿۸۵﴾

كافران تاوانيان شول(85)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

حٰمٓ ۚ ۝١ تَنۡزِيۡلٌ مِّنَ الرَّحۡمٰنِ

حا، ميم(1) (دغه) نازلول د ډېر مهربان، بې حده

الرَّحِيۡمِ ۚ ۝٢ كِتٰبٌ فُصِّلَتۡ اٰيٰتُهٗ قُرۡاٰنًا

رحم کوونکي له جانبه دي(2) داسې کتاب چې د ده ايتونه په تفصيل سره بيان شوي دي، په داسې

عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ ۙ ۝٣ بَشِيۡرًا وَّ

حال کې چې عربي قرآن دی، د هغه قوم لپاره چې پوهېږي(3) زيری ورکوونکی او

نَذِيۡرًا ۚ فَاَعۡرَضَ اَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا

وېروونکی دی، نو د دوی زياترو مخ وګرځاوه،

يَسۡمَعُوۡنَ ﴿۴﴾ وَ قَالُوۡا قُلُوۡبُنَا فِیۡۤ اَکِنَّۃٍ

پس دوی (حق) نه اوري(4) او دوی وويل:
زمونږ زړونه په پرده کې دي

مِّمَّا تَدۡعُوۡنَاۤ اِلَیۡہِ وَ فِیۡۤ اٰذَانِنَا وَقۡرٌ وَّ

له هغه څه نه چې ته مونږ هغه ته بلې او زمونږ په
غوږونو کې کوڼوالی دی او

مِنۡۢ بَیۡنِنَا وَ بَیۡنِکَ حِجَابٌ فَاعۡمَلۡ

زمونږ له مینځه او ستا له مینځه پرده ده، نو ته
(خپل) عمل کوه، بېشکه مونږ هم

اِنَّنَا عٰمِلُوۡنَ ﴿۵﴾ قُلۡ اِنَّمَاۤ اَنَا بَشَرٌ

(خپل) عمل کوونکي يو(5) ته (دوی ته) ووایه:
بېشکه هم دا خبره ده

مِّثۡلُکُمۡ یُوۡحٰۤی اِلَیَّ اَنَّمَاۤ اِلٰـہُکُمۡ اِلٰہٌ

چې زه ستاسو په شان بشر يم، ما ته دا وحي کولی
شي چې بېشکه همدا خبره ده

الثلثة

وَّاحِدٌ فَاسۡتَقِيۡمُوۡۤا اِلَيۡهِ وَ

چې ستاسو حق معبود يو معبود دى، نو تاسو ده ته مستقيم (او درست) اوسئ او

اسۡتَغۡفِرُوۡهُ ؕ وَ وَيۡلٌ

له ده نه مغفرت غواړئ او د

لِّلۡمُشۡرِكِيۡنَ ۙ﴿۶﴾ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡتُوۡنَ

مشركانو لپاره هلاكت دى(6) هغه كسان چې

الزَّكٰوةَ وَ هُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ هُمۡ

زكات نه ادا كوي او له اخرت نه هم دوى

كٰفِرُوۡنَ ﴿۷﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا

منكران (كافران) دي(7) بېشكه هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ

نيك عملونه يې کړي دي، د دوی لپاره نه

ع
15

مَمْنُوْنٍ ﴿٨﴾ قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ

قطع کېدونکی اجر دی(8) ته (دوی ته) ووايه: ايا
په رښتيا تاسو خامخا کافران کېږئ

بِالَّذِیْ خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ يَوْمَيْنِ وَ

په هغه ذات چې ځمکه يې په دوه ورځو کې پيدا
کړه او

تَجْعَلُوْنَ لَهٗۤ اَنْدَادًا ؕ ذٰلِكَ رَبُّ

تاسو د هغه لپاره شريکان جوړوئ. دغه خو رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩﴾ وَ جَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِیَ مِنْ

العالمين دی(9) او دغه (الله) په دغې (ځمکه)
کې د دې له پاسه

فَوۡقِهَا وَ بٰرَكَ فِيۡهَا وَ قَدَّرَ فِيۡهَاۤ

غرونه کېښودل او په هغې کې يې برکت واچوه او په هغې کې يې د دې (د اوسېدونکو)

اَقۡوَاتَهَا فِىۡۤ اَرۡبَعَةِ اَيَّامٍ ؕ سَوَآءً

روزي مقدره (په اندازه) کړه په څلورو ورځو کې، په داسې حال کې چې د تپوس

لِّلسَّآئِلِيۡنَ ۝۱۰ ثُمَّ اسۡتَوٰۤى اِلَى السَّمَآءِ

کوونکو لپاره برابر دي(10) بيا يې د اسمان په طرف اراده وکړه،

وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلۡاَرۡضِ

په داسې حال کې چې هغه يو لوګی و، نو هغه (الله) ده ته او ځمکې ته وويل:

ائۡتِيَا طَوۡعًا اَوۡ كَرۡهًا ؕ قَالَتَاۤ اَتَيۡنَا

تاسو دواړه راشئ، په خپلې خوښې سره، يا په زور سره، دواړو وويل: مونږ په

طَآىِٕعِيْنَ ﴿۱۱﴾ فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ

خوښې سره (فرمان منونکي) راغلو(11) نو دغه يې
په دوه ورځو کې اوه اسمانونه جوړ کړل او په هر

فِيْ يَوْمَيْنِ وَاَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ

اسمان کې يې د هغه د (مناسب) کار وحي وکړه او

موږ تر

اَمْرَهَا ؕ وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا

ټولو نژدې اسمان په ډيوو (د ستورو) سره ښکلی

کړ او

بِمَصَابِيْحَ ۖۗ وَحِفْظًا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ

(دغه مو وساته) په ښې ساتنې سره، دغه د ډير

غالب، ښه پوه

الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۱۲﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا

ذات اندازه کول دي(12) نو که دوی مخ

وګرځاوه،

فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ

نو ته (دوى ته) ووايه: زه تاسو د عاديانو او ثموديانو د سخت عذاب په مثل

عَادٍ وَّ ثَمُوْدَ ﴿۱۳﴾ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ

عذاب نه ويروم(13) كله چې دوى ته خپل رسولان د دوى له

مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَ مِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا

مخې او د دوى له شا نه راغلل او (ورته ويې ويل:)

تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا

چې تاسو له الله نه غير (د بل هيچا) عبادت مه كوئ. دوى وويل، كه زمونږ رب غوښتلى (نو)

لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً فَاِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ

خامخا ملايك به يې نازل كړي وى، پس بېشكه مونږ په هغه څه سره چې تاسو ورسره رالېږل شوي

كُفِرُوْنَ ﴿١٤﴾ فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي

يئ، كفر كوونكي يو(14) نو هر چې عاديان وو، نو دوی خو په

الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَ قَالُوْا مَنْ

ځمکه کې ناحقه لويي وکړه او ويې ويل: په

اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ

قوت کې زمونږ نه څوك زيات سخت (او مضبوط) دي؟! ايا دوی نهويني چې بېشکه هغه

الَّذِيْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ

الله چې تاسو يې پيدا کړي يئ؛ هغه له تاسو نه په قوت کې ډېر سخت دی.

وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿١٥﴾ فَاَرْسَلْنَا

او دغو به زمونږ له ايتونو نه انکار کاوه(15) نو مونږ په دوی

عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْٓ اَيَّامٍ

باندې په څو ډېرو سپېرو ورځو کې ډېر زورور یخ باد راخوشې کړ،

نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ

د دې لپاره چې مونږ په دوی باندې په دنیایي

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

ژوند کې د رسوایي عذاب وڅکوو، او یقینًا د اخرت عذاب ډېر رسواکوونکی دی،

اَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿١٦﴾ وَاَمَّا

په داسې حال کې چې د دوی به مدد نه کولی شي (16) او پاتې شول

ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى

ثمودیان، نو مونږ دوی ته ښېغه لار وښودله، نو

عَلَى الْهُدٰى فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ

دوى په هدايت باندې ړوندوالي ته ترجيح ورکړه، نو دوى د

الْعَذَابِ الْهُوْنِ بِمَا كَانُوْا

سپکوونکي عذاب سختې چغې ونيول، په سبب د هغو عملونو

يَكْسِبُوْنَ ﴿١٧﴾ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

چې دوى به کول(17) او مونږ هغو کسانو ته نجات ورکړ چې ايمان يې راوړى و او

ع 16

كَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿١٨﴾ وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَآءُ

پرهېزګاري به يې کوله(18) او (ياده کړه) هغه ورځ چې د

اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿١٩﴾ حَتّٰٓى

الله دښمنان به اور ته راجمع کولى شي، نو دوى به ډلي کولى (او تقسيمولى) شي(19) تر دې چې

إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ

کله دوی ده ته (ځنګه) راشي (، نو) په دوی باندې به د

سَمْعُهُمْ وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا

دوی غوږونه او د دوی سترګې او د دوی څرمنې ګواهي ورکړي، د هغو کارونو

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٢٠ وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ

چې دوی به کول(20) او دوی به خپلو څرمنو ته ووايي:

لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا

تاسو ولې پر مونږ ګواهي ورکړه؟ نو دغه (څرمنې) به ووايي: مونږ

اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَّهُوَ

هغه الله ګويا کړو چې هر شی یې ګويا کړی دی. او دغه (الله) تاسو

خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ

اول ځلې پيدا کړي يئ او خاص همده ته به

تُرْجَعُوْنَ ﴿٢١﴾ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ

بېرته ورگرځولی شئ(21) او تاسو به (د گناه د کولو په وخت کې)

اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ

ځان له دې نه نه پټولو چې په تاسو به ستاسو غوږونه او

اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ

ستاسو سترگې او ستاسو څرمنې گواهي ورکړي او لیکن

ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا

تاسو به دا خيال کاوه چې بېشکه الله په ډېرو هغو کارونو نه عالم کېږي

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۲﴾ وَ ذٰلِكُمۡ ظَنُّكُمُ الَّذِىۡ

چې تاسو يې كوئ(22) او دغه ستاسو هغه (خراب) ګمان دى

ظَنَنۡتُمۡ بِرَبِّكُمۡ اَرۡدٰٮكُمۡ فَاَصۡبَحۡتُمۡ

چې تاسو به په خپل رب (دغه) ګمان كاوه، دغه تاسو هلاك كړئ، نو له

مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۲۳﴾ فَاِنۡ يَّصۡبِرُوۡا

تاوانيانو څنې شوئ(23) پس كه دوى صبر وكړي،

فَالنَّارُ مَثۡوًى لَّهُمۡ‌ ۚ وَاِنۡ يَّسۡتَعۡتِبُوۡا

نو د دوى ځاى اور دى او كه دوى (دالله) رضا كول (او دنيا ته تلل) غواړي،

فَمَا هُمۡ مِّنَ الۡمُعۡتَبِيۡنَ ﴿۲۴﴾ وَ قَيَّضۡنَا

نو دوى له قبول كړى شويو څنې نه دي(24) او مونږ د دوى

لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ

لپاره ملگري مقرر کړي دي، نو دغو (ملګرو)
دوی ته هغه څیزونه ښایسته کړي دي

اَيْدِيْهِمْ وَ مَا خَلْفَهُمْ وَ حَقَّ عَلَيْهِمُ

چې د دوی مخې ته دي او د دوی وروسته دي او
په دوی (د عذاب) خبره ثابته شوې

الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ

ده په هغو امتونو کې چې له دوی نه مخکې کوم

مِّنَ الْجِنِّ وَ الْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا

پېریان او انسانان تېر شوي دي. بېشکه چې دوی

ع 17

خٰسِرِيْنَ ۟۲۵ وَ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا

تاوانیان وو(25) او کافران شوي کسان وايي:

تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ

تاسو دغه قرآن ته غوږ مه ږدئ او په (تلاوت د
ده کې شور ماشور اچوئ،

لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿٢٦﴾ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ

ښايي چې تاسو غالبه شئ(26) نو مونږ به په

كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ

کافرانو شويو کسانو خامخا لازمًا ډېر سخت
عذاب وڅکوو او خامخا لازمًا به مونږ دوی ته د

اَسْوَاَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ ذٰلِكَ

هغو تېرولو بدو عملونو بدله ورکړو چې دوی به کول
(27) دغه د

جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيْهَا

الله د دښمنانو بدله ده، چې اور دی، د دوی لپاره
په دغه (اور) کې د همېشه والي کور دی،

دَارُ الْخُلْدِ ؕ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا

په داسې حال کې چې (دغه) بدله ده، په سبب د
هغه چې دوی زمونږ له ایتونو

يَجْحَدُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

نه انکار کاوه(28) او کافران شوي کسان به
ووايي:

رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَ

ای زمونږه ربه! ته مونږ. ته هغه دوه تنه وښيه چې
د پېريانو او

الْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا

انسانانو څخه وو، چې مونږ دغه دواړه د خپلو
قدمونو له لاندې کړو، د دې لپاره چې دغه دواړه

لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

د تر ټولو ښکته خلقو څخه شي(29) بېشکه هغه
کسان چې (په رښتيا)

قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ

يې ويلي دي: زمونږ رب الله دی، بيا ټينګ ولاړ
وي

عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا

(، نو) په دوی ملايك نازليږي چې تاسو مه
ويريږئ او

تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ

مه غمگين کيږئ او تاسو د هغه جنت زيری
واخلئ چې تاسو سره به

كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝٣٠ نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي

يې وعده کولی شوه(30) مونږ ستاسو دوستان يو
په

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ

دنيايي ژوند کې او په اخرت کې (هم) او تاسو
لپاره په

فِيهَا مَا تَشْتَهِيٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ

دغه (جنت) كې هر هغه (نعمتونه) شته چې
ستاسو نفسونه يې خوښوي او تاسو لپاره په دغه

فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ

(جنت) كې هر هغه څه دي چې تاسو يې غواړئ(
31) په داسې حال كې چې د ډېر بخښونكي، بې

ع 18

رَّحِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ

حده رحم كوونكي له جانبه مېلمستيا ده(32) او د
خبرې په لحاظ له هغه چا نه

دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ

څوك ډېر ښه دى چې الله ته بلنه كوي او نېك
عمل كوئ او وايي چې

اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَا تَسْتَوِى

بېشكه زه له مسلمانانو څخه يم؟(33) او نېكي او
بدي

الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ؕ اِدْفَعْ بِالَّتِىْ

هیڅکله سره نه برابرېږي. ته په هغې طریقې سره جواب ورکوه چې تر ټولو ښه وي،

هِىَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِىْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ

نو ناڅاپه به هغه کس چې ستا په مینځ کې او د هغه په مینځ کې دښمني وي، داسې

عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِىٌّ حَمِيْمٌ ﴿۳۴﴾ وَمَا يُلَقّٰهَاۤ

شي ګویا کې هغه ستا ډېر مهربان دوست دی(34) او دا (خصلت) نه ورکول کېږي

اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰهَاۤ اِلَّا

مګر هغو کسانو ته چې صبر کوي او دا نه ورکول کېږي مګر

ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۳۵﴾ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ

د ډېرې لویې برخې والا ته(35) او که خامخا تا ته د

مِنَ الشَّيۡطٰنِ نَزۡغٌ فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ

شيطان له جانبه څه وسوسه راشي، نو ته په الله پورې پناه ونيسه،

اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۳۶﴾ وَمِنۡ

بېشکه هم هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی(36) او د هغه

اٰيٰتِهِ الَّيۡلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمۡسُ وَ

له دليلونو څخه شپه او ورځ او لمر او

الۡقَمَرُ ؕ لَا تَسۡجُدُوۡا لِلشَّمۡسِ وَلَا

سپوږمۍ دي، تاسو مه لمر ته سجده کوئ او مه

لِلۡقَمَرِ وَاسۡجُدُوۡا لِلّٰهِ الَّذِىۡ خَلَقَهُنَّ

سپوږمۍ ته او تاسو خاص الله ته سجده کوئ چې دغه (نښې) يې پيدا کړې دي،

اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿٣٧﴾ فَاِنِ

که چېرې تاسو خاص د هغه عبادت کوئ(37) نو
که دوی

اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ

تکبر وکړ، نو هغه ځوك چې له الله سره دي،

يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ

هغوی شپه او ورځ د ده پاکي بیانوي، په داسې
حال کې چې

لَا يَسْـَٔمُوْنَ ﴿٣٨﴾ السجدة وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى

نه ستړي کېږي(38) او د هغه له نښو څخه دا دي
چې بېشکه ته

السجدة12

الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا

ځمکه وچه کلکه وينې، نو کله چې مونږ په دې
اوبه نازلې کړو (نو)

الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ اِنَّ الَّذِیٓ

وخوځېږي او وپړسېږي، بېشکه هغه ذات چې دغه

اَحْیَاهَا لَمُحْیِ الْمَوْتٰی ؕ اِنَّهٗ عَلٰی کُلِّ

یې ژوندۍ کړې ده، خامخا د مړيو ژوندی کوونکی دی، بېشکه هغه په هر

شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۳۹﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ

شي باندې ښه قادر دی(39) بېشکه هغه کسان چې زمونږ

فِیْٓ اٰیٰتِنَا لَا یَخْفَوْنَ عَلَیْنَا ؕ اَفَمَنْ

په ایتونو کې کاږه روان دي (او غلطې معناګانې کوي)،

یُّلْقٰی فِی النَّارِ خَیْرٌ اَمْ مَّنْ یَّاْتِیْٓ اٰمِنًا

نو دوی پر مونږ پټ نه دي، ایا نو هغه څوك چې په اور کې غورځولی شي، ډېر غوره دی،

يَّوۡمَ الۡقِيٰمَةِ‌ ؕ اِعۡمَلُوۡا مَا شِئۡتُمۡ‌ ۙ اِنَّهٗ

يا هغه څوك چې د قيامت په ورځ (له عذاب نه) په امن كې راشي، څه چې ستاسو خوښ وي هغه

بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ‏ ﴿۴۰﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ

كوئ، بېشكه هغه (الله) په هغو كارونو چې تاسو يې كوئ؛ ښه ليدونكى دى(40) بېشكه هغه كسان

كَفَرُوۡا بِالذِّكۡرِ لَمَّا جَآءَهُمۡ‌ ۚ وَاِنَّهٗ

چې په ذكر (قرآن) سره كافران شوي دي، كله چې (دا ذكر) دوى ته راغى، په دې حال كې چې يقيناً

لَـكِتٰبٌ عَزِيۡزٌ ۙ‏ ﴿۴۱﴾ لَّا يَاۡتِيۡهِ الۡبَاطِلُ مِنۡۢ

دغه (ذكر) خامخا ډېر قوي كتاب دى(41) باطل ده ته نه د ده له

بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهٖ‌ ؕ تَنۡزِيۡلٌ

مخې نه راتلى شي او نه د ده له شا نه، د ډېر حكمت والا، ښه ستايل شوي (الله) له جانبه

مِّنۡ حَكِيۡمٍ حَمِيۡدٍ ﴿۴۲﴾ مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا

رالېږل شوی دی(42) تا ته نه ویل کېږي مګر هغه

مَا قَدۡ قِيۡلَ لِلرُّسُلِ مِنۡ قَبۡلِكَ ؕ اِنَّ

خبرې چې یقینًا له تا نه مخکې رسولانو ته ویل
شوي دي، بېشکه

رَبَّكَ لَذُوۡ مَغۡفِرَةٍ وَّ ذُوۡ عِقَابٍ

ستا رب خامخا د مغفرت والا او د ډېر دردوونکي

اَلِيۡمٍ ﴿۴۳﴾ وَلَوۡ جَعَلۡنٰهُ قُرۡاٰنًا اَعۡجَمِيًّا

عذاب والا دی(43) او که مونږ دا (کتاب) عجمي
قرآن ګرځولی وی،

لَّقَالُوۡا لَوۡلَا فُصِّلَتۡ اٰيٰتُهٗ ؕ ءَاَعۡجَمِیٌّ

(نو) دوی به ضرور ویلی چې ولې د ده ایتونه
واضح نه دي بیان شوي، ایا (کتاب) عجمي دی

وَّ عَرَبِيٌّ ؕ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى

او (نبي يې) عربي دى، ته (دوى ته) ووايه: دغه (قرآن) د هغو كسانو لپاره چې ايمان يې راوړى

وَّ شِفَآءٌ ؕ وَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ

دى؛ هدايت او شفا دى او هغه كسان چې ايمان نه راوړي؛ د هغوى په

اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّ هُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ

غوږونو كې درونډوالى دى، په داسې حال كې چې دغه (قرآن) په دوى ړوندوالى دى.

ع 19

اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۴۴﴾ وَ

دغه خلق (كفار گوياكې داسې) دي چې دوى ته له ډېر لرې ځايه اواز كولى شي(44) او

لَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ

يقينًا يقينًا مونږ موسىٰ ته كتاب وركړى و، نو په دغه (كتاب) كې اختلاف وكړى شو

فِيْهِ ؕ وَلَوْ لَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ

او كه چېرې هغه كلمه نه وى چې ستا د رب له جانبه ړومبى شوې ده، (نو) خامخا به د دوى په

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ

مينځ كې فيصله شوې وى. او بېشكه دوى د ده په هكله خامخا په اضطراب اچوونكي

مُرِيْبٍ ﴿٤٥﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ

شك كې دي(45) هر څوك چې نېك عمل كوي، نو د خپل ځان لپاره (يې كوي)

وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ

او څوك چې بدي كوي، نو ضرر يې په همده دى، او ستا رب په (خپلو) بنده ګانو

بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿٤٦﴾

د هيڅ ظلم كوونكى نه دى(46)

اِلَيۡهِ يُرَدُّ عِلۡمُ السَّاعَةِ ؕ وَمَا تَخۡرُجُ

خاص همده ته د قيامت علم ورسپارلی شي۔ او

مِنۡ ثَمَرٰتٍ مِّنۡ اَكۡمَامِهَا وَمَا تَحۡمِلُ

هېڅ مېوې له خپلو غلافونو څخه نه راوځي او نه هېڅ يو ښځه حامله کېږي

مِنۡ اُنۡثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلۡمِهٖ ؕ وَيَوۡمَ

او نه (بچی) زېږوي مگر د دغه (الله) په علم سره۔ او (ياده کړه) هغه ورځ

يُنَادِيۡهِمۡ اَيۡنَ شُرَكَآءِىۡ ۙ قَالُوۡۤا

چې دوی ته به (رب) اواز وکړي چې (ستاسو په عقيده) زما شريکان چېرته دي۔؟ دوی به ووايي:

اٰذَنّٰكَ ۙ مَا مِنَّا مِنۡ شَهِيۡدٍ ۚ﴿۴۷﴾ وَضَلَّ

مونږ ته خبر کړې چې (اوس) پر مونږ کې هيڅوك (د دې خبرې) گواهي کوونکی نشته(47) او له

عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَدۡعُوۡنَ مِنۡ قَبۡلُ وَ

دوی نه به هغه (معبودان) ورك شي چې له دې نه مخكې به دوی بلل او

ظَنُّوۡا مَا لَهُمۡ مِّنۡ مَّحِيۡصٍ ﴿۴۸﴾ لَا

دوی به يقين وكړي چې د دوی لپاره د تېښتې هېڅ ځای نشته(48) انسان

يَسۡـَٔمُ الۡاِنۡسَانُ مِنۡ دُعَآءِ الۡخَيۡرِ ۫ وَ

د خير له غوښتلو نه نه ستړی كېږي او كه ده ته شر

اِنۡ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَـُٔوۡسٌ قَنُوۡطٌ ﴿۴۹﴾ وَ

(او تكليف) ورسېږي، نو ډېر ناهيلی، ډېر نا اميده وي(49) او

لَئِنۡ اَذَقۡنٰهُ رَحۡمَةً مِّنَّا مِنۡۢ بَعۡدِ

كه خامخا مونږ په ده له خپل جانب نه رحمت وځكوو،

ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُوۡلَنَّ هٰذَا لِىۡ ۙ وَمَاۤ

له هغه تکلیف نه وروسته چې ده ته رسېدلی وي (،
نو) خامخا لازمًا به وايي: دا زما (حق) دی او زه د

اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآٮِٕمَةً ۙ وَّلَٮِٕنۡ رُّجِعۡتُ

قیامت په هکله گمان نه کوم چې قایم به شي او
خامخا که زه خپل رب ته بېرته وګرځولی شم، (نو)

اِلٰى رَبِّىۡۤ اِنَّ لِىۡ عِنۡدَهٗ لَلۡحُسۡنٰى ۚ

بېشکه زما لپاره به د هغه په نېز خامخا تر ټولو ښه
حالت (جنت) وي،

فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِمَا عَمِلُوۡا ۖ

نو مونږ به خامخا لازمًا کافران شوي کسان په
خپلو عملونو خبر کړو او

وَلَنُذِيۡقَنَّهُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ غَلِيۡظٍ ﴿۵۰﴾ وَ

خامخا لازمًا به مونږ دوی ته له ډېر سخت عذاب
څخه وڅکوو(50) او

اِذَاۤ اَنۡعَمۡنَا عَلَى الۡاِنۡسَانِ اَعۡرَضَ وَنَاٰ

كله چې مونږ په انسان باندې انعام وكړو (نو) دى (له حقه) مخ واړوي

بِجَانِبِهٖ‌ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوۡ

او خپل جانب (ځان) لرې كړي او كله چې ده ته سختي ورسيږي، نو بيا د ډيرې

دُعَآءٍ عَرِيۡضٍ ۝٥١ قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ كَانَ

اوږدې دعا والا وي(51) ته (دوى ته) ووايه: تاسو ما خبر كړئ!

مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرۡتُمۡ بِهٖ مَنۡ

كه چېرې دغه (قرآن) د الله له جانبه وي، بيا تاسو په ده سره كافران شئ، (نو) له هغه

اَضَلُّ مِمَّنۡ هُوَ فِىۡ شِقَاقٍۢ

چا نه لوى گمراه څوك دى چې په ډير لرې

بَعِيۡدٍ ﴿۵۲﴾ سَنُرِيۡهِمۡ اٰيٰتِنَا فِى الۡاٰفَاقِ وَ

مخالفت کې وي(52) ژر ده چې مونږ به دوی ته
خپلې نښې په افاقو (د عالم په اطرافو) کې او

فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ اَنَّهُ

د دوی په ځانونو کې وښيو، تر دې چې دوی ته
ښه څرګند شي چې يقيناً

الۡحَقُّ ؕ اَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى

هم دغه (قرآن) حق دی او ايا ستا رب ښه کافي
نه دی دا چې يقيناً هغه په

كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ﴿۵۳﴾ اَلَاۤ اِنَّهُمۡ فِىۡ مِرۡيَةٍ

هر شي باندې خبردار دی(53) خبردار شئ!
بېشکه دوی د خپل

مِّنۡ لِّقَآءِ رَبِّهِمۡ ؕ اَلَاۤ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَىۡءٍ

رب له ملاقات نه په شك کې دي، خبردار شئ!
بېشکه هغه په هر شي

ع
1

مُّحِیۡطٌ ﴿۵۴﴾

احاطه کوونکی دی(54)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

حٰمٓ ۚ ﴿۱﴾ عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ كَذٰلِكَ يُوۡحِىۡۤ اِلَيۡكَ وَ

حٰمٓ(1) عٓسٓقٓ(2) (له شروع نه) هغه همداسې
وحي كوي تا ته او

اِلَى الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكَ ۙ اللّٰهُ الۡعَزِيۡزُ

هغو (پيغمبرانو) ته چې له تا نه مخكې وو، هغه
الله چې ډېر غالب،

الۡحَكِيۡمُ ﴿۳﴾ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى

ښه حكمت والا دى(3) خاص د هغه لپاره هر هغه
څه دي په اسمانونو كې دي او هر هغه څه چې په

الۡاَرۡضِ ؕ وَهُوَ الۡعَلِىُّ الۡعَظِيۡمُ ﴿۴﴾ تَكَادُ

ځمكه كې دي او هم دغه (الله) ډېر اوچت، ډېر
لوى دى(4) اسمانونه دي

السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡ فَوۡقِهِنَّ وَ

ته نژدې دي چې د خپل له پاسه نه وچوي او

الۡمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوۡنَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَ

ملايك د خپل د رب ستاينې سره تسبيح وايي او

يَسۡتَغۡفِرُوۡنَ لِمَنۡ فِى الۡاَرۡضِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ

د هغه چا لپاره مغفرت غواړي چې په ځمكه كې
دي. خبردار شئ! بېشكه

اللّٰهَ هُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ۝۵ وَالَّذِيۡنَ

الله، هم دى ډېر بخښونكى، بې حده رحم كوونكى
دى(5) او هغه كسان

اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءَ اللّٰهُ

چې له ده نه غير يې نور كارسازان نيولي دي، الله

حَفِيۡظٌ عَلَيۡهِمۡ ‌ۖ وَمَاۤ اَنۡتَ عَلَيۡهِمۡ

په دوی ښه نګران دی۔ او ته په دوی باندې هېڅ

بِوَكِيۡلٍ ۝٦ وَكَذٰلِكَ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ

ذمه وار نه يې(6) او همداسې مونږ تا ته (دا)

قُرۡاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنۡذِرَ اُمَّ الۡقُرٰى وَمَنۡ

عربي قرآن وحي کړو، د دې لپاره چې ته ام القرىٰ (مکه) ووېروې او هغه

حَوۡلَهَا وَتُنۡذِرَ يَوۡمَ الۡجَمۡعِ لَا رَيۡبَ

څوك چې د دې ګېر چاپېره دي او ته (دوی) د جمع کېدلو له ورځې نه ووېروې چې هېڅ شك په

فِيۡهِ‌ ؕ فَرِيۡقٌ فِى الۡجَنَّةِ وَفَرِيۡقٌ فِى

کې نشته۔، يوه ډله به په جنت کې وي او بله ډله به په

السَّعِيۡرِ ﴿۷﴾ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمۡ

دوزخ كې وي(7) او كه الله غوښتلي وى (نو) دوى به يې خامخا

اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنۡ يُّدۡخِلُ مَنۡ يَّشَآءُ

يو امت گرځولي وو او لېكن هغه په خپل رحمت كې

فِىۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوۡنَ مَا لَهُمۡ مِّنۡ

چا ته چې وغواړي داخلوي يې۔ او ظالمان چې دي، د دوى لپاره نه هېڅ

وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۸﴾ اَمِ اتَّخَذُوۡا مِنۡ

كارساز شته او نه مددگار(8) ايا دوى له ده (الله) نه غير كارسازان

دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ الۡوَلِىُّ وَهُوَ

(او دوستان) نيولي دي، نو هم دغه الله كارساز دى۔ او هم دى مړي

ع
2

يُحۡيِ الۡمَوۡتٰى ۡ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

راژوندي کوي او هم دی په هر څيز باندې بښه

قَدِيۡرٌ ۝٩ وَمَا اخۡتَلَفۡتُمۡ فِيۡهِ مِنۡ

قادر دی(9) او هر هغه شی چې تاسو په هغه کې
اختلاف وکړئ، نو د

شَىۡءٍ فَحُكۡمُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

هغه حکم (فيصله) الله ته ده، دغه الله

رَبِّىۡ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ ۖ وَاِلَيۡهِ

زما رب دی، خاص په ده باندې ما توکل کړی دی
او خاص هم ده ته

اُنِيۡبُ ۝١٠ فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ

زه رجوع کوم(10) (دغه الله) د اسمانونو او
ځمکې پيدا کوونکی دی،

جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ اَزۡوَاجًا وَّ

تاسو لپاره يې له هم ستاسو له جنس (او ځانونو) نه جوړې پيدا کړې دي۔ او

مِنَ الۡاَنۡعَامِ اَزۡوَاجًا ۚ يَذۡرَؤُكُمۡ

له څارويو نه يې هم قسمونه (پيدا کړي دي)، هغه تاسو په دې طريقې

فِيۡهِ ؕ لَيۡسَ كَمِثۡلِهٖ شَىۡءٌ ۚ وَهُوَ

سره خوروي۔، د هغه په مثل هېڅ شی نشته۔ او هم دغه

السَّمِيۡعُ الۡبَصِيۡرُ ﴿۱۱﴾ لَهٗ مَقَالِيۡدُ

ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی(11) خاص هم دغه (الله) لره د

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ

اسمانونو او ځمکې چابياني دي۔، هغه چا لپاره چې وغواړي رزق فراخوي

لِمَنۡ يَّشَآءُ وَيَقۡدِرُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَىۡءٍ

او (چا لپاره چې وغواړي) تنګوي يې. بېشکه هغه په هر شي باندې

عَلِيۡمٌ ۝۱۲ شَرَعَ لَكُمۡ مِّنَ الدِّيۡنِ مَا

ښه عالم دی(12) هغه تاسو لپاره هغه دين مقرر کړی دی چې د

وَصّٰى بِهٖ نُوۡحًا وَّالَّذِىۡۤ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ

هغه وصيت يې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړې دی

وَمَا وَصَّيۡنَا بِهٖۤ اِبۡرٰهِيۡمَ وَمُوۡسٰى وَ

او هغه چې مونږ د هغه وصيت ابراهيم او موسیٰ او

عِيۡسٰۤى اَنۡ اَقِيۡمُوا الدِّيۡنَ وَلَا

عيسیٰ ته کړی و، چې تاسو دين قايم کړئ او په ده کې

تَتَفَرَّقُوۡا فِيۡهِ ؕ كَبُرَ عَلَى الۡمُشۡرِكِيۡنَ

مه مختلف کېږئ، په مشرکانو باندې هغه شی ډېر درووند دی

مَا تَدۡعُوۡهُمۡ اِلَيۡهِ ؕ اَللّٰهُ يَجۡتَبِىۡۤ اِلَيۡهِ

چې ته دوی هغه ته بلې۔، الله غوره کوي دې (دین) ته چا ته

مَنۡ يَّشَآءُ وَيَهۡدِىۡۤ اِلَيۡهِ مَنۡ

چې وغواړي او د ده په طرف هغه چا ته هدایت کوي چې

يُّنِيۡبُ ﴿۱۳﴾ وَمَا تَفَرَّقُوۡۤا اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا

رجوع کوي(13) او دوی سره مختلف شوي نه وو مگر وروسته له هغه چې

جَآءَهُمُ الۡعِلۡمُ بَغۡيًۢا بَيۡنَهُمۡ ؕ وَلَوۡلَا

دوی ته علم راغی، په خپل مینځ کې د حسد په وجه، او که چېرې

كَلِمَةٌ سَبَقَتۡ مِنۡ رَّبِّكَ اِلٰۤى اَجَلٍ

هغه خبره نه وی چې ستا د رب له جانبه تر ټاکلې نېټې پورې ړومبی شوې ده۔

مُّسَمًّى لَّقُضِىَ بَيۡنَهُمۡ ؕ وَاِنَّ الَّذِيۡنَ

(، نو) د دوی په مینځ کې به خامخا فیصله کړی شوې وی۔ اوبېشکه هغه کسان چې له دوی نه

اُوۡرِثُوا الۡكِتٰبَ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ لَفِىۡ شَكٍّ

وروسته ورته کتاب په میراث کې ورکړی شوی دی، خامخا د دغه (قرآن) په هکله په اضطراب

مِّنۡهُ مُرِيۡبٍ ﴿۱۴﴾ فَلِذٰلِكَ فَادۡعُ ۚ وَ

اچوونکي شك كې دي(14) نو ته همدغه (توحید) ته بلنه کوه۔ او

اسۡتَقِمۡ كَمَاۤ اُمِرۡتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعۡ

په استقامت اوسه، لکه څنګه چې تا ته حکم درکړی شوی دی او د دوی د خواهشاتو پیروي

اَهۡوَآءَهُمۡ ۚ وَ قُلۡ اٰمَنۡتُ بِمَاۤ اَنۡزَلَ

مه کوه او ته وایه: ما په هر هغه کتاب ایمان راوړی دی چې الله نازل کړی دی او ما ته حکم راکړی

اللّٰهُ مِنۡ كِتٰبٍ ۚ وَ اُمِرۡتُ لِاَعۡدِلَ

شوی دی چې ستاسو په مینځ کې انصاف وکړم۔،

بَيۡنَكُمۡ ؕ اَللّٰهُ رَبُّنَا وَ رَبُّكُمۡ ؕ لَنَاۤ

الله زمونږ رب دی او ستاسو رب دی، زمونږ لپاره زمونږ

اَعۡمَالُنَا وَ لَكُمۡ اَعۡمَالُكُمۡ ؕ لَا حُجَّةَ

عملونه دي او تاسو لپاره ستاسو عملونه دي۔ (حق ښه واضح شو، نو زمونږ په مینځ کې او

بَيۡنَنَا وَ بَيۡنَكُمۡ ؕ اَللّٰهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا ۚ وَ

ستاسو په مینځ کې هیڅ جګړه نشته۔، الله به مونږ ټول سره راجمع کړي۔ او

اِلَيۡهِ الۡمَصِيۡرُ ﴿۱۵﴾ وَ الَّذِيۡنَ يُحَآجُّوۡنَ

خاص همده ته بېرته ورتلل دي(15) او هغه کسان چې د

فِى اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا اسۡتُجِيۡبَ لَهٗ

الله په باره کې وروسته له دې جګړې کوي چې د هغه دعوت قبول کړی شوی،

حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ وَ

د دغو کسانو جګړه کول د دوی د رب په نېز باطل دي او

عَلَيۡهِمۡ غَضَبٌ وَّلَهُمۡ عَذَابٌ

په دوی غضب دی او د دوی لپاره ډېر سخت

شَدِيۡدٌ ﴿۱۶﴾ اَللّٰهُ الَّذِىۡۤ اَنۡزَلَ الۡكِتٰبَ

عذاب دی(16) الله هغه ذات دی چې کتاب يې په

بِالۡحَقِّ وَ الۡمِیۡزَانَ ؕ وَ مَا یُدۡرِیۡكَ

حقه سره نازل کړی دی او تله (میزان) یې هم۔ او تا څه شی خبروي،

لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِیۡبٌ ﴿۱۷﴾ یَسۡتَعۡجِلُ بِهَا

ښايي چې قيامت ډېر نژدې وي(17) دغه (قيامت) هغه

الَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِهَا ۚ وَ الَّذِیۡنَ

کسان په تلوار سره غواړي چې په ده ايمان نه لري۔ او هغه کسان چې (په ده)

اٰمَنُوۡا مُشۡفِقُوۡنَ مِنۡهَا ۙ وَ یَعۡلَمُوۡنَ

يې ايمان راوړی دی، له ده نه وېرېدونکي دي۔ او دوی پوهېږي

اَنَّهَا الۡحَقُّ ؕ اَلَاۤ اِنَّ الَّذِیۡنَ یُمَارُوۡنَ

چې يقينًا دا حق دی۔، خبردار شئ! بېشکه هغه کسان چې د قيامت په باره کې جګړې (او

فِي السَّاعَةِ لَفِيۡ ضَلٰلٍۭ بَعِيۡدٍ ﴿١٨﴾ اَللّٰهُ

شكونه) كوي، يقينًا په ډېرې لرې ګمراهۍ کې دي
(18) الله

لَطِيۡفٌۢ بِعِبَادِهٖ يَرۡزُقُ مَنۡ يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ

په خپلو بنده ګانو ډېر مهربان دی، هغه روزي
ورکوي چا ته چې وغواړي، او

الۡقَوِىُّ الۡعَزِيۡزُ ﴿١٩﴾ مَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ

ع
3

هم دی ډېر زورور، ښه غالب دی(19) هر هغه
څوک چې

حَرۡثَ الۡاٰخِرَةِ نَزِدۡ لَهٗ فِىۡ حَرۡثِهٖ ۚ وَ

د اخرت فصل غواړي، نو مونږ به د ده لپاره د ده
په فصل کې زياتوالی وکړو۔ او

مَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ حَرۡثَ الدُّنۡيَا نُؤۡتِهٖ

هر هغه څوک چې د دنيا فصل غواړي (نو) مونږ به
ده ته له دغې (دنيا) نه څه ورکړو

مِنۡهَا وَ مَا لَهٗ فِي الۡاٰخِرَةِ مِنۡ

او د ده لپاره به په اخرت کې هېڅ برخه

نَّصِيۡبٍ ۝٢٠ اَمۡ لَهُمۡ شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوۡا

نه وي(20) ایا د دوی لپاره داسې شریکان شته چې د

لَهُمۡ مِّنَ الدِّيۡنِ مَا لَمۡ يَاۡذَنۡۢ بِهِ

دوی لپاره یې له دین څخه هغه لاره مقرر کړې ده چې

اللّٰهُ ؕ وَ لَوۡ لَا كَلِمَةُ الۡفَصۡلِ لَقُضِيَ

الله د هغې اذن نه دی کړی۔ او که چېرې د فیصلې خبره نه وی (نو) د

بَيۡنَهُمۡ ؕ وَ اِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ لَهُمۡ عَذَابٌ

دوی په مینځ کې به خامخا فیصله شوې وی۔ او بېشکه ظالمان چې دي، د دوی لپاره ډېر دردوونکی

اَلِيۡمٌ ﴿٢١﴾ تَرَى الظّٰلِمِيۡنَ مُشۡفِقِيۡنَ

عذاب دی(21) ته به ظالمان (مشركان) وينې چې
د خپل کړي

مِمَّا كَسَبُوۡا وَ هُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمۡ ؕ وَ

عمل (له انجام) نه به وېرېدونکي وي، په دې حال
کې چې هغه په دوی پرېوتونکی دی، او

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِىۡ

هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه
یې کړي دي،

رَوۡضٰتِ الۡجَنّٰتِ ۚ لَهُمۡ مَّا يَشَآءُوۡنَ

د جنتونو په باغېچو کې به وي۔ د دوی لپاره د

عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الۡفَضۡلُ

خپل رب په نیز هغه څه دي چې دوی یې
غواړي۔، هم دغه ډېر لوی

الۡكَبِيۡرُ ﴿٢٢﴾ ذٰلِكَ الَّذِيۡ يُبَشِّرُ اللّٰهُ

فضل دی(22) دغه دی هغه شی چې الله يې خپلو

عِبَادَهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

هغو بنده گانو ته زېری ورکوي چې ايمان يې
راوړی دی او

الصّٰلِحٰتِ ؕ قُلۡ لَّاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ

نېك عملونه يې كړي دي.، ته (دوی ته) ووايه: زه
له تاسو نه په دغه (تبليغ)

اَجۡرًا اِلَّا الۡمَوَدَّةَ فِي الۡقُرۡبٰى ؕ وَمَنۡ

باندې هېڅ اجر (مزدوري) نه غواړم، لېکن په
خپلوی كې مينه (د خپلولۍ مينه) (غواړم) او

يَّقۡتَرِفۡ حَسَنَةً نَّزِدۡ لَهٗ فِيۡهَا حُسۡنًا ؕ

هر هغه څوك چې نېكي وكړي مونږ به هغه ته په
دغې (نېكۍ) ښايست ورزيات كړو، بېشكه الله

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ شَكُوۡرٌ ﴿۲۳﴾ اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ

ډېر مغفرت کوونکی ډېر قدردان (شکر قبلوونکی) دی(23) ایا دوی وایي

افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا‌ ۚ فَاِنۡ يَّشَاِ اللّٰهُ

چې ده په الله باندې له ځانه دروغ تړلي دي، ۔ نو که الله وغواړي

يَخۡتِمۡ عَلٰى قَلۡبِكَ‌ ؕ وَيَمۡحُ اللّٰهُ

ستا په زړه به مهر ولګوي۔ او الله باطل

الۡبَاطِلَ وَيُحِقُّ الۡحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ‌ ؕ اِنَّهٗ

محوه کوي او په خپلو کلماتو سره حق ثابتوي، بېشکه

عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۲۴﴾ وَهُوَ الَّذِىۡ

هغه د سینو په خبرو ښه عالم دی(24) او دی همغه ذات دی

يَقۡبَلُ التَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهٖ وَيَعۡفُوۡا

چې د خپلو بنده ګانو توبه قبلوي او د بديو معافي کوي او په

عَنِ السَّيِّاٰتِ وَيَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿٢٥﴾ وَ

هغو کارونو پوهېږي چې تاسو يې کوئ(25) او

يَسۡتَجِيۡبُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

د هغو کسانو دعاګانې قبلوي چې ايمان يې راوړی دی او

الصّٰلِحٰتِ وَيَزِيۡدُهُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ؕ وَ

نېک عملونه يې کړي دي او له خپل فضله دوی ته زيات ورکوي، او

الۡكٰفِرُوۡنَ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ﴿٢٦﴾ وَلَوۡ

کافران (چې دي) د دوی لپاره ډېر سخت عذاب دی(26) او که چېرې

بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِي

الله د خپلو بنده ګانو لپاره روزي فراخه کړي، نو دوی به په

الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا

ځمکه کې خامخا سرکشي وکړي۔ او لیکن هغه په یوې اندازې سره څومره چې وغواړي نازلوي يې،

يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾ وَ

بېشکه هغه په خپلو بنده ګانو ښه خبردار، ښه لیدونکی دی(27) او

هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا

دی همغه ذات دی چې باران وروي، وروسته له دې چې دوی

قَنَطُوْا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهٗ ؕ وَهُوَ الْوَلِيُّ

نا امېده شي۔ او هغه خپل رحمت خوروي او هم دی ښه کارساز،

الۡحَمِيۡدُ ﴿٢٨﴾ وَ مِنۡ اٰيٰتِهٖ خَلۡقُ

نبه ستايل شوى دى(28) او د ده له نښو څخه د

السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَ مَا بَثَّ فِيۡهِمَا

اسمانونو او ځمکې پيدا کول دي او د هغو زنده
سرو (خوځندهوو پيدا کول دي)

مِنۡ دَآبَّةٍ ؕ وَ هُوَ عَلٰى جَمۡعِهِمۡ اِذَا

چې ده په دغو دواړو کې خواره کړي دي۔ او دغه
(الله) چې کله وغواړي د دغو (ژيزونو) په

ع 4

يَشَآءُ قَدِيۡرٌ ﴿٢٩﴾ وَ مَاۤ اَصَابَكُمۡ مِّنۡ

راجمع کولو ښه قادر دى(29) او تاسو ته چې څه
مصيبت هم رسي،

مُّصِيۡبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ اَيۡدِيۡكُمۡ وَ

نو په سبب د هغو کارونو چې ستاسو لاسونو کړي
دي۔ او

يَعۡفُوۡا عَنۡ كَثِيۡرٍ ﴿٣٠﴾ وَ مَاۤ اَنۡتُمۡ

ډېر (ګناهونه) معاف کوي(30) او تاسو په ځمکه

بِمُعۡجِزِيۡنَ فِى الۡاَرۡضِ ‌ۖۚ وَمَا لَـكُمۡ

کې (الله لره) له سره عاجزه کوونکي نه يئ او د
تاسو لپاره له

مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿٣١﴾ وَ

الله نه غير نه څوك دوست (او كارساز) شته او نه
مددګار(31) او

مِنۡ اٰيٰتِهِ الۡجَوَارِ فِى الۡبَحۡرِ

د هغه له نښو څخه په سمندر کې رواني بېړۍ
دي، چې

كَالۡاَعۡلَامِ ﴿٣٢﴾ اِنۡ يَّشَاۡ يُسۡكِنِ الرِّيۡحَ

دغرونو په شان دي(32) که هغه (الله) وغواړي،
نو هوا به ودروي،

فَيَظۡلَلۡنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهۡرِهٖ ؕ اِنَّ فِىۡ

نو دغه (بېړۍ) به د ده په شا ولاړې پاتې شي، بېشکه په دغو کې د هر

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوۡرٍ ۙ‏ ﴿۳۳﴾ اَوۡ

صبرناك او ډېر شکر ايستونکي لپاره يقينًا ډېرې نښې دي(33) يا به دغه (بېړۍ) هلاکې (ډوبې)

يُوۡبِقۡهُنَّ بِمَا كَسَبُوۡا وَيَعۡفُ عَنۡ

کړي، په سبب د هغو (ګناهونو) چې دغو (خلقو) کړي دي او (که وغواړي) ډېر

كَثِيۡرٍ ﴿۳۴﴾ ۙ وَّيَعۡلَمَ الَّذِيۡنَ يُجَادِلُوۡنَ فِىۡۤ

(ګناهونه) معاف کوي(34) او چې هغه کسان پوه شي چې زمونږ په ايتونو کې جګړې کوي، چې د

اٰيٰتِنَا ؕ مَا لَهُمۡ مِّنۡ مَّحِيۡصٍ ﴿۳۵﴾ فَمَاۤ

دوی لپاره د خلاصي هېڅ ځای نشته(35) پس تاسو ته

اُوۡتِیۡتُمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ فَمَتَاعُ الۡحَیٰوةِ

چې څه شی هم درکړی شوی دی، نو (دغه) د

الدُّنۡیَا ۚ وَ مَا عِنۡدَ اللّٰهِ خَیۡرٌ وَّ اَبۡقٰی

دنیایي ژوند فایده ده، او هغه (ثواب) چې د الله

په نېز دی (هغه) ډېر غوره او ډېر باقي پاتې

لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَلٰی رَبِّهِمۡ

کېدونکی دی د هغو کسانو لپاره چې ایمان یې

راوړی دی او خاص په خپل رب

یَتَوَکَّلُوۡنَ ﴿۳۶﴾ۚ وَ الَّذِیۡنَ یَجۡتَنِبُوۡنَ

باندې توکل کوي(36) او د هغو کسانو لپاره

کَبٰٓئِرَ الۡاِثۡمِ وَ الۡفَوَاحِشَ وَ اِذَا مَا

چې له غټو ګناهونو او د بې حیایۍ له کارونو نه

ځان ساتي او چې کله

غَضِبُوۡا هُمۡ يَغۡفِرُوۡنَ ۚ﴿۳۷﴾ وَ الَّذِيۡنَ

هم په غضب شي (نو) دوی بخښنه کوي(37) او د هغو کسانو

اسۡتَجَابُوۡا لِرَبِّهِمۡ وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۖ

لپاره چې د خپل رب حکم مني او لمونځ قايموي

وَ اَمۡرُهُمۡ شُوۡرٰى بَيۡنَهُمۡ ۖ وَ مِمَّا

او د دوی کار په خپل مينځ کې په مشورې سره وي او ځيني له هغه (مال) نه چې مونږ دوی ته

رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ۚ﴿۳۸﴾ وَ الَّذِيۡنَ اِذَاۤ

ورکړی دی؛ انفاق کوي(38) او د هغو کسانو لپاره چې

اَصَابَهُمُ الۡبَغۡىُ هُمۡ يَنۡتَصِرُوۡنَ ﴿۳۹﴾ وَ

دوی ته (د کافرانو له خوا) ظلم ورسېږي (نو) دوی (له هغو نه) انتقام اخلي(39) او

جَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثۡلُهَا ۚ فَمَنۡ عَفَا

د بدۍ بدله د هغې په شان بدي ده، نو هغه څوك
چې معافي وکړي

وَ اَصۡلَحَ فَاَجۡرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا

او اصلاح وکړي نو د ده اجر په الله دی، بېشکه
هغه (الله)

يُحِبُّ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۴۰﴾ وَ لَمَنِ انۡتَصَرَ بَعۡدَ

ظالمان نه خوښوي(40) او يقينًا هغه څوك چې په

ظُلۡمِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيۡهِمۡ مِّنۡ

خپل ځان له ظلم کېدو نه پس بدل واخلي، نو دغه
کسان (دي چې) په دوی (د ملامتيا)

سَبِيۡلٍ ؕ﴿۴۱﴾ اِنَّمَا السَّبِيۡلُ عَلَى الَّذِيۡنَ

هېڅ لار نشته(41) بېشکه همدا خبره ده چې (د
ملامتيا) لار خو په هغو کسانو

يَظۡلِمُوۡنَ النَّاسَ وَيَبۡغُوۡنَ فِي الۡاَرۡضِ

ده چې په خلقو ظلم کوي او په ځمکه کې ناحقه

بِغَيۡرِ الۡحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ

سرکشي کوي، دغه کسان (دي چې) د دوی لپاره ډېر دردوونکی

اَلِيۡمٌ ﴿۴۲﴾ وَلَمَنۡ صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ

عذاب دی(42) او يقينًا هغه څوك چې صبر يې وکړ او بخښنه يې وکړه، بېشکه دغه (صبر او

ع 5

لَمِنۡ عَزۡمِ الۡاُمُوۡرِ ﴿۴۳﴾ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ

بخښنه) خامخا له غوره کارونو څخه دي(43) او هر هغه څوك چې

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ وَّلِيٍّ مِّنۡۢ بَعۡدِهٖ ؕ وَ

الله يې گمراه کړي، نو د ده لپاره له دغه (الله) نه پس هيڅ دوست (او حمايتي) نشته۔ او

تَرَى الظّٰلِمِيۡنَ لَمَّا رَاَوُا الۡعَذَابَ

ته به ظالمان وينې، کله چې دوی عذاب ووينې،

يَقُوۡلُوۡنَ هَلۡ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنۡ سَبِيۡلٍ ۚ﴿۴۴﴾ وَ

دوی به وايي: ايا بېرته تللو ته څه لار شته؟(44)
او

تَرٰىهُمۡ يُعۡرَضُوۡنَ عَلَيۡهَا خٰشِعِيۡنَ

ته به دوی وينې چې په دغه (اور) به پيش کولی
شي،

مِنَ الذُّلِّ يَنۡظُرُوۡنَ مِنۡ طَرۡفٍ خَفِىٍّ ؕ

په داسې حال کې چې د ذلت په وجه به
وېرېدونکي وي، دوی به د سترګو له ګوټونو نه

وَقَالَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِنَّ الۡخٰسِرِيۡنَ

ګوري۔ او هغه کسان به چې ايمان يې راوړی دی؛
وايي: بېشکه تاوانيان

الَّذِيۡنَ خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ وَ اَهۡلِيۡهِمۡ

خو هغه کسان وي چې د قيامت په ورځ يې خپل
ځان او خپلې کورنۍ ته تاوان ورساوه۔،

يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ فِىۡ

خبردار شئ! بېشکه ظالمان به په دايمي (همېشني)

عَذَابٍ مُّقِيۡمٍ ﴿۴۵﴾ وَ مَا كَانَ لَهُمۡ مِّنۡ

عذاب کې وي(45) او د دغو لپاره به هيڅوك
دوستان نه وي

اَوۡلِيَآءَ يَنۡصُرُوۡنَهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ وَ

چې له الله نه غير له دوی سره مدد وکړي او

مَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ

هغه څوك چې الله يې گمراه کړي نو د ده لپاره

سَبِيۡلٍ ؕ﴿۴۶﴾ اِسۡتَجِيۡبُوۡا لِرَبِّكُمۡ مِّنۡ

هېڅ لاره نشته(46) تاسو د خپل رب حکم ومنئ

قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِىَ يَوۡمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ

مخکې له دې چې هغه ورځ راشي چې د الله له طرفه هغې

اللّٰهِ ؕ مَا لَـكُمۡ مِّنۡ مَّلۡجَاٍ يَّوۡمَئِذٍ وَّمَا

لره هېڅ رد (او ګرځول) نشته۔، په دغه ورځ کې به تاسو لپاره هېڅ پناه ځای نه وي

لَـكُمۡ مِّنۡ نَّكِيۡرٍ ﴿۴۷﴾ فَاِنۡ اَعۡرَضُوۡا فَمَاۤ

او نه به څه انکار وي(47) نو که دوی مخ وګرځوي،

اَرۡسَلۡنٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيۡظًا ؕ اِنۡ عَلَيۡكَ

نو ته مونږ په دوی باندې نګران نه یې لیږلی، په تا خو یوازې تبلیغ کول دي۔، بېشکه

اِلَّا الۡبَلٰغُ ؕ وَ اِنَّاۤ اِذَاۤ اَذَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ

مونږ. كله چې په انسان له خپل جانب نه رحمت
وڅكوو (نو) هغه

مِنَّا رَحۡمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ وَ اِنۡ تُصِبۡهُمۡ

په ده سره خوشحاله شي. او كه چېرې دوى ته
تكليف ورسېږي په

سَیِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتۡ اَیۡدِیۡهِمۡ فَاِنَّ

سبب د هغو (گناهونو) چې د دوى لاسونو مخكې
لېږلي دي. بيا خو دغه انسان

الۡاِنۡسَانَ كَفُوۡرٌ ﴿۴۸﴾ لِلّٰهِ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ

يقينًا ډېر ناشكره دى(48) خاص الله لره د
اسمانونو او ځمكې بادشاهي ده،

وَ الۡاَرۡضِ ؕ یَخۡلُقُ مَا یَشَآءُ ؕ یَهَبُ

څه چې وغواړي هغه پيدا كوي. چا ته چې

لِمَنۡ یَّشَآءُ اِنَاثًا وَّ یَهَبُ لِمَنۡ یَّشَآءُ

وغواړي جينکۍ ورکوي او چا ته چې وغواړي

الذُّکُوۡرَ ﴿۴۹﴾ اَوۡ یُزَوِّجُهُمۡ ذُکۡرَانًا وَّ

هلکان ورکوي(49) يا دوی ته هلکان او جينکۍ
جمع کوي (دواړه ورکوي) او

اِنَاثًا ۚ وَ یَجۡعَلُ مَنۡ یَّشَآءُ عَقِیۡمًا ؕ

چا ته چې وغواړي شنډ (او) شنډه يې وګرځوي،
بېشکه هغه،

اِنَّهٗ عَلِیۡمٌ قَدِیۡرٌ ﴿۵۰﴾ وَ مَا کَانَ لِبَشَرٍ

ښه عالم، ښه قادر دی(50) او د هېڅ انسان لپاره

اَنۡ یُّکَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحۡیًا اَوۡ مِنۡ وَّرَآیِٔ

ممکن نه و چې الله ورسره خبرې وکړي مګر په
وحې سره۔ يا له پردې نه شا ته، يا استائی

حِجَابٍ اَوۡ يُرۡسِلَ رَسُوۡلًا فَيُوۡحِيَ

راولېږي، پس دغه د ده په حکم سره ورسوي هغه چې هغه (الله)

بِاِذۡنِهٖ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيۡمٌ ﴿۵۱﴾ وَ

يې غواړي، بېشکه دی، ډېر اوچت، ښه حکمت والا دی۔(51) او

كَذٰلِكَ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ رُوۡحًا مِّنۡ

همداسې مونږ په خپل امر سره تا ته د روح (قرآن) وحي راولېږله۔،

اَمۡرِنَا ؕ مَا كُنۡتَ تَدۡرِىۡ مَا الۡكِتٰبُ وَ

ته نه پوهېدلی چې کتاب څه شی دی او نه (پوهېدی چې)

لَا الۡاِيۡمَانُ وَلٰكِنۡ جَعَلۡنٰهُ نُوۡرًا

ایمان (څه شی دی) او لېکن مونږ دغه (کتاب) رڼا ګرځولی دی چې

نَهۡدِیۡ بِهٖ مَنۡ نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَا ؕ وَ

په ده سره مونږ په خپلو بنده ګانو کې چې چا ته
وغواړو هدايت ورکوو. او

اِنَّكَ لَتَهۡدِیۡۤ اِلٰی صِرَاطٍ

بېشکه يقينًا ته نېغې لارې ته

مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۵۲﴾ۙ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَهٗ مَا

سموونه کوي(52) د هغه الله لارې ته چې خاص
هغه لره دي هر

فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الۡاَرۡضِ ؕ اَلَاۤ اِلَی

هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه
چې په ځمکه کې دي. اګاه شئ!

ع 6

اللّٰهِ تَصِیۡرُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۵۳﴾

خاص الله ته ټول کارونه بېرته ګرځي(53)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

حٰمٓ ۚ ﴿١﴾ وَالۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ۙ ﴿٢﴾ اِنَّا

حا، ميم(1) قسم دی، په دغه روښانه کتاب(2) بېشکه

جَعَلۡنٰهُ قُرۡءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمۡ

مونږ دا عربي قرآن گرځولی دی، د دې لپاره چې تاسو له

تَعۡقِلُوۡنَ ۚ ﴿٣﴾ وَاِنَّهٗ فِيۡۤ اُمِّ الۡكِتٰبِ لَدَيۡنَا

عقل نه کار واخلئ(3) او بېشکه دا په ام الکتب (لوح محفوظ) کې زمونږ په نزد خامخا ډېر

لَعَلِيٌّ حَكِيۡمٌ ؕ ﴿٤﴾ اَفَنَضۡرِبُ عَنۡكُمُ

اوچت، ډېر حکمت والا دی(4) ايا نو مونږ له تاسو نه دا ذکر

الذِّكۡرَ صَفۡحًا اَنۡ كُنۡتُمۡ قَوۡمًا

(قرآن) واړوو (بند کړو) بېخي اړول (بندول)، په دې سبب چې تاسو له حده

مُّسۡرِفِيۡنَ ۝٥ وَكَمۡ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ نَّبِيٍّ

تېرېدونکي قوم يئ(5) او مونږ په ړومبنو خلقو کې ځومره ډېر

فِي الۡاَوَّلِيۡنَ ۝٦ وَمَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ نَّبِيٍّ

نبيان لېږلي دي(6) او دوی ته به هېڅ يو نبي نه راته

اِلَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ۝٧ فَاَهۡلَكۡنَآ

مګر دوی به په هغه پورې مسخرې کولې(7) نو مونږ هغه هلاك کړل

اَشَدَّ مِنۡهُمۡ بَطۡشًا وَّمَضٰى مَثَلُ

چې له دوی نه په نيولو (او قوت) کې ډېر زيات سخت وو او د ړومبنيو خلقو مثال (او حال) تېر

الۡاَوَّلِيۡنَ ۝٨ وَلَئِنۡ سَاَلۡتَهُمۡ مَّنۡ خَلَقَ

شوی دی(8) او قسم دی که ته له دوی نه تپوس وکړې چې

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ لَيَقُوۡلُنَّ خَلَقَهُنَّ

اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي (، نو) دوی به خامخا لازمًا ووایي چې دغه ډېر غالب،

الۡعَزِيۡزُ الۡعَلِيۡمُ ۝٩ الَّذِىۡ جَعَلَ لَكُمُ

ډېر پوه ذات پیدا کړي دي(9) هغه چې تاسو لپاره يې

الۡاَرۡضَ مَهۡدًا وَّ جَعَلَ لَكُمۡ فِيۡهَا

ځمکه فرش گرځولې ده او تاسو لپاره يې په دې کې لارې پیدا کړي دي، د دې

سُبُلًا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُوۡنَ ۝١٠ وَالَّذِىۡ

لپاره چې نېغه لار ومومئ(10) او هغه ذات

نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍۚ

چې له بره نه يې اوبه په اندازې سره نازلې کړې دي،

فَاَنۡشَرۡنَا بِهٖ بَلۡدَةً مَّيۡتًاۚ كَذٰلِكَ

پس په دغو سره مونږ مړ ښار راژوندی کړی دی، همداسې به

تُخۡرَجُوۡنَ ۝١١ وَالَّذِىۡ خَلَقَ الۡاَزۡوَاجَ

تاسو راوېستلی شئ(11) او هغه ذات چې ټول قسمونه (انواع)

كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمۡ مِّنَ الۡفُلۡكِ وَ

يې پيدا کړي دي او تاسو لپاره يې له بېړيو او خارويو نه هغه پيدا

الۡاَنۡعَامِ مَا تَرۡكَبُوۡنَ ۝١٢ لِتَسۡتَوٗا عَلٰى

کړي دي چې تاسو پرې سورېږئ(12) د دې لپاره چې تاسو د

ظُهُوۡرِهٖ ثُمَّ تَذۡكُرُوۡا نِعۡمَةَ رَبِّكُمۡ اِذَا

هغو په شاګانو نبه برابر كېنئ، بيا د خپل رب نعمت رايادكړئ، كله چې

اسۡتَوَيۡتُمۡ عَلَيۡهِ وَتَقُوۡلُوۡا سُبۡحٰنَ

تاسو په دغه برابر كېنئ او ووايئ: پاكي ده هغه

الَّذِىۡ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ

ذات لره چې زمونږ لپاره يې دا مسخر (او تابع) كړى دى۔ او مونږ ده لره په قابو كې

مُقۡرِنِيۡنَ ۙ﴿۱۳﴾ وَاِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا

راوستونكي نه يو(13) او بېشكه مونږ خاص خپل رب ته

لَمُنۡقَلِبُوۡنَ ﴿۱۴﴾ وَجَعَلُوۡا لَهٗ مِنۡ عِبَادِهٖ

خامخا بېرته ورتلونكي يو(14) او دوى د ده په بنده ګانو كې

جُزۡءًا ؕ اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَـكَفُوۡرٌ

ځينو لره د ده برخه (او اولاد) وګرځول، بېشکه
انسان خامخا ډېر

مُّبِيۡنٌ ؕ ﴿۱۵﴾ اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخۡلُقُ بَنٰتٍ وَّ

ښکاره ناشکره دی(15) ايا (تاسو دا وايئ چې)
هغه (الله) له هغه چا نه، چې دی يې پيدا کوي،

اَصۡفٰكُمۡ بِالۡبَنِيۡنَ ﴿۱۶﴾ وَاِذَا بُشِّرَ

د ځان لپاره لوڼه نيولي دي او تاسو يې په زامنو
سره غوره کړي يئ(16) حال دا چې کله دوی ته

اَحَدُهُمۡ بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحۡمٰنِ مَثَلًا

په هغه (لور) سره زېری ورکړی شي چې دی يې د
رحمٰن لپاره مثال بيانوي (نو)

ظَلَّ وَجۡهُهٗ مُسۡوَدًّا وَّهُوَ كَظِيۡمٌ ﴿۱۷﴾ اَوَ

د ده مخ تك تور شي، په دې حال کې چې دی له
غمه ډك وي(17) او

ع
7

مَنۡ يُّنَشَّؤُا فِى الۡحِلۡيَةِ وَهُوَ فِى

ايا (دوی د الله لپاره مقرروي) هغه چې په کالیو (زیوراتو) کې لویه ولی شي، حال دا چې په

الۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِيۡنٍ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُوا

جګړه کې خبره واضحه کوونکي نه وي(18) او دوی (مشرکان)

الۡمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيۡنَ هُمۡ عِبٰدُ الرَّحۡمٰنِ

ملایکو لره هغه چې دوی د رحمٰن بنده ګان دي،

اِنَاثًا ؕ اَشَهِدُوۡا خَلۡقَهُمۡ ؕ سَتُكۡتَبُ

ښځې ګرځوي، ایا دوی د دغو پیدا کولو ته حاضر وو؟ یقینًا به د دوی ګواهي ولیکل شي

شَهَادَتُهُمۡ وَيُسۡـَٔلُوۡنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوۡا لَوۡ

او له دوی نه تپوس (هم) کېږي(19) او دوی وايي: که

شَآءَ الرَّحۡمٰنُ مَا عَبَدۡنٰهُمۡ ؕ مَا لَهُمۡ

رحمٰن غوښتلي وی، (نو) مونږ به د دغو (باطلو معبودانو) عبادت نه وی کړی۔،

بِذٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍ ۚ اِنۡ هُمۡ اِلَّا

دوی ته د دې (خبرې) هېڅ علم نشته، دوی یوائې

يَخۡرُصُوۡنَ ؕ۝۲۰ اَمۡ اٰتَيۡنٰهُمۡ كِتٰبًا مِّنۡ

اټکلونه چلوي(20) ایا دوی ته مونږ له دغه (قرآن) نه

قَبۡلِهٖ فَهُمۡ بِهٖ مُسۡتَمۡسِكُوۡنَ ۝۲۱ بَلۡ

مخکې کوم کتاب ورکړی دی، پس دوی په هغه منګولې ښخونکي دي(21) بلکې

قَالُوۡۤا اِنَّا وَجَدۡنَاۤ اٰبَآءَنَا عَلٰۤى اُمَّةٍ وَّاِنَّا

دوی وايي: بېشکه مونږ خپل پلرونه په يوې لارې (طريقې) باندې موندلي دي، او بېشکه

عَلٰۤى اٰثٰرِهِمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿۲۲﴾ وَكَذٰلِكَ مَاۤ

مونږ هم د دوی په قدمونو لاره موندونکي یو(22)
او همداسې

اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ فِىۡ قَرۡيَةٍ مِّنۡ

مونږ له تا نه مخکې په کوم کلي کې هېڅ یو
وېروونکی نه

نَّذِيۡرٍ اِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوۡهَاۤ ۙ اِنَّا وَجَدۡنَاۤ

دی لیږلی مگر د هغه کلي متکبره مالدارو به
وویل: بېشکه مونږ

اٰبَآءَنَا عَلٰۤى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰۤى اٰثٰرِهِمۡ

خپل پلرونه په یوه لاره (طریقه) موندلي دي او
بېشکه مونږ هم د دوی په قدمونو

مُّقۡتَدُوۡنَ ﴿۲۳﴾ قٰلَ اَوَلَوۡ جِئۡتُكُمۡ

اقتدا کوونکي یو(23) (دوی ته به د دوی نبي)
وویل: او ایا اگر که ما تاسو

بِاَهۡدٰى مِمَّا وَجَدۡتُّمۡ عَلَيۡهِ اٰبَآءَكُمۡ ؕ

ته له هغې (لارې) نه زياته سمه لاره راوړې وي
چې تاسو په هغې باندې خپل پلرونه موندلي دي؟

قَالُوۡۤا اِنَّا بِمَاۤ اُرۡسِلۡتُمۡ بِهٖ

دوی به ويل: بېشکه مونږ په هغه (دين) کفر
کوونکي يو چې تاسو په هغه

كٰفِرُوۡنَ ۝٢٤ فَانۡتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَانۡظُرۡ

سره رالېږل شوي يئ(24) نو مونږ له دوی نه
انتقام واخيست، نو ته وګوره

ع 8 النصف

كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ۝٢٥ وَاِذۡ

د تکذيب کوونکو انجام څنګه و(25) او (ياد کړه)
هغه وخت

قَالَ اِبۡرٰهِيۡمُ لِاَبِيۡهِ وَقَوۡمِهٖۤ اِنَّنِىۡ

چې ابراهيم خپل پلار او خپل قوم ته وويل:
بېشکه زه له هغو (معبودانو) نه

بَرَآءٌ مِّمَّا تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۲۶﴾ اِلَّا الَّذِیۡ

بېزاره يم چې تاسو يې عبادت كوئ(26) غير له
هغه ذات نه چې زه يې پيدا كړی يم،

فَطَرَنِیۡ فَاِنَّهٗ سَيَهۡدِيۡنِ ﴿۲۷﴾ وَ جَعَلَهَا

پس يقينًا هغه به ما ته خامخا هدايت وكړي(27)
او هغه (ابراهيم)

كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِیۡ عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمۡ

دغه (د توحيد كلمه) په خپل اولاد كې باقي پاتې
كېدونكې وگرځوله، د دې لپاره

يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۲۸﴾ بَلۡ مَتَّعۡتُ هٰۤؤُلَآءِ وَ

چې راوگرځي(28) بلكې ما دوی او د

اٰبَآءَهُمۡ حَتّٰی جَآءَهُمُ الۡحَقُّ وَ

دوی پلرونو ته نفع وركړه تر هغه پورې چې دوی
ته حق (قرآن) او

رَسُوۡلٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۲۹﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ الۡحَقُّ

ښکاره بیانوونکی رسول راغی(29) او کله چې
دوی ته حق راغی

قَالُوۡا هٰذَا سِحۡرٌ وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ وَ

دوی وویل: دا جادو دی، او بېشکه مونږ له ده نه
انکار کوونکي یو(30) او

قَالُوۡا لَوۡلَا نُزِّلَ هٰذَا الۡقُرۡاٰنُ عَلٰى

دوی وویل: دا قرآن په دوه کلیو (ښارونو) کې په

رَجُلٍ مِّنَ الۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيۡمٍ ﴿۳۱﴾ اَهُمۡ

یو غټ سړي ولې نه نازلاوه شي؟(31) ایا دوی

يَقۡسِمُوۡنَ رَحۡمَتَ رَبِّكَ ؕ نَحۡنُ

ستا د رب رحمت تقسیموي؟ مونږ د دوی

قَسَمۡنَا بَيۡنَهُمۡ مَّعِيۡشَتَهُمۡ فِى

په مينځ کې په دنيايي ژوند کې د دوی معشيت

الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ

تقسيم کړی دی او په درجو کې مو د دوی

بَعۡضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُمۡ بَعۡضًا

ځينې د ځينو نورو له پاسه پورته کړي دي، د دې
لپاره چې د دوی ځينې ځينې نور (تابع او) کار

سُخۡرِيًّا ؕ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ خَيۡرٌ مِّمَّا

کوونکي ونيسي او ستا د رب رحمت له هغه نه ډېر
غوره دی چې دوی

يَجۡمَعُوۡنَ ﴿۳۲﴾ وَلَوۡلَاۤ اَنۡ يَّكُوۡنَ النَّاسُ

يې جمع کوي(32) او که دا (خطره) نه وی چې
خلق به

اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلۡنَا لِمَنۡ یَّكۡفُرُ

ټول یوه ډله (کافران شي) نو مونږ به خامخا د هغه چا لپاره

بِالرَّحۡمٰنِ لِبُیُوۡتِهِمۡ سُقُفًا مِّنۡ فِضَّةٍ

چې په رحمٰن کافران کېږي، د دوی کورونو ته به مو د سپینو زرو چتونه

وَّ مَعَارِجَ عَلَیۡهَا یَظۡهَرُوۡنَ ﴿۳۳﴾ وَ

او داسې پوړۍ ګرځولې وی چې دوی به په هغو پاس ختلی(33) او

لِبُیُوۡتِهِمۡ اَبۡوَابًا وَّ سُرُرًا عَلَیۡهَا

د دوی د کوټو لپاره به مو (د سپینو زرو) دروازې او تختونه جوړ کړي وی چې دوی به

یَتَّكِـُٔوۡنَ ﴿۳۴﴾ وَ زُخۡرُفًا ؕ وَاِنۡ كُلُّ ذٰلِكَ

په هغو تکیه وهلې(34) او له سرو زرو نه (دغه او نور زینتونه به مو ورکړي وی) او نه دي دغه (ټول

لَمَّا مَتَاعُ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ؕ وَ الۡاٰخِرَةُ

خیزونه) مګر د دنیایي ژوند سامان دی۔ او اخرت

عِنۡدَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۳۵﴾ وَ مَنۡ يَّعۡشُ

ع
9

ستا د رب په نیز د متقیانو (پرهیزګارانو) لپاره دی(
35) او هر هغه څوك

عَنۡ ذِكۡرِ الرَّحۡمٰنِ نُقَيِّضۡ لَهٗ شَيۡطٰنًا

چې د رحمٰن له ذکر نه ځان ړوند کړي (، نو) مونږ
به په ده باندې یو شیطان مسلط کړو، نو هغه به له

فَهُوَ لَهٗ قَرِيۡنٌ ﴿۳۶﴾ وَ اِنَّهُمۡ لَيَصُدُّوۡنَهُمۡ

ده سره تل ملګری وي(36) او بېشکه دغه
(شیطانان) یقینًا دوی (خپل ملګري)

عَنِ السَّبِيۡلِ وَ يَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ

له حقې لارې نه منع کوي او دوی ګمان کوي چې
بېشکه دوی

مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿٣٧﴾ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَنَا قَالَ

هدايت موندونكي دي(37) تر هغه پورې چې كله
دا مونږ ته راشي (نو) وايي به:

يٰلَيۡتَ بَيۡنِىۡ وَ بَيۡنَكَ بُعۡدَ الۡمَشۡرِقَيۡنِ

اى كاشكې! زما په مينځ كې او ستا په مينځ كې د
مشرق او مغرب هومره لرې والى وى،

فَبِئۡسَ الۡقَرِيۡنُ ﴿٣٨﴾ وَلَنۡ يَّنۡفَعَكُمُ

پس (دا) بد ملګرى دى(38) او كله چې تاسو

الۡيَوۡمَ اِذۡ ظَّلَمۡتُمۡ اَنَّكُمۡ فِى الۡعَذَابِ

ظلم كړى دى (نو) تاسو ته به نن ورځ دا خبره له
سره نفع درنـكړي چې بېشكه تاسو (او شيطانان

مُشۡتَرِكُوۡنَ ﴿٣٩﴾ اَفَاَنۡتَ تُسۡمِعُ الصُّمَّ

ټول) په عذاب كې سره شريك يئ(39) ايا نو ته به
كڼو ته اورول وكړې،

اَوۡ تَهۡدِى الۡعُمۡىَ وَمَنۡ كَانَ فِىۡ ضَلٰلٍ

يا به ړندو ته لار ښوونه وکړې او هغه چا ته چې په ښکاره

مُّبِيۡنٍ ۝٤٠ فَاِمَّا نَذۡهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا

ګمراهۍ کې دی؟(40) نو که تا مونږ لازمًا بوځو، نو بېشکه مونږ له دوی نه

مِنۡهُمۡ مُّنۡتَقِمُوۡنَۙ ۝٤١ اَوۡ نُرِيَنَّكَ الَّذِىۡ

انتقام اخيستونکي يو(41) ايا مونږ تا ته خامخا هغه وښيو چې

وَعَدۡنٰهُمۡ فَاِنَّا عَلَيۡهِمۡ

مونږ يې له دوی سره وعده کړې ده، نو بېشکه مونږ په دوی

مُّقۡتَدِرُوۡنَ ۝٤٢ فَاسۡتَمۡسِكۡ بِالَّذِىۡۤ

پوره قدرت لرونکي يو(42) نو ته په هغه (قرآن) منګلي ولګوه

اُوۡحِیَ اِلَیۡكَ ۚ اِنَّكَ عَلٰی صِرَاطٍ

چې تا ته وحي کړی شوی دی، بېشکه ته په

مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۴۳﴾ وَ اِنَّهٗ لَذِکۡرٌ لَّكَ وَ

نېغه لار يې(43) او بېشکه دا (قرآن) تا لپاره او ستا د قوم لپاره ذکر (او نصيحت) دی۔

لِقَوۡمِكَ ۚ وَ سَوۡفَ تُسۡـَٔلُوۡنَ ﴿۴۴﴾ وَ سۡـَٔلۡ

او ژر ده چې له تاسو نه به پوښتنه وکړی شي(44) او ته زمونږ له

مَنۡ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رُّسُلِنَاۤ

هغو رسولانو نه تپوس وکړه چې مونږ له تا نه مخکې لېږلي دي۔،

اَجَعَلۡنَا مِنۡ دُوۡنِ الرَّحۡمٰنِ اٰلِهَةً

ايا مونږه له رحمن نه غير نور معبودان مقرر کړي دي چې د دوی

ع
10

يُّعۡبَدُوۡنَ ﴿۴۵﴾ وَ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا مُوۡسٰی

عبادت كولى شي(45) او يقينًا يقينًا مونږ موسى

بِاٰيٰتِنَاۤ اِلٰی فِرۡعَوۡنَ وَ مَلَا۠ئِہٖ فَقَالَ اِنِّیۡ

زمونږ له نښو سره فرعون او د هغه سردارانو ته
ليږلى و، پس ده وويل: بېشكه

رَسُوۡلُ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۴۶﴾ فَلَمَّا جَآءَہُمۡ

زه د رب العلمين رسول يم(46) نو كله چې هغه
دوى ته زمونږ په واضحو نښو سره راغى،

بِاٰیٰتِنَاۤ اِذَا ہُمۡ مِّنۡہَا یَضۡحَکُوۡنَ ﴿۴۷﴾ وَ

ناڅاپه دوى په هغو (نښو) پورې خندل(47) او

مَا نُرِیۡہِمۡ مِّنۡ اٰیَۃٍ اِلَّا ہِیَ اَکۡبَرُ مِنۡ

مونږ به دوى ته هيڅ يوه نښه نه ښووله مگر چې
هغه به د هغې له

اُخۡتِهَا ۫ وَ اَخَذۡنٰهُمۡ بِالۡعَذَابِ

خور (مثل) نه ډېره لويه وه او مونږ دوی په عذاب سره راونيول، د دې لپاره

لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۴۸﴾ وَ قَالُوۡا يٰۤاَيُّهَ

چې دوی رجوع وکړي(48) او دوی (فرعونيانو) وويل:

السّٰحِرُ ادۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ

ای جادوگره! (عالمه!) ته زمونږ لپاره له خپل رب نه دعا وغواړه، د هغې وعدې په سبب چې تا سره

عِنۡدَكَ ۚ اِنَّنَا لَمُهۡتَدُوۡنَ ﴿۴۹﴾ فَلَمَّا

يې کړې ده۔، بېشکه مونږ خامخا هدايت موندونکي يو(49) نو کله چې

كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ الۡعَذَابَ اِذَا هُمۡ

به مونږ له دوی نه عذاب لرې کړ، په هماغه وخت کې

يَنۡكُثُوۡنَ ﴿۵۰﴾ وَ نَادٰى فِرۡعَوۡنُ فِىۡ قَوۡمِهٖ

به دوى (وعده) ماتوله(50) او فرعون په خپل قوم
كې اواز وكړ،

قَالَ يٰقَوۡمِ اَلَيۡسَ لِىۡ مُلۡكُ مِصۡرَ وَ

ويې ويل: اى زما قومه! ايا د مصر باچايي زما نه
ده؟ او

هٰذِهِ الۡاَنۡهٰرُ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِىۡ‌ۚ اَفَلَا

دغه ولې چې زما له لاندې بهېږي؟ ايا نو

تُبۡصِرُوۡنَؕ ﴿۵۱﴾ اَمۡ اَنَا خَيۡرٌ مِّنۡ هٰذَا

تاسو نه وينئ(51) بلكې زه ډېر غوره يم له دغه
(موسٰى)

الَّذِىۡ هُوَ مَهِيۡنٌ ۙ وَّلَا يَكَادُ

نه چې هغه سپك دى او نږدې نه دى چې خبره

يُبِيۡنُ ﴿٥٢﴾ فَلَوۡ لَاۤ اُلۡقِىَ عَلَيۡهِ اَسۡوِرَةٌ مِّنۡ

واضحه وكړي(52) پس په ده باندې د سرو زرو

ذَهَبٍ اَوۡ جَآءَ مَعَهُ الۡمَلٰٓئِكَةُ

بنګړي (ولې) ونه اچول شول، يا له ده سره ملايك صف تړلي

مُقۡتَرِنِيۡنَ ﴿٥٣﴾ فَاسۡتَخَفَّ قَوۡمَهٗ

(پيوسته) ولې نه راغلل(53) نو خپل قوم يې بې وقوفه وګڼلو،

فَاَطَاعُوۡهُ ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا قَوۡمًا

نو دوی د ده خبره ومنله، بېشکه دوی

فٰسِقِيۡنَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّاۤ اٰسَفُوۡنَا انۡتَقَمۡنَا

فاسقان خلق وو(54) نو کله چې دوی مونږ خفه کړو (، نو) مونږ له دوی

ع
11

مِنۡهُمۡ فَاَغۡرَقۡنٰهُمۡ

نه انتقام واخيست، پس مونږه دوی

اَجۡمَعِيۡنَ ۝۵۵ فَجَعَلۡنٰهُمۡ سَلَفًا وَّ مَثَلًا

ټول غرق کړل(55) نومونږ دوی پیشوایان او مثال وګرځول د

لِّلۡاٰخِرِيۡنَ ۝۵۶ وَ لَمَّا ضُرِبَ ابۡنُ مَرۡيَمَ

وروستنيو خلقو لپاره(56) او کله چې د مريمې زوی د مثال په طور بيان کړی شو،

مَثَلًا اِذَا قَوۡمُكَ مِنۡهُ يَصِدُّوۡنَ ۝۵۷ وَ

(نو) ناڅاپه ستا قوم د دغه (مثال) پورې (له خوشالۍ نه) چغې وهلې(57) او

قَالُوۡۤا ءَاٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ اَمۡ هُوَ ؕ مَا

ويې ويل: ايا زمونږ معبودان غوره دي، يا که هغه؟ دوی تا ته

ضَرَبُوۡهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ؕ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ

دا (مثال) بيان نه کړ مگر د جگړې لپاره۔ بلکې دوی ډېر جگړه

خَصِمُوۡنَ ﴿۵۸﴾ اِنۡ هُوَ اِلَّا عَبۡدٌ اَنۡعَمۡنَا

کوونکی قوم دی(58) دغه نه دی مگر يو بنده دی

عَلَيۡهِ وَ جَعَلۡنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِىۡۤ

چې مونږ په ده انعام کړی دی او د بني اسرائيلو لپاره مو هغه (د قدرت)

اِسۡرَآءِيۡلَ ﴿۵۹﴾ وَلَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنَا

يو مثال گرځولی و(59) او که مونږ غوښتلي وی (نو) مونږ به ستاسو

مِنۡكُمۡ مَّلٰۤـئِكَةً فِى الۡاَرۡضِ

په ځای په ځمکه کې ملايك پيدا کړي وی، چې

يَخۡلُفُوۡنَ ﴿۶۰﴾ وَ اِنَّهٗ لَعِلۡمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا

خليفگان شوي به وی(60) او بېشکه دغه (عيسٰی) د قيامت لپاره

تَمۡتَرُنَّ بِهَا وَ اتَّبِعُوۡنِ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ

يقينًا يوه لويه نښه ده، نو تاسو د دغه (قيامت) په باره کې له سره شك مه کوئ،

مُّسۡتَقِيۡمٌ ﴿۶۱﴾ وَ لَا يَصُدَّنَّكُمُ

دا نېغه لار ده(61) او شيطان دې تا (له دې نېغې لارې نه)

الشَّيۡطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِيۡنٌ ﴿۶۲﴾ وَ

له سره وا نه ړوي، بېشکه هغه تاسو لپاره ښکاره دښمن دی(62) او

لَمَّا جَآءَ عِيۡسٰى بِالۡبَيِّنٰتِ قَالَ قَدۡ

کله چې عيسٰی له ښکاره دليلونو سره راغی، وېې ويل: (ای بني اسرائيلو!) يقينًا

جِئۡتُكُمۡ بِالۡحِكۡمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمۡ

ما تاسو ته حكم راوړى دى او د دې لپاره (راغلى يم) چې تاسو ته

بَعۡضَ الَّذِىۡ تَخۡتَلِفُوۡنَ فِيۡهِ‌ۚ فَاتَّقُوا

ځينې هغه (احكام) بيان كړم چې تاسو په هغو كې اختلاف كوئ، نو تاسو له الله نه وويرېږئ

اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوۡنِ ۝٦٣ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّىۡ وَ

او زما اطاعت وكړئ(63) بېشكه هم دا الله زما رب دى او

رَبُّكُمۡ فَاعۡبُدُوۡهُ‌ؕ هٰذَا صِرَاطٌ

ستاسو رب دى، لهٰذا تاسو د ده عبادت كوئ.

مُّسۡتَقِيۡمٌ ۝٦٤ فَاخۡتَلَفَ الۡاَحۡزَابُ مِنۡۢ

دغه نېغه لاره ده(64) نو (د نصرانيانو) دغه ډلې په خپل منيځ كې

بَيۡنِهِمۡ ۚ فَوَيۡلٌ لِّلَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا مِنۡ

سره مختلفې شوې، نو د هغو کسانو لپاره چې ظلم
يې کړی دی، د ډېرې دردوونکې

عَذَابِ يَوۡمٍ اَلِيۡمٍ ﴿٦٥﴾ هَلۡ يَنۡظُرُوۡنَ اِلَّا

ورځې له عذاب نه هلاکت دی(65) دوی انتظار
نه کوي مګر

السَّاعَةَ اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ بَغۡتَةً وَّ هُمۡ لَا

د قيامت چې په دوی به ناڅاپه راشي، او دوی به

يَشۡعُرُوۡنَ ﴿٦٦﴾ اَلۡاَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذٍ

نه پوهېږي(66) په دغې ورځ کې به خواږه یاران،

بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ اِلَّا

د دوی ځينې به د ځينو نورو دښمنان وي.

ع
12

الۡمُتَّقِيۡنَ ۝٦٧ يٰعِبَادِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ

غیر له متقیانو نه(67) ای زما بنده ګانو! نن ورځ په تاسو

الۡيَوۡمَ وَلَاۤ اَنۡتُمۡ تَحۡزَنُوۡنَ ۝٦٨ اَلَّذِيۡنَ

وېره نشته او نه به تاسو غمژن کېږئ(68) هغه کسان

اٰمَنُوۡا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوۡا

چې زمونږ په ایتونو یې ایمان راوړی دی او

مُسۡلِمِيۡنَ ۝٦٩ اُدۡخُلُوا الۡجَنَّةَ اَنۡتُمۡ وَ

دوی مسلمانان وو(69) (دوی ته به ویلی شي:) تاسو جنت ته ننوځئ، تاسو او

اَزۡوَاجُكُمۡ تُحۡبَرُوۡنَ ۝٧٠ يُطَافُ عَلَيۡهِمۡ

ستاسو ښځې، تاسو به خوشالولی شئ(70) په دوی به کاسې د

بِصِحَافٍ مِّنۡ ذَهَبٍ وَّاَكۡوَابٍ‌ۚ وَفِيۡهَا

سرو زرو او ګلاسونه ګرځول کيږي او په دغو (جنتونو) کې به

مَا تَشۡتَهِيۡهِ الۡاَنۡفُسُ وَتَلَذُّ الۡاَعۡيُنُ‌ۚ

هغه څه وي چې نفسونه (زړونه) د هغو خواهش کوي او سترګې (پرې) خوند اخلي۔

وَاَنۡتُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ‌ۚ ﴿۷۱﴾ وَتِلۡكَ

او تاسو به په دغو کې تل ترتله يئ(71) او دغه هغه

الۡجَنَّةُ الَّتِىۡۤ اُوۡرِثۡتُمُوۡهَا بِمَا كُنۡتُمۡ

جنتونه دي چې تاسو ته د هغو عملونو په سبب په ميراث کې درکړی شول

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۷۲﴾ لَـكُمۡ فِيۡهَا فَاكِهَةٌ كَثِيۡرَةٌ

چې تاسو به کول(72) تاسو لپاره په دغو کې ډېرې مېوې دي

مِّنۡهَا تَاۡكُلُوۡنَ ﴿۷۳﴾ اِنَّ الۡمُجۡرِمِيۡنَ فِيۡ

چې تاسو به له هغو څنې خوراك كوئ(73) بېشكه مجرمان به د جهنم په

عَذَابِ جَهَنَّمَ خٰلِدُوۡنَ ﴿۷۴﴾ لَا يُفَتَّرُ

عذاب كې تل پاتې كېدونكي وي(74) چې دغه (عذاب) به له دوى څخه نه كمولى شي

عَنۡهُمۡ وَهُمۡ فِيۡهِ مُبۡلِسُوۡنَ ﴿۷۵﴾ وَمَا

او دوى به په دغه (عذاب) كې نا امېده اوسي( 75) او مونږ په

ظَلَمۡنٰهُمۡ وَلٰكِنۡ كَانُوۡا هُمُ

دوى ظلم نه دى كړى او لېكن هم دوى پخپله

الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۷۶﴾ وَنَادَوۡا يٰمٰلِكُ لِيَقۡضِ

ظالمان وو(76) او دغه (دوزخيان) به اواز وكړي: اى مالكه!

عَلَیۡنَا رَبُّکَ ؕ قَالَ اِنَّکُمۡ

ستا رب دې مونږ مړه کړي، هغه (مالك) به ووايي: بېشکه تاسو (تل) ژوندي

مّٰکِثُوۡنَ ﴿۷۷﴾ لَقَدۡ جِئۡنٰکُمۡ بِالۡحَقِّ وَ

پاتې کېدونکي يئ(77) يقينًا يقينًا مونږ تاسو ته حق راوړی و او

لٰکِنَّ اَکۡثَرَکُمۡ لِلۡحَقِّ کٰرِهُوۡنَ ﴿۷۸﴾ اَمۡ

لېکن ستاسو زياتره حق لره بدګڼونکي دي(78) ايا بلکې دوی

اَبۡرَمُوۡۤا اَمۡرًا فَاِنَّا مُبۡرِمُوۡنَ ﴿ۚ۷۹﴾ اَمۡ

د يو کار پخه اراده کړې ده-، نو بېشکه مونږ (هم) خپل (تدبير) محکم کوونکي يو(79) ايا دوی دا

یَحۡسَبُوۡنَ اَنَّا لَا نَسۡمَعُ سِرَّهُمۡ وَ

ګمان کوي چې بېشکه مونږ د دوی پټې خبرې او

نَجۡوٰىهُمۡ ؕ بَلٰى وَ رُسُلُنَا لَدَيۡهِمۡ

پټې مشورې نه اورو، ولې نه! او زمونږ رسولان ليکل کوي

يَكۡتُبُوۡنَ ﴿۸۰﴾ قُلۡ اِنۡ كَانَ لِلرَّحۡمٰنِ

د دوی ترځنګه(80) ته (دوی ته) ووايه: که چېرې د رحمٰن لپاره اولاد وی،

وَلَدٌ ۖ فَاَنَا اَوَّلُ الۡعٰبِدِيۡنَ ﴿۸۱﴾ سُبۡحٰنَ

نو زه به (د هغه) ترټولو اول عبادت کوونکی وم( 81) پاکي ده د

رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ رَبِّ الۡعَرۡشِ

اسمانونو او ځمکې رب لره، د عرش رب لره له هغه څه نه چې دوی يې

عَمَّا يَصِفُوۡنَ ﴿۸۲﴾ فَذَرۡهُمۡ يَخُوۡضُوۡا وَ

(د هغه په باره کې) بيانوي(82) نو ته دوی پرېږده چې (په باطلو خبرو کې) غوټې وهي او

يَلۡعَبُوۡا حَتّٰى يُلٰقُوۡا يَوۡمَهُمُ الَّذِىۡ

لوبې کوي تر هغه پورې چې دوی د خپلې هغې ورځې سره ملاقات وکړي چې دوی ته به

يُوۡعَدُوۡنَ ۝٨٣ وَهُوَ الَّذِىۡ فِى السَّمَآءِ

يې وعده ورکولی شوه(83) او هم دی هغه دی ذات چې په اسمان کې

اِلٰهٌ وَّفِى الۡاَرۡضِ اِلٰهٌ‌ؕ وَهُوَ الۡحَكِيۡمُ

معبود دی او په ځمکه کې (هم) معبود دی، او هم دی ډېر حکمت والا،

الۡعَلِيۡمُ ۝٨٤ وَتَبٰرَكَ الَّذِىۡ لَهٗ مُلۡكُ

ښه پوه دی(84) او ډېر برکت ناك دی هغه ذات چې خاص د هغه لپاره

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا‌ۚ وَ

د اسمانونو او ځمکې باچايي ده او د هغه څه چې د دغو دواړو په مینځ کې دي او

عِنۡدَهٗ عِلۡمُ السَّاعَةِ‌ ۚ وَاِلَيۡهِ

خاص له هغه سره د قيامت د علم دى او خاص هغه ته به تاسو

تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۸۵﴾ وَلَا يَمۡلِكُ الَّذِيۡنَ

بېرته بېولى شئ(85) او هغه معبودان چې دوى يې له

يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهِ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنۡ

دغه (الله) نه غير بلي؛ د شفاعت هېڅ اختيار نه لري، مگر هغه څوك چې د

شَهِدَ بِالۡحَـقِّ وَهُمۡ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۶﴾ وَلَٮِٕنۡ

حق گواهي يې وركړې وي، په دې حال كې چې دوى پوهېږي(86) او قسم دى

سَاَلۡتَهُمۡ مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُوۡلُنَّ اللّٰهُ

كه ته له دوى نه تپوس وكړې چې دوى چا پيدا كړي دي (نو) دوى به خامخا ضرور ووايي: الله

فَاَنّٰى يُؤۡفَكُوۡنَ ﴿۸۷﴾ وَ قِيۡلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ

(پيدا کړي دي) نو کوم طرف ته دوی ګرځول
کېږي؟(87) او قسم دی د دغه (رسول)

هٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٌ لَّا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۸۸﴾ فَاصۡفَحۡ

په دې وينا چې ای زما ربه! بېشکه زما دا قوم
ايمان نه راوړي(88) نو ته له دوی

وقف لازم

عَنۡهُمۡ وَ قُلۡ سَلٰمٌ ؕ فَسَوۡفَ

نه مخ وګرځوه او ووايه: سلام۔، پس ژر

ع 13

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۹﴾

به دوی پوه شي(89)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

حٰمٓ ۚ ﴿۱﴾ وَالۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ۙ ﴿۲﴾ اِنَّاۤ

حا، ميم(1) قسم دی په بيانوونکي کتاب(2)
بېشکه

اَنۡزَلۡنٰهُ فِىۡ لَيۡلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا

مونږ دا (قرآن) په مبارکه شپه کې نازل کړی دی،
بېشکه مونږ

مُنۡذِرِيۡنَ ﴿۳﴾ فِيۡهَا يُفۡرَقُ كُلُّ اَمۡرٍ

وېروونکي وو(3) په دغې (شپه) کې هر له
حکمته ډك کار بيانولی

حَكِيۡمٍ ۙ ﴿۴﴾ اَمۡرًا مِّنۡ عِنۡدِنَا ؕ اِنَّا كُنَّا

(او بېلولی) شي(4) زمونږ له جانبه د حکم ورکولو
په وجه (حکم ورکول دي زمونږ له جانبه) بېشکه

مُرۡسِلِيۡنَ ۚ﴿۵﴾ رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّكَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

مونږ (د رسولانو) لېږونكي وو(5) ستا د رب د رحمت لپاره، بېشكه هم دى

السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ۙ﴿۶﴾ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَ

ښه اورېدونكى، ښه پوه دى(6) چې د اسمانونو او

الۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ۘ اِنۡ كُنۡتُمۡ

ځمكې رب دى او د هغه څه چې د دواړو په مينځ كې دي۔، كه

مُّوۡقِنِيۡنَ ﴿۷﴾ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحۡيٖ وَ

تاسو يقين كوونكي يئ(7) نشته هېڅ يو حق معبود مگر هم دى دى، دى ژوندي كول كوي او

يُمِيۡتُ ؕ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ

مړه كول كوي۔، ستاسو رب دى او ستاسو د ړومبنيو

وقف لازم

الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿٨﴾ بَلۡ هُمۡ فِىۡ شَكٍّ

پلرونو رب دی(8) بلکې دوی په شك کې دي،

يَّلۡعَبُوۡنَ ﴿٩﴾ فَارۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَاۡتِى

چې لوبې کوي(9) پس ته د هغې ورځې انتظار کوه چې

السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيۡنٍ ﴿١٠﴾ يَّغۡشَى

اسمان ښکاره لوګی راوړي(10) چې خلق به

النَّاسَ‌ؕ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿١١﴾ رَبَّنَا

پټ کړي دا ډیر دردوونکی عذاب دی(11) ای زمونږه ربه!

اكۡشِفۡ عَنَّا الۡعَذَابَ اِنَّا

ته زمونږ نه دغه عذاب لرې کړه، بیشکه

مُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۲﴾ اَنّٰى لَهُمُ الذِّكۡرٰى وَقَدۡ

مونږ ایمان راوړونکي یو(12) دوی ته به نصیحت اخیستل چېرته وي، حال دا چې

جَآءَهُمۡ رَسُوۡلٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ تَوَلَّوۡا

دوی ته ښکاره بیانوونکی رسول راغلی و(13) بیا دوی له هغه نه

عَنۡهُ وَقَالُوۡا مُعَلَّمٌ مَّجۡنُوۡنٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّا

مخ وګرځاوه او ویې ویل: (دا) تعلیم ورکړی شوی دی، لېونی دی(14) بېشکه

كَاشِفُوا الۡعَذَابِ قَلِيۡلًا اِنَّكُمۡ

مونږ دغه عذاب لږ (وخت) لرې کوونکي یو۔، بېشکه تاسو بیا (کفر ته)

عَآئِدُوۡنَ ﴿۱۵﴾ يَوۡمَ نَبۡطِشُ الۡبَطۡشَةَ

راګرځېدونکي یئ(15) (یاده کړه) هغه ورځ چې مونږ نیول وکړو،

وقف لازم

وقف لازم

الۡكُبۡرٰى ۚ اِنَّا مُنۡتَقِمُوۡنَ ﴿۱۶﴾ وَلَقَدۡ

تر ټولو غټ نيول، بېشکه مونږ انتقام اخيستونکي يو(16) او يقينًا يقينًا

فَتَنَّا قَبۡلَهُمۡ قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَ وَ

مونږ له دوی نه مخکې د فرعون قوم ازمايلی و۔ او

جَآءَهُمۡ رَسُوۡلٌ كَرِيۡمٌ ﴿۱۷﴾ اَنۡ اَدُّوۡۤا اِلَىَّ

هغو ته ډېر عزتمند رسول راغلی و(17) چې تاسو ما ته د

عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّىۡ لَـكُمۡ رَسُوۡلٌ اَمِيۡنٌ ﴿۱۸﴾ وَّ

الله بنده گان (بني اسرائيل) راوسپارئ، بېشکه زه تاسو لپاره امانتگر رسول يم(18) او

اَنۡ لَّا تَعۡلُوۡا عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّىۡۤ اٰتِيۡكُمۡ

دا چې تاسو په الله سرکشي مه کوئ، بېشکه زه تاسو ته ښکاره

بِسُلۡطٰنٍ مُّبِيۡنٍ ۚ﴿۱۹﴾ وَاِنِّىۡ عُذۡتُ بِرَبِّىۡ وَ

دليل راوړونکی يم(19) او بېشکه ما پناه نيولې ده
د خپل رب او

رَبِّكُمۡ اَنۡ تَرۡجُمُوۡنِ ۙ﴿۲۰﴾ وَاِنۡ لَّمۡ

ستاسو د رب، له دې نه چې تاسو ما سنگسار
کړئ(20) او که تاسو په ما

تُؤۡمِنُوۡا لِىۡ فَاعۡتَزِلُوۡنِ ﴿۲۱﴾ فَدَعَا رَبَّهٗۤ

ايمان نه راوړئ، بيا نو له ما نه په ډډه شئ(21) بيا
هغه له خپل رب

اَنَّ هٰٓؤُلَاۤءِ قَوۡمٌ مُّجۡرِمُوۡنَ ﴿۲۲﴾ فَاَسۡرِ

نه دعا وغوښته چې بېشکه دغه مجرمان خلق دی(
22) نو (الله ورته ووېل: چې)

بِعِبَادِىۡ لَيۡلًا اِنَّكُمۡ مُّتَّبَعُوۡنَ ۙ﴿۲۳﴾ وَ

ته زما بنده گان د شپې بوځه، بېشکه ستاسو به
تعاقب کولی شي(23) او

الثلثة

اتۡرُكِ الۡبَحۡرَ رَهۡوًا ؕ اِنَّهُمۡ جُنۡدٌ

سمندر ولاړ (ساكن) پرېږده، بېشكه دوى دي

مُّغۡرَقُوۡنَ ﴿۲۴﴾ كَمۡ تَرَكُوۡا مِنۡ جَنّٰتٍ وَّ

ډوب كړى شوى لښكر(24) دوى څومره ډېر باغونه او

عُيُوۡنٍ ۙ﴿۲۵﴾ وَّ زُرُوۡعٍ وَّ مَقَامٍ كَرِيۡمٍ ۙ﴿۲۶﴾ وَّ

چېنې پرېښودلې(25) او فصلونه او ډېر د عزت ځاى(26) او

نَعۡمَةٍ كَانُوۡا فِيۡهَا فٰكِهِيۡنَ ۙ﴿۲۷﴾ كَذٰلِكَ ۟ وَ

نور نعمتونه چې دوى به په هغو كې خوشاله وو(27) همداسې (مو دوى هلاك كړل) او

اَوۡرَثۡنٰهَا قَوۡمًا اٰخَرِيۡنَ ﴿۲۸﴾ فَمَا بَكَتۡ

دغه مو بل قوم ته په ميراث وركړل(28) نو په دوى

عَلَيۡهِمُ السَّمَآءُ وَ الۡاَرۡضُ وَ مَا كَانُوۡا

اسمان او ځمکې ونه ژړل او نه دوی مهلت

ع
14

مُنۡظَرِيۡنَ ﴿۲۹﴾ وَ لَقَدۡ نَجَّيۡنَا بَنِيۡۤ

ورکړی شوي وو(29) او يقينًا يقينًا مونږ بني

اِسۡرَآءِيۡلَ مِنَ الۡعَذَابِ

اسرائيل له سپکوونکي عذاب

الۡمُهِيۡنِ ﴿۳۰﴾ مِنۡ فِرۡعَوۡنَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

نه خلاص کړل(30) له فرعون نه، بېشکه هغه (فرعون) سرکشه (او) له

عَالِيًا مِّنَ الۡمُسۡرِفِيۡنَ ﴿۳۱﴾ وَ لَقَدِ

حده تېرېدونکو څخه و(31) او يقينًا يقينًا

اخۡتَرۡنٰهُمۡ عَلٰى عِلۡمٍ عَلَى

مونږ دغه (بني اسرائيل) د خپلې زمانې په خلقو باندې غوره کړي وو په علم سره (په دې حال کې

الۡعٰلَمِيۡنَ ۚ‏ ﴿۳۲﴾ وَاٰتَيۡنٰهُمۡ مِّنَ الۡاٰيٰتِ مَا

چې مونږ پرې عالمان وو)(32) او دوی ته مونږ هغه نښې ورکړې وې، چې

فِيۡهِ بَلٰٓؤٌا مُّبِيۡنٌ‏ ﴿۳۳﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَاۤءِ

په هغو کې ښکاره ازمایش و(33) بېشکه دغه (کفار)

لَيَقُوۡلُوۡنَ ۙ‏ ﴿۳۴﴾ اِنۡ هِىَ اِلَّا مَوۡتَتُنَا الۡاُوۡلٰى

خامخا وايي(34) نه دی دغه (عاقبت او د کار خاتمه) مگر زمونږ ړومبنی مرگ دی، او مونږ به له

وَمَا نَحۡنُ بِمُنۡشَرِيۡنَ‏ ﴿۳۵﴾ فَاۡتُوۡا بِاٰبَآٮِٕنَاۤ

سره بیا راژوندي نه کړی شو(35) نو تاسو زمونږ پلرونو

اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿٣٦﴾ اَهُمۡ خَيۡرٌ اَمۡ

(ژوندي) راولئ! که تاسو رښتيني يئ(36) ايا
دوی (قريش) غوره دي،

قَوۡمُ تُبَّعٍ ۙ وَّ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ

يا که د تبع قوم او هغه کسان چې له دوی نه
مخکې وو،

اَهۡلَكۡنٰهُمۡ ۫ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا

مونږ هغوی هلاك کړل، بېشکه دوی

مُجۡرِمِيۡنَ ﴿٣٧﴾ وَمَا خَلَقۡنَا السَّمٰوٰتِ وَ

مجرمان خلق وو(37) او مونږ اسمانونه او ځمکه
او هر هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي؛ نه

الۡاَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لٰعِبِيۡنَ ﴿٣٨﴾ مَا

دي پيدا کړي، په داسې حال کې چې عبث او
لوبې کوونکي يو(38) مونږ

خَلَقۡنٰهُمَاۤ اِلَّا بِالۡحَقِّ وَ لٰكِنَّ

دوی دواړه نه دي پيدا کړي مګر په حقه سره۔ او لېکن

اَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ يَوۡمَ

د دوی اکثره (خلق) نه پوهېږي(39) بېشکه د

الۡفَصۡلِ مِيۡقَاتُهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۴۰﴾ يَوۡمَ لَا

فيصلې ورځ د دوی د ټولو ټاکلې وعده ده(40) هغه ورځ چې

يُغۡنِىۡ مَوۡلًى عَنۡ مَّوۡلًى شَيۡـًٔا وَّ لَا هُمۡ

هېڅ يو دوست به د بل دوست هېڅ په کار رانشي او نه به له دوی

يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۴۱﴾ اِلَّا مَنۡ رَّحِمَ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ

سره مدد کولی شي(41) لېکن هغه کس چې الله پرې رحم وکړي، بېشکه

ع
15

هُوَ الۡعَزِيۡزُ الرَّحِيۡمُ ﴿۴۲﴾ اِنَّ شَجَرَتَ

دا (الله)، هم دى ښه غالب، بې حده رحم کوونکى دى(42) بېشکه د

الزَّقُّوۡمِ ﴿۴۳﴾ طَعَامُ الۡاَثِيۡمِ ﴿۴۴﴾ كَالۡمُهۡلِ

زقوم ونه(43) د غټ ګناهګار خوراك دى(44) د ويلې کړى شويو مسو

يَغۡلِىۡ فِى الۡبُطُوۡنِ ﴿۴۵﴾ كَغَلۡىِ

(د تېلو تورې ختې) په شان چې په ګېډو کې به ابشېرېږي(45) د ګرمو اوبو د

الۡحَمِيۡمِ ﴿۴۶﴾ خُذُوۡهُ فَاعۡتِلُوۡهُ اِلٰى سَوَآءِ

ابشېدلو په شان(46) تاسو دا ونيسئ، پس دى د جهنم بېخې مينځ له په

الۡجَحِيۡمِ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ صُبُّوۡا فَوۡقَ رَاۡسِهٖ مِنۡ

سختۍ سره راکاږئ(47) بيا د ده د سر له پاسه د ابشېدلو

عَذَابِ الۡحَمِيۡمِ ﴿۴۸﴾ ذُقۡ ۚ اِنَّكَ اَنۡتَ

اوبو له عذابه ورتوی کړئ(48) (ده ته به وويل شي چې دغه عذاب) وڅکه، بېشکه هم دا

الۡعَزِيۡزُ الۡكَرِيۡمُ ﴿۴۹﴾ اِنَّ هٰذَا مَا كُنۡتُمۡ

ته ډېر زبردست، ډېر عزتمن یې(49) بېشکه دا هغه (عذاب) دی چې تاسو به

بِهٖ تَمۡتَرُوۡنَ ﴿۵۰﴾ اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِىۡ مَقَامٍ

په ده کې شك کاوه(50) بېشکه متقیان به په امن ناکه

اَمِيۡنٍ ﴿۵۱﴾ فِىۡ جَنّٰتٍ وَّ

ځای کې وي(51) په جنتونو

عُيُوۡنٍ ۚ﴿۵۲﴾ يَّلۡبَسُوۡنَ مِنۡ سُنۡدُسٍ وَّ

کې(52) دوی به له نريو وريښمو او

اِسۡتَبۡرَقٍ مُّتَقٰبِلِيۡنَ ﴿۵۳﴾ۚۙ كَذٰلِكَ ۟ وَ

پېرو وربښمو جامې اغوندي، په داسې حال کې
چې سره مخامخ به ناست وي(53) همداسې به

زَوَّجۡنٰهُمۡ بِحُوۡرٍ عِيۡنٍ ﴿۵۴﴾ؕ يَدۡعُوۡنَ فِيۡهَا

وي۔ او مونږ به دوی د غټې سترګو سپينو سرو
حورو سره ملګري کړو(54) دوی به په دغو

بِكُلِّ فَاكِهَةٍ اٰمِنِيۡنَ ﴿۵۵﴾ۙ لَا يَذُوۡقُوۡنَ

جنتونو کې هر قسمه مېوې راغواړي، په داسې
حال کې چې په امن به وي(55) دوی به په دغو

فِيۡهَا الۡمَوۡتَ اِلَّا الۡمَوۡتَةَ الۡاُوۡلٰى ۚ وَ

کې مرګ نه ځکي۔ غير له ړومبني مرګ نه (چې
په دنيا کې تېر شوی دی) او دوی به (الله) د

وَقٰهُمۡ عَذَابَ الۡجَحِيۡمِ ﴿۵۶﴾ۙ فَضۡلًا

دوزخ له عذاب نه بچ وساتي(56) د خپل رب د
فضل

مِّنۡ رَّبِّكَ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الۡفَوۡزُ

په وجه، هم دغه ډېره لويه

الۡعَظِيۡمُ ﴿۵۷﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرۡنٰهُ بِلِسَانِكَ

کاميابي ده(57) پس بېشکه هم دا خبره ده چې دا (قرآن) مونږ ستا په ژبه اسان کړی دی، د دې

لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُوۡنَ ﴿۵۸﴾ فَارۡتَقِبۡ اِنَّهُمۡ

لپاره چې دوی نصيحت واخلي(58) نو ته انتظار کوه، بېشکه

ع 16

مُّرۡتَقِبُوۡنَ ﴿۵۹﴾

دوی هم انتظار کوونکي دي(59)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

حٰمٓ ۟ تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ

حا، ميم(1) د كتاب نازلول د الله له جانبه دي چې ډېر غالب،

الۡعَزِيۡزِ الۡحَكِيۡمِ ۟ اِنَّ فِى السَّمٰوٰتِ وَ

ښه حكمت والا دى(2) بېشكه په اسمانونو او

الۡاَرۡضِ لَاٰيٰتٍ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ۟ وَفِىۡ

ځمكه كې د مومنانو لپاره يقينًا ډېرې نښې دي(3) او ستاسو

خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِنۡ دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ

په پيدا كولو كې او په هغه څه كې چې ده هر قسمه خوځنده خواره كړي دي۔؛

لِّقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ۙ۝۴ وَ اخۡتِلَافِ الَّيۡلِ وَ

د هغه قوم لپاره نښې دي چې يقين کوي(4) او د
شپې او

النَّهَارِ وَ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ

ورځې په اختلاف کې او په هغه کې چې الله له
اسمان (بره)

مِنۡ رِّزۡقٍ فَاَحۡيَا بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ

نه رزق (باران) نازل کړی دی، بيا يې په هغه سره
ځمکه د

مَوۡتِهَا وَ تَصۡرِيۡفِ الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوۡمٍ

هغې له مرګ نه پس راژوندۍ کړې ده او د
هواګانو په بدلولو رابدلولو کې د هغو خلقو لپاره

يَّعۡقِلُوۡنَ ۝۵ تِلۡكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتۡلُوۡهَا

نښې دي چې له عقل نه کار اخلي(5) دغه د الله
دليلونه دي چې مونږ يې په حقه سره په تا لولو،

عَلَيۡكَ بِالۡحَقِّ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيۡثٍۭ بَعۡدَ

نو دوی به د الله او د هغه له ایتونو نه وروسته په

اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤۡمِنُوۡنَ ۝٦ وَيۡلٌ لِّكُلِّ

کومې خبرې ایمان راوړي؟(6) د هر سخت دروغ

ترونکي، سخت

اَفَّاكٍ اَثِيۡمٍ ۝٧ يَّسۡمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتۡلٰى

مجرم لپاره هلاکت دی(7) د الله ایتونه اوري چې

په ده لوستل کیږي،

عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرًا كَاَنۡ لَّمۡ

بیا ښه کلکیږي، په داسې حال کې چې تکبر

کوونکی وي، ګوياکې ده دا (ایتونه) نه دي

يَسۡمَعۡهَا ۚ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۝٨ وَ

اوریدلي.، نو ده ته د ډېر دردوونکي عذاب زیری

ورکړه(8) او

اِذَا عَلِمَ مِنۡ اٰيٰتِنَا شَيۡـَٔا اِتَّخَذَهَا

کله چې دی زمونږ له ایتونو نه څه معلوم کړي، نو هغه مسخره

هُزُوًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ

ونیسي، دغه کسان (چې دي) د دوی لپاره

مُّهِيۡنٌ ؕ﴿۹﴾ مِنۡ وَّرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُ ۚ وَلَا

سپکوونکی عذاب دی(9) د دوی مخې ته جهنم دی او د دوی

يُغۡنِىۡ عَنۡهُمۡ مَّا كَسَبُوۡا شَيۡـًٔا وَّلَا مَا

کړي عملونه به د دوی هېڅ په کار رانشي او نه

اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اَوۡلِيَآءَ ۚ وَ

هغه چې دوی له الله نه غیر کارسازان نیولي وو- او د

لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ؕ﴿۱۰﴾ هٰذَا هُدًى ۚ وَ

دوی لپاره ډېر لوی عذاب دی(10) دا (قرآن) هدايت دی۔ او

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ

هغه کسان چې د خپل رب په ايتونو کافران شوي دي۔؛ د هغوی لپاره د

ع 17

عَذَابٌ مِّنۡ رِّجۡزٍ اَلِيۡمٌ ﴿۱۱﴾ ۧ اَللّٰهُ الَّذِىۡ

ډېر دردوونکي عذاب سزا ده(11) الله هغه ذات دی چې ت

سَخَّرَ لَكُمُ الۡبَحۡرَ لِتَجۡرِىَ الۡفُلۡكُ

اسو لپاره يې سمندر تابع کړی دی، د دې لپاره چې په ده کې کشتۍ د ده

فِيۡهِ بِاَمۡرِهٖ وَلِتَبۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِهٖ وَ

په حکم سره رواني شي او د دې لپاره چې تاسو د هغه له فضله لټون وکړئ او

لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۱۲﴾ وَ سَخَّرَ لَكُمۡ مَّا

د دې لپاره چې تاسو شكر وباسئ(12) او تاسو لپاره يې په كار لګولي دي هر هغه

فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الۡاَرۡضِ جَمِیۡعًا

څه چې په اسمانونو كې دي او هر هغه څه چې په ځمكه كې دي،

مِّنۡهُ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوۡمٍ

په داسې حال كې چې دا ټول د هغه له جانبه (مسخر) دي۔، بېشكه په دغو كې د هغه قوم لپاره

یَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿۱۳﴾ قُلۡ لِّلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

يقيناً ډېرې نښې دي چې غور فكر كوي(13) (اى نبي!) ته هغو كسانو ته ووايه چې ايمان راوړى دى

یَغۡفِرُوۡا لِلَّذِیۡنَ لَا یَرۡجُوۡنَ اَیَّامَ اللّٰهِ

چې هغو كسانو ته دې بخښنه كوي چې د الله د ورځو (حوادثو) امېد نه لري۔،

لِيَجۡزِيَ قَوۡمًۢا بِمَا كَانُوۡا

د دې لپاره چې دی (الله پخپله) یوې ډلې ته د هغوی د کړیو

يَكۡسِبُوۡنَ ﴿١٤﴾ مَنۡ عَمِلَ صَالِحًا

کارونو بدله ورکړي(14) هر څوك چې نېك عمل وکړي،

فَلِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ اَسَآءَ فَعَلَيۡهَا ۫ ثُمَّ

نو د خپل ځان لپاره يې دی، او څوك چې بد وکړي، نو په همده يې ضرر دی، بيا به خاص خپل

اِلٰى رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا

رب ته تاسو بېرته بيول کېږئ(15) او يقينًا يقينًا مونږ

بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ الۡكِتٰبَ وَالۡحُكۡمَ وَ

بني اسرائيلو ته کتاب او حکم او نبوت ورکړی و او

النُّبُوَّةَ وَ رَزَقۡنٰهُمۡ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَ

دوی ته مو پاکيزه ښيزونه روزي کړي وو او

فَضَّلۡنٰهُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ۚ﴿۱۶﴾ وَ اٰتَيۡنٰهُمۡ

مونږ دوی ته (د خپلې زمانې) په خلقو فضيلت
ورکړی و(16) او مونږه دوی ته

بَيِّنٰتٍ مِّنَ الۡاَمۡرِ ۚ فَمَا اخۡتَلَفُوۡۤا اِلَّا

(د دين) په کار کې ښکاره دليلونه ورکړي وو، نو
دوی اختلاف ونه کړ مګر

مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ الۡعِلۡمُ ۙ بَغۡيًۢا

وروسته له دې چې دوی ته علم راغی، د خپل

بَيۡنَهُمۡ ؕ اِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِىۡ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ

مينځي ضد (او حسد) په وجه، بېشکه ستا رب به
د قيامت په ورځ د دوی

الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا كَانُوۡا فِيۡهِ

په مېنځ کې په هغو خبرو کې فيصله کوي چې
دوی به په

يَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۱۷﴾ ثُمَّ جَعَلۡنٰكَ عَلٰى

هغو کې اختلاف کاوه(17) بيا مونږ ته (د دين) په
معامله

شَرِيۡعَةٍ مِّنَ الۡاَمۡرِ فَاتَّبِعۡهَا وَلَا

کې په واضحه لاره باندې ودرولې، نو ته د دې
پيروي کوه او ته د

تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَ الَّذِيۡنَ لَا

هغو خلقو د خواهشاتو پيروي مه کوه چې نه

يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۸﴾ اِنَّهُمۡ لَنۡ يُّغۡنُوۡا عَنۡكَ مِنَ

پوهېږي(18) بېشکه دوی به د الله په مقابله کې
ستا هېڅ

اللّٰهِ شَيۡـًٔا ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ بَعۡضُهُمۡ

په کار رانشي او بېشکه ظالمان (چې دي) د دوی ځينې د

اَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍ ۚ وَاللّٰهُ وَلِىُّ

ځينو نورو دوستان دي او الله د پرهېزګارانو

الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۹﴾ هٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَ

ملګری دی(19) دا (قرآن) د خلقو لپاره ښکاره دليلونه دي او

هُدًى وَّرَحۡمَةٌ لِّقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ﴿۲۰﴾ اَمۡ

هدايت او رحمت دی د هغه قوم لپاره چې يقين کوي(20) ايا

حَسِبَ الَّذِيۡنَ اجۡتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ

هغو کسانو چې جرمونه يې کړي دي؛ دا ګمان کړی

اَنۡ نَّجۡعَلَهُمۡ كَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا

چې مونږ به دوی د هغو کسانو په شان وګرځوو
چې ایمان یې راوړی دی

الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحۡيَاهُمۡ وَ

او نېك عملونه یې کړي دي، په داسې حال کې
چې د دوی ژوند او

ع 18

مَمَاتُهُمۡ ؕ سَآءَ مَا يَحۡكُمُوۡنَ ﴿۲۱﴾ وَ خَلَقَ

د دوی مرګ به یو برابر وي، بده ده هغه فیصله
چې دوی یې کوي(21) او

اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضَ بِالۡحَقِّ وَ

الله اسمانونه او ځمکه په حقه سره پیدا کړي دي

لِتُجۡزٰى كُلُّ نَفۡسٍۭ بِمَا كَسَبَتۡ وَ هُمۡ

او د دې لپاره چې هر نفس ته د هغه عمل بدله
ورکړی شي چې ده کړی دی، په داسې حال کې

لَا يُظۡلَمُوۡنَ ﴿۲۲﴾ اَفَرَءَيۡتَ مَنِ اتَّخَذَ

چې په دوی به ظلم نه کولی شي(22) ایا نو تا هغه کس لیدلی دی چې

اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلۡمٍ وَّ

خپل معبود یې خپل خواهش ګرځولی دی او الله هغه په علم باندې ګمراه کړ او

خَتَمَ عَلٰى سَمۡعِهٖ وَقَلۡبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى

د هغه په غوږونو او د هغه په زړه یې مهر ولګاوه، او

بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ؕ فَمَنۡ يَّهۡدِيۡهِ مِنۡۢ بَعۡدِ

د هغه په سترګو یې پرده واچوله، نو ده ته به

اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۲۳﴾ وَقَالُوۡا مَا هِىَ

له الله نه بعد څوك هدایت وکړي۔، ایا نو تاسو پند نه اخلئ!(23) او دوی وایي: دغه

اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنۡيَا نَمُوۡتُ وَنَحۡيَا وَمَا

(ژوندون) نشته مګر زمونږ دنیایي ژوند
چې مړه کېږو او ژوندي کېږو او مونږ نه هلاکوي

يُهۡلِكُنَاۤ اِلَّا الدَّهۡرُ ۚ وَمَا لَهُمۡ بِذٰلِكَ

مګر زمانه۔ او دوی ته په دې خبره هېڅ

مِنۡ عِلۡمٍ ۚ اِنۡ هُمۡ اِلَّا يَظُنُّوۡنَ ﴿۲۴﴾ وَاِذَا

علم نشته، دوی یواځې ګمانونه چلوي(24) او کله
چې دوی

تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ مَّا كَانَ

ته زمونږ ایتونه تلاوت کولی شي، چې ښه واضح
دي،

حُجَّتَهُمۡ اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوا ائۡتُوۡا بِاٰبَآئِنَاۤ

(نو) د دوی دلیل نه وي
مګر دا چې وایي: تاسو زمونږ (مړه) پلرونه راولئ

اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۵﴾ قُلِ اللّٰهُ

كه تاسو رښتيني يئ(25) ته دوی ته ووايه: الله

يُحۡيِيۡكُمۡ ثُمَّ يُمِيۡتُكُمۡ ثُمَّ يَجۡمَعُكُمۡ

تاسو ژوندي كوي، بيا هغه

تاسو مړه كوي بيا هغه تاسو د قيامت ورځې ته

اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ وَلٰكِنَّ

راجمع كوي چې په هغې كې هېڅ شك نشته او

لېكن د

اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۶﴾ وَلِلّٰهِ

خلقو اكثريت نه پوهېږي(26) او خاص الله لپاره

د

ع 19

مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَيَوۡمَ

اسمانونو او ځمكې باچايي ده او په هغه ورځ كې

چې قيامت

تَقُوۡمُ السَّاعَةُ یَوۡمَئِذٍ یَّخۡسَرُ

به قايم شي، په دغه ورځ کې به باطل پرستان

الۡمُبۡطِلُوۡنَ ﴿۲۷﴾ وَ تَرٰی کُلَّ اُمَّةٍ جَاثِیَةً ۟قف

تاوانيان شي(27) او ته به هر امت په ځنګنونو

کُلُّ اُمَّةٍ تُدۡعٰۤی اِلٰی کِتٰبِهَا ؕ اَلۡیَوۡمَ

پروت وينې، هر امت به خپل کتاب (اعمالنامې)
ته راوبللی شي، نن ورځ به

تُجۡزَوۡنَ مَا کُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۸﴾ هٰذَا

تاسو ته د هغو عملونو بدله درکولی شي چې تاسو
به کول(28) دا زمونږ

کِتٰبُنَا یَنۡطِقُ عَلَیۡکُمۡ بِالۡحَقِّ ؕ اِنَّا

کتاب دی چې پر تاسو باندې په حقه سره ګواهي
کوي، بېشکه

كُنَّا نَسۡتَنۡسِخُ مَا كُنۡتُمۡ

مونږ هغه عملونه ليکل چې تاسو

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۹﴾ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ

به (په دنيا کې) کول(29) نو هر چې هغه کسان
دي چې ايمان يې راوړی دی او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُدۡخِلُهُمۡ رَبُّهُمۡ

نېك عملونه يې کړي دي، نو خپل رب به دوی په

فِيۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الۡفَوۡزُ

خپل رحمت کې داخل کړي، هم دغه ښکاره

الۡمُبِيۡنُ ﴿۳۰﴾ وَ اَمَّا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ۟ قف

کاميابي ده(30) او پاتې شو هغه کسان چې
کافران شوي دي

اَفَلَمۡ تَكُنۡ اٰيٰتِىۡ تُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ

(نو دوی ته به ووېل شي:) ايا نو تاسو ته زما ايتونه نه لوستل کېدل،

فَاسۡتَكۡبَرۡتُمۡ وَكُنۡتُمۡ قَوۡمًا

بيا تاسو تکبر وکړ او تاسو مجرمان

مُّجۡرِمِيۡنَ ۝٣١ وَاِذَا قِيۡلَ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ

خلق وئ(31) او کله چې به (تاسو ته) ووېل شو چې بېشکه د الله وعده

حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيۡبَ فِيۡهَا قُلۡتُمۡ مَّا

حقه ده او قيامت (چې دی) په ده کې هېڅ شك نشته۔ تاسو به ويل: مونږ

نَدۡرِىۡ مَا السَّاعَةُ ۙ اِنۡ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا

نه پوهېږو قيامت څه شی دی؟ مونږ خو بس يو ګمان کوو، ګمان کول

وَّ مَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِيۡنَ ﴿۳۲﴾ وَ بَدَا لَهُمۡ

او مونږ له سره يقين کوونکي نه يو(32) او دوی ته به د

سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوۡا وَ حَاقَ بِهِمۡ مَّا كَانُوۡا

خپلو عملونو بدۍ ښکاره شي او دوی به ګېر کړي هغه (عذاب) چې دوی

بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۳۳﴾ وَ قِيۡلَ الۡيَوۡمَ

به په هغه پورې استهزا کولې(33) او وبه ویل شي نن ورځ

نَنۡسٰكُمۡ كَمَا نَسِيۡتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ

مونږ تاسو هېروو، لکه چې تاسو د خپلې دې ورځې ملاقات هېر کړی و

هٰذَا وَ مَاۡوٰٮكُمُ النَّارُ وَ مَا لَكُمۡ مِّنۡ

او ستاسو استوګنه اور دی او تاسو لپاره هيڅوك

نّٰصِرِیۡنَ ﴿۳۴﴾ ذٰلِكُمۡ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذۡتُمۡ

مدد كوونكي نشته(34) دا په دې سبب چې يقينًا تاسو د

اٰیٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّ غَرَّتۡكُمُ الۡحَیٰوةُ

الله ايتونه مسخره گرځولي وو او تاسو دنيايي

الدُّنۡیَا ۚ فَالۡیَوۡمَ لَا یُخۡرَجُوۡنَ مِنۡهَا وَ

ژوند غره (دوكه) كړي وئ.، نو نن ورځ به له دغه (دوزخ) نه دوی نه ايستل كېږي او

لَا هُمۡ یُسۡتَعۡتَبُوۡنَ ﴿۳۵﴾ فَلِلّٰهِ الۡحَمۡدُ

نه به له دوی نه د توبې كولو مطالبه كېږي(35) نو ټول د كمال صفتونه خاص

رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَ رَبِّ الۡاَرۡضِ رَبِّ

هغه الله لره دي چې د اسمانونو رب دی او د ځمكې رب دی،

الۡعٰلَمِيۡنَ ۝٣٦ وَلَهُ الۡكِبۡرِيَآءُ فِى

د عالمونو رب دى(36) او خاص ده لره په

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ‌ ۖ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ

اسمانونو او ځمکه کي لويي ده او هم دى ښه غالب،

الۡحَكِيۡمُ ۝٣٧

ښه حکمت والا دى(37)

ع
20

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

حٰمٓ ۚ ۝١ تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ

حا، ميم(1) د کتاب نازلول د الله له جانبه دي چې ډېر غالب،

الۡعَزِيۡزِ الۡحَكِيۡمِ ۝٢ مَا خَلَقۡنَا

ښه حکمت والا دی(2) مونږ اسمانونه

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَاۤ اِلَّا

او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي، نه دي پيدا کړي مگر

بِالۡحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ وَالَّذِيۡنَ

په حقه او په ټاکلې مودې سره۔ او کافران شوي کسان له

كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ۝٣ قُلْ

هغه (قرآن) نه چې دوی پرې ویرولی شي، مخ گرځوونکي دي(3) ته (دوی ته) وواېه:

اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

تاسو ما ته د هغو (معبودانو) خبر راکړئ چې تاسو يې له الله نه غير بلئ،

اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ

تاسو ما ته وښيئ دوی په ځمکه کې څه پيدا کړي دي؟

لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ؕ اِيْتُوْنِيْ

يا دوی لره په (پيدا کولو د) اسمانونو کې څه شراکت شته؟

بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ

تاسو ما ته له دغه (قرآن) نه مخکې کوم کتاب راوړئ، يا له علمه څه باقي علامه۔

عِلۡمٍ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ۝٤ وَمَنۡ

كه تاسو رښتيني يئ(4) او له هغه

اَضَلُّ مِمَّنۡ يَّدۡعُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَنۡ

كس نه زيات گمراه څوك دى چې له الله نه غير هغه (معبودان) بلي چې د

لَّا يَسۡتَجِيۡبُ لَهٗۤ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ وَ

ده دعا (سوال) تر قيامته پورې نشي قبلولى، په داسې حال كې چې دغه (معبودان)

هُمۡ عَنۡ دُعَآئِهِمۡ غٰفِلُوۡنَ ۝٥ وَاِذَا

به د دوى له بلنې نه غافله (بې خبره) وي(5) او كله چې

حُشِرَ النَّاسُ كَانُوۡا لَهُمۡ اَعۡدَآءً وَّ

(ټول) خلق (د حساب لپاره په محشر كې) راجمع كړى شي دغه (معبودان) به د دوى دښمنان

كَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ۝٦ وَاِذَا تُتْلٰى

وگرځي او د دغو (عبادت کوونکو) له عبادت نه به منکر شي(6) او کله چې دوی ته

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ

زمونږ ايتونه لوستلی شي، په داسې حال کې چې ښه واضح دي (، نو)

كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ هٰذَا

کافران شوي کسان د حق په باره کې وايي، کله چې دوی ته راغی:

سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧ؕ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ

دا ښکاره جادو دی(7) بلکې ايا دوی وايي: ده دا له ځانه جوړ کړی دی،

قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَلَا تَمْلِكُوْنَ لِيْ مِنَ

ته (دوی ته) ووايه: که چېرې دا ما له ځانه جوړ کړی وي،

اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَا تُفِيْضُوْنَ

نو تاسو زما لپاره له الله نه (د بچ کولو لپاره) د هيڅ شي اختيار نه لرئ، هغه په هغو خبرو ښه عالم

فِيْهِ ؕ كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًۢا بَيْنِيْ وَ

دی چې تاسو په هغو کې لګيا يئ، هغه زما په مينځ کې او ستاسو په مينځ کې ښه کافي ګواه دی۔

بَيْنَكُمْ ؕ وَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝٨ قُلْ

او همدغه ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی(8) ته (دوی ته) ووايه:

مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَ مَآ

زه په رسولانو کې اول (او نوی رسول) نه يم (بلکې له ما نه مخکې هم رسولان تېر شوي) او زه

اَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَ لَا بِكُمْ ؕ اِنْ

ښيخي نه پوهېږم چې زما سره او تاسو سره به څه کولی شي، زه خو

اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ وَمَآ اَنَا اِلَّا

يوازې د هغه څه پیروي کوم چې ما ته وحي کولی شي او زه خو یوازې

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٩ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ

ښکاره وېروونکی یم(9) ته (دوی ته) ووایه: تاسو ما ته خبر راکړئ

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ

که چېرې دا (قرآن) د الله له جانبه وي او تاسو په ده سره کافران شوي یئ

شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ

او د بني اسرائیلو یو ګواه د دې په مثل سره ګواهي کړې ده،

فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا

پس هغه ایمان راوړ او تاسو لویي وکړه، بېشکه الله

ع
1

يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ۝١٠ وَقَالَ

ظالم قوم ته هدايت نه كوي(10) او كافران شويو

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لِلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَوۡ كَانَ

كسانو د هغو كسانو په هكله ووېل چې ايمان يې
راوړى دى: كه چېرې دا (ايمان، قرآن) خير (او

خَيۡرًا مَّا سَبَقُوۡنَاۤ اِلَيۡهِ ؕ وَاِذۡ لَمۡ

غوره كار) وى، نو دوى به ده ته زمونږ نه مخكې
شوي نه وو- او چونكه دغو (كافرانو) په دغه

يَهۡتَدُوۡا بِهٖ فَسَيَقُوۡلُوۡنَ هٰذَاۤ اِفۡكٌ

(قرآن) سره نېغه لاره ونه موندله، نو ځكه دوى به
ضرور وايي: دا ډېر

قَدِيۡمٌ ۝١١ وَمِنۡ قَبۡلِهٖ كِتٰبُ مُوۡسٰٓى

پخواني دروغ دي(11) حال دا چې له ده نه
مخكې د موسٰى كتاب و،

اِمَامًا وَّ رَحۡمَةً ؕ وَ هٰذَا كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ

چې لار ښوونکی او رحمت و او دا (قرآن) یو تصدیق کوونکی کتاب دی، په داسې حال کې چې

لِّسَانًا عَرَبِیًّا لِّیُنۡذِرَ الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡا ۖ وَ

په عربي ژبه دی، د دې لپاره چې هغه کسان وویروي چې ظلم یې کړی دی او

بُشۡرٰی لِلۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۱۲﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ

نېکي کوونکو لپاره زېری دی(12) بېشکه هغه کسان

قَالُوۡا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسۡتَقَامُوۡا فَلَا

چې وايي: زمونږ رب الله دی، بیا ټینګ ودرېږي، نو په دوی

خَوۡفٌ عَلَیۡهِمۡ وَ لَا هُمۡ

به نه څه وېره وي او نه به دوی

يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۳﴾ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

غمگين کېږي(13) دغه کسان د جنت ملګري دي،

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ جَزَآءً ۢ بِمَا كَانُوْا

چې په ده کې به تل ترتله وي، (دوی ته به) بدله ورکولی شي د هغو (نېکو) عملونو

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ

په سبب چې دوی به کول(14) او مونږ انسان ته له خپل

بِوَالِدَيْهِ اِحْسٰنًا ؕ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا

مور او پلار سره د نېکۍ کولو کلك حکم کړی دی۔، د ده مور دی د سختۍ په حالت کې (په

وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ

خېټه کې) پورته کړی او دی یې د سختۍ په حالت کې زېږولی دی او د ده حمل او له تي نه د

ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَ

ده، پرېکولو (غوڅولو، د دواړو) موده دېرش میاشتې ده، تر هغه پورې چې کله دی خپل قوت

بَلَغَ اَرْبَعِیْنَ سَنَةً ۙ قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِیْۤ

ته ورسېده او څلوېښتو کالو ته ورسېده، ده وویل: ای زما ربه!

اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِیْۤ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ وَ

ته ما ته (الهام او) توفیق راکړه چې زه ستا د هغه نعمت شکر ادا کړم چې تا په ما او

عَلٰى وَالِدَیَّ وَ اَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا

زما په مور و پلار انعام کړی دی او دا چې زه داسې نېك عمل وکړم

تَرْضٰىهُ وَ اَصْلِحْ لِیْ فِیْ ذُرِّیَّتِیْ ؕۚ اِنِّیْ

چې ته یې خوښوې او ته زما په اولاد کې صلاحیت (او نېکي) کېږده، بېشکه

تُبْتُ اِلَيْكَ وَاِنِّیْ مِنَ

ما تا ته توبه کړې ده او بېشکه زه له مسلمانانو

الْمُسْلِمِيْنَ ۝١٥ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ نَتَقَبَّلُ

څخه يم(15) دغه کسان دي چې مونږ له دوی نه د دوی

عَنْهُمْ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَنَتَجَاوَزُ

په عملونو کې تر ټولو ښه قبلوو او د دوی له

عَنْ سَيِّاٰتِهِمْ فِيْٓ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ ؕ

ګناهونو نه تېرېږو، په داسې حال کې چې د جنت په ملګرو کې به وي (الله کړې ده)

وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِیْ كَانُوْا

هغه رښتينې وعده چې له دوی سره يې

يُوۡعَدُوۡنَ ﴿١٦﴾ وَ الَّذِىۡ قَالَ لِوَالِدَيۡهِ

وعده کولی شوه(16) او هغه سړی چې خپل مور او پلار ته یې وویل:

اُفٍّ لَّـكُمَاۤ اَتَعِدٰنِنِىۡۤ اَنۡ اُخۡرَجَ وَقَدۡ

تاسو دواړو ته دې خرابي وي (زه له تاسو دواړو زړه تنګی یم) ایا تاسو ما ته دا وعده راکوئ چې

خَلَتِ الۡقُرُوۡنُ مِنۡ قَبۡلِىۡ‌ۚ وَهُمَا

زه به (ژوندی) راوېستلی کېږم، حال دا چې له ما نه مخکې ډېرې پېړۍ تېرې شوې دي او هغو

يَسۡتَغِيۡثٰنِ اللّٰهَ وَيۡلَكَ اٰمِنۡ‌ۖ اِنَّ وَعۡدَ

دواړو الله ته فریاد کاوه (او ورته ویل یې:) تا لره هلاکت دی، ایمان راوړه! بېشکه د الله وعده

اللّٰهِ حَقٌّ ۚۖ فَيَقُوۡلُ مَا هٰذَاۤ اِلَّاۤ

حقه ده.، نو دی (په جواب کې) وايي: دا نه دي مګر د

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٧﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

ړومبنو خلقو باطلې قصې(17) دغه هغه کسان دي

حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ

چې په دوی باندې (د عذاب) خبره ثابته شوې ده،
په هغو امتونو کې چې له دوی نه

مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَ الْاِنْسِ ؕ

مخکې تېر شوي دي له پېريانو او انسانانو څنې،

اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿١٨﴾ وَلِكُلٍّ

بېشکه دوی تاوانيان وو(18) او د هرې يوې
(ډلې)

دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ وَلِيُوَفِّيَهُمْ

لپاره د دوی د کړو عملونو په سبب (بېلې بېلې)
مرتبې دي، او د دې لپاره چې دوی ته د دوی

أَعۡمَالَهُمۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١٩ وَيَوۡمَ

عملونه پوره ورکړي، په داسې حال کې چې په
دوی به ظلم ونه کړی شي(19) او هغه ورځ (یاده

يُعۡرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ ط

کړه) چې کافران شوي کسان به اور ته پېش کولی
شي (او ورته به وويل شي:) تاسو خپل خوندونه

أَذۡهَبۡتُمۡ طَيِّبَٰتِكُمۡ فِي حَيَاتِكُمُ

(او نعمتونه) په خپل دنیایي ژوند کې ختم کړي

الدُّنۡيَا وَاسۡتَمۡتَعۡتُمۡ بِهَا ج فَالۡيَوۡمَ

دي او تاسو له هغو نه فايده اخيستې ده، نو نن
ورځ

تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ الۡهُونِ بِمَا كُنۡتُمۡ

به تاسو ته د ذلت د عذاب بدله درکولی شي، په
سبب د دې

تَسۡتَكۡبِرُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ

چې تاسو به په ځمکه کې ناحقه تکبر کاوه او په سبب د دې

ع 2

وَبِمَا كُنۡتُمۡ تَفۡسُقُوۡنَ ۝٢٠ وَاذۡكُرۡ اَخَا

چې تاسو به نافرماني كوله(20) او ته د عاديانو

عَادٍ ؕ اِذۡ اَنۡذَرَ قَوۡمَهٗ بِالۡاَحۡقَافِ وَقَدۡ

ورور (هود) ياد كړه، كله چې ده خپل قوم وویرولو، چې په احقاف (ريګستان) کې وو، او

خَلَتِ النُّذُرُ مِنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ

يقينًا له ده نه مخكې او له ده نه وروسته (نور) ويرووونكي (پيغمبران) تېر شوي دي (په دې خبرې

خَلۡفِهٖۤ اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّىۡۤ

سره) چې تاسو عبادت مه كوئ غير له الله نه۔ بيشكه زه

د سورتونو فهرست د سپارو فهرست

اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ

په تاسو د ډېرې لويې ورځې د عذاب

عَظِيۡمٍ ﴿۲۱﴾ قَالُوۡۤا اَجِئۡتَنَا لِتَاۡفِكَنَا عَنۡ

وېره کوم(21) دوی وويل: (ای هوده!) ايا ته مونږ
ته د دې لپاره راغلی يې چې مونږ

اٰلِهَتِنَا ۚ فَاۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ اِنۡ كُنۡتَ

له خپلو معبودانو نه واړوې، پس ته پر مونږ هغه
(عذاب) راوله چې ته يې مونږ ته وعده راکوې۔،

مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۲۲﴾ قَالَ اِنَّمَا الۡعِلۡمُ

که ته له رښتينو څخه يې(22) ده وويل: بېشکه
همدا خبره ده چې (د عذاب د راتلو) علم

عِنۡدَ اللّٰهِ ۖ وَاُبَلِّغُكُمۡ مَّاۤ اُرۡسِلۡتُ بِهٖ

خو له الله سره دی او زه تاسو ته هغه څه دررسوم
چې په هغو سره زه رالېږل شوی يم

وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا

او لېکن زه تاسو داسې قوم وينم چې له جهالت نه
کار اخلئ(23) نو کله چې

رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ ۙ

دوی هغه (عذاب) وليده، چې د پلنې ورېځې په
شکل کې د دوی ميدانونو ته مخ کوونکی و،

قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۭ بَلْ هُوَ

دوی وويل: دا پلنه ورېځ ده، پر مونږ باران
ورونکې ده، (نو هود وويل) بلکې دا هغه

مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ۭ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ

(عذاب) دی چې تاسو د ده تلوار کاوه، باد دی
چې په ده کې

اَلِيْمٌ ﴿٢٤﴾ ۙ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۢ بِاَمْرِ رَبِّهَا

دردوونکی عذاب دی(24) چې د خپل رب په
حکم سره هر شی هلاکوي،

فَاَصۡبَحُوۡا لَا يُرٰٓى اِلَّا مَسٰكِنُهُمۡ ؕ

نو دوی سبا ته داسې شول چې يواځې د دوی (خالي) کورونه ليدل کېدل،

كَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡقَوۡمَ

مونږ همداسې مجرم قوم ته

الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۲۵﴾ وَلَقَدۡ مَكَّنّٰهُمۡ فِيۡمَآ

بدله ورکوو(25) او يقينًا يقينًا مونږ هغوی ته په هغو

اِنۡ مَّكَّنّٰكُمۡ فِيۡهِ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ سَمۡعًا

څيزونو کې دومره قوت (او قدرت) ورکړی و چې تاسو ته مو په هغو کې قدرت نه دی درکړی او د

وَّاَبۡصَارًا وَّاَفۡـِٕدَةً ۖ فَمَاۤ اَغۡنٰى عَنۡهُمۡ

هغوی لپاره مونږ غوږونه او سترګې او زړونه پيدا کړي وو، نو له دوی نه

سَمۡعُهُمۡ وَلَآ أَبۡصَٰرُهُمۡ وَلَآ

د دوی غوږونو او نه د دوی سترګو او نه د دوی

أَفۡـِٔدَتُهُم مِّن شَيۡءٍ إِذۡ كَانُواْ

زړونو هېڅ شی (عذاب) دفع نه کړی شو،

يَجۡحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا

ځکه چې دوی د الله له ایتونو نه انکار کاوه او
دوی هغه (عذاب) راګېر کړل چې دوی به په هغه

ع 3

كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٢٦ وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا

پورې استهزا کولې(26) او يقينًا يقينًا مونږ هغه
کلي چې

مَا حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡقُرَىٰ وَصَرَّفۡنَا

ستاسو چاپېره دي، هلاك كړل او مونږه ايتونه
مكرر بيان كړي دي، د دې لپاره

الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَلَوْ لَا

چې دوی (له کفر نه) راوګرځي(27) نو د دوی مرسته هغو (معبودانو)

نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ

ولې ونه کړه چې دغو (خلقو دوی) د تقرب لپاره

اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ؕ بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ وَ

له الله نه غیر معبودان ګرځولي وو، بلکې دغه (معبودان په دغه وخت کې) له دوی نه ورك شول

ذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَ مَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٨﴾ وَ

او دغه د دوی غټ دروغ دي او هغه څه دي چې دوی به له ځانه جوړول(28) او

اِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ

هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ تا ته د پېریانو یوه

يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ فَلَمَّا حَضَرُوْهُ

ډله راوګرځوله، چې قرآن به اوري، نو كله چې
دوى ده (قرآن) ته حاضر شول،

قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِیَ وَلَّوْا اِلٰی

نو ويې ويل: چوپ شئ! نو كله چې (د قرآن
تلاوت) تمام كړى شو (نو) دوى خپل قوم ته بېرته

قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿٢٩﴾ قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ اِنَّا

وګرځېدل، په داسې حال كې چې وېروونكي وو(
29) دوى وويل: اى زمونږ قومه! بېشكه مونږ

سَمِعْنَا كِتٰبًا اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰی

داسې كتاب واورېده چې له موسىٰ نه وروسته
نازل كړى شوى دى،

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ اِلَی

په داسې حال كې د هغو (كتابونو) تصديق
كوونكى دى چې له ده نه مخكې وو.،

الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ

حق ته او نېغې (سمې) لارې ته

مُّسْتَقِيْمٍ ۝٣٠ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ

ښوونه کوي(30) ای زموږ قومه! تاسو د

اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ

الله د بلونکي وینا قبوله کړئ او په ده ایمان
راوړئ، چې هغه (الله) تاسو ته ستاسو ځینې

ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ

ګناهونه وبخښي او تاسو له ډېر دردوونکي عذاب

اَلِيْمٍ ۝٣١ وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ

نه خلاص (او بچ) کړي(31) او څوك چې د الله د
بلونکي خبره قبوله نه کړي،

فَلَيۡسَ بِمُعۡجِزٍ فِى الۡاَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهٗ

نو دغه كس په ځمكه كې (الله لره) عاجزه كوونكى نه دى او د ده لپاره له

مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءُ ؕ اُولٰٓئِكَ فِىۡ ضَلٰلٍ

دغه (الله) نه غير هېڅ كارسازي (او مددگاران) نشته او دغه كسان په ښكاره

مُّبِيۡنٍ ﴿۳۲﴾ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِىۡ

گمراهۍ كې دي(32) او ايا دوى نه دي كتلي چې بېشكه هغه الله چې

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡىَ

اسمانونه او ځمكه يې پيدا كړي دي او د دغو په پيدا كولو سره نه دى

بِخَلۡقِهِنَّ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنۡ يُّحۡىِۦَ الۡمَوۡتٰى ؕ

ستړى شوى، يقيناً په دې قادر دى چې مړي ژوندي كړي؟

بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝٣٣ وَيَوْمَ

ولې نه! بېشکه هغه په هر شي باندې ښه قادر دی (33) او هغه ورځ (ياده کړه)

يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ

چې کافران شوي کسان به اور ته وړاندې کولی شي (او ورته وبه ويل شي:)

اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَ

ايا دا حق (اورښتيا) نه دی، دوی به ووايي: ولې نه!

رَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا

زمونږ دې په خپل رب قسم وي۔! الله به ووايي: نو تاسو عذاب وڅکئ، په سبب د

كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝٣٤ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ

هغه کفر چې تاسو به کاوه(34) نو (اى نبي!) ته صبر کوه، لکه چې د

أُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا

عزيمت والا رسولانو صبر کړی دی او د دوی په هکله (د عذاب) تلوار مه کوه،

تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ۭ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ

ګوياکې دوی به هغه ورځ (کې) چې هغه (عذاب) ويني چې له دوی

مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً

سره يې وعده کولی شوه، داسې وي چې دوی وخت نه دی تېر کړی مګر د

مِّنْ نَّهَارٍ ۭ بَلٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا

ورځې يوه ګړی، (دا قرآن) پيغام دی، پس هلاك کولی نه شي مګر

الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝۳۵

فاسقان خلق(35)

ع 4 الربع

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَصَدُّوۡا عَنۡ سَبِيۡلِ

هغه کسان چې کافران شوي دي او (خلق يې) د
الله له لارې نه منع کړي دي-؛ هغه (الله) د دوی

اللّٰهِ اَضَلَّ اَعۡمَالَهُمۡ ۝١ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

(نېك) عملونه خراب (او ضايع) کړي دي(1) او
هغه کسان چې ايمان يې راوړ

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوۡا بِمَا نُزِّلَ

او نېك عملونه وکړل او په هغه (قرآن) يې ايمان
راوړ

عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّهِمۡ ۙ

چې په محمد (ﷺ) نازل کړی شوی دی- او
همدغه د دوی د رب له

كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَ اَصْلَحَ

جانبه حق دی (نو) هغه (الله) به له دوی نه د
دوی گناهونه لرې کړي او د دوی

بَالَهُمْ ۝٢ ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

حال به ښه کړي(2) دغه په دې سبب چې یقینًا
کافران شویو کسانو د

اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَ اَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

باطل پیروي کړې ده او یقینًا هغو کسانو چې ایمان
یې راوړی دی

اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۗ كَذٰلِكَ

د خپل رب له جانبه د حق پیروي کړې ده۔،
همداسې

يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ۝٣ فَاِذَا

الله خلقو ته د دوی مثالونه (او احوال) بیانوي(
3) نو کله چې

لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَضَرْبَ

تاسو له کافران شويو خلقو سره (په جنګ کې) مخامخ شئ، نو (اول کار د دوی) د څټونو وهل

الرِّقَابِ ؕ حَتّٰٓى اِذَآ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ

دي، تر هغه پورې چې کله تاسو دوی ښه ډېر ووژنئ، نو بيا ترل ښه مضبوط کړئ (بيا رسۍ ښې

فَشُدُّوا الْوَثَاقَ ۙ فَاِمَّا مَنًّاۢ بَعْدُ وَاِمَّا

مضبوطې وتړئ) بيا له دې نه بعد يا خو احسان کول دي (په دوی احسان وکړئ) او يا

فِدَآءً حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا ۚۛ

خو فديه کول دي (د عوض په بدل کې يې ازاد کړئ) (له دوی سره جنګ کوئ) تر هغه پورې

ذٰلِكَ ؕ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ

چې جنګ (والا) خپلې وسلې کېږدي، دغه (د الله حکم) دی او که الله غوښتلي وی (نو) له دوی نه

وَ لٰكِنۡ لِّيَبۡلُوَاۡ بَعۡضَكُمۡ بِبَعۡضٍ ؕ وَ

به يې خامخا بدل اخيستی و او لېکن د دې لپاره (يې تاسو ته د جهاد حکم وکړ) چې ستاسو ځينې

الَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ فَلَنۡ

په ځينو نورو سره وازمايي، او هغه کسان چې د الله په لاره کې ووژل شي، نو هغه (الله) به د

يُّضِلَّ اَعۡمَالَهُمۡ ۝۴ سَيَهۡدِيۡهِمۡ وَ

دوی عملونه له سره ضايع نه کړي(4) هغه (الله) به دوی ته خامخا لار ښوونه وکړي او

يُصۡلِحُ بَالَهُمۡ ۝۵ وَ يُدۡخِلُهُمُ الۡجَنَّةَ

د دوی حال به ښه کړي(5) او دوی به جنت ته داخل کړي چې هغه يې دوی

عَرَّفَهَا لَهُمۡ ۝۶ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِنۡ

ته ورښودلی دی(6) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! که چېرې

تَنۡصُرُوا اللّٰهَ يَنۡصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ

تاسو د الله مدد وکړئ، هغه به ستاسو مدد وکړئ
او ستاسو قدمونه به

اَقۡدَامَكُمۡ ۝٧ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فَتَعۡسًا

ثابت (او ټينګ) کړي(7) او هغه کسان چې
کافران شوي دي، نو د دوی لپاره هلاکوالی دی او

لَّهُمۡ وَاَضَلَّ اَعۡمَالَهُمۡ ۝٨ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ

هغه (الله) د دوی عملونه ضايع کړي دي(8) دا
ځکه چې يقينًا

كَرِهُوۡا مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاَحۡبَطَ

دوی هغه (قرآن) بد ګڼلی دی چې الله نازل کړی
دی، نو هغه (الله) د

اَعۡمَالَهُمۡ ۝٩ اَفَلَمۡ يَسِيۡرُوۡا فِى

دوی عملونه برباد کړل(9) ايا نو دوی په ځمکه

الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

کې نه گرځي، نو چې ووينې چې د هغو

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ دَمَّرَ اللّٰهُ

کسانو انجام څنگه و چې له دوی نه مخکې وو،
الله په دوی تباهي راوسته،

عَلَيْهِمْ ۫ وَلِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا ۝١٠ ذٰلِكَ

او د کافرانو لپاره د دغه (انجام) په مثل مثالونه
شته(10) دغه ځکه

بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ

چې يقينًا الله د هغو کسانو دوست (او مددگار)
دی چې ایمان يې راوړی دی او دا چې يقينًا

ع 5

الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ ۝١١ اِنَّ اللّٰهَ

کافران (چې دي) د دوی لپاره مددگار (او
دوست) نشته(11) بېشکه الله

يُدۡخِلُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا

به هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا

عملونه یې کړي دي، داسې جنتونه ته داخلوي

چې د هغو له لاندې

الۡاَنۡهٰرُ ؕ وَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا يَتَمَتَّعُوۡنَ وَ

ولې بهېږي او هغه کسان چې کافران شوي دي،

دوی فایده اخلي او

يَاۡكُلُوۡنَ كَمَا تَاۡكُلُ الۡاَنۡعَامُ وَ النَّارُ

خوراك کوي لکه څنګه چې څاروي خوراك کوي

او اور

مَثۡوًى لَّهُمۡ ⑫ وَ كَاَيِّنۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ هِىَ

د دوی استوګنه ده(12) او ډېر داسې کلي چې

هغه ستا له هغه کلي نه چې

اَشَدُّ قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ

ته يې اېستلى يې؛ په قوت کې زيات سخت وو؛

اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ

مونږ هغوى هلاك كړل، نو د هغوى هيڅوك

لَهُمْ ﴿١٣﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ

مددگار نه و(13) ايا نو هغه كس چې د خپل رب

له جانبه په ښكاره دليل (روان) وي د هغه كس په

كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَاتَّبَعُوْٓا

شان دى چې هغه ته خپل بد عمل ښايسته كړى

شوى وي او دوى د خپلو خواهشاتو

اَهْوَآءَهُمْ ﴿١٤﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ

پيروي كړې وي(14) د هغه جنت حال (او

صفت) چې پرهېزگارانو ته يې وعده

الْمُتَّقُوْنَ ؕ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ

ورکړی شوې ده، په هغو کې د داسې اوبو ولې دي چې

اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ

خرابېدونکې نه دي او د داسې شيدو (پيو) ولې دي چې

طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ

خوند (او مزه) به يې تغير نه مومي (نه خرابيږي) او د داسې شرابو ولې دي

لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ

چې څښونکو ته مزه ورکوونکې وي او د صفا کړی شويو شاتو ولې دي

مُّصَفًّى ؕ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

او د دوی لپاره په دغو (جنتونو) کې هر قسمه مېوې دي

وَ مَغۡفِرَةٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ ؕ كَمَنۡ هُوَ خَالِدٌ

او د خپل رب له جانبه مغفرت دی (ايا دغه کس) د هغه چا په شان دی چې هغه

فِی النَّارِ وَ سُقُوۡا مَآءً حَمِيۡمًا فَقَطَّعَ

په اور کې تل ترتله وي او په دوی ډېري گرمې اوبه ورڅښولی شي، نو د دوی کولمې

اَمۡعَآءَهُمۡ ۞ وَ مِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّسۡتَمِعُ

به ټوټې ټوټې کړي(15) او په دوی کې ځینې هغه

اِلَيۡكَ ۚ حَتّٰٓى اِذَا خَرَجُوۡا مِنۡ عِنۡدِكَ

دي چې تا ته غوږ ږدي تر دې چې کله ستا له خوا نه بهر ووځي، (نو)

قَالُوۡا لِلَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ مَاذَا قَالَ

هغو کسانو ته وایي چې علم ورته ورکړی شوی دی: ده (محمدﷺ) اوس څه وویل؟

اُنِفًا ۚ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى

دغه هغه کسان دي چې الله د دوی په زړونو مهر لګولی دی

قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿١٦﴾ وَ

او دوی د خپلو خواهشاتو پيروي کړې ده(16) او

الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّ

هغه کسان چې هدايت يې موندلی دی، هغه (الله) دوی ته هدايت ورزيات کړی دی او

اٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿١٧﴾ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا

دوی ته يې د دوی پرهېزګاري ورکړې ده(17) نو دوی انتظار نه کوي مګر

السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ

د قيامت (يعنې) چې په دوی ناڅاپه راشي، نو يقيناً

جَآءَ اَشۡرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمۡ اِذَا

د ده نښې راغلي دي، نو د دوی لپاره به د دوی پند اخیستل څنګه (مفید) وي

جَآءَتۡهُمۡ ذِكۡرٰىهُمۡ ۝١٨ فَاعۡلَمۡ اَنَّهٗ لَاۤ

چې کله په دوی (قیامت) راشي(18) نو ته پوه شه چې بېشکه شان

اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۡۢبِكَ وَ

دا دی چې د عبادت هېڅ لایق نشته مګر الله دی او د خپلې ګناه مغفرت وغواړه او

لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ

د مومنو سړیو او مومنو ښځو لپاره هم، او الله ستاسو په

ع 6

مُتَقَلَّبَكُمۡ وَمَثۡوٰىكُمۡ ۝١٩ وَيَقُوۡلُ

ګرځېدنځی او اوسېدنځی عالِم دی(19) او هغه کس چې

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ لَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ

ایمان يې راوړی دی، وايي: ولې يو (داسې) سورت نه نازلول کېږي (چې د جهاد حکم په کې وي)،

اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَّ ذُكِرَ فِيْهَا

نو کله چې يو محکم سورت نازل کړی شي او په

الْقِتَالُ ۙ رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

هغه کې جنگ ياد کړی شوی وي (نو) ته به هغه کسان وينې چې د هغوی په زړونو کې (د نفاق)

مَّرَضٌ يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ

مرض دی، چې تا ته به گوري د هغه کس د کتو په شان

عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ؕ فَاَوْلٰى

چې په هغه د مرگ له وجې بې هوشي راغلې وي، نو د دوی لپاره

لَهُمْ ﴿٢٠﴾ طَاعَةٌ وَّ قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ قف فَاِذَا

دې هلاکت وي(20) (دوی وايي: زمونږ کار) اطاعت دی او ښېکه خبره کول دي، نو کله چې

عَزَمَ الْاَمْرُ قف فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ

کار (د جهاد) فرض (او لازم) شي، نو که دوی له الله سره صدق کړی وی (نو) يقيناً دا به د دوی

خَيْرًا لَّهُمْ ﴿٢١﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ

لپاره ډېر غوره و(21) نو ايا تاسو، که چېرې

تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَ

حاکمان شئ، دې ته نژدې يئ چې تاسو به په ځمکه کې فساد وکړئ او خپل قرابتونه

تُقَطِّعُوْٓا اَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

(خپلوياني) به پرې کړئ(22) دا هغه کسان دي

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فَاَصَمَّهُمْ وَاَعْمٰى

چې الله په دوی لعنت کړی دی، نو دوی یې کاڼه کړي دي او د دوی سترګې

اَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ

یې ړندې کړې دي(23) ایا نو دوی په قرآن کې فکر نه کوي، بلکې (د دوی)

اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

په زړونو د دغو تالې پرتې دي(24) بېشکه هغه کسان

ارْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا

چې په خپلو شاګانو (له ایمانه) بېرته ګرځېدلي دي، وروسته له دې

تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطٰنُ سَوَّلَ

چې دوی ته هدایت ښکاره شو، دوی ته شیطان (خپل عملونه) ښایسته کړي دي

لَهُمْ ؕ وَ اَمْلٰى لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

او دوى ته يې مهلت ښكاره كړى دى(25) دغه په دې سبب چې يقيناً دوى

قَالُوْا لِلَّذِيْنَ كَرِهُوْا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ

هغو كسانو ته، چې دغه (قرآن) بد ګڼي چې الله نازل كړى دى، وويل:

سَنُطِيْعُكُمْ فِيْ بَعْضِ الْاَمْرِ ۚ وَ اللّٰهُ

په ځينو كارونو كې به مونږ ژر ستاسو حكم ومنو۔ او الله د دوى

يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾ فَكَيْفَ اِذَا

په پټو خبرو پوهېږي(26) نو څنګه حال به وي، كله

تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ

چې ملايك د دوى روحونه قبض كوي، په داسې حال كې چې دغه (ملايك) به د دوى

وُجُوْهَهُمْ وَ اَدْبَارَهُمْ ﴿٢٧﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ

مخونه او د دوی شاګانې وهي(27) دغه په دې
سبب چې يقينًا

اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ وَ كَرِهُوْا

دوی د هغه شي متابعت وکړ چې الله يې ناراضه
کړ او دوی د هغه

ع 7

رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿٢٨﴾ اَمْ

رضامندي بده وګڼله، نو هغه د دوی عملونه برباد
کړل(28) ايا

حَسِبَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ

هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې (د نفاق)
بيماري ده؛ دا ګمان کړی دی چې

لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ

الله به د دوی پټې کينې له سره نه ښکاره کړي(29)
او که

نَشَآءُ لَاَرَيْنٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ

مونږ وغواړو (نو) تا ته به دوی خامخا وښیو، نو ته به دوی خامخا په خپلو

بِسِيْمٰهُمْ ؕ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ

خاصو نښو سره وپېژنې او ته به دوی خامخا ضرور د خبرو په اړولو

الْقَوْلِ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ ۝٣٠ وَ

کې وپېژنې۔ او الله ستاسو په عملونو عالِم دی( 30) او

لَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ

مونږ به تاسو خامخا ضرور ازمایو تر دې چې مونږ په تاسو کې جهاد کوونکي وپېژنو

مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَاْ

(ظاهر کړو) او صبر کوونکي او ستاسو

اَخۡبَارَكُمۡ ﴿٣١﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَ

خبرونه وازمايو(31) بېشكه هغه كسان چې كافران

صَدُّوۡا عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَ شَآقُّوا

شوي دي او د الله له لارې نه منع شوي دي او

الرَّسُوۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ

د رسول مخالفت كوي، وروسته له دې چې دوى

الۡهُدٰى ۙ لَنۡ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيۡـًٔا ؕ وَ

ته هدايت ښكاره شو، دوى به الله ته له سره هيڅ
شى ضرر ونه رسولى شي او

سَيُحۡبِطُ اَعۡمَالَهُمۡ ﴿٣٢﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

هغه به ضرور د دوى عملونه برباد كړي(32) اى
هغو كسانو

اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ

چې ايمان يې راوړى دى! تاسو د الله اطاعت کوئ او د رسول اطاعت کوئ

وَ لَا تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ ﴿٣٣﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

او خپل عملونه مه تباه کوئ(33) بېشکه هغه کسان

كَفَرُوْا وَ صَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ

چې کافران شوي دي او د الله له لارې نه منع کېږي، بيا دوى

مَاتُوْا وَ هُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ

په داسې حال کې مړه شي چې کافران دي، نو الله به دوى ته له سره بخښنه

لَهُمْ ﴿٣٤﴾ فَلَا تَهِنُوْا وَ تَدْعُوْٓا اِلَى

ونه کړي(34) نو تاسو سستي مه کوئ او سولې ته

السَّلۡمِ ۖ وَاَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ ۖ وَاللّٰهُ

بلنه مه ورکوئ، په داسې حال کې چې هم تاسو به غالب يئ، او الله

مَعَکُمۡ وَلَنۡ يَّتِرَکُمۡ

له تاسو سره دی او هغه به ستاسو عملونه له سره

اَعۡمَالَکُمۡ ﴿٣٥﴾ اِنَّمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا

ضايع (او کم) نه کړي(35) بېشکه هم دا خبره ده چې دنيايي ژوند

لَعِبٌ وَّلَهۡوٌ ؕ وَاِنۡ تُؤۡمِنُوۡا وَتَتَّقُوۡا

خو بس لوبې او مشغولتيا ده او که تاسو ايمان راوړئ او پرهېزګاره شئ (نو)

يُؤۡتِکُمۡ اُجُوۡرَکُمۡ وَلَا يَسۡـَٔلۡکُمۡ

هغه به تاسو ته ستاسو اجرونه درکړي او له تاسو نه به ستاسو

اَمۡوَالَكُمۡ ﴿٣٦﴾ اِنۡ يَّسۡـَٔلۡكُمُوۡهَا

مالونه ونه وغواړي(36) كه هغه له تاسو نه دغه (مال) وغواړي،

فَيُحۡفِكُمۡ تَبۡخَلُوۡا وَيُخۡرِجۡ

پس په تاسو ښه كوشش وكړي (نو) تاسو به بخل وكړئ، او هغه (الله) به ستاسو پټې

اَضۡغَانَكُمۡ ﴿٣٧﴾ هٰۤاَنۡتُمۡ هٰۤؤُلَاۤءِ تُدۡعَوۡنَ

كينې راوباسي(37) خبردار شئ! تاسو اى دغو كسانو! تاسو رابللى شئ،

لِتُنۡفِقُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ‌ۚ فَمِنۡكُمۡ مَّنۡ

د دې لپاره چې تاسو د الله په لاره كې مال ولګوئ، نو په تاسو كې

يَّبۡخَلُ‌ۚ وَمَنۡ يَّبۡخَلۡ فَاِنَّمَا يَبۡخَلُ

ځينې بخل كوي او څوك چې بخل وكړي، نو يقينًا

عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ

هم دا خبره ده چې هغه له خپل ځان نه (د خير په منع كولو سره) بخل كوي او هم دا الله غني (بې

الْفُقَرَآءُ ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ

بې پروا) دی او هم تاسو فقيران يئ۔ او كه تاسو وګرځېدئ (نو) هغه به له

قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا

تاسو نه غير بل قوم په بدل كې راولي، بيا به هغوی

ع
8

اَمْثَالَكُمْ ۝٣٨

ستاسو په شان نه وي(38)

# بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحًا مُّبِيۡنًا ۙ‏ ﴿۱﴾ لِّيَغۡفِرَ

بېشکه مونږ تا ته فتح درکړې ده، ښکاره فتح(1) د
دې لپاره چې

لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنۡ ذَنۡۢبِكَ وَمَا

الله تا ته ستا هغه ګناهونه وبخښي چې مخکې
تېرې شوي دي او هغه

تَاَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهٗ عَلَيۡكَ وَيَهۡدِيَكَ

چې وروسته دي او په تا باندې خپل نعمتونه پوره
کړي او

صِرَاطًا مُّسۡتَقِيۡمًا ۙ‏ ﴿۲﴾ وَّيَنۡصُرَكَ اللّٰهُ

تا ته نېغه لاره وښيي(2) او د دې لپاره چې الله
ستا مدد وکړي،

نَصۡرًا عَزِيۡزًا ۝٣ هُوَ الَّذِيۡٓ اَنۡزَلَ

زبردست مدد كول(3) دغه (الله) هغه ذات دى چې

السَّكِيۡنَةَ فِيۡ قُلُوۡبِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ

د مومنانو په زړونو كې يې سكون (اطمينان) نازل كړ، د

لِيَزۡدَادُوۡٓا اِيۡمَانًا مَّعَ اِيۡمَانِهِمۡ ؕ وَلِلّٰهِ

دې لپاره چې دوى د خپل (مخكيني) ايمان سره د ايمان په لحاظ نور ورزيات شي۔ او

جُنُوۡدُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَكَانَ

خاص الله لره د اسمانونو او ځمكې لښكرې دي او الله

اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ۝٤ لِّيُدۡخِلَ

ښه پوه، ښه حكمت والا دى(4) د دې لپاره چې

الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ

هغه مومنان سړي او مومنې ښځې داسې جنتونو ته داخل کړي چې

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا وَ

د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي او

یُکَفِّرَ عَنْهُمْ سَیِّاٰتِهِمْ ؕ وَ کَانَ ذٰلِكَ

(د دې لپاره چې) هغه (الله) له دوی نه د دوی ګناهونه لرې کړي، او دغه د

عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِیْمًا ۙ﴿۵﴾ وَّ یُعَذِّبَ

الله په نیز ډېره لویه کامیابي ده(5) او د دې لپاره

الْمُنٰفِقِیْنَ وَ الْمُنٰفِقٰتِ وَ

چې منافقو سړیو او منافقو ښځو او

الْمُشْرِكِيْنَ وَ الْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ

مشرکو سړيو او مشرکو ښځو ته عذاب ورکړي،

بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ

هغه چې په الله باندې ګمان کوونکي دي، بدګمان،

السَّوْءِ ۚ وَ غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَ

په دوی دې د بدۍ راګرځېدل وي، او الله په
دوی باندې غضب کړی دی او

لَعَنَهُمْ وَ اَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَ سَآءَتْ

په دوی يې لعنت کړی دی او د دوی لپاره يې
جهنم تيار کړی دی او هغه د

مَصِيْرًا ﴿۶﴾ وَ لِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَ

ورتلو بد ځای دی(6) او خاص د الله لپاره د
اسمانونو او

الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا

ځمکې لښکرې دي او الله له ازله ښه غالب، ښه

حَكِيْمًا ۝٧ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ

حکمت والا دی(7) بېشکه مونږ ته شاهد او

مُبَشِّرًا وَّ نَذِيْرًا ۝٨ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ

زېرى ورکوونکى او وېروونکى لېږلى يې(8) د دې
لپاره چې تاسو (اى خلقو!) په الله او

رَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ؕ وَ

د هغه په رسول ايمان راوړئ او د هغه (الله) مدد
وکړئ او

تُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ۝٩ اِنَّ الَّذِيْنَ

د هغه تعظيم وکړئ او سبا او بېگا د هغه تسبيح
بيان کړئ(9) بېشکه هغه کسان

يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ؕ يَدُ

چې له تا سره بیعت کوي، بېشکه همدا خبره ده
چې دوی خو له

اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا

الله سره بیعت کويـ، د الله لاس د دوی د
لاسونو له پاسه دی، نو هغه چا چې (دا بیعت)

يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا

مات کړ، نو بېشکه همدا خبره ده چې د خپل ځان
په ضرر يې ماتوي او هغه څوك چې په هغه څه وفا

عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا

وکړي چې په هغه يې له الله سره عهد کړی دی،
نو ده ته به هغه خامخا ډېر لوی

ع
9

عَظِيْمًا ۠ ﴿١٠﴾ سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ

اجر ورکړي(10) ژر ده چې تا ته په اَعرابو کې
وروسته پاتې

مِنَ الۡاَعۡرَابِ شَغَلَتۡنَاۤ اَمۡوَالُنَا وَ

کړی شوي کسان ووايي: مونږ خپلو مالونو او

اَهۡلُوۡنَا فَاسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ۚ يَقُوۡلُوۡنَ

خپلوکورنيو مشغول کړي وو، لهٰذا ته زمونږ لپاره بخښنه وغواړه۔، دوی په

بِاَلۡسِنَتِهِمۡ مَّا لَيۡسَ فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ ؕ

خپلو ژبو سره هغه خبرې وايي چې د دوی په زړونو کې

قُلۡ فَمَنۡ يَّمۡلِكُ لَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ شَيۡـًٔا

هغه نشته، ته (دوی ته) ووايه: نو تاسو لپاره د الله (له عذاب) نه څوك د څه شي اختيار لرلی شي،

اِنۡ اَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا اَوۡ اَرَادَ بِكُمۡ

که هغه (الله) تاسو ته د ضرر رسولو اراده وکړي، يا تاسو ته د نفعې رسولو اراده وکړي،

نَفۡعًا ؕ بَلۡ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ

بلکې الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ؛ ښه

خَبِيۡرًا ﴿۱۱﴾ بَلۡ ظَنَنۡتُمۡ اَنۡ لَّنۡ يَّنۡقَلِبَ

خبردار دی(11) بلکې (اصل خبره دا ده چې)
تاسو دا ګمان کړی و

الرَّسُوۡلُ وَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ اِلٰۤى اَهۡلِيۡهِمۡ

چې رسول او مومنان به خپلو کورنیو ته هیڅ کله
هم بېرته له سره را ونه ګرځي

اَبَدًا وَّ زُيِّنَ ذٰلِكَ فِىۡ قُلُوۡبِكُمۡ وَ

او دغه خبره ستاسو په زړونو کې ښایسته کړی
شوه او

ظَنَنۡتُمۡ ظَنَّ السَّوۡءِ ۖۚ وَكُنۡتُمۡ قَوۡمًاۢ

تاسو ګمان وکړ، بدګمان، او تاسو هلاکېدونکی

بُوْرًا ﴿۱۲﴾ وَ مَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ

قوم شوئ(12) او هر څوك چې په الله او د هغه په رسول ایمان رانه وړي،

فَاِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۳﴾ وَ

نو بېشکه مونږ د کافرانو لپاره لمبې وهونکی اور تیار کړی دی(13) او

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ يَغْفِرُ

خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې باچايي ده،

لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ

چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي او

كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۴﴾ سَيَقُوْلُ

الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی(14) ژر به وروسته

الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ

پاتې كړى شوي كسان ووايي، كله چې تاسو غنيمتونو ته روان شئ،

لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ

د دې لپاره چې هغه راونيسئ: تاسو مونږ پرېږدئ

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ؕ قُلْ

چې تاسو پسې روان شو، دوى غواړي چې د الله كلام بدل كړي، ته (دوى ته) ووايه:

لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ

تاسو به زمونږ پسې له سره رانشئ، الله همداسې مخكې له دې نه فرمايلي دي: بيا به ژر

قَبْلُ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ؕ

چې دوى ووايي: بلكې تاسو زمونږ سره حسد كوئ۔ (داسې نه ده)

بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٥﴾ قُلْ

بلکې دوی نه پوهېدل مګر ډېر لږ. څه(15) په

لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ

اعرابو کې وروسته پاتې کړی شویو کسانو ته

ووایه: ژر ده چې تاسو به

اِلٰى قَوْمٍ اُولِىْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ

له داسې قوم سره (د جنګ کولو) لپاره راوبللی

شئ،

تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ

چې د ډېر سخت جنګ والا دي، تاسو به له

هغوی سره جنګ کوئ، یا به هغوی مسلمانېږي،

تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ وَ

نو که تاسو اطاعت وکړئ، الله به تاسو ته ډېر ښه

اجر درکړي او

اِنۡ تَتَوَلَّوۡا كَمَا تَوَلَّيۡتُمۡ مِّنۡ قَبۡلُ

كه تاسو وګرځېدئ، لکه چې له دې نه مخکې ګرځېدلي وئ۔ (نو) هغه به تاسو

يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ﴿١٦﴾ لَيۡسَ عَلَى

ته ډېر دردوونکی عذاب درکړي(16) نه په

الۡاَعۡمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡاَعۡرَجِ

ړانده باندې څه ګناه شته او نه په ګوډ باندې څه

حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡمَرِيۡضِ حَرَجٌ ؕ وَ

ګناه شته او نه په بیمار باندې څه ګناه شته۔ او

مَنۡ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ يُدۡخِلۡهُ جَنّٰتٍ

څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي (نو) هغه (الله) به دغه (کس) داسې جنتونو ته

تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ ۚ وَ مَنۡ

داخل كړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي او خوك چې (د الله له احكامو نه) مخ واړوي

ع
10
النصف

یَّتَوَلَّ یُعَذِّبۡهُ عَذَابًا اَلِیۡمًا ﴿۱۷﴾ لَقَدۡ

(، نو) هغه (الله) به ده ته ډېر دردوونكى عذاب وركړي(17) يقينًا يقينًا

رَضِیَ اللّٰهُ عَنِ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ اِذۡ

الله له مومنانو نه راضي شو كله چې دوى

یُبَایِعُوۡنَكَ تَحۡتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا

له تا سره د ونې لاندې بيعت كاوه، پس ده ته هغه څه معلوم وو چې د

فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ فَاَنۡزَلَ السَّكِیۡنَةَ عَلَیۡهِمۡ

دوى په زړونو كې وو، بيا هغه په دوى اطمينان نازل كړ

وَ اَثَابَهُمۡ فَتۡحًا قَرِیۡبًا ﴿۱۸﴾ وَّ مَغَانِمَ

او دوی ته يې په عوض کې نژدې برى ورکړ(18)
او ډېر غنيمتونه

كَثِيۡرَةً يَّاۡخُذُوۡنَهَا ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَزِيۡزًا

چې دوی به هغه راحاصل کړي۔ او الله له همېشه
ډېر غالب،

حَكِيۡمًا ﴿۱۹﴾ وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ

ښه حکمت والا دی(19) الله له تاسو سره د ډېرو
غنيموتونو وعده کړې ده

كَثِيۡرَةً تَاۡخُذُوۡنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمۡ هٰذِهٖ

چې تاسو به هغه واخلئ، پس دا (غنيمت) يې
تاسو ته ژر درکړ

وَ كَفَّ اَيۡدِىَ النَّاسِ عَنۡكُمۡ ۚ وَ

او د خلقو لاسونه يې له تاسو نه بند کړل او

لِتَكُوْنَ اٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ

د دې لپاره چې دا (کار) د مومنانو لپاره يو نښه شي او د دې لپاره چې هغه تاسو ته

صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝٢٠ وَّاُخْرٰى لَمْ

نېغه لار وښيي(20) او نور داسې (غنيمتونه) دي

تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ۭ وَ

چې تاسو لا په هغو قادر شوي نه يئ، يقينًا الله هغه راګېر کړي دي۔ او

كَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ۝٢١ وَلَوْ

الله په هر شي باندې ښه قادر دی(21) او که

قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ

کافران شويو کسانو له تاسو سره جنګ کړی وی

ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا

(نو) دوی به خامخا شاګانې ګرځولې وی، بیا به دوی نه څوك كارساز موندلی و او نه

نَصِيْرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِىْ قَدْ خَلَتْ

کوم مددګار(22) الله هغه طريقه جاري کړې ده چې له

مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ

دې نه مخکې تېره شوې ده او ته به د الله طريقې لره له سره څه

تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾ وَهُوَ الَّذِىْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ

تبديلې ونه مومې(23) او دی همغه ذات دی چې له تاسو نه

عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ

یې د هغوی لاسونه بند کړل او له هغوی نه یې ستاسو لاسونه بند کړل،

مَكَّةَ مِنۢ بَعۡدِ اَنۡ اَظۡفَرَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ ؕ

د مكې په داخل کې، وروسته له دې چې تاسو يې
پر هغوی غالب کړئ،

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرًا ﴿۲۴﴾ هُمُ

او الله هغه څه لره چې تاسو يې کوئ؛ ښه
ليدونکی دی(24) دوی

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَصَدُّوۡكُمۡ عَنِ

هغه کسان دي چې کفر يې کړی دی، او تاسو يې
له

الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ وَالۡهَدۡىَ مَعۡكُوۡفًا

مسجد حرام نه منع کړي يئ او قرباني (د هدي
څاروي هم)، په دې حال کې

اَنۡ يَّبۡلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ وَلَوۡلَا رِجَالٌ

چې له دې نه بندې کړی شوي دي چې خپل د
حلالې ځای ته ورسيږي.

مُّؤۡمِنُوۡنَ وَنِسَآءٌ مُّؤۡمِنٰتٌ لَّمۡ

او كه چېرې څه مومن سړي او څه مومنې ښځې نه وى،

تَعۡلَمُوۡهُمۡ اَنۡ تَطَـُٔوۡهُمۡ فَتُصِيۡبَكُمۡ

چې تاسو دوى نه پېژندل، دا چې تاسو به دوى پايمال كړئ، بيا به تاسو ته د دوى په وجه گناه

مِّنۡهُمۡ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ ۚ لِيُدۡخِلَ

ورسېږي (، نو د جنگ اجازت به يې دركړى و، خو در يې نه كړ) د دې لپاره چې الله په خپل

اللّٰهُ فِىۡ رَحۡمَتِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ۚ لَوۡ تَزَيَّلُوۡا

رحمت كې هغه څوك داخل كړي چې يې غواړي، كه دغه (مسلمانان له كفارو نه) جدا شوي وى، نو

لَعَذَّبۡنَا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡهُمۡ عَذَابًا

مونږ به خامخا په دغو (د مكې په اوسېدونكو) كسانو كې كافران شويو خلقو ته ډېر دردوونكى

اَلِيْمًا۝۲۵ اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ

عذاب ورکړی و(25) کله چې کافران شویو خلقو

قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ

په خپلو زړونو کې غیرت واچاوه، د جاهلیت غیرت،

فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَ

نو الله خپل اطمینان په خپل رسول او

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَ اَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ

په مومنانو باندې نازل کړ او په دوی پورې یې د تقویٰ خبره لازمه (ټینګه) کړه

التَّقْوٰى وَ كَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا وَ اَهْلَهَا ؕ وَ

او دوی د دغې ډېر حقدار او د دغې اهل وو۔ او

ع
11

كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيۡمًا ﴿۲۶﴾ لَقَدۡ

الله همېشه په هر شي ښه پوه دی(26) يقينًا يقينًا

صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوۡلَهُ الرُّءۡيَا بِالۡحَقِّ

الله خپل رسول ته خوب په حقه سره رښتيا کړ،

لَتَدۡخُلُنَّ الۡمَسۡجِدَ الۡحَرَامَ اِنۡ شَآءَ

چې تاسو به، که الله وغواړي، مسجد حرام ته په

اللّٰهُ اٰمِنِيۡنَ ۙ مُحَلِّقِيۡنَ رُءُوۡسَكُمۡ وَ

امن او ارام سره ننوځئ، چې خپل سرونه به
خروونکي يئ او

مُقَصِّرِيۡنَ ۙ لَا تَخَافُوۡنَ ؕ فَعَلِمَ مَا لَمۡ

کموونکي به يئ، په داسې حال کې چې تاسو به نه
وېرېږئ، پس هغه ته

تَعۡلَمُوۡا فَجَعَلَ مِنۡ دُوۡنِ ذٰلِكَ فَتۡحًا

معلوم دي هغه څه چې تاسو ته معلوم نه دي، نو له دغې نه مخکې يې

قَرِيۡبًا ﴿۲۷﴾ هُوَ الَّذِيۡۤ اَرۡسَلَ رَسُوۡلَهٗ

نژدې بری عطا کړ(27) دی همغه ذات دی چې خپل رسول يې

بِالۡهُدٰى وَ دِيۡنِ الۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهٗ عَلَى

په هدايت او حق دين سره راليږلی دی، د دې لپاره چې

الدِّيۡنِ كُلِّهٖ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ

هغه (الله) دغه (دين) په ټولو دينونو باندې غالب کړي او هم الله

شَهِيۡدًا ﴿۲۸﴾ؕ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ ؕ وَ

کافي دی بنه ګواه(28) محمد د الله رسول دی۔ او

الَّذِيۡنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الۡكُفَّارِ

هغه کسان چې له ده سره دي، په کافرانو باندې ډېر سخت دي،

رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡ تَرٰهُمۡ رُكَّعًا سُجَّدًا

په خپل مینځ کې ډېر مهرباني کوونکي دي۔، ته به دوی وینې چې رکوع کوونکي، سجده کوونکي

يَّبۡتَغُوۡنَ فَضۡلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضۡوَانًا‌

دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي۔، د

سِيۡمَاهُمۡ فِىۡ وُجُوۡهِهِمۡ مِّنۡ اَثَرِ

دوی (د دینداری) نښې د دوی په مخونو کې دي۔

السُّجُوۡدِ‌ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِى التَّوۡرٰٮةِ ۛۚ

د سجدو له اثر نه۔، دغه په تورات کې د دوی مثال دی

# وَ مَثَلُهُمۡ فِی الۡاِنۡجِیۡلِ ۚ۟ کَزَرۡعٍ

او په انجيل كې د دوى مثال دى.، لكه هغه فصل چې

# اَخۡرَجَ شَطۡـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسۡتَغۡلَظَ

خپل تېغ راوباسي، بيا هغه قوي كړي، بيا هغه (فصل، تېغ) پيړ او كلك شي بيا دغه (فصل) په

# فَاسۡتَوٰی عَلٰی سُوۡقِهٖ یُعۡجِبُ الزُّرَّاعَ

خپلو پنډيو (او بېخونو) ودرېږي، په داسې حال چې زمېنداران (كروندگر) په تعجب كې اچوي، د

# لِیَغِیۡظَ بِهِمُ الۡکُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ

دې لپاره چې په دغو سره كافران په غصه كړي، الله له هغو

# الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

كسانو سره چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي،

ع
12

مِنۡهُمۡ مَّغۡفِرَةً وَّاَجۡرًا عَظِيۡمًا ﴿۲۹﴾

چې دغه (اصحابان) دي؛ د بخښني او د ډېر لوی اجر وعده کړې ده(29)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تُقَدِّمُوۡا بَیۡنَ

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د

یَدَیِ اللّٰهِ وَ رَسُوۡلِهٖ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ

الله او د هغه د رسول په مخکې مه وړاندې کېږئ، او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه

اللّٰهَ سَمِیۡعٌ عَلِیۡمٌ ۝۱ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ

الله ښه اورېدونکی، ښه پوه دی(1) ای هغو کسانو چې

اٰمَنُوۡا لَا تَرۡفَعُوۡۤا اَصۡوَاتَکُمۡ فَوۡقَ

ایمان یې راوړی دی! تاسو خپل اوازونه د

صَوۡتِ النَّبِیِّ وَلَا تَجۡهَرُوۡا لَهٗ بِالۡقَوۡلِ

نبي د اواز له پاسه مه پورته کوئ، او مه ده ته په
اوچت اواز خبره کوئ،

کَجَهۡرِ بَعۡضِکُمۡ لِبَعۡضٍ اَنۡ تَحۡبَطَ

لکه ستاسو د ځينو له ځينو نورو سره د اواز
اوچتولو په شانــ، له دې وجې

اَعۡمَالُکُمۡ وَاَنۡتُمۡ لَا تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۲﴾ اِنَّ

چې ستاسو عملونه به برباد شي او تاسو به پوه نه
وئ(2) بېشکه

الَّذِیۡنَ یَغُضُّوۡنَ اَصۡوَاتَهُمۡ عِنۡدَ

هغه کسان چې د الله د رسول په وړاندې خپل
اوازونه ټيټوي؛

رَسُوۡلِ اللّٰهِ اُولٰٓئِکَ الَّذِیۡنَ امۡتَحَنَ

دغه هغه کسان دي چې الله د دوی زړونه د

اللّٰهُ قُلُوۡبَهُمۡ لِلتَّقۡوٰى ؕ لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ

تقوىٰ (او پرهېزګارۍ) لپاره ازمايلي دي، د دوى لپاره بخښنه او

وَّ اَجۡرٌ عَظِيۡمٌ ۝٣ اِنَّ الَّذِيۡنَ يُنَادُوۡنَكَ

ډېر لوى اجر دى(3) بېشکه هغه کسان چې

مِنۡ وَّرَآءِ الۡحُجُرٰتِ اَكۡثَرُهُمۡ لَا

تا ته له حجرو نه د باندې چغې وهي، د دوى اکثره

يَعۡقِلُوۡنَ ۝٤ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ صَبَرُوۡا حَتّٰى

عقل نه لري(4) او که يقيناً دوى صبر کړى وى، تر دې چې

تَخۡرُجَ اِلَيۡهِمۡ لَكَانَ خَيۡرًا لَّهُمۡ ؕ وَ

ته دوى ته راوتلى وى (نو) يقيناً دا به د دوى لپاره ډېره غوره وه: او

اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٥ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی(5)
ای هغو کسانو

اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ

چې ایمان یې راوړی دی! که تاسو ته کوم فاسق
(بدکار کس) خبر راوړي،

فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًاۢ بِجَهَالَةٍ

نو تاسو ښه تحقیق کوئ، په دې چې تاسو به یو
قوم ته په ناخبري

فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ

سره تکلیف ورسوئ، بیا به تاسو په خپلو کړو

نٰدِمِيْنَ ۝٦ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ

باندې پښېمانه شئ(6) او تاسو پوه شئ چې یقینًا
په تاسو کې د الله رسول موجود دی،

اللّٰهِ ؕ لَوۡ یُطِیۡعُکُمۡ فِیۡ کَثِیۡرٍ مِّنَ الۡاَمۡرِ

که هغه په ډېرو کارونو کې ستاسو پیروي کړې وی (نو)

لَعَنِتُّمۡ وَ لٰکِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَیۡکُمُ

تاسو به په مشقت کې غورځېدلي وی او لېکن الله تاسو ته

الۡاِیۡمَانَ وَ زَیَّنَهٗ فِیۡ قُلُوۡبِکُمۡ وَ کَرَّهَ

ایمان محبوب وګرځاوه او هغه یې ستاسو په زړونو کې ښایسته کړ او

اِلَیۡکُمُ الۡکُفۡرَ وَ الۡفُسُوۡقَ وَ

تاسو ته یې کفر او فسق او

الۡعِصۡیَانَ ؕ اُولٰٓئِکَ هُمُ

نافرماني کول ناخوښه وګرځول۔، هم دغه کسان

الرّٰشِدُوْنَ ۝٧ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ؕ

په نېغه لار دي(7) د الله له جانبه د فضل او نعمت په وجه۔

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝٨ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ

او الله ښه پوه، ښه حكمت والا دی(8) او كه په

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا

مومنانو كې دوه ډلې په خپل مينځ كې جنګ شروع كړي، نو تاسو

بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى

د دغو دواړو په مينځ كې سوله (روغه) وكړئ، نو كه په دغو دواړو كې يوې په

الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى

بلې باندې زياتی (او ظلم) وكړ، نو تاسو له هغې ډلې سره وجنګېږئ، چې زياتی كوي، تر دې چې

تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ فَآءَتْ

هغه د الله حکم ته راوګرځي، نو که هغه (له ظلم نه) راوګرځېدله،

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَ

نو تاسو د دواړو په مينځ کې په انصاف سره سوله وکړئ او

اَقْسِطُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

تاسو انصاف کوئ، بېشکه الله انصاف

الْمُقْسِطِيْنَ ۝ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ

کوونکي خوښوي(9) بېشکه هم دا خبره ده چې مومنان خو سره وروڼه دي،

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

نو تاسو د خپلو دواړو وروڼو په مينځ کې سوله کوئ او له الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې په

ع
13
الثّلٰثة

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝١٠ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

تاسو رحم وکړی شي(10) ای هغو کسانو چې

اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى

ایمان يې راوړی دی! هیڅ قوم دې په بل قوم
پورې

اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ

مسخرې نه کوي، کېدی شي چې هغوی له ده نه
ډېر غوره وي، او نه (دې) ښځې

مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا

په نورو ښځو پورې (مسخرې کوي)، کېدی شي
چې هغوی له

مِّنْهُنَّ ۚ وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا

دوی نه ډېرې غوره وي۔ او تاسو د خپلو ځانونو
عیب جويي مه کوئ او يو بل

تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ؕ بِئْسَ الِاسْمُ

په بدو لقبونو (او نومونو) سره مه بلئ۔ له

الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ لَّمْ

ايمان راوړو نه بعد د فسق نامه بده ده او چا چې

يَتُبْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ⑪ يٰٓاَيُّهَا

توبه ونه وېستله، نو هم دغه کسان ظالمان دي(11)

اى هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ

کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو له ډېرو

الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّلَا

(بدو) ګمانونو نه ځان وساتئ، بېشکه ځينې ګمانونه

ګناه ده۔ او پټ

تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ؕ

عيبونه مه لټوئ او ستاسو ځينې دې د ځينو نورو
غيبت نه كوي، ايا په تاسو كې يو كس دا خوښوي

اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ

چې د خپل ورور غوښه وخوري، په دې حال كې
چې

مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ

هغه مړى وي، نو تاسو دغه (خوراك) بدګڼئ او له
الله نه ووېرېږئ، بېشكه الله ښه توبه قبلوونكى،

اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ۝١٢ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا

بې حده رحم كوونكى دى(12) اى خلقو! بېشكه

خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَ

مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا كړي
يئ او

جَعَلۡنٰكُمۡ شُعُوۡبًا وَّ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوۡا ؕ

مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولي يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ،

اِنَّ اَكۡرَمَكُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ اَتۡقٰكُمۡ ؕ

بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی۔،

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌ خَبِيۡرٌ ﴿۱۳﴾ قَالَتِ

بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی(13) باندېسيانو

الۡاَعۡرَابُ اٰمَنَّا ؕ قُلۡ لَّمۡ تُؤۡمِنُوۡا وَ

(صحرايي خلقو) وويل: مونږ ايمان راوړی دی، ته (دوی ته) ووايه: تاسو ايمان نه دی راوړی۔ او

لٰكِنۡ قُوۡلُوۡۤا اَسۡلَمۡنَا وَلَمَّا يَدۡخُلِ

لېکن تاسو ووايئ چې مونږ اسلام راوړی دی۔ او ايمان لا تر اوسه ستاسو

اَلۡاِیۡمَانُ فِیۡ قُلُوۡبِکُمۡ ؕ وَ اِنۡ تُطِیۡعُوا

په زړونو کې نه دی ننوتی۔ او که تاسو د الله او د هغه د

اللّٰہَ وَ رَسُوۡلَہٗ لَا یَلِتۡکُمۡ مِّنۡ

رسول اطاعت وکړئ، نو هغه (الله) به ستاسو له

اَعۡمَالِکُمۡ شَیۡئًا ؕ اِنَّ اللّٰہَ غَفُوۡرٌ

عملونو نه هيڅ شی کم نه کړي، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده

رَّحِیۡمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَا الۡمُؤۡمِنُوۡنَ الَّذِیۡنَ

رحم کوونکی دی(14) بېشکه مومنان خو هغه کسان دي چې

اٰمَنُوۡا بِاللّٰہِ وَ رَسُوۡلِہٖ ثُمَّ لَمۡ یَرۡتَابُوۡا

په الله او د هغه په رسول يې ايمان راوړی دی، بيا يې شك نه دی کړی

وَ جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَ اَنْفُسِهِمْ فِيْ

او د الله په لاره کې يې په خپلو مالونو او خپلو

سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

ځانونو سره جهاد کړی دی، هم دغه کسان

الصّٰدِقُوْنَ ﴿۱۵﴾ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ

رښتيني دي(15) ته (دوی ته) ووايه: ايا تاسو پر

خپل دين باندې الله خبروئ،

بِدِيْنِكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي

حال دا چې الله پوهېږي په هر هغه څه چې په

السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ اللّٰهُ بِكُلِّ

اسمانونو کې دي او په هر هغه څه چې په ځمکه

کې دي، او الله په هر

شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ﴿۱۶﴾ یَمُنُّوۡنَ عَلَیۡكَ اَنۡ

شي باندې ښه پوه دی(16) دوی په تا د دې
احسان کوي

اَسۡلَمُوۡا ؕ قُلۡ لَّا تَمُنُّوۡا عَلَیَّ اِسۡلَامَکُمۡ ۚ

چې اسلام يې راوړی دی، ته (ورته)، ووايه: تاسو
په ما باندې د خپل اسلام راوړلو احسان مه کوي،

بَلِ اللّٰهُ یَمُنُّ عَلَیۡکُمۡ اَنۡ هَدٰىکُمۡ

بلکې الله پر تاسو باندې احسان کوي دا چې
تاسو ته يې

لِلۡاِیۡمَانِ اِنۡ کُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ﴿۱۷﴾ اِنَّ

د ايمان راوړلو هدايت وکړ، که تاسو رښتيني يئ(
17) بېشکه

اللّٰهَ یَعۡلَمُ غَیۡبَ السَّمٰوٰتِ وَ

الله د اسمانونو او ځمکې په غيبو پوهېږي او

ع
14

الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِیْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۧ ﴿۱۸﴾

الله هغه څه لره چې تاسو يې کوئ، ښه ليدونکی دی(18)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

قٓ ۚ وَالۡقُرۡاٰنِ الۡمَجِيۡدِ ۚ﴿۱﴾ بَلۡ عَجِبُوۡۤا

قٓ، قسم دی په قرآن مجيد باندې (چې ته يقينًا پېغمبر يې خو دوی ايمان نه راوړي)(1) بلکې

اَنۡ جَآءَهُمۡ مُّنۡذِرٌ مِّنۡهُمۡ فَقَالَ

دوی له دې نه تعجب کوي چې دوی ته له همدوی نه يو وېروونکی راغی،

الۡكٰفِرُوۡنَ هٰذَا شَىۡءٌ عَجِيۡبٌ ۚ﴿۲﴾ ءَاِذَا

نو کافرانو وويل: دا خو يو عجيب شی دی(2) ايا کله

مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجۡعٌۢ

چې مونږ مړه شو او مونږ خاورې شو۔ (بيا به هم ژوندي کېږو؟)

بَعِيۡدٌ ۝۳ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنۡقُصُ الۡاَرۡضُ

دغه بېرته راتلل (له عقل نه) ډېر لرې دي(3)
يقينًا مونږ په هغه څه خبر یو چې ځمکه

مِنۡهُمۡ ۚ وَعِنۡدَنَا كِتٰبٌ حَفِيۡظٌ ۝۴ بَلۡ

یې د دوی (له وجود) نه کموي او زمونږ سره یو
ښه یاد ساتونکی کتاب دی(4) بلکې

كَذَّبُوۡا بِالۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَهُمۡ فِىۡۤ

دوی د حق تکذیب کړی دی کله چې دوی ته
راغی، نو دوی په ګډو وډو خبرو (اضطراب

اَمۡرٍ مَّرِيۡجٍ ۝۵ اَفَلَمۡ يَنۡظُرُوۡۤا اِلَى

اچوونکي کار) کې دي(5) ایا نو دوی د خپل
ځان له پاسه

السَّمَآءِ فَوۡقَهُمۡ كَيۡفَ بَنَيۡنٰهَا وَ

اسمان ته نه دي کتلي چې څنګه مونږ هغه جوړ
کړی دی او

زَيَّنّٰهَا وَ مَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۞٦ وَ

(ځنګه) مونږ هغه ښايسته کړې دى، او په ده کې
هيڅ چاودونه نشته(6) او

الْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَ اَلْقَيْنَا فِيْهَا

ځمکې لره، مونږ هغه غوړولې ده او په دې کې مو

رَوَاسِيَ وَ اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ

پاخه غرونه غورځولي دي او مونږ په دې کې له
هر قسمه ښکلي زرغوني نه

بَهِيْجٍ ۞٧ تَبْصِرَةً وَّ ذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ

زرغون کړې دي(7) د هر رجوع کوونکي بنده د
لارښووني

مُّنِيْبٍ ۞٨ وَ نَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

او نصيحت لپاره(8) او مونږ له بره نه ډېرې برکتي
اوبه نازلې کړې دي،

مُّبٰرَكًا فَاَنۡۢبَتۡنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ

نو په دغو (اوبو) سره مونږ باغونه او د فصل داني

الۡحَصِيۡدِۙ ۝٩ وَالنَّخۡلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا

رازرغوني کړې(9) او د کجورو وني، چې اوږدې لوړې دي، په دې حال کې چې هغو لره لاندې

طَلۡعٌ نَّضِيۡدٌۙ ۝١٠ رِّزۡقًا لِّلۡعِبَادِۙ وَاَحۡيَيۡنَا

باندې وږي دي(10) د بنده ګانو د روزۍ لپاره او مونږ په دغو (اوبو)

بِهٖ بَلۡدَةً مَّيۡتًا ؕ كَذٰلِكَ

سره مړ ښار ژوندی کړی دی، همداسې (له قبرونو نه د مړيو)

الۡخُرُوۡجُ ۝١١ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوۡحٍ

راوتل دي(11) له دوی نه مخکې د نوح قوم او د کوهي والاو

وَّ اَصۡحٰبُ الرَّسِّ وَ ثَمُوۡدُ ﴿۱۲﴾ وَ عَادٌ وَّ

او ثموديانو تكذيب كړى دى(12) او عاديانو

فِرۡعَوۡنُ وَ اِخۡوَانُ لُوۡطٍ ﴿۱۳﴾ وَّ اَصۡحٰبُ

او فرعون او د لوط ورونړو(13) او د ځنګله والاو

الۡاَیۡکَۃِ وَ قَوۡمُ تُبَّعٍ ؕ کُلٌّ کَذَّبَ

او د تبع قومـ (د دوى) هر يو د رسولانو تكذيب کړى و،

الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِیۡدِ ﴿۱۴﴾ اَفَعَیِیۡنَا

نو زما عذاب (پرې) ثابت شو(14) ايا نو مونږ په

بِالۡخَلۡقِ الۡاَوَّلِ ؕ بَلۡ هُمۡ فِیۡ لَبۡسٍ

اول پيدا كولو باندې ستړي شوي يو، بلكې دوى له نوي پيدا كولو نه

ع
15

مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا

په شك كې دي(15) او يقينًا يقينًا مونږه دا انسان

الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ

پيدا كړى دى، په داسې حال كې چې مونږ په هغه څه پوهېږو

نَفْسُهٗ ۚ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ

چې د ده نفس په هغه سره وسوسه (او خطره) كوي او مونږ ده ته (د ده) د ورمېږ له رګ

الْوَرِيْدِ ﴿١٦﴾ اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ

نه زيات نژدې يو(16) (ياد كړه) هغه وخت چې دوه اخيستونكي اخلي، چې يو له

الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿١٧﴾ مَا

ښي اړخ نه او (بل) له چپ اړخ نه ناست وي( 17) (دغه بنده)

يَلۡفِظُ مِنۡ قَوۡلٍ اِلَّا لَدَيۡهِ رَقِيۡبٌ

هېڅ خبره نه کوي مگر له ده سره حاضر

عَتِيۡدٌ ﴿١٨﴾ وَجَآءَتۡ سَكۡرَةُ الۡمَوۡتِ

ساتونکی دی(18) او د مرگ بې خودۍ (سختۍ)

بِالۡحَقِّ ؕ ذٰلِكَ مَا كُنۡتَ مِنۡهُ

حق راوړ، دغه (مرگ) هغه دی چې تا به له ده

تَحِيۡدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِى الصُّوۡرِ ؕ ذٰلِكَ يَوۡمُ

نه ځنگ کاوه(19) او په شپېلۍ کې به پوکی
وکړی شي۔ دغه د وعيد (وېرولو)

الۡوَعِيۡدِ ﴿٢٠﴾ وَجَآءَتۡ كُلُّ نَفۡسٍ مَّعَهَا

ورځ ده(20) او هر نفس به راځي، په داسې حال
کې چې

سَآئِقٌ وَّ شَهِيْدٌ ﴿٢١﴾ لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ

له ده سره به يو شړونكى او يوګواه وي(21) يقينًا يقينًا ته له دې (ورځې) نه په غفلت كې وې،

مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ

نو مونږ له تا نه ستا پرده لرې كړه، نو ستا نظر

فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾ وَ قَالَ

نن ورځ ډېر تېز دى(22) او د ده ملګرى (مَلَك) به ووايي:

قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾ اَلْقِيَا

دا دى هغه شى چې زما سره حاضر دى(23) (دواړو ملايكو ته به وويل شي:) هر ډېر عناد

فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ

كوونكى كافر په دوزخ كې وغورځوئ(24) چې د خير منع كوونكى،

لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٍ مُّرِيۡبِ ۙ﴿۲۵﴾ اِلَّذِىۡ جَعَلَ

زياتي كوونكى، (او) شك كوونكى دى(25) هغه چې له

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلۡقِيٰهُ فِى الۡعَذَابِ

الله سره يې بل معبود مقرر كړى دى، نو تاسو دا په ډېر سخت عذاب كې

الشَّدِيۡدِ ﴿۲۶﴾ قَالَ قَرِيۡنُهٗ رَبَّنَا مَاۤ

وغورځوئ(26) د ده ملگرى (شيطان) به وايي: اى زمونږه ربه!

اَطۡغَيۡتُهٗ وَلٰـكِنۡ كَانَ فِىۡ ضَلٰلٍۢ

دا ما نه دى گمراه كړى او ليكن دا پخپله په ډېرې لرې

بَعِيۡدٍ ﴿۲۷﴾ قَالَ لَا تَخۡتَصِمُوۡا لَدَىَّ وَقَدۡ

گمراهۍ كې و(27) (الله به) وايي: تاسو زما په وړاندې جگړه سره مه كوئ او يقينًا

قَدَّمۡتُ اِلَيۡكُمۡ بِالۡوَعِيۡدِ ۝٢٨ مَا يُبَدَّلُ

ما تاسو ته وعید (وېرول) مخکې درلېږلی و(28)
زما په نیز (په دې باره کې)

الۡقَوۡلُ لَدَیَّ وَمَاۤ اَنَا بِظَلَّامٍ

خبره نشي بدلېدی او زه په بنده ګانو هېڅرې ظلم

ع
16

لِّلۡعَبِيۡدِ ۝٢٩ يَوۡمَ نَقُوۡلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ

کوونکی نه یم(29) (یاده کړه) هغه ورځ چې مونږ
به جهنم ته ووایو: ایا ته ډك شوې؟

امۡتَلَاۡتِ وَتَقُوۡلُ هَلۡ مِنۡ مَّزِيۡدٍ ۝٣٠ وَ

او هغه به وايي: ایا نور هم زیاتي شته؟(30) او

اُزۡلِفَتِ الۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِيۡنَ غَيۡرَ

پرهېزګارو ته به جنت ښه رانژدې کړی شي،

بَعِيْدٍ ۝٣١ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ

چې لرې به نه وي(31) دا هغه دي چې له تاسو
سره به يې وعده کولی شوه، د هر ډېر رجوع

حَفِيْظٍ ۝٣٢ مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ

کوونکي، د (حدودو) ساتونکي لپاره(32) د هغه
چا لپاره چې له رحمان نه په ناليدلو وېرېږي

بِالْغَيْبِ وَ جَآءَ بِقَلْبٍ

او په رجوع کوونکي زړه

مُّنِيْبِ ۝٣٣ اِدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ ؕ ذٰلِكَ يَوْمُ

سره راشي(33) (دوی ته به وويل شي:) تاسو دغه
(جنت) ته په سلامتۍ سره ننوځئ، دا د

الْخُلُوْدِ ۝٣٤ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَ

همېشه والي ورځ ده(34) د دوی لپاره په دغه
(جنت) کې هغه څه دي چې دوی يې غواړي او

لَدَيْنَا مَزِيْدٌ ۝٣٥ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ

زمونږ سره نور زيات هم شته(35) او له دوی نه مخکې مونږ څومره پيړۍ هلاکې کړې دي،

مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا

چې هغوی له دوی نه په قوت (او نيوکه) کې ډېر سخت (او قوي) وو،

فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ ؕ هَلْ مِنْ

نو هغوی په ښارونو کې وګرځېدل چې ايا د تېښتې (او پناه)

مَّحِيْصٍ ۝٣٦ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ

ځای شته؟(36) بېشکه په دغو (کارونو) کې خامخا پند دی،

كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ

هغه چا ته چې هغه لره زړه وي، يا (نصيحت ته) غوږ کېږدي، په داسې حال کې

شَهِيۡدٌ ﴿۳۷﴾ وَ لَقَدۡ خَلَقۡنَا السَّمٰوٰتِ وَ

چې حاضر (او متوجه) وي(37) او يقينًا يقينًا
مونږ اسمانونه او

الۡاَرۡضَ وَ مَا بَيۡنَهُمَا فِىۡ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّ

ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي، په
شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، او

مَا مَسَّنَا مِنۡ لُّغُوۡبٍ ﴿۳۸﴾ فَاصۡبِرۡ عَلٰى مَا

مونږ ته هېڅ ستوماني نه ده رارسېدلې(38) نو ته
په هغو خبرو صبر کوه چې

يَقُوۡلُوۡنَ وَ سَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ

دوی يې وايي او د خپل رب له ستاينې سره تسبيح
وايه له

طُلُوۡعِ الشَّمۡسِ وَ قَبۡلَ الۡغُرُوۡبِ ﴿۳۹﴾ۚ وَ

لمر ختلو نه مخکې او له لمر ډوبېدلو نه مخکې(39)
او

مِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَ اَدْبَارَ

د شپې په څه حصه کې، پس د هغه تسبيح وايه او (د لمانځه) له سجدو نه وروسته

السُّجُوْدِ ﴿۴۰﴾ وَ اسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ

هم تسبيح وايه(40) او ته په هغې ورځ غوږ کېږده چې اواز کوونکی به له

الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾ يَّوْمَ

نژدې ځای نه اواز وکړي(41) په هغې ورځ

يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ

چې دوی به په حقه سره سخته چغه اوري، دغه د (له قبرونو نه د)

يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾ اِنَّا نَحْنُ نُحْيٖ وَ

راوتلو ورځ ده(42) بېشکه هم دا مونږ ژوندي کول کوو او

نُمِيۡتُ وَاِلَيۡنَا الۡمَصِيۡرُ ﴿۴۳﴾ يَوۡمَ تَشَقَّقُ

مړه کول کوو او خاص مونږ ته بېرته راګرځېدل دي(43) په هغه ورځ چې له دوی څخه

الۡاَرۡضُ عَنۡهُمۡ سِرَاعًا ؕ ذٰلِكَ حَشۡرٌ

به ځمکه وچوي، په داسې حال کې چې دوی به تلوار کوونکي وي، دغه راژوندي کول

عَلَيۡنَا يَسِيۡرٌ ﴿۴۴﴾ نَحۡنُ اَعۡلَمُ بِمَا

مونږ ته ډېر اسان دي(44) مونږ ښه پوه یو په هغو خبرو چې

يَقُوۡلُوۡنَ وَمَاۤ اَنۡتَ عَلَيۡهِمۡ بِجَبَّارٍ ۚ قف

دوی يې وايي، او ته په دوی باندې هېڅ زور کوونکی نه يې،

ع 17

فَذَكِّرۡ بِالۡقُرۡاٰنِ مَنۡ يَّخَافُ وَعِيۡدِ ﴿۴۵﴾ ع

نو ته په قرآن سره هغه چا ته پند ورکړه چې زما له وعيد (او عذاب) نه وېرېږي(45)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَ الذّٰرِيٰتِ ذَرۡوًا ۙ﴿۱﴾ فَالۡحٰمِلٰتِ

قسم دی په الوځوونکو بادونو، الوځول(1) بيا د
(اوبو د) بار په اوچتوونکو

وِقۡرًا ۙ﴿۲﴾ فَالۡجٰرِيٰتِ

وربځو (قسم دی)(2) بيا په اسانۍ سره تلونکو

يُسۡرًا ۙ﴿۳﴾ فَالۡمُقَسِّمٰتِ اَمۡرًا ۙ﴿۴﴾ اِنَّمَا

کشتيو (قسم دی)(3) بيا د کار په تقسيموونکو
ملايکو (قسم دی)(4) چې بېشکه هغه څه چې له

تُوۡعَدُوۡنَ لَصَادِقٌ ۙ﴿۵﴾ وَّ اِنَّ الدِّيۡنَ

تاسو سره يې وعده کولی شي يقيناً رښتيني
(وعده) ده(5) او بېشکه (د عمل) بدله خامخا

لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ

واقع کېدونکې ده(6) قسم دی په اسمان چې د لارو

الْحُبُكِ ﴿٧﴾ اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ

والا دی(7) چې بېشکه تاسو یقینًا په گډه وډه

مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ

(مختلفه) خبره کې یئ(8) گرځولی شي له دغه (قرآن، نبي) نه هغه څوك چې (د الله په علم کې

اُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ

مخکې) گرځول شوی دی(9) اټکل کوونکي دې هلاك کړی شي(10) هغه کسان

هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ﴿١١﴾ يَسْـَٔلُوْنَ

چې دوی په ډېر غفلت کې دي، هېروونکي دي( 11) دوی پوښتنه کوي

اَيَّانَ يَوۡمُ الدِّيۡنِ ﴿۱۲﴾ يَوۡمَ هُمۡ عَلَى

چې د بدلې ورځ به کله وي؟(12) په هغې ورځ
کې چې دوی به په اور سره په

النَّارِ يُفۡتَنُوۡنَ ﴿۱۳﴾ ذُوۡقُوۡا فِتۡنَتَكُمۡ

عذاب کولی شي(13) (وبه ویل شي!) تاسو خپل

هٰذَا الَّذِىۡ كُنۡتُمۡ بِهٖ

عذاب وڅکئ، دا هغه (عذاب) دی چې تاسو

تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِىۡ جَنّٰتٍ

به دا جلت غوښته(14) بېشکه متقیان
(پرهېزګاران) به په جنتونو

وَّعُيُوۡنٍ ﴿۱۵﴾ اٰخِذِيۡنَ مَاۤ اٰتٰهُمۡ رَبُّهُمۡ

او چینو کې وي(15) په داسې حال کې چې هغه

اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ

څه لره به نیوونکي وي چې دوی ته يې د دوی رب ورکوي، بېشکه دوی له دې نه

مُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶﴾ كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ

مخکې نېکي کوونکي وو(16) دوی به د شپې په

مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ

لږه برخه کې ويده کېدل(17) او په چرګ بانګونو کې

يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ

به دوی استغفار کاوه(18) او د دوی په مالونو کې به د سوالګري

لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۱۹﴾ وَفِي الْاَرْضِ

او د محروم (مسکين) حق و(19) او په ځمکه کې

اٰيٰتٌ لِّلۡمُوۡقِنِيۡنَ ۝٢٠ وَفِيۡۤ اَنۡفُسِكُمۡ ؕ

د يقين كوونكو لپاره ډېرې نښې دي(20) او
ستاسو په ځانونو كې هم،

اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ ۝٢١ وَفِى السَّمَآءِ

ايا نو تاسو نه وينئ(21) او په اسمان كې ستاسو
روزي ده

رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوۡعَدُوۡنَ ۝٢٢ فَوَرَبِّ

او هغه څه چې تاسو سره يې وعده كولى شي(22)
نو د اسمان او ځمكې

السَّمَآءِ وَالۡاَرۡضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثۡلَ مَاۤ

په رب مې قسم دى چې بېشكه دا (خبره) يقينًا
حق ده، چې د هغې په شان ده

ع 18

اَنَّكُمۡ تَنۡطِقُوۡنَ ۝٢٣ هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ

چې تاسو خبرې كوئ(23) ايا تا ته د ابراهيم د
عزتمنو

وقف لازم

ضَيۡفِ اِبۡرٰهِيۡمَ الۡمُكۡرَمِيۡنَ ﴿۲۴﴾ اِذۡ

مېلمنو خبر رارسېدلی دی(24) کله چې

دَخَلُوۡا عَلَيۡهِ فَقَالُوۡا سَلٰمًا ؕ قَالَ

دوی په ده ورننوتل، نو ويې ويل: (مونږ په تا سلام اچوو) سلام اچول، ده وويل: (په تاسو دې)

سَلٰمٌ ۚ قَوۡمٌ مُّنۡكَرُوۡنَ ﴿۲۵﴾ فَرَاغَ اِلٰٓى

سلام (وي او په زړه کې يې تېر شول چې دا) نا اشنا خلق دي(25) نو په تېزۍ سره

اَهۡلِهٖ فَجَآءَ بِعِجۡلٍ سَمِيۡنٍ ﴿۲۶﴾ فَقَرَّبَهٗۤ

خپلې ښځې ته لاړ، پس يو (وريت کړی) چاغ سخی يې راوړ(26) نو دغه يې دوی

اِلَيۡهِمۡ قَالَ اَلَا تَاۡكُلُوۡنَ ﴿۲۷﴾ فَاَوۡجَسَ

ته ورنږدې کړ، ويې ويل: تاسو ولې نه خورئ!( 27) نو له دوی

مِنۡهُمۡ خِيۡفَةً ؕ قَالُوۡا لَا تَخَفۡ ؕ وَ

نه يې په زړه كې وېره وموندله، دوى ووېل: ته مه وېرېږه او دوى ته يې د ډېر

بَشَّرُوۡهُ بِغُلٰمٍ عَلِيۡمٍ ﴿۲۸﴾ فَاَقۡبَلَتِ

پوه هلك زېرى وركړ(28) نو د ده ښځې په چغې

امۡرَاَتُهٗ فِىۡ صَرَّةٍ فَصَكَّتۡ وَجۡهَهَا وَ

كولو سره مخ ورواړوه، پس خپل مخ يې وواهه او

قَالَتۡ عَجُوۡزٌ عَقِيۡمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوۡا كَذٰلِكِ ۙ

ويې ويل: (زه) زړه شنډه بوډۍ (يم)(29) دوى ووېل: همداسې

قَالَ رَبُّكِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡحَكِيۡمُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۳۰﴾

ستا رب ويلي دي، بېشكه هم هغه ښه حكمت والا، ښه پوه دى(30)

# قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ اَيُّهَا

ده وویل: نو ستاسو څه کار (او مقصد) دی ای

الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوۡۤا اِنَّاۤ اُرۡسِلۡنَاۤ اِلٰی

رالیږل شویو (ملایکو)؟(31) دوی وویل: بېشکه مونږ د یو مجرم قوم

قَوۡمٍ مُّجۡرِمِیۡنَ ﴿۳۲﴾ لِنُرۡسِلَ عَلَیۡهِمۡ

په طرف رالیږل شوي یو(32) د دې لپاره چې مونږ په دوی باندې

حِجَارَۃً مِّنۡ طِیۡنٍ ﴿۳۳﴾ مُّسَوَّمَۃً عِنۡدَ

د خټو کاڼي راوورو(33) چې ستا د رب په نیز له حده وتونکو لپاره

رَبِّكَ لِلۡمُسۡرِفِیۡنَ ﴿۳۴﴾ فَاَخۡرَجۡنَا مَنۡ

نښان داره کړی شوي دي(34) نو مونږ هغه څوك راوویستل

كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا

چې په دغه (کلي) کې له مومنانو څنې وو(35) پس

وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ

مونږ په دغه (کلي) کې د مسلمانانو له يو کور

الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً

نه غير ونه مونده(36) او مونږ په دغه (کلي) کې د هغو

لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ

کسانو لپاره يوه لويه نښه پرېښوده چې د ډېر دردوونکي

الْأَلِيمَ ﴿٣٧﴾ وَفِي مُوسَىٰ إِذْ أَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ

عذاب نه وېرېږي(37) او په (قصه د) موسىٰ کې،

فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلّٰى

كله چې مونږ هغه فرعون ته په ښکاره دليل سره ولېږه(38) نو هغه (فرعون)

بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ

د خپل قوت (اولښکر) سره مخ واړوه او ويې ويل: (دا موسٰی) کوډګر (جادوګر) دی،

مَجْنُوْنٌ ﴿٣٩﴾ فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ

يا لېونی دی(39) نو مونږ هغه او د هغه لښکرې راونيولې، نو مونږه دوی ټول په درياب کې

فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿٤٠﴾ وَ

وغورځول، په داسې حال کې چې هغه د ملامتی کار کوونکی و(40) او

فِيْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ

په عاديانو کې، کله چې مونږ په دوی باندې (له خير نه)

الْعَقِيْمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ اَتَتْ

شنډ باد راخوشې کړ(41) ده به هېڅ داسې شی
نه پرېښوده چې دا به پرې راغلی و

عَلَيْهِ اِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ﴿٤٢﴾ وَ فِيْ

مګر خو هغه به يې وچ زوړ رژېدلي وانښه (يا
هډوکي) وګرځاوه(42) او په

ثَمُوْدَ اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰى

ثموديانو کې، کله چې دوی ته وويل شو چې تاسو
تر يو وخته پورې

حِيْنٍ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ

نفع واخلئ(43) نو دوی د خپل رب له حکم نه
سرکشي وکړه،

فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ وَ هُمْ

نو دوی (د) تندر (عذاب) ونيول، په دې حال کې

يَنْظُرُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ

چې دوی کتل(44) بیا نه دوی د ودریدلو طاقت لاره

وَّ مَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ

او نه دوی بدل اخیستونکي وو(45) او له دوی نه مخکې د نوح قوم

مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا

لره (مونږ هلاك كړی و) بېشكه هغوی یو

ع 1

فٰسِقِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْدٍ وَّ

فاسق قوم و(46) او اسمان مونږ هغه په قوت سره جوړ كړی دی او بېشكه مونږ خامخا پراخوونكي/

اِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا

پراخه قدرت لرونكي يو(47) او ځمكه، مونږ هغه غوړولې ده،

فَنِعۡمَ الۡمٰهِدُوۡنَ ﴿۴۸﴾ وَمِنۡ كُلِّ شَیۡءٍ

نو (مونږ) ښه غوړوونکي يو(48) او له هر څيز

خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ

څخه مونږ دوه قسمه جوړې (نر او ښځه) پيدا کړي دي، د دې لپاره

تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۴۹﴾ فَفِرُّوۡۤا اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنِّیۡ لَكُمۡ

چې تاسو پند واخلئ(49) نو تاسو الله ته وتښتئ، بېشکه زه تاسو لپاره د هغه له

مِّنۡهُ نَذِيۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۵۰﴾ۚ وَلَا تَجۡعَلُوۡا مَعَ

جانبه ښکاره وېروونکی يم(50) او تاسو له الله سره بل

اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ؕ اِنِّیۡ لَكُمۡ مِّنۡهُ نَذِيۡرٌ

معبود مه شريکوئ، بېشکه زه تاسو لپاره د هغه له جانبه ښکاره

مُّبِينٌ ﴿٥١﴾ كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ

وېرووونکی یم(51) همداسې، هغو کسانو ته چې له

قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ

دوی نه مخکې وو، هېڅ یو رسول نه و راغلی مګر دوی به ویل: (دا) جادوګر دی،

اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٥٢﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ

یا لېونی دی(52) ایا دوی په دې (خبرې) سره یو بل ته وصیت کړی دی، بلکې

قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ

دوی سرکشه قوم دی(53) نو ته له دوی نه مخ واړوه، پس ته هېڅ

اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿٥٤﴾ وَّ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى

ملامت کړی شوی نه يې(54) او ته نصیحت کوه، پس بېشکه نصیحت

تَنۡفَعُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۵۵﴾ وَمَا خَلَقۡتُ

کول مومنانو ته نفع رسوي(55) او ما
پیریان

الۡجِنَّ وَالۡاِنۡسَ اِلَّا لِيَعۡبُدُوۡنِ ﴿۵۶﴾ مَاۤ

او انسانان نه دي پيدا کړي مگر د دې لپاره چې
دوی زما عبادت وکړي(56) زه له

اُرِيۡدُ مِنۡهُمۡ مِّنۡ رِّزۡقٍ وَّمَاۤ اُرِيۡدُ اَنۡ

دوی نه هېڅ رزق نه غواړم او نه دا غواړم چې
دوی ما ته

يُّطۡعِمُوۡنِ ﴿۵۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو

خوراك راکړي(57) بېشکه هم دغه الله ښه روزي
ورکوونکی،

الۡقُوَّةِ الۡمَتِيۡنُ ﴿۵۸﴾ فَاِنَّ لِلَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا

قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی(58) د هغو
کسانو لپاره چې ظلم يې کړی دی،

ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ اَصْحٰبِهِمْ فَلَا

يقينًا د دوی د ملګرو (د عذاب) د حصې په شان حصه ده، نو دوی دې

يَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٥٩﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په ما تلوار نه کوي(59) پس د کافران شويو خلقو لپاره هلاکت دی،

ع 2

مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِیْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٦٠﴾

د دوی له هغې ورځې نه چې دوی سره يې وعده کولی شي(60)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَالطُّوْرِ ﴿۱﴾ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ﴿۲﴾ فِيْ رَقٍّ

قسم دی په طور غر(1) او په کتاب ليکل شوي( 2) په پرانستل

مَّنْشُوْرٍ ﴿۳﴾ وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ﴿۴﴾ وَ

شوې پاڼه کې(3) او (قسم دی) په ودان کړی شوي کور(4) او

السَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ﴿۵﴾ وَالْبَحْرِ

په پورته کړی شوي چت (چې اسمان دی)(5) او په ډک (يا بل)

الْمَسْجُوْرِ ﴿۶﴾ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ

کړی شوي سمندر(6) بېشکه ستا د رب عذاب خامخا

لَوَاقِعٌ ۝٧ مَّا لَهُ مِنْ دَافِعٍ ۝٨ يَّوْمَ تَمُوْرُ

نازلېدونکی دی(7) هغه لره هېڅ دفع کوونکی نشته(8) هغه ورځ چې

السَّمَآءُ مَوْرًا ۝٩ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ

اسمان به خوځېږي، سخت خوځېدل(9) او غرونه به روان شي،

سَيْرًا ۝١٠ فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

سخت روانېدل(10) پس په دغې ورځ کې د تکذيب

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝١١ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ

کوونکو لپاره هلاکت دی(11) هغه کسان چې دوی په بېکاره خبرو (جوړولو)

يَّلْعَبُوْنَ ۝١٢ يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ

کې لوبې کوي(12) هغه ورځ چې دوی به د دوزخ اور ته ټېل وهلی شي،

وقف لازم

جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿١٣﴾ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيْ كُنْتُمْ

سخت ټېل وهل(13) دا هغه اور دی چې

بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٤﴾ اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ

تاسو به دا دروغ گاڼه(14) ايا نو دا سحر (جادو) دی،

اَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿١٥﴾ اِصْلَوْهَا

يا يې تاسو نه وينئ(15) ورځئ، ده ته ننوځئ،

فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا سَوَآءٌ

پس تاسو صبر وکړئ، يا صبر مه کوئ، پر تاسو باندې دغه (دواړه کارونه)

عَلَيْكُمْ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ

برابر دي، بېشکه همدا خبره ده چې تاسو ته د هغو عملونو بدله درکولی شي

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۶﴾ اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِىۡ جَنّٰتٍ وَّ

چې تاسو به کول(16) بېشکه پرهېزګاران به په جنتونو او

نَعِيۡمٍ ﴿۱۷﴾ فٰكِهِيۡنَ بِمَاۤ اٰتٰهُمۡ رَبُّهُمۡ ۚ وَ

نعمتونو کې وي(17) چې په هغو (نعمتونو) به خوشالېدونکي وي

وَقٰهُمۡ رَبُّهُمۡ عَذَابَ

چې دوی ته خپل رب ورکړي دي او خپل رب دوی د دوزخ له

الۡجَحِيۡمِ ﴿۱۸﴾ كُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا هَنِيۡٓـئًا ۢ بِمَا

عذاب نه بچ ساتلي دي(18) (ورته ويلی به شي:) تاسو خورئ او څښئ په خوند سره، د هغو عملونو

كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۹﴾ مُتَّكِـئِيۡنَ عَلٰى سُرُرٍ

په بدل کې چې تاسو به کول(19) په دې حال کې چې په قطار

مَّصْفُوْفَةٍ ۚ وَ زَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ

اینبودل شویو تختونو باندې به تکیه کوونکي وي

او مونږ به د دوی نکاح د ښایسته غټې سترګو

عِیْنٍ ﴿۲۰﴾ وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ اتَّبَعَتْهُمْ

سپینو سرو حورو سره وکړو(20) او هغه کسان

چې ایمان یې راوړی دی

ذُرِّیَّتُهُمْ بِاِیْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ

او د دوی اولاد (هم) په ایمان کې د دوی متابعت

کړی وي، (نو) مونږ به په

ذُرِّیَّتَهُمْ وَ مَاۤ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ

دوی پورې د دوی اولاد هم پیوست کړو او مونږ

به دوی ته د دوی له عملونو

مِّنْ شَیْءٍ ؕ كُلُّ امْرِئٍۭ بِمَا كَسَبَ

نه هېڅ شی کم نه کړو، هر سړی به د خپلو کړو په

رَهِيْنٌ ﴿٢١﴾ وَ اَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّ

بدل گرو (گاڼه) وي(21) او مونږ به دوی ته ور زياتې کړو، نورې مېوې او

لَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَازَعُوْنَ

هغه غوښې چې د دوی زړه يې غواړي(22) دوی به په دغه (جنت) کې يو

فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَ لَا تَاْثِيْمٌ ﴿٢٣﴾ وَ

له بله (د شرابو) پيالې راکاږي، نه به په دغو کې عبثې خبرې وي او نه گناهگار کول(23) او

يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ

د دوی چاپېره به د دوی غلامان گرځي، گويا کې دغه (غلامان)

لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿٢٤﴾ وَ اَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى

پټې ساتل شوې ملغلرې دي(24) او د دوی ځينې به ځينو نورو ته مخ

بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا

راواړوي، چې يو له بله به پوښتنې کوي(25) دوی به ووايي چې بېشکه مونږ له دې

قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللّٰهُ

نه مخکې په خپل اهل کې وېرېدونکي وو(26) نو الله پر

عَلَيْنَا وَ وَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ اِنَّا

مونږ احسان وکړ او مونږ يې د تودوخي (گرمباد) له عذاب نه وساتلو(27) بېشکه

كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ

مونږ له دې نه مخکې هم دغه (الله) باله، بېشکه هم دی ډېر احسان کوونکی،

ع 3

الرَّحِيْمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ بِنِعْمَتِ

بې حده رحم کوونکی دی(28) نو ته (خلقو ته) نصيحت کوه،

رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجۡنُوۡنٍ ؕ﴿۲۹﴾ اَمۡ

پس ته د خپل رب په نعمت سره نه کاهن یې او نه لېونی(29) ایا

یَقُوۡلُوۡنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَیۡبَ

دوی وایي چې (دی) شاعر دی، مونږ د ده په حق کې د زمانې د حوادثو

الۡمَنُوۡنِ ﴿۳۰﴾ قُلۡ تَرَبَّصُوۡا فَاِنِّیۡ مَعَکُمۡ

انتظار کوو(30) ته (دوی ته) ووایه: تاسو انتظار کوئ، پس بېشکه زه له تاسو سره

مِّنَ الۡمُتَرَبِّصِیۡنَ ﴿۳۱﴾ؕ اَمۡ تَاۡمُرُهُمۡ

له انتظار کوونکو څخه یم(31) ایا دوی ته د دوی عقلونه په دې

اَحۡلَامُهُمۡ بِهٰذَاۤ اَمۡ هُمۡ قَوۡمٌ

(کار) حکم کوي، یا دوی سرکشه (شرخوښونکی)

طَاغُوْنَ ۝٣٢ۚ اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ۚ بَلْ لَّا

قوم دی(32) ایا دوی وایي چې دا (قرآن) ده له
ځانه جوړ کړی دی (داسې نه ده)

يُؤْمِنُوْنَ ۝٣٣ۚ فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖٓ

بلکې دوی ایمان نه راوړي(33) نو دوی دې د ده
په شان خبره راوړي

اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ۝٣٤ؕ اَمْ خُلِقُوْا مِنْ

که دوی رښتیني وي(34) ایا دوی بې له څه شي
پیدا کړی شوي دي،

غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ۝٣٥ؕ اَمْ

یا هم دوی، پخپله پیدا کوونکي دي؟(35) ایا

خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ بَلْ لَّا

دوی اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي؟ بلکې دوی

يُوْقِنُوْنَ ﴿٣٦﴾ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ

يقين نه كوي(36) ايا له دوى سره ستا د رب
خزانې دي،

اَمْ هُمُ الْمُصَّيْطِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ اَمْ لَهُمْ

يا هم دوى واكدران دي(37) ايا د دوى لپاره

سُلَّمٌ يَّسْتَمِعُوْنَ فِيْهِ ۚ فَلْيَاْتِ

اندرپايه (پوړۍ) ده چې دوى په هغې باندې
(خېژي او) اورېدل كوي،

مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ اَمْ لَهُ

نو د دوى اورېدونكي دې ښكاره دليل راوړي(
38) ايا د هغه (الله)

الْبَنٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ﴿٣٩﴾ اَمْ

لپاره لوڼه دي او تاسو لپاره زامن دي؟(39) ايا

تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ

ته له دوی نه څه مزدوري غواړې، پس دوی له
تاوانه

مُّثْقَلُوْنَ ﴿٤٠﴾ اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ

درانه کړی شوي دي(40) ايا له دوی سره غیب
دی (وحي راغلې ده)

يَكْتُبُوْنَ ﴿٤١﴾ اَمْ يُرِيْدُوْنَ كَيْدًا ؕ

نو دوی يې ليکي(41) ايا دوی د مکر کولو اراده
لري،

فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا هُمُ

نو هغه کسان چې کافران شوي دي هم دوی

الْمَكِيْدُوْنَ ﴿٤٢﴾ اَمْ لَهُمْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ ؕ

مکر کړی شوي دي(42) ايا د دوی لپاره له الله
نه غير

سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشۡرِكُوۡنَ ﴿۴۳﴾ وَ اِنۡ

بل معبود شته؟ الله لره پاکي ده له هغه شي نه چې
دوی يې ورسره شريکوي(43) او که

یَّرَوۡا كِسۡفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا

دوی يوه ټوټه له اسمانه رالوېدونکې ووينې (، نو)
وبه

یَّقُوۡلُوۡا سَحَابٌ مَّرۡكُوۡمٌ ﴿۴۴﴾ فَذَرۡهُمۡ

وايي (دا) قط په قط کړی شوې وريځ ده(44) نو
ته دوی پرېږده،

حَتّٰی یُلٰقُوۡا یَوۡمَهُمُ الَّذِیۡ فِیۡهِ

تر هغه پورې چې دوی له خپلې هغې ورځې سره
ملاقات وکړي چې دوی به په هغې

یُصۡعَقُوۡنَ ﴿۴۵﴾ یَوۡمَ لَا یُغۡنِیۡ عَنۡهُمۡ

کې بې خوده کولی شي(45) هغه ورځ چې له
دوی نه به

كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔا وَّلَا هُمۡ يُنۡصَرُوۡنَ ؕ﴿۴۶﴾ وَ

د دوی مکر هېڅ شی (عذاب) لرې نه کړی شي
او نه به د دوی مدد کولی شی(46) او

اِنَّ لِلَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا عَذَابًا دُوۡنَ ذٰلِكَ وَ

بېشکه د هغو کسانو لپاره چې ظلم (شرك) يې
کړی دی له دغه (عذاب) نه مخکې عذاب دی او

لٰكِنَّ اَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۴۷﴾ وَاصۡبِرۡ

لېکن د دوی زياتره خلق نه پوهېږي(47) نو ته د
خپل

لِحُكۡمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعۡيُنِنَا وَسَبِّحۡ

رب حکم ته صبر کوه، پس بېشکه ته زمونږ د
سترګو په وړاندې يې او

بِحَمۡدِ رَبِّكَ حِيۡنَ تَقُوۡمُ ۙ﴿۴۸﴾ وَمِنَ

ته د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه کله چې
ته پاڅېږې(48) او دشپې په ځينې حصه کې، نو

ع
4

الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿۴۹﴾

ته د هغه پاکي بیانوه او له ستوریو نه وروسته (د
شپې په اخري حصې کې) هم(49)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ۙ﴿۱﴾ مَا ضَلَّ

قسم دی په ستوريو کله چې پرېوځي(1) ستاسو ملگری نه گمراه شوی دی او نه (په عقيده کې)

صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ۚ﴿۲﴾ وَمَا يَنْطِقُ

بې لارې شوی دی(2) او دی له خپل خواهش نه

عَنِ الْهَوٰى ؕ﴿۳﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ

خبرې نه کوي(3) نه دی دا (قرآن) مگر وحي چې (ده ته)

يُّوْحٰى ۙ﴿۴﴾ عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى ۙ﴿۵﴾ ذُوْ

وحي کول شي(4) ده ته (دا) د ډېرو سختو قوتونو والا (جبريل) ښودلی دی(5) چې د

مِرَّةٍ ؕ فَاسۡتَوٰى ۙ﴿۶﴾ وَ هُوَ بِالۡاُفُقِ

طاقت والا دی، بیا هغه پورته لاړ(6) او هغه په تر
ټولو لوړې

الۡاَعۡلٰى ؕ﴿۷﴾ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ۙ﴿۸﴾ فَكَانَ قَابَ

غاړې کې و(7) بیا هغه (جبریل محمدﷺ ته)
نژدې شو، پس ښه نژدې شو(8) نو د دوه لیندو په

قَوۡسَيۡنِ اَوۡ اَدۡنٰى ۚ﴿۹﴾ فَاَوۡحٰۤى اِلٰى عَبۡدِهٖ

مسافت شو بلکې (له دې نه هم) ډېر نژدې(9) نو
هغه (الله د جبریل په ژبه) خپل بنده

مَاۤ اَوۡحٰى ؕ﴿۱۰﴾ مَا كَذَبَ الۡفُؤَادُ مَا

ته وحي وکړه، هغه چې وحي یې وکړه(10) د ده
(نبي) زړه غلط شوی نه دی په هغه څه کې چې

رَاٰى ﴿۱۱﴾ اَفَتُمٰرُوۡنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ﴿۱۲﴾ وَ

ده ولیدل(11) ایا تاسو له ده سره په هغه څه کې
جګړه کوئ چې دی یېویني(12) او

لَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴿۱۳﴾ عِنْدَ سِدْرَةِ

يقينًا يقينًا ده هغه (جبريل) په يو بل ځلې كوزېدو كې ليدلى دى(13) له سدرة

الْمُنْتَهٰى ﴿۱۴﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ﴿۱۵﴾ اِذْ

المنتهٰى سره(14) دغې سره جنة ةالماوىٰ دى(15) كله چې

يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ﴿۱۶﴾ مَا زَاغَ

دغه سدرة (د ببرې ونه) هغه څه پټوله چې دا يې پټوله(16) سترګې نه كږې شوې

الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَاٰى مِنْ

او نه يې له حد نه تېرى وكړ(17) يقينًا يقينًا ده د خپل رب

اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿۱۸﴾ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ

ډېرې لويې نښې وليدلې(18) نو تاسو ما ته خبر

وَالْعُزّٰى ﴿١٩﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ

راکړئ د لات او عُزّٰی(19) او منات دريم، د

الْاُخْرٰى ﴿٢٠﴾ اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ

بېخي وروستني(20) ايا تاسو لپاره هلکان دي او
د

الْاُنْثٰى ﴿٢١﴾ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ

هغه لپاره جينکۍ(21) دغه په دې وخت کې ډېر

ضِيْزٰى ﴿٢٢﴾ اِنْ هِيَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ

ظالمانه تقسيم دی(22) دغه (بتان) نه دي مگر
تش نومونه

سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ

چې تاسو او ستاسو پلرونو دغه ايښي دي،

اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا

الله په دغو هېڅ دليل نه دی نازل کړی۔ دوی
پيروي نه کوي مگر

الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ وَلَقَدْ

د تش گمان او د هغه شي چې نفسونه يې غواړي
او يقينًا يقينًا

جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿٢٣﴾ اَمْ

دوی ته د خپل رب له جانبه هدايت راغلی دی(
23) ايا د

لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿٢٤﴾ فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَ

انسان لپاره هغه څه دي چې دی يې تمنا کوي(
24) نو خاص د الله لپاره اخرت او

ع 5

الْاُوْلٰى ﴿٢٥﴾ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ

دنيا دي(25) او په اسمانونو کې څومره ډېر ملايک
دي

لَا تُغۡنِیۡ شَفَاعَتُهُمۡ شَیۡـًٔا اِلَّا مِنۡۢ

چې د دوی سفارش هېڅ شی نفع نه ورکوي مګر

بَعۡدِ اَنۡ یَّاۡذَنَ اللّٰهُ لِمَنۡ یَّشَآءُ وَ

وروسته له دې چې الله اجازت ورکړي هغه چا ته
چې يې وغواړي او (د هغه په شفاعت)

یَرۡضٰی ﴿۲۶﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ

راضي شي(26) بېشکه هغه کسان چې په اخرت
ایمان نه لري،

بِالۡاٰخِرَةِ لَیُسَمُّوۡنَ الۡمَلٰٓئِکَةَ تَسۡمِیَةَ

خامخا دوی د ښځو په نومونو سره ملايک

الۡاُنۡثٰی ﴿۲۷﴾ وَ مَا لَهُمۡ بِهٖ مِنۡ عِلۡمٍ ؕ اِنۡ

نوموي(27) حال دا چې دوی ته په دې هېڅ علم
نشته، دوی

يَتَّبِعُونَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا

يواځې د تش ګمان پيروي کوي او بېشکه ګمان له

يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ۚ ﴿٢٨﴾ فَاَعْرِضْ

حقه هېڅ شی نشي دفع کولی(28) نو ته د هغه چا

عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ

نه مخ واړوه چې زمونږ له ذکر نه يې مخ ګرځولی
دی او

اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۗ ﴿٢٩﴾ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ

يواځې دنيايي ژوندون غواړي(29) دا د دوی د

مِّنَ الْعِلْمِ ۗ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ

علم انتها ده۔ بېشکه ستا رب په هغه چا ښه عالم
دی

ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۙ وَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ

چې د هغه (الله) له لارې نه گمراه شوی دی او
هغه ښه عالم دی په هغه چا

الربع

اهْتَدٰى ۝۳۰ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا

چې هدايت يې موندلی دی(30) او خاص الله لره
دي هغه

فِي الْاَرْضِ ۙ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوْا

څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په
ځمکه کې دي.، د دې لپاره چې هغو کسانو ته

بِمَا عَمِلُوْا وَ يَجْزِيَ الَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا

چې بد يې کړې دي، د خپل عمل بدله ورکړي او
هغو کسانو ته (هم) ډېره ښه بدله ورکړي چې

بِالْحُسْنٰى ۝۳۱ ۚ اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ

نېکي يې کړې ده(31) هغه کسان چې له غټو
گناهونو

الۡاِثۡمِ وَ الۡفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ

او د بې حیایۍ له کارونو نه ځان ساتي، غیر له وړو وړو ګناهونه، بېشکه

رَبَّكَ وَاسِعُ الۡمَغۡفِرَةِ ؕ هُوَ اَعۡلَمُ بِكُمۡ

ستا رب د بخښنې وسیع کوونکی دی، هغه په تاسو ښه عالم دی،

اِذۡ اَنۡشَاَكُمۡ مِّنَ الۡاَرۡضِ وَاِذۡ اَنۡتُمۡ

کله چې يې تاسو له ځمکې نه راپیدا کړئ او کله چې تاسو

اَجِنَّةٌ فِىۡ بُطُوۡنِ اُمَّهٰتِكُمۡ‌ ۚ فَلَا تُزَكُّوۡۤا

د خپلو میندو په خېټو کې پټ بچي وئ۔، نو تاسو د

اَنۡفُسَكُمۡ‌ ؕ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنِ

خپلو ځانونو تزکیه (پاکوالی) مه کوئ۔، هغه (الله) ښه عالم دی په هغه

ع
6

اتَّقٰى ﴿۳۲﴾ اَفَرَءَيۡتَ الَّذِىۡ تَوَلّٰىۙ ﴿۳۳﴾ وَ

چا چې ډېر متقي دی(32) ايا نو تا هغه کس
ليدلی چې مخ يې واړوه (له ايمانه)(33) او

اَعۡطٰى قَلِيۡلًا وَّاَكۡدٰى ﴿۳۴﴾ اَعِنۡدَهٗ عِلۡمُ

ډېر لږ (مال) يې ورکړ او منع يې کړ (نور مال)(
34) ايا له هغه سره علم

الۡغَيۡبِ فَهُوَ يَرٰى ﴿۳۵﴾ اَمۡ لَمۡ يُنَبَّاۡ بِمَا فِىۡ

غيب دی، پس دی ليدل کوي(35) بلکې ايا دی
په هغه څه نه دی خبر کړی شوی چې

صُحُفِ مُوۡسٰىۙ ﴿۳۶﴾ وَاِبۡرٰهِيۡمَ الَّذِىۡ

د موسیٰ په صحيفو کې دي(36) او د ابراهيم هغه
چې

وَفّٰٓىۙ ﴿۳۷﴾ اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزۡرَ اُخۡرٰىۙ ﴿۳۸﴾ وَ

وفا يې کړې ده(37) چې هېڅ پورته کوونکی د بل
بار نه پورته کوی(38) او

اَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ﴿٣٩﴾ وَ

دا چې د انسان لپاره نشته مګر هغه څه چې ده (يې) کوشش کړى دى(39) او

اَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ يُرٰى ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ

دا چې بېشکه د ده کوشش به عنقريب وښوول شي(40) بيا به ده ته بدله

الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿٤١﴾ وَ اَنَّ اِلٰى رَبِّكَ

ورکړى شى، ډېره پوره بدله(41) او دا چې بېشکه ستا رب ته (د ټولو مخلوقاتو)

الْمُنْتَهٰى ﴿٤٢﴾ وَ اَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَ

ورګرځېدل دي(42) او دا چې بېشکه هم دغه (الله) (خلق) خندوي او

اَبْكٰى ﴿٤٣﴾ وَ اَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ وَ اَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَ

ژړوي(43) او دا چې هم دغه (الله) مرګ ورکوي او ژوند ورکوي(44) او

اَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَ

دا چې بېشكه دغه (الله) دوه جوړې نر او

الْاُنْثٰى ﴿٤٥﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿٤٦﴾ وَاَنَّ

ښځه پیدا كړې دي(45) له یوه څاڅكي (نطفې) نه، كله چې وڅڅول شي(46) او دا چې بېشكه د

عَلَيْهِ النَّشْاَةَ الْاُخْرٰى ﴿٤٧﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ

ده په ذمه دي (له دې مرگ نه پس) بل ځلې پیدا كول(47) او دا چې بېشكه

اَغْنٰى وَاَقْنٰى ﴿٤٨﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ

همدغه (الله) غني كول كوي او خزانې وركوي( 48) او دا چې همدغه (الله) د شِعرٰى

الشِّعْرٰى ﴿٤٩﴾ وَاَنَّهٗ اَهْلَكَ عَادَا

ستوري رب (او مالك) دی(49) او دا چې بېشكه همده ړومبني عاديان

اِلۡاُوۡلٰى ۙ﴿۵۰﴾ وَ ثَمُوۡدَاۡ فَمَاۤ اَبۡقٰى ۙ﴿۵۱﴾ وَ قَوۡمَ

هلاك كړې دي(50) او ثموديان هم، نو باقي يې
پرې نه ښودل(51) او له دوی نه مخکې يې

نُوۡحٍ مِّنۡ قَبۡلُ ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا هُمۡ

د نوح قوم هلاك كړ۔، بېشكه دوی، هم دوی، ډېر

اَظۡلَمَ وَ اَطۡغٰى ؕ﴿۵۲﴾ وَ الۡمُؤۡتَفِكَةَ

ظالمان او ډېر سركشان وو(52) او اړول شوي كلي
يې ښكته

اَهۡوٰى ۙ﴿۵۳﴾ فَغَشّٰٮهَا مَا غَشّٰى ۚ﴿۵۴﴾ فَبِاَىِّ

راوغورځول(53) نو دغه هغه شي پټ كړ چې دی
يې پټ كړ(54) نو (ای انسانه!) ته

اٰلَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿۵۵﴾ هٰذَا نَذِيۡرٌ مِّنَ

د خپل رب په كومو نعمتونو كې شك كوې(55) دا
(محمدﷺ) له ړومبنيو وېروونكو

اَلنُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿56﴾ اَزِفَتِ

څنې يو وېرووونکی دی(56) قيامت ډېر

الْاٰزِفَةُ ﴿57﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

نژدی راغی(57) دې (قيامت) لره له الله نه غير هيڅ

كَاشِفَةٌ ﴿58﴾ اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ

ښکاره کوونکی نشته(58) ايا نو تاسو له دې خبرې (قرآن)

تَعْجَبُوْنَ ﴿59﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا

نه تعجب کوئ(59) او خاندئ او نه

تَبْكُوْنَ ﴿60﴾ وَاَنْتُمْ

ژاړئ(60) او تاسو غافلان يئ

سْمِدُوْنَ ﴿٦١﴾ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَ

(لوبې کوونکي يئ)(61) نو تاسو الله ته سجده
وکړئ او (د ده)

اعْبُدُوْا ﴿٦٢﴾ السجدة

عبادت وکړئ(62)

ع 7

السجدة 13

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ① وَ

قيامت ډېر رانژدې شو او سپوږمۍ وچاودله(1) او

اِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ

كه چېرې دوى كوم دليل ووينې (نو) اعراض
كوي او وايي: دا خو راروان

مُّسْتَمِرٌّ ② وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا

(قوي) جادو دى(2) او تكذيب كوي او د خپلو
خواهشاتو پيروي

اَهْوَآءَهُمْ وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ③ وَ

كوي او هر كار قرار نيونكى دى(3) او

لَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ مَا فِيْهِ

يقينًا يقينًا دوى ته له خبرونو څنې هغه راغلي دي چې په هغو کې (د دوى لپاره)

مُزْدَجَرٌ ۝٤ حِكْمَةٌۢ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ

زجر او سرزنش و(4) (دغه) ډېر کامل حکمت دى، پس (دوى ته)

وقف لازم

النُّذُرُ ۝٥ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ يَوْمَ يَدْعُ

وېرونکي نفع نه رسوي(5) نو ته له دوى نه مخ وگرځوه۔ (او ياده کړه) هغه ورځ چې بلونکى به

الدَّاعِ اِلٰى شَيْءٍ نُّكُرٍ ۝٦ خُشَّعًا

يو ناخوښه، (نااشنا) شي ته بلنه وکړي(6) په دې حال کې چې

اَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ

د دوى سترگې به خړې خوارې وي، دوى به له قبرونو نه (داسې) راوځي

كَاَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِيْنَ

گویا کې دوی خواره واره ملخان دي(7) د بلونکي په طرف به

اِلَى الدَّاعِ ؕ يَقُوْلُ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا

تلوار کوونکي وي، کافران به وایي: دا ډېره

يَوْمٌ عَسِرٌ ۝٨ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ

سخته ورځ ده(8) له دوی نه مخکې د نوح قوم تکذیب کړی دی،

نُوْحٍ فَكَذَّبُوْا عَبْدَنَا وَقَالُوْا مَجْنُوْنٌ

نو دوی زمونږ د بنده (نوح) تکذیب وکړ او ویې ویل: (دا نوح) لېونی دی او (له تبلیغه)

وَّازْدُجِرَ ۝٩ فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَغْلُوْبٌ

منع کړی شو (او سخت وځورول شو)(9) نو ده له خپل رب نه دعا وغوښته، داسې چې بېشکه زه

فَانْتَصِرْ ﴿١٠﴾ فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ

مغلوب (او عاجز) یم، نو ته (زما) انتقام (او بدله) واخله(10) نو مونږ د اسمان دروازې په ډېرو

بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ وَّ فَجَّرْنَا الْاَرْضَ

راتویدونکو اوبو سره پرانستلې(11) او له ځمکې نه مو چینې روانې کړې،

عُيُوْنًا فَالْتَقَى الْمَآءُ عَلٰٓى اَمْرٍ قَدْ

نو اوبه په هغه کار باندې سره یوځای (او ګډې) شوې چې

قُدِرَ ﴿١٢﴾ وَ حَمَلْنٰهُ عَلٰى ذَاتِ اَلْوَاحٍ وَّ

مقرر شوی و(12) او مونږ هغه (په داسې بېړۍ) سور کړ چې د پلنو تختو او

دُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا جَزَآءً لِّمَنْ

پېړو میخونو والا وه(13) چې زمونږ د سترګو په وړاندې ګرځېدله۔ (دا طوفان راغلی و) د هغه چا

كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ

د بدلې (او امداد) لپاره چې بې قدري (او ناشكري) يې كړې شوې وه(14) او يقينًا يقينًا

مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٥﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَ

مونږ دغه (بېړۍ) يو دليل پرېښوده، نو ايا څوك پند اخيستونكى شته؟(15) نو زما عذاب او زما

نُذُرِ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ

وېرول څنګه وو؟(16) او يقينًا يقينًا مونږ دا قرآن (د يادولو او پند اخيستلو لپاره) اسان كړى دى، نو

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾ كَذَّبَتْ عَادٌ

ايا څوك پند اخيستونكى شته؟(17) عاديانو تكذيب وكړ،

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ اِنَّآ

نو زما عذاب او زما وېرول څنګه وو(18) بېشكه

اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْ

مونږ په دوی باندې ډېر سخت باد راخوشې کړ د ډېر

يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿۱۹﴾ تَنْزِعُ النَّاسَ

سخت سپېره والي په ورځ کې(19) دغه (باد) به خلق (له ژورو پټو کندو نه) داسې را ایستل ګویا

كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ ﴿۲۰﴾ فَكَيْفَ

کې دوی له بېخه راوتلو د کجورو د ونو تنې دي( 20) نو زما

كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۲۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا

عذاب او زما وېرول څنګه وو؟(21) او یقینًا یقینًا مونږ

الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ

قرآن د پند اخیستلو لپاره اسان کړی دی،

ع
8

مُّدَّكِرٍ ۝٢٢ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ

نو ایا څوك پند اخیستونکی شته؟(22) ثمودیانو د ویروونکو (نبیانو)

بِالنُّذُرِ ۝٢٣ فَقَالُوْٓا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا

تکذیب وکړ(23) پس دوی وویل: ایا د یو داسې بشر چې زمونږ څخه دی (او) یو دی،

نَّتَّبِعُهٗٓ ۙ اِنَّآ اِذًا لَّفِيْ ضَلٰلٍ وَّ

مونږ به د ده پیروي کوو؟ بېشکه مونږ به په دغه وخت کې خامخا په گمراهۍ او

سُعُرٍ ۝٢٤ ءَاُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْۢ

لیونتوب کې یو(24) ایا زمونږ له مینځه په ده

بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ

باندې وحې راوغورځولی شوه؟ (داسې نه ده) بلکې دی ډېر دروغجن دی،

أَشِرٌ ﴿٢٥﴾ سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ

ډېر خود پسند (متكبر) دى(25) ژر به دوى سبا

ته پوه شي چې ډېر دروغجن، ډېر تكبر

الْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً

كوونكى څوك دى(26) بېشكه مونږ د دوى د

ازمېښت لپاره اوښې لره لېږونكي يو،

لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ

نو ته دوى ته منتظر اوسه او ښه صبر كوه(27) او

دوى ته خبر وركړه

أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ ۚ كُلُّ شِرْبٍ

چې بېشكه اوبه د دوى په مينځ كې تقسيم دي۔

هر وار د اوبو ته به

مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ

حاضري كول شي(28) او دوى خپل ملګري ته

اواز وكړ،

فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَ

نو هغه توره راواخيسته، پس د هغې لېنګې يې پرې
کړل (بيا يې مړه کړه)(29) نو زما عذاب او زما

نُذُرِ ﴿۳۰﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً

وېرول څنګه وو؟(30) بېشکه مونږ پر هغوی
باندې

وَّاحِدَةً فَكَانُوْا كَهَشِيْمِ

يوه چغه راخوشې کړه، نو د شپول جوړوونکي د
مات (او چوره) کړی شويو

الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ

وښو په شان شول(31) او يقينًا يقينًا مونږ قرآن د
پند اخيستلو لپاره اسان کړی دی،

لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾ كَذَّبَتْ

نو ايا څوك پند اخيستونکی شته؟(32) د لوط قوم
د

قَوۡمُ لُوۡطٍۭ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ اِنَّاۤ اَرۡسَلۡنَا

وېروونکو تکذيب وکړ(33) بېشکه مونږ پر هغوی

باندې

عَلَيۡهِمۡ حَاصِبًا اِلَّاۤ اٰلَ لُوۡطٍ ؕ

کاڼي ويشتونکی باد راخوشې کړ ـــ د لوط له

کورنۍ نه غير، مونږ دوی ته

نَّجَّيۡنٰهُمۡ بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعۡمَةً مِّنۡ

په پېشلمي کې نجات ورکړ(34) زمونږ له جانبه د

مهربانۍ په وجهـ،

عِنۡدِنَا ؕ كَذٰلِكَ نَجۡزِىۡ مَنۡ شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَ

همداسې مونږ هغه چا ته بدله ورکوو چې شکر

وباسي(35) او

لَقَدۡ اَنۡذَرَهُمۡ بَطۡشَتَنَا فَتَمَارَوۡا

يقينًا يقينًا هغه (لوط) دوی زمونږ له نيولو نه

وېرولي وو،

بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ

پس دوی (د هغه) په وېرولو کې شك وکړ(36) او
یقینًا یقینًا دوی له ده نه د ده د مېلمنو غوښتنه

فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ وَ

وکړه، نو مونږ د دوی سترګې (محوه) ړندې کړې،
پس (دوی ته وویل شو چې) تاسو زما عذاب او

نُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ

زما وېرول وڅکئ(37) او یقینًا یقینًا په دوی
باندې سهار وختي ثابت (او قرار نیونکی)

مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَ

عذاب راغی(38) نو تاسو زما عذاب او زما وېرول
وڅکئ(39) او

لَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ

یقینًا یقینًا مونږ قرآن د پند اخیستلو لپاره اسان
کړی دی، نو ایا څوك پند

ع
9

مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ

اخيستونكى شته؟(40) او يقينًا يقينًا ال فرعون ته

النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا

وېرونكي راغلي وو(41) (نو) دوى زمونږ د ټولو
دليلونو (معجزو) تكذيب وكړ،

فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِيْزٍ

نو مونږ دوى ونيول، د ډېر غالب او ښه ذات

مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ

په نيولو سره(42) (اى عربو!) ايا ستاسو كفار له

اُولٰٓئِكُمْ اَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ فِى

دغو (ړومبنو كفارو) نه ډېر غوره دي، يا تاسو لپاره
په كتابونو كې

الزُّبُرِ ۝٤٣ اَمْ يَقُوْلُوْنَ نَحْنُ جَمِيْعٌ

خلاصی (راغلی) دی؟(43) یا دوی وایي چې
مونږ بدله

مُّنْتَصِرٌ ۝٤٤ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ

اخیستونکي ډله یو(44) دغه جمع (ډله) به یقینًا
یقینًا ماته کړی شي او دوی به شاګاني

الدُّبُرَ ۝٤٥ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَ

وګرځوي(45) بلکې قیامت د دوی د وعدې ځای
دی او

السَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ ۝٤٦ اِنَّ

قیامت ډېر سخت او ډېر تریخ دی(46) بېشکه

الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ۝٤٧ يَوْمَ

وقف لازم

مجرمان په ګمراهۍ او لمبې وهونکي اور کې دي(
47) په هغې ورځ

يُسْحَبُوْنَ فِي النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ ؕ

کې چې دوی به په خپلو مخونو په اور کې راښکلی شي (او ویلی به شي چې)

ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ۝۴۸ اِنَّا كُلَّ شَيْءٍ

تاسو د دوزخ رسېدل وڅکئ(48) بېشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي)

خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ۝۴۹ وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا

اندازې سره پیدا کړی دی(49) او زمونږ امر نه دی مګر

وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ۝۵۰ وَلَقَدْ

یو ځل دی، لکه د سترګو رپول(50) او یقینًا یقینًا

اَهْلَكْنَآ اَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ

مونږ ستاسو مشابه (او نظایر) هلاك کړي دي، نو ایا څوك پند

مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي

اخيستونكى شته؟(51) او هر هغه شى (كار) چې دوى كړى دى،

الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَّكَبِيرٍ

په كتابونو كې دى(52) او هر وړوكى او لوى (عمل)

مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنّٰتٍ وَّ

ليكل شوى دى(53) بېشكه متقيان به په باغونو او

نَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ

ويالو كې وي(54) د راستۍ په مجلس كې به وي، له لوى

ع 10

مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾

قدرت لرونكي بادشاه سره(55)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَلرَّحْمٰنُ ① عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ② خَلَقَ

ډېر زيات مهربان ذات(1) (دا) قرآن ښودلی دی( 2) هغه انسان

الْاِنْسَانَ ③ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ④ اَلشَّمْسُ

پيدا کړی دی(3) ده ته يې بيان (او وينا) کول ښودلي دي(4) لمر

وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ⑤ وَّالنَّجْمُ وَ

او سپوږمۍ په حساب سره (روان) دي(5) او ستوري / وابنه

الشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ⑥ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا

او ونې دواړه سجدې کوي(6) او اسمان لره، دا هغه پورته (اوچت) کړی دی

وَ وَضَعَ الْمِيْزَانَ ۝٧ اَلَّا تَطْغَوْا فِي

او تله يې ايښې (مقرر کړې) ده(7) (د دې لپاره) چې تاسو په تله

الْمِيْزَانِ ۝٨ وَ اَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ

کې تېرى ونه کړئ(8) او تاسو په انصاف سره وزن برابروئ

وَ لَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ۝٩ وَ الْاَرْضَ وَ

او په تول کې کمی مه کوئ(9) او ځمکې لره، هغه دا

ضَعَهَا لِلْاَنَامِ ۝١٠ فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّ

د ژونديو لپاره غوړولې ده(10) په دې کې مېوې دي او

النَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ۝١١ وَ الْحَبُّ ذُو

د پوښونو والا د کجورو ونې دي(11) او د وښو (بوسو) والا دانې دي

الْعَصْفِ وَ الرَّيْحَانُ ﴿۱۲﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

او خوشبويه گلان دي(12) نو (اى انسانانو او پېريانو!) تاسو دواړه د خپل رب په نعمتونو کې د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۳﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ

کوم يوه تکذيب کوئ (او ترې منکرېږئ)(13) انسان يې د کودرې په شان له وچې

صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿۱۴﴾ وَ خَلَقَ الْجَآنَّ

کړنګېدونکې خټې نه پيدا کړى دى(14) او جان (د پېريانو پلار) يې د اور له

مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ﴿۱۵﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

خالصې (بې لوګې) شغلې نه پيدا کړى دى(15) نو تاسو (اى انسانانو او پېريانو) دواړه د خپل رب

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۶﴾ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَ

په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟(16) (هغه د ژمي او د اوړي) د دواړو مشرقونو رب دى او

رَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

(د ژمي او د اوړي) د دواړو مغربونو رب دی(17)
نو تاسو (ای انسانانو او پېریانو) دواړه د خپل رب

تُكَذِّبَانِ ﴿١٨﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ

په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ؟(18) هغه
دوه سمندرونه بهولي دي، په دې حال کې چې

يَلْتَقِيَانِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَا

یوله بله سره میلاوېږي(19) د دواړو په مینځ کې
یوه پرده ده، چې په یو

يَبْغِيَانِ ﴿٢٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

بل باندې نه ورگډېږي(20) نو تاسو (ای انسانانو
او پېریانو!) دواړه د خپل رب په

تُكَذِّبَانِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَ

نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ؟(21) له
دواړو (د سمندرونو) نه ملغلرې او

الْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

مرجان راوځي(22) نو تاسو (اى انسانانو او
پېريانو) د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه

تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٣﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَـٰٔتُ فِي

تکذيب کوئ؟(23) او خاص هغه لره دي په
سمندر کې بادبان پورته کړی شوې

الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿٢٤﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ

بېړۍ، لکه غرونه(24) نو تاسو (اى انسانانو او
پېريانو!) دواړه د خپل رب په

ع 11 النصف

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٥﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا

نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟(25) هر هغه
څوک چې په دې (ځمکې) باندې دي؛

فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَ

فاني کېدونکي دي(26) او باقي به پاتې شي ستا د
رب مخ (ذات) چې د جلال او

الْاِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

د عزت خاوند دی(27) نو (ای انسانانو او
پیریانو!) تاسو دواړه د خپل رب په

تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٨﴾ يَسْـَٔلُهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ

نعمتونو کې کوم يو دروغ ګڼئ؟(28) له ده نه
سوال کوي هر هغه څوك چې په ا سمانونو او

الْاَرْضِ ؕ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ

ځمکه کې دي.، هر وخت هغه په يوکار

شَاْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

کې دی(29) نو تاسو (ای انسانانو او پیریانو!) د
خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه

تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٠﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَ

تکذيب کوئ؟(30) ژر ده چې مونږ به تاسو ته
وزګار شو،

الثَّقَلٰنِ ﴿٣١﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا

ای دوه درنو قبیلو (انسانانو او پېریانو!)(31) نو
تاسو (ای انسانانو او پېریانو!) د خپل رب په

تُکَذِّبٰنِ ﴿٣٢﴾ یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ

نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ؟(32) ای د
پېریانو او انسانانو ډلې!

اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ

که چېرې تاسو د دې طاقت لرئ چې تاسو د

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ؕ لَا

اسمانونو او ځمکې له غاړو نه بهر ووځئ، نو
ووځئ۔ او تاسو به بهر ونه

تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿٣٣﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

وتلی شئ مګر په قوت (او زور) سره(33) نو (ای
پېریانو او انسانانو!) تاسو د خپل رب په

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٤﴾ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا

نعمتونو كې د كوم يوه تكذيب كوئ؟(34) په تاسو دواړو (ډلو)

شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّ نُحَاسٌ فَلَا

باندې به د اور خالصې لمبې او لوگى درخوشې كړى شي، بيا به تاسو يوله بل

تَنْتَصِرٰنِ ﴿٣٥﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

سره مدد نشئ كولى(35) نو تاسو دواړه (اى پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو كې له

تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٦﴾ فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ

كوم كوم نه انكار كوئ؟(36) بيا چې كله اسمان خيرې شي، نو سور رنگه

فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿٣٧﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

گل به شي، لكه د سرې څرمنې(37) نو تاسو دواړه (اى پېريانو او انسانانو!) د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٨﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ

خپل رب په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ؟(
38) نو په دغې ورځ کې به د خپلې گناه په باره

عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿٣٩﴾ فَبِاَيِّ

کې نه له انسان نه پوښتنه کولی شي او نه له پېرې
نه(39) نو (اى پېریانو او انسانانو!) تاسو

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٠﴾ يُعْرَفُ

دواړه د خپل رب په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب
کوئ؟(40) مجرمان به

الْمُجْرِمُوْنَ بِسِيْمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ

په خپلو نښو سره پېژندلی شي، نو (د مجرمانو)

بِالنَّوَاصِيْ وَالْاَقْدَامِ ﴿٤١﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

وچولي او قدمونه به ونیولی شي(41) نو (اى
پېریانو او انسانانو!) تاسو د خپل

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٢﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِىْ

رب په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ(42) دا
هغه دوزخ دی چې

وقف لازم

يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ يَطُوْفُوْنَ

مجرمانو (کافرانو) به دا دروغ گڼله(43) دوی به د
دغه (دوزخ)

بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ اٰنٍ ﴿٤٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

په مینځ کې او د ډېرو گرمو اوبو په مینځ کې
گرځي(44) نو (ای پېریانو او انسانانو!) تاسو

ع 12

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٥﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ

دواړه د خپل رب په نعمتونو کې د کوم یوه انکار
کوئ؟(45) او د هغه چا لپاره چې د خپل رب په

رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿٤٦﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

وارڼدي له ودرېدلو نه وېرېږي، دوه جنتونه دي(
46) نو تاسو (ای پېریانو او انسانانو!) د خپل رب

تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟(47) (دغه جنتونه) د ډېرو ډېرو ښاخونو والا دي(48) نو تاسو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٩﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ

(اى پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو کې کوم کوم دروغ گڼئ(49) په دغو دواړو

تَجْرِيٰنِ ﴿٥٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

(جنتونو) کې دوه چينې دي چې بهېږي(50) نو تاسو (اى پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په

تُكَذِّبٰنِ ﴿٥١﴾ فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ

نعمتونو کې له کوم يو نه انکار کوئ(51) په دغو (جنتونو) کې له هرې مېوې نه دوه دوه قسمه دي(

زَوْجٰنِ ﴿٥٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

52) نو تاسو (اى پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو کې

تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى فُرُشٍۢ

د کوم یوه تکذیب کوئ(53) په داسې حال کې چې دوی به په داسې فرشونو

بَطَآئِنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ؕ وَ جَنَا

باندې تکیه وهونکي وي چې د هغو استرونه به له پېړو وربښمو څخه وي او د دواړو

الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

جنتونو مېوې به نږدې وي(54) نو تاسو (ای انسانانو او پېریانو!) د خپل رب په نعمتونو کې د

تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٥﴾ فِيْهِنَّ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ ۙ لَمْ

کوم یوه تکذیب کوئ(55) په دغو (جنتونو) کې به د سترګو رامنع کوونکې حورې وي،

يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَ لَا

چې له دغو (جنتي خاوندانو) نه به مخکې دوی ته نه بل انسان لاس وروړی وي او نه

جَآنٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

پېرې(56) نو تاسو (اى پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو کې د کوم

تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٧﴾ كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَ

يوه تکذيب کوئ(57) گويا کې دغه (حورې) ياقوت لعل دي، يا

الْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

مرجان دي(58) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم

تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا

يوه تکذيب کوئ(59) د احسان بدل نه دى مگر

الْاِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

احسان (او نېکي) کول(60) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې

تُكَذِّبٰنِ ﴿٦١﴾ وَ مِنْ دُوْنِهِمَا

د کوم يوه تکذيب کوئ(61) او له دغو دواړو نه غير

جَنَّتٰنِ ﴿٦٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

دوه نور جنتونه دي(62) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم

تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿٦٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

يوه تکذيب کوئ(63) تك تور دي (له ډېر شين والي او خړوب والي نه)(64) نو تاسو د خپل رب

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٥﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ

په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ(65) په دغو دواړو کې دوه

نَضَّاخَتٰنِ ﴿٦٦﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

جوش وهونکې چينې دي(66) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې

تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٧﴾ فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّ

د كوم يوه تكذيب كوئ(67) په دغو دواړو كې
مېوې او كجورې او

رُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

انار دي(68) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو كې د
كوم

تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٩﴾ فِيهِنَّ خَيْرٰتٌ

يوه تكذيب كوئ(69) په دغو (جنتونو) كې ډېرې
غوره (نيك سيرتې) ډېرې

حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

ښكلې حورې دي(70) نو تاسو د خپل رب په
نعمتونو كې د كوم

تُكَذِّبٰنِ ﴿٧١﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِي

يوه تكذيب كوئ(71) په خېمو كې محفوظې
ساتلې

الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

شوې حورې به وي(72) نو تاسو د خپل رب په
نعمتونو کې د کوم

تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ

یوه تکذیب کوئ(73) چې له دغو (جنتي
خاوندانو) نه به مخکې دوی ته نه انسان لاس

وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

وروړی وي او نه پېري(74) نو تاسو د خپل رب
په نعمتونو کې د کوم

تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى رَفْرَفٍ

یوه تکذیب کوئ(75) په داسې حال کې چې تکیه
کوونکي به ـوي په شین رنګه بالښتونو او په ډېرو

خُضْرٍ وَّ عَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِاَيِّ

نفیسو ښکلو فرشونو باندې(76) نو تاسو د خپل
رب په

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٧﴾ تَبٰرَكَ اسْمُ

نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ(77) ډېر برکتي دی

ع 13

رَبِّكَ ذِی الْجَلٰلِ وَ الْاِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

ستا د رب نوم، چې د جلال او د اکرام (عزت ورکولو) والا دی(78)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۝١ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا

كله چې واقع كېدونكى (قيامت) واقع شي(1) د ده پېښېدو لره هيڅ

كَاذِبَةٌ ۝٢ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝٣ إِذَا رُجَّتِ

دروغجنوونكى نشته(2) (دا) ښكته كوونكى، (او) اوچتوونكى دى(3) كله چې ځمكه

وقف لازم

الْأَرْضُ رَجًّا ۝٤ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ

وخوځولى شي، خوځول(4) او غرونه ورژول شي،

بَسًّا ۝٥ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْبَثًّا ۝٦ وَّكُنْتُمْ

رژول(5) نو دغه (غرونه) به يوه خوره شوې دوړه شي(6) او تاسو

اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ۝٧ فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ

به درې قسمونه شئ(7) نو د ښي لاس والا

(خلق) ـ، څه (ښه)

اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۝٨ وَاَصْحٰبُ

دي د ښي لاس والا خلق!(8) او د چپ لاس والا

الْمَشْـَٔمَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۝٩ وَ

خلقـ، څه (بد) دي د چپ لاس والا خلق؟(9) او

السّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ ۝١٠ اُولٰٓئِكَ

ړومبی کېدونکي (همدوی) ړومبی کېدونکي دي(

10) هم دوی نژدې کړی شوي

الْمُقَرَّبُوْنَ ۝١١ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝١٢ ثُلَّةٌ

دي (الله ته)(11) د نعمتونو په جنتونو کې به وي(

12) لويه ډله

مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾ وَ قَلِيْلٌ مِّنَ

به د ړومبنو خلقو څنې وي(13) او لږ به د
وروستنو

الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٤﴾ عَلٰى سُرُرٍ

خلقو څنې وي(14) په (زرو او ملغلرو سره) بُنَل
شويو تختونو

مَّوْضُوْنَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا

باندې به (ناست) وي(15) چې په دغو باندې به
يو بل ته مخامخ

مُتَقٰبِلِيْنَ ﴿١٦﴾ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ

تكيه وهونكي وي(16) په دوى باندې به (د
خدمت لپاره) تل پاتې (همېشني)

مُّخَلَّدُوْنَ ﴿١٧﴾ بِاَكْوَابٍ وَّ اَبَارِيْقَ ۙ وَ

هلكان گرځي(17) د گلاسونو او كوزو سره او د
جاري (بهېدونكو)

كَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُوْنَ

شرابو پیالو سره(18) چې له دغو (شرابو) نه به نه
د دوی سر خوږېږي

عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا

او نه به بې خوده (نشه) کېږي(19) او له هغه
قسمه مېوو سره چې

يَتَخَيَّرُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا

دوی يې خوښوي(20) او د مرغانو له هغه قسمه
غوښو سره چې د دوی

يَشْتَهُوْنَ ﴿٢١﴾ وَحُوْرٌ عِيْنٌ ﴿٢٢﴾ كَاَمْثَالِ

زړونه يې غواړي(21) او (د دوی لپاره) پيمخې
غټې سترګې حورې دي(22) د پټو ساتل

اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا

شويو ملغلرو په شان(23) د هغو عملونو د بدلې
ورکولو

يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّ

لپاره چې دوی به کول(24) دوی به په دغه (جنت) کې نه عبث خبرې اوري او

لَا تَأْثِيْمًا ﴿٢٥﴾ اِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿٢٦﴾ وَ

نه د گناه (خبرې)(25) لېکن سلام، سلام ویل (به اوري)(26) او

اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ

د ښي اړخ والا، څه دي د

الْيَمِيْنِ ﴿٢٧﴾ فِيْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ﴿٢٨﴾ وَّ طَلْحٍ

ښي اړخ والا(27) په بې اغزیو بېرو کې به وي(28) او له بېخه تر سره ډکو کړی شویو (د) کیلو

مَّنْضُوْدٍ ﴿٢٩﴾ وَّ ظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ﴿٣٠﴾ وَّ مَآءٍ

(په ونو) کې به وی(29) او په اوږد کړی شویو همېشني سیورو کې به وي(30) او په

مَّسۡكُوبٍ ۝٣١ وَّفَاكِهَةٍ كَثِيۡرَةٍ ۝٣٢ لَّا

راتوی کړی شویو اوبو کې به وي(31) اوپه ډېرو زیاتو مېوو کې به وي(32) چې نه

مَقۡطُوۡعَةٍ وَّلَا مَمۡنُوۡعَةٍ ۝٣٣ وَّفُرُشٍ

به قطع کولی شي او نه به منع کولی شي(33) او په اوچت کړی شویو

مَّرۡفُوۡعَةٍ ۝٣٤ اِنَّاۤ اَنۡشَاۡنٰهُنَّ

فرشونو کې به وي(34) بېشکه مونږ دغه (ښځې/ حورې) پیدا کړې دي،

اِنۡشَآءً ۝٣٥ فَجَعَلۡنٰهُنَّ اَبۡكَارًا ۝٣٦ عُرُبًا

خاص پیدا کول(35) نو مونږ دغه (حورې) پېغلې گرځولې دي(36) په خپلو خاوندانو

ع 14

اَتۡرَابًا ۝٣٧ لِّاَصۡحٰبِ الۡيَمِيۡنِ ۝٣٨ ثُلَّةٌ مِّنَ

مینانې (او) همزولې(37) د ښي اړخ والاو لپاره( 38) (د ښي اړخ والا به) لویه ډله

الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۹﴾ وَ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۴۰﴾ وَ

وي له ړومبنو خلقو نه(39) او بله لويه ډله به له وروستنيو خلقو نه وي(40) او

اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۙ مَاۤ اَصْحٰبُ

د چپ اړخ (گس) والا، څه دي د چپ

الشِّمَالِ ﴿۴۱﴾ فِيْ سَمُوْمٍ وَّ حَمِيْمٍ ﴿۴۲﴾ وَّ

اړخ والا(41) (دوى به) په گرم باد او ډېرو تودو اوبو کې وي(42) او

ظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ﴿۴۳﴾ لَّا بَارِدٍ وَّ لَا

د تك تور لوگي په سيوري کې به وي(43) چې نه به يخ وي او نه

كَرِيْمٍ ﴿۴۴﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ

به د عزت وي(44) بېشکه دوى له دې نه مخکې (په دنيا کې) په نعمتونو

مُتْرَفِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَ كَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى

کې پاالل شوي وو(45) او دوی په ډېره لويه گناه (كفر)

الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴿٤٦﴾ وَ كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ

باندې دوام (او اصرار) كاوه(46) او دوی به ويل: ايا كله

اَئِذَا مِتْنَا وَ كُنَّا تُرَابًا وَّ عِظَامًا ءَاِنَّا

چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوکي شو، ايا په رښتيا او يقينًا به مونږ بيا

لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٤٧﴾ اَوَ اٰبَآؤُنَا

راژوندي كولى شو(47) او ايا زمونږ ړومبني

الْاَوَّلُوْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَ

پلرونه هم!(48) ته (دوی ته) ووايه چې بېشكه ړومبني او

الْاٰخِرِيْنَ ۙ﴿۴۹﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ ۙ۬ اِلٰى

وروستني خلق(49) دوى به خامخا د معلومې

مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۵۰﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ

ورځې مقرر وخت ته راجمع كولى شي(50) بيا به يقينًا

اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ ۙ﴿۵۱﴾ لَاٰكِلُوْنَ

تاسو اى گمراهانو، تكذيب كوونكو!(51) خامخا خوړونكي

مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ۙ﴿۵۲﴾ فَمَالِـُٔوْنَ

به يئ د زقوم له ونې نه(52) نو له هغې نه به

مِنْهَا الْبُطُوْنَ ۚ﴿۵۳﴾ فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ

خېټې ډكوونكي يئ(53) بيا به تاسو د دغه (خوړل شوي زقوم) له

الْحَمِيْمِ ﴿٥٤﴾ فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ

پاسه تودې اوبه څښونکي يئ(54) نو د ډېرو تږو اوښانو د څښلو په

الْهِيْمِ ﴿٥٥﴾ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ

شان به څښونکي يئ(55) دا د بدلې په ورځ د

الدِّيْنِ ﴿٥٦﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا

دوی مېلمستيا ده(56) مونږ تاسو پيدا کړي يئ، نو ولې

تُصَدِّقُوْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا

تاسو تصديق نه کوئ!(57) نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه نطفه

تُمْنُوْنَ ﴿٥٨﴾ ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ

چې تاسو يې تويوئ(58) ايا تاسو (له) دغې (نطفې نه بشر) پيدا کوئ،

الْخٰلِقُوْنَ ﴿۵۹﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ

يا هم دا مونږ یې پیدا کوونکي یو(59) بېشکه مونږ ستاسو په مينځ کې

الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۶۰﴾ عَلٰٓى

مرگ مقدر کړی دی او مونږ عاجز کړی شوي نه یو(60) له دې

اَنْ نُّبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ

نه چې مونږ ستاسو په شان (نور خلق ستاسو) په بدل کې پیدا کړو او تاسو په هغو (صورتونو) سره

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ

پیدا کړو چې تاسو پرې علم نه لرئ(61) او یقینًا یقینًا تاسو په

النَّشْاَةَ الْاُوْلٰى فَلَوْلَا

ړومبني پیدا کولو عالمان شوي یئ، نو ولې

تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا

تاسو پند نه اخلئ!(62) نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه تخم

تَحْرُثُوْنَ ﴿٦٣﴾ ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗٓ اَمْ

چې تاسو يې کرئ(63) ايا تاسو دغه (کرل شوى) زرغونوئ، يا هم دا

نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ﴿٦٤﴾ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ

مونږ يې زرغونوونکي يو(64) که مونږ وغواړو (نو) خامخا دغه به وچ

حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اِنَّا

او ذره ذره کړو، بيا به تاسو حيران شئ(65) (او وايئ به) بېشکه

لَمُغْرَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ

مونږ خامخا په تاوان کې غورځول شوي يو(66) بلکې مونږ

مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ

محروم کړی شوي یو(67) نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه اوبه

الَّذِیْ تَشْرَبُوْنَ ﴿٦٨﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ

چې تاسو يې څښئ(68) ايا تاسو دغه له سپينو وريځو نه نازلې کړې دي،

مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَوْ

يا هم دا مونږ يې نازلوونکي يو؟(69) که مونږ

نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا فَلَوْ لَا

وغواړو، دغه به تروې ترخې وګرځوو، نو تاسو

تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِیْ

ولې شکر نه وباسئ!(70) نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه

تُوْرُوْنَ ﴿٧١﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَاۤ

اور چې تاسو يې بلوئ(71) ايا تاسو د ده ونه پيدا کړې ده، يا هم

اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِـُٔوْنَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنٰهَا

دا مونږ يې پيدا کوونکي يو؟(72) مونږه دغه (اور)

تَذْكِرَةً وَّ مَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ

تذکره (نصيحت) او د مسافرو لپاره نفعمن گرځولی دی(73) نو ته د خپل عظيم

ع 15 الثلثة

بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٧٤﴾ فَلَاۤ اُقْسِمُ

رب د نوم پاکي بيانوه(74) نو زه د ستوريو د پرېوتو په ځايونو

بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿٧٥﴾ وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ

باندې قسم خورم(75) او بېشکه دا يقيناً ډېر لوی قسم

تَعۡلَمُوۡنَ عَظِيۡمٌ ۝٧٦ إِنَّهٗ لَقُرۡاٰنٌ

دی که تاسو پوهیږئ(76) بېشکه دا خامخا ډېر عزتمن

كَرِيۡمٌ ۝٧٧ فِيۡ كِتٰبٍ مَّكۡنُوۡنٍ ۝٧٨ لَّا يَمَسُّهٗۤ

قرآن دی(77) په پټ ساتل شوي کتاب کې دی( 78) چې ده لره نه مسه کوي

اِلَّا الۡمُطَهَّرُوۡنَ ۝٧٩ تَنۡزِيۡلٌ مِّنۡ رَّبِّ

مگر ښه پاك کړی شوي خلق (ملايك)(79) د رب العلمين له جانبه

الۡعٰلَمِيۡنَ ۝٨٠ اَفَبِهٰذَا الۡحَدِيۡثِ اَنۡتُمۡ

نازل کړی شوی دی(80) ايا نو تاسو د دې حديث (قرآن)

مُّدۡهِنُوۡنَ ۝٨١ وَتَجۡعَلُوۡنَ رِزۡقَكُمۡ

سپکاوی کوونکي يئ(81) او تاسو خپله برخه دا گرځوئ چې

اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَوْ لَآ اِذَا بَلَغَتِ

لازمًا تاسو يې تکذيب کوئ (دروغ يې ګڼئ)(82)
نو ولې يې نه (راګرځوئ) کله

الْحُلْقُوْمَ ﴿٨٣﴾ وَاَنْتُمْ حِيْنَىِٕذٍ

چې ساه ستوني ته ورسېږي(83) او په دغه وخت
کې

تَنْظُرُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ

تاسو ګورئ(84) او مونږ ده ته له تاسو نه ډېر

مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْ لَآ

نژدې يو او لېکن تاسو نه وينئ(85) نو ولې يې نه

اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ

(راګرځوئ) که تاسو

مَدِيْنِيْنَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ

محکومان نه يئ(86) (نو ولې) دغه ساه (نه) راګرځوئ.

صٰدِقِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ

که تاسو رښتيني يئ(87) نو که چېرې (دغه مړی) له

الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَّ رَيْحَانٌ ۙ وَّ

مقربينو څخه وي(88) نو (د ده لپاره) راحت او ښه رزق او

جَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿٨٩﴾ وَ اَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ

له نعمتونو ډك جنت دی(89) او که د ښي

اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩٠﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ

اړخ والاو څنې وي(90) نو (ورته ويلی به شي:) تا ته سلام دی.

اَصۡحٰبِ الۡيَمِيۡنِ ﴿۹۱﴾ وَ اَمَّاۤ اِنۡ كَانَ مِنَ

(ای) له ښي اړخ والاو ځنې!(91) او كه چېرې (دا مړی) د تكذيب كوونكو

الۡمُكَذِّبِيۡنَ الضَّآلِّيۡنَ ﴿۹۲﴾ فَنُزُلٌ مِّنۡ

گمراهانو ځنې وي(92) نو (د ده لپاره) د ډېرو ايشېدلو اوبو

حَمِيۡمٍ ﴿۹۳﴾ وَّ تَصۡلِيَةُ جَحِيۡمٍ ﴿۹۴﴾ اِنَّ هٰذَا

مېلمستيا ده(93) او دوزخ ته ننه ايستل دي(94) بېشكه دا خبره

لَهُوَ حَقُّ الۡيَقِيۡنِ ﴿۹۵﴾ فَسَبِّحۡ بِاسۡمِ

يقينًا هم دا حقه يقيني ده(95) پس ته د خپل

ع 16

رَبِّكَ الۡعَظِيۡمِ ﴿۹۶﴾

عظيم رب د نوم پاكي بيانوه(96)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ وَ

د الله پاکي بيانوي هر هغه شی چې په اسمانونو او ځمکه کې دی او

هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝١ لَهٗ مُلْكُ

هم دی ښه غالب، ډېر حکمت والا دی(1) خاص هم ده لپاره

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَ يُمِيْتُ ۚ وَ

د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، دی ژوندي کول کوي اومړه کول کوي او

هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٢ هُوَ الْاَوَّلُ وَ

هم دی په هر شی باندې ښه قادر دی(2) هم دغه (الله) اول دی (هيڅ شی له هغه نه مخکې نه و)

الْاٰخِرُ وَ الظَّاهِرُ وَ الْبَاطِنُ ۚ وَ هُوَ

او اخر دی (له ده نه بعد هيڅ شی نشته) او لوړ
دی (په هر شي بره دی) او باطن دی (له ده په

بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ③ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ

وړاندې هيڅ شی پټ نه دی) او هغه په هر شي
باندې ښه پوه دی(3) دی هغه ذات دی چې

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ

اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړي
دي، بيا دی

اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ؕ یَعْلَمُ مَا یَلِجُ

په عرش باندې برقراره شو۔، دی عالم دی په هر
شي

فِی الْاَرْضِ وَ مَا یَخْرُجُ مِنْهَا وَ مَا

چې په ځمکه کې ننوځي او په هر هغه شي چې له
دې نه راوځي او په

يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ط

هر هغه شي چې له اسمانه راکوزېږي او په هر هغه
شي چې په ده کې پورته خېژي

وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ ط وَاللّٰهُ

او دغه (الله د خپل شان لايق) له تاسو سره دی،
هر چېرې چې تاسو يئ۔ او الله

بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۴﴾ لَهٗ مُلْكُ

هغو کارونو لره چې تاسو يې کوئ، ښه ليدونکی
دی(4) خاص هم ده لره

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ

د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او خاص الله ته
ټول کارونه

الْاُمُوْرُ ﴿۵﴾ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَ

ورګرځولی شي(5) دی شپه په ورځ کې ننباسي
او

يُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ؕ وَ هُوَ عَلِيْمٌۢ

ورځ په شپه کې ننباسي او دی د سينو په

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۞ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ

پټو خبرو ښه عالم دی(6) (ای خلقو! تاسو په الله او

رَسُوْلِهٖ وَ اَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ

د هغه په رسول ایمان راوړئ او له هغه (مال) څخه څه خرچ کړئ چې هغه (الله) تاسو په دغه (مال)

مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

کې (د نورو خلقو) ځای ناستي (خلیفه ګان) جوړ کړي يئ۔، نو هغه کسان چې له تاسو نه يې ایمان

مِنْكُمْ وَ اَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ۞ وَ

راوړی دی او انفاق يې کړی دی، د دوی لپاره ډیر لوی اجر دی(7) او

مَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ

تاسو ته څه عذر دی چې په الله ايمان نه راوړئ، حال دا چې (د الله) رسول تاسو

يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ

ته بلنه درکوي دې ته چې تاسو په خپل رب ايمان راوړئ او يقينًا

اَخَذَ مِيْثَاقَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

هغه (الله له تاسو نه) ستاسو پخه وعده اخيستې ده۔، که چېرې

مُّؤْمِنِيْنَ ۝٨ هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى

تاسو مومنان يئ(8) دی همغه ذات دی چې په

عَبْدِهٖٓ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ

خپل بنده باندې ښکاره نښې (دليلونه) نازلوي، د دې لپاره

الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ

چې دغه (الله) تاسو له تیارو نه رڼا ته وباسي او بېشکه الله پر تاسو باندې یقینًا ډېر نرمي کوونکی،

لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝٩ وَمَا لَكُمْ اَلَّا

بې حده رحم کوونکی دی(9) او تاسو ته څه مانع

تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ

(او عذر) دی چې د الله په لاره کې خپل مال) نه لګوئ، حال دا

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ لَا يَسْتَوِيْ

چې د اسمانونو او ځمکې میراث خاص د الله لپاره دی۔ په تاسو کې هغه څوك نه دي برابر

مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ

چا چې (د الله په لاره کې) له فتحې نه مخکې انفاق کړی دی او

قٰتَلَ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعۡظَمُ دَرَجَةً مِّنَ

جنگ يې کړې دی۔، دغه خلق د درجې په لحاظ
له هغو کسانو نه ډېر لوی دي

الَّذِيۡنَ اَنۡفَقُوۡا مِنۡۢ بَعۡدُ وَ قٰتَلُوۡا ؕ وَ

چې له دغې (فتحې) نه يې وروسته (د الله په لاره
کې) انفاق کړی وي او جنگ يې کړی وي او (په

كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الۡحُسۡنٰى ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

دوی کې) له هر يو سره الله د ښېگڼې (جنت)
وعده کړې ده۔ او الله په هغو کارونو چې تاسو

ع 17

تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرٌ ۝١٠ مَنۡ ذَا الَّذِىۡ

يې کوئ، ښه خبردار دی(10) څوك دی هغه کس
چې

يُقۡرِضُ اللّٰهَ قَرۡضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ

الله ته قرض ورکړي، ډېر ښکلی قرض (حسن) نو
چې هغه (الله) دغه (قرض) د ده لپاره دوه چنده

لَهٗ وَلَهٗٓ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ۚ﴿۱۱﴾ يَوْمَ تَرَى

کړي او د ده لپاره ډېر د عزت اجر دی(11) هغه
ورځ (یاده کړه) چې ته

الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ

به مومنان سړي او مومنې ښځې وینې چې د دوی
رڼا به د

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ

دوی مخې ته او د دوی ښي اړخ ته منډې وهي،
ستاسو زيرى

الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

نن ورځ داسې جنتونه دي چې د هغو له لاندې

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۗ ذٰلِكَ هُوَ

ولې بهېږي، چې په هغو کې به تل اوسېدونکي
يئ۔، همدغه

الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يَقُولُ

ډېره لويه کاميابي ده(12) (اى نبي! ته) هغه ورځ (ياده کړه) چې

الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

منافق سړي اومنافقې ښځې به ايمان داره کسانو ته وايي:

انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ

مونږ ته وګورئ (انتظار وکړئ) چې ستاسو له رڼا نه رڼا واخلو (، نو) دوى ته به وويل شي چې

ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ

خپلې شا ته وګرځئ، نو (هلته) رڼا ولټوئ،

فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ

نو د دوى په مينځ کې به يو داسې دېوال وواهه شي چې د هغه به دروازه (هم) وي، د دغه

فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَ ظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ

(دېوال) دننه طرف، په هغه کې به رحمت وي او د دغه (دېوال) د باندې طرف، له دغه جانبه به

الْعَذَابُ ﴿۱۳﴾ يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ

عذاب وي(13) دوی به دغو (مومنانو) ته اواز وکړي:

مَّعَكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَ لٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ

ايا مونږ له تاسو سره نه وو؟ نو دوی (مومنان) به ووايي: ولې نه! او لېکن تاسو

اَنْفُسَكُمْ وَ تَرَبَّصْتُمْ وَ ارْتَبْتُمْ وَ

خپل ځانونه په فتنه کې اچولي وو او تاسو انتظار کاوه او

غَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ

شك مو کاوه او (خپلو) ارزوګانو دوکه کړي (تېرايستلي) وئ، تر هغه پورې چې د الله امر

وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۱۴﴾ فَالْيَوْمَ لَا

راغی او تاسو د الله په باره کې ډېر دوکه کوونکي دوکه کړي وئ(14) نو نن ورځ

يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ

به نه له تاسو نه څه فديه (معاوضه) اخيستلی شي او نه له کافران شويو کسانو نه۔

كَفَرُوْا ؕ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ هِيَ

ستاسو استوګنه اور دی، هغه (اور) ستاسو

مَوْلٰىكُمْ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾ اَلَمْ

دوست (او لايق) دی او هغه د ورتلو بد ځای دی (15) ايا هغو

يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ

کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی (دغه) وخت نه دی راغلی چې

قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ

د دوی زړونه نرم (او په وېره) شي د الله ذکر ته
او

الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا

هغه حق ته چې نازل شوی دی! او د هغو کسانو
په شان نشي چې له دې نه

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ

مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و، نو په دوی
باندې

الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَكَثِيْرٌ

زمانه اوږده شوه، پس د دوی زړونه سخت شول
او په دوی کې ډېر

مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿١٦﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ

فاسقان (نافران) دي(16) تاسو پوه شئ چې
بېشکه الله

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ

ځمکه د هغې له مرګ (وچوالي) نه پس ژوندۍ
کوي، یقینًا مونږ تاسو ته ایتونه بیان کړي دي، د

الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّ

دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ(17)
بېشکه

الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَأَقْرَضُوا

خیرات کوونکي سړي او خیرات کوونکې ښځې
او هغه

اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعَفُ لَهُمْ وَ

چې الله ته قرض ورکوي، ښه قرض، د دوی لپاره
(دغه قرضِ حسن) دوچند کولی شي او د دوی

لَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١٨﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا

لپاره ډېر د عزت اجر دي(18) او هغه کسان چې
په

بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ

الله او د هغه په رسولانو يې ايمان راوړى دى همدغه كسان

الصِّدِّيْقُوْنَ ۖ وَ الشُّهَدَآءُ عِنْدَ

ډېر رښتني دي او د خپل رب په وړاندې شاهدان دي۔،

رَبِّهِمْ ؕ لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَ نُوْرُهُمْ ؕ وَ

د دوى لپاره د دوى اجر او د دوى رڼا ده او

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ

هغه كسان چې كافران شوي او زمونږ ايتونو ته يې دروغ ويلي دي۔؛

ع 18

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١٩﴾ اِعْلَمُوْٓا

دغه كسان د دوزخ ملګري دي(19) تاسو پوه شئ

اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ وَّ

چې بېشکه دنیایي ژوند یواځې لوبې او عبث او

زِيْنَةٌ وَّ تَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَ تَكَاثُرٌ فِي

زينت او په خپل مینځ یو په بل باندې فخر کول دي او په یو بل باندې په

الْاَمْوَالِ وَ الْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ غَيْثٍ

مالونو او اولادونو کې ډېر والی کول دي۔ د هغه باران په شان

اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ

چې کرونکي (کروندګر) لره د هغه (باران) زرغونه خوشاله کړي،

فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ؕ وَ

بیا هغه (زرغونه) وچېږي، نو ته دغه زرغونه تکه زېړه وینې، بیا هغه رېزه رېزه شي او

فِي الۡاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ۙ وَّ مَغۡفِرَةٌ

په اخرت کې (د اخرت منکرانو ته) ډېر سخت عذاب دی او (منونکو ته) د

مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضۡوَانٌ ؕ وَ مَا الۡحَيٰوةُ

الله له جانبه بخښنه او رضامندي ده، او دنيايي ژوند نه دی

الدُّنۡيَاۤ اِلَّا مَتَاعُ الۡغُرُوۡرِ ۝۲۰ سَابِقُوۡۤا

مگر د دوکې (او غولېدلو) سامان دی(20) تاسو تلوار وکړئ

اِلٰى مَغۡفِرَةٍ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَ جَنَّةٍ عَرۡضُهَا

د الله له جانبه مغفرت ته او داسې جنت ته چې د هغه

كَعَرۡضِ السَّمَآءِ وَ الۡاَرۡضِ ۙ اُعِدَّتۡ

پلنوالی د اسمان او ځمکې د پلنوالي په شان دی،

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖ ؕ ذٰلِكَ

د هغو کسانو لپاره تيار کړی شوی دی چې په الله او د هغه په رسولانو ايمان لري، دغه د

فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ ذُو

الله فضل دی، چا ته چې وغواړي دغه ورکوي او الله د

الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢١﴾ مَاۤ اَصَابَ مِنْ

ډېر لوی فضل والا دی(21) نه رسېږي په ځمکه

مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَ لَا فِيْۤ اَنْفُسِكُمْ

کې او نه ستاسو په ځانونو کې کوم مصيبت

اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ اِنَّ

مګر (دا) په کتاب کې دي مخکې له دې نه چې دغه (ځانونه) پيدا کړو، بېشکه

ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا

الله ته دا ډېره اسانه ده(22) لپاره د دې چې تاسو په

عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ

هغه څه خفه نشئ چې له تاسو فوت شول او په هغه څه خوشاله نشئ چې

اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ

تاسو ته هغه درکړل او الله نه خوښوي هېڅ کبرجن

فَخُوْرِ ﴿٢٣﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ

(او) فخر کوونکی(23) هغه کسان چې (پخپله) بخل کوي او (نورو)

النَّاسَ بِالْبُخْلِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ

خلقو ته (هم) د بخل کولو حکم کوي او هغه څوك چې مخ يې وگرځاوه، نو بېشکه

اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٢٤﴾ لَقَدْ اَرْسَلْنَا

الله، هم دى ښه بې پروا۔، ډېر ستايل شوى دى( 24) يقينًا يقينًا مونږ خپل رسولان

رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَ اَنْزَلْنَا مَعَهُمُ

په ښکاره دليلونو سره لېږلي دي او له دوى سره مونږ

الْكِتٰبَ وَ الْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ

كتاب او تله نازل كړي دي، د دې لپاره چې خلق په انصاف

بِالْقِسْطِ ۚ وَ اَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ

ودرېږي او مونږ اوسپنه نازله كړې ده، په دې كې

بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَ

(قوت د) سخت جنگ دى او د خلقو لپاره گټې دي۔ او

لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَ رُسُلَهٗ

د دې لپاره چې الله په هغه چا باندې پوه شي چې
د ده او د ده د رسولانو په نالیدلو مدد کوي،

ع
19

بِالْغَيْبِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝۲۵ وَ

بېشکه الله ډېر قوي، ښه غالب دی(25) او

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّ اِبْرٰهِيْمَ وَ

یقینًا یقینًا مونږ نوح او ابراهیم رسولان لیږلي وو
او

جَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ

د دغو دواړو په اولاده کې مو نبوت او کتاب
ایښی و،

فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَ كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ

نو په دوی کې ځینې هدایت موندونکي دي او په
دوی کې ډېر

فٰسِقُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ

زيات فاسقان دي(26) بیا مونږ د دوی د قدمونو په اثارو

بِرُسُلِنَا وَ قَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

پسې خپل رسولان راولېږل او ورپسې مو راوست عیسٰی زوی د مریمې

وَ اٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ ۙ وَ جَعَلْنَا فِيْ

او مونږ ده ته انجیل ورکړی و۔ او مونږ د ده د پیروي کوونکو په

قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّ رَحْمَةً ؕ

زړونو کې نرمي او مهرباني کول ایښي وو

وَ رَهْبَانِيَّةَ ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا

او رهبانیت چې دغه دوی له ځانه ایجاد کړی و، مونږ په

عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ فَمَا

دوی باندې لازم کړې نه و لېکن (دوی غوره کړې و) د الله د رضامندۍ

رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ

لټولو لپاره، نو دوی د هغه (رهبانیت) رعایت ونه کړ، حق رعایت، نو په دوی کې هغو کسانو ته چې

اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيْرٌ

ایمان یې راوړی و؛ مونږ د دوی اجر ورکړ او په دوی کې

مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

ډېر زیات فاسقان وو(27) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ

تاسو له الله نهووېرېږئ او د هغه په رسول ایمان راوړئ هغه (الله)

كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ

به تاسو ته له خپل رحمت نه دوه حصې درکړي او تاسو لپاره

نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ

به رڼا پیدا کړي چې تاسو به له هغې سره (په پل صراط) ځئ او تاسو به وبخښي او الله ډېر

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۚۙ﴿۲۸﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ

بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی(28) د دې لپاره چې اهل

الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ

کتاب (په دې) ښه پوه شي چې دوی د الله له

فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ

فضله په هېڅ شي باندې قادر نه دي او دا چې بېشکه فضل د الله په لاس

يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ

كې دى، چا ته چې وغواړي هغه ورکوي او الله د

ع
20

الْعَظِيمِ ۝٢٩

ډېر لوى فضل والا دى(29)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ

يقينًا الله د هغې ښځې خبره واورېدله چې له تا سره يې د

زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ

خپل خاوند په باره كې بحث (او سوال و جواب) كاوه او الله ته يې شكايت كاوه۔ او الله

يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ

ستاسو د دواړو سوال او جواب اورېده۔ بېشكه الله ښه اورېدونكى،

بَصِيْرٌ ۝١ اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ

ښه ليدونكى دى(1) هغه كسان چې په تاسو كې

نِّسَآىِٕهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ؕ اِنْ

له خپلو ښځو نه ظهار کوي (ورته وايي چې ته په ما باندې

اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰٓـِٔیْ وَلَدْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ

د خپلې مور د شا په شان يې، نو) دغه (ښځې) د دوی میندې نه دي۔، د دوی میندې نه دي مګر

لَیَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَ زُوْرًا ؕ

هغه چې دوی يې زېږولي دي۔ او بېشکه يقينًا دوی يوه خرابه خبره او دروغ وايي

وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ۝۲ وَالَّذِیْنَ

او بېشکه يقينًا الله ډېر معافي کوونکی، ډېر بخښونکی دی(2) او هغه کسان

یُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآىِٕهِمْ ثُمَّ یَعُوْدُوْنَ

چې له خپلو ښځو نه ظهار کوي، بيا دوی (ماتولو د) هغې خبرې ته راګرځي

لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ

چې ويلي وه، نو د يو مريي ازادول (لازم) دي،
مخکې له دې چې دوی يو بل سره

يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ

مسه کړي (کور والی وکړي) دغه (حکم) دی،
تاسو ته په ده سره پند درکاوه شي۔ او الله

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝٣ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ

په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ښه خبردار دی(
3) نو چا چې (مريی) ونه مونده، نو (په هغه)

فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ

دوه مياشتې پرله پسې روژه نيول (لازم) دي،

قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ

مخکې له دې چې دوی يو بل سره مسه کړي، نو
هغه څوك چې (د دې) توان نه لري،

فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ؕ ذٰلِكَ

نو (په ده) شپيتو مسكينانو ته خوراك وركول (لازم) دي۔

لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَتِلْكَ

دا (حكم) د دې لپاره دى چې تاسو په الله او د هغه په رسول ايمان راوړئ او دغه

حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ

د الله (مقرر كړي) حدونه دي او د كافرانو لپاره ډېر دردوونكى

اَلِيْمٌ ۝۴ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَ

عذاب دى(4) بېشكه هغه كسان چې د الله او

رَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ

د هغه د رسول مخالفت كوي، دوى به هلاك كړى شي،

قَبْلِهِمْ وَ قَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ؕ وَ

لکه چې هلاك کړې شوي وو هغه کسان چې له دوی نه مخکې وو۔ او یقینًا مونږ ډیرې روښانه

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۚ﴿۵﴾ يَوْمَ

نښې (او دلایل) نازلې کړې دي او د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب دی(5) (یاده کړه) هغه ورځ

يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا

چې الله به دوی ټول ژوندي راپورته کړي، پس دوی به په هغو کارونو

عَمِلُوْا ؕ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَ نَسُوْهُ ؕ وَ اللّٰهُ

خبر کړي چې دوی کړي دي، الله هغه محفوظ کړي دي او دوی هغه هېر کړي دي او الله

ع 1

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۠﴿۶﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ

په هر شي باندې ښه شاهد (گواه) دی(6) ایا ته نه یې خبر چې بېشکه

اللّٰهَ يَعۡلَمُ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى

الله پوهېږي په هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او په هر

الۡاَرۡضِ ؕ مَا يَكُوۡنُ مِنۡ نَّجۡوٰى ثَلٰثَةٍ

هغه څه چې په ځمکه کې دي۔، نه وي هېڅ پټه مشوره د درې کسانو

اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمۡ وَلَا خَمۡسَةٍ اِلَّا هُوَ

مګر هغه (الله) د دوی څلورم وي او نه د پنځو کسانو مګر هغه د

سَادِسُهُمۡ وَلَاۤ اَدۡنٰى مِنۡ ذٰلِكَ وَلَاۤ

دوی شپږم وي او نه له دې نه د کمو وي او نه (له دې نه)

اَكۡثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمۡ اَيۡنَ مَا كَانُوۡا ۚ

د زیاتو مګر هغه له دوی سره وي۔، دوی چې هرچېرې وي۔،

ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

بیا به هغه د قیامت په ورځ دوی په هغو عملونو خبر کړي چې دوی کړي دي۔،

اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ۝۷ اَلَمْ تَرَ

بېشکه الله په هر شي باندې ښه پوه دی(7) ایا تا هغه

اِلَی الَّذِیْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰی ثُمَّ

کسان نه دي کتلي چې له پټو مشورو نه منع کړی شوي وو، بیا دوی

یَعُوْدُوْنَ لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَ یَتَنٰجَوْنَ

هغه څه ته راګرځي چې له هغه نه منع کړی شوي وو او دوی

بِالْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ وَ مَعْصِیَتِ

د ګناه او ظلم او د رسول د نافرمانۍ په هکله پټې

الرَّسُوْلِ ۫ وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا

مشورې کوي۔ او کله چې دوی تا ته راشي (نو) تا ته په هغه (کلمې) سره سلام کوي

لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ ۙ وَيَقُوْلُوْنَ فِيْٓ

چې په هغې سره الله تا ته سلام نه دی (مقرر) کړی۔ او دوی په

اَنْفُسِهِمْ لَوْ لَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا

خپلو نفسونو (زړونو) کې وايي: الله مونږ ته په هغه څه ولې عذاب نه راکوي

نَقُوْلُ ۭ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ

چې مونږ يې وايو۔، دوی ته جهنم بس دی، چې دوی به هغه ته ننوځي، پس

فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۸ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

هغه د ورتلو بد ځای دی(8) ای هغو کسانو

اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا

چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو په خپل مینځ کې پټې خبرې

بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ

(او مشورې)، کوئ، نو دګناه کولو او ظلم او د

الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ط

رسول د نافرمانۍ په هکله يو له بله سره پټې مشورې مه کوئ او د نيکۍ او تقویٰ

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ

په هکله يو له بل سره پټې مشورې کوئ۔ او تاسو له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو به

تُحْشَرُوْنَ ﴿٩﴾ اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ

خاص هغه ته ورجمع کولی شئ(9) بېشکه (د ګناه) پټې مشورې يواځې

الشَّيْطٰنِ لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

د شيطان له اړخه دي، د دې لپاره چې دى هغه
كسان غمجن كړي چې ايمان يې راوړى دى، حال

لَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

دا چې دغه (شيطان) دوى ته هېڅ شى ضرر
رسوونكى نه دى مګر د الله په اذن (او ارادې)

وَ عَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

سره۔ او لازم ده چې مومنان خاص په الله

الْمُؤْمِنُوْنَ ⑩ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا

باندې توكل وكړي(10) اى هغو كسانو چې ايمان
يې راوړى دى!

قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِى الْمَجٰلِسِ

كله چې تاسو ته وويل شي: تاسو په مجلس كې
ځاى

فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا

ارت کړئ، نو تاسو ځای ارت کړئ، الله به تاسو
ته ځای ارت کړي او کله

قِيْلَ انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ

چې تاسو ته وویل شي چې (کوم نېك کار ته)
پورته شئ، نو پورته شئ، الله

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا

به په تاسو کې هغه کسان په درجو کې اوچت
کړي چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې

الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

هغوی ته علم ورکړی شوی دی۔ او الله په هغو
کارونو چې تاسو یې کوئ

خَبِيْرٌ ⑪ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا

ښه خبردار دی(11) ای هغو کسانو چې ایمان یې
راوړی دی! کله چې

نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ

تاسو له رسول سره پټه خبره كول غواړئ، نو تاسو له خپلې

يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ

پټې مشورې نه مخكې صدقه وړاندې كړئ، دا تاسو

لَّكُمْ وَ اَطْهَرُ ؕ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ

لپاره ډېر غوره او ډېر پاكيزه دي۔، نو كه تاسو (صدقه) ونه مومئ، نو بېشكه الله ډېر بخښونكى،

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ

بې حده رحم كوونكى دى(12) ايا تاسو له دې نه وويرېدئ

تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ

چې له خپلې پټې مشورې نه مخكې صدقې وړاندې كړئ، نو كله چې

صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ

تاسو (دا کار) ونه کړ او الله پر تاسو باندې
رجوع وکړه،

عَلَيْكُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

نو تاسو لمونځ قايموئ او زكات وركوئ

الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ وَ

او د الله او د هغه د رسول اطاعت كوئ او

اللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١٣ ۧ اَلَمْ تَرَ اِلَى

ع 2

الله په هغو عملونو چې تاسو يې كوئ ښه خبردار
دی(13) ايا تا هغو

الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ

كسانو ته نه دي كتلي چې له داسې قوم سره
دوستي كوي چې الله پر هغوی باندې غضب كړی

عَلَيْهِمْ ؕ مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ وَ

دی۔، دغه کسان (منافقان) نه ستاسو څخه دي او

يَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ

نه له هغوی (کافرانو) څخه دي او دوی په دروغو باندې قسمونه خوري، حال دا

يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا

چې دوی پوهېږي(14) الله د دوی لپاره ډېر سخت عذاب

شَدِيْدًا ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا

تیار کړی دی، بېشکه دوی (چې دي) بد دی هغه (کار)

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

چې دوی به کاوه(15) دوی خپل قسمونه ډال گرځولي دي،

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ

نو دوی (خلق) د الله له لارې نه منع کړل، نو د دوی لپاره

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝١٦ لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ

سپکوونکی عذاب دی(16) د دوی لپاره به د الله

اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

په مقابله کې نه د دوی مالونونه هېڅ شی پکار راشي او نه د دوی اولادونه۔

شَيْـًٔا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ؕ هُمْ

دغه کسان د اور ملګري دي۔ دوی به په هغه

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝١٧ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ

کې تل تر تله وي(17) (یاده کړه) هغه ورځ چې الله

جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ

به دوى ټول ژوندي راپورته کړي، نو دوى به هغه (الله) ته قسمونه خوري، لکه څنګه

لَكُمْ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ؕ

چې تاسو ته قسمونه خوري او دوى به ګمان کوي چې يقيناً دوى په يو (نفعمن) شي (لار) باندې

اَلَاۤ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ۟ اِسْتَحْوَذَ

دي۔، خبردار شئ! بېشکه هم دوى دروغجنان دي(18) په دوى

عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰىهُمْ ذِكْرَ

باندې شيطان غالب شوى دى، نو هغه له دوى نه

اللّٰهِ ؕ اُولٰٓىِٕكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ

د الله ذکر هېر کړى دى، دغه کسان د شيطان لښکر دى۔، خبردار شئ! بېشکه

حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ

د شيطان لښکر (چې دی)، هم دوی

الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ

زيان کاران دي(19) بېشکه هغه کسان چې

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗۤ اُولٰٓئِكَ فِي

د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي، دغه کسان
په ډېر

الْاَذَلِّيْنَ ﴿۲۰﴾ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَ

زياتو ذليلو (خلقو) کې دي(20) الله ليکلي دي
چې خامخا (او) لازمًا به زه غالب کېږم او زما

رُسُلِيْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۱﴾ لَا تَجِدُ

رسولان، بېشکه الله ډېر قوي، ښه غالب دی(21)
ته به داسې

قَوۡمًا يُّؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ

قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د اخرت ايمان لري،

يُوَآدُّوۡنَ مَنۡ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ وَلَوۡ

چې دوی به له هغو کسانو سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي۔

كَانُوۡۤا اٰبَآءَهُمۡ اَوۡ اَبۡنَآءَهُمۡ اَوۡ

اگر چې دغه خلق د دوی پلرونه وي، يا د دوی زامن، يا د دوی

اِخۡوَانَهُمۡ اَوۡ عَشِيۡرَتَهُمۡ‌ؕ اُولٰٓـئِكَ

ورونه، يا د دوی قبيله ويـ، دغه کسان دي چې هغه (الله) د

كَتَبَ فِىۡ قُلُوۡبِهِمُ الۡاِيۡمَانَ وَاَيَّدَهُمۡ

دوی په زړونو کې ايمان ليکلی دی او دوی يې په هغه روح سره

بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ

قوي کړي دي چې د ده له جانبه دی او هغه به دوی داسې جنتونو ته داخل کړي

تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی په هغه کې تل تر تله وي،

فِيْهَا ؕ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ

الله له دوی نه راضي شو او دوی له هغه نه راضي شول۔،

اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ

دغه کسان د الله لښکر دی۔ اګاه شئ! بېشکه د الله لښکر،

ع 3

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ؑ ﴿۲۲﴾

هم دوی کامیاب دي(22)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى(1)

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی

د الله لپاره پاكي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هر هغه څه

الۡاَرۡضِ ۚ وَ هُوَ الۡعَزِیۡزُ

چې په ځمكه كې دي او هم دى ښه غالب، ډېر

الۡحَكِیۡمُ ﴿۱﴾ هُوَ الَّذِیۡۤ اَخۡرَجَ الَّذِیۡنَ

حكمت والا دى(1) دى هغه ذات دى چې كتابي

كَفَرُوۡا مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ مِنۡ

كافران يې له خپلو كورونو نه وويستل۔ په اول ويستلو كې۔،

دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ؕ مَا ظَنَنْتُمْ

تاسو دا ګمان نه کاوه چې دوی به ووځي او دوی

اَنْ يَّخْرُجُوْا وَ ظَنُّوْۤا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ

ګمان کاوه چې د دوی قلاګانې دوی لره د الله (له عذاب)

حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ

نه منع کوونکې (او ساتونکې) دي۔، نو الله دوی ته له

حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۗ وَ قَذَفَ فِيْ

هغه ځایه راغی چې دوی (یې) خیال هم نه کاوه۔ او د دوی په

قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ

زړونو کې یې رعب واچاوه۔، دوی خپل کورونه په

بِاَيۡدِيۡهِمۡ وَاَيۡدِى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ق

خپلو لاسونو او د مومنانو په لاسونو ورانول، نو
ای د

فَاعۡتَبِرُوۡا يٰۤاُولِى الۡاَبۡصَارِ ۝٢ وَلَوۡلَاۤ

سترگو خاوندانو! تاسو عبرت واخلئ(2) او که

اَنۡ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيۡهِمُ الۡجَلَآءَ

الله په دوی باندې بې كوره كېدل نه وی ليكلي

لَعَذَّبَهُمۡ فِى الدُّنۡيَا ط وَلَهُمۡ فِى

(نو) يقينًا دوی ته به يې په دنيا كې عذاب وركړی
و او د دوی لپاره په

الۡاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ۝٣ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ

اخرت كې د اور عذاب دی(3) دا ځكه چې يقينًا
دوی

شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ

د الله او د هغه د رسول مخالفت کړی و او هغه
څوك چې د الله مخالفت وکړي،

اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝۴ مَا

نو بېشکه الله د ډېر سخت عذاب والا دی(4) د

قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا

کجورو هره هغه ونه چې تاسو پرې کړه، یا مو هغه
په خپلو بېخونو ولاړه پرېښوده، نو (دغه) د الله په

قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَ

حکم سره دي او د دې لپاره چې هغه (الله) دغو

لِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ۝۵ وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ

فاسقانو (کافرانو) لره رسوا (او ذلیله) کړي(5) او
هغه (مال) چې الله

عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ

له دوی نه په خپل رسول باندې راګرځولی دی،

عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ

نو تاسو په دغه (مال) باندې نه اسونه ځغلولي

دي او نه اوښان۔ او لیکن الله

يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ

خپل رسولان مسلط کوي په هر هغه چا باندې

چې يې وغواړي۔ او الله

عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ۝۶ مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ

په هر شي باندې ښه قادر دی(6) هغه شی چې

الله

عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَ

په خپل رسول باندې د کلیو له اوسېدونکو نه

راګرځولی دی، نو (هغه) الله لره او

لِلرَّسُوْلِ وَلِذِی الْقُرْبٰی وَ الْیَتٰمٰی وَ

(د الله) رسول لره دی او (او د رسول) خپلوانو او

الْمَسٰکِیْنِ وَ ابْنِ السَّبِیْلِ ۙ کَیْ لَا

یتیمانو او مسکینانو اومسافرو لره دی،

یَکُوْنَ دُوْلَةًۢ بَیْنَ الْاَغْنِیَآءِ مِنْکُمْ ؕ

د دې لپاره چې دغه (مال) په تاسو کې د غنیانو په مینځ کې گردش کوونکی ونه گرځي۔

وَ مَاۤ اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۗ وَ مَا

او رسول چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې

نَهٰکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

هغه تاسو منع کړي، نو تاسو منع شئ او له الله نه وویرېږئ،

وقف لازم

اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝۷ لِلْفُقَرَآءِ

بېشکه الله ډېر سخت عذاب والا دی(7) (دغه مالونه) د هغو فقيرو

الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ

هجرت کوونکو لپاره دي چې له خپلو

دِيَارِهِمْ وَ اَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا

کورونو او خپلو مالونو نه ایستل شوي دي، په داسې حال کې چې دوی د

مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا وَّ يَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَ

الله فضل او رضامندي لټوي او د الله او د هغه د

رَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝۸ وَ

رسول مدد کويـ، همدغه کسان رښتيني دي(8) او

اَلَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَ الْاِيْمَانَ مِنْ

د هغو كسانو لپاره دي چې دوى له دغو
(مهاجرينو) نه مخكې په دغه كور (مدينه) كې او

قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَ

په ايمان كې ځاى نيولى دى۔، دوى له هغو كسانو
سره مينه كوي چې دوى ته يې هجرت كړى دى۔

لَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ

او دوى په خپلو سينو (زړونو) كې هېڅ غصه (او
حسد) نه مومي د هغه (مال) په وجه چې دغو

اُوْتُوْا وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ

(مهاجرينو) ته وركړى شو او دوى په خپلو ځانونو
باندې (هجرت كوونكو ته) ترجيح وركوي اگر كه

كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ؕ۫ وَ مَنْ يُّوْقَ شُحَّ

په دوى باندې تنگي (او حاجت مندي) وي او هر
هغه څوك چې د خپل نفس له بخيلۍ نه بچ كړى

نَفۡسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ۚ﴿۹﴾ وَ

شو، نو همدغه کسان کامیاب (او په مراد رسېدلي) دي(9)

الَّذِيۡنَ جَآءُوۡ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ يَقُوۡلُوۡنَ

او د هغو کسانو لپاره دي چې له دوی (هجرت کوونکو او انصارو) نه وروسته راغلي دي۔؛ دوی

رَبَّنَا اغۡفِرۡ لَنَا وَلِاِخۡوَانِنَا الَّذِيۡنَ

وايي: ای زمونږه ربه: ته مونږ ته مغفرت وکړه او زمونږ هغو وروڼو ته

سَبَقُوۡنَا بِالۡاِيۡمَانِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِيۡ

چې زمونږ نه يې په ايمان سره سبقت (او ړومبی والی) کړی دی او ته

قُلُوۡبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا رَبَّنَاۤ اِنَّكَ

زمونږ په زړونو کې د هغو کسانو لپاره هېڅ بغض (او کينه) مه پيدا کوه چې ايمان يې راوړی دی۔

ع 4 الربع

رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٠﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ

اى زمونږه ربه! بېشکه ته ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی يې(10) ايا تا نه دي کتلي هغو

نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ

کسانو ته چې منافقان شوي دي۔، دوی خپلو هغو ورونړو ته

كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَئِنْ

چې په اهل کتابو کې کافران شوي دي؛ وايي: قسم دی

اُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا

که تاسو وويستل شئ (نو) خامخا ضرور به مونږ هم له

نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّاِنْ

تاسو سره وځو او ستاسو په باره کې به د هيچا خبره هيڅکله هم ونه منو او که

قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ ۗ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ

چېرې له تاسو سره جنگ شروع کړی شي (نو)
مونږ به خامخا ضرور ستاسو مدد کوو۔ او الله

اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۱﴾ لَئِنْ اُخْرِجُوْا لَا

گواهي ورکوي چې بېشکه دوی يقيناً دروغجن
دي(11) قسم دی که دوی وويستل شي (نو)

يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَئِنْ قُوْتِلُوْا لَا

دوی به له دغو سره نه وځي او يقيناً که دوی سره
جنگ وکړی شي (نو) دوی به

يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ

د هغو امداد نه کوي او خامخا که دوی د هغوی
مدد وکړي (، نو)

لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۫ ثُمَّ لَا

ضرور (او) خامخا به دوی خپلې شاگانې (په
تېښته) وگرځوي۔، بيا به

يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۱۲﴾ لَاَنۡتُمۡ اَشَدُّ رَهۡبَةً فِىۡ

د دوی مرسته نه کېږي(12) خامخا تاسو (ای مومنانو!) د دوی په

صُدُوۡرِهِمۡ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ

سينو (زړونو) کې د وېرې په لحاظ له الله نه زيات سخت يئ۔، دغه (وېره) په دې سبب ده چې

قَوۡمٌ لَّا يَفۡقَهُوۡنَ ﴿۱۳﴾ لَا يُقَاتِلُوۡنَكُمۡ

بېشکه دوی داسې قوم دی چې نه پوهېږي(13) دوی به له تاسوسره ټول په ګډه

جَمِيۡعًا اِلَّا فِىۡ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ اَوۡ مِنۡ

جنګ ونه کړي مګر په کلابندو کليو کې، يا

وَّرَآءِ جُدُرٍ ؕ بَاۡسُهُمۡ بَيۡنَهُمۡ شَدِيۡدٌ ؕ

د ديوالونو شا ته۔، د دوی په خپل مينځ کې جنګ ډېر سخت دی۔،

تَحۡسَبُهُمۡ جَمِيۡعًا وَّ قُلُوۡبُهُمۡ شَتّٰى ؕ

ته به په دوی گمان کوې چې سره يو (ملگري) دي، حال دا چې د دوی زړونه بېل بېل دي،

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا

دا په دې وجه چې بېشکه دوی داسې قوم دی چې له

يَعۡقِلُوۡنَ ۚ﴿۱۴﴾ كَمَثَلِ الَّذِيۡنَ مِنۡ

عقل نه کار نه اخلي(14) (د دوی مثال په ايمان نه راوړو کې) د هغو کسانو په شان دی چې له دوی

قَبۡلِهِمۡ قَرِيۡبًا ذَاقُوۡا وَبَالَ اَمۡرِهِمۡ ۚ

نه مخکې په نژدې زمانه کې وو، چې هغوی د خپلو بدو چارو سزا (په دنيا کې) وڅکله او د

وَلَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ۚ﴿۱۵﴾ كَمَثَلِ

هغوی لپاره (په اخرت کې) ډېر دردوونکی عذاب دی(15) (د منافقانو مثال د وعدې په مخالفت

الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ۚ

كيږ) د شيطان په شان دى كله چې هغه انسان ته
ووايي چې كافر شه، نو كله چې هغه (انسان)

فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ

كافر شي، دى (ورته) وايي: بېشكه زه له تا نه
بېزاره (او جدا) يمـ، بېشكه

اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ

زه له الله رب العالمين نه وېرېږم(16) نو د دغو
دواړو

عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ

عاقبت (او انجام) دا دى چې بېشكه دوى دواړه
په اور كې دي،

ع 5

فِيْهَا ۭ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٧﴾ يٰٓاَيُّهَا

چې په ده كې به تل ترتله وي او دغه د ظالمانو
بدله ده(17) اى هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ لْتَنْظُرْ

کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو له الله نه
ووېرېږئ۔ او هر

نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

نفس دې هغه شي ته وګوري چې ده د سبا ورځې
(قیامت) لپاره مخکې لېږلی دی۔ او تاسو له الله

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَ لَا

نه ووېرېږئ ـ، بېشکه الله په هغو عملونو ښه
خبردار دی چې تاسو يې کوئ(18) او تاسو د

تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ

هغو کسانو په شان مه کېږئ چې الله يې هېر کړی
دی، نو هغه (الله) له دوی نه

اَنْفُسَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

خپل ځانونه هېر کړل۔، همدغه کسان

الْفٰسِقُوْنَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ

نافرمانه دي(19) د دوزخ والا او د

النَّارِ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ؕ اَصْحٰبُ

جنت والا سره برابر نه دي-، جنت والا چې دي؛
هم دوی كامياب

الْجَنَّةِ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٢٠﴾ لَوْ اَنْزَلْنَا

(او په مراد رسېدلي) دي(20) كه مونږ دا

هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ

قرآن په يوه غره باندې نازل كړى وى (نو) تا به
خامخا هغه (غر) ليدلى وى،

خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَ

چې وېرېدونكى او د الله له وېرې نه ټوټې ټوټې
كېدونكى به وى او

تِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ

دغه مثالونه (دي) چې مونږ يې د خلقو لپاره بيانوو، د دې

لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢١﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِىْ

لپاره چې دوی فکر وکړي(21) دغه الله هغه ذات دی

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَ

چې له ده نه غير بل هېڅ حق معبود نشته، په غيبو او په ښکاره و عالم دی۔،

الشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمٰنُ

هم دی ډېر مهربان، بې حده

الرَّحِيْمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

رحم کوونکی دی(22) دغه الله هغه ذات دی چې نشته هېڅ حق معبود مگر

هُوَ ۚ اَلۡمَلِكُ الۡقُدُّوۡسُ السَّلٰمُ

هم دی دی، چې (حقيقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي ورکوونکی

الۡمُؤۡمِنُ الۡمُهَيۡمِنُ الۡعَزِيۡزُ الۡجَبَّارُ

(او) امان ورکوونکی دی، نگهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور)،

الۡمُتَكَبِّرُ ؕ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا

ډېر عظمت والا، ډېر لويي والا دی۔، الله پاك دی له هغو (شيانو) نه چې دوی يې

يُشۡرِكُوۡنَ ۝٢٣ هُوَ اللّٰهُ الۡخَالِقُ الۡبَارِئُ

ورسره شريکوي(23) هم دغه الله پيدا کوونکی، (له نيشت نه وجود ته) راوېستونکی،

الۡمُصَوِّرُ لَهُ الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰى ؕ

صورت ورکوونکی دی، خاص هم ده لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي۔،

يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ

د ده پاکي بيانوي هر هغه شی چې په اسمانونو او ځمکه کې دی،

ع 6

وَ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۲۴

او هم دی ښه غالب، ډېر حکمت والا دی۔(24)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَتَّخِذُوۡا

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو

عَدُوِّىۡ وَعَدُوَّكُمۡ اَوۡلِيَآءَ تُلۡقُوۡنَ

زما دښمنان او خپل دښمنان دوستان مه نيسئ،
چې

اِلَيۡهِمۡ بِالۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُوۡا بِمَا

تاسو دوی ته مينه ورورځاندې کوئ، حال دا چې
دوی په

جَآءَكُمۡ مِّنَ الۡحَـقِّ‌ ۚ يُخۡرِجُوۡنَ

هغه حق باندې کافران شوي دي چې تاسو ته
راغلی دی، دوی رسول او تاسو په دې سبب (له

الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

خپل وطنه) وباسي چې تاسو په خپل رب الله باندې ايمان راوړی دی-؛

رَبِّكُمْ ؕ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ

كه چېرې يئ تاسو چې زما په لاره كې د جهاد لپاره او

سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ ۗ تُسِرُّوْنَ

زما د رضامندۍ د غوښتلو لپاره راوتلي يئ-،

تاسو دوی ته په پټه سره (پيغام د) دوستي لېږئ،

اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۗ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ

حال دا چې زه په هغه څه ښه عالم يم چې تاسو

اَخْفَيْتُمْ وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ

يې پټوئ او په هغه څه چې تاسو يې څرګندوئ او په تاسو

مِنۡكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ

كې چې هر څوك دغه (كار) وكړي، نو يقينًا هغه له نېغې

السَّبِيۡلِ ۝١ اِنۡ يَّثۡقَفُوۡكُمۡ يَكُوۡنُوۡا

لارې نه بې لارې شو(1) كه چېرې دوى په تاسو

لَكُمۡ اَعۡدَآءً وَّيَبۡسُطُوۡۤا اِلَيۡكُمۡ

برى ومومي (، نو) تاسو لپاره به دښمنان شي او تاسو ته به در اوږده كړي

اَيۡدِيَهُمۡ وَاَلۡسِنَتَهُمۡ بِالسُّوۡٓءِ وَ

خپل لاسونه او خپلې ژبې په بدۍ سره او

وَدُّوۡا لَوۡ تَكۡفُرُوۡنَ ۝٢ لَنۡ تَنۡفَعَكُمۡ

دوى خوښوي چې تاسو كافران شئ(2) تاسو ته به له سره نفع در ونه رسوي

أَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡۚ يَوۡمَ

ستاسو خپلوياني او نه ستاسو اولاد، د قيامت په ورځ

الۡقِيَٰمَةِۚ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡۚ وَاللّٰهُ بِمَا

به هغه (الله) ستاسو په مينځ کې فيصله کوي۔ او الله هغو کارونو لره چې

تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ۝٣ قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ

تاسو يې کوئ؛ ښه ليدونکی دی(3) يقيناً تاسو لپاره يوه

أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَالَّذِينَ

ښکلې طريقه په ابراهيم او په هغو کسانو کې ده

مَعَهُۥٓۚ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ

چې له هغه سره ملګري وو کله چې هغوی خپل قوم ته وويل: بېشکه مونږ له تاسو نه

مِنۡكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ

او له هغو څیزونو نه چې تاسو یې له الله نه غیر
عبادت کوئ،

اللّٰهِ ۫ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَ

سخت بېزاره (او جدا) یو، مونږ پر تاسو باندې
منکران شوي یو۔ او زمونږ په مینځ کې او

بَيۡنَكُمُ الۡعَدَاوَةُ وَالۡبَغۡضَآءُ اَبَدًا

ستاسو په منیځ کې عداوت (دښمني) او بغض د
تل لپاره څرګند (او واقع) شوی دی۔،

حَتّٰى تُؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَحۡدَهٗۤ اِلَّا قَوۡلَ

تر هغه پورې چې تاسو په الله باندې ایمان راوړئ
چې ایکي یواځې دی۔ خو

اِبۡرٰهِيۡمَ لِاَبِيۡهِ لَاَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ وَمَآ

خپل پلار ته د ابراهیم د دې (استغفار له) خبرې
نه غیر چې: ”زه به تا لپاره

اَمۡلِكُ لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنۡ شَیۡءٍ ؕ رَبَّنَا

خامخا ضرور استغفار غواړم''، او زه تا لپاره د الله
په مقابله کې د هېڅ شي اختيار نه لرم ـ، ای

عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَاِلَيۡكَ اَنَبۡنَا وَاِلَيۡكَ

زمونږه ربه! خاص په تا باندې مونږ توکل کړی
دی او خاص تا ته مو رجوع کړې ده او

الۡمَصِيۡرُ ۝۴ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةً

خاص تا ته بېرته درتګ دی(4) ای زمونږه ربه! ته
مونږ

لِّلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَاغۡفِرۡ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ

د کافران شویو خلقو لپاره (ځای د) فتنې مه
ګرځوه ـ او ته مونږ ته مغفرت وکړه ای زمونږ ربه!

اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ۝۵ لَقَدۡ كَانَ

بېشکه هم دا ته ډېر غالب، ښه حکمت والا يې(5)
يقينًا يقينًا تاسو

لَكُمۡ فِيۡهِمۡ اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنۡ كَانَ

لپاره په دغو کې ډېر ښکلې (قابلِ اقتدا) طریقه ده، د هغه چا

يَرۡجُوا اللّٰهَ وَالۡيَوۡمَ الۡاٰخِرَ ؕ وَمَنۡ

لپاره چې د الله او د اخري ورځې امېد لري او هر هغه

يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡغَنِىُّ

څوك چې مخ واړوي، نو بېشكه الله، هم دی غني (ډېر بې پروا)،

ع 7

الۡحَمِيۡدُ ۝٦ عَسَى اللّٰهُ اَنۡ يَّجۡعَلَ

ښه ستايل شوی دی(6) امېد دی چې الله ستاسو

بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَ الَّذِيۡنَ عَادَيۡتُمۡ

په مینځ کې او د هغو کسانو په مینځ کې دوستي پیدا کړي

مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ؕ وَ اللّٰهُ قَدِيْرٌ ؕ وَ اللّٰهُ

چې تاسو ورسره دښمني کړې ده او الله ښه قادر دی، او الله ډېر بخښونکی،

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۞ لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ

بې حده رحم کوونکی دی(7) الله تاسو له هغو

الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَ

کسانو نه نه منع کوي چې له تاسو سره يې په دين کې نه جنګ کړی دی او

لَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ

نه يې تاسو له خپلو کورونو نه وېستلي يئ دا چې تاسو له

تَبَرُّوْهُمْ وَ تُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

هغوی سره نېکي وکړئ او له دوی سره انصاف وکړئ۔ بېشکه الله

يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝٨ اِنَّمَا يَنْهٰكُمُ

انصاف کوونکي خوښوي(8) بېشکه الله تاسو

اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِى الدِّيْنِ وَ

يواځې له هغو کسانو نه منع کوي چې له تاسو
سره يې په دين کې جنګ کړی دی او

اَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ وَ ظٰهَرُوْا

تاسو يې له خپلو کورونو نه ايستلي يئ او ستاسو
په ايستلو کې يې يو له

عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَ مَنْ

بل سره مدد کړی دی، دا چې تاسو له دوی سره
دوستي وکړئ او هر هغه څوك

يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

چې له دوی سره دوستي وکړي، نو هم دغه کسان

الظّٰلِمُوْنَ ﴿٩﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا

ظالمان دي(9) اى هغو كسانوچې ايمان يې راوړى دى! كله چې

جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ مُهٰجِرٰتٍ

تاسو ته مومنې ښځې راشي، چې هجرت كوونكې وي،

فَامْتَحِنُوْهُنَّ ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ

نو تاسو دوى وازمايئ۔ الله د دوى په ايمان ښه عالم دى۔،

فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا

نو كه تاسو دوى مومنې وپېژنئ (معلومې كړئ)، نو

تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ؕ لَا هُنَّ حِلٌّ

تاسو دوى كافرانو ته بېرته مه لېږئ، ۔ دوى د هغوى (كافرانو) لپاره حلالې نه دي

لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ؕ وَ

او نه هغوی د دغو (مومنو ښځو) لپاره حلال دي
او تاسو (د دغو مومنو ښځو) دغو (کافرو

اٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ؕ وَلَا جُنَاحَ

خاوندانو) ته هغه څه ورکړئ چې دوی لګولي
دي۔ او پر تاسو باندې په دې کې هېڅ ګناه نشته

عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ

چې تاسو له دوی سره نکاح وکړئ (خو په دې
شرط) کله چې تاسو دوی ته د دوی مهرونه

اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ؕ وَلَا تُمْسِكُوْا

ورکړئ۔ او تاسو د کافرو ښځو په عصمتونو
منګولې مه لګوئ (په نکاح کې يې مه ساتئ) او

بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ

تاسو هغه څه وغواړئ چې تاسو (په دغو کافرو
ښځو) لګولي دي۔ او دوی (کافر خاوندان) دې

وَلْيَسْـَٔلُوْا مَآ اَنْفَقُوْا ؕ ذٰلِكُمْ حُكْمُ

هم هغه څه وغواړي چې دوی (په دغو مهاجرو ښځو باندې) لګولي وي۔، دغه د الله حکم دی،

اللّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

الله ستاسو په مینځ کې (په ده سره) فیصله کوي او الله ښه عالم،

حَكِيْمٌ ۝١٠ وَاِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ

ښه حکمت والا دی(10) او که چېرې ستاسو په

اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ

ښځو کې کومه ښځه ستاسو له لاسه ووځي (او) کافرو ته (لاړه شي)

فَاٰتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ

بیا ستاسو وار راشي (غزا وکړئ نو غنیمت واخلئ) نو تاسو هغو کسانو ته چې د هغوی ښځې

مَآ اَنْفَقُوْا ؕ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْٓ اَنْتُمْ

تللي وي هومره (مال) ورکړئ چې هغوی (پر هغو ښځو) لګولی دی او تاسو له هغه الله نه وویرېږئ

بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اِذَا جَآءَكَ

چې تاسو په هغه ایمان لرونکي یئ(11) ای نبي! کله چې تا ته مومني

الْمُؤْمِنٰتُ یُبَایِعْنَكَ عَلٰۤی اَنْ لَّا

ښځې راشي چې له تا سره په دې خبره بیعت کوي چې له

یُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَیْـًٔا وَّ لَا یَسْرِقْنَ وَ لَا

الله سره به هېڅ شی نه شریکوي او غلا به نه کوي او

یَزْنِیْنَ وَ لَا یَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَ لَا

زنا به نه کوي او خپل اولاد به نه وژني او نه به

يَأْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ

داسې بهتان لګوي چې هغه د خپلو

اَيْدِيْهِنَّ وَ اَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ

لاسونو او خپلو پښو په وړاندې جوړوي. او په

فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَ اسْتَغْفِرْ

معروفو (نېکو چارو) کې به ستا نافرماني نه کوي، نو ته دوی بيعت کړه او د دوی لپاره

لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

د الله مغفرت (بخښنه) وغواړه، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده

رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا

رحم کوونکی دی(12) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی!

تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ قَدْ

له هغه قوم سره دوستي مه کوئ چې الله پر
هغوی باندې غضب کړی دی، ـ یقینًا

يَئِسُوْا مِنَ الْاٰخِرَةِ كَمَا يَئِسَ

دوی له اخرته داسې نا امېده شوي دي لکه

ع
8

النصف

الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴿۱۳﴾

کفار چې د قبرونو والاو (له راژوندي کېدو) نه نا
امېده شوي دي(13)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى

د الله پاکي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په

الۡاَرۡضِ‌ۚ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ

ځمکه کې دي او هم دی ښه غالب، ډېر

الۡحَكِيۡمُ ۝١ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لِمَ

حکمت والا دی(1) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو هغه (خبره)

تَقُوۡلُوۡنَ مَا لَا تَفۡعَلُوۡنَ ۝٢ كَبُرَ مَقۡتًا

ولې وايئ چې نه يې کوئ!(2) دا (خبره) د الله په

عِنۡدَ اللّٰهِ اَنۡ تَقُوۡلُوۡا مَا لَا

نیز د غضب په لحاظ لويه ده چې تاسو هغه (خبره) ووايئ

تَفۡعَلُوۡنَ ۝۳ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيۡنَ

چې نه يې کوئ(3) بېشکه الله هغه کسان خوښوي

يُقَاتِلُوۡنَ فِىۡ سَبِيۡلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمۡ

چې د هغه په لاره کې صف تړلي جنګېږي، ګوياکې دوی په قلعي سره په يو بل پورې ټينګ

بُنۡيَانٌ مَّرۡصُوۡصٌ ۝۴ وَاِذۡ قَالَ مُوۡسٰى

کړی شوی (ښه محکم) عمارت دي(4) او (ياد کړه) هغه وخت چې موسٰی

لِقَوۡمِهٖ يٰقَوۡمِ لِمَ تُؤۡذُوۡنَنِىۡ وَقَدۡ

خپل قوم ته وويل: ای زما قومه! تاسو ما ته ولې ضرر رارسوئ، حال دا

تَعْلَمُوْنَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ؕ فَلَمَّا

چې تاسو پوهېږئ چې يقينًا زه تاسو ته د الله رسول يم۔، نو كله چې

زَاغُوْٓا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا

دوى (د الله له حكم نه) كاږه شول، نوالله د دوى زړونه كاږه كړل۔ او الله

يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝ وَاِذْ قَالَ

نافرمانه قوم ته هدايت نه كوي(5) او (ياده كړه) هغه وخت چې

عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

د مريمې زوى عيسٰى وويل: اى بني اسرائيلو!

اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا

بېشكه زه تاسو ته د الله رسول يم، چې د هغه څه تصديق كوونكى يم چې

بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَ مُبَشِّرًا

له ما نه مخکې تېر شوی دی، چې تورات دی او د داسې

بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗۤ

رسول زېری درکوونکی يم چې له ما نه وروسته به راځي، چې د هغه نوم

اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا

احمد دی۔، نو کله چې دوی ته دغه (رسول) له ښکاره معجزو سره راغی (نو) دوی وويل:

هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٦ وَ مَنْ اَظْلَمُ

دا ښکاره جادو دی(6) او له هغه چا نه لوی ظالم

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَ هُوَ

څوك دی چې په الله پورې له ځانه دروغ تړي، حال دا

يُدْعٰۤى اِلَى الْاِسْلَامِ ؕ وَ اللّٰهُ لَا يَهْدِى

چې هغه اسلام ته بللی شي۔ او الله ظالم

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ يُرِيْدُوْنَ

قوم ته هدايت نه کوي(7) دوی غواړي چې

لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَ اللّٰهُ

په خپلو خولو سره د الله رڼا مړه کړي۔ او الله

مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝ هُوَ

د خپلې رڼا پوره کوونکی دی۔ اګر که کافران (دا کار) بد ګڼي(8) دغه (الله)

الَّذِىْۤ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَ دِيْنِ

هغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين سره لېږلی دی،

الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَ لَوْ

د دي لپاره چې دغه (الله) دغه (حق دين) ته په
نورو ټولو دينونو باندې غلبه ورکړي.، اگر که

ع
9

كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ۝٩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

مشرکان دغه (کار) بد ګڼي(9) ای هغو کسانو چې

اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ

ايمان يې راوړی دی! ايا زه تاسو ته داسې تجارت
(سوداګري) وښيم

تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ

چې تاسو ته به له ډېر دردونکي عذاب نه

اَلِيْمٍ ۝١٠ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ

نجات درکوي(10) تاسو په الله او د هغه په رسول
ايمان لرئ او

تُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ

د الله په لاره کې په خپلو مالونو

وَ اَنْفُسِكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ

او خپلو ځانونو سره جهاد کوئ۔، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي۔

كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۙ﴿۱۱﴾ يَغْفِرْ لَكُمْ

که تاسو پوهېږئ(11) هغه به تاسو ته ستاسو

ذُنُوْبَكُمْ وَ يُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

ګناهونه وبخښي او تاسو به داسې جنتونو ته داخل کړي چې د

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَ مَسٰكِنَ طَيِّبَةً

هغو له لاندې ولې بهېږي او د تل اوسېدنې په جنتونو کې په ډېرو پاکېزه استوګنو کې

فِیْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ

(به مو داخل کړي) ـ، دغه ډېره لويه

الْعَظِیْمُ ۟ۙ وَ اُخْرٰی تُحِبُّوْنَهَا ؕ نَصْرٌ

کاميابي ده(12) او بل (نعمت) چې تاسو يې خوښوئ،

مِّنَ اللّٰهِ وَ فَتْحٌ قَرِیْبٌ ؕ وَ بَشِّرِ

د الله له جانبه مرسته او نژدې بری دی او ته مومنانو ته

الْمُؤْمِنِیْنَ ۟ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

زيری ورکړه(13) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی!

كُوْنُوْۤا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ عِیْسَی ابْنُ

تاسو د الله مدد کوونکي شئ، لکه چې د مريمې

مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيّٖنَ مَنۡ اَنۡصَارِیۡۤ اِلَى

زوی عیسٰی حواریانو (خپلو ملګرو) ته ویلي وو:

اللّٰهِ ؕ قَالَ الۡحَوَارِيُّوۡنَ نَحۡنُ اَنۡصَارُ اللّٰهِ

د الله طرف ته زما مدد کوونکي څوك دي؟
حواریانو وویل:

فَاٰمَنَتۡ طَّآئِفَةٌ مِّنۡ بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ وَ

مونږ د الله مدد کوونکي یو، نو په بني

كَفَرَتۡ طَّآئِفَةٌ ۚ فَاَيَّدۡنَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

اسرائیلو کې یوې ډلې ایمان راوړو او بله ډله کافره
شوه، نو مونږ هغو کسانو

ع
10

عَلٰى عَدُوِّهِمۡ فَاَصۡبَحُوۡا ظٰهِرِيۡنَ ﴿۱۴﴾

ته د خپل دښمن په خلاف قوت ورکړو چې ایمان
یې راوړی و، نو دوی غالبه شول(14)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکى دى

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى

د الله لپاره پاکي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په

الۡاَرۡضِ الۡمَلِكِ الۡقُدُّوۡسِ الۡعَزِيۡزِ

ځمکه کې دي، (د هغه الله چې) بادشاه دى، ډېر پاك دى، ښه غالب دى، ډېر

الۡحَكِيۡمِ ۝١ هُوَ الَّذِىۡ بَعَثَ فِى

حکمت والا دى(1) دغه (الله) همغه ذات دى چې

الۡاُمِّيّٖنَ رَسُوۡلًا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُوۡا عَلَيۡهِمۡ

اميانو ته يې له همدوى څخه يو رسول لېږلى دى، چې دوى

اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَ

ته د هغه (الله) ايتونه تلاوت كوي او د دوى
تزكيه كوي او دوى ته كتاب او

الْحِكْمَةَ ۗ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ

حكمت (سنت) ښيي او بېشكه شان دا دى چې
دوى له ده نه مخكې يقينًا په

ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۙ ۝٢ وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا

ښكاره ګمراهۍ كې وو(2) او له دوى څخه نورو
ته (هم) چې لا تر اوسه دوى

يَلْحَقُوْا بِهِمْ ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

هغو (پخوانيو) ته نه دي رسېدلي او هم دى ښه
غالب،

الْحَكِيْمُ ۝٣ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ

ډېر حكمت والا دى(3) دغه د الله فضل دى چې
دا هغه چا ته وركوي

مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ ذُو الۡفَضۡلِ

چې يې وغواړي او الله د ډېر لوی فضل

الۡعَظِيۡمِ ۝۴ مَثَلُ الَّذِيۡنَ حُمِّلُوا

والا دی(4) د هغو کسانو حال چې په هغوی

التَّوۡرٰىةَ ثُمَّ لَمۡ يَحۡمِلُوۡهَا كَمَثَلِ

باندې تورات وربار کړی شوی و (د تورات مکلف کړی شوي وو)، بيا دوی هغه پورته نه کړ؛ د هغه

الۡحِمَارِ يَحۡمِلُ اَسۡفَارًا ؕ بِئۡسَ مَثَلُ

خره د حال په شان دی چې کتابونه يې په شا کړي وي، د

الۡقَوۡمِ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ وَ

هغو کسانو بد مثال (حال) دی چې د الله د ايتونو تکذيب کوي

اللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ۝٥ قُلۡ

او الله ظالم قوم ته هدايت نه كوي(5) ته (دوى ته) ووايه:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ هَادُوۡۤا اِنۡ زَعَمۡتُمۡ

اى هغو كسانو چې يهوديان شوي دي!

اَنَّكُمۡ اَوۡلِيَآءُ لِلّٰهِ مِنۡ دُوۡنِ النَّاسِ

كه تاسو دا (غلطه) عقيده لرئ چې يقينًا تاسو له نورو خلقو نه غير د الله دوستان يئ،

فَتَمَنَّوُا الۡمَوۡتَ اِنۡ كُنۡتُمۡ

نو تاسو د مرگ ارزو وكړئ، كه چېرې

صٰدِقِيۡنَ ۝٦ وَلَا يَتَمَنَّوۡنَهٗۤ اَبَدًاۢ بِمَا

تاسو رښتيني يئ(6) او دوى به د دغه (مرگ) ارزو هيڅكله هم ونه كړي،

قَدَّمَتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ

په سبب د هغو (كارونو) چې د دوى لاسونو
مخكې ليږلي دي۔ او الله په ظالمانو

بِالظّٰلِمِيۡنَ ۞ قُلۡ اِنَّ الۡمَوۡتَ الَّذِىۡ

باندې ښه پوه دى(7) ته (دوى ته) ووايه: بېشكه
هغه مرگ

تَفِرُّوۡنَ مِنۡهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِيۡكُمۡ ثُمَّ

چې تاسو له هغه نه تښتئ، پس يقيناً هغه له تاسو
سره ملاقات كوونكى دى، بيا به

تُرَدُّوۡنَ اِلٰى عٰلِمِ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ

تاسو د غيبو او ښكاره و عالم ذات ته بوتلى شئ،
نو هغه به تاسو په هغو

فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ

عملونو خبر كړي چې

ع
11

تَعْمَلُوْنَ ۝٨ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا

تاسو به كول(8) اى هغو كسانو چې ايمان يې
راوړى دى! كله چې

نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ

د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وويلى شي،

فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَ ذَرُوا الْبَيْعَ ؕ

نو تاسو د الله ذكر ته منډې وهئ او اخيستل
خرڅول پريږدئ،

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

دا تاسو لپاره ډېر غوره دي كه

تَعْلَمُوْنَ ۝٩ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ

تاسو پوهېږئ(9) نو كله چې لمونځ ادا كړى شي،
نو تاسو په

فَانۡتَشِرُوۡا فِی الۡاَرۡضِ وَ ابۡتَغُوۡا مِنۡ

ځمکه کې خواره شئ او د الله له فضل څخه

فَضۡلِ اللّٰهِ وَ اذۡکُرُوا اللّٰهَ کَثِیۡرًا

(څه) ولټوئ او تاسو الله ډېر زيات يادوئ، د دې لپاره

لَّعَلَّکُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿۱۰﴾ وَ اِذَا رَاَوۡا تِجَارَۃً

چې تاسو کامياب شئ(10) او کله چې دوی تجارت (سوداګري)،

اَوۡ لَهۡوَا انۡفَضُّوۡۤا اِلَیۡهَا وَ تَرَکُوۡکَ

يا تماشه وليدله (نو) دوی هغې ته خواره شول او ته

قَآئِمًا ؕ قُلۡ مَا عِنۡدَ اللّٰهِ خَیۡرٌ مِّنَ

يې ولاړ پرېښودلې، ته (دوی ته) ووايه: هغه څه چې له الله سره دي له دغې تماشې نه

اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرُ

او له دغي سوداګرۍ نه ډېر غوره دي۔ او الله تر
ټولو

ع
12

الرّٰزِقِيْنَ ۝ؑ۱۱

ښه رزق ورکوونکی دی(11)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ

(ای نبي!) کله چې تا ته منافقان راشي (نو) دوی
وايي:

اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ

وقف لازم

مونږ شاهدي ورکوو چې بېشکه ته يقينًا د الله
رسول يې او الله پوهېږي چې ته بېشکه

لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

(او) يقينًا د هغه رسول يې۔ او الله شاهدي
ورکوي چې بېشکه منافقان يقينًا

لَكٰذِبُوْنَ ۚ﴿۱﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

دروغ ويونکي دي(1) دوی خپل قسمونه ډال
گرځولي دي،

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ

نو دوی د الله له لارې نه منع شول، بېشکه دوی چې دي، بد دي

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۲ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

هغه کار چې دوی يې کوي(2) دا ځکه چې يقينًا دوی

اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

ايمان راوړ، بيا کافر شول، نو د دوی په زړونو باندې مهر ولګول شو،

فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝۳ وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ

پس (اوس نو) دوی نه پوهېږي(3) او کله چې ته دوی ووينې (نو)

تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ؕ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا

تا د دوی جسمونه (تنې) په تعجب کې اچوي۔ او که دوی خبرې کوي، (نو)

تَسۡمَعۡ لِقَوۡلِهِمۡ ؕ كَاَنَّهُمۡ خُشُبٌ

ته د دوی خبرو ته غوږږدې، حال دا چې ګوياکې دوی ودرول شوي وچ لرګي دي۔،

مُّسَنَّدَةٌ ؕ يَحۡسَبُوۡنَ كُلَّ صَيۡحَةٍ

هر اوچت غږ دخپل ځان په خلاف ګڼي۔،

عَلَيۡهِمۡ ؕ هُمُ الۡعَدُوُّ فَاحۡذَرۡهُمۡ ؕ

هم دوی دښمنان دي، لهذا ته له دوی نه محتاط اوسه۔،

قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤۡفَكُوۡنَ ۝٤ وَاِذَا

الله دې دوی هلاك كړي، څرنګه دوی ګرځولی شي(4) او كله چې

قِيۡلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡا يَسۡتَغۡفِرۡ لَكُمۡ

دوی ته وويل شي: تاسو راشئ چې د الله رسول ستاسو لپاره مغفرت وغواړي

رَسُوۡلُ اللّٰهِ لَوَّوۡا رُءُوۡسَهُمۡ وَ

(نو) دوی خپل سرونه تاو کړي۔ او

رَاَيۡتَهُمۡ يَصُدُّوۡنَ وَ هُمۡ

ته دوی وینې چې اعراض کوي، په داسې حال کې

مُّسۡتَكۡبِرُوۡنَ ۝٥ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ

چې تکبر کوونکي وي(5) د دوی لپاره یو شان ده که

اَسۡتَغۡفَرۡتَ لَهُمۡ اَمۡ لَمۡ تَسۡتَغۡفِرۡ

ته د دوی لپاره مغفرت (بخښنه) وغواړې، یا ته

لَهُمۡ ؕ لَنۡ يَّغۡفِرَ اللّٰهُ لَهُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا

دوی لپاره مغفرت ونه غواړې، الله به دوی هیڅ کله هم ونه بخښي، بېشکه الله

يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٦﴾ هُمُ

نافرمان قوم ته هدايت نه کوي(6) هم دوی هغه

الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ

کسان دي چې وايي: تاسو په هغو کسانو باندې
مال مه لګوئ

عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ۭ وَلِلّٰهِ

چې له رسول الله سره دي، تر دې چې دوی
خواره شي۔ او خاص د الله لپاره

خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ

د اسمانونو او ځمکې خزانې دي او لیکن

الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٧﴾ يَقُوْلُوْنَ

منافقان نه پوهېږي(7) دوی وايي چې

لَئِنْ رَّجَعْنَآ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ

قسم دی که مونږ مديني ته بېرته وګرځو (نو) تر

تولو عزتمن (خلق)

الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَ

به له دغې (مديني) نه تر ټولو ذليله (خلق)

خامخا ضرور وباسي او عزت (خو) خاص د الله

لِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ

لپاره دی او د هغه د رسول لپاره دی او د مومنانو

لپاره دی او لېكن

ع 13

الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۠ ۸ يٰۤاَيُّهَا

منافقان پوهه نه لري(8) ای هغو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَ

کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو دې د الله

له ذکر نه نه خپل مالونه

لَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ

غافله کړي او نه خپل اولادونه۔ او هغه څوك چې

يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

دا کار وکړي، نو همدغه زيانکاران

الْخٰسِرُوْنَ ۝٩ وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا

(تاوانيان) دي(9) او تاسو له هغه (مال) نه چې

رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ

مونږ تاسو ته درکړی دی څه انفاق کوئ، مخکې
له دې نه چې په تاسو کې يو کس

الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى

ته مرگ راشي، بيا دا ووايي: ای زما ربه! ته ما تر
نژدې مودې

اَجَلٍ قَرِيۡبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنۡ مِّنَ

پورې ولې نه وروسته کوې، پس چې زه خیرات (صدقه) وکړم او له

الصّٰلِحِيۡنَ ۝١٠ وَلَنۡ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفۡسًا

صالحانو (نېکانو) څخه شم(10) او الله هېڅ یو نفس نه وروسته کوي

اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ؕ وَاللّٰهُ خَبِيۡرٌۢ بِمَا

کله چې د هغه اجل (نېټه) راشي۔ او الله په هغو عملونو ښه خبردا دی

ع 14

تَعۡمَلُوۡنَ ۝١١

چې تاسو يې کوئ(11)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى

د الله پاکي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونوکې
دي او هر هغه څه چې په

الۡاَرۡضِ‌ۚ لَهُ الۡمُلۡكُ وَلَهُ الۡحَمۡدُ‌ ۖ وَ

ځمکه کې دي، خاص د هغه لپاره بادشاهي ده او
خاص د هغه لپاره تعريف د کمال صفتونو دي او

هُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ۝۱ هُوَ الَّذِىۡ

هغه په هر شي باندې ښه قادر دی(1) هم دغه
(الله) هغه ذات

خَلَقَكُمۡ فَمِنۡكُمۡ كَافِرٌ وَّمِنۡكُمۡ

دی چې تاسو يې پيدا کړي يئ، نو په تاسو کې
ځيني کافر دي او ځيني

مُّؤْمِنٌ ۭ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

په تاسو کې مومن دي۔ او الله هغو کارونو لره چې تاسو يې کوئ

بَصِيْرٌ ۝ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ

ښه ليدونکی دی(2) ده اسمانونه او ځمکه په

بِالْحَقِّ وَ صَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ

حقه سره پيدا کړي دي او ستاسو صورتونه يې جوړ کړل، پس ستاسو صورتونه يې ډېر ښکلي

صُوَرَكُمْ ۚ وَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝ يَعْلَمُ مَا

کړي دي او خاص ده ته بېرته ورتګ دی(3) دی پوهېږي په

فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ يَعْلَمُ مَا

هر هغه څه چې په اسمانونو اوځمکه کې دي او پوهېږي په

تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

هغه څه چې تاسو يې پټوئ او په هغه څه چې
تاسويې څرګندوئ۔ او الله د سينو په (پټو)

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝۴ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا

خبرو هم ښه عالم دی(4) ايا تاسو ته د هغو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۫ فَذَاقُوْا

خلقو خبر نه دی راغلی چې له دې نه مخکې
کافران شوي وو،

وَبَالَ اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ

نو هغوی د خپل عمل سزا وڅکله او د هغوی
لپاره ډېر

اَلِيْمٌ ۝۵ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ

دردوونکی عذاب دی(5) دا په دې سبب چې
بېشکه شان دا دی چې دوی ته به

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ

د دوی رسولان له ښکاره معجزو سره راتلل، نو دوی به ویل چې ایا مونږ ته به بشر (انسانان)

يَّهْدُوْنَنَا ۡ فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا وَّ اسْتَغْنَى

لاره ښيي، نو دوی کافر شول او مخ يې وګرځاوه او الله استغنا وکړه

اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۞٦ زَعَمَ

او الله ډېر بې پروا، ښه ستايل شوی دی(6) کافران

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ؕ قُلْ

شوي کسان (دا غلطه) عقيده ساتي چې دوی به له سره بيا راژوندي نه کړی شي۔، ته (دوی ته)

بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا

ووايه: ولې نه! زما په خپل رب قسم دی چې تاسو به خامخا ضرور بيا

عَمِلْتُمْ ؕ وَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

راژوندي کړی شئ، بیا به تاسو ته خامخا ضرور د خپلو کړو عملونو خبر درکولی شي او دا (کارونه)

يَسِيْرٌ ۝٧ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ

الله ته ډېر اسان دي(7) نو تاسو په الله او د هغه په رسول او

النُّوْرِ الَّذِيْۤ اَنْزَلْنَا ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا

په هغې رڼا (قرآن) باندې ایمان راوړئ چې مونږ نازله کړې ده او الله

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝٨ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ

په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ؛ ښه خبردار دی (8) (یاده کړه) هغه ورځ چې تاسو به دی (الله) د

لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ وَ

جمع کېدلو ورځې ته راجمع کړي.، دغه د تاوان د ښکاره کېدو ورځ ده او

مَنۡ يُّؤۡمِنۡ بِاللّٰهِ وَيَعۡمَلۡ صَالِحًا

هغه څوك چې په الله ایمان راوړي او نېك عمل وكړي (، نو)

يُّكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدۡخِلۡهُ جَنّٰتٍ

هغه به له هغه نه د هغه ګناهونه لرې كړي او داسې جنتونو ته به يې داخل كړي چې د هغو له

تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ

لاندې ولې بهېږي، چې دوى به په هغو كې

فِيۡهَاۤ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ۝٩ وَ

تل ترتله وي.، دغه ډېره لويه كاميابي ده(9) او

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَكَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَاۤ

هغه كسان چې كافران شوي دي او زمونږ د ایتونو تكذيب يې كړى دى

أُولٰٓئِكَ أَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

دغه کسان د اور والا دي، چې په ده کې به همېشه وي

وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۰﴾ مَآ أَصَابَ مِنْ

او هغه د ورتلو بد ځای دی۔(10) هېڅ یو مصیبت

ع 15 الثلثة

مُّصِيْبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ

نه رسېږي مګر د الله په حکم سره او هغه څوك چې په الله ایمان راوړي

بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

(، نو) هغه به د ده زړه ته هدایت وکړي او الله په هر شي باندې

عَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾ وَأَطِيْعُوا اللّٰهَ وَأَطِيْعُوا

ښه عالم دی(11) او تاسو د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ،

الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى

نو كه تاسو وګرځېدئ، نو يقينًا زمونږ د رسول په

رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۲﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ

ذمه خو يواځې ښكاره پېغام رسونه ده(12) الله

(چې دى) نشته هېڅ لايق د عبادت

اِلَّا هُوَ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

مګر هم دى دى او لازم ده چې مومنان خاص په

الله باندې

الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ

توكل وكړي(13) اى هغو كسانو چې ايمان يې

راوړى دى! بېشكه

مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا

ستاسو په ښځو او اولادونو كې ځينې ستاسو

دښمنان دي،

لَكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا وَ

نو تاسو له دوی نه محتاط اوسئ او که چېرې
تاسو معافي وکړئ او

تَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

تېر شئ او بخښنه وکړئ، نو بېشکه چې الله ډېر
بخښونکی، بې حده

رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ

رحم کوونکی دی(14) بېشکه هم دا خبره ده چې
ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه ازموينه

فِتْنَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ

(او فتنه) ده او الله (چې دی) له هغه سره ډېر

عَظِيْمٌ ﴿۱۵﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَ

لوی اجر دی(15) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ
څومره چې تاسو کولی شئ او

اسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا خَيْرًا

واورئ او اطاعت وکړئ او انفاق کوئ۔ (دا به) ستاسو د ځانونو لپاره خير وي۔

لِّاَنْفُسِكُمْ ؕ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ

او هغه څوك چې د خپل نفس له د بخيلۍ نه وساتل شو،

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِنْ

نو هم دغه خلق کامياب دي(16) که چېرې تاسو

تُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعِفْهُ

الله ته قرض ورکړئ، ښه قرض، (نو) دى به دغه (قرض) تاسو لپاره

لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ

دوه چنده کړي او تاسو ته به بخښنه وکړي او الله ښه قدردان،

حَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَ الشَّهَادَةِ

ښه تحمل والا دی(17) د غیبو او ښکاره و عالم دی، ښه غالب،

ع 16

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾

ښه حکمت والا دی(18)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اِذَا طَلَّقۡتُمُ النِّسَآءَ

ای نبي! (دوی ته ووایه) کله چې تاسو (خپلې) ښځې طلاقول غواړئ،

فَطَلِّقُوۡهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَ اَحۡصُوا

نو دوی په خپل (مناسب) وخت د عدت کې طلاقې کړئ او

الۡعِدَّةَ ۚ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّکُمۡ ۚ لَا

عدت وشمېرئ او له خپل رب الله نه ووېرېږئ۔ (او) تاسو دغه (خپلې ښځې)

تُخۡرِجُوۡهُنَّ مِنۡۢ بُیُوۡتِهِنَّ وَ لَا

د دوی له کورونو نه مه وباسئ او دوی دې (پخپله) هم نه

يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ

وځي مګر په دې حال کې چې دوی ښکاره بې حيايي وکړي۔

مُّبَيِّنَةٍ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ

او دغه د الله حدونه دي او هر څوك چې د

يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ

الله له حدونو نه تېر شي، نو يقينًا ده په خپل ځان ظلم وکړ، (ای طلاق ورکوونکيه!)

لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ

ته نه پوهېږې، کېدی شي چې الله له دغه نه وروسته کوم (ښه)

اَمْرًا ۝۱ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ

کار پيدا کړي(1) نو کله چې دغه (ښځې) خپلې نېټې ته

فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ

رسېږي، نو (یا) خو تاسو دوی په ښکه طریقه (په رجوع کولو سره په خپل نکاح کې) وساتئ، یا په

بِمَعْرُوْفٍ وَّ اَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ

ښکه طریقه له دوی نه جدا شئ۔ او په تاسو کې دوه عدل والا کسان (په دې کار)

مِّنْكُمْ وَ اَقِیْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ

گواهان ونیسئ او تاسو (ای گواهانو) گواهي د الله لپاره ادا کړئ۔، دا (حکم چې دی)

یُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَ

په ده سره هغه چا ته نصیحت کاوه شي چې په الله او

الْیَوْمِ الْاٰخِرِ ۬ؕ وَ مَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ

د اخرت په ورځ ایمان لري او هغه څوك چې له الله نه ووېرېږي،

يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۝٢ وَّيَرْزُقْهُ مِنْ

(نو) هغه به د ده لپاره د وتلو ځه ځای پیدا کړي(
2) او ده ته به له هغه ځایه رزق

حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ؕ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى

ورکړي چې دی به ګمان هم نه کوي۔ او هغه څوك
چې په

اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ؕ

الله باندې توکل وکړي، نو همدی د ده لپاره بس
(او کافی) دی، بېشکه الله خپل کار ته رسېدونکی

قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝٣ وَ

دی۔، یقینًا الله د هر شي لپاره یوه اندازه مقرر
کړې ده(3) او

الّٰٓـِٔيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ

هغه ښځې چې ستاسو په ښځو کې د حیض له
راتلو

نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ

نه نااميده شوي دي۔ که چېرې تاسو شك
وکړئ، نو د دوى عدت درې

اَشْهُرٍ ۙ وَّ الّٰٓـِٔیْ لَمْ یَحِضْنَ ؕ وَ اُولَاتُ

مياشتې دى او هغه (جينکۍ) چې لا حايضه شوې
نه وي۔ او

الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ یَّضَعْنَ

امېدوارې (حامله) ښځې (چې دي) د دوى عدت

حَمْلَهُنَّ ؕ وَ مَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ

دا دى چې حمل (بچى) وزېږوي۔ او هغه څوك
چې له الله نه ووېرېږي، هغه به د ده لپاره په كار

مِنْ اَمْرِهٖ یُسْرًا ۝۴ ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ

کې ډېره اسانې پيدا کړي(4) دغه د الله حکم دى،
چې

اَنْزَلَهٗۤ اِلَيْكُمْ ؕ وَ مَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ

تاسو ته يې دغه نازل كړى دى۔ او هغه څوك چې
له الله نه ووېرېږي،

عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَ يُعْظِمْ لَهٗۤ

هغه به له ده نه د ده ګناهونه لرې كړي او د ده
لپاره به

اَجْرًا ۝۵ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ

اجر ډېر لوى كړي(5) تاسو دغه ښځې (په عدت
كې) د

سَكَنْتُمْ مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَ لَا

خپل طاقت سره سم د هغه ځاى په څه حصه كې
اوسوئ چې تاسو (په كې) اوسېږئ۔

تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ؕ وَ اِنْ

او تاسو دوى ته ضرر مه رسوئ، د دې لپاره چې
تاسو په دوى باندې تنګسيا راولئ۔

كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ

او که چېرې دغه (ښځې) امېدوارې (حامله) وي، بیا نو تاسو په دوی باندې خرچه کوئ تر

حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ

هغه پورې چې دوی خپل حمل وزېږوي۔، نو که دوی ستاسو (اولاد) لپاره تی ورکړي،

لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا

نو تاسو دوی ته د دوی مزدوري ورکړئ او تاسو په خپل مینځ کې په ښې طریقې

بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ ۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ

سره یو له بله سره مشوره کوئ۔ او که تاسو یو له بل سره سختي وکړئ، نو ده (اولاد) ته به

فَسَتُرْضِعُ لَهٗٓ اُخْرٰى ۝٦ لِيُنْفِقْ ذُوْ

عنقریب بله ښځه تی ورکړي(6) د فراخۍ والا دې له

سَعَةٍ مِّنۡ سَعَتِهٖ ؕ وَ مَنۡ قُدِرَ عَلَيۡهِ

خپلې فراخۍ نه خرچه وکړي او هغه څوك چې په هغه باندې

رِزۡقُهٗ فَلۡيُنۡفِقۡ مِمَّاۤ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ؕ لَا

خپل رزق تنګ کړی شوی وي، نو هغه دې له هغه (مال) نه څه خرچ کړي

يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفۡسًا اِلَّا مَاۤ اٰتٰىهَا ؕ

چې الله ده ته ورکړی دی. الله هېڅ يونفس نه مکلف کوي مگر هومره چې ده ته يې ورکړی

ع 17

سَيَجۡعَلُ اللّٰهُ بَعۡدَ عُسۡرٍ يُّسۡرًا ۟ وَ

دی. ژر ده چې الله به له تنګۍ نه پس اساني راولي(7) او

كَاَيِّنۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ عَتَتۡ عَنۡ اَمۡرِ رَبِّهَا

ډېر کلي وو چې د خپل رب او د هغه د رسولانو له حکم نه يې سرکشي کړې وه، نو مونږ له هغوی

وَ رُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا ۙ

سره حساب وکړ، ډېر سخت حساب کول۔ او مونږ هغوی ته

وَّ عَذَّبْنٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ۝٨ فَذَاقَتْ

عذاب ورکړ ډېر ناکاره عذاب ورکول(8) نو هغوی د خپل

وَبَالَ اَمْرِهَا وَ كَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا

کار سزا وڅکله او د دوی د کار انجام زیان

خُسْرًا ۝٩ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا

(او تاوان) شو(9) الله د دوی لپاره ډېر سخت

شَدِيْدًا ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰۤاُولِى الْاَلْبَابِ ۛۚ

عذاب تیار کړی دی۔، نو تاسو له الله نه ووېرېږئ ای د خالصو

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا ۛۚ قَدۡ اَنۡزَلَ اللّٰهُ اِلَيۡكُمۡ

عقلونو خاوندانو، هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، یقینًا الله تاسو ته ذکر (قرآن) نازل

ذِكۡرًا ۙ﴿۱۰﴾ رَّسُوۡلًا يَّتۡلُوۡا عَلَيۡكُمۡ اٰيٰتِ

کړی دی(10) (او) رسول (یې رالیږلی دی) چې تاسو ته د

اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ لِّيُخۡرِجَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ

الله ایتونه لولي، چې ښه ښرګندوونکي دي، د دې لپاره چې دغه (الله) هغو کسانو لره چې ایمان یې

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى

راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، له تیارو نه

النُّوۡرِ ؕ وَمَنۡ يُّؤۡمِنۡ بِاللّٰهِ وَيَعۡمَلۡ

رڼا ته وباسي۔ او هغه څوك چې په الله ایمان راوړي او نېك عمل وکړي

صَالِحًا يُّدۡخِلۡهُ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ

(نو) دى به دغه كس داسې جنتونو ته داخل كړي
چې د هغو له

تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَاۤ اَبَدًا ؕ

لاندې ولې بهيږي، چې دوى به په هغو كې تل
ترتله وي۔،

قَدۡ اَحۡسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزۡقًا ﴿۱۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِىۡ

يقينًا الله د ده لپاره رزق ډېر ښه كړى دى(11)
الله هغه ذات دى

خَلَقَ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الۡاَرۡضِ

چې اوه اسمانونه يې پيدا كړي دي او له ځمكې

مِثۡلَهُنَّ ؕ يَتَنَزَّلُ الۡاَمۡرُ بَيۡنَهُنَّ

نه هم د دغو په مثل۔، (د الله) امر د دوى په مينځ
كې نازليږي،

لِتَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ۙ

د دي لپاره چې تاسو پوه شي چې يقينًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی

وَّ اَنَّ اللّٰهَ قَدۡ اَحَاطَ بِکُلِّ شَیۡءٍ

او دا چې يقينًا الله د علم په لحاظ هر شی

ع 18

عِلۡمًا ﴿۱۲﴾

راګېر کړی دی(12)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ

ای نبي! ته ولې هغه شی حراموې (بندوې) چې الله تا ته حلال کړی دی؟

لَكَ ۚ تَبۡتَغِیۡ مَرۡضَاتَ اَزۡوَاجِكَ ؕ وَ

ته د خپلو ښځو خوشحالول (او راضی کول) غواړې۔ او الله ډېر بخښونکی،

اللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۱﴾ قَدۡ فَرَضَ اللّٰهُ

بې حده رحم کوونکی دی(1) یقینًا الله تاسو لپاره

لَكُمۡ تَحِلَّةَ اَیۡمَانِكُمۡ ۚ وَاللّٰهُ

ستاسو د قسمونو حلالوالی مقرر کړی دی۔ او الله

مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝٢ وَ

ستا مددګار دی، او هم دی ښه پوه، ښه حکمت والا دی(2) او (یاد کړه)

اِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ

هغه وخت چې نبي په خپلو ښځو کې کومې ته په راز کې

حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ

یوه خبره وویله-، نو کله چې هغې په دې سره (بلې ته) خبر ورکړ- او الله

عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ

ده ته دغه (خبره) ښکاره کړه (نو) ده ځینې خبره وښودله او له ځینې

بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ

نه یې اعراض وکړ-، نو کله چې ده هغه (ښځه) په دې خبره کړه

اَنۡۢبَاَكَ هٰذَا ؕ قَالَ نَبَّاَنِىَ الۡعَلِيۡمُ

(نو) هغې وويل: ته په دې باندې چا خبر کړې؟
ده وويل: ما ته ډېر پوه (او) ښه خبردار

الۡخَبِيۡرُ ۝۳ اِنۡ تَتُوۡبَاۤ اِلَى اللّٰهِ فَقَدۡ

ذات خبر راکړ (3) که چېرې تاسو دواړه الله ته
توبه وباسئ، نو يقينًا

صَغَتۡ قُلُوۡبُكُمَا ۚ وَاِنۡ تَظٰهَرَا عَلَيۡهِ

ستاسو د دواړو زړونه مايله شوي دي او که د ده
(نبي) په خلاف تاسو يوه له بلې سره مدد وکړئ،

فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوۡلٰٮهُ وَجِبۡرِيۡلُ وَ

نو بېشکه چې الله، همغه د ده مددګار دی۔ او
جبريل او

صَالِحُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۚ وَالۡمَلٰٓـئِكَةُ بَعۡدَ

صالح مومنان او ملايك له دې نه پس

ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ ۝٤ عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ

مددگاران دي(4) که دی تاسو ته طلاق درکړي (،
نو) امېد دی

اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ

چې د ده رب به ده ته په بدل کې له تاسو نه ډېرې
غوره ښځې ورکړي،

مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ

چې مسلمانانې، مومنانې، اطاعت گزارې، توبه
اېستونکې،

عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّ

عبادت کوونکې، روژه نیوونکې، (هجرت
کوونکې) خښتن لیدلې او

اَبْكَارًا ۝٥ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا

پېغلې به وي(5) ای هغو کسانو چې ایمان یې
راوړی دی!

اَنۡفُسَكُمۡ وَاَهۡلِيۡكُمۡ نَارًا وَّقُوۡدُهَا

تاسو خپل ځانونه او خپل اهل له داسې اور نه بچ وساتئ چې د

النَّاسُ وَالۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلٰٓٮِٕكَةٌ

هغه خشاك خلق او كاڼي دي، په ده باندې ډېر سخت خويه، قوتناك ملايك مقرر دي،

غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعۡصُوۡنَ اللّٰهَ مَاۤ

چې دوی په هغه څه كې د الله نافرمانۍ نه كوي چې

اَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُوۡنَ مَا

دوی ته يې حكم كړی وي۔ او دوی هغه څه كوي چې دوی

يُؤۡمَرُوۡنَ ۝٦ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَا

ته يې حكم كولی شي(6) ای هغو كسانو چې كافران شوي دي!

تَعۡتَذِرُوا الۡيَوۡمَ ؕ اِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا

تاسو نن ورځ عذرونه مه وړاندې کوئ۔ بېشکه
همدا خبره ده چې تاسو ته به د هغه څه بدله

ع
19

كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

درکولی شي چې تاسو به کول(7) ای هغو کسانو
چې ایمان یې راوړی دی!

تُوۡبُوۡۤا اِلَى اللّٰهِ تَوۡبَةً نَّصُوۡحًا ؕ عَسٰى

تاسو الله ته توبه وباسئ خالصه رښتینې توبه۔
امید دی چې

رَبُّكُمۡ اَنۡ يُّكَفِّرَ عَنۡكُمۡ سَيِّاٰتِكُمۡ وَ

ستاسو رب به له تاسو نه ستاسو ګناهونه ورژوي
او

يُدۡخِلَكُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا

تاسو به داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو له

الْاَنْهٰرُۙ يَوْمَ لَا يُخْزِى اللّٰهُ النَّبِيَّ وَ

لاندې ولې بهېږي۔، په هغه ورځ کې چې الله به نبي او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗۚ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى

هغه کسان چې له ده سره یې ایمان راوړی دی رسوا نه کړي۔، د دوی رڼا به د دوی په وړاندې

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ

او د دوی په ښي اړخ منډې وهي۔، دوی به وایي:

رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَاۚ اِنَّكَ

ای زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ رڼا پوره کړه او مونږ وبخښه۔، بېشکه

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٨ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

ته په هر شي باندې ښه قادر يې(8) ای نبي!

جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ

ته له كافرانو او منافقانو سره جهاد كوه او په دوى باندې سختي كوه.

عَلَيْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ

او د دوى استوګنه جهنم دى او هغه د ورتلو

الْمَصِيْرُ ۝٩ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ

بد ځاى دى(9) الله د هغو كسانو لپاره مثال بيانوي چې

كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّ امْرَاَتَ لُوْطٍ ؕ

كافران شوي دي: د نوح ښځه او د لوط ښځه،

كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا

دا دواړه زمونږ په بنده ګانو كې ددوه نېكو بنده ګانو لاندې وې،

صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا

نو دغو دواړو (ښځو) له هغو سره خيانت وکړ، نو

عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّ قِيْلَ ادْخُلَا

هغوی د الله په مقابله کې د دوی هېڅ په کار
رانغلل۔ او دغو دواړو (ښځو) ته وويل شول چې

النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ۝١٠ وَ ضَرَبَ اللّٰهُ

تاسو اور ته له ننوتونکو سره ننوځئ(10) او الله د
ايمان راوړونکو

مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ

وقف لازم

لپاره يو بل مثال بيانوي: د فرعون ښځه ده، کله
چې

اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي

هغې وويل: ای زما ربه! ته ما ته زما لپاره خپلې
خوا کې په

الْجَنَّةِ وَ نَجِّنِیْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَ عَمَلِهٖ

جنت کې يو کور جوړ کړه او ته ما له فرعون او د
هغه له عمل نه خلاصه کړه

وَ نَجِّنِیْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۱﴾ وَ

او ته ما ته له ظالم قوم نه نجات راکړه(11) او

مَرْیَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِیْۤ اَحْصَنَتْ

د عمران لور مريم ده، هغه چې د خپل شرم ځای
حفاظت يې کړی و،

فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِیْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَ

پس مونږ له خپل روح نه په ده کې پوکی وواهه او
دې د

صَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَ كُتُبِهٖ وَ كَانَتْ

خپل رب د کلمو (خبرو) او د هغه د کتابونو
تصديق کړی و او دا له

مِنَ الۡقٰنِتِيۡنَ ﴿۱۲﴾

حکم منونکو ځنې وه(12)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

تَبٰرَكَ الَّذِىۡ بِيَدِهِ الۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلٰى

ډېر بركت والا دى هغه ذات چې خاص د هغه په
لاس كې بادشاهي ده، او هغه په هر شي باندې

كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرُ ۙ﴿۱﴾ اِلَّذِىۡ خَلَقَ الۡمَوۡتَ

ښه قادر دى(1) هغه ذات چې مرگ

وَالۡحَيٰوةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ اَيُّكُمۡ اَحۡسَنُ

او ژوند يې پيدا كړى دى، د دې لپاره چې تاسو
وازمايي چې په تاسو كې د عمل په لحاظ كوم يو

عَمَلًا ؕ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡغَفُوۡرُ ۙ﴿۲﴾ الَّذِىۡ

ډېر ښه دى۔ او هم دى ښه غالب، ډېر بخښونكى
دى(2) هغه (الله)

خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ؕ مَا تَرٰى فِيْ

چې اوه اسمانونه يې طبقې طبقې (لاندې باندې) پيدا كړي دي،

خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ ؕ فَارْجِعِ

ته به د رحمٰن په پيداكونه كې هېڅ خلل (او فرق)، ونه وينې۔ پس سترګې بېرته راواړه۔

الْبَصَرَ ۙ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ③ ثُمَّ

ايا ته كوم ځيرې والى (او چاود) وينې(3) بيا

ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ

سترګې راواړه دوه ځلې۔ تا ته به سترګې بېرته راوګرځي، چې ذليله به وي،

الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ④ وَلَقَدْ

په دې حال كې چې ستړې ستومانه به وي(4) او يقينًا يقينًا

زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ وَ

مونږ دا تر ټولو نژدې اسمان په ډيوو (ستوريو) سره ښايسته کړی دی او

جَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَ اَعْتَدْنَا

مونږ دغه (ډيوې، يعنې ستورې) د شيطانانو د ويشتلو لپاره ذريعې جوړې کړې دي او مونږ د

لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ﴿٥﴾ وَلِلَّذِيْنَ

دوی لپاره ډېر سوځوونکی عذاب تيار کړی دی(5) او د هغو کسانو

كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ط وَ

لپاره چې په خپل رب باندې کافران شوي دي د جهنم عذاب دی او

بِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٦﴾ اِذَآ اُلْقُوْا فِيْهَا

هغه د ورتلو بد ځای دی(6) کله چې دوی په ده کې وغورځول شي دوی

سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا وَّهِيَ تَفُوْرُ ﴿٧﴾ تَكَادُ

به د ده (لکه د خر) بد اواز واوري، په داسې حال کې چې دا به خوټکېږي(7) نږدې

تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ۖ كُلَّمَآ اُلْقِيَ فِيْهَا

به وي چې دی له غصې نه ټوټې شي، هر وارې چې په ده کې یوه ډله

فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ

وغورځول شي (نو) له دوی نه به د دغه (دوزخ) ځوکیداران پوښتنه وکړي چې ایا تاسو ته

نَذِيْرٌ ﴿٨﴾ قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۙ

وېروونکی (پیغمبر) نه و راغلی؟(8) دوی به وایي: ولې نه! یقینًا مونږ ته وېروونکی راغلی و،

فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ

پس مونږ (د هغه) تکذیب وکړ (هغه مو دروغجن وګاڼه) او مونږ وویل چې الله هېڅ

شَیۡءٍ ۖۚ اِنۡ اَنۡتُمۡ اِلَّا فِیۡ ضَلٰلٍ

شی هم نه دی نازل کړی.، نه یئ تاسو مګر په ډېره لویه

کَبِیۡرٍ ۝۹ وَ قَالُوۡا لَوۡ کُنَّا نَسۡمَعُ اَوۡ

ګمراهۍ کې(9) او دوی به وايي: که چېرې مونږ اورېدل کولی، یا

نَعۡقِلُ مَا کُنَّا فِیۡۤ اَصۡحٰبِ

مو له عقل نه کار اخیستلی (نو) مونږ به (نن) د دوزخ په

السَّعِیۡرِ ۝۱۰ فَاعۡتَرَفُوۡا بِذَنۡۢبِهِمۡ ۚ

ملګرو کې نه وی(10) نو دوی د خپلو ګناهونو اقرار وکړ، نو د دوزخ

فَسُحۡقًا لِّاَصۡحٰبِ السَّعِیۡرِ ۝۱۱ اِنَّ

والاو لپاره (د الله له رحمت نه) لرې والی دی( 11) بیشکه

الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ لَهُمْ

هغه كسان چې له خپل رب نه په غيبو (نالېدلو) سره وېرېږي، د دوى لپاره

مَّغْفِرَةٌ وَّ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۲﴾ وَ اَسِرُّوْا

مغفرت او ډېر لوى اجر دى(12) او تاسو خپله

قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ

خبره پټه وكړئ، يا تاسو هغه ښكاره وكړئ، بېشكه هغه (الله) د سينو په پټو خبرو

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۳﴾ اَلَا يَعْلَمُ مَنْ

هم ښه عالم دى(13) ايا هغه ذات به نه پوهېږي

ع 1

خَلَقَ ؕ وَ هُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۴﴾ هُوَ

چې يې (هر څه) پيدا كړي دي (ولې نه!) او هم دى ډېر باريك بين، ښه خبردار دى(14) دى همغه

الَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمُ الۡاَرۡضَ ذَلُوۡلًا

ذات دی چې تاسو لپاره یې ځمکه تابع گرځولې
ده، نو تاسو د دې په اوږو

فَامۡشُوۡا فِیۡ مَنَاکِبِهَا وَ کُلُوۡا مِنۡ

(اطرافو، لارو) کې گرځئ او د دغه (الله) له رزق
نه خورئ او خاص ده ته (ستاسو)

رِّزۡقِهٖ ؕ وَ اِلَیۡهِ النُّشُوۡرُ ﴿۱۵﴾ ءَاَمِنۡتُمۡ

بیا ژوندي راپورته کېدل دي(15) ایا تاسو په امن
(او بې وېرې)

مَّنۡ فِی السَّمَآءِ اَنۡ یَّخۡسِفَ بِکُمُ

شوي یئ له هغه ذات نه چې په اسمان کې دی، له
دې نه چې هغه تاسو په ځمکه کې ښکته ننباسي،

الۡاَرۡضَ فَاِذَا هِیَ تَمُوۡرُ ﴿ۙ۱۶﴾ اَمۡ اَمِنۡتُمۡ

بیا دغه (ځمکه) ناڅاپه لړزان شروع کړي(16) ایا
تاسو له هغه ذات،

مَّنۡ فِي السَّمَآءِ اَنۡ يُّرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ

نه چې په اسمان کې دی په امن (او بې وېرې) شوي یئ، له دې نه چې پر تاسو باندې

حَاصِبًا ؕ فَسَتَعۡلَمُوۡنَ كَيۡفَ

د کاڼو باران راخوشې کړي، نو چې تاسو به ژر پوه شئ چې

نَذِيۡرِ ﴿۱۷﴾ وَلَقَدۡ كَذَّبَ الَّذِيۡنَ مِنۡ

زما وېرول څنګه دي(17) او یقینًا یقینًا هغو کسانو (د خپلو رسولانو) تکذیب کړی و چې له دغو

قَبۡلِهِمۡ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيۡرِ ﴿۱۸﴾ اَوَلَمۡ

خلقو نه مخکې وو، نو زما انکار او عذاب څنګه وو؟(18) او ایا دوی

يَرَوۡا اِلَى الطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صٰٓفّٰتٍ وَّ

د خپل (سر) له پاسه مرغانو ته نه دي کتلي، په

يَقْبِضْنَ ۛ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا

داسې حال کې چې خپل وزرونه پرانستونکي وي او ټولوي يې، دوی (له پرېوتلو نه) نه راټينګوي

الرَّحْمٰنُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَیْءٍۭ

مګر رحمن ذات، بېشکه هغه هر شي لره ښه

بَصِيْرٌ ۝١٩ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِیْ هُوَ جُنْدٌ

ليدونکی دی(19) ايا څوك دی هغه كس (ای مشرکانو!) چې هغه ستاسو لپاره لښکر دی

لَّكُمْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ ؕ

چې له رحمٰن نه غير به ستاسو مدد وکړي،

اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِیْ غُرُوْرٍ ۝٢٠ ۚ اَمَّنْ

کافران نه دي مګر په دوکه (او غولېدلو) کې(20) ايا څوك

هٰذَا الَّذِیۡ یَرۡزُقُکُمۡ اِنۡ اَمۡسَکَ

دی هغه ذات چې تاسو ته به روزي درکړي که
چېرې هغه (الله)

رِزۡقَهٗ ۚ بَلۡ لَّجُّوۡا فِیۡ عُتُوٍّ وَّ

خپل رزق بند کړي۔ بلکې دوی په سرکشۍ او
تېښته کې

نُفُوۡرٍ ﴿۲۱﴾ اَفَمَنۡ یَّمۡشِیۡ مُکِبًّا عَلٰی وَجۡهِهٖۤ

ننوتلي (او پاخه شوي) دي(21) ایا نو هغه څوك
چې په خپل مخ باندې نسکور ځي ښه لار

اَهۡدٰۤی اَمَّنۡ یَّمۡشِیۡ سَوِیًّا عَلٰی صِرَاطٍ

موندونکی دی، یا هغه څوك چې په نېغه لار سم

مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۲۲﴾ قُلۡ هُوَ الَّذِیۡۤ اَنۡشَاَکُمۡ

برابر روان دی؟(22) ته (دوی ته) ووایه: دغه
(الله) هغه ذات دی

وَ جَعَلَ لَكُمُ السَّمۡعَ وَ الۡاَبۡصَارَ وَ

چې تاسو ته يې پيدا كړي يئ او تاسو لپاره يې غوږونه او سترګې او

الۡاَفۡـِٕدَةَ ؕ قَلِيۡلًا مَّا تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۲۳﴾ قُلۡ

زړونه پيدا كړي دي۔ (خو) تاسو ډېر لږ شكر وباسئ(23) ته (دوى ته) ووايه

هُوَ الَّذِىۡ ذَرَاَكُمۡ فِى الۡاَرۡضِ وَاِلَيۡهِ

چې دغه (الله) هغه ذات دى چې تاسو يې په ځمكه كې خواره كړي يئ او خاص ده ته به تاسو

تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۲۴﴾ وَيَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هٰذَا

ورجمع كولى شئ(24) او دوى وايي چې دغه (د قيامت)

الۡوَعۡدُ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۵﴾ قُلۡ

وعده به كله وي، كه تاسو رښتيني يئ؟(25) ته (دوى ته) ووايه

اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاِنَّمَآ اَنَا

چې بېشکه (د قيامت) علم خو يواځې الله ته دی
او بېشکه زه خو يواځې

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٢٦ فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً

ښکاره وېروونکی يم(26) نو کله چې دوی دغه

سِيْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقِيْلَ

(عذاب) ډېر نژدې وويني (نو) د هغو کسانو
مخونه به بدشکله (او تور) شي چې کافران شوي

هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ ۝٢٧ قُلْ

وو او وبه ويل شي چې دا هغه (عذاب) دی چې
تاسو به دا ژر غوښته(27) (ای نبي!) ته (دوی

اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِيَ

ته) ووايه: تاسو ما ته خبر راکړئ! که چېرې الله
ما او هغه کسان چې زما سره دي،

اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ

هلاك (او مړه) کړي، يا پر مونږ رحم وکړي، نو
ثوك دى چې كافران به له ډېر دردونكي

عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۸﴾ قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا

عذاب نه بچ کړي؟(28) ته (دوى ته) ووايه: هم
دغه (الله) رحمٰن دى، مونږ په ده ايمان راوړى دى

بِهٖ وَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ

او مونږ خاص په ده باندې توكل كړى دى، نو
تاسو به ژر پوه شئ چې هغه ثوك دى چې په

هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۹﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ

ښكاره گمراهۍ كې دى(29) ته (دوى ته) ووايه
چې تاسو ما ته خبر راكړئ!

اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ

كه چېرې ستاسو اوبه (په ځمكه كې) ډېرې ښكته
لاړې شي، نو ثوك دى

ع 2

بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿٣٠﴾

چې تاسو ته به روانې اوبه راولي؟(30)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

نٓ وَ الۡقَلَمِ وَ مَا يَسۡطُرُوۡنَ ۙ﴿۱﴾ مَاۤ اَنۡتَ

نون۔، قسم دی په قلم او په هغه څه چې دوی يې
ليکي(1) چې ته د خپل رب په نعمت (او فضل)

بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ بِمَجۡنُوۡنٍ ۚ﴿۲﴾ وَ اِنَّ لَكَ

سره هېڅ لېونی نه يې(2) او بېشکه چې خاص تا
لره يقينًا

لَاَجۡرًا غَيۡرَ مَمۡنُوۡنٍ ۚ﴿۳﴾ وَ اِنَّكَ لَعَلٰى

داسې اجر دی چې قطع کولی به نشي(3) او
بېشکه چې ته يقينًا په ډېرو

خُلُقٍ عَظِيۡمٍ ﴿۴﴾ فَسَتُبۡصِرُ وَ

لويو اخلاقو باندې (فايز) يې(4) پس ژر به ته
ووينې (ای نبي!)

يُبْصِرُوْنَ ⑤ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ⑥ اِنَّ

او دوی به هم ووینی(5) چې په تاسو کې کوم یو
لېونی دی(6) بېشکه

رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ

ستا رب په هغه چا ښه پوه دی چې د ده
له لارې نه ګمراه شوی دی

سَبِيْلِهٖ ۖ وَ هُوَ اَعْلَمُ

او هم دی په هدایت موندونکو

بِالْمُهْتَدِيْنَ ⑦ فَلَا تُطِعِ

باندې ښه عالم دی(7) نو ته د تکذیب کوونکو

الْمُكَذِّبِيْنَ ⑧ وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ

خبره مه منه(8) دوی خوښوي چې کاشکې ته نرم
شې،

فَيُدۡهِنُوۡنَ ۝٩ وَلَا تُطِعۡ كُلَّ حَلَّافٍ

نو دوی به هم نرم شي(9) او ته د هر ډېر سوګند خوړونکي،

مَّهِيۡنٍ ۝١٠ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيۡمٍ ۝١١ مَّنَّاعٍ

سپك، خبره مه منه(10) چې ډېر عيب ويونكی، چغلۍ لره ډېر چلوونكی دی(11) خير لره

لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٍ اَثِيۡمٍ ۝١٢ عُتُلٍّۭ بَعۡدَ

ډېر منع كوونكی، له حده تېرېدونكی، سخت ګناهګار دی(12) ډېر بد خويه دی (او) له دغو

ذٰلِكَ زَنِيۡمٍ ۝١٣ اَنۡ كَانَ ذَا مَالٍ وَّ

(عيبونو) نه پس بد اصله (حرامي هم) دی(13) په دې وجه چې دی د مال او

بَنِيۡنَ ۝١٤ اِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِ اٰيٰتُنَا قَالَ

زامنو والا دی(14) كله چې ده ته زمونږ ايتونه ولوستل شي (نو) دی وايي:

اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۱۵﴾ سَنَسِمُهٗ عَلَى

(دا) د ړومبنو خلقو باطلې قصې دي(15) ژر ده
چې مونږ به د ده په خلتم (پوزه)

الۡخُرۡطُوۡمِ ﴿۱۶﴾ اِنَّا بَلَوۡنٰهُمۡ كَمَا بَلَوۡنَاۤ

باندې داغ کېږدو(16) بېشکه مونږ دوی وازمايل،
لکه چې مونږ د باغ خاوندان ازمايلي وو،

اَصۡحٰبَ الۡجَنَّةِ ۚ اِذۡ اَقۡسَمُوۡا

کله چې هغوی قسمونه وخوړل چې دوی به
خامخا ضرور دغه (د باغ مېوې) پرې کړي، په دې

لَيَصۡرِمُنَّهَا مُصۡبِحِيۡنَ ﴿۱۷﴾ وَلَا

حال کې چې سبا کوونکي به وي(17) او دوی
استثنا نه کوله

يَسۡتَثۡنُوۡنَ ﴿۱۸﴾ فَطَافَ عَلَيۡهَا طَآئِفٌ

(ان شاء الله يې ونه وايه)(18) نو په دغه (باغ)
باندې ستا د

مِّنْ رَّبِّكَ وَ هُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿١٩﴾ فَاَصْبَحَتْ

رب له جانبه يوه طواف كوونكي بلا راچاپيره شوه، په داسې حال کې چې دوی ویده وو(19) نو دغه

كَالصَّرِيْمِ ﴿٢٠﴾ فَتَنَادَوْا

(باغ داسې) شو، لکه ريبل شوی فصل(20) نو دوی يو بل ته اواز وکړ، په

مُصْبِحِيْنَ ﴿٢١﴾ اَنِ اغْدُوْا عَلٰى حَرْثِكُمْ

داسې حال کې چې سبا کوونکي وو(21) داسې چې خپل فصل ته سبا وختي ورشئ

اِنْ كُنْتُمْ صٰرِمِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَانْطَلَقُوْا وَ

که چېرې تاسو لَو کوونکي يئ(22) نو دوی روان شول، په داسې حال کې چې يو

هُمْ يَتَخَافَتُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا

له بل سره يې پټې پټې خبرې کولې(23) (داسې) چې دې (باغ) ته دې پر تاسو

الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ ﴿٢٤﴾ وَّ غَدَوْا

باندې نن ورځ بېخي هېڅ مسکين داخل نه شي (24) او دوی د نه ورکولو په ارادې سره سهار

عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَاَوْهَا قَالُوْٓا

لاړل، په داسې حال کې چې دوی (په خپل خيال کې) قادر وو(25) نو دوی چې کله هغه (باغ)

اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ

وليده، ويې ويل: بېشکه مونږ يقينًا لار ورکي يو (26) بلکې مونږ محروم

مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ

کړی شوي يو(27) د دوی منځني (غوره) کس وويل: ايا ما تاسو ته نه

اَقُلْ لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالُوْا

و ويلي! ولې تاسو تسبيح نه وايئ(28) (نو) دوی وويل:

سُبۡحٰنَ رَبِّنَاۤ اِنَّا كُنَّا

پاکي ده زمونږ رب لره، بېشکه

ظٰلِمِيۡنَ ۝٢٩ فَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ

مونږ ظالمان وو(29) نو د دوی ځينو ځينو نورو ته مخ واړوه، چې

يَّتَلَاوَمُوۡنَ ۝٣٠ قَالُوۡا يٰوَيۡلَنَاۤ اِنَّا كُنَّا

يو بل يې ملامته کول(30) دوی وويل: ای زمونږ هلاکته! يقينًا مونږ

طٰغِيۡنَ ۝٣١ عَسٰى رَبُّنَاۤ اَنۡ يُّبۡدِلَنَا خَيۡرًا

سرکشان وو(31) امېد دی چې زمونږ رب به مونږ ته له دې (باغ) نه غوره په بدل کې راکړي، بېشکه

مِّنۡهَاۤ اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوۡنَ ۝٣٢ كَذٰلِكَ

مونږ خپل رب ته رغبت کوونکي يو(32) همداسې

وقف لازم

ع 3

الْعَذَابُ ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ

عذاب وي او يقينًا د اخرت عذاب تر ټولو لوی
دی،

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝۳۳ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ

که چېرې دوی پوهېدلی(33) بېشکه د پرهېزګارو

عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتِ

لپاره د خپل رب په نيز د نعمتونو

النَّعِيْمِ ۝۳۴ اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ

جنتونه دی(34) ايا نو موږ به مسلمانان د مجرمانو

كَالْمُجْرِمِيْنَ ۝۳۵ؕ مَا لَكُمْ ۫ وقفة كَيْفَ

په شان کړو؟(35) په تاسو څه شوي دي؟ تاسو
څنګه

تَحۡكُمُوۡنَ ۚ﴿۳۶﴾ اَمۡ لَكُمۡ كِتٰبٌ فِيۡهِ

فيصله کوئ!(36) ايا تاسو سره کتاب دی چې په هغه کې

تَدۡرُسُوۡنَ ۙ﴿۳۷﴾ اِنَّ لَكُمۡ فِيۡهِ لَمَا

تاسو (دا) لولئ؟(37) چې بېشکه تاسو لپاره په دغه (کتاب) کې هغه څه دي

تَخَيَّرُوۡنَ ۚ﴿۳۸﴾ اَمۡ لَكُمۡ اَيۡمَانٌ عَلَيۡنَا

چې تاسو يې خوښوئ(38) ايا تاسو لپاره زمونږ په

بَالِغَةٌ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ ۙ اِنَّ لَكُمۡ لَمَا

ذمه څه قسمونه (وعدې) شته چې د قيامت د ورځې پورې رسېدونکي دي چې يقيناً تاسو لپاره

تَحۡكُمُوۡنَ ۚ﴿۳۹﴾ سَلۡهُمۡ اَيُّهُمۡ بِذٰلِكَ

به خامخا هغه څه وي چې تاسو يې فيصله کوئ( 39) ته له دوی نه پوښتنه وکړه چې په دوی کې

زَعِيمٌ ۚ﴿٤٠﴾ اَمۡ لَهُمۡ شُرَكَآءُ ۚ فَلۡيَاۡتُوۡا

کوم يو د دغه کار ضامن دی؟(40) ايا د دوی
لپاره شريکان شته دی، نو دوی دې خپل (دغه)

بِشُرَكَآئِهِمۡ اِنۡ كَانُوۡا صٰدِقِيۡنَ ﴿٤١﴾ يَوۡمَ

شريکان راولي، که چېرې دوی رښتيني وي(41)
او (ياده کړه) هغه ورځ

يُكۡشَفُ عَنۡ سَاقٍ وَّيُدۡعَوۡنَ اِلَى

چې پنډۍ به بربنډه کړی شي او دوی به سجدې

السُّجُوۡدِ فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ ﴿٤٢﴾ لا خَاشِعَةً

کولو ته راوبلل شي، نو دوی به توان ونه لري(42)
په داسې حال

اَبۡصَارُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٌ ؕ وَقَدۡ كَانُوۡا

کې چې د دوی سترګې به ذليله (او ټيټې) وي،
دوی به ذلت راګير کړي وي او يقيناً دوی به

يُدۡعَوۡنَ اِلَى السُّجُوۡدِ وَ هُمۡ

سجدې کولو ته رابللى شول، په داسې حال کې

سٰلِمُوۡنَ ﴿۴۳﴾ فَذَرۡنِیۡ وَ مَنۡ یُّکَذِّبُ بِهٰذَا

چې روغ رمټ به وو(43) نو ته ما او هغه څوك
پرېږده چې د دغه

الۡحَدِیۡثِ ؕ سَنَسۡتَدۡرِجُهُمۡ مِّنۡ

حديث (قرآن) تکذيب کوي۔ ژر به مونږ دوى په
استدراج کې واچوو (ورو به يې ورو راونيسو) له

حَیۡثُ لَا یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۴۴﴾ وَ اُمۡلِیۡ لَهُمۡ ؕ اِنَّ

هغه ځايه چې دوى به نه پوهېږي(44) او زه دوى
ته مهلت ورکوم۔ بېشکه زما

کَیۡدِیۡ مَتِیۡنٌ ﴿۴۵﴾ اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ اَجۡرًا

حيله (چل) مضبوط (او محکم) دى(45) ايا ته له
دوى نه مزدوري غواړې،

فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿٤٦﴾ اَمْ

نو دوی له (دغه) تاوانه، درانه کړی شوي دي( 46) ایا له

عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ

دوی سره علم غیب دی، نو چې دوی

يَكْتُبُوْنَ ﴿٤٧﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا

يې ليکي(47) نو ته د خپل رب حکم ته صبر کوه

تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوْتِ ۘ اِذْ نَادٰى وَ

او د کب (مهي) والا (یونس) په شان مه کېږه، کله چې ده اواز وکړ، په داسې حال کې

هُوَ مَكْظُوْمٌ ﴿٤٨﴾ لَوْلَا اَنْ تَدٰرَكَهٗ نِعْمَةٌ

چې له غم نه ډك و(48) که چېرې داسې نه وی چې ده ته د

وقف لازم

مِّنۡ رَّبِّهٖ لَنُبِذَ بِالۡعَرَآءِ وَهُوَ

خپل رب مهرباني ورسېدله (نو) دی به خامخا په سپيره ميدان کې غورځول شوی و، په داسې حال

مَذۡمُوۡمٌ ﴿۴۹﴾ فَاجۡتَبٰهُ رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ

کې چې دی به مذموم (ملامت کړی شوی) و(49) نو دی خپل رب غوره کړ، پس دی

الصّٰلِحِيۡنَ ﴿۵۰﴾ وَاِنۡ يَّكَادُ الَّذِيۡنَ

يې له صالحانو څخه وګرځاوه(50) او بېشکه شان دا دی

كَفَرُوۡا لَيُزۡلِقُوۡنَكَ بِاَبۡصَارِهِمۡ لَمَّا

چې کافران شوي خلق نژدې وو چې تا په خپلو سترګو سره

سَمِعُوا الذِّكۡرَ وَيَقُوۡلُوۡنَ اِنَّهٗ

خامخا وښيوي، کله چې دوی ذکر (قرآن) واورېده او دوی وايي چې بېشکه

وقف لازم

لَمَجْنُوْنٌ ﴿٥١﴾ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ

دی خامخا لېونی دی(51) حال دا چې دغه
(قرآن) نه دی مگر د

ع 4 الربع

لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿٥٢﴾

عالمونو لپاره نصیحت(52)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَلۡحَآقَّةُ ۙ﴿۱﴾ مَا الۡحَآقَّةُ ۚ﴿۲﴾ وَمَاۤ اَدۡرٰىكَ

دغه (قيامت) خامخا واقع کېدونکی(1) دغه لازمًا واقع کېدونکی څه شی دی(2) او ته څه شي پوه

مَا الۡحَآقَّةُ ؕ﴿۳﴾ كَذَّبَتۡ ثَمُوۡدُ وَعَادٌۢ

کړې چې دغه قيامت څه شی دی(3) ثموديانو او عاديانو د ټکوونکي

بِالۡقَارِعَةِ ﴿۴﴾ فَاَمَّا ثَمُوۡدُ فَاُهۡلِكُوۡا

(قيامت) تکذيب کړی و(4) نو هر چې ثموديان وو، پس هغوی په سخت اواز

بِالطَّاغِيَةِ ﴿۵﴾ وَاَمَّا عَادٌ فَاُهۡلِكُوۡا بِرِيۡحٍ

سره هلاك کړی شول(5) او هر چې عاديان وو، نو دوی په ډېر سخت اواز،

صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٍ ۝٦ سَخَّرَهَا عَلَيۡهِمۡ

له حده وتونکي باد سره هلاك کړى شول(6)
(الله) دغه (باد) په دوى باندې

سَبۡعَ لَيَالٍ وَّ ثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ ۙ حُسُوۡمًا ۙ

اوه شپې او اته ورځې متواتر (پرله پسې د دوى د
هلاکت لپاره) مسخر کړې و،

فَتَرَى الۡقَوۡمَ فِيۡهَا صَرۡعٰى ۙ كَاَنَّهُمۡ

نو تا به دغه قوم په دغه (شپو ورځو، كورونو، باد)
کې لويدلي مړه پراته ليدل، ګوياکې دوى د زړو

اَعۡجَازُ نَخۡلٍ خَاوِيَةٍ ۝٧ فَهَلۡ تَرٰى

کجورو تش ډډونه دي(7) نو ايا ته دوى لره څه

لَهُمۡ مِّنۡۢ بَاقِيَةٍ ۝٨ وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَ

باقي پاتې شوي وينې(8) او فرعون او هغه چا

مَنْ قَبْلَهٗ وَ الْمُؤْتَفِكٰتُ

چې له ده نه مخکې وو او چپه کړی شویو کلیو

بِالْخَاطِئَةِ ۝٩ فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ

غټ جرم (شرك) وکړ(9) نو دوی د خپل رب د
رسول نافرماني وکړه، نو هغه دوی

فَاَخَذَهُمْ اَخْذَةً رَّابِيَةً ۝١٠ اِنَّا لَمَّا طَغَا

ونیول، ډېر سخت نیول(10) بېشکه مونږ، کله چې

الْمَآءُ حَمَلْنٰكُمْ فِي

اوبه له حده ووتې، (نو) مونږ تاسو په بېړۍ کې

الْجَارِيَةِ ۝١١ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّ

سواره کړئ(11) د دې لپاره چې مونږ دغه
(بېړۍ) تاسو لپاره پند وګرځوو او

تَعِيَهَآ اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ﴿١٢﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِى

ياد ساتونکي غوږونه دغه (پند) ياد ولري(12) نو
کله چې په

الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ وَّ حُمِلَتِ

شپېلۍ کې پوکی وکړی شي۔، يو پوکی(13) او

الْاَرْضُ وَ الْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً

ځمکه او غرونه پورته کړی شي، پس دغه دواړه
ريزه ريزه کړی شي،

وَّاحِدَةً ﴿١٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ

يو ځلې ريزه کول(14) نو په دغې ورځ کې به
واقع کېدونکی (قيامت)

الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾ وَ انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِىَ

واقع شي(15) او اسمان به وچوي، نو دغه
(اسمان) به

يَوۡمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ﴿١٦﴾ وَّ الۡمَلَكُ عَلٰٓى

په دغې ورځ كې سست وي(16) او ملايك به د ده

اَرۡجَآئِهَا ؕ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ

د څنډو له پاسه وي او په دغې ورځ كې به ستا د رب عرش اتو (ملايكو)

فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ﴿١٧﴾ يَوۡمَئِذٍ

د دوى له پاسه اوچت كړى وي(17) په دغې ورځ

تُعۡرَضُوۡنَ لَا تَخۡفٰى مِنۡكُمۡ

كې به تاسو وړاندې كولى شئ، ستاسو له پټو (عملونو) نه به هېڅ (شى)

خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾ فَاَمَّا مَنۡ اُوۡتِىَ كِتٰبَهٗ

پټ پاتې نشي(18) نو هر چې هغه څوك دى چې هغه ته خپل كتاب

بِيَمِيْنِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا

(عمل نامه) د ده په ښي لاس کې ورکړی شوه، نو دی به وايي: چې واخلئ! زما عمل

كِتٰبِيَهْ ۚ ﴿١٩﴾ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ مُلٰقٍ

نامه ولولئ(19) بېشکه ما دا يقين کاوه چې زه به خامخا له خپل حساب سره

حِسَابِيَهْ ۚ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ

مېلاوېدونکی یم(20) نو دغه (کس) به په خوشاله

رَّاضِيَةٍ ۙ ﴿٢١﴾ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۙ ﴿٢٢﴾ قُطُوْفُهَا

ژوند کې وي(21) په اوچت جنت کې(22) چې د هغه مېوې

دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَآ

به نژدې وي(23) تاسو ښه په مزې سره خورئ او څښئ، د

اَسۡلَفۡتُمۡ فِی الۡاَیَّامِ الۡخَالِیَةِ ﴿۲۴﴾ وَ اَمَّا

هغو عملونو په بدل کې چې تاسو په تېرو شویو ورځو کې مخکې لېږلي وو(24) او هر

مَنۡ اُوۡتِیَ کِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۬ۙ فَیَقُوۡلُ

چې هغه کس دی چې ده ته خپل کتاب د ده په چپ لاس کې ورکړی شي، نو دی به وايي: ای

یٰلَیۡتَنِیۡ لَمۡ اُوۡتَ کِتٰبِیَهۡ ﴿ۚ۲۵﴾ وَ لَمۡ اَدۡرِ

کاشکې ما ته زما کتاب (عمل نامه) نه وی راکړی شوې(25) او زه نه وی

مَا حِسَابِیَهۡ ﴿ۚ۲۶﴾ یٰلَیۡتَهَا کَانَتِ

خبر شوی چې زما حساب څه دی(26) ای کاشکې چې هغه (مرګ)

الۡقَاضِیَةَ ﴿ۚ۲۷﴾ مَاۤ اَغۡنٰی عَنِّیۡ

فیصله کوونکی وی(27) زما مال زما هېڅ

مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّي

په کار رانغی(28) له ما نه زما بادشاهي

سُلْطَانِيَهْ ﴿٢٩﴾ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ

برباده شوه(29) (وبه ویل شي:) دی ونیسئ، پس
دی په زلونو سره وتړئ(30) بیا دی

الْجَحِيمَ صَلُّوهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ

دوزخ ته داخل کړئ(31) بیا په یو ځنځیر کې چې

ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا

د هغه گزونه (اوږدوالی) اویا گزه وي، پس دی

فَاسْلُكُوهُ ﴿٣٢﴾ إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ

ننه باسئ(32) بېشکه ده په ډېر لوی الله باندې

الْعَظِيْمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ

ايمان نه راوړ(33) او مسكين ته په طعام وركولو يې

الْمِسْكِيْنِ ﴿٣٤﴾ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا

ترغيب نه وركاوه(34) نو د ده لپاره دلته نن ورځ

حَمِيْمٌ ﴿٣٥﴾ وَّلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ

هيڅ دوست نشته(35) او نه څه طعام، سوا له غِسلين

غِسْلِيْنٍ ﴿٣٦﴾ لَّا يَاْكُلُهٗٓ اِلَّا

(د دوزخيانو د زخمونو د وينې او زوې) نه(36) چې دغه نه خوري مګر

ع 5

الْخَاطِـُٔوْنَ ﴿٣٧﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَا

(دغه) خطاكاران(37) نو زه قسم خورم په هغو شيانو

تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۳۸﴾ وَ مَا لَا تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّهٗ

چې تاسو يې وينئ(38) او په هغو چې تاسو يې نه وينئ(39) بېشکه

لَقَوۡلُ رَسُوۡلٍ کَرِيۡمٍ ﴿۴۰﴾ وَّ مَا هُوَ بِقَوۡلِ

دا (قرآن) يقينًا د ډېر عزتمن رسول خبره ده(40) او دا د کوم

شَاعِرٍ ؕ قَلِيۡلًا مَّا تُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۴۱﴾ وَ لَا

شاعر خبره ببخي نه ده، تاسو ډېر لږ ايمان راوړئ( 41) او نه د

بِقَوۡلِ کَاهِنٍ ؕ قَلِيۡلًا مَّا

کاهن (ترويتي) خبره ده، تاسو ډېر لږ

تَذَکَّرُوۡنَ ﴿۴۲﴾ تَنۡزِيۡلٌ مِّنۡ رَّبِّ

پند اخلئ(42) (دغه قرآن) د رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ

العلمين نازلول دي(43) او كه ده پر مونږ باندې
له ځانه ځينې خبرې

الْاَقَاوِيْلِ ﴿٤٤﴾ لَاَخَذْنَا مِنْهُ

جوړې کړې وی(44) (نو) مونږ به د ده ښى

بِالْيَمِيْنِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ

لاس نيولى وى(45) بيا به مونږ خامخا د ده د

الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ

زړه رګ پرې کړى وى(46) نو په تاسو کې به
هيڅوك له ده نه

حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ

منع کوونکي نه وو(47) او بېشکه دا (قرآن) د

لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۴۸﴾ وَاِنَّا لَنَعۡلَمُ اَنَّ مِنۡكُمۡ

پرهېزګارانو لپاره پند (او نصيحت) دی(48) او بېشکه مونږ خامخا پوهېږو چې يقينًا

مُّكَذِّبِيۡنَ ﴿۴۹﴾ وَاِنَّهٗ لَحَسۡرَةٌ عَلَى

په تاسو کې تکذيب کوونکي دي(49) او بېشکه دغه (قرآن) په کافرانو باندې

الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۵۰﴾ وَاِنَّهٗ لَحَقُّ

د پښېمانۍ سبب دی(50) او بېشکه دغه (قرآن) خامخا

الۡيَقِيۡنِ ﴿۵۱﴾ فَسَبِّحۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ

يقيني حق دی(51) نو ته د خپل عظيم رب د

ع 6

الۡعَظِيۡمِ ﴿۵۲﴾

نوم تسبيح وايه(52)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ۙ﴿۱﴾

يو غوښتونكي هغه عذاب وغوښت چې واقع كېدونكى دى(1)

لِّلۡكٰفِرِيۡنَ لَيۡسَ لَهٗ دَافِعٌ ۙ﴿۲﴾ مِّنَ اللّٰهِ

په كافرانو باندې، دغه (عذاب) لره هيڅوك دفع كوونكى نشته(2) د الله له

ذِى الۡمَعَارِجِ ؕ﴿۳﴾ تَعۡرُجُ الۡمَلٰٓئِكَةُ وَ

جانبه دى، چې د اوچتو زينومالك دى(3) چې د ده په طرف پورته ملايك او

الرُّوۡحُ اِلَيۡهِ فِىۡ يَوۡمٍ كَانَ مِقۡدَارُهٗ

روح ورخېژي، په هغې ورځ كې چې د هغې مقدار

خَمۡسِيۡنَ اَلۡفَ سَنَةٍ ۚ﴿۴﴾ فَاصۡبِرۡ صَبۡرًا

پنځوس زره کاله دی(4) نو ته صبر کوه،

جَمِيۡلًا ﴿۵﴾ اِنَّهُمۡ يَرَوۡنَهٗ بَعِيۡدًا ۙ﴿۶﴾ وَّ

ډېر ښه صبر(5) بېشکه دوی (منکران) دغه (عذاب، قیامت) ډېر لرې ویني(6) او

نَرٰىهُ قَرِيۡبًا ؕ﴿۷﴾ يَوۡمَ تَكُوۡنُ السَّمَآءُ

مونږه دی ډېر نژدې وينو(7) په هغې ورځ چې اسمان به د ويلې کړې شوې

كَالۡمُهۡلِ ۙ﴿۸﴾ وَتَكُوۡنُ الۡجِبَالُ

قلعي په شان شي(8) او غرونه به د رنګدارې وهل شوې

كَالۡعِهۡنِ ۙ﴿۹﴾ وَلَا يَسۡـَٔلُ حَمِيۡمٌ

وړۍ په شان شي(9) او يو دوست به له بل

حَمِيمًا ﴿١٠﴾ يُبَصَّرُونَهُمْ ۚ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ

دوست نه پوښتنه نه کوي(10) حال دا چې دوی ته به هغوی ښودلی شي،

لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ

مجرم (کافر) به ارزو کوي چې د دغې ورځې له عذابه خپل زامن په

بِبَنِيهِ ﴿١١﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَ

عوض کې ورکړي(11) او خپله ښځه او خپل ورور(12) او

فَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَنْ فِي

خپله هغه قبیله چې ده ته به یې ځای ورکاوه(13) او هر هغه څوك چې په ځمکه کې دي ټول، بیا ده

الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ ﴿١٤﴾ كَلَّا ۖ

ته (دا کار) نجات ورکړي(14) کله هم داسې نه ده، بېشکه دغه (د دوزخ اور) لمبې وهونکی دی(

إِنَّهَا لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ تَدْعُوا

15) چې (د سر، لاسونو او پښو) پوستکي وېستونکې دی(16) دا (دوزخ) به راغواړي هغه

مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ

څوك چې شا كړې يې وي او مخ يې اړولى وي( 17) او جمع (د مال)

فَأَوْعَىٰ ﴿١٨﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ

يې كړې وي، نو ساتلى يې وي(18) بېشكه انسان بې صبره پيدا كړى

هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَ

شوى دى(19) كله چې ده ته شر (مصيبت) ورسېږي (نو) ډېر فرياد كوونكى وي(20) او كله

إِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا

چې ده ته خير (او خوشحالي) ورسېږي (نو)، ډېر منع كوونكى (او بخل كوونكى) وي(21) (خو) له

الْمُصَلِّيْنَ ﴿٢٢﴾ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى

لمونځ گزارو نه غير (22) هغه كسان چې دوى په
خپلو لمونځونو باندې همېشه

صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَالَّذِيْنَ فِيْٓ

والى كوونكي وي (23) او هغه كسان چې د دوى
په

اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّآئِلِ وَ

مالونو كې معلومه برخه (مقرر) ده (24) د سوالگر
او

الْمَحْرُوْمِ ﴿٢٥﴾ وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ

محروم لپاره (25) او هغه كسان چې د بدلې د

بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ

ورځې تصديق (او باور) كوي (26) او هغه كسان
چې دوى

عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ۝٢٧ اِنَّ عَذَابَ

د خپل رب له عذاب نه وېرېدونكي دي(27)
بېشكه د دوی د رب

رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ۝٢٨ وَالَّذِيْنَ هُمْ

عذاب داسې دی چې بې وېرې كېدل ترې نشته(
28) او هغه كسان چې

لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝٢٩ اِلَّا عَلٰٓى

هغوی د خپل شرم ځايونو حفاظت كوونكي دي(
29) مگر له خپلو

اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ

ښځو او خپلو وينځو نه، نو بېشكه دوی

فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۝٣٠ فَمَنِ ابْتَغٰى

ملامت كړی شوي نه دي(30) نو هغه څوك چې
له دغو نه

وَرَآءَ ذٰلِكَ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿۳۱﴾

علاوه غواړي، نو هم دغه کسان له حده تېرېدونکي دي(31)

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ

او هغه کسان چې دوی د خپلو امانتونو او خپلو وعدو لحاظ

رٰعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ

ساتونکي دي(32) او هغه کسان چې دوی په خپلو شهادتونو (ګواهيو) باندې

قَآئِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى

قايم (او ولاړ) دي(33) او هغه کسان چې دوی په خپلو لمونځونو

صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۳۴﴾ أُولٰٓئِكَ فِيْ

همېشه والی (او پابندي) کوي(34) دغه کسان به

ع
7

جَنّٰتٍ مُّكۡرَمُوۡنَ ۳۵ فَمَالِ الَّذِيۡنَ

په باغونو کې وي، عزتمن کړی شوي به وي(35) نو (ای نبي!) په دغو

كَفَرُوۡا قِبَلَكَ مُهۡطِعِيۡنَ ۳۶ عَنِ

کافران شویو کسانو څه شوي دي چې ستا په طرف منډې راوهونکي دي(36) له

الۡيَمِيۡنِ وَعَنِ الشِّمَالِ

ښي اړخ نه او له چپ اړخ

عِزِيۡنَ ۳۷ اَيَطۡمَعُ كُلُّ امۡرِیٍٔ مِّنۡهُمۡ اَنۡ

نه ډلې ډلې(37) ایا په دوی کې هر یو سړی دا طمع لري چې دی به د

يُّدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيۡمٍ ۳۸ كَلَّا ؕ اِنَّا

نعمتونو جنت ته ننه اېستل شي؟(38) هیڅکله نه! بېشکه

خَلَقْنٰهُمْ مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾ فَلَآ اُقْسِمُ

همدا مونږ دوی له هغه څه نه پیدا کړي دي چې دوی یې پېژني(39) نو زه د

بِرَبِّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اِنَّا

مشرقونو او مغربونو په رب قسم خورم چې بېشکه (او)

لَقٰدِرُوْنَ ﴿٤٠﴾ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا

یقینًا مونږ قادر یو(40) په دې باندې چې مونږ له دوی نه

مِّنْهُمْ ۙ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٤١﴾

غوره (مخلوق) په بدل کې راولو اومونږ عاجز کړی شوي نه یو(41)

فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى

نو ته دوی پرېږده چې په باطلو او عبثو خبرو کې مشغولېږي او لوبې کوي۔ تر هغه پورې

يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۲﴾

چې دوی له خپلې هغې ورځې سره ملاقات وکړي
چې دوی ته يې وعده ورکړې شوې ده(42)

يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ

هغه ورځ چې دوی به له قبرونو نه داسې په منډه

سِرَاعًا كَاَنَّهُمْ اِلٰى نُصُبٍ يُّوْفِضُوْنَ ﴿۴۳﴾

(او تېزۍ) سره راوځي ګوياکې دوی هدف ته په
منډه ځغلي(43)

خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ

په داسې حال کې چې د دوی سترګې به خوارې
وي.، دوی به ذلت (راګېر) او

ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۴﴾

پټ کړي وي، دا هغه ورځ ده چې دوی ته به د
دې وعده ورکول کېده(44)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِنَّاۤ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰی قَوۡمِہٖۤ اَنۡ اَنۡذِرۡ

بېشکه مونږ نوح خپل قوم ته په دې سره لېږلی و چې

قَوۡمَکَ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ یَّاۡتِیَہُمۡ عَذَابٌ

ته خپل قوم ووېروه، مخکې له دې چې په دوی ډېر دردوونکی

اَلِیۡمٌ ﴿۱﴾ قَالَ یٰقَوۡمِ اِنِّیۡ لَکُمۡ نَذِیۡرٌ

عذاب راشي(1) (نو) ده ووېل: ای زما قومه! بېشکه زه ستاسو لپاره

مُّبِیۡنٌ ﴿۲﴾ اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰہَ وَ اتَّقُوۡہُ وَ

ښکاره وېروونکی یم(2) چې تاسو د الله عبادت کوئ او

اَطِيْعُوْنِ ۝٣ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ

له ده نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ(3) دی به تاسو ته ستاسو ځيني ګناهونه وبخښي او

وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اِنَّ

ترټاکلې نېټې پورې به تاسو وروسته (او باقي پاتې) کړي، بېشکه

اَجَلَ اللّٰهِ اِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۘ لَوْ

د الله نېټه چې کله راشي (نو) وروسته کېدی نشي، که چېرې

وقف لازم

كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٤ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ دَعَوْتُ

تاسو پوهېږئ(4) ده وویل: ای زما ربه! بېشکه ما شپه او ورځ

ع 8

قَوْمِيْ لَيْلًا وَّنَهَارًا ۝٥ فَلَمْ يَزِدْهُمْ

خپل قوم (توحید ته) راوباله(5) نو دوی ته زما بلنې

دُعَآءِیۡۤ اِلَّا فِرَارًا ﴿۶﴾ وَ اِنِّیۡ كُلَّمَا

زياته نه کړه مگر تېښته(6) او بېشکه زه چې هر

دَعَوۡتُهُمۡ لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ جَعَلُوۡۤا

وارې دوی د دې لپاره راوبلم چې ته دوی وبخښې (نو)

اَصَابِعَهُمۡ فِیۡۤ اٰذَانِهِمۡ وَ اسۡتَغۡشَوۡا

دوی خپلې گوتې په خپلو غوږونو کې ننباسي او په

ثِیَابَهُمۡ وَ اَصَرُّوۡا وَ اسۡتَكۡبَرُوا

خپلو جامو سره ځان (مخ) پټ کړي او په کفر باندې) اصرار (او همېشه والی) کوي او لویي

اسۡتِكۡبَارًا ﴿۷﴾ ثُمَّ اِنِّیۡ دَعَوۡتُهُمۡ

کوي ډېر غټه لويي(7) بيا يقيناً ما دوی ښه په جار

جِهَارًا ۙ﴿٨﴾ ثُمَّ اِنِّيْٓ اَعْلَنْتُ لَهُمْ وَ

(په اوچت اواز سره) راوبلل(8) بيا يقينًا ما دوى ته ښکاره (او ښکاره) دعوت ورکړ او

اَسْرَرْتُ لَهُمْ اِسْرَارًا ۙ﴿٩﴾ فَقُلْتُ

ما دوى ته په پټه هم دعوت ورکړ، ښه په پټه(9) نو ما (دوى ته) وويل:

اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

تاسو له خپل رب نه بخښنه وغواړئ بېشکه دى ډېر

غَفَّارًا ۙ﴿١٠﴾ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ

بخښونکى دى(10) دى به په تاسو ښه ورېدونکى

مِّدْرَارًا ۙ﴿١١﴾ وَّيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ

باران راخوشې کړي(11) او تاسو ته به مالونه او

بَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّيَجْعَلْ

زامن درزيات کړي، او تاسو ته به باغونه پيدا
کړي او تاسو ته

لَّكُمْ اَنْهٰرًا ﴿١٢﴾ مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ لِلّٰهِ

به ولې پيدا کړي(12) په تاسو څه شوي دي چې
د الله لپاره د لويي

وَقَارًا ﴿١٣﴾ وَقَدْ خَلَقَكُمْ اَطْوَارًا ﴿١٤﴾ اَلَمْ

عقيده نه ساتئ؟(13) حال دا چې ده تاسو قسما
قسم پيدا کړي يئ(14) ايا تاسو

تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللّٰهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ

نه دي کتلي چې الله اوه اسمانونه لاندې

طِبَاقًا ﴿١٥﴾ وَّجَعَلَ الْقَمَرَ فِيْهِنَّ نُوْرًا وَّ

باندې پيدا کړي(15) او په دغو کې يې سپوږمۍ
روښانه جوړه کړه او

جَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾ وَاللّٰهُ

لمر يې بَله (ځلېدونکې) ډيوه جوړه کړه(16) او الله

اَنۢبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾ ثُمَّ

تاسو په خاصو زرغونولو سره له ځمکې نه
رازرغون کړئ(17) بيا به

يُعِيْدُكُمْ فِيْهَا وَيُخْرِجُكُمْ

دی تاسو په دې کې ننباسي او راوبه موباسي په
خاصو

اِخْرَاجًا ﴿١٨﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ

را ايستلو سره(18) او الله تاسو لپاره ځمکه فرش

بِسَاطًا ﴿١٩﴾ لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا

جوړه کړې ده(19) د دې لپاره چې تاسو د دې په
ارتو لويو لارو

ع
9

فِجَاجًا ﴿٢٠﴾ قَالَ نُوحٌ رَّبِّ اِنَّهُمْ

باندې لارې شئ(20) نوح ووېل: اى زما ربه! بېشكه دوى

عَصَوْنِيْ وَاتَّبَعُوْا مَنْ لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهٗ

زما نافرماني وكړه، او دوى د هغه چا پيروي وكړه چې دغه (كس) ته د ده مال او د ده اولاد زياته نه

وَوَلَدُهٗٓ اِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا

كړه مگر زيانكاري (او تاوان)(21) او دغو خلقو ډېر لوى مكر

كُبَّارًا ﴿٢٢﴾ وَقَالُوْا لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ وَ

وچلاوه(22) او ويې ويل (خپلو خلقو ته): تاسو خپل معبودان مه پرېږدئ او

لَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا ۙ وَّلَا يَغُوْثَ

تاسو مه پرېږدئ (عبادت د) وَد، او نه (د) سُواع او نه (د) يغوث

وَيَعُوقَ وَنَسۡرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدۡ اَضَلُّوۡا

او يعوق اونسر(23) او يقينًا دغو (خلقو) ډېر

كَثِيۡرًا ۚ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيۡنَ اِلَّا

كسان گمراه كړي دي او ته ظالمانو ته مه زياتوه مگر

ضَلٰلًا ﴿٢٤﴾ مِمَّا خَطِيۡٓـٴَـتِهِمۡ اُغۡرِقُوۡا

گمراهي(24) دوى د خپلو گناهونو په سبب غرق (ډوب) كړِى شول،

فَاُدۡخِلُوۡا نَارًا ۙ فَلَمۡ يَجِدُوۡا لَهُمۡ مِّنۡ

نو اور ته داخل كړى شول، نو دوى د خپلو ځانونو لپاره له الله نه غير هېڅ

دُوۡنِ اللّٰهِ اَنۡصَارًا ﴿٢٥﴾ وَقَالَ نُوۡحٌ رَّبِّ لَا

مدد كوونكي ونه موندل(25) او نوح وويل: اى زما ربه! ته د

تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ

ځمكې له پاسه (د ځمكې په سر) په كافرانو كې
هېڅ يو ګرځېدونكى

دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوْا

مه پرېږده(26) يقينًا ته كه دوى پرېږدې، نو دوى
به

عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوْا اِلَّا فَاجِرًا

ستا بنده ګان ګمراه كړي او دوى نه زېږوي مګر
فاجر (بدكاره)،

كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَ

ډېر ناشكره(27) اى زما ربه! ته ما وبخښه او زما
مور او پلار او

لِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِيْنَ

هغه څوك (هم) چې زما كور ته داخل شي، چې
ايمان لرونكى وي اومومن

وَالْمُؤْمِنٰتِ ۗ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا

سړي او مومني ښځې (وبخښه) او ظالمانو ته مه زياتوه مګر

ع
10
النصف

تَبَارًا ۝٢٨

هلاکت(28)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

قُلۡ اُوۡحِیَ اِلَیَّ اَنَّهُ اسۡتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ

ته (دوی ته) ووايه چې ما ته وحي شوې ده چې بېشکه شان دا دی چې په پېريانو کې يو ټولي

الۡجِنِّ فَقَالُوۡۤا اِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡاٰنًا

(ډلې) (زما قراءت) په غور سره واورېده، (نو کله چې خپل قوم ته لاړل)، نو دوی وويل: بېشکه

عَجَبًا ۙ﴿۱﴾ يَّهۡدِیۡۤ اِلَی الرُّشۡدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ؕ

مونږ يو عجيبه قرآن واورېده(1) چې نېغې لارې ته هدايت کوي، نو مونږ په ده ايمان راوړ،

وَلَنۡ نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَاۤ اَحَدًا ۙ﴿۲﴾ وَّاَنَّهٗ

او مونږ به هيڅکله له خپل رب سره هيڅوك شريك نه کړو(2) او بېشکه

تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّ لَا

شان دا دی چې زمونږ د رب شان ډېر اوچت دی، ده نه ښځه نیولې ده

وَلَدًا ۝۳ وَّ اَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى

او نه اولاد(3) او بېشکه شان دا دی چې زمونږ ناپوهو (بېوقوفو) په الله باندې زیاتي (او بې

اللّٰهِ شَطَطًا ۝۴ وَّ اَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ

حقیقته) خبرې اړولې(4) او یقینًا مونږ دا خیال کاوه چې په الله باندې به

الْاِنْسُ وَ الْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۝۵ وَّ

انسانان او پېریان هیڅکله دروغ ونه وایي(5) او

اَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ

بېشکه شان دا دی چې په انسانانو کې ډېر داسې سړي وو

بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ

چې په پېریانو کې په ځینو سړیو پورې به یې پناه نیوله، نو دغو خلقو دغو (پېریانو) ته سرکشي

رَهَقًا ۝٦ وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ

ورزیاته کړه(6) او دا چې یقینًا دوی ګمان کړی و لکه چې تاسو ګمان کړی دی چې الله به هرګز

لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا ۝٧ وَّاَنَّا لَمَسْنَا

هیڅوك بیا ژوندي راپورته نه کړي(7) او دا چې بېشکه مونږ

السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا

اسمان ته ورسېدو، نو مونږ هغه وموندو چې په ډېرو سختو څوکیدارانو او سوځوونکو شغلو (ستوریو)

شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ۝٨ وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ

سره ډك کړی شوی دی(8) او دا چې بېشکه مونږ به د اورېدلو

مِنۡهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمۡعِ ؕ فَمَنۡ يَّسۡتَمِعِ

لپاره له دې (اسمان) نه د کېناستو په ځايونو کې
کېناستو، نو هغه څوك چې اوس غواړي چې

الۡاٰنَ يَجِدۡ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ۙ﴿۹﴾ وَّ اَنَّا لَا

واوري (نو) دى به د ځان لپاره د اور لمبه منتظره
ومومي(9) او دا چې يقينًا

نَدۡرِيۡۤ اَشَرٌّ اُرِيۡدَ بِمَنۡ فِي الۡاَرۡضِ اَمۡ

مونږ نه پوهېږو چې له هغه چا سره د شر (او
بدۍ) اراده شوې ده چې په ځمکه کې دي، يا له

اَرَادَ بِهِمۡ رَبُّهُمۡ رَشَدًا ۙ﴿۱۰﴾ وَّ اَنَّا مِنَّا

دوى سره د دوى رب د لارښوونې (او خير) اراده
کړې ده(10) او دا چې بېشکه

الصّٰلِحُوۡنَ وَ مِنَّا دُوۡنَ ذٰلِكَ ؕ كُنَّا

پر مونږ کې ځينې نېکان (او صالحه خلق) دي او
پر مونږ کې

طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿١١﴾ وَّ اَنَّا ظَنَنَّآ اَنۡ لَّنۡ

له دغو نه لاندې هم شته۔، مونږ په مختلفو لارو روان یو(11) او دا چې بېشکه مونږ یقین وکړ چې

نُّعۡجِزَ اللّٰهَ فِی الۡاَرۡضِ وَلَنۡ نُّعۡجِزَهٗ

مونږ به په ځمکه کې الله له سره عاجز نه کړی شو او مونږ به دی له سره په تېښتې سره

هَرَبًا ﴿١٢﴾ وَّ اَنَّا لَمَّا سَمِعۡنَا الۡهُدٰۤی اٰمَنَّا

عاجز نه کړی شو(12) او دا چې بېشکه مونږ چې کله هدایت واورېده (، نو)

بِهٖ ؕ فَمَنۡ یُّؤۡمِنۡۢ بِرَبِّهٖ فَلَا یَخَافُ

مونږ په ده ایمان راوړ، نو هغه څوك چې په خپل رب ایمان راوړي، نو دی به نه له نقصان نه

بَخۡسًا وَّ لَا رَهَقًا ﴿١٣﴾ وَّ اَنَّا مِنَّا

وېرېږي او نه (د چا) له ظلم نه(13) او دا چې بېشکه په مونږ

الْمُسْلِمُوْنَ وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ

كې ځيني مسلمانان دي او ځيني په مونږ كې ظالمان دي، نو هغه چې اسلام راوړي، نو دغو

اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿۱۴﴾ وَاَمَّا

خلقو د نېغې لارې قصد (او طلب) وكړ(14) او هر چې

الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿۱۵﴾ وَّ

ظالمان دي، نو دوى به د جهنم لرگي (خشاك) وي (15) او

اَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى الطَّرِيْقَةِ

(بله وحي ما ته دا راغلې ده چې) كه دوى په نېغې لارې باندې سم ودرېږي (نو)

لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا ﴿۱۶﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ

مونږ به په دوى ډېرې اوبه وڅښوو(16) د دې لپاره چې مونږ

فِيۡهِ ؕ وَمَنۡ يُّعۡرِضۡ عَنۡ ذِكۡرِ رَبِّهٖ

دوى په دغه (نعمت) كې وازمايو او هغه څوك چې
د خپل رب له ذكر (قرآن) نه مخ واړوي، نو هغه

يَسۡلُكۡهُ عَذَابًا صَعَدًا ۙ﴿۱۷﴾ وَّاَنَّ

(رب) به دى سخت عذاب ته داخل كړي(17) او
دا چې

الۡمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدۡعُوۡا مَعَ اللّٰهِ

يقينًا جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له
الله سره بل

اَحَدًا ۙ﴿۱۸﴾ وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ اللّٰهِ

هيڅوك مه بلئ(18) او دا چې يقينًا شان دا دى
چې كله د الله بنده (محمدﷺ لمانځه ته) ودريده،

يَدۡعُوۡهُ كَادُوۡا يَكُوۡنُوۡنَ عَلَيۡهِ

چې دغه (الله) يې باله، (نو) دوى نژدې وو چې
په ده باندې په يو بل پسې

ع
11

لِبَدًا ﴿١٩﴾ قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا رَبِّي وَلَآ

وركړيوتونكي شي(19) ته (دوى ته) ووايه: يقينًا زه خو يوائې خپل رب بولم او زه به له ده سره

أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٠﴾ قُلْ إِنِّي لَآ أَمْلِكُ

هيڅوك شريك نه كړم(20) ته (دوى ته) ووايه: بېشكه زه تاسو لپاره نه د هېڅ ضرر مالك (او

لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ قُلْ إِنِّي لَن

اختيار من) يم او نه د خير رسولو(21) ته (دوى ته) ووايه: بېشكه زه

يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٌ ۙ وَلَنْ أَجِدَ

چې يم هيڅوك به ما له الله نه له سره خلاص نه كړى شي او زه به له ده نه

مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ

غير هېڅ پناه ځاى ونه مومم(22) مګر د الله له جانبه د تبليغ

اللّٰهِ وَ رِسٰلٰتِهٖ ؕ وَ مَنۡ یَّعۡصِ اللّٰهَ وَ

او د هغه د پیغام رسولو (اختیارمن یم) او هغه
څوك چې د الله او

رَسُوۡلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِیۡنَ

د هغه د رسول نافرماني وکړي، نو بېشکه د ده
لپاره د جهنم اور دی، چې دوی به په

فِیۡهَاۤ اَبَدًا ؕ﴿۲۳﴾ حَتّٰۤی اِذَا رَاَوۡا مَا

هغه کې تل ترتله وي(23) تر هغه پورې چې کله
دوی هغه څه ووینې چې له دوی

یُوۡعَدُوۡنَ فَسَیَعۡلَمُوۡنَ مَنۡ اَضۡعَفُ

سره يې وعده کولی شي، نو دوی به ژر پوه شي
چې د مددګار په لحاظ څوك ډېر کمزوری دی او

نَاصِرًا وَّ اَقَلُّ عَدَدًا ﴿۲۴﴾ قُلۡ اِنۡ اَدۡرِیۡۤ

د شمېر په لحاظ څوك ډېر کم دی(24) ته (دوی
ته) ووایه: زه نه پوهېږم چې

اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ

ايا هغه (عذاب) نژدې دی چې تاسو سره يې وعده کولی شي، يا به د ده لپاره زما رب

رَبِّيْٓ اَمَدًا ۝٢٥ عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ

لرې زمانه مقرره کړي(25) دی عالم الغيب (په غيبو عالم) دی، نو دی په خپلو غيبو باندې

عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ۝٢٦ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى

هيڅوك نه خبروي(26) مگر هغه چې كوم رسول يې

مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ

خوښ شي، نو بېشكه دغه (الله) د ده په مخ كې او

يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ۝٢٧ لِّيَعْلَمَ

د ده شا ته ساتونكي (څوكيداران) روانوي(27) د دې لپاره چې دی

اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ وَ اَحَاطَ

په دې پوه شي چې دوی د خپل رب پېغامونه رسولي دي۔ او ده په هغه څه احاطه کړې ده

بِمَا لَدَیْهِمْ وَ اَحْصٰی كُلَّ شَیْءٍ

چې له دوی سره دی او ده هر شی ښه په

ع 12

عَدَدًا ﴿٢٨﴾

شمېر سره ساتلی دی(28)

# بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکى دى

يٰۤاَيُّهَا الۡمُزَّمِّلُ ۙ﴿۱﴾ قُمِ الَّيۡلَ اِلَّا

اى په ځان پورې جامه راتاوونکيه!(1) په شپه کې لمانځه ته ودرېږه مګر

قَلِيۡلًا ۙ﴿۲﴾ نِّصۡفَهٗۤ اَوِ انۡقُصۡ مِنۡهُ

لږه حصه (نه)(2) چې هغه د دغې (شپې) نيمه (ده)، يا ته له دغې (نيمې) نه

قَلِيۡلًا ۙ﴿۳﴾ اَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ الۡقُرۡاٰنَ

لږ څه کم شه(3) يا ته په دغې (نيمې) باندې څه اضافه وکړه او قرآن ښه ښکاره واضح لوله،

تَرۡتِيۡلًا ؕ﴿۴﴾ اِنَّا سَنُلۡقِىۡ عَلَيۡكَ قَوۡلًا

واضح لوستل(4) بېشکه مونږ به خامخا په تا باندې ډېر

ثَقِيلًا ⑤ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْاً

دروند قول نازلوو(5) بېشکه د شپې پورته کېدل، دغه (پاڅېدل) د (نفس) د پايمال کولو په لحاظ

وَّ اَقْوَمُ قِيْلًا ⑥ اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ

ډېر سخت دي او د (قرآن د) ويلو په لحاظ ډېر سموونکي دي(6) بېشکه تا لره په ورځ کې ډېره

سَبْحًا طَوِيْلًا ⑦ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَ

اوږده مشغولتيا (مصروفيت) وي(7) او ته د خپل رب نوم يادوه او ده ته

تَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ⑧ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَ

(له هر څه نه) جدا شه، پوره جدا کېدل(8) (دغه الله) د مشرق او

الْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ

مغرب رب دی۔ نشته هيڅ لايق د عبادت مگر هم دی دی، نو ته

وَكِيْلًا ﴿٩﴾ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَ

دى (خپل) كار ساز ونيسه(9) او ته په هغو خبرو
صبر كوه چې دوى يې وايي او

اهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا ﴿١٠﴾ وَذَرْنِيْ وَ

ته دوى پرېږده۔ ډېر ښه پرېښودل(10) او پرېږده
ما او

الْمُكَذِّبِيْنَ اُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ

دروغ ګڼونكي چې د نعمت والا دي او دوى ته لږ

قَلِيْلًا ﴿١١﴾ اِنَّ لَدَيْنَآ اَنْكَالًا وَّ

مهلت وركړه(11) بېشكه زمونږ سره درانه
ځنځيرونه (زولنې) او

جَحِيْمًا ﴿١٢﴾ وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَّعَذَابًا

سوځوونكى اور دى(12) او داسې طعام دى چې
په مرۍ كې نښتونكى دى

اَلِيْمًا ﴿١٣﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ وَ

او ډېر دردوونكى عذاب دى(13) په هغې ورځ
كې چې ځمكه او

الْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيْبًا

غرونه به خوځېږي او غرونه به د شګو رواني

مَّهِيْلًا ﴿١٤﴾ اِنَّاۤ اَرْسَلْنَاۤ اِلَيْكُمْ رَسُوْلًا ۙ

ډېرى شي(14) بېشكه مونږ تاسو ته رسول
درلېږلى دى، چې په تاسو (د قيامت په ورځ)

شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَاۤ اَرْسَلْنَاۤ اِلٰى

شاهد دى، لكه څنګه چې مونږ فرعون

فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ﴿١٥﴾ فَعَصٰى فِرْعَوْنُ

ته رسول لېږلى و(15) نو فرعون د دغه رسول
نافرماني وكړه،

الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا

نو مونږ دغه (فرعون) ونیولو په سختو

وَّبِيْلًا ﴿١٦﴾ فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ

نیولو سره(16) که تاسو کافر شئ، نو تاسو به ځان
له هغې ورځې نه څنګه وساتئ چې (واړه) هلکان

يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيْبًا ﴿١٧﴾

به سپین ږیري (بوډاګان) وګرځوي(17)

اِلسَّمَآءُ مُنْفَطِرٌۢ بِهٖ ؕ كَانَ وَعْدُهٗ

اسمان په دغې (ورځ) کې چاودېدونکی دی.، د
دغه (الله) وعده

مَفْعُوْلًا ﴿١٨﴾ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ

کېدونکې ده(18) بېشکه دا (ایتونه) نصیحت (او
پند) دی، نو هغه

ع
13

شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿١٩﴾ اِنَّ رَبَّكَ

خوك چې غواړي چې خپل رب ته تلونكې لاره غوره كړي، (نو غوره دې كړي)(19) بېشكه ستا

يَعْلَمُ اَنَّكَ تَقُوْمُ اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ

رب يقينًا په دې پوهېږي چې ته د شپې (په درې برخو كې) له دوو نه لږ كم (لمانحهٔ ته) پاڅېږې او

الَّيْلِ وَنِصْفَهٗ وَثُلُثَهٗ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ

(كله) د دې نيمه برخه او (كله) دريمه برخه (هم) او له

الَّذِيْنَ مَعَكَ ؕ وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَ

هغو كسانو نه يوه ډله هم چې له تا سره دي۔ او الله شپه او

النَّهَارَ ؕ عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ فَتَابَ

ورځ مقدار (او اندازه) كوي۔، دى په دې پوه دى چې بېشكه

عَلَيۡكُمۡ فَاقۡرَءُوۡا مَا تَيَسَّرَ مِنَ

حقيقت دا دی چې تاسو به هرگز د دې طاقت ونه لرئ۔، نو ده پر تاسو باندې رجوع وكړه،

الۡقُرۡاٰنِ ؕ عَلِمَ اَنۡ سَيَكُوۡنُ مِنۡكُمۡ

نو تاسو له قرآنه هومره لولئ چې اسان وي. دی په دې پوه دی چې يقينًا شان دا دی

مَّرۡضٰى ۙ وَاٰخَرُوۡنَ يَضۡرِبُوۡنَ فِى

چې په تاسو كې به مريضان وي او نور به په

الۡاَرۡضِ يَبۡتَغُوۡنَ مِنۡ فَضۡلِ اللّٰهِ ۙ وَ

ځمكه كې سفر كوي، چې د الله فضل به لټوي او

اٰخَرُوۡنَ يُقَاتِلُوۡنَ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ۖ

نور به د الله په لاره كې جنگ كوي، نو تاسو له دغه (قرآنه)

فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ وَ اَقِيْمُوا

هومره لولئ چې (درته) اسان وي او لمونځ قايموئ

الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَ اَقْرِضُوا اللّٰهَ

او زكاةت ادا كوئ او الله ته قرض وركوئ،

قَرْضًا حَسَنًا ؕ وَ مَا تُقَدِّمُوْا

ډېر ښكلى قرض۔ او هر هغه څه چې تاسو يې د

لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ

خپلو ځانونو لپاره له څه خيره مخكې لېږئ (نو)
هغه به تاسو له

اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّ اَعْظَمَ اَجْرًا ؕ وَ

الله سره وموموئ. دغه ډېر غوره او د اجر په لحاظ
ډېر لوى دي او

اسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

تاسو له الله نه بخښنه وغواړئ، بېشکه الله ډېر
بخښونکی، بې حده

ع
14

رَّحِيْمٌ ۝۲۰

رحم کوونکی دی(20)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

يٰۤاَيُّهَا الۡمُدَّثِّرُ ۙ﴿۱﴾ قُمۡ فَاَنۡذِرۡ ۖ﴿۲﴾ وَرَبَّكَ

اى په جامه كې نغښتونكيه!(1) ته پورته شه، نو (خلق) وويروه(2) او نو د خپل رب

فَكَبِّرۡ ۖ﴿۳﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ۖ﴿۴﴾ وَالرُّجۡزَ

لويي بيانوه(3) او نو خپلې جامې پاكې ساته(4) او گناه (او بتان)

فَاهۡجُرۡ ۖ﴿۵﴾ وَلَا تَمۡنُنۡ تَسۡتَكۡثِرُ ۖ﴿۶﴾ وَ

نو ترك كړه(5) او (داسې) احسان مه كوه چې بدل (او ډېرول) يې غواړې(6) او

لِرَبِّكَ فَاصۡبِرۡ ؕ﴿۷﴾ فَاِذَا نُقِرَ فِى

خاص د خپل رب لپاره، پس صبر كوه(7) نو كله چې په

النَّاقُوۡرِ ۙ﴿۸﴾ فَذٰلِكَ يَوۡمَئِذٍ يَّوۡمٌ

شپېلۍ کې پوکی وکړی شي(8) نو په دغه وخت کې دغه ډېره

عَسِيۡرٌ ۙ﴿۹﴾ عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ غَيۡرُ

سخته ورځ ده(9) په کافرانو باندې

يَسِيۡرٍ ﴿۱۰﴾ ذَرۡنِىۡ وَمَنۡ خَلَقۡتُ

اسانه نه ده(10) ته پرېږده ما او هغه څوك چې ما دی يواځې

وَحِيۡدًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّ جَعَلۡتُ لَهٗ مَالًا

پيدا کړی دی(11) او (بيا مې) ده ته ډېر زيات

مَّمۡدُوۡدًا ۙ﴿۱۲﴾ وَّ بَنِيۡنَ شُهُوۡدًا ۙ﴿۱۳﴾ وَّ

مال ورکړ(12) او زامن حاضر (باشه)(13) او

مَهَّدتُّ لَهُۥ تَمۡهِيدٗا ۝١٤ ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ

ده ته مې فراخي ورکړه، ډېره فراخي(14) بيا دی طمع لري چې زه به ده ته

أَزِيدَ ۝١٥ كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِأٓيَٰتِنَا

لا زيات ورکړم(15) هيڅکله هم نه، بېشکه دی زمونږ له ايتونو سره ډېر عناد کوونکی

عَنِيدٗا ۝١٦ سَأُرۡهِقُهُۥ صَعُودًا ۝١٧ إِنَّهُۥ

(مخالف) و(16) ژر به زه ده ته ډېر سخت تکليف ورکړم(17) بېشکه

فَكَّرَ وَقَدَّرَ ۝١٨ فَقُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ۝١٩ ثُمَّ

ده فکر وکړ او اندازه يې وکړه(18) پس دی دې هلاك کړی شي، ده څنګه اندازه وکړه؟(19) بيا

قُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ۝٢٠ ثُمَّ نَظَرَ ۝٢١ ثُمَّ

دې هلاك کړی شي، ده څنګه اندازه وکړه(20) بيا يې وکتل(21) بيا يې

عَبَسَ وَ بَسَرَ ﴿۲۲﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ وَ

مخ تریو کړ او وچولی (تندی) يې بوټ کړ(22)
بيا يې شا کړه او

اسْتَكْبَرَ ﴿۲۳﴾ فَقَالَ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ

لويي يې وکړه(23) نو ده وويل: نه دی دا (قرآن)
مګر داسې جادو چې

يُّؤْثَرُ ﴿۲۴﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ

رانقل کولی شي(24) نه دی دا مګر د

الْبَشَرِ ﴿۲۵﴾ سَاُصْلِيْهِ سَقَرَ ﴿۲۶﴾ وَ مَآ

انسان قول(25) ژر به زه دی د دوزخ اور ته
داخل کړم(26) او ته څه

اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿۲۷﴾ لَا تُبْقِيْ وَ لَا

شي پوه کړې چې سقر (د دوزخ اور) څه شی دی
(27) دی به نه باقي ساتي او نه

تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيْهَا تِسْعَةَ

به پرېږدي(28) انسان لره ډېر سوځوونکی دی(
29) په ده باندې نولس (ملايك)

عَشَرَ ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلْنَا أَصْحٰبَ النَّارِ إِلَّا

مقرر دي(30) او مونږ د دوزخ څوکيداران نه دي
گرځولي مگر

مَلٰئِكَةً ۖ وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا

ملايك او مونږ د دوی شمېر نه دی گرځولی مگر

فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ

ازمېښت د هغو کسانو لپاره چې کافران شوي دي،
د دې لپاره چې هغه

الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِينَ

کسان يقين وکړي چې کتاب ورته ورکړی شوی
دی او د هغو کسانو

اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا وَّ لَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

ايمان زيات شي چې ايمان يې راوړی دی او شك ونه كړي هغه كسان چې

الْكِتٰبَ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ وَلِيَقُوْلَ

كتاب ورته وركړی شوی دی او مومنان۔ او د دې لپاره چې هغه كسان ووايي

الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّ

چې د هغوی په زړونو كې مرض دی او

الْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۭ

كافران: الله په دې سره د مثال په لحاظ څه اراده كړې ده۔.

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ

همداسې الله گمراه كوي چا ته چې وغواړي او هدايت وركوي

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ

چا ته چې وغواړي۔ او ستا د رب لښکرې نه پېژني

اِلَّا هُوَ ؕ وَمَا هِيَ اِلَّا ذِكْرٰى

مگر هم دی. او نه دی دا مگر د خلقو لپاره

ع
15

لِلْبَشَرِ ﴿۳۱﴾ كَلَّا وَالْقَمَرِ ﴿۳۲﴾ وَالَّيْلِ اِذْ

نصيحت (او پند)(31) هیڅکله داسې نه ده، قسم دی په سپوږمۍ(32) او په شپې باندې

اَدْبَرَ ﴿۳۳﴾ وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ ﴿۳۴﴾ اِنَّهَا

کله چې شا کړي(33) او په سبا باندې کله چې روښانه شي(34) بېشکه دغه

لَاِحْدَى الْكُبَرِ ﴿۳۵﴾ نَذِيْرًا

(اور د سقر) یقینًا په لویو (بلاگانو) کې یو دی( 35) چې انسان لره

لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ

وبرroonکی دی(36) هغه چا لره چې په تاسو کې

يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ ﴿٣٧﴾ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا

غواړي چې وړاندې شي، يا وروسته شي(37) هر
نفس به د خپلو کړو په بدل

كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ﴿٣٨﴾ اِلَّآ اَصْحٰبَ

کې ګاڼه (ګرو) وي(38) غیر له ښي اړخ

الْيَمِيْنِ ﴿٣٩﴾ فِيْ جَنّٰتٍ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٤٠﴾

والاو نه(39) (دوی به) په جنتونو کې وي، یو تر
بله به پوښتنې کوي(40)

عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِيْ

د مجرمانو (کافرانو) په باره کې(41) (مومنان به
مجرمانو ته وايي:)

سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ

تاسو په دوزخ کې څه شي داخل کړي يئ؟(42)
دوى به ووايي: مونږ له لمونځ

الْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ

کوونکو څخې نه وو(43) او مسکين ته به مو

الْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ

طعام نه ورکاوه(44) او له باطل ويونکو سره به
مونږ په باطلو

الْخَائِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ

خبرو کې ننوتلو(45) او مونږ به د بدلې ورځ

الدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰ أَتَانَا الْيَقِينُ ﴿٤٧﴾ فَمَا

دروغ ګڼله(46) تر دې پورې چې مونږ ته يقين
راغى(47) نو دوى ته

تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّفِعِينَ ﴿٤٨﴾ فَمَا

د سفارش کوونکو سفارش فایده نه رسوي(48) نو
په

لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾

دوی څه شوي دي چې له نصیحت (قرآن) نه مخ
گرځوونکي دي(49)

كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِنْ

گویا کې دوی تښتېدونکي ځنګلي خره دي(50)
چې له

قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ

زمري نه تښتي(51) بلکې په دوی کې هر یو سړی
غواړي چې ده ته خورې

أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا ۖ بَل لَّا

کړی شوې صحیفې (پاڼې) ورکړی شي(52)
هیڅکله داسې نه ده۔

يَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّآ اِنَّهٗ

بلکي دوی له اخرت نه نه وېرېږي(53) هیڅکله داسې نه ده، بېشکه دا

تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿٥٥﴾ وَمَا

(قرآن) نصیحت دی(54) نو څوك چې غواړي (نو) له ده نه دې پند واخلي(55) او دوی

يَذْكُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ هُوَ اَهْلُ

نصیحت (او پند) نه اخلي مگر که الله یې وغواړي. هم دی د وېرې

ع 16

التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

لایق دی او د بخښنې اهل دی(56)

الثلثة

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

لَاۤ اُقۡسِمُ بِيَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ ۙ﴿۱﴾ وَلَاۤ اُقۡسِمُ

زه د قيامت په ورځې باندې قسم خورم(1) او زه
په ډېر ملامت کوونکي

بِالنَّفۡسِ اللَّوَّامَةِ ؕ﴿۲﴾ اَيَحۡسَبُ

نفس باندې قسم خورم(2) ايا (کافر) انسان دا
گمان کوي

الۡاِنۡسَانُ اَلَّنۡ نَّجۡمَعَ عِظَامَهٗ ؕ﴿۳﴾ بَلٰى

چې مونږ به د ده هډوکي له سره راجمع نه کړو(3)
ولې نه! (جمع به يې کړو)، په داسې حال کې چې

قٰدِرِيۡنَ عَلٰۤى اَنۡ نُّسَوِّىَ بَنَانَهٗ ﴿۴﴾ بَلۡ

مونږ په دې قادر يو چې د ده (هډوکي او) د گوتو
بندونه (هم) برابر کړو(4) بلکې

د سورتونو فهرست
د سپارو فهرست

يُرِيۡدُ الۡاِنۡسَانُ لِيَفۡجُرَ اَمَامَهٗ ۚ۝۵

(کافر) انسان اراده لري چې په خپله مخه (راتلونکې زمانه) کې هم نافرماني وکړي(5)

يَسۡـَٔلُ اَيَّانَ يَوۡمُ الۡقِيٰمَةِ ؕ۝۶ فَاِذَا بَرِقَ

دی تپوس کوي چې د قيامت ورځ به کله وي؟(6) نو کله چې سترګې

الۡبَصَرُ ۙ۝۷ وَخَسَفَ الۡقَمَرُ ۙ۝۸ وَجُمِعَ

خړې (سپينې) شي(7) او سپوږمۍ توره (بې رڼا) شي(8) او

الشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ ۙ۝۹ يَقُوۡلُ الۡاِنۡسَانُ

لمر او سپوږمۍ سره جمع کړی شي(9) نو (کافر) انسان به په دغه وخت کې وايي:

يَوۡمَئِذٍ اَيۡنَ الۡمَفَرُّ ۚ۝۱۰ كَلَّا لَا وَزَرَ ؕ۝۱۱ اِلٰى

د تېښتې ځای چېرته دی؟(10) هيڅکله داسې نه ده، هېڅ پناه ځای نشته(11) په دغې

رَبِّكَ يَوۡمَئِذِ اِلۡمُسۡتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُا

ورځ کې ځای د قرار ستا د رب په طرف دی(12)
په دغې ورځ

الۡاِنۡسَانُ يَوۡمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَ

کې به انسان په هغه څه خبر کړی شي چې ده
مخکې لیږلي دي او وروسته يې

اَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ الۡاِنۡسَانُ عَلٰى نَفۡسِهٖ

پرېښي دي(13) بلکې انسان په خپل ځان باندې

بَصِيۡرَةٌ ﴿١٤﴾ وَّلَوۡ اَلۡقٰى مَعَاذِيۡرَهٗ ﴿١٥﴾ لَا

ښه دلیل دی(14) اګر که دی خپل عذرونه
وړاندې کړي(15) (ای نبي!) ته خپله

تُحَرِّكۡ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعۡجَلَ بِهٖ ﴿١٦﴾ اِنَّ

ژبه په دې (قرآن) سره مه خوځوه، د دې لپاره
چې ته دا په تُندی سره حاصل کړې(16) بېشکه

عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ﴿١٧﴾ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ

پر مونږ باندې د ده جمع کول او د ده لوستل دي(
17) نو کله چې مونږ دی ولولو،

فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿١٨﴾ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا

نو ته د ده د لوستلو پیروي کوه(18) بیا یقینًا زمونږ
په ذمه د ده بیانول دي(19) هیڅکله داسې نه ده۔

بَيَانَهٗ ﴿١٩﴾ كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَ

بلکې تاسو تادي کوونکې (زر تېرېدونکې فاني
کېدونکې دنیا) خوښوئ(20) او

تَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ

تاسو اخرت پرېږدئ(21) په دغې ورځ کې به څه
مخونه تازه

نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوْهٌ

روښانه وي(22) خپل رب ته به کتونکي وي(23)
او په دغې

يَّوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا

ورځ کې به ځه مخونه سخت تریو (او سپېره) وي(
24) یقین به کوي چې له دوی سره به مَلا

فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَ

ماتوونکی عمل وشي(25) داسې نه ده۔ کله چې
ساه د ستوني هډوکي ته ورسېږي(26) او

قِيْلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَّظَنَّ اَنَّهُ

وبه ویل شي: څوك دی دم کوونکی؟(27) او دی
به یقین وکړي چې بېشکه دغه

الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ

(وخت د) بېلتون دی(28) او یوه پنډۍ به له بلې

بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ

پنډۍ تاوېږي(29) ستا د رب په لوري به دغې

الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَ

ورځ کې ورتله دي(30) پس ده نه تصدیق وکړ او
نه يې لمونځ وکړ(31) او

لَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ

لېکن دروغ يې وګڼه (قرآن) او مخ يې وګرځاوه(
32) بیا خپل اهل ته لاړ، په داسې

أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ ﴿٣٣﴾ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ

حال کې چې تکبر يې کاوه(33) تا ته دې هلاکت
(او افسوس) وي، پس هلاکت دې وي(34) بیا

أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ

دې تا لپاره هلاکت وي، نو هلاکت دې وي(35)
ایا (کافر) انسان ګمان کوي چې دی به مهمل (او

أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً

بې کاره) پرېښودل شي(36) ایا دغه (انسان) د
هغې منی یو

مِّن مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً

څاڅکی نه و چې تویولی شي(37) بیا دی د وینې
یوه ټوټه وه، نو دغه (الله دی) پیدا کړ،

فَخَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ

پس برابر یې کړ(38) نو له دغې (منی) نه یې دوه

الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿٣٩﴾ اَلَيْسَ

قسمه پیدا کړل (یعنې) سړی او ښځه(39) ایا دغه
(الله)

ع 18

ذٰلِكَ بِقٰدِرٍ عَلٰى اَنْ يُّحْيِيَ الْمَوْتٰى ﴿٤٠﴾

په دې قادر نه دی چې مړي راژوندي کړي؟(40)

ع
17

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

هَلۡ اَتٰى عَلَى الۡاِنۡسَانِ حِيۡنٌ مِّنَ

يقينًا په انسان باندې داسې وخت هم راغلی دی

الدَّهۡرِ لَمۡ يَكُنۡ شَيۡـًٔا مَّذۡكُوۡرًا ۝١ اِنَّا

چې دی څه داسې د يادولو (وړ) شی نه و(1)
بيشکه

خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ مِنۡ نُّطۡفَةٍ اَمۡشَاجٍ ۖ

مونږ انسان له ګډې وډې شوې نطفې نه پيدا کړی
دی، چې مونږ به دی ازمايو، نو

نَّبۡتَلِيۡهِ فَجَعَلۡنٰهُ سَمِيۡعًا ۢ بَصِيۡرًا ۝٢ اِنَّا

دی مونږ اورېدونکی (او) ليدونکی وګرځاوه(2)
بيشکه

هَدَيۡنٰهُ السَّبِيۡلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّ اِمَّا

مونږ ده ته د نېغې لارې ښوونه کړې ده، يا به دى شکر کوونکى وي او يا به

كَفُوۡرًا ۝۳ اِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا لِلۡكٰفِرِيۡنَ

ډېر ناشکره وي(3) بېشکه مونږ د کافرانو لپاره

سَلٰسِلَاۡ وَ اَغۡلٰلًا وَّ سَعِيۡرًا ۝۴ اِنَّ

ځنځيرونه او طوقونه (زلونې) او لمبې وهونکى اور تيار کړى دى(4) بېشکه

الۡاَبۡرَارَ يَشۡرَبُوۡنَ مِنۡ كَاۡسٍ كَانَ

نېکان خلق به د شرابو له داسې جامونو نه څښاك کوي چې د هغو

مِزَاجُهَا كَافُوۡرًا ۝۵ عَيۡنًا يَّشۡرَبُ بِهَا

ګډونى (امېزش) به کافور وي(5) چې چينه ده، د الله بنده ګان به

عِبَادُ اللّٰهِ يُفَجِّرُوْنَهَا تَفْجِيْرًا ۝٦

له هغې نه څښي۔، دوى به هغه بهوي (چېرته چې وغواړي) ښه بهول(6)

يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا كَانَ

دوى نذرونه پوره كوي او له هغې ورځې نه وېرېږي چې د هغې

شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا ۝٧ وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ

شر ښه ښكاره دى(7) او دوى د هغه (الله) په مينه

عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا وَّ

كې مسكين او يتيم او بندي ته

اَسِيْرًا ۝٨ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا

طعام وركوي(8) (دوى وايي:) بېشكه همدا خبره ده چې مونږ

نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا ﴿٩﴾ اِنَّا

تاسو ته د الله له مخه طعام درکووـ، مونږ له تاسو نه څه بدله او شکر نه غواړو(9) بیشکه

نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا

مونږ له خپل رب نه د تریو مخي ډېري سختي

قَمْطَرِيْرًا ﴿١٠﴾ فَوَقٰهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ

ورځي (له عذاب) نه وېرېږو(10) نو الله به دوی د دغي ورځي له شر نه

الْيَوْمِ وَلَقّٰهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ﴿١١﴾ وَ

بچ وساتي او دوی ته به تازګي او خوشالي ورسوي(11) او

جَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّ

دوی ته به د خپل صبر په سبب جنت او

حَرِيْرًا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٔيْنَ فِيْهَا عَلَى

وربښم په بدل کې ورکړي(12) په داسې حال کې
چې په تختونو باندې

الْاَرَآئِكِ ۚ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا

به تکيه وهونکي وي.، دوى به په هغه (جنت) کې
نه لمر ويني او نه

زَمْهَرِيْرًا ﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَ

ساړه (يخني)(13) په داسې حال کې چې په دوى
باندې به د دغه (جنت د ونو) سيورى نژدې وي

ذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ

او د هغه د مېوو شوکول به مُسخَّر (راتيټ) کړى
شوي وي، مُسخرکېدل(14) او په دوى باندې به

عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّاَكْوَابٍ

لوښي د سپينو زرو او ګلاسونه ګرځولى شي چې د

كَانَتۡ قَوَارِيرَاْ ۝١٥ قَوَارِيرَاْ مِن فِضَّةٖ

شيشو به وي(15) د سپينو زرو شيشې چې دوی به دغه (لوښي)

قَدَّرُوهَا تَقۡدِيرٗا ۝١٦ وَيُسۡقَوۡنَ فِيهَا

اندازه کړي وي، اندازه کول(16) او په دغه (جنت) کې به په دوی د شرابو داسې

كَأۡسٗا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ۝١٧ عَيۡنٗا

جامونه ورڅښول کېږي چې ګډونی به يې زنجبيل وي(17) چې چينه ده

فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلۡسَبِيلٗا ۝١٨ وَيَطُوفُ

په دغه (جنت) کې چې نوم يې سلسبيل اېښودل شوی دی(18) او په دوی باندې

عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ إِذَا

به (د خدمت لپاره) همېشني هلکان ګرځي۔ کله چې ته دوی ووينې۔ (نو) ته به

رَاَيۡتَهُمۡ حَسِبۡتَهُمۡ لُؤۡلُؤًا مَّنۡثُوۡرًا ﴿۱۹﴾ وَ

دوی خوريږ کړی شوي ملغلرې ګڼې(19) او

اِذَا رَاَيۡتَ ثَمَّ رَاَيۡتَ نَعِيۡمًا وَّ مُلۡكًا

کله چې ته وګورې (نو) په دغه ځای کې به نعمتونه او ډېره لويه

كَبِيۡرًا ﴿۲۰﴾ عٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُنۡدُسٍ

بادشاهي ووينې(20) د دوی په تن باندې به د نري

خُضۡرٌ وَّ اِسۡتَبۡرَقٌ ۫ وَّ حُلُّوۡۤا اَسَاوِرَ مِنۡ

وربښمو جامې وي چې شنې به وي او د پېړو وربښمو (جامې به هم وي) او دوی ته

فِضَّةٍ ۚ وَ سَقٰهُمۡ رَبُّهُمۡ شَرَابًا

به د سپينو زرو باهوګان واچولی شي- او خپل رب به په دوی ډېر

ع
19

طَهُوۡرًا ﴿۲۱﴾ اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمۡ جَزَآءً وَّ

پاكيزه شراب وڅښبي(21) بېشکه دا (نعمت) تاسو
لپاره بدله ده. او

كَانَ سَعۡيُكُمۡ مَّشۡكُوۡرًا ﴿۲۲﴾ اِنَّا نَحۡنُ

ستاسو سعي (کوشش) قبول کړی شوی دی(22)
بېشکه همدا مونږ

نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ تَنۡزِيۡلًا ﴿۲۳﴾

پر تاسو باندې قرآن نازل کړی دی، ښه نازلول(
(23

فَاصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعۡ مِنۡهُمۡ

نو ته د خپل رب حکم ته صبر کوه او په دوی کې
د هيڅ ګناهګار او سخت ناشکره

اٰثِمًا اَوۡ كَفُوۡرًا ﴿۲۴﴾ وَاذۡكُرِ اسۡمَ رَبِّكَ

خبره مه منه(24) او په سبا او بېګاه کې ته د

بُكۡرَةً وَّ اَصِيۡلًا ۚ﴿۲۵﴾ وَ مِنَ الَّيۡلِ فَاسۡجُدۡ

خپل رب نوم يادوه(25) او د شپې په څه حصه کې۔، نو ته هغه ته سجده کوه او

لَهٗ وَ سَبِّحۡهُ لَيۡلًا طَوِيۡلًا ﴿۲۶﴾ اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ

د هغه تسبيح وايه په اوږده شپه کې(26) بېشکه دغه خلق

يُحِبُّوۡنَ الۡعَاجِلَةَ وَ يَذَرُوۡنَ وَرَآءَهُمۡ

تادي کوونکې (زر تېرېدونکي دنيا) خوښوي او له خپل ځان وروسته

يَوۡمًا ثَقِيۡلًا ﴿۲۷﴾ نَحۡنُ خَلَقۡنٰهُمۡ وَ

درنه ورځ پرېږدي(27) مونږ دوی پيدا کړي دي او

شَدَدۡنَاۤ اَسۡرَهُمۡ ۚ وَ اِذَا شِئۡنَا بَدَّلۡنَاۤ

مونږ د دوی بندونه مضبوط کړي دي۔ او کله چې مونږ وغواړو د دوی

اَمۡثَالَهُمۡ تَبۡدِيۡلًا ﴿۲۸﴾ اِنَّ هٰذِهٖ تَذۡكِرَةٌ ۚ

مثالونه به په بدل کې راولو، په بدل کې راوستل(28) بېشکه دا (قرآن) نصیحت دی، نو هغه څوک

فَمَنۡ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيۡلًا ﴿۲۹﴾ وَ

چې غواړي چې خپل رب طرف ته لار ونیسي (نو ودې نیسي)(29) او

مَا تَشَآءُوۡنَ اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ

تاسو اراده نشئ کولی مگر دا چې الله وغواړي۔، بېشکه

اللّٰهَ كَانَ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ﴿۳۰﴾ۖ يُّدۡخِلُ مَنۡ

الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی(30) چا ته چې وغواړي

يَّشَآءُ فِىۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمِيۡنَ اَعَدَّ

په خپل رحمت کې یې داخلوي او ظالمان (کافران) چې دي هغهٔ،

ع
20

لَهُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۳۱

د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب تیار کړی دی(
31)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَ الْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ۙ﴿۱﴾ فَالْعٰصِفٰتِ

قسم دی په هغو بادونو چې پرله پسې لېږل شوي
دي!(1) بيا په هغو سختو تېزو چلېدونکو بادونو

عَصْفًا ۙ﴿۲﴾ وَّ النّٰشِرٰتِ نَشْرًا ۙ﴿۳﴾

باندې، تېز تلل(2) او په خورونکو بادونو باندې،
خورول(3)

فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ۙ﴿۴﴾ فَالْمُلْقِيٰتِ

بيا په هغو بادونو چې جدا والی راولي، جدا کول(
4) بيا په هغو بادونو باندې چې

ذِكْرًا ۙ﴿۵﴾ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ۙ﴿۶﴾ اِنَّمَا

د ذکر اچونکي دي(5) د عذر لپاره او وېرولو لپاره
(6) بېشکه

تُوۡعَدُوۡنَ لَوَاقِعٌ ۟ؕ فَاِذَا النُّجُوۡمُ

چې له تاسو سره څه وعده کولی شي یقیناً (هغه) واقع کېدونکې ده(7) نو کله چې ستوري بې رڼا

طُمِسَتۡ ۟ۙ وَاِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتۡ ۟ۙ وَ

کړی شي(8) او کله چې اسمان څیرې کړی شي( 9) او

اِذَا الۡجِبَالُ نُسِفَتۡ ۟ۙ وَاِذَا الرُّسُلُ

کله چې غرونه والوزول شي(10) او کله چې رسولانو ته

اُقِّتَتۡ ۟ؕ لِاَیِّ یَوۡمٍ اُجِّلَتۡ ۟ؕ لِیَوۡمِ

وخت وټاکل شي(11) د کومې ورځې لپاره دغه (خیزونه) وروسته کړی شوي دي؟(12) د فیصلې

الۡفَصۡلِ ۟ۚ وَمَاۤ اَدۡرٰىكَ مَا یَوۡمُ

د ورځې لپاره(13) او ته څه شي پوه کړې چې د

الْفَصْلِ ﴿١٤﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٥﴾

فیصلې ورځ کله ده(14) د دروغ گڼونکو لپاره په
دغې ورځ کې هلاکت دی(15)

اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ

ایا مونږ ړومبني (مجرمان) نه دي هلاك كړي(16)
بیا مونږ په دوی پسې

الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٧﴾ كَذٰلِكَ نَفْعَلُ

وروستني خلق ورلېږو(17) همداسې کار مونږ له

بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٨﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

مجرمانو (کافرانو) سره کوو(18) په دغې ورځې
کې د تکذیب کوونکو (دروغ گڼونکو)

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٩﴾ اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ

لپاره هلاکت دی(19) ایا مونږ تاسو له سپکو اوبو

مَّهِيۡنٍ ۟ۙ فَجَعَلۡنٰهُ فِيۡ قَرَارٍ مَّكِيۡنٍ ۟ۙ

نه نه يئ پيدا كړي(20) پس مونږ دغه (اوبه) په مضبوط ځاى كې كېښودلې(21)

اِلٰى قَدَرٍ مَّعۡلُوۡمٍ ۟ۙ فَقَدَرۡنَا ۖۗ فَنِعۡمَ

تر مقررې نېټې (اندازې) پورې(22) نو مونږ قادر يو، پس (مونږ)

الۡقٰدِرُوۡنَ ۟ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ

ښه قدرت لرونكي يو(23) په دغې ورځې كې د دروغ گڼونكو

لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ۟ اَلَمۡ نَجۡعَلِ الۡاَرۡضَ

لپاره هلاكت دى(24) ايا مونږ ځمكه نه ده گرځولې

كِفَاتًا ۟ۙ اَحۡيَآءً وَّاَمۡوَاتًا ۟ۙ وَّجَعَلۡنَا

راجمع كوونكې(25) ژونديو لره او مړيو لره(26) او مونږ په

فِيۡهَا رَوَاسِىَ شٰمِخٰتٍ وَّ اَسۡقَيۡنٰكُمۡ

دي کې اوچت لوی غرونه پیدا کړي دي او په تاسو مو خوږې تنده

مَّآءً فُرَاتًا ؕ﴿۲۷﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ

ماتوونکې اوبه څښلي(27) په دغې ورځ کې د دروغ ګڼونکو

لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۲۸﴾ اِنۡطَلِقُوۡۤا اِلٰى مَا كُنۡتُمۡ

لپاره هلاکت دی(28) تاسو ځئ لاړ شئ هغه څيز ته چې تاسو به

بِهٖ تُكَذِّبُوۡنَ ۚ﴿۲۹﴾ اِنۡطَلِقُوۡۤا اِلٰى ظِلٍّ ذِىۡ

هغه دروغ ګاڼه(29) تاسو ځئ لاړ شئ هغه سیوري ته چې د

ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿۳۰﴾ لَّا ظَلِيۡلٍ وَّ لَا يُغۡنِىۡ مِنَ

دریوڅانګو والا دی(30) چې نه یخ دی او نه د اور لمبې لرې

اللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿٣٢﴾

کولی شي(31) بېشکه دغه (اور) داسې سرې سکروټې ولي (غورځوي)، لکه اوچتې ماڼۍ(32)

كَأَنَّهُ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ

ګویا کې دغه (سکروټې، بڅرکې) زيړ تور بخن اوښان دي(33) په دغې ورځ کې

لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٤﴾ هَٰذَا يَوْمُ لَا

د دروغ ګڼونکو لپاره هلاکت دی(34) دغه ورځ ده چې دوی به (په کې)

يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ

خبرې نشي کولی(35) او دوی ته به اجازت ورکولی نشي، پس

فَيَعْتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ

چې دوی عذر وکړي(36) په دغې ورځ کې د

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٧﴾ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ

دروغ گڼونکو لپاره هلاکت دی(37) دغه د فیصلې ورځ ده، مونږ، تاسو او

جَمَعْنٰكُمْ وَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٨﴾ فَاِنْ كَانَ

ړومبني خلق راجمع کړي دي(38) نو که له تاسو سره څه چل مکر وي،

لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

نو زما سره (دغه) چل مکر وکړئ(39) په دغې ورځ کې د دروغ گڼونکو

ع 21

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٠﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ وَّ

لپاره هلاکت دی(40) یقینًا پرهېزګاران به په سیورو او

عُيُوْنٍ ﴿٤١﴾ وَّ فَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٤٢﴾

چینو کې وي(41) او په داسې مېوو کې چې دوی یې غواړي(42)

كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ

(ملايك به مومنانو ته وايي:) تاسو خورئ او
څښئ، په داسې حال کې چې خوند اخيستونکي

تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي

يئ د هغو عملونو په بدل کې چې تاسو به کول(
43) بېشکه همداسې مونږ

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

نېکي کوونکو ته بدله ورکوو(44) په دغې ورځ
کې د دروغ ګڼونکو

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۵﴾ كُلُوْا وَ تَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا

لپاره هلاکت دی(45) تاسو خورئ او فایده
واخلئ لږه،

اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

بېشکه تاسو مجرمان يئ(46) په دغې ورځ کې د
تکذيب کوونکو

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا

(دروغ ويونكو) لپاره هلاکت او تباهي ده(47) او کله چې دوی ته وویل شي تاسو

لَا يَرْكَعُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

رکوع کوئ (نو) دوی رکوع نه کوي(48) په دغې ورځ کې د تکذیب

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَبِأَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ

کوونکو لپاره هلاکت دی(49) نو له دې (قرآن) نه وروسته دوی په

ع
22

يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٠﴾

څه شي ایمان راوړي؟(50)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ۝١ عَنِ ٱلنَّبَإِ

دوی د څه شي په باره کې يو له بل پوښتنه کوي؟(
1) د ډېر لوی

ٱلۡعَظِيمِ ۝٢ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ

خبر په باره کې(2) هغه چې دوی په هغه کې سره

مُخۡتَلِفُونَ ۝٣ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ۝٤ ثُمَّ

اختلاف کوونکي دي(3) نه دې کوي (دغه
اختلاف او پوښتنې)، ژر به دوی پوه شي(4) بيا

كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ۝٥ أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ

هيڅکله دې نه کوي، ژر به دوی پوه شي(5) ايا
مونږ ځمکه

مِهٰدًا ﴿٦﴾ وَّ الۡجِبَالَ اَوۡتَادًا ﴿٧﴾ وَّ

فرش نه ده گرځولې؟(6) او غرونه (مو) میخونه(
7) او

خَلَقۡنٰكُمۡ اَزۡوَاجًا ﴿٨﴾ وَّ جَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ

مونږ تاسو پیدا کړي یئ جوړې (نر او ښځه)(8)
او مونږ ستاسو خوب (تاسو لپاره)

سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَّ جَعَلۡنَا الَّيۡلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَّ

راحت ګرځولی دی(9) او شپه مو لباس ګرځولې
ده(10) او

جَعَلۡنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَّ بَنَيۡنَا

ورځ مو د روزۍ لټولو وخت ګرځولی دی(11) او
ستاسو له پاسه مو

فَوۡقَكُمۡ سَبۡعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَّ جَعَلۡنَا

اوه ډېر مضبوط اسمانونه جوړ کړي دي(12) او
مونږ

سِرَاجًا وَّهَّاجًا ﴿۱۳﴾ وَّاَنْزَلْنَا مِنَ

روښانه ځلېدونکې ډېوه پیدا کړې ده(13) او مونږ له ډکو ورېځو

الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿۱۴﴾ لِّنُخْرِجَ بِهٖ

نه ډېرې توېېدونکې اوبه نازلې کړې دي(14) د دې لپاره چې مونږ په دغو (اوبو) سره

حَبًّا وَّنَبَاتًا ﴿۱۵﴾ وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ﴿۱۶﴾ اِنَّ

دانې او زرغونه راوباسو(15) او باغونه یو له بل سره نژدې(16) بېشکه

يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيْقَاتًا ﴿۱۷﴾ يَّوْمَ

د فیصلې ورځ مقرر وخت دی(17) هغه ورځ چې

يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ فَتَاْتُوْنَ اَفْوَاجًا ﴿۱۸﴾ وَّ

پوکی به ووهل شي په شپېلۍ کې، نو تاسو به ډلې ډلې راځئ(18) او

فُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَّ

اسمان به پرانستل شي، نو دى به دروازې دروازې وي(19) او

سُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ اِنَّ

غرونه به روان کړی شي، نو دوی به سراب شي( 20) بېشکه

جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّاغِيْنَ

دوزخ به د انتظار ځای (کمين ځای) شي(21) د سرکشو لپاره د

مَاٰبًا ﴿٢٢﴾ لّٰبِثِيْنَ فِيْهَآ اَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَا

ورتللو ځای(22) چې دوی به په هغه کې زمانې زمانې (همېشه) پاتې کېږي(23) دوی به

يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ اِلَّا

په هغه کې نه څه يخوالی څکي او نه څه اوبه( 24) غير د

حَمِيۡمًا وَّ غَسَّاقًا ﴿۲۵﴾ جَزَآءً

اېشېدلو تودو اوبو او بهېدونکو وينو زوو نه(25)
بدله به ورکولی شي د عملونو

وِّفَاقًا ﴿۲۶﴾ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا لَا يَرۡجُوۡنَ

سره برابره موافقه(26) بېشکه دوی به د حساب

حِسَابًا ﴿۲۷﴾ وَّ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا ﴿۲۸﴾ وَ

امېد نه کاوه(27) او زمونږ ايتونه به يې دروغ
ګڼل، سخت دروغ ګڼل(28) او

كُلَّ شَیۡءٍ اَحۡصَيۡنٰهُ كِتٰبًا ﴿۲۹﴾ فَذُوۡقُوۡا

هر شی، مونږ هغه په کتاب (لوح محفوظ) کې
شمېرلی (او محفوظ کړی) دی(29) نو تاسو

ع
1

فَلَنۡ نَّزِيۡدَكُمۡ اِلَّا عَذَابًا ﴿۳۰﴾ اِنَّ

(خپله سزا) وڅکئ۔ پس مونږ به تاسو ته له سره
زيات نه کړو مګر عذاب(30) بېشکه

لِلۡمُتَّقِيۡنَ مَفَازًا ۙ﴿۳۱﴾ حَدَآئِقَ وَ

خاص د متقیانو لپاره کامیابي ده(31) (چې) باغونه او

اَعۡنَابًا ۙ﴿۳۲﴾ وَّ کَوَاعِبَ اَتۡرَابًا ۙ﴿۳۳﴾ وَّ کَاۡسًا

انګور دي(32) او انارسینه همځولې پېغلې دي( 33) او ترڅنډو پورې ډکې

دِهَاقًا ﴿ؕ۳۴﴾ لَا یَسۡمَعُوۡنَ فِیۡهَا لَغۡوًا وَّ لَا

د شرابو پیالې دي(34) دوی په دغه (جنت) کې نه لغوه (بېکاره) خبره اوري او

کِذّٰبًا ﴿ۚ۳۵﴾ جَزَآءً مِّنۡ رَّبِّكَ عَطَآءً

نه دروغ(35) د رب له جانبه به بدله ورکولی شي۔ (د عملونو) په حساب

حِسَابًا ۙ﴿۳۶﴾ رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَ

سره ډېره ورکړه(36) چې د اسمانونو او ځمکې رب دی او

مَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ

د هغه څه چې د دغو دواړو په مینځ کې دي، چې ډېر زيات مهربان دی، دوی له هغه سره د خبرو

خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُوْمُ الرُّوْحُ وَ

کولو اختیار (او قدرت) نه لري(37) په هغې ورځ کې چې روح او

الْمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا ۙۖ لَّا يَتَكَلَّمُوْنَ اِلَّا مَنْ

ملايك به صفونه صفونه ودرېږي۔، دوی به خبرې نشي کولی مګرهغه څوك چې هغه ته رحمٰن

اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَ قَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾

اجازت ورکړي او ده (په دنيا کې) حقه خبره (لا إله الا الله) ويلي وي(38)

ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ

دغه حق ورځ ده، نو هغه څوك چې د خپل رب په طرف د ورتلو

اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ﴿۳۹﴾ اِنَّاۤ اَنۡذَرۡنٰكُمۡ عَذَابًا

ځای نیسي (نو ودې نیسي)(39) بېشکه مونږ تاسو له نژدې (راتلونکي) عذاب څخه وویرولئ،

قَرِیۡبًا ۚۖ یَّوۡمَ یَنۡظُرُ الۡمَرۡءُ مَا قَدَّمَتۡ

په هغه ورځ کې چې هر سړی به هغه څه ته ګوري چې د ده

یَدٰهُ وَیَقُوۡلُ الۡكٰفِرُ یٰلَیۡتَنِیۡ كُنۡتُ

لاسونو مخکې لېږلي دي او کافر به وايي: ای کاشکي

ع 2

تُرٰبًا ﴿۴۰﴾ ع

چې زه خاورې وی(40)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَالنّٰزِعٰتِ غَرۡقًا ۙ﴿۱﴾ وَّالنّٰشِطٰتِ

قسم دی په (ملايکو) راوښکونکو (روحونو د
کفارو لره)، راوښکل(1) او په (ملايکو) اسان

نَشۡطًا ۙ﴿۲﴾ وَّالسّٰبِحٰتِ سَبۡحًا ۙ﴿۳﴾

راوښکونکو (د مومنانو روحونو لره)، اسان
راوښکل(2)او په تېزو تلونکو(ملايکو)، تېزتلل(3)

فَالسّٰبِقٰتِ سَبۡقًا ۙ﴿۴﴾ فَالۡمُدَبِّرٰتِ

پس په وړاندې کېدونکو (ملايکو)، وړاندې کېدل
(4) بيا د کار په تدبير جوړونکو (ملايکو) چې

اَمۡرًا ﴿۵﴾ يَوۡمَ تَرۡجُفُ الرَّاجِفَةُ ۙ﴿۶﴾

وقف لازم

تاسو به خامخا بيا راژوندي کړی شئ)(5) په هغه
ورځ چې لړځېدونکې به ولړځېږي(6)

تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ

په دې پسې به راځي ورپسې راتلونکې(7) (د
مجرمانو) زړونه به په دغه ورځ کې رپېدونکي

وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾

وقف لازم

(درزېدونکي) وي(8) د دغو سترګې به ښکته وي(
9)

يَقُولُونَ أَإِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي

دوی به وايي: ايا په رښتيا (او) يقينًا به مونږ
ړومبني حالت ته ګرځولی شو

الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا

(بيا به ژوندي کېږو؟)(10) ايا کله چې مونږ زاړه
رژېدونکي

نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ

هډوکي شو(11) دوی وويل: دغه (ګرځېدل) به په
هغه وخت کې

وقف لازم

خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾

زيانمن گرځېدل وي(12) پس بېشکه دغه خو
بس يوه چغه ده(13)

فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلْ اَتٰىكَ

نو ناڅاپه به دوی د ځمکې په مخ وي(14) ايا تا
ته د

وقف لازم

حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿١٥﴾ اِذْ نَادٰىهُ رَبُّهٗ بِالْوَادِ

موسٰی خبره راغلې ده(15) کله چې ده ته خپل
رب په پاکې دَرې (ناو)

الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ

"طُوٰی" کې اواز وکړ(16) ته فرعون ته لاړ شه،
بېشکه ده سرکشي

اِنَّهٗ طَغٰى ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰٓى اَنْ

شروع کړې ده(17) نو ته (ورته) ووايه: ايا ته دا
خوښوې

تَزَكّٰى ﴿١٨﴾ وَاَهْدِيَكَ اِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى ﴿١٩﴾

چې ته پاك شې(18) او دا چې زه تا ته ستا د رب په طرف ښوونه وكړم، پس چې ته وويرېږې(19)

فَاَرٰىهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ

نو ده (موسٰى) دغه (فرعون) ته تر ټولو لويه نښنه وښودله(20) نو ده تكذيب وكړ او نافراني

وَعَصٰى ﴿٢١﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ

يې وكړه(21) بيا يې شا كړه (او) په ډېره بيړه سره لاړ(22) نو ده (جادوګر) راجمع كړل،

فَنَادٰى ﴿٢٣﴾ فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ﴿٢٤﴾

پس اواز يې وكړ(23) نو ويې ويل: زه ستاسو رب يم، تر ټولو اوچت (رب)(24)

فَاَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَ

نو دى الله راونيوه په عذاب د اخرت او

الْاُوْلٰى ﴿٢٥﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ

دنيا سره(25) بېشکه په دغه (غرقولو او سوځولو) کې يقيناً د هغه چا لپاره عبرت دی

ع 3

يَّخْشٰى ﴿٢٦﴾ ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ

چې (له الله نه) وېرېږي(26) ايا تاسو د پيدا کولو په لحاظ ډېر سخت يئ، يا که اسمان، دغه هغه

السَّمَآءُ بَنٰىهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا

(الله) جوړ کړی دی(27) د ده چت يې اوچت کړی دی، نو دغه يې ښه برابر

فَسَوّٰىهَا ﴿٢٨﴾ وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ

جوړ کړی دی(28) او د ده شپه يې توره تياره کړې ده او د ده

ضُحٰىهَا ﴿٢٩﴾ وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ

رڼا يې راوېستلې ده(29) او ځمکه يې له ده نه

دَحٰىهَا ﴿٣٠﴾ اَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَ

وروسته غوړولې ده(30) ده له دغې (ځمكې) نه د دې اوبه او د دې وابنه

مَرْعٰىهَا ﴿٣١﴾ وَالْجِبَالَ اَرْسٰىهَا ﴿٣٢﴾

راايستلې دي(31) او غرونو لره، ده دغه محكم كړې دي(32)

مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿٣٣﴾ فَاِذَا

ستاسو او ستاسو د څاريو د فايدې لپاره(33) نو كله

جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿٣٤﴾ يَوْمَ

چې تر ټولو لويه بلا (قيامت) راشي(34) په هغه ورځ

يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ مَا سَعٰى ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ

چې انسان به هغه څه يادوي چې ده كړي وي( 35) او دوزخ

الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰی ﴿۳۶﴾ فَاَمَّا مَنْ

به هغه چا ته ښکاره کړی شي چې يې ويني(36)
نو هر چې هغه څوك

طَغٰی ﴿۳۷﴾ وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾ فَاِنَّ

دی چې سرکشي يې کړې وي(37) او دنيايي
ژوند ته يې ترجيح ورکړې وي(38) نو بېشکه

الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰی ﴿۳۹﴾ وَاَمَّا مَنْ

چې هم دا دوزخ (د ده) استوګنه ده(39) او هر
چې هغه

خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَی النَّفْسَ عَنِ

څوك دی چې د خپل رب په وړاندې له ودرېدلو
نه وېرېدلی وي او نفس (ځان) يې له خواهشاتو

الْهَوٰی ﴿۴۰﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰی ﴿۴۱﴾

نه منع کړی وي(40) نو بېشکه چې هم دا جنت
(د ده) استوګنه ده(41)

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ

(اى نبي!) دوی له تا نه د قیامت په باره کې
پوښتنه کوي چې د ده واقع کېدل

مُرْسٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰىهَا ﴿٤٣﴾

به کله وي(42) ته د ده له یاده (علمه) په څه کې
يې(43) خاص ستا رب

اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰهَا ﴿٤٤﴾ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرُ

ته د دغه (قیامت) انتها ده(44) بېشکه ته خو
یوازې د هغه چا وېروونکی یې چې له ده (قیامت)

مَنْ يَّخْشٰهَا ﴿٤٥﴾ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا

نه وېرېږي(45) ګویاکې دوی به په هغې ورځې
کې چې دوی دغه (قیامت) ویني (داسې به وي

ع 4

لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰهَا ﴿٤٦﴾

لکه چې) دوی (په دنیا، یا په قبر کې) نه دي
ایسار شوي مګر د ورځې اخر، یا څاښت(46)

# بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

عَبَسَ وَتَوَلّٰىٓۙ ۝١ اَنۡ جَآءَهُ الۡاَعۡمٰىؕ ۝٢ وَ

ده تندى تريو کړ او مخ يې وګرځاوه(1) په دې وجه چې ده ته ړوند راغى(2) او

مَا يُدۡرِيۡكَ لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰىٓۙ ۝٣ اَوۡ يَذَّكَّرُ

ته څه شي پوه کړى يې-، ښايي چې دى پاك شي( 3) يا به دى نصيحت (او پند) واخلي،

فَتَنۡفَعَهُ الذِّكۡرٰىؕ ۝٤ اَمَّا مَنِ

نو ده ته به پند نفع ورسوي(4) هر چې هغه څوك دى

اسۡتَغۡنٰىۙ ۝٥ فَاَنۡتَ لَهٗ تَصَدّٰىؕ ۝٦ وَمَا

چې استغنا يې کړې ده(5) نو ته په هغه پسې کېږې(6) حال دا چې

عَلَيۡكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ؕ﴿۷﴾ وَ اَمَّا مَنۡ جَآءَكَ

په تا هېڅ الزام نشته چې هغه پاك نشي(7) او هر
چې هغه څوك دى چې تا ته

يَسۡعٰى ۙ﴿۸﴾ وَ هُوَ يَخۡشٰى ۙ﴿۹﴾ فَاَنۡتَ عَنۡهُ

په منډه راځي(8) په داسې حال كې چې دى (له
الله نه) وېرېږي(9) نو ته له هغه نه

تَلَهّٰى ۚ﴿۱۰﴾ كَلَّاۤ اِنَّهَا تَذۡكِرَةٌ ۚ﴿۱۱﴾ فَمَنۡ شَآءَ

مشغولېږې(10) داسې كله هم مه كوه، بېشكه دا
(سورت) يو پند (او نصيحت) دى(11) نو هغه

ذَكَرَهٗ ۘ﴿۱۲﴾ فِیۡ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۙ﴿۱۳﴾

وقف لازم

څوك چې غواړي (نو) دى دې ومني(12) (دغه)
په عزتمنو پاڼو كې دى(13)

مَّرۡفُوۡعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ ۙ﴿۱۴﴾ بِاَيۡدِیۡ

چې پورته كړى شوې، ښې پاكې كړى شوې دي(
14) د ليكونكو

سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾ قُتِلَ

(ملايكو) په لاسونو کې(15) چې ډېر عزتمن، ډېر نېك دي(16) انسان دې

الْإِنسَانُ مَا أَكْفَرَهُ ﴿١٧﴾ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ

هلاك کړى شي، دى څومره ډېر ناشکره دى!(17) دى دغه (الله) له څه شي نه

خَلَقَهُ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُ فَقَدَّرَهُ ﴿١٩﴾

پيدا کړى دى؟(18) له نطفې نه.، دى يې پيدا کړى دى، پس دى يې اندازه کړى دى(19)

ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُ

بيا يې ده ته لاره ور اسانه کړې ده(20) بيا يې دى مړ کړ، نو دى يې په

فَأَقْبَرَهُ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَاءَ أَنشَرَهُ ﴿٢٢﴾ كَلَّا

قبر کې کېښود(21) بيا چې کله وغواړي دى به ژوندى کړي(22) داسې نه

لَمَّا يَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنْظُرِ

ده،، دغه (انسان) هغه کار نه دی کړی چې دغه (الله) ده ته حکم کړی دی(23) نو انسان دې

الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ ﴿٢٤﴾ اَنَّا صَبَبْنَا

خپل طعام ته وګوري(24) چې بېشکه مونږ اوبه راتوی کړې دي،

الْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ

راتویول(25) بیا مونږ ځمکه څیرې کړې

شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَّ عِنَبًا وَّ

ده، څیرول(26) نو مونږ په دې کې دانې را زرغونه کړې دي(27) او انګور او

قَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَّ زَيْتُوْنًا وَّ نَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَّ حَدَآئِقَ

ترکاریانې(28) او زیتون او کجورې(29) او ګڼ

غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَ

باغونه(30) او مېوې او ګیاه (واښه)(31) ستاسو
او

لِاَنْعَامِكُمْ ﴿٣٢﴾ فَاِذَا جَآءَتِ

ستاسو د څارویو د فایدې لپاره(32) نو کله چې

الصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ

سخت اواز راشي(33) په هغه ورځ چې سړی به
له خپل

اَخِيْهِ ﴿٣٤﴾ وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهٖ وَ

وروره تښتي(34) او له خپلې مور او خپل پلاره(
35) او له خپلې ښځې او

بَنِيْهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ

خپلو زامنو نه(36) په دوی کې د هر سړي لپاره به
په دغه ورځ کې یو

شَأْنٌ يُّغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَّوْمَئِذٍ

حال وي چې دی به (له نورو نه) بې پروا (بې غوره) کوي(37) څه مخونه به په دغې ورځ کې

مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَ

روښانه وي(38) خندېدونکي (او) خوشاله به وي (39) او

وُجُوهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا

څه مخونه به په دغې ورځ کې پر هغو به ګرد پروت وي(40) دغه (مخونه) به

قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ

توروالي پټ کړي وي(41) دغه (تور مخي) خلق هم دوی کافران (او)

ع 5

الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

فاجران (بدکاران) دي(42)

# بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِذَا الشَّمۡسُ کُوِّرَتۡ ۪ۙ﴿۱﴾ وَ اِذَا النُّجُوۡمُ

کله چې لمر ونغښتل شي(1) او کله چې ستوري

انۡکَدَرَتۡ ۪ۙ﴿۲﴾ وَ اِذَا الۡجِبَالُ سُیِّرَتۡ ۪ۙ﴿۳﴾ وَ

خړ شي(2) او کله چې غرونه روان کړل شي(3)
او

اِذَا الۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ۪ۙ﴿۴﴾ وَ اِذَا الۡوُحُوۡشُ

کله چې د لسو مياشتو بلاربې اوښې معطلې
(ازادې) پرېښودی شي(4) او کله چې وحشي

حُشِرَتۡ ۪ۙ﴿۵﴾ وَ اِذَا الۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ۪ۙ﴿۶﴾ وَ

ځناوران راجمع کړل شي(5) او کله چې دريابونه
بل کړی شي(6) او

وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ﴿٧﴾ وَإِذَا الْمَوْءُدَةُ

كله چې نفسونه جوړه کړل شي(7) او كله چې
ژوندۍ خښه کړې شوې جينۍ

سُئِلَتْ ﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ ﴿٩﴾ وَإِذَا

وپوښتی شي(8) چې دا په کومې گناه وژل شوې
ده(9) او كله چې

الصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا السَّمَآءُ

اعمال نامې وغوړولی شي(10) او کله چې له
اسمان نه پوستکی

كُشِطَتْ ﴿١١﴾ وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴿١٢﴾ وَ

وویستل شي(11) او كله چې دوزخ بلې لمبې کړې
شي(12) او

إِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴿١٣﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ

كله چې جنت ښه نژدې کړې شي(13) هر نفس
به په هغه شي پوه شي

اَحۡضَرَتۡ ﴿١٤﴾ فَلَاۤ اُقۡسِمُ بِالۡخُنَّسِ ﴿١٥﴾

چې ده حاضر کړې وي(14) نو زه قسم خورم په هغو (ستوريو) چې بېرته گرځېدونکي دي(15)

الۡجَوَارِ الۡكُنَّسِ ﴿١٦﴾ وَالَّيۡلِ اِذَا

په روانو، پټېدونکو باندې(16) او قسم خورم په شپې کله

عَسۡعَسَ ﴿١٧﴾ وَالصُّبۡحِ اِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾

چې شروع شي(17) او په سبا کله چې دی ساه واخلي (روښانه شي)(18)

اِنَّهٗ لَقَوۡلُ رَسُوۡلٍ كَرِيۡمٍ ﴿١٩﴾ ذِىۡ قُوَّةٍ

بېشکه دا (قرآن) خامخا د ډېر عزتمن رسول قول دی(19) چې د عرش د مالك

عِنۡدَ ذِى الۡعَرۡشِ مَكِيۡنٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ

په نيز د قوت والا (او) د مرتبې والا دی(20) منلی شوی دی

ثُمَّ اَمِيۡنٍ ﴿۲۱﴾ وَمَا صَاحِبُكُمۡ

هلته، امين دی(21) او ستاسو ملګری
(محمدﷺ) له سره

بِمَجۡنُوۡنٍ ﴿۲۲﴾ وَلَقَدۡ رَاٰهُ بِالۡاُفُقِ

لېونی نه دی(22) او یقینًا یقینًا ده دغه (جبریل د
اسمان) په خرګنده

الۡمُبِيۡنِ ﴿۲۳﴾ وَمَا هُوَ عَلَى الۡغَيۡبِ

غاړه کې ليدلی و(23) او دی د وحي په بيانولو
کې له سره بخل

بِضَنِيۡنٍ ﴿۲۴﴾ وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَيۡطٰنٍ

کوونکی نه دی(24) او ښخي نه دی دا (قرآن)
خبره د شيطان

رَّجِيۡمٍ ﴿۲۵﴾ فَاَيۡنَ تَذۡهَبُوۡنَ ﴿۲۶﴾ اِنۡ هُوَ

رټل شوي(25) نو تاسو (ای کافرانو!) چېرته
ځئ؟(26) نه دی دا (قرآن)

اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٧﴾ لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ

مگر د عالمونو لپاره نصیحت (او پند)(27) د هغه چا لپاره چې

اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ

په تاسو کې غواړې چې دی نېغ برابر شي(28) او تاسو د (د سمې لارې) اراده نشئ کولی

ع 6

يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٩﴾

مگر دا چې الله رب العلمین یې اراده وکړي(29)

# بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

إِذَا السَّمَآءُ انۡفَطَرَتۡ ۝١ وَإِذَا

كله چې اسمان وچوي(1) او كله چې

الۡكَوَاكِبُ انۡتَثَرَتۡ ۝٢ وَإِذَا الۡبِحَارُ

ستوري ګډوډ شي (او) راولوېږي(2) او كله چې دريابونه يو ځاى

فُجِّرَتۡ ۝٣ وَإِذَا الۡقُبُوۡرُ بُعۡثِرَتۡ ۝٤

روان كړى شي(3) او كله چې قبرونه لاندې باندې كړى شي(4)

عَلِمَتۡ نَفۡسٌ مَّا قَدَّمَتۡ وَاَخَّرَتۡ ۝٥

هر نفس به په هغه څه پوه شي چې ده وړاندې لېږلي دي او وروسته يې پرېښې دي(5)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ

اى (كافره) انسانه! ته په خپل كريم (او سخي) رب باندې څه شي

ٱلۡكَرِيمِ ۝٦ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ

دوكه كړى يې(6) هغه چې ته يې پيدا كړې، نو ته يې

فَعَدَلَكَ ۝٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ

ښه برابر كړې(7) په هر صورت (شكل) كې چې هغه غوښتل، ته يې

رَكَّبَكَ ۝٨ كَلَّا بَلۡ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ۝٩

پيوند (او جوړ) كړې(8) داسې ښخي نه ده، بلكې تاسو د بدلې ورځ (قيامت) دروغ ګڼئ(9)

وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ۝١٠ كِرَامٗا

په داسې حال كې چې پر تاسو باندې ساتونكي (ملايك) مقرر دي(10) چې عزتمن

كَاتِبِيْنَ ﴿١١﴾ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿١٢﴾ اِنَّ

ليكونكي دي(11) دوى په هغه څه پوهيږي چې تاسو يې كوئ(12) بېشكه

الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ﴿١٣﴾ وَاِنَّ الْفُجَّارَ

نېكان (مومنان) به خامخا په نعمتونو كې وي(13) او بېشكه چې بدكاران (كافران) به خامخا په

لَفِيْ جَحِيْمٍ ﴿١٤﴾ يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ

جهنم كې وي(14) دوى به ده ته د بدلې په ورځ

الدِّيْنِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا

ننوځي(15) او دوى به له دغه (دوزخ) نه له سره

بِغَآئِبِيْنَ ﴿١٦﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ

پټېدونكي نه وي(16) او ته څه شي پوه كړې چې د بدلې ورځ (قيامت)

الدِّيْنِ ۝١٧ ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ

څه شی دی؟(17) بیا ته څه شي پوه کړې چې د
بدلې ورځ

الدِّيْنِ ۝١٨ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ

څه شی دی(18) (یاده کړه) هغه ورځ چې هېڅ یو
نفس به د بل نفس لپاره د هېڅ شي اختیار ونه

ع 7

شَيْـًٔا ؕ وَ الْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ۝١٩

لري۔ او په دغې ورځ کې به امر (حکم) خاص
الله لره وي(19)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِيۡنَ ۙ﴿۱﴾ الَّذِيۡنَ اِذَا

(په تول او پيمانه كې) كمي كوونكو لره هلاكت دى(1) هغه كسان چې دوى

اكۡتَالُوۡا عَلَى النَّاسِ يَسۡتَوۡفُوۡنَ ۖ﴿۲﴾ وَ

له خلقو نه ځان ته پيمانه اخلي (، نو) پوره (يې) اخلي(2) او

اِذَا كَالُوۡهُمۡ اَوۡ وَّزَنُوۡهُمۡ

كله چې دغو (خلقو) ته پيمانه وركوي، يا يې دوى

يُخۡسِرُوۡنَ ؕ﴿۳﴾ اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ اَنَّهُمۡ

ته تلي (، نو) كمى كوي(3) ايا دغه خلق يقين نه كوي چې بېشكه

مَّبْعُوْثُوْنَ ۙ﴿۴﴾ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ۙ﴿۵﴾ يَّوْمَ

دوی به بیا راژوندي کول شي(4) په ډېره لويه
ورځ کې (د حساب لپاره)(5) هغه ورځ

يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ﴿۶﴾ كَلَّآ

چې خلق به ''رب العلمين'' ته ودرېږي(6)
هيڅکله داسې نه ده په کار،

اِنَّ كِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ؕ﴿۷﴾ وَمَآ

بېشکه د فاجرانو (کافرانو) کتاب (ليکل شوي
عملونه) خامخا په سجين کې دي(7) او ته څه

اَدْرٰىكَ مَا سِجِّيْنٌ ؕ﴿۸﴾ كِتٰبٌ

شي پوه کړې چې سجين څه شی دی(8) يو دفتر
(کتاب)

مَّرْقُوْمٌ ؕ﴿۹﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۙ﴿۱۰﴾

دی ليکل شوی(9) په دغې ورځ کې د دروغ
ګڼونکو لپاره هلاکت دی(10)

الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۱۱﴾ وَمَا

هغه كسان چې د بدلې ورځ دروغ گڼي(11) او دغه (ورځ)

يُكَذِّبُ بِهٖۤ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ﴿۱۲﴾ اِذَا

دروغ نه گڼي مگر هر زياتي كوونكى، سخت گناه گار(12) كله چې

تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ

ده ته زمونږ ايتونه تلاوت كولى شي؛ دى وايي: (دا) د ړومبنيو (خلقو)

الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ كَلَّا بَلْ سكتة رَانَ عَلٰى

باطلې قصې دي(13) داسې نه ده، بلكې د دوى په زړونو باندې هغو

قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ كَلَّآ

(د گناه عملونو) زنگ لگولى دى چې دوى به كول(14) داسې نه ده

اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَىِٕذٍ

په كار، بېشكه دوى به په دغې ورځ كې له خپل رب نه يقينًا په حجاب

لَّمَحْجُوْبُوْنَ ۝١٥ ثُمَّ اِنَّهُمْ لَصَالُوا

(بند) كړى شوي وي(15) بيا بېشكه دوى يقينًا دوزخ ته

الْجَحِيْمِ ۝١٦ ثُمَّ يُقَالُ هٰذَا الَّذِىْ

ننوتونكي دي(16) بيا به (دوى ته) ويلى شي: دا هغه (دوزخ) دى

كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۝١٧ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ

چې تاسو به دا دروغ گاڼه(17) داسې نه ده، بېشكه د نېكانو (خلقو) عملنامې (ليكلى كتاب)

الْاَبْرَارِ لَفِىْ عِلِّيِّيْنَ ۝١٨ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا

خامخا په ''علِّيين'' كې دي(18) او ته څه شي پوه كړې

عِلِّيُّونَ ۝١٩ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ۝٢٠ يَّشْهَدُهُ

چې ”علّيون“ څه شی دی(19) يو دفتر (كتاب) دی چې ليكل شوی دی(20) چې ده ته مقرب

الْمُقَرَّبُوْنَ ۝٢١ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ

(بنده ګان او ملايك) حاضرېږي(21) بېشكه نېكان خلق يقينًا په

نَعِيْمٍ ۝٢٢ عَلَى الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ۝٢٣

نعمتونو كې دي(22) دوی به په تختونو باندې (ناست) وي، ګوري به(23)

تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِهِمْ نَضْرَةَ

(ای كتونكيه!) ته به د دوی په مخونو كې د نعمتونو

النَّعِيْمِ ۝٢٤ يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ

تازګي وينې(24) په دوی به مُهر (ټاپه) كړی شوي خالص

مَّخۡتُوۡمٍ ﴿۲۵﴾ خِتٰمُهٗ مِسۡكٌ ؕ وَ فِیۡ ذٰلِكَ

شراب خښولی شي(25) چې د دغو مُهر (تاپه) به مشك وي، او په دغه (نعمتونو) کې، پس په کار

فَلۡيَتَنَافَسِ الۡمُتَنَافِسُوۡنَ ﴿۲۶﴾ؕ وَ

ده چې رغبت کوونکي رغبت وکړي(26) د دغو

مِزَاجُهٗ مِنۡ تَسۡنِيۡمٍ ﴿۲۷﴾ عَيۡنًا يَّشۡرَبُ

(شرابو) ګډون له تسنيم (چينې) څخه دی(27) چې يوه چينه ده چې له دې

بِهَا الۡمُقَرَّبُوۡنَ ﴿۲۸﴾ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ اَجۡرَمُوۡا

نه به (د الله) مقربين څښي(28) بېشکه هغه کسان چې جرم (د کفر) يې

كَانُوۡا مِنَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا يَضۡحَكُوۡنَ ﴿۲۹﴾ؗ

کړی دی.، دوی به په هغو کسانو پورې خندا کوله چې ايمان يې راوړی و(29) او کله چې

وَاِذَا مَرُّوْا بِهِمْ يَتَغَامَزُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَاِذَا

به د دوی (مومنانو) په خوا کې تېرېدل (نو) په
خپلو منځونو کې به يې سترګکونه وهل(30) او

انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا

کله چې به دوی خپلو کورونو ته واپس کېدل (نو)
خوشاله به

فَكِهِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذَا رَاَوْهُمْ قَالُوْٓا اِنَّ

واپس کېدل(31) او کله چې به دوی دغه
(مسلمانان) وليدل (نو) ويل به يې: بېشکه دغه

هٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّوْنَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ اُرْسِلُوْا

خلق يقينًا ګمراهان دي(32) حال دا چې دوی په
دغو (مومنانو) باندې نګرانان (څوکيداران)

عَلَيْهِمْ حٰفِظِيْنَ ﴿٣٣﴾ فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ

نه وو لېږل شوي(33) نو په نن ورځ به هغه کسان

اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ عَلَى

چې ايمان يې راوړى دى؛ په كافرانو پورې خندا
كوي(34) په تختونو

الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ

باندې به ناست وي، چې ګوري به(35) يقينًا
كافرانو ته د

ع 8

الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾

هغه څه بدله وركړى شوه چې دوى به كول(36)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِذَا السَّمَآءُ انۡشَقَّتۡ ۙ﴿۱﴾ وَ اَذِنَتۡ لِرَبِّهَا

کله چې اسمان خيرې شي(1) او خپل رب ته غوږ
کېږدي او دی (اسمان) د

وَ حُقَّتۡ ۙ﴿۲﴾ وَ اِذَا الۡاَرۡضُ مُدَّتۡ ۙ﴿۳﴾ وَ

همدې لايق دی(2) او کله چې ځمکه راښکلی
شي(3) او هغه څه د باندې

اَلۡقَتۡ مَا فِیۡهَا وَ تَخَلَّتۡ ۙ﴿۴﴾ وَ اَذِنَتۡ

وغورځوي چې په دې کې دي او خالي شي(4) او
خپل رب ته غوږ کېږدي او دا د همدې

لِرَبِّهَا وَ حُقَّتۡ ؕ﴿۵﴾ یٰۤاَیُّهَا الۡاِنۡسَانُ اِنَّكَ

لايق ده(5) ای انسانه! بېشکه ته په پوره کوشش
سره کار کوونکی يې تر خپل ربه (سره د ملاقات

كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ۚ﴿٦﴾ فَاَمَّا

پورې)، بنه په کوشش سره کار کول، پس ته له دغه (خپل عمل) سره ملاقات کوونکی يې(6) نو

مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ۙ﴿٧﴾ فَسَوْفَ

هر چې هغه څوك دى چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) په ښي لاس كې وركړى شي(7) نو

يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا ۙ﴿٨﴾ وَّيَنْقَلِبُ

ژر ده چې له ده سره به حساب وكړى شي، ډېر اسان حساب(8) او دى به خپل

اِلٰى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ﴿٩﴾ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ

اهل ته خوشاله وگرځي(9) او هر چې هغه څوك دى چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) له خپلې

كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۙ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُوْا

شا نه وروسته وركړى شي(10) نو دى به ژر هلاكت ته

ثُبُوْرًا ﴿۱۱﴾ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ﴿۱۲﴾ اِنَّهٗ كَانَ فِيْٓ

چغې کړي(11) او د دوزخ بل اور ته به ننوځي( 12) بېشکه دی په خپل

اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ﴿۱۳﴾ اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ

اهل کې خوشاله و(13) بېشکه ده يقين کړی و چې دی به له سره بېرته (الله ته)

يَّحُوْرَ ﴿۱۴﴾ بَلٰٓى ۚ اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ

ونه گرځي(14) ولې نه! بېشکه د ده رب ده لره تل

بَصِيْرًا ﴿۱۵﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ﴿۱۶﴾ وَ

ښه ليدونکی و(15) نو زه قسم خورم په شفق (له ماښام نه پس په سوروالي)(16) او

الَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿۱۷﴾ وَالْقَمَرِ اِذَا

په شپه او په هغه څه چې دې راجمع کړي دي( 17) او په سپوږمۍ کله چې

اتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ

دا كامله شي(18) چې تاسو به خامخا ضرور رسیږئ يو حال ته وروسته له

طَبَقٍ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا

بل حال نه(19) نو په دوی څه شوي دي چې دوی ایمان نه راوړي(20) او کله

قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا

چې په دوی باندې قرآن لوستی شي دوی

يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾ بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا

سجده نه کوي(21) بلکې هغه کسان چې کافران شوي دي؛

السجدة 14

يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا

هغوی تکذیب کوي(22) او الله ښه عالم دی په هغه څه چې

يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ

دوی يې پټ ساتي(23) نو ته دوی ته د ډېر
دردوونکي عذاب

أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

زېرى ورکړه(24) غير له هغو کسانو نه چې ايمان
يې راوړى دى او نېك عملونه

ع 9

الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾

يې کړي دي، د دوى لپاره نه ختمېدونکى اجر دى
(25)

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۝١ وَالْيَوْمِ

قسم دى په اسمان چې خاوند د برجونو دى(1) او په وعده كړى شوې ورځې (د قيامت)(2) او په

الْمَوْعُوْدِ ۝٢ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۝٣ قُتِلَ

گواه يا حاضرېدونكي او په هغې(ورځې)چې هغې ته حاضري كولى شي (چې د قيامت ورځ ده)(3)

اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۝٤ النَّارِ ذَاتِ

هلاك دې كړى شي خاوندان د خندق(4) چې (په كې) اور و د بلېدلو

الْوَقُوْدِ ۝٥ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۝٦ وَّهُمْ

(او لرگو) والا(5) كله چې دوى په (غاړو د) هغو ناست وو(6) او دوى هغه

عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ

څه ته چې دوی به په مومنانو باندې کول؛

شُهُوْدٌ ﴿٧﴾ وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ

حاضر وو(7) او دوی له دغو (مومنانو) نه هيڅ عيب نه ليده مگر دا

يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴿٨﴾

چې دوی په الله باندې ايمان راوړی و، چې ډېر غالب، ښه ستايل شوی دی(8)

الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

هغه (الله) چې خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿٩﴾ اِنَّ

بادشاهي ده او الله په هر شي باندې ښه خبردار (او گواه) دی(9) بېشکه

الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ

هغه كسان چې مومنان سړي او مومنې ښځې يې
په فتنه (عذاب) كې اچولي وي، بيا يې

ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ

توبه نه وي ايستلې، نو د دوى لپاره د جهنم
(دوزخ) عذاب دى او د دوى لپاره د ډېر

وَ لَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ﴿١٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

سوځوونكي اور عذاب دى(10) بېشكه هغه كسان

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتٌ

چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي
دي د دوى لپاره داسې جنتونه دي

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ ذٰلِكَ

چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، همدغه

الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ﴿۱۱﴾ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ

ډېره لويه كاميابي ده(11) بېشكه ستا د رب نيول يقينًا

لَشَدِيْدٌ ﴿۱۲﴾ اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ وَ يُعِيْدُ ﴿۱۳﴾ وَ

ډېر سخت دي(12) بېشكه هم دغه (الله) اول خلې پيدا كوي او دويم خلې پيدا كوي(13) او

هُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ﴿۱۴﴾ ذُو الْعَرْشِ

هم دى ډېر بخښونكى، ډېر محبت كوونكى دى( 14) د عرش مالك دى، لوى شان

الْمَجِيْدُ ﴿۱۵﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱۶﴾ هَلْ

(او عزت) والا دى(15) ډېر كوونكى دى هغه څه لره چې دى يې اراده وكړي(16) ايا تا

اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ﴿۱۷﴾ فِرْعَوْنَ وَ

ته د لښكرو خبر راغلى دى؟(17) چې فرعونيان او

ثَمُوْدَ ﴿١٨﴾ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ

ثموديان وو(18) بلكې هغه كسان چې كافران شوي دي په دروغ ګڼلو

تَكْذِيْبٍ ﴿١٩﴾ وَّ اللّٰهُ مِنْ وَّرَآىِٕهِمْ

كې (لګيا) دي(19) او الله د دوى له چاپېره نه

مُّحِيْطٌ ﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿٢١﴾ فِيْ

راګېروونكى دى(20) بلكې دغه د لوى قدر والا قرآن دى(21) په

ع 10

لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿٢٢﴾

لوح محفوظ كې دى(22)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

وَ السَّمَآءِ وَ الطَّارِقِ ﴿۱﴾ وَ مَآ اَدْرٰىكَ مَا

قسم دى په اسمان او د شپې په راتلونكي(1) او ته
څه شي پوه كړې چې د شپې راتلونكى

الطَّارِقُ ﴿۲﴾ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿۳﴾ اِنْ كُلُّ

څه شى دى؟(2) ځلېدونكى ستورى دى(3) نشته
هېڅ يو

نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿۴﴾ فَلْيَنْظُرِ

نفس مگر په هغه باندې ځارونكى (ساتونكى)
شته(4) نو انسان دې وگوري

الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿۵﴾ خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ

چې دى له څه شي نه پيدا كړى شوى دى؟(5)
دى له توپ وهونكو اوبو

دَافِقٍ ۝٦ يَّخْرُجُ مِنْۢ بَيْنِ الصُّلْبِ وَ

نه پيدا كړى شوى دى(6) چې د شا او له سينو د هډوكو له

التَّرَآئِبِ ۝٧ اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ ۝٨

مينځ نه راوځي(7) بېشكه دغه (الله) د دغه (انسان) په بيا راژونديدو كولو يقينًا قادر دى(8)

يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ ۝٩ فَمَا لَهٗ مِنْ قُوَّةٍ

په هغې ورځ چې د پټو خيزونو به (په كې) څېړنه (او څرګندونه) كولى شي(9) نو د دغه (انسان)

وَّلَا نَاصِرٍ ۝١٠ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ

لپاره به نه هيڅ قوت وي او نه څوك مدد كوونكى(10) قسم دى په اسمان چې

الرَّجْعِ ۝١١ وَالْاَرْضِ ذَاتِ

خاوند د باران دى(11) او په ځمكه چې د (زرغوني راوتلو لپاره)

الصَّدۡعِ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ

چاوديدلو والا ده(12) بېشکه دا (قرآن) يقيناً (د حق او باطل) بېلونکې وينا ده(13) او دا هيڅکله

بِٱلۡهَزۡلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ﴿١٥﴾ وَ

عبثه (او د ټوقو) خبره نه ده(14) بېشکه دوی مکر او چل کوي، يو چل كول(15) او

أَكِيدُ كَيۡدٗا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ

زه هم يو تدبير کوم، تدبير كول(16) نو ته کافرانو ته مهلت ورکړه،

ع 11

أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ﴿١٧﴾

ته دوی ته لږ مهلت ورکړه(17)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

سَبِّحِ اسۡمَ رَبِّكَ الۡاَعۡلَى ۙ﴿۱﴾ الَّذِىۡ

ته پاکي بيان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی(1) هغه چې پيدا يې کړل ټول شيان،

خَلَقَ فَسَوّٰى ۖ﴿۲﴾ وَالَّذِىۡ قَدَّرَ

پس ښه يې برابر کړل(2) او هغه (رب) چې اندازه يې وکړه، پس

فَهَدٰى ۖ﴿۳﴾ وَالَّذِىۡۤ اَخۡرَجَ الۡمَرۡعٰى ۖ﴿۴﴾

لاره يې وښووله(3) او هغه ذات چې تازه گياه يې را ايستلې ده(4)

فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحۡوٰى ؕ﴿۵﴾ سَنُقۡرِئُكَ

بيا يې هغه وگرځوله وچه توره(5) ژر ده چې مونږ به په تا

فَلَا تَنۡسٰۤى ۙ﴿۶﴾ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ

باندې (قرآن) ولولو، نو ته به يې نه هېروې(6)
مگر هغه چې الله يې وغواړي، بېشکه

يَعۡلَمُ الۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفٰى ؕ﴿۷﴾ وَنُيَسِّرُكَ

دغه (الله) په ښکاره و پوهېږي او په هغه څه چې
پټ وي(7) او مونږ به تا ته اسانې

لِلۡيُسۡرٰى ۚۖ﴿۸﴾ فَذَكِّرۡ اِنۡ نَّفَعَتِ

لارې ته اسانتيا درکوو(8) نو ته نصيحت (پند)
کوه که نصيحت کول نفع رسوي (يا بېشکه

الذِّكۡرٰى ؕ﴿۹﴾ سَيَذَّكَّرُ مَنۡ يَّخۡشٰى ۙ﴿۱۰﴾ وَ

نصيحت کول نفع رسوي)(9) ژر ده چې هغه څوک
به پند واخلي چې وېرېږي(10) او

يَتَجَنَّبُهَا الۡاَشۡقَى ۙ﴿۱۱﴾ الَّذِىۡ يَصۡلَى

له دغه (نصيحت) نه به تر ټولو بدبخته ډډه کوي(
11) هغه چې تر ټولو

النَّارَ الْكُبْرٰى ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَ

لوی اور ته به ننوځي(12) بیا به دی په دغه (اور)
کې نه مري او نه

لَا يَحْيٰى ﴿١٣﴾ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ﴿١٤﴾ وَ

به ښه ژوند لري(13) یقینًا هغه څوك کامیاب شو
چې پاك شو(14) او

ذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴿١٥﴾ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ

د خپل رب نامه یې یاده کړه، پس لمونځ یې وکړ(
15) بلکې تاسو (په اخرت باندې)

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّ

دنیایي ژوند غوره کوئ(16) حال دا چې اخرت
ډېر غوره او

اَبْقٰى ﴿١٧﴾ اِنَّ هٰذَا لَفِى الصُّحُفِ

تل ترتله دی(17) بېشکه دا (خبرې) یقینًا په
ړومبنیو صحیفو

ع
12

الْاُوْلٰى ﴿١٨﴾ صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَ مُوْسٰى ﴿١٩﴾

کې هم دي(18) د ابراهيم او موسی په صحيفو کې(19)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ الۡغَاشِيَةِ ؕ‏ ﴿۱﴾ وُجُوۡهٌ

ايا تا ته (يعني خلقو لره) د پټوونکي (قيامت) خبر راغلی دی؟(1) څه مخونه به په دغې ورځ کې

يَّوۡمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۙ‏ ﴿۲﴾ عَامِلَةٌ

خوار (او) وېرېدونکي وي(2) سخت کار کوونکي، ستړي

نَّاصِبَةٌ ۙ‏ ﴿۳﴾ تَصۡلٰى نَارًا حَامِيَةً ۙ‏ ﴿۴﴾ تُسۡقٰى

کېدونکي به وي(3) ډېر ګرم اور ته به ننوځي(4) په دوی به له ډېرې

مِنۡ عَيۡنٍ اٰنِيَةٍ ؕ‏ ﴿۵﴾ لَيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ

ګرمې چینې نه اوبه څښولی شي(5) د دوی لپاره به طعام نه وي

إِلَّا مِنْ ضَرِيعٍ ﴿٦﴾ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي

مگر له اغزنيٍ ترخيٍ ونيٍ نه(6) چيٍ نه ځربول كوي او نه هيڅ

مِنْ جُوعٍ ﴿٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾

لوږه لريٍ كوي(7) څه مخونه به په دغيٍ ورځ كيٍ تروتازه وي(8)

لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا

په خپل كوشش به راضي (خوشاله) وي(9) په اوچت جنت كيٍ به وي(10) دوى

تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾ فِيهَا عَيْنٌ

به په دغه (جنت) كيٍ هيڅ بيكاره خبره نه اوري(11) په دغه (جنت) كيٍ

جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ وَّ

روانه چينه ده(12) په دغه (جنت) كيٍ اوچت تختونه دي(13) او

وقف لازم

اَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ ﴿١٤﴾ وَّ نَمَارِقُ

(په اندازې سره) ايښودل شوي جامونه دي(14)
او په قطار کې ايښودل

مَصْفُوْفَةٌ ﴿١٥﴾ وَّ زَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ ﴿١٦﴾ اَفَلَا

شوي بالښتونه دي(15) او غوړول شوي اعلى
فرشونه دي(16) ايا نو دوی

يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَ

اوښانو ته نه ګوري چې دوی څرنګه پيدا کړی
شوي دي؟(17) او

اِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَاِلَى

اسمان ته چې دی څنګه اوچت کړی شوی دی؟(
18) او غرونو ته

الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَاِلَى

چې دوی څنګه ودرول شوي دي؟(19) او ځمکې

الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ۝٢٠ فَذَكِّرْ ۟ۗ

ته چې څنګه غوړول شوې ده؟(20) نو ته پند
ورکړه، بېشکه ته خو يوائې

اِنَّمَآ اَنْتَ مُذَكِّرٌ ۝٢١ۭ لَسْتَ عَلَيْهِمْ

پند ورکوونکی يې(21) ته په دوی باندې مسلط
کړی

بِمُصَيْطِرٍ ۝٢٢ۙ اِلَّا مَنْ تَوَلّٰى وَكَفَرَ ۝٢٣ۙ

شوی نه يې(22) مګر هغه څوك چې (له ايمانه)
وګرځي او کافر شي(23)

فَيُعَذِّبُهُ اللّٰهُ الْعَذَابَ الْاَكْبَرَ ۝٢٤ۭ اِنَّ

نو الله به ده ته عذاب ورکړي تر ټولو لوی عذاب(
24) بېشکه

اِلَيْنَآ اِيَابَهُمْ ۝٢٥ۙ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا

خاص مونږ ته د دوی بېرته راتګ دی(25) بيا
يقيناً د دوی

ع 13

النصف

# حِسَابَهُمْ ﴿٢٦﴾

حساب زمونږ په غاړه دی(26)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

وَالْفَجْرِ ۝١ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ۝٢ وَّالشَّفْعِ

قسم دى په فجر (سبا) باندې(1) او په لسو شپو باندې(2) او په جفت

وَالْوَتْرِ ۝٣ وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ۝٤ هَلْ فِيْ

او طاق باندې(3) او په شپه باندې كله چې روانه وي(4) ايا په دغو (قسمونو) كې

ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ۝٥ اَلَمْ تَرَ

خاوند د عقل لره (كوم قانع كوونكى) قسم شته؟( 5) ايا تا نه دي كتلي چې

كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۝٦ اِرَمَ ذَاتِ

ستا رب څه وكړل له ”قوم عاد“ سره؟(6) چې ارم و د

الْعِمَادِ ﴿٧﴾ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي

ستنو والا(7) هغه چې په ښارونو کې د دوی په
مثل نه و

الْبِلَادِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا

پیدا کړی شوي(8) او ثمودیانو سره (یې څه
وکړل) هغه چې په دره کې یې

الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي

تیګې غوڅې کړې (تراشلې) وې؟(9) او له
میخونو والا فرعون

الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾

سره (یې څه وکړل)(10) هغه کسان چې دوی په
ښارونو کې سرکشي کړې وه(11)

فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ

نو په دغو کې یې فساد ډېر کړی و(12) نو ستا
رب په

عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ

دوی باندې د عذاب قمچينه (کروړه) نازله کړه( 13) بېشکه ستا رب يقينًا

لَبِالۡمِرۡصَادِ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا الۡإِنسَانُ إِذَا مَا

په ځای د انتظار کې دی(14) نو هر چې انسان دی، کله چې ده

ابۡتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكۡرَمَهُ وَنَعَّمَهُ

لره خپل رب وازمايي، پس ده ته عزت ورکړي او ده ته نعمت ورکړي،

فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكۡرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّآ إِذَا مَا

نو دی وايي: زما رب ما ته عزت راکړ(15) او خو هر کله چې دی

ابۡتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُ فَيَقُولُ

وازمايي، پس په ده باندې د ده رزق تنگ کړي، نو دی وايي:

رَبِّيٓ اَهَانَنِ ۚ﴿۱۶﴾ كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ

زما رب زه سپك كړم(16) داسې نه ده، بلكې تاسو د يتيم (سره احسان او د هغه)

الْيَتِيْمَ ۙ﴿۱۷﴾ وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰى طَعَامِ

عزت نه كوئ(17) او مسكين ته په طعام وركولو يو بل ته

الْمِسْكِيْنِ ۙ﴿۱۸﴾ وَتَاْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اَكْلًا

ترغيب نه وركوئ(18) او تاسو د ميراث (پردى) مال خورئ، په

لَّمًّا ۙ﴿۱۹﴾ وَّتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ۗ﴿۲۰﴾ كَلَّآ

خوړلو ټولو سره(19) او تاسو له مال سره مينه كوئ، ډېره زياته مينه(20) داسې

اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا ۙ﴿۲۱﴾ وَّجَآءَ

نه ده- كله چې ځمكه وټكولى شي، په ټكولو ماتولو سختو سره(21) او ستا

رَبُّكَ وَ الْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَ جِائٓءَ

رب راشي او ملايك قطار قطار (راشي)(22) او په دغي

يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ ۙ يَوْمَئِذٍ يَّتَذَكَّرُ

ورځ کې به دوزخ راوستى شي-، په دغې ورځ کې به انسان نصيحت (او پند) اخلي او

الْاِنْسَانُ وَ اَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ﴿٢٣﴾ يَقُوْلُ

(په دغه وخت کې) د ده لپاره نصيحت به څنګه (نفعمن) وي(23) دی به وايي:

يٰلَيْتَنِىْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِىْ ﴿٢٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا

اى کاشکې ما د خپل ژوند لپاره مخکې (څه نيك عملونه) لیږلي وى(24) نو په دغې ورځ کې به د

يُعَذِّبُ عَذَابَهٗٓ اَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَّ لَا يُوْثِقُ وَ

ده (يعنې د رب) د عذاب په شان هيڅوك عذاب نه ورکوي(25) او د ده د ترلو په

ثَاقَهٗٓ اَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يٰٓاَيَّتُهَا النَّفۡسُ

شان به هيڅوك تړل نه كوي(26) اى اطمينان

الۡمُطۡمَىِٕنَّةُ ﴿٢٧﴾ ارۡجِعِيۡٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً

نيوونكيه نفسه!(27) ته وګرځه خپل رب ته، په داسې حال كې چې خوشاله او راضي

مَّرۡضِيَّةً ﴿٢٨﴾ فَادۡخُلِيۡ فِيۡ عِبٰدِيۡ ﴿٢٩﴾ وَ

كړى شوى به يې(28) نو ته زما په بنده ګانو كې داخل شه(29) او

ع
14

ادۡخُلِيۡ جَنَّتِيۡ ﴿٣٠﴾

زما جنت ته ننوځه(30)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

لَاۤ اُقۡسِمُ بِهٰذَا الۡبَلَدِ ۙ﴿۱﴾ وَاَنۡتَ حِلٌّۢ

زه قسم خورم په دې ښار باندې(1) په داسې حال کې چې ته په دې ښار کې

بِهٰذَا الۡبَلَدِ ۙ﴿۲﴾ وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَ ۙ﴿۳﴾

اوسېدونکی يې(2) او په زېږوونکي باندې او په هغه باندې چې ده زېږولي دي(3)

لَقَدۡ خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ فِىۡ كَبَدٍ ؕ﴿۴﴾

يقيناً يقيناً مونږ انسان په مشقت کې پيدا کړی دی (4)

اَيَحۡسَبُ اَنۡ لَّنۡ يَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ

ايا دغه (کافر انسان) خيال کوي چې بېشکه شان دا دی چې په

وقف لازم

اَحَدٌ ﴿٥﴾ يَقُوْلُ اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾

ده باندې به هيڅوك قادر نشي(5) دی وايي: ما
ډېر زيات مال خرڅ کړی (لګولی) دی(6)

اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ يَرَهٗٓ اَحَدٌ ﴿٧﴾ اَلَمْ

ايا دی خيال کوي چې بېشکه دی هيچا نه دی
ليدلی(7) ايا مونږ

نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَّ

ده ته دوه سترګې نه دي ورکړي(8) او يوه ژبه او

شَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾ فَلَا

دوه شونډې(9) اومونږ ده ته دوه لارې ښودلي
دي(10) نو ده د

اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَآ اَدْرٰكَ مَا

غونډۍ په ختلو کې هېڅ تکليف ونه وېست(11)
او ته څه شي پوه

الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ

کړې چې (ختل د) غونډۍ څه شی دی؟(12)
خلاصول د څټ (ازادول د مريي) دي(13) او

يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَّتِيْمًا ذَا

طعام ورکول دي په داسې ورځ کې چې د لوږې
والا ده(14) يتيم ته چې د

مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾

خپلوۍ خاوند وي(15) يا مسکين ته چې په
خاورو ککړ وي(16)

ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا

بيا دغه له هغو کسانو څخه وي چې ايمان يې
راوړی وي او يو بل ته

بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾

د صبر وصيت کوي او يو بل ته د مهربانۍ (او
شفقت) کولو وصيت کوي(17)

أُولَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ﰑ وَٱلَّذِينَ

دغه کسان دښي اړخ والا دي(18) او هغه کسان

كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا هُمۡ أَصۡحَٰبُ

چې زموږ په ايتونو باندې کافران شوي دي۔
دوی د چپ

ع 15

ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ﰒ عَلَيۡهِمۡ نَارٞ مُّؤۡصَدَةُۢ ﰓ

(ګس) اړخ والا دي(19) په دوی باندې به
سرپوښ کړی شوی اور وي(20)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

وَ الشَّمۡسِ وَ ضُحٰهَا ۪ۙ﴿۱﴾ وَ الۡقَمَرِ اِذَا

قسم دى په لمر باندې او د هغه په رڼا باندې(1) اوسپوږمۍ باندې كله چې په ده پسې وروسته

تَلٰهَا ۪ۙ﴿۲﴾ وَ النَّهَارِ اِذَا جَلّٰهَا ۪ۙ﴿۳﴾ وَ الَّیۡلِ

راځي(2) او په ورځ باندې كله چې دغه (لمر) ښكاره كاندي(3) او په شپه باندې كله چې دغه

اِذَا یَغۡشٰهَا ۪ۙ﴿۴﴾ وَ السَّمَآءِ وَ مَا

(لمر) پټ كاندي(په خپلو تيارو كې)(4)او په اسمان باندې اوپه هغه ذات چې دغه يې جوړ كړى

بَنٰهَا ۪ۙ﴿۵﴾ وَ الۡاَرۡضِ وَ مَا طَحٰهَا ۪ۙ﴿۶﴾ وَ

دى(5) او په ځمكه باندې او په هغه ذات چې دغه (ځمكه) يې غوړولې ده(6)او په نفس باندې

نَفۡسٍ وَّ مَا سَوّٰىهَا ۝٧ فَاَلۡهَمَهَا فُجُوۡرَهَا

او په هغه ذات چې دغه يې ښه برابر كړى دى(7)
نو ده ته يې د ده بدي او د ده تقوىٰ(نېكي)الهام

وَ تَقۡوٰىهَا ۝٨ قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ زَكّٰىهَا ۝٩ وَ

كړي(او ورښودلې)ده(8)چې يقينًا كامياب شو
هغه څوك چې دغه(نفس)يې پاك كړ(9) او

قَدۡ خَابَ مَنۡ دَسّٰىهَا ۝١٠ كَذَّبَتۡ ثَمُوۡدُ

يقينًا نامراده شو هغه څوك چې دغه (نفس) يې په
خاورو كې پټ كړ(10) ثمودیانو د خپلې سركشۍ

بِطَغۡوٰىهَآ ۝١١ اِذِ انۡۢبَعَثَ اَشۡقٰىهَا ۝١٢

په سبب (د رسولانو) تكذيب كړى و(11) كله چې
د دوى لوى بدبخت راپورته شو(12)

فَقَالَ لَهُمۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَ

نو دوى ته د الله رسول وويل: تاسو د الله اوښه
او د هغې اوبه څښل

سُقْيٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا ۟ۙ

پرېږدئ(13) نو دوی د هغه تکذیب وکړ
(دروغجن يې وګاڼه) نو دوی د هغې پښې پرې کړې

فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ

(لینګي) پرې کړل (او مړه يې کړه) نو په دوی
باندې د دوی رب د خپلو ګناهونو په سبب

فَسَوّٰىهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ

راګېرووںکی عذاب راولېږه، نو دغه (ټول) يې (په
هلاکت کې) برابر کړل(14) او دی (الله) د دغه

ع
16

عُقْبٰهَا ﴿١٥﴾

(هلاکت او عذاب) له انجام نه نه وېرېږي(15)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ۝١ وَالنَّهَارِ اِذَا

قسم دى په شپه كله چې دا (هر شى) پټ كړي(
1) او په ورځ باندې كله

تَجَلّٰى ۝٢ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰٓى ۝٣

چې روښانه شي(2) او په هغه ذات باندې چې نر
او ښځه يې پيدا كړي دي(3)

اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ۝٤ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى

چې بېشكه ستاسو سعي (او عمل) خامخا بېل بېل
دي(4) نو هر چې هغه څوك دى چې وركړه كوي

وَاتَّقٰى ۝٥ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ۝٦

او وېرېږي(5) او د ډېرې ښكلې كلمې تصديق
كوي(6)

فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَنْ

نو مونږ به ضرور ده ته د اسانۍ لارې اسانتيا
وركړو(7) او هر چې هغه

بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ ۝٨ وَكَذَّبَ

څوك دى چې بخيلي كوي او بې پروايي كوي(8)
او د ډېرې ښكلې كلمې تكذيب

بِالْحُسْنَىٰ ۝٩ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ ۝١٠

كوي (دروغ يې ګڼي)(9) نو مونږ به ضرور ده ته د
سختۍ لارې اسانتيا وركړو(10)

وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّىٰ ۝١١ إِنَّ

او كله چې دى په كنده كې غورځېږي (هلاكېږي،
نو) د ده مال به د ده هېڅ په كار رانشي(11)

عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ۝١٢ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَ

بېشكه خاص زمونږ په ذمه خامخا لاره ښوول دي
(12) او بېشكه خاص زمونږ لپاره اخرت او

الْاُوْلٰى ﴿١٣﴾ فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰى ﴿١٤﴾ لَا

دنيا ده (د دواړو اختيار دی)(13) نوما تاسو له
داسې اوره وویرولئ چې لمبې وهي(14) ده ته

يَصْلٰىهَآ اِلَّا الْاَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِىْ كَذَّبَ وَ

به نه ننوځي مګر ترټولو بدبخته(15) هغه چې
تکذيب يې کړی او مخ يې (له حقه)

تَوَلّٰى ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِىْ

ګرځولی دی(16) او له دوزخه به خامخا لرې
ساتلی شي ښه وېرېدونکی(17) هغه چې خپل مال

يُؤْتِىْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى ﴿١٨﴾ وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ

د دې لپاره ورکوي چې پاك شي(18) او له ده سره
(د ده په غاړه) د هیچا لپاره څه نعمت (او احسان)

مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰى ﴿١٩﴾ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ

نشته چې بدله يې ورکولی شي(19) مګر د خپل
رب د مخ لټوني لپاره چې

ع
17

رَبِّهِ الْاَعْلٰى ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضٰى ﴿٢١﴾

تر ټولو اوچت دی(20) او خامخا ژر به دی
راضي شي`(21)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

وَ الضُّحٰى ۙ﴿1﴾ وَ الَّيۡلِ اِذَا سَجٰى ۙ﴿2﴾ مَا

قسم دى په ځانښت باندې(1) او په شپه باندې كله چې قراره شي(2) چې ته

وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَ مَا قَلٰى ؕ﴿3﴾ وَ لَلۡاٰخِرَةُ

خپل رب نه پرېښى يې او نه يې (درسره) بغض ساتلى دى(3) او خامخا اخرت

خَيۡرٌ لَّكَ مِنَ الۡاُوۡلٰى ؕ﴿4﴾ وَ لَسَوۡفَ

تا لپاره له دنيا نه ډېر غوره دى(4) او خامخا ژر به تا ته ستا رب دركړي،

يُعۡطِيۡكَ رَبُّكَ فَتَرۡضٰى ؕ﴿5﴾ اَلَمۡ يَجِدۡكَ

نو ته به راضي (خوشحاله) شې(5) ايا ته يې يتيم نه وې موندلى؟

يَتِيمًا فَاٰوٰى ۞ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا

پس پناه ځای يې درکړ(6) او ته يې ناخبره (او ناپوه) وموندلې، نو لار

فَهَدٰى ۞ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ۞

ښوونه يې (درته) وکړه(7) او ته يې فقير وموندلې، نو غني يې کړې(8)

فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ۞ وَاَمَّا

نو هر چې يتيم دی، نو ته (ده ته) قهر مه کوه(9) او هر چې

السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۞ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ

سوالگری دی، نو ته يې مه رټه(10) او پاتې شو (نعمت) نو ته

رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۞

د خپل رب نعمت بيانوه(11)

ع 18

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ۙ۝۱ وَوَضَعۡنَا

ايا مونږ تا لره ستا سينه نه ده فراخه کړې(1) او له تا نه مو ستا

عَنۡكَ وِزۡرَكَ ۙ۝۲ الَّذِىۡۤ اَنۡقَضَ

درووند بار کوز کړی(2) هغه (بار) چې ستا شا يې کږه (او)

ظَهۡرَكَ ۙ۝۳ وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ؕ۝۴ فَاِنَّ

درنه کړې وه(3) او تا لپاره مو ستا ذکر اوچت کړ (4) نو بېشکه

مَعَ الۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۙ۝۵ اِنَّ مَعَ الۡعُسۡرِ

له سختۍ سره اساني شته(5) بېشکه له سختۍ

يُسْرًا ۝٦ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝٧ وَإِلَىٰ

سره اساني شته(6) نو کله چې ته فارغ شې، نو
(په عبادت کې،) ځان ستړى کوه(7) او خاص

ع 19

رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝٨

خپل رب ته رغبت (او زاري) کوه(8)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَالتِّيۡنِ وَالزَّيۡتُوۡنِ ۙ﴿۱﴾ وَطُوۡرِ

قسم دی په انځر او زيتون (ښوون) باندې(1) او
په طور

سِيۡنِيۡنَ ۙ﴿۲﴾ وَهٰذَا الۡبَلَدِ الۡاَمِيۡنِ ۙ﴿۳﴾

سينين (غره) باندې(2) او په دې امان ورکوونکي/
امن والا ښار باندې(3)

لَقَدۡ خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ فِيۡۤ اَحۡسَنِ

چې يقينًا يقينًا مونږ انسان په ډېر ښکلي صورت
(او اعتدال)

تَقۡوِيۡمٍ ﴿۴﴾ ثُمَّ رَدَدۡنٰهُ اَسۡفَلَ

کې پيدا کړی دی(4) بيا دی مونږ وګرځاوه د

سٰفِلِيْنَ ۝٥ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا

ښکتو ډېر ښکته(5) مګر هغه کسان چې ايمان يې
راوړی دی او نيك

الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝٦

عملونه يې کړې دي، نو د دوی لپاره نه
ختميدونکی اجر دی(6)

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ ۝٧

نو(ای دقيامت منکره!)له دې نه وروسته تاڅه شی
دقيامت په هکله دروغ ګڼلو ته اماده کوي؟(7)

اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ۝٨

ع 20

ايا الله تر ټولو لوی حاکم نه دی؟(8)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ

ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پيدا کړي يې دي (ټول مخلوقات)(1) ده انسان له پرنې

ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ

(ټوټې) وينې نه پيدا کړی دی(2) ته ولوله، په داسې حال کې چې ستا رب تر ټولو

ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤

لوی کريم دی(3) هغه چې په قلم سره يې ښوونه کړې ده(4)

عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥ كَلَّآ إِنَّ

انسان ته يې هغه څه ښودلي دي چې دی پرې نه پوهېده(5) حقه دا خبره ده چې يقيناً انسان خامخا

الۡاِنۡسَانَ لَيَطۡغٰۤى ۙ﴿۶﴾ اَنۡ رَّاٰهُ اسۡتَغۡنٰى ؕ﴿۷﴾

سرکشي کوي(6) په دې وجه چې دی خپل ځان وینې چې دی بې پروا (بې حاجته) شو(7)

اِنَّ اِلٰى رَبِّكَ الرُّجۡعٰى ؕ﴿۸﴾ اَرَءَيۡتَ الَّذِىۡ

بېشکه خاص ستا رب ته بېرته ورتلل دي(8) ته ما ته خبر راکړه د هغه کس

يَنۡهٰى ۙ﴿۹﴾ عَبۡدًا اِذَا صَلّٰى ؕ﴿۱۰﴾ اَرَءَيۡتَ اِنۡ

چې منع کوي(9) بنده (محمدﷺ) لره کله چې دی لمونځ کوي(10) ته ما ته خبر راکړه

كَانَ عَلَى الۡهُدٰٓى ۙ﴿۱۱﴾ اَوۡ اَمَرَ

که چېرې دغه (بنده) په هدایت وي(11) یا په تقوٰی (پرهېزګارۍ)

بِالتَّقۡوٰى ؕ﴿۱۲﴾ اَرَءَيۡتَ اِنۡ كَذَّبَ وَ

سره حکم کوي(12) ته ما ته خبر راکړه که دغه (منع کوونکی) تکذیب کوي او

تَوَلّٰىؕ ﴿١٣﴾ اَلَمْ يَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ﴿١٤﴾ؕ

(له حق نه) مخ اړوي(13) ايا دى نه پوهېږي چې
بېشکه الله ويني؟(14)

كَلَّا لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ ۙ۬ لَنَسْفَعًا

داسې نه ده! قسم دى که دى منع نشو، (نو) مونږ
به (دى) خامخا ضرور ډېر سخت راکاږو د تندي

بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ۙ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ۚ

(وچولي) په وېښتانو سره(15) داسې تندى چې
دروغجن (او) خطا کار دى(16)

فَلْيَدْعُ نَادِيَهٗ ﴿١٧﴾ۙ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ۙ

نو دى دې خپل مجلس والا راوبلي(17)ژر ده
چې مونږ به ډېرسخت تند خويه ملايك راوبلو(18)

كَلَّا ؕ لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴿١٩﴾ السجدة ۩

داسې نه ده ته د ده خبره مه منه، او (الله ته)
سجده کوه او (الله ته) بنه نژدې شه(19)

ع 21

السجدة 15

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِنَّآ اَنۡزَلۡنٰهُ فِىۡ لَيۡلَةِ الۡقَدۡرِ ‌ۚ‌ۖ ﴿۱﴾ وَمَآ

بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی
دی(1) او ته څه شي پوه کړې چې

اَدۡرٰٮكَ مَا لَيۡلَةُ الۡقَدۡرِ ؕ ﴿۲﴾ لَيۡلَةُ الۡقَدۡرِ ۙ

د قدر شپه څه شی دی؟(2) د قدر شپه له زرو

خَيۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَهۡرٍ ؕؔ ﴿۳﴾ تَنَزَّلُ الۡمَلٰٓٮِٕكَةُ

مياشتو نه غوره ده(3) په دغه (شپه) کې (نور) ملايك

وَالرُّوۡحُ فِيۡهَا بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ‌ ۚ مِنۡ كُلِّ

او روح (جبريل) د خپل رب په حکم سره نازلېږي
لپاره (د پوره کولو) د هر

اَمۡرٍ ۛ ۝٤ سَلٰمٌ ۛ قف هِيَ حَتّٰى مَطۡلَعِ

(مقرر شوي) كار(4) (دغه شپه) سلامتيا ده، دغه (شپه) تر سبا

الۡفَجۡرِ ۝٥ ع

ختلو پورې ده(5)

ع 22 الثلثة

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ

هغه کسان چې کافران شوي دي، چې کتابيان او

الْكِتٰبِ وَ الْمُشْرِكِيْنَ مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى

مشرکان دي، جدا کېدونکي نه وو تر دې چې

تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ۝١ رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ

دوی ته ښکاره دليل راشي(1) چې د الله له جانبه رسول دی، چې (دوی ته)

يَتْلُوْا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۝٢ فِيْهَا كُتُبٌ

ډېرې پاکې صحيفې لولي(2) په دغو (صحيفو) کې

قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾ وَ مَا تَفَرَّقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

ډېر سم (او درست) حکمونه (او فريضې) دي(3)
او اهل کتاب په خپل مينځ کې سره جدا (او

الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ

مختلف) شوي نه وو مگر وروسته له دې چې
دوی ته ښکاره

الْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾ وَ مَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا

دليل راغی(4) حال دا چې دوی ته حکم نه و
ورکړی شوی مگر په دې چې دوی دې د

اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ۬ حُنَفَآءَ وَ

الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين
(عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او)

يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ يُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَ

حنيفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي، او
(د دې چې) دوی دې لمونځ قايموي او زکاة

ذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ۟ؕ٥ اِنَّ الَّذِيْنَ

دي ورکوي اوهم دغه ډېر محکم دين دى(5) بېشکه هغه کسان

كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَ

چې کافران شوي دي، چې اهل کتاب او

الْمُشْرِكِيْنَ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ

مشرکان دي، (دوی به) د دوزخ په اور کې وي، چې په ده کې به تل ترتله وي.

فِيْهَا ؕ اُولٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ؕ٦ اِنَّ

هم دغه کسان د خلقو بدترين دي(6) بېشکه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ

هغه کسان چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې کړي دي

أُولَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ۝٧ جَزَآؤُهُمۡ

همدغه کسان د خلقو بهترين دي(7) د خپل رب په نيز د

عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن

دوی بدله د تل اوسېدنې جنتونه دي چې د هغو له

تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ

لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په دغو کې تل ترتله همېشه وي،

رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ

الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي، دغه (وعده) د هغه چا لپاره ده

ع
23

لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ۝٨

چې له خپل رب نه وېرېږي(8)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَ

کله چې ځمکه وخوزلی شي په خپلو سختو
خوزولو سره(1) او

اَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ﴿٢﴾ وَقَالَ

ځمکه خپل درانه بارونه بهر ته راوباسي(2) او
انسان به ووايي

الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ

چې په دې څه شوي دي(3) په دغې ورځې کې به
دا ځمکه خپلې

اَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِاَنَّ رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا ﴿٥﴾

خبرې (حالات) بيانوي(4) په دې سبب چې ستا
رب به دې ته وحي وکړي(5)

يَوْمَىِٕذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۙ۬ لِّيُرَوْا

په دغې ورځ کې به خلق بېرته راګرځي، په داسې حال کې چې بېل بېل (او مختلف) به وي، د دې

اَعْمَالَهُمْ ۝٦ؕ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

لپاره چې دوی ته خپل عملونه وښودل شي(6) نو هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه نېك عمل

خَيْرًا يَّرَهٗ ۝٧ؕ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

وکړي (، نو) دی به هغه ووينې(7) او هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه د شر (او بدۍ) عمل

ع 24

شَرًّا يَّرَهٗ ۝٨ؒ

کوي (، نو) دی به هغه ووينې(8)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَالۡعٰدِيٰتِ ضَبۡحًا ۙ﴿۱﴾ فَالۡمُوۡرِيٰتِ

قسم دی په تېزو ځغلېدونکو اسونو، چې له سينو او ګېډو نه اواز ايستونکي دي(1) پس (قسم دی)

قَدۡحًا ۙ﴿۲﴾ فَالۡمُغِيۡرٰتِ

په هغو اسونو چې په خپلو سُمانو سره تيرې وهي او اور را ايستونکي دي(2) پس (قسم دی) په

صُبۡحًا ۙ﴿۳﴾ فَاَثَرۡنَ بِهٖ

هغو اسونو چې د سبا په وخت کې لوټمار کوونکي دي(3) نو په دغه وخت کې دغه (اسونه) ګرد

نَقۡعًا ۙ﴿۴﴾ فَوَسَطۡنَ بِهٖ جَمۡعًا ۙ﴿۵﴾ اِنَّ

پورته کوي(4) پس په دغه وخت کې د لويې ډلې په مينځ کې ننوځي(5) چې بېشکه

الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ۚ﴿۶﴾ وَاِنَّهٗ عَلٰى

انسان د خپل رب ډېر ناشکره دی(6) او بېشکه
دی

ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ۚ﴿۷﴾ وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ

په دې خبره یقینًا بنه خبردار (او ګواه) دی(7) او
بېشکه دی د مال په مینه کې یقینًا

لَشَدِيْدٌ ؕ﴿۸﴾ اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ مَا فِي

ډېر سخت دی(8) ایا نو دی نه پوهېږي کله چې
هغه (مړي) راوښکل شي چې په

الْقُبُوْرِ ۙ﴿۹﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ﴿۱۰﴾

قبرونو کې دي؟(9) او هغه څه راښکاره کړی شي
چې په سینو کې دي(10)

ع
25

اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ۧ﴿۱۱﴾

بېشکه د دوی رب په دغې ورځ کې په دوی باندې
یقینًا بنه خبردار دی۔(11)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَلْقَارِعَةُ ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۲﴾ وَمَآ

(د زړونو) ټکوونکې (قيامت)(1) (د زړونو)
ټکوونکې څه شی دی؟(2) او ته څه شي پوه کړې

اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۳﴾ يَوْمَ يَكُوْنُ

چې (د زړونو) ټکوونکې څه شی دی؟(3) (دی به
زړونه ټکوي) په هغې ورځ

النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ﴿۴﴾ وَ

کې چې خلق به د خواره کړی شويو پتنګانو په
شان شي(4) او

تَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ﴿۵﴾

غرونه به د ډانډس کړی شوې رنګينې وړی په
شان شي(5)

فَاَمَّا مَنۡ ثَقُلَتۡ مَوَازِيۡنُهٗ ۙ﴿۶﴾ فَهُوَ فِيۡ

نو هر چې هغه څوك دی چې د هغه تلې درنې شوې(6) نو دی به په

عِيۡشَةٍ رَّاضِيَةٍ ؕ﴿۷﴾ وَ اَمَّا مَنۡ خَفَّتۡ

ډېر ښه ژوندون کې وي(7) او پاتې شو هغه کس چې د هغه تلې

مَوَازِيۡنُهٗ ۙ﴿۸﴾ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ؕ﴿۹﴾ وَ مَآ

سپکې شوې(8) نو د ده استوگنځی هاويه ده(9) او ته څه شې

اَدۡرٰىكَ مَا هِيَهۡ ؕ﴿۱۰﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿۱۱﴾

پوه کړې چې دغه (هاويه) څه شی دی؟(10) (دغه) ډېر گرم اور دی(11)

ع 26

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۙ① حَتّٰى زُرۡتُمُ

تاسو غافله كړئ فخر كولو په يو بل باندې په
ډېروالي (د مال، اولاد او قام) سره(1) تر هغه

الۡمَقَابِرَ ؕ② كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ۙ③ ثُمَّ

پورې چې تاسو هدېرو ته ورشئ(2) داسې نه ده
په كار، ژر ده چې تاسو به پوه شئ(3) بيا بېخي

كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ؕ④ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُوۡنَ

داسې نه ده، ژر ده چې تاسو به پوه شئ(4) داسې
نه ده كه تاسو په

عِلۡمَ الۡيَقِيۡنِ ؕ⑤ لَتَرَوُنَّ الۡجَحِيۡمَ ۙ⑥

علم اليقين سره پوهېدلى(5) تاسو به خامخا ضرور
دوزخ وينئ(6)

ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِيْنِ ۙ﴿٧﴾ ثُمَّ

بيا به تاسو خامخا ضرور دغه (دوزخ) د يقين په سترگو وينئ(7) بيا به په

ع 27

لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ۧ﴿٨﴾

دغې ورځ كې له تاسو نه خامخا ضرور د نعمتونو په باره كې تپوس كيږي(8)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَالْعَصْرِ ۙ﴿۱﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ

قسم دی په عصر (مازيګر، يا زمانه)(1) چې
بېشکه يقينًا انسان په زيان

خُسْرٍ ۙ﴿۲﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

(او تاوان) کې دی(2) غير له هغو کسانو نه چې
ايمان يې راوړی دی

الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۵ وَ

او نېك عملونه يې کړې دي او يو بل ته يې د حق
(دين) وصيت کړی دی، او

ع
28

تَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿۳﴾

يو بل ته يې د صبر وصيت کړی دی(3)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَيۡلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ۙ﴿۱﴾ الَّذِىۡ جَمَعَ

هلاکت دی د هر ډېر غيبت کوونکي، ډېر عيبت
لګوونکي لپاره(1) هغه چې مال يې جمع کړی دی

مَالًا وَّ عَدَّدَهٗ ۙ﴿۲﴾ يَحۡسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ

او دغه يې بيا بيا شمېرلی (او ذخيره کړی) دی(2)
دی خيال کوي چې بېشکه د ده مال به دی تل

اَخۡلَدَهٗ ۚ﴿۳﴾ كَلَّا لَيُنۡۢبَذَنَّ

ژوندی وساتي؟(3) داسې هيڅکله نشي کېدی،
دی به خامخا ضرور په حطمه (ماتوونکي او

فِى الۡحُطَمَةِ ۖ﴿۴﴾ وَمَاۤ اَدۡرٰىكَ مَا

سوځوونکي دوزخ) کې وغورځول شي(4) او ته
څه شي پوه کړې چې

الْحُطَمَةُ ۝٥ نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ۝٦ الَّتِيْ

حطمه څه شی دی؟(5) د الله هغه بل کړی شوی
اور دی(6) هغه چې په

تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ۝٧ اِنَّهَا عَلَيْهِمْ

زړونو راخېژي (او غالب کېږي)(7) بېشکه دغه
(اور) به په دوی باندې (له هره جانبه)

ع 29

مُّؤْصَدَةٌ ۝٨ فِيْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ۝٩

رابند کړی شوی وي(8) په اوږدو (راښکلی
شویو) ستنو کې(9)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصۡحٰبِ

ايا ته نه يې خبر شوی چې ستا رب له فيل والاو سره څنګه

الۡفِيۡلِؕ ۝١ اَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِىۡ

کار کړی و؟(1) ايا د هغوی چل (او مکر) يې په ګمراهۍ او زيان کې نه

تَضۡلِيۡلٍۙ ۝٢ وَّاَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا

و ګرځولی؟(2) او په دوی باندې يې ډلې ډلې مرغان

اَبَابِيۡلَۙ ۝٣ تَرۡمِيۡهِمۡ بِحِجَارَةٍ مِّنۡ

راخوشې کړل(3) چې دغو (مرغانو) به دوی لره په داسې کاڼو ويشتل چې

سِجِّيلٍ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ

له ختو نه جوړ، په اور پخ شوي وو(4) نو دغه (خلق) يې د خوړل شويو

مَّأْكُولٍ ﴿٥﴾

وښو په شان وگرځول(5)

ع 30

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

لِاِيۡلٰفِ قُرَيۡشٍۙ ۝١ اٖلٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ

د قريشو له يو بل سره د الفت له وجې نه(1) د
ژمي او اوړي په سفر

الشِّتَآءِ وَالصَّيۡفِۚ ۝٢ فَلۡيَعۡبُدُوۡا رَبَّ

کې د دوی د الفت په وجه(2) نو لازم دي چې
دوی د دې کور د

هٰذَا الۡبَيۡتِۙ ۝٣ الَّذِىۡۤ اَطۡعَمَهُمۡ مِّنۡ

رب عبادت وکړي(3) هغه (رب) چې دوی ته يې
له لوږې نه (د بچ کولو لپاره) طعام ورکړی

ع 31

جُوۡعٍ ۙ وَّاٰمَنَهُمۡ مِّنۡ خَوۡفٍۚ ۝٤

دی او دوی ته يې له وېرې نه (د ساتلو لپاره) امن
(او بې خوفي) ورکړې ده(4)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اَرَءَيۡتَ الَّذِىۡ يُكَذِّبُ بِالدِّيۡنِؕ ۞١

ايا تا هغه کس ليدلی چې د بدلي ورځ (قيامت) دروغ ګڼي(1)

فَذٰلِكَ الَّذِىۡ يَدُعُّ الۡيَتِيۡمَۙ ۞٢ وَلَا

نو همدغه هغه کس دی چې يتيم ته ديکې ورکوي (2) او مسکين

يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الۡمِسۡكِيۡنِؕ ۞٣ فَوَيۡلٌ

ته په طعام ورکولو ترغيب نه ورکوي(3) نو هلاکت دی

لِّلۡمُصَلِّيۡنَۙ ۞٤ الَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ

لمونځ کوونکو لره(4) هغه کسان چې دوی له خپلو لمونځونو نه غافله

ع
32

صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ﴿٥﴾ الَّذِيْنَ هُمْ

(او اعراض كوونكي) وي(5) هغه كسان چې
دوى

يُرَآءُوْنَ ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ﴿٧﴾

رياكاري كوي(6) او دوى ماعون (د استعمال عام
خيزونه هم له يو بل نه) منع كوي(7)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِنَّاۤ اَعۡطَيۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ ؕ ﴿۱﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ

بېشکه مونږ تا ته کوثر درکړی دی(1) نو ته د
خپل رب لپاره لمونځ کوه

ع
33

وَانۡحَرۡ ؕ ﴿۲﴾ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الۡاَبۡتَرُ ﴿۳﴾

او قرباني کوه(2) بېشکه ستا دښمن هم هغه بې
بنياده (او لاولده) دی(3)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

قُلۡ يٰۤاَيُّهَا الۡكٰفِرُوۡنَ ۙ‏ ﴿۱﴾ لَاۤ اَعۡبُدُ مَا

(ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه: ای کافرانو!(1) زه
د هغو (شيانو) عبادت نه کوم چې

تَعۡبُدُوۡنَ ۙ‏ ﴿۲﴾ وَلَاۤ اَنۡتُمۡ عٰبِدُوۡنَ مَاۤ

تاسو يې عبادت کوئ(2) او نه تاسو د هغه ذات
عبادت کوونکي يئ چې زه يې عبادت کوم(3) او

اَعۡبُدُ ۚ‏ ﴿۳﴾ وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدۡتُّمۡ ۙ‏ ﴿۴﴾ وَ

نه زه د هغه شي عبادت کوونکی يم چې تاسو يې
عبادت کړی دی(4) او

لَاۤ اَنۡتُمۡ عٰبِدُوۡنَ مَاۤ اَعۡبُدُ ؕ‏ ﴿۵﴾ لَـكُمۡ

نه تاسو عبادت کوونکي يئ د هغه ذات چې زه يې
عبادت کوم(5) تاسو لپاره

ع
34

دِيۡنُكُمۡ وَلِىَ دِيۡنِ ۝٦

ستاسو دين دى او زما لپاره زما دين دى(6)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات
مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَ الْفَتْحُ ۝١ وَ رَاَيْتَ

کله چې د الله مدد راشي او فتح(1) او ته خلق

النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ

ووينې چې د الله په دين کې ډلې ډلې

اَفْوَاجًا ۝٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَ

داخلېږي(2) نو ته پاکي بيانوه د خپل رب له
ستاينې سره

ع
35

اسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۝٣

او له ده نه مغفرت غواړه، بېشکه دی تل ښه توبه
قبلوونکی دی(3)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکى دى

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۞ مَآ اَغْنٰى

د ابو لهب دواړه لاسونه دې هلاك شي او دى هلاك شو(1) د ده هېڅ په كار رانغى د ده مال او

عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ۞ سَيَصْلٰى نَارًا

(نه) هغه څه چې ده ګټلي وو(2) ژر ده چې دى به لمبې وهونکي

ذَاتَ لَهَبٍ ۞ وَّامْرَاَتُهٗ ؕ حَمَّالَةَ

اور ته داخل شي(3) او د ده ښځه هم، (زه د دغې) د لرګو

الْحَطَبِ ۞ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۞

اوچتوونکې (مذمت کوم)(4) د دې په غاړه کې د کجورې د پټ مضبوطه رسۍ ده(5)

ع 36

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۚ ﴿١﴾ اَللّٰهُ

(ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه: شان دا دی چې الله يو دی(1) هم دا الله بې نياز

الصَّمَدُ ۚ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۙ ﴿٣﴾ وَلَمْ

(بې حاجته) دی(2) نه يې (څوك) زېږولی دی او نه دی (له چا) زېږول شوی دی(3) او د ده

يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۠ ﴿٤﴾

هيڅوك سيال (او) برابر نشته(4)

ع 37

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

قُلۡ اَعُوۡذُ بِرَبِّ الۡفَلَقِ ۙ﴿۱﴾ مِنۡ شَرِّ مَا

(ای نبي) ته ووايه: زه په رب د سبا پورې پناه نيسم(1) د هر هغه شي له شر نه چې

خَلَقَ ۙ﴿۲﴾ وَ مِنۡ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ﴿۳﴾ وَ

ده پيدا کړی دی(2) او د تياري شپې له شر نه کله چې تکه توره (او خوره) شي(3) او

مِنۡ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الۡعُقَدِ ۙ﴿۴﴾ وَ مِنۡ

له شره د هغو (جادوگرو) ښځو چې په غوټو کې پوکي وهونکې دي(4) او د حسد

شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ٪﴿۵﴾

کوونکي له شر نه کله چې دی حسد (شروع او ښکاره) کړي(5)

ع 38

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١ مَلِكِ

(اى نبي) ته ووايه: زه د خلقو په رب پورې پناه نيسم(1) چې د خلقو

ٱلنَّاسِ ٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣ مِن شَرِّ

بادشاه دى(2) د خلقو (حقيقي) معبود دى(3) له شره د وسوسې

ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي

اچوونكي، تښتېدونكي(4) هغه چې د خلقو په

صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦

ع 39

سينو كې وسوسې اچوي(5) چې (دغه وسوسې اچوونكي) له پېريانو او انسانانو څني دي(6)